المطالب العالية

في

توضيح الكافية

مصنف

الشیخ العلامہ ابو عبید مولانا عصمت اللہ النورستانی

ابن الحاج الشهید جمعہ خان صاحب



ناشر مکتبۃ الاشاعۃ محلہ جنگی پشاور

0300-5875425 / 0345-9459209



کتاب	المطالب العالية في توضيح الكافية (مبني)
مصنف	الشيخ العلامة ابو عبيد مولانا عصمت الله النورستاني
نظرثاني	مولانا عبدالحكيم سواتی، مولانا بخت الله صاحب، مولانا سميع الله خنجر صاحب
زيراهتمام	مولانا نقيب الله حنيف
کمپوز:	مكتبة الاشاعت
تعداد:	(1100)
خپروونکی:	مكتبة الاشاعت (محله جنكي قصه خواني پشاور)
چاپ ځای:	مكتبة الاشاعت

(03459459209)

(03005875425)

فهرست

المبني

الحمد لله وكفى وسلام على عباده الذين اصطفى خصوصا على سيد الرسل وخاتم الانبياء وعلى اله واصحابه الاتقياء اما بعد!

المبني: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د معرباتونه نو شروع ئې وکړه په بیان د مبنیاتو کې (۲) یا هر کله چې فارغ شو مصنف د قسم اول د اسم نحوی نه چې اسم معرب وو نو شروع ئې وکړه په بیان د دقسم ثاني د اسم نحوی کې چې اسم مبني دی، او هر کله چې اسم معرب اصل وو په نسبت سره اسم مبني ته نو مقدم ئې کړو معرب په مبني باندې هم په اجمال کې او هم په تفصیل کې

ترجمه: المبني: اسم مبني په اصطلاح کې ما اسم دی، او په تنکیر د اسم کې اشاره ده دیته چې دا ما موصوفه دی ځکه واقع شوی دی په جانب د خبر کې او قاعده داده چې من او ما واقع شي په جانب د خبر کې نو موصوفیت دهغې اولی دی د موصولیت نه ځکه اصل په خبر کې تنکیر دی نو دا ما چې موصوفه شي نو عمل په اصل باندې راځي چې کون د خبر دی نکره. ناسب داسې اسم چې مناسب دی په مناسبت مؤثره سره په منع د اعراب کې په یو د مناسبات سته ؤ سره چې هغه ذکر کړی دی جار الله زمخشري په مفصل کې. مبني الاصل دهغه شي سره چې اصل دی په بناء کې چې هغه درې دی عند الجمهور او څلور دي په نیز د جار الله زمخشري باندې

تشریح: بیان د فوائدو د قیرداتو په طریقه دقیل وقال سره:

سوال: د دې عبارت ربط او مناسبت د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی

جواب: ربط د ماقبل سره دا دی چې دا مخکې بیان د معرباتو وو، او وس بیان د مبنیاتو کوی، یا مخکې بیان د قسم اول د اسم نحوی وو چې هغه معرب وو او اوس بیان د قسم ثاني د اسم نحوی کوی چې هغه مبني دی او غرض او غایه د مصنف د دې عبارت نه تعریف د اسم مبني دی

سوال: اسم په دوه قسم دی (۱)، معرب او (۲)، مبني او دا دواړه سواسی دی په قسمیت کې نو اسم معرب یې ولې مقدم کړو په اسم مبني باندې؟ جواب: معرب اصل دی دمبني نه نو ځکه یې مقدم کړی دی هم په جانب د اجمال کې او هم په جانب د تفصیل کې

سوال: معرب ولې اصل دی د مبني نه؟ جواب: وجه د اصالت د اسم معرب په اسم مبني باندې تیره شوې ده په تعریف د اسم معرب کې فلا نعیدها ثانیة

سوال: ته وائې چې مبني مطلقاً په اصطلاح کې ماناسب مبني الاصل ته وائې نو دا تعریف جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو د دې نه فعل ماضي، امر حاضر معلوم، او جمله حروف. دا درې واړه مبني دی او ماناسب مبني الاصل ندی ځکه شی: مناسب نوي د خپل ځان سره او په تعریف کې لابدې وی د جامعیت نه کوم تعریف چې جامع نوی خپلو افرادو لره هغه تعریف باطل وی لهذا ستا دا تعریف باطل دی (۲)، دا تعریف د مبني په ما ناسب مبني الاصل سره باطل دی ځکه دا مستلزم دی د وزلره په دې شان سره چې مطلق مبني په تعریف کې محتاج دی مبني اصل ته او مبني اصل په تعریف کې محتاج دی مطلق مبني ته ځکه مبني اصل خاص دی او مطلق مبني عام دی او

هغه معرفت د خاص موقوف وی په معرفت د عام پورې، او کوم تعریف چې مستلزم وی د ورلره باطل وی لهذا ستا دا تعریف باطل دی؟ **جواب:** دا اعتراض به هله واردیدو چې دا تعریف د مطلق مبني وی لیکن دا تعریف د اسم مبني دی ځکه

(۱) المبني کې الف لام عهد خارجي دی نه جنسي او معهود په دې سره اسم مبني دی

(۲) یا المبني صفت دی تقاضا د موصوف کوی نو موصوف ورته را اوباسو الاسم په قرینی د مقام سره چې دا بحث د اسم دی

سوال: ته وائې چې المبني کې الف لام عهد خارجي دی نو الف لام عهد خارجي خو قسم دی د الف لام حرفي نه او الف لام د المبني موصولي دی ځکه چې دا داخل شوی دی په اسم مفعول باندې نو ته څنګه دیته الف لام عهد خارجي وائې؟ **جواب:** (۱) دا الف لام حرفي دی نه موصولي ځکه الف لام موصولي هغې ته وائې چې داخلیږي په اسم فاعل او اسم مفعول باندې هغه اسم فاعل او اسم مفعول چې دلالت کوی په معنی مصدري باندې په طریقه د تجدد او حدوث سره او دلته دا المبني دلالت په معنی مصدري باندې نه کوي ځکه دا نقل شوی دی د صفتیت نه او علم ګرځیدلی دی د یو نوع د اسم لپاره چې هغه مقابل د معرب دی (۲) او که او منم چې دا الف لام موصولي دی نو لکه څنګه چې الف لام حرفي څلور قسمه راځي (۱) جنسي (۲) استغراقي (۳) عهد خارجي (۴) عهد ذهني الف لام موصولي هم دا څلور قسمه راځي نو دا الف لام موصولي عهد خارجي دی.

سوال: ته وائې چې د المبني نه مراد اسم مبني دی نه مطلق مبني او معرفت د خاص موقوف وی په معرفت د عام پورې لهذا مصنف لپاره پکار وو چې اول ئې تعریف د مطلق مبني کړی وی او د هغې نه بعد ئې تعریف د اسم مبني کړی وی؟

جواب: دا تعریف د اسم مبني په نسبت سره هغه چا ته دی چې هغه ته معلوم وی تعریف د مطلق مبني لهذا ذکر کولو د تعریف د مطلق مبني ته حاجت پاتې نه شو، یا د مطلق مبني تعریف ئې نه دی کړي ځکه چې تعریف د مطلق مبني معلومیږي د تعریف د اسم مبني نه

سوال: تعریف د اسم مبني مانع نه شو د دخول د غیر نه داخل شو پکې فعل مضارع ځکه تعریف د اسم مبني په فعل مضارع باندې صادقیږي په دې شان سره چې دا ما عبارت دی د لفظ یا د شئ نه، نو معنی د دې دا شوه چې اسم مبني په اصطلاح کې ما یو لفظ دی چې مناسب وی د مبني اصل سره او فعل مضارع هم یو لفظ دی چې مناسب دی د یو مبني اصل سره چې فعل ماضی دی په اشتقاق کې؟

جواب: دا اعتراض به ستا هله واردیدو چې ما عبارت وی د لفظ یا د شئ نه لیکن ما عبارت د لفظ یا شئ نه نه دی بلکه عبارت دی د اسم نه ځکه (۱) په تعریف د اقسامو کې معتبر وی جنس قریب او جنس قریب د مبني لپاره اسم دی او لفظ او شئ اجناس بعیده دی. (۲) او قاعده دا ده چې مقسم معتبر وی په تعریف د اقسامو کې او اسم مقسم دی د معرب او مبني لپاره ځکه ما عبارت د اسم نه وایو

سوال: شارح جامي د كلمه د ما نه تعبير كړي دي په اسم نكره سره دا ولې، په الاسم معرفه سره ئې تعبير ولې ونه كړو؟ **جواب:** جامي صاحب د ما نه تعبير وكړو په اسم نكره سره په دې كې ئې اشاره وكړه دې خبرې ته چې دا ما موصوفه دی خكه واقع شوی دی په جانب د خبر كې او دا قاعده ده (۱)، چې من او ما واقع شي په جانب د مبتدا كې نو موصوليت اولى دی د موصوفيت نه خكه اصل په مبتدا كې تعريف دی چې موصوله واخلو نو عمل په اصل باندې راځي چې تعريف د مبتدا دی (۲)، او دا من او ما چې واقع شي په جانب د خبر كې نو موصوفيت اولى دی د موصوليت نه خكه اصل په خبر كې تنكير دی نو موصوفه چې واخلو عمل په اصل باندې راځي چې تنكير خبر دی.

سوال: تقييد د يو د متقابلينو په يو قيد سره واجبه وی تقييد د مقابل اخر لره په ضد د دغه قيد سره، او معرب او مبني متقابلين دی او مصنف تعريف د معرب مقيد كړي دی په عدم مشابهت سره نو پده باندې واجب وو چې ده تعريف د مبني مقيد كړي وی په ضد د عدم مشابهت سره چې مشابهت دی په دې شان سره چې داسې ئې ويلی وی، المبني ما شابه مبني الاصل، يا المبني مايشابه مبني الاصل نو مصنف داسې ولې ونه ويل چې **المبني ماناسب الخ؟**

جواب: دا قاعده منم چې تقييد د يو د متقابلينو په يو قيد سره واجبه وي تقييد دمقابل اخر لره په ضد د دغه قيد سره ليكن كوم قيد چې مصنف په تعريف داسم معرب كې ذكر كړي دی لم يشبه، هغه په خپله معنی سره نه دی بلكه هغه په معنى د لم يناسب سره دی هر كله چې لم يشبه په معنى دلم يناسب سره شو نو تعريف داسم معرب مقيد شو په قيد د عدم مناسبت سره نو تعريف د اسم مبني ئې مقيد كړو په ضد دهغه قيد سره چې مناسبت دی.

سوال: په تعريف د اسم معرب كې لم يشبه په معنى د لم يناسب سره ولې دی؟

جواب: خكه كه لم يشبه په معنى د لم يناسب سره وانه خلو بيا تعريف د اسم معرب نه مانع كيږي د دخول د غير نه بلكه داخليږي پكې اسماء شرط، اسماء استفهام، اسماء افعال وغيره خكه مشابهت ويلى كيږي اشتراك د شيئين ته په صفت خارجي او اسماء استفهام اسماء شرط اسماء افعال شريك ندی دمبني اصل سره په صفت خارجي كې بلكه دا متضمن دی معنى د مبني اصل لره

سوال: ته وائې چې اسم مبني په اصطلاح د نحويانو كې اسم دی چې مناسب وی د مبني اصل سره نو زه ستا نه تپوس كوم چې مطلق مناسبت خو په زيد كې هم شته بيا ديته هم مبني ووايه او كه مناسبت كامله وائې نو د هغې بيان نشته نو جهالت راغی په تعريف كې او دا باطل دی؟

جواب: مراد د مناسبت نه مناسبت مؤثره دی نه مطلق مناسبت او كه ته وائې چې هغه بيان شوی نه دی نو جواب دا دی چې هغه بيان كړی دی جار الله زمخشری په مفصل كې په بحث د اسم مبني كې چې هغه مناسبات سته دی.

(۱)، كون د اسم متضمن معنى د مبني اصل لره لكه اسماء شرط او اسماء استفهام شو.

(۲)، كون د اسم مشابه د مبني اصل سره په احتياج كې لكه اسماء اشارات او موصولات شو.

(۳) كون د اسم واقع په موضع د مبني اصل كي لكه نزال
(۴) كون د اسم مشابه د هغه اسم سره چي هغه واقع وی په موضع د مبني اصل كي لكه فساق او فجار
(۵) كون د اسم دی واقع په موضع د هغه اسم كي چي هغه مشابه وی د مبني اصل سره لكه منادی مفرد معرفه (۶) كون د اسم دی مضاف جملې ته بالذات لكه يَوْمُ يَنفَعُ الصَّادِقِينَ صِدْقُهُمْ يا بالواسطه لكه يومئذ او حينئذ.

سوال: معترض اول ترجمه غلطه كوی او بيا اعتراض كوی چي ته وائي چي اسم مبني په اصطلاح د نحاتو كي هغه اسم ته وائي چي مناسب وی د هغه شئ سره چي د هغه اصل مبني وی نو بنا په دي تعريف د اسم مبني مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو پكښې اسم فاعل ځكه اسم فاعل يو اسم دی چي مناسب دی د فعل مضارع سره او د فعل مضارع اصل مبني دی چي هغه فعل ماضی دی؟

جواب: دا اعتراض به هله وارديدو چي اضافت د مبني الاصل ته اضافت لامی وی ليكن دا اضافت لامی نه دی بلكه اضافت بياني دی نو ترجمه د دي دا ده چي اسم مبني هغه اسم ته وائي چي مناسب وی د هغه شئ سره چي هغه اصل وی په بنا كي او اسم فاعل مشابه نه دی د هغه شئ سره چي هغه اصل وی په بنا كي بلكه دا مشابه دی دفعل مضارع سره او فعل مضارع معرب دی.

پس زده كړه دا خبره چي يو مطلق مبني دی، يو مبني اصل دی، او بل اسم مبني دی، په مطلق مبني كي لابدي ده د معرفت د امرينو نه (۱) تعريف، (۲) اقسام، او معرفت د حكم ته ضرورت نشته ځكه حكم دهغه شي لپاره وی چي هغه موجود وی په خارج كي او مطلق مبني بنفسه موجود نه دی په خارج كي بلكه دا موجوديږي په ضمن د مبني اصل يا په ضمن د اسم مبني كي نو چي كوم حكم د هغي لپاره وی هغه به د دي حكم وی، نو مطلق مبني د نحويانو په اصطلاح كي ما كان حركاته وسكناته من غير عامل ته وائي او دا مطلق مبني په دوه قسم دی (۱) مبني الاصل (۲) اسم مبني، اوس په مبني اصل كي او اسم مبني كي لابدي ده د معرفت د امور ثلاثه نه (۱) تعريف، (۲) حكم، (۳) اقسام، نو مبني اصل د نحويانو په اصطلاح كي **ما ليس فيه علة الاعراب وموجب الاعراب** ته وائي، او علت او موجب ده اعراب دوه دی (۱) معانی معتوره چي فاعليت او مفعوليت او مشابهت تامه د اسم معرب سره، او حكم د مبني اصل دا دی چي، **لا يقبل الاعراب اصلا ای لا لفظا ولا تقديرا ولا محلا**، ځكه اعراب دري قسمه دی (۱) لفظا (۲) تقديرا (۳) محلاً، اعراب لفظی او تقديري راځي په اسم معرب كي او اعراب محلی راځي په اسم مبني كي او مبني اصل بالكل خالی دی او كنګال دی د اعراب نه په دي شان سره چي په دي كي نه اعراب لفظی راځي نه تقديري راځي او نه محلی راځي.

سوال: په زيد ضرب كي ضرب خبر واقع شوی دی د مبتدا لپاره او خبر مرفوع وی نو ته څنګه وائي چي په مبني اصل كي اعراب اصلا نه راځي؟

جواب: ضرب خبر لپاره د مبتدا مع الضمير وائي كه بدون الضمير وائي كه بدون الضمير وائي نو دا خبر نه دی واقع شوی لهذا مرفوع نه شو او كه مع الضمير ئي وائي بيا فعل سره د فاعل نه جمله

خبر واقع شوی دی، او جمله کې اعراب محلی راځي، او په مصداقونو د مبني اصل کې خلاف دی
(۱) جمهور وائي چې دري دی (۱) فعل ماضی (۲) جمله حروف (۳) فعل امر حاضر معلوم
(۲) په نزد د جار الله زمخشري باندې څلور دی دري دا مذکوردی او (۴) جمله من حیث انها جملة، او جمهور جملی ته مبني اصل نه وائي ځکه حکم د مبني اصل دا دی چې لایقبل الاعراب اصلاً او په جمله کې اعراب محلی راځي، او جار الله زمخشري وائي چې جمله من حیث انها جملة مبني اصل ده او اعراب راځي قطع لحاظ د دې نه
(۳) بعض وائي مصداقونه د مبني اصل څلور دی دري دا مذکور څلورم فعل مضارع مع نوني الضمیر والتاکید.
(۴) بنده په نیز باندې مصداقونه د مبني اصل پنځه دی (۱) فعل ماضی (۲) امر حاضر معلوم
(۳) حروف (۴) جمله من حیث انها جمله (۵) فعل مضارع مع نوني التاکید والضمیر
سوال: مبني اصل دیته وائي چې بنا دهغه اصالة او وصفاً وي او د وجې د امر عارض نه نوي راغلی او فعل مضارع مؤکد بانون تاکید ثقیله کې دا بناء راغلی ده د امر عارض د وجی نه چې هغه اتصال د نون تاکید دی نو دیته ځنګه مبني اصل وائي؟
جواب: اصل په اسماء کې اعراب دی ځکه دا محل د معانی معتورو دی په دې کې لابدي ده د اعراب نه چې هغه دلالت وکړي په معانیو معتورو باندې لپاره د دې چې لازم نشی التباس د احدهما د اخر سره او اصل په افعالو کې بناء ده ځکه دا محل د معانی معتورو نه دی او فعل مضارع معرب ګرځیدلی ده د وجی د کمال مشابهت نه د اسم فاعل سره او کله چې وریورې نون تاکید او نون دجمع مؤنث متصل شو نو دا فعل مضارع ئې د خلاف الاصل نه وویسته، او په خپل اصل باندې ئې باقي پاتې کړه ځکه ورته مبني اصل وایو او اسم مبني په اصطلاح د نحاتو کې **ماناسب مبني الاصل او وقع غیر مرکب** ته وائي، او حکم د اسم مبني دا دی چې **ان لایختلف اخره باختلاف العوامل**، او اقسام د اسم مبني شپاړس دی (۱) مضمرات (۲) اسماء اشارات (۳) موصولات (۴) اسماء افعال (۵) مرکبات (۶) کنایات (۷) اصوات (۸) بعض الظروف (۹) اسماء معدوده مفرده (۱۰) اسماء معدوده مضافه (۱۱) اسماء شرط (۱۲) اسماء استفهام (۱۳) من وما الموصوفتان (۱۴) منادی مفرده معرفه (۱۵) اسم دلانکره یلی غیر مضاف (۱۶) لاغیر لیس غیر وحسب

او وقع غیر مرکب. ربط. هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د تعریف د قسم اول د اسم مبني نه نو شروع ئې وکړه په بیان د تعریف د قسم ثانی د اسم مبني کې نو وی ویل چې **او وقع غیر مرکب.**
ترجمه: یا اسم مبني په اصطلاح د نحویانو کې هغه اسم ته وائي چې دا اسم واقع شوی وی غیر مضموم سره د غیر نه په داسې ترکیب سره چې موجود نه وي ورسره عامل لفظاً یا معنی
تشریح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟
جواب: ربط د ماقبل سره دا دی چې ما ناسب مبني الاصل دا تعریف دقسم اول د اسم مبني وو او دا

او وقع غیر مرکب تعریف د قسم ثاني د اسم مبني دی او په دې سره غرض د مصنف هم معلوم شو چې تعریف د قسم ثاني د اسم مبني کوی

سوال: دا تعریف د اسم مبني مانع نه دی د دخول د غیرنه داخل شو پکې اسم معرب لکه زید شو په قام زید کې ځکه دا واقع شوی دی غیر مرکب په دی شان سره چې جز دلفظ د دې دلالت نه کوي په جز د معنی موضوع له باندي؟ **جواب**: دا اعتراض به هله واردیدو چې دلته مراد د مرکب منفیه نه مرکب اصطلاحی وی لیکن دلته مراد مرکب لغوی دی نه اصطلاحي او مرکب په لغت کې مضموم مع الغیر ته وائي او زید په قام زید کې مرکب دی او مضموم دی د غیر سره لهذا تعریف د اسم مبني صادق نه شو په ده باندې

سوال: په دې ترجمه سره دا تعریف مانع خو شو د دخول د غیر نه لیکن جامع نه شو ځیلو افرادو لره خارج شو د دې نه اسماء معدوده مضافه لکه غلام زید غلام عمرو، غلام بکر وغیره ځکه دا مرکب دی او مضموم دی د غیر سره؟ **جواب**: مراد د عدم ترکیب نه دا دی چې مرکب نه وی په داسې ترکیب سره چې عامل ورسره موجود وی لفظاً یا معنیً نو اسماء معدوده مرکبه اګر چې مرکب د غیر سره خو دی لیکن عامل ورسره موجود ندی لفظاً یا معنیً.

پس زده کړه دا خبره چې دا اسم به خالی نه وي یا به مرکب مع الغیر وی او یا به نه وي که مرکب مع الغیر نه وو نو د قبیلې د مبنیات نه به وی لکه اسماء معدوده مفرده شو لکه زید،عمرو، بکر، خالد، وغیره، او که مرکب مع الغیر وو نو بیا به خالی نه وي یا به ورسره عامل موجود وی لفظاً او معناً او یا به نوي که نه وو نو بیا د قبیلې د مبنیات نه دی لکه اسماء معدوده مضافه شو غلام زید، غلام عمرو وغیره، او که عامل ورسره موجود وو لفظاً یا معنیً نو بیا به خالی نه وي یا به مشابه د مبني اصل سره وی او یا به نوي که مشابه د مبني اصل سره وو نو بیا د قبیلې د مبنیات نه دی لکه هؤلاء شو په قام هؤلاء کې او که مشابه د مبني اصل سره نه وو نو بیا د قبیلې د معرباتو نه دی لکه زید شو په قام زید کې نو اسماء معدوده مفرده او اسماء معدوده مضافه د قبیلې د مبنیات نه دی، د مصنف په نزد باند ځکه د ده په نزد باندې معرب ما له الاعراب بالفعل ته وائي، او په اسماء معدوده مفرده او اسماء معدوده مضافه کې اعراب بالفعل نشته دی، او د جارالله زمخشري په نزد باندې د قبیلې د معرباتو نه دی، ځکه د هغه په نزد باندي معرب ما له صلاحیة الاعراب ته وائي او دا هم صالح د اعراب دی.

سوال: کلمه د آو راغې د احد الامرین لپاره د دې نه دا معلومیږي چې اسم مبني به یا ما ناسب الاصل وی او یا به **وقع غیر مرکب** وی یعنی د دې دواړو نه به یو وی نه دواړه نو د دې تعریف د اسم مبني نه هؤلاء خارج شو چې قبل الترکیب ئې واخلی ځکه دا مناسب د مبني اصل سره هم دی او واقع غیر مرکب هم دی؟ **جواب**: دا کلمه د آو دلته د مانعة الخلو لپاره ده نه لپاره د انفصال حقیقی او مانعة الجمع یعنی خلوه د اسم مبني ممتنع ده د دې نو عین نه په دې شان سره چې دا اسم مبني

نه یا ماناسب مبني الاصل وی او یا په واقع وی غیر مرکب او د دې دواړو نه خالی کیدی نه شي یعنی دا سې اسم مبني په خارج کې وجود نه لري چې نه ماناسب مبني الاصل وی او نه واقع وی غیر مرکب، او که دواړه وو نو بیا به په طریقه اولی سره مبني وی.

سوال: کلمه د أو مشترکه ده په مینځ د معانیو ثلاثه ؤ کې چې مانعة الجمع، مانعة الخلوه، او انفصال حقیقی دی او د مشترك نه یوه معنی اراده کول شي په واسطه د قرینې سره دلته قرینه د تعین څه ده چې او د مانعة الخلو لپاره دی نه د مانعة الجمع او انفصال حقیقی لپاره؟

جواب: قرینه د تعین نه دې مقام کې مقابله د اسم مبني ده د اسم معرب سره په دې شان سره چې د اسم معرب په تعریف کې دوه قیدین معتبر دی (۱) ترکیب (۲) عدم مشابهت، او اسم مبني موجودیږي په انتفاء د یو د دې قیدین سره، مثلاً (۱) ترکیب شته لیکن عدم مشابهت نشته بلکه مشابهت دی د مبني الاصل سره نو دا مبني دي لکه هؤلاء شو په جاءنی هؤلاء کې (۲) یا عدم مشابهت شته لیکن ترکیب نشته بیا هم مبني دی، لکه اسماء معدوده مفرده شو (۳) او چې ترکیب هم نوی او عدم مشابهت هم نوی نو بیاهم مبني دی لکه هؤلاء شو قبل الترکیب.

سوال: څه وجه ده مصنف لره چې په تعریف د اسم معرب کې ئې قید د ترکیب مقدم کړي وو په قید د عدم مناسبت باندې او په تعریف د اسم مبني کې ئې قید د مناسبت مقدم کړو په عدم ترکیب باندې؟

جواب: مصنف لحاظ د وجودی کړي دی په دې شان سره چې په تعریف د اسم معرب کې ترکیب وجودی وو او مناسبت عدمی وو نو ترکیب ئې مقدم کړو په عدم مناسبت باندې او په تعریف د اسم مبني کې مناسبت وجودی دی او ترکیب عدمی دی نو مناسبت ئې مقدم کړو په عدم ترکیب باندې ځکه وجودی اشرف دی د عدمی نه.

سوال: دا تعریف د اسم مبني باطل دی ځکه صحیح تعریف هغه وی چې بنا وی په یقین باندې ځکه مقصود په تعریف کې وضاحت د معرف وی او وضاحت د معرف راځي په یقین سره او دا تعریف بنا دی په شك او تردد باندې ځکه مصنف په تعریف کې کلمه د أو ذکر کړې ده او دا راځي لپاره د شك او تردد نو معترض وائي چې مصنف په خپله په دې تعریف د اسم مبني کې شکی او متردد دی نو موږ ته د څه شی وضاحت کوی؟

جواب: کلمه د أو هر ځای د شك او تردد لپاره نوي بلکه دا په ډیر معانیو سره راځي او دلته لپاره د تنویع او د تقسیم ده په دې شان سره چې مصنف په دې کلمه د أو سره اشاره وکړه تقسیم د اسم مبني ته چې اسم مبني دوه قسمه دی (۱) یو ماناسب مبنی الاصل دی دیته قسم اول د اسم مبني وائي او دویم ما وقع غیر مرکب دی دیته قسم ثانی د اسم مبني وائي او دا قاعده ده چې کله کلمه د أو راشي په تعریف کې نو هغه لپاره د تنویع او تقسیم وی نه لپاره د شك او تردد

سوال: وقع فعل دی ضمیر پکښې مستتر دی چې راجع دی ما ته هغه ورله فاعل دی او غیر مرکب مفعول به دی د وقع لپاره. او وقع فعل لازم دی او فعل لازم مفعول به نه غواړي او عمل د نصب بنا بر مفعول به نشي کولې نو دی وقع په غیر مرکب کې عمل د نصب بنابر مفعول به څنګه کړي دی؟

جواب: (١) دا غیر مرکب منصوب دی بنابر حالیت نه بنابر مفعول به.

(٢) وقع فعل دی د افعال ناقصه غیر مشهورو نه ضمیر پکښې مستتر دی هغه ئې اسم دی او غیر مرکب ئې خبر دی.

(٣) یا غیر مرکب منصوب دی بنابر مفعول به د وقع لپاره ځکه دا وقع لازم نه دی مطلقاً بلکه وقع دوه قسمه دی یو هغه دی چې مشتق دی د وقوعاً نه هغه متعدي دی دویم هغه دی چې مشتق دی د وقعاً نه هغه لازم دی لکه وقف چې مشتق شي د وقوفاً نه نو متعدي دی کما فی قول الشاعر:

وقوفاً بها صحبی علی مطیهم   یقولون لا تهلك اسیً وتجملی

او چې مشتق شي د وقفاً نه نو بیا لازم دی او دلته دا وقع مشتق دی د وقوعا نه. نه د وقعا نه لهذا دا متعدي دی نو ځکه ئې عمل د نصب کړي دی بنابر مفعول به په غیر مرکب کې

والقابه ضم وفتح وکسر و وقف. ربط. هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د تعریف دا سم مبني نه نو شروع ئې وکړه په بیان د نومونو د حرکاتو او سکناتو د اخیر د اسم مبني کې لپاره د کمال و ضاحت د اسم مبني نو وی ویل والقابه الخ ترجمه: نومونه د حرکاتو او سکناتو د اخیر دا سم مبني ضم، فتح، کسر، او وقف دی عند البصریین په تقدیم د عطف سره په ربط باندې نو حمل د واحد په متعدد رانغلو بلکه حمل د متعدد په متعدد باندې راغلو او اعراب ئې جاري کړی دی په هر واحد باندې د وجې د صلاحیت لفظی نه لپاره د دې چې لازم نشي ترجیح بلا مرجح

تشریح: سوال: د دې عبارت د ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط مخکې سره دا دی چې مخکې مصنف تعریف د اسم مبني وکړو او اوس القاب او نومونه د حرکاتو او سکناتو د اخیر د اسم مبني بیانوي او غرض د دې نه کمال وضاحت د اسم مبني دی.

سوال: اعراب او بناء متضادین او متقابلین دی او په اعراب کې ویلی وو چې وانواعه رفع ونصب و جر نو دلته ئې وانواعه ولې ونه ویل او القابه ئې وویل؟ **جواب:** ځکه چې اعراب دلالت کوی په هغه مدلولاتو باندې چې متنوع وو چې یو فاعل دی بل مفعول دی او بل مضاف الیه دی نو انواعه ئې اوی او بنا غیر متنوعه ده دلالت په مدلولات متنوعه باندې نه کوي نو القابه ئې وویل .

سوال: القاب جمع د لقب ده او لقب اسم د شئ ته وائي نو معنی دا شوه چې نومونه دا سم مبني ضم، فتح، کسر، دی نو دا خو نومونه د اسم مبني ندی. بالفاظ دیګر. القابه مبتدا ده او ضم. فتح. کسر ئې خبر دی او خبر حمل وی په مبتداء باندې او دلته حمل ندی صحیح ځکه لقب د شئ محمول وی په شئ باندې لکه سعید د زید لقب دی نو داسې ویل کیږي چې زید سعید او دلته خو حمل د ضم الخ په مبني باندې ندی صحیح یعنی ته داسې نشي ویلی چې المبني ضم الخ. لهذا دینه القاب ویل نه دی صحیح؟

جواب: دا عبارت په حذف د مضاف سره دی ای والقاب حرکاته وسکناته ضم، وفتح، کسر
سوال: ته وائي چې نومونه د حرکاتو او سکناتو د اسم مبني ضم، فتح، کسر، دی نو د دې حرکاتو او سکناتو امحله درې دی (۱) اول (۲) اخیر (۳) مینځ نو دا ضم فتح کسر نومونه د کومو حرکاتو دی؟
جواب: دا نومونه د حرکاتو او سکناتو د اخیر د اسم مبني دی نه د اول او د مینځ
سوال: ته وائي چې دا نومونه د حرکاتو سکناتو بنائیه ؤ دی نو مطلب دا دی چې د حرکاتو او سکناتو بنائیه ؤ نه تعبیر کولې شي په ضم فتح کسر سره نه د حرکاتو اعرابیه ؤنه. نو په دې سره خو تعبیر د حرکاتو سکنات اعرابیه ؤ نه هم کولې شي نو دا د هغې نومونه هم شو نو تا څنګه وویل چې دا نومونه صرف د حرکاتو بنائیه ؤ دی؟
جواب: دلته چې مصنف دی ضم، فتح، کسر ته نومونه د حرکاتو سکناتو د اسم مبنی ویلی دی نو دا بنا، په مذهب د بصریانو باندې په دې شان سره چې بصریان د ضم، فتح، کسر اطلاق کوی په حرکاتو سکنات بنائیه ؤ باندې او په حرکاتو سکناتو اعرابیه ؤ باندې د دې اطلاق نه کوي بلکه د حرکاتو سکناتو اعرابیه ؤ نه بصریین تعبیر کوی په رفع، نصب، جر، جزم سره او د کوفیانو مذهب دا دی چې د دې اطلاق په حرکاتو سکنات اعرابیه ؤ او بنائیه ؤ دواړو باندې کیږي
پس زده کړه دا خبره چې د حرکاتو او سکناتو لپاره درې قسمه نومونه دی (۱) رفع، نصب، جر (۲) ضم، فتح، کسر، مجرد عن التاء (۳) ضمة، فتحة، کسرة، متلبس بالتاء.
سوال: په دې کې څه نسبت دی؟ **جواب:** په دې کې دوه مذهبه دی (۱) بصریین (۲) کوفیین. په نزد د کوفیینو باندې په دې ټولو کې نسبت د مساوات دی په دې شان سره چې د دې درې قسمه نومونو اطلاق کیږي په حرکاتو سکنات اعرابیه ؤ او حرکاتو سکنات بنائیه ؤ باندې علی السویه.
او بنا په مذهب د بصریینو باندې په مینځ د رفع، نصب، جر، او ضم، فتح، کسر، مجرد عن التاء، کې نسبت ده تباین دی په دې شان سره چې رفع، نصب، جر اطلاق کوی فقط په حرکات اعرابیه ؤ باندې نه په حرکات بنائیه ؤ، او د ضم، فتح، کسر اطلاق کوی په حرکاتو بنائیه ؤ باندې فقط نه په حرکاتو اعرابیه ؤ باندې، او په مینځ د ضمه، فتحه، کسره، او رفع، نصب، جر، کې نسبت د عموم خصوص من وجه دی (۱) ماده اجتماعی لکه حرکات اعرابیه شو (۲) ماده افتراقی د جانب د رفع، نصب، جر نه لکه اعراب بالحرف شو (۳) او ماده افتراقی د جانب د ضمه فتحه، کسره، نه لکه حرکات بنائیه شو.
او په مینځ د ضمة، فتحة، کسرة، او ضم، فتح، کسر، کې نسبت د عموم خصوص مطلق دی ضمة، فتحة، کسرة، اعم مطلق او ضم، فتح، کسر اخص مطلق دی، ماده اجتماعی لکه حرکات بنائیه شو او ماده افتراقی د جانب د ضمة، فتحة، کسرة نه لکه حرکات اعرابیه شو.
سوال: القابه مبتداء ده او ضم وفتح وکسر ووقف ورله خبر دی او قانون دا دی چې د مبتداء واحدی لپاره چې اخبار متعدده راشي نو یا عطف مقدم وی او یا ربط مقدم وی عطف عبارت دی د تعداد د امورو کثیرو نه چې حکم وکړي شي په مجموعه باندې او ربط عبارت دی د تعداد د امور

كثيرونه چې حكم وكړي شي په هر واحد باندې اوس هم دلته د مبتدا واحدي لپاره اخبار متعدد، راغلي دي نو ايا دلته عطف مقدم دى كه ربط يو هم نه صحيح كيږي خكه كه ربط مقدم شي نو معنى به ئې دا وى چې نومونه د حركاتو او سكناتو د اخير د اسم مبني ضم دى فتح دى كسر دى نو حمل د واحد راغى په متعدد باندې او دا ندى صحيح، او كه عطف مقدم شي نو معنى به ئې دا وى چې نومونه د حركاتو او سكناتو د اخير د اسم مبني ضم فتح كسر دى نو حمل د متعدد په متعدد باندې خو راغى ليكن بيا يو اعراب جارى كول پكار وو د وجى د وحدت د مقتضي د اعراب نه چې خبريت دى؟ **جواب:** دا دى چې دلته عطف مقدم دى په ربط باندې نو حمل د متعدد راغى په متعدد باندې او اعراب ئې جارى كړى دى په هر واحد باندې د وجى د صلاحيت لفظي د هر واحد نه لپاره د دې چې لازم نشي ترجيح بلا مرجح.

سوال: نه وائي چې والقابه عبارت په حذف د مضاف سره دى چې والقاب حركاته وسكناته نو دا حركات مقدر كول صحيح دى خكه حركات دري دى خو سكنات مقدر كول ندى صحيح خكه سكون خو يو دى زيات نه دى؟

جواب: اگر چې سكون يو دى په واقع كې ليكن دا جمع شوى دى دپته جمع مشاكلة وائي

سوال: ضم ته ضم ولې وائي فتح ته فتح ولې وائي او كسر ته كسر ولې وائي؟

جواب: ضم ته ضم وائي د وجى د حصول د حركة بنائي په ضم د شفتين سره، او فتح ته فتح وائي د وجى د انفتاح د فم نه په تلفظ كې او كسر ته كسر وائي د وجى د انكسار د شفت سفلى نه په وقت د تلفظ كې او سكون بنائي ته وقف وائي د وجى د توقف د نفس نه په سكون بنائي باندې د جرى نه.

وحكمه ان لا يختلف اخره لاختلاف العوامل. ربط هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د تعريف د اسم مبني نه او د بيان د القابو د حركاتو او سكناتو د اسم مبني نه نو شروع ئې وكړه په بيان د اثر مرتبه د اسم مبني كې لپاره د كمال وضاحت د اسم مبني نو وى ويل و حكمه الخ،

ترجمه: اثر مرتبه او فائدهٔ مرتبه په اسم مبني باندې د وجى د بنا نه عدم اختلاف د حرف اخير د اسم مبني دى د وجى د دخول د جنس عامل مختلف فى العمل نه په ده. اندې مثال لكه هؤلاء شو چې دا اسم مبني دى خكه ماناسب مبني الاصل دى او اخير د دې نه مختلف كيږي په اختلاف د عوامل سره لكه جاءنى هؤلاء رأيت هؤلاء ومررت بهؤلاء

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دى او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دى؟

جواب: ربط د ماقبل سره دا دى چې هر كله چې فارغ شو دبيان د تعريف د اسم مبني نه او د بيان د حركاتو سكناتو د اخير د اسم مبني نه نو شروع ئې وكړه په حكم د اسم مبني كې په دې شان سره چې غرض د مصنف بيان د اثر مرتبه او فائده مرتبه د اسم مبني دى يا دا جمله مستانفه ده واقع شوې ده په جواب د سوال كې خكه كله چې مصنف تعريف د اسم مبني وكړو ماناسب الخ سره نو معترض اعتراض وكړو چې كله يو اسم مبني وكرځي د وجې د مناسبت نه د مبني الاصل سره يا

واقع شي غير مركب نو په دې باندې څه فائده او اثر مرتبه ده نو مصنف جواب وكړو وحكمه سره چې فائده پرې دا مرتبه ده چې قسماقسم عوامل پرې داخلوه خو حرف اخيرئ نه مختلف كيږي د دې وجې نه يو شاعر ويلي دى. شعر:

مبنی آن باشد که باشد برقرار معرب آن باشد که شد دوبار بار

سوال: اضافت د حكم مبني ته باطل دى ځكه حكم نسبت ته وائي او نسبت د جملى لپاره وى او مبني مفرد دى نسبت پكښې نشته؟

جواب: حكم دلته بمعنى نسبت نه دى بلكه بمعنى اثر مرتبه سره دى.

سوال: حكم چې بمعنى اثر مرتبه شي بيا هم د دې اضافت مبني ته نه دى صحيح ځكه حكم چې په معنى د اثر مرتبه سره وى نو دهغې اضافت كيږي مؤثر ته او دلته مؤثر د عدم اختلاف د اخير لپاره بنا ده نه مبني، مبني محل د اثر دى چې عدم اختلاف دى؟ **جواب:** حكم چې په معنى د اثر مرتبه سره وى نو د هغې اضافت غالبا كيږي مؤثر ته او كله كله ئې اضافت محل د اثر ته هم كيږي، مثال لكه رڼا اثر د نمر دى او زمكه محل د دې اثر دى نو غالبا اضافت د ضوء شمس ته كيږي او ضوء الشمس ويلى كيږي او كله كله ئې اضافت ارض ته كيږي او ضوء الارض ويلى كيږي نو دارنګې دلته هم اضافت شوى دى محل د مؤثر ته د وجې د ادنى مناسبت نه چې دى بنا اثر كړى دى په اسم مبني كې.

سوال: په ان لا يختلف اخره كې دا لالاې نفى دى او اخره فاعل د يختلف دى او لاختلاف العوامل مفعول له دى د يختلف لپاره ځكه دا لام تعليلى دى نو دا علت دى د يختلف لپاره او قاعده دا ده چې نفى داخله شي په يو كلام باندې چې هغه مقيد وى په يو قيد باندې نو نفى د قيد كوى نو د دې معنى دا شوه چې په اخير د اسم مبني كې اختلاف د عواملو د وجې نه نه شي راتلي او د بلې وجې نه راتلى شي حالانكه دا خو مقصود د مصنف ندى بلكه مقصود دا دى چې اختلاف به نوى په اخير د اسم مبني كې سره د وجود د عواملو مختلفو نه؟

جواب: نه منم دا خبره چې لاختلاف العوامل مفعول له دى، دا لام دلته تعليلى ندى بلكه وقتيه دى نو معنى داده چې حكم د اسم مبني عدم اختلاف د اخير د اسم مبني دى په وقت د اختلاف د عوامل كې

سوال: ماته بل څاى مثال اوښايه چې لام وقتيه راغلى وى؟ **جواب:** لام وقتيه راغلى دى په حديث كې چې المستحاضة تتوضا لكل صلوة اى وقت كل صلوة؛ (۲) او كه اومنم چې لاختلاف العوامل مفعول له دى او لام تعليلى دى نودا خبره نه منم چې حرف نفى چې داخل شي په يو كلام باندې او هغه مقيد وى په يو قيد سره نو دا نفى د قيد كوى دائماً ابداً بلكه په دې كې درې صورتونه دى

(۱). غالبا نفى دقيد كوى لكه مارأيت زيدا مصلياً؟

(۲). او كله كله نفى متوجه كيږي مقيد ته او قيد باقي پاتې كيږي نحو قوله تعالى ﴿وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَىٰ مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ﴾(۳) او كله نفى دقيد او مقيد دواړو كوى نحو قوله تعالى ﴿وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ

لِلْعَبِيدِ ﴾او دا ترکیب د مصنف د قبیلې د ﴿وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَىٰ مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴾نه دی نو دلته نفی د
اختلاف شوی ده نه د عوامل
جواب: (۳)، او که اومنم چې نفی متوجه ده قید ته نو هم صحیح ده ځکه چې اختلاف دا خیر د اسم
مبني راتلی شي بې د اختلاف د عواملو نه نحو من زید په سکون د نون سره من امرأ په ضمی د نون
سره من الرجل په کسره د نون سره دلته اختلاف راغلی دی په اخیر د اسم مبني کې خو دا اختلاف
د عوامل د وجې نه ندی راغلی بلکه د یوی قاعدی صرفی د وجی نه راغلی دی چې من الرجل
اصل کې مِنْ الرجل وو، کله چې مَنْ یو ځای شو د الرجل سره نو همزه په درج کې او غورځیده
التقاء د ساکنین راغله په مابین د نون او لام کې نو نون لره کسره ورکړي شوه لان الساکن اذا حرك
حرك بالکسر هکذا فی من امراء لیکن دلته نون لره ضمه ورکړي شوه د وجی د التقاء د ساکنین نه
په مینځ د میم او نون کې لپاره د مطابقت د مابعد سره دارنګې جاتی زید من رایت زیداً منا
مررت بزید من دا من مبني دی او اختلاف په کې راغلی دی خو د عامل د وجې ندی راغلی بلکه د
بلْ شي د وجې نه راغلی دی چې هغه مطابقت دی په مینځ د استفهام او مستفهم عنه کې
سوال: ستا د دې عبارت نه معلومه شوه چې په اخیر د اسم مبني کې اختلاف نه راځي د اختلاف د
عواملو د وجی نه نو عوامل خو جمع ده نو معنی دا چې ډیر عوامل پرې داخل شي نو اختلاف نه
راځي او که دوه یا یو عامل پرې داخل شی نو بیا به اختلاف راځي حالانکه که یو یا دوه پرې داخل
شي نو بیا خو هم اختلاف دا خیر د اسم مبني نه راځي؟
جواب: دا اعتراض به تا هله کولو چې دلته العوامل نه مراد جمع وی لیکن دلته جنس عوامل مراد دی
ځکه په دې باندې الف لام داخل شوی دی دا معنی د جمعیت ختموی او جنسیت پیدا کوی
سوال: الف لام جنسي چې داخل شي نو جمعیت ولې باطلوی؟
جواب: ځکه چې دا دالالت کوی په ماهیت د مدخول باندې قطع لحاظ د افرادو نه او جمع دلالت
کوی په افرادو باندې او په مینځ د ماهیت او افرادو کې منافات دی
سوال: دا الف لام چې ناسخ د جمع ګرځوی نو جمع ناسخ د الف لام لپاره ولې نه ګرځوی؟
جواب: داسې نه شم کولې ځکه چې الف لام ثانی دی او جمع اول دی او ثانی ناسخ وی د اول لپاره نه
اول ثانی لپاره اوس په دې سره یو بله مسئله هم معلومه شوه چې حدیث کې راځي چې: علیکم
بسنتی وسنة الخلفاء الراشدین: دلته الخلفاء کې الف لام جنسي او مراد جنس خلفاء دی نو که
ټولو خلفاؤ یو کار نه وی کړي بلکه یو کړي وی نو هم ورته دا حکم شامل دی لکه شل رکعته
تراویح شوی چې دا عمر رضی الله تعالی عنه کړي دی او اذان ثانی شو فی یوم الجمعة دا عثمان
ایجاد کړی دی
سوال: ته وائي چې حکم د اسم مبني دا دی چې اخیر د دې نه مختلف کیږي په اختلاف د عواملو
سره نو بیا نه مبني وو ایه ځکه دا نه مختلف کیږي په اختلاف د عوامل سره لکه ان زیداً قائم، انا

ضارب زيداً . ضربت زيداً . عوامل مختلفه پرې داخل شوې دي يو اسم، بل فعل، او بل حرف دي.
او دا منصوب دی سره د دې نه چې دا خو معرب دی نه مبني؟
جواب: د دې مطلب دا دی چې عوامل به مختلف وی په عمل کې نه په ذات کې او دا عوامل مختلفه في الذات دی نه في العمل، او عوامل مختلفه في العمل چې په دې باندې داخل شي نو اخير د دې مختلف کيږي لکه جاءني زيد رأيت زيداً مررت بزيد
سوال: ته وائي چې حکم د اسم مبني دا دی چې ان لايختلف اخره الخ نو دا حکم شامل نه شو بعض افرادو د اسم مبني لره چې اسماء معدوده مفرده دي، او اسماء معدوده مضافه دی په هغې چې عوامل داخل شي نو اخير ئې مختلف کيږي؟
جواب: دا حکم د قسم اول د اسم مبني دی نه د قسم ثانی (٢) يا دا حکم د اسم مبني دی خو هله چې دا مبني پس د دخول د عواملو نه مبني پاتې شي او دا پس د دخول د عواملو نه مبني نه پاتې کيږي.
وهي المضمرات واسماء الاشارات. ربط. هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د حکم د اسم مبني نه نو شروع ئې وکړه په بيان د تقسيم د اسم مبني کې ځکه تقسيم د متمماتو او مکملاتو د تعريف نه دی ځکه په تعريف سره معلوميږي معنى او مفهوم د شئ او په تقسيم سره معلوميږي افراد او مصداق د شئ نو وی ويل **وهي المضمرات الخ. ترجمه:** دا اسم مبني مضمرات او اسماء اشارات دی الخ دی په تقديم د عطف سره په ربط باندې په دې شان سره چې په دی اته بابونو کې اسماء مبنيه بيانولې شي نه بلې شئ داسې نه چې اسم مبني منحصر دی په دی اقسامو کې نور د اقسام د اسم مبني نشته ځکه د دې نه علاوه نور اقسام د اسم مبني شته دی لکه اسماء استفهام او اسماء شرط اومنادي مفرد معرفه او اسم د لانکره يلی غير مضاف، او هر کله چې مضمرات اسماء افعال او اصوات ټول دقبيلې د مبنيات نه وو بالاتفاق نو وګرځول مصنف دغه اقسام ثلاثه د قبيلې د مبنيات نه مطلقاً حقيقةً او هر کله چې اسماء اشارات ټول د قبيلې د مبنيات نه وو عند الجمهور او اکثر د قبيلې د مبنيات نه وو عند البعض او موصولات مرکبات کنايات اکثر دقبيلې د مبنيات نه وو او بعض د معرباتو نه وو نو مطلقاً ئې وګرځول د قبيلې د مبنيات نه مجازاً ځکه للاکثر حکم الکل، او هر کله چې ظروف بعض دقبيلې د مبنيات نه وو نه اکثر او نه کل نو ذکر کړو مصنف د ظروفو سره لفظ د بعض او مطلقاً ئې و نه ګرځول دقبيلې د مبنيات نه ځکه ګرځول د دې مطلقاً نه حقيقتاً صحيح کيدل او نه مجازاً او الموصولات والمرکبات والکنايات مرفوع دی ځکه عطف دی په اسماء الاشارة باندې او الموصولات الخ مجرور هم صحيح دی چې عطف شي په الاشارة باندې او دا الاسماء لاندې راشي ځکه اطلاق د اسماء په دې جائز دی او الاصوات مرفوع دی فقط عند الجامی عطف دی په اسماء او مجرور ندی چې عطف شي په الافعال باندې نو د الاسماء لاندې به راشی ځکه لازميږي مخالفت په مينځ د اجمال او د تفصيل کې ځکه په تفصيل کې الاصوات ذکر دی او دلته به اسماء الاصوات شی

تشریح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟
جواب: ربط د ماقبل سره دا دی چې هر کله چې مصنف فارغ شو د بیان د حکم د اسم مبني نه نو شروع ئې وکړه په تقسیم د اسم مبني کې او غرض د مصنف تقسیم د اسم مبني دی
سوال: د اسم مبني تعریف او حکم بیان شو نو اوس دا تقسیم د اسم مبني ولې کوی؟
جواب: دا تقسیم د اسم مبني کوی لپاره د اتمام د تعریف د اسم مبني ځکه تقسیم د متمماتو او مکملاتو د تعریف نه دی نو که تقسیم ئې نه وی کړي نو دا تعریف د اسم مبني به ناقص وو
سوال: تقسیم د متمماتو او مکملاتو د تعریف نه ولې نه دی؟
جواب: ځکه چې په تعریف سره مفهوم او معنی د شي معلومیږي او په تقسیم سره افراد او مصداق د شي معلومیږي نو پس د تقسیم نه به مونږ ته دا اسم مبني معلوم شي مفهوماً او مصداقاً
سوال: هی ضمیر غایب دی تقدیم د مرجع غواړي دا چا ته راجع دی؟ **جواب:** دا المبني ته راجع دی
سوال: مطابقت رانغلو بین المرجع والضمیر ځکه هی ضمیر د مؤنث دی او المبني مذکر دی؟
جواب: دا ضمیر مؤنث راجع دی مذکر ته لپاره د وجې رعایت د خبر نه ځکه دا قاعده ده چې ضمیر دائر شي بین المرجع والخبر نو رعایت د خبر اولی دی نو مصنف رعایت د خبر کړی دی
سوال: رعایت د خبر ولې اولی دی؟ **جواب:** ځکه خبر محل د فائده دی نه مرجع (۲) خبر داخل دی په کلام کې او مرجع خارج ده او رعایت د محل دفائده اولی دی د غیر محل نه او رعایت د داخل اولی دی د خارج نه او دا رنګی اسم اشاره چې دائر شی بین المشار الیه والخبر نو رعایت د خبر اولی دی د مشار الیه نه نو اعتراض وارد نه شو په دې قول د الله تعالی سره ﴿ فَلَمَّا رَءَا ٱلشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هَٰذَا رَبِّي ﴾
سوال: هی مبتداء ده او المضمرات معطوف علیه مع المعطوفات ورله خبر دی او د مبتداء واحدی لپاره چې اخبار متعدده راشی نو یا ربط مقدم وی او یا عطف دلته عطف مقدم وائي که ربط یې هم نه صحیح کیږي، ځکه که ربط مقدم شي نو حمل د خاص راځي په عام باندې او دا نه دی جائز او که عطف مقدم شي نو بیا حمل د امور متعدده راځي په شی واحد باندې، او بیا یو اعراب جاري کول پکار وو د وجې د وحدت د مقتضی د اعراب نه چې خبریت دی، جمع په حرف جمع سره دا په شان د جمع دی لفظ د جمع سره نو د دې معنی دا شوه اسم مبني مضمرات الخ مجموعه دی نه هر واحد او دا باطل دی؟
جواب: دلته عطف مقدم دې په ربط باندې نو حمل د خاص رانغلو په عام باندې او که ته وائي چې حمل د متعدد راغي په واحد باندې نو حمل د متعدد په واحد باندې دا هله نه دی جائز چې دغه شی واحد قابل لپاره د تعدد نوي او دلته قابل د تعدد دی نو حمل صحیح دی او که ته وائي چې یو اعراب پکار وو نو اعراب یې جاری کړي دی په هر واحد باندې د وجې د صلاحیت لفظی نه لپاره د دې چې لازم نشی ترجیح بلا مرجح او دا تقسیم د کلي دی جزئیاتو ته نه تقسیم د کل اجزاء ته

سوال: دا مضمرات به خالي نه وي يا به جمع د مضمر وائي او يا به ئې جمع د مضمرة وائي كه جمع د مضمرة شي نو مطابقت ئې د واحد سره راغي خو مطابقت نشته د موصوف سره چې الاسم دى او كه نه وائي چې جمع د مضمر ده نو مطابقت ئې د موصوف سره راغلو ليكن مطابقت ئې نشته د مفرد سره؟
جواب: مضمرات جمع د مضمر ده نه د مضمرة ځكه دا صفت د مذكر لا يعقل دى او دا جمع كولې شي په الف او تاء سره قياساً او اطراداً كالايام الخاليات (٢) او دا جمع د مضمر ده نه د مضمرة ځكه صفت د مونث په جمع سالم سره هله جمع كيږي چې مذكر ئې جمع شوى وى په جمع مذكر سالم سره او دلته مضمر نه دى جمع شوى په مضمرون سره نو مضمرة نه شي جمع كيدى په مضمرات سره او مضمر نه دى جمع شوى په مضمرون سره ځكه مذكر چې صفت وى نو جمع كولې شي په واو او نون سره هله چې صفت د مذكر عاقل وى او دا صفت د مذكر لايعقل دى او دا رنګى موصولات جمع د موصول ده او مركبات جمع د مركب ده نه د موصولة او مركبة.
سوال: والاصوات په رفع سره دى كه په جر سره؟ **جواب:** شارح هندي وائي چې دا مجرور دى عطف دى په الافعال باندې نو د الاسماء لاندې راغلو او جامي صاحب وائي چې دا مرفوع دى عطف دى په الاسماء باندې او مجرور نه دى ځكه كه مجرور شى نو عطف به شي په الافعال باندې نو د اسماء لاندې به راشى نو مخالفة د اجمال راځي د تفصيل سره.
سوال: په تفصيل كې يې الاصوات مطلق ولې ذكر كړي دى؟
جواب: هر كله چې اصوات د قبيلې د اسماؤ نه ندى حقيقة خو جار مجرى د اسماؤ دى په دې شان سره چې دا مستعمليږي په كلام د عربو كې په شان د اسم مبني باندې نو ځكه ئې دلته ذكر كړې دى.
سوال: الموصولات مرفوع دى كه مجرور؟ **جواب:** په دې كې رفع لوستل هم جائز دى او جر لوستل هم جائز دى كه مرفوع شى نو عطف دى په اسماء باندې او كه مجرور شى نو بيا عطف دى په الاشارة باندې د اسماء لاندې راغى ځكه اطلاق د اسماء په دوى جائز دى.
سوال: اصل په عبارت كې عبارت دى په نمط واحده سره نو دا مضمرات اسماء اشارات الخ ئې مطلق ذكر كړه نو د ظروفو سره ئې دا قيد د بعض ولې ذكر كړو مطلقاً ئې ولې د قبيلې د مبنيات نه ونه ګرځول؟
جواب: هر كله چې مضمرات اسماء افعال او اصوات ټول د قبيلې د مبنيات نه وو بالاتفاق او اسماء اشارات ټول د قبيلې د مبنيات نه وو عند الجهمور نو هغه ئې مطلقاً د قبيلې د مبنياتو نه وګرځول حقيقةً او موصولات مركبات كنايات اكثر د قبيلې د مبنيات نه وو نو مطلقاً ئې د قبيلې د مبنيات نه وګرځول مجازاً ځكه للاكثر حكم الكل په خلاف د ظروفو نه دا نه كل د مبنيات نه دى چې مطلقاً ئې ذكر كړي وى حقيقةً او نه اكثر د مبنيات نه دى چې مطلقاً ئې ذكر كړي وى مجازاً نو ځكه ئې وبعض الظروف ووېل.
سوال: وهى مبتدا ده او المضمرات الخ خبر دى او مبتدا او خبر چې دواړه معرفه وى نو دا فائده كوى حصر په كلام كې نو معنى دا شوه چې اسم مبني مضمرات الخ دى نه بل شئ نو حصر د اسم مبني

راغلو په اقسام ثمانيو کې او دا باطل دی ځکه نور اقسام د اسم مبني هم شته تول اقسام د اسم مبني شپارس دی کما مر؟ **جواب:** مبتدا او خبر چې دواړه معرفې وی نو دا حصر فائده کوی خو د دې حصر درې صورتونه دی (۱) کله حصر من الجانبين وی (۲) کله حصر د مبتدا وی په خبر کې (۳) او کله حصر د خبر وی په مبتدا کې دلته حصر د خبر راغلی دی په مبتدا کې يعنی دا اته بابونه منحصر دی په مبني پورې په دې کې بل شئ نشته او حصر د اسم مبني په دې پورې نشته، کما فی قوله تعالى ﴿إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ﴾ دلته د رزاق حصر راغلی دی په الله پورې نه بالعکس.

سوال: مبتدا او خبر دواړه معرفه وی ايراد د ضمير فصل ضروری دی دلته يې ضمير فصل نه دی ذکر کړې؟

جواب: ضمير فصل ذکر کوولې شي دفع د التباس لپاره ده خبر او صفة په مينځ کې دلته التباس نشته ځکه مبتدا ضمير واقع شوی دی والضمير لايوصف ولا يوصف به (۲) ايراد د ضمير فصل بين المبتدا والخبر مشروط دی په کون د مبتدا او خبرسره معرفه وجود د مشروط مستلزم دی وجود د شرط لره او وجود د شرط مستلزم ندی وجود د مشروط لره.

المضمر ما وضع لمتكلم او مخاطب او غائب الخ. ربط. هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د اقسام د اسم مبني نه اجمالاً نو شروع ئې وکړه په بيان د اقسامو د اسم مبني کې تفصيلاً او هر کله چې مضمرات تول د قبيلې د مبنيات نه وو بالاتفاق په خلاف د باقي اقسامونه نو مقدم ئې کړه مضمرات په نورو اقسامو د اسم مبني باندې هم په جانب د اجمال کې او هم په جانب د تفصيل کې او هر کله چې انواع د مضمر ډير وو نو په جانب د اجمال کې ئې المضمرات جمع ذکر کړه لپاره د دې چې دلالت وکړي په کثرت د انواعو باندې او دا مقام مقام د تعريف دی او تعريف کيږي د جنس جنس سره نو ذکر کړو مصنف په دې مقام کې المضمر لپاره د دې چې دلالت وکړي په جنس باندې او مضمر په لغت کې ماخوذ دی د اضمار نه او اضمار استتار ته وائي او ضمير ته ضمير ځکه وائي چې دا هم مستتر کيږي په کلام د عربو کې يا مضمر ماخوذ دی د ضمر نه او ضمر قليل اللحم ته وائي، او ضمير ته ضمير ځکه وائي چې دا قليل الحروف دی په نسبت سره اسم ظاهر ته او ضمير په اصطلاح د نحويانو کې **ما** اسم دی داسې اسم **وضع** چې وضع کړې شوی دی **لمتكلم** د متکلم لپاره من حيث انه متکلم يحکی عن نفسه **او مخاطب** يا د مخاطب لپاره من حيث انه مخاطب يخاطب به **او غائب** يا د غائب لپاره داسې **غائب تقدم ذکره** چې مخکېې شوی دی ذکر د دې غائب او دا ذکر د غائب عام دی لفظاً وی که معناً وی که حکماً وی.

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط او مناسبت د ماقبل سره دا دی چې هر کله مصنف فارغ شو د اقسامو د اسم مبني نه اجمالاً نو شروع ئې وکړه په تفصيل د هغې کې او غرض د مصنف د دې ځای نه تفصيل د اجمال دی.

سوال: مصنف دلته د اسم مبني اته اقسام ذکر کړی دی او دا اته واړه سواسی دی په قسميت کې نو مضمرات ئې ولې مقدم کړه په اجمال او تفصيل کې **جواب:** هر کله چې مضمرات تول د قبيلې د

مبنیات نه وو بالاتفاق په خلاف د باقي اقسامونه چې هغه بالاتفاق د قبیلې دمبنیات نه نوو نو مقدم ئې کړه مضمرات اجمالاً وتفصیلاً

سوال: تفصیل موافق وی د اجمال سره نو څه وجه ده چې مضمرات په اجمال کې جمع ذکر کړه او په تفصیل کې ئې المضمر مفرد ذکر کړو؟ **جواب:** په جانب د اجمال کې ئې مضمرات جمع ذکر کړې ده لپاره د دې چې دلالت وکړي په کثرت د انواعو باندې او په تفصیل کې ئې مفرد ذکر کړو ځکه دا مقام د تعریف دی او تعریف د جنس کیږي په جنس سره او په جنس باندې دلالت مفرد کوی او که جمع ئې ذکر کړي وی نو تعریف د افرادو راتلو او دا نه دی جائز، بیا په هر یو قسم د اقسامود اسم مبني کې لابدي ده د معرفت د امور ثلاثه ؤ نه.

(۱): یو دا چې اصل په اسماؤ کې اعراب دی ځکه دا محل د معانیو معتوره وو دی په دې کې لابدي ده د اعراب نه چې هغه علامه وګرځی په دغه معانیو معتوره وو چې التباس د احدهما رانشی دا خر سره او بنا خلاف الاصل ده نو چې یو اسم مبني ګرځیدلی وی نو هلته لابدي ده د علت د بناء نه.

(۲): اصل په بناء کې سکون دی نو چې یو اسم مبني علی الحرکت وی نو هلته به لابدي وی د علت د بناء علی الحرکت نه.

(۳): دریم لابدي ده د علت د بناء علی الحرکت المعین نه مثال لکه اما بعد شو دا بعد مبني علی الضمه دی نو علت د نفس بناء لپاره مشابهت دی د حرف سره په احتیاج کې او علت د بناء علی الحرکت لپاره دا دی چې که چرته دا مبني شی په سکون سره نو لازمیږي التقاء د ساکنینو او علت د حرکت معین لپاره دا دی چې په دې کې په حذف د مضاف الیه سره نقصان راغلی دی د هغې لپاره جبیره قویه پکاره ده او جبیره قویه نده مګر ضمه ده.

سوال: اصل په اسماء کې اعراب دی او بنا خلاف الاصل ده نو دا مضمرات مبني ولې شو؟

جواب: (۱): ضمائر مبني دی ځکه دامشابه دی د حرف سره په احتیاج کې په دې شان سره چې حرف محتاج دی انضمام د کلمه اخری ته په دلالت کې په معنی خپله باندې او دا ضمائر محتاج دی تقدم د داسې لفظ ته چې دلالت وکړی په مرجع د دې ضمیر باندې یا په خضور د مرجع باندې لهذا دا وجه د بناء غلطه ده چې بعض خلق ئې بیانوی چې ضمیر مشابه دی د حرف سره په احتیاج کې ځکه چې حرف محتاج دی ضم د کلمې اخری ته او ضمیر محتاج دی مرجع ته ځکه چې بیا خوبکار ده چې زید هم مبني شی ځکه چې دا مشابه دی د حرف سره په احیتاج کې ځکه چې دا محتاج دی مرجع ته چې معنی موضوع له د دې ده ځکه چې مرجع معنی موضوع له ته وائي.

(۲): یا ضمائر د قبیلې د مبنیات نه دی ځکه چې دا مشابه دی د حرف سره په وضع احادی یا ثنائي کې او کوم ضمائر چې احادی دی او ثنائي ندی هغه حمل دی په نورو باندې، او ضمیر کې لابدي ده د معرفت د امور اربعونه (۱) مفهوم لغوی (۲) مفهوم اصطلاحی (۳) وجه د تسمیه (۴) اقسام، نو مضمر په لغت کې مستتر ته وائي او په اصطلاح د نحویانو کې ما وضع لمتکلم الخ ته وائي او

ضمير اصطلاحي ته ضمير ځکه وائي چې دا ماخوذ دی د اضمار نه او اضمار استتار ته وائي. او دا هم کله کله مستتر کيږي (۲) يا ماخوذ دی د ضمر نه او ضمر قليل اللحم ته وائي او ديته مضمر ځکه وائي چې دا قليل الحروف وی د اسم ظاهر نه او اقسام ئې دلته مصنف په خپله بيانوی.

سوال: دا تعريف مانع نه شو د دخول د غيرنه داخل شو پکې الف لام عهد خارجي او کاف حرفي خطابی ځکه دا هم يو لفظ دی چې واضع وضع کړی دی د مخاطب لپاره او دا خو ضمير نه دی: منشا د اعتراض دا ده چې معترض ما عبارت اخستی دی د لفظ نه؟

جواب: دا اعتراض به هله وارديدو چې دلته دا ما عبارت وی د لفظ نه ليکن دا ما عبارت د اسم نه دی په قرينې د مقام سره (۱): ځکه معتبر په تعريف د اقسامو کې جنس قريب وی او جنس قريب دلته اسم دی (۲): مقسم معتبر وی په تعريف د اقسامو کې او ضمير او ظاهر اقسام د اسم دی نو الف لام عهدی دی او کاف حرفي تری خارج شو ځکه چې هغه اسم نه دی او په تنکير د اسم کې اشاره ده موصوفيت د ما ته ځکه دا واقع دی په جانب د خبر کې نو چې موصر نه شی نو عمل په اصل باندې راځي.

سوال: تعريف د ضمير مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو پکې زيد چې دا واضع وضع کړی دی د متکلم لپاره، يعنی زيد وضع شوی دی د يو مسمی لپاره دغه مسمی چې کله متکلم وی نو دا داخل شو په تعريف د ضمير کې؟ **جواب:** ضمير هغه اسم ته وائي چې وضع شوی وی د متکلم لپاره من حيث انه متکلم، او دا زيد واضع نه دی وضع کړي د دې مسمی لپاره من حيث انه متکلم بلکه دا وضع دی د دغه مسمی لپاره خوا که دغه مسمی متکلم وی او که مخاطب وی او که غائب وی.

سوال: دا تعريف د ضمير مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو پکې لفظ د متکلم ځکه دا واضع وضع کړي دی د متکلم لپاره من حيث انه متکلم ځکه دا په مخاطب يا غائب باندې نه صادقيږي سره د دې نه چې دا اسم ظاهر دی نه ضمير؟ **جواب:** ضمير هغه اسم ته وائي چې وضع شوی وی د متکلم لپاره من حيث انه متکلم يحکی عن نفسه لکه انا شو او متکلم اگر که واضع وضع کړي دی د متکلم لپاره من حيث انه متکلم ليکن د دې حيثيت نه ندی چې يحکی عن نفسه بلکه د متکلم اطلاق په دغه متکلم باندې کيږي برابره خبره ده که حکايت کوی او که نه کوي.

سوال: تعريف د ضمير مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو پکې زيد چې دا اسم واخلی د مخاطب لپاره ځکه دا يو اسم دی چې واضع وضع کړي دی د مخاطب لپاره او سره د دې نه چې ضمير نه دی؟

جواب: ضمير هغه اسم ته وائي چې واضع وضع کړي وی د مخاطب لپاره من حيث انه مخاطب او د زيد اطلاق په دغه مسمی باندې کيږي خوا که مخاطب وی او که متکلم وی او که غائب وی.

سوال: تعريف د ضمير مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو پکې لفظ د مخاطب ځکه دا واضع وضع کړي دی د مخاطب لپاره من حيث انه مخاطب؟

جواب: ضمير هغه اسم ته وائي چې واضع وضع کړي وی د مخاطب لپاره من حيث انه مخاطب يخاطب به او لفظ د مخاطب اگر چې واضع وضع کړي دی د مخاطب لپاره من حيث انه مخاطب خو من حيث انه يخاطب به ندی او انت من حيث انه يخاطب به دی

او مصنف توصيف د غائب وکړو په تقدم الخ سره په دې سره ئې احتراز وکړو د اسم ظاهر نه ځکه دا هم غائب لپاره وضع دی خو هلته تقدم د ذکر لفظا یا معناً یا حکماً شرط نه دی.

سوال: تعریف د ضمیر جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو د دې نه ضمیر د هو په ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾ کې ځکه چې د دې غائب مرجع مخکې نه ده ذکر دارنګې خارج شو د دې نه ضمیر د ﴿اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى﴾ ځکه د دې هو مرجع مخکې نه ده ذکر دارنګې خارج شو د دې نه ضمیر د ﴿وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ﴾ ځکه د دې مرجع مخکې نده ذکر؟

جواب: سکاری ته ورشه یعنی ما د ضمیر تعریف لاسر ته ندی رسولې او ته رابانديې مخکې سوال کوی دا تقدم د مرجع عام دی که لفظا وی او که معنا وی او که حکماً وی په ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾ کې مرجع مذکور دی حکما او باقي مثالونو کې مذکور دی معناً

لطیفه: پخوا یو سړي وو مونځ ئې نه کولو نو بل سړي ورته وویل چې مونځ کوه هغه بې نماز ورته په جواب کې وویل چې الله ویلی دی چې مونځ مه کوئی، یعنی کول خو لاپریږده خو الله تعالی ویلی دی چې مونځ ته نژدې نه شئ نو هغه بل سړي ورته وویل چې الله تعالی چرته ویلی دی چې مونځ مه کوئ بې نماز ورته وویل چې الله تعالی ویلی دی چې ﴿لَا تَقْرَبُوا الصَّلَوٰةَ﴾ نو دې بل سړي ورته وویل چې سکاری ته ورشه یعنی الله ویلی دی چې ﴿لَا تَقْرَبُوا الصَّلَوٰةَ وَأَنْتُمْ سُكَارَىٰ﴾ او ته خو لیوني نه ئې.

سوال: تعریف د ضمیر ما وضع الخ سره باطل دی ځکه مقصد په تعریف کې وضاحت د معرف دی او وضاحت د معرف راځي په جزم او یقین سره او مصنف په خپله په دې تعریف کې شکی دی نو مونږ ته به د څه وضاحت وکړي اوس شکي ځنګه دی، نو ځکه چې ده کلمه د او ذکر کړې ده او دا راځي لپاره د شك او تردد؟

جواب: کلمه د او دلته لپاره د شك او تردد نده بلکه لپاره د تنویع او تقسیم ده نو مصنف ضمیر منقسم کړو اقسام ثلاثة ؤ ته، او دا ذکر د غائب د ضمیر نه مخکې لفظا عام دی که حقیقة وی لکه ضرب زید غلامه او که حکما وی لکه ضرب غلامه زید، او ذکر د غائب مخکې د ضمیر نه معنا د دې صورتونه هم دوه دی (۱) یو دا چې مخکې یو لفظ وی هغه په دې باندې دلالت کوی نحو قوله تعالی ﴿اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى﴾ اعدلوا دلالت کوی په عدل باندې چې مرجع د هو دی (۲) او یا دا معلومیږي دسیاق او د سباق نه نحو قوله تعالی ﴿وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ﴾ او که دا مرجع مخکې لفظا او معناً نه وو نو هغې ته تقدم حکمی وائي لکه په ضمیر شان او ضمیر قصه کې شو نحو قوله تعالی ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾

وهو متصل او منفصل: **ربط**: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د تعریف د مضمر نه نو شروع ئې وکړه په بیان د تقسیم د مضمر کې ځکه تقسیم د متمات او مکملات د تعریف نه دی ځکه چې په

تعريف سره معلوميږي معنى او مفهوم د شئ او په تقسيم سره معلوميږي افراد او مصداق د شئ نو وی ویل **وهو متصل او منفصل. ترجمه**: دا ضمير په اعتبار د ماقبل سره متصل راځي يا منفصل راځي او په شئ واحد کې تقسيمات کثيره جاری کيږي په اعتبار د جهات کثيرو سره نو ده اول په تعريف کې تقسيم د ضمير وکړو اقسام ثلاثه ؤ ته (١) متکلم (٢) مخاطب (٣) غائب، او اوس ئې تقسيم وکړو نوعين ته چې متصل او منفصل دی او وروستو ئې تقسيم کوی انواع ثلاثه ؤ ته. مرفوع، منصوب، مجرور، نو دا تقسيمات په جهات مختلفو سره دی د اول لپاره جهت ذات دی. د دويم تقسيم لپاره جهت ماقبل دی او د دريم تقسيم لپاره جهت اعراب محلی دی.

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط دا دی چې دا مخکې تعريف د ضمير وو او دا تقسيم د ضمير دی او غرض د مصنف هم معلوم شو چې تقسيم دی په مطلق ضمير کې

سوال: په تعريف سره مونږه ضمير وپيژندو نو پکاره وه چې ده په احکامو باندې شروع کړې وی نو دا تقسيم ولې کوی؟ **جواب**: دا تقسيم کوی لپاره د اتمام د تعريف ځکه تقسيم د متمماتو او مکملاتو د تعريف نه دی.

سوال: تقسيم د متمماتو او مکملاتو د تعريف نه ولې دی؟

جواب: ځکه چې په تعريف سره معلوميږي معنى او مفهوم د شئ او په تقسيم سره معلوميږي افراد او مصداق د شئ نو پس د تقسيم نه به دا ضمير مونږ ته وګرځی مفهوماً او مصداقاً.

سوال: ستا په دې خبرو کې تناقض دی مخکې دې وويل چې ضمير درې قسمه دی. متکلم، مخاطب، او غائب، او اوس وائې چې ضمير دوه قسمه، متصل او منفصل او وروستو بيا وائې چې ضمير درې قسمه دی، مرفوع، منصوب، مجرور، نو مونږ ته پته ونه لګيده چې ضمير دوه قسمه دی که درې قسمه دی، او که درې قسمه وی نو بيا کوم درې اقسام دی، متکلم، مخاطب، او غائب دی، او که مرفوع، منصوب، مجرور دی؟ **جواب**: دا ستا اعتراض به هله وارديدواو دا تناقض به زما په کلام کې هله وی چې ما دا تقسيمات په ضمير کې کړې وی په اعتبار د جهت واحده سره ليکن دا تقسيمات په اعتبار د جهات مختلفو سره دی په دې شان سره چې دا ضمير په اعتبار د ذات سره درې قسمه دی، متکلم، مخاطب، غائب، او په اعتبار د ماقبل سره دوه قسمه دی، متصل، منفصل او په اعتبار د اعراب محلی سره درې قسمه دی مرفوع، منصوب، مجرور، او په بعض نسخو د کافيه کې داسې عبارت دی چې وهو متصل ومنفصل په واو سره نو په هغه نسخه باندې

سوال: دی چې دا قاعده ده چې د مبتدا او احد لپاره اخبار متعدده راشی نو يا عطف مقدم وی او يا ربط مقدم وی اوس دلته عطف مقدم دی که ربط، که ربط مقدم وائې په عطف باندې نو حمل د خاص راځي په عام باندې او دا ندې صحيح، او که عطف مقدم کوی په ربط باندې نو (١) حمل د متعدد

راځي په واحد باندې دا نه دی جائز (۲) او بل په دې باندې يو اعراب جاري کول پکار وو د وجې د وحدت د مقتضی د اعراب نه چې خبريت دی نو بيا په دواړو باندې اعراب ولې جاري کړی دی؟
جواب: د دې اعتراض نه يو جواب شارح هندی کړي دی چې نه عطف مقدم وايم او نه ربط بلکه دلته د هو لپاره خبر محذوف دی چې قسمان دی، او متصل او منفصل هر واحد خبر دی لپاره د مبتدا محذوف، ای احدهما متصل وثانيهما منفصل (۲) او بل جواب د دې شارح جامي صاحب کړی دی چې عطف مقدم دی په ربط باندې او حمل د متعدد په واحد باندې هله نه دی جائز چې شئ واحد قابل لپاره د تعدد نه وي او دلته دا امر واحد قابل لپاره د تعدد دی او اعراب ئې جاري کړی دی په هر واحد باندې د وجې د صلاحيت لفظي نه لپاره د دې چې لازم نه شي ترجيح بلامرجح او جواب د شارح هندي ضعيف دی ځکه هغه بنا دی په تقدير باندې.
فالمنفصل المستقل بنفسه والمتصل غير المستقل بنفسه: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د ضمير متصل او منفصل نه اجمالاً نو شروع ئې وکړه په بيان د ضمير متصل کې او منفصل کې تفصيلاً.
ترجمه: ضمير منفصل هغه ضمير ته وائي چې هغه مستقل وی باعتبار الذات په تلفظ کې په دې شان سره چې صحيح وی تلفظ د متکلم په دغه ضمير باندې انفراداً بی دما قبل نه چې هغه عامل دی په اصطلاح کې، **والمتصل** او ضمير متصل هغه ضمير ته وائي چې ندی مستقل باعتبار الذات په تلفظ کې په دې شان سره چې صحيح ندی تلفظ د متکلم په دې ضمير باندې بی د ماقبل نه چې عامل دی په اصطلاح کې، او هر کله چې ضمير متصل اصل وو د منفصل نه ځکه چې ضمائر وضع شوی دی لپاره د ايجاز او اختصار او ضمير متصل جز دی د منفصل نه نو مقدم ئې کړو متصل په منفصل باندې په اجمال کې، او هر کله چې تعريف د منفصل وجودی وو او تعريف د منفصل عدمی وو نو مقدم ئې کړو ضمير منفصل په متصل باندې په تفصيل کې ځکه وجودی اشرف دی د عدمی نه.
تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟
جواب: ربط دا دی چې هر کله چې فارغ شو د بيان د ضمير متصل او منفصل نه اجمالاً نو شروع ئې وکړه په په تفصيل د دې کې او غرض د مصنف هم معلوم شو چې بيان د ضمير متصل او منفصل دی تفصيلاً.
سوال: څه وجه ده مصنف لره چې ضمير متصل ئې مقدم کړو په اجمال کې او په تفصيل کې ئې ضمير منفصل مقدم کړو يعنی تفصيل ئې ولې مقدم کړو په اجمال کې او په تفصيل کې ئې ضمير منفصل مقدم کړو يعنی تفصيل ئې ولې مخالف وګرځو د اجمال نه؟
جواب: هر کله چې ضمير متصل اصل وو د منفصل نه ځکه چې وضع د ضمائرو شوې ده لپاره د ايجاز او اختصار او ضمير متصل اوجز دی د منفصل نه نو په اجمال کې ئې متصل مقدم کړو، او هر کله چې تعريف د منفصل وجودی وو او تعريف د متصل عدمی وو او وجودی اشرف وی د عدمی نه نو په تفصيل کې ئې منفصل مقدم کړو په متصل باندې

سوال: ته وائي چې ضمیر منفصل مستقل بنفسه ته وائي او متصل غیر مستقل بنفسه ته وائي دا تعریف نه دی صحیح ځکه ضمائر د قبیلې د اسماؤ نه دی او اسم مستقل بنفسه وی او غیر مستقل بنفسه خو حرف وی نو تا اسم ته څنګه غیر مستقل ووایه؟ **جواب:** غیر مستقل دوه قسمه دی (۱) فی الدلالت (۲) فی التلفظ نو دا ضمیر متصل غیر مستقل فی التلفظ دی نه فی الدلالت. او حرف غیر مستقل فی التلفظ والدلالت دواړه دی اوس په دې مقام کې درې صورتونه دی.

(۱) ضمیر منفصل مستقل بنفسه فی الدلالت هم دی او مستقل فی التلفظ هم دی.

(۲) او ضمیر متصل غیر مستقل فی التلفظ دی او مستقل فی الدلالت دی.

(۳) او حرف هم غیر مستقل دی په تلفظ کې په دې شان سره اطلاق او تلفظ په حرف باندې بې د انضمام د کلمه اخری نه صحیح ندی او هم غیر مستقل دی په دلالت کې.

سوال: د غیر مستقل فی التلفظ څه مقصد دی؟

جواب: د دې مطلب دا دی چې نه صحیح کیږي تلفظ د متکلم په دې ضمیر باندې انفراداً بې د ماقبل نه چې عامل دی په اصطلاح کې لکه ت شو په ضربتُ کې او مستقل فی التلفظ دا معنی چې صحیح وی تلفظ د متکلم په دې ضمیر باندې انفراداً بې د ماقبل نه چې عامل دی اصطلاحاً لکه انا شو اوس د دې مقام نه یوه بله مسئله معلومه شوه چې هغه ذکر کولې شی په مبتدا قسم ثانی کې مبتدا قسم ثانی دی ته وائي چې دا به صفت وی او واقع به وی پس د حرف نفی یا حرف استفهام نه او رافعهٔ لظاهر به وی نو اعتراض واردیږي چې دا قاعده ستا منقوضه شوه په اراغب انت باندې دلته دا صفت رافع اسم ظاهر لره نه دی بلکه رافع دې ضمیر لره؟

جواب: اسم ظاهر عام دی که حقیقتاً وی او که حکماً وی دلته دا انت ضمیر منفصل اسم ظاهر دی حکما ځکه لکه څنګه چې اسم ظاهر مستقل فی التنفظ دی نو دارنګې دا هم مستقل فی التلفظ دی

وهو مرفوع و منصوب و مجرور فالاولان متصل ومنفصل الخ: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د تقسیم د ضمیر نه نو عین نه په اعتبار د ماقبل سره چې متصل او منفصل وو نو شروع ئې وکړه په تقسیم د ضمیر کې په اعتبار د اعراب محلی سره اقسام ثلاثه ؤ ته چې مرفوع منصوب مجرور دی.

ترجمه: دا مضمر مطلقاً په اعتبار د اعراب محلی سره مرفوع او منصوب او مجرور راځي، **فالاولان** پس دا دوه اولنی چې مرفوع او منصوب دی هر واحد د دې مرفوع او منصوب نه متصل راځي او منفصل راځي **والثالث** او قسم ثالث چې ضمیر مجرور دی متصل راځي فقط نه منفصل **فذلك** پس دغه مضمر **خمسة انواع** پنځه قسم دی مرفوع متصل، مرفوع منفصل، منصوب متصل، منصوب منفصل، مجرور متصل

تشریح: سوال: ضمیر په اعتبار د اعراب سره ولې درې قسم دی؟ **جواب:** ځکه چې ضمیر قائم مقام د اسم ظاهر دی او اسم ظاهر کې لابدي وی د اعراب نه یعنی د رفع، نصب، جر نه لفظاً او یا تقدیرا نو په دی قائم مقام د هغه کې هم لابدي وی د رفع، نصب، جر نه البته دومره فرق دی چې اسم ظاهر کې رفع، نصب، جر راځي لفظاً یا تقدیراً او په دی کې اعراب راځي محلاً

سوال: **هو** مبتدا ده او مرفوع الخ ئې خبر دی او عطف د منصوب او مجرور راغلی ده په مرفوع باندې او جمع په حرف جمع سره په شان د جمع ده په لفظ د جمع سره نو **معنی** داشوه چې ضمیر مرفوع، منصوب، او مجرور، درې واړه راځي جمعاً او دا **معنی باطله ده**؟

جواب: دا اعتراض به تا هله کولې چې واو په خپله معنی وی لیکن واو بمعنی او دی یا جواب دا دی چې دا اعتراض به هله واردیدو چې دا تقسیم د مضمر دی اقسامو ته تقسیم د کل وی اجزاء ته لیکن دا تقسیم د کلی دی جزیاتو ته نه د کل اجزاء ته ځکه چې دا حملیږي په هر واحد باندې علیحدة

سوال: ته وائې چې **فالاولان** چې اول دوه مرفوع او منصوب دی نو اول خو صرف مرفوع دی منصوب خو ثانی دی؟ **جواب:** دا تثنیه تغلیباً ده دا ثانی ئې یو فرد وګرځوو د افرادو د اول نه او بیا ئې تثنیه جوړه کړې ده په شان د **شمسین اوقمرین** وغیره باندې

سوال: فالاولان مبتدا ده او متصل الخ ئې خبر دی او قانون دا دی چې خبر چې مشتقی وی او حامل دی ضمیر د مبتدا لره نو هلته مطابقت ضروری دی او دلته خو مطابقت نشته؟

جواب: دا متصل او منفصل خبر د **الاولان** ندی بلکه دا خبر د مبتدا محذوف دی چې کل واحد دی دا جمله خبر د الاولان لپاره دی (۲) یا الاولان مبتدا ده او متصل الخ بیان دی د خبر د مبتدا محذوفی ای **فالاولان کل واحد منهما** قسمان متصل ومنفصل (۳) یا دا خبر دی د الاولان لپاره په اعتبار د حذف د موصوف سره ای ضمیر متصل ومنفصل او ضمیر مشتقی ندی نو ځکه مطابقت نشته

سوال: ضمیر مرفوع او منصوب متصل او منفصل راځي او ضمیر مجرور متصل راځي او منفصل نه راځي دا ولې؟ **جواب:** (۱) السند علیه التتبع والاستقراء (۲) ضمیر مجرور متصل راځي او منفصل نه راځي لپاره د دې چې لازم نشی تقدیم د مجرور په جار باندې ځکه تقدیم د مجرور په جار باندې ندی جائز ځکه دا ګرځیدلی وی بمنزلة الجز او تقدیم د جز په کل باندې نه وي جائز

سوال: ضمیر مجرور چې منفصل راشی نو تقدیم د مجرور په جار باندې څنګه راځي؟

جواب: دا خبره دوی کړې ده مقایسة دا قیاس کوی په ضمیر منصوب باندې چې هغه کله منفصل وی نو تقدیم د ضمیر راځي په عامل باندې لکه ایاك نعبد نو دا چې منفصل شی نو هم به مقدم کیږي (۳) ضمیر مجرور متصل راځي نه منفصل ځکه دا قائم مقام د اسم ظاهر دی چې مجرور وی نو متصل وی نو دا قائم مقام د هغه به هم متصل وی نه منفصل ځکه کل شئ وقع فی محل غیره فله حکم الغیر (۴) ضمیر مجرور متصل راځي نه منفصل ځکه دا قاعده ده چې **لایسوغ المنفصل الا لتعذر المتصل** او په ضمیر مجرور کې تعذر د اتصال نشته یعنی اتصال د مجرور په جار پورې غیر متعذر دی **فقط** قط درې قسم دی (۱) یو قط راځي د ظروف مبنیو نه وروستو د ماضی منفی نه لپاره د استعراق د نفی نحو ما رأیت زیداً قط (۲) بمعنی حسب نحو قطی درهم بمعنی حسبی درهم (۳) اسم فعل بمعنی الامر چې انته او دلته په معنی د حسب سره دی، او یا په معنی د انته

سره دي يعني دا دريم قسم متصل دی او ته منع شه د انفصال د ضمير مجرور نه او دا فاء زائد راغلی ده لپاره د تزين او تحسين د كلمه د قط.

الاول ضربت وضربت الى ضربن و ضربن الخ: ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د انواع خمسه د مضمر نه اجمالاً نو شروع ئې وكړه په بيان د انواع خمسه د مضمر كې تفصيلاً.

ترجمه: الاول نوع اوله د انواع خمسه ؤ نه چې هغه ضمير مرفوع متصل دی ضربت وضربتُ ضمير د ضربتُ او ضربتَ وغيرهما دی داسې ضربت چې منتهى دی ضربن ته او داسې ضربت چې منتهى دی ضربن ته او صرفيان د گردان شروع كوی د غائب نه خكه هغه لحاظ د مجردو كوی او نحويان گردان شروع كوی د متكلم نه خكه دوی لحاظ د اعرف كوی او متكلم اعرف دی د غائب او مخاطب نه نو خكه مصنف گردان شروع كړي دی د صيغى د متكلم نه.

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط د دې عبارت د ماقبل سره دا دی چې مخكې مصنف بيان د انواع خمسه وكړو اجمالاً او اوس ئې بيان كوی تفصيلاً په اعتبار د مصداق سره او په بيان د ربط سره غرض د مصنف هم معلوم شو چې هغه بيان د انواع خمسه ؤ د ضمير دی باعتبار المصداق تفصيلاً.

سوال: الاول په اعتبار د موصوف محذوف سره چې النوع دی مبتدا ده مراد د دې نه ضمير مرفوع متصل دی او ضربت وضربتَ ورلره خبر دی او خبر محمول وی په مبتدا باندې او دلته حمل نه دی صحيح خكه ضربتَ او ضربت خو ضمير مرفوع متصل ندی بلكه جمله ده او مركب تام دی؟

جواب: ضربت او ضربت محمول دی په دی مبتدا باندې په اعتبار د حذف د مضاف سره نو كيږي تقدير د عبارت دا رنگې چې والاول ضمير ضربت وضربت.

(۲) يا جواب دا دی چې ستا دا اعتراض په هله واردېدو چې دا عبارت د مصنف بنا وی په حقيقة باندې ليكن دا بنا دی په مجاز باندې په دې شان سره چې ذكر د كل دی چې ضربت او ضربت دی او مراد ترينه جز دی چې ضمير د ضربت او ضربت دی.

سوال: الى ضربن وضربن جار مجرور دی او د جار مجرور لپاره لابدي وی د اعراب محلى نه د دې اعراب محلى څه شئ دی؟ **جواب:** اعراب محلى د دې جر دی بنا بر نعتيت په دې شان سره چې دا جار مجرور په اعتبار د متعلق محذوف سره صفت واقع شوی دی د ضربت او ضربت لپاره نو تقدير د عبارت دا شو چې النوع الاول ضمير ضربت وضربت المنتهين الى ضربن و ضربن.

سوال: الى په دوه قسمه دی (۱) يو الى راخې لپاره د مدد حكم په دې شان سره چې دا الى د ماقبل حكم رسوی مدخول خپل ته او دا غايه داخله نه وي په ماقبل كې د هغې علامه دا ده چې سر د كلام په متناول نه وي مدخول د الى ته نحو قوله تعالى ﴿أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ﴾ (۲) قسم راخې د اسقاط د ماوراء لپاره په دې شان سره چې دا الى د ماقبل حكم راكاږي مدخول خپل ته او دا مدخول د الى داخل وی په ماقبل حكم كې او د مدخول نه علاوه د نورو نه دا حكم ساقط كوی او د هغې علامه

دا ده چې سر د کلام به متناول وی مدخول د الی لره نحو قوله تعالی ﴿ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ ﴾ دلته الی د اسقاط د ماوراء لپاره دی ځکه دا حکم چې غسل دی دائې راخکلی دی مدخول ته چې مرافق دی او د هغه نه علاوه د نورو نه ساقط دی نو دلته کوم یو الی وائي یو هم نه صحیح کیږي که ته وائي چې د اسقاط د ماوراء لپاره دی نو دا ندی صحیح ځکه چې هلته سر د کلام متناول وی مدخول د الی لره او د لته ضَربت او ضُربت متناول نه دی ضَربن او ضُربن لره او که ته وائي چې الی د مدد حکم لپاره دی نو هلته خو مدخول د الی داخل نوی په ماقبل کې او دلته خو داخل دی؟

جواب: الی په دی مقام کې د اسقاط د ماوراء لپاره دی چې دا ضمیر مرفوع متصل د ضَربت او ضُربت نه واخله د ضَربن او ضُربن پورې دی او د هغه نه اخوا نشته او که ته وائي چې سر د کلام متناول نه دی مابعد لره نو جواب دا دی چې دا عبارت په حذف د معطوف سره دی ای الاول ضَربت و ضُربت وغیرهما الی ضَربن و ضُربن نو دا غیرهما متناول دی ضَربن او ضُربن ته.

سوال: صرفیان گردان د غائب نه شروع کوی نو تا د متکلم نه ولې شروع کړو؟

جواب: صرفیان گردان د غائب نه کوی ځکه هغه لحاظ د مجردو کوی ځکه غائب مجرد دی په نسبت سره متکلم او مخاطب ته او نحویان لحاظ د اعرف کوی او اعرف متکلم دی نو ځکه شروع د متکلم نه کوی **والثانی** او نوع ثانی د انواع خمسه ؤ نه چې ضمیر مرفوع منفصل دی **انا** انا دی الی **هن** تر هن پورې او صورة د گردان دا دی انا، نحن، انت، انتما، انتم، انتِ، انتما، انتن، هو، هما، هم، هی، هُما، هُن، بیا په دې انتَ، انتما، انتم، کې خلاف دی.

(۱): **بصریان وائي** ضمیر فقط ان دی او ت، تما، تم حروف دی متصل شوی دی په اخر د ضمیر پورې لپاره د دې چې دلالت وکړي په احوالو د مخاطب باندې چې یو دی که دوه که درې دی او مذکر دی که مؤنث دی.

(۲): **او کوفیان وائي** چې ضمیر دا ت، تما، تم دی او ان ذکر شوی دی لپاره د دې چې د دې ضمیر اعتماد پرې راشي او تلفظ پرې صحیح شي.

(۳): **مذهب د بعض دی** هغه وائي چې نه یوازې ان ضمیر دی او نه یوازې ت ضمیر دی بلکه دا مجموعه ضمیر دی **والثالث ضربنی الی ضربهن و اننی الی انهن** نوع ثالثه د انواع خمسه ؤ نه چې ضمیر منصوب متصل دی ضمیر د ضربنی دی تر ضربهن پورې کیږي گردان دارنگې ضربنی، ضربنا، ضربك، ضربکما، ضربکم، ضربكِ، ضربکما، ضربکن، ضربه، ضربهما، ضربهم، ضربها، ضربهما، ضربهن، او بل ضمیر د اننی دی داسې اننی چې منتهی دی د انهن پورې نو کیږي گردان دارنگې، اننی، اننا، انك، انکما، انکم، انكِ، انکما، انکن، انه، انهما، انهم، انها، انهما، انهن.

سوال: د ضمیر مرفوع متصل لپاره ئې مثال یو ذکر کړو او د منصوب متصل لپاره ئې مثالونه دوه ذکر کړه دا ولې؟ **جواب:** تعدد د مثال بنا دی په تعدد د مثمل باندې په دې شان سره چې ضمیر منصوب

متصل دوه قسم دی (۱) يو متصل بالفعل دی لکه ضربني الخ، (۲) متصل بالحرف دی لکه انني الخ شو په خلاف د ضمير مرفوع متصل نه چې هغه متصل کيږي په فعل پورې نه په اسم او حرف پورې.

والرابع اياي الى اياهن: او نوع رابع د انواع خمسه د ضمير نه چې منصوب منفصل دی اياى دی داسې اياى چې منتهى دى تر اياهن پورې کيږي گردان دا رنگې، اياى، ايانا، اياك، اياكما، اياكم، اياكِ، اياكما، اياكن، اياه، اياهما، اياهم، اياها، اياهما، اياهن، او دا اياى ضمير منصوب منفصل دی لکه راغلى دى په دى قول د الله تعالى کې ﴿وَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ﴾ او په دې اياى کې مذاهب اربعه دى

(۱) **يو مذهب د ابوالحسن بن كيسان او د كوفيانو دى** چې دا ي، ك، ه، ضمائر دى او دا ايا معتمد عليه د دې ضمير دى لپاره د صحت د تلفظ ذکر شوى دى

(۲) **مذهب بصريانو دى** بالعكس دى چې ايا ضمير دى او ي، ك، ه، حروف دى او متصل کيږي په اخير د دې ضمير پورې لپاره د دې چې دلالت وکړي په حالت د مفعول باندې (۳) مذهب د خليل دى هغه وائي چې دا ايا مضاف دى او ي، او كاف، او ها، مضاف اليه دى لانه لا يفيد معنى بانفراده ولا يقع معرفة بخلاف غيره من الضمائر، او دليل د هغه لپاره دا قول د شاعر دى!

اذا بلغ الرجل الستين اياه و ايا الشواب

دلته ايا مضاف دى الشواب ته نو معلومه شوه چې ذلته هم ايا مضاف دى او ي مضاف اليه دى دويم قول د خليل دا دى چې دا مظهر دى او قائم شويدى په مقام د مضمر کې او بوالعباس مبرد وائي انه اسم مبهم اضيف للتخصيص. ابو اسحق الزجاج ويلي دي انه اسم مظهر خص بالاضافة الى سائر المضمرات مثل الوحد فانهم (۴) مذهب دا دى چې دا مجموعه ضمير دى **والخامس** او نوع خامسه د انواع خمسه د دې ضمير نه چې مجرور متصل دى غلامى ولې ضمير د غلامى او لى دى **الى غلامهن ولهن** د اسې غلامى چې منتهى دى غلامهن ته او داسې لى چې منتهى دى لهن ته او صورة د گردان ئې دا دى، غلامى، غلامنا، غلامك، غلامكما، غلامكم، غلامكِ، غلامكما، غلامكن، غلامه، غلامهما، غُلامهم، غُلامها، غُلامهما، غلامهن، او د دې بل گردان داسې کيږي، لى، لنا، لك، لكما، لكم، لكِ، لكما، لكن، له، لهما، لهم، لها، لهما، لهن.

سوال: مصنف د مرفوع متصل او منفصل او منصوب متصل او منفصل او مجرور متصل لپاره مثالونه ذکر کړه نو د مجرور منفصل لپاره ئې مثال ولې ذکر نه کړو؟ **جواب:** مثال د هغه شئ لپاره ذکر کولې شي چې هغه موجود وی په خارج کې او ضمير مجرور منفصل درخارج وجود ندارد.

سوال: مثال ذکر کولې شي لپاره د وضاحت د ممثل او وضاحت د ممثل راځي په مثال واحد سره نو دوه مثالونه ئې ولې ذکر کړه؟

جواب: تعدد د مثال بنا دى په تعدد د ممثل باندې په دې شان سره چې ضمير مجرور متصل دوه قسم دى (۱) متصل بالاسم نحو غلامى (۲) متصل بالحرف دى نحو لى، لنا، الخ.

پس زده كه دا خبره چې ضمير متصل په اعتبار د اعراب محلى سره درې قسمه دى.

(۱) **مختص بالرفع** دا پنځه ضمائر دي (۱) التاء نحو قمت (۲) الالف نحو قاما (۳) الواو نحو قاموا (۴) النون نحو قمن (۵) يا ضمير د مؤنث مخاطب نحو تضربين خلافاً للاخفش والمازني (۲) مشترك بين النصب والجر، دا درې دي (۱) ياء المتكلم نحو ربي اكرمني (۲) كاف الخطاب نحو ما ودعك ربك (۳) ياء الغائب نحو قال له صاحبه وهو يحاوره.

(۳) مشترك بين الرفع والنصب والجر، دا صرف يو ضمير دی نا نحو قوله تعالی ﴿ رَبَّنَآ إِنَّنَا سَمِعۡنَا ﴾ دا هله چې ضمير متصل واحد المعنی واخلی والا مشترك بين الاحوال الثلاثه درې دي (۱) نا كما مر (۲) هم نحو هم قائمون، لهم، اكرمتهم (۳) ياء ضميری نحو اضربي اكرمني زيد، ﴿ لَكُمۡ دِينُكُمۡ وَلِيَ دِينِ ﴾، دا ياء اګر چې ضمير متصل دی ليکن واحد المعنی نه دی په احوال ثلاثه کې ځکه د اضربي د ياء ضمير د مخاطب دی او په دی نورو کې ضمير د متکلم دی او هم اګر چې واحد المعنی دی ليکن متصل ندی په ټولو صورتونو کې او دا قاعده ده چې کله اقسام مستعمله خارجي موافق وی د اقسام عقليه احتماليه ؤ سره لکه کلمه شوه چې هغې کې احتمالات عقليه هم درې دی او اقسام مستعمله هم درې دی، او کله اقسام مستعمله خارجي موافق نوي د اقسامو عقليو احتماليه ؤ سره لکه ضمائر شو ځکه د عقل تقاضه دا ده چې د هر يو نوع ضمير لپاره دی اتلس (۱۸) صيغې راشی موافق د عدد د فاعل ځکه فاعل درې قسمه دی (۱) متکلم (۲) مخاطب (۳) غائب. د هر يو لپاره دی شپږ شپږ صيغې راشی (۱) واحد مذکر لپاره (۲) تثنيه مذکر (۳) جمع مذکر (۴) واحده مؤنث (۵) تثنيه مؤنث (۶) جمع مؤنث. ليکن دوی د متکلم لپاره دوه صيغې وضع کړې دی چې هغه دلالت کوی په شپږو معانيو باندې ځکه متکلم غالبا روبرو خبری کوی دفع د التباس راځي او کله چې متکلم په پرده کې خبرې کوی نو امتياز د مذکر او مؤنث په اواز سره کولې شي دارنګې مخاطب غالبا روبرو د متکلم سره وی ليکن کله کله په پرده کې وی بيا امتياز نه شي کولې د مذکر او مؤنث نه ځکه په دی کې صرف يوه صيغه مشترکه وګرځولې شوه او ورکړې شو غائب لره حکم د مخاطب په اشتراك د صيغه واحد کې چې الف ضميری مشترك وګرځولی شي په مابين د تثنيه مؤنث، او تثنيه مذکر کې پس وګرځيدی ټولې صيغې دولس د اتلس معنی ګانو لپاره.

سوال: الف د تثنيه لپاره او واو د جمع لپاره او تا د مخاطب لپاره ولې وګرځول؟

جواب: د دې لپاره وجوه او مناسبات بيان کړې دی صاحب د مراح الارواح هلته اوګوره دلته ئې مونږ نه بيانوو د دې لپاره چې طوالت د کلام رانه شي.

سوال: په ضمير د ضَرَبْنَا او ضمير د ضَرَبَنَا کې څه فرق دی؟

جواب: دا نا په ضربنا کې مرفوع محلاً دی بنابر فاعليت او نا په ضربنا کې منصوب محلاً دی بنا بر مفعول به او فاعل به ورله ضمير مستتر وی او يا به اسم ظاهر وی، لهذا د ضربنا معنی دا ده چې مونږ وهلی دی بل څوك، او ضربنا معنی دا ده چې مونږه وهلی يو بل چا، لهذا په دی حديث د نبی

ﷺ کې به عبارت داسې وائي چې الحمد لله الذی اطعمنا وسقانا، او اطعمنا ويل غلط دی او دارنګې وائي به په خطبه د جمعه کې و نفعنا بالايات والذکر الحکيم، او ونفعنا ويل غلط دی.

فالمرفوع المتصل خاصة يستتر فی الماضی الخ: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د تقسيم د ضمير نه نو شروع ئې وکړه په بيان د احکامو د ضمير کې او يو حکم د احکامو د ضمير نه استتار دی نووی ويل **فالمرفوع الخ** (۲) هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د تقسيم د مطلق ضمير نه نو شروع ئې وکړه په بيان د تقسيم د يو خاص ضمير کې چې ضمير مرفوع متصل دی نو دا ضمير مرفوع متصل دوه قسمه دی، بارز مستتر.

ترجمه: فالمرفوع المتصل ضمير مرفوع متصل داسې ضمير مرفوع چې متصل وی په عامل خپل پورې **يستتر** دا مستتر کيږي **خاصة** په حال کون د دې ضمير مرفوع متصل کې چې دا خاص دی په استتار پورې په دې شان سره چې دا استتار خاص دی په دې ضمير مرفوع متصل پورې او مجاوز نه دی غير ته (۲) يا ضمير مرفوع متصل مستتر کيږي په فعل ماضی کې او زه خاص کوم دا استتار د ضمير په ضمير مرفوع متصل پورې په خاص کولو سره (۳) يا زه خاص کوم دا استتار د ضمير مرفوع متصل په حال کون زما کې چې زه خاص کونکی يم **للغائب والغائبة** داسې ماضی چې کائن وی د مذکر غائب لپاره او د واحد مؤنث غائب لپاره په دې شرط سره چې د دې فعل ماضی مذکر غائب او واحدی مؤنثی غائبی اسناد نوي شوی اسم ظاهر ته نو دا مستتر کيږي په دې کې جواز، مثال د اول لکه زيد ضرب او مثال د ثانی لکه هند ضربت.

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط د ماقبل سره دا دی چې مخکې بيان د اقسامو د ضمير وو او اوس احکام د ضمير بيانوی او په دې بيان د ربط سره غرض د مصنف هم معلوم شو چې بيان د حکم د ضمير دی چې استتار دی (۲) يا ربط دا دی چې مخکې ئې تقسيم وکړو په مطلق ضمير کې او اوس تقسيم کوی په يو نوع د ضمير کې چې ضمير مرفوع متصل دی قسمين ته چې بارز او مستتر دی.

سوال: المرفوع صيغه د اسم مفعول ده صفت دی د دې موصوف راته وښايه؟

جواب: المرفوع صفت دی د موصوف محذوف چې الضمير دی او الضمير مقدر راوباسم په قرينه د مقام سره، ضمير سره احتراز راغلی د اسم ظاهر نه ځکه اسم ظاهر نه مستتر کيږي او استتار خصوصيت د ضمير دی او په دې سره يو بل اعتراض هم دفع شو.

سوال: ته وائي چې مرفوع متصل مستتر کيږي په ماضی کې نو قام زيد کې خو دا زيد اسم دی او مرفوع دی او متصل دی او د دې استتار خو جائز نه دی په استعمال د کلام د عربو کې؟

جواب: دا اعتراض به هله وارديدو چې دا المرفوع صفت وی د الاسم محذوفه لپاره ليکن موصوف د دې مقدر دی الضمير په قرينې د مقام سره او **مرفوع** چې ئې وويل نو احتراز ئې وکړو د ضمير منصوب او د مجرور نه ځکه ضمير منصوب مطلقاً خوا که متصل وی او که منفصل وی او ضمير

مجرور متصل نه مستتر کیږي په استعمال د کلام د عربو کې او متصل سره ئې احتراز وکړو د
مرفوع منفصل نه دا هم نه مستتر کیږي او استتار خصوصیت د مرفوع متصل دی.
سوال: استتار خصوصیت د ضمیر مرفوع متصل ولې دی منصوب او مجرور او مرفوع منفصل ولې
نه مستتر کیږي؟ **جواب:** ځکه چې مرفوع متصل جز دی د فعل نه لفظاً او معناً هر چې دی معناً نو
ځکه چې فعل نه موجودیږي بې دفاعل نه په وجودات ثلاثه ؤ کې چې وجود ذهنی وجود خارجي او
وجود لفظی دی او هر چې دی لفظاً نو د وجې د سکون دلام کلمې د فعل ماضی نه په وقت د اتصال د
ضمیر مرفوع متصل کې لپاره د دې چې لازم نشي توالی د حرکات اربعه فیما هو کالکلمة الواحدة،
اوس هر کله چې دا جز شو نو که مستتر شي نو دا مابقي دلالت کوي په ما القي باندې په خلاف د دې
نورونه چې هغه جز نه دی نو که مستتر شي نو ما بقي دلالت نه کوي په هغې باندې
سوال: ته وائې چې استتار خوصیت د مرفوع متصل دی دا قاعده ستا منقوضه شوه په زید ضَرَبَ سره
په دې کې ضمیر مستتر دی چې مونږ ترې تعبیر کوو په هو سره نو هو خو ضمیر مرفوع منفصل دی؟
جواب: کوم ضمیر چې مستتر دی په ضرب کې هغه ضمیر مرفوع متصل دی هغه مایتلفظ به
الانسان ندی خو د هغې نه مونږه تعبیر کوو په هو سره مجازاً لپاره د جریان د تعلیم او تعلم
سوال: فالمرفوع المتصل موصوف صفت مبتدا ده او یستتر جمله ئې خبر دی او خاصة منصوب
دی او منصوبات دولس دی دا کم یو قسم دی ولې منصوب دی؟ **جواب:** دا منصوب دی بنا بر
حالیت او حال دی د ضمیر د یستتر نه چې راجع دی ضمیر مرفوع متصل ته.
سوال: حال مطابق وی د ذوالحال سره په تذکیر او تانیث کې او دلته خو مطابقت نشته ځکه
ذوالحال لمذکر دی او خاصة مؤنث دی؟ **جواب:** دا اعتراض به هله راتلو چې دا تا د تانیث لپاره
وی، لیکن دلته دا تا د مبالغی لپاره ده (۲) یا د اخاصة منصوب دی بنابر مفعول مطلق د فعل
مقدر لپاره چې اخص دی ای اخص هذا الحکم بالضمیر المرفوع المتصل خاصة.
سوال: خاصة ته منصوب ویل بنابر مفعول مطلق نه دی صحیح ځکه چې مفعول مطلق مصدر وی او
دا اسم فاعل دی اسم فاعل چرته مفعول مطلق ندی واقع شوی؟
جواب: هر ځای چې اسم په وزن د فاعلة راشي نو هغه اسم فاعل نوی بلکه کله کله مصدر هم راځي په
وزن د فاعلة باندې په استعمال د کلام د عربو کې لکه عافیة، عاقبة، باقیة، کاذبة شو نو دغه شان
خاصة هم مصدر دی په معنی د خصوص باندې (۳) یادا خاصة منصوب دی بنابر حالیة او عامل د
دې سره د ذوالحال نه حذف شوی دی چې اخص دی او دیته دوی په اصطلاح کې حال موکده وائي
فالماضی: **سوال:** ماضی صفت دی تقاضه د موصوف کوی او موصوف د دې حذف شوی دی چې
الزمان دی نو معنی د دې دا شوه چې ضمیر مرفوع متصل مستتر کیږي په زمانه د ماضی کې او
ضمیر لکه چې څنګه مستتر کیږي په زمانه د ماضی کې دارنګې مستتر کیږي په زمانه د حال او

استقبال کې هم مثال لکه پرون ما زید قام ویلی دی په استتار د ضمیر سره نو اوس هم ما لپاره جائز دی چې زید قام ووایم او زمانه اینده کې هم جائز دی چې زید قام ووایم؟

جواب: دا اعتراض به ستا هله وارد یدو چې دلته الماضي صفت وی لپاره د موصوف محذوف چې زمان دی بلکه دا صفت دی لپاره د موصوف محذوف چې فعل دی نو کیږي تقدیر د عبارت دارنګې فالمرفوع المتصل يستتر في الفعل الماضي.

سوال: للغائب جار مجرور دی او د جار مجرور لپاره لابدي وی د اعراب محلی نه نو د دې اعراب محلی څه دی او دا په ترکیب کې څه واقع شوی دی؟

جواب: دا په اعتبار د متعلق محذوف سره حال واقع شوی دی د الماضي نه ځکه دا قاعده ده چې جار مجرور چې واقع شي وروستو د نکرې نه نو هغه باعتبار المتعلق صفت واقع کولې شي او چې واقع شي وروستو د معرفې نه نو هغه باعتبار المتعلق حال واقع کولي شي ځکه که صفت ئې واقع کړو نو تکثیر في الحذف راځي او که حال ئې واقع کړو نو تقليل في الحذف راځي او تقليل في الحذف اولی دی د تکثیر في الحذف نه.

سوال: دا ضمیر چې په واحد او واحده کې مستتر کیږي نو په تثنیه او جمع کې ولې نه مستتر کیږي؟

جواب: په تثنیه او جمع کې بارز راځي نه مستتر لپاره د دې چې لازم نه شي التباس د تثنیه او جمع د مفرد سره په حالت داستتار کې.

سوال: ته وائي چې ضمیر مستتر کیږي په واحد مذکر غائب او غائبه کې دا قاعده ستا منقوضه شوه په ضرب زيداً او تضرب هند سره دلته خو ضمیر نه دی مستتر؟

جواب: دا ضمیر مستتر کیږي په غائب او غائبه کې خو په دی شرط سره چې اسم ظاهر د دې لپاره فاعل نه وو واقع شوی او که اسم ظاهر ورله فاعل واقع شوی وو نو بیا نه مستتر کیږي لپاره د دې چې لازم نه شي تعدد د فاعل، **والمضارع المتكلم مطلقاً** دا عطف دی په الماضي باندې او قاعده د عطف دا ده چې ماقبل د معطوف علیه معاد وی د معطوف سره نو کیږي تقدیر د عبارت دارنګې ويستتر في الفعل المضارع.

ترجمه: او دارنګې دا ضمیر مرفوع متصل مستتر کیږي په فعل مضارع کې په حال کون د دې مضارع کې چې د متکلم لپاره ئې واخلی **مطلقاً** برا بره خبره ده که د واحد متکلم لپاره وی لکه اضرب شو او که د متکلم مع الغیر لپاره وی لکه نضربُ شو **والمخاطب** او دارنګې مستتر کیږي دا ضمیر په واحد مذکر مخاطب فعل مضارع کې لکه تضرب شو، په دی درې وارو صیغو د مضارع کې مستتر کیږي وجوباً **والغائب** او په واحد مذکر غائب فعل مضارع کې لکه یضربُ **والغائبة** او مضارع چې واحد مؤنث غائبه وی لکه تضرب شوه په دی شرط سره چې د دې اسناد اسم ظاهر ته نه وو شوی او که شوی وو نو بیا نه مستتر کیږي لپاره د دې چې لازم نه شي تعدد د فاعل او په دی دوه صیغو کې مستتر کیږي جوازاً **او في الصفة مطلقاً** او دا ضمیر مرفوع متصل مستتر کیږي په

صفت کې جوازاً په دی شرط سره چې د دې لپاره اسم ظاهر فاعل نه وو واقع شوی **مطلقا** په حال کون د دې صفت کې چې دا مطلق واخلی یا په استتار مطلق سره یا په مطلق زمانه کې په دی شان سره چې دا صفت عام دی (١) که اسم فاعل وی که اسم مفعول وی، که صفت مشبه وی، او که اسم تفضیل وی (٢) که واحد وی، که تثنیه وی، او که جمع وی (٣) او مذکر وی، که مؤنث وی.

سوال: مطلقاً منصوب دی او منصوبات دولس دی دا کوم یو دی د هغې نه؟ **جواب:** (١): دا منصوب دی بنابر مفعول مطلق د یستتر لپاره (٢): یا منصوب دی بنابر مفعول فیه د یستتر لپاره.

سوال: مطلقاً منصوب بنابر مفعول مطلق هم ندی صحیح او بنابر مفعول فیه هم ندی صحیح ځکه مفعول مطلق مصدر دفعل مذکور وی او دا مصدر د فعل مذکور ندی او مفعول فیه زمان یا مکان وی او دا نه زمان دی او نه مکان دی؟

جواب: دا مفعول مطلق دی په اعتبار د موصوف محذوف سره ای استتاراً مطلقاً او یا مفعول فیه دی په اعتبار د موصوف محذوف سره ای زماناً مطلقاً (٣) یا دا مطلقاً منصوب دی بنابر حالیة د الصفة نه او دا مفعول به غیر صریحی دی د یستتر لپاره په واسطه د فی سره

سوال: په حال او ذوالحال کې مطابقت شرط دی په تذکیر او تانیث کې او دلته مطابقت نشته ځکه چې مطلقاً مذکر دی او صفة مؤنث دی؟

جواب: دا حال واقع شوی دی د الصفة نه په تاویل د وصف سره او وصف مذکر دی.

سوال: ته وائي چې ضمیر مرفوع مستتر کیږي په صفت کې مطلقاً دا قاعده ستا منقوضه شوه په دی قول د الله تعالی کې ﴿ أَرَاغِبٌ أَنتَ ﴾ دلته دا انت ضمیر مستتر نه دی بلکه منفصل دی دارنګې دا قاعده منقوضه شوه په قایم زید سره دلته په قائم کې ضمیر مستتر نشته ځکه چې فاعل ورله اسم ظاهر واقع شوی دی؟ **جواب:** زه وایم چې دا مستتر کیږي په صفت کې مطلقاً په دې شرط سره چې د دې صفت لپاره اسم ظاهر فاعل نوي واقع شوی او که اسم ظاهر فاعل واقع شوی وو نو استتار نه دی جائز او دا اسم ظاهر عام دی که حقیقة وی او که حکماً وی.

سوال: ته وائي چې ضمیر مستتر کیږي په صفت کې مطلقاً یعنی که واحد وی که تثنیه وی او که جمع وی نو په الزیدآن ضاربان او الذیدون ضاربون کې خو نه دی مستتر بلکه بارز دی چې الف او واو دی؟

جواب: په ضاربان کې الف ضمیری ندی بلکه علامه د جمع ده او ضمیر پکې مستتر دی هما دارنګې په ضاربون کې دا واو ضمیری ندی بلکه دا علامه د تثنیه ده او ضمیر پکې مستتر دی چې هم دی اوس دا الف او واو ضمیری ولې ندی نو ځکه چې ضمائر د قبیلې د مبنیات نه دی او حکم د مبني دا دی چې ان لایختلف اخره باختلاف العوامل او دلته مختلف کیږي په حالت رفعی کې ضاربان ویل کیږي، او په حالت نصبی او جری کې ضاربین ویلی کیږي، نو معلومه شوه چې دا الف او واو ضمیری نه دی.

سوال: صفت د نحاتو په اصطلاح کې څه ته وائي او مصداقات د صفت کوم کوم دی؟

جواب: صفت د نحاتو په اصطلاح کې هغه اسم ته وائي چې دلالت کوي په ذات مبهمه باندې چې معتبر وي ورسره يو صفت د صفات نه او مصداقونه ئې څلور دي، اسم فاعل، اسم مفعول، صفت مشبه، اسم تفضيل، او مصدر ته عند النحات صفت نه وائي ځکه مصدر دلالت په ذات نه کوي بلکه صرف په وصف باندې دلالت کوي او مبهمه سره اعلام خارج شو او دا قيد چې ذکر شو چې معتبر وي ورسره يو صفت د صفات نه نو په دې سره نکره او اسم جنس خارج شو لکه رجل شو.

پس زده کړه دا خبره چې استتار د ضمير دوه قسمه دي (۱) جوازاً (۲) وجوباً **ضمير** جوازاً مستتر کيږي په مواضع خمسه ؤ کې (۱) واحد مذکر غائب فعل ماضی (۲) واحده مؤنثه غائبه فعل ماضي (۳) واحد مذکر غائب فعل مضارع (۴) واحده مؤنثه غائبه فعل مضارع (۵) صفت مطلقاً او وجوباً هم مستتر کيږي په مواضع خمسه ؤ کې (۱) واحد متکلم فعل مضارع (۲) متکلم مع الغير فعل مضارع (۳) واحد مذکر مخاطب فعل مضارع (۴) امر حاضر معلوم (۵) اسم فعل بمعنی الامر، نو ټول مواضع د استتار د ضمير لس شو.

سوال: دا به موږ ته د څه نه معلومه وو چې دا استتار د ضمير واجب دی که جائز دی؟

جواب: دا عامل به خالي نه وي يا به ورله اسم ظاهر فاعل راځي په استعمال د کلام د عربو کې او يا به نه راځي که راتلو نو بيا استتار د ضمير جائز دی په وقت د عدم د فاعل اسم ظاهر کې او که اسم ظاهر ورله فاعل نه راتلو نو واجب دی لهذا واحد متکلم فعل مضارع متکلم مع الغير فعل مضارع الخ، پدې پنځه ځايونو کې استتار واجب ځکه دی چې د دې لپاره اسم ظاهر فاعل نه شي واقع کيدی.

سوال: د دې لپاره اسم ظاهر فاعل ولې نه راځي؟ **جواب:** ځکه چې د متکلم لپاره فاعل متکلم وي او د مخاطب لپاره فاعل مخاطب وي او اسم ظاهر د قبيلې د غيبوبات نه دی د متکلم او مخاطب لپاره فاعل نه شي واقع کيدی. **ولايسوغ المنفصل الا لتعذر المتصل. ربط.** هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د يو حکم د ضمير نه چې استتار وو نو شروع ئې وکړه په بل حکم د ضمير کې چې انفصال د ضمير دی د عامل خپل نه نو وي ويل چې ولا يسوغ المنفصل الخ.

ترجمه: جائز نه دی استعمال د ضمير منفصل په کلام د عربو کې يا جائز نه دی اتيان د متکلم په ضمير منفصل باندې د وجې د يو شئ نه الا مگر جائز دی **لتعذر المتصل** د وجې د تعذر د ضمير متصل نه (۲) جائز نه دی استعمال د ضمير منفصل فی جميع الاوقات الاوقت تعذر المتصل ځکه وضع د ضمائرو شوې ده لپاره د ايجاز او اختصار او ضمير متصل او جز او اخصر دی د منفصل نه لهذا تر څو پورې چې اتصال د ضمير ممکن وو نو جائز نه دی انفصال.

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط دا دی چې مصنف شروع کړې وه په احکامو د ضمائرو کې نو يو حکم ئې بيان کړو چه استتار د ضمير وو نو اوس بل حکم بيانوي چې انفصال د ضمير دی او غرض د مصنف هم معلوم شو چې بيان د بل حکم د ضمير دی.

سوال: یسوغ مشتق دی د سوغ نه او سوغ ویلی کیږي شراب په مرئي کي تیرولو ته کما فی قول الشاعر:
فساغ لی الشراب وکنت قبلاً اکاد اغص بالماء الفرات
نو اسناد د یسوغ ضمیر منفصل ته نه دی صحیح ځکه چې د سوغ په دغه معنی سره اسناد کیږي انسان ته او ضمیر خو انسان نه دی؟

جواب: دلته د سوغ د غه معنی نده مراد بلکه لایسوغ په معنی د لا یجوز سره دی.

سوال: لایسوغ چې په معنی د لا یجوز سره شي د دې نسبت بیا هم نه دی صحیح منفصل ته ځکه د دې معنی دا ده چې نه دی جائز منفصل او دا معنی خو نده صحیح؟ **جواب:** المنفصل فاعل واقع شوی دی د لایسوغ لپاره په اعتبار د حذف د مضاف سره نو کیږي معنی دارنګې چې نه دی جائز اتیان د متکلم په ضمیر منفصل باندې او نه دی جائز استعمال د ضمیر منفصل.

سوال: دا الااستثنائیه دی او تعذر المتصل مستثنی دی او دا تقاضه د مستثنی منه کوی او مستثنی منه د دې لپاره المنفصل دی نو استثناء د دلیل راغله د مدعی نه او استثناء د اسم راغله د فعل نه او دا باطله ده؟ **جواب:** دا اعتراض به هله راتلو چې د دې مستثنی منه مذکور وی، لیکن دا مستثنی مفرغه ده مستثنی منه ئې محذوف ده او په تقدیر د مستثنی منه کې دوه مذهبه دی بعض وائي چې مستثنی منه محذوف دی لاجل شئ نو تقدیر دارنګې دی چې ولایسوغ المنفصل لاجل شئ الالتعذر المتصل، ځکه دا لام تعلیلی دی او مستثنی منه به را اوباسی د جنس دمذکور نه (٢) او بعض وائي چې مستثنی منه محذوف دی فی جمیع الاوقات ځکه په لتعذر المتصل کې لام وقتیه دی نو کیږي تقدیر دارنګې چې ولایسوغ المنفصل فی جمیع الاوقات الاوقت تعذر المتصل، او دا اول مذهب غوره دی د دویم نه ځکه لام چې راځي تعلیلی نو دا د دې معنی موضوع له ده او لام چې وقتیه راځي دا د دې معنی مجازی ده، او قانون دا دی چې مجاز ته صیرورت کولې شي عند تعذر الحقیقة او دلته خو معنی حقیقی متعذره نده نو صیرورت مجاز ته باطل دی.

سوال: په وقت د عدم تعذر د ضمیر متصل کې انفصال د ضمیر ولې ممتنع دی؟

جواب: ځکه چې ضمائر واضع وضع کړي دی لپاره د ایجاز او اختصار او ضمیر متصل اوجز او احضر دی د منفصل نه نو تر څو پورې چې استعمال د ضمیر متصل ممکن وو نو نه دی جائز استعمال د ضمیر منفصل.

سوال: تعذر د اتصال د ضمیر په کومو کومو ځایونو کې راځي؟

جواب: وذلك بالتقديم على عامله: دا تعذر د متصل کائن دی د وجې د تقدیم د ضمیرنه په عامل خپل باندې مثال لکه ایاك ضربت شو بل مثال لکه ایاك نعبد وایاك نستعین دلته ضمیر منفصل مستعمل شوی دی د وجې د تعذر د اتصال نه او دا تعذر د اتصال راغلي دی د وجې د تقدیم د ضمیر نه په عامل باندې ځکه ضمیر چې مقدم شي په عامل باندې نو هلته ممکن نه دی اتصال د ضمیر په عامل پورې ځکه اتصال راځي په اخیر د عامل پورې نه په اول پورې.

(٢): **او بالفصل لغرض**: يا تعذر د متصل كائن دى دوجي ده جدائي نه په مابين د ضمير او د عامل د ضمير كي او دا فصل بين الضمير والعامل راغلي وى لپاره د حصول د يو غرض او مقصد داسې غرض چې بي د فصل نه بين العامل والمعمول نه حاصليږي او دا فصل بين العامل والضمير منافى دى د اتصال د ضمير سره مثال لكه ماضربك الا انا شو، بل مثال نحو قوله تعالى ﴿ أَسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ ﴾ دلته انا منفصل دى د وجې د تعذر د اتصال د ضمير نه او تعذر د اتصال د ضمير راغلى دى د وجې د فصل نه په مينځ د عامل كې چې ضربك دى او معمول يعنى ضمير كې چې انا دى په الاسره او دا فصل راغلي دى د يو غرض لپاره چې حصر دى او دا فصل منافى دى د اتصال سره او كه فصل رانه وړو او ضمير متصل كړو نو بيا فوت كيږي مقصد د متكلم چې حصر دى او په اسكن انت وزجك الجنة كې دا انت ضمير مرفوع منفصل دى او دا انفصال راغلي دى دوجې د تعذر د اتصال نه او دا تعذر د اتصال راغلي دى د وجې د فصل نه بين العامل والضمير، په ضمير مرفوع متصل مستتر سره، او دا فصل راغلي دى لپاره د يو غرض چې تاكيد د ضمير مرفوع متصل دى په منفصل سره لپاره د عطف د اسم په ضمير مرفوع متصل باندې.

(٣): **او بالحذف**: او يا دا تعذر دمتصل كائن دى د وجې د حذف كولو د متكلم نه عامل د ضمير لره ځكه عامل چې حذف كړي شو نو انفصال د ضمير واجب دى د وجې د عدم وجود د مايتصل به نه مثال لكه اياك والشر شو چې په دي كې دا اياك ضمير منفصل مستعمل دى د وجې د تعذر د اتصال نه او تعذر د اتصال راغلي دى د وجې د حذف د عامل نه ځكه چې دا اصل كې اتق نفسك والشر وو هر كله چې عامل حذف شو نو دا نفس ورسره هم حذف شو نو د ضمير متصل نه منفصل وګرځيدو د وجې د عدم وجود د مايتصل به نه.

(٤): **او بكون العامل معنويا**: يا دا تعذر كائن دى د وجې د كيدو د عامل نه معنوى ځكه عامل چې معنوى راشي نو انفصال د ضمير واجب دى دوجې د عدم وجود د مايتصل بـه نه ځكه ضمير امرلفظى دى او عامل معنوى امر معنوى دى او اتصال د امر لفظى په امر معنوى پورې محال دى مثال لكه انازيد شو دلته انا ضمير منفصل مستعمل دى د وجې د تعذر د اتصال نه او دا تعذر راغلي دى د وجې د كيدو د عامل نه په انا كې عامل معنوى چې ابتداء ده.

(٥): **اوحرفا والضمير مرفوع**: يا دا تعذر د متصل كائن دى د وجې د كيدو د عامل نه حرف په داسې حال كې چې ضمير مرفوع دى، مثال لكه ماانت قائماً شو او دا مثال بنا دى په مذهب د حجازين باندې ځكه د دوى په نزد باندې ما د حروف عاملونه دى اسم مرفوع او خبر منصوب غواړي، انت اسم د ما دى او قائماً يې خبر دى او په دې ما انت قائماً كې دا انت ضمير منفصل مستعمل شوى دى د وجې د تعذر د اتصال نه او دا تعذر د اتصال راغلي دى د وجې د كيدو د عامل نه حرف او ضمير مرفوع دى ځكه اتصال د ضمير په فعل پورې راځي نه په حرف پورې.

سوال: د دې اتصال په حرف پورې ولې نه راځي؟ **جواب:** السند عليه التتبع والاستقراء (۲) دا ضمير مرفوع قوي دی او عمده دی او حرف ضعيف دی او اتصال د قوي په ضعيف پورې نه راځي، يا دا حرف ضعيف دی او ضمير مرفوع قوي دی نو لپاره د دې چې مذليت د عمده رانه شي، او والضمير مرفوع سره ئې احتراز وکړو د منصوب او مجرور نه ځکه د هغې اتصال په حرف پورې راځي اول نحو قوله تعالى ﴿ وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ ﴾ ثاني لکه ﴿ لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ ﴾ او د بني تميم په نـزد باندې ماانت قائما نه دی جائز بلکه ماانت قائم به وائي ځکه عندهم ما غير عامل دی او ضمير منفصل راغلي دی د وجې د کيدو د عامل د دې نه عامل معنوي.

(٦): **او بكونه مسندا اليه صفت جرت على غير من هي له:** يا دا تعذر د متصل کائن دی د وجې د کيدو د دې ضمير نه **مسندا** اسناد کړې شوی او نسبت کړې شوی **اليه** دی ضمير ته **صفة** يو اسم چې هغه دلالت کوی په ذات مبهمه باندې چې معتبر وی ورسره يو صفت د صفات نه داسې صفت **جرت** چې جاري کړې شوی دی دا صفت **على غير من** په غير د هغه موصوف باندې **هي** چې دا صفت ثابت دی **له** د دغه موصوف لپاره په واقع او نفس الامر کې يعنی ماجری عليه او مسند اليه د صفت غير غير وو بيا انفصال د ضمير واجب دی لپاره د دې چې لازم نه شي التباس د مقصد د متکلم په مخاطب باندې او صورة د عدم التباس محمول دی په صورة د التباس باندې او که مسند اليه او ماجری عليه د فعل غير غير وو نو بيا به خالي نه وي يا به په استتار د ضمير سره التباس د مقصد د متکلم په مخاطب باندې راځي او يا به نه راځي که التباس د مقصد د متکلم په مخاطب باندې راتلو نو انفصال واجب دی او که نه راتلو نو بيا انفصال واجب نه دی ځکه فعل ثقيل دی په اعتبار د معنی سره تقاضه د تخفيف کوی او تخفيف ورله مونږه ورکړو په اتصال د ضمير سره ځکه ضمير متصل خفيف دی په نسبت سره منفصل ته.

تشريح: سوال: صفة په ترکيب کې څه واقع شوی دی؟ **جواب:** صفة موصوف دی او على غير من هي له دا جمله ورله صفت دی موصوف سره د صفت نه نائب فاعل دی د مسندا لپاره.

سوال: صفة مؤنث دی او د فعل يا شبه فعل اسناد چې وشي مؤنث ته نو فعل مؤنث کولې شي نو لهذا مسندة اليه ويل پکار وو نو مسندا مذکر ئې ولې وويل؟ **جواب:** صفت مؤنث دی او مؤنث دوه قسمه دی (۱) لفظی (۲) حقيقی، دا مؤنث لفظی دی، او د فعل يا شبه فعل اسناد چې وشي اسم ظاهر د مؤنث لفظی ته نو هلته جواز د وجهين.

دی تذکير د فعل شبه فعل او تانيث دواړه جائز دی.

سوال: نسبت د صفت چې وشي فاعل ته فاعل عام دی که ضمير وی او که اسم ظاهر وی دا مفيد د فائده تامه نه دی او اسناد ديته وائي چې نسبت د مفهوم د احدهما وشي مفهوم د اخر ته چې هغه مفيد د فائده تامه دی سامع او مخاطب ته نو دی مصنف صفة ته مسند او ضمير ته مسند اليه څنګه وويل؟

جواب: دا اعتراض به ستاهله وازدیدوچې دا خبره د مصنف بنا وی په حقیقت باندې لیکن دا خبره بنا نده په حقیقت باندې بلکه بنا ده په مجاز باندې چې ذکر د خاص دی چې مسند الیه دی او مراد ترینه عام دی چې منسوب الیه دی.

سوال: دی ماتن ویلي دی چې صفة جرت علی غیر من هی له، او مَن راځي د ذوی العقول لپاره نو د مصنف لپاره پکار وه چې دلته ئې بجاې مَن لفظ د ما ذکر کړي وی ځکه ما عام دی شامل دی ذوی العقول او غیر ذوی العقول دواړو لره نو داخل شوی به وو په دې عبارت د مصنف کې دغه ترکیب چې الغنم والبقر ناتحه هو ځکه غنم او بقر د غیر ذوی العقول نه دی اطلاق د مَن پرې نه کیږي؟

جواب: لکه څنګه چې ما ذوی العقول او غیر ذوی العقول دواړو لپاره راځي دارنګې من هم د دواړو لپاره راځي مثال د من چې راغلي وی د غیر ذوی العقول لپاره کمافی قوله تعالی فَمِنْهُمْ مَّنْ يَمْشِي عَلَىٰ بَطْنِهِ نو دا من هم دواړو ته شامل دی (۲). دی مصنف ذکر د من کړی دی د وجې د اصالت نه تغلیباً ځکه ده ذوی العقول لره غلبه ورکړې ده په غیر ذوی العقول باندې

سوال: ما جری علیه د صفت او من هی له د صفت څه ته وائي؟

جواب: ما جری علیه د صفت هغه شئ ته وائي چې دا صفت په ترکیب کې د هغه لپاره څه واقع شوی وی او د هغې مصداقونه په خارج کې څلور دی

(۱): یو دا چې دا صفت خبر د مبتدا وی نو مبتدا ماجری علیه شو.

(۲): یا دا مشتقی په ترکیب کې صفت وی د موصوف لپاره نو موصوف ما جری علیه شو.

(۳): یا حال وی د ذوالحال لپاره نو ذوالحال ما جری علیه شو

(۴): یا صله وی د موصول نو موصول ما جری علیه شو.

او من هو له، من هی له، ماهوله، ماهی له، او مسندالیه، پنځه واړه الفاظ مترافه دی عبارت دی د شئ واحد نه چې دا معنی مصدري ثابته وی هغه شئ لره په واقع او نفس الامر کې او ماجری علیه او مسندالیه د صفت کله یو وی مثال لکه زید قائم شو نو دا زید مسندالیه دی د قائم لپاره ځکه دا معنی مصدري زید لره ثابته ده او ماجری علیه هم دی ځکه چې دا د هغې خبر دی. او کله ماجری علیه د صفت چې ضارب دی غیر غیر دی په دې شان سره چې ماجری علیه دلته عمرو دی ځکه دا ضارب دی د عمرو لپاره اومسندالیه ورله زید دی ځکه دا معنی مصدري چې ضرب دی قائمه شوې ده په دې زید پورې او صادره ده د زید نه او دا قاعده ده چې کله مسندالیه او ماجری علیه د صفت یو وو نو هلته اتصال د ضمیر واجب دی او انفصال ممتنع دی لکه زید قائم کې زید قائم هو نه دی جائز او که مسندالیه او ماجری علیه د صفت غیر غیر وو نو هلته انفصال د ضمیر واجب دی مطلقاً یعنی که التباس راتلو په مخاطب باندې او که نه راتلو. لپاره د دې چې لازم نه شي التباس د مقصود د متکلم په سامع او مخاطب باندې په صورة د التباس کې او صورة د عدم

التباس محمول دی په صورة د التباس باندې مثال د التباس لکه زيد عمرو ضاربه هو شو په دې کې لابدي ده د معرفت د امورثلاثه و نه (۱) ترکيب (۲) ترجمه (۳) تطبيق بالمثال.

ترکيب: **زيد** مبتدا اول **عمرو** مبتدا ثانی **ضارب** صيغه د اسم فاعل ده **ه** ضمير منصوب مفعول به چې راجع دی عمرو ته او **هو** فاعل د ضارب دی راجع دی زيد ته اسم فاعل سره د فاعل او مفعول به نه شبه جمله خبر لپاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه خبر لپاره د مبتدا اول مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه.

ترجمه: **زيد** زيد **عمرو** او عمر **ضاربه** وهونکی دی دی عمرو لره **هو** دغه زيد.

تطبيق بالمثال دلته د صفت لپاره چې ضارب دی ما جری عليه او مسند اليه غير غير دی په دې شان سره چې ما جری عليه د ضاربه لپاره عمرو دی ځکه دا مبتدا ده او ضاربه ورله خبره دی او مسند اليه ورله زيد دی ځکه صادر شوی دی د زيد نه او په دې ترکيب کې انفصال واجب دی او اتصال د ضمير نه دی جائز، داندي جائز چې زيد عمرو وضاربه ووائي په استتار د ضمير سره لپاره د دې چې لازم نه شي التباس د مقصد د متکلم په مخاطب باندې او لپاره د دې چې لازم نه شي انقلاب د مطلوب د متکلم په مخاطب باندې په دې شان سره چې زيد عمر وضاربه چې ووېلي شي نو د متکلم دا معنی مراد ده چې دا ضمير مستتر راجع دی زيد ته او دا **ه** ضمير راجع دی عمرو ته او د سامع وهم ته دا راځي چې دا ضمير مستتر راجع دی عمرو ته ځکه اصل په مرجع کې قرب دی او دا **ه** راجع دی زيد ته نو معنی مراد د متکلم بالکل معکوسه شوه په سامع باندې او کله چې زيد عمرو ضاربه هو ووائي په انفصال د ضمير سره نو بيا التباس د مقصد د متکلم په مخاطب باندې نه راځي ځکه د متکلم په عقيده کې دا ضمير منفصل راجع دی زيد ته او متصل راجع دی عمرو ته او سامع هم دغسې کوی ځکه کله چې متکلم اتيان وکړو په ضمير خلاف الاصل باندې چې ضمير منفصل دی نو سامع ته به پته ولګي چې د دې لپاره مرجع هم خلاف الاصل دی چې مرجع بعيد دی.

سوال: په زيد عمرو ضاربه هو کې خو انفصال د ضمير واجب دی منم، لپاره د دې چې لازم نه شي انقلاب د مقصد د متکلم په مخاطب باندې ليکن په هند زيد ضاربته هی کې ولې انفصال واجب دی باوجود د دې نه چې دلته التباس د مقصد د متکلم نه راځي په سامع او مخاطب باندې ځکه هند مبتدا اول زيد مبتدا ثانی اوس که ضاربته وائي په استتار د ضمير سره او که ضاربته هی ووائي په انفصال د ضمير سره خو دغه ضمير د فاعل راجع دی هند ته ځکه **هغه** ضمير د مؤنث دی زيد ته نه راجع کيږي نو دلته ولې انفصال واجب دی؟ **جواب:** په هند زيد ضاربته هی کې اګر چې التباس نه راځي په استتار د ضمير سره باوجود د دې نه انفصال واجب دی طرداً للباب ځکه دا حمل دی په صورة د التباس باندې.

سوال: مصنف د دې صفة جرت الخ لپاره د التباس مثال ولې ذکر نه کړو چې د عدم التباس دائې ذکر کړو؟ **جواب:** په ذکر کولو د مثال د عدم التباس کې مصنف اشاره وکړه دی خبري ته چې

ماجرى عليه او مسند اليه د صفت غير غير وى نو انفصال واجب دى مطلقاً كه التباس راخي او كه نه راخي نو دلته التباس نشته او ضمير منفصل شوى دى نو په صورة د التباس كښ به په طريق اولى سره انفصال واجب وى.

سوال: دا مثال مطابق نه دى د ممثل سره څكه دلته دا انفصال راغلي دى د فصل د وجي نه نور كونه صفة جرت على غير من هى له د وجي نه څكه دا هى فاعل د ضاربته نه دى بلكه تاكيد دى د ضمير مستتر څكه عرب په خپله محاوره كښ وائي نحن الزيدون ضاربوهم نحن دا نحن ثانى په دې تركيب كښ تاكيد دى لپاره د نحن مستتر په ضاربوهم كښ چې هغه فاعل دى او دا هم منصوب محلا مفعول به دى دارنګې دا هى ضمير تاكيد دى لپاره د هغه ضمير مستتر په ضاربة كښ، او دليل په دې خبره چې دا نحن ثانى تاكيد دى فاعل نه دى دا دى چې كه چرى دا فاعل وى د ضاربون لپاره نو بيا دى صيغى د جمع ذكر كولو ته ضرورت نه وو بيا ضاربهم ويل پكار وو؟

جواب: دا تركيب محتمل د احتمالين دى (۱): يو احتمال خو دا دى چې په ضاربة كښ ضمير مستتر دى او دا ذ هغې تاكيد دى. (۲): او دويم احتمال دا دى چې په ضاربة كښ ضمير نشته بلكه دا فاعل دى د هغې لپاره څكه جارالله زمخشري دغه تركيب نقل كړي دى د عربو نه بى د واو نه يعنى نحن الزيدون ضاربهم نحن او نقل د هغه په مقابله كښ ضعيف دى څكه قول د هغه سند دى په علم نحوه كښ نو معلومه شوه چې دا وروستو نحن ورله فاعل دى تاكيد ندى، او كه دغه بل نقل صحيح شي نو بيا په دې كښ دوه احتما له دى په يو احتمال باندې دا مثال صحيح دى او دمثال لپاره فرض هم كافى كيږي.

سوال: مسند اليه او ماجرى عليه د صفت چې غير غير وى خو حكم يې معلوم شو چې انفصال واجب دى مطلقاً، اوس مسند اليه او ماجرى عليه دفعل چې غير غير وى نو حكم يې څه دى؟

جواب: مسند اليه او ماجرى عليه د فعل چې غير غير وى نو يا به التباس راځي يا به نه راځي كه التباس راتلو نو انفصال واجب دى، نحو زيد عمرو يضربه هو او كه نه راتلو نو انفصال نه دى واجب نحو هند زيد تضربه.

سوال: په صفت كښ خو انفصال واجب دى مطلقاً نو په فعل كښ په صورة د عدم التباس كښ انفصال ولې نه دى واجب؟ **جواب:** څكه چې فعل ثقيل دى تقاضه د خفت كوى نو دا خفت ورته وركړي شو په استتار د ضمير سره (۲) فعل اصل دى صفة فرع دى په دې كښ ابراز د ضمير واجب دى دې لپاره چې امتياز يې راشي د اصل خپل نه (۳) انحطاط د فرع راشي د اصل خپل نه څكه دا قاعده ده الفرع احط رتبة من الاصل

سوال: ته وائي چې اتصال د ضمير راځي په وقت د وجود د يو مانع كښ د موانع مذكورونه دا خبره ستا منقوضه شوه په اراغب انت سره، دلته ضمير منفصل راغلي دى او موانع مذكوره پكښ يو هم نشته؟

جواب: د مصنف دا مطلب نه دى چې موانع لپاره د اتصال د ضمير دغه مذكور دى او نور نشته بلكه دغه موانع يې ذكر كړى دى بطور مثال د وجې د شهرت نه او د دې نه علاوه نور موانع هم

شته لپاره د اتصال د ضمير (١) كون الضمير فاعلاً للصفة الواقعة بعد حرف النفى او الاستفهام كما فى المثال المذكور (٢) لضرورة الشعر نحو!

بالباعث الوارث الاموات قدضمنت — اياهم الارض فى دهر اندهار

(٣) كون الضمير مفعولاً للمصدر العامل المضاف الى الفاعل الظاهر كما فى قول حسان رضى الله تعالى عنه — كفى بنا فضلا على من غيرنا — حب النبى محمد ايانا

(۴) كون الضمير فاعلا للمصدر لان الضمير لايستترفى المصدر

(۵) چې ماجرى عليه او مسند اليه دفعل غير غير وى نو انفصال د ضمير واجب دى په دې شرط چې التباس د مقصد د متكلم راتلو په سامع او مخاطب باندې نحو زيد عمرو يضربه هو.

واذا اجتمع ضميران: ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د حكم د ضمير واحد نه نو شروع يې وكړه په حكم د ضميرين كې په اعتبار د اتصال او انفصال سره چې دوه ضميره يو ځاى راشي نو دابه متصل وى كه منفصل به وى.

ترجمه: كله چې جمع شي دوه ضميرونه په يوه كلمه كې او حال دا دى چې نشته يو د دې ضميرنونه مرفوع بلكه دواړه منصوب دى يا احدهما منصوب او بل مجرور وو **فان كان احدهما اعرف:** پس كه چرې وو يو د دې ضميرين **نه اعرف** زيات وو په تعريف كې د ضمير اخر نه **وقدمته** او تا مقدم كړى وو دا ضمير اعرف په دې غير اعرف باندې **فلك الخيار فى الثانى** نو ستا لپاره ثابت دى اختيار په ضمير ثانى كې په دې شان سره كه ته يې متصل **كوى** او كه منفصل كوى يې مثال لكه الدرهم اعطيتكه شو نو دې كې اعطيتك اياه ويل هم جائز دى ځكه دا اول ضمير ذوجهتين دى كه ديته ګوري چې دا متصل دى په عامل خپل پورې نو فصل په **عامل** او دى ضمير كې كلا فصل دى مانع نشته نو متصل يې كړه او كه د دې ضمير اول معنى ته وګوري چې دا مفعول به دى او فضله دى نو بيا مانع موجود دى منفصل يې مستعمل كړه بل مثال لكه ضربيك او ضربى اياك شو په دې كې اجتماع د ضميرين راغلي ده يو منصوب دى او بل مجرور دى او احدهما اعرف دى د اخر نه او دا اعرف مقدم كړى دى په غير اعرف باندې نو په ضمير ثانى كې جواز د وجهين دى نو ضربيك او ضربى اياك دواړه ويل جائز دى ځكه دا اول ضمير ذوجهتين دى چې لفظ ته وګورو نو متصل دى په ماقبل پورې او فصل په ضمير متصل سره كلا فصل دى نو متصل يې مستعمل كړه، او كه ديته ګوري چې دا ضمير مجرور دى او فضله دى نو فصل راغلي دى په مينځ د عامل او د دې ضمير ثانى كې نو منفصل يې مستعمل كړه او دوه مثالونه يې ذكر كړه دا تعدد د مثال بنا دى په تعدد د ممثل باندې اول مثال د هغې دى چې دواړه ضميرين منصوب وى او دويم مثال د هغې دى چې اول منصوب او ثانى مجرور وى **والا** او كه چرته احدهما اعرف نه وو په اخر باندې بلكه دواړه يو شان وو يا اعرف وو ليكن تا مقدم كړې نه وو په غير اعرف باندې **فهو منفصل** دا ضمير ثانى به منفصل وى وجوبا او اتصال په عامل پورې ممتنع دى مثال د هغه ضميرين چې احدهما اعرف نه دى لكه زيد الدرهم **اعطيته اياه** شو ديكښې اجتماع د ضميرين راغلي ده او احدهما مرفوع نه دى بلكه دواړه منصوب دى او احدهما اعرف نه دى د اخر نه بلكه دواړه ضمير

غايب دی نو په دې کې انفصال د ضمير ثاني واجب دی لپاره د دې چې لازم نه شي ترجيح بلامرجح بې د عذر د انفصال نه او مثال د اجتماع د ضميرين چې احدهما اعرف دی د اخر نه او اعرف مقدم کړې نه دی په اخر باندې نحو الدرهم اعطيته اياك شو په دېکې اجتماع د ضميرين راغلي ده او احدهما مرفوع نه دی بلکه دواړه منصوب دی ځکه دواړه مفعولين د اعطيت دی او احدهما اعرف دی د اخر نه ځکه يو ضمير غائب دی او بل مخاطب دی او ضمير مخاطب اعرف دی د ضمير غائب نه او اعرف نه دی مقدم کړې په غير اعرف باندې نو دې کې انفصال د ضمير ثاني واجب دی لپاره د دې چې لازم نه شي ترجيح د مرجوح بې د عذر د انفصال نه.

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط د ماقبل سره دا دی چې مخکې مصنف حکم د ضمير واحد بيان کړو په اعتبار د اتصال او انفصال سره اوس بيانوی حکم د ضميرينو په اعتبار اتصال او نفصال سره او غرض بيان د حکم د ضميرين دی بحسب الاتصال والانفصال **وليس** احدهما مرفوعا چې يې وويل نو په دې سره يې احتراز وکړو د ضربتك نه ځکه اجتماع د ضميرينو چې راشي په کلمه واحده کې او احدهما مرفوع او اخر منصوب وی نو انفصال د ثاني واجب دی نو ضربتك به وائي او ضربت اياك ويل نه دی جائز ځکه چې ضمير مرفوع متصل په منزله د جز دی د ماقبل نه نو فصل پده سره کلا فصل دی او ليس احدهما الخ جمله حال واقع شوې ده د فاعل د اجتمع نه چې ضميران دی او جمله چې حال واقع شي او فعل پکې ماضي منفي وی نو اول کې يې واو حاليه راځي نو دا واو پکې حاليه دی، اوس چې احدهما مرفوع نه وو دهغې صورتونه دوه دی.

(۱): يو دا دی چې دواړه منصوب دی او بل دا دی چې احدهما منصوب او بل مجرور وی، نو بيا به خالي نه وي يا به احدهما اعرف وی د اخر نه او يا به نه وي که نه وو بلکه دواړه مساوی وو نو حکم يې وروستو راروان دی، **نو فان کان احدهما الخ** سره يې احتراز وکړو د هغې نه چې احدهما اعرف نه وي د هغې حکم هم وروستو راروان دی او که احدهما اعرف وو نو بيا به خالي نه وي يا به دا اعرف مقدم کړي وی او يا به نه وي نو **قدمته** سره يې احتراز وکړو د هغې نه چې اعرف نه وي مقدم کړي په غير اعرف باندې ځکه د هغې حکم هم وروستو راروان دی، اوس اجتماع د ضميرين راغلي ده احدهما مرفوع نه دی بلکه دواړه منصوب دی يا يو منصوب او بل مجرور دی او احدهما اعرف دی د اخر نه، او اعرف تا مقدم کړي دی په غير اعرف باندې نو دا فعل به خالي نه وي يا به فعل قلب وی او يا به نه وي که فعل قلب وو نو هغې کې دوه مذهبه دی.

(۱): **ابن مالك وائي.** اتصال اولی دی نحو الصديق خلتنيه.

(۲): **او جمهور وائي.** انفصال اولی دی نحو الصديق خلتني اياه، او که فعل قلب نه وو نو فلك الخيار في الثاني اتصال او انفصال دواړه جائز دی مثال لکه اعطيتکه او اعطيتك اياه دواړه ويل جائز دی، بل مثال لکه ﴿فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ﴾ نو اياهم الله ويل جائز دی.

سوال: اجتماع د ضميرين چې راشي او هغه مشروط په دې شروط ثلاثه ۆ سره نه وي نو په دې ضمير ثانی کې جواز ده وجهين ولې دی (۲) يا اجتماع د ضميرين چې راشي او مشروط وی په دې شروط ثلاثه ۆ سره نو يا به فصل منی په دې ضمير اول سره بين العامل والمعمول او يا به نه منی که فصل نه منی نو اتصال د ضمير ثانی واجب دی نو فلك الخيار څنګه وائي او که فصل معتبر کوی نو بيا انفصال اولی دی نو فلك الخيار څنګه وائي؟

جواب: اجتماع د ضميرينو چې راشي او مشروط وی په دې شروط ثلاثه ۆ سره نو دا ضميرين ذوجهتين دی يو جهت پکې د لفظ دی او بل جهت پکې د معنی دی، لفظ ته چې وګورو نو دا متصل دی په عامل پورې نو فصل بين العامل والضمير کلا فصل دی نو اتصال جائز دی، او معنی ته چې وګورو نو دا فضله دی او مفعول به دی نو فصل راغلو په فضله سره او دا مانع د اتصال دی نو منفصل کول يې جائز شو، نو حاصل دا چې دا ضمير اول محتمل د احتمالين دی يعنی ذوجهتين دی او اعمال اولی دی د اهمال نه نو ځکه جواز د وجهين راغلي دی.

سوال: مثال ذکر کولي شي لپاره د وضاحت د ممثل او وضاحت د ممثل راځي په مثال واحده سره نو اجتماع د ضميرين چې راشي او مشروط وی په شروط ثلاثه ۆ سره د دې لپاره يې دوه مثالونه ولې ذکر کړه؟ **جواب:** تعدد د مثال بنا دی په تعدد د ممثل باندې ځکه اجتماع د ضميرين چې راشي چې مشروط وی په شروط ثلاثه ۆ سره دا دوه قسمه دی (۱) قسم هغه ده چې دواړه منصوب وی لکه مثال اول کې (۲) چې اول مجرور ثانی منصوب وی لکه مثال ثانی شو.

سوال: اجتماع د ضميرين چې راشي او احدهما مرفوع نه وي او اعرف هم نه وي د اخرنه يا احدهما اعرف وی خو غير اعرف مقدم وی په اعرف باندې نو انفصال د ثانی ولې واجب دی.

جواب: هر چې دی په صورة اول کې نو انفصال د ثانی واجب دی لپاره د دې چې لازم نه شي ترجيح بلا مرجح بی د تعذر د انفصال نه په دې شان سره چې دا دواړه ضميرين متصل ووائي نو معترض اعتراض کوی چې دا دواړه ضميرين دی متصل دی او احدهما اعرف نه دی د اخر نه دا يو دی ولې مقدم کړي دی په دې بل باندې او کله چې دا دويم منفصل کړي نو بيا ترجيح بلامرجح نه راځي او هر چې دی په صورة ثانی کې نو لپاره د دې چې لازم نه شي ترجيح د مرجوح ځکه چې که دا دويم ضمير منفصل ووائي نو ترجيح د مرجوح راځي په راجح باندې.

سوال: اجتماع د ضميرين چې راشي او احدهما مرفوع نه وي او احدهما اعرف نه وي د اخر نه نو بيا به خالي نه وي يا به دا ضمير متحد وی افرادا تثنيه او جمعا يا به مختلف وی که متحد وی نو انفصال د ثانی واجب دی نحو زيد الدرهم اعطيته اياه، او که مختلف وو نو انفصال اولی دی او اتصال جائز دی نحو الزيدان الدرهم اعطيتهما اياه اولی، او الزيدان الدرهم اعطيتهماه جائز خلاف اولی دی، اوس معترض وائي چې دواړه ضميرين متحد وی نو په تقديم د دې يو سره په بل باندې په باب د اعطيت کې ترجيح بلا مرجح نه راځي ځکه مفعول اول د باب د اعطيت فاعل وی

معنی او ثاني مفعول دی لفظاً و معناً نو کون د مفعول اول فاعل معناً مرجح دی او د دې وجی نه سیبویه اعطیته کا جائز ویلی دی؟ **جواب:** ملحوظ بالنظر د نحویانو لفظ دی نه معنی لهذا په نظر سره لفظ ته قطع لحاظ د معنی نه لازم کیږي ترجیح د مرجوح او ترجیح بلا مرجح نو انفصال واجب دی لکه راغلي دی په دی حدیث د نبی ﷺ اشعر نها ایاه واغوندوی تاسو ای غسل کونکو زنانو ها دی مړي ته ایاه دغه شعار لره **والمختار فی خبر باب کان الانفصال. ترجمه:** او لی او راجح په خبر د باب د کان کې یعنی په خبر د افعال ناقصو کې انفصال د ضمیر ثانی دی نو زید قائم وکنت ایاه اولی او راجح دی او زید قائم وکنته، جائز خلاف اولی دی عند المصنف او د ابن مالك صاحب په نزد اتصال د ثانی اولی دی د انفصال نه ځکه هغه ویلی دی!

کذاك خلتنیه واتصالا اختار غیری اختار الانفصالا

سوال: ضمیر چې خبر د افعال ناقصو راشي او بل ضمیر اسم د افعال ناقصو وی نو په دې ضمیر کې انفصال ولې اولی دی د اتصال نه؟

جواب: ځکه کوم ضمیر چې خبر د افعال ناقصو لپاره راشي دغه ضمیر ذوجهتین دی که دیته گورو چې مخکې د دخول د فعل ناقص نه خبر لپاره د مبتدا وو او ضمیر چې خبر وی لپاره د مبتدا نو انفصال واجب دی د وجی د کیدو د عامل د دې نه معنوی، نو دهغې تقاضه دا ده چې دا ضمیر منفصل ووایه او که دیته گورو چې پس د دخول د فعل ناقص نه دا ضمیر په منزله د مفعول به گرځیدلی دی او اجتماع د ضمیرین چې راشي او احدهما پکې مرفوع وی نو هلته اتصال واجب دی لکه ضربتك کې نو د هغې تقاضه دا ده چې دا متصل ووایه، نو دا ذوجهتین شو او چې عمل په جهتین ممکن وی نو اعمال اولی دی د اهمال نه نو دوی په دې ضمیر خبر د کان کې اتصال او انفصال دواړه جائز کړه لپاره د دې چې عمل راشي په جهتین باندې لیکن دومره فرق دی چې انفصال اولی دی د ابن حاجب په نیز باندې ځکه مقتضی د اصل ده او اتصال مقتضی د مشابهت ده او رعایت د اصل اولی دی د رعایت د مشابهت نه او ابن مالك وائي چې اتصال اولی دی د انفصال نه ځکه اصل په ضمیر کې اتصال دی او انفصال خلاف الاصل دی ﴿ وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَا ﴾

خلاصه د ماسبق. اجتماع د ضمیرین چې راشي نو دا ضمیر به خالی نه وي یا به پکې احدهما مرفوع وی او یا به نوی، که احدهما پکې مرفوع وو نو بیا به دا فعل خالي نه وي یا به فعل تام وی او یا به ناقص وی، که فعل تام وو نو اتصال واجب دی نحو ضربتك، او که فعل ناقص وو نو بیا پکې اختلاف دی په نیزد د ابن مالك اتصال اولی دی او په نیزد د ابن حاجب صاحب باندې انفصال اولی دی، لکه زید قائم وکنته اولی عند ابن مالك او زید قائم وکنت ایاه اولی عند ابن حاجب، او که احدهما پکې مرفوع نه وو بلکه دواړه منصوب وو او یا یو منصوب او بل مجرور وو نو بیا به خالي نه وي یا به احدهما اعرف وی او یا به نه وي که احدهما اعرف نه وو بیا به خالي نه وي یا به متحد وی، افراداً وتثنیة وجمعا او یا به مختلف وی که متحد وو نو انفصال د ثانی واجب دی نحو قوله ﷺ اشعرنها ایاه زید الدرهم اعطیته

اياه، او كه مختلف وو نو انفصال اولي دی او اتصال جائز قدرې دی نحو الزيدان الدرهم اعطيتهما اياه اولى او الزيدان الدرهم اعطيتهماه جائز خلاف اولى.
او كه احدهما اعرف وو نو بيا به خالي نه وي يا به يې دا اعرف مقدم كړې وی په غير اعرف باندې او يا به يې نوي كه تقديم د اعرف نه وو شوی نو انفصال د ثاني واجب دی، نحو اعطيته اياك. او كه تقديم د اعرف راغلي وو په غير اعرف باندې نو دا فعل به خالي نه وي يا به فعل قلب وی او يا به نه وي كه فعل قلب وو نو فلك الخيار فى الثانى نحو اعطيتكه او اعطيتك اياه، ضربيك ضربى اياك ومنه قوله تعالى ﴿فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ﴾ او كه فعل قلب وو نو په هغې كې دوه مذهبه دی
(١): **ابن مالك والي** چې اتصال اولی دی نحو الصديق خلتنيه.
(٢): **او عند الجمهور** انفصال اولی دی نحو الصديق خلتني اياه نو مجموعه ،ووه صورتونه شو په يو صورت كې اتصال واجب دی په دوه صورتونو كې انفصال واجب دی او په دوه صورتونو كې اختلاف دی يو صورة كې انفصال اولى او اتصال جائز او يو كې جواز د وجهين دی.
والاكثر لولا انت الخ. اكثر په استعمال كې انفصال د ضمير دی چې دا ضمير كله واقع شي وروستو د لولا نه مثال لكه لولا انت شو، او د دې گردان به كوی تر اخره پورې چې هغه متكلم مع الغير دی، او صورت د گردان دا دی لولا انت لولا انتما الخ او اكثر په استعمال كې اتصال د ضمير دی چې دا ضمير واقع شي وروستو د عسى نه مثال لكه عسيت شو د دې گردان به كوی **الى اخرها** تر اخر د دې عسيت پورې چې هغه متكلم مع الغير دی او صورت د گردان دا دی عسيت عسيتما عسيتم الخ.
تشريح: سوال: ضمير چې واقع شي وروستو د لولانه نو اكثر په استعمال كې انفصال د ضمير ولي دی؟
جواب: خكه چې كوم ضمير چې واقع شوی دی وروستو د لولا نه هغه مبتداء محذوف الخبر دی عندالجمهور، او ضمير چې مبتدا واقع شي نو انفصال يې واجب دی د وجی د كيدو د عامل نه په دې كې عامل معنوی (٢) او مذهب د بعض دا دی چې كوم ضمير چې واقع شوی دی وروستو د لولانه هغه فاعل دی لپاره د فعل محذوف او عامل د ضمير چې حذف شي نو هم انفصال د ضمير واجب دی د وجی د عدم وجود د ما يتصل به نه.
(٣): يا ضمير چې واقع شي وروستو د لولانه دا مرفوع دی په لولا سره په نز د بعض باندې او عامل په ضمير كې چې حرف راشي او ضمير مرفوع وی هلته انفصال د ضمير واجب دی خكه اتصال د ضمير مرفوع په فعل پورې راخي نه په حرف پورې.
سوال: ضمير چې واقع شي وروستو د عسى نه نو اتصال د ضمير اكثر ولې دی؟ **جواب:** كوم ضمير چې واقع شي وروستو د عسى نه هغه فاعل دی لپاره د عسى خكه عسى فعل دی او ضمير چې فاعل د فعل واقع شي نو اتصال يې واجب دی په فعل پورې په وقت د عدم وجود د مانع د اتصال كې.
سوال: صرفيان گردان د ضمير كوی د غائب نه او نحويان گردان شروع كوی د متكلم نه نو مصنف په دې مقام كې دا گردان د مخاطب نه ولې شروع كړو؟ **جواب:** مغائره وگرخوله مصنف په دې مقام

کې طريقه د گردان د ضمير په دې کې يې اشاره وکړه ديته چې دا تقليد د صرفيانو او نحويانو ضروري نه دی که گردان د غائب نه شروع کوی که د متکلم نه شروع کوی او که مخاطب نه يې شروع کوی درې واړه جائز دی.

وجاز لولاك وعساك: او راغلي دی په بعض لغاتوکې او په بعض استعمال د کلام د عرب کې لولاك په اتصال د کاف ضميری سره او عساك په اتصال د کاف ضميری سره او د دې دواړو گردان کوه د اخير د لولاك او عساك پورې چې هغه متکلم مع الغير دی او صورت د گردان د اول دا دی لولاك، لولاکما، لولاکم الخ، او صورت د گردان د ثاني دا دی عساك، عساکما، عساکم، الخ هر کله چې په دې اول دوه مثالونو کې ضميرين نو عين مختلفين وو په دې شان سره چې احدهما ضمير مرفوع منفصل وو او بل متصل وو نو ذکر يې کړي د هغې لپاره دوه غايې ځکه په دې اختلاف د غايه کې يې اشاره وکړه اختلاف د نوعين ته او هر کله چې په دې وروستو دوه مثالونو کې دا ضميرين مختلف نه وو په اعتبار د نوع سره نو ذکر يې کړه د دې لپاره يوه غايه لپاره د دې چې دلالت وکړي په عدم اختلاف د نوعين باندې او ذهاب کړی دی.

(۱): **ابو الحسن اخفش من البصريين** دې خبرې ته چې دا کاف چې واقع دی وروستو د لولانه د اضمير مجرور دی واقع شوی دی په موضع د ضمير مرفوع کې ځکه ضمائر واقع کيږي بعض په موضع د بعض کې لکه ما انا کانت دلته دا انت ضمير مرفوع منفصل دی او واقع شوی دی په موضع د مجرور کې او ذهاب کړی دی.

(۲): **سيبويه يعنی جمهورو بصريانو** دی خبرې ته چې دا کوم ضمير چې واقع دی وروستو د لولانه دا ضمير مجرور دی په خپل ځای راغلي دی ځکه لولا د حروف جاره غير مشهورو نه دی او ذهاب کړی دی.

(۳): **ابوالعباس المبرد** لولاك او لولای نه دی جائز بلکه لولا انت لولا انا به وائي کما فی قوله تعالی ﴿ لَوْلَآ أَنتُمْ لَكُنَّا مُؤْمِنِينَ ﴾ دا مذهب کمزوري دی ځکه لولاك باتصال الضمير راغلي دی. شعر!

اومت بعينيها من الهودج لولاك هذا العام لم احجج

او په عساك کې اخفش ذهاب کړی دی دې خبرې ته چې دا ضمير چې واقع دی وروستو د عسی نه دا ضمير منصوب دی واقع دی په موضع د مرفوع کې ځکه ضمائر احدهما واقع کيږي په مقام د اخر کې او سيبويه ذهاب کړی دی ديته چې دا ضمير منصوب دی واقع دی په خپل ځای کې ځکه عسی محمول دی په لعل باندې د وجې د اشتراك د دې دواړو نه په دلالت علی الترجی کې او مذهب د اخفش غوره دی د مذهب د سيبويه نه ځکه اخفش تصرف کوی په معمول کې او سيبويه تصرف کوی په عامل کې او تصرف په معمول کې اولی دی د تصرف نه په عامل کې.

تشريح: سوال: لولاك کې دا کوم ضمير چې راغلي دی دا ضمير مجرور دی که مرفوع دی؟

جواب: په دې کې دوه مذهبه دی (۱) اخفش (۲) سيبويه. اخفش وائي دا ضمير مجرور دی خو واقع دی په مقام د مرفوع کې او مرفوع دی محلا بنا بر ابتدائيت ځکه ضمائر احدهما واقع کيږي په

مقام د اخر باندې لکه ما انا کانت دلته ضمير مرفوع راغلي دی په مقام د مجرور کې او سيبويه وائي دا کاف ضمير مجرور واقع دی په خپل ځای باندې ځکه لولا د حروف جاره غير مشهورو نه دی، کله کله داخليږي په ضمير او هغې لره جر ورکوی محلاً.

سوال: دا کوم ضمير چې واقع دی وروستو د عسی نه په عسی کې دا ضمير مرفوع دی که منصوب؟

جواب: په دې کې هم دوه مذهبه دی (۱) اخفش وائي دا ضمير منصوب واقع دی په موضع د مرفوع باندې دا فاعل د عسی دی (۲) سيبويه وائي چې دا ضمير منصوب دی او راغلي دی په خپل ځای کې ځکه عسی محمول دی په لعل باندې.

سوال: په مابين د محمول او محمول عليه کې لابدي وی د مناسبت نه نو په عسی او لعل کې څه مناسبت دی؟ **جواب:** د وجې د دلالت کولو د دې دواړو نه په طمع او رجاء باندې.

سوال: هر کله چې په عسی او لولاك ضمير کې دوه مذهبه شو يو د سيبويه او بل د اخفش نو په دې کې کوم يو غوره دی؟

جواب: مذهب د اخفش غوره دی د مذهب د سيبويه نه ځکه اخفش تصرف کوی په معمول کې او سيبويه تصرف کوی په عامل کې او تصرف په معمول کې اولی دی د تصرف نه په عامل کې.

سوال: اصل په عبارت کې عبارت دی په نمط واحده سره نو مخکې د لولاانت او عسيت سره يې خاتله خاتله غايه ذکر کړه او وروستو د لولاك او عساك لپاره يې يو غايه ذکر کړه دا ولې؟

جواب: هر کله چې په هغه دوه مثالونو کې ضميرين نوعين مختلفين وو په دې شان سره چې دا يو ضمير مرفوع منفصل وو او بل متصل وو نو ذکر کړو مصنف د هر يو لپاره جدا جدا غايه لپاره د دې چې دلالت وکړي په اختلاف د نوعين باندې او په دی وروستو مثالونو کې دا ضميرين مختلف نه وو په اعتبار د نوع سره نو يوه غايه يې ذکر کړه لپاره د دې چې دلالت وکړي دا وحدت د غايه په عدم اختلاف د دې ضمير باندې.

ونون الو قاية الخ: ربط: هر کله چې بعض د ضمائرو نه يا ضمير د متکلم وو، او د دې يا ضمير د متکلم لپاره احکام مختصه وو نو ذکر کړو مصنف يا ضمير د متکلم لپاره د بيانولو د احکامو مختصو نو وی ويل ونون الوقاية الخ.

ترجمه: (۱) هغه نون چې دلالت کوی په حفاظت د حرف اخير د دې فعل باندې د کسری نه چې هغه اخته د جر ده (۲) هغه نون چې هغه سبب دی لپاره د حفاظت د حرف اخير د کلمی د کسری نه په حال کون د دې نون الوقاية کې **مع الياء** چې سره د ياء د متکلم نه يې واخلي يعنی ياء ضمير د متکلم چې متصل شي په اخر د فعل پورې نو نون وقاية راوړل مخکې د ياء د متکلم نه لازم دی **فی الماضی** په فعل ماضی کې مطلقاً برابره خبره ده چې مفرد وی که تثنيه وی که جمع وی لپاره د دې چې لازم نه شي کسره په اخر د ماضی کې د وجې د ياء ضمير د متکلم نه هغه کسره چې اخته د جر ده او جر په اخر د اسم کې راځي نه په اخر د فعل کې او هر چې ده کسره د تضربين دا په اخر د فعل

کې نده په مينځ کې ده او هر چې ده کسره ﴿ لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا ﴾ دا کسره عارضی ده راغلي ده د وجې د التقاء دساكنين نه او کسره عارضي په حکم د سکون کې ده او هر چې دی دا قول د شاعر،

عددت قومی كعديد الطيس اذ ذهب القوم الكرام ليسی

يعني دلته ليس پورې ياء متصل شوې ده او نون وقايه نه دی راغلي دا شاذ دی (۲) لضرورة الشعر.

تشريح: سوال: يا ضمير د متكلم يو ضمير دی د ضمائرو نه او د ضمائرو بيان مخکې وشو احکام يې بيان شو هغه شامل دي دی ياء ضمير د متکلم لره هم نو دا يې جدا بيا ولې ذكر کړو.

بالفاظ دیگر: دا بحث د ضمائر دی او نون وقايه خو د قبيلې د ضمائرو نه ندی، نو د دې ذکر کول په دې مقام کې خروج عن البحث دی؟

جواب: هر کله چې بعض د ضمائرو نه يا ضمير د متكلم وو او د دې لپاره احکام مختصه وو په دې شان سره چې خاص وو په دې پورې او باقي ضمائرو له نه دی ثابت نو ذکر يې کړو دا ياء ضمير د متکلم لپاره د بيان د احکام مختصو او هغه حکم مختصه دا دی چې دا ياء چې متصل شي په اخر د فعل ماضی پورې نو د دې نه مخکې نون وقايه راوړل لازم دی مطلقا.

سوال: اضافت د نون - الوقاية ته كوم اضافت دی؟

جواب: دا اضافت د دال دی مدلول ته يا اضافت د سبب دی مسبب ته.

سوال: ته وائي چې نون الوقاية سره د ياء المتكلم نه لازم دی په فعل ماضی کې دا خبره ستا منقوضه شوه په ﴿ قَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّتِي ﴾ الخ باندې دلته سمع ماضی دی او نون الوقايه سره د ياء المتكلم نه نه دی راغلي؟

جواب: د دې مطلب دا دی چې نون الوقاية مخکې د ياء ضمير د متكلم نه لازم دی په فعل ماضی کې په دې شرط سره چې دا ياء ضمير د متكلم متصل شي په فعل ماضی پورې او دلته نون وقايه نه دی راغلي ځکه چې يا ضمير د متکلم په اخر د ماضی پورې نه دی متصل شوی.

سوال: ياء ضمير د متكلم چې متصل شي په اخر د ماضی پورې نو د هغې نه مخکې نون الوقايه راوړل ولې لازم دی؟ **جواب:** لپاره د دې چې دا نون وساتی حرف اخيری د فعل ماضی د کسری نه چې اخته د جر ده ځکه جر او اخته د جر په اخر د اسم کې راځي نه فعل کې نو دا کسره به په دی نون باندې راشي نه په اخر د فعل نو فعل به بچ پاتې شي د کسری نه چې اخته د جر ده.

سوال: په دعا او رمی پورې چې اتصال د ياء ضميری راشي نو د هغې نه مخکې دی نون وقايه ذکر کول لازم نه شي ځکه دلته د اتصال د ضمير د وجې نه په اخر د فعل کې کسره نه راځي بلکه سکون راځي د عایٰ او رمایٰ ويلي کيږي؟ **جواب:** د اتصال د ياء ضمير د متكلم د وجې نه په ماقبل د ياء ضمير د متكلم کې کسره لازمه ده دا کسره عامه ده که لفظاً وی او که تقديرا وی نو په دعایٰ او رمایٰ کې د اتصال د ياء ضميری د متکلم د وجې نه کسره تقديرا راځي.

(۲): اتصال د یاء ضمیر د متکلم چې راشي په دعا او رمی پورې د دې یاء نه مخکې نون وقایه راوړل لازم دی طرد اللباب اگر چې کسره په اخر د فعل کې نه راځي.
سوال: ته وائي چې کسره چې اخته د جر ده دا په اخر د اسم کې راځي او په اخر د فعل کې نه راځي نو دا خبره ستاسو منقوضه شوه په تضربین سره دلته دا کسره اخته د جر په اخر د فعل کې راغلي ده چې باء ده د وجی د اتصال د یاء ضمیر د فاعل مخاطبی نه؟ **جواب:** مونږه اویو چې کسره په اخر د فعل کې نه راځي او دلته په مینځ د فعل کې راغلي ده نه په اخر کې ځکه دا با د وجې د شدت اتصال د ضمیر د مخاطب نه په منزله د عین کلمه باندې گرځیدلي ده او کسره چې په عین کلمه کې راشي هغه اخته د جر نه وي.
سوال: دا خبره ستا منقوضه شوه په ﴿ لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا ﴾ سره دلته د مضارع په اخر کې کسره راغلي ده چې اخته د جر ده؟
جواب: دا کسره عارضی ده ځکه دا راغلي ده د وجی د امر ممتنع نه چې التقاء دساکنین ده او کسره عارضی په حکم د سکون کې وی د دې وجی نه نۀ دی معاد شوی هغه حرف محذوف په لم یکن کې او په قل الحق او بع الثوب کې ځکه دا کسره عارضی په حکم د سکون کې ده.
سوال: ﴿ لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا ﴾ کې چې د فعل اخر کې کومه کسره ده ته وائي چې دا عارضی ده د التقاء د ساکنین د وجی نه راغلي ده نو په فعل پورې چې یاء د متکلم متصل شي نو د دې د وجی نه چې کومه کسره راځي داهم عارضی ده ځکه د یاء د وجی نه راغلي ده نو هغې ته ولې ممتنع وائي؟
جواب: دا کسره چې د غیر د وجی نه راځي دا دوه قسمه ده. (۱): قسم هغه ده چې راغلي ده د وجی د امر ممتنع نه لکه التقاء د ساکنین شوه. (۲): قسم هغه ده چې راځي د وجی د امر ملائم نه لکه یاء المتکلم شوه کوم چې راغلي وی د امر ممتنع د وجې نه هغې ته کسره عارضی وائي او کوم چې راغلي وی د امر ملائم د وجی نه هغې ته کسره عارضی نه وائي.
سوال: کسره اخته د جر چې څنګه ممتنع ده په اخر د فعل کې دارنګې په اخر د حرف کې هم ممتنع ده نو بیا په دی نون وقایه کې څنګه راغلي ده دا خو حرف دی؟ **جواب:** کومه کسره چې د یاء ضمیر د متکلم د وجی نه راغلي ده په نون وقایه باندې دا کسره اخته د جر نده ځکه کسره اخته د جر راځي د کلمی په اخیر کې او د کومي کلمی لپاره چې اخیر وی د هغې لپاره لابدي ده د اول نه او دا په اخیر د کلمه کې نده ځکه د دې لپاره اول نشته لهذا دا کسره بنائي ده نه اعرابی.
سوال: ته وائي چې دا یاء ضمیر د متکلم چې متصل شي په اخیر د فعل ماضی پورې نو د هغې نه مخکې نون وقایه راوړل لازم دی او دا ماضی عامه ده که متصرف وی او که غیر متصرف وُی نو دا قاعده ستاسو منقوضه شوه په دې قول د شاعر سره!

عددت قومی کعدید الطیس   اذ ذهب القوم الکرام لیسی

دلته ليس فعل ماضي ده او اخير پورې يې ياء المتكلم پيوست شوې ده او مخکې د ياء نه نون وقايه نه دی راغلي؟ **جواب:** دلته نون وقايه نه دی راغلي مخکې د ياء د وجې د ضرورت شعري نه
سوال: د ياء ضمير د متکلم نه مخکې چې کوم نون راځي ديته نون الوقايه ولې وائي؟
جواب: ځکه چې وقايه حفاظت ته وائي او دا نون هم حفاظت کوی د اخير د فعل د کسری نه چې اخته د جر ده او ديته په اصطلاح د نحويانو کې نون العماد هم وائي ځکه اعتماد راغلي دی د حرکت او سکون د اخير د کلمه په دې نون باندې.

وفى المضارع عريا عن نون الاعراب: او دارنګې نون وقايه مخکې د ياء ضمير د متکلم نه لازم دی چې دا ياء ضمير د متکلم متصل شي په اخير د مضارع پورې **عريا** په خال کون د دې مضارع کې چې دا خالي وی **عن نون الاعراب** د هغه نون نه چې هغه بعينه اعراب دی **وانت** او ته ای مخاطبه **مع النون فيه** سره د لحوق د نون اعرابی نه په دې مضارع کې **ولدن** او سره د لدن نه **وان** او سره د ان نه **واخواتها** او سره د اخوات د ان نه چې باقي حروف مشبه بالفعل دی ان، کان، ليت، لکن، لعل، **مخير** اختيار مند يې يعنی ستا خوخه ده چې نون وقايه راوړې مخکې د ياء نه او که يې نه راوړې په دې مواضع مذکورو کې.

تشريح: يا ضمير دمتکلم چې متصل شي په اخير د فعل مضارع پورې نو دا مضارع به خالي نه وي يا به خالي وی د نون اعرابی نه او يا به خالي نوی، که خالي وه د نون اعرابی نه نحو يضرب، تضرب، اضرب، تضرب، يضربن، تضربن، نو بيا نون وقايه راوړل مخکې د ياء د متکلم نه لازم دی لپاره د دې چې لازم نه شي کسره چې اخته د جر ده په اخر د فعل مضارع کې په يضرب تضرب اضرب او نضرب کې او لپاره د حفظ د حرکت بنائی (فتحه) په يضربن او تضربن کې او که خالي نه وو د نون اعرابی نه نو بيا د ياء المتکلم نه مخکې نون وقايه راوړل او نه راوړل دواړه جائز دی نحو يضربانني، او يضرباني، هر چې دی نه راوړل نو لپاره د دې چې لازم نه شي اجتماع د نونين وروستو د الف نه چې دا موجب د ثقل دی او هر چې دی راوړل نو لپاره د حفظ د حرکت بنائې د نون اعرابی په يضربون، تضربون کې او تثنيه محمول ده په جمع باندې.

سوال: ته وائي چې فعل مضارع خالي وی د نون د اعراب نه نو وقايه راوړل لازم دی نو د اعراب لپاره خو نون نشته بلکه دا نون بعينه اعراب دی؟ **جواب:** دا اعتراض به هله وارديدو چې اضافت د نون اعرابی ته اضافت لامي وی ليکن دا اضافت بيانی دی په شان د خاتم فضة باندې

سوال: ته وائي چې اضافت د نون الاعراب ته اضافت بيانی دی نو د اضافت بيانی علامه خو دا ده چې د مضاف او مضاف اليه په مينځ کې نسبت د عموم خصوص من وجه وی لکه خاتم فضة کې (۱): ما ده اجتماعی چې خاتم د فضة وی. (۲): ماده افتراقی ازجانب مضاف لکه خاتم د حديد.
(۳): او ماده افتراقی از جانب مضاف اليه چې هسی فضه وی خاتم ترې جوړ شوی نه وي نو دلته په مينځ د نون او د اعراب کې نسبت د عموم خصوص من وجه څنګه جوړيږي؟
جواب: په دې نون او اعراب کې هم نسبت د عموم خصوص من وجه جوړيږي.

(۱): ماده اجتماعي لکه نون د یضربان. (۲): ماده افتراقي د جانب د مضاف نه لکه نون د یضربن شو. (۳): ماده افتراقي د جانب د مضاف الیه نه لکه رفع د یضرب شوه.
پس زده کړه دا خبره چې نون په استعمال د کلام دعرب کې نهه قسمه دی یعنې په نهه معانیو سره راځي. (۱): نون الاعراب نحو یضربان. (۲): نون الوقایه نحو جاء نی زید. (۳): نون الضمیر نحو یضربن. (۴): نون المثنی نحو ضاربان. (۵): نون الجمع نحو ضاربون. (۶): نو وصلیه نحو عاد ن الاولی. (۷): نون المتکلم نحو نضرب. (۸): نون تاکید ثقیله نحو لیضربنّ. (۹): نون تاکید خفیفه لیضربَن نو هر کله چې دا نون منقسم وو اقسام تسعو ته نو څکه یې دلته اولا اضافت وکړو الوقایة ته احتراز یې وکړو د نورو اقسامو نه او ثانیا یې اضافت وکړو اعراب ته احتراز یې وکړو د باقي اقسامو نه او په لدن کې د یاء ضمیر متکلم نه مخکې نون وقایه راوړل هم جائز دی لپاره د حفظ د سکون بنائی چې دا اصل دی په بنا کې نو مبني به په خپل اصل باقي پاتې شي او نه راوړل هم جائز دی څکه لدن اسم دی او یاء د متکلم متصل کیږي په اخیر د اسم پورې بې د نون وقایه نه او هر چې دی حروف مشبه بالفعل نو په دې کې نون وقایه راوړل هم جائز دی لپاره د حفظ د حرکت بنائي او نه راوړل هم جائز دی لپاره د دې چې لازم نه شي اجتماع د نوناتو حقیقتاً په اِن، اَنَّ کان، او لکن کې او حکماً په لعل کې څکه دا لام مشدد قریب دی نون مشدد ته په مخرج کې او هر چې دی لیت نو په دی کې نون وقایه نه راوړل جائز دی اګر که اجتماع د نوناتو نه راځي نه حقیقة او نه حکماً حملا علی اخواته **ویختار** او غوره دی لحوق د نون وقایه مخکې د یاء المتکلم نه **فی لیت** په لفظ دلیت کې د وجې د عدم وجود د مانع ذاتی نه او حمل د لیت په اخوات باندې خلاف الاصل دی **ومن وعن** او غوره دی لحوق د نون وقایه مخکې د یاء متکلم نه په من او عن جاره کې لپاره د مخافظت د سکون بنائي چې هغه اصل دی په بنا کې او سره د قلت د حروف نه **وقد وقط** او دارنګې اولی دی لحوق د نون وقایه مخکې د یاء د متکلم نه په قد او قط کې لپاره د حفظ د سکون بنائي چې دا اصل دی په بنا کې سره د قلّت د حروفو نه او نون وقایه نه راوړل هم جائز دی څکه دا اسم دی او په اسم پورې یاء ضمیر د متکلم متصل کیږي بې د نون وقایه نه نحو غلامی **وعکسها لعل** او عکس د کلمه د لیت لعل دی په دې شان سره چې یاء ضمیر د متکلم چې متصل شي په لعل پورې نو نون وقایه مخکې د یاء د متکلم نه نه راوړل اولی دی د وجې د ثقل د تضعیف او د کثرة د حروفو نه او دا نون وقایه راوړل جائز خلاف اولی دی.
تشریح: من او عن جاره چې داخل شي په یاء ضمیر د متکلم باندې نو د یاء ضمیر د متکلم نه مخکې نون وقایه راوړل اولی دی لپاره د حفظ د سکون بنائي چې منی او عنی ووائي په تشدید د نون سره او نون وقایه نه راوړل هم جائز دی څکه دا حروف دی او په حروفو پورې یاء ضمیر د متکلم متصل کیږي بې د نون وقایه نه مثال لکه دا قول د شاعر شو!

ایها السائل عنهم وعنی لست من قیس ولا قیس منی

او قد درې قسمه دی (۱): قد فعلی دی هغه مشدد راځي په معنی د څیرولو سره.
(۲): قد حرفي دا کله په معنی د توقع سره راځي کله په معنی د تحقیق سره راځي او کله په معنی د تقریب سره راځي او کله په معنی د تقلیل سره راځي او کله په معنی د تکثیر سره راځي.
(۳): قد اسمي دی چې راځي په معنی د حسب سره او یاء ضمیر د متکلم پ. قد حرفي پورې نه متصل کیږي او یاء ضمیر د متکلم چې متصل شي په قد فعلی پورې نو هلته اتصال د نون وقایه لازم دی او یاء ضمیر د متکلم چې متصل شي په قد اسمی پورې چې بمعنی حسب دی نو لحوق د نون الوقایه مخکې د یاء نه نه راوړل جائز خلاف اولی دی او راوړل اولی دی مثال د دواړو لکه دا قول د شاعر شو!

قدنی من نصر الخبيبين قدی   ليس الامام بالشحيح الملحد

الخبيبين تثنية تغليباً ده والمراد منه عبد الله وابنه وهو خبيب.
او دلته هم مراد د قد نه قد اسمی دی په معنی د حسب سره او **قط** هم درې قسمه دی.
(۱): اسم فعل بمعنی انته یا اکتف سره – قطك من ذلك اي اكتف بذلك.
(۲): ظرف چې دا راځي وروستو د ماضی منفی نه لپاره د استغراق د نفی نحو ما رأيت زيداً قط.
(۳): قط اسمی بمعنی حسب او یا ضمیر د متکلم په قط ظرفی پورې نه متصل کیږي او په قط اسم فعل پورې هم نه متصل کیږي او که متصل شي نو د یاء المتکلم نه مخکې نون وقایه راوړل لازم دی او یاء ضمیر د متکلم چې متصل شي په قط اسمی بمعنی حسب پورې نو د یاء د متکلم نه مخکې نون وقایه راوړل اولی او نه راوړل جائز خلاف اولی دی نحو قطنی درهم وقطی درهم ای حسبی درهم او دلته مراد د قط نه قط اسمی دی بمعنی حسب نه ظرفی او نه اسمی فعل، او اسم دلیت چې یاء ضمیر د متکلم راشي نو نون وقایه راوړل اولی دی او نه راوړل خلاف اولی دی لهذا لیت سره د نون وقایه نه په قرآن کې راغلي دی نحو قوله تعالی ﴿ يٰلَيْتَنِي كُنْتُ تُرٰبًا ﴾ ﴿ يٰلَيْتَنِي مِتُّ قَبْلَ هٰذَا ﴾ ﴿ يٰلَيْتَنِي لَمْ أُوتَ كِتٰبِيَهْ ﴾ ﴿ يٰوَيْلَتٰى لَيْتَنِي لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيلًا ﴾ ﴿ يٰلَيْتَنِي كُنْتُ مَعَهُمْ فَأَفُوزَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴾ او بی د نون وقایه نه په قران کې نه دی راغلي او د قران نه علاوه په کلام د عربو کې بی د نون نه راغلي دی کما فی قول الشاعر!

كمنية جابر اذقال ليتى   اصادفه وافقد بعض مالى

او لعل بالعکس دی لهذا لعل بی د نون وقایه نه په قران کې راغلي دی نحو قوله تعالی ﴿لَعَلِّي أَبْلُغُ الْأَسْبَابَ﴾ او سره د نون وقایه په قران کې نه دی راغلي او دقران نه علاو په کلام د عربو کې راغلي دی په طریقه د قلت سره کما فی قول الشاعر!

فقلت اغيرونى القدوم لعلنى   اخط بها قبر الابيض ماجدى

ويتوسط بين المبتداء والخبر: ربط: هر کله چې بعض د ضمائرو نه ضمیر فصل وو او د ضمیر فصل لپاره احکام مختصه وو چې ثابت دی ضمیر فصل لره نه باقي ضمائرو لره نو ذکر کړو مصنف ضمیر علیحدةً لپاره د بیان د احکامو د ضمیر فصل.

ترجمه: (۱): **ویتوسط** واقع کیږي **بین المبتداء والخبر** په مینځ د مبتداء او خبر کې. (۲): یا واقع کیږي په
مینځ د مسندالیه او دمسند کې. (۳): واقع کیږي په مینځ د جز اول او جز ثاني د جملی کې **قبل**
العوامل مخکې د دخول د جنس عامل لفظی نه په دې مبتداء او خبر باندې **وبعدها** او پس د دخول د
عوامل لفظیو نه چې هغه افعال ناقصه افعال مقاربه او افعال قلوب حروف مشبه بالفعل او حروف
مشبه بلیس دی، **صیغة مرفوع منفصل** صیغه د مرفوع منفصل صیغه د مرفوع منفصل یې ووېله او
ضمیر مرفوع منفصل ئې ونه ویلو د وجې د وجود د اختلاف نه په کون د دې کې ضمیر لکه
وروستو ئې ماتن بیانوی او نشته دی اختلاف د هیچا په کون د ده کې صیغه د مرفوع منفصل او
مختاز یې کړه صیغه د فصل په صورت د ضمیر مرفوع منفصل کې لپاره د دې چې بعید شي کون
د مابعد صفت د ماقبل لان الضمیر لا یوصف ولا یوصف به
تشریح: سوال: ضمیر فصل یو ضمیر دی د ضمائرو نه او د ضمائرو تعریف او احکام مخکې بیان
شو نو دا جدا ولې بیانوی؟ **جواب:** هر کله چې د ضمیر فصل لپاره احکام مختصه وو په دې شان
سره چې دغه احکام خاص دی په دې ضمیر فصل پورې او مجاوز نه دی نورو ضمائرو ته نو ذکرئې
کړو ضمیر فصل مستقل لپاره د بیان د احکام مختصو
سوال: ذکر د بین وروستو د یتوسط نه لغوه او مستدرك دی ځکه یتوسط مشتق دی د توسط نه او
توسط وقوع فی البین ته وائي نو دا لفظ دلالت کوی په بین باندې نو بین یې بیا ولې ذکر کړو؟
جواب: ذکر د بین وروستو د یتوسط نه بنا دی په تجرید باندې په دی شان سره چې دا په معنی د
یقع دی پس شو دا عبارت د مصنف د قبیلې د دې قول د الله تعالی نه ﴿ سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلٗا ﴾
(۲). یا ذکر د بین وروستو د یتوسط نه تصریح بما علم ضمناً ده او دا نه شي مسمی کولې په لغوه
او استدراك سره او دا تصریح بما علم ضمناً ئې کړي ده لپاره د دفع د توهم ځکه د مبتدا او خبر په
مینځ کې شدت اتصال دی فصل پکې نه دی جائز نو متوهم به دا توهم کوو چې ضمیر فصل به نه
راځي په مینځ دمبتدا او خبر کې نو مصنف دغه توهم دفع کړو.
سوال: اطلاق د مبتدا او خبر په دې مسندالیه او مسند باندې مخکې د دخول د عوامل نه حقیقة
دی او وروستو د دخول د عوامل نه ورته مبتدا او خبر مجازاً وائي په اعتبار د ماکان سره نه حقیقة
مثل قوله تعالی ﴿ وَءَاتُواْ ٱلۡيَتَٰمَىٰٓ أَمۡوَٰلَهُمۡ ﴾ ځکه مبتدا او خبر حقیقة هغه وی چې مجرد وی د عواملو لفظیو
نه نو دا خو جمع راغله بین الحقیقت والمجاز او دا نده جائز؟
جواب: (۱): دلته جمع بین الحقیقت والمجاز نشته بلکه عموم د مجاز دی عموم د مجاز دیته وائي چې
ته یو دریمه معنی واخلی چې د هغې اطلاق په معنی حقیقی موضوع له او معنی مجازی دواړو باندې
کیږي حقیقة نو دلته ذکر د مبتدا او خبر دی او مراد ترینه مسندالیه او مسند دی او جز اول او جز ثاني
د جملی دی او د دې اطلاق په مبتدا او خبر قبل العوامل او بعد العوامل کیږي حقیقة.

(۲): جمع بين الحقيقة والمجاز ممتنع ده بدون القرينة او كه قرينه لپاره د تعيين د احدهما موجود وه بيا جائز ده كما في قوله تعالى ﴿ وَإِن كَانُوٓا۟ إِخْوَةً رِّجَالًا وَنِسَآءً ﴾ ترجمه: كه چري رو دا وارثان رونړه او خويندي دا اخوة حقيقت دى په وررونو كې او مجاز دى په خوېندو كې قرينه د حقيقت رجالاً دى او د مجاز نساء دى نو دلته هم قرينه د حقيقت قبل العوامل دى او قرينه د مجاز بعد العوامل دى (۳): جمع په مابين د حقيقت او مجاز كې ممتنع ده د لفظ واحده نه په آنِ واحده كې په جهت واحده سره او دلته په دې عبارت كې جمع په حيقيقت او مجاز كې د لفظ واحده نه په آن واحده كې او په جهت واحده سره نده بلكه په انين كې ده په اعتبار د جهات مختلفو سره چې حقيقت قبل دخول العوامل دى او مجاز بعد دخول عوامل دى (۴): جمع په مابين د حقيقت او مجاز كې ممتنع ده په نيزد د احنافو باندې او په نيز د مالكيو باندې جائز ده او مصنف مالكى المذهب دى (۵): دا اعتراض هله واردېږي چې قبل العوامل وبعدها صفة شي د المبتدا والخبر لپاره په اعتبار د متعلق محذوف سره ليكن دا صفة نه دى د المبتدا والخبر لپاره په اعتبار د متعلق محذوف سره بلكه دا متعلق دى په يتوسط پورې نو جمع نشته په مابين د حقيقت او مجاز كې يعنى واقع كيږي قبل العوامل او بعد العوامل، صيغه د مرفوع منفصل بين المبتدا والخبر.

سوال: نه وائي چې دا ضمير فصل واقع كيږي د مبتدا او خبر په مينځ كې قبل العوامل او بعد العوامل نو عوامل خو صيغه د جمع ده او ادنى مرتبه د جمع درې دى نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په كنت انت الرقيب سره ځكه دلته عوامل نشته بلكه صرف يو عامل دى او ضمير فصل راغلي دى؟

جواب: په العوامل كې الف لام جنسي دى او الف لام جنسي چې داخل شي په جمع باندې نو معنى د جمعيت باطلوى نو مراد د دې نه جنس عامل لفظى دى، مثال د ضمير فصل چې راغلي وى بين المبتدا والخبر قبل العوامل لكه اولئك هم المفلحون شو، او مثال د هغې چې راغلي وى بعد العوامل نحو قوله تعالى ﴿ كُنتَ أَنتَ الرَّقِيبَ ﴾ وقوله تعالى ﴿ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ هُوَ خَيْرًا لَّهُم ﴾ دا هو ضمير فصل دى چې د يحسبن لپاره مفعول اول مقدر واخلي چې بخلهم دى، وقوله تعالى ﴿ إِنَّهُۥ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴾.

سوال: نه وائي چې اولئك هم المفلحون كې دا ضمير فصل واقع دى بين المبتدا والخبر قبل العوامل دا مثال مطابق نه شو د ممثل سره ځكه په مبتدا او خبر كې عامل معنوى شته دى؟

جواب: مراد د عوامل نه عوامل لفظيه دى نه مطلق عوامل او دلته عوامل لفظى نشته دى.

سوال: چې صيغه مرفوع منفصل بې وويل نو ضمير مرفوع منفصل بې ولي ونه ويل؟ **جواب:** د وجى د وجود د اختلاف نه په كون د دې كې ضمير اما په كون د دې كې صيغه د مرفوع منفصل د چا خلاف نه وو

سوال: صيغه د فصل د مبتدا او خبر په مينځ كې په صورت د ضمير مرفوع منفصل كې ولې ذكر كيږي؟ **جواب:** لپاره د دې چې لرې شي كون د مابعد صفت د ماقبل لپاره لان الضمير لا يوصف ولا يوصف به او دا صيغه د فعل چې واقع شي بين المبتدا والخبر دا به مرفوع وى لپاره د دې چې

موافقت يې راشي د طرفين سره او داسې مرفوع چې منفصل دی د وجې د عدم وجود د مايتصل به نه په دې شان سره چې دا ضمير مرفوع منفصل مرفوع دی بنابر ابتدائيت او عامل پکې عامل معنوی دی او ضمير کې چې عامل معنوی راشي نو دهغې انفصال واجب دی يا دا حرف دی په صورت د ضمير مرفوع منفصل کې، **مطابق للمبتداء** او داسې ضمير مرفوع چې مطابق به وی د مبتدا سره په افراد تثنيت جمعيت تذکير او تانيث او تکلم خطاب او غيبت کې او د خبر سره که مطابق وی او که نه وی ځکه دا واقع شوی دی وروستو د مبتدا نه متصل بلا فصل او تعبير دی د مبتدا نه او په مابين د معبر عنه او معبر کې مطابقت شرط دی.

سوال: ته وائې چې ضمير مرفوع منفصل به مطابق وی د مبتدا سره دا قاعده ستا منقوضه شوه په ﴿كُنْتَ أَنْتَ الرَّقِيبَ﴾ سره په دې شان سره چې انت ضمير مرفوع منفصل دی او دا نه دی مطابق د ماقبل سره چې (ت) ده ځکه هغه مرفوع متصل دی او دا منفصل دی دارنګې په دې قول د الله تعالى سره ﴿إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ﴾ دلته دا هو مطابق نه دی د ماقبل سره ځکه هغه منصوب متصل دی او دا مرفوع منفصل دی؟ **جواب:** مراد د مطابقت نه مطابقت د ضمير مرفوع منفصل دی د مبتدا سره په افراد، تثنيت، جمعيت الخ کې نه په اتصال او انفصال کې.

سوال: دا ضمير فصل چې دمبتدا سره مطابق کوی نو د خبر سره يې ولې نه مطابق کوی باوجود ددې نه چې تعلق يې د خبر سره زيات دی ځکه غرض د ذکر د ضمير فصل راجع دی خبر ته؟

جواب: دا ضمير فصل واقع دی وروستو د مبتدا نه متصل بلا فصل او خبر لا نه وو ذکر شوی او بل دا چې دا تعبير دی د مبتدا نه او معبر او معبر عنه کې مطابقت شرط دی.

سوال: ضمير فصل چې مطابق وی د مبتدا سره نو د دې مطابقت خو د خبر سره هم راغلو ځکه په مينځ د مبتدا او خبر کې مطابقت شرط دی نو دا ضمير مطابق شو د مبتدا سره او مبتدا مطابق وی د خبر سره نو دا هم مطابق شو د خبر سره ځکه مطابق د مطابق مطابق وی نو د دواړو سره يې مطابقت ولې شرط نه کړو؟ **جواب:** مطابقت د مبتدا سره شرط دی نه ده خبر سره په دې شان سره چې خبر د مبتدا صيغه د اسم تفضيل راشي مستعمل په من سره هلته عدم مطابقت د مبتدا سره واجب دی نو هلته به دا مطابق وی د مبتدا سره نه د خبر سره لکه الزيدان هما افضل من عمرو.

ويسمى فصلاً: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د تعريف د ضمير فصل نه نو شروع يې وکړه په بيان د وجه د تسميه د ضمير فصل کې.

ترجمه: ويسمى او مسمى کولې شي دا صيغه د مرفوع منفصل **فصلاً** په ضمير فصل سره عند البصريين **ويسمى الكوفيون عماداً**، **ليفصل** ځکه جدائې راولې او امتياز راولې دا صيغه د فصل يا دا ضمير **فصل بين كونه** په مينځ د کون د دې مابعد کې په مينځ د کون د دې خبر کې **خبراً** خبر لپاره د **ونعتاً** او نه نعت لپاره د ماقبل دا تسميه د بصريان په نيز ده او کوفيان مسمى کوی دا ضمير مرفوع منفصل په عماد سره **لانه يحفظ ما بعده عن السقوط عن الخبر مثل عماد البيت.**

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟
جواب: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د تعريف د ضمير فصل نه نو شروع يې وکړه په بيان د وجه د تسميه د ضمير فصل کې چې دا کومه صيغه د مرفوع منفصل چې واقع شي بين المسند والمسند اليه نو دېته ضمير فصل ځکه وائي چې فصل جدائي ته وائي او دا هم جدائي او امتياز راولي د مابعد دکون د دې مابعد نه خبر- نه نعت په دې شان سره چې دا ضمير فصل چې په مابين د مبتدا او خبر کې نه وو ذکر کړې لکه زيد القائم نو دا ترکيب محتمل د احتمالين وو.
(۱): يو احتمال دا وو چې دا مبتدا او خبر دی (۲): او بل احتمال دا وو چې دا موصوف او صفت دی او کله چې دا ضمير فصل ذکر کړې شي په مينځ کې او زيد هو القائم ووېلې شي نو دی ضمير فصل جدائي راوسته چې دا مابعد خبر د مبتدا دی او صفت نه دی ځکه که دا موصوف صفت وی نو په مينځ کې به هو ضمير مرفوع منفصل نه وو راغلې ځکه چې فصل بين الموصوف والصفة نه دی جائز او دا ترکيب هم نه دی جائز چې هو موصوف او مابعد يې صفت دی ځکه هو ضمير دی او الضمير لايوصف ولايوصف به پس متعينه شوه چې زيد مبتدا ده او القائم ورله خبر دی.
سوال: ويسمی کې ضمير راجع دی صيغة مرفوع منفصل ته او صيغة مؤنث دی او قاعده دا ده چې د فعل اسناد وشي ضمير د مؤنث ته نو تانيث دفعل واجب دی مطلقاً مؤنث عام دی که لفظی وی او که حقيقی وی نو تسمی ويل پکار وو او دغسې اعتراض وارديږي په ليفصل باندې؟
جواب: (۱): دا ضمير راجع دی مرفوع منفصل ته په تاويل د ضمير سره.
(۲): دا ضمير راجع دی صيغة ته او صيغة مضاف دی مرفوع ته او مرفوع مذکر دی نو دی مضاف د مضاف اليه نه تذکير کسب کړی دی مثل قوله تعالی ﴿إِنَّ رَحْمَتَ اللَّهِ قَرِيبٌ﴾
سوال: کونه ضمير چاته راجع دی؟ **جواب:** دا ضمير راجع دی خبر ته چې مذکور دی لفظاً (۲) يا راجع دی مابعد ته چې دا مذکور دی معناً چې معلوميږي د سياق او سباق نه.
وشرطه ان يكون الخبر معرفة: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د تعريف، او وجه د تسميه د ضمير فصل نه نو شروع يې وکړه په بيان د شرط د ضمير فصل کې.
ترجمه: وشرطه شرط لپاره د وجود د ضمير فصل په استعمال د کلام د عربو کې يا شرط لپاره د ايراد د ضمير فصل بين المبتدا والخبر **ان يكون الخبر معرفة** کون د خبر دی معرفه نحو زيد هو القائم، اولئك هم المفلحون، **او افعل من كذا** يا کون د خبر دی صيغه د اسم تفضيل مستعمل په من سره ځکه دا معرفه ده حکما، په دې شان سره.
(۱): چې څنګه چې معرفه دلالت کوی په مصداق معين باندې نو دا صيغه د اسم تفضيل مستعمل بمن هم دلالت کوی په مصداق معين باندې
(۲): لکه څنګه چې دخول د الف لام ممتنع دی په معرفه باندې نو دارنګې په دې باندې هم ممتنع دی (۳). لکه څنګه چې اضافت د معرفه ممتنع دی غير ته نو دارنګې د صيغې د اسم تفضيل

مستعمل بمن اضافت هم ممتنع دی غیر ته، او هر کله چې کون د خبر معرفه مستلزم وو کون د مبتدا معرفي لره ځکه مبتدا نکره او خبر معرفه مجرد احتمال عقلي دی په کلام د عربو کې وجود نه لري پس ذکر کړو مصنف شرط لپاره د وجود د ضمیر فصل کون د خبر معرفه فقط، او هر کله چې ایراد د ضمیر فصل بین المبتدا والخبر مسموع من العرب وو خلاف القیاس پس دا مختص شو په دې مورد د سمع پورې نو مبتدا او خبر چې نکره راشي نو هلته ضمیر فصل نه شي ذکر کولي او مثال د ضمیر فصل بین المبتدا والخبر بعد العوامل او خبر صیغه د اسم تفضیل مستعمل په من سره، لکه کان زید هو افضل من عمرو شو، هو ضمیر فصل دی واقع شوی دی بین المبتدا والخبر پس د دخول د عامل لفظي نه چې کان دی او خبر د دې صیغه د اسم تفضیل ده مستعمل په من سره او وقوع د ضمیر فصل بین المبتدا والخبر قبل العوامل چې خبر یې معرفه راغلي وی حقیقة کثیر او شائع دی په استعمال د کلام د عرب کې او د وجې د کثرت استعمال نه مصنف نه دی ذکر کړي.

تشریح: سوال: وشرطه کې ضمیر راجع دی صیغة مرفوع منفصل ته نو مطابقت نشته بین الراجع والمرجع؟ **جواب:** (۱): دا ضمیر صیغة مرفوع منفصل ته نه دی راجع بلکه وجود د صیغې د مرفوع منفصل ته راجع دی (۲) یا راجع دی ایراد د ضمیر مرفوع منفصل ته بین المبتدا والخبر.
(۳): یا راجع دی صیغة د مرفوع منفصل ته په تاویل د مذکور سره ای شرط المذکور من الصیغة (۴): یا راجع دی صیغة مرفوع منفصل ته ځکه صیغة تذکیر کسب کړی دی د مضاف الیه نه چې مرفوع دی.

سوال: د وجود د ضمیر فصل لپاره کون د خبر معرفه یا کون د خبر صیغه د اسم تفضیل مستعمل په من سره ولې شرط شو؟ **جواب:** ضمیر فصل ذکر کولي شي بین المبتدا والخبر لیفصل بین کونه خبرا او نعتا او فصل بین الخبر والنعت په ضمیر فصل سره هله راځي چې مبتدا او خبر دواړه معرفه وی او که مبتدا معرفه وی او خبر نکره وی بیا التباس نه راځي.

سوال: التباس بین الخبر والنعت لکه څنګه چې په مبتدا او خبر معرفه کې راځي نو دارنګې په مبتدا او خبر نکره کې هم راځي نو مبتدا او خبر چې کله نکره وی نو هلته ولې ضمیر فصل نه شي ذکر کولي؟ **جواب:** ایراد د ضمیر فصل بین المبتدا والخبر معرفه ثابت دی او مسموع دی د عرب نه خلاف القیاس ځکه د عقل تقاضه دا ده چې د مبتدا او خبر په مینځ کې شدت اتصال دی نو فصل دی رانه وستلی شي په ضمیر فصل سره، او قاعده دا ده چې کوم حکم چې ثابت وی خلاف القیاس هغه مختص دی په مورد د سمع پورې ولا یقاس علیه غیره.

سوال: ته وائي چې ضمیر فصل ذکر کولي شي بین المبتدا والخبر لیفصل بین کونه خبرا ونعتاً دا خبره په زید هو القائم کې خو صحیح شوه ځکه که هو ذکر نه کړو نو التباس راځي د خبر او نعت په مینځ کې لیکن کنت انت الرقیب کې خو التباس بین الخبر والنعت نه راځي ځکه اسم د کان ضمیر دی والضمیر لایوصف ولا یوصف به (۲) الرقیب منصوب دی دا دلالت کوی چې دا خبر د کان دی نه صفت ځکه که صفت وی نو مرفوع به وو نو دلته التباس نشته نو بیا ولې ضمیر فصل ذکر کړی دی؟

جواب: په کوم ځای کې چې التباس راځي نو هلته ضمیر فصل ذکر کولي شي لپاره د دفع د التباس بين الخبر والنعت او صورت د عدم التباس محمول دی په صورت د التباس باندې طرداً للباب.
سوال: دایراد د ضمیر فصل لپاره لکه څنګه چې کون د خبر معرفه شرط دی دارنګې کون د مبتدا معرفه هم شرط دی نو تا یواځې کون د خبر معرفه ولې ذکر کړو؟
جواب: کون د خبر معرفه مستلزم دی کون د مبتدا معرفه لره ځکه په مبتدا او خبر کې احتمالات عقلیه څلور دی درې موجود فی الخارج دی او یو مجرد احتمال عقلي دی په خارج کې وجود نه لري.
(۱): چې دواړه معرفی وی نحو الله الهنا، محمد نبینا (۲): دواړه نکری نحو ولعبد مؤمن خير من مشرك (۳): مبتدا معرفه او خبر نكره نحو زيد قائم، دا درې موجود دی (۴): او چې مبتدا نکره او خبر معرفه وی دا مجرد احتمال عقلي دی در خارج وجود ندارد، د دې وجې نه نحویانو دا فیصله کړې ده او قاعده یې بیان کړې ده چې هر کله دوه اسمونه وموندل شو په کلام د عرب کې چې یو معرفه وه او بل نکره وو نو د معرفی نه به مبتدا جوړه وو او د نکری نه به خبر جوړ وو او اګر که معرفه وروستو وی او نکره مخکې وی لیکن سیبویه په دوه ځایونو کې د نکری نه مبتدا جوړوی او د معرفی نه خبر جوړ وی په خلاف د جمهورو نه.
(۱): چې اسم متضمن وی معنی د حرف استفهام لره نحو من ابوك جمهور وائي چې من خبر مقدم دی او ابوك مبتداء مؤخره ده بنا په قاعده مذکوره باندې او سیبویه وائي چې من مبتداء ده او ابوك خبر دی او تقدیم د مبتداء راغلي دی په خبر باندې په تقدیم وجوبی سره، او سیبویه وائي چې دا من اګر چې لفظاً نکره ده خو معنی معرفه ده او اصل په مبتدا کې تقدیم دی تر څو پورې چې د مقدم نه مبتدا جوړیده نو دهغې نه به مبتدا جوړ وی او د مابعد نه به خبر جوړ وی.
(۲): مررت برجل افضل منه ابوه کې جمهور وائي چې افضل منه خبر مقدم دی او ابوه مبتداء مؤخره ده او جمله صفت د رجل دی او سیبویه وائي چې افضل منه مبتداء ده او ابوه یې خبر دی ځکه صیغه د اسم تفضیل چې مستعمل شي په من سره دا معرفه ده حکما کما مر.
سوال: ته وایې چې صیغه د اسم تفضیل چې مستعمل شې په من سره نو دا معرفه ده حکما لکه څنګه چې په معرفه الف لام نه داخلیږی نو دارنګه په دی هم نه داخلیږی دا قاعده ستا منقوضه شوه په دی قول د شاعر: ولست بالاکثر فهم حصي انما العزت للکاثر
دلته اکثر صیغه د اسم تفضیل مستعمل ده په من سره او الف لام پری داخل شوی دی؟
جواب: اول دا الف لام زائد دی نه تعریفی (۲) که تعریفی شی نو بیا به دا من په منهم کې تفضیلی ندی بلکې تبعیضی دی (۳) یا دا من بمعنی في دی مثال قوله تعالی: و اذا نودي للصلاة من يوم الجمعة ای في يوم الجمعة (۴) یا من تفضیلی دی داسم تفضیلی مقدر لپاره نه د مذکور لپاره ای ولست بالاكثر كثر منهم حصى يجوز في الشعر مالايجوز في غيره. فافهم

سوال: ته وائي چې کون د خبر معرفه او مبتدا نکره مجرد احتمال عقلي دی درخارج وجود ندارد دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د شاعر سره؛

قبر حرب بمكان قفر
ليس قرب قبر حرب قبر

چې دلته قبر اسم د ليس مسند اليه نکره ده او قرب قبر حرب خبر دی او معرفه ده؟

جواب: (۱): دا قرب بمعنی قارب دی اضافت د دې مابعد ته اضافت لفظي دی دا مفيد د تعريف نه دی لهذا مسند او مسند اليه دواړه نکري دي (۲): يا قرب صفت مشبه دی او مضاف دی مابعد ته په اضافت لفظي سره بيا دواړه نکري دی (۳): يجوز في الشعر مالا يجوز في غيره.

(۴): لکه څنګه چې مسند معرفه ده نو مسند اليه هم معرفه ده څکه دا نکره مخصصه ده واقع ده وروستو د نفي نه او نکره مخصصه په حکم د معرفه کې وی نو موږ وايو چې خبر معرفه او مبتدا نکره محضه نه شي راتلي او خبر معرفه او مبتدا نکره مخصصه راتلي شي.

(۵): موږ وايو چې دا نه شي راتلي په کلام د عربو انسانانو کې او دا کلام د جنات دی.

(۶): موږ وايو چې خبر معرفه او مبتدا نکره په کلام فصيح کې نه راځي او دا خو کلام غير فصيح دی په دې شان سره چې دا خارج دی د دائرې د فصاحت نه د وجې د تنافر الكلمات نه.

سوال: ته وائي چې خبر معرفه او مبتدا نکره په کلام فصيح کې نه راځي دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د الله تعالى سره چې ﴿ إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ ﴾ مسند اليه نکره ده او للذی ببكة مسند معرفه ده؟ **جواب:** للذی ببكة موصول مع الصله خبر د ان نه دی بلکه خبر د مبتدا محذوف دی ای لهو الذی ببكة دا جمله بيا خبر د ان دی او جمله په حکم د نکره کې وی.

سوال: تاسو وائي چې مبتدا او خبر چې معرفی وی نو لابدي ده د ايراد د ضمير فصل نه دا قاعده ستاسو منقوضه شوه په الله الهنا او محمد نبينا سره دلته مبتدا او خبر دواړه معرفی دی او ضمير فصل نشته؟ **جواب:** ايراد د ضمير فصل بين المبتدا والخبر مشروط دی او کون د مبتدا او خبر معرفه ورله شرط دی او قاعده دا ده چې وجود د مشروط مستلزم دی وجود د شرط لره نو ضمير فصل چې راشي بين المبتدا والخبر نو کون د مبتدا او خبر معرفه ضروری دی او وجود د شرط مستلزم نه دی وجود د مشروط لره، لکه وضوء شرط دی د صلوة لپاره نو وجود د وضوء مستلزم نه دی وجود د صلوة لره، او وجود د صلوة مستلزم دی وجود د وضوء لره په دې شان سره چې بې د وضوء نه صلوة شرعی نه متحقق کيږي (بلاعذره) لهذا دا لازمه نده چې کوم ځای مبتدا او خبر معرفه رونو هلته به ضمير راغلي وی، د دې نظير په صرف کې لکه کون د ماضی او مضارع مفتوح العين مشروط او کون د عين يا لام کلمه حرف حلق ورله شرط دی، اوس چرته چې ماضی او مضارع دواړه مفتوح العين وی، نو عين يا لام کلمه به يې خامخا حرف حلق وی څکه مشروط بې د شرط نه نه راځي او دا لازمه نده چې چرته عين يا لام کلمه مضارع او ماضی حرف حلق وی هغه به مفتوح العين وی بلکه داسې هم کيدی شي چې عين يا لام کلمه يې حرف حلق وی او ماضی مضارع دواړه مفتوح العين نه وي لکه وَعد يعد، سمع يسمع، شغل يشغل، شو څکه شرط بې د مشروط نه هم موجوديږي.

سوال: دا خبره ستا منقوضه شوه بقوله تعالى ﴿ وَمَكْرُ أُولَٰئِكَ هُوَ يَبُورُ ﴾ دلته ضمير فصل بين المبتدأ والخبر راغلي دى او خبر معرفه نده بلكه جمله ده نو وجود د مشروط راغى بى د شرط نه؟
جواب: (١): انه مبتداء و مابعده خبره. (٢): او تاكيد لما قبله كما فى قوله تعالى ﴿ وَأَنَّهُ هُوَ أَضْحَكَ وَأَبْكَىٰ ۞ وَأَنَّهُ هُوَ أَمَاتَ وَأَحْيَا ﴾

سوال: كنت انت الرقيب او كان زيد هو افضل من عمرو كي التباس نشته ضمير فصل ولي راوړي دى؟
جواب: صورت د عدم التباس محمول دى په التباس باندې حملاً طرداً للباب او طرد الباب لپاره مثال مخكې تير شو ي وو صفة جرت على غير من هى له كې.
(٢): بعض ضمائر مبني دى لشبهة بالحرف وصفاً او باقي محمول دى طرداً.
(٣): ضربن مبني على السكون چې لازم نشي توالى د اربع حركاتو او دحرجن محمول دى طرداً للباب (۴) حمراوات جمع مؤنث سالم كې همزه واو سره بدليږى چې لازم نشى اجتماع دعلامتينو د تانيث او په تثنيه كې هم په واو سره بدليږى طردا للباب، ومن الصرف: (١) نحو يعد په ديكې واو حذف شوي دى د قاعدى د وجې نه اعد نعد تعد كې حذف شوي طردا للباب، (٢) اكرم كې همزه حذف شوى ده د وجى د اجتماع د همزتينو نه او په يكرم، تكرم، نكرم، كې حذف شوي ده طردا للباب. ومن المشروع رمل فى الطواف مشروع دى په ابتداء كې لاظهار الجلد ثم زالت العلة وبقى الحكم طردا للباب (٢) العدة شرعت براءة الرحم ثم ثبتت فى مواضع ليس فيها شغل الرحم طردا لان النفوس تانس بثبوت الحكم فلاينبغى ان يزول ذلك الانس.

سوال: كان زيد هو افضل من عمرو مثال دى د هغه ضمير لپاره چې واقع دى بين المبتدا والخبر بعد العوامل او دا مثال دى د هغې لپاره چې خبر د مبتدا صيغه د اسم تفضيل ده مستعمل په من سره او ضمير فصل چې واقع شوى دى بين المبتدا والخبر قبل العوامل او واقع شوى وى د مبتدا او خبر معرفه په مينځ كې د هغې مثال يې ولي ذكر نه كړو؟ جواب: د هغې مثال يې ترك كړى دى د وجى د شهرت نه ځكه وقوع د ضمير فصل بين المبتدا والخبر معرفه قبل العوامل كثير او شائع دى په استعمال د كلام دعرب كې په خلاف د هغه ضمير فصل نه چې هغه واقع وى بين المبتدا والخبر بعد العوامل او د مبتدا لپاره خبر صيغه د اسم تفضيل وى مستعمل په من سره دا قليل دى.

سوال: كان زيد هو افضل من عمرو مثال دى د عدم التباس مثال د التباس يې ولي ذكر نه كړو؟ جواب: (١): مثال د عدم التباس يې ذكر كړو نه مثال د التباس ځكه په دې كې اشاره ده دى خبرى ته چې ضمير فصل بين المبتدا والخبر راځي سره د عدم التباس نه اما په صورت د التباس كې په طريق اولى سره راځي (٢): دا نص دى او صريح دى په مثال كې زيد هو القائم نه دا محتمل د احتمالين دى.

ولا موضع له عند الخليل: ربط: دا جمله مستانفه واقع شوې ده جواب د سوال ځكه هر كله چې مصنف بيان د ضمير فصل وكړو نو معترض اعتراض وكړو په مصنف باندې چې دا كوم ضمير چې واقع دى بين المبتدا والخبر معرفه دا په تركيب كې څه واقع كيږي او د دې لپاره اعراب محلى شته

كه نو مصنف جواب وكړو لاموضع له الخ سره خلاصه د جواب دا ده چې دا كوم ضمير چې واقع شي په مابين د مبتدا او خبر معرفه كې په دې كې مذاهب ثلاثه دي.

(١): **يو مذهب د خليل دى لاموضع** نشته دى محل ثابت د دې ضمير لپاره د اعراب نه **عند الخليل** د خليل په نزد باندې ځكه خليل وائي چې دا حرف دى داخل كړي شوى دى بين المبتدا والخبر ليفصل بين كونه خبراً ونعتاً په شان د كاف د اولئك او په شان د تاء د انت يعنى لكه څنګه چې كاف د اولئك او تاء د انت حرف دى محل من الاعراب ورله نشته نو دغه شان د دې صيغى د فصل لپاره هم محل من الاعراب نشته.

(٢): **دويم مذهب د بعض دى** هغوى وائي چې دا كومه صيغه د مرفوع منفصل چې واقع ده بين المبتدا والخبر دا اسم دى ليكن داسې اسم دى چې بالكل خالى دى او كنګال دى د اعراب نه ځكه دا نه عامل دى او نه معمول او اعراب به اسم كې هله راځي چې مركب شي د غير سره او عامل ورسره موجود وى لفظاً يا معناً او خليل ديته حرف وائي نه اسم ځكه هغه وائي چې اول قول كول په اسميت د ده باندې او بيا د هغې نه بعد حكم كول په لامحل لها من الاعراب سره منافى دى د اسميت سره او مكروه دى عند النحات نو د دې كراهت نه ځان ساتلو لپاره هغه قول وكړو په حرفيت باندې **وبعض العرب يجعله مبتداء وما بعده خبره: ترجمه: وبعض العرب** او بعض د عربو نه **يجعله** مستعملوي ضمير فصل لره پداسې استعمال سره چې حكم كوى نحويان په كون د ضمير فصل باندې مبتداء او حكم كوى په هغه شي باندې چې وروستو د دې نه دى خبر د مبتدا لكه وائي بعض عرب په كنت انت الرقيب كې كنت انت الرقيبُ او په علمت زيداً هو المنطلق كې علمت زيداً هو المنطلقُ وائي اوس كنت انت الرقيب كې الرقيبُ مرفوع دى ځكه دا خبر دى او انت مبتدا ده او المنطلقُ خبر دى او هو مبتدا ده **ومابعده خبره** په دې مقام كې نُسخى د كافيه دوه قسم دى (١) يوه نسخه كې د مابعده نه مخكې واو راغلي دى او بله نسخه كې واو نشته، كومه نسخه كې چې واو راغلي دى په هغه نسخه كې په خبره كې دوه قسمه اعراب لوستل جائز دى (١) خبره منصوب هم جائز دى ځكه دا ما موصوله او بعده ظرف صله د موصول دا عطف دى په مفعول اول د يجعل باندې او خبره عطف دى په مفعول ثانى باندې د يجعل نو عطف د اسمين راغى په معمولين د عامل واحد باندې او دا جائز دى بالاتفاق (٢) او خبره مرفوع لوستل هم جائز دى ځكه ما موصوله بعده ظرف صله د موصول موصول مع صله مبتدا او خبره ورله خبر دى او دا جمله حال دى د مفعول اول د يجعل نه، او په كومه نسخه كې چې مابعده راغلي دى بدون الواو، نو په خبره كې رفع متعين ده بنا بر خبريت او نصب لوستل يكې نه دى جائز ځكه نصب جائز وو دعوجي د عطف نه په ماقبل باندې او دلته واو عاطفه نشته.

سوال: زيد هو القائم كې هو په تركيب كې څه واقع شوى دى؟ **جواب:** په دې كې درې مذاهب دى او درې تركيبونه دى. (١): زيد مبتدا القائم ورله خبر دى او هو حرف فصل دى لامحل لها من

الاعراب (٢): زيد مبتدا القائم ورله خبر دی هو ضمير فصل اسم ملغی دی عن الاعراب ځکه دا نه عامل دی او نه معمول دی (٣): زيد مبتدا اول هو مبتدا ثانی القائم خبر د مبتدا ثانی مبتدا سره د خبر نه جمله خبر د مبتدا اول مبتدا سره د خبر نه جمله خبريه اسميه شوه.

ويتقدم قبل الجملة: **ربط**: هر کله چې ضمير شان او ضمير قصه بعض د ضمائرونه وو، او وو د دې لپاره احکام مختصه په دې شان سره چې هغه جاري کيږي په ضمير شان او ضمير قصه کې او په باقي ضمائرو کې نه جاري کيږي نو ذکر کړو مصنف ضمير شان لره جدا لپاره د بيان د احکام مختصه

ترجمه: **ويتقدم** واقع کيږي **قبل الجملة** مخکې د جنس جملی نه ذکر د قبل وروستو د يتقدم نه بنا دی په تجرد باندې يا دا تصريح بما علم ضمناً ده.

(٢): يا ترجمه دا ده چې واقع کيږي ضمير غائب متقدم بی دسبقيت د مرجع نه او دغه معنی په اعتبار د مفهوم سره عامه ده چې مخکې د جملی نه وی او که نه وي نو ځکه مقيد و ګرځوو مصنف يتقدم لره په قبل الجملة سره **ضمير غائب** ضمير غائب نو احتراز ئې وکړو په دې سره د ضمير د متکلم او مخاطب نه ځکه ضمير د متکلم او مخاطب ضمير شان نه راځي **يسمى** او مسمى کولې شي دغه ضمير غائب د نحويانو په اصطلاح کې **ضمير الشان** په ضمير شان سره که دا ضمير مذکر وو نحو قوله تعالى قل هو الله احد، والقصه يا مسمى کولې شي په ضمير قصی سره که ضمير مؤنث وو نحو قوله تعالى فانها لاتعمى الابصار ﴿ أَوَلَمْ يَكُن لَّهُمْ آيَةً أَن يَعْلَمَهُ عُلَمَاءُ بَنِي إِسْرَائِيلَ ﴾ اى اولم تكن القصة (١). لپاره د رعايت په مينځ دضميرشان او ضمير قصه کې او په مينځ د هغه شیٔ کې چې عمده دی په جمله مفسره کې ځکه دا ضمير راجع دی هغه عمده ته.

(٢): ځکه دا ضمير شان او قصه راجع دی معهود فی الذهن ته چې هغه شان او قصه ده.

(٣): يا دی ضمير غائب نه ضمير شان او قصه ځکه وائي چې دا نه داخليږي مګر په هغه جمله باندې چې د هغې شان او قصه عظيمه وی داسې ضمير غائب **يفسر** چې د هغه بيان کولې شي ځکه په دې کې ابهام دی د وجې د عدم تعين د مرجع نه **بالجملة** په جمله خبريه سره **بعده** چې هغه ذکر شوی وی وروستو د ضمير غائب نه (١) ځکه دغه ضمير راجع دی شان ا وقصه ته او شان او قصه نه وي مګر حکم او نسبت په جمله کې وی نه په مفرد کې او جمله انشائيه د چا لپاره بيان نه واقع کيږي.

تشريح: **سوال**: دا ضمير شان او ضمير قصه يو فرد دی د افرادو مطلق د ضمير نه او د مطلق ضمير بيان وشو او دا داخل دی... هغې کې نو دا يې جدا ولې ذکر کړی دی؟ **جواب**: منم چې ضمير شان يو فرد دی د افرادو د مطلق ضمير نه ليکن د دې لپاره احکام مختصه دی په دې شان سره چې هغه احکام دی لره ثابت دی نه غير لره نو دا يې ذکر کړو لپاره د بيان د احکامو مختصو.

سوال: ذکر د قبل وروستو د يتقدم نه لغو دی ځکه چې تقدم دلالت کوی په قبليت باندې؟

جواب: ذكر د قبل وروستو د يتقدم نه بنا دی په تجريد باندې مثل قوله تعالى ﴿ سُبْحَٰنَ ٱلَّذِىٓ أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِۦ لَيْلًا ﴾ (٢) يايې دا قبل ذکر کړی دی وروستو د يتقدم نه لپاره د تصريح بما علم ضمناً .او مقصود په دې سره تاكيد دی او مقصود په تاكيد کې رفع د توهم ده ځکه تقدم د ضمير په مرجع باندې غير معهود دی، نو لابدې شوه د تاكيد نه لپاره د دفع د توهم او تاكيد يې وکړو په تصريح بما علم ضمنا سره (٣) ذكر د قبل وروستو د يتقدم نه لغوه نه دی ځکه چې معنى د يتقدم دا ده چې يقع مقدما من غير سبق مرجع او دا باعتبار المفهوم عام دی که مخکې د جملې نه وی او که نه وي نو ځکه مصنف دا مقيد کړو په قبل الجملة سره.

سوال: ويسمى الخ په تعريف کې داخل دی کنه؟ **جواب:** په دې کې دوه مذهبه دی:

(١): **شارح هندي وائي چې** دا په تعريف کې داخل دی په دې شان سره چې غائب موصوف دی او يسمى ضمير الشان والقصة ورله صفت اولى دی او يفسر الخ ورله صفت ثانى دی.

(٢): **او شارح جامي صاحب وائي چې** دا په تعريف کې نه دی داخل په دې شان سره چې ضمير غائب موصوف يفسر الخ ورله صفت دی او يسمى الخ جمله معترضه ده واقع شوې ده بين الموصوف والصفة لپاره د بيان د تسميه د ضمير غائب او د دلائل د شارح جامي لپاره دوه دی:

(١): ځکه نشته دی دخله د تسميه لپاره په دې حکم کې ځکه دا حکم ثابت دی په واقع او نفس الامر کې برابره خبره ده که دا مسمى په دې نوم سره وی او که نه وي.

(٢): که چرته يسمى الخ داخل شي په تعريف کې نو ذكر د يفسر الخ لغوه دې او مستدرك دی ځکه په يفسر الخ سره چې کوم اشياء مونږه خارج کوو نو هغه خارج شو په يسمى الخ سره نو يفسر ته څه ضرورت پاتې نشو.

سوال: جمله معترضه ذكر کولي شي په مابين د متلا زمينو د کلام کې د يو غرض لپاره نو دلته په مينځ د موصوف او صفت کې څه لپاره ذکر شوې ده؟ **جواب:** غرض د مصنف په دې کې بيان د نوم د دې ضمير غائب دی چې په دې سره د دې امتياز راشي د باقي افرادو د ضمير نه.

سوال: بنا په مذهب ستا باندې دا تعريف د ضمير شان مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو پکې الشان هو زيد قائم ځکه هو ضمير غائب دی واقع دی په سر د جمله کې او ما بعد جمله ورله مفسره ده ځکه په ارجاع د دې ضمير سره شان ته هغه ابهام نه پورته کيږي نو تعريف ورباندې صادق دی او د افرادو د ضمير شان نه نهٔ دی او د شارح هندي په مذهب باندې دا اعتراض نشته؟

جواب: دغه ترکيب خارج شوی دی د تعريف د ضمير شان نه په لفظ د يتقدم سره ځکه د يتقدم معنى دا ده چې يقع مقدما من غير سبق مرجع او دلته سره د سبقيت د مرجع نه دی چې شان دی.

سوال: دی ضمير غائب ته به شان کله وايو او قصه به ورته کله وايو **جواب:** دا ضمير غائب به خالي نه وي يا به ضمير د مذکر وی او يا به ضمير د مؤنث وی که ضمير د مذکر وو نو مسمى کولي شي په ضمير شان سره او که ضمير د مؤنث وو نو مسمى کولي شي په ضمير قصه سره.

سوال: دی ضمیر شان ته ضمیر شان ولي وائي او ضمیر قصه ته ضمیر قصه ولي وائي؟

جواب: شارح هندي وائي چې دی ضمیر شان ته ضمیر شان ځکه وائي چې دا راجع دی شان ته او ضمیر قصه ته ضمیر قصه ځکه وائي چې دا راجع دی قصه ته، او شارح جامی وائي چې دی ضمیر غائب مذکر ته ضمیر شان وائي او مؤنث ته ضمیر قصه وائي لپاره د رعایت د مطابقت په مینځ د ضمیر او هغه شئ کې چې عمده دی په جمله مفسره کې ځکه دا هغې ته راجع دی او د دې وجې نه ورته نه وائي چې دا راجع دی شان او قصه ته ځکه چې که دا راجع شي شان او قصه ته نو بیا خو دا ضمیر شان او ضمیر قصه نه شو (۲) یا د دې وجې نه چې دا داخلیږي په هغه جمله باندې چې شان او قصه د هغې عظیمه وی.

سوال: یفسر بها بعده یې ولي ونه ویل ځکه یو شي چې یو ځل اسم ظاهر ذکر شي نو ثانیا په ضمیر سره ذکر کولي شي؟ **جواب:** یفسر بالجملة بعده یې وویل او یفسر بها بعده یې ونه ویل ځکه دا قاعده په هغه ځای کې ده چې د ثاني نه بعینه اول مراد وی او دلته د اول نه جنس جمله مراد ده او د ثانی نه جمله خبریه مراد ده (۲) یا یې وضع د اسم ظاهر کړي ده په مقام د ضمیر کې لزیادة التمکن فی الذهن.

سوال: د ضمیر شان او قصه تفسیر په جملې سره ولي کولي شي؟

جواب: (۱) ځکه چې دا ضمیر راجع دی شان او قصې ته او شان او قصه نه وی مګر په جمله کې وی (۲) ځکه مقصود په دی کې بیان د نسبت او حکم دی اول اجمالاً او بیا تفصیلاً او نسبت او حکم په جمله کې وی په مفرد کې نه وي.

سوال: د دې بیان چې په جمله خبریه سره کوی نو په انشائیه سره یې ولي نه کوی؟

جواب: ځکه چې جمله انشائیه د چا لپاره بیان نه واقع کیږي نو د دې تعریف د ضمیر شان نه معلومه شوه چې ایراد د ضمیر شان په استعمال د کلام د عربو کې مشروط دی په شروط اربعو سره.

(۱): ضمیر غائب به وی دا معلومیږي د ضمیر غائب نه.

(۲): واقع به وی مخکې د جملې نه دا معلومیږي د وی یتقدم قبل الجملة نه.

(۳): دا جمله به بیان وی دی ضمیر لپاره او دا معلومیږي د یفسر بالجملة بعده نه.

(۴): مضمون د جملې به عظیم الشان وی ځکه مقصود په ضمیر شان کې بیان د حکم دی اول اجمالاً او بیا تفصیلاً ځکه تفصیل بعد الاجمال اوقع فی الذهن وی او دا هله کولي شي چې مضمون عظیم الشان وی فلایقال انه لقد طار الذباب ځکه طیران د ذباب عظیم الشان خبره نده ویقال قل هوالله احد ځکه دا مضمون د جمله چې وحدانیت د الله تعالی دی دا عظیم الشان مضمون دی

سوال: ته وائي چې ایراد د ضمیر شان مشروط دی په شروط اربعو سره دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د الله تعالی سره ﴿وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ﴾ دا هو ضمیر شان دی واقع دی مخکې د محرم علیکم اخراجهم نه او دا جمله نده بلکه شبه جمله ده په دې شان سره چې محرم صیغه د اسم مفعول ده اخراجهم ورله نائب فاعل دی او علیکم متعلق دی په دی اسم مفعول پورې.

جواب: كه هو ضمير شان شي نو بيا تركيب دغسې نه دی لکه چې تا وکړو بلکه ترکيب داسې دی
چې محرم صيغه د اسم مفعول ده ضمير پکې مستتر دی هغه ورله نائب فاعل دی او عليکم
متعلق دی په دې اسم مفعول پورې اسم مفعول سره د نائب فاعل او سره د متعلق نه شبه جمله خبر
مقدم دی او اخراجهم ورله مبتدا مؤخر ده مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه تفسير واقع شوی
دی د ضمير شان لپاره.

ويكون منفصلاً و متصلاً: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د تعريف د ضمير شان او ضمير
قصه نه نو شروع يې وکړه په تقسيم د ضمير شان او قصه کې لپاره د اتمام د تعريف د ضمير الشان
والقصه ځکه تقسيم د متمماتو او مکملاتو د تعريف نه دی ځکه په تعريف سره معلومېږي معنی
او مفهوم د شئ او په تقسيم سره معلومېږي افراد او مصداق د شئ نو پس د تقسيم نه مونږ ته
ضمير شان معلوم شو مفهوماً او مصداقاً.

ترجمه: ويكون او کيږي دغه ضمير شان او قصه **منفصلا** منفصل د وجې د تعذر د اتصال نه **ومتصلاً**
او متصل په عامل پورې د وجې د عدم تعذر د اتصال نه او بيا دا ضمير متصل **مستترا** مستتر
راځي په عامل کې **وبارزا** او غير مستتر راځي **على حسب العوامل** موافق د اقتضاء د عامل په دې
شان سره چې دا عامل به خالي نه وي يا به عامل لفظي وی او يا به عامل معنوی وی که عامل
پکې عامل معنوی وو نو بيا دا ضمير شان منفصل راځي د وجې د تعذر د اتصال نه په امر معنوی
پورې مثال لکه **هو زيد قائم** شو او که عامل پکې عامل لفظی وو نو دا ضمير شان به خالي نه وي يا
به مرفوع وی يا به منصوب وی که مرفوع وو نو بيا دا ضمير شان متصل مستتر راځي لکه مثال
كان زيد قائم. ترکيب: کان فعل دی د افعال ناقصو نه اسم مرفوع خبر منصوب غواړي، ضمير شان
پکې مستتر دی هغه اسم د کان زيد مبتدا او قائم يې خبر دی مبتدا سره د خبر نه جمله خبريه
اسميه خبر د کان، کان سره د اسم او خبر نه جمله فعليه خبريه شوه.
او که دا ضمير شان منصوب وو نو بيا دا بارز متصل راځي اوس عامل ناصب عام دی که حرف
وی لکه **انه زيد قائم** ه ضمير شان منصوب دی ځکه اسم د ان دی او متصل دی په حرف پورې د وجې
د عدم تعذر د اتصال نه بل مثال نحو علمته زيدا فاضلا، ه ضمير شان منصوب دی او متصل دی
په فعل پورې د وجې د عدم تعذر د اتصال نه او بارز دی نه مستتر ځکه چې دا ضمير منصوب دی
او استتار خصوصيت د ضمير مرفوع دی.

تشريح، سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی
يعنی دا په تعريف کې داخل دی، يا غرض بيان د حکم د ضمير شان دی او که غرض د مصنف
تقسيم دی په ضمير شان کې؟

جواب: ربط د ماقبل سره دا دی چې دا مخکې تعريف د ضمير شان وو او دا تقسيم دی په ضمير
شان کې نو په معرفت د ربط سره غرض د مصنف هم معلوم شو چې تقسيم دی په ضمير شان کې

نه بيان د حکم او دا په تعريف کې هم نه دی داخل، نو ضمير شان اولاً په دوه قسمه دی (۱) متصل (۲) منفصل، متصل بيا دوه قسمه دی (۱) مستتر (۲) بارز، ځکه ضمير مستتر او بارز نوعين د ضمير متصل دی په خلاف د منفصل نه هغه بارز راځي نه مستتر

سوال: مصنف دا تقسيم په دې ضمير شان کې ولې کوی؟ **جواب:** په دی تقسيم کې اشاره ده دی خبري ته چې لکه څنګه چې مطلق ضمير دوه قسمه دی (۱) متصل (۲) منفصل، او بيا مطلق ضمير متصل دوه قسمه دی (۱) بارز (۲) مستتر، نو دغسې ضمير شان هم اولا دوه قسمه دی (۱) متصل (۲) منفصل، او متصل بيا دوه قسمه دی، (۱) بارز (۲) مستتر

وحذفه منصوبا ضعيف: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د تعريف او د تقسيم د ضمير شان او د ضمير قصه نه نو شروع يې وکړه په بيان د حکم د ضمير شان کې

ترجمه: وحذفه لري کول د متکلم ضمير شان لره د لفظ نه سره د بقاء نه په نيت کې **منصوبا** په حال کون د دې ضمير شان کې چې منصوب يې واخلي **ضعيف** ضعيف دی منصوبا سر يې احتراز وکړو د ضمير مرفوع نه ځکه ضمير شان مرفوع بناء بر فاعل راځي او حذف د فاعل نه دی جائز او يا مرفوع راځي بنا بر ابتدائيت او حذف د مبتدا هم نه دی جائز د وجې د عدم د دلالت د سابعد نه په حذف د مبتدا باندې ځکه چې مابعد جمله ده کور يې پوره دی دلالت نه کوي په حذف د مبتدا باندې، او ضمير شان مجرور نه دی راغلي په استعمال د کلام دعرب کې اصلا او حذف د ضمير شان منصوب جائز دی ځکه چې دا په صورت دفضله کې دی او حذف د فضله جائز دی ليکن حذف يې ضعيف دی ځکه حذف د مراد راځي بدون الدليل د وجې د استقلال د خبر نه ځکه دا خبر جمله ده او رابطه په دې جمله کې نشته ضمير چې راجع شي مبتداء ته او دلالت وکړي په حذف د مبتداء باندې

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط د ماقبل سره دا دی چې مخکې تقسيم د ضمير شان وو او دا بيان د حکم د ضمير شان دی او په معرفت د ربط سره غرض د مصنف هم معلوم شو چې بيان د حکم د ضمير شان دی، په دې شان سره چې دا ضمير شان به خالي نه وي يا به مرفوع وی يا به منصوب وی او مجرور خو نه راځي اصلاً که مرفوع وو د هغې حذف نه دی جائز ځکه دا به يا مرفوع وی بنا بر فاعليت او حذف د فاعل نه دی جائز بغير د سد مسد او قرينې نه، او يا به مرفوع وی بنا بر ابتدائيت او حذف د مبتدا هم نه دی جائز بغير د قرينې نه او دلته دا مبتدا چې مونږ حذف کړو نو دا مابعد دلالت نه کوي په حذف د مبتدا باندې ځکه د دې کور پوره دی او مشتمل نه دی په ضمير د مبتدا باندې چې دلالت وکړي په مبتدا محذوف باندې او که دا ضمير شان منصوب وو نو حذف د هغې جائز دی سره د ضعف نه

سوال: حذف د دې ولې جائز دی؟ **جواب:** ځکه دا په صورت د فضله کې دی او حذف د فضله جائز دی.

سوال: ضعيف ولې دی؟ **جواب:** د وجې د عدم وجود د دليل نه په حذف د دې ضمير شان باندې.

سوال: دا مابعد جمله خبر دی دليل شي په حذف د مبتدا باندې؟

جواب: دا مابعد جمله دليل نه شي گرځيدی په حذف د مبتدا باندې ځکه هغه مستقله جمله ده او کلام دی او نه دی مشتمل په ضمير رابط باندې چې هغه دلالت وکړي په حذفيت د مبتدا باندې

مثال (١) نحو قوله تعالى ﴿إِنْ هَٰذَانِ لَسَاحِرَانِ﴾ په دې کې ځلور ترکيبونه دی (١) ان مخفف من المثقل ملغات العمل دی هذان مبتدا ده او لساحران ورله خبر دی.

(٢) ان مخفف من المثقل هذان اسم دان او لساحران ورله خبر دي من قبيل من احب کريمتاه.

(٣) ان نافيه هذان مبتدا لام بمعنی الاساحران خبر د مبتدا فيکون المعنی ما هذان الاساحران.

(٤) ان مخفف من المثقل اسم منصوب خبر غواړي هذان مبتدا ساحران ورله خبر دی دا جمله خبر د ان او اسم د ان ضمير شان منصوب حذف شوی دی.

او په يو قرأت کې راغلي دی ان هذ انّ لساحران په تشديد د نون سره په دې باندې ظاهر کې اعتراض دی چې ان حرف دی د حروف مشبه بالفعل نه اسم منصوب خبر مرفوع غواړي هذان اسم د ان او ساحران يې خبر دی، او اسم د ان منصوب وي او تثنيه منصوب بالياء راځي نه منصوب بالالف نو هذان په الف سره ولې راغلي دی د دې نه دري جوابونه دی.

(١) ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه نه دی بلکه دا حرف ايجاب دی په معنی د نعم سره او هذان مبتدا ده او ساحران يې خبر دی او لام لام التاکيد دی.

(٢) او که ومنو چې ان حرف دی د حروف مشبه بالفعل نه نو هذان ورله اسم دی او ساحران ورله خبر دی او تثنيه په الف سره راغلي ده په حالت نصبی کې بنا په لغت د بنو حارثه او بنو کنانه باندې.

(٣) يا ان حرف دی د حروف مشبه بالفعل نه هذان مبتداء ده او ساحران ورله خبر دی مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه خبر د ان او اسم د ان ضمير شان منصوب حذف شوی دی فيکون التقدير انه لهذان ساحران کله چې ضمير شان منصوب حذف شو نو لام ابتدائيه تاکيديه داخل شو په خبر باندې لپاره د دې چې لازم نه شي اجتماع د التی د تاکيد نو د انه لهذان ساحران نه ان هذان لساحران جوړ شو

دويم مثال نحو قوله عليه السلام ان من اشد الناس عذابا يوم القيامة المصوررون.

سوال: په دې حديث کې ظاهر يو ترکيبی اشکال دی چې د دې حديث ترکيب څه دی که ته وائي چې من اشد الناس خبر مقدم د ان او المصوررون اسم د ان نو اسم د ان خو منصوب وی او جمع په حالت نصبی کې په ياء سره راځي او دلته واو سره ده يعنی مرفوع ده او که ته وائي چې من اشد الناس اسم د ان او المصوررون يې خبر دی نو من اشد الناس خو جار مجرور دی او جار مجرور مسند اليه نه واقع کيږي؟ **جواب:** په دې حديث کې دوه ترکيبونه دی: (١) يو دا دی چې من اشد الناس جار مجرور اسم د ان دی ځکه دا من زائد دی بنا په مذهب د هغه چا چې د هغوی په نزد باندې من زائد راځي په کلام مثبت کې او جار مجرور په ترکيب کې مسند واقع کيږي نه مسند اليه خو هله چې حرف جر پکې اصلی وی او که حرف جر پکې زائد وو بيا مسند اليه هم واقع کيږي لکه بحسبك درهم: (٢) دويم ترکيب دا دی چې من اشد الناس خبر مقدم دي او المصوررون مبتدا مؤخر

ده بنا په مذهب د هغه چا باندې چې زيادت د من په کلام موجب کې نه منی مبتدا سره د خبر نه خبر د ان دې او اسم د ان ضمير شان منصوب حذف شوی دی فيکون التقدير انه من اشد الناس الخ (۳) بل مثال کقول الشاعر!

ان من يدخل الکنيسة يوماً يلق فيها جازرا وظباء

ترجمه: په تحقيق سره کوم يو سړي چې داخل شي عبادت خانې د عيسايانو ته يو ورځ، په کومه ورځ چې هغه عبادت کوی) نو ملاقې کيږي به دا سړي د هغه ښځو سره چې په شان د اولاد د بقرو حشي او په شان د هوسۍ دي په حسن او جمال کې.

ترکيب: من شرطيه يدخل فعل ضمير پکې مستتر دی چې راجع دی من ته فاعل د يدخل الکنيسة مفعول فيه ظرف مکان يوما مفعول فيه ظرف زمان فعل سره د فاعل او مفعولين نه جمله شرطيه يلق فعل مضارع معلوم ضمير پکې مستتر دی راجع دی من ته هغه ورله فاعل فيها جار مجرور متعلق دی په يلق پورې او جازرا و ظباء معطوف معطوف عليه مفعول به د يلق لپاره فعل سره د فاعل او سره د متعلق او سره د مفعول به نه جمله فعليه جزاء شوه د شرط شرط سره د جزاء نه خبر د مبتدا چې من دی مبتدا سره د خبر نه جمله خبريه اسميه خبر واقع شوی دی د ان لپاره او اسم د ان ضمير شان حذف شوی دی فيکون المعنی انه من يدخل الکنيسة الخ، لهذا دا خبره د مصنف صحيح نده چې حذف د ضمير شان منصوب ضعيف دی، ځکه چې حذف د مراد راځي بې د دليل نه، ځکه حذف د مراد بی د دليل نه نه راځي بلکه حذف د مراد راځي سره د وجود د دليل نه چې هغه ما بعد خبر دی ځکه په دې مثالونو کې چې مبتدا مع الخبر جمله خبر دان شو نو ان تقاضه د اسم کوی لهذا دا جمله د لالت کوی چې اسم د ان دلته حذف شوی دی.

سوال: د کان زيد قائم څه ترکيب دی که ته وائې چې زيد اسم د کان او قائم خبر د کان دی نو اسم د کان مرفوع وی او خبر منصوب وی دلته خو دواړه مرفوع دی؟ جواب: زيد مبتدا ده قائم يې خبر دی دا جمله خبر د کان دی او اسم د کان ضمير شان مستتر شوی دی په کان کې او ديته کان شانيه وائې.

سوال: ان زيد قائم څه ترکيب دی که ته وائې چې زيد اسم د ان او قائم يې خبر دی نو اسم د ان منصوب وی او دا خو مرفوع دی؟ جواب: زيد مبتدا قائم يې خبر دا جمله خبر د ان دی او اسم د ان ضمير شان حذف شوی دی اصل کې انه زيد قائم وو، بل مثال د دې لپاره کقول المتنبی!

اليس عجيبا ان بين بنی اب لنجل يهودی تدب الاقارب

ای انه تدب الاقارب بين بنی النجل يهودی و اسم ان ضمير الشان محذوف وجملة تدب خبرها والا لايصح الترکيب.

سوال: وحذفه منصوبا ضعيف په دې ترکيب باندې يو اعتراض دی بنا په ضربی زيدا قائما باندې په دې شان سره چې مصنف دا قاعده بيان کړې ده په موضع حذف الخبر وجوبا کې چې (۱) مبتدا مصدر راشي (۲) او نسبت يې وشي فاعل ته يا مفعول ته يا دواړو ته (۳) او دهغې نه وروستو حال

راشي نو خبر د مبتدا حذف کولي شي په حذف وجوبي قياسي سره مثال لکه ضربي زيدا قائما شو نو دا قاعده د مصنف منقوضه شوه په دې قول د مصنف سره چې وحذفه منصوبا ضعيف ځکه دلته مبتدا راغلي دی مصدر چې حذف دی او نسبت يې شوی دی مفعول ته چې ضمير دی راجع دی ضمير شان ته او د هغې نه وروستو حال راغلي دی منصوبا او خبر د دې نه دی حذف شوی بلکه مذکور دی چې ضعيف دی؟ **جواب:** دا قاعده په هغه ځای کې ده چې خبر د دې مبتدا کذا يې فعل راشي د افعال عامونه ځکه هلته قرينه او سد مسد موجود وی او دلته خبر د مبتدا نه دی حذف کړي ځکه خبر د.دې د افعال عامونه نهٔ دی او خبر چې د افعال خاصونه راشي بيا حذف جائز نه دی د عدم وجود د قرينې د الی نه په تعين د محذوف باندې ځکه دا مبتدا کذائې قرينه لپاره د افعال عامو ده نه لپاره د افعال خاصو.

الا مع ان اذا خففت فانه لازم: ترجمه: حذف د ضمير شان منصوب ضعيف دی سره دهر عامل نه الا مگر حذف د دې ضعيف نه دی چې دا ضمير شان مقرون وو د ان سره **اذا خففت** کله چې تخفيف وکړي شي د ان د مشدد نه **فانه** په تحقيق سره حذف د ضمير شان **لازم** واجب دی لپاره د دې چې لازم نه شي مزيت د فرع په اصل باندې ځکه په دې حروف مشبه بالفعل کې ان اصل دی او باقي فرع دی ځکه دا حروف عمل کوی د وجې د مشابهت نه د فعل سره او مشابهت د اَن د فعل سره زيات دی د اِن نه ځکه اَن په شان د مد دی او اِن چې مخفف شي نو پس د تخفيف نه عامل موندلي شوی دی په کلام د عرب کې نحو قوله تعالى ﴿ وَإِنَّ كُلًّا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ ﴾ او د اَن عمل لفظی پس د تخفيف نه نهٔ دی موندلي شوی په استعمال د کلام د عرب کې نو مزيت د فرع راغلي په اصل باندې او دا نه دی جائز لهذا نحويانو دا حيله جوړه کړه چې ان پس د تخفيف نه عمل کوی د نصب په ضمير شان مقدر او محذوف کې لپاره د دې چې لازم نه شي مزيت د فرع په اصل باندې.

سوال: مزيت د فرع په اصل باندې خو اوس هم راغلي دی ځکه ان پس د تخفيف نه عمل کوی په لفظ کې او اَن پس د تخفيف نه عمل کوی په مقدر کې او عمل لفظي اولی دی د عمل تقديري نه؟

جواب: عمل په مقدر کې دائما اولی دی د عمل لفظي احياناً نه.

او مثال د ضمير شان چې حذف شوی دی سره د اَن مخفف من المثقل نه وجوباً نحو قوله تعالى ﴿ وَءَاخِرُ دَعْوَىٰهُمْ أَنِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ ﴿ وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَٰنِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ﴾ ﴿ عَلِمَ أَن سَيَكُونُ ﴾

قاعده اَن چې داخل شوی وو په جمله اسميه باندې يا په جمله فعليه باندې چې فعل پکې غير متصرف وی نو دا به ان مخفف من المثقل وی او که داخل شوی وو په جمله فعليه متصرفه باندې نو بيا به خالي نه وي يا به د اَن او د فعل په مينځ کې فصل راغلي وی په سين، سوف، لو، قد، حرف نفی سره او يا به نوي که فصل راغلي وو نو ان مخفف من المثقل او که نه وو راغلي نو ان ناصبه مصدريه.

اسماء الاشارة

ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د نوع اول د مبنيات نه تفصيلاً چې هغه مضمرات وو نو شروع يې وكړه په بيان د نوع ثاني د اسم مبني كې تفصيلاً چې اسماء اشارات دي، او هر كله چې مضمرات كل د قبيلې د مبنيات نه وو بالاتفاق په خلاف د اسماء اشارات نه چې دا كل د قبيلې د مبنيات نه نه دي بالاتفاق بلكه كل د قبيلې د مبنيات نه دي عند الجمهور او اكثر د قبيلې د مبنيات نه دي او بعض د قبيلې د معربات نه دي عند البعض پس مقدم يې وګرځول مضمرات په اسماء اشارات باندې، او هر كله چې په اسماء موصولو كې اى او اية د قبيلې د معربات نه وو بالا تفاق او په دې اسماء اشاراتو كې داسې اسم نه دى موجود چې د قبيلې د معربات نه وي بالاتفاق نو دائي مقدم كړو په هغې باندې، يا هر كله چې تعريف په اسماء اشارات كې زيات وو په نسبت سره اسماء موصولو ته ځكه اسماء موصوله دلالت كوي په تعين د مشار اليه باندې په اشارات عقلي او ذهني سره او تعريف په اشارات حسي كې زيات وي د اشارات ذهني نه پس مقدم يې كړه اسماء اشاره په اسماء موصولو باندې.

تركيب: اسماء اشاره مضاف اليه مبتدا **ما** موصوله يا موصوفه **وضع** ماضي مجهول ضمير پكې مستتر دى چې راجع دى **ما** ته هغه ورله نائب فاعل **لام** جاره مشار صيغه د اسم مفعول ده **اليه** جار مجرور ورله نائب فاعل دى او ضمير د اليه راجع دى موصوف مقدر د مشار ته چې شئ دى اسم مفعول سره د نائب فاعل نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه ظرف لغوه متعلق دى په وضع پورې. فعل سره د نائب فاعل او متعلق نه صله شوه د موصول يا صفت شو د موصوف. موصول سره د صلې نه يا موصوف سره د صفت نه خبر لپاره د مبتداء مبتدا سره د خبر نه جمله خبريه اسميه

ترجمه: **اسماء اشارة** اسماء اشاره معدوده من المبنيات په اصطلاح د نحويانو كې **ما** اسماء دى او افراد د ضمير د وضع په اعتبار د لفظ د ما سره دى.

(۲): يا جنس اسم اشاره معدوده من من المبنيات عند النحاة **ما** جنس اسم دى او اضافت د اسماء الاشارة ته اضافت جنسي دى داسې اسم **وضع** چې وضع كړې شوى دى لپاره د يو معنى او لپاره د يو شئ چې اشاره كولې شي هغه شئ ته په اشارت حسي سره چې هغه اشاره بالجوارح ده ځكه شئ چې ذكر شي مطلق نو رجع يې كيږي فرد كامل ته او كامل په اشاره كې اشاره حسي ده په دې شان سره كه تعين د يو شئ راغلې وو په معاونت د حواس سره دې ته اشاره حسي وائي دا حقيقت دى او كه تعين د شئ راغلي وو په معاونت د عقل سره نو دې ته اشاره عقلي وائي دا مجاز دى

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دى او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دى؟

جواب: ربط دا دى چې مخكې بيان د نوع اول د اسم مبني وشو تفصيلاً چې مضمرات وو نو اوس بيان د نوع ثاني د اسم مبني كوي تفصيلاً چې اسماء اشارات دي او په دې معرفت د ربط سره غرض د مصنف هم معلوم شو چې غرض د مصنف بيان د نوع ثاني د اسم مبني دى تفصيلاً چې اسماء اشارات دي.

سوال: مضمرات یې ولې مقدم کړه په اسماء اشارات باندې؟ **جواب:** مضمرات کل د قبیلې د مبنیات نه وو بالاتفاق، په خلاف د اسماء اشارات نه چې دا کل دقبیلې د مبنیات نه دی عند الجمهور او اکثر د قبیلې د مبنیات نه دی عند البعض او بعض معرب دی.

سوال: اسماء اشارات یې په موصولات باندې ولې مقدم کړه باوجود د دې نه چې د اسماء موصولات زیات دی او اسماء اشارات کم دی او العزة للتکاثر؟ **جواب:** هر کله چې په اسماء موصولات کې ای او اية د قبیلې د معربات نه وو بالاتفاق په خلاف د اسماء اشارات نه په دې کې بالاتفاق معرب نشته نو دائې مقدم کړه په هغې باندې (۲) هر کله چې تعریف په اسم اشاره کې زیات وو د اسماء موصولات نه پس مقدم یې کړه اسماء اشاره په موصولات باندې ځکه دوی اعرف مقدم کوي په غیر اعرف باندې.

سوال: اسماء اشاره کې تعریف د موصول نه زیات ولې دی؟ **جواب:** اسم اشاره دلالت کوی په تعین د مشار الیه باندې په اشارت حسی سره په خلاف د موصول هغه دلالت کوی په تعین د مشار الیه باندې په اشارت ذهنی سره او تعریف په اشارت حسی کې زیات دی د اشارت ذهنی نه (۲) اسم اشاره اکمل ده په تعریف کې د موصول نه ځکه اشاره واقع کیږي په ذات او معنی د شئ دواړو باندې ذات صورة د شئ دی او معنی وصف د شئ دی لکه جودت او رداءت شو.

سوال: تعریف د اسم اشاره جامع نه شو ځېلو افرادو لره خارج شو د دې ده لفظ د اسم اشاره ځکه ته وائې چې اسم اشاره ماوضع لمشار الیه تلاوائې او دا خو ماوضع لمشار الیه نه دی؟

جواب: دلته مراد د اسماء الاشارة نه اسماء اشاره معدوده من المبنیات دی په اصطلاح د نحویانو کې او لفظ د اسماء اشاره د اسماء اشاره معدوده من المبنیات نه نه دی.

سوال: تعریف د اسماء الاشارة په ما وضع الخ سره باطل دی ځکه دا مستلزم دی دور لره په دې شان سره چې اسم اشاره په تعریف کې محتاج دی مشار الیه ته او مشار الیه محتاج دی اشاري ته ځکه مشار الیه اسم مفعول دی او وضاحت او خفاء د مشتقات په اعتبار د مبداء سره راځي او کوم تعریف چې مستلزم وی دور لره هغه باطل وی نو دا تعریف باطل شو؟

جواب: کومه اشاره چې ذکر ده په جانب د معرف کې د هغې نه مراد اشاره اصطلاحی ده هغه په تعریف کې محتاج ده مشار الیه ته او مشار الیه په تعریف کې محتاج دی اشاري لغوی ته نه اصطلاحی ته دور نشته.

سوال: په ما وضع کې دا ما به خالي نه وائې یا به یې عبارت وائې د اسم نه او یا به یې عبارت وائې د اسماء نه دواړه نه صحیح کیږي که عبارت یې وائې د اسماء نه نو ماقبل ورسره ولګیدو ځکه حمل د جمع په جمع باندې راغلو لیکن ما بعد ورسره نه لګی ځکه په وضع کې ضمیر مستتر دی مفرد مذکر نو مطابقت را نه غلو په راجع او مرجع کې.

(۲) او که دا عبارت وائې د اسم نه نو دا مابعد ورسره ولګیده ځکه مطابقت بین الراجع والمرجع راغلو لیکن د ماقبل سره نه لګی ځکه چې حمل د واحد راغي په جمع باندې؟

جواب: ما عبارت د اسماء نه وايم او ضمير د وضع راجع دی ما ته په تاويل د كل واحد سره، نو ترجمه دا شوه چې اسماء اشاره په اصطلاح د نحويانو كې هغه اسماء دی چې وضع كړي شوی دی هر واحد د دغه اسماؤ نه د مشار اليه لپاره يا افراد د ضمير د وضع په اعتبار د لفظ د ما سره دی ځکه دا ما په اعتبار د معنی سره جمع ده او په اعتبار د لفظ سره مفرد مذکر دی لحاظ د لفظ يې كړي دی نه د معنی (۲). يا ما عبارت دی د اسم نه او كه ته وائې چې حمل د مفرد راغي په جمع باندې نو جواب دا دی چې اضافت د اسماء الاشارة ته اضافت جنسي دی نو معنی دا چې جنس اسم اشاره په اصطلاح د نحويانو كې جنس اسم دی چې وضع كړي شوی دی لپاره د مشار اليه او دا جواب غوره دی د اول جواب نه ځکه تعريف د جنس كولي شي په جنس سره او په هغه جواب كې لازمېږي تعريف د افرادو په افرادو سره.

سوال: په ما وضع كې دا ما موصوله دی كه موصوفه دی؟ **جواب:** دا محتمل د احتمالين دی موصوله هم جوړېږي او موصوفه هم جوړېږي ليكن موصوفيت يې اولی دی د موصوليت نه ځکه دا واقع دی په جانب د خبر كې او اصل په خبر كې تنكير دی نو ما چې موصوفه شي نو عمل په اصالت باندې راځي او كه موصوله شي نو عمل راځي په خلاف الاصل باندې.

سوال: مشار صيغه د اسم مفعول ده صفت دی تقاضه د موصوف كوی موصوف ورله څه شئ دی؟

جواب: موصوف د دې محذوف دی چې شئ دی يا معنی دی.

سوال: مشار صيغه د اسم مفعول ده نائب فاعل غواړي نائب فاعل ورله كوم دی؟

جواب: نائب فاعل د دې لپاره دا اليه جار مجرور دی.

سوال: ضمير د اليه چاته راجع دی؟ **جواب:** دا راجع دی موصوف محذوف د مشار ته.

سوال: تعريف د اسم اشاره مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو پكې ضمير غائب او اسم موصول ځکه دواړه وضع كړي شوی دی لپاره د يو معنی چې هغې ته اشاره كولي شي په ضمير سره او په موصول سره؟ **جواب:** دلته مراد د اشاري نه اشاره حسی ده يعنی اسم اشاره په اصطلاح كې هغه اسم ته وائي چې وضع كړي شوی دی د يو معنی لپاره داسې معنی چې اشاره ورته كولي شي په اشارت حسی سره او ضمير غائب او موصول سره اشاره كولي شي هغه معنی ته په اشاره ذهنی سره نو دا خارج شو.

سوال: ماتن په تعريف كې اشاره مطلقه ذكر كړي ده نو ته اشاره حسی كوم ځای نه اخلې؟

جواب: د اصولينو دا قاعده ده چې كله چې شئ ذكر شي مطلق نو راجع يې فرد كامل ته كيږي او كامل په اشاره كې اشارت حسی دی نه ذهنی نو ځکه ما اشاره حسی مراد كړه.

سوال: تعريف د اسم اشاره جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو د دې نه فذلكم الله ربكم ځکه ته وائي چې اسم اشاره هغه اسم دی چې وضع كړي شوی دی لپاره د يو معنی چې اشاره ورته كولي شي په اشارت حسی سره او دلته په ذلك سره اشاره شوې ده الله ته.. او اشارت حسی الله تعالی ته ممتنع ده؟ **جواب:** اشارت حسی عامه ده كه حقيقتاً وی او كه حكماً وی او الله تعالی د وجې د كمال

ظهور د صفات کمالیو نه گرځیدلي ده په منزله د محسوس باندې نو اشاره الله ته په اشارت حسي سره حکما شوه نه حقیقتاً

سوال: اصل په اسماؤ کې اعراب دی او بنا خلاف الاصل ده نو دا اسم اشاره د قبیلې د مبنیات نه ولي شوه؟ جواب: (۱). اسماء اشاره مشابه ده د حرف سره په احتیاج کې په دې شان سره چې حرف محتاج دی په دلالت کې په معنی خپله باندې، انضمام د کلمه اخری ته او اسم اشاره محتاج ده په دلالت د مشار الیه کې امر خارج ته چې اشارت حسي دی، او دا وجه غلطه ده چې بعض خلق یې وائي چې اسماء اشاره مبني ده ځکه چې دا مشابه ده د حرف سره په احتیاج کې په دې شان سره چې حرف محتاج دی په دلالت کې په معنی خپله باندې انضمام د کلمې اخرى ته او اسم اشاره محتاج ده مشارالیه ته، ځکه چې مشارالیه خو معنی موضوع له ته وائي نو بیا خو ټول الفاظ د قبیلې د مبنیات نه گرځول پکار دی ځکه چې هر لفظ محتاج دی معنی موضوع له ته (۲). دویمه وجه د بناء په دې اسماء اشاره کې، تا، ذی، تی، ذه، ته، ذا، دا مشابه دی د حروف سره په وضع ثنائي کې او باقي اسماء اشارات محمول دی په دې باندې (۳). وجه د بناء یا اسماء اشاره ځکه مبني دی چې دا متضمن دی معنی د حرف اشاری لره ځکه اشاره معنی د حرف ده لیکن داسې معنی د حرف ده چې واضع د دې لپاره حرف نه دی وضع کړې، او په بناء د اسماء اشاره کې خلاف دی (۱) جمهور وائي چې ټول اسماء اشاره د قبیلې د مبنیاتو نه دي (۲) او بعض وائي چې اسماء اشاره د قبیلې د مبنیات نه دی ما سواء د ذان، تان، ذین، تین، نه دا د قبیلې د معربات نه دی ځکه چې حکم د مبني دا دی چې ان لایختلف اخره باختلاف العوامل او په ذان، تان کې اختلاف راځي په اختلاف د عوامل سره په شان د ضاربان، او جمهور وائي چې دا اختلاف په ذان او تان کې د اختلاف د عوامل د وجې نه نه دی بلکه دا اختلاف وضعي دی په دې شان سره چې ذان او تان وضع شوی دی د تثنیه مرفوع لپاره او ذین او تین وضع شوی دی د تثنیه منصوب او مجرور لپاره او وقوع د دې په صورت معرب باندې اتفاقي ده نه لپاره د قصد د اعراب او شئ معلومیږي د تعریف نه او مبني مانا سب مبني الاصل ته وائي او علت د بناء په ذان او تان کې موجود دی چې دا مشابه دی او مناسب دی د حرف سره په احتیاج کې.

په هر تعریف کې لابدي وی د جنس او فصل نه نو ما عبارت دی د اسم نه هغه جنس دی او **وضع لمشار الیه** فصل اول دی په دې سره خارج شو باقي انواع د اسم مبني ماسواء د ضمیر غائب او د موصول نه او دا قید چې ورسره مونږه ولگوو چې اشارةً حسیة نو په دې سره ضمیر غائب او موصول هم خارج شو پس شو تعریف د اسم اشاره جامع او مانع.

(۲): یا اسم اشاره په اصطلاح د نحویانو کې مایدل علی شئ معین باشارة حسیة ته وائي **وهی ذا للمذکر ولمثناه ذان و ذین. ربط.** هر کله چې فارغ شو مصنف د تعریف د اسماء اشارة نه نو شروع یې

وکړه په بيان د صيغو د اسماء اشاره کې لپاره د کمال وضاحت د اسماء اشاره نو وي ويل **وهي**
للمذکر الخ: ترجمه: (١) دا اسماء اشاره ذا دي سره د معطوفات نه
(٢): **وهي** دا اسماء اشاره پنځه دي ذا دي د واحد مذکر مشار اليه لپاره **ولمثناه ذان و ذين** او د تثنيه
مذکر مشار اليه لپاره ذان دي په حالت رفعي کې او ذين دي په حالت نصبي کې
تشريح: **سوال**: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض دمصنف د دې عبارت نه څه دی؟
جواب: ربط د ماقبل سره دا دی چې هر کله چې فارغ شو مصنف د تعريف د اسماء اشاره نه نو شروع
يې وکړه په بيان د صيغو د اسم اشاره کې او په بيان د ربط سره غرض د مصنف هم معلوم شو چې
غرض د مصنف بيان د صيغو د اسم اشاره دی په دې شان سره چې دا نه داخل دی په تعريف د اسم
اشاره کې او نه بيان د حکم د اسم اشاره دی
سوال: په تعريف سره مونږ اسماء اشاره وپيژندل نو مصنف لپاره پکار وو چې اوس يې شروع کړې
وی په احکامو کې نو دا صيغې د اسم اشاره ولې بيانوی؟
جواب: دا صيغې د اسم اشاره بيانوی لپاره د اتمام د تعريف او لپاره د کمال وضاحت د اسم اشاره
ځکه په تعريف سره مونږ ته مفهوم د اسماء اشاره معلوم شو او په صيغو سره يې مصداقات
معلوميږي نو پس د بيان د صيغو نه به اسماء اشاره مونږ ته معلوم شي مفهوماً او مصداقاً
سوال: هي مبتدا ده، نو دا ذا په ترکيب کې څه واقع شوی دی که ته وائې چې دا خبر دی د مبتدا
لپاره نو حمل د خاص راغی په عام او حمل د واحد راغی په متعدد باندې، او دا نه دی صحيح
ځکه معنی دا شوه چې اسماء اشاره ذا دی او ذا خو اسماء اشاره نده بلکه اسم اشاره ده (٢) او دا
للمذکر جارمجرور دی او د جار مجرور لپاره لابدې ده د اعراب محلی نه دا په ترکيب کې څه واقع
شوی دی يعنی د دې اعراب محلی څه دی؟
جواب: (١): هي مبتدا ده او خبر يې حذف شوی دی خمسة فيکون التقدير وهي خمسة او ذا مبتدا
ده او للمذکر جار مجرور ورله خبر دی باعتبار المتعلق او ذان و ذين مبتدا مؤخره ده او لمثناه خبر
مقدم دی نو دا جمله اسميه خبريه عطف ده په دې مخکې جمله باندې او دا مجموعه بيان واقع
شوی دی و هي خمسة لپاره (٢): هي مبتدا ده ذا يې خبر دی په اعتبار د حذف د معطوف سره
فيکون التقدير وهي ذا واخواته او للمذکر خبر د مبتدا محذوف دی ای هو للمذکر
(٣): هي مبتدا اول **ذا** موصوف **للمذکر** جار مجرور په اعتبار د متعلق سره صفت د **ذا** موصوف سره
د صفت نه مبتدا ثاني او خبر يې حذف دی چې منها دی مبتدا سره د خبر نه جمله خبريه اسميه خبر
د مبتدا اول او مبتدا سره د خبر نه جمله خبريه اسميه شوه (٤): **هي** مبتدا اول **ذا** مبتدا ثاني **للمذکر**
په اعتبار د متعلق سره خبر د مبتدا ثاني؛ مبتدا ثاني سره د خبر نه جمله خبر دی د مبتدا اول لپاره
او رابط محذوف دی چې منها دی. (٥): هي مبتدا ده او **ذا** معطوف عليه سره د معطوفات نه خبر

دي د هى لپاره او عطف مقدم دى په ربط باندې نو حمل د خاص په عام يا حمل د واحد په متعدد باندې راغلو او **للمذكر** جار مجرور منصوب دى محلاً بنا بر حاليت.

سوال: دا حال د چا نه واقع شوى دى؟ **جواب:** دا حال واقع شوى دى د ذا نه بنا په مذهب د هغه چا باندې چې هغه وقوع د حال د مبتدا او خبر نه جائز وائي يا دا للمذكر حال واقع شوى دى د نائب فاعل د ينسب فعل معنوىٰ نه چې راجع دى ذاته بنا په مذهب د هغه چا باندې چې حال جائز نه وائي د مبتدا او خبر نه لكه ابن حاجب شو څكه د ده په نزد باندې حال هغې ته وائي چې يبين هئية الفاعل او المفعول به او د مبتدا او خبر نه حال نه واقع كيږي نو كوم ځاى چې حال واقع شي په استعمال د كلام د عرب كې وروستو د مبتدا يا د خبر نه او دا تركيب ته بنا كول غواړي په مذهب د ابن حاجب باندې نو دا مبتدا او خبر په مينځ كې نسبت دى د هغې نه به ينسب جوړ كړي او په هغې كې به ضمير مستتر راجع كړي مبتدا ته كه حال د مبتدا نه وو يا يې راجع كړه خبر ته كه حال د خبر نه واقع شوى وو نو بنا په دى كيږي تقدير د عبارت دا رنگې ينسب ذا حال كونه

سوال: **وتثناه** تركيب كې څه دى؟ **جواب:** دا منصوب واقع شوى دى بنا بر حاليت.

سوال: حال د چا نه واقع شوى دى؟ **جواب:** حال واقع شوى دى د ذان او ذين نه

سوال: دا چې حال دى د ذان او ذين نه نو ولې مقدم شوى دى په هغې باندې؟

جواب: تقديم د حال راغلي دى په ذوالحال باندې لپاره د قرب د مرجع څكه اصل په مرجع كې قرب دى څكه د اضمير راجع دى مذكر ته نو چې په ذان او ذين باندې مخكې شو نو هغې ته قريب شو او كه وروستو كړې يې وى نو بيا بُعد راتلو.

سوال: په تقديم سره قرب د مرجع خو راغلو ليكن بل نقصان پكې راغلو چې تقديم د حال راغلو په عامل معنوى باندې او دا نه دى جائز؟ **جواب:** ولاتتقدم على العامل المعنوى بخلاف الظرف.

سوال: ته وائي چې دا وضع شوى دى د واحد مذكر مشاراليه لپاره نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د الله تعالى سره ﴿ فَلَمَّا رَءَا الشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هَٰذَا رَبِّي ﴾ دلته په ذا سره اشاره شوې ده شمس ته او دا مؤنث دى؟ **جواب:** دا قاعده ده چې كله اسم اشاره دائر شي په مابين مشاراليه او د خبر كې نو رعايت د خبر اولىٰ دى د رعايت د مشاراليه نه او دلته هم واقع شوى دى په مينځ د مشاراليه كې چې شمس دى او په مينځ د خبر كې چې ربى دى نو رعايت د خبر شوى دى څكه مذكر شوى دى.

سوال: ته وائي چې ذان راځي د تثنيه مذكر لپاره په حالت رفعى كې او ذين راځي په حالت نصبى جرى كې نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د الله تعالى سره ﴿ قَالُوٓا۟ إِنْ هَٰذَٰنِ لَسَٰحِرَٰنِ ﴾ دلته هذان اسم دانّ دى او اسم دانّ منصوب وى او نصب د تثنيه په يا سره وى او دلته مرفوع راغلي دى؟

جواب: د دې نه درې جوابونه دى كما مر.

وللمؤنث تا وذى وتى و ته الخ: ترجمه: نسبت كولي شي د تا ذى تى ته ذه تهى ذهى اسماء اشاره ته په حال كون د دوى كې چې دا ټول وضع كړې شوى دى د واحد مؤنث مشاراليه لپاره هغه الفاظ د

اسم اشاري چې په هغې سره اشاره کولي شي واحد مؤنث ته تول يوولس دي او اووه دلته ذکر دي او
څلور يې نه دي ذکر کړي د وجې د عدم شهرت نه چې هغه (١) ذه (٢) ته (٣) ذات او (۴) تات دي، د
دې نه معلومه شوه چې ذات درې قسمه راځي (١) اشارتي بمعنىٰ تا (٢) ذات موصولي بمعنى التي
درلغت بني طي (٣) ذات صاحبي بمعنى صاحبه.
سوال: (١): په دې اووه صيغو د اسماء اشاره د واحد مؤنث کې کوم يو اصل دی (٢) او په دې کې بې
دا ذي او تا ولې مقدم کړي دی په دې باقي باندې؟ **جواب:** په اصالت د دې کې اختلاف دی.
(١): **بعض والي** چې تي اصل دی د دې نورونه ځکه د دې تثنيه راځي تان نه د نورو نه.
(٢): **او بعض والي** چې ذي اصل دی ځکه دا مقابل د مذکر دی چې ذا دی نه دا نور، او د وجې د قول
د علماؤ نه په اصالت د دې دواړو باندې يې دا دواړه مقدم کړي دی په دې نورو باندې ځکه دا
اصل دی او باقي فروع دی **ذی** اصل کې ذا وو الف بدل شو په ياء سره او فتحه د ياء بدله شوه په
کسرې سره نو دی شو او **تی** اصل کې تاء وو الف بدل شو په ياء سره او فتحه په کسرې سره **وذه وته**
بقلب الالف والياء هاء بدون وصل الياء **وتهي و ذهي** بوصل الياء بها **ولمثناه تان وتين** او وضع کړي شوي
دی د تثنيه مؤنث لپاره تان په حالت رفعي کې او تين په حالت نصبي جرې کې، **ولجمعها اولاء مدا او
قصرا.** او د جمع مذکر لپاره او د مؤنث لپاره بيا برابره خبره ده که عاقل وي او که غير عاقل وي
وضع کړي شوي دی لفظ د اولاء (١) برابره خبره ده که ممدود وي او که مقصور وي (٢) يا په حال
کون د دې کې چې ممدود يا مقصور يې واخلی نو غالبا دا اولاء او اولی راځي د جمع مذکر عاقل
او جمع مؤنث عاقل لپاره نحو قوله تعالى ﴿ أُولَٰئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴾ او د جمع مذکر غير
عاقل لپاره راځي په طريقه د قلت سره کما في قوله تعالى ﴿ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَٰئِكَ كَانَ عَنْهُ
مَسْئُولًا ﴾ وکما في قول الشاعر!

ذم المنازل بعد منزلة اللوى — والعيش بعد اولئك الايام

او غالبا د جمع مذکر عاقل لپاره تی راځي کما في قوله تعالى ﴿ وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ ﴾
اوس په دې سره دفع د يو اعتراض وشوه اعتراض دا دی چې ته وائي چې تی راځي د واحد مؤنث
مشار اليه لپاره نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د الله تعالى سره چې وتلك الايام؟
جواب: په دې تی سره چې څنګه اشاره کيږي واحد مؤنث ته نو دارنګې په دې سره اشاره جمع مذکر
مکسر، جمع مؤنث سالم، جمع مؤنث مکسر، او اسم جمع ته هم کيدی شي په تاويل د جماعة سره.
پس زده کړه دا خبره چې يو اولی دی بروزن علی او دا واو د همزې نه وروستو ليکلی شوی دی
لپاره د فرق او امتياز په مينځ د اولی اسم اشاره او الی حرف جر کې ځکه د دوی په مينځ کې
تجنيس خطی وو لابدي وه د امتياز نه نو امتياز پکې حاصل شو په کتابت د واو سره وروستو د
همزې نه په دې شان سره چې که وروستو د همزې نه واو ليکلی شوی وو نو دا به اولی وی او که نه
وو ليکلی شوی نو بيا به الي وی او يو اولی مجرد عن اللام دی او بل الالی دی متلبس باللام نو

اولى مجرد عن اللام راځي د جمع مذکر او مؤنث دواړو لپاره او الاولى متلبس باللام د اسماء موصولات نه دي غالبا د جمع مذکر لپاره راځي او کله کله د جمع مؤنث لپاره راځي.

سوال: مدا او قصرا په ترکیب کې څه واقع شوي دي؟ **جواب:** دا منصوب دي بنا پر حالیت د اولاء نه.

سوال: حال محمول وي په ذوالحال باندې او دلته حمل نه صحیح کیږي ځکه اولاء خو مد او قصر نه دي یعني حمل د صرف وصف راځي په ذات باندې؟

جواب: دا مصدر مبني للمفعول دي اى ممدوداً و مقصوراً (٢) یا منصوب دي بنا بر خبر د کان محذوف لپاره فیکون التقدیر اولاء سواء کان ممدودا او مقصوراً او اولاء لغت د حجازینو دي ممدود او اولى مقصور لغت د بني تمیم دي او لغت د حجازین غوره دي د لغت د بني تمیم نه د وجې نه توارد او نزول د قران نه په لغت د حجازین باندې په دې شان سره چې په قران کې ممدود مستعمل دي نه مقصور.

ویلحقها حرف التنبیه: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د تعریف او صیغو د اسماء اشاره نه نو شروع یې وکړه په بیان د احکامو د اسماء اشاره کې.

ترجمه: متصل کیږي او داخلیږي په اول د اسماء اشاره باندې په طریقه د عروض سره، نه په طریقه د جزئیت سره **حرف التنبیه** هغه حرف چې دلالت کوي په ایقاظ د مخاطب باندې لپاره د رفع د غفلت د سامع نه لپاره د دې چې لازم نه شي لغویت د اشاره د متکلم د وجې د غفلت د سامع نه، چې هغه هاء ده.

تشریح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دي او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دي؟

جواب: ربط د ماقبل سره دا دي چې مخکې بیان د صیغو د اسم اشاره وو اوس بیان د حکم د اسم اشاره کوي او په معرفت د ربط سره غرض د مصنف هم معلوم شو چې غرض د مصنف د دې عبارت نه بیان د حکم د اسم اشاره دي چې اتصال د هاء تنبهي دي په اول د اسم اشاره پورې.

سوال: دا هاء تنبهي ولې داخلیږي په اول د اسم اشاره باندې **جواب:** لپاره د ایقاظ دمخاطب.

سوال: متکلم په ها تنبهي سره ایقاظ د مخاطب ولې کوي؟ **جواب:** لپاره د رفع د غفلت د سامع نه.

سوال: رفع د غفلت د سامع نه ولې کوي؟ **جواب:** لپاره د دې چې لازم نه شي لغویت د اشاره د متکلم د وجې د غفلت د سامع نه.

سوال: لحوق وئیلی کیږي اتصال بعدي ته او دا حرف تنبیه خو متصل کیږي په اول د اسم اشاره پورې نه په اخیر پورې نو ویلحقها څنګه وائي؟

جواب: دلته یلحق په معنی د یدخل سره دي، یعني لحوق نه مراد اتصال قبلي دي نه بعدي.

سوال: هر کله چې یلحق په معنی د یدخل سره دي نو یدخل یې ولې ونه ویل چې یلحق یې وویل؟

جواب: یلحق یې وویل نه یدخل په دې کې یې اشاره وکړه دیته چې دا هاء تنبهي داخلیږي په اول د اسم اشاره باندې په طریقه د عروض سره بې د جزئیت نه او که یدخل یې ویلی وی نو هغې په دې عروض باندې دلالت نه کوو.

سوال: په حرف التنبيه کې اضافت د دال راغلي دي مدلول ته يعنى هغه حرف چې دلالت کوى په ايقاظ د سامع او مخاطب باندې او حروف تنبيه درې دى (١) الا (٢) اما (٣) ها، نو دلته د حرف تنبيه نه کوم مراد دى؟ **جواب:** اضافت د حرف التنبيه ته، اضافت عهد خارجي دى مراد په دې سره هاء تنبهى ده ځکه الا او اما داخلېږي په جمله باندې او هاء تنبهى په جمله باندې هم داخلېږي او په مفردات د اسماء اشاره باندې هم داخلېږي.

ويتصل بها حرف الخطاب: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د حکم اول د اسماء اشاره نه چې لحوق د هاء تنبهى وو نو شروع يې وکړه په حکم ثانى د اسماء اشاره کې چې اتصال د حرف خطاب دى نو وى ويل چې و يتصل بها الخ

ترجمه: متصل کيږي په اخير د اسماء اشاره پورې **حرف الخطاب** هغه حرف چې دلالت کوى په حالت د مخاطب باندې په اعتبار د افراد تثنيت جمعيت تذکير او تانيث سره

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دى او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دى.

جواب: ربط دا دى چې د دې ځاى پورې يو حکم بيان شو اوس بل حکم بيانوى. او غرض د مصنف هم معلوم شو چې بيان د حکم ثانى د اسم اشاره دى.

سوال: په اخير د اسم اشاره پورې حرف خطاب ولې متصل کيږي؟

جواب: لپاره د دې چې دلالت وکړي په احوالو د مخاطب باندې افراداً تثنيةً الخ ځکه اسم اشاره دلالت کوى په احوالو د مشار اليه باندې او په احوالو د مخاطب باندې دلالت نه کوي پس لابدي شوه د اتصال د يو حرف نه چې هغه دلالت کوى په احوالو د مخاطب باندې او هغه کاف حرفي خطابى دى.

سوال: دا کوم کاف چې متصل کيږي په اخير د اسم اشاره پورې ديته کاف ضميرى خطابى ولې نه وائي چې کاف حرفي خطابى ورته وائي؟ **جواب:** (١) دا کاف حرفي خطابى دى نه کاف ضميرى د وجى د عدم وقوع د اسم ظاهر نه په موضع د ده باندې او د کاف ضميرى خطابى په ځاى باندې ځاى باندې بل اسم نه شي راوړي لکه ضربتك کې ضربت زيدا ويل جائز دي او په ذلك کې د کاف حرفي خطابى په ځاى باندې بل اسم نه شي راوړي دادليل د حرفيت دى.

سوال: بيا خو ضمير مستتر د اضرب او تضرب وغيره ته هم حرف ووايه د وجى د عدم وجود د اسم ظاهر نه په موضع د هغه باندې؟ **جواب:** عدم وقوع د اسم ظاهر په موضع د يو شيئ باندې دليل د حرفيت هله دى چې په هغه شيئ کې بله علامه د اسم نه وي موجود او په ضمير د اضرب او تضرب وغيره کې بله علامه د اسم شته دى چې هغه کون د دې دى مسند اليه (٢) يا دا کاف حرف خطابى دى نه ضميرى ځکه که کاف ضميرى وى نو ذلك به مضاف او مضاف اليه وو او دا خو مضاف اليه نه دى ځکه لا يضاف اسم الاشارة لانه معرفة، او اتصال د کاف ضميرى په اسم پورې بدون الاضافة نه راځي پس معلومه شوه چې دا کاف حرفي خطابى دى نه ضميرى.

او كاف خلور قسمه دی (۱): كاف اسمي بمعنى مثل نحو يضحكن عن كالبرد المنهم (۲): كاف اسمي ضميري نحو ضربتك (۳): كاف حرفي جاره نحو زيد كالاسد (۴): كاف حرفي خطابي
وهي خمسة دا حروف خطاب پنځه دی، ك، كما، كم، ك، كن، په اشتراك د تثنيه سره چې كما دی په مابين د تثنيه مذكر او تثنيه مؤنث كې، او دی پنځه حروف خطاب لره چې ضرب وركړي **فی خمسة** په پنځه نوعو د اسم اشاره كې چې،ذا، ذان، تا، تان، او لاء دی **فيكون خمسة وعشرين** پس كيږي حاصل الضرب پنځه ويشت، **وهی** او هغه پنځه ويشت دا دی ذاك او ما سوا د ذاك تر ذاكن پورې او ذانك او ماسوا د ذانك تر ذانكن پورې نحو قوله تعالى ﴿ فَذَانِكَ بُرْهَانَانِ مِن رَّبِّكَ ﴾ **وكذا البواقی** او دغسې گردان كوه د باقي اسماء اشارات د حرف خطاب سره.
تشريح: سوال: وهی خمسة كې دا هی ضمير چاته راجع دی؟ **جواب:** دا راجع دی حرف خطاب ته.
سوال: دا خو مطابقت رانغلو بين الراجع والمرجع ځكه هی ضمير مؤنث دی او حرف مذكر دی؟
جواب: ضمير چې دائر شي بين المرجع والخبر نو رعايت د خبر اولی دی او دلته هم رعايت د خبر شوی دی چې خمسة دی (۲) دا لفظ د حرف په شان د لفظ د حال او سبيل دی د ده سره معامله كولي شي معامله د مذكر او د مؤنث دواړو نو ځكه يې ورته ضمير د مؤنث راجع كړی دی.
سوال: د عقل تقاضه خو دا ده چې حروف خطاب شپږ شي د اولی پنځه شو؟
جواب: صحيح ده د عقل تقاضه خو دا وه چې شپږ دی راشي، واحد مذكر، تثنيه مذكر، جمع مذكر، واحده مؤنث، تثنيه مؤنث، جمع مؤنث، ليكن دا پنځه راځي ځكه دا يو، صيغه مشتركه ده په مينځ د تثنيه مذكر او تثنيه مؤنث كې.
سوال: دلته د دې اول خمسة نه پنځه حروف خطاب مراد دی، او د دويم خمسة نه پنځه اسماء اشاره مراد دی او اسماء اشاره خو پنځه نه دی بلكه زيات دی نو مصنف څنگه خمسة وائي؟
جواب: اسماء اشاره ته يې پنځه ويلی دی په اعتبار د انواع سره او انواع د اسماء اشاره پنځه دی، (۱) واحد مذكر (۲) تثنيه مذكر (۳) واحد مؤنث (۴) تثنيه مؤنث (۵) جمع مذكر او مؤنث، ضرب په دوه قسمه دی (۱) يو ضرب د اهل حساب دی (۲) او بل ضرب د فقهاؤ دی، نو ضرب په اصطلاح د اهل حساب كې ويلی كيږي تكثير د هر فرد د مضروب ته په قدر د عدد د مضروب فيه سره، او دا زياتی قبلوی لكه څلور چې په څلور كې اوهی نو شپاړس جوړيږي.
(۲): او ضرب په اصطلاح د فقهاؤ كې ويلی كيږي تكثير د اجزاؤ د مضروب ته په قدر د عدد د مضروب فيه سره او په دې كې زياتی نه راځي لهذا هغوی وائي چې يو سړي خپلی ښځی ته ووائي چې انت طالق اثنين فی اثنين نو نه مغلظه كيږي يعنی دوه طلاق واقع كيږي نه څلور ځكه ضرب عند الفقهاء زياتی نه قبلوی په مضروب كې او دلته مراد ضرب د اهل حساب دی نه ضرب د فقهاؤ نو ځكه چې پنځه حرف خطاب لره ضرب وركړي شي په پنځه انواع د اسم اشاره كې نو پنځه ويشت جوړيږي.

پنځه انواع د اسم اشاره کې نو پنځ
سوال: دی پنځه حرف خطاب لره چې ضرب ورکړي شي په پنځه
ويشت څنګه جوړيږي؟ **جواب:** طريقه د ګردان يې دا ده چې د اسماء اشاره نه يو يو راواخله او
پنځه حرف خطاب ورسره لګوه لکه اول يې د **ذا** سره ولګوه. ذاك، ذاكما، ذاكم، ذاك، ذاكن، بيا
د **ذان** سره ولګوه ذانك، ذانكما، ذانكم، ذانك، ذانكن، الخ
سوال: الى په دوه قسمه دی، يو لپاره د مد د حکم. او بل لپاره د اسقاط دما و راء، الى چې راځي د
اسقاط د ما و راء لپاره نو هغه ثابتوی حکم ماقبل لره او مدخول تحيل لره او ساقطوی يې د ما و راء
او دهغې علامه دا ده چې سر د کلام به متناول وی مدخول د الى لره نحو قوله تعالى ﴿فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ
وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ﴾ او الى چې راځي د مد د حکم لپاره نو هغه حکم راکاږي تر مدخول پورې او
مدخول لره حکم نه ثابتوی او د هغې علامه دا ده چې سر د کلام به متناول نه وی مدخول د الى لره نحو
قوله تعالى ﴿أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ﴾ اوس دلته کوم الى مراد دی يو هم نه صحيح کيږي که اسقاطی يې
واني نو مدخول د الى داخل شو په ماقبل کې ليکن د هغې علامه دا ده چې سر د کلام به متناول وی
مدخول د الى لره او دلته سر د کلام متناول نه دی مدخول د الى لره ځکه د ذاك اطلاق په ذاكن باندې نه
کيږي او که الى مدی واني نو بيا ذاكن داخل نه شو په ماقبل کې او دا باطل دی؟
جواب: دا الى اسقاطی دی او سر د کلام متناول دی مدخول د الى لره ځکه چې دا عبارت په حذف د
معطوف سره دی فيکون التقدير وهی ذاك وماسواه الى ذاكن، او ماسواه متناول دی ذاكن لره.
ويقال ذاللقريب وذلك للبعيد وذاك للمتوسط: **ربط:** هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د احکامو د اسماء
اشاره نه نو شروع يې وکړه په بيان د فرق استعمالي د اسماء اشاره کې په طريقی د حوالی سره نو
وی ويل چې ويقال ذاللقريب الخ
ترجمه: ويلی کيږي چې **ذا** د اسماء اشاره نه راځي د مشاراليه قريب لپاره ځکه په دې کښې حروف
کم دی او قلت د حروفو دلالت کوی په قلت د مسافت باندې او **ذلك** د اسماء اشاره نه راځي د
مشاراليه بعيد لپاره ځکه په دې کې حروف زيات دی او کثرت د حروف دلالت کوی په کثرت د
مسافت باندې، او **ذاك** د اسماء اشاره نه راځي د هغه مشاراليه لپاره چې واقع شوی وی په مينځ د
قريب او د بعيد کې ځکه په دې ذاك کې نه دا حروف بالکل کم دی په شان د ذا باندې او نه بالکل
زيات دی په شان د ذلك باندې بلکه دا حروف د دې درميانه دی او متوسط دی او توسط د حروف
دلالت کوی په توسط د مسافت باندې، او هر کله چې معرفت د متوسط موقوف وو په معرفت د
طرفين پورې چې قريب او بعيد دی نو مقدم يې کړو بعيد په متوسط باندې اګر که متوسط مخکې
دی د بعيد نه په وجود خارجي کې او هر کله چې دا اسماء اشاره احدهما مستعل کيده په مقام د اخر
باندې پس ونه کړخوو مصنف دا فرق په مينځ د اسماء اشاره کې مذهب خپل بلکه حواله يې کړه بل
چا ته په يقال سره په دې کې يې اشاره وکړه ضعف ته يا اختلاف ته.

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟
جواب: ربط د دې د ماقبل سره دا دی چې مخکې بیان د احکامو د اسم اشاره وو او دا بیان د فرق استعمالی اسماء اشاره دی او غرض د مصنف هم معلوم شو چې بیان د فرق استعمالی دی په دې شان سره چې ذا راځي د قریب لپاره ذاك د متوسط لپاره او ذا د بعید لپاره
سوال: ذا د مشارالیه قریب لپاره ولې راځي ذاك د متوسط او ذانك د بعید لپاره ولې راځي؟
جواب: ذا راځي د قریب لپاره ځکه چې په دې کې حروف کم دی او قلت د حروفو دلالت کوی په قلت د مسافت باندې او ذانك راځي د بعید لپاره ځکه په دې کې حروف زیات دی او کثرت د حروفو دلالت کوی په کثرت د مسافت باندې او ذاك کې حروف متوسط دی او توسط د حروفو دلالت کوی په توسط د مسافت باندې
سوال: دا فرق استعمالی مصنف په طریقه د جزم او یقین سره ولې ذکر نه کړو چې په یقال سره یې کړو؟ **جواب:** هر کله چې فرق کلی په مینځ د دې اسماء اشاراتو کې نه وو ثابت په استعمال د کلام د عربو کې په دې شان سره چې احدهما مستعمل کیږي په مقام د اخر باندې پس ونه گرځوو مصنف دا فرق استعمالی په مینځ د دې اسماء اشاراتو کې مذهب خپل بلکه دا خبره یې وکړه په طریقې د حوالی سره خپل ځان یې د اعتراض نه بچ کړو او په یقال صیغه د مجهول کې یې اشاره وکړه ضعف ته ځکه فرق کلی نه دی ثابت په مینځ د دې اسماء اشاراتو کې په دې شان سره چې دا ذلك چې څنگه د مشارالیه بعید لپاره راځي دارنگې د قریب لپاره هم راځي کما فی قوله تعالی ﴿ ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ فِيهِ ﴾ (۲) او بل یې په یقال کې اشاره وکړه اختلاف ته په دې شان سره چې بعض وائي چې ذا د قریب لپاره راځي او ذاك د متوسط لپاره او ذلك د بعید لپاره، او بعض وائي چې ذا لکه څنگه چې راځي د قریب لپاره نو دارنگې د بعید او متوسط لپاره هم راځي وکذ البواقي
بهر حال په دې کې دا فرق کلی نه دی بلکه اکثري دی ځکه بعض په ځای د بعض باندې مستعمليږي، او که ومنو چې دا فرق کلی دی نو بیا احدهما مستعمليږي په مقام د اخر باندې مجازاً
سوال: اول مرتبه د قریب ده بیا د متوسط ده او بیا د بعید ده نو دا متوسط مقدم دی په بعید باندې وو په وجود خارجي کې نو تا دلته بعید ولې مقدم کړو؟ **جواب:** هر کله چې معرفت د متوسط موقوف وو په معرفت د طرفین پورې چې قریب او بعید دی په دې شان سره چې اول سړي قریب او بعید پیژني نو د هغې نه بعد متوسط پیژندي شي والافلا نو معرفت د قریب او بعید موقوف علیه وو لپاره د معرفت د متوسط او موقوف علیه مقدم وی په موقوف باندې ځکه یې بعید مقدم کړی دی. **وتلك و ذانك و تانك مشددتين و اولالك مثل ذلك: ربط:** هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د فرق استعمالی نه په واحد مذکر اسم اشاره کې نو شروع یې وکړه په بیان د فرق استعمالی د واحد مؤنث، تثنیه مؤنث، تثنیه مذکر، او جمع، اسم اشاره کې.

ترکیب: **تلك** معطوف علیه او ذانك او تانك او اولالك عطف دی په تلك باندې معطوف علیه سره د معطوفات نه مبتدا **او مثل ذلك** مضاف مضاف الیه ورله خبر دی مبتدا سره د خبر نه جمله خبریه اسمیه
ترجمه: تلك صیغه د واحد مؤنث اسم اشاره او تانك او ذانك تثنیه مذکر او تثنیه مؤنث اسم اشاره په حال کون د دې دواړو کې **مشددتین** چې په تشدید د نون سره یې واخلې **او اولالك** صیغه جمع مذکر و مؤنث اسم اشاره په شان د لفظ د ذلك دی (۲) یا په شان د دغه مذکور دی چې ذلك دی په دې شان سره لکه څنګه چې ذلك د مشار الیه بعید لپاره راځي نو دارنګې دا اسماء اشاره هم د مشار الیه بعید لپاره راځي.
تشریح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟
جواب: ربط د ماقبل سره دا دی چې مخکې یې بیان د فرق استعمالی د واحد مذکر اسم اشاره وکړو اوس بیانوی فرق استعمالی د تثنیه مذکر تثنیه مؤنث او جمع اسم اشاره او په معرفت د ربط سره غرض د مصنف هم معلوم شو چې بیان د فرق استعمالی د واحد مؤنث تثنیه مؤنث تثنیه مذکر او جمع اسم اشاره دی، په دې شان سره چې تی، راځي د مشار الیه قریب لپاره او تاك راځي د مشار الیه متوسط لپاره او تلك راځي د مشار الیه بعید لپاره او تان راځي د مشار الیه قریب لپاره او تانك په تخفیف د نون سره راځي د مشار الیه متوسط لپاره او **تانك** په تشدید د نون سره راځي د مشار الیه بعید لپاره او **ذان** راځي د مشار الیه قریب لپاره **ذانك** بالتخفیف راځي د مشار الیه متوسط لپاره او **ذانك بالتشدید** راځي د مشار الیه بعید لپاره او **اولی** او **اولاء** راځي دمشار الیه قریب لپاره او **اولاك او اولاءك** راځي د مشار الیه متوسط لپاره او **اولالك** راځي د مشار الیه بعید لپاره.
سوال: په تانك، او ذانك کې دا تشدید د نون د کوم ځای نه راغلی دی؟
جواب: په دې کې دوه مذهبه دی (۱) یو مذهب د جمهورو دی (۲) او بل مذهب د مبرد دی.
جمهور وائي چې دا تشدید د نون راغلی د هغه نون د وجې نه چې هغه راغلی دی په عوض د الف مفرده محذوفه کې په دې شان سره چې ذانك، او تانك اصل کې ذا او تا وو کله چې علامات د تثنیه یعنی الف او نون په دې پورې متصل شو نو هغه الف د مفرد حذف شو د وجې د التقاء د ساکنین نه بیا د هغه په عوض کې نون راوړې شو او په دې نون د تثنیه کې مدغم شو نو ذانك او تانك شو.
او مبرد وائي چې دا تشدید د نون راغلی دی د هغه نون د وجې نه چې هغه راغلی دی بدل د لام نه ځکه ذانك او تانك اصل کې ذان لك او تان لك وو بیا نون او لام قریب المخرج یو ځای راغلل لام بدل کړې شو په نون او نون په نون کې مدغم شو نو ذانك او تانك شو او نون مو بدل نه کړو په لام سره ځکه دا علامه ده، خو دا مذهب د مبرد ضعیف دی بالوجوه الاربعة.
(۱): یو د اخلاف دی د قاعدې د ادغام نه ځکه قاعده د ادغام دا ده چې اجتماع د حرفینو متقاربی المخرج چې راشي نو اول ثانی ته اړولې شي او دلته ئې ثانی اول ته اړولې دی.
(۲): دویم د دې وجې نه چې لام البعد په تثنیه د اسماء اشاره کې نه راځي نو نون بدل د لام نه څنګه راغی.

(۳) کله کله د دې ذانك او تانك په اول سر کې ها تنبيهی راځي او قانون دا دی چې ها تنبيهی چې په کوم اسم اشاره باندې داخل شي په هغې کې لام البعد نه راځي نو دا بدل د لام نه څنګه راغي.
(۴) دغسې تشديد راځي په اللذان او اللتان تثنيه د الذی او التی کې او هلته کې خو دا نون عوض دمحذوف د الذی او التی مفرد نه راغلي دی او دا حذف شوی دی التقاء د ساکنين د وجه نه نو د تثنيه سره دغسې ذان او تان کې دا تشديد د نون عوض د الف د مفرد نه راغلي دی او هغه الف حذف شوی دی التقاء د ساکنين د وجه نه كما قال ابن مالك.

والنون من ذين و تين شددا ايضاً وتعويضٌ بذاك قصدا

پس زده کړه دا خبره چې لام البعد په تثنيه د اسماء اشاره کې نه راځي (۲) بلکه لام البعد راځي په مفرد د اسماء اشاره کې په دې شرط سره چې په اول کې يې ها تنبيهی نه وه راغلي او که ها تنبيهی پکې راغلي وه نو بيا په هغې کې هم نه شي راتلي (۱) څکه ها تنبيهی دلالت کوی په قرب د مشار اليه باندې او لام دلالت کوی په بعد د مشار اليه باندې او په دې دواړو کې منافات دی
(۲) السند عليه التتبع والاستقراء (۳) لپاره د دې چې کثرت د زوايدو رانه شي.
(۳) دا لام البعد په جمع د اسم اشاره کې راځي په دې شرط سره چې ممدود نه وی بلکه مقصور وی او په مقصور کې راځي په دې شرط سره چې په اول کې يې ها تنبيهی راغلي نه وي نحو اولالك.
سوال: مشددتين منصوب دی او منصوبات (۱۲) دی دا کوم يو دی؟ **جواب:** دا خبر دی د كان محذوفه لپاره فيكون التقدير و ذانك و تانك ان كانتا مشددتين (۲) يا مفعول به واقع شوی دی لپاره د فعل مقدر ای اعنی مشددتين (۳) دا منصوب دی بنا بر حاليت دا حال دی د ذانك و تانك نه
سوال: مثل ذلك کې ذلك اسم اشاره ده د دې مشار اليه کوم دی؟ **جواب:** (۱) ذلك په دې مقام کې اسم شاره نده بلکه دا مراد اللفظ علم دی د هغه ذلك لپاره چې واقع کيږي په تراكيب کې په شان د تلك تانك ذانك او اولالك باندې لهذا دا تقاضه د مشار اليه نه کوي (۲) او که اومنم چې دا اسم اشاره ده نو مشار اليه د دې لپاره هغه ذلك مذكور دی په وذلك للبعيد کې
ومن علم البيان: (۱) تلك تانك الخ مشبه دی او ذلك مشبه به دی او دا تشبيه التسويه ده په شان د دې قول د شاعر باندې!

صدغ الحبيب وحالی كلاهما كالليالی وثغره فی صفاء وادمعی كاللالی

(۲) او دا تشبيه مجمله ده نه مفصله څکه وجه د شبه پکې نده مذکوره (۳) او دا تشبيه مرسله ده نه مؤکده څکه ادات د تشبيه ذکر دی چې مثل دی (۴) دا تشبيه مقبوله ده نه مردوده څکه دا تشبيه دلالت کوی په غرض او مقصد د متکلم باندې چې بيان د تلك تانك الخ د اسماء اشاره دی يعنی د دې حال مونږ ته معلوم شو د مشبه به نه چې ذلك دی په دې تشبيه سره په دې شان سره چې ذلك راځي د مشار اليه لپاره نو تلك تانك الخ هم راځي د مشار اليه بعيد لپاره

واما ثم وهنا و هنا فللمكان خاصة: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د هغه اسماء اشاره نه چې په هغې سره اشاره کیږي زمان او مکان او غیر هما ته نو شروع یې وکړه په بیان د هغه اسماء اشاره کې چې په هغې سره اشاره کولي شي مکان ته فقط نه بل شئ ته نو وي ویل واما ثم وهنا الخ

ترجمه: هر چې دی **ثم** په فتحې د ثاء او تشدید د میم سره **وهنا** او لفظ د هنا په ضمې د هاء او تشدید د نون سره دا وضع کړي شوي دي د مشارالیه مکان لپاره **خاصة** زه خاص کوم دغه اسماء اشارات په مشارالیه مکان پورې په خاص کولو سره په دې شان سره چې په دې سره اشاره کیږي مشارالیه مکان ته حقیقتاً او اشاره پرې زماني ته کیږي مجازاً

تشریح: سوال: دا ثم هنا الخ یې د باقي اسماء اشارات نه جدا ولې ذکر کړه دا یې د هغې سره یو ځای ولې نه ذکر کولو؟ **جواب:** هر کله چې په ثم هنا الخ سره اشاره کیدله مکان ته فقط په خلاف د باقي اسماء اشارات نه چې په هغې سره اشاره کیږي مکان زمان وغیر هما ته نو دا یې ذکر کړه په جدا عنوان سره لپاره د امتیاز د باقي اسماء اشارات نه او **ثم** په فتح د ثاء او تشدید د میم سره اسم دی د اسماء اشارات نه په دې سره اشاره کیږي مکان بعید ته، مکان عام دی که حقیقي وي او که فرضي وي (١) وهو ظرف مکان لایتصرف (٢) حرف تنبیه اول طرفه نه (٣) او حرف خطاب اخر طرف نه نه متصل کیږي، او ثم په ضمې د ثاء او تشدید د میم سره حرف دی د حروف عاطفو نه د عطف لپاره راځي نه د اشارې لپاره.

سوال: ته وائې چې هنا ههنا هنا د مکان لپاره راځي نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د الله تعالی سره چې ﴿ هُنَالِكَ الْوَلَايَةُ لِلَّهِ الْحَقِّ ﴾ دلته په هنالك سره اشاره شوې ده زمان ته نه مکان ته؟

جواب: په دې هنا سره اشاره مکان ته کیږي حقیقتاً او زمان ته کیږي مجازاً نه حقیقتاً او دلته هم په دې سره اشاره زمان ته شوې ده مجازاً.

سوال: خاصة ولې منصوب دی؟ **جواب:** دا منصوب دی بنا بر مفعول مطلق د فعل محذوف لپاره ای اخص خاصة او خاصة مصدر دی بروزن فاعلة بمعنی الخصوص او مصدر کله کله په وزن د فاعلة باندې راځي لکه عافیة عاقبة باقیة کاذبة، او فرق استعمالي په مینځ د اسماء اشارات کې چې وضع شوي دي د مکان لپاره دا دی چې (١) هُنا او ههنا راځي د مشارالیه قریب لپاره (٢) او هناك راځي د مشارالیه متوسط لپاره (٣) او ثم هَنّا هنالك راځي د مشارالیه بعید لپاره

الموصول

ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د قسم ثاني د اسم مبني نه تفصیلاً چې اسماء اشاره وو نو شروع یې وکړه په بیان د قسم ثالث د اسم مبني کې تفصیلاً چې اسماء موصولات دي او هر کله چې موصولات زیات وو په نسبت سره اسماء افعال ته پس مقدم یې کړه موصولات په اسماء افعال باندې لان العزة للتکاثر یا هر کله چې موصولات بمنزلة المفرد وو ځکه دا اسماء دي لفظاً او

معنیٰ او اسماء افعال بمنزلة المرکب وو ځکه هغه په لفظ کې اسماء دي او په معنی کې افعال دي او ځکه چې عين مفرد مقدم وي په مرکب نو بمنزلة المفرد هم مقدم وي په بمنزلة المرکب باندې په ترتيب خارجي کې نو مصنف مقدم کړو په ذکر کې لپاره د دې چې ترتيب ذکري مطابق شي د ترتيب خارجي سره او تفصيل يې مخالف وګرځوو د اجمال نه په دې شان سره چې په اجمال کې يې الموصولات جمع ذکر کړې وه لپاره د دې چې دلالت وکړي په کثرت د افراد باندې او په تفصيل کې يې مفرد ذکر کړو ځکه دا مقام مقام د تعريف دی او تعريف د جنس کيږي په جنس سره او جمع دلالت کوي په افرادو باندې نو بيا لازميږي تعريف د افرادو، او موصول په لغت کې وصل کړده شده ته وائي او موصول معدوده من المبنيات په اصطلاح د نحويانو کې **ما** اسم دی دا سې اسم **لايتم جزء** (۱) چې نه تاميږي جزئيت د دې اسم په هيڅ شي سره **الا** مګر تاميږي جزئيت د ده **بصلة وعائد** په صله او عائد سره (۲) ای لايصير جزأ تاما، يعنی موصول په اصطلاح د نحويانو کې هغه اسم ته وائي چې نه ګرځي جز تام چې **هغه** جز اول د کلام دی چې انحلال د کلام ورته کيږي اولاً **الابصلة** مګر جز تام واقع کيږي په صله او عائد سره او مراد د صلې نه صله لغوی ده چې جملة مذکورة بعد الاسم لايتم الابها ته وائي نه صله اصطلاحی چې جملة خبريه مذکورة بعد الموصول و مشتملة علی ضمير عائد اليه ته وائي، او قرينه په دې خبره چې دلته مراد صله لغوی ده نه اصطلاحي، ذکر د عائد دی وروستو د صلة نه ځکه که مراد د صلې نه صله اصطلاحي شي نو بيا ذکر د عائد وروستو د صلې نه لغوه او مستدرک کيږي ځکه مفهوم د صله اصطلاحي مشتمل دی په عائد باندې، يا مراد د صلې نه صله اصطلاحي ده او تعريف د صله اصطلاحي دا دی چې جملة متصلة باسم لايتم جزء الامع هذه الجملة مشتملة علی عائد اليه، او ذکر د عائد وروستو د صلی نه تصريح بما علم ضمنا ده لپاره د مبالغة في الاحتراز د مثل د اذا او د حيث نه.

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط دا دی چې مخکې بيان د نوع ثاني د اسم مبني وو تفصيلاً او اوس بيان د نوع ثالث د اسم مبني دی تفصيلاً او پدې سره غرض د مصنف هم معلوم شو چې بيان د نوع ثالث د اسم مبني دی تفصيلاً.

سوال: موصولات يې ولې مقدم کړه په اسماء افعال باندې؟ **جواب:** هر کله چې موصولات زيات وو په نسبت سره اسماء افعال ته نو دائې مقدم کړه په هغې باندې اجمالاً وتفصيلاً لان العزة للمتکاثر

(۲) هر کله چې موصولات بمنزلة المفرد وو په دې شان سره چې دا اسماء دی لفظاً او معنیً په خلاف د اسماء افعال نه چې هغه بمنزلة المرکب وو په دې شان سره چې لفظاً اسماء دي او معنی افعال دي او مفرد مقدم وي په مرکب باندې په وجود خارجي کې د دې نه بمنزلة المفرد هم مقدم وي په بمنزلة المرکب باندې په وجود خارجي کې نو ده مقدم کړو په ذکر کې لپاره د دې چې ترتيب ذکري موافق شي د ترتيب خارجي سره

سوال: په جانب د اجمال کې موصولات جمع ذکر وه نو دلته يې الموصول مفرد ولې ذکر کړو يعنې دا تفصيل يې مخالف د اجمال نه ولې ګرځولې دی؟ **جواب:** تفصيل يې مخالف ګرځولي دی د اجمال نه د وجې د يو نکتې نه هغه نکته دا ده چې په جانب د اجمال کې يې جمع ذکر کړې وه اشاره وه کثرت د افرادو ته او دلته يې مفرد ذکر کړو ځکه چې دا مقام مقام د تعريف دی او تعريف د جنس په جنس سره کيږی که جمع ئې ذکر کړې وی نو تعريف د افرادو راتلو او داندې جائز

په موصول کې لابدې ده د معرفت د امور ستهٔ نه (۱) مفهوم لغوی (۲) معرفت د اقسامو (۳) معرفت د تعريف د اقسامو (۴) معرفت د مصداق د اقسامو (۵) معرفت د احکامو (۲) معرفت د تعريف د وجه د بناء، نو موصول صيغه د اسم مفعول ده په لغت کې وصل کرده شده راګويند

او په اصطلاح کې موصول په دوه قسمه دی (۱) موصول حرفي (۲) موصول اسمي

موصول حرفي په اصطلاح دنحويانو کې ويلې کيږي کل حرف أول مع صلته بالمصدر ته او مصداقونه د هغې اوه دی، ما، وأن، و ان، ولو، کی، والذی، وهمزه، السّتوية او ديته مصدريه هم ويلې کيږي، او په دې کې دا اولنې درې مشهور دی په حروف مصدريو کې او دا وروستو څلور غير مشهور دی، او موصول اسمي د نحو يانو په اصطلاح کې

(۱) ما يدل على معين بواسطة جملة تذكر بعده ته وائي (۲) يا موصول په اصطلاح د نحويانو کې مالايتم جزء الابصلة وعائد ته وائي، او احکام مصنف ذکر کوی او مصداقونه د موصول اسمي هم مذکور فى المتن دی، او وجه د بناء يې دا ده چې موصولات مبني دی ځکه دا مشابه دی د مبني اصل سره چې حرف دی په احتياج کې په دې شان سره چې حرف محتاج دی په دلالت على المعنى کې امر خارج ته چې انضمام د کلمه اخری دی او موصول هم محتاج دی په تعين د شئ کې امر خارج ته چې صله ده.

سوال: ته وائي چې موصول په اصطلاح کې مالايتم جزء الابصلة وعائد ته ويلی شي دا تعريف جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو د دې نه لفظ د موصول ځکه لفظ د موصول بې د صلی او د عائد نه جز تام واقع کيږي لکه ته وائي چې الموصول اسم؟ **جواب:** دا اعتراض به تا هله کولې چې په الموصول کې الف لام جنسي وی او مراد په دې سره مايطلق عليه لفظ الموصول وی ليکن دلته الف لام جنسي نه دی بلکه الف لام عهد خارجي دی او مراد په دې سره موصولات معدوده من المبنيات دی او لفظ د موصول د موصولات معدوده من المبنيات نه ندی، يعنی دا د افرادو د معرّف نه نهٔ دی نو که تعريف پرې صادق نه شي نو خير دی.

سوال: جزء منصوب دی او په دې کې درې احتما له دی (۱) يو دا دی چې منصوب شي بنابر مفعول مطلق (۲) چې منصوب شي بنابر حاليت (۳) چې منصوب شي بنابر تميز، او دا درې وارړه نه دی صحيح مفعول مطلق ځکه نه دی صحيح چې مفعول مطلق مصدر فعل مذکور ته وائي او جزء مصدر د يتم نه دی او که منصوب يې وائي بنابر تميز نو بيا لازميږي فساد د معنى ځکه تميز

چې واقع شي دنسبت د فعل نه فاعل ته نو دا تميز محول عن الفاعل وي يعنى دغه تميز فاعل د فعل وي په معنى کې نو بيا کيږي معنى دارنګې چې موصول هغه اسم دى چې نه تاميږي جز د دې اسم په هيڅ شئ سره مګر په صله او په عائد سره او دا معنى باطله ده ځکه مقصود دلته دا دى چې دا موصول په خپله جز تام نه واقع کيږي الابصلة وعائد او که منصوب يې وائي بنابر حاليت نو بيا دا ترکيب مؤدى د مراد د مصنف نه دى ځکه معنى به يې داسې چې موصول په اصطلاح کې يو اسم دى چې نه تاميږي په حال کون د دې کې چې جزى واخلي نو معنى دا شوه چې دا تام دى خو جز نه دى او معنى مراده دا ده چې جز دى خو تام نه دى او دا معنى بنا ده په يو قاعده باندې قاعده دا ده چې نفى چې داخل شي په يو کلام باندې او دغه کلام مقيد وي په يو قيد سره نو دا نفى متوجه کيږي دغه قيد ته او مقيد باقي پاتې کوى نو دلته دالاي نفى داخل شوى دى په کلام باندې چې بتم دى او دا تقيد دى په يو قيد سره چې جزء دى نو د لا متوجه شوه دى قيد ته چې جزء دى نو نفى د جزء يې وکړه او باقى کلام مثبت پاتې شو. **جواب**: (۱): دا جزء زه منصوب وايم بنابر تميزاو جزء په معنى د جزئيت سره دى نو کيږي معنى دارنګې چې لايتم جزئية الابصلة وعائد او دا معنى صحيح ده (۲): يا دا جزء منصوب دى بنابر خبريت د لايتم لپاره ځکه لايتم فعل دى د افعال ناقصه غير مشهورو نه بمعنى لايقع ولايصير فيکون المعنى لايصير جزءً تاماً الابصلة وعائد نو دا نفى متوجه ده قيد ته چې تاماً دى نو نفى د قيد يې وکړه او جزء يې باقي پاتې کړو.

سوال: جزء منصوب واقع شوى دى بنابر حاليت او که ته وائي نفى متوجې ده قيد ته نو فساد د معنى راځي **جواب**: نفى چې داخل شي په کلام باندې چې هغه مقيد وي په يو قيد سره نو په هغى کې درې صورتونه دى (۱) غالباً نفى د قيد کوى (۲) کله کله نفى د مقيد کوى نحو قوله تعالى: ولم صروا على ما فعلوا و هم يعلمون (۳) کله نفى د قيد او د مقيد دواړو کوى او دا ترکيب د مصنفؒ د قبيلې د دى قول د الله تعالى نه دى ولم يصروا الخ فافهم.

سوال: جزء تام څه وائي؟ **جواب**: شيخ رضى وائي چې جز تام عمده د کلام ته وائي نو معنى دا شوه چې دا موصول بى د صلى نه عمده د کلام نه واقع کيږي يعنى دا مبتدا فاعل خبر وغيره نه واقع کيږي، او جامي صاحب وائي چې جز تام جز اولى د کلام ته وائي نو په دې کې جامي صاحب رد وکړو په شيخ رضى باندې لکه موصول بى د صلې او عائد نه لکه څنګه چې عمده د کلام نه واقع کيږي دارنګې فضله هم نه واقع کيږي لکه مفعول به شو لهذا مذهب د جامى صاحب غوره دى د مذهب د شيخ رضى نه.

سوال: جز اولى د کلام څه ته وائي؟ **جواب**: جز د کلام په دوه قسمه دى، يو جز اولى دى او بل جز ثانوى دى جز اولى د کلام هغې ته وائي چې انحلال د کلام ورته کيږي اولاً او جزثانوى هغې ته وائي چې انحلال د کلام ورته کيږي ثانياً مثال د دواړو لکه جاءنى الذى ضربك دا موصول سره د صلې

نه جز اولی د کلام دی ځکه چې انحلال د کلام ورته کیږي اولاً او دا الذی بدون الصلة جز ثانی د کلام دی ځکه چې انحلال د کلام ورته کیږي ثانیاً

سوال: موصول صیغه داسم مفعول ده او قانون دا دی چې د هر مشتقي په خیته کې مصدر پروت وی او وروستو په تعریف کې صله ذکر ده نو دا خو اخذ د محدود راغي په حد کې او تعریف د صله راغي په صلی سره او دا باطل دی؟ **جواب:** (۱) دا موصول د صفتیت نه نقل شوی دی او علم ګرځیدلې دی د یو نوع داسم لپاره نو دا اسم جامد دی لهذا د دې په خیته کې صله نشته

(۲) اوکه اومنم چې دا صیغه د مشتقي ده او صله پکې شته نو بیا هم اخذ د محدود په حد کې او تعریف د شئ بنفسه نه راځي ځکه کومه صله چې مذکوره ده په ضمن د موصول کې هغه صله اصطلاحي ده او په تعریف کې چې صله ذکر ده دا صله لغوی ده نه اصطلاحي، او په دې سره یو بل اعتراض هم دفع شو اعتراض دا دی چې دا تعریف د موصول باطل دی ځکه چې دا مستلزم دی دورلره او کوم تعریف چې مستلزم وی دورلره هغه باطل وی نو دا باطل شو کبری ظاهره ده او دلیل د صغری دا دی چې دا تعریف مستلزم دورلره ځکه دی چې موصول په تعریف کې محتاج دی صلې ته او صله په تعریف کې محتاج ده موصول ته ځکه چې صله په اصطلاح کې ویلې کیږي جملة خبرية مذكورة بعد الموصول مشتملة بعائد له نو جواب (۱) وشو چې دا اعتراض به هله وارد کیده چې مراد د صلی نه صله اصطلاحي وی لیکن دلته په تعریف د موصول کې د صلې نه مراد صله لغوی ده نه اصطلاحي او صله په لغت کې جملة مذكورة بعد الاسم لايتم الابها ته وائي نو موصول محتاج دی په تعریف کې صله لغوی ته او صله لغوی متحاج نده موصول ته نو دور نشته.

سوال: مصنف خو صله مطلقه ذکر کړې ده نو ته ترې صله لغوی څنګه مراد کوی؟

جواب: قرینه په دې خبره باندې چې دلته د صلې نه مراد صله لغوی ده نه اصطلاحي ذکر د عائد دی وروستو د صلی نه ځکه که صله اصطلاحي مراد شي نو ذکر د عائد وروستو د دې نه لغوه کیږي ځکه چې عائد ماخوذ دی په مفهوم د صله اصطلاحي کې

(۲) یا جواب دا دی چې مراد د صلی نه صله اصطلاحي ده خو صله په اصطلاح کې جملة مذكورة بعد الموصول مشتملة بعائد لهٔ ته نه وائي بلکه صله په اصطلاح کې ویلی کیږي جملة متصلة باسم لايتم جزء الامع هذه الجملة مشتملة على عائد اليه ته وائي نو صله اصطلاحي محتاج نه شوه موصول ته په تعریف کې نو دور نشته

سوال: بیا خو ذکر د عائد وروستو د صلی نه لغوه دی ځکه چې صله اصطلاحي په دغه تعریف باندې هم مشتمله ده په عائد باندې؟ **جواب:** ذکر د عائد وروستو د صلی نه تصریح بما علم ضمناً ده لپاره د مبالغه فی الاحتراز د مثل د اذ او د حیث نه، لیکن هغه اول جواب غوره دی د دې جواب نه ځکه په دې کې لازمیږي لغویت د عائد، او بل دا تعریف خلاف دی د مشهور نه ځکه چې د صله طلاحي تعریف عند النحات هغه بل دی او دا تعریف غیر مشهور دی

په هر تعریف کې لابدي وی د جنس او فصل نه، ما عبارت دی د اسم نه دا جنس دی ټول اسماء پکې داخل شو لایتم جزء الابصلة. فصل اول دی په دې سره خارج شو ټول اسماء د تعریف نه ماسواء د اذ، اذا، او حيث نه، ځکه دا هم اسماء دی او لایتم جزء الابصلة دی او عائد فصل ثانی دی په دې سره احتراز راغي د اذ، اذا، او حيث نه ځکه صله د هغې مشتمله نه وي په عائد باندې نو تعریف د موصول جامع او مانع شو.

وصلته جملة خبرية والعائد ضميرله: ربط: هر کله چې ماخوذ وو په تعریف د موصول کې صله او عائد او وضاحت د معرف موقوف وی په معرفت د جمیع اجزاؤ د تعریف پورې او صله په اعتبار د مفهوم سره عامه وه که جمله خبریه وی او که انشائیه وی او عائد هم عام وو که ضمیر وی او که غیر ضمیری وی او ضمیر عام دی چې راجع وی موصول ته او که نه وي وی راجع پس لاندې شوه د معرفت د صلې او د عائد نه نو ځکه مصنف د صلې او د عائد تعریف وکړو په وصلته جملة خبرية والعائد ضميرله سره لپاره د وضاحت د معرف.

ترجمه: وصلته صله د موصول **جملة** جمله راځي یا هغه شئ چې په معنی د جملې سره وی لکه اسم فاعل او اسم مفعول شو او مفرد صله د موصول نه راځي ځکه موصول واضع وضع کړي دی ذریعه لپاره د توصیف د معرفه په جملې سره نو مدخول د دې به نه وي مګر جمله به وی.

(۲): یا د دې وجې نه چې موصول مبهم دی او د دې بیان کیږي په نسبت معلومه سره او نسبت نه وي مګر په جمله کې وی **خبرية** او دا جمله به خبریه وی نه انشائیه ځکه چې په دې صلې سره بیان د دغه موصول کیږي او جمله انشائیه د چا لپاره بیان نه واقع کیږي **والعائد** او رابط په صله کې **ضمير** ضمیر به وی نه بل شئ لانه اشهر **له** او راجع به وی دی موصول ته ځکه دا رابط راځي په صله د موصول کې لپاره د ربط د دې جملې د موصول سره او ربط د جملې د موصول سره به هله راشي چې ضمیر راجع شي موصول ته او که ضمیر راجع نه شي موصول ته نو بیا ربط د موصول سره نه راځي.

تشریح: سوال: د موصول تعریف وشو اوس مصنف لپاره پکار وه چې د اسماء موصولات صیغې یې ذکر کړي وي لکه څنګه چې یې د تعریف د اسماء اشارات نه بعد صیغې د اسماء اشاره بیان کړي نو دا وصلته الخ د څه لپاره وائي؟ **جواب:** هر کله چې په تعریف د موصول کې ماخوذ وو صله او عائد او صله او عائد په اعتبار مفهوم سره عام وو پس لابدي شوه د تعین د صلې او عائد نه نو وصلته الخ سره تعین د صله کوی او تعین د عائد کوی اوس په دې سره یو بل اعتراض هم دفع شو اعتراض دا دی چې معرفت د معرف موقوف دی په معرفت د جمیع اجزاء د تعریف پورې او یو جز د تعریف د موصول نه صله ده او بل جز عائد دی او صله او عائد مونږ ته نه دی معلوم نو دا تعریف بالمجهول راغي او دا باطل دی؟

جواب: منم چې معرفت د معرف موقوف دی په معرفت د جميع اجزاؤ د تعريف پورې نو مصنف چې د صلی تعريف وکړو وصلته جملة خبرية سره او د عائد تعريف يې وکړه والعائد ضمير له سره نو په دې تعريف سره مونږ ته صله او عائد معلوم شو نو د هغې نه بعد مونږ ته موصول معلوم شو.

سوال: فرض منصبی د مصنف اختصار بما هو اختصار دی نو پکار دا وه چې تعريف د موصول يې داسې کړې وی چې والموصول ما لايتم جزءً الابجملة خبرية وعائد ضمير له نو اختصار به راغلې وی په عبارت کې او تعريف به بچ پاتې شوی وی د جهالت نه؟ **جواب:** مصنف دغه تعريف ونه کړو بلکه دا بل تعريف يې وکړو لپاره د تفصيل بعد الاجمال ځکه تفصيل بعد الاجمال اوقع فی الذهن وی.

سوال: ته وائې چې صله د موصول جمله خبريه راځي دا قاعده ستا منقوضه شوه په الضارب او المضروب سره دلته صله د موصول جمله خبريه نده بلکه اسم فاعل او اسم مفعول دی؟

جواب: مونږ وايو چې صله د موصول جمله خبريه راځي يا هغه شئ راځي چې په معنی د جملی خبرې سره وی لکه اسم فاعل او اسم مفعول شو (۲) يا صله د موصول جمله خبريه راځي ماسواء د الف لام موصولي نه چې دا مستثنی دی د هغه نه ځکه د دې صله اسم فاعل او اسم مفعول راځي ځکه مصنف دا قانون دی چې کله يو حکم کلی ذکر کړي او د هغې نه بعد يو جزی ذکر کړي نو دا جزی په منزله د مستثنی وی د دغه کلی نه.

سوال: ته وائې چې صله د موصول جملة خبريه راځي دا خبره ستا منقوضه شو په الذی فی الدار فله درهم سره او الذی عندك فله درهم سره چې دلته په دې مثال اول کې صله د موصول جار مجرور راغلې دی او په دې مثال ثانی کې صله د موصول ظرف راغلې دی نه جمله خبريه؟

جواب: جار مجرور او ظرف چې په ترکيب کې د چا لپاره څه واقع کيږي نو په اعتبار د متعلق سره واقع کيږي بی د متعلق نه څه نه واقع کيږي او دا جار مجرور او ظرف چې کله صله د موصول واقع شي نو متعلق د دې بالاتفاق فعل مقدر او محذوف وی نو دلته فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعليه خبريه صله د موصول واقع شوې ده.

سوال: دا صله د موصول به جمله ولې وی؟ **جواب:** (۱) ځکه چې موصول واضع وضع کړی دی ذريعه لپاره د توصيف د معرفه په جملی سره نحو جاءنی زيد الذی ضربك نو مدخول د دې به نه وي مگر جمله به وی (۲) يا د دې وجې نه چې موصول مبهم دی او بيان يې کولې شي په نسبت معلومه سره او نسبت نه وی مگر په جمله کې وی

سوال: جمله خبريه به ولې وی؟ **جواب:** ځکه چې په صلی سره بيان د موصول کولې شي او جمله انشائيه د چا لپاره بيان نه واقع کيږي، واما قول الشاعر؛

وانی لرام نظرة قبل التی لعلی وان شطت نواها ازورها

فبتقدير اقول ای التی اقول لعلی ازورها وقد تقع القسمية صلة نحو ﴿ وَإِنَّ مِنكُمْ لَمَن لَّيُبَطِّئَنَّ ﴾ ای لمن والله ليبطئن

سوال: د عائد او رابط نه ولې لابدي ده په دې صله د موصول کې؟ **جواب:** ځکه چې جمله مستقله ده د چا سره ربط او تعلق نه قبلوی بالذات او په مینځ د موصول او صله کې لابدې وی د ربط او تعلق نه لهذا په دې صله کې لابدي ده د رابط نه چې هغه دا جمله مربوطه وګرځوی د موصول سره.

سوال: هر کله چې په صله کې لابدي شوه د رابط نه نو دا رابط به فقط ضمیر ولې وی؟ **جواب:** لانه اشهر

سوال: ارجاع د ضمیر موصول ته ولې شرط دی؟ **جواب:** ځکه چې په دې صله کې لابدي ده د رابط ضمیرنه د دې لپاره چې دا صله مربوطه وګرځوی د موصول سره او دا ضمیر به صله هله د موصول سره مربوطه وګرځوی چې راجع وی موصول ته والافلا.

وصلة الالف واللام اسم الفاعل والمفعول: **ترجمه:** صله د الف لام موصولي اسم فاعل او اسم مفعول راځي هغه اسم فاعل او اسم مفعول چې دلالت کوی په معنی مصدري باندې په طريقه د تجدد او حدوث سره ځکه دا الف لام موصولي ذوجهتين دی (۱) صورتا مشابه دی د الف لام حرفي سره د هغې تقاضه دا ده چې مدخول د دې مفرد راشي او معنی اسم موصول دی ځکه راځي په معنی د الذی او التی سره د هغې تقاضه دا ده چې مدخول د دې جمله راشي ځکه چې صله د موصول نه وی مګر جمله وی، او کله چې عمل ممکن وی په جهتين باندې نو اعمال اولی دی د اهمال نه، اوس د دې لپاره داسې مدخول پکار دی چې صورتاً مفرد وی اومعنی جمله وی او داسې مدخول خو نشته په استعمال د کلام د عربو کې ماسوی د اسم فاعل او اسم مفعول نه په دې شان سره چې دا صورتاً مفرد دی ځکه چې مشابه دی د اسم جامد سره په عدم تغير او تبديل کې په حالت د تکلم خطاب او غيبوبت کې لکه انا قائم انت قائم هو قائم، چې دا په شان د انازيد، انت زيد، هو زيد باندې دی، او معنی جمله ده ځکه د اسم فاعل نه تعبير کولي شي په ماضی معلوم يا مضارع معلوم سره او د اسم مفعول نه تعبير کولي شي په ماضی مجهول يا مضارع مجهول سره او اسم تفضيل صله الف لام موصولي نه واقع کيږي بالاتفاق ځکه چې اسم تفضيل په معنی د فعل سره نه دی بلکه زيادت پکې راغلي دی په معنی مصدري کې او نه مشابه دی د فعل سره په عمل کې او صفت مشبه صله د الف لام موصولي نه واقع کيږي بالاتفاق عند الجمهور ځکه دا په معنی د فعل سره نه دی او صله د الف لام موصولي هغه شئ واقع کيږي چې په معنی د فعل سره وی او بعض شرزمه قليله د نحويانو نه ذهاب کړيدې دی خبري ته چې صفت مشبه صله د الف لام موصولي واقع کيږي ځکه د ابه شان د فعل دی په عمل کې او دا مذهب په مقابل د مذهب د جمهور کې کالعدم دی (۲) او صله د الف لام موصولي کله کله په طريقه د قلت سره د وجی د ضرورت شعری نه فعل مضارع هم راځي کما فی قول الشاعر!

ما انت بالحکم الترضی حکومته ... ولا الاصيل ولا ذی الرای والجدل

(۳) او کله کله په طريقه د قلت سره صله د الف لام موصولي جمله اسميه راځي کما فی قول الشاعر!

من القوم الرسول الله منهم ... لهم دانت رقاب بنی معد

(۴): او کله کله په طریقه د قلت سره د وجې د ضرورت شعری نه صله د الف لام موصولي ظرف راځي کما في قول الشاعر:

من لايزال شاكرا على المعه فهو حر بعيشة ذات سعه

او اسم فاعل او اسم مفعول صله د الف لام موصولي هله واقع کیږي چې دا دلالت کوی په معنی مصدري باندې په طريقه د تجدد او حدوث سره او که دلالت یې نه کولو په معنی مصدري باندې په طريقه د تجدد او حدوث سرة نو بيا صله د الف لام موصولي نه واقع کیږي، او دا اختصاص د جانبين نه نه دی بلکه د جانب واحد نه دی په دې شان سره چې الف لام موصولي داخلیږي په اسم فاعل او اسم مفعول باندې نه په بل شئ باندې قياساً اطراداً او اسم فاعل اسم مفعول مختص نه دی په الف لام پورې بلکه دا چې څنګه مدخول د الف لام موصولي واقع کیږي نو مدخول د الف لام حرفي هم واقع کیږي

قاعده: (۱): اسم فاعل او اسم مفعول صله د الف لام موصولي چې واقع شي نو دا اسم فاعل او اسم مفعول معرب کولی شي په اعراب د موصول سره په شان د اعراب د هغه اسم چې هغه واقع کیږي وروستو د الاصفتی نه څکه الف لام موصولي صورتا حرف دی صالح لپاره دا جراء د اعراب نه دی نو اعراب یې منتقل کیږي صلی ته نحو جاءني الضارب رايت الضارب مررت بالضارب لکه چې الاصفتی حرف دی قابل د اعراب نه دی نو اعراب یې نقل کیږي مدخول ته

(۲): اسم فاعل سره د فاعل نه او اسم مفعول سره د نائب فاعل نه مرکب ناقص وی په هر ځای کې ما سواء د دوه ځایونو نه چې هلته مرکب تام وی (۱) چې اسم فاعل سره د فاعل نه او اسم مفعول سره د نائب فاعل نه مبتدا قسم ثانی واقع شي نحوا قائم زيد

(۲) چې اسم فاعل او اسم مفعول صله د الف لام موصولي واقع شي نحو الضارب، والمضروب نو دا مرکب تام دی څکه دا په معنی د فعل سره دی، او هم دغه وجه ده چې کله په اسم فاعل او اسم مفعول باندې الف لام موصولي داخل شي نو هغه عمل کوی بې د اشتراط د زمانی نه څکه دا اسم فاعل او اسم مفعول فعل دی په حقيقت کې او عدول شوی دی د صيغې د فعل نه اسم فاعل او اسم مفعول ته د وجې د کراهيت د دخول د الف لام نه په فعل باندې

وهي الذي والتي الخ: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د تعريف د موصول او صلی نه نو شروع یې وکړه په بيان د صيغو د اسماء موصولو کې لپاره د کمال وضاحت د موصولات نو ويې ويل وهي الذي الخ

ترجمه: وهي دا موصولات يا صيغه د موصول **الذى** الذي دی سره د معطوفاتو نه الذي راځي د مفرد مذکر لپاره او دا الذي دوه قسمه دی (۱): موصول اسمی کما في قوله تعالی ﴿ وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ﴾ (۲): موصول حرفي نحو قوله تعالی ﴿ وَخُضْتُمْ كَالَّذِي خَاضُوْا ﴾ ای خضتم کخوضهم په الذي کې ځلور لغات دی (۱): الذي افصح اللغات دی (۲): الذی بیاء مشدده

(۳) الذي بكسر الذال من غير ياء (۴) الذ بسكون الذال والتى اوبل د موصولات نه التي دي دا راخي د مفرد لپاره كما في قوله تعالى ﴿قَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّتِي تُجَادِلُكَ فِي زَوْجِهَا﴾ والذان بل د موصولات نه الذان دي دا راخي د تثنيه مذكر لپاره او اللتان راخي د تثنيه مؤنث لپاره او دا الذان او اللتان كيږي بالالف سره په حالت رفعي كې والياء اويه ياء سره په حالت نصبي جري كې او دا الذان او اللتان د قبيلې د مبنيات نه دي عند الجمهور د وجې د وجود دعلت د بنا نه په دې كې چې هغه مشابهت دى د حرف سره په احتياج الى الامر الخارج كې او دا اختلاف چې په دې كې راغلي دي دا وضعي دي نه د وجې د عامل نه (۲) او په نزد د بعض باندې د قبيلې د معرباتو نه دي ځكه معرب هغې ته وائي چې ان يختلف اخره باختلاف العوامل او دا هم مختلف كيږي په دې شان سره چې په حالت رفعي كې په الف سره راخي او په حالت نصبي او جري كې په ياء سره راخي په شان د رجلان او رجلين باندې او هغه خو معرب دي لهذا دا هم معرب شو. والاولى بل د موصولات نه الاولى دي په وزن د العلى باندې او دا راخي د جمع مذكر او مؤنث دواړو لپاره ليكن چې جمع مذكر كې اشهر دي او جمع مؤنث لپاره راخي په طريقه د قلت سره مثال د دواړو لپاره كما في قول الشاعر شعر!

تبلى الاولى يستلئمون على الاولى تراهن يوم الروع كالحدا القبل

دا اول الاولى په معنى د الذين دي ځكه د دې نه مراد رجال دي او دا مذكر دي، او دا دوېم الاولى په معنى د اللاتي سره دي ځكه د دې نه مراد اسونه دي او دا مؤنث دي په قرينې د ارجاع د ضمير مؤنث د تراهن سره ديته، او لاولى متلبس باللام د قبيلې د موصولات نه دي او اولى مجرد عن اللام د اسماء اشارات نه دي او اولى اسم اشاره مشترك دي بين المذكر والمؤنث على التسوية او الاولى اسم موصول هم مشترك دي بين المذكر والمؤنث ليكن دومره فرق دي چې مذكر كې زيات مستعمليږي او په مؤنث كې كم مستعمليږي والذين بل د موصولات نه الذين دي دا راخي د جمع مذكر لپاره فقط او دا الذين په ياء سره راخي د جمع مذكر لپاره په احوال ثلاثه ژ كې يعنى په حالت نصبي جري او رفعي تولو كې په ياء سره راخي، او په لغت د هزيل قبيله كې الذين راخي په ياء سره په حالت نصبي او جري كې او په حالت رفعي كې الذون راخي په واو سره كما في قول الشاعر!

نحن الذون صبحو الصباحا يوم النخيل غارة ملحاحا

او دا رنګې د جمع مذكر لپاره لفظ د اللائين هم راخي خو هغه ماتن نه دي ذكر كړي د وجې د قلت او ندرت نه واللائي بل د موصولات نه اللائي دي بالهمزة والياء او دا راخي غالباً د جمع مؤنث لپاره او په طريقه د قلت سره د جمع مذكر لپاره هم راخي كما في قول الشاعر!

هم اللائي أصيب يوم فلج بداهية تميد لها الجبال

واللا بل د موصولات نه اللاء دي بالهمزة المكسورة فقط واللاى اوبل د موصولات نه اللاى دي بالياء فقط په كسرى د ياء سره او په سكون د ياء سره اجراءً للوصل مجرى الوقف، او په حالت د وقف كې التقاء د ساكنين جائز ده نحو واياك نستعين حركه دا مبتدا د صوت بمنزلة الحركت دي واللاتى بل

د موصولات نه اللاتی دی بالیاء الساکنة او دا راځي د جمع مؤنث لپاره او په اللاتی کې راغلي دي اللات بحذف الیاء وابقاء الکسرة علی التاء په طریقه د قلت سره کما فی قول ابن مالك!

وقد تزاد لازما کاللات والان والذین ثم اللات

دلته دا اول اللات اسم فاعل دي او علم ګرځیدلي دی د یو صنم لپاره او دا دویم اللات جمع د التی ده اسماء موصولات نه او الف لام داخل شوی دی په دې باندې حرفي زائده لازمی غیر عوضی واللواتی بل د موصولات نه لفظ د اللواتی دی دا راځي د جمع مؤنث لپاره اولې لږ راغلي دی اللوا بحذف التاء والیاء معاً ومن وما بل د موصولات نه من دی چې راځي په معنی د الذي سره او بل ما دی چې راځي په معنی د الذی سره او فرق په مینځ د من موصوله او ما موصوله کې دا دی چې ما راځي د غیر ذوی العقول لپاره نحو عرفت ماعرفته او من راځي د ذوی العقول لپاره لیکن احدهما مستعملیږي په مقام د اخر باندې په دې شان سره چې ما کله راځي د ذی علم لپاره کمافی قوله تعالی ﴿ وَالسَّمَاءِ وَمَا بَنَاهَا ﴾ او من کله راځي د غیر ذوی العقول لپاره کمافی قوله تعالی ﴿ فَمِنْهُم مَّن يَمْشِي عَلَىٰ بَطْنِهِ ﴾ او من او ما موصولي مشترك دی په مینځ د مذکر او د مؤنث مفرد مثنی او مجموع کې وای وایة او بل د موصولات نه ای دی او بل اية دی ای راځي په معنی د الذی سره نحو اضرب ایهم فی الدار ای الذی فی الدار وقوله تعالی ﴿ ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى الرَّحْمَٰنِ عِتِيًّا ﴾ ای الذی هو اشد او کلمه د ای په دې دواړو ځایونو کې مبني علی الضمه دی ځکه مضاف الیه یې مذکور دی او صدر د صله یې حذف دی اواية راځي بمعنی التی نحو اضرب ایتهن فی الدار ای اضرب التی فی الدار او دا دواړه مشترك دی په مابین د واحد مثنی او مجموع کې نه په تذکیر او تانیث کې ځکه مذکر لپاره ای راځي او د مؤنث لپاره اية راځي وذوالطائية بل د موصولات نه کلمه د ذو ده داسې ذو چې منسوب دی بنی طی ته نسبت د ملفوظ راغلي دی لاقط ته ځکه دا ذو په معنی د الذی یا التی سره مستعمل کوی بنی طی فقط نه نور عرب مثال د ذو چې راغلي وی په معنی د الذی سره په لغت د بنی طی کې کما فی قول الشاعر شعر!

فان الماء ماء ابی وجدی وبئري ذو حفرت و ذو طويت

ای التی حفرتها والتی طویتها دا ذو بمعنی التی دی او حفرت او طویت صله د دې موصول ده او په صله د موصول کې لابدي ده د عائد نه او عائد او رابط دلته محذوف دی ځکه حذف د رابط منصوب جائز دی

سوال: دا نور اسماء موصوله یې مطلق ذکر کړه او ذو یې مقید کړو په الطائية سره دا ولې پکار وه چې دا یې ټول مطلق ذکر کړي وی ځکه اصل په عبارت کې عبارت دی په نمط واحده سره؟

جواب: ذو یې مقید ذکر کړو نه مطلق ځکه ذو مطلقا د قبیلې د موصولات نه نه دی بلکه دا راځي په معنی دالذی یا التی سره په لغت د بنی طی کې فقط نو دی سره یې احتراز وکړو د لغت د نورو نه ځکه په لغت د نورو عربو کې ذو راځي په معنی د صاحب سره فقط چې هغه اسم دی د

اسماء سته ؤ مکبرونه، پس د دې خای نه معلومه شوه چې ذو دوه قسمه دی (۱) یو ذو صاحبی دی او بل (۲) ذو موصولي دی.
الفرق بين ذو الموصولي و ذوالصاحبی علی خمسة وجوه: (۱): ذو موصولي په معنی د الذی سره دی او ذو صاحبی په معنی د صاحب سره وی او د دې نه وجه د تسمیه هم معلومه شوه چې ذو صاحبی ته صاحبی ځکه وائي چې دا په معنی د صاحب سره راځي او موصولي ته موصولي ځکه وائي چې دا په معنی د الذی سره راځي. (۲): ذوصاحبی من المعربات دی او ذو موصولي من المبنيات دی. (۳): د ذوصاحبی اخیر مختلفیږي په اختلاف د عوامل سره نحو جاء نی رجل ذومال رایت رجلا ذا مال مررت برجل ذی مال وقوله تعالی ﴿ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ ﴾ ﴿ أَن كَانَ ذَا مَالٍ ﴾ ﴿ إِلَىٰ ظِلٍّ ذِي ثَلَاثِ شُعَبٍ ﴾ او ذو موصولي اخیر نه مختلفیږي په اختلاف د عوامل سره نحو جاء نی ذو ضربك رأیت ذو ضربك مررت بذو ضربتك. (۴) مدخول د ذوصاحبی مفرد وی او مدخول د ذو موصولي جمله وی. (۵): ذو موصولي مشترك دی بين الواحد والمثني والمجموع والمذكر والمؤنث بخلاف ذو الصاحبی فانه للواحد المذكر وللمثنی ذوا، وللجمع ذَوُوْ وللواحد المؤنث ذات وللمثنی ذواتا وللجمع المؤنث ذوات او بعض بنی طی ذات په معنی دالذی سره وائي او ذوات بمعنی اللاتی وائي، د دې خای نه معلومه شوه چې ذات درې قسمه دی.
(۱): صاحبی بمعنی صاحبة (۲) اشارتی بمعنی تا (۳) موصولي بمعنی التی عند بعض بنی طی.
وذا بعد ما للاستفهام: بل د موصولات نه ذا دی داسې ذا چې واقع شي وروستو د مانه داسې ما چې دا ستفهام لپاره وو یعنی ذا چې واقع شي وروستو د ما استفهامیه نه یا د من استفهامیه نه دا دواړه په معنی دالذی او التی سره راځي په دی شرط سره چې د دې نه قصد د اشاری نه وو شوی او ملغانه وو نو مجئیت د ذا من الموصولات مشروط دی په شروط ثلاثه ؤ سره (۱): یو دا چې دا به واقع وی وروستو د ما او من استفهامیتین نه. (۲): قصد د اشاری به نه وي شوی د دې نه. (۳): دا به ملغا نه وی او د ملغاء صورتونه دوه دی (۱) یو دا دی چې ما ذا مجموعه په معنی د ای شئ سره شي (۲) چې ما په معنی د ای شئ سره شي او ذا زائد شي مثال د ذا موصولي نحو ماذا انفقت ادرهم ام دینار بل مثال لکه ماذا صنعتَ چې دا ما استفهامیه بمعنی ای شئ سره شي او ذا موصوله شي په معنی د الذی سره او صنعت صله د موصول ده په حذف د رابط سره فیکون المعنی ای شئ الذی صنعته.
پس زده کړه دا خبره چې ذا څلور قسمه دی (۱) ذا اشارتی (۲) ذا صاحبی (۳) ذا موصولي (۴) ذا زائده.
وجه د حصر: دا ذا به خالي نه وي یا به وروستو د ما او من استفهامیه نه واقع شوی وی او یا به نه وی واقع شوی که نه وو واقع شوی نو بیا به خالي نه وي یا به مضاف وی او یا به نه وي که مضاف وو نو ذا صاحبی نحو قوله تعالی ﴿ أَن كَانَ ذَا مَالٍ ﴾ او که مضاف نه وو نو ذا اشارتی نحو قوله تعالی ﴿ ذَٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ ﴾ او که وروستو د ما او من استفهامیه نه واقع شوی نو بیا به خالي نه وي یا به

د دې نه قصد د اشاره شوی وی او یا به نه وي شوی که قصد د اشارې شوی وو نو بیا ذا اشارتي دی نحو ماذا او من ذا چې په دې ذا سره اشاره وکړي یو مشار الیه ته او که اشاره نه وه قصد کړې نو بیا به خالي نه وي یا به ملغا وی او یا به نه وي که ملغا نه وو نو ذا موصولي دی نحو ماذا صنعت بمعنی ای شئ الذی صنعته او که ملغا وو نو زائده دی نحو ماذا صنعت بمعنی ای شئ صنعته چې ذا ما ذا مجموعه بمعنی ای شئ مفعول به دی او صنعت فعل فاعل فاعل دی یا ما یواځې بمعنی ای شئ دی او ذا زائد دی. **والالف واللام**: یل د موصولات نه الف او لام دی په دې شان سره چې الف لام مجموعه راځي په معنی د الذی یا په معنی د التی سره په دې شرط سره چې دا داخل شوی وو په اسم فاعل او اسم مفعول باندې **هغه اسم فاعل او اسم مفعول چې دلالت کوی په معنی** مصدري باندې په طریقه د تجدد او حدوث سره. بیا که مدخول د دې الف لام واحد مذکر وو نو تعبیر به کولي شي د دې نه په الذی سره نحو الضارب بمعنی الذی ضرب او که مدخول د دې تثنیه مذکر وو نو تعبیر به کولي شي د دې نه په معنی د الذان سره نحو الضاربان بمعنی الذان ضربا، او که مدخول د دې جمع وو نو تعبیر به کولي شي د دې نه په الذین سره نحو الضاربون بمعنی الذین ضربو. او که مدخول یې واحد مؤنث وو نو تعبیر به کولي شي د دې نه په التی سره نحو الضاربة بمعنی التی ضربت. او که مدخول یې تثنیه مؤنث وو نو تعبیر به کولي شي د دې نه په اللتان سره نحو الضاربتان بمعنی اللتان ضربتا او که مدخول د دې جمع مؤنث وو نو تعبیر به کولي شي د دې نه په اللاتی سره نحو الضاربات بمعنی اللاتی ضربن او باقي تحقیق په الف لام کې تیر شوی دی په بحث د معرب کې فلا نعیده

والعائد المفعول یجوز حذفه: **ربط**: هرکله چې فارغ شو مصنف د بیان د صیغو د موصولات نه نو شروع یې وکړه په بیان د احکامو د موصولات کې او یو حکم د احکام د موصولات نه حذف د عائد د صلی دی نو وی ویل والعائد المفعول الخ

ترکیب: واو استنافیه **العائد** موصوف المفعول صفت موصوف سره د صفت نه مبتدا **یجوز** فعل حذفه مضاف مضاف الیه رله فاعل. فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه، خبر د مبتدا، **مبتداء** سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه مستانفه واقع شوي ده جواب د سوال څکه کله چې **مصنف وویل** چې الموصول مالایتم جزء الا بصلة وعائد نو سایل سوال وکړو چې حذف د دې عائد جائز دی کنه نو مصنف جواب وکړو والعائد المفعول الخ سره

ترجمه: **والعائد** عائد د صلی چې هغه ضمیر دی د اسې ضمیر **المفعول** چې هغه په ترکیب کې مفعول نه واقع شوی وی او راجع وی موصول ته **یجوز حذفه** جائز دی حذف کول د متکلم د غه عائد ضمیر مفعول لره چې راجع دی موصول ته په وخت د عدم وجود د مانع کې څکه د متصله دی او حذف د فصله جائز دی او موصول قرینه ده دلالت کوی په حذف د ضمیر رابط باندې

تشريح: سوال: ته وائي چې عائد د صلې ضمير مفعول وو نو د هغې حذف جائز دی **هذا منقوض** بقوله عليه السلام سمع الله لمن حمده دلته من موصوله دی حمده جمله ورله صله واقع شوی ده او ه ضمير منصوب مفعول به دی او د دې حذف خو نه دی جائز؟ **جواب: عائد د صلې چې ضمير** منصوب وو نو حذف يې هله جائز دی چې راجع وو موصول ته او دلته دا ضمير موصول ته نه دی راجع چې من دی بلکه دا راجع دی الله ته او من ته هغه ضمير مستتر راجع دی چې حمد کې دی

سوال: ته وائي چې عائد د موصول چې ضمير منصوب وو او راجع وو موصول ته نو حذف يې جائز دی دا قاعده ستا منقوضه شوه په جاء نی الذی ما ضربت الا اياه سره چې ما ضربت الا اياه صله د موصول واقع شوې ده او رابط په دې کې ضمير منصوب دی چې اياه دی او دا ضمير راجع دی موصول ته او حذف د دې ممتنع دی؟ **جواب:** حذف د عائد د صله ضمير منصوب هله جائز دی چې متصل وی په عامل پورې نه منفصل او چې منفصل وو نو حذف يې نه دی جائز د وجې د عدم وجود د قرينې د الی نه په حذف د ضمير منفصل باندې

سوال: ته وائي چې عائد د صلې ضمير منصوب متصل وی او راجع وی موصول ته نو حذف يې جائز دی دا قاعده ستا منقرضه شوه په جاء نی الذی ضربته فی داره سره چې ضربته فی داره صله د موصول ده او ه ضمير منصوب متصل عائد د صلې دی راجع دی موصول ته او حذف د دې نه دی جائز؟

جواب: حذف د عائد د صله ضمير منصوب متصل چې راجع وی موصول ته هله جائز دی چې بل ضمير رابط نکې نه وی موجود او که بل ضمير رابط موجود وو بيا حذف د دې نه دی جائز حکه بيا حذف د مراد راخي بلا دليل او دا نه دی جائز حکه موصول قرينه ده د يو عائد لپاره په صله کې نه د دوو لپاره او يو عائد په صله کې شته لهذا دا موصول دلالت نه کوی په حذف د عائد د ضمير د صله باندې. پس د دې تحقيق مذکوره نه معلومه شوه چې حذف د عائد د صله چې ضمير مفعول وی دا مشروط دی په شروط ثلاثه و سره (١): دا ضمير به راجع وی موصول ته.(٢): متصل به وی (٣) بل رابط به نه وي په صله کې که دا درې شرطونه موجود وو نو حذف د رابط جائز دی والافلا.

مثال د حذف نحو قوله تعالى ﴿وَيَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ﴾ دا من موصوله دی او يشاء جمله صله ده او ضمير مستتر د يشاء راجع دی الله ته او رابط د موصول ضمير منصوب حذف شوی دی نو تقدير به شي التقدير ويغفر لمن يشاءه وكقول الشاعر

فان الماء ماء ابی وجدی ‍ ‍ ‍ ‍ ‍ ‍ وبئری ذو حفرت و ذو طويت

ای التی حفرتها والتی طويتها و توصيف د عائد يې چې وکړو المفعول سره په دې سره يې خبر کړ چې ضمير مرفوع او مجرور نه حکه عائد د موصول چې ضمير مرفوع يا مجرور وی د هغې په هر ځای کې حذف نه دی جائز هر چې دی ضمير مرفوع فلکونه عمدة فی الکلام او هر چې دی ضمير مجرور نو د وجې د کثرت د حذف نه چې حذف د جار او مجرور دواړو دی

پس زده کړه دا خبره چې په صله د موصول کې لابدي ده د عائد او رابط نه او دا عائد به فقط ضمیر وی نه بل شي اوس دا ضمیر به خالی نه وي یا به ضمیر مرفوع وی یا به منصوب وی او یا به مجرور وی که منصوب وو نو حذف جائز دی په شروط ثلاثه ؤ سره کما مر او که ضمیر مرفوع وو نو حذف یې جائز دی (۱) په دی شرط سره چې صدر د صله ای موصولي واقع شوی وی کما فی قوله تعالی ﴿ ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى الرَّحْمَٰنِ عِتِيًّا ﴾ ای هو اشد (۲) او کله حذف کولي شي د وجې د طول د صلی نه په طریقی د کثرت سره نحو قوله تعالی ﴿ وَهُوَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ إِلَٰهٌ وَفِي الْأَرْضِ إِلَٰهٌ ﴾ ای هو معبود فی السماء، ومعبود فی الارض (۳) او کله حذف کولي شي بې د طول د صلی نه په طریقی د ندرة سره خلاف القیاس نحو قوله تعالی ﴿ تَمَامًا عَلَى الَّذِي أَحْسَنَ ﴾ بالرفع علی قراة ای هو احسن ﴿ إِنَّ اللَّهَ لَا يَسْتَحْيِي أَن يَضْرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوضَةٌ ﴾ بالرفع علی قراة ای هی بعوضة وکقولك لاسیما الولد ای هو الولد او که رابط ضمیر مجرور وو نو دا به خالی نه وي یا به مجرور وی اضافت سره او یا به مجرور وی په حرف جر سره که مجرور وو په اضافت سره نو دا مضاف به خالی نه وي یا به صفت وی او یا به غیر صفت وی که صفت وو نو بیا به خالی نه وي یا به اسم فاعل وی یا به اسم مفعول وی یا به صفت مشبه وی او یا با اسم تفضیل وی که اسم فاعل وو نو بیا به خالي نه وي یا به په معنی د حال او استقبال سره وی او یا به په معنی د ماضی او دوام سره وی که مضاف اسم فاعل وو په معنی د حال او استقبال سره نو بیا حذف د ضمیر مجرور رابط جائز دی کمافی قوله تعالی ﴿ فَاقْضِ مَا أَنتَ قَاضٍ ﴾ ای الذی انت قاضیه والا فلا یجوز فی جمیع الصور المذکورة او که رابط ضمیر مجرور وو په حرف جر سره نو دهغه حذف جائز دی قیاساً او اطراداً په دې شرط سره (۱) چې دا ضمیر مجرور به متحد وی د موصول سره په عامل کې (۲) متحد به وی د موصول سره په متعلق کې (۳) او بل ضمیر به پکې نه وی موجود نحو قوله تعالی ﴿ وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُونَ ﴾ ای من الذی تشربون منه والا فلایجوز الحذف قیاساً واطراداً د وجه د عدم د وجود د قرینې نه په تعین د حرف محذوف باندې۔

واذا اخبرت بالذی صدرتها الخ: ربط: هر کله چې مجتهدین د علم نحو وضع کړي وو بو باب چې هغې ته د دوی په اصطلاح کې باب د اخبار بالذی وائي چې دا تسمیه د کل ده په اسم د جز اشهر سره لکه چې سیبویه په الکتاب کې یو باب وضع کړی دی چې هغه ته باب د واسرو النجوی الذین ظلموا وائي او مقصود د نحویانو د وضع د دې باب د اخبار بالذي نه تمرین د متعلم دی په مسائلو د علم نحوه کې او تذکیر د متعلم دی مسائلو د علم نحوه لره څکه کله چې ووائي یو نحوی یو طالب ته اخبر عن الاسم الفلانی فی الجمله الفلانیة بالذی پس د بیان د طریقه د اخبار نه نو لابدي ده د طالب العلم لپاره تذکر کثیره او د تدقیق نظر نه په مسائلو د علم نحوه کې د دې لپاره چې پته ولګی طالب ته چې اخبار بالذی د کوم یو اسم نه صحیح دی او د کوم نه ممتنع دی پس اراده وکړه مصنف د بیان د باب د اخبار بالذی نو وئي ویل چې واذا اخبرت بالذی څکه اخبار د جز د یو جملی

نه کولې شي په الذی یا په الف لام موصولي سره او دا د قبیلې د موصولات نه دی نو ځکه دا اخبار بالذی ذکر کړې شو په بحث د موصولات کې فاندفع ما قیل.

سوال: چې دا بحث د موصولاتو دی په دې کې بیانولې شي موصولات لاغیر لهذا بیان د اخبار بالذي په موصولاتو کې اشتغال بمالا یعني دی او خروج عن البحث دی؟

جواب: اخبار د جز د جملې نه کولې شي په الذی یا التی یا الف لام موصولي سره او دا د قبیلې د موصولات نه دی لهذا دا اشتغال بمالا یعني نه دی بلکه اشتغال بمایعني دی.

ترجمه: **واذا اخبرت** کله چې ته اراده وکړې د بیان او نقل او حکایت د جز د یو جملې نه **بالذی** په استعانت د کلمه د الذی سره یا التی سر یا الف لام سره **صدرتها** واقع کوه ته دا کلمه د الذی یا قائم مقام د کلمه د الذی په اول سره د جمله ثانیه کې د وجې د کیدو د کلمه د الذی نه مخبر عنهٔ او مبتداء ځکه اصل په مبتدا کې تقدیم دی **وجعلت موضع المخبر عنه** او ته ګرځوه په جمله ثانیه کې په موضع د هغه جز باندې چې قصد کړې شوی دی اخبار او حکایت **عنه** د جز دهغه جملې نه **ضميرا** ضمیر لره لپاره د حصول د ربط **لها** چې دا ضمیر راجع دی کلمه د الذی ته **واخرته** او وروستو کوه ته دغه مخبر عنه لره د ضمیر نه **خبرا** په حال کون د دې مخبر عنه کې چې دا خبر دی **عنه** د لفظ د الذی نه (۲) **واخرته الخ** ګرځوه ته دغه مخبر عنه لره خبر د الذی نه.

تشریح: **سوال:** واذ اخبرت بالذی شرط دی او صدرتها یې جزاء ده او جزاء مرتبه وی په شرط باندې یعني وجود د مضمون د جزاء موقوف وی په وجود د مضمون د شرط پورې په دې شان سره چې اول مضمون د شرط موجود شي بیا مضمون د جزاء موجودیږي او دلته دا جزاء مرتبه نده په شرط باندې ځکه د دې معنی دا ده چې کله چې ته حکایت وکړې د جز د جملې نه په کلمه د الذی سره نو د حکایت نه وروستو تصدیر د کلمه د الذی کوه او دا معنی باطله ده ځکه تصدیر د الذی اولاً دی او حکایت ثانیاً دی؟ **جواب:** دا اعتراض به هله وارکیدو چې واذا اخبرت په خپله معنی سره وی لیکن دلته اخبرت په خپله معنی سره نه دی بلکه په معنی د اردت سره دی فیکون المعنی واذا اردت الاخبار بالذی عن جزء جملة صدرتها نو اراده د اخبار د جز د جملې نه په کلمه د الذی سره اولاً دی او تصدیر د کلمه د الذی ثانیاً دی نو جزاء مرتبه شوه په شرط باندې او د دې قبیلې نه دی دا قول د الله تعالی ﴿ فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ ﴾ ای اذا اردت قرأة القرآن فاستعذ بالله، وقوله تعالی ﴿ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ ﴾ ای اذا اردتم قیام الصلوة.

سوال: مخبر عنه په اصطلاح د نحویانو کې مبتدا ته وائي او مخبر به خبر ته وائي او د دوی په مینځ کې هغه نسبت ته اخبار وائي لکه مثلاً په زید قائم کې ویلې کیږي اخبر عن زید بالقیام یعني باء او عن چې په صله د اخبار کې راشي نو مدخول د باء خبروی او مدخول د عن مبتداء لکه په دې مقام کې شو، اوس بنا په دې قاعده باندې ستا د دې عبارت نه معلومه شوه چې جز د جملې مبتدا ده او الذی خبر دی ځکه ستا د دې عبارت معنی دا ده چې اذا اردت ان تخبر عن جزء جملة بالذی

او بالذي کې باء صله د اخبار راغلي ده او با چې صله د اخبار راشي نو مدخول د باء خبر وي نو معلومه شوه چې موصول سره د صلې نه خبر دی والامر لیس کذلك بلکه الذي موصول سره د صلې نه مبتداء ده او جز د جملې ورله خبر دی؟

جواب: یو مخبر عنه او مخبر به دی په اصطلاح د نحویانو کې او بل مخبر عنه او مخبر به دی په اصطلاح د اهل لغت کې دا غیر غیر دی. اخبار په لغت کې بیان او حکایت ته ویلې شي او مخبر عنه محکی عنه ته وائي، او کوم شی سره چې حکایت کړی شي هغه ته مخبر به وائي او په دې عبارت د مصنف کې د اخبار نه مراد اخبار لغوی دی نه اخبار نحوی، او دا باء صله د اخبار نده بلکه دا د استعانت لپاره راغلې ده نو کیږي معنی ... واذا اخبرت کله چې ته اراده وکړې د حکایت او بیان او نقل د جز د یو جملې نه په استعانت د کلمه د الذي سره الخ

سوال: حکایت د جز د یو جملې نه یکه خنګه چې په کلمه د الذي سره کولی شي نو التي او الف لام سره هم کولی شي نو تا صرف الذي ولې ذکر کړو؟ **جواب:** دا عبارت د مصنف په حذف د معطوف سره دی ای واذا اخبرت بالذي او التي او الف واللام.

سوال: اکتفاء یې په الذي باندې ولې کړې ده. **جواب:** لکونه اشهر او نور یې ترک کړې دی مقایسةً

سوال: وضع د ضمیر په موضع د مخبر عنه کې څه معنی ده؟

جواب: وضع د ضمیر په موضع د مخبر عنه کې دا معنی چې دا مخبر عنه په جمله اولی کې په ترکیب کې څه واقع شوی وو نو دا ضمیر به په ترکیب کې هغه شي واقع کیږي په جمله ثانیه کې.

سوال: لها په ترکیب کې څه واقع شوی دی؟ **جواب:** دا مفعول ثاني دی د جعلت لپاره او ضمیراً مفعول اول دی (۱) که دا جعلت په معنی د صیرت سره وو (۲) که جعل په معنی د وضع سره وو بیا لها صفت واقع شوی دی ضمیراً لپاره ځکه جعل بمعنی الوضع یو مفعول غواړي.

سوال: لها ضمیر چاته راجع دی؟ **جواب:** دا راجع دی الذي ته.

سوال: مطابقت رانغلی بین الراجع والمرجع ځکه الذي مذکر دی او ها ضمیر د مؤنث دی؟

جواب: دالذي سره معامله د مذکر او د مؤنث داورو کولی شي په دې شان سره چې تاویل وکړې شي د دې الذي نه په کلمة سره نو دا مؤنث دی او که تاویل ترې وکړې شي په لفظ سره نو دا مذکر دی ضمیر د مذکر ورته راجع کولی شي ځکه ورته په عنه کې ضمیر د مذکر راجع شوی دی

سوال: خبرا په ترکیب کې څه واقع شوی دی؟ **جواب:** په دې کې دوه ترکیبه دی (۱) که اخبرت په خپله معنی سره واخلي نو دا خبراً منصوب دی بنابر حالیت ځکه اخبرت په خپله معنی سره متعدي دی مفعول واحد ته نه مفعولین ته او که اخبرت متضمن وګرځوی معنی د جعلت لره بیا خبراً مفعول ثاني دی د اخبرت لپاره ځکه اخبر په معنی د جعل سره فعل دی د افعال التحویل والتصییر نه متعدي دی مفعولین ته. پس د بیان د اخبار بالذي نه موږ ته معلومه شوه چې اخبار بالذي

مشروط دي په شروط ثلاثه ؤ سره (١) تصدير دالذى (٢) وضع د ضمير موضع المخبر عنه او ضمير به راجع وى الذى ته (٣) تاخير د مخبر عنه د خبر د مبتداء، نه چې هغه الذى دى
سوال: تصدير د الذى ولې شرط دى؟ جواب لكونه مبتداء او اصل المبتداء التقديم
سوال: وضع الضمير موضع المخبر عنه ولې شرط ده؟ **جواب:** لپاره د حصول د ربط بين الموصول والصلة خكه صله د موصول كې لابدي ده د عائد نه او عائد به ضمير وى
سوال: تاخير د مخبر عنه ولې شرط دى؟ جواب لكونه مخبرا به والاصل فى الخبر التاخير
فاذا اخبرت عن زيد من ضربت زيدا: غرض د مصنف د دې عبارت نه تصوير د كلى دى په ضمن د يو جزئى كې
ترجمه: كله چې ته اراده وكړې د حكايت د لفظ د زيد نه په كلمه د الذى سره بطور مثال چې دا زيد يو جز دى د جملې د ضربت زيدا نه **قلت** نو وايې به ته الذى ضربته زيد
(١) په تصدير د الذى سره په جمله ثانيه كې (٢) او وضع د ضمير واغلي ده په موضع د مخبرعنه كې چې دا ضمير منصوب متصل مفعول به دى (٣) او دا مخبرعنه چې زيد دى وروستو كړى دى او خبر واقع كړى دى د مبتداء لپاره چې الذى دى خكه چې **الذى** موصول او ضربته جمله ورله صله ده موصول سره د صلې نه مبتدا او زيد ورله خبر دى مبتدا سره د خبر نه جمله خبريه اسميه دا اخبار بالذى دى د جز د جمله فعليه زيدا مفعول به نه: او س كه تا ته يو نحوى ووائي چې ضربت زيدا كې د دې (ت) ضمير مرفوع متصل فاعل نه چې جز د جمله فعليه دى اخبار راكړه په الذى سره نو وائي به ته الذى ضرب زيدا انا. هغه سړى چې هغه وهلې دى زيد لره هغه زه يم او كه نحوى ستانه زيد فى الدار كې د دې دار نه اخبار بالذى وكړه نو وائي به ته الذى زيد فيها دار او كه يو سړى درته ووائي چې هو زيد قائم كې د دې زيد نه اخبار بالذى وكړه نو وائي به ته الذى هو هو قائم زيد
تركيب: الذى موصول **هو** ضمير شان مبتدا اول، هو ضمير مرفوع منفصل راجع شو الذى ته مبتدا ثانى، قائم خبر د مبتدا ثانى، مبتدا ثانى سره د خبر نه جمله اسميه خبر د مبتدا اول چې ضمير شان دى، مبتدا سره د خبر نه صله د موصول، موصول سره د صلې نه مبتدا او زيد ورله خبر دى
ترجمه: الذى هغه سړې **هو** شان د خبرې دا دى **هو** چې دغه سړې **قائم** ولاړ دى زيد زيد دى
وكذلك الالف واللام الخ: ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د اخبار بالذى نه نو شروع يې وكړه په بيان د اخبار بالالف واللام كې په طريقه د تشبيه سره نو وى ويل وكذلك الالف واللام
ترجمه په شان د الذى دى الف لام موصولي په اخبار كې د جز د يو جملې نه ليكن دومره فرق دى چې اخبار بالالف واللام خاص كړې شوى دى په خاص كولو سره په جمله فعليه پورې په دې شان سره چې اخبار كولې شي په الذى سره د جز د جملې اسميه او د جز د جملة فعليه دواړو نه او الف لام سره اخبار كولې شي د جز د جملې فعليې نه فقط نه د جز د جملة اسميه نه. **ليصح بناء اسم الفاعل او المفعول** لپاره د دې چې صحيح شي بنا د صله د الف لام موصولي د جملې فعلى نه چې هغه اسم فاعل او اسم مفعول دى خكه صله د الف لام موصولي نه راخي مگر اسم فاعل او اسم مفعول راخي

چې په دې شان سره چې د جملې اسميه نه په دې شان سره چې د
او اسم فاعل او اسم مفعول جوړېږي د جملې فعليه نه نه د جملې اسميه نه په دې شان سره چې د
فعل مبني للفاعل نه جوړ ولي شي اسم فاعل او د مبني للمفعول نه جوړ ولي شي اسم مفعول په
دې شرط شره (۱) چې دا فعل به متصرف وی (۲) او د دې فعل په اول سر کې به نه وي راغلي
داسې يو حرف چې د هغه حرف د معنی استفاده نه شي کولي اسم فاعل او اسم مفعول نه لکه سين
سوف حرف نفی او حرف استفهام شو مثال د اخبار بالالف واللام د جز د جملې فعليه نه لکه القائم
زيد شو په قام زيداً کې او الضاربه انا زيد شو په ضربت زيداً کې.
تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟
جواب: ربط د ماقبل سره دا دی چې مخکې بيان د اخبار بالذی وو او دا بيان د اخبار بالالف واللام
دی او په دې سره غرض د مصنف هم معلوم شو.
سوال: وكذلك الالف واللام څه ترکيب دی؟ **جواب:** دا كذلك جار مجرور خبر مقدم دی او الالف واللام
مبتدا مؤخره ده او د كذلك په اخير کې چې کوم کاف راغلی دی دا کاف حرفي خطابی دی او د دې
نه مخکې چې کوم لام راغلي دی دا لام البعد دی او اذا اشارتی دی او مشار اليه د دې لپاره الذی
دی او دا اول کاف تشبيهی دی نو مصنف د الف لام موصولي تشبيه ورکړې ده د الذی سره او وجه
د شبه يکې اخبار دی د جز د يو جملې نه ليکن دومره فرق دی چې اخبار بالذی عام دی څکه په
الذی سره اخبار کيږي د جز د جملې اسميې او فعليې دواړو نه.
سوال: اخبار بالالف واللام ولې مختص دی په جمله فعليه پورې؟
جواب: ليصح بناء اسم الفاعل اوالمفعول څکه چې صله د الف لام موصولي نه راځي مګر اسم فاعل
او اسم مفعول راځي او اسم فاعل او اسم مفعول جوړېږي د جملې فعليه نه، نه د جملې اسميه نه.
سوال: اسم فاعل او اسم مفعول سره د مرفوع خپل نه کله کله کيږي جمله اسميه نحو الضارب الذيدان،
ما مضروب البكران نو د دې جملې اسميه نه اخبار بالالف واللام ولې نه دی جائز باوجود د دې نه چې
جز اول د جمله اسميه اسم فاعل او اسم مفعول دی او دا دواړه واقع کيږي صله د الف لام موصولي؟
جواب: په دې دواړو مثالونو کې اسم فاعل او اسم مفعول عمل کړی دی په مابعد اسم ظاهر کې د رفع
بنابر فاعليت د وجی د اعتماد نه په حرف نفی او حرف استفهام باندې او د غه حرف نفی او حرف
استفهام انکار کوی د وقوع د اسم فاعل او اسم مفعول نه صله لپاره د الف لام موصولي.
سوال: ته وائې چې اخبار بالالف واللام مختص دی په جمله فعليه پورې دا قاعده ستا منقوضه شوه
په نعم الرجل زيد سره دا جمله فعليه ده او د دې نه اخبار بالالف واللام نه دی جائز؟
جواب: الجملة الفعلية کې الف لام عهد خارجي دی او مراد په دې سره جمله فعليه متصرفه ده نه
مطلق جمله فعليه او نعم الرجل جمله فعليه غير متصرفه ده.
سوال: قرينه په دې خبره باندې څه ده چې الف لام عهد خارجي دی او مراد جمله فعليه متصرفه ده؟

جواب: قرينه په دې خبره باندې دا قول د مصنف دی چې ليصح بنا اسم الفاعل الخ ځکه چې اسم فاعل او اسم مفعول د جمله فعليه متصرفه نه جوړيږي نه د غير نه

سوال: نه وائي چې د لته الف لام عهدی دی او مراد جمله فعليه متصرفه ده دا قاعده ستا منقوضه شوه په سيضرب زيد عمرا، سوف يضرب زيد عمرا ما ضرب زيد عمرا او هل قام زيد سره ځکه چې دا ټولې جملې فعليې متصرفی ذی او حال دا دی چې د دې نه اخبار بالالف واللام نه دی جائز؟

جواب: مراد د جملې فعليې نه هغه جمله ده چې د هغې په اول سر کې داسې يو حرف نه وي راغلې چې د هغه حرف په معنی باندې اسم فاعل او اسم مفعول دلالت نه کوي مثال لکه سيضرب زيد عمرا کې شو اوس که ته اخبار بالالف واللام جوړ وی د دې جز د جملې فعليې نه نو د دې يضرب نه به ضارب جوړ کړې او په هغې باندې به الف لام داخل کړې اوس دا سين به خالی نه وي يا به يې ذکر کوی او يا به يې نه ذکر کوی که سين ورسره ذکر کوی نو دخول د سين راغي په اسم فاعل باندې او دا باطل دی او که نه يې ذکر کوی نو بيا فوت د معنی د سين راغي ځکه اسم فاعل دلالت نه کوي په معنی د سين باندې

سوال: خاصة منصوب دی او منصوبات دولس دی دا کوم يو قسم دی د هغې نه؟

جواب: دا منصوب دی بنابر مفعول مطلق لپاره د فعل مقدر ای خُص هذا الحکم خاصة

سوال: د اخبار بالالف واللام مثال راته وښايه؟ **جواب:** مثال د اخبار بالالف واللام لکه القائم زيد شو په قام زيد کې په دې شان سره چې د قام نه قائم اسم فاعل جوړ کړې شو او په هغې باندې الف لام داخل کړې شو بيا وضع د مضمر وکړې شوه په موضع د مخبر عنه کې چې زيد دی او هغه ضمير مستتر دی په قائم کې او راجع دی الف لام موصولي ته او زيد وروستو کړې شو خبر واقع کړې شو د الف لام موصولي لپاره.

ترکيب: الف لام موصولي **قائم** صيغه د اسم فاعل ده ضمير پکې مستتر دی هغه ورله فاعل دی اسم فاعل سره د فاعل نه صله د الف لام موصولي، **موصول** سره د صلې نه مبتداء، او زيد ورله خبر دی مبتدا سره د خبر نه جمله خبريه اسميه شوه، بل مثال لکه الضاربه انا زيد شو په ضربت زيدا کې په دې شان سره چې د فعل نه اسم فاعل جوړ کړې شو او په هغې باندې الف لام موصولي داخل کړې شو او ضمير مرفوع متصل بدل شو په ضمير مرفوع منفصل باندې د وجې د تعذر د اتصال نه ځکه چې ضمير بارز مرفوع متصل کيږي په فعل پورې نه په اسم پورې او د زيد په ځای باندې ضمير متصل شو په اسم فاعل کې لعدم تعذر الاتصال او دا زيد وروستو کړې شو خبر واقع کړې شو د موصول لپاره.

ترکيب: الف لام موصولي **ضارب** اسم فاعل ه ضمير منصوب متصل مفعول به: ضارب لپاره او انا ضمير مرفوع منفصل فاعل د ضارب دی اسم فاعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه صله شوه د موصول، موصول سره د صلې نه مبتدا او زيد ورله خبر دی مبتدا سره د خبر نه جمله خبريه اسميه

فان تعذر امر منها تعذر الاخبار: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د شرائط د اخبار بالالف واللام نه نو شروع يې وکړه په بيان د هغه مواضع کې چې دهغې اخبار بالذی ممتنع دی د وجې د عدم وجود د شرط نه نو وی ويل فان تعذر امر منها الخ

ترجمه کېږي ممتنع وو يو شرط **منها** د دې امور ثلاثه؛ نه او د دې شروط ثلاثه؛ نه چې هغه تصدير د موصول دی او وضع د ضمير ده موضع المخبر عنه او تاخير د مخبر عنه دی خبر لپاره د موصول **تعذر الاخبار** ممتنع دی اخبار په الذی سره د جز د جملې نه د وجې د انتفاء د شرط نه ځکه انتفاء د شرط مستلزم ده انتفاء د مشروط لره او س په دې قاعده باندې تفريعات کوي **ومن ثم امتنع فی ضمير الشان** او د دې وجې نه چې کله يو شرط د دې شروط ثلاثه؛ نه نه وو موجود نو اخبار بالذی نه دی جائز. ممتنع دی اخبار په الذی سره د ضمير شان نه د وجې د انتفاء د شرط ثالث نه چې هغه تاخير د مخبر عنه دی خبر لپاره د مبتداء. يعنی نه چې اخبار بالذی کړی د ضمير شان نه نو دا ضمير شان به نه لري کوي د خپل ځای نه او د ده په ځای باندې به ضمير کېږدي او ضمير شان به وروستو کړي او خبر به بې واقع کړي د الذی لپاره او ضمير شان د خپل ځای نه نه وروستو کېږي ځکه دا تقاضه د صدارت د کلام کوي او بل لازمېږي تقديم د مفسر په مفسر باندې او دا نه دی جائز.

سوال ضمير شان مخبر عنه دی نه مخبر فيه لهذا د مصنف لپاره دا ښکاره وه چې ومن ثم امتنع عن ضمير الشان بې وئيلی دی نه فی ضمير الشان؟

جواب دا اعتراض به هله وارديدو چې دلته دا فی په خپله معنی سره وی يعنی د ظرفيت لپاره وی ليکن دلته دا فی په خپله معنی سره نه دی بلکه په معنی د عن سره دی.

سوال مصنف شروع د تفريع د شرط اول نه ولې اونکړه چې د شرط اخير نه يې شروع وکړه؟

جواب شروع د تفريع يې وکړه د انتفاء د شرط اخير نه لقربته. **والموصوف والصفة** او دارنګې ممتنع دی اخبار بالذی د موصوف نه بدون الصفة او د صفت نه بدون الموصوف د وجې د انتفاء د شرط ثانی نه چې **هغه وضع** د ضمير ده په موضع د مخبر عنه کې ځکه د وضع د ضمير موضع المخبر عنه مطلب دا دی چې دا مخبر عنه به ترکيب کې څه واقع شوی وو نو دا ضمير به هم په ترکيب کې هغه شی واقع کېږي. او والضمير لايوصف ولايوصف به لهذا په ضربت زيدن العاقل کې ممتنع دی اخبار بالذی د زيد نه بدون العاقل او د عاقل نه بدون زيد ځکه بيا لازمېږي وقوع د ضمير موصوف يا صفة او ضمير نه موصوف واقع کېږي او نه صفت واقع کېږي خلافا لابن کسان والاخفش چې د هغوی په نزد باندې اخبار بالذی د موصوف نه جائز دی بدون الصفة ځکه هغوی توصيف د ضمير غائب په يو صفت سره جائز وايي. او اخبار بالذی د موصوف او صفت مجموعه نه جائز دی بالاتفاق نحو الذی ضربته زيدن العاقل فی ضربت زيدن العاقل. ځکه چې دلته دا موصوف مع الصفة په ترکيب کې مفعول به واقع شوی دی دا چې موټ لری کړو او د دې په ځای باندې ضمير کېږدو نو هغه مفعول به واقع کيدی شي **والمصدر العامل** ۱ او دارنګې ممتنع دی اخبار بالذی د مصدر عامل نه بدون المعمول مثال لکه عجبت من دق القصار الثوب کې جائز نه دی سره لپاره اخبار بالذی د دق القصار نه بدون المعمول چې الثوب دی د وجې د انتفاء د شرط ثانی نه چې وضع د ضمير ده په

موضع د مخبر عنه کې ځکه دا مصدر چې مونږ لري کړو او د دې په ځای باندې ضمیر کیږدو هغه ضمیر عمل نه شي کولی په مابعد اسم کې د نصب بنابر مفعول به

(۲) او اخبار بالذی د مصدر غیر عامل نه جائز دی لکه په الحمد لله کې جائز دی الذی هو لله الحمد او په الضرب واقع کې جائز دی الذی هو واقع الضرب (۳) او دارنګې اخبار بالذی جائز دی د مصدر عامل نه چې سره د معمول نه یې واخلي مثال لکه الذی عجبت منه دق القصار الثوب شو په عجبت من دق القصار الثوب کې د وجې د عدم انتفاء د شرط ثاني نه چې وضع د ضمیر ده په موضع د مخبر عنه کې ځکه مصدر عامل سره د معمول نه په ترکیب کې مجرور واقع شوی دی د من جاره لپاره او دا چې ته لرې کړې او د دې په ځای باندې ضمیر کیږدې هغه هم مجرور واقع کیږي د من جاره لپاره **والحال** او دارنګې ممتنع دی اخبار بالذی د حال نه د وجې د انتفاء د شرط ثاني نه چې وضع د ضمیر ده په موضع د مخبر عنه کې ځکه حال کې نکارت شرط دی په نزد د بصریانو باندې او ضمیر معرفه ده وضع د دې نه شي کولی په موضع حال کې او هر چې دی بنا په مذهب د کوفیانو باندې نو اګر چې تنکیر شرط نه دی په حال کې بلکه معرفه هم حال واقع کیدی شي لیکن اخبار بالذی ممتنع دی د حال نه د وجې د انتفاء د شرط ثاني نه چې وضع د ضمیر ده موضع المخبر عنه ځکه حال بیانوی هیئت د فاعل او مفعول به او ضمیر دلالت کوی په ذات باندې نه په هیئت باندې **والضمیر المستحق لغیرها** او دارنګې اخبار بالذی ممتنع دی د هغه ضمیر نه چې هغه واجب الارجاع دی غیر د کلمې د الذی ته د وجې د انتفاء د شرط اول نه چې هغه تصدیر د الذی دی، مثال لکه زید ضربته کې اخبار بالذی ممتنع دی د ضمیر منصوب مفعول به نه ځکه دا ضمیر راجع دی مبتدا ته چې زید دی اوس که مونږ اخبار بالذی وکړو نو الذی زید ضربته هو به شي نو دا ضمیر د ضربته به خالي نه وائي یا به یې راجع وائي مبتدا ته چې زید دی نو موصول بلا عائده پاتې کیږي او یا به یې راجع وائي موصول ته چې الذی دی نو مبتدا بلا عائده پاتې کیږي او دا دواړه نه دی جائز لهذا ممتنع دی اخبار بالذی د دغه ضمیر منصوب مفعول به نه

والاسم المشتمل علیه او دارنګې ممتنع دی اخبار بالذی د هغه اسم نه چې هغه مشتمل دی په دغه ضمیر باندې چې واجب الارجاع دی غیر د کلمه د الذی ته لکه زید ضربت غلامه شو چې په دې کې اخبار بالذی د غلام نه نه دی جائز د وجې د انتفاء د شرط اول نه چې تصدیر د الذی دی ځکه دا غلام اسم دی او مشتمل دی په ضمیر باندې او دا ضمیر راجع دی مبتدا ته اوس که ته اخبار بالذی جوړ کړې نو الذی ضربته غلامه به وائي نو دا ضمیر د ضربته به خالي نه وي یا به یې راجع کوی مبتدا ته نو موصول بلاعائده پاتې کیږي او یا به یې راجع کوی موصول ته نو مبتدا بلاعائده پاتې کیږي او دا دواړه ممتنع دی

سوال: په الذی زید ضربته هو کې دوه ضمیر دی دا یو راجع کړه موصول ته نو موصول بلاعائده پاتې نه شو او دا بل راجع کړه مبتدا ته نو مبتدا بلاعائده پاتې نه شوه او دغسې کار وکړه په الذی

ضربته غلامه زید کې؟ **جواب:** دغسې کار زه نه شم کولې ځکه چې مبتدا رابط ضمیر غواړي په خپله جمله کې او موصول ضمیر رابط غواړي په خپله جمله کې او دا هو ضمیر مرفوع منفصل خارج دی د جملی نه او دغسې اخبار بالذی ممتنع دی د تمیز نه د وجی د انتفاء د شرط ثانی نه چې وضع د ضمیر ده په موضع د مخبر عنه کې ځکه په تمیز کې نکارت شرط دی او ضمیر معرفه ده او دارنګې اخبار بالذی ممتنع دی د عطف بیان نه د وجی د انتفاء د شرط ثانی نه چې هغه وضع د ضمیر ده په موضع د مخبر عنه باندې ځکه په دې کې شرط دا دی چې دا ضمیر به دلالت کوی په هغه معنی باندې چې مخبر عنه دلالت کوو په هغه معنی باندې او عطف بیان چې په کومه معنی دلالت کوی ضمیر په هغه معنی باندې دلالت نکوي، اوس اخبار بالذی د بدل یا مبدل منه احدهما نه جائز دی کنه نو په دې کې خلاف دی څوک وائي چې احدهما نه جائز نه دی ځکه دا بدل مبین د مبدل منه دی په شان د صفت باندې او دا ضمیر مبین د مبدل منه نه واقع کیږي او بعض وائي چې اخبار بالذی جائز دی د هر واحد نه.

وما الاسمية موصولة واستفهامية الخ. ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د اخبار بالذی نه نو شروع یې وکړه په بیان د اقسامو د ما او من او ای او اية کې ځکه ما او من او ای او اية د قبیلې د موصولات نه دی نو دا مناسب دی د دې مقام سره او دا نور اقسام بیانوی طرداً للباب.

ترجمه: لفظ د ما داسې ما چې منسوب دی اسم ته د قبیلې د نسبت د جزی نه کلی ته په دې شان سره چې اسم کلی دی او دا لفظ دما جزی دی نو معنی د دې دا شوه چې کلمه دا یو جزی دی د جزیاتو د اسم نه مشهور اقسام د دې شپږ دی او اسمیه سره یې احتراز وکړو د حرفیه نه ځکه ما حرفي اولاً دوه قسمه دی (۱) زائده (۲) غیر زائده، او ما غیر زائده دوه قسمه دی:

(۱) مصدریه نحو قوله تعالی ﴿وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ﴾ ای برحبتها او همدارنګې انما صنعوا کید ساحر ای ان صنعهم کید ساحر (۲) نافیه نحو قوله تعالی ﴿وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ﴾ صدق الله (۳) شرطیه بمعنی ان نحو قوله تعالی ﴿مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ﴾ ای ان لم تمسوهن (۴) استفهامیه نحو ما اعظم شانه صاحب د کندیا ویلی دی چې اعظم بمعنی هل اعظم دی اوما حرفیة استفهامیة د هغې مطلب دا دی چې دا ما په معنی د هل سره استفهامیه دی فیکون المعنی هل عظم شانه او استفهام د تعجب لیاره دی نحو قوله تعالی ﴿كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِاللَّهِ﴾ او زائده هم څلور قسمه دی (۱) کافه کما فی قوله تعالی ﴿أَنَّمَا إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ﴾ ﴿إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ﴾ وقوله علیه السلام انما الاعمال بالنیات (۲) زائده عوضی نحو اما انت منطلقا انطلقت (۳) زائده تاکیدی نحو قوله تعالی اماترین من البشر احداً (۴) زائده غیر عوضی تاکیدی غیر کافه کما فی قوله تعالی ﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ﴾ نو ټول صورتونه د ما حرفیه اته شو.

ترکیب: ما موصوفه الاسمیة ورله صفت دی موصوف سره د صفت نه مبتدا ده او موصولة معطوف علیه سره د معطوفات نه خبر دی او عطف مقدم وی په ربط باندې او اعراب یې جاری کړی دی په هر واحد باندې د وجی د صلاحیت لفظی د هر واحد نه په نز د جامی صاحب باندې یا ما الاسمیة مبتدا ده او خبر د دې محذوف دی چې ستة انواع دی او موصولة الخ هر واحد خبر د مبتدا محذوف دی، یا عطف بیان دی دخبر محذوفه نه او یا بدل دی د خبر محذوفه نه یا مفعول به لپاره د فعل مقدر دی بناپه مذهب د شارح هندي صاحب باندې.

سوال: (۱): کون د شئ موصوف دا خاصه د اسم ده او ما حرف دی نو ما څنګه موصوف واقع شوی دی (۲): کون دشئ مسند الیه خاصه د اسم ده نو کلمه د ما څنګه مسند الیه واقع شوی ده.
(۳): ما مذکر دی څکه علامه د تانیث پکې نشته نو څنګه د دې توصیف شوی دی الاسمیة مؤنث سره.
(۴): ما نکره ده نه معرفه څکه چې اقسام د معرفه اوه دی او دا د هغې نه یو هم نه دی نو څنګه د دې توصیف شوی دی په مر فی سره؟ **جواب:** دا منم چې کون دشئ مسند الیه یا موصوف خاصه د اسم ده نه د حرف لیکن کلمه ما په دې مقام کې مراد اللفظ علم دی د هغه ما لپاره چې واقع کیږي په تراکیب کې لهذا دا اسم دی څکه موصوف او مسند الیه واقع شوی دی په ترکیب کې او معرفه دی د علمیت د وجی نه څکه د دې توصیف شوی دی په معرفی سره او په تاویل د کلمه سره مؤنث دی څکه یې توصیف شوی دی په صفت مؤنث سره.

سوال: د الاسمیة په اخیر کې یا نسبتی راغلي ده دا ګرځوی مدخول خپل منسوب الیه لپاره د غیر فیکون المعنی وما المنسوبة الی الاسم او په مابین د منسوب او منسوب الیه کې لابدي ده د علاقي نه نو دلته د ما او د اسم په مینځ کې څه علاقه ده؟ **جواب:** د دې په مینځ کې علاقه د کلیت او د جزئیت ده په دې شان سره چې ما جزی دی او اسم کلی دی او نسبت د جزی راغلي دی کلی ته.

سوال: ته وائي چې ما اسمیه شپږ قسمه دی حالانکه ما اسمیه خو لس قسمه دی:
(۱): ممیزه کما فی قوله تعالی ﴿فَنِعِمَّا هِیَ﴾ په دی نعم کې ضمیر مستتر دی په هغه کې ابهام دی دا ما په معنیٰ د شیئا سره د هغه لپاره تمیز واقع شوی دی په نز د ابوعلی باندې
(۲): ما په معنی د مادام سره چې دیته ظرفیة مصدریه او مصدریه حینیه هم وائي نحو اجلس ما جلس الامیر ای ما دام الامیر جالسا (۳): ظرفیة فقط کما فی الحدیث یحضر مالا یحضرون
(۴): تعجبی نحو ما احسن زیداً، او شپږ دا مذکور فی المتن شو نو ته څنګه وائي چې ما اسمیه شپږ قسمه دی؟

جواب: زه وایم چې مشهور اقسام د ما شپږ دی چې هغه مذکور فی المتن دی او دغه باقي څلور اقسام غیر مشهور دی او د وجی د عدم شهرت نه مصنف ترک کړي دی څکه د مصنف د اب او طریقه دا ده چې غالب او مشهور ذکر کوی او قلیل ترک کوی د وجی د ندارة نه، هغه شپږ مشهور اقسام دا دی (۱) **موصولة** ما اسمیه موصوله راځي نحو قوله تعالی ﴿وَالسَّمَاءِ وَمَا بَنٰهَا﴾ ﴿إِنَّمَا صَنَعُوا كَيْدُ

سَكِرٍ ﴾ علي تركيب. څکه په دوارو ايتونو کې کلمه د ما محتمل د احتمالين دی يو احتمال دا دی چې دا ما مصدري ده (٢) دويم احتمال دا دی چې ما موصوله ده، بل مثال دا مقوله ستا شو اعجبني ما صنعته. اقراء من الكتب ما يفيدك **واستفهامية** بل ما اسميه استفهاميه راځي نحو قوله تعالى ﴿ وَمَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ يَٰمُوسَىٰ ﴾ وكقولك ما اسمك **وشرطية** بل ما اسميه شرطيه راځي نحو قوله تعالى ﴿ مَّا يَفْتَحِ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا ﴾ وكقولك ما تصنع اصنع **وموصوفة** بل ما صوفه راځي او ما اسميه موصوفه دوه قسمه دی (١) موصوفه بالمفرد نحو مررت بما معجب لك اى بشئ يعجبك (٢) موصوفه بالجملة نحو قوله تعالى ﴿ ثُمَّ لَا يَجِدُوا۟ فِىٓ أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ ﴾.

تنبيه: دا كلمه په دي ايت كې محتمل د احتمالات ثلاثه و ده يا موصوله. يا موصوفه ده. يا مصدريه ده بل مثال د ما موصوفه بالجملة كما في قول الشاعر!

ربما تكره النفوس من الامر له فرجة كحل العقال

او دا كلمه د ما په دي شعر كې محتمل د احتمالين ده (١) دا احتمال هم لري چې دا ما كافه دی او دا رب مكفوف عن العمل دی داخل شوی دی په مضارع باندې مثل قوله تعالى ﴿ رُّبَمَا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ (٢) او دا احتمال هم لري چې دا ما موصوفه دی په معنی د شئ سره او دا ما بعد جمله صفت واقع شوی دی دی د كلمه د ما لپاره او رابط ضمير منصوب حذف شوی دی فيكون التقدير رب شئ تكرهه النفوس او دا مثال بنا دی په دې يو تركيب باندې

وتامة او بل ما تامه راځي بمعنی شئ په معنی د شئ مجرد عن اللام سره د ابو علي په نزد باندې او په معنی د الشئ متلبس باللام سره راځي د سيبويه په نزد [illegible] نحو قوله تعالى ﴿ فَنِعِمَّا هِىَ ﴾ ابوعلي وائي چې ضمير په نعم كې مستتر دی هغه فاعل دی او دا كلمه د ما په معنی د شيئاً سره د هغې لپاره تميز واقع شوی دی. او تميز نه راځي مگر نكره نو څكه مونږه د دې نه تعبير كوو په شيئاً مجرد عن اللام سره، او سيبويه وائي چې دا كلمه د ما فاعل دی د نعم لپاره او ضمير پكې نه دی مستتر او فاعل د نعم معرف باللام راځي نو څكه مونږه د دې ما نه تعبير كوو په الشئ سره او ديته ما تامه څكه وائي چې دا [illegible] شي سره چې دا موصوله نه دی چې محتاج شي صلې ته او استفهاميه نه دی چې [illegible] نه دی چې [illegible] شي جزا ته موصوفه نه دی چې [illegible] نه محتاج شي [illegible] موصوفه محتاج [illegible]

وصفة او بل ما صفتي راځي نحو قوله تعالى [illegible] ﴾ ونحو قوله [illegible] اضرب ضرباً مطلقاً عظيم كار او حقير [illegible] په دې كلمه كې دوه مذهبه دی

(١) يو مذهب د بعض دی او (٢) بل مذهب د جمهورو دی

مذهب د بعض دا دی چې دا كلمه ما حرفي [illegible] لپاره د [illegible] د ابهام او د تنكير

او جمهور وائي چې دا كلمه د ما صفت واقع شوی دی د نكرې لپاره

سوال: صفت مشتق وي دلالت كوي على معنى في متبوعه او دا ما خو مشتق نه دي نو نه ورته څنګه صفتي وائي؟ **جواب:** مشتق عام دي حقيقة وي او كه تاويلاً وي او دا مشتق دي تاويلاً چي كلمه د ما نه مونږه تاويل كوو په مطلقاً سره او مطلق دلالت كوي په يو معنى باندې چي هغه اطلاق دى او دغه معنى موجوده ده په متبوع كي چي دا نكره ده پس د دې ما سبق تحقيق نه معلومه شوه چي ما اولا دوه قسمه دى (١) حرفي (٢) اسمي، او ما حرفي اته قسمه دى او ما اسمي لس قسمه دي نو شو مجموعه اقسام د ما اتلس

ومن كذلك الا فى التامة والصفة: ربط: هر كله چي فارغ شو مصنف د اقسامو د ما اسميه نه نو شروع يې وكړه په اقسامو د من كي په طريقه د تشبيه سره نو وي ويل چي ومن كذلك

ترجمه: لفظ د من په شان د ما اسميه دى په اقسامو كي **الا فى ا[illegible]ة والصفة** مګر په شان د ما إسميه نه دى په تامه او صفتي كي په دې شان سره چي ما اسميه تامه او صفتي راځي او من تامه او صفتي نه راځي والسند عليه التتبع والاستقراء.

تشريح: سوال: مصنف ما مقيد ګرځولي وو په قيد د الاسمية سره نو من يې ولي مطلق ذكر كړو يكار وه چي دا يې هم مقيد كړي وى په الاسمية سره؟ **جواب** ما دوه قسمه دى (١) حرفي (٢) اسمي. نو په تقيد د الاسمية سره يې احتراز وكړو د ما حرفي نه په خلاف د من نه چي دا اسمي راځي نه حرفي نو تقيد د دې ته په الاسمية سره ضرورت [illegible] نه شو.

سوال: من صفتي او تامه ولي نه راځي؟ **جواب** دليل په دې باندې عدم سماع ده په دې شان سره چي دوى تتبع او استقراء د كلام د عربو كړى دى من صفتي او تامه يې نه دى موندلي لهذا من څلور قسمه راځي دى په استعمال د كلام د عربو كي (١) موصوله نحو اكرم من جاءك اى الذى جاءك، نجح من اجتهد، خذا العلم عمن تثق به (٢) استفهاميه نحو من ابوك. من ضربت. من ضرب هؤلا دا اول مثال د هغه من استفهاميه دى چي راغلي وي په جمله اسميه كي او دا دويم مثال د هغې دى چي راغلي وي په جمله فعليه كي، او دا دريم مثال د هغي محتمل د احتمالين دى

(١) دا احتمال هم شته چي دا من استفهاميه راغلي په جمله اسميه كي په دې شان سره چي من استفهاميه بمعنى اى شئ مبتداء ضرب كي ضمير مستتر دى چي راجع دى من ته هغه فاعل د ضرب او هؤلاء مفعول به دى فعل سره د فاعل او مفعول به نه جمله فعليه خبر د مبتدا دى. مبتدا سره د خبر نه جمله خبريه اسميه

(٢) او دا احتمال هم لرى چي د من استفهاميه راغلي دى په جمله فعليه كي نه دې شان سره چي من استفهاميه بمعنى اى شئ مفعول به مقدم دى او [illegible] فعل دى او هؤلا [illegible] له فاعل دى (٣) من [illegible] حي نحو قوله عليه السلام من يهده الله فلا مضل له [illegible]

ان مو [illegible] الكسيه يوما [illegible] رداً وطباء
من لايزال شاكر على المعه فهو حر بعشيه ذات سعة

وقولك من تضرب اضرب (۴) څلورم من موصوفه راځي او دا من موصوفه دوه قسمه دی.
(۱): موصوفه بالمفرد كقولك حسان بن ثابت.

كفى بنا فضلا على من غيرنا — حب النبي محمد ايانا

على من غيرنا كې من موصوفه دی بمعنی شخص او غيرنا صفت واقع شوی دی د من لپاره.
سوال: من بمعنی شخص نکره ده او **غيرنا** معرفه ده ځکه غير مضاف دی، **نا** ضمير دمتكلم اعرف المعارف ته او قاعده دا ده چې هر هغه اسم نکره چې مضاف شي معرفې ته په اضافت معنوی سره هغه معرفه کېږي نو دا معرفه څنګه صفت واقع شوې ده د نکرې لپاره؟
جواب: د دې قاعده کلیې نه يو څو اسماء مستثنی دی چې لفظ د مثل شبه نحو سوا او غير وغيره دی ځکه دا اسماء د وجی د کمال توغل نه په ابهام کې نه معرفه کېږي په اضافت سره معرفې ته
پس اعتراض وارد نه شو په دې قول د الله تعالى باندې چې ﴿ قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ﴾.
(۲): دويم موصوفه بالجمله ده نحو رب من جاءك قد اكرمته ای رب شخص جاءك قد اكرمته.
سوال: من او ما موصوله خو ځکه مبني دی چې دا مشابه دی د حرف سره په افتقار کې او استفهاميه او شرطيه ځکه مبني دی چې دا متضمن دی معنی د حرف لره نو دا موصوفه او تامه او صفتي ولې مبني دی؟ **جواب:** (۱): دا مبني دی د وجې د مشابهت د دې نه د شرطيه او استفهاميه سره صورتاً او لفظاً (۲): يا مبني دی ځکه مشابه دی د حرف سره په وضع ثنائي کې.
وای واية كمن: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د اقسام د من نه په طريقه د تشبيه سره نو شروع يې وکړه په اقسامو د ای او اية کې هم په طريقه د تشبيه سره نو وئي ويل وای و اية كمن.
ترجمه: ای د موصولات نه د مذکر لپاره دا مذکر عام دی که واحد وی که مثنی وی او که مجموع وی او اية د موصولات نه د مؤنث لپاره دا مؤنث عام دی که واحد وی که مثنی وی که مجموع وی **كمن** په شان د من دی، په ثبوت د امور اربعه او په انتفاء د تامه او صفتي کې په دې شان سره چې لکه څنګه چې من څلور قسمه دی او تامه او صفتي نه راځي دارنګې ای او اية هم څلور قسمه دی او تامه او صفتي نه راځي او هر چې دی دا ترکيب چې مررت برجل ای رجل دا اصل کې ای استفهاميه دی د استفهاميت نه نقل شوی دی صفتيت ته.
تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟
جواب: ربط د ماقبل سره دا دی چې مخکې مصنف بيان د اقسامو د من وکړو په طريقه د تشبيه سره د من تشبيه يې ورکړې وه د ما سره په ثبوت د امور اربعو کې ما سوا د تامه او صفتي نه نو اوس يې بيان د اقسامو د ای او اية وکړو په دې شان سره چې د ای او اية تشبيه يې ورکړه د من سره په ثبوت د امور اربعو او انتفاء د تامه او صفتي کې، او غرض د مصنف هم معلوم شو، اوس په دې سره يو بل اعتراض هم دفع شوه.

سوال: ته وائي چې ای او اية په شان د من دی دا تشبيه نده صحيح څکه ای او اية د قبيلې د معرباتو نه دی او من د قبيلې د مبنيات نه دی مطلقاً؟ **جواب:** دا اعتراض به هله وارديدو چې وجه د شبه دلته بناء وی، ليکن وجه د شبه دلته بناء نده بلکه وجه د شبه دلته ثبوت د اقسام اربعو او انتفاء د تامه او صفتي ده، هغه اقسام اربعه دا دی (۱): ای **موصولي** راځي عند الجمهور خلافا للخليل ويونس څکه هغه دواړه وايي چې اي موصوله نه راځي نحو اضرب ايهم لقيت ای الذی لقيته، وقوله تعالى ﴿ ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى الرَّحْمَٰنِ عِتِيًّا ﴾ اضرب ايتهن فی الدار ای التی فی الدار

(۲): **استفهاميه** نحو ايهم اخوك وايتهن اختك وقوله تعالى ايهم زادته ايمانا

(۳): **شرطيه** نحو قوله تعالى ﴿ أَيًّا مَّا تَدْعُوا فَلَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ ﴾ وقولك ای رجل يستقم ينجح واية طريق سلكتُ سلكتُ

(۴): **موصوفة** نحو قوله تعالى ﴿ يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ ﴾ ﴿ يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ ﴾ ﴿ يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ﴾ ﴿ يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ﴾ بيا شيخ رضي ويلي دی چې ای معرفه موصوفه راځي په مناده کې نه په بل ځای کې او خفش جائز کړي دی کون د ای نکره موصوفه په غير د منادی کې هم.

سوال: ته وائي چې ای او اية په شان د من دی په اقسام اربعه او په انتفاء د تامه او صفتي کې دا خبره ستا منقوضه شوه په مررت برجل ای رجل سره چې دلته ای رجل مضاف، مضاف اليه صفت واقع شوی دی د رجل لپاره او ته وائي چې ای او اية صفتي نهٔ راځي؟ **جواب:** دا اصل کې ای استفهاميه وو بيا د استفهاميه نه نقل شوی دی او په نعتيت کې مستعمل شوی دی، لهذا دا تقسيم د مصنف بنا دی په اصل وضع باندې او ای صفتي راغلي دی په استعمال کې نه په اصل وضع کې، او ای په اعتبار د استعمال سره اولاً په دوه قسمه دی (۱) کمالي (۲) غير کمالي.

وجه حصر: دا ای به خالي نه وی يا به دلالت کوی په کمال باندې او يا به نه کوي که دلالت کوو په کمال باندې هغې ته ای کمالي وائي او که دلالت يې نه کوو په کمال باندې هغې ته غير کمالي وائي او ای غير کمالي څلور قسمه دی کما مر او ای کمالي درې قسمه دی (۱) کمالي صفتي نحو مررت برجل ای رجل، وکما فی قول الشاعر: شعر:

ان الشباب والفراغ والحدة مفسدة للمرء ای مفسدة

(۲): ای کمالي حالي نحو مررت بزيد ای فارس (۳) ای کمالي مفعول به کما فی قول الشاعر

علی انی سانشد عند بيعی اضاعونی وای فتی اضاعوا

نو مجموعه اقسام د ای اوه شو نه څلور.

سوال: اية په دې مقام کې مراد اللفظ علم دی د هغه اية لپاره چې واقع کيږي په تراکيبو کې نو دا غير منصرف شو د وجې د علميت او د تانيث لفظي نه او حکم د غير منصرف دا دی چې ان لا کسرة ولا تنوين فيه او په دې کې خو تنوين راغلي دی؟

جواب: (۱): هذا من قبيل سلا سلا واغلالا يعني تنوين پکې راغلي دی لپاره د حصول د تناسب بين الكلمتين (۲) په غير منصرف کې مطلق تنوين نه دی ممتنع بلکه تنوين تمکن ممتنع دی او دا تنوين تمکن نه دی بلکه دا تنوين په دې کې راغلي دی مشاكلة د مسمى خپل سره يعني تنوين مشاكلة دی **وهي معربة وحدها: ربط:** هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د اقسامو د ای او اية نه په طريقه د تشبيه سره نو شروع یې وکړه په بيان د حکم د ای او اية کې نو وئي ويل چې وهي معربة وحدها.

ترجمه: هر واحد د ای او اية نه معرب دی په اتفاق د نحويانو سره په حال کون د دې ای او اية کې چې دواړه منفرد دی او متوحد دی په اعراب کې په دې شان سره چې نه دی شريك د دوی سره باقي اسماء موصولات په اعراب کې ځکه چې دا د اسماء لازمة الاضافت الى المفرد نه دی، او اضافت الى المفرد په طريقه د لزوم سره د خواص معظمه مکبره د اسم نه دی په دې شان سره قوی کيږي جهت د اسميت او اصل په اسماؤ کې اعراب دی.

الا اذا حذف صدر صلتها: مگر دا ای او اية معرب نه دی کله چې حذف کړي شي جز اول د صلی د دې او مضاف اليه د دې مذکور وی نو بيا دا مبني على الضمه دی د وجې د کمال مشابهت نه په احتياج کې يو امر ته چې هغه غير دی د صلی نه چې هغه جز د صلی دی او مبني على الضمه وګرځيدل ځکه چې دا مشابه دی د غايات سره په حذف د موضح او جز مبين کې او مستثنی يې نه کړو ای موصوفه بنائيه ځکه چې هغه ذکر شوی دی په بحث د منادی کې.

تشريح: سوال: دا هی ضمير راجع دی ای او اية ته نو مطابقت رانغی بين الراجع والمرجع ځکه هی ضمير د مفرد مؤنث دی او ای او اية دوه دی؟

جواب: دا هی ضمير راجع دی ای او اية ته په تاويل د کل واحد سره.

سوال: بيا هم مطابقت رانغلو بين الراجع والمرجع ځکه کل واحد مذکر دی او هی ضمير مؤنث دی؟

جواب: تانيث د ضمير په اعتبار د خبر سره دی ځکه ضمير چې دائر شي بين المرجع والخبر نو رعايت د خبر اولى دی.

سوال: وحدها په ترکيب کې څه واقع شوی دی؟ **جواب:** دا منصوب دی بنابر حاليت

سوال: په حال کې خولابدي ده د نکارت نه او دا خو معرفه ده؟ **جواب:** د کوفيانو په نز باندې په حال کې نکارت شرط نه دی بلکه معرفه هم حال واقع کيږي نحو وارسلها العراك وغيره، او د بصريانو په نز باندې دا مؤول دی په متوحدا سره.

سوال: لکه څنګه چې ای او اية موصولي معرب دی دارنګې باقي اقسام د ای او اية هم معرب دی نو ته وهي معربة وحدها څنګه وائي؟ **جواب:** وحدها يې ويلی دی په نسبت سره باقي موصولات ته نه په نسبت سره باقي اقسامو د ای او اية ته په دې شان سره چې په دې موصولات کې فقط ای او اية معرب دی نه باقي موصولات.

سوال: دا وحدها په نسبت سره باقي موصولات ته هم نه صحيح کيږي ځکه لکه څنګه چې اى او اية معرب دي نو الذان واللتان هم معرب دى؟ **جواب:** زه وايم چې په دې موصولات کې معرب بالاتفاق اى او اية دى نه باقي موصولات او الذان او اللتان معرب بالاتفاق نه دى بلکه په هغې کې اختلاف دى كما مر. پس د دې نه معلومه شوه چې موصولات په اعتبار د اعراب او د بناء سره درې قسمه دى (١) معرب بالاتفاق لکه اى او اية شو (٢) معرب بالاختلاف لکه الذان او اللتان شو (٣) مبني بالاتفاق لکه باقي موصولات شو.

سوال: اى او اية د قبيلې د معربات نه ولې دى باوجود دعلت د بنا نه په دې کې چې هغه مشابهت د دې دى د حروف سره په احتياج کې امر خارج ته؟

جواب: اى او اية د اسماء لازمة الاضافت الى المفرد نه دى او اضافت الى المفرد په طريقه د لزوم سره د خواص معظمه مکبره د اسم نه دى قوى کيږي په دې سره جهت د اسم او ضعيف کيږي جهت د مشابهت د مبني الاصل او اصل په اسماؤ کې اعراب دى نو دا قوت د جهت د اسميت ولګيدو دا اى او اية يې وويستل د خلاف الاصل نه چې بنا ده خپل اصل ته چې هغه اعراب دى، او لازمة الاضافة چې يې وويل نو اعتراض وارد نه شو په كم باندې ځکه د کم سره اضافت لازم ندى، او الى المفرد چې يې وويل نو اعتراض وارد نه شو په حيث، اذ، او اذا، باندې ځکه دا هم د اسماء لازمة لاضافة نه دى خو اضافت يې کيږي جملې ته نه مفرد ته بيا دا اى او اية په نز د بعض باندې مطلقا د قبيلې د معربات نه دى او په نز د بعض باندې مطلقا د قبيلې د معربات نه نه دى بلکه د دې لپاره احوال اربعه دى په درې حالاتو کې د قبيلې د معربات نه دى او په يو حال کې د قبيلې د مبنيات نه دى.

هغه احوال اربعه دا دى چې دا اى او اية به خالى نه وي يا به مضاف اليه د دې مذکور وى او يا به محذوف وى که محذوف وو نو بيا به خالى نه وي يا به صدر د صلى د دې مذکور وى او يا به محذوف وى: (١): که مذکور وو نو معرب دى نحو اى هو قائم (٢): او که محذوف وو نو هم معرب دى نحو اى قائم، او که مضاف اليه يې مذکور وو نو بيا به خالى نه وي يا به صدر د صلى مذکور وى او يا به محذوف وى (٣): که مذکور وو نو بيا هم معرب دى نحو ايهم هو قائم.

(٤): او که صدر د صلى حذف شوى وو نو بيا مبني على الضمه دى كمافى قول الشاعر؛

اذا لقيت بني مالك فسلم على ايهم افضل

كمافى قوله تعالى ﴿ ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى الرَّحْمَٰنِ عِتِيًّا ﴾ بنا په قرات د هغه چا باندې چې هغه ايهم په ضمى سره وائي، اىَ الذى هو اشد.

سوال: ظاهرا د ترکيب په لحاظ سره يو اعتراض دى چې ايهم مفعول به دى د لننزعن لپاره او مفعول به دقبيلې د منصوبات نه وى او دا خو مرفوع دى نه منصوب؟ **جواب:** دلته دا اى مبني على الضمه دى او منصوب محلا دى ځکه چې د دې اى مضاف اليه مذکور دى او صدر د صلى يې حذف شوى دى.

سوال: دا مبني ولې دی په دې حال کې؟ **جواب:** د وجې د کمال مشابهت نه د حرف سره په احتياج کې يو امرته غير د صلې نه چې هغه ضمير محذوف دی.

سوال: مبني على الضمه ولې دی؟ **جواب:** د وجې د مشابهت د دې نه د غايات سره په حذف د مبين او موضع کې ځکه چې د دې ای او ايه نه حذف کړې شوی دګ جز دهغه لفظ چې هغه مبين د ای او ايه دی لکه څنګه چې حذف کړې شوی دی د مبين د غايات نه چې هغه مضاف اليه دی.

سوال: لکه څنګه چې دا قسم ای دقبيلې د مبنيات نه دی على الضمه نو ای موصوفه چې منادی واقع شي نو هغه هم مبني على الضمه وی نحو يايها الرجل نو تا دايو قسم مستثنى کړو د ماقبل نه دا بل دی ولې مستثنى نه کړو؟ **جواب:** د ای بنائيه موصوفه استثناء ته دلته ضرورت نشته ځکه هغه ذکر شوی دی په بحث د منادی کې.

وفى ماذا صنعت وجهان: او په دې قول د عربو کې چې ماذا صنعت دی دوه ترکيبونه دی او دوه معانی دی **احدهما** يو د دغه وجهين نه ما الذی دی بنا په دې چې دا ما استفهاميه دی په معنى د ای شئ سره مبتداء ده او ذا په معنى د الذی سره موصول دی او صنعت جمله فعليه صله د موصول ده او رابط ضمير منصوب مفعول به حذف شوی دی فيکون التقدير ای شئ الذی صنعته، (۱) بيا موصول سره د صلې نه خبر لپاره د مبتداء شو (عند السيبويه).

(۲): او بالعکس دی عند الجمهور **وجوابه رفع** او جواب د دې به اسم مرفوع راځي بنا په دې چې دا خبر د مبتدا محذوف دی مثال لکه الاکرامُ ای الذی صنعته الاکرامُ لپاره د دې چې دا جواب مطابق شي د سوال سره په کون د دې کې جمله اسميه **والاخر** او دويمه وجه د هغه وجهين نه دا ده چې معنى د ماذا، ای شئ ده، په دې شان سره چې ماذا مجموعه په معنى د ای شئ سره دی (۲) يا ما بمعنى ای شئ دی او ذا زائد دی **وجوابه نصب** او جواب د دې به راځي اسم منصوب بنا په دې چې دا مفعول به دی لپاره د فعل محذوف لکه الاکرامَ شو ای صنعت الاکرامَ لپاره د دې چې دا جواب مطابق شي د سوال سره په کون دهر واحد د دې دواړو کې جمله فعليه، او دا ماذا مجموعه چې په معنى د ای شئ سره شي يا ما بمعنى ای شئ شي او ذا زائد شي نو بيا په دې کې يو خو دا ترکيب شو چې ای شئ مفعول به مقدم شوی دی او صنعت فعل فاعل دی او دويم ترکيب پکې دا هم جائز دی چې ای شئ مبتدا شي او دا ما بعد جمله ورله خبر شي او عائد د مبتدا محذوف شي ای ای شئ صنعته، خو دغه ترکيب دلته مصنف نه دی ذکر کړې، بيا دا رفع لوستل بنا په وجه اوله باندې او نصب لوستل بنا په وجه ثانی باندې لازم نه دی بلکه په دې اوله وجه کې نصب لوستل او په ثانی کې رفع لوستل هم جائز دی ځکه چې مطابقت په مينځ د سوال او جواب کې لازم نه دی بلکه اولى او مستحب دی.

سوال: فى حرف جر دی داخليږي په اسم باندې او په ماذا صنعت کې خو داخل شوی دی په جمله باندې دا ولې؟ **جواب:** اسم عام دی که حقيقة وی او که تاويلا وی او دا ماذا صنعت اسم دی تاويلاً ځکه د دې نه مونږه تاويل کوو په قولهم سره.

سوال: جوابه مبتدا ده او رفع ورله خبر دی او خبر محمول وی په مبتدا باندې او دلته حمل نه صحيح کيږي ځکه چې حمل د صرف وصف راغي په ذات باندې؟

جواب: (۱) دا رفع مصدر نه دی بلکه رُفِعَ ماضی مجهول دی (۲) او که اومنم چې صيغه د مصدر ده نو بيا مصدر په خپله معنی نه دی بلکه مصدر مبني للمفعول دی ای مرفوع.

(۳) او که اومنم چې صيغه د مصدر ده او مصدر په خپله معنی سره دی نو بيا دا محمول په اعتبار د حذف د مضاف سره په جانب د خبر کې فيکون التقدير وجوابه ذو رفع.

(۴) يا دا محمول دی په اعتبار د حذف د مضاف سره په جانب د مبتدا کې ای حال جوابه رفع، او دا رنګې اعتراض او جواب په وجوابه نصب کې دی.

اسماء الافعال

هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د نوع ثالث د اسم مبني نه تفصيلاً پس شروع يې وکړه په بيان د نوع رابع د اسم مبني کې تفصيلاً چې هغه اسماء افعال دی.

(۱) او هر کله چې اسماء افعال اسماء وو حقيقةً او اصوات جار مجری د اسماء وو نه اسماء حقيقةً پس مقدم يې کړل اسماء افعال په اصوات باندې (۲) يا هر کله چې بعض د اصوات نه داخل وو په اسماء افعال کې پس مقدم وګرځول مصنف اسماء افعال په اصوات باندې ځکه چې معرفت د هغې موقوف دی په معرفت د اسماء افعال باندې او موقوف عليه مقدم وی په موقوف باندې نو وی ويل چې اسماء الافعال

ترجمه: اسماء افعال په اصطلاح د نحويانو کې **ما** اسماء دی او افراد د ضمير د کان په اعتبار د لفظ د ما سره دی (۲) يا جنس اسم فعل په اصطلاح د نحويانو **ما** اسم دی او اضافت د اسماء افعال ته اضافت جنسي دی، داسې اسم چې کائن دی **بمعنی الامر** په معنی د امر سره **او الماضی** يا په معنی د ماضی سره او کلمه د او لپاره د تنويع او تقسيم ده نه لپاره د شك او تردد او اُفِّ په معنی د تَضَجَّرَت سره دی او اوه په معنی د توجعت سره دی ليکن مراد د دې نه انشاء ده او مناسب د انشاء سره صيغه د مضارع حالی ده ځکه د اُف نه تعبير کولې شي اَتَضَجَّرُ او د اوه نه تعبير کولي شي اَتوجَّعُ سره، يا اسم فعل بمعنی المضارع نادر دی نو د وجې د ندرت نه مصنف ترك کړي دی او اسم فعل بمعنی الامر کثير دی د اسم فعل بمعنی الماضی نه نو د دې وجې نه يې مقدم کړي دی په اسم فعل بمعنی الماضی باندې مثال د اول لکه رويد زيداً شو رويد اسم فعل دی بمعنی الامر چې امهل دی او مثال د ثانی لکه هيهات ذلك (۲) شو چې هيهات اسم فعل دی په معنی د ماضی سره چې هغه بَعُدَ دی او تعدد د مثال بنا دی په تعدد د ممثل باندې (۱) رويد مثال د اسم فعل بمعنی الامر دی او هيهات مثال د اسم فعل بمعنی الماضی دی (۲) رويد مثال د اسم فعل متعدي دی او هيهات مثال د اسم فعل لازم دی (۳) رويد مثال د هغه اسم فعل دی چې منقول عنه د هغه مستعمل وی په دې شان سره

چې په روید زیدا کې امهل زیداً وئیلې شي د دې منقول عنه مستعمل دی فی قوله تعالی ﴿فَمَهِّلِ الْكٰفِرِيْنَ أَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا﴾ ځکه دا روید منقول دی د مصدر نه او هغه مستعمل دی او د هیهات منقول عنه مصدر نه دی مستعمل امهل زیدا ویلې شي او هیهات مثال د هغه اسم فعل دی چې منقول عنه د هغه نه وي مستعمل په دې شان سره چې په هیهات ذلك کې بَعُدَ ذلك نه شي ویلې

تشریح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط د ماقبل سره دا دی چې مخکې بیان د قسم ثالث د اسم مبني وو تفصیلاً چې موصولات وو او دا بیان د قسم رابع د اسم مبني دی تفصیلاً چې اسماء الافعال دی او په معرفت د ربط سره غرض د مصنف هم معلوم شو

سوال: اسماء الافعال یې ولې مقدم کړه په اصوات باندې؟

جواب: (۱): هر کله چې اسماء الافعال اسماء وو حقیقة او اصوات جار مجری د اسماء وو پس مقدم یې کړه اسماء الافعال په اصوات باندې (۲) یا هر کله چې بعض انواع د اصوات د قبیلې د اسماء الافعال نه وو مقدم یې کړه اسماء الافعال په اصوات باندې ځکه معرفت د هغې موقوف دی په معرفت د اسماء الافعال پورې او موقوف علیه مقدم وی په موقوف باندې، په اسماء الافعال کې لابدي ده د معرفت د امور اربعونه (۱) مفهوم اصطلاحی (۲) معرفت د اقسام (۳) معرفت د وجه د تسمیه (۴) معرفت د وجه د بناء، نو اسماء افعال په اصطلاح د نحویانو کې هغه اسم ته وائي چې هغه راغلې وی بمعنی الامر او الماضی، والسوال والجواب ههنا مثل ما مر فی اسماء الاشارة.

سوال: کلمه د ما به خالي نه وی یا به یې عبارت وائي د اسم نه او یا به یې عبارت وائي د اسماء نه که عبارت یې د اسم نه وائي نو ما بعد ورسره ولګیدو خو ما قبل ورسره نه لګی ځکه حمل د مفرد راځي په جمع باندې او که عبارت اخلی د اسماء نه نو ماقبل ورسره ولګیدو خو ما بعد ورسره نه لګي ځکه په کان کې ضمیر مستتر دی مفرد مذکر هغه نه راجع کیږي ما ته ځکه ما عبارت دی د اسماء نه نو مطابقت نه راځي بین الراجع والمرجع؟ **جواب:** (۱): دلته دا کان زائد دی په دې کې د سره ضمیر نشته او ما عبارت دی د اسماء نه. (۲): یا کان زائد نه دی او ما عبارت دی د اسماء نه او ضمیر د مفرد مذکر ورته راجع دی په اعتبار د لفظ د ما سره. (۳): یا دا ما عبارت د اسماء نه نه دی بلکه عبارت دی د اسم نه او حمل یې په ما قبل باندې صحیح دی ځکه چې اضافت په اسماء الافعال کې اضافت جنسي دی مراد جنس اسم دی او دا جواب غوره دی د دې، مخکې نه ځکه په هغې کې لازمیږي تعریف د افرادو او دا نه دی صحیح. او کان په دې مقام کې محتمل د امور اربعه وو دی (۱): یا کان زائده دی ای ما بمعنی الامر والماضی (۲): یا کان تامه دی ای ما وجد بمعنی الامر والماضی (۳): کان ناقصه بمعنی صار ای ما صار بمعنی الامر والماضی (۴): یا کان ناقصه بمعنی ثبت دی ای ما ثبت بمعنی الامر والماضی

سوال: دا تعریف د اسماء الافعال باطل دی ځکه چې مقصود په تعریف کې وضاحت د معرف وی او وضاحت د معرف هله راځي چې دا تعریف بنا وی په قطع او یقین باندې او دا تعریف بنا دی په شك او تردد باندې ځکه چې په دې کې کلمه د او ذکر ده او دا راځي لپاره د شك او تردد نو معترض وائي چې ته په خپله شکی او متردد یې په تعریف د اسم فعل کې نو مونږ ته د څه شي وضاحت کوی؟

جواب: دا کلمه د او لپاره د تنویع او د تقسیم ده نه لپاره د شك او تردد، په دې کلمه د او سره مصنف اشاره وکړه دیته چې اسم فعل دوه قسمه دی (۱) یو هغه دی چې راځي بمعنی الامر (۲) او بل هغه دی چې راځي بمعنی الماضی.

سوال: حصر د اسم فعل په دې نوعین کې باطل دی د وجې د وجود د قسم ثالث نه چې هغه اسم فعل بمعنی المضارع دی لکه اوه بمعنی اتوجع او اف بمعنی اتضجر؟

جواب: اسم فعل منحصر دی په دې نوعین پورې او هر چې دی اف او اوه دا په معنی د ماضی سره دی لیکن معنی د دې انشاء ده او دا نشاء سره مناسب مضارع وه نو ځکه یې په مضارع سره تعبیر وکړو (۲) یا اسم فعل بمعنی المضارع قلیل دی او نادر دی نو د وجې د ندرت نه مصنف ترك کړي دی.

پس د دې نه معلومه شوه چې اسم فعل درې قسمه دی (۱) بمعنی الامر او دا اکثر دی (۲) بمعنی الماضی او دا کثیر دی (۳) بمعنی المضارع دا قلیل او نادر دی.

سوال: مثال ذکر کولي شي لپاره د وضاحت د ممثل او وضاحت د ممثل راځي په مثال واحد سره نو مصنف د اسم فعل لپاره دوه مثالونه ولې ذکر کړی دی؟

جواب: تعدد د مثال بنا دی په تعدد دممثل باندې (۱) اسم فعل دوه قسمه دی (۱) متعدي لکه روید (۲) لازم لکه هیهات شو (۲) یا اسم فعل دوه قسمه دی (۱) یو هغه دی چې منقول عنه د هغه مستعمل وی لکه روید (۲) او بل هغه دی چې منقول عنه یې مستعمل نو لکه هیهات شو (۳) او دارنګې اسماء الافعال دوه قسمه دی (۱) بمعنی الماضی لکه هیهات (۲) بمعنی الامر لکه روید بله دونك ها حیهل علیك او امین شو چې په معنی د استجب دعاءنا سره دی، او په امین کې درې لغات دی (۱): امین بروزن فاعیل دا اکثر استعمالا دی لیکن بعید من القیاس دی ځکه لغت عربی چرته په وزن د فاعیل باندې نه دی راغلي البته اسماء عجمیه په دې وزن باندې راغلي دی لکه هابیل او قابیل د دې وجې نه زعم کړی دی بعض علماؤ چې آمین لفظ عجمی دی نه عربی بیا څوك په دې الف د امین کې اما له کوی او څوك یې پکې نه کوي (۲): دویم لغت امین دی بروزن فعیل دا موافق القیاس او اقل استعمالا دی د دې وجې نه بعض علماؤ د دې نه انکار کړي دی (۳): دریم لغت پکې آمین دی بالمد وتشدید المیم بیا دا اسم فعل نه دی بلکه جمع مذکر اسم فاعل صیغه ده بمعنی قاصدین کما فی قوله تعالی ﴿وَلَآ ءَآمِّينَ ٱلۡبَيۡتَ ٱلۡحَرَامَ﴾.

سوال: اسم فعل بمعنی الامر والماضی سواسی دی په قسمیت کې نو تا اسم فعل بمعنی الامر ولې مقدم کړو په اسم فعل بمعنی الماضی باندې؟ **جواب:** اسم فعل بمعنی الامر اکثر دی ځکه یې مقدم کړی دی.

سوال: اسماء الإفعال ته اسماء الافعال ولي وائي؟ **جواب:** بعض نحويانو ويلي دی چې اسماء الافعال
ته اسماء الافعال ځکه وائي چې دا اسماء نومونه دی او اعلام دی د الفاظو اوصيغو د فعل لپاره په
دې شان سره چې دغه افعال په اعتبار د صيغې سره معنى موضوع له ده او دا اسماء وضع کړې
شوی دی د هغې لپاره مثلاً رويد لفظ واضع وضع کړی دی لپاره د أمهل او دا امهل د دې معنى
موضوع له ده او هيهات لفظ واضع وضع کړيدې لپاره د بعد او دا بعد د هغې معنى موضوع له ده
ليکن دا وجه کمزوري ده او شيخ رضي دی قول د بعض ته ليس بشئ ويلي دی ځکه ډير کرته به
عرب قح تلفظ وکړي په لفظ د رويد باندې او په لفظ د صه باندې او د هغه ذهن ته لفظ د امهل يا
اسکت نه راځي او سره د دې نه چې شرط په وضع کې استحضار د معنى موضوع له دی د دې وجې
نه مصنف ماکان بمعنى الامر والماضى ووېل او ماکان معناه الامر والماضى يې ونه وېل او جمهور
وائي چې اسماء الافعال ته اسماء الافعال ځکه وائي چې دا ذوجهتين دی په دې شان سره چې لفظ
او صيغې ته يې وګوري نو صيغه د اسم ده او معنى ته چې يې وګورو نو معنى يې د فعل ده ځکه
چې معنى يې مقترن نه ده په يو د ازمنه ثلاثه ؤ پورې نو نه ورته على التعين اسم ويلي شو او نه ورته
على التعين فعل ويلي شو پس مسمى کړي شو په دې مجموعى نوم سره.

سوال: اسماء الافعال يې ووېل نو افعال الاسماء يې ولې ونه وېل؟

جواب: افعال الاسماء يې ورته ونه وېل ځکه چې اسميت پکې اصل دی او فعليت پکې عارضى دی
نو اسم نه يې مضاف جوړ کړو د وجې د اصالت نه او د فعل نه يې مضاف اليه جوړ کړو د وجې د
عروض نه ځکه مضاف اليه امر عارض وی او خارج وی د حکم نه.

سوال: هر کله چې دا اسماء په معنى د فعل سره دی نو بعينه فعل ورته ولې نه وائي؟

جواب: (۱): بعينه فعل ورته نه شو ويلي لانها لاتقبل علامة الفعل (۲) په دې وزن باندې نه دی
راغلي په استعمال د کلام د عربو کې.

سوال: تعريف د اسم فعل مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو پکې الضارب امس ځکه دا اسم
دی او بمعنى الماضى دی نو تعريف د اسم فعل په دې باندې صادقيږي او اسم فعل نه دی.

جواب: اسم فعل په اصطلاح د نحويانو کې ماکان بمعنى الامرا والماضى وضعاً ته وائي او الضارب
امس په معنى د ماضى سره وضعاً نه دی بلکه دا په معنى د ماضى سره راغلي دی په اعتبار د امر
خارج سره چې امس دی.

سوال: تعريف د فعل مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو پکې اسماء الافعال ځکه فعل په اصطلاح
کې هغه کلمې ته وائي، چې دلالت کوی على معنى في نفسه او دا معنى مقترن نه وی په يو د ازمنه ثلاثه
ؤ پورې وضعاً او معنې د اسم فعل هم مقترن نه ده په يو د ازمنه ثلاثه ؤ پورې وضعاً او تعريف د اسم
جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو د دې نه اسماء بمعنى الافعال ځکه فعل هغه کلمى ته وائي چې
مقترن وی باحد الازمنة الثلاثة وضعا او دا مقترن دی باحد الازمنة الثلاثة وضعاً؟

جواب: په دې مقام کې مراد د وضع نه وضع ثاني ده چې هغه استعمال او اعتبار دی نه وضع اولی.
سوال: اصل په اسماء کې اعراب دی نو اسماء الافعال ولې مبني شو؟
جواب: (۱): لوقوعها موقع المبني (۲) لکونه بمعناه (۳) د وجی د مشابهت د اسماء الافعال نه د حروف عاملو سره په کون د دې کې عامل غير معمول.
سوال: اسماء الافعال د قبيلې د مبنيات نه دی او په مبني کې لابدې وی د اعراب محلی نه نو د دې اعراب محلی څه دی؟ **جواب:** بعض وائي چې دا اسم فعل مرفوع محلا دی بنابر ابتدائيت او دا مابعد ورله فاعل سد مسد خبر دی په شان د أقائم الذيدان باندې (۲) غوره مذهب دا دی چې لا محل لها من الاعراب لصيرورتها بمعنى الفعل واخذها حکمه.
سوال: تقديم د معمول د فعل په اسم فعل باندې جائز دی او که نه؟
جواب: (۱): په دې کې دوه مذهبه دی (۱) **کوفيان وائي چې** جائز دی دليل دا قول د الله تعالى چې کتابَ الله عليکم وقول الشاعر؛

أيها المائح دلوی دونکا الى الناس يحمدونکا

مائح هغه چاته وايې چې د کوهی د مينځ نه اوبه راوباسی او د کوهی دغاړی نه چې اوبه راوباسی هغی ته ماتح وايې
(۲) **بصريان وائي** لايجوز لانحطاط الفرع عن الاصل او کتاب الله مفعول مطلق د فعل محذوفه دی اصل کې کتَبَ کتابَ الله عايکم دې بيا اضافت د مصدر راغلې دی فاعل ته اودلوی خبر د مبتدا محذوف ای هذا دلوی (۲) يادا مبتدا ده او مابعد جمله خبر دی رابط ضمير ئې محذوف دی او دونکه.
(۳) مفعول به دی د فعل محذوف لپاره او د دې دواړو تفسير دی ای خذ دلوی.
وفعال بمعنى الامر من الثلاثی قياس: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د اسم فعل سماعی نه نو شروع يې وکړه په بيان د اسم فعل قياسی کې نو وی ويل چې وفعال بمعنى الامر الخ.
ترجمه: هر هغه اسم چې راځي په وزن د فعال باندې داسې فعال چې کائن دی په معنى د امر سره او داسې امر چې مشتق دی د ثلاثی مجردونه **قياس** او دا قياسی دی مثال لکه نزال شو چې دا يو اسم دی په وزن د فعال باندې په معنى د امر سره دی چې انزل دی او دا نزل مشتق دی د ثلاثی مجردو نه
تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی؟ **جواب:** ربط د ماقبل سره دا دی چې مخکې بيان د اسم فعل سماعی وو او دا بيان د اسم فعل قياسی دی.
سوال: غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟ **جواب:** غرض د مصنف د دې عبارت نه دوه خبرې دی (۱) تقسيم د اسم فعل نوعينونه چې اسم فعل دوه قسمه دی يو سماعی دی او بل قياسی دی په دې شان سره چې کوم اسم فعل چې راځي په وزن د فعال باندې هغه قياسی دی او د هغې نه علاوه نور سماعی دی لکه رويد اسم فعل دی په معنى د امهل سره دا مسموع من العرب دی او نور موثره نه شو قياس کولې په دې باندې، او نزال اسم فعل دی مسموع من العرب دی او نور هم قياس کولې

شو په دې باندې لکه ضراب قطام وغيره دا مذهب د سيبويه او د اخفش دی او مبرد وائي چې اسم فعل بروزن فعال سماعي دی نه قياسي لهذا په ده باندې اعتراض نه وارد يږي، او په سيبويه او اخفش باندې اعتراض وارديږي چې قوام او قعاد خو په معنی د قم او اقعد سره نه دی راغلي نوځ خنگه وائي چې دا قياسي دی. **جواب:** مراد د اخفش او سيبويه په قياس سره کثرت دی يعنی قياس او مطرد يې ورته ويلي دی د وجی د کثرت نه.

دويم غرض د مصنف په دې عبارت سره بيان د اقسامو د وزن د فعال دی چې وزن د فعال پنځه قسمه دی (۱) فعال امري نحو نزال (۲) فعال مصدري نحو فجار (۳) فعال صفتي نحو فساق (۴) فعال علمي د غير ذوات الراء نه نحو قطام و غلاب (۵) فعال علمي د ذوات الراء نه نحو حضار تمار او دا فعال امری مناسب دی د دې مقام سره او دا باقي څلور اقسام يې بيان کړي دی په دې مقام کې طرداً للباب فاندفع ماقيل

سوال: چې فعال امري ذکر کول مناسب دی د دې باب سره څکه چې دا اسم فعل بمعنی الامر دی او دا نور څلور اقسام د وزن د فعال خو د قبيلې د اسماء الافعال نه نه دی نو دائي دلته ولې ذکر کړی دی؟

جواب: دائي ذکر کړی دی طرداً اللباب

سوال: بمعنی الامر او من الثلاثي په ترکيب کې څه واقع شوی دی؟ **جواب:** بمعنی الامر جار مجرور ظرف مستقر په اعتبار د متعلق محذوف سره چې الکائن دی صفت واقع شوی دی د فعال لپاره او من الثلاثي جار مجرور هم ظرف مستقر په اعتبار د متعلق محذوف سره چې المشتق دی صفت واقع شوی دی د الامر لپاره.

سوال: توصيف د فعال په بمعنی الامر سره نه دی صحيح څکه دا وزن د فعال خو په معنی د امر سره نه دی (۲) او د فعال بمعنی الامر لپاره يې مثال ذکر کړی دی نزال دا مثال مطابق نه دی ممثل سره څکه چې نزال خو فعال نه دی؟

جواب: دا اعتراض په ستا هله وارديدو چې دلته مراد د فعال نه وزن د فعال وی ليکن دلته وزن د فعال نه دی مراد بلکه ذکر د وزن دی او مراد ترينه موزون دی نو معنی دا شوه چې هر هغه اسم چې هغه راځي په وزن د فعال باندې داسې اسم چې کائن دی په معنی د امر سره او مشتق دی د ثلاثي مجرد نه نو مثال هم مطابق شو د ممثل سره او توصيف د فعال هم صحيح شو بمعنی الامر سره.

سوال: دا فعال موصوف سره دصفت نه مبتداء ده او قياس ورله خبر دی او خبر محمول وی په مبتدا باندې او دلته حمل نه دی صحيح څکه حمل د صرف وصف راځي په ذات باندې؟

جواب: دا محمول دی په الحاق د ياء نسبتي سره ای قياسي (۲) يا محمول دی په حذف د مضاف سره ای ذو قياس (۳) يا مصدر مبني للمفعول دی ای مقيس (۴) يا دا محمول دی په فعال باندې په حذف دمضاف سره په جانب د مبتدا کې ای مجئ فعال قياس، څکه حمل د صرف وصف چې په ذات باندې راشي نو صحت د حمل کولي شي په يو د طرق خمسه ؤ سره (۱) حمل مبالغة نحو زيد

عدل (۲) مصدر مبني للفاعل لکه زید عادل یعنی چې عدل په معنی د عادل سره ووائي (۳) مصدر مبني للمفعول (۴) په حذف د مضاف سره (۵) په الحاق د یاء نسبتی سره او دلته حمل صحیح دی په یو د طرق ثلاثه ؤ مذکورو سره.
ثلاثي سره یې احتراز وکړو د رباعي نه ځکه چې د رباعي نه اسم فعل بمعنی الامر بروزن فعال نه دی راغلي او الثلاثي کې الف لام عهد خارجي دی مراد د ثلاثي نه ثلاثي مجرد دی نو دی سره یې احتراز وکړو د ثلاثي مزیدو نه ځکه اسم فعل بمعنی الامر بروزن فعال د ثلاثي مزید نه هم نه دی راغلي
وفعال مصدراً معرفة کفجار الخ: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د فعال امري نه نو شروع یې وکړه په بیان د باقي انواع د وزن د فعال کې طرد اللباب نو وی ویل وفعال مصدر الخ
ترجمه: هغه اسم چې راځي په وزن د فعال باندې په حال کون د ده کې **مصدرا** چې مصدر دی **معرفة** او معرفه دی د وجې د کیدو د ده نه علم د معنی لپاره مثال لکه فجار شو چې دا اسم دی په وزن د فعال باندې او مصدر دی او علم دی د الفجرة یا الفجور لپاره او دا دواړه د معانیو نه دی.
سوال: ته وائي چې فجار مصدر معرفه دی او مؤنث دی او شیخ رضی ویلي دی چې په کون د فجار مصدر معرفه او مؤنث باندې دلیل قطعي تر اوسه پورې ما ته نه دی معلوم شوی؟
جواب: (۱) عدم وجدان د شیخ رضی دلیل قطعي لره په کون د فجار مصدر معرفه مؤنث باندې مستلزم نه دی عدم وجود د دلیل لره، او دلیل په کون د فجار مصدر باندې کون د فجار دی بمعنی الفجرة یا بمعنی الفجور او دلیل په کون د فجار معرفه باندې توصیف د فجار دی په معرفی سره نحو نحو فجار القبیحة او دلیل په کون د فجار مؤنث باندې تانیث د باقي اقسامو د وزن د فعال دی، **وصفة** یا اسم بروزن فعال په حال کون د دې کې چې صفت یې واخلي د مؤنث لپاره مثال لکه **یا فساق** شو په معنی د فاسقة سره **مبني** مبني دی هر واحد د دې قسمین اخرین نه چې هغه فعال مصدري او فعال صفتي دی.
لمشابهته له عدلا وزنة: د وجی د مشابهت د هر واحد د فعال مصدري او فعال صفتي نه د فعال امري سره د جهت د عدل او وزن نه، یا په حال کون د دې کې چې دا معدول دی او صاحب د وزن دی، هر چې دی مشابهت فی الوزن نو هغه ظاهر دی، او هر چې دی مشابهت په عدل کې نو لکه څنګه چې نزال معدول دی د انزل نه نو دارنګې فجار معدول دی د مصدر معرفه نه چې الفجرة دی او فساق معدول دی د فاسقة نه، او اسم مبني دیته وائي چې دا مناسب وی د مبني اصل سره په یو د مناسبات ستهؤ سره چې هغه کون د اسم دی واقع په موضع د مبني اصل کې لکه نزال شو یا کون د اسم دی مشابه د هغه اسم سره چې هغه واقع وی په موضع د مبني اصل باندې لکه فجار او فساق شو
تشریح: سوال: په مبني کې ضمیر د مفرد مذکر مستتر دی او په لمشابهته کې هم ضمیر د مفرد مذکر دی او دا راجع دی فعال مصدري او صفتي ته نو مطابقت رانغلو بین الراجع والمرجع؟
جواب: دا ضمیر راجع دی فعال مصدري او صفتي ته په تاویل د کل واحد سره.

سوال: مصدراً او صفة ولې منصوب دی؟ **جواب:** دا منصوب دی بنابر حالیت

سوال: حال خو ذوالحال غواړی دلته ذوالحال کوم دی؟

جواب: (۱) ذوالحال دلته هغه ضمیر دی چې مستتر دی په مبني کې او دا فعال ذوالحال نه دی ځکه چې حال واقع کيږي د فاعل یا د مفعول به نه او فعال نه فاعل دی او نه مفعول دی او مبني عامل لفظی دی او حال مقدم کيږي په عامل لفظی باندې (۲) یا دا مصدر او صفة حال واقع شوی دی د ضمیر فاعل د فعل معنوی نه چې هغه مستفاد دی د دغه نسبت بین المبتدا والخبر نه

سوال: په دې جواب اول باندې اعتراض دی چې دا چې حال شي د ضمیر د مبني نه نو تقدیم د حال په ذوالحال باندې اګر چې جائز دی لیکن اولی خو نه دی بلکه خلاف اولی دی نو دا ولې مقدم شوی دی باعث په دې باندې څه دی؟

جواب: لاخار بابا ویلي دي چې دا ترکیب د هذا بسرا طیب منه رطباً د قبیلې نه دی یعنی حال مقدم شوی دی په عامل لفظی باندې لپاره د تعین د ذوالحال ځکه که داسې یې ویلي وی وفعال کفجار ومثل فساق مبني مصدرا معرفة وصفة نو دا پته نه لګیده چې دا مصدرا معرفة د کوم فعال نه حال واقع شوی دی او صفة د کوم فعال نه حال واقع شوی دی او کله چې یې مقدم کړو حال په عامل لفظی باندې نو تعین د ذوالحال راغي په دې شان سره چې دا مصدراً حال دی د فعال نه د دې جهت نه چې فعال مصدري واخلي او صفة حال دی د فعال نه د دې جهت نه چې مشتقی یې واخلي

سوال: فعال مصدري او صفتی ولي مبني دی؟

جواب: لمشابهته له عدلا وزنة، او اسم مبني هغې ته وائي چې مناسب وی د مبني اصل سره په یو د مناسبات ستة ؤ سره او یو مناسبت د هغې نه وقوع د اسم دی په موضع د مبني اصل کې او بل مناسبت د هغه مناسبات ستة ؤ نه کون د اسم دی مشابه د هغه اسم سره چې هغه واقع شوی دی په موضع د مبني الاصل کې لکه فجار او فساق شو ځکه دا فجار او فساق مناسب دی د نزال سره عدلا وزنة مناسبت وزنا خو ظاهر دی او عدلا مناسبت داسې دی چې لکه څنګه چې نزال معدول دی د انزل نه نو دارنګې فجار معدول دی د الفجرة نه او فساق معدول دی د یا فاسقة نه.

سوال: شیخ رضی ویلي دی چې دا نه منم چې نزال معدول دی د انزل نه ځکه چې په عدل کې اتحاد فی النوع شرط دی په معدول او معدول عنه کې لکه عُمَر معدول دی د عامر نه دا دواړه د یوی نوع نه دی چې اسم دی او ته وائي چې نزال معدول دی د انزل نه نو انزل فعل دی او نزال اسم دی نو اتحاد فی النوع نشته؟

جواب: عدل دوه قسمه دی (۱) یو عدل سبب دی لپاره د منع صرف هغې ته عدل لفظی وائي (۲) دویم عدل سبب دی لپاره د بنا دیته عدل لفظی او معنوی دواړه وائي نو کوم عدل چې سبب د منع صرف دی په هغې کې اتحاد فی النوع شرط دی په معدول او معدول عنه کې او کوم عدل چې سبب د بنا دی په هغې کې اتحاد فی النوع شرط نه دی په مینځ د معدول او معدول عنه کې.

پہ دي عدل باندې دليل څه دی چې نزال معدول دی د انزل نه الخ؟

سوال: دليل پہ دي باندې دا دی چې دوه لفظه چې شريك وی په يو معنی کې نو د دې صورتونه دوه دی (۱) يو دا چې مترادفين وی (۲) او بل دا چې معدول معدول عنه وی، اوس مونږه چې اوکتله نو نزال او انزل مترادفين خو نه دی ځکه په نزال کې مبالغه ده او په انزل کې مبالغه نشته نو پس معلومه شوه چې دا معدول او معدول عنه دی ځکه چې بل صورت يې نشته.

سوال: عدلاً او زنةً ولې منصوب دی؟ **جواب:** (۱): دا منصوب دی بنابر تميز (۲) يا منصوب دی بنابر حاليت او مصدر مبني للمفعول دی **وفعال علما للاعيان مؤنثاً** او اسم بروزن فعال په حال کون د دې کې چې علم يې واخلي لپاره د جنس عين.

سوال: نه وائي چې اسم بروزن فعال چې علم وی د اعيان لپاره او مثال ذکر کوی قطام او غلاب دا مطابق نه شو د ممثل سره ځکه قطام او غلاب علم د اعيان لپاره نه دی بلکه علم دی د يو عين لپاره؟

جواب: الاعيان کې الف لام جنسي دی معنی د جمعيت يې باطل کړي ده او مراد په دې سره جنس عين دی نو مثال مطابق شو د ممثل سره، **مؤنثاً** او داسې علم چې مؤنث دی علماً سره يې احتراز وکړو د باب د فساق نه او **للاعيان** سره يې احتراز وکړو د باب د فجار نه ځکه د هغې دواړو حکم مخکې بيان شوی دی او مؤنثاً قيد احترازي نه دی بلکه دا يې ذکر کړی دی لپاره د بيان د واقع مثل قوله تعالی ﴿ وَرَبَٰٓئِبُكُمُ ٱلَّٰتِي فِي حُجُورِكُم ﴾ په دی شان سره چې اسم بروزن فعال علم لپاره د يو عين نه راځي په استعمال د کلام د عربو کې مګر د مؤنث لپاره مثال لکه قطام شو چې دا علم د ښځې لپاره او غلاب شو دا هم علم دی د يو مؤنث لپاره، **مبني فی الحجاز** دا قسم فعال مبني دی استعمال د اهل حجاز کې د وجې د مشابهة د د نه د فعال امری سره عدلاً وزنة، **ومعرب فی تميم** او معرب دی دغه فعال علم په استعمال دا بنو تميم او لغت د بنی تميم کې د وجې د فوت د کمال مشابهت د فعال علمی نه د فعال امری سره ځکه هغه دلالت کوی په معنی مصدري باندې او دا دلالت کوی په معنی مصدري باندې نه کوي بلکه دلالت کوی په ذات باندې او اصل په اسماؤ کې اعراب دی، **الا** مګر معرب نه دی **ما** هغه فعال علمی کان فی اخره راء چې دی په اخير د دې فعال علمي کې راء مثال لکه حضار شو چې دا علم دی د يو ستوري لپاره او ظفار شو چې دا علم دی د يو مکان مرتفع لپاره او کرار شو چې دا علم دی د هغې کپړې لپاره چې په هغې سره جادو کوی ښځې په خاوندانو باندې دا فعال علمي د ذوات الراء نه په نزد د اکثر د بنی تميم باندې د قبيلې د مبنيات نه دی ځکه چې د دې په اخير کې راء راغلې ده او راء حرف متثقل دی د وجې د کيدو د دې نه په خپل مخرج کې کالمکرر پس مختاره کړې شوه په دې کې بناء ځکه بنا اخف ده د اعراب نه ځکه سلوك په طريقه واحده باندې اسهل دی د سلوك نه په طرائق مختلفو باندې خلافاً لبعض بنی تميم چې هغه فرق نه کوي په مابين د ذوات الراء او غير ذوات الراء کې بلکه ټولو ته معرب وائي په اعراب د غير منصرف سره ځکه چې په دې کې يو علميت دی او بل پکې تانيث معنوی دی او عدل پکې شته

ليکن سبب نه دی لپاره د منع صرف ځکه عدل د اسبابو ضروريو اعتباريو نه دی معتبر کولي شي د وجې د ضرورت نه او دلته ضرورت نشته د وجې د وجود د سببين د اسباب د منع صرف نه چې تانيث او علميت دی او عدل يې معتبر دی حملاً علی النظائر

الاصـــوات

ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د نوع رابع د انواع د اسم مبني نه تفصيلاً چې اسماء الافعال وو نو شروع يې وکړه په نوع خامس د اسم مبني کې تفصيلاً چې اصوات دی او هر کله چې بعض اصوات په معنی د اسماء الافعال سره وو نو د دې وجې نه يې په دی اسماء الافعال پسې متصل ذکر کړه **اصوات** جمع د صوت ده او صوت په لغت کې تصويت ته وائي او په اصطلاح کې کيفية تحدث من تحرك الهواء للقرع والقلع، او صوت دوه قسمه دی يو منقولي دی او بل غير منقولي دی او صوت منقولي په دوه قسم دی (۱) يو هغه دی چې نقل شوی دی د صوتيت نه مصدريت ته مثال لکه واهاً شو چې راغلي دی په دې قول د ابن قيم کې

واهاً لمنطق اليونان کم فيه من افك ومن بهتان

واهاً په معنی د تعجباً سره منصوب دی بنابر مفعول مطلق لپاره د فعل مقدر ای اتعجب تعجبا دويم قسم صوت منقولي هغه دی چې اول نقل شوی وی د صوتيت نه مصدريت ته او بيا د مصدريت نه نقل شوی وی اسم فعل ته مثال لکه صَه او مَه شو چې دا دواړه اصل کې صوت وو بيا د صوتيت نه نقل شو مصدر ته چې په معنی د سکوت او انکفاف سره وو او بيا د مصدر نه نقل شو اسم فعل بمعنی الامر ته صَه بمعنی اسکت سکوت الان او مَه بمعنی انکفف انکفاف الان او مَه په معنی د انکفف سره دی نه په معنی د امنع سره ځکه مَه لازم ده ترجمه يې دا ده چې ته منع شه او امنع فعل متعدي دی معنی يې دا ده چې ته منع کوه بل چاله او س که موږ ذمه ترجمه وکړو په امنع سره نو لازميږي تفسير د لازم په متعدي سره او دا تفسير بالمبائن دی ځکه لازم او متعدي متبائين دی او صوت غير منقولي دري قسمه دی (۱) **کل لفظ** جنس لفظ دی **حکی** چې حکايت کولي شي او بيانی کولي شي **به** په دی لفظ سره **صوت** د يو اواز د اصواتو د حيواناتو يا جماداتو نه (۲) **اوصوت به البهائم** يا صوت غير منقولي په اصطلاح کې هغه لفظ ته وائي چې اواز کولي شي په دې لفظ سره چارپايانو ته بطور مثال دا هله چې بهائم په معنی د قوايم الاربعة سره شي، او که بهائم په معنی د مايدب فی الارض سره شي نو بيا مجانين او صبيان او طيور داخل دی په دې کې مثال د اول لکه غاق شو چې حکايت کولي شي په دې سره د اواز د کارغه نه بل مثال لکه قب شو چې حکايت کولي شي په دې سره د اواز د توری نه بل مثال لکه ويه شو چې حکايت کولي شي په دې سره د صوت د مصوت علی الميت نه د دې وجې نه سيبويه نفطويه لاه ويه ته مرکب صوتي وائي ځکه د دې په اخير کې صوت راغلي دی چې ويه دی.

والثاني كنخ او مثال لكه نخ شو په تشديد سره يا په تخفيف سره چې په دې سره اواز كولي شي اوښانو ته لپاره د كينولو بل مثال لكه هالا شو چې اواز كولي شي په دې سره نرس ته او بل مثال لكه عدس شو چې لواز كولي شي په دې سره بغل ته.

(۳): دريم قسم كل لفظ صوت به ابتداء من غير تعلق الى الغير لكه وَي او وَح شو چې دا خارجيږي د لسان د انسان نه په وقت د عروض د تعجب او ندامت كې.

تشريح: سوال: اصوات يې ولي مقدم كړه په مركبات باندې؟ **جواب:** بعض د اصوات نه په معنى د اسماء الافعال باندې دى نو د دې مناسبت د وجى نه يې ذكر كړه د وروستو د اسماء الافعال نه متصل بلا فصل.

سوال: نه وائي چې اصوات په اصطلاح كې كل لفظ الخ ته وائي دا تعريف د صوت جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو د دې نه واهاً او صَهْ او مَهْ ځكه دا كل لفظ حكى به صوت او صوت به البهائم نه دى بلكه واهاً بمعنى تعجباً دى او صَهْ بمعنى اسكت او مه بمعنى انكفف دى

جواب: صوت په دوه قسمه دى (۱) يو منقولي دى (۲) او بل غير منقولي دى. دا تعريف د صوت غير منقولي دى او صه مه او واها صوت منقولي دى دا اعتراض به هله وارديدو چې دا تعريف د مطلق صوت وى.

سوال: هر كله چې صوت په دوه قسمه دى (۱) يو منقولي دى او بل غير منقولي دى، نو مصنف چې دا صوت غير منقولي ذكر كړي دى نو صوت منقولي يې ولې نه دى ذكر كړي؟

جواب: صوت منقولي په دوه قسمه دى (۱) يو قسم هغه دى چې نقل شوى دى د صوتيت نه مصدريت ته (۲) او دريم هغه دى چې نقل شوى دى د صوتيت نه مصدريت ته او د مصدريت نه اسم فعل ته نو دا قسم اول داخل دى په مصدر كې او قسم ثاني داخل دى په اسم فعل كې نو ځكه يې دلته نه دى ذكر كړي.

سوال: هر كله چې صوت غير منقولي درې قسمه دى نو مصنف دلته دا دوه ذكر كړي دى او دا يو يې ترك كړى دى دا ولې؟ **جواب:** هر كله چې دا قسم اول او قسم ثاني د قبيلې د مبنيات نه وو سره د دې نه چې د دې تعلق شته دى د غير سره، او هغه صوت چې جارى كيږي په لسان د انسان باندې په وقت د عروض د تعجب او ندامت كې هغه تعلق د چا سره نه لري نو هغه په طريقه اولى سره مبني دى ځكه يې هغه نه دى ذكر كړي.

سوال: اصوات د قبيلې د مبنيات نه ولې نه دى؟ **جواب:** (۱): لعدم موجب الاعراب وهو التركيب (۲)، يا اصوات د قبيلې د مبنيات نه دى ځكه دا مشابه دى د حروفو غير عاملو سره په كون د دې كې مستعمل غير عامل غير معمول فيه، او هر چې دى قال زيد عند التعجب ويه، وقال زيد عند اناخة البعير نخ، وقال زيد غاق عند حكاية صوت الغراب نو بنا په دې كې حكايةً ده اګر چې دا په

ترکیب کې واقع شوی دی او معمول واقع شوی دی د فعل لپاره خو بنا په دې کې حکایةً دی محکی په حکم د محکی عنه کې وی.

سوال: اصوات جمع ده او جمع دلالت کوی په افرادو باندې او کل راځي د احاطی د افرادو د مضاف الیه لپاره نو دا خو تعریف د افرادو په افرادو راغي او دا باطل دی ځکه تعریف د جنس کیږي په جنس سره؟ **جواب:** الاصوات کې الف لام جنسي دی او الف لام جنسي چې داخل شي په جمع باندې نو جمعیت باطلوی، او کلمه د کل مقحم او زائده ده په تعریف کې تعریف مدخول د کل دی نه کل.

سوال: بیا خو پکار وه چې داسې یې ویلي وی چې الصوت لفظ حکی به صوت الخ، نو دا الاصوات یې جمع ولې ذکر کړه او دا کل یې ولې ذکر کړو؟ **جواب:** اصوات یې جمع ذکر کړې ده په دې کې یې اشاره وکړه کثرت د انواع ته او کل یې زائد ذکر کړی دی لپاره د تصریح په جامعیت او مانعیت د تعریف باندې، پس د دې نه معلوم شوه چې کل څلور قسمه دی.

(۱): کل کلی نحو کل انسان نوع (۲): کل افرادی نحو کل انسان حیوان وقوله تعالی کل نفس ذائقة الموت (۳): کل مجموعی نحو کل الرمان لایؤکل یعنی مجموعه انار نه شي خوړې.

سوال: کل الرمان ما کول دا ترکیب صحیح دی که نه دی صحیح؟

جواب: دا ترکیب نه دی صحیح ځکه چې دا مستلزم ذی کذب لره ځکه دا کل مجموعی دی د دې معنی دا ده چې مجموعه انار خوړلي شي او دا معنی نده صحیح ځکه د انار پوستکی څوك نه خوری.

(۴): کل زائد لکه په دې مقام کې شو.

سوال: کل لفظ حکی به صوت یې وویل نو کل اسم یې ولې ونه ویل؟

جواب: کل لفظ یې وویل او کل اسم یې ونه ویل ځکه چې دا اصوات اسماء نه دی ځکه اسم هغه لفظ ته وائي چې موضوع للمعنی وی او اصوات موضوع للمعنی نه دی.

سوال: هر کله چې اصوات اسماء نه دې نو ګرځول د دې د قبیلې د اسم مبني نه نهٔ دی صحیح نو دا یې دلته ولې ذکر کړی دی؟ **جواب:** دا عین اسماء نه دی لیکن جار مجری د اسم مبني دی نو ځکه یې ذکر کړی دی په بحث د اسم مبني کې او د هغې نه ئې یو قسم ګرځولي دی.

سوال: دا تعریف د اصوات باطل دی ځکه چې مقصود په تعریف کې وضاحت د معرَّف دی او وضاحت د معرف راځي په جزم او قطع سره او دا تعریف بنا دی په شك او تردد سره ځکه ده ذکر کړې ده، کلمه د اَوْ په تعریف کې او دا راځي د شك او تردد لپاره؟ **جواب:** کلمه د اَوْ د تنویع او د تقسیم لپاره ده په دې سره یې اشاره وکړه دیته چې صوت منقولې دوه قسمه دی (۱) حُکِیَ به صوت (۲) صُوِّتَ به البهائم.

سوال: دا تعریف د صوت جامع نه دی خپلو افرادو لره خارج شو د دې نه هغه صوت چې په هغې سره اواز کولي شي مجانین یا صبیان یا طیورو ته ځکه بهائم جمع د بهیمة ده او بهیمة د څلور پښو والا حیوان ته وائي؟

جواب: (۱): په دې کې مجاز مرسل دی ذکر د خاص او مراد ترینه عام دی چې ما یدب فی الارض دی نو شامل شو تولو لره (۲) او که اومنم چې بهائم په خپله معنی سره دی نو بیائي دا ذکر کړی دی بطور مثال نه لپاره د احتراز د غیر نه

المـركبـات

ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د نوع خامس د اسم مبني نه تفصیلاً چې اصوات وو نو شروع یې وکړه په بیان د نوع سادسه د اسم مبني کې تفصیلاً چې مرکبات دی او هر کله چې بعض د مرکبات نه مرکب صوتی وو نو دائي متصل ذکر کړه په اصوات پسي نو وې ویل چې المرکبات

ترجمه: جنس مرکب په ضمن د مرکب بنائي کې چې واخلي چې هغه معدود من المبنیات دی په اصطلاح د نحویانو کې **کل اسم** جنس اسم دی، کل زائد دی او مقحم دی په تعریف کې او تعریف مدخول د کل دی نه کل او دائي ذکر کړی دی مخض لپاره د جامعیت او مانعیت په تعریف باندې اسم ورته وایم په اعتبار د آن سره او مرکب ورته وایم په اعتبار د کان سره او اجتماع د متنافیین په آن واحده کې په جهت واحده سره ممتنع ده **من کلمتین** هسی اسم چې جوړ شوی دی او حاصل شوی دی د ترکیب د کلمتین نه کلمتین عام دی که حقیقتاً وی او که حکماً وی یا ذکر د خاص دی چې کلمتین دی او مراد ترینه عام دی چې لفظین دی او کلمتین یې وویل نه اسمین لپاره د دې چې داخل شي په دې کې بخت نصر او معدیکرب داسې کلمتین **لیس بینها نسبة** چې نه وي موجود په مینځ د دې کلمتین کې پس د علمیت نه علامه د آله په وجود د نسبت باندې قبل العلمیت

تشریح سوال: المرکبات جمع ده دا به خالي نه وائي یا به یې جمع د مرکب نه وائي او یا به یې جمع د مرکبة وائي دواړه نه دی صحیح ځکه که جمع د مرکب یې وائي نو مطابقت بین الموصوف والصفة خو راغلو لیکن مطابقت بین المفرد والجمع نشته ځکه مرکب مذکر دی دا جمع کیږي په واو نون سره نه په الف او تاء سره، او که جمع د مرکبة یې وائي نو بیا مطابقت په مینځ د مفرد او جمع کې راغي لیکن مطابقت نه راځي د موصوف سره ځکه موصوف د دې مذکر دی چې اسم دی او مرکبة مؤنث دی؟

جواب: مرکبات جمع د مرکب ده او مرکب صفت د مذکر لایعقل دی او صفت د مذکر لایعقل جمع کولي شي په الف او تاء سره قیاساً او اطراداً کالایام الخالیات، والصافنات الجیاد، وجمال سجلات

سوال: المرکبات جمع ده او جمع دلالت کوی په افرادو باندې او کل راځي د احاطی د افرادو د مضاف الیه لپاره نو دا خو تعریف د افرادو راغي په افرادو باندې او دا نه دی جائز ځکه په تعریف کې لابدي ده د جامعیت او مانعیت نه او تعریف جامع او مانع هله ګرځي چې تعریف د جنس په جنس سره وشي او که تعریف د افرادو بالافراد وشي نو دا تعریف جامع کیږي نه ځکه اف اد بعض موجود دی او بعض معدوم دی او په دې موجودات کې بعض غائب وی او بعض حاضر وی نو دا تعریف صادقیږي په هغه افرادو چې موجود وی او حاضر وی او کوم چې معدوم وی او غائب وی په هغې باندې نه صادقیږي. **جواب:** المرکبات کې الف لام جنسي دی او الف لام جنسي چې داخل

شي په جمع باندې نو جمعيت باطلوي ځکه په جمع کې لحاظ د افرادو وي او ـه الف لام جنسي کړي لحاظ د ماهيت او د مفهوم وي او په مينځ د دې دواړو کې منافات دي او کلمه د کل مقحم دي او زائد دي په تعريف کې تعريف مدخول د کل دي نه کل
سوال: هر کله چې د مرکبات نه جنس مرکب مراد دي او کلمه د کل زائد دي. نو بيا يې دا صيغه د کل ولې ذکر کړې دي؟ **جواب:** په دې جمع کې يې اشاره وکړه کثرت د انواع ته او کل يې ذکر کړي دي محض لپاره د تصريح په جامعيت او مانعيت د تعريف باندې
سوال: ته وائې چې المرکبات کې الف لام جنسي دي او جنس مرکب مراد دي نو معنی دا شوه چې جنس مرکب په اصطلاح د نحويانو کې کل اسم الخ ته وائي دا تعريف د مرکب جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو د دې نه لفظ د مرکب او خارج شو ددې نه مرکب اضافي مرکب توصيفي، مرکب اسنادي دا د افرادو د جنس مرکب نه دي او تعريف د مرکب وربانديې نه صادقيږي؟
جواب: جنس مرکب په ضمن د مرکبات بنائيه ؤ کې چې واخلې چې هغه مرکبات معدوده من المبنيات دي کل اسم الخ ته وائي د دې نظير لکه حيوان چې په ضمن د انسان کې واخلې نو حيوان ناطق ته وائي او قرينه په دې باندې چې مراد د مرکبات نه مرکبات معدوده من المبنيات دي دا قاعده ده معرفه چې معاد شي معرفه نو ثاني نه به عين اول مراد وي.
سوال: تعريف د مرکبات په کل اسم الخ سره تعريف بالمبائن دي ځکه اسم قسم دي د کلمې نه او کلمه او مرکب متبائنين دي ځکه د کلمه په مفهوم کې افراد معتبر دي او هغه منافي دي د ترکيب سره؟
جواب: ديته زه مرکب وايم قبل العلميت او اسم ورته وايم بعد العلميت
سوال: اسم موصوف دي او من کلمتين جار مجرور ورله په اعتبار د متعلق سره صفت واقع شوي دي او من تبعيضی دي ځکه دا داخل شوي دي په تثنيه باندې او علامه د من تبعيضی دا ده چې داخليږي په متعدد باندې دا متعدد عام دي که تثنيه وي او که جمع وي نو معنی دا شوه چې مرکبات معدوده من المبنيات په اصطلاح د نحويانو کې جنس اسم دي داسې اسم چې بعض دي د کلمتين نه او بعض د کلمتين نه کلمه واحده ده او دا مرکب معدوده خو کلمه نده بلکه دا خو کلمتين دي؟ **جواب:** دا من تبعيضی نه دي بلکه من ابتدائيه دي او مدخول د من حذف شوي دي فيکون التقدير کل اسم حاصل من ترکيب کلمتين
سوال: چې من کلمتين يې وويل نو من اسمين يې ولې ونه ويل؟ **جواب:** من اسمين يې ونه ويل ليدخل فيه بخت نصر و معديکرب.
سوال: تعريف د مرکبات بنائيه ؤ جامع نه شو افرادو خپلو لره خارج شو د دې نه سيبويه او نفطويه ځکه دا اسم مرکب نه دي د کلمتين نه بلکه دا مرکب دي د اسم او د صوت نه او صوت کلمه نده کما مر؟
جواب: (۱): دا اعتراض به هله وارديدو چې دا عبارت د مصنف بنا وي په حقيقت باندې ليکن دا په حقيقت نه دي بنا بلکه بنا دي په مجاز باندې په دې شان سره چې ذکر د خاص دي چې کلمتين دي او مراد ترينه عام دي چې لفظين دي.

(۲) یا جواب دا دی چې کلمتین عام دی که حقیقتاً وی او که حکماً او صوت حقیقتاً نه دی لیکن حکماً دی، **ولیس بینها نسبة** دا جمله یې صفت واقع کړه د کلمتین لپاره لیخرج عنه مثل تابط شرا و غلام زید و رجل عالم لوجود النسبة بین کلمتیها

سوال: مرکب اسنادی خو د قبیلې د مبنیات نه دی دا ولې خارج کوی د مرکبات بنائیه ؤ نه؟

جواب: (۱) دلته موږ اسم مبني ذکر کوو او هغه دقبیلې د مبني اصل نه دی (۲) دلته موږه هغه مرکبات ذکر کوو چې سبب د بنا د هغه لپاره ترکیب وی او مرکب اسنادی اګر چې د قبیلې د مبنیات نه دی خو دا ترکیب پکې سبب د بناء نه دی بلکه بناء پکې راغلي ده حکایةً څکه یې خارج کو د دې مرکبات بنائیه ؤ نه

سوال: **لیس بینها نسبة** به خالی نه وائي یا به یې قبل العلمیت وائي او یا به یې بعد العلمیت وائي که بعد العلمیت یې وائي نو بیا خو مرکب اضافی، توصیفی، اسنادی، کې شته لکه تابط شرا او عبدالله شو څکه مراد په دې سره حیوان ناطق مع هذا التشخص دی، او که قبل العلمیت یې وائي نو قبل العلمیت چې نسبت څنګه، په مرکب اسنادی اضافي او توصیفی کې موجود دی نو دارنګې په مرکب بنائې تعدادی کې هم موجود دی چې هغه نسبت عطفی دی.

جواب: (۱) بعض شارحینو د دې نه دا جواب کړی دی چې دلته مراد نسبت قبل العلمیت دی خو ماسوی د نسبت عطفی نه نو مرکب بنائي تعدادی ترې خارج نه شو لیکن جامی صاحب وائي چې دا جواب نه دی صحیح څکه چې دلته نسبة نکره ده او واقع ده په سیاق د نفی کې دا عموم او استغراق فائده کوی او استغراق به په دې کې هله راشي چې نسبت عطفی ترې مستثنی نه شي او چې دا ترې مستثنی شي نو استغراق نه راځي لهذا جامی صاحب وائي چې دلته د لیس بینها نسبة معنی دا ده چې نه به وی په مینځ د دې کلمتین کې علامه د اله پس د علمیت نه په نسبت بینها باندې قبل العلمیت نو مرکب تعدادی پکې داخل شو څکه په هغې کې پس د علمیت نه علامه داله په نسبت باندې قبل العلمیت نشته او تابط شرا، عبدالله وغیر خارج شو څکه چې په هغې کې علامه داله په نسبت بین الکلمتین باندې قبل العلمیت شته چې هغه جر او نصب دی، او مرکبات ټول نهه دی (۱) مرکب اسنادی (۲) اضافی (۳) توصیفی (۴) عطفی (۵) شبه جمله (۶) مرکب بنائي تعدادی (۷) بنائي غیر تعدادی (۸) مرکب منع صرف (۹) مرکب صوتی

وجه د حصر پکې دا ده چې دا کلمتین د دې مرکب به خالی نه وي یا به د دې په مینځ کې نسبت وی او یا به نه وي که نسبت پکې وو نو بیا به خالي نه وي یا به تام وی او یا به ناقص وی که تام وو نو مرکب تام، او که ناقص وو نو بیا به خالي نه وي یا به د دې کلمتین په مینځ کې اتصال وی او یا به انفصال وی که انفصال وو نو مرکب عطفی لکه احد وعشرون، او که اتصال وو نو بیا به خالي نه وي یا به لفظي وی او یا به معنوی وی که لفظی وو نو مرکب اضافی نحو غلام زید او که معنوی وو نو بیا به خالي نه وي یا به عامل او معمول وی او یا به نوی، که عامل او معمول وو نو شبه جمله

او که نه وو نو مرکب توصیفي لکه رجل عالم، او که نسبت پکښې نه وو نو بيا به خالي نه وي يا به جز ثاني متضمن وی معنی د حرف لره یا به نه وي که جز ثاني متضمن وو حرف لره نو بیا به خالي نه وي یابه دلالت کوی په کمیت د افرادو د معدودات باندې او یا به يې نه کوي که دلالت يې کوو نو مرکب بنائي تعدادی، او که دلالت يې نه کوو نو بنائي غير تعدادي لکه بين بين او بيت بيت شو، او که جزثاني متضمن معنی د حرف لره نه وو نو بيا به خالي نه وي يا به جز ثاني صوت وی او يا به نه وي که صوت وو نو مرکب صوتی لکه سیبویه او نفطویه او که جز ثاني صوت نه وو نو مرکب منع صرف لکه بعلبك او معدیکرب شو.

په هر تعریف کې لابدې وی د جنس او فصل نه کل اسم جنس دی داخل شو په دې کې مفردات او مرکبات تسعة من کلمتین فصل اول دی په دې سره يې احتراز وکړو د اسماء مفرده نه او **لیس بینهما نسبة فصل ثانی** دی په دې سره يې احتراز وکړو د مرکب اسنادی، اضافی، توصیفي عطفي او شبه جمله نه نو باقي پاتې شو څلور قسم مرکبات دا د قبیلې د مبنیات نه دی او دا بنا پکښې راغلې ده د ترکیب د وجی نه

فان تضمن الثانی حرفا: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان دتعریف د مرکبات بنائیه ؤ نه نو شروع يې وکړه په بیان د احکامو د مرکبات کې نو وی ویل فان تضمن الثانی الخ

ترجمه: که چرې مشتمل وو جز ثاني د مرکب **حرفا** معنی د حرف لره بالذات یا بالواسطه **بنیا** دا دواړه جزئين مبني کولې شي په فتحې سره هر چې جز اول نو دا مبني دی د وجی د وقوع د اخیر د دې نه په وسط د کلمه کې او په وسط د کلمه کې اجراء د اعراب نده جائز او هر چې دی جز ثاني نو دا مبني دی د وجی د تضمن د دې نه معنی د حرف لره او دا حرف عام دی که حرف جر وی لکه بيت بيت او بین بین شو چې د دې دا جز اول مبني على الفتحة دی د وجی د وقوع نه په وسط کې او جز ثاني يې مبني دی څکه متضمن دی معنی د حرف لره چې الصاق دی څکه د دې معنی دا ده چې بیتی ملاصق لبیتك وبیتی ملاحق لبیتك یا دا حرف حرف عطف وی مثال لکه **خمسة عشر** او حادی عشر شو **واخوتها** او دارنګې امثال د حادی عشر چې هغه ثاني عشر دی تر تاسع عشر پورې دارنګې د احد عشر نه واخله تر تسعة عشر پورې جز اول او جز ثاني پکښې دواړه مبني على الفتحة دی **الا اثنی عشر** ماسوی د اثني عشر نه چې د دې جز اول او جز ثاني دواړه مبني على الفتحة نه دی بلکه جز اول معرب په اعراب د تثنیه سره او جز ثاني يې مبني على الفتحة دی.

سوال: د احد عشر نه تر تسعة عشر پورې جز اول او ثاني ولې مبني دی؟

جواب: جز اول مبني دی لوقوع حرف اخیره في الوسط او اجراء د اعراب په وسط کې نده جائزاو جز ثاني مبني دی څکه چې دا متضمن دی معنی د حرف عطف لره څکه احد عشر اصل کې واحد و عشر وو او معنی د واو جمع ده یعنی یو او لس مجموعه او دا احد عشر هم متضمن دی دغه معنی لره.

سوال: په اثناعشر کې جز اول معرب او ثاني مبني ولې دی؟

جواب: جز ثاني ځکه مبني دی چې متضمن دی معنی د حرف عطف لره او جز اول معرب دی ځکه د دې نه نون غورځيدلي دی د اتصال د وجې نه نه د اضافت د وجې نه كما قال صاحب الشمة نو په دې حذف د نون کې دی مشابه شو د مضاف سره او اضافت د خواص معظمه مکبرو د اسم نه دی قوي کيږي په دې سره جهت د اسميت او اصل په اسماؤ کې اعراب دی نو دا ځکه معرب شو په حالت رفعی کې په الف سره راځي او په حالت نصبی او جری کې په یاء سره راځي. او پدې مقام کې اثنی عشر منصوب بالياء دی ځکه مستثني واقع شوی دی د ضمير د بنيا نه او مستثني چې واقع شي د الانه وروستو په کلام موجب کې او مستثنى منه مذكور وی نو منصوب وی وجوباً

سوال: مثال ذکر کولي شي لپاره د وضاحت د ممثل او وضاحت د ممثل راځي په مثال واحد سره نو تا دلته دوه مثالونه ولې ذکر کړو؟ **جواب:** په دې تعدد د مثال کې مصنف اشاره وکړه چې دا بناء ثابته ده په دې مرکب کې برابره خبره ده چې يو د جزئين د دې مرکب نه عدد زائد على العشرة وی او که صيغه د اسم فاعل وی چې مشتق وی د عدد زائد نه

سوال: احد عشر کې جز ثاني مبني دی ځکه متضمن دی معنی د حرف عطف لره ځکه مجموعه يوولس مراد دی او حادي عشر کې خو جز ثاني متضمن نه دی معنی د حرف عطف لره ځکه چې د دې نه مجموعه يوولس نه دی مراد بلکه د دې نه مراد دی يو ديوولسو نه چې هغه يوولسم دی؟

جواب: تضمن د جز ثاني معنی د حرف لره عام دی که بالذات وی لکه احد عشر کې شو یا بالواسطه وی لکه حادي عشر کې شو په دې شان سره چې په حادي عشر کې دا جز ثاني متضمن دی معنی د حرف لره په اعتبار د منقول عنه او مشتق منه د حادي سره او حادي عشر کې بناء على الفتحة او بنا على السكون دواړه جائز دی او حادي بروزن عالف مقلوب د واحد دی بروزن فاعل بيا دا حاء مخکې کړې شوه او واو وروستو شو د کلمه په اخير کې ذکر شو نو د واحد نه حادو جوړ شو بيا په قاعده د دعي باندې واو بدل شو په ياء سره نو حادو نه حادي جوړ شو بيا ضمه بر ياء ثقيل بوداند افتن حادي شد. **والا أعراب الثاني** او که چرې نه وو جز ثاني متضمن معنی د حرف لره او نه وو قبل التركيب مبني نو معرب کولي شي جز ثاني د دې مرکب په اعراب د غير منصرف سره لکه بعلبك شو **وبنى الاول** او مبني کولي شي جز اول د دې مرکب **على الاصح** بنا په مذهب اصح باندې

سوال: ته وائي چې که دا جز ثاني د مرکب متضمن نه وو معنی د حرف لره أعرب الثاني. نو دا خبره ستا منقوضه شوه په سيبويه او نفطويه سره ځکه جز ثاني د دې متضمن نه دی معنی د حرف لره او معرب نه دی بلکه مبني دی؟ **جواب:** د والامعنی دا ده چې که نه وو جز ثاني متضمن معنی د حرف لره او نه وو مبني قبل التركيب أعرب الثاني كبعلبك. او على الاصح يې وويل ځکه په دې بعلبك کې لغات ثلاثه دی (۱) يو دا چې جز اول مبني على الفتحه دی او جز ثاني معرب دی په اعراب د غير منصرف سره نحو جاءني بعلبك رايت بعلبك مررت بعلبك (۲). دويم لغت پکې دا دی چې جز اول معرب دی په اعراب د منصرف سره او جز ثاني معرب دی په اعراب د غير منصرف سره نحو

جانی بعلّبك رایت بعلّبك مررت ببعلبك (۳) دریم لغت یکي دا دی چي جز اول مضاف دی او جز ثانی مضاف الیه دی نحو جانی بعلبك رایت بعلّبك مررت ببعلبك او بعلبك ته عند النحات مرکب امتزاجي هم وائي مرکب امتزاجی هغې ته وائي که دو اسم رایکی کرده شد او دا دویم اسم پې گرځولي وی په منزله د تاء التانیث باندي په دې شان سره لکه څنګه چي تاء التانیث متصل شي په اسم پورې نو ماقبل مبني علی الفتحه گرځي او اعراب جاری کیږي په تاء باندې درانګي دلته اول اسم مبني علی الفتحه گرځي او اعراب جاری کیږي په دې ثانی اسم کی، او مرکب امتزاجي څلور قسمه دی (۱) مرکب بنائي تعدادی نحو احد عشر (۲) مرکب بنائي غیر تعدادی نحو بین بین و بیت بیت (۳) مرکب صوتی نحو سیبویه (۴) مرکب منع صرف نحو بعلبك

الـكـنـايـات

ربط: هرکله چي فارغ شو مصنف د بیان د نوع سادس د اسم مبني نه تفصیلاً چي مرکبات وو نو شروع یې وکړه په نوع سابع د اسم مبني کي تفصیلاً چي هغه کنایات دی، یا هر کله چي کنایات اکثر د قبیلي د مبنیات نه وو په خلاف د ظروف نه چي دا بعض د مبنیات نه وو پس مقدم او گرځول کنایات مبنیه په ظروف مبنیه باندې فافهم -

ترجمه: **الکنایات** هغه الفاظ چي کنایه کولي شي په هغې سره په اصطلاح نحویانو کي کم او کذا دی داسي کم او کذا **للعدد** چي کائن دی د عدد مبهم لپاره او عدد مبهم دیته وائي چي د هغې کمیت معلوم نه وي **وکیت وذیت** او کیت او ذیت دی **للحدیث** داسي کیت او ذیت چي کائن دی د قصه او جمله لپاره او په کیت او زیت سره کنایه نه شي کولي د جملي نه مگر په طریقه د تکرار سره لکه مثلاً وائي په ته کان بیني و بین زید کیت و کیت ذیت و ذیت چي دا کنایه ده د هغه خبري نه چي هغه جاری شوې ده په مینځ د متکلم او زید کي

تشریح: **سوال**: (۱) شمیرل د کنایات د قبیلي د اقسامو د اسم مبني نه نهٔ دی صحیح ځکه اقسام د اسم مبني اقسام د الفاظو دی او کنایات جمع د کنایة ده او کنایه صیغه د مصدر ده معنی ده نه لفظ ځکه دا صفت د متکلم دی (۲) الکنایات مبتدا ده او کم او کذا ورله خبر دی او خبر محمول وی په مبتدا باندې او دلته حمل نه صحیح کیږي ځکه حمل د ذات راځي په صرف وصف باندې؟

جواب: کنایات جمع د کنایة ده خو ذکر د مصدر دی او مراد ترینه مایکنی به دی نو معنی دا شوه چي هغه الفاظ چي کنایه کولي شي په هغې سره په اصطلاح د نحویانو کي کم او کذا او کیت او زیت دی نو شمیرل د کنایات د اقسام د اسم مبني نه هم صحیح شو او حمل د خبر په مبتدا باندې هم صحیح شو

سوال: دا کنایات نه خالي نه وي یا به ټول کنایات وائي او یا به بعض مطلق وائي او یا به بعض معین وائي که ټول کنایات وائي نو داخل شو پکې فلان، او فلانة او هغه دقبیلي د مبنیات نه نهٔ دی او که بعض مبهم وائي نو بیا هم شامليږي فلان او فلانة نه او که بعض معین وائي نو د هغې لپاره لاندې ده د قرینې نه دلته قرینه څه ده؟ **جواب**: زه د کنایات نه بعض کنایات اخلم علی التعین او قرینه په دې باندې اصطلاح د

نحویانو د، ځکه کنایات چې ذکر شي مطلق په بحث د مبنیات کې نو دوی اراده کوی د هغې نه بعض معین چې دغه الفاظ اربعه دی د دې وجې نه مصنف بعض الکنایات ونه ویل لکه چې ویلي یې دی بعض الظروف ځکه الکنایات کې الف لام عهد خارجي دی مراد د دې نه بعض معین دی نو اصطلاح د دوی په باب د مبنیات کې قائمه شوې ده په مقام د بعض باندې نو په دې سره بل اعتراض هم دفع شو

سوال: هر کله چې کل کنایات د قبیلې د مبنیات نه نهٔ دی بلکه بعض د قبیلې د مبنیات نه دی نو بعض الکنایات یې ولې ونه ویل لکه چې بعض الظروف یې ویلی دی؟

جواب: (۱) هر کله چې اکثر کنایات د قبیلې د مبنیات نه وو او بعض د قبیلې د معربات نه وو نو کنایات یې مطلق وګرځول د قبیلې د مبنیات نه مجازاً لان للاکثر حکم الکل په خلاف د ظروف نه چې هغه اکثر د قبیلې د معربات نه وو او بعض د قبیلې د مبنیات نه دی نو هغه یې مطلقاً د قبیلې د مبنیات نه نهٔ شو ګرځولی نه حقیقتاً او نه مجازاً

(۲) کنایات چې مطلق ذکر شي په بحث د مبنیات کې نو مراد ترې بعض معین وی چې دغه الفاظ اربعه دی نو دا اصطلاح د دوی قائمه شوې ده په مقام د بعض باندې

سوال مصنف د کنایات تعریف ولې ونه کړو؟ **جواب:** هر کله چې د کنایات نه بعض کنایات مراد وو نه کل او د دې بعض کنایات لپاره تعریف جامعه مشتر که نه وو موجود چې هغه شامل شوی وی فقط دغه الفاظ اربعه لره نه نو ځکه نو مصنف تعریف ونه کړو

کنایات جمع د کنایه ده او کنایة په اصطلاح د اصولینو کې ما استتر مراده ته وائي یعنی کنایه عند الاصولین نوم دی د لفظ لپاره چې د هغه معنی مراده واضح نه وی دا راځي مقابل د صریح (۲) او کنایه په اصطلاح د علماؤ د علم بلاغة کې (۱) ذکر د لازم او مراد ترینه ملزوم دی، عند السکاکی (۲) یا ذکر د ملزوم او مراد ترینه لازم دی عند صاحب تلخیص المفتاح. دا راځي مقابل د حقیقت او مجاز کې (۳) او کنایه په لغت کې او په اصطلاح د نحویانو کې تعبیر کول د متکلم دی د یو مسمی معین نه په داسې لفظ سره چې هغه نه وي صریح الدلالة په دغه مسمی معین باندې لکه نه جاءني فلان ووائي او مراد ستا د فلان نه زید وی نو دی متکلم تعبیر وکړو د مسمی معین نه چې زید دی په داسې لفظ سره چې هغه نه وی صریح الدلالت په دې مسمی معین باندې. دا راځي مقابل د تصریح کې

سوال: للعدد جار مجرور په ترکیب کې څه واقع شوی دی؟ **جواب:** دا په اعتبار د متعلق محذوف سره صفت دی د کم او کذا لپاره فیکون التقدیر کم وکذا الکائنتان للعدد، او عدد دوه قسمه دی (۱) یو عدد مبهم دی (۲) بل عدد صریح دی ځکه دا عدد به خالی نه وي یا به معلوم الکمیت وی او یا به نه وي که معلوم الکمیت وو نو هغې ته عدد صریح وائي د هغې لپاره اسماء عدد وضع شوی دی لکه واحد اثنان الخ شو او که معلوم الکمیت نه وو نو هغه ته عدد مبهم وائي او د هغه لپاره وضع شوی دی کم او کذا. او دا کم او کذا غالباً راځي کنایه د عدد نه او کله کله راځي کنایه د غیر عدد نه هم نحو خرجت یوم کذا. دا کنایه ده د یوم. النسبت نه یا د بلې وجې نه

سوال: اصل په اسمو کې اعراب دی نو کم او کذا او کیت او ذیت ولې مبني شو؟

جواب: (١) کم دوه قسمه دی (١) خبریه (٢) استفهامیه. کم استفهامیه مبني دی ځکه دا متضم دی معنی د حرف استفهام لره او کم خبری محمول دی په کم استفهامی باندې (٢) کم مطلقا مبني دی ځکه چې مشابه دی د حرف سره په وضع ثنائي کې (٣) کم خبری محمول دی په رب باندې حمل النقيض على النقيض ځکه رب راځي د انشاء د تقلیل لپاره او کم راځي د انشاء د تکثیر لپاره نو ځکه مبني دی او **کذا** مرکب دی د ذا اسم شاره او کاف تشبیهی نه او ګرځیدلي دی مجموعه په منزله د کلمه واحده باندې په معنی د کم سره او باقي پاتي شوی دی په بنا اصلی خپله باندې او کیت او ذیت ځکه مبني دی چې هر واحد د دې دواړو نه واقع شوی دی په مقام: جمله کې او جمله من حيث انها جمله نه مستحق د اعراب ده او نه مستحق د بناء ده هر کله چې واقع شو مفرد په موضع د جمله کې او مفرد خالي نه وی د اعراب او بناء نه پس ترجیح ورکړې شوه بناء لره په اعراب باندې ځکه چې بناء اصل ده په کلمات کې قبل الترکیب

سوال: بعض د کنایات مبنیو نه کأین دی هغه یې ولې ذکر نه کړو؟

جواب: هر کله چې مرتبه د کأین بنکته وه په بناء کې د خپلو اخوات نه ځکه دا مرکب دی د کاف تشبیهی او د ای موصوله معربه نه لیکن پس د ترکیب نه دا مجموعه ګرځیدلی ده په منزله د کلمه واحده باندې په معنی د کم خبری سره نو دا معرب دی په اعتبار د اصل سره او مبني دی فی الحال او کذا مبني دی هم په اعتبار د اصل سره او هم فی الحال نو مرتبه د کأین ځکته شوه په بناء کې مرتبه د کذا نه ځکه مصنف ذکر نه کړو کاین لره په دې باب کې او کذا په معنی د کم خبری سره راځي دائما او کأین غالبا په معنی د کم خبری سره راځي او کله کله په معنی د کم استفهامی سره راځي كما فی قول ابی بن کعب لابن مسعود کأین تقرأ سورة الاحزاب اية فقال ثلاثا وسبعين.

فكم الاستفهامية مميزها منصوب مفرد: ربط: هر کله چې فارغ شو د بیان د کنایات مبنیو نه نو شروع یې وکړه په بیان د احکامو د کنایات مبنیو کې نو وی ویل چې **فكم الاستفهامية الخ.**

ترجمه: پس کلمه د کم داسې کم چې متضمن دی معنی د استفهام لره، یا دلالت کوی په معنی د استفهام باندې **مميزها** تمیز د دې کم چې هغه رفع د ابهام کوی د جنس مسئول عنه نه **منصوب** منصوب راځي په اعتبار د اعراب سره **مفرد** او مفرد به وی په اعتبار د صیغی سره ځکه کم استفهامیه کنایه ده د مطلق عدد نه پس ورکړې شو دی لره تمیز د عدد اوسط (١) ځکه خیر الامور اوسطها (٢) او بل لپاره د دې چې لازم نه شي ترجیح بلامرجح مثال لکه کم رجلا ضربت شو.

ترکیب: **كم** موصوف **الاستفهامية** صفت، موصوف سره د صفت نه مبتدا اول، **مميزها** مبتدا ثانی، **منصوب** خبر اول د مبتدا ثانی او **مفرد** خبر ثانی د مبتدا ثانی، مبتدا سره د خبر ینو نه جمله اسمیه خبر دمبتدا اول، مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه.

تشریح: سوال: کم موصوف دی الاستفهامية ورله صفت دی نو مطابقت رانغلو په مينځ د موصوف او صفت کي ځکه چي کم مذکر دی او الاستفهامية مؤنث دی او بل دا چي کم نکره ده ځکه اقسام د معرفه اوه دی او دا يو د هغي نه نه دی او صفت يې معرفه ده؟

جواب: دا کم په دې مقام کي مراد اللفظ علم دی د هغه کم لپاره چي هغه واقع کيږي په تراکيب کي نو معرفه بالعلم شوه ځکه يې ورله توصيف کړی دی په معرفه سره او دا په تاويل د کلمة سره مؤنث دی ځکه يې صفت مؤنث واقع شوی دی.

سوال: الاستفهامية منسوب بسوی استفهام دی او په مينځ د منسوب او منسوب اليه کي لابدي وی د علاقې نه دلته علامه څه ده؟ جواب: دلته علاقه د تضمن ده په دې شان سره چي دا کم متضمن دی معنی د استفهام لره يا علاقه د لالت ده چي دا کم دلالت کوی په استفهام باندي نو يا نسبت د متضمن راغلي دی متضمن ته، يا نسبت د دال راغلي دی مدلول ته

سوال: مميزها ضمير راجع دی کم او کم تميز نه غواړي ځکه تميز راځي د رفع د ابهام لپاره او په کم کي ابهام نشته نه په اعتبار د مادې سره او نه په اعتبار د معنی سره ځکه معنی د کم عدد دی او هغې کي ابهام نشته؟ جواب: اضافت د مميز دی کم ته شوی دی د ادنی مناسبت د وجې نه په دې شان سره چي دا تميز رفع د ابهام د جنس مسئول عنه د کم دی.

سوال: تميز د کم استفهاميه مفرد منصوب ولې راځي؟ جواب: ځکه چي کم استفهاميه کنايه ده د مطلق عدد نه او مطلق عدد دري قسمه دی (۱) عدد اقل (۲) اوسط (۳) اکثر، نو موږ دی کم لره تميز د عدد اوسط ورکړو ځکه چي خير الامور اوسطها (۲) او بل لپاره د دې چي لازم نه شي ترجيح بلامرجيح ځکه که موږه تميز د عدد اقل ورکړي وی نو عدد اکثر به ويل چي زما تميز مو ورله ولې ورنکړو وکذا بالعکس نو د هغو په مينځ کي جګړه راتله نو د جګړي د ختمولو لپاره دوی تميز د عدد اوسط ورکړو ځکه چي دا د عدد اوسط سره جګړه نه کوی ځکه هغه دی دواړو ته يو شان دی والخبرية او تميز د کم خبريه چي په هغه سره اخبار کوی متکلم مخاطب ته مجرور مجرور راځي په اعتبار د اعراب سره د وجې د اضافت نه مفرد او مفرد راځي په اعتبار د صيغې سره نحو کم رجل عندي ومجموع او کله کله جمع راځي په اعتبار د صيغې سره لکه کم رجال عندي ځکه کم خبری کنايه راځي د عدد اکثر نه او تميز د عدد اکثر مفرد مجرور راځي نو تميز د کم هم مفرد مجرور راځي او هر چي دی جمع نو لپاره د دې چي دا جبيره وګرځي د مافات چي هغه تصريح ده په جمعيت د عدد باندي

سوال: ته وائي چي والخبرية يعنی کم خبريه مجرور مفرد راځي او جمع راځي نو کم رجل عندي کي خو دا کم مجرور نه دی بلکه مرفوع دی بنابر ابتدائيت او کم خبريه جمع هم نه راځي؟

جواب: دا عبارت په حذف د مضاف سره دی تقدير د عبارت دا رنګي دی ای ومميز کم الخبرية مجرور الخ، او تميز د کذا مفرد منصوب راځي دائماً، او تميز د کائن مجرور راځي په دخول د من سره غالبا نحو قوله تعالی ﴿ وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ ﴾، او کله کله مفرد منصوب راځي نحو

کاین رجلا لقیت، **وتدخل من فیها** او دا خلیږي من بیانیه په تمیز د کم خبریه او د استفهامیه دواړو
باندې نحو کم من رجل ضربت ﴿ وَكَم مِّن قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَا ﴾
سوال: شارح رضی ویلی دی چې دخول د من په تمیز د کم خبری کې کثیر دی ځکه دا مناسب دی
د ممیز مضاف الیه د کم خبری سره او تمیز د کم استفهامیه مجرور په من سره زه نه یم عالم
جر د ممیز مضاف الیه د کم خبری سره او تمیز د ده باندې یو کتاب د کتابونو د علماء
سری نه په نظم کې او نه په نثر کې او نه دلالت کوي په جواز د ده باندې یو کتاب د کتابونو د علماء
نحوی نه؟ **جواب:** جار الله زمخشری ویلی دی چې کم په دې قول د الله تعالی کې چې ﴿ سَلۡ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ
كَمۡ ءَاتَيۡنَٰهُم مِّنۡ ءَايَةِۭ بَيِّنَةٖ ﴾ محتمل د احتمالین دی (۱) دا احتمال هم لري کم استفهامیه دی او دا احتمال
هم لري چې دا کم خبری شي او دا من داخل شوی دی په تمیز د دې باندې او قول د جار الله زمخشري
سند دی په علم نحوه کې نو ځکه مصنف وویل چې وتدخل من فیهما، او که فصل نه وو راغلی په
مینځ د کم او تمیز د دې کم کې په فعل متعدي سره نو دخول د من په تمیز د دې کې جائز دی او که
فصل راغلی وو په فعل متعدي سره نو بیا دخول د من واجب دی په تمیز د کم باندې لپاره د دې چې
لازم نه شي التباس په مینځ د تمیز د کم او د مفعول نه د فعل متعدي کې نحو قوله تعالی ﴿سَلۡ بَنِيٓ
إِسۡرَٰٓءِيلَ كَمۡ ءَاتَيۡنَٰهُم مِّنۡ ءَايَةِۭ بَيِّنَةٖ ﴾
ترکیب، کم خبریه یا استفهامیه بنا په قول د جار الله زمخشری باندې مِّنۡ ءَايَةِۭ بَيِّنَةٖ تمیز دی د کم
لپاره نزیادة من. مبهم ممیز سره د تمیز نه مفعول ثاني دی د اتینا لپاره او **هم** مفعول اول دی.
فعل سره د فاعل او سره د مفعولین نه جمله فعلیه انشائیه
(۱) منصوب محلا بنا بر مفعول مطلق د سل لپاره په تاویل د هذا السوال سره
(۲) یا منصوب محلا بنابر مفعول به د سل لپاره په تاویل د جواب هذا السوال سره ای سل بني
اسرائیل جواب هذا السوال
(۳) یا منصوب دی بنابر حالیت په تاویل د قائلا هذا السوال سره
سوال: (۱) تدخل فعل دی من ورله فاعل دی او په فاعل کې خو لاندې ده د اسمیت نه او من خو
حرف دی او حرف په ترکیب کې فاعل نه واقع کیږي (۲) من مذکر دی ځکه علامه د تانیث پکې
نشته او د فعل اسناد چې وشي مذکر ته نو تذکیر د فعل واجب دی نو دلته دا فعل ولې مؤنث
شوی دی؟ **جواب:** من په دې مقام کې مراد اللفظ علم دی د هغه من لپاره چې واقع کیږي په تراکیبو
کې نو دا معرفه بالعلم دی ځکه په ترکیب کې فاعل واقع شوی دی او په تاویل د کلمة سره مؤنث
دی ځکه دا فعل مؤنث شوی دی

پس زده کړه دا خبره چې من دري قسمه دی (۱) حرفي نحو سرت من البصر الی الکوفة.
(۲) فعلي چې دا صیغه د واحد مذکر امر حاضر معلوم ده د مان یمین میتانه په معنی د کذب سره
(۳) اسمي نحو من حرف جر او بل مثال د من اسمي لکه وتدخل من فیهما شو

سوال: ته وائي چې داخليږي من په کم خبرى او استفهامى باندې او د دې لپاره مثال ذکر کوى چې کم من رجل ضرب دا مثال مطابق نه شو د ممثل سره ځکه کم من رجل کې دا من په کم باندې نه دی داخل شوی بلکه په تميز د کم باندې داخل شوى دى؟

جواب: دا عبارت په حذف د مضاف سره دى اى تدخل من فى مميزهما ، **ولهماصدر الكلام** او ثابت دی خاص د کم استفهاميه او کم خبريه لپاره اوليت د کلام نه د کذا او کيت او ذيت لپاره د دې لپاره چې دلالت وکړي په نوعيت د کلام باندې د اول وهلت نه ځکه کم استفهاميه متضمن دى معنى د استفهام لره او کم خبريه متضمن دى معنى د انشاء لره په تکثير کې او دا دواړه د نوع د انشاء نه دى اوس کله چې متکلم دا ذکر کړي د کلام په اول سر کې نو سامع او مخاطب ته پته ولګي د اول وهلت نه چې دا کلام انشائي دى نه خبرى

سوال: ته وائي چې کم خبريه د انشاء د تکثير لپاره راځي والحال ان الخبر والانشاء متبائنان نو دا څو اجتماع د متبائينين راغله؟ **جواب:** خبريه ورته هم وايو او انشاء ورته هم وايو په اعتبار د جهتين مختلفين سره مثلاً کم رجل ضربت اخبار دى په ضرب کثير سره د رجال نه او انشاء ده استکثار د ضرب لپاره ولهذا يقال له کذبت ماضربت کثيرا من الرجال ولايقال له کذبت استکثرت الضرب او دا ګي ثابت دى صدارت د کلام کاين لره هم، نو د کم خبريه او استفهاميه او کاين لپاره صدارت د کلام ثابت دى بخلاف کذا او کيت و ذيت. **وكلاهما يقع مرفوعا و منصوبا و مجرورا** دا جواب د سوال دى

سوال: دا دى چې دا کم خو د قبيلې د مبنيات نه دى اوس اعراب محلى د دې څه شئ دى نو مصنف

جواب: وکړو چې **وكلاهما** دا دواړه نوعين چې کم خبريه او استفهاميه دى **يقع** واقع کيږي هر واحد د دې خبريه او استفهاميه نه مرفوع او منصوب او مجرور په طريقه د بدليت سره

سوال: هما ضمر راجع دى کم خبريه او استفهاميه ته او هغه دواړه مؤنث دى لهذا كلتاهما ويل پکار وو نو مصنف کلاهما ولې وويل؟ **جواب:** دا کلا يې اوى ځکه چې دا په تاويل د نوعين سره مذکر دى اى وكلا النوعين مرفوعا ومنصوبا و مجرورا

سوال: يقع کې ضمير مستتر دى چې تعبير ترې کولي شي په هو سره هغه راجع دى دى نوعين ته نو مطابقت رانغي بين الراجع ولمرجع؟

جواب: ضمير د يقع راجع دى کم استفهاميه او خبريه ته په تاويل د کل واحد سره.

سوال: جمع په حرف جمع سره په شان د د جمع ده په لفظ د جمع سره نو د دې معنى دا شوه چې کم استفهاميه او خبريه مرفوع منصوب او مجرور درې واړه واقع کيږي په يوځل او دا باطله ده ځکه چې درې واړه اعراب په يوه کلمه کې نه شي راتلي؟ **جواب:** دا اعتراض په هله وارديدو چې دلته د واو په خپله معنى وى ليکن دلته دا واو په معنى د او سره دى

سوال: بل ځاى ماته مثال وښايه چې واو په معنى د او سره راغلي وى؟

جواب: واو بمعنى او راغلي دى فى قوله تعالى فانکحوا ماطاب لکم من النساء مثنى وثلث ورباع

سوال یقع فعل لازم دی عمل د نصب بنابر مفعول بہ نه کوي نو په مرفوعا کې یې عمل د نصب بنابر مفعول به څنګه کړی دی؟

جواب (۱) مرفوعا منصوب بنابر مفعول به نه دی بلکه منصوب دی بنا بر حالیت (۲) یا منصوب دی بنابر خبریت د یقع لپاره ځکه یقع فعل دی د افعال ناقصه غیر مشهورو نه ضمیر مستتر اسم دی او مرفوعا یې خبر دی (۳) یا مرفوعا منصوب دی بنابر مفعول به لیکن یقع دوه قسمه دی (۱) یو هغه دی چې مشتق دی د وقوعا نه هغه لازم دی او بل هغه دی چې مشتق دی د وقعا نه متعدي دی او دلته د یقع مشتق دی د وقعا نه

سوال یقع مضارع د وقع ده مثال واوی دی او دا واو فاء کلمه به دي مضارع کې هله حذف کیږي چې واقع شي په مینځ د یا مفتوحه او کسره کې لکه یعد شو او دلته نده واقع بین الیاء والکسرة ولې حذف شویده؟ **جواب** یقع اصل کې یوقع وو واو حذف شو بین الیاء والکسر واو حذف شو بیا کسره د قاف بدله شوه په فتحې باندي نو یقع شو

فکل ما بعده فعل غیر مشتغل عنه بضمیره ربط هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د اعراب محلي کم خبري او استفهامیه نه اجمالاً نو شروع یې وکړه په مواضع د رفع نصب جر کې نو وی ویل فکل ما بعده او فاء په فکل ما بعده کې تفصیلیه ده

ترجمه **فکل ما** هر هغه کم **بعده فعل** چې وروستو د دي کم نه فعل راغلی وو یا شبه فعل راغلي وو داسي فعل او شبه فعل **غیرمشتغل** چې نه وو فارغ او اعراض کوونکی **عنه** د عمل کولو نه په کم کې **بضمیره** په سبب د عمل کولو د دي فعل په ضمیر د کم یا متعلق د ضمیر کم کې **کان منصوبا** کیږي دغه کم منصوب وجوباً **معمولا علی حسبه** معمول موافق د عمل د دي فعل سره په دي شان سره که فعل عمل د نصب کول بنابر مفعول به نو دا به منصوب وی بنابر مفعول به نحو کم رجلا ضربت وکم رجل ضربت او که فعل عمل د نصب کولو بنابر مفعول فیه نو دا به منصوب محلا وی بنابر مفعول فیه نحو کم یوما صمت وکم یوم صمتُ، او که فعل عمل د نصب کولو بنابر مفعول مطلق نو دا به منصوب محلا وی بنابر مفعول مطلق نحو کم ضربة ضربت او کون د کم مفعول به یا مفعول فیه یا مفعول مطلق دا به معلوموی د تمیز نه په دي شان سره چې که تمیز صالح وو لپاره د مفعول به نو دیته به مفعول به وائي او که تمیز صالح وو د مفعول فیه نو دیته به مفعول به وائي، او که تمیز صالح وو د مفعول فیه نو دیته به مفعول فیه وائي او که تمیز صالح وو د مفعول مطلق نو دیته به مفعول مطلق وائي

شیخ رضی د علی حسبه داسې ترجمه کوی چې موافق د اقتضاء د فعل. او جامی صاحب داسې ترجمه کوی چې موافق د عمل د فعل په دې کې یې رد وکړو په شیخ رضی باندې ځکه اقتضاء عبارت دی د صلاحیت نه او د عمل بالقوه د فعل نه او عمل عبارت دی د عمل بالفعل نه او د شیخ رضی په ترجمه باندې دا اعتراض دی چې کم رجلا ضربت کې دا امکان شته دی چې ضربت نصب ورکړي کم لره بنابر مفعول به یا بنابر مفعول فیه یا بنابر مفعول مطلق ځکه فعل صالح دی چې عمل د دري وارو اقسامو د نصب وکړي حالانکه دغه دري واړه دلته نه جوړیږي او د جامی صاحب به

ترجمه باندې اعتراض نه واردېږي، او د كم نه وروستو فعل چې راشي غير مشتغل بالضمير نو كم منصوب محلاً راځي او د نصب صورتونه درې دي مفعول به، مفعول فيه، مفعول مطلق، او دا به معلومېږي د تميز نه په دې شان سره چې تميز د كم به خالي نه وي يا به ظرف زمان او مكان وي او يا به نه وي كه ظرف زمان يا مكان وو نو دا به منصوب محلا وي بنابر مفعول فيه نحو كم يوما سفرت او كه دا تميز ظرف زمان يا مكان نه وو نو بيا به خالي نه وي يا به مصدر د فعل مذكور وي او يا به نه وي كه مصدر د فعل مذكور وو نو دا به منصوب محلا وي بنابر مفعول مطلق نحو كم ضربة ضربت او كه دا تميز مصدر نه وو نو منصوب محلا به وي بنابر مفعول به نحو كم رجلا ضربت.

وكل ما قبله حرف جر اومضاف: او هر هغه كم چې مخكې د دې نه حرف جر راغلي وي نحو بكم درهما اشتريت، **او مضاف** يا مضاف راغلي وو نحو غلام كم رجل اشتريت **فمجرور** نو دغه كم به مجرور راځي محلاً ځكه حرف جر چې داخل شي په اسم باندې نو اسم لره جر ركوي لفظاً يا تقديرا يا محلا او دلته دا مجرور دی محلاً، او مضاف اليه هم مجرور راځي لفظاً يا تقديرا يا محلاً او دلته مجرور محلا دی

سوال: وكل ما قبله حرف جر مبتدا ده او فمجرور ورله خبر دی او دا فاء جزائيه ده او فاء جزائيه راځي په جزاء د شرط كې دلته په خبر كې ولې راغلي ده؟ **جواب:** مبتدا چې متضمن شي معنی د حرف شرط لره د هغې په خبر كې فاء جزائيه راځي ځكه دلته فاء جزائيه راغلي ده.

سوال: مبتداء چې متضمن كيږي معنی د حرف شرط لره د هغې صورتونه دوه دي چې هغه ذكر كړی دی مصنف په دې عبارت سره وذلك الاسم الموصول بفعل او ظرف اوالنكرة الموصوفة بهما او دلته دا مبتدا نه اسم موصول دی او نه نكره موصوفه بهما ده؟ **جواب:** مبتدا دلته نكره موصوفه بظرف ده په شان د كل رجل فی الدار فله درهم باندې. سوال: لكه ځنګه چې دلته دا مبتدا متضمنه ده معنی د حرف شرط لره نو دارنګې په فكل مابعده فعل الخ كې هم متضمن ده معنی د حرف شرط لره او د هغې په خبر كې خو فاء نده راغلي چې كان منصوبا الخ دی؟

جواب: مبتدا چې متضمن شي معنی د حرف شرط لره نو د هغې په خبر كې فاء جزائيه راوړل لازم دی په دې شرط سره چې خبر د دې مبتدا فعل ماضي متصرف خالي د قد نه لفظا يا معنا الخ نه وي او كه خبر د دې ماضي متصرف وی خالي وی د قد نه لفظاً او معناً او په مقام د دعا كې نه وی مستعمل شوی نو هلته فاء راوړل نه دی جائز.

سوال: ته وائې چې د كم نه مخكې چې حرف جر يا مضاف راشي نو دا به مجرور وی محلا حالانكه د كم نه مخكې چې حرف جر يا مضاف راشي نو بيا صدارت د كم فوت شو او تا خو مخكې ويلي وو چې ولهما صدر الكلام؟ **جواب:** تسليمی منم چې صدرات د كم فوت شوی دی ليكن دا د وجې د ضرورت نه ځكه چې تقديم د مجرور رانه شي په جار باندې ځكه چې تقديم د مجرور په جار باندې نه دی جائز. (٢): منعی نه منم چې صدرات د كم فوت شوی دی په تقديم د جار سره ځكه چې دا د وجې د شدت اتصال نه مجموعه ګرځيدلي دی په حكم د كلمه واحده كې په تقديم د دو سره صدارت نه

فوت کيږي، والا او که چرې د دې کم نه مخکې حرف جر او مضاف نه وو او نه وو وروستو د کم نه عامل ناصبه متوجه الی الکم، صورتونه د هغې دوه دي، يا د سره ناصب نشته، يا ناصب شته خو متوجه الی الکم ندی، **فمرفوع مبتداء الخ** نو دغه کم به مرفوع وی او مبتداء به وی په دې شرط سره چې نه وي تميز د دې ظرف زمان يا مکان نحو کم رجلا اخوتك، کم مبهم مميز او رجلا ورله تميز دی مميز سره د تميز نه مرفوع محلا مبتدا او اخوتك ورله خبر دی عند السيبويه او دا مذهب مختار عند المصنف دی (۲) بالعکس دی عند الجمهور دا مثال د هغه کم دی چې د دې نه وروستو د سره ناصب نشته او مثال د هغه کم چې مخکې د هغې نه حرف جر يا مضاف نه وی او وروستو د هغه نه ناصب وی خو متوجه الی الکم نه وی لکه کم رجلا ضربته شو په دې کې دوه ترکيبونه دی (۱) کم مبهم مميز او رجلا ورله تميز دی مميز سره د تميز نه مبتداء ده او ضربته جمله ورله خبر دی (۲) کم مبهم مميز او رجلا ورله تميز دی مميز سره د تميز نه منصوب محلا مفعول به د فعل مقدر وجوبا چې ضربت دی او دا مابعد فعل د هغې لپاره مفسر دی، **وخبران کان ظرفا** او دا کم به مرفوع محلا وی بنابر خبريت که تميز د دې ظرف زمان يا ظرف مکان وو نحو کم يوماً سفرك کم مبهم مميز او يوماً ورله تميز دی مميز سره د تميز نه خبر مقدم او سفرك مبتدا مؤخره ده.

سوال: ته وائې چې کم مرفوع محلا راځي بنابر ابتدائيت په دې شرط چې تميز يې ظرف نه وو او که تميز يې ظرف وو نو مرفوع محلا راځي بنابر خبريت دا قاعده ستا منقوضه شوه په کم يوماً مدة سفرك سره چې دلته کم مبهم مميز دی او يوما ورله تميز دې دا مبتداء او مدة سفرك ورله خبر دی باوجود د دينه چې تميز د کم ظرف زمان راغلی دی؟

جواب: دا قاعده په هغه ځای کې ده چې د دې تميز د کم ظرف زمان يا مکان نه وروستو بل يو اسم موجود وو چې هغه صالح لپاره د ابتدائيت وو، او دلته د تميز د کم نه وروستو چې دا کوم اسم راغلی دی دا صالح لپاره د ابتدائيت نه دی ځکه دا ظرف دی.

سوال: د ظرف او جار مجرور نه مبتدا ولې نه جوړيږي؟ **جواب:** ځکه چې ظرف او جار مجرور متعلق غواړي او متعلق د دې مقدر دی او مقدر کالمذکور وی او مبتدا مجرد دی د عامل لفظی نه او دا عامل لفظی نه دارنګې خبر هم مجرد وی د عامل لفظی نه بنا په دې خو بيا ظرف او جار مجرور نه خبر هم مه وائي (۲) لهذا اصلی جواب دا دی چې ظرف او جار مجرور په ترکيب کې چې د چا لپاره چې څه اوباسي هر يو چې راوباسي خو د هغې نه خبر جوړيږي مطلقاً، نه مبتداء، ځکه مبتدا اسم وی او معرفه وی، که متعلق فعل راوباسي نو دا جمله ده اسم نه دی او که شبه فعل راوباسي نو دا نکره ده معرفه نده، او کذا په شان د کم دی په صور مذکورو کې ليکن دومره فرق دی چې کذا مرفوع محلاً بنابر

فاعليت هم راخي نحو جاءني كذا وكذا رجل دارنګي مرفوع محلا بنابر نائب فاعل هم راخي نحو اكرم كذا وكذا مجتهد، او كائن مرفوع محلاً راخي بنابر ابتدائيت او خبر د دي جمله راخي نه مفرد

الفرق بين كم وكاين: (١) هي مركبة وكم غير مركبة (٢) ضمير ها مجرور بمن نه لسي بخلاف كم (٣) تقع خبرية غالباً وقد يجيئ استفهاميه كما في قول ابى بن كعب لابن مسعود الخ (٤) لاتقع مجرورة بخلاف كم (٥) خبر ها لايقع مفردا بل جملة بخلاف كم (٦) كاين مرفوع محلا راخي بنابر ابتدائيت فقط او كم كله منصوب كله مجرور او كله مرفوع راخي

الفرق بين كم وكذا: (١) د كم لپاره ثابت دی صدرات د كلام بخلاف كذا (٢) كم كنايه ده د عدد مبهم نه فقط او په كذا سره كنايه د غير عدد مبهم نه هم كولي شي (٣) كذا كله مرفوع واقع كيږي بنابر فاعليت و نائب فاعليت بخلاف كم (٤) كذا مكرر ذكر كولي شي بخلاف كم (٥) تميز د كذا منصوب راخي او د كم كله مجرور هم راخي (٦) تميز د كذا هميشه مفرد راخي او تميز د كم كله جمله هم راخي

وكذلك اسماء الاستفهام والشرط: په شان د كم دي باقي اسماء استفهام او شرط په جريان د وجوه اربعو كي په شرائط مذكورو سره په اعتبار د مجموعي سره په دي شان سره چي مجموعه د دغه وجوه اربعه موجود يږي په دې ټولو اسماء استفهام او شرط كي اګر كه په هر واحد كي نه راخي تشبيه په اعتبار د مجموعي سره ده نه په اعتبار د هر واحد سره.

تشريح: كذلك جار مجرور خبر مقدم دی او مشار اليه د ذلك لپاره كم دی اسماء الاستفهام والشرط، مبتدا مؤخره ده او كاف د تشبيه لپاره دی ګرځوي مدخول خپل مشبه به لپاره د غير نو كم مشبه به شو اسماء الاستفهام والشرط مشبه شو، دیته تشبيه التسوية وائي په اصطلاح د علماؤ د علم بيان كي څكه دی متكلم برابر كړی دی ډير اشيا په يو مشبه به كي فيكون هذا التشبيه من قبيل قول الشاعر

صدغ الحبيب و حالى كلاهما كالليالى وثغره فى صفاء وأدمعى كاللآلى

اووجه د شبه د جريان د وجوه اربعو دی په شرائط مذكورو سره په دي شان سره چي اسماء الاستفهام او اسماء شرط به خالي نه وي يا به د دي نه وروستو فعل راغلي وی او يا به نه وي راغلی كه د دي نه وروستو فعل نه وو راغلي نو بيا به خالي نو يا به د دي نه مخكي حرف جر يا مضاف راغلي وی او يا به نه وي راغلي كه حرف جر راغلي وو يا مضاف راغلي وو نو دا به مجرور محلاً وی او كه د دي نه مخكي حرف جر يا مضاف نه وو راغلي نو بيا دا مرفوع دی بنابر ابتدائيت يا مرفوع راخي بنابر خبريت او كه د دي نه وروستو فعل راغلي وو نو بيا به خالي نه وي يا به مشتغل بالضمير وی او يا به نه وي كه مشتغل بالضمير نه وو دا منصوب محلاً دی على حسب العوامل

سوال: ته وائي چي اسماء الاستفهام او شرط په شان د كم دی نو دا كم خو هم استفهامی راخي نو تشبيه د شي لنفسه راغله؟ **جواب:** دلته مراد د اسماء استفهام نه باقي اسماء استفهام دی د كم نه علاوه.

سوال: ته وائي چي باقي اسماء استفهام او اسماء شرط په شان د كم دی او كم شرطی نه راخي نو ته څنګه وائي چي اسماء شرط په شان د كم دی او كم خبری او استفهامی دواړه راخي او باقي اسماء استفهام خبری نه راخي نو ته څنګه وائي چي باقي اسماء د استفهام په شان د كم دی؟

جواب: دا اعتراض به ستا هله وارديدو چې وجه د شبه په دې مقام کې خبريت او استفهاميت
ليکن وجه د شبه په دې مقام کې خبريت او استفهاميت نه دی بلکه وجه د شبه په دې
وجوه اربعه اعرابيه دی په دې شان سره چې اسماء شرط او باقي اسماء استفهام په شان د کم دی
جريان د وجوه اربعو کې په شرائط مذکورو سره؟

سوال: تشبيه د اسماء شرط او باقي اسماء استفهام د کم سره په وجوه اربعو کې هم نده صحيح
چې دا وجوه اربعه په اسماء شرط او باقي اسماء استفهام کې فقط په لفظ د ای کې راځي نه په
نورو کې؟ **جواب:** نسبت د يو حکم چې وشي مجموعی ته نو دا لازمه نده چې دا حکم دی ثابت شي
هر واحده لره. او دلته دا تشبيه په اعتبار د مجموعی سره ده نه په اعتبار د هر واحد سره

سوال: اسماء استفهام او اسماء شرط څومره دی او کوم کوم دی؟ **جواب:** يو حروف استفهام دی او بل
اسماء استفهام دی حروف استفهام دوه دی (۱) همزه (۲) هل. او اسماء استفهام نهه دی.

کم ما ای من متی
اين انی ايان کيف

او دارنګې يو حروف شرط دی او بل اسماء شرط دی حروف شرط مشهور درې دی (۱) ان (۲) لو
(۳) اما. او اسماء شرط مشهور نهه دی کما فی قول الشاعر!

من وما مهما وای حيثما اذ ما متی
اينما انی نه اسم جازمند مرفعل را

او غير مشهور درې دی، اذاما، کيفما، لما
بيا دا اسماء شرط او اسماء استفهام باعتبار الذات درې قسمه دی (۱) يو هغه دی چې مشترک
دی بين الاستفهام والشرط دا شپږ دی، من، وما، وای، واين، وانی، ومتی
(۲): دويم قسم هغه دی چې مختص دی په شرط پورې او دا صرف يو دی چې اذا دی
(۳): دريم قسمه هغه دی چې مختص دی په استفهام پورې او دا دوه دی چې کيف، او ايان دی.

وجه د حصر: دا ده چې دا اسماء استفهام او شرط به خالي نه وي يا به ظرف وی او يا به نه وي که
ظرف وو نو بيا به خالي نه وي يا به متضمن وی معنی د استفهام او شرط لره اويا به نه وي که
متضمن وو معنی د استفهام او شرط لره نو جاری کيږي په دې کې وجو ثلاثه
(۱): جر د وجی د دخول د حرف جر نه نحو من اين انت (۲): نصب بنابر مفعول فيه نحو اين جلست
(۳): رفع بنابر خبريت نحو اين زيد او رفع بنابر ابتدائيت پکې نه راځي ځکه رفع بنابر ابتدائيت
مختص ده په غير ظرف پورې او دا ظرف دی او ظرف مبتداء نه واقع کيږي او که متضمن وو معنی
د حرف شرط لره نو په دې کې دوه وجی روا دی (۱) جر (۲) نصب. اما رفع بنابر ابتدائيت نه راځي
او که ظرف نه وو نو بيا جاری کيږي وجوه اربعه په دې لفظ د ای کې او په نورو کې جاري کيږي
وجوه ثلاثه، رفع بنابر خبريت نه راځي ځکه دا مختص ده په ظرف پورې

وفی مثل کم عمة لك يا جرير و خالة ثلاثة اوجه: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د کم نه چې هغه
محتمل د احتمال واحد وو چې کم خبريه دی يا کم استفهاميه دی نو شروع يې وکړه په بيان د هغه کم

کې چې محتمل د احتمالين دی په دې شان سره چې دا احتمال پکې هم شته دی چې دا کم استفهاميه دی او دا احتمال هم شته دی چې دا کم خبريه دی او نسخې د کافيه دوه قسمه دی (۱) يو مشهوره ده او (۲) دويم غير مشهوره ده، مشهوره نسخه د کافيه دا ده چې وفی مثل کم عمة لك يا جرير و خالة ثلاثة اوجه، يعنی په مثل د کم عمة کې درې وجې روا دی، په کم کې يا په تميز د کم کې او غير مشهوره نسخه د کافيه دا ده چې چه وفی مثل تميز کم عمة لك يا جريرو خالة ثلاثة اوجه، په مثل د تميز د کم کې درې وجې روا دی په مشهور نسخه کې ثلاثة اوجه محتمل د احتمالين دی (۱) يو احتمال پکې دا دی چې درې وجې روا دی په دې کم کې (۱) رفع بنابر ابتدائيت (۲) نصب بنابر مفعول مطلق (۳) نصب بنابر مفعول فيه (۲): او دا احتمال هم شته چې دا درې وجوه ته معتبر کړي په تميز د کم کې چې هغه عمة دی (۱) رفع بنابر ابتدائيت (۲) نصب بنا په دې چې تميز شي د کم استفهامي لپاره (۳) جر بنابر تميز د کم خبريه لپاره ځکه چې دا کم په دې شعر کې محتمل د احتمالين دی دا احتمال هم لري چې دا کم استفهاميه دی او عمة ورله تميز دی او دا احتمال هم لري چې دا کم خبريه دی او عمة ورله تميز واقع شوی دی (۳): او دا احتمال هم لري چې کم استفهاميه يا خبريه دی او تميز د دې حذف شوی دی چې مرةً يا حلبةً دی او دا عمة مرفوع دی بنابر ابتدائيت او دا شعر د فرز دق دی او مقصد د فرزدق په دې شعر کې هجوه د جرير ده او دا مذکور فی المتن اول نيم بيتی دی او دويم نيم بيتی دا دی چې فدعاء حلبت علي عشاری، فدعاء ويلي کيږي منقلبه الکفين او الرجلين ته.

ترکيب: کم استفهاميه عمة تميز دی يا کم خبريه او عمة تميز مضاف اليه موصوف لك جار مجرور صفت دی د عمة لپاره که عمة منصوب شي نو خالةً منصوب دی بنابر عطف او که عمة مجرور شي نو خالة هم مجرور وو بنابر عطف، فدعاء صفت د عمة او خالة لپاره دی، نو که عمة او خالة منصوب شي نو فدعاء منصوب بالفتحه دی او که عمة و خالة مجرور شي نو فدعاء مجرور بالفتحه دی ځکه غير منصرف دی د وجې د وجود د الف علامه د تانيث نه، يا جرير جمله معترضه ده، موصوف سره د صفتين نه تميز دی لپاره د کم، مبهم مميز سره د تميز نه مرفوع محلاً بنابر ابتدائيت قد حلبت علي عشاری جمله فعليه خبر لپاره د مبتداء مبتدا مع الخبر جمله اسميه انشائيه.

(۲): کم استفهاميه يا خبريه مبهم مميز او تميز د دې حذف شوی دی مرة يا مرة مبهم مميز سره د تميز نه منصوب محلاً بنابر مفعول فيه وروستو د حلبت لپاره او دا جمله فعليه خبر واقع شوی دی د مبتداء لپاره چې عمة لك دی ځکه بيا دا عمة مرفوع دی بنابر ابتدائيت او نکره مخصص ده تخصيص يې راغلي دی په صفت سره چې هغه لك او فدعاء دی.

(۳): کم استفهاميه يا خبريه او تميز د دې حذف شوی دی چې حلبة يا حلبة دی مبهم مميز سره د تميز نه منصوب محلاً بنابر مفعول مطلق د وروستو حلبت لپاره بيا د جمله فعليه خبر د مبتداء چې عمة لك دی مبتداء سره د خبر خپل نه جمله خبريه اسميه.

ترجمه: چې کم خبریه شي نو بیا ترجمه دا ده چې ډیري د تروړانو ستا نه اې جریره او ډیري د ماسیګانو ستانه داسې تروړاني او ماسیګانۍ چې لاسونه او خپې د هغوی کړې شوی وی (١) خلقة (٢) یا د وجی د خدمت زمونږ نه په تحقیق سره لشلې یې دی زما لپاره د لسو میاشتو زاړي اوښانو لره دا بنا دی په حقیقت باندې.

(٢): او که کم استفهامیه شي نو بیا معنی دا ده چې څومره تروړانې وی ستا اې جریره او ماسیګانی ستا کوږ لاسي او کوږ ښپې چې دروند شوی وو په ما باندې لشل د هغوی د لسو میاشتو زاړي اوښانو لره، نو دا بنا دی په استهزاء او سخریه باندې، او مقصد د فرزدق په دې کې تحکم او سخریه ده په جریر باندې چې ګویا که هغه کمیت د عدد د عمات او خالات د جریر هیر شوی دی د فرزدق نه او دی د هغې نه تپوس کوی په دی کم استفهامیه سره او په دی شعر کې فرزدق کمال هجوه د جریر وکړه (١) یو خو یې د خالات او عمات د جریر لپاره فدعاء وویل منقلبة الکف اوالقدم د وجی د خدمت نه دا یوه قبحه شوه، یا خلقة، نو په دې کې یې اشاره وکړه سوء الخلقت د خالات او د عمات د جریره ته دا بل قبحه شوه او بیا قد حلبت یې وویل په دې کې یې اشاره وکړه خدمت د مواشي ته، یعنی چې ستا خالات او عمات به زمونږ د مواشي خدمت کولو نه دا ناسي او خدمت د مواشي ابلغ دی په ذم کې د خدمت د اناسي نه بیا عشاری وویل دا جمع د عشراء ده او عشراء د لسو میاشتو بلاربی اوښې ته وائي او د هغې لشل ډیر ګران وی په دې کې کې یې اشاره وکړه چې ستا خالات او عمات باندې مونږه سخت سخت کارونه کول.

وقد يحذف فی مثل کم مالك وکم ضربت: **ربط**: هرکله چې فارغ شو مصنف د بیان د هغه ترکیب نه چې دا کم پکې محتمل د احتمالینو وو یو احتمال دا وو چې دا مذکور تمیز وی ار دویم دا دی چې دا مذکور تمیز نه دی بلکه تمیز حذف شوی دی نو شروع یې وکړه په بیان ده هغه ترکیب کې چې دا کم محتمل د احتمال واحد دی په دې شان سره چې تمیز د کم حذف شوی دی.

ترجمه: کله کله حذف کولي شي تمیز د کم په وقت د وجود د قرینی دالې کې په تعین د محذوف باندې په مثل د کم مالك او کم ضربت کې **کم مالك کم مبهم** ممیز او تمیز د دې حذف شوی دی درهما مبهم ممیز سره د تمیز نه مرفوع محلا بنابر ابتدائیت او مالك ورله خبر دی عند السیبویه (٢): یا بالعکس دی عند الجمهور او قرینه په حذف د تمیز باندې عرف عام دی ځکه اخبار او استخبار د مال مطلق نه په عرف عام کې قرینه ده، چې مراد د مال نه دراهم او دنانیر دی ځکه دا اموال باطنی دی دی سره اخبار او استخبار مناسب دی په خلاف د اموال ظاهریو نه چې هغه معلومیږي په مشاهدی سره اخبار او استخبار ته ضرورت نشته. او کم ضربت کې درې ترکیبونه جائز دی (١): کم مبهم ممیز تمیز یې حذف شوی دی چې مرة دی، مبهم ممیز سره د تمیز نه منصوب محلاً بنابر مفعول فیه د ضربت د پاره (٢): کم مبهم ممیز تمیز د دې حذف شوی دی چې ضربة دی، او ممیز سره د تمیز نه منصوب محلا بنابر مفعول مطلق (٣): کم مبهم ممیز او تمیز یې

حذف شوي دي چې رجلاً دې دا منصوب محلا دې بنابر مفعول به د ضربت لپاره نحو دا اول دوه
ترکیبونه ظاهر دي د وجې د وجود د قرینې دالې نه په تعین د محذوف باندې ځکه استفهام د متکلم د
ضرب مطلق نه او اخبار د متکلم د ضرب مطلق نه دلالت کوي په کراتو او ضرباتو باندې او دا دریم
ترکیب جائز دی د وجې د عدم فساد د معنی نه لیکن ظاهر نه دی د وجې د عدم وجود د قرینې د الې
په تعین د محذوف باندې وقد یحذف یې وویل په دې کې یې اشاره وکړه تقلیل ته ځکه قد چې
داخل شي په مضارع باندې نو تقلیل فائده کوي نو ذکر د تمیز کثیر دی او حذف د تمیز قلیل دی او
حذف د تمیز په طریقه د قلت سره جائز دی عند وجود القرینة الدالة علی تعین المحذوف، او که قرینه
دالې په تعین د محذوف باندې نه وو نو بیا حذف نه دی جائز.

الظـــروف

هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د نوع سابع د اسم مبني نه نو شروع یې وکړه په بیان د نوع
ثامن د اسم مبني کې نو وی ویل **الظروف** ظروف معدوده من المبنیات چې تعبیر شوی وو د هغې نه
په اجمال کې په بعض ظروف سره پس حاجت رانغی ذکر د بعض ته په دې مقام د تفصیل کې، او
ظروف عام دی حقیقةً وی او که حکماً وی او ذکر د لاغیر لیس غیر او حسب شوی دی په بحث د
ظروف مبنیو کې طردا للباب.

سوال: (۱): ګرځول د ظروف مطلقاً د قبیلې د مبنیات نه نهٔ دی صحیح ځکه اکثر د ظروف نه د
قبیلې د معربات نه دی لکه حین لیل یوم نهار وغیره او بعض د قبیلې د مبنیات نو دی نه تا دلته
ظروف مطلقا ولې ذکر کړه (۱) یا اعتراض دا دی چې دا تفصیل ستا موافق نه شو د اجمال سره
اجمال کې دی بعض ظروف ویلي وو او دلته دی ظروف مطلقا ذکر کړو؟

جواب: دا اعتراض به هله واردیدو چې الظروف کې الف لام جنسي وی لیکن الف لام جنسي نه دی
بلکه الف لام عهد خارجي دی او مراد د ظروف نه ظروف معدوده من المبنیات دی چې هغه بعض
ظروف دی نه ټول هر کله چې الف لام په الظروف کې عهد خارجي شو نو دا قائم شو په مقام د بعض
باندې پس حاجت رانغلو ذکر د بعض ته.

سوال: ظروف جمع د ظرف ده او ظرف عند النحات مفعول فیه ته وائي او په دې ظروف مبنیو کې تا
ذکر کړی دی مذ او منذ او دا په ترکیب کې مفعول فیه نه واقع کیږي لهذا ګرځول د مذ او منذ د
ظروف نه نهٔ دی صحیح. **جواب:** یو ظرف دی یو اسم ظرف دی، اسم ظرف هغه اسم ته وائي چې هغه
دلالت کوي په زمان او مکان باندې بیا عام دی چې په ترکیب کې مفعول فیه واقع کیږي او که نه
واقع کیږي، او ظرف عند النحات ما فعل فیه فعل مذکوره ته وائي نو د اسم ظرف او ظرف مینځ
کې نسبت د عموم خصوص مطلق دی، اسم ظرف اعم مطلق دی او ظرف اخص مطلق دی او دلته
مراد د ظرف نه اسماء ظروف دی نه مفعول فیه.

سوال: گرځول د کيف د ظروف مبنيو نه نهٔ دی صحيح ځکه ظرف هغه اسم ته وائي چې دلالت کوی په زمان اومکان باندې او کيف دلالت په يو هم نه کوی؟
جواب: ظرف عام دی چې حقيقةً وی او که حکماً وی، کيف ظرف حقيقت نه دی ليکن ظرف حکماً دی (١) ځکه دا محتاج دی متعلق ته لکه څنګه چې ظرف محتاج دی متعلق ته (٢) د دې نه تعبير کولي شي په جار مجرور سره او جار مجرورته عندالنحات ظرف وائي مجازاً
سوال: گرځول د لاغير ليس غير او حسب د ظروف نه نهٔ دی صحيح ځکه دا ظرف نه حقيقةً دی او نه مجازاً دی؟ **جواب:** دا درې واړه يې ذکر کړی دی طردا للباب د وجې د مشابهت نه د ظروف مقطوعه عن الاضافت سره، د دې وجې نه دا مونږه گرځولي دی قسم عليحدة، د اقسام د اسم مبني نه په ارشاد النحو المعروف بخلاصة النحو کې، **منها** بعض د ظروف مبنيو نه **ما** هغه ظرف دی **قطع** چې قطع کړې شوی دی دا ظرف **عن الاضافت** د اضافت معنوی نه په حذف د مضاف اليه سره، زده کړه دا خبره چې قطع د مرکب اضافی کولي شي د اضافت نه په دوه طريقو سره (١) يو قطع د مرکب اضافی کولي شي د اضافت نه په حذف د مضاف سره نحو قوله تعالی ﴿ وَسْئَلِ الْقَرْيَةَ ﴾ ای اهل القرية او مرکب اضافی چې قطع کړې شي د اضافت نه په حذف د مضاف سره نو هلته قاعده، دا ده چې مضاف اليه قائم کيږي په مقام د مضاف کې او اعراب د مضاف اخلي لکه مثال مذکور کې شو **امابقاء** د مضاف اليه په خپل اعراب باندې قليل او نادر دی کما فی قوله تعالی ﴿وَاللّٰهُ يُرِيدُ الْآخِرَةَ﴾ على قراة وقول الشاعر؛ اکل امرا تحسبين امراء ونار توقد بالليل نارا
على تركيب: چې دا نارِ مجرور دی ځکه مضاف اليه دی او مضاف د دې حذف شوی دی چې کل دی او دا مضاف اليه په خپل اعراب باندې باقي پاتې شوی دی او مرکب اضافی چې قطع کړې شي د اضافت نه په حذف د مضاف اليه سره نو بيا په متکلم باندې واجب دی يو امر د امور اربعو نه. (١): په عوض د دې کې تنوين راخي په مضاف کې. (٢): په عوض د دې کې الف لام راخي په مضاف کې. (٣): جعل د مرکب اضافی مثل د مرکب اضافی اولنې په مقام د مضاف اليه کې نحو يا تيم تيم عدی. (۴): بنا على الضمة مثال لکه قبل او بعد شو کما فی قوله تعالی ﴿لِلّٰهِ الْأَمْرُ مِن قَبْلُ وَمِنْ بَعْدُ﴾ ليکن قبل او بعد او امثال د قبل او بعد نه دی د قبيلې د مبنيات نه مطلقاً بلکه په دې کې احوال اربعه دی ځکه دا قبل او بعد د اسماء لازمة الاضافة نه دی معناً د دې مضاف اليه به خالي نه وي يا به مذکور وی او يا به محذوف وی، که مضاف اليه د دې مذکور وو نو معرب دی نحو جلست قبلك وجلست بعدك (٢) او که مضاف اليه يې محذوف وو نو بيا به خالي نه وي يا به محذوف نسياً منسياً وی، د نسياً منسياً دا معنی چې لفظ کې هم نشته او په نيت کې هم نشته د هغې علامه دا ده چې د هغې ترجمه نه کوی (٣) او يا به محذوف منوی وی يعنی په لفظ کې نشته په نيت کې مراد دی او د هغې علامه دا ده چې د مضاف اليه ترجمه کوو که مضاف اليه د دې محذوف وو نسياً منسياً نو بيا معرب دی نحو رب بعد. کان خيراً من قبلٍ (۴) او که مضاف اليه د

دي محذوف منوی وو نو بیا به خالي نه وي یا به د مضاف الیه په عوض کې تنوین راغلي وی په مضاف کې او یا به نه وي زاغلي که راغلي وو نو بیا هم معرب دی کما فی قول الشاعر! شعر!

فساغ الی الشراب وکنت قبل
اکاد اغص بالماء الفرات

او که مضاف الیه محذوف منوی وو او په عوض کې یې تنوین په مضاف کې نه وو راغلي نه بیا مبني على الضمه دی نحو قوله تعالی ﴿لِلَّهِ ٱلْأَمْرُ مِن قَبْلُ وَمِنۢ بَعْدُ﴾.

(۱): اصل په اسماؤ کې اعراب دی نو دا قبل او بعد په دې څلورم حالت کې ولې مبني دی (۲) اصل په بناء کې سکون دی نو دا قبل او بعد مبني على الحرکت ولې دی (۳) بنا په حرکت کې مبني على الضمه ولې دی مبني على الفتحه یا على الکسره ولې نه دی؟

جواب دا مبني دی څکه دا متضمن دی معنی د حرف اضافت لره چې هغه فی دی په اضافت ظرفی کې او من دی په اضافت بنائي کې اولام دی په اضافت لامی کې (۲) دا مبني دی د وجی د مشابهت په حرف سره په احتیاج کې امر خارج ته چې حرف محتاج دی په دلالت على المعنی کې انضمام د بل اخري ته او دا قبل او بعد محتاج دی مضاف الیه محذوف منوی ته او مبني على الحرکة مو کرځونه على السکون لپاره، د دې چې لازم نه شي التقاء د ساکنین او بیا مبني على الضمه وګرځیدو نه على الکسره او نه على الفتحه څکه ضمه حرکة قوی دی لپاره د دې چې جبیره وګرځي د مافات چې هغه حذف د مضاف الیه دی او ظروف مقطوعه عن الاضافة ته د نحویانو په اصطلاح کې غایات هم وائي څکه اصل کې غایة الکلام مضاف الیه ددی ظروف وو هر کله چې مضاف الیه د دې ظروف نه حذف شو نو وګرځیدل دا ظروف په خپله غایه او نهایة د کلام په دې شان سره چې منتهی کیږي په دې ظروفو پورې تکلم د کلام د متکلم

واجری مجراه لا غیر ولیس غیر وحسب: **ترجمه:** او مستعمل کولي شي په شان د استعمال د ظروف مقطوعه عن الاضافة لفظ د لاغیر او لیس غیر په حذف د مضاف الیه او بنا على الضمه کې نحو جاءني زید لاغیر ولیس غیر وحسب د وجی د مشابهة د لاغیر او لیس غیر نه د غایاتو سره په شدت ابهام کې او مضاف الیه نه شي حذف کولي د غیر نه مګر حذف کولي شي کله چې دا غیر واقع شي وروستو د لا یا د لیس نه د وجی د کثرت استعمال د غیر نه وروستو د لا او لیس نه لپاره د حصول د خفت **او حسب** په شان د ظروف مقطوعه عن الاضافة دی په حذف د مضاف الیه او بناء على الضمه کې د وجی د مشابهت د حسب نه د غیر سره په کثرت استعمال کې (۲) او په عدم کون دده کې معرفه بالاضافة او دا حسب په معنی د لاغیر سره دی جاءني زید حسب معنی دا ده چې جاءني زید **لاغیر ومنها حیث** او بعض د ظروف مبنیو نه لفظ د حیث دی دا غالباً راځي د مکان لپاره او اخفش ویلي دی چې کله کله د زمان لپاره هم راځي کما فی قول الشاعر!

للفتی عقل یعیش به
حیث تحرك ساقیه

ای زمان یکون حیاً دلته حیث د زمان لپاره دی څکه انتها د حیات راځي په انتها د زماني سره نه په انتها د مکان سره **ولا یضاف** او اضافة نه شي کیدی د لفظ د حیث هیڅ یو شي ته **الا الی الجملة** مګر

اضافت يې کيږي جملې ته او جمله عام ده چې جمله اسميه وي نحو اجلس حيث زيد جالس او که جمله فعليه وي نحو قوله تعالى ﴿ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ ﴾ **فى الاكثر** په اکثر استعمال د کلام د عربو کې ځکه حيث واضع وضع کړی دی د هغه مکان لپاره چې واقع کيږي په هغې کې نسبت او نسبت نه وي مګر په جمله کې وی لهذا اضافت د دې په کيږي جملې ته فى الاکثر سره يې احتراز وکړو د استعمال اقل نه ځکه لږ لږ اضافت د حيث کيږي مفرد ته کما فى قول الشاعر:

اما ترى حيث سهيل طالعا نجم يضيئ كالشهاب ساطعا

چې دلته لفظ د حيث مضاف شوی دی مفرد ته چې هغه سهيل دی او دا واقع شوی دی مفعول به د ترى لپاره ای مکان سهيل او مراد د رؤيت نه رؤيت بصری دی نه رؤيت قلبي او دا يو مفعول غواړی.

سوال: حيث مبني على الضمه ولې دی؟ **جواب:** ځکه چې حيث مشابه دی د غايات سره په حذف د مضاف اليه کې په دې شان سره چې د حيث غالبا اضافت کيږي جملې ته او مضاف اليه الى الجمله حقيقت کې مضاف وی مضمون د جملې ته او مضمون د جمله غير مذکور دی او کله چې د دې اضافت وشي مفرد ته نو په هغې کې مذهبين دی (۱) يو مذهب د جمهورو دی هغه وائي چې دا مبني على الضمه دی ځکه دا استعمال قليل محمول دی په استعمال اکثر باندې (۲) بعض وائي چې دا معرب دی د وجې د زوال د علت د بناء نه او اصل په اسماؤ کې اعراب دی.

پس زده کړه دا خبره چې حيث اولا دوه قسمه دی (۱) ظرفي (۲) غير ظرفي، ظرفي بيا دوه قسمه دی (۱) مکاني (۲) زماني او حيث غير ظرفي درې قسمه دی (۱) تقيدی (۲) اطلاقي (۳) تعليلي.

وجه د حصر: يکې دا ده چې دا مدخول د حيث به خالي نه وي يا به عين محيث وی يا به غير وی که عين محيث وو نو اطلاقي نحو الانسان من حيث الانسان حيوان، او که عين محيث نه وو نو بيا به خالي نه وي يا به مدخول د حيث علت وی لپاره د ماقبل او يا به قيد وی که قيد وو نو هغې ته حيث تقيدی وائي نحو الحيوان من حيث انه ناطق انسان او که علت وو نو هغې ته حيث تعليلي وائي نحو الانسان من حيث ان عالم مکرم، **ومنها اذا** او بعض د ظروف مبنيو نه اذ دی او دا اذا عام دی چې زماني وی او که مکاني وی (۱) او علت د بناء د اذا بعينه علت د بناء د حيث دی (۲) يا اذا مبني دی ځکه دا کله کله متضمن کيږي معنى د حرف شرط لره او اذا غير شرطي محمول دی په اذا شرطي باندې (۳) دا متضمن دی معنى د حرف اضافت لره **وهى** اودا کلمه د اذا کله چې وی زمانيه **مستقبل** نو دا راځي د مازنه مستقبل لپاره اګر که داخل شوی وی په ماضي باندې په دې شان سره چې اذا داخل شي په مضارع باندې نو مضارع خاص کوی په استقبال پورې او چې داخل شي په ماضي باندې نو ماضي ګرځوی په معنى د مستقبل سره غالبا، او کله کله اذا زماني د ماضي لپاره هم راځي نحو قوله تعالى ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ بَيْنَ ٱلسَّدَّيْنِ ﴾ ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا سَاوَىٰ بَيْنَ ٱلصَّدَفَيْنِ ﴾ ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا جَعَلَهُۥ نَارًا ﴾ ﴿ فَإِذَا قَرَأْتَ ٱلْقُرْءَانَ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ ﴾ ﴿ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ فَٱغْسِلُوا۟ وُجُوهَكُمْ ﴾

سوال: مستقبل صفت دی تقاضه د موصوف کوی معترض موصوف مقدر را اوباسي الفعل نو معنى داشوه چې وهى الفعل المستقبل بيا خو کلمه د اذا اسم فعل شو او حال دا دی چې دا د

اسماء افعال نه نۀ دی؟ **جواب:** اعتراض به ستا هله وارديدوچې مستقبل صفت د فعل وی ليکن دا صفت د زمانی دی نه دفعل.

سوال: اذا د مستقبل لپاره والی راځي؟ **جواب:** کثير او غالب په استعمال د اذا کې دا دی چې اذا دلالت کوی په وقوع د معنی مصدري باندې په زمانه د استقبال کې قطعاً او يقيناً عند المتکلم د دې وجې نه کثير دی استعمال د اذا په کلام الله کې ځکه الله تعالی عالم دی په امور آيتـه وو باندې او په کلام د عبادو کې راځي په طريقه د قلت او ندرة سره ځکه هغه عالم نه دی په امور استقباليو باندې مثال د اذا استقبالی شعر!

اذا يكون كريهة ادعى لها　　واذا يحاس الحيس يدعى جندب

وفيها معنى الشرط او کائن دی په کلمه د اذا کې معنی د شرط چې هغه سببيت د اول دی لپاره د ثانی يا ملزوميت د اول دی لپاره د ثانی مثال د اذا شرطيه کقوله عليه الصلاة و السلام: (اذا افطر احدکم فليفطر على تمرة فان لم يجد فليفطر على ماء فانه طهور اى ان افطر احدکم). وقول الشاعر

فاستغن ما اغناك ربك بالغنى　　واذا تصبك خصاصة فتجمل اى انْ تصبك

وقول الشاعر! اذا لم تستطع امرًا فدعه　　وجاوزه الى ماتستطيع

ولذلك او د وجی د کيدو د معنی د شرط نه په کلمه د اذا کې **اختير بعدها الفعل** گرځولي شوی دی مختار وروستو د کلمه د اذا نه **الفعل** جمله فعليه ځکه شرط تقاضه د فعل کوی او هر کله چې دا معنی د شرط په دې اذا کې وضعی نه وه نو وقوع د جملی فعليه وروستو د ده نه واجب ونه گرځيدله بلکه جائز ده وقوع د جمله اسميه وروستو د اذا نه په خلاف د انْ اود لوْ نه هغه واجب الدخول دی په فعل باندې لفظا يا تقديراً د وجی د اصالت د ان او لوْ نه په شرط کې، او په اختير کې جائز دی لغات ثلاثه (۱) نقل چې دا اصل کې اخْتُيِرَ وو کسره بر يا ثقيل بود نقل کرده بماقبل دادند بعد از سلب حرکت ايشان تا اخْتِيرَ گشت اختير شد، دا لغت افصح دی (۲) جائز دی په دې کې اشمام چې کسره د تا مائل کړي طرف د ضمی ته په دې شان سره چې نيمه کسره او نيمه ضمه وائي، او وريسې يا مائله کړي طرف د واو ته په دې شان سره چې نيم واو ووائي او نيمه يا ووائي دا لغت فصيح دی (۳) انداخت، چې اختور ووائي په دې شان سره چې اُخْتُيِرَ اصل کې اُخْتُيِرَ وو کسره بر يا ثقيل بود انداخت اختير گشت اُخْتُيرَ شد بعده يا ساکن مظهر ما قبلش مضموم بنابر ان يا رابواوبدل کردند تا اُخْتُورَ گشت اختور شد او دا اَرْذَءُ لغت دی، **وقد تكون للمفاجاة،** اوکله کله کيږي کلمه د **اذا للمفاجاة** د مفاجات لپاره چې ملاقات دا حدهما دی داخر سره بی د علم د احدهما نه په اخر باندې **فيلزم المبتداء** پس غالب ده وقوع د جمل اسميه **بعدها** وروستو د اذا مفاجاتی نه لپاره د فرق په مينځ د اذا شرطيه او اذا مفاجاتی کې او مراد د لزوم نه په دې مقام کې غلبه د وقوع د جملی اسميی ده وروستو د اذا مفاجاتی نه پس منافی نه شو دا عبارت د مصنف د هغه عبارت سره چې ذکر شوی دی په بابْ د ما اضمر عامله على شرطية التفسير کې.

سوال: دلته مصنف وويل چې دا اذا مفاجاتی نه وروستو وقوع د جمله اسميه لازمه او په باب د اضمار على شرطيه التفسير كې يې ويلي دي چې اسم مظانی چې واقع شي وروستو د اذا مفاجاتی نه نو رفع لوستل اولى او نصب لوستل جائز قدر دی نحو خرجت فاذا زيد يضربه اولى، او خرجت فاذا زيد يضربه جائز خلاف الاولى دی د هغې نه معلومه شوه چې وقوع د جملى اسمي وروستو د اذا مفاجاتی نه لازمه نده نو په كلام د مصنف كې تناقض راغی؟

جواب: په كلام د مصنف تناقض نشته ځكه چې دلته لزوم په معنى د غلبى سره دی لهذا د دي عبارت او د هغه دواړو مطلب يو دی، مثال د اذا مفاجاتی لكه خرجت فاذا السبع شو او په اذا مفاجاتی كې ځلور تركيبونه او ځلور مذهبونه دی:

(۱): **مذهب د مبرد دا دی** چې چه دا اذا مفاجاتی ظرف مكان خبر مقدم السبع مبتداء مؤخره ده فيكون المعنى السبع مكان خروجی.

(۲): **دويم مذهب د ذجاج دی** چې اذا مفاجاتی ظرف زمان، ظرف خبر مقدم السبع مبتداء مؤخره ده اى السبع زمان خروجی دا دواړه مذهبونه كمزوري دی (۱) لعدم صحة حمل الخبر على المبتداء (۲) او كله كله عرب خبر السبع ذكر كوی په كلام كې اى خرجت فاذا السبع واقف يا لدى اللباب يا حاضر، نو معلوم شوه چې دا لسبع مبتداء لپاره خبر اذا مفاجاتی نه دی بلكه خبر ورله محذوف دی ځكه كه خبر ورله دغه اذا مفاجاتی وی نو دا السبع نه وروستو به لدى اللباب يا واقف نه ذكر كولي.

(۳): **دريم مذهب د صاحب د لباب دی** هغه وائي چې اذا ظرف زمان دی لپاره د خبر محذوف د السبع فيكون المعنى السبع واقف وقت خروجی بنا په دی دري واړو مذهبونو باندې اذا مفاجاتی مضاف نه دی مابعد جملی ته بلكه دا مضاف دی ماقبل ته معناً لالفظا.

(۴): **ځلورم مذهب د جار الله زمخشري او ابن حاجب دی** هغه دواړه وائي چې اذا مفاجاتی ظرف زمان مضاف دی مابعد ته.

سوال: مضاف سره د مضاف اليه نه په تركيب كې څه واقع شوی دی يا اذا ظرف دی مضاف دی مابعد ته تقاضه د عامل كوی عامل په دې كې څوك دی؟

جواب: دا مفعول فيه دی د فعل معنوی لپاره چې هغه فاجات دی چې مستفاد دی د مقام نه فيكون التقدير خرجت ففاجات وقت وقوف السبع او دا فاء محتمل د احتمالين ده (۱) يا فا عاطفه ده نو عطف د جمله فعليه په جمله فعليه باندې راغي (۲) يا سببيه ده، پس د دې ماسبق نه معلومه شوه چې اذا دري قسمه دی (۱) ظرفيه محضه (۲) ظرفيه شرطيه (۳) ظرفيه مفاجاتی **ومنها اذ** او بعض د ظروف مبنيو نه اذ دی داسې اذ چې كائن دی لپاره د زمانه ماضی غالبا نحو حيث اذ قام او كه چری داخل شي په مضارع باندې نو هغه گرځوی بمعنى الماضی نحو جئت اذ يقوم زيد اى اذ قام زيد (۲) او كله كله راځي اذ د مستقبل لپاره كقوله تعالى ﴿فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ۝ إِذِ الْأَغْلَالُ فِي أَعْنَاقِهِمْ﴾ **او للماضی** جار مجرور په اعتبار د متعلق محذوف سره صفت واقع شوی دی د اذ لپاره فيكون

التقدير اذا كائنة للماضي (۲) يا خبر دی د مبتداء محذوف لپاره فيكون التقدير اذ وهي للماضي او علت د بنا په دې کې بعينه علت د بنا د حيث دی (۲) دا مشابه دی د حرف سره په وضع ثنائي کې (۳) کله کله متضمن کيږي معنی د حرف شرط لره نحو اذ ما تسافرا سافر او اذ غير شرطی محمول دی په اذ شرطی باندې (۴) دا متضمن دی معنی دحرف اضافت لره **ويقع بعدها الجملتان** او واقع کيږي وروستو د کلمه د اذ نه دوه جملی چې هغه جمله اسميه او جمله فعليه ده ځکه دا متضمن نه دی معنی د حرف شرط لره چې مابعد جمله فعليه مختاره شي او نه متضمن دی مفاجاة لره چې مابعد جمله اسميه مختاره شي نحو كان ذلك اذ زيد قائم او اذ قام زيد، او کله کله راځي اذ د مفاجاة لپاره نحو خرجت فاذ زيد قائم او د وجی د قلت نه مصنف دا ذکر نه کړو. او اذا په پنځه قسمه دی (۱) ظرفيه (۲) شرطيه كقول الشاعر!

اذ المرا لم يخزن عليه لسانه فليس على شئ سواه بخزان

ای ان المرء لم يخزن (۳) تعليلی كما فی قول ابن مالك شعر!

وفى جواب كيف زيد قل ذنف فزيد استغنی عنه اذ عرف

(۴) مفاجاتی (۵) زائده.

سوال: نه وائي چې دا نه متضمن دی معنی د حرف شرط لره او نه متضمن دی مفاجاة لره ځکه وقوع د جملې فعليې او اسميې بعد اذ على السويه دی دا دواړه خبرې ستا غلطی دی ځکه اذ مفاجات لپاره هم راځي نحو خرجت فاذ زيد قائم او متضمن معنی د حرف شرط لره هم دی قياساً هرچې دی اذا د هغې تضمن معنی د حرف شرط لره شاذ دی ځکه دی وروستو په خپله وائي چې اما مع كيفما واذا فشاذ، او اذ يې د اسماء شرطيه سره ذکر کړی دی ديته يې شاذ نه دی ويلي؟

جواب: اذ شرطی نه راځي بدون ما او اذ شرطی چې راځي هغه سره د ما نه راځي نحو اذ ماتسافر اسافر او د دې بل نه جواب دا دی چې اذا مفاجاتی راځي په طريقه د کثرت سره او اذ مفاجاتی راځي په طريقه د قلت سره د دې وجی نه مصنف نه دی ذکر کړي ځکه قليل په مقابل د کثير کې كالعدم دی.

سوال: نه وائي چې اذ شرطی راځي سره د ما نه نۀ بدون ما دا خبره ستا منقوضه شوه په دې قول د شاعر سره، اذ المرا لم يخزن عليه لسانه الخ چې دلته اذ راغلي دی په معنی د ان سره بدون ما؟

جواب: يجوز فی الشعر ما لايجوز فی غيره **ومنها اين وانى** او بعض د ظروف مبنيو نه اين او انى دی (۱) هسی اين او انى چې دا دواړه كاين دی **للمكان** د مكان لپاره (۲) يا دا دواړه د مكان لپاره دی په حال کې چې دا دواړه کې چې دا د استفهام دپاره دی او شرط لپاره دی، يا من حيث الاستفهام والشرط (۳) يا برابر خبره ده چې استفهام لپاره وی او يا د شرط لپاره وی مثال د اين استفهامی نحو اين زيد او مثال د اين شرطيه نحو **اين تجلس اجلس**، او مثال د انى استفهامی نحو انى زيد او مثال د انى شرطی نحو انى تجلس اجلس او دا د قبيلي د مبنيات نه دی ځکه چې دا متضمن دی معنی د حرف استفهام او حرف شرط لره او للمكان په اعتبار د متعلق سره صفت واقع شوی دی د

این او انی لپاره فیکون التقدیر این وانی الکائنتان للمکان (۲) یا للمکان جار مجرور خبر دی د مبتداء محذوف لپاره فیکون التقدیر این وانی هما للمکان، **او استفهاما و شرطا.**
(۱): منصوب دی بنا بر حالیت (۲) یا منصوب دی بنابر تمیز (۳) یا خبر د کان محذوفه لپاره دی په اعتبار د حذف د مضاف سره ای سواء کان ذات استفهام او شرط. انی په استعمال د کلام د عرب کې پنځه قسمه راځي (۱) استفهامیه مکانیه نحو انی زید (۲) شرطیه مکانیه نحو انی تکن اکن دی دواړو ته انی مکانی وائي (۳) بمعنی متی نحو انی الساعة ای متی الساعة او دیته انی متائي هم وائي (۴) بمعنی من این نحو **انی لك هذا** ای من این لك هذا (۵) بمعنی کیف د هغې علامه دا ده چې د دې انی نه وروستو به فعل راغلي وی کما فی قوله تعالی ﴿أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَامٌ﴾ ای کیف یکون لی غلام ﴿أَنَّىٰ يُحْيِي هَٰذِهِ اللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا﴾ ای کیف یحیی الله وقوله تعالی ﴿فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّىٰ شِئْتُمْ﴾ ای کیف شئتم او دیته عند النحات انی کیفی وائي او فأتوا حرثکم انی شئتم کې انی کیفی دی نه انی مکانی، ځکه مقصود په دې ایت کې تعمیم فی الکیفیت دی نه تعمیم فی المکان حتی چې لواطت مع النساء جائز شي او دلیل او قرینه په دې خبره باندې (۱) شان نزول د دې ایت دی چې دا ایت نازل شوی دی په رد د یهودو کې ځکه یهودو دا عقیده وه چې یو سړي جماع وکړي د خپلې بی بی سره د جانب د دبر نه په قبل کې او د هغې نه چې حمل واخلي نو بچی احول پیدا کیږي نو الله رد وکړو د یهودو په دې عقیده باندې فاتو حرثکم انی شئتم سره او رد په یهودو باندې هله راځي چې دا انی کیفی شي نه انی مکانی. (۲): قرینه په دې باندې چې انی کیفی دی وروستو دا فعل دی ځکه انی کیفی داخلیږي په فعل باندې نه انی مکانی (۳): دریمه قرینه په دې خبره چې دا انی کیفی دی نه مکانی فاتو حرثکم دی ځکه چې موضع د حرث قبل دی نه دبر او دبر موضع د فرث دی نه د حرث **ومتی للزمان فیهما** او متی کاین دی د زمانی لپاره په دې استفهام او شرط دواړو کې مثال د متی استفهامی نحو متی الساعة یا رسول الله وقال رسول الله فی جوابه اذا ضیعت الامانة فانتظر الساعة قال کیف اضاعتها قال اذا وسد الامر الی غیر اهله فانتظر الساعة؛ او مثال د متی شرطیه نحو متی تخرج اخرج. وقول الشاعر!

کریم متی امدحه امدحه والوری معي ... واذا مالمته لمته وحدی

او دا متی مبني دی ځکه دا متضمن دی معنی د حرف شرط او استفهام لره **وایان للزمان** او ایان راځي د زمانی لپاره په حال کون د دې کې چې د استفهام لپاره یې واخلي کما فی قوله تعالی ﴿أَيَّانَ يَوْمُ الدِّينِ﴾ او دا مبني دی ځکه متضمن دی معنی د حرف استفهام لره.

الفرق بین متی و ایان: متی شرطیه راځي بخلاف ایان (۲) ایان د زمانی مستقبلی لپاره راځي او متی عام دی فلا یقال ایان قدم الحاج (۳) ایان مختص دی په امور عظامو پورې او متی عام دی فلا یقال ایان یوم قیام زید، او په ایان کې لغات ثلاثه دی (۱) مشهور لغت ایان دی بفتح الهمزة والنون (۲) ایان بکسر الهمزة و فتح النون (۳) ایان بفتح الهمزة و کسر النون **وکیف للحال استفهاما او**

كيف كاين دی د حال او صفت د شئ لپاره په وقت د استفهام کې يا په حال کون د کيف کې چې دا خاوند د استفهام دی نحو کيف زيد او کيف مبني دی ځکه دا متضمن دی معنی د حرف استفهام لره، او کيف يې ګرځولي دی د ظروفو نه ځکه دا په معنی د علی ای حالٍ سره دی او جار مجرور ته ظروف وائي عند النحات مجازاً (٢) يا دا مشابه دی د ظروفو سره په احتياج الی المتعلق کې لکه ځنګه چې ظروف متعلق غواړي نو کيف هم متعلق غواړي، او کيف په اعتبار د معنی سره دوه قسمه دی (١) استفهاميه نحو کيف زيد وقول الشاعر!

قال لی کيف انت قلت عليل
سهر دائم وحزن طويل

(٢) شرطيه. بيا عند البصريين کيف شرطی راځي سره د ما نه نحو کيفما تقرا اقرا او عند الکوفيين شرطيه راځي مطلقا نحو کيف تجلس اجلس او کيف په اعتبار د اعراب محلی سره څلور قسمه دی (١): مرفوع محلا بنا بر خبر مبتدا نحو کيف انت کيف خبر مقدم دی او انت مبتدا مؤخره ده دا جمله انشائيه اسميه استفهاميه (٢): منصوب محلا بنابر خبر کان نحو قوله تعالی ﴿كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُكَذِّبِينَ﴾ (٣): منصوب محلا بنابر حاليت نحو کيف رَجَعَ سليم (۴): منصوب محلا بنابر مفعول مطلق نحو قوله تعالی ﴿أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ﴾ ای ایّ فعلٍ فعل ربك يعنی کوم کار کړی دی رب ستا **مذ ومنذ** بعض د ظروف مبنيونه مذ او منذ دی **بمعنی اول المدة** چې دا دواړه کاين دی په معنی د اول مدی د زمانی د فعل متقدم سره يا هسی وزد منذ چې د واړه کائن دي په معنی د اول المده سره.

سوال: بمعنی اول المدة جار مجرور دی او د جار مجرور لپاره لابدي وی د اعراب محلی نه د دي اعراب محلی څه دی؟ **جواب:** (١): دا جار مجرور خبر واقع شوی دی د مبتدا محذوف لپاره فيکون التقدير مذ ومنذهما بمعنی اول المدة او مذ او منذ مبتداء ده او خبر يې محذوف دی چې منها دی، يا دا مذ او منذ عطف دی په اين او انی باندې (٢) يا بمعنی اول المدة ظرف مستقر په اعتبار د متعلق محذوف سره صفت واقع شوی دی د مذ او منذ لپاره فيکون التقدير مذ ومنذ الکائنتان بمعنی اول المدة.

سوال: مذ او منذ نکره ده ځکه معرفه اووه قسمه ده او دا يو هم د هغې نه نهٔ دی او دارنګې مذکر دی ځکه علامه د تانيث پکې نشته او تا صفت د دې الکائنتان معرفه مؤنث راوی ستو نو مطابقت رانغی بين الموصوف والصفة؟

جواب: دغه مذ او منذ علم دی د هغه مذ او منذ لپاره چې واقع کيږي په تراکيب کې نو معرفه ب[illegible] شوه او په تاويل د کلمة سره مؤنث دی نو ځکه يې صفت معرفه او مؤنث مقدر راويستلی دی.

سوال: الکائنتان چې يې مقدر راويستو نو حذف د موصول راغي سره د بعض اجزاؤ د صلی نه او سره د بقا د بعض نه او د دې لپاره نظير نشته په استعمال د کلام د عربو کې؟

جواب: دا الف لام موصولي نه دی بلکه الف لام حرفي دی ځکه اختصاص د الف لام موصولي او اسم فاعل او اسم مفعول په مينځ کې د جانبين نه نهٔ دی بلکه من جانب دی چې دخول د الف لام

او اسم فاعل او اسم مفعول نه دی مختص موصولي مختص دی په اسم فاعل او اسم مفعول پورې او اسم فاعل او اسم مفعول په الف لام موصولي پورې بلکه دا لکه څنګه چې مدخول د الف لام موصولي واقع کیږي نو دارنګې مدخول د الف لام حرفي هم واقع کیږي.(٢): یا که اومنم چې اختصاص د جانبین نه دی نو بیا هم دا الف لام حرفي دی نه الف لام موصولي څکه الف لام موصولي په هغه اسم فاعل او اسم مفعول باندې داخلیږي چې هغه دلالت کوی په معنی مصدري باندې په طریقه د تجدد او د حدوث سره او دلته اسم فاعل دلالت په معنی مصدري په طریقه د تجدد او حدوث سره نه کوي بلکه دلالت کوی په طریقه د ثبوت سره.(٣): او که اومنم چې دا الف لام موصولي دی او دا اسم فاعل دلالت کوی په معنی مصدري په طریقه د تجدد او حدوث سره نو بیا حذف د موصول سره د بعض اجزاؤ د صلی نه جائز دی په نزد د بعض باندې خلافاً للجمهور، او دلته ترکیب بناء دی په مذهب د بعض باندې.

سوال: منذ اصل دی او مذ فرع ده څکه دا ماخوذ دی د منذ نه نو تا دا فرع ولې مقدم کړه په اصل باندې؟ **جواب:** لکونه اخف من منذ.

سوال: اصل په اسماؤ کې اعراب دی نو دا مذ او منذ مبني ولې دی؟ **جواب:** (١): څکه دا متضمن دی اضافت لره څکه معنی د مذ یوم الجمعة ده اول المدة او معنی د منذ یومان دی جمیع المدة (٢) دا مشابه دی د غایات سره په قطع عن الاضافت کې نو دا مشابه شوه د حروف سره په احتیاج کې امر خارج ته چې هغه مضاف الیه محذوف دی بیا دومره فرق دی چې د مذ او منذ سره بنا لازمه ده بخلاف الغایات څکه دا دواړه مقطوع عن الاضافت دی دائماً ابداً (٣) مذ او منذ مبني دی څکه دا مشابه دی د حروف سره په وضع ثنائي کې او منذ محمول دی په مذ باندې (۴) مذ او منذ اسمی مشابه دی د مذ او منذ حرفي سره لفظاً او معنیٰ نو څکه مبني دی فرق په مینځ د مذ او منذ اسمیه او حرفي کې باعتبار اللفظ خو ظاهر دی چې مدخول د مذ او منذ حرفي مجرور راځي او مدخول د مذ او منذ اسمی مرفوع راځي او فرق معنوی دا دی چې مذ او منذ حرفي په ماضی کې په معنی د من سره راځي او اسمی په معنی د اول المدة سره راځي او په زمانه حاضر کې حرفي بمعنی فی راځي او اسمی بمعنی جمیع المدة سره راځي.

سوال: چې ته وائې مذ او منذ اسمی کله په معنی د اول المدة سره راځي او کله په معنی د جمیع المدة سره راځي اوس دا به موږ د څه نه معلومه وو چې دا په معنی د اول المدة سره دی او که په معنی د جمیع المدة سره دی؟ **جواب:** دا معلومیږي د علامی نه چې دا مذ او منذ بمعنی اول المدة وو **فیلیهما المفرد المعرفة** نو واقع کیږي دا مذ او منذ نه وروستو متصل بلا فصل اسم مفرد نه مثنی او نه مجموع مفرد عام دی که حقیقة وی او که حکما وی څکه اول د شئ امر واحد وی نه شیئین او نه اشیاء، او داسې مفرد چې معرفه به وی، معرفه عام ده که حقیقة وی او که حکما وی څکه او لیت د مبهم غیر مفید وی مثال لکه مارأیت زیداً مذ یوم الجمعة ای اول مدة زمان عدم رؤیتی ایاه یوم الجمعة.

سوال: هما ضمیر راجع دی مذ اومنذ ته او ولې اتصال ته وائې اوس دلته اتصال قبلی مراد دی او که اتصال بعدی مراد دی؟

جواب: دلته اتصال بعدي مراد دی ځکه ترجمه کړې ده جامي صاحب چې ای یقع بعد مذ و منذ.
سوال: ته وائي چې مذ او منذ بمغنی اول المدة شي نو واقع کیږي د دې نه وروستو مفرد نو مثال مطابق نه شو د ممثل سره ځکه په مثال مذکور کې مایلی د مذ مرکب دی نه مفرد؟
جواب: المراد من المفرد ههنا المقابل للمثنى والمجموع ځکه مفرد د دوی په اصطلاح کې په څلور معانیو سره راځي (۱) مقابل د مرکب (۲) مقابل د جمله (۳) مقابل د مضاف او شبه مضاف (۴) مقابل د مثنی او مجموع، او دلته مفرد مقابل د مثنی او مجموع دی او د مفرد په دې معنی سره اطلاق کیږي په مرکب باندې هم.
سوال: دا خبره ستا منقوضه شوه په مارأيت زيداً مذ اليومان الذان صاحبنا فيهما سره چې دلته مذ په معنی د اول المدة سره دی او د دې نه وروستو مفرد نه دی واقع شوی بلکه تثنيه راغلي ده؟
جواب: مفرد عام دی که حقيقة وی او که حکما وی او دلته مفرد حکما دی، ځکه د دې نه مونږ تاویل کوو په مفرد سره فيکون المعنى اول مدة عدم رؤيتى اياه وقت الملاقات.
سوال: ته وائي چې مذ او منذ په معنی د اول المدة سره وی نو د دې نه وروستو واقع کیږي مفرد معرفه دا خبره ستا منقوضه شوه په مارأيت مذ يوم لقيتنى سره چې دلته مذ په معنی د اول المدة سره دی او د دې نه وروستو مفرد معرفه نده واقع شوی بلکه مفرد نکره واقع شوې ده؟
جواب: معرفه عام ده که حقيقةً وی او که حکما وی معرفه حقيقة دیته وائي چې دا یو قسم دی د اقسام د معرفی نه او معرفه حکما نکره مخصصه ته وائي او دلته دا معرفه حکما ده ځکه نکره مخصصه ده او تخصيص يې راغلي دی په صفت جملی سره و **بمعنى الجميع** اومذ او منذ راځي بمعنی جميع المدة د زمانی د فعل مقدم سره د هغې علامه دا ده چې **فيليهما المقصود بالعدد** واقع کیږي وروستو د مذ او د منذ نه زمانه داسې زمانه چې مقصود کړې شوی دی بيان د هغه زمانه په حال کون د دې زمانه کې چې دا به متلبس وی په عدد سره د قبيلې د تلبس د دال نه په مدلول باندې.
سوال: المقصود صيغه د اسم مفعول ده صفت دی تقاضه د موصوف کوی د دې موصوف راته وښايه؟ **جواب:** د دې موصوف حذف شوی دی چې الزمان دی.
سوال: توصيف د زمان په المقصود سره نه دی صحيح ځکه زمانه مقصود د متکلم نده ځکه قصد د متکلم متعلق کیږي په هغه شئ پورې چې هغه په اختيار د متکلم کې وی او زمانه په اختيار د متکلم کې نده؟ **جواب:** دا اعتراض به هله واردیدو چې دا صفت بحاله وی د زمان لپاره ليکن دا صفت بحاله نه دی بلکه صفت بحال متعلقه دی فيکون المعنى فيليهما الزمان المقصود بيانه.
سوال: معترض وائي چې بالعدد جار مجرور متعلق دی په المقصود پورې ځکه اصل په ظرف کې ظرف لغوه دی نو معنی د دې دا شوه چې مقصود د متکلم بيان د زمانی دی په عدد سره او دا معنی باطله ده ځکه چې مقصود د متکلم بيان د زمانی نه دی په عدد سره بلکه مقصود د متکلم بيان د عدد دی په زمانی سره لهذا فيليهما المقصود به العدد ويل پکار وو؟

جواب: دا اعتراض په هله وارديدو چي دلته دا با په معنی د مع سره وی او متعلق وی المقصود پوری لیکن دا باء په معنی د مع سره نده بلکه دا تلبس لپاره ده بیا دا ظرف مستقر دی په اعتبار د متعلق محذوف سره چي متلبساً دی حال واقع شوی دی د نائب فاعل دالمقصود نه فیکون المعنی یقع بعد مذ و منذ الزمان المقصود بیانه حال کونه متلبساً بالعدد ، مثال لکه ما رایت زیدا یرمان ای جمیع مدة عدم رؤیتي ایاه یومان **وقد یقع المصدر** د مذ او منذ اسمی لپاره دوه استعماله دی (۱) یو استعمال کثیر دی لکه دا ما سبق شو دویم استعمال قلیل دی لکه دا شو څکه چي مصنف قد یقع ویلي دی او قد چي داخل شي په مضارع نو تقلیل فائده کوی نو د دي معنی دا شوه چي لږ لږ واقع کیږي وروستو د مذ او منذ متصل بلا فصل **المصدر** مصدر نحو ما ضربت مذ ذهابك **او الفعل** یا جمله فعلیه نحو ما خرجت مذ ذهبت **وانّ** یا انّ سره د اسم او د خبر نه نحو ما خرجت مذ انك ذاهب **وان** یا ان ناصبه مصدریه نحو ما خرجت مذ أنْ ذهبت او دارنګي واقع کیږي د **مذ** او **منذ نه وروستو متصل بلا فصل** جمله اسمیه نحو ما خرجت مذ زید مسافر او دا دی مصنف نه دی ذکر کړي **لقلته** او کله چي واقع شي وروستو د مذ یا منذ نه مصدر یا جمله فعلیه یا جمله اسمیه یا انّ یا أنْ **فیقدر** پس مقدر کولي شي پس د مذ او منذ نه هغه لفظ چي دلالت کوی په زمانه بیا عام دی که لفظ د زمان وی که وقت وی او که حین وی لپاره د صحت د حمل او تقدیر د اوقات سره د مصادرو نه کثیر او شائع دی په استعمال د کلام د عربو کي او دا زمانه به مضاف وی یو د دي امور مذکورو ته نو ما خرجت مذ ذهابك د دي معنی دا شوه چي اول مدة عدم رؤیتي ایاه زمان ذهابك، نو حمل د ذهابك په اعتبار د حذف د مضاف سره صحیح شوی دی په ماقبل باندي چي اول المدة عدم رؤیتي ایاه دی، او که زمانه مقدر نه وی راویستلي نو بیا حمل د دي صحیح نه وو په ماقبل باندي.

سوال: مذ او منذ اسمی په ترکیب کي څه واقع کیږي؟ **جواب:** په دي کي دوه مذهب دی (۱) **وهو مبتداء** هر واحد د مذ او منذ نه مبتداء ده عند الجمهور البصریین، **وخبره** او خبر د هر واحد د مذ او د منذ نه **ما** هغه اسم دی چي واقع کیږي وروستو د مذ او منذ نه.

سوال: هو ضمیر راجع دی مذ او منذ ته نو مطابقت رانغي بین الراجع والمرجع؟ **جواب:** هو ضمیر راجع دی مذ او منذ ته په تاویل د کل واحد سره **خلافاً للزجاج** خلاف کړي شوی دی د جمهورو نه په خلاف کولو سره داسي خلاف چي ثابت دی زجاج لره په دی شان سره چي ذجاج ګرځوی د ما بعد مبتداء او مذ او منذ خبر او دلیل د زجاج لپاره، هغه قاعده د نحویانو ده چي دوه اسمین راشي په کلام د عرب کي او یو معرفه وی او بل نکره وی نو د معرفی نه به مبتداء جوړه وی او د نکری نه به خبر جوړ وی؟ **جواب:** طرفه د جمهورو نه دا دی چي په ابتداء کي تعریف باعتبار المعنی کافی دی لپاره د صحت د ابتدائیت او د ماقبل نه چي مبتداء جوړیده نو د مابعد نه به یې نه جوړ وی او وقوع د معرفه وروستو د مذ او منذنه لازم نده ستا دا ترکیب نه جوړیږي په دي ترکیب چي ما رأیته مذ یومان.

جواب: د طرف د زجاج نه دا دی چي دلته یومان اګر چي معرفه نده خو نکره مخصصه ده نو مبتداء واقع شوی ده تخصیص یې راغلي دی په تقدیم د مذ سره په شان د رجل باندي په فی الدار رجل

كي (۳) او جمهور كوفيان وائي چې دا مابعد اسم مرفوع فاعل د فعل محذوف دى او مذ او منذ ظرف دى د ماقبل لپاره او مضاف دى مابعد ته نو كيږي تقدير د عبارت دارنګي ما رايت زيد مذ كان يومان (۴) او بعض كوفيان وائي چې دا مابعد خبر د مبتداء محذوفى دى اى ما رأيته من الزمان الذى هو يومان خكه چې دا مذ مركب دى د من او ذو الطائيه نه **ومنها لدى ولدن** او بعض د ظروف مبنيونه لدى دى بالالف المقصورة او لدن دى بفتح اللام و ضم الدال وسكون النون، او دا دوه لغتونه مشهور دى په استعمال د كلام د عرب كې اوس مصنف رحمه الله بيانوى لغات غير مشهوره په لدى او لدن كې **وقد جاء** او كله كله راخي **لدْن** بفتح اللام وسكون الدال وكسر النون **ولدُنْ** او لږ لږ راغلي دى **لَدِن** بفتح اللام وكسره الدال وسكون النون **ولدْ** او لږ لږ راغلي دى بفتح اللام وسكون الدال **ولُدْ** بضم اللام وسكون الدال **ولَدُ** بفتح اللام وضم الدال.

سوال: اصل په اسماؤ كې اعراب دى نو دا د قبيلې د مبنيات نه ولې دى؟

جواب: په دې لدى او لدن كې بعض لغتونه مشابه دى د حرف سره په وضع ثنائي كې او دا باقي محمول دى په هغې باندې (۲) يا دا لغت مشابه دى د من سره په ابتداء الغاية كې لكه څنګه چې د من سره ابتدا الغايه لازمه ده نو دارنګې د دې لغات سره هم ابتداء الغايه لازمه ده ماسوى د لدى نه او دا محمول دى په دې باقي لغات باندې او دا ټول راځي په معنى د عند سره، ليكن دومره فرق دى چې د دې ټولو سره ابتداء لازمه ده ماسوى د لدى نه د دې وجې نه لازم دى د لدن او اخوات د لدن سره من ابتدائيه لفظاً يا تقديرا او دا د اسماء عجيبيو نه دى څكه چې په حروف جارو كې صرف من جرور كولې شي دى لدن لره په شان د قبل او بعد او عند نه نور حروف جاره.

او فرق استعمالي په مينځ د عند او لدى كې دا دى چې عند مستعمليږي په حاضر او غائب دواړو كې او لدى مستعمليږي په حاضر كې نه په غائب كې لهذا المال عند زيد ويلى شي، چې دا مال د دې زيد سره حاضر وى او كه په كور كې وى يا په بيك كې وى او المال لدى زيد لدن زيد ويلي شي چې دا مال د زيد سره حاضر وى والافلا، او حكم د لدى او لدُن دا دى چې دا جر وركوى مابعد اسم لره بنابر اضافت ليكن كله كله خاص لدن نصب وركوى خاص لفظ د غدوةً لره نحو لدن غدوة (۱) سماعاً (۲) تشبيهاً لنونها بنون تنوين فى مثل رطلٌ زيتاً (۳) لكون غدوة اكثر استعمالاً بعد لدن من سحرة و بكرة وعشية (۴) دا خاصه د لدن ده چې د دې نه وروستو لفظ د غدوة راشي هغې لره نصب وركوى والافلا په شان د لولا باندې چې د هغې نه وروستو ضمير راشي هغې لره جر وركوى والافلا، قد يكون لشئ عمل فى حال لايكون فى حال اخر (۱) لولاتعمل الجرفي المضمر ولاتعمله فى المظهر (۲) عسى تنصب المضمر نحو عساك ومع الظاهر الرفع (۳) لان تعمل عمل ليس فى الاعيان ومع غيرها لايكون لها عمل (۴) لدن تنصب غدوة ولاتنصب غيرها **ومنها** او بعض د ظروف مبنيو نه **قط لفظ** د قط دى **للماضى المنفى** (۱) وضع كړي شوى دى لپاره د زمانه ماضى داسې ماضى چې نفى كړي شوې ده وقوع د فعل په دې زمانه كې لپاره د دې چې شامل شي دا نفى د فعل ټولو

ازمنه د ماضی لره (۲) یا قط مستعملیږي لپاره د فعل ماضی هسی ماضی چې نفی کړي شوي د وقوع د معنی مصدري په ماضی کې مثال لپاره د استغراق د زمانه ماضی نحو ما رأیت زید قط نه دی لیدلي ما زید لره هیڅ کله.

تشریح: فقط کې لابدي ده د معرفت د امور اربعو نه (۱) معرفت د لغاتُ (۲) معرفت د اقسام (۳) معرفت د وجې د بناء (۴) معرفت د استعمال، نو فقط کې لغات ډیر دی لیکن مشهور لغتونه پنځه دی. (۱): قط بفتح القاف و ضم الطا المشددة دا اشهر د لغات نه دی. (۲): قط بفتح القاف وضم الطا المخففة (۳): قط بضم القاف اتباعا لضمة الطاء المشددة (۴): قط بضم القاف اتباعا لضم الطاء المخففة (۵): قط بفتح القاف وسکون الطاء، او اقسام یې مخکې تیر شوی دی.

سوال: اصل په اسماؤ کې اعراب دی دا قط مبني ولي دی؟

جواب: (۱): په دې کې بعض لغات مشابه دی د حرف سره په وضع ثنائي کې او باقي محمول دی په هغې باندې (۲) دا محمول دی په عوض باندې (۳) محمول علی قط بمعنی انْتَه.

سوال: ماضی صیغه د اسم فاعل ده صفت دی تقاضه د موصوف کوی اوس د اموصوف به خالی نه وي یا به فعل راوباسي یا به زمانه راوباسي او دا دواړه باطل دی که موصوف فعل راوباسي نو بیا توصیف د ماضی په المنفی سره صحیح دی لیکن بل نقصان لازمیږي چې دا جار مجرور متعلق دی په موضوع مقدر پورې نو معنی دا شوه چې دا قط وضع کړي شوی دی لپاره د فعل ماضی بیا خو دا اسم فعل شو شمیرل یې د ظروف مبنیونه باطل دی او که موصوف ورلره زمانه راوباسي نو بیا توصیف د دې ماضی په المنفی سره نه صحیح کیږي ځکه منفی خو فعل دی نه زمانه، بلکه زمانه مثبتة ده؟

جواب: (۱): زه موصوف د ماضی لپاره فعل راوباسم او دا جار مجرور په موضوعة پورې نه دی متعلق بلکه دا متعلق دی په مستعملة پورې. (۲): یا موصوف د ماضی لپاره زمانه راوباسم او دا جار مجرور متعلق دی موضوعة مقدر پورې او که ته وائي چې توصیف د ماضی په المنفی سره نه صحیح کیږي نو جواب دا دی چې دا اعتراض به ستا هله وراديدو چې دا المنفی د ماضی لپاره صفت بحاله وی لیکن دا صفت بحاله نه دی بلکه صفت بحال متعلقه دی غالبا قط واقع کیږي وروستو د ماضی منفی نه لپاره د استغراق د نفی او په طریقه د قلت او د ندرة سره کله کله راځي په کلام مثبة کې هم نحو اراهُ قط ای ابدا **وعوض للمستقبل المنفی** او بعض د ظروف مبنیونه عوض دی بفتح العین وضم الضاد (۲) او دویم لغت په دې کې راغلي دی عوض بفتح الضاد (۳) او دریم لغت پکې راغلي دی عوضِ بکسر الضاد او دا مستعملیږي لپاره د فعل مستقبل داسي مستقبل **المنفی** چې نفی کړي شوی دی وقوع د فعل په زمانه د استقبال کې (۲) یا لفظ د عوض وضع کړي شوی دی د زمانه مستقبل لپاره داسې زمانه چې نفی کړي شوې ده وقوع د فعل په دې زمانه کې لپاره د استغراق د نفی په جمیع ازمنه مستقبله وو کې مثال لکه لااری عوض.

ترجمه: نه وینم زه فلانی لره هیڅ کله په زمانه استقبال کې والسوال والجواب ههنا مثل مامر فی قط للماضی المنفی.

سوال: اصل په اسماؤ کې اعراب دی نو دا عوض مبني على الضمه ولې دی؟

جواب: دا عوض د ظروف مقطوعه عن الاضافت نه دی په شان د قبل او د بعد باندې بدليل اعرابه مع المضاف اليه نحو عوض العائضين اى دهر الداهرين.

والظروف المضافة الى الجملة واذ يجوز بناءها: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د هغه ظروفو نه چې واجب البناء وو نو شروع يې وکړه په بيان د هغه ظروفو کې چې جائز البناء دی.

ترجمه: والظروف ظروف داسې ظروف چې معرب وی چې مضاف کړې شي جملې فعليې ته بالذات نحو ﴿يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ﴾ ﴿يَوْمُ يَنْفَعُ الصَّادِقِينَ صِدْقُهُمْ﴾ **واذ** يا مضاف کړې شي کلمې د اذ ته چې هغه مضاف وی جملې ته نحو قوله تعالى ﴿وَمِنْ خِزْيِ يَوْمِئِذٍ﴾ **يجوز بناءها** جائز ده بناء. د دې ظروفو د وجې د اکتساب د دې ظروفو نه بناء لره د جملې مضاف اليه بالذات نه لکه په صورت اول کې يا بالواسطة نه لکه په صورت ثانی کې شو **على الفتحه** په فتحې باندې د وجې د خفت نه لهذا من خزى يومئذ لوستل هم جائز دی په فتح د ميم سره ځکه دا مبني على الفتحه دی او يومئذ مجرور لوستل هم جائز دی ځکه دا معرب دی.

سوال: ته وائې چې والظروف الخ دا قاعده ستا منقوضه شوه په اذ اذا او حيث سره چې دا مضاف دی جملې ته او بناء د دې جائز نده بلکه واجب ده او مبني على الفتحه نه دی بلکه اذ او اذا مبني على السکون دی او حيث مبني على الضمه دی؟ **جواب:** الظروف کې الف لام عهد خارجي دی او مراد د ظروف نه ظروف معربه دی نه ظروف مبنيه او اذ، اذا حيث ظروف مبنيه دی **وکذلک مثل وغير** او په شان د ظرف مذکور دی لفظ د مثل او لفظ د غير په حال کون د مثل او غير کې **مع ما وان وان** چې دا معی وی د ما ان ان سره په جواز د بناء على الفتحه کې.

تشريح: کذلک کې دا کاف اول د تشبيه لپاره دی او د ذلک مشار اليه ظروف مذکوره دی او اشاره شوې ده ظروف مضافه الى الجملةته په تاويل د مذکور سره جار سره د مجرور نه خبر مقدم او مثل غير مبتداء مؤخره ده او مع په اعتبار د متعلق سره حال واقع شوی دی.

سوال: مثل او غير د ظروف مذکورو په شان په څه کې دی؟ **جواب:** په جواز د بناء على الفتحه کې، مثال د مثل لکه قيامی مثل ما قام زيد قيامی مثل ان يقوم زيد قيامي مثل انک تقوم، او مثال د غير لکه قيامی غير ما قام زيد قيامی غير ان يقوم زيد قيامی غير انک تقوم، نو ټول مثالونه شپږ شو.

سوال: مثل او غير چې سر د ما ان ان مصدريه نه راشي نو بناء على الفتحه يکې ولې جائز ده؟

جواب: دا د دوه جهتين دی که ديته گورې چې صورتاً مضاف دی جملې ته نو بناء به دې دی جائز شي او که ديته گورو چې حرف مصدر داخل دی په جمله باندې او د جملې نه مفرد جوړه وی نو اضافت الى المفرد راغلی نو معرب دی.

زده کړه دا خبره چې د غير لپاره احوال ثلاثه دی (١) په يو حالت کې مبني على الضمه دی وجوباً (٢) دويم حالت کې مبني على الفتحه دی جوازاً (٣) او په دريم حالت کې معرب على حسب العوامل دی.

وجه د حصر: پکې دا ده چې دا لفظ د غیر به خالي نه وي یا به واقع شوی وي وروستو د لا او د لیس نه او یا به نه وي واقع شوی که واقع شوی وو نو مبني علی الضمه وجوباً نحو جـ ئني زید لا غیر ولیس غیر. او که نه وو واقع شوی نو بیا به خالي نه وي یا به مضاف وی جملی ته چې په هغې باندې ما ان ان مصدریه داخل شوی وی، او یا به مضاف وی غیر ته که مضاف وو غیر ته نو بیا معرب علی حسب العوامل دی نحو قوله تعالی ﴿غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ﴾. وقول الشاعر:

کفی بنا فضلا علی من غیرنا حب النبی محمد ایانا

او که مضاف وو هغه جملی ته چې په هغې ما ان داخل شوی وو نو مبني علی الضمه به وی جوازاً نحو قیامی مثل ما قام زید.

ترکیب: قیامی مضاف مضاف الیه مبتداء **مثل** مضاف ما مصدریه قام زید جمله فعلیه په تاویل د مصدر سره مضاف الیه لپاره د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه خبر د مبتداء چې قیامی دی مبتداء مع الخبر جمله خبریه اسمیه.

سوال: خبر د مبتداء خو مرفوع وی او مثل خو په قیامی مثل ما قام زید کې منصوب دی نو ته ورته څنګه خبر د مبتداء وائې؟ **جواب:** خبر د مبتداء مرفوع وی دا خبره مسلم عند النحات ده لیکن دا مرفوع عام دی که لفظاً وی نحو هذا زید یا تقدیرا وی نحو هذا فتی یا محلاً وی نحو زید هذا او دلته دا مثل مبني علی الفتحة دی او مرفوع محلاً دی.

المعرفة والنكرة

ربط. هر کله چې فارغ شو مصنف د تقسیم د اسم نحوی نه او لأنوعین ته په اعتبار د اعراب او د بناء سره چې معرب او مبني وو او بیان یې کړه احکام د دغه قسمین نو شروع یې وکړه په تقسیم اخر د دې اسم نحوی کې نوعین ته چې یو معرفه ده او بله نکره ده په اعتبار د وضع سره نو وی ویل المعرفة والنکرة او هر کله چې تعریف د معرفه وجودی وو او تعریف د نکره عدمی وو او وجودی اشرف وی د عدمی نه نو مقدمه یې کړه معرفه په نکره باندې اجمالاً او تفصیلاً.

ترجمه: دا ما سیاتی تر یو حده پورې بحث او بیان د معرفه او نکره دی.

تشریح: سوال: د دې ربط د ماقبل سره څه دی او غرض او مقصد د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط د ماقبل سره دا دی چې مخکې د دې کتاب په اول سر کې یې تقسیم د اسم کړې وو نوعین ته چې معرب او مبني دی اوس ثانیاً تقسیم د اسم کوی نوعین ته چې معرفه او نکره ده او په معرفت د ربط سره غرض د مصنف هم معلوم شو چې غرض د مصنف په دې عبارت کې تقسیم د اسم نحوی دی ثانیا معرفه او نکره ته.

سوال: په شئ واحد باندې تقسیمات کثیره جاری کیږي په اعتبار د جهات مختلفو سره نو د تقسیم اول او د ثانی لپاره جهت د تقسیم څه دی؟ **جواب:** اسم اولاً په اعتبار د اعراب او د بنا سره دوه قسمه دی (۱) معرب (۲) او مبني او دلته جهت د تقسیم وضع ده چې اسم په اعتبار د وضع سره دوه قسمه دی معرفه او نکره

وجه د حصر: دا اسم به خالي نه وي يا به موضوع وی لمعين او يا به موضوع وی لغير معين که اول وو نو معرفه او که ثاني وو نو نکره.

سوال: د اسم تقسيم يې وکړو اولا معرب او مبني ته او دا معرب او مبني عام دی په اسم کې هم راځي او په فعل کې هم راځي او ثانيا يې د اسم تقسيم وکړو معرفی او نکری ته نو ايا دا هم عام دی په شان د معرب او مبني؟

جواب: د تقسيم اول او ثاني په مينځ کې دا فرق دی چې اسم اولا دوه قسمه دی معرب او مبني او دا معرب او مبني عام دی په فعل کې هم راځي او په اسم کې هم راځي او اسم ثانيا دوه قسمه دی، معرفه او نکره او دا خاص دی په اسم پورې په فعل کې نه راځي، د دې وجی نه جامی صاحب ويلي دی چې من اقسام الاسم نو په دې فرق سره دوه اعتراضونه دفع شو.

سوال: ضرب معرفه ده او که نکره؟ **جواب:** دا نه معرفه ده او نه نکره ده ځکه معرفه او نکره اقسام د اسم دی نه د فعل.

سوال: من معرفه ده که نکره؟ **جواب:** دا نه معرفه ده او نه نکره ده ځکه معرفه او نکره اقسام د اسم دی او من حرف دی.

سوال: تا د اسم تقسيم کړی وو معرب او مبني ته او دا نکره او معرفه داخل دی په معرب کې يا په مبني کې نو بيا دا معرفه او نکره د څه لپاره ذکر کوی؟ **جواب:** معرفه او نکره اګر چې داخل دی په معرب او مبني کې ليکن د دې لپاره احکام مختصه دی ځکه يې ذکر کړی دی لپاره د بيان د احکام مختصه

سوال: اصل په اسماؤ کې تنکير دی او تعريف خلاف الاصل دی نو تا دا معرفه ولې مقدم کړه په نکره باندې؟ **جواب:** هر کله چې تعريف د معرفه وجودی وو او تعريف د نکره عدمی وو او وجودی اشرف وی د عدمی نه نو معرفه يې مقدم کړه په نکره باندې اجمالا او تفصيلاً.

سوال: المعرفة والنكرة څه ترکيب دی؟

جواب: دا په اعتبار د حذف د مضافين سره خبر د مبتدا محذوف دی فيكون التقدير هذا باب بيان المعرفة والنكرة مثل قوله تعالى ﴿ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ أَثَرِ الرَّسُولِ ﴾ ای من اثرحا فر فرس الرسول لکه څنګه چې دغه قول د الله تعالى په حذف د مضافين سره دی نو دارنګې دا عبارت د مصنف هم په حذف د مضافين سره دی، بيا مبتدا حذف شوه سره د مضافين د خبر نه لپاره د اختصار فی العنوان او مضاف اليه قائم شو په مقام د مضاف کې او د هغې اعراب يې واخستلو نو المعرفه والنكرة شو ځکه دا قاعده ده چې مضاف حذف شي او مضاف اليه قائم شي مقامه نو اعراب د هغې اخلی (۲) المعرفة والنكرة مرفوع دی بنابر ابتدئيت او خبر د دې حذف دی چې اذکرهما دی (۳) يا المعرفة والنكرة منصوب دی بنابر مفعول به د فعل محذوفه چې هغه ع دی ای اذا عرفت المعرب والمبني فع المعرفة والنكرة.

المعرفة: ربط: هر کله چې فارغ شو د بيان د نکرې او معرفې نه اجمالاً نو شروع يې وکړه په بيان د معرفه او نکره کې تفصيلاً نو وی ويل المعرفة ما وضع الخ. په معرفه کې لابدي دی د د معرفې امور خمسه ژنه (۱) مفهوم لغوی (۲) تعريف بالمفهوم (۳) تعريف بالعلامه (۴) مناسبت په مفهوم لغوی او اصطلاحی کې (۵) معرفت د اقسام. نو معرفه په لغت کې پيژندلو ته وائي او په اصطلاح د نحويانو کې **ما** اسم دی داسې اسم **وضع** چې وضع کړې شوی دی په وضع جزی يا په وضع کلی سره **لشئ** لپاره د يو شي داسې شي **بعينه** چې دا شئ متلبس وی په ذات خپل سره داسې ذات چې معين او معلوم وی مخاطب او متکلم ته **عين** په معنی د ذات سره دی او اضافت د عين ضمير ته چې راجع دی شئ ته اضافت عهد خارجي دی چې مراد د ذات الشئ نه ذات معلوم بين المتکلم والمخاطب دی او دا شئ عام دی چې فرد شخصی وی لکه زيد او که فرد نوعی وی لکه لکه اسد او که فرد جنسي وی لکه اسامة شو او که جماعة معينه وی لکه معرفه شوه په الف لام استغراقي سره لکه انسان شو په ان الانسان لفی خسر کې

تشريح: سوال: ما د الفاظ عامونه دی دا دلته عبارت د شئ نه دی که دلفظ يا اسم نه دی؟

جواب: دلته ما عبارت دی د اسم نه نه د شئ او د لفظ نه ځکه معتبر په تعريفات د اقسامو کې جنس قريب وی او جنس د معرفی او نکری لپاره اسم دی او لفظ او شئ اجناس بعيده دی او په تنکير د اسم کې يې اشاره وکړه ديته چې دا ما موصوفه دی ځکه واقع شوی دی په جانب د خبر کې او دا قاعده ده چې من او ما چې واقع شي په جانب د خبر کې نو موصوفيت اولی دی د موصوليت نه ځکه اصل په اسماؤ کې تنکير دی او وضع مشتق دی د وضع نه او وضع په لغت کې نهادن ته وائي او په اصطلاح کې تخصيص شئ بشئ بحيث متی اطلق او احس الشئ الاول فهم منه الثانی ته وائي، او دا وضع بيا په دوه قسمه ده (۱) وضع جزئي (۲) وضع کلی، وجه د حصر پکې دا ده چې دا وضع د لفظ د يو معنی لپاره دا به خالی نه وي يا به دا لفظ واضع وضع کړې وی د دې معنی لپاره بالذات او يا به يې وضع کړې وی بالواسطه که وضع کړې يې وو بالذات نو ديته وضع جزی وضع خاص او وضع بالذات وائي لکه وضع د زيد شود يو مسمی لپاره او که وضع د دې لفظ د يو معنی لپاره بالواسطه وه نو هغې ته وضع کلی وضع عام او وضع بالواسطه وائي لکه وضع د ضمائر اسماء موصوله او اسماء اشارات شود په نزد د متاخرين باندې چې دا يې وضع کړی دی د جزيات لپاره په واسطه د مفهوم کلی سره او موضوع له هم دوه قسمه دی (۱) موضوع له خاص (۲) موضوع له عام

وجه د حصر: ځکه دا معنی موضع له به خالي نه وي يا به امر واحد وی او يا به امر متعدد وی که امر واحد وو نو هغې ته موضوع له خاص وائي او که امر متعدد وو نو هغې ته موضوع له عام وائي د دې لپاره څلور مثالونه (۱) مثال د وضع جزی خاص او موضوع له خاص لکه زيد او مثال د وضع جزی خاص او موضوع له عام لکه انسان شو (۳) او مثال د وضع کلی عام موضوع له عام لکه هما هم شو (۴) او مثال د وضع عام موضوع له خاص لکه هوالذی شو. **لشئ بعينه** شئ موصوف او بعينه

کې باء د تلبس لپاره ده جار مجرور په اعتبار د متعلق محذوفه سره چې متلبس دی صفت لپاره د شئ دی او عین په معنی د ذات سره دی او اضافت عهد خارجي دی چې مراد د ذات د شئ نه هغه ذات دی چې متعین وی په تعین خارجي خپل سره

په هر تعریف کې لابدي وی د جنس او فصل نه ما وضع لشئ جنس دی په دې کې خپل پردی ټول داخل شو بعینه سره نکره خارج شوه نو تعریف د معرفې جامع مانع شو. او معرفې ته معرفه ځکه وائي چې معرفه په لغت کې پیژندو ته وائي او ما وضع لشئ بعینه هم پیژندلی شي نو معرفه اصطلاحي ملزوم او معرفه لغوی ورسره لازم ده او تعریف بالعلامه یې دا دی چې لایقبل آل مؤثر او لایقع موقع ما قد ذکرا .

وهي المضمرات الخ: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د تعریف د معرفې نه نو شروع یې وکړه په تقسیم د معرفې کې ځکه تقسیم د متممات او مکملات د تعریف نه دی ځکه په تعریف سره معلومیږي معنی او مفهوم د شئ او تقسیم سره معلومیږي افراد او مصداق د شئ نو د تقسیم نه بعد به معرفه موږه ته معلومه شي مفهوما او مصداقاً ،**وهي المضمرات الخ**.

ترجمه: دا معرفه مضمرات او اعلام الخ دی دا هی مبتدا ده المضمرات معطوف علیه سره د معطوفات نه خبر لپاره د مبتدا او عطف مقدم دی په ربط باندې او اعراب جاری شوی دی په هر واحد باندې د وجی د صلاحیت لفظی نه لپاره د دې چې لازم نه شي ترجیح بلا مرجح او دا مقام مقام د حصر دی لابدي ده د ادات د حصر نه او ادات د حصر عام دی که لفظا وی او که معناً وی (۱) تقدیم د عطف په ربط باندې دلالت کوی په حصر باندې معنی (۲) مبتدا او خبر چې دواړه معرفه وی نو دا دلالت کوي په حصر باندې او دلته هم دواړه معرفه دی دا مذهب د شارح جامی دی. او شارح هندي وائي چې هی مبتدا ده او خبر یې حذف دی چې سبعة اقسام دی او **المضمرات** الخ هر واحد خبر دی د مبتدا محذوفي لهذا نه عطف مقدم دی او نه ربط مقدم دی

سوال: دا ټول اقسام سواسی دی په قسمیت کې نو تا مضمرات ولې مقدم کړه په باقي اقسام د معرفه باندې؟ **جواب:** په دې ترتیب ذکری کې مصنف اشاره وکړه ترتیب د رتبې د انواع د معرفې ته چې مضمرات اول نمبر معرفه ده بیا اعلام دی بیا مبهمات دی الخ. او دا مذهب د سیبویه دی (۲) کوفیان اعرف المعارف اسماء اشارات دی لانه یعرف بالقلب والعین والباقي یعرف بالقلب فقط وما یعرف بالشیئین اعرف مما یعرف بشئ واحد (۳) بصریان وائي اعرف المعاف اعلام دی ځکه دا دلالت کوی په مسمی باندې بلا قید وشرط بخلاف باقي المعارف فافهم او عند المصنف هم مذهب د سیبویه غوره دی ځکه یې اقسام ذکر کړه په دغه ترتیب باندې. **المضمرات** اول قسم معرفه مضمرات دی ځکه مضمرات واضع وضع کړی دی د معانی معینه مشخصه لپاره په اعتبار د مفهوم کلی سره مثلا مفرد مذکر ماتقدم ذکره لفظا او معنی چې په چاباندې صادقیږي د هغې لپاره یې وضع کړی دی لفظ د هو **والاعلام** او دویم قسم اعلام دی او اعلام عام دی که اعلام شخصیه وی لکه

زید عمرو بکر او کہ اعلام نوعیہ وی لکہ اسود ارقم او کہ اعلام جنسیہ وی لکہ اسامہ ثعل ابوالحسین ام عریط شعالة ابوالحارث شو، او کہ اعلام غالبہ وی مثال لکہ ابن عباس ابن عمر ابن مسعود او رحمن شو، **والمبهمات** دریم قسم د معرفی نہ مبهمات دی چې هغه اسماء اشارات او موصولات دی دیته مبهمات ځکه وائي چې اسم اشاره بې د مشار الیه نہ مبهم ده او سره د مشار الیه نہ معرفه ده او موصول بدون الصله مبهم دی او سره د صلی نہ معرفه ده، **وما عرف باللام** څلورم قسم د معرفی نہ هغه اسم دی چې معرفه ګرځیدلي وی د وجی د دخول د لام تعریفی نہ چې هغه الف لام عهد خارجي یا جنسي یا استغراقي دی او په الف لام عهدی ذهنی کې اختلاف دی بعض وائي مدخول د دې معرفه کیږي، او بعض وائي چې نہ معرفه کیږي ځکه دا ذوجهتین دی په اعتبار د لفظ سره معرفه ده لحکه احکام د معرفه پرې جاري کیږي او په اعتبار د معنی سره نکره ده، او وما عرف باللام یې وویل نہ بالالف واللام ځکه په الف لام کې دري مذهبونه دی سیبویه وائي چې لام یواځې للتعریف دی، او مبرد وائي چې یواځې همزه للتعریف ده، او خلیل وائي چې مجموعه الف لام راځي للتعریف، او مختار عند المصنف مذهب د سیبویه دی ځکه عند المبرد لازمیږي حذف د عین علامه او عند الخلیل حذف د جزء د علامه لازمیږي او مذهب د سیبویه د دې نقصاناتو نہ پاک دی

سوال: ما دخله اللام یې ولې ونه ویل چې ما عرف باللام یې وویلو؟ **جواب:** ما عرف باللام یې وویل نہ ما دخله اللام دی لپاره چې داخل نہ شي په دې کې الف لام زائده ځکه د وجی د دخول د الف لام زائده نہ اسم نہ معرفه کیږي مثال لکه اللئیم شو په دې قول د شاعر کې شعر:

لقد امر علی اللئیم یسبنی فمضیت ثمه قلت لا یعنینی

دلته اللئیم نہ دی معرفه شوی په الف لام سره ځکه جمله صفت واقع شوی دی د اللئیم لپاره

سوال: وما عرف باللام او المیم یې ولې ونه ویل ځکه لکه څنګه چې لام راځي د تعریف لپاره دارنګې میم هم راځي کقول علیه السلام لیس من امبر امصیام فی امسفر؟

جواب: ماعرف باللام یې اوی نہ او المیم ځکه دا میم بدل راغلي دی د لام نہ لهذا دا داخل دی په الف لام کې او مستقل قسم د معرفی نہ دی **اوالنداء** شپږم قسم هغه اسم دی چې دا معرفه شوی دی د وجی د دخول د حرف ندا نہ مثال لکه یا رجلُ شو او تعریف د منادی قصدی دی نہ وضعی په دې شان سره که متکلم قصد د تعیین وکړي نو دا معرفه ده لکه یا رجل او که قصد د تعیین ونه کړي نو بیا نکره ده لکه یا رجلا خذ بیدې شو (۲) یا تعریف حاصل شوی دی الف لام سره او دا یا حرف ندا قائم مقام د الف لام دی په شان د میم باندې ځکه یا رجل اصل کې یا یها الرجل وو د هغې نہ یا رجل جوړ شوی دی، او هر کله چې تعریف د منادی راجع شو معرفه باللام ته نو د دې وجی نہ متقدمینو نحویانو نہ دی ذکر کړي منادی د اقسامو د معرفی نہ، **او المضاف الی احدهما معنی** اوم قسم معرفه هر هغه اسم نکره ده چې مضاف شي یو د دې امور خمسه مذکورو ته ما سواء د منادی نہ په اضافت معنوی سره نو هغه معرفه کیږي

سوال: والمضاف الى المعرف يې ولي ونه ويلو چې داخل شوی په دې کې مضاف الى المضاف الى المعرفه مثال لکه غلام ابيك شو؟

جواب: والمضاف الى المعرف يې ونه ويلو بلکه الى احدها يې وويلو ځکه مضاف الى احدها عام دی که بالذات وي لکه غلامك شو يا بالواسطه وی لکه غلام ابيك شو.

سوال: ته وائي چې والمضاف الى احدها او يو امر د دې امور خمسه مذکورو نه منادی هم ده او اضافت د اسم منادی ته نه کيږي ځکه لازميږي فصل بين المضاف والمضاف اليه په حرف نداء سره او دا نه دی جائز؟ **جواب:** نسبت د حکم چې وشي مجموعی ته نو دا لازمه نده چې دا حکم به ثابت وی هر واحد لره نحو قتل بنو فلان زيداً دا لازمه نده چې زيد دی تولو خامنو د فلانی وژلی وی يا جواب دا دی چې زه وايم چې اوم قسم معرفه هغه نکره ده چې مضاف وی يو د دې امور مذکورو ته په دې شرط سره چې دا صالح د مضاف اليه وی نو منادی خارج شو ځکه دا صالح د مضاف اليه نده او دا باقي صالح د مضاف اليه دی.

سوال: اضافت منادی ته ولي نه دی صحيح؟ **جواب:** بيا لازميږي فصل بين المضاف والمضاف اليه په حرف نداء سره او دا فصل بينهماندي جائز ماسواء د حرف زائد او تاکيد سره او حرف زائد او تاکيد سره جائز دی مثال د اول لکه فی بير لاحور سری وما شعر او ثانی لکه يا تيم تيم عدي.

سوال: ته وائي چې اسم نکره چې مضاف شي معرفی ته نو معرفه کيږي نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په مررت برجل حسن الوجه سره چې حسن اسم نکره ده مضاف دی الوجه معرفه باللام ته او دا نده معرفه شوی؟ **جواب:** سکاری ته ورشه چې مصنف والمضاف الى احدها فقط نه دی ويلي بلکه والمضاف الى احدها معناً يې ويلي دی يعنی هر هغه اسم چې مضاف شي معرفی ته په اضافت معنوی سره نو هغه معرفه کيږي او مررت برجل حسن الوجه کې حسن مضاف شوی دی معرفی ته په اضافت لفظی سره او دا اضافت لفظی مفيد د تعريف نه دی د دې وجی نه مررت برجل حسن الوجه جائز دی د وجی د مطابقت نه بين الموصوف والصفة او مررت بزيد حسن الوجه نه دی جائز د وجی د عدم مطابقت نه بين الموصوف والصفة.

سوال: ته وائي چې هر هغه اسم نکره چې مضاف شي معرفی ته په اضافت معنوی سره نو معرفه کيږي دا قاعده ستا منقوضه شوه بقوله تعالى ﴿إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ﴾ وبقول الشاعر:

كفى بنا فضلاً على من غيرنا حب النبی محمد ايانا

هر چې دی په دې ايت کې نو مثل مضاف شوی دی کم ته او نه دی معرفه شوی ځکه دا صفت واقع شوی دی د نکری لپاره او على من غيرنا کې غير مضاف دی معرفی ته چې نا دی او نه دی معرفه شوی ځکه دا صفت واقع شوی دی د نکری لپاره چې من موصوفه دی؟

جواب: د دې قاعدې کلي نه يو څو اسماء مستثنی دی په دې شان سره چې هر هغه اسم نکره چې مضاف شي معرفی ته په اضافت معنوی سره دا معرفه کيږي ماسواء د مثل شبه نحو غير شان سرا نه دا اسماء د وجی د کمال توغل نه په ابهام کې نه معرفه کيږي په اضافت سره معرفی ته

سوال: دا خبره ستا منقوضه شوه په دې قول د الله تعالی سره غير المغضوب عليهم ولا الضالين، وبقول الشاعر: نحن بنو الهجان الازهر النسب المعروف غير المنکر

وبقولك عليك بالحرکة غير السکون؟ **جواب:** هر هغه اسم نکره چې مضاف شي معرفی ته په اضافت معنوی سره دا معرفه کيږي سوا د دغه اسماء مذکوره ؤ نه په دې شرط سره که د مضاف اليه لپاره ضد واحد نه وو او په دې شرط سره چې واقع بين الضدين نه وو او که مضاف اليه لپاره ضد واحد وو يا واقع بين الضدين وو نو بيا معرفه کيږي په اضافت معنوی سره معرفی ته لکه په امثله مذکورو کې شو

سوال: معنا په ترکيب کې څه واقع شوې ده؟ **جواب:** دا منصوب دی بنابر مفعول مطلق

سوال: د چا لپاره مفعول مطلق واقع شوی دی؟ **جواب:** د المضاف لپاره

سوال: مفعول مطلق خو مصدر دفعل مذکور ته وائي او معنا مصدر د مضاف ندی، نو ته ورته څنګه مفعول مطلق وائي د مضاف لپاره؟ **جواب:** دا مفعول مطلق واقع شوی دی په اعتبار د حذف د مضاف سره ای والمضاف الی احدها اضافة معنی . بيا مضاف حذف شو او دا قائم شوی دی د هغې په مقام باندې اودا مفعول مطلق دی مجازاً بيا په تعريف د مضاف کې دوه مذهبونه دی (١) بعض وائي چې تعريف د مضاف مساوی دی د مضاف اليه سره (٢) او بعض وائي چې تعريف د مضاف کم دی د تعريف د مضاف اليه يعنی مضاف اليه په تعريف کې زيات دی د مضاف نه ځکه تعريف د مضاف کسبی دی او تعريف د مضاف اليه لذاته دی، ثمره د خلاف ظاهريږي په مررت بزيد صاحبك کې په دې شان سره چې والموصوف اخص او مساو يو مسئله ده د نحويانو چې موصوف به په تعريف کې زيات وی د صفت نه يا مساوی او دا نه شي کيدی چې موصوف به کم وی په تعريف کې او صفت به زيات وی اوس څوك چې په مضاف کې تعريف مساوی وائي د مضاف اليه سره د هغوی په نزد باندې د اموصوف صفت نه دی ځکه تعريف په صاحبك کې زيات دی د زيد نه بلکه دا بدل مبدل منه يا مبين او عطف بيان دی او څوك چې وائي چې په مضاف کې تعريف کم وی د مضاف اليه نه د هغوی په نيز باندې دا موصوف صفت دی ځکه په زيد کې تعريف زيات دی او صاحب کې کم دی

العلم: ربط: هر کله چې علم ظاهر بنفسه نه وو او نه معرف وو په مقام اخر کې په خلاف د باقي انواع د معرفی نه چې ځينې ظاهر بنفسه وو او بعض معرف وو په مقام اخر کې پس تعريف وکړو مصنف فقط د علم نه د باقي انواع نو وې ويل العلم **علم** په لغت کې علامی ته وائي او په اصطلاح د نحويانو کې **العلم** جنس علم **ما** اسم دی داسې اسم **وضع** چې وضع کړې شوی دی په وضع شخصی سره وی که جنسی سره وی وضع اولی سره وی که ثانويه سره وی **لشئ** لپاره د يم مسمی او مدلول

داسې مسمی چې متلبس دی **بعينه** په تعين خارجي خپل سره په دې شان سره چې دا به **معلوم** وی متکلم او مخاطب دواړو ته **غير متناول غيره** په حال کون د دې اسم موضوع لشئ بعينه کې چې د دې اطلاق نه کيږي په غير د مسمی خپل نه په بل شئ باندې **بوضع واحد** په تناول سره هسی تناول چې کائن دی په وضع واحدی سره دا قيد يې ذکر کړي دی جامعه مدخله لپاره د دې چې خارج نه شي اعلام مشترکه د تعريف د علم نه او غير متناول غيره سره خارج شو د تعريف د علم نه باقي انواع د معرفی نو تعريف د علم جامع او مانع شو.

تشريح: سوال: معرفه اوه قسمه ده او مصنف صرف د علم تعريف وکړو د دې نورو اقسامو تعريف يې ولي ونه کړو؟ **جواب:** هر کله چې علم نه ظاهر بنفسه وو او نه معرف وو په مقام اخر کې په خلاف د باقي انواع د معرفی نه چې بعض ظاهر بنفسه وو لکه مضاف الی احدها او معرفه باللام او څنی معرف وو په مقام اخر کې لکه مضمرات مبهمات او معرفه بالنداء، پس خاص کړو مصنف علم لره په تعريف سره نو څکه يې د دې تعريف کړی دی او د نورو اقسامو تعريف يې نه دی کړي، او په علم کې لابدي ده د معرفت د امور ثلاثه ؤ نه (۱) مفهوم لغوی (۲) مفهوم اصطلاحی (۳) معرفت د اقسام. نو علم په لغت کې علامې ته د شئ ته وائي او په اصطلاح کې (۱) اسم يعين المسمی مطلقا (ابن مالك) (۲) ما وضع لشئ بعينه غير متناول غيره بوضع واحد كذا فی المتن.

سوال: تعريف د علم جامع نه شو افرادو خپلو لره خارج شو د دې نه علم غالبه لکه رحمن، او ابن عباس څکه ته وائي چې علم هغه اسم ته وائي چې وضع لشئ بعينه، او علم غالبه وضع لشئ بعينه نه دی بلکه وضع کړي شوی دی د مفهوم کلی لپاره او مستعمل يې مستعمله وی په يو فرد کې؟

جواب: وضع عامه ده که وضع اولی وی او که وضع ثانوی وی او استعمال د مستعمل په يو فرد کې په منزله د وضع ثانيا دی.

سوال: تعريف د علم جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو د دې نه علم نوع او علم جنس ورته څکه وائي چې علم ما وضع لشئ بعينه ته وائي او هغه د يو شئ معين لپاره نه دی وضع شوی؟

جواب: دا شئ عام دی که فرد شخصي وی لکه زيد شو يا فرد نوعی وی لکه اسود او ارقم شو يا فرد جنسي وی لکه اسامه شو **غير متنا اول** منصوب دی بنابر حاليت حال واقع شوی دی د ضمير د وضع نه او غير متناول مجرور نه دی بنا په دې چې صفت شي د شئ لپاره (۱) څکه تناول صفت د لفظ دی نه د معنی او شئ عبارت دی د معنی نه توصيف د دې په تناول سره نه دی صحيح (۲) که دا غير متناول صفت شي لپاره د شئ نو تعريف د علم نه جامع کيږي خپلو افرادو لره د دې نه علم جنس خارجيږي او علم نوع هم خارجيږي څکه هغه متناول دی کثير لره.

سوال: بوضع واحد جار مجرور دی د دې لپاره لابدي ده د اعراب محلي نه د دې اعراب محلي څه دی؟

جواب: جار مجرور منصوب محلا دی بنابر مفعول مطلق د متناول لپاره.

سوال: مفعول مطلق خو مصدر د فعل مذكور ته وائي او وضع مصدر د متناول نه دی نو څنګه ورته منصوب بنابر مفعول مطلق وائي؟

جواب: دا مفعول مطلق دی په اعتبار د موصوف محذوفه سره چي تناولا دی

سوال: جار مجرور چي په ترکيب کې څه واقع کيږي نو په اعتبار د متعلق سره واقع کيږي نو دا به يا نه متعلق کوی په متناول پوري يا به تناولا پوري که په متناول پوري شي نو تقديم د صفت راغی په موصوف باندې او دا نه دی جائز او که متعلق کوی يې په تناولا پوري نو توصيف د شي بنفسه راغی او دا نه دی جائز؟ **جواب:** دا په يو پوري هم نه دی متعلق بلکه دا متعلق دی په کائنا مقدر پوري بيا کائنا سره د متعلق نه صفت د تناولا دی بيا موصوف حذف شو صفت قائم شو مقامه بيا د کائن متعلق هم حذف شو او جار مجرور قائم شو مقامه نو ديته مونږه مفعول مطلق وايو نيابة او مجازاً

سوال: بوضع واحد قيد يې د څه ليپاره ذکر کړي دی؟ **جواب:** دا يې ذکر کړي دی د دې لپاره چي خارج نه شي د تعريف د علم نه اعلام مشترکه ځکه هغه متناول دی غير لره په اوضاع متعدد و سره نه په وضع واحد سره او علم هغه ته وائي چي غير متناول وی غير لره په وضع واحد سره او اعلام مشترکه هم متناول غير لره نه دی په وضع واحد سره

علم اولاً په دري قسمه دی (۱) علم محضه (۲) لقب (۳) کنيه، وجه د حصر يکې دا ده چي دا اسم به خالي نه وي يا به متصدر وی په لفظ د اب ام بنت سره او يا به نه وي که مصدر وو نو کنيه لکه ابو القاسم ابن عباس ام کلثوم ابوبکر وغيره او که مصدر نه وو نو بيا به خالي نه وي يا به دلالت کوی په مدح او ذم باندې په اعتبار د اصل وضع سره او يا به نه کوی که کوو يې نو لقب لکه زين العابدين أنف الناقة وغيره او که نه يې کوو نو علم محضه لکه زيد عمرو بکرو وغيره.

او علم ثانيا په دوه قسم دی (۱) منقول (۲) مرتجل

وجه د حصر: يکې دا ده چي دا علم به خالي نه وي يا به د دې معنى علمی نه مخکې بله معنى کې مستعمل شوی وی او يا به نه وي که نو وو نو علم مرتجل لکه زيد عمرو بکر سعاد شو او که مستعمل شوی وو نو علم منقول ورته وائي او علم منقول په اعتبار د منقول عنه سره لس (۱۰) قسمه دی (۱) منقول من اسم الجنس نحو اسد (۲) من المصدر نحو فضل (۳) من اسم الفاعل نحو حارث شاکر (۴) من اسم المفعول نحو مسعود (۵) من الماضی نحو شمر (۶) من المضارع نحو يزيد (۷) من صفة المشبة .... (۸) من اسم التفضيل نحو افضل و اشرف (۹) من المرکب الناقص نحو عبدالله (۱۰) من الجمله نحو تأبط شرا

او علم ثالثا دري قسمه دی (۱) مفرد (۲) مرکب ناقص (۳) جمله

وجه د حصر: يکې دا ده چي دا علم به خالي نه وي يا به جز د لفظ دلالت کوی په جز د معنى موضوع له باندې په اعتبار د اصل وضع سره او يا به يې نه کوي که نه يې کوو نو علم مفرد لکه زيد عمرو بکر او که کوو يې نو بيا به خالي نه وي يا به مفيد د فائد تامه وی سامع ته او يا به نه وي که مفيد د فائد تامه وو نو جمله او که نه وو نو مرکب ناقص او مرکب ناقص دري قسم دی (۱) اضافی نحو عبدالله (۲) صوتی نحو سيبويه (۳) منع صرف نحو بعلبك

او علم رابعاً په خلو قسمه دی (۱) علم شخص (۲) علم نوع (۳) علم جنس (۴) علم غالبه
وجه د حصر: پکښې دا ده چې دا علم به خالي نه وي یا به وضع شوی وی د یو شي معین لپاره او یا به وضع شوی وی د مفهوم کلي لپاره که وضع شوی وو د شئ معین لپاره نو دا شئ معین به خالي نه وي یا به فرد شخصی وی یا فرد نوعی وی او یا به فرد جنسي وی، که فرد شخصی وو نو علم شخص لکه زید شو، او که فرد نوعی وو نو علم نوع لکه اسود شو، او که فرد جنسي وو نو علم جنس لکه اسامهٔ، او که د مفهوم کلي لپاره وضع شوی وو نو بیا به خالي نه وي یا به یې مستعمل مستعمله وی په یو فرد کې او یا به یې نه مستعمل کوی، که مستعمل کوو یې نو علم غالبه لکه رحمن ابن عباس وغیره شو، او که مستعمل په یو فرد کې نه مستعمل کوو نو هغه ته اسم جنس وائي لکه رجل شو.
سوال: د اسم جنس او علم جنس په مینځ کې څه فرق دی لفظاً او معناً؟ جواب: فرق معنوی دا دی چې په علم جنسي کې لحاظ د تعیین ثانوی شته او په اسم جنس کې نشته، او فرق لفظی دا دی چې په علم جنس باندې احکام د علم شخص جاري کیږي او په اسم جنس نه جاری کیږي (۱) چې تأخر د حال دی د هغې نه (۲) منع د دخول د الف لام (۳) منع د اضافت (۴) منع د وقوع د نکره صفت لپاره د دې (۵) منع د کلمه د صرف نه د علم جنس د وجی نه د دې وجی نه اسد منصرف دی او اسامه غیر منصرف دی ځکه چې دوه سببه دی پکې (۱) علم جنس (۲) تانیث لفظی
واعرفها المضمر المتکلم ثم المخاطب: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان دتعریف دعلم نه نو شروع یې وکړه په بیان د مراتب د تعریف د نوع اول د معرفه کې چې مضمرات دی نو وی ویل چې واعرفها الخ او هر کله چې یو شان وو مراتب د تعریف د اصنافو دباقي انواعو د معرفی په خلاف د مضاف الی احدها نه پس مختص یې وګرځوو بیان د مراتب د تعریف په اصنافو د مضمراتو پورې ځکه په مابین د اصنافو د باقي اقسامو د معرفه کې تفاوت نشته سوا د مضاف الی احدها نه او په دې کې مراتب پیژندي شي په اعتبار د مضاف الیه سره.
ترجمه: واعرفها اعرف د معارفو نه یعنی اقل د معارفو نه لبساً عند المخاطب **المضمر المتکلم** ضمیر د متکلم دی د وجی د بعد د وقوع د التباس نه په دې ضمیر د متکلم کې **ثم المخاطب** بیا مضمر مخاطب دی ځکه کله کله عارض کیږي د ضمیر د مخاطب ته هغه شي چې نه عارض کیږي ضمیر د متکلم ته په دې شان سره چې ته ووائي انا نو التباس د غیر سره نشته، او که انت ووائي نو احتمال د التباس شته د اخر سره چې دا خطاب د دې یو سره دی نه د بل سره او بیا مضمر غائب دی او دا یې ذکر نه کړو ځکه معرفت د اعرفیت د متکلم او مخاطب سره مستلزم دی معرفت د اعرفیت د غائب، لهذا ذکر د هغه ته ضرورت نشته.
تشریح: سوال: د دې ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟ **جواب:** ربط دا دی چې مخکې یې بیان د ترتیب وکړو په اقسامو د معرفه کې اوس بیان د ترتیب د تعریف د اصنافو د نوع اوله د معرفی کوی چې ضمیر دی او په معرفت د ربط سره غرض د مصنف هم واضح شو

سوال: بيان د مراتب د تعريف د اصنافو د باقي انواع د معرفه يې ولي ونه كړو؟ **جواب:** په مراتب د تعريف د باقي اصنافو د انواعو د معرفه كې تفاوت نشته سوا د مضاف الى احدها نه نو ځكه يې نه دى بيان كړي، او مراتب د تعريف د اصنافو د مضاف الى احدها معلوميږي د مضاف اليه نه په دې شان سره كه مضاف اليه ضمير وو نو دا اول نمبر معرفه ده كه مضاف اليه علم وو نو دويم نمبر الخ

سوال: ته وائې چې ضمير د متكلم اعرف دى نو مطلب يې داشو چې په دې كې به التباس نه راځي حالانكه په دې كې خو التباس راځي لكه چې انا وويلي شي من وراء الجدار؟ **جواب:** اعرف په معنى د اقلها لبساً سره دى نه په معنى د عدم الالتباس سره ځكه ضمير د متكلم اقل دى د جهت د التباس نه په نسبت سره ضمير د مخاطب نه په دې شان سره چې زه انا اوايم نو التباس د غير سره نشته او چې انت اوايم نو احتمال شته چې دغه مخاطب نه وي مراد بلكه بل مراد وى

سوال: ضمير د متكلم او مخاطب مرتبه بيان شوه نو ضمير د غائب يې ولي ذكر نه كړو؟

جواب: هر كله چې معرفت د اعرفيت د ضمير د متكلم او مخاطب مستلزم وو معرفت د اعرفيت د مضمر غائب لره نو هغه يې ترك كړو اختصاراً

النكرة ماوضع لشئ لا بعينه: ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف دبيان د معرفى نه نو شروع يې وكړه په بيان د نكره كې، نو نكره په لغت كې ناشنا ته وائي او په اصطلاح د نحويانو كې يو اسم دى داسې اسم چې وضع كړي شوى دى د يو مسمى لپاره داسې مسمى او مدلول چې متلبس نه دى په تعين خارجي خپل سره په دې شان سره چې د دغه مسمى او مدلول مصداق معلوم نه دى متكلم او مخاطب ته لكه رجل شو. دا خو تعريف بالمفهوم د نكره شو او تعريف بالعلامه يې دا دى

نكرة قابل آل مؤثرا لو واقع موقع ما قد ذكرا

او اقسام د نكره يې ذكر نه كړه ځكه چې غير محصور او غير منضبط دى ځكه ماسواء د اقسامو د معرفى نه ټول اسماء د قبيلې د نكرى نه دى

اسماء العدد ما وضع لكمية احاد الاشياء: ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د تقسيم د اسم نه ثانيا په اعتبار د وضع سره نوعين ته چې معرفه او نكره وو پس شروع يې وكړه په تقسيم اخر د اسم كې ثالثا په اعتبار د دلالت د اسم سره په كمية باندې او په اعتبار د عدم دلالت على الكميت سره، او هر كله چې اسماء عدد لپاره احكام مختصه وو په دې شان سره چې جار كيږي په اسماء عدد كې نه په نورو اسماؤ كې نو ذكر يې كړو عدد لپاره د بيان د احكامو مختصو نو وى ويل اسماء العدد

ترجمه: اسماء عدد په اصطلاح د نحويانو كې **ما** الفاظ دى او افراد د ضمير د وضع په اعتبار د لفظ د ما سره دى (۲) يا جنس اسم عدد په اصطلاح د نحويانو كې جنس لفظ دى او د كلمه د ما نه موئره تعبير وكړو په لفظ سره نه په اسم سره لپاره د دې چې دا تعريف د اسم عدد شامل شي ټولو اسماء عدد لره خوا كه هغه احاد وى او كه مركبات بنائيه وى او كه مركبات عطفيه وى. او په احادو او مركبات بنائيه و باندې اطلاق د اسم كيږي حقيقة ځكه جوز دلفظ دلالت نه كوى په جز د

معنى باندې او په مرکبات بنائيه ؤ باندې اطلاق د اسم کيږي حکماً ځکه اصول د مرکبات عطفيو اسماء دی او په عنوان کې يې اسماء عدد ويلي دی تغليباً **وضع** داسې لفظ چې وضع کړي شوی دی **لکمية احاد الاشياء** لپاره د معلومه ولو د مقدار د افرادو د معدوداتو په دې شان سره چې دغه کمية کل معنى موضوع له د دې اسم عدد ده او افراد عام دی که انفراداً وی لکه واحد او ثنان يا اجتماعاً وی لکه ثلاثة او اربعة شو.

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط د ماقبل سره دا دی چې دا مخکې هم تقسيم د اسم وو نوعين نه (۱) معرفه (۲) نکره، او دا هم تقسيم د اسم دی نوعين ته (۱) اسماء عدد (۲) اسماء غير عدد، ليکن دومره فرق دی چې دغه تقسيم ثانی د اسم نوعين په اعتبار د وضع سره وو او دا تقسيم ثالث د اسم نوعين نه په اعتبار د دلالت على الکميت او عدم دلالت على الکميت سره دی او غرض د مصنف تقسيم احر دی په اسم نحوی کې نوعين ته چې يو اسم عدد دی او بل اسم غير عدد دی په دې شان سره چې دا اسم به خالي نه وي يا به دلالت کوی په کميت د احادو باندې او يا به يې نه کوي. که دلالت يې کوو نو اسم عدد، او که دلالت يې نکوو نو اسم غير عدد.

سوال: مخکې تا تقسيم د اسم کړي وو نوعين ته چې معرب او مبني وو نو دا اسماء عدد به خالي نه وي يا به معرف وی او يا به مبني وی، که معرب وی نو داخل دی په معرب کې، او که مبني وی نو داخل دی په مبني کې نو بيا يې ولي ذکر کوی؟ **جواب:** هر کله چې وو د دې لپاره احکام مختصه په دې شان سره چې هغه احکام مختص وو په دې پورې او مجاوز نه دی غيز ته نو ذکر يې کړو لپاره د بيان د احکام مختصه ؤ چې هغه درې دی (۱) استعمال خلاف القياس يعنى تميز د عدد چې مذکر راشي نو عدد مؤنث کولي شي وبالعکس (۲) جوړول د اسم فاعل د مادی جامدی نه لکه رابع خامس حادی عشر وغير شو (۳) اضافت د مرکب الى المرکب.

سوال: په نورو ځايونو کې تا **ما** عبارت د اسم نه اغستو نو دلته عبارت دلفظ نه ولي اخلي؟

جواب: کلمه د ما په دې مقام کې عبارت دی د لفظ نه، نه ده اسم نه لپاره د دې چې دا تعريف د اسم عدد شامل وګرځي ټولو اسماء عدد لره ځوا که هغه احاد دی که مرکبات بنائيه دی او که مرکبات عطفيه دی او که دا عبارت شي د اسم نه نو مرکبات عطفيه ترې خارجيږي او د اسم اطلاق کيږي په مرکبات بنائيه ؤ باندې حقيقة ځکه جز د لفظ دلالت نه کوي په جز د معنى موضوع له باندې، او په مرکبات عطفيه باندې دلالت حقيقة نه کيږي ځکه جز د لفظ د دې دلالت کوی په جز د معنى باندې

سوال: هر کله چې اطلاق د اسم په مرکبات عطفيه باندې نه کيږي نو په عنوان کې يې اسماؤ العدد ولي ذکر کړي دی؟ **جواب:** په عنوان کې يې اسماء ذکر کړی دی تغليباً (۲) يا عنوان کې يې اسماء العدد ذکر کړي دی ځکه اصول د اسماء العدد اسماء دی (۳) يا اطلاق د اسم په مرکبات عطفيه باندې حقيقة نه دی جائز خو مجازاً وربانديې کولي شي ځکه اصول د هغې اسماء دی.

سوال: دا کلمه د ما به خالي نه وي یا به یې عبارت وائي د لفظ نه او یا به بې عبارت وائي د الفاظو نه دواړه نه دی صحیح، که عبارت یې وائي د لفظ نه نو مابعد ورسره ولګیدو چې وضع دی نو ماقبل ورسره نه لګي چې اسماء العدد دی ځکه چې حمل د مفرد راځي په جمع باندې وذا لایجوز او که عبارت یې وائي د الفاظو نه نو د ماقبل سره لګي خو د مابعد سره نه لګي ځکه وضع کړی ضمیر د مفرد دی نو دا مطابقت نه راځي بین المرجع والضمیر؟

جواب: (۱) دا ما عبارت وایم د الفاظو نه او که ته وائي چې مابعد ورسره نه لګي نو جواب دا دی چې افراد د ضمیر د وضع په اعتبار د لفظ د ما سره دی لیکن دا جواب کمزوري دی (۲) اصلي جواب دا دی چې ما عبارت دی د لفظ نه او که ته وائي چې ماقبل ورسره نه لګي نو جواب دا دی چې اضافت د اسماء عدد ته اضافت جنس دی نو معنی دا ده جنس اسم عدد عند النحات جنس لفظ دی نو حمل د جنس په جنس باندې راغي اوس دا دویم جواب غوره دی اول نه ځکه چې تعریف کیږي د جنس په جنس سره او په دې اول جواب کې تعریف د افرادو راځي په افرادو باندې او په دویم کې تعریف د جنس راځي په جنس سره په هر تعریف کې لابدي وی د جنس او فصل نه نو ما وضع جنس دی په دې کې خپل او پردی ټول داخل شو **لکمیة** فصل اول دی په دې سره یې احتراز وکړو د هغه اسماؤ نه چې هغه وضع کړي شوی دی د غیر کمیت لپاره بیا برابره خبره ده که دلالت په عدد د معین باندې کوی لکه زید عمرو بکر یا نه کوي لکه صیغ د جمع او لفظ د عدد شو او اضافت د کمیت چې احاد ته وشو دا فصل ثاني دی په دې سره یې احتراز وکړو (۱) د هغه شي نه چې هغه وضع شوی دی د کمیت د اجزاؤ لپاره لکه نصف ربع ثلث وغیر (۲) او دارنګې احتراز یې وکړو د خط سطح او جسم تعلیمی نه ځکه دا اګر چې وضع شوی دی د کمیت لپاره خو د کمیت د افرادو لپاره نه راځي خط ما له طول ته وائي او سطح ما له طول و عرض او جسم تعلیمی ما له طول وعرض وعمق ته وائي (۳) دارنګې یې احتراز وکړو د هغه الفاظو نه چې هغه وضع شوی دی د کیمت د مسافت لپاره لکه میل او فرسخ شو.

او اضافت د احاد چې یې اشیاؤ ته وکړو نو دا فصل ثالث دی په دې سره احتراز وکړو د بضع او نفر نه ځکه دا وضع شوی دی د کمیت د افرادو لپاره في نفسها بې د نسبت نه غیر ته (۲) او بل یې احتراز وکړو د کل بعض اشئ اولا واحد نه ځکه دغه الفاظ وضع شوی دی لپاره د کیمت د افرادو د موضوع د قضیه نه لپاره د کمیت د افرادو د معدودات، او دلته دا کمیت عبارت دی د مقدار نه او احاد عبارت دی د افرادو نه او اشیاء عبارت دی دمعدودات نه.

سوال: تعریف د اسماء عدد جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو د دې نه واحد اثنان ځکه ته وائي چې اسم عدد ما وضع لکمیت احاد الاشیاء نه وائي او واحد او اثنان دلالت نه کوی په کمیت د افرادو معدودات بلکه واحد دلالت کوی په یو باندې او اثنان دلالت کوي په دوه باندې؟

جواب: دا په تعمیم د افرادو سره دی یعنی دا افراد عام دی چې انفراداً وی او که اجتماعاً وی نو داخل شو پکې واحد او اثنان ځکه دا اګر چې دلالت نه کوی په کیمت د افرادو معدودات اجتماعاً

ليکن دلالت کوی په کميت د افرادو د معدوداتو انفراداً په دفعات کثيرو سره لکه، يو کس تاته ووائي چې کم دينارا، درهما غلاماً عندك او ته ورته ووائي چې واحد واحد واحد.

سوال: تعريف د اسم عدد مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو يکې رجل او رجلان ځکه دا اسم دي او دلالت کوی په مقدار د افرادو معدد باندې لکه واحد دلالت په يو باندې کوی نو رجل هم دلالت په يو باندې کوی دارنګې رجلان دی، او حال دا دی چې دا اسم عدد نه دی؟

جواب: دا دی چې دا قاعده ده چې لام چې صله د وضع راشي نو مدخول دلام کل معنی موضوع له وي نو د اسم عدد ټولو معنی موضوع له دلالت په کيمت د احادو د اشياؤ دی فقط او رجل او رجلان دلالت په کيمت د احادو د اشياؤ نه کوی فقط بلکه دلالت ورسره په جنس هم کوی او اسم عدد دلالت په عدد کوی او په جنس يې نه کوی نو تعريف د اسماء عدد جامع مانع شو.

يا عدد په اصطلاح د اهل حسابو کې ديته وائي چې واقع کيږي نصف د مجموعه د حاشيتين مثال لکه اثنان عدد دی ځکه دا نصف د مجموعه د حاشيتين دی په دې شان سره چې د اثنان دوه حاشي دی يو حاشيه دونی چې واحد دی او دويم حاشيه فوقی چې ثلاثة دی دا چې جمع شي اربعة ترې جوړيږي او اثنان د اربعة نصف دی، دارنګې ثلاثة اربعة هم دی، او په اصطلاح د نحويانو کې ما وضع لکمية احاد الاشياء ته وائي، اوس د دې نه معلومه شوه چې په اسم عدد د نحويانو او اسم عدد د اهل حساب کې نسبت د عموم خصوص مطلق دی اسم عدد د اهل حساب اخص مطلق دی او اسم عدد د نحويا اعم مطلق دی په دې شان سره چې کوم شئ چې عدد وو اهل حساب په اصطلاح کې هغه عدد عند النحات دی او دا لازمه نده چې کوم شئ عدد وی عند النحات نو هغه به عدد عند اهل الحساب وی مثال د ماده افتراقی د عدد د جانب د نحويانو نه لکه واحد شو، دا عدد دی عند النحات ځکه عدد عند النحات ما وضع لکميت احاد الاشياء ته وائي او دا هم د کميت د احاد د اشياء لپاره وضع شوی دی (۲) يا عدد عند النحات ما يقع فی جواب کم ته وائي او دا هم په جواب کې واقع کيږي يا مايقع فی العدته وائي او دا واحد هم په شمير کې واقع کيږي او دا واحد عدد نه دی عند اهل الحساب ځکه د دوی تعريف ورباندې نه صادقيږي ځکه د دې لپاره حاشيه فوقی شته خو حاشيه دونی ورله نشته، وعند البعض اثنان هم عدد نهٔ دی ځکه دا مجاور د واحد دی اگر که تعريف د عدد په دی باندې صادقيږي ليکن مجاورة د واحد د وجه نه ورته عدد نه وائي لهذا (۱) واحد عدد نه دی عند اهل الحساب بالاتفاق (۲) ثلاثة وما بعده عدد دی بالاتفاق (۳) اثنان عند الجمهور عدد دی وعند البعض عدد نه دی.

اصولها اثنتا عشرة کلمة: ربط: (۱) هر کله چې فارغ شو مصنف د تعريف د اسماء عدد نه نو شروع يې وکړه په تقسيم د اسماء عدد کې چې اسماء عدد دوه قسمه دی (۱) اصول (۲) فروع، (۲) يا هر کله چې فارغ شو تعريف د اسماء عدد نه نو شروع يې وکړه په بيان د مصداق د اسماء عدد کې (۳) يا دا جمله مستانفه ده واقع شوې ده په جواب د سوال دسائل کې ځکه کا[illegible] مصنف تعريف د اسماء عدد وکړو

چې ما وضع الخ نو معترض اعتراض وکړو چې ما هی یعنی هغه الفاظ کوم دی چې دلالت کوي په کمیت د افرادو د معدوداتو باندې نو مصنف جواب وکړو چې اصولها اثنتاعشرة کلمه سره.

ترکیب: **اصولها** مبتدا **اثنتاعشرة** عدد مبهم ممیز **کلمة** ورله تمیز، ممیز سره د تمیز نه خبر د مبتدا **واحد** (۱) خبر دی د مبتدا محذوفی لپاره ای احدها واحد (۲) یا دا واحد بدل بعض واقع شوی دی د اثنتاعشرة کلمة لپاره، **ومائة والف** عطف دی په واحد باندې او اشتمال د بدل بعض په ضمیر د مبدل منه باندې قاعده کلیه نده بلکه قاعده اکثریه ده (۲) او که اومنم چې قاعده کلیه ده نو اشتمال د بدل بعض ضمیر د مبدل منه لره عام دی که لفظا وی او که تقدیراً وی دلته اګر چې لفظ نشته خو تقدیراً دی فیکون تقدیر واحد منها الی عشرة ومائة والف.

ترجمه: **اصولها** اوصول د اسماء عدد یعنی هغه اسماء عدد چې مبني علیه او متفرع علیه د باقي اسماء عدد دی **اثنتاعشرة کلمة** دولس کلمی دی چې هغه واحد وغیره دی **الی عشرة** تر عشرة پورې نو لس دا شو اویولسم **مائة** دی او دولسم **الف** دی.

تشریح: **سوال:** د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط د ماقبل سره په وجوه ثلاثه ؤ سره دی کما مر او په معرفت د ربط سره غرض د مصنف رحمه الله هم معلوم شو پدي شان سره چې (۱) غرض د مصنف د دې عبارت نه تقسیم د اسماء عدد دی نوعین ته چې یو اصول دی او بل فروع دی (۲) یا غرض د مصنف بیان د مصداق او صیغ د اسماء عدد دی (۳) یا غرض د مصنف دفع د اعتراض ده چې هغه اعتراض معترض کړی دی په مصنف باندې پس د تعریف د اسماء عدد نه په ماهی سره، نو مصنف جواب وکړو په اصولها الخ سره.

سوال: اصول جمع د اصل ده او اصل په استعمال د کلام دعربو کې په پنځه معانیو سره راځي (۱) بمعنی الدلیل (۲) بمعنی المقیس علیه (۳) بمعنی اولی وراجح (۴) بمعنی قاعده کلیه (۵) بمعنی د مایبتنی علیه غیره سره دی.

سوال: او دلته اصول په کومه معنی سره دی؟ **جواب:** دلته اصول په معنی د مایبتنی علیه غیره سره دی او اصل چې په معنی د مایبتنی علیه غیره سره راشي نو د دې په مقابل کې فرع راځي بمعنی مایبتنی علی غیره لهذا د دې عبارت ترجمه دا شوه چې متفرع علیه او مبني علیه د دې اسماء عدد دولس کلمات دی چې هغه واحد، اثنان، ثلثة، اربعة، خمسة، ستة، سبعة، ثمانية، تسعة، عشرة، مائة، او الف، دی د دې دولسو کلماتو ته عندالنحات اصول د اسماء عدد وائي او د دې نه علاوه نورو ته فروع د اسماء عدد وائي.

سوال: دی دولسو کلماتو ته اصول او باقي ته فروع ولي وائي؟ **جواب:** اصل مایبتنی علیه غیره ته وائي او دی دولس کلمات ته اصول ځکه وائي چې دا مبني علیه د باقي اسمآء عدد دی په دې شان سره چې دا باقي اسماء عدد دی دولسو کلماتو نه جوړيږي.

وطرق بناء الفروع من الاصول خمسة (۱) بالحاق تاء التانيث نحو واحدة واثنتان (۲) باسقاطها نحو ثلاث الی عشر (۳) وبالتثنية كمائتين والفين (۴) وبالجمع حقيقة او حكما فالاول كمأة والوف

والثاني كعشرين او باقي عقود (۵) وبالتركيب، او دا تركيب عام دی (۱) كه اضافی وی نحو ثلاث مائة (۲) يا امتزاجی وی نحو احد عشر تا تسعة عشر (۳) يا عطفی وی نحو احد وعشرون او په اثنتاعشرة كلمة كې دا كلمة منصوب دی ځكه دا تميز واقع شوی دی د عدد اوسط او تميز د عدد اوسط مفرد منصوب راځي، او دا دواړه جزئين مستعمل شوی دی موافق القياس ځكه تميز يې مؤنث راغلي دی او د احد عشر نه تر تسعة عشر پورې په دې كې يوولس او دوولس مستعملولي شي موافق القياس په دې شان سره كه تميز يې مذكر وو دواړه به مذكر وی، او كه تميز يې مؤنث وو نو دواړه به مؤنث وی او دلته تميز مؤنث دی ځكه دواړه مؤنث دی، او په اثنتاعشرة كې جز ثانی مبني على الفتحه دی ځكه متضمن دی معنی د حرف عطف لره او جز اول معرب دی، او مرفوع بالالف دی ځكه خبر دی د مبتدا لپاره چې اصولها دی اودا جز اول معرب دی لما مر.

سوال: واحد په تركيب كې څه واقع شوی دی؟ **جواب:** دا خبر د مبتدا محذوف دی ای احدها واحد اومائة الف مرفوع دی عطف دی په واحد باندې (۲) يا دا واحد مرفوع دی ځكه دا بدل بعض واقع شوی دی د اثنتاعشرة كلمة نه.

سوال: په بدل بعض كې لابدي ده د اشتمال نه په ضمير د مبدل منه باندې او دا خو مشتمل نه دی په ضمير د مبدل منه باندې؟ **جواب:** دا قاعده كليه نده بلكه إكثريه ده په دې شان سره چې دا بدل بعض غالبا مشتمل وی په ضمير د مبدل منه باندې او كله كله بدون الاشتمال هم راځي لكه دلته شو (۲) او كه اومنم چې قاعده كليه ده نو بيا اشتمال د بدل بعض په ضمير د مبدل منه عام دی كه لفظا وی او كه تقديرا وی دلته تقديرا دی ای واحد منها الى عشرة.

سوال: الى په دوقسمه دی (۱) اسقاطی (۲) امتدادی دی، دلته يو هم نه دی صحيح ځكه په الى اسقاطی كې سر د كلام متناول وی مابعد لره او دلته واحد متناول نه دی عشرة لره، او الى امتدادی كې حكم مدخول د الى لره نه وی ثابت او دلته حكم عشرة لره ثابت دی چې دا د اصول د اسماء عدد نه دی؟ **جواب:** دا الى استقاطيه دی او كه ته وائي چې سر د كلام متناول نه دی مابعد لره نو جواب دا دی چې دا عبارت په حذف د مضاف سره دی فيكون التقدير واحد وغيره الى عشرة ومائة، مائة اصل كې مای وو بروزن فعَل يا متحركه وه او ماقبل ترې مفتوح وو بدل شوه په الف باندې او الف حذف شو د وجې د التقاء د ساكنين نه په مينځ د الف او د تنوين كې او د هغې په عوض كې په اخير كې تاء راغله نو مائة شو.

تقول واحد اثنان الخ: ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د اصول د اسماء عدد نه نو شروع يې وكړه په بيان دطريقه د استعمال د اسماء عدد كې.

(۲): يا هر كله چې فارغ شو د بيان د اصول د اسماء عدد نه نو شروع يې وكړه په بيان د احكام مختصه د اسماء عدد كې نو وی ويل چې وتقول الخ.

ترجمه: وتقول وائي به ته اې مخاطب واحد او اثنان په مذكر كې او واحدة او اثنتان او ثنتان په مؤنث كې موافق القياس برابره خبر ده كه مفرد وی او كه مركب وی په تركيب امتزاجی سره يا په تركيب

عطفي سره خکه اصل په استعمال کې موافق القياس دی او خلاف القياس خلاف الاصل دی او د اصل نه عدول کولي شي خلاف الاصل ته د وجې د وجود د مقتضی نه چې هغه تميز دی او دلته تميز نه دی موجود خکه واحد او اثنان تميز نه غواړي او وجه د دې وروستو راځي.

تشريح: سوال: دا واحد او اثنان مقوله ده د تقول لپاره او مقوله د قول نه راځي مګر جمله راځي او واحد او اثنان مفرد دی؟ **جواب:** مقوله د قول جمله راځي په دې شرط چې مراد اللفظ نه وی او کله مراد اللفظ وه نو بيا مفرد هم راځي كما فی قوله تعالی ﴿ فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ ﴾ او دلته واحد او اثنان مراد اللفظ مفعول به واقع شوي ده د تقول لپاره.

سوال: مقوله د قول چې مفرد مراد اللفظ وی نو هغه منصوب وی نو دلته واحد مرفوع ولي دی؟
جواب: دا يې مرفوع ويلي دی حكاية خکه بل خای داسي مرفوع وو، او تقول صيغه د واحد مذكر مخاطب فعل مضارع ده نه صيغه د واحدې مؤنثې غائبې، **وثلاثة الی عشر** دا عطف دی په واحد باندې
ترجمه: او دغسې وائي به ته ثلاثة ومازاد عليه تر عشرة پورې كه تميز د دې جمع مذكر وو كما فی قوله تعالی ﴿ ءَايَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ ٱلنَّاسَ ثَلَٰثَةَ أَيَّامٍ إِلَّا رَمْزًا ﴾ **وثلاثة الی عشر** او وائي به ته ثلاث او ماذاد عليه تر عشر پورې كه تميز د دې جمع مؤنث راغلی وو نحو قوله تعالی ﴿ قَالَ ءَايَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ ٱلنَّاسَ ثَلَٰثَ لَيَالٍ سَوِيًّا ﴾

تشريح: په دې اصولو د اسماء عدد كې د واحد نه واخله تر عشره پورې واحد او اثنان مستعمله ولي شي موافق القياس او د ثلاثة نه تر عشرة پورې مستعمله ولي شي خلاف القياس په دې شان سره چې تميز د دې عدد اقل به خالي نه وي يا به جمع مذكر وی او يا به مؤنث وی كه مذكر وو نو عدد مؤنث مستعمل كول شي نحو ثلاثة رجال الی عشرة رجال او كه تميز د دې جمع مؤنث راغلي وو نو عدد به مذكر مستعمله ولي شي نحو ثلاث نسوة الی عشر نسوة.

سوال: اصل په استعمال كې موافق القياس دی نو د ثلاثة نه تر عشرة پورې دا عدد مخالف القياس ولي مستعمل كيږي؟ **جواب:** منم چې اصل په استعمال كې استعمال موافق القياس دی ليكن د لته عدول شوی دی د اصل نه خلاف الاصل ته د وجې د وجود د مقتضی نه چې تميز دی په دې شان سره چې تميز د دې عدد اقل چې جمع مذكر راشي نو دا به ته مؤنث وائي لپاره د موافقت د عدد د معدود سره خكه دا جمع په تاويل د جماعة سره مؤنث دی نو عدد هم مؤنث شو نو موافقت راغي، او هر كله چې د ثلاثة نه تر عشرة پورې مؤنث مستعمل شو په تميز د جمع مذكر كې نو تميز د دې چې جمع مؤنث راشي نو عدد به مذكر استعمالوی لپاره د دې چې لازم نه شي التباس د عدد مذكر د عدد مؤنث سره د اول وهلت نه.

سوال: التباس خو په عكس سره هم دفع كيږي نو عكس يې ولي ونه كړو؟
جواب: عكس يې ونه كړو خكه چې مذكر اصل دی او مؤنث فرع ده او موافقت اصل دی او مخالفت فرع ده نو اصل مو اصل لره وركړو او فرع مو فرع لره وركړه لپاره د رعايت د تعادل او د انصاف.

سوال: ته واني چې تميز د عدد اقل چې جمع مذكر راشي نو دا عدد مؤنث كولي شي دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د الله تعالى ﴿ مَن جَآءَ بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشۡرُ أَمۡثَالِهَا ﴾باندې دلته امثال جمع مذكر دى او عشر هم مذكر ذكر شوى دى؟ **جواب:** اذا كان المعدود مؤنثا واللفظ مذكرا او بالعكس نو جهان، او دلته هم امثال لفظ مذكر دى او مصداق د دې مؤنث دى څكه دا عبارت دى دحسنات نه نو دلته يې لحاظ د معنى كړى دى نو څكه يې عدد مذكر كړى دى.

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې حديث سره چې: لم يخرج النبى صلى الله عليه وسلم ثلاثا لمرض الموت؛ دلته ثلاثا عدد او تميز يې مقدر دى چې ايام دى او دا مذكر دى نو پكار وه چې ثلاثة يې ويلي وى؟ **جواب:** دا قاعده په هغه ځاى كې ده چې دا تميز جمع مذكر د دې اسم عدد سره مذكور وى، او كه دا تميز ورسره مذكور نه وى نو بيا جواز د وجهين دى.

واحد عشر اثنا عشر: ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د بيا د طريقى د استعمال د عدد مفرد نه نو شروع يې وكړه په بيان د طريقه د استعمال د عدد مركب كې نو وى ويل **واحد عشر** دا عطف دى په واحد اثنان باندې.

ترجمه: وائي به ته كله چې واوړې د لسو نه په شمير كې د عربو په ژبه باندې **احدعشر اثناعشر** په تذكير د جزئين سره په مذكر كې نحو قوله تعالى ﴿ إِنِّي رَأَيۡتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوۡكَبٗا ﴾ او وائي به ته **احدى عشرة اثنتاعشرة و ثنتاعشرة** په تانيث د جزئين سره په مؤنث كې نحو قوله تعالى ﴿ فَٱنفَجَرَتۡ مِنۡهُ ٱثۡنَتَا عَشۡرَةَ عَيۡنٗا ﴾او مغير كړي شو واحد احد ته او واحدة احدى ته لپاره د حصول د تخفيف د وجى د ثقل د تركيب نه. او جز اول د دې مركب قياس دى په حالت د افراد باندې په دې شان سره چې هغه مستعمل وو موافق القياس او دا هم مستعمل دى موافق القياس، او هر چې استعمال د جز ثانى په احد عشر او اثناعشر كې موافق القياس نو دا د دې وجى نه دى چې هر كله چې التباس مدفوع شو په مابين د مذكر او مؤنث كې په تذكير د جز اول سره په نسبت سره مخاطب ته پس حاجت پاتې نه شو استعمال د جز ثانى ته خلاف القياس څكه دا جز اول او جز ثانى په دې يوولس او دوولس كې مستعمليږي موافق القياس.

سوال: په حالت د افراد كې واحد مستعمليدو په مذكر كې او واحدة مستعمليدو په مؤنث كې او كله چې دا مركب شو په تركيب امتزاجى سره نو د واحد نه احد او واحدة احدى ولې جوړ شو؟

جواب: مغائر كړي شو واحد احد ته او واحدة احدى ته لپاره د حصول د تخفيف د وجى د ثقل د تركيب نه او احد اصل كې وحد وو څكه دا ماخوذ دى د وحدت نه واو بدل شوى دى په همزى سره خلاف القياس څكه دا قانون دى د صرفيانو (۱) چې واو مضمومه چې واقع شي بجاى فا كلمه نو بدلول يې په همزه جائز دى بالاتفاق نحو وُجُوهٌ په دې كې جائز دى اُجوه (۲) واو مفتوحه چې واقع شي بجائې فا كلمه د هغې بدلول نه دى جائز بالاتفاق، واما احد واناة فشاذ (۳) واو مكسوره چې واقع شي بجائې فاء نو هغې كې اختلاف دى.

سوال: د احد او واحد په مينځ كې څه فرق دى؟ **جواب:** احد او واحد په مينځ كې فرق دا دى چې احد مرادف د واحد دى په دوه ځايونو كې (۱): يو چې صفت د الله واقع شي لكه الله واحد الله احد.

(۲): دويم په اسماء عدد كې يقال واحد وعشرون واحد وعشرون او د دې نه علاوه په استعمال د دې دواړو كې فرق دى په دې شان سره چې احد نه مستعمليږي مگر (۱) وروستو د نفى نه نحو ع ان هو مستوليا على احد، ونحو ما اتانى من احد فمعناه لا واحد اتانى ولا اثنان واذا قلت جاءنى واحد فمعناه انه لم ياتينى منهم اثنان (۲) احد مستعمليږي په اثبات كې مضاف غالبا، نحو قام احد الثلاثة په خلاف د واحد نه چې دا عام دى وروستو د نفى نه هم راځي او په اثبات كې هم راځي او په اثبات كې راځي مطلقا كه مضاف وى او كه غير مضاف وى (۳) د واحد جمع احاد راځي ولا جمع للاحد.

واقعه: وعن ابى العباس انه سئل عن الاحاد هى جمع الاحد فقال معاذ الله ليس للاحد جمع ولا للاثنين واحد من جنسه ولكن ان جعلت جمع الواحد فهو محتمل مثل شاهد واشهاد: احاد اصل كې أوحاد وو بروزن افعال بيا واو بدل شو په الف باندې نو احاد ترينه جوړ شو **وثلاثة عشر الى تسعة عشر** او وائي به ته ثلاثة عشر تر تسعة عشر پورې په تانيث د جز اول او د تذكير د جز ثانى سره په مذكر كې نحو ثلاثة عشر رجلا اربعة عشر رجلا الى تسعة عشر رجلا، او وائي به ته **ثلاث عشرة الى تسعة عشرة** په تذكير د جز اول او تانيث د جز ثانى سره كه تميز د دې مؤنث وو نحو ثلاث عشرة امرأة الى تسع عشرة امرأة ځكه جز اول د دې مركب قياس دى په حالت د افراد باندې چې هلته دا مستعمليدو خلاف القياس نو دلته هم مستعمليږي خلاف القياس د وجې د حمل د حالت تركيبى نه په حالت افرادى باندې او هر چې دى استعمال د جز ثانى موافق القياس د دې وجى نه دى (۱) چې هر كله چې امتياز راغي بين المذكر والمؤنث په تانيث د جز اول سره په نسبت سره مخاطب ته پس احتياج پاتې نه شو استعمال خلاف القياس ته ځكه اصل په استعمال كې استعمال موافق القياس دى (۲) دا جز ثانى موافق القياس مستعمل كړو لپاره د دې چې لازم نه شي اجتماع د علامتى د تانيث د جنس واحد نه فيما هو كالكلمة الواحدة په خلاف د احدى عشرة اوثنتا عشرة هلته اجتماع د علامتى د تانيث فيما هو كالكلمة الواحدة راغلي ده خو د جنس واحد نه نده بلكه د جنسين مختلفين نه راغلي ده حقيقة په احدى عشرة كې او د جنسين مختلفين نه حكما راغلي ده په ثنتاعشرة كې ځكه په ثنتاعشرة كې دا محض تانيث لپاره نه ده بلكه دا بدل راغليده د واو نه نو هر كله چې تا د محض تاكيد لپاره نه شوه نو په حكم د تانيث د جنس اخر كې شوه، او هر چې دى اثنتاعشرة دا محمول دى په ثنتاعشرة باندې **وتميم تكسر الشين فى المؤنث**.

ربط: دا جمله معترضه واقع شوې ده په مينځ د مركبات بنائيه ؤ او مركبات عطفيو كې.

ترجمه: وتميم او بنى تميم خاص نه بل څوك (حصرحقيقى) (۲) خاص بنو تميم نه حجازيين (حصر اضافى) بيا قصر قلب او افراد او تعين درې واړه جوړيږي.

سوال: دا كلام مثبت دى نو دا دنفى معنى د كوم ځايې نه كوى؟ **جواب:** دى كلام كې حصر دى او كوم كلام كې چې حصر وى په هغى كې دوه نسبتونه وى (۱) ايجابى (۲) سلبى مذكور ته منطوق وايې او غير مذكور ته مفهوم وايې مذكور دلته نسبت ايجابى دى او نسبت سلبى مفهوم دى د حصر د

کلام نه **تکسر الشین** کسره ورکوی شین د عشرة لره تمیم مبتداء ده او تکسر الشین جمله خبر دی وتانیث الفعل لاجل اسناده الی ضمیر تمیم وهومؤنث بتاویل قبیلة **فی المؤنث** په مؤنث کې هغه عشرة چې مرکب وی د غیر سره لپاره د دې چې لازم نه شي اجتماع د اربعه فتحات فیماهو کالکلمة الواحدة په احد عشرة او ثنتاعشرة کې او یا لپاره د دې چې لازم نه شي اجتماع او توالی د خمس فتحات فیماهو کالکلمة الواحدة په ثلاث عشرة الی تسع عشرة کې سره د ثقل د ترکیب نه او حجازین ساکن کوی عین کلمه دعشرة لره په مؤنث کې چې کله مرکب شي د غیر سره او دا لغت د حجازین افصح دی د لغت د بنی تمیم نه ځکه چې دا سکون اخف دی د فتحی نه او مذهب د بنی تمیم کمزوري دی ځکه په هغوی باندې اعتراض راځي چې تاسو د باران نه تختیدی د پرنالي لاندې راغلي ځکه تاسو خو فرار کوو د فتحی نه لپاره د حصول د خفت او کسره ثقیله ده نو بنه ثقل پکې پیدا شو لیکن بنی تمیم جواب کوی چې وقوع د کسرې بین الفتحات اخف ده د وقوع د فتحی نه بین الفتحات لهذا باران نه اوتختیدو پرنالي لاندې رانغلو بلکه د برندې لاندې ودرېدو

او**الشین: سوال:** نه وائي او تمیم تکسر الشین داخبر ستا منقوضه شو شجرة سره؟

جواب: الف لام عهدی یا الف لام عوضی المراد من شین العشرة لامطلق الشین.

سوال: دا خبره ستا منقوضه شو عشر سره؟ **جوب:** فی المؤنث.

سوال: هذا منقوض بجاءنی عشرة رجال؟ **جواب:** دا مسئله په هغه ځای کې ده چې عشرة مؤنث مرکب شي بل عدد سره: نوالشین کې الف لام عهد خارجي دی او مراد د شین نه شین د عشرة دی او دا حجازین په شین د عشرة کې سکون وائي او بنی تمیم کسره وائي (۱) په دې شرط سره چې مؤنث وی (۲) او مرکب شوی وی د غیر سره او که دا مؤنث نه وو بلکه مذکر وو لکه عشر مجرد عن التاء یا مؤنث وو لیکن مرکب مع الغیر نه وو نو هلته فتحه د شین وائي بالاتفاق نحو رأیت عشر نسوة هکذا عشرة بالوقف او بدونه.

وعشرون واخواتها: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د طریقه د استعمال د مرکبات بنائیه ؤ نه نو شروع یې وکړه په بیان د طریقه د عقود د عدد کې نو وی ویل چې وعشرون واخوتها، دا عشرون عطف دی په ثلاثة عشر باندې نو دا مفعول به واقع شوی دی د تقول لپاره په واسطه د عطف سره او عقود ثمانیه چې مفعول به واقع شي نو منصوب بالیاء راځي او دلته مرفوع بالواو لوستلي دی حکایة اوخواتها کې دوه ترکیبه دی او دوه قسمه اعراب لوستل جائز دی:

(۱): یا واخواتها منصوب بالکسره دی صیغه د جمع مؤنث سالم ده عطف دی په عشرون باندې چې هغه منصوب محلا وو د وجې د وقوع د هغې نه مفعول به لپاره د تقول.

(۲): یا دا اخواتُها مرفوع دی بنا په دې چې دا مبتدا ده او خبر یې حذف دی فیکون التقدیر واخوتها مثلها او دا جمله معترضه ده چې واقع شوې ده د عشرون اوفیهما په مینځ کې او اخوات د عشرون باقي عقود دی چې هغه ثلاثون، اربعون، خمسون، ستون، سبعون، ثمانون، تسعون، دی.

ترجمه: او وائي به ته عشرون مذکر **واخواتها** او هغه اسماء عدد **چې** هغه په شان د عشرون دی په عقد کې چې هغه ثلاثون، اربعون الخ دی هغه به هم مذکر وائي **فیهما** په مذکر او په مؤنث دواړو کې نو وائي به ته عندي عشرون رجلا او عندي عشرون امرأة بی د فرق نه بین المذکر والمؤنث ځکه فرق د مؤنث د مذکر نه راځي په الحاق د تآء التانیث سره اوس الحاق د تآء التانیث چې ته گوی پدي عقود ثمانیو پورې په مؤنث کې نو، نو دا تاء تانیث به خالي نه وي یا به یې راوړي مخکې د واو او نون نه او یا به یې راوړي وروستو د واو او نون نه که وروستو یې راوړي نو اجراء د علامې د یوی کلمې راغله په کلمه اخری کې او دا باطله ده او که مخکې یې راوړي نو یو اجراء د علامه د تانیث راغله په وسط د کلمه کې او ذا باطله ده (۲) او دا رنگې لازمیږي اجتماع د علامتین متبائنتین په کلمه واحده کې ځکه دا تا تانیث علامه د مؤنث ده او واو او نون او یا نون علامه صریحی د مذکر ده او اجتماع د علامتین متبائنتین په کلمه واحده کې باطله ده پس هر کله چې فرق ممکن نه شو بین المذکر والمؤنث په اتصال د تاء التانیث سره پس شو دا عقود ثمانیه مشترك بین المذکر والمؤنث.

واحد وعشرون واحدی وعشرون: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د طریقه د استعمال د مفرداتو او مرکبات بنائیهؤ نه نو شروع یې وکړه په بیان د طریقه د استعمال د مرکبات عطفیو کې او هر کله چې مغائر کړي شوی وو واحد آحد ته او واحدة احدی ته په مرکب عطفی کې بی د ترکیب امتزاجی نه د وجی د ثقل د ترکیب نه پس نه شو استعمال د دې دواړو بلفظ ما تقدم نو د دې وجې نه مندرج نه کړو مصنف احد و عشرون او حدی و عشرون په قاعده د عطف بلفظ ما تقدم کې بلکه دا ئې ځان له جدا ذکر کړو.

ترجمه: وائي به ته په هغه عدد کې چې د هغې زیادت راغلي وی په هر عقد باندې د دې عقودو نه **احد وعشرون** په تذکیر د جز اول او د ثاني سره که تمیز یې مذکر راغلي وو نحو احد وعشرون رجلا او وائي به ته احدی وعشرون په تانیث د جز اول سره که تمیز یې مؤنث راغلي وو نحو احدی وعشرون امرأة **ثم بالعطف بلفظ ما تقدم** بیابه وائي ته په عطف د عقود سره په عدد زائد باندې په حال کون د دې عدد زائد کې چې دا کائن دی په هغه لفظ او صیغی سره چې هغه مخکې بیان شوې ده په حالت د افراد کې الی **تسعة و تسعین** تر نهه نوي پورې.

تشریح. سوال: د واحد وعشرون واحد وعشرون ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د ماقبل سره څه دی؟ **جواب:** ربط د ماقبل سره دا دی چې مخکې بیان د طریقی د استعمال د مفردات او مرکبات بنائیهؤ وو او دلته بیان د طریقی د استعمال د مرکبات عطفیو دی او په معرفت د ربط سره غرض د مصنف هم معلوم شو چې مقصد د مصنف په دې عبارت سره بیان د طریقی د استعمال د مرکبات عطفیو دی.

سوال: فرض منصبی د مصنف اختصار بماهوا ختصار دی نو هر کله چې مقصد د مصنف بیان د طریقه د استعمال د مرکبات عطفیو دی نو احد وعشرون هم مرکب عطفی دی نو دائي په قاعده د بلفظ ما تقدم کې ولې مندرج نه کړو او ځان له یې ولې ذکر کړو؟

جواب: هر كله چې واحد مغير شوى وو احد ته او واحدة مغير شوى وو احدى ته د وجى د ثقل د ترکیب نه لپاره د حصول د تخفیف پس نه شو استعمال د احد وعشرون او احدى وعشرون په لفظ د ماتقدم باندې ځکه په حالت د افراد کې واحد او واحدة مستعمل دى او چې مرکب شي د عقودو سره نو احد او حدى ويلي شي نو هر كله چې دانه شو په لفظ د ماتقدم باندې نو ځانه لـه يې ذکر کړو او په دغه قاعده کې يې داخل نه کړو.

سوال: چې واحد او واحدة چې مرکب شي د عقودو سره نو د واحد نه احد او د واحدة نه احدى ولې جوړېږي؟ جواب: لپاره د حصول د تخفيف د وجى د ثقل د ترکیب نه بیا دومره فرق دى چې واحد او واحدة چې مرکب شي د عشر سره نو د واحد نه احد او د واحدة نه احدى جوړېږي وجوباً فيقال احد عشر، احدى عشرة، فلايقال واحد عشر، واحدة عشرة، او دا چې مرکب شي د عقودو سره نو د واحد نه احد او د واحدة نه احدى جوړېږي جوازا نه وجوباً فيقال احد وعشرون واحدى وعشرون كما يقال واحد وعشرون واحدة وعشرون.

سوال: د عشر سره چې مرکب شي نو د دې نه احد او احدى وجوباً ولې جوړېږي او دعقودو سره چې مرکب شي نو جوازا ترې ولې جوړېږي؟ جواب: دا مرکبات بنائيه کثير الاستعمال دى او مرکبات عطفيه قليل الاستعمال دى او کثرت استعمال تقاضه د تخفيف کوى وجوباً ځکه د واحد نه احد او د واحدة نه احدى جوړېږي وجوباً او کوم شي چې کثير الاستعمال نه وي هغه تقاضه د تخفيف وجوبي نه کوى نو ستاخوخه ده چې تخفيف کوى او که نه کوى.

سوال: بلفظ ماتقدم جارمجرور دى د دې لپاره لابدې ده د اعراب محلى نه نو د دې اعراب محلى څه شي دى؟ جواب: اعراب محلى د دې نصب دى.

سوال: منصوبات دوولس قسمه دى دا کوم قسمه دى؟ جواب: دا منصوب دى بنابر حاليت په اعتبار د متعلق محذوف سره.

سوال: حال تقاضه د ذوالحال کوى نو دا حال د چانه واقع شوى دى؟ جواب: دا حال واقع شوى دى د مفعول به غير صريحى محذوف د عطف نه فيکون التقدير ثم تقول بعطف تلك العقود على الزائد عليها كائنا ذلك الزائد بلفظ ماتقدم.

سوال: عطف د عقود چې په زوائد باندې کيږي نو بالعکس ولې نه کيږي؟ جواب: زوائد قليل دى او عقود کثير دى او قليل مقدم وى په کثير باندې (۲) او لپاره د دې چې ترقى د ادنى نه راشي اعلى ته نو وائي به ته اثنان وعشرون رجلا ثلاثة وعشرون رجلا الى تسعة وتسعين رجلا په مذکر کې او وائي به ته اثنتان وعشرون امرأة ثلاث وعشرون امرأة الى تسع وتسعين امرأة په مؤنث کې.

المائة والالف: ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د طريقى د استعمال د عدد اقل او عدد اوسط نه نو شروع يې وکړه په بيان د طريقه د استعمال د عدد کثير کې نو وى ويل ومائة والف،

ترجمه: وائي به ته مائة والف په مفرد کې او مائتان او الفان په تثنيه کې **فيهما** په مذکر او مؤنث دواړو کې نحو مائة رجل ومائة امرأة والف رجل والف امرأة مائتا رجل مائتا امرأة والفا رجل والفا

امرأة بی د فرق په بين المذكر والمؤنث څكه فرق د مؤنث د مذكر نه راځي په اتصال د تاء تانيث سره او كه په مؤنث كې اتصال د تاء التانيث وكړو په مائة كې نو لازميږي اجتماع د تانين او دا باطله دی او الف محمول دی په مائة باندې د وجې د اشتراك د الف نه د مائة سره په اصل كې او په افراد كې

ثم بالعطف على ماتقدم: ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د طريقى د استعمال د مفردات د عدد اكثر نه نو شروع يې وكړه په بيان د طريقه د استعمال د مركبات د عدد اكثر كې نو وی ويل ثم بالعطف على ماتقدم

ترجمه: بيا به وائي ته په هغه عدد كې چې هغه زائد شوی دی په مائة او الف او د دې په تثنيه باندې **بالعطف** په عطف د مائة او الف سره په زوائد باندې (٢) يا په عطف د زائد سره په مائة او الف باندې **على ماتقدم** په حال كون د دې زائد كې چې دا به كائن وی په هغه طريقه او صيغه سره چې مخكې بيان شوې ده په مفردات كې

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څۀ دی؟
جواب: ربط د ماقبل سره دا دی چې مخكې يې بيان د طريقى د استعمال د عدد اكثر وكړو اوس بيان د طريقه د استعمال د مركبات د عدد اكثر كوی چې عطف د زوائد دی په مائة او الف باندې يا د دې په تثنيه باندې، او د دې او د عطف د زوائدو په عقود ثمانيه باندې دومره دی په هلته عطف جائز وو د يو جانب نه چې عطف د عقود دی په زائد باندې او دلته عطف جائز دی د جانبين نه (١) چې عطف د مائة او الف وكړې يا د دې په تثنيه د زوائدو، نحو مائة و واحد مائة و واحدة مائة واثنان مائة وثلاثة رجال مائة وثلاث نسوة مائة واحد عشر رجلا مائة واحدى عشرة امرأة الى آخره او دغسې به وائي په تثنيه كې (٢) او دارنگې جائز دی عطف د مائة او الف په زائد باندې نو وائي به ته واحد ومائة رجل واحدى ومائة امرأة، اثنان ومائة رجل، وثلاثة ومائة رجل، اربعة ومائة رجل، خسمة ومائة رجل، احدى ومائة امرأة، اثنتان ومائة امرأة، ثلاث ومائة امرأة، اربع مائة امرأة الى اخره.

سوال: عطف د عقود ثمانيه په زوايدو باندې جائز وو بيك جانب، لپاره دی چې ترقى د ادنى نه راشي اعلى ته نو دلته عطف د جانبين نه ولې جائز دی؟ **جواب:** دلته عطف د جانبين نه جائز دی څكه عدد اكثر ثقيل دی نو مونږه جواز وكړو دا عطف د جانبين نه لپاره د حصول د تخفيف.

سوال: (١). چې د عدد اكثر تميز مفرد مجرور راځي د عدد اقل تميز جمع مجرور راځي او د عدد اوسط تميز مفرد منصوب راځي، اوس دوه عددين چې راجمع شي په يو ځاى كې مثلا عدد اقل او عدد اكثر يا عدد اوسط او اكثر راجمع شي نو تميز د دواړو به ذكر كوی كه د يو به ذكر كوی او كه د يو ذكر كوی نو د چا به ذكر كوی؟ **جواب:** تميز د معطوف به ذكر كيږي نه د معطوف عليه.
سوال: ولې؟ **جواب:** څكه چې په بيان د معطوف سره بيان د معطوف عليه هم راځي لهذا وائي به ته ثلاثة ومائة رجل او مائة وثلاثة رجال.

سوال: دا مسئله خو مونږه ته معلومه شوه ليكن عطف د اثنان او واحد چې وكړې شي په مائة باندې نو بيا به څنگه وائي څكه واحد او اثنان خو تميز نه غواړي؟

سوال: عطف د واحد اواثنان چې په مائة او الف باندې وشي نو داسې به وائي چې مائة واثنان من الرجال يا من النساء، **وفى ثمانى عشرة فتح الياء: تركيب: فى ثمانى عشرة** خبر مقدم او **فتح الياء** مبتدا مؤخره، مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه.

ترجمه: ثابته ده په ثمانى عشرة كې فتحه د ياء يعنى مبني على الفتحه ده.

تشريح: د احد عشر نه واخله تر تسعة عشر پورې جز اول او جز ثانى دواړه مبني على الفتحه دى ماسوا د جز اول د اثناعشرنه او په دې تولو كې بناعلى الفتحه متعين ده او بله وجه نده جائز ماسوى د ثمانى عشر نه په دې كې څلور وجې جائز دى.

(۱): ثمانى عشر مبني على الفتحه د وجې د بنا دصدور د اعداد مركبونه په فتحه باندې نحو احد عشر الى تسعة عشر ما سوا د جز اول د اثناعشر نه.

(۲): **وجاز اسكانها** او جائز دى ساكن كول د ياء د ثمانى عشر په حذف دفتحى سره د وجى د تثاقل د مركب نه د تركيب د وجى نه په شان د معديكرب باندې.

(۳): **وشذ حذفها** او شاذ كړي شوى دى حذف د ياء **بفتح النون** سره د فتحى د نون نه چې ثمان عشرة اووائي په حذف باندې، او په دې باندې باعث حصول د تخفيف دى او په فتحى د نون باندې باعث ګرځول د ثمانى عشر دى په صورت د اخوات باندې.

(۴): او شارح رضى ويلي دى چې پس د حذف د نون نه كسره د نون هم جائز ده يعنى ثمان عشر لپاره د دې چې دلالت وكړي دا كسره په حذف د ياء باندې او دا فتحه د نون شاذ ده د وجې د عدم دلالت د فتحى نه په حذف د يا باندې ليكن فتحه دنون اولى ده اګر كه خلاف القياس ده، دكسرى د نون نه اګر كه موافق القياس ده د وجې د توافق د ثمان عشر نه د اخوات خپلو سره څكه اخوات د ثمان عشر مفتوحة الاواخر دى چې مركب يې واخلى د عشر سره او د دې ثمان عشر نه چې يا حذف كړو او فتحه د نون اوايو نو دابه هم مفتوحه الاخر شي نو موافقت به يې راشي د اخوات سره په فتحه سره په فتحه د حرف اخير كې او موافقت اولى دى د مخالفت نه.

وميز الثلاثة الى العشرة مخفوض مجموع: ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د طريقه د استعمال د اسماء عدد نه نو شروع يې وكړه په بيان د تميز د اسماء عدد كې څكه بحث د متعلق د شئ نه بحث د شئ نه وى، او هر كله چې د واحد او اثنان لپاره تميز نه راتلو نو مصنف شروع وكړه د ثلاثة نه نو وى ويل چې و مميز الثلاثة الخ.

ترجمه: تميز د ثلاثة ومازاد عليها **الى العشرة** تر لسو پورې په مذكر كې او تميز د ثلاث ومازاد عليها تر عشر پورې په مؤنث كې **مخفوض** مجرور راځي په اعتبار د اعراب سره د وجى د اضافت د عدد نه تميز ته قبيلي د اخلاق ثياب نه چې اضافت د موصوف راغلي دى صفت ته د وجى د كثرت د استعمال نه او كثرت استعمال تقاضه د تخفيف كوى او تخفيف حاصل شو په حذف د تنوين سره د عدد اقل نه د وجى د اضافت نه **مجموع** او جمع به وى په اعتبار د صيغى سره لپاره د موافقت د

عدد د معدود سره دا جمع عام ده لفظاً چې لفظا وی نحو ثلاثة رجال اومعنی یا معنی وی فقط نه لفظا نحو قوله تعالی ﴿ وَكَانَ فِي الْمَدِينَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ ﴾

تشریح: **سوال**: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: مخکښې بیان شو حکم د اسماء عدد چې هغه استعمال خلاف القیاس وو اوس بیانوی حکم د تمیز د اسماء عدد نو په معرفت د ربط سره معرفت د غرض د مصنف هم راغي چې مقصد د مصنف په دې عبارت کې بیان د حکم د تمیز د اسماء عدد دی.

سوال: دا خو خروج عن البحث راغي ځکه بحث زمونږه په اسماء عدد کې دی او تا په تمیز کې شروع وکړه؟ **جواب**: خروج عن البحث نه راځي ځکه چې تمیز اګرچې اسماء عدد نه نهٔ دی لیکن د متعلقات د اسماء عدد نه دی او بحث د متعلقات د اسماء عدد نه بحث ده بعینه د اسماء عدد نه فلا یلزم الخروج عن البحث.

سوال: مصنف چې دا تمیز د ثلاثة تر عشرة پورې بیان کړو نو تمیز د واحد او اثنان یې ولې بیان نه کړو؟

جواب: مونږه تمیز د هغه اسماء عدد بیانوو چې هغه تمیز غواړي چې هغه من ثلاثة لی اخره دی اوکوم اسماء عدد چې تمیز نه غواړي هغه نه بیانوو لکه واحد او اثنان شو.

سوال: واحد او اثنان تمیز ولې نه غواړي؟ **جواب**: د دې وجه مصنف وروستو په خپله بیانوی استغناء بلفظ التمیز عنهما لافادة النص المقصود بالعدد.

سوال: تمیز د ثلاثة تر عشرة پورې خو مونږه ته معلوم شو چې جمع مجرور راځي نو تمیز د ثلاث مجرد عن التاء تر عشر مجرد عن التاء پورې څنګه راځي د هغې تمیز یې ولې بیان نه کړو؟

جواب: د درې نه واخله تر لسو پورې په دی عدد اقل کې عدد د مؤنث شریك دی د عدد د مذکر سره په تمیز کې نو د وجې د اشتراك د عدد مؤنث نه د مذکر سره په تمیز کې یې تمیز د مؤنث نه دی بیان کړي او ترك کړي یې دی مقایسة، او الی په دې مقام کې اسقاطیه دی او صدر د کلام متناول دی مدخول د الی له ځکه دا عبارت د مصنف په حذف د معطوف سره دی ای و ممیز الثلاثة و ما زاد علیها الی العشرة.

سوال: د ثلاثة نه واخله الی اخره دا اسماء عدد تمیز ولې غواړي؟

جواب: ځکه په دې کې ابهام جنسي دی دا تقاضه کوی د رفع د ابهام جنسي او رفع د ابهام جنسي راځي په تمیز سره، پس لابدي شوه د دې لپاره د تمیز نه؟

سوال: اصل په تمیز کې نصب دی نو تمیز د عدد اقل مجرور ولې راځي او جمع ولې راځي؟

جواب: او منم چې تمیز د قبیلې د منصوبات نه دی لیکن په دې کې دا جر راغلی دی د اضافت د وجې نه، او اضافت د عدد اقل راغلي دی د وجې د کثرت استعمال د عدد اقل نه او کثرت استعمال تقاضه د تخفیف کوی او تخفیف ورله ورکړي شو په حذف د تنوین سره د مضاف نه او دا اضافت د قبیلې د اخلاق ثیاب نه دی چې اضافت د موصوف راغلي دی صنفت ته او جمع راځي

لپاره د موافقت د عدد د معدود سره او دا جمع عامه ده چې لفظا وي اوکه معنی وي مثال د لفظا لکه ثلاثة رجال او مثال د معنی لکه خمسة نفر.

سوال: ثلاثة رجال کې دا رجال لکه څنګه چې لفظا جمع ده دارنګې معنی هم جمع ده نو تا يواځي لفظا ولې وويله؟ جواب: د جمع لفظي سره جمع معنا لازم ده ځکه يې صرف لفظا وويل او معنا قيد يې ورسره ونه لګوو ځکه معنی قيد لګول ورسره هله ضروري وو چې د جمع لفظي سره جمع معنوي لازم نوی، او تميز د عدد اقل راځي غالبا جمع مکسر دا جمع مکسر بيا عام دی چې مذکر مکسر وي او که مؤنث مکسر وي، او دا جمع مکسره عامه ده که قلته وي اوکه کثرته وي نحو قوله تعالى ﴿يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوٓءٍ﴾ ﴿مَن جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشْرُ أَمْثَالِهَا﴾ (۲): او تميز د عدد اقل جمع مؤنث سالم راځي په طريقه د قلت سره نحو قوله تعالى ﴿وَسَبْعِ سُنۢبُلَٰتٍ﴾ (۳): او تميز د عدد اقل جمع مذکر سالم نه راځي فلا يقال ثلاثة مسلمين ځکه بيا لازميږي اجتماع د علامتين متبائنين فيما هو کالکلمة الواحدة، چې دا تاء التانيث علامه صريحی د مؤنث ده او يا او نون علامه صريحی د مذکر ده او په مينځ د دې کې منافات دی، واما قول الفقهاء اکثر مدة الحمل عند الشافعي ثلاث سنين وعند مالك اربع سنين؟ جواب: دا جار مجری د جمع مکسر دی په شان د بنون باندې د دوی سره معامله کولي شي په استعمال د کلام د عرب کې معامله د جمع مکسرې ځکه دلته تميز واقع شوی دی د عدد اقل لپاره، **الا فی ثلاث مائة**، دا مستثنی مفرغه ده او مستثنی منه حذف دی فيکون التقدير مخفوض مجموع فی جميع المواضع الافی ثلاثمائة وما زاد عليها الی تسعمائة يعنی د عدد اقل لپاره تميز چې مائة راشي نو دا مفرد تميز واقع کيږي نه جمع ځکه دا لفظا مفرد دی او معناً جمع دی.

سوال: چې الی تسعة مائة يې ويل نو الی عشر مائة يې ولې نه ويل؟ جواب: الی عشر مائة يې نه دی ويلي ځکه دا نه دی مستعمل په کلام د عربو کې استغناء بلفظ الف ځکه لس سوو ته د عربو په استعمال کې الف ويلي کيږي نه عشر مائة.

سوال: مائة مفرد چې تميز دی عدد اقل واقع کيږي نو د دې جمع ولې تميز د عدد اقل لپاره نه واقع کيږي باوجود د دې نه چې تميز د دې عدد اقل راځي جمع مجرور؟

جواب: وکان قياسها مئين مئات ځکه قاعده دا ده په مائة کې چې هغه مضاف اليه واقع شوی دی د ثلاث لپاره الی تسع چې دا جمع کړي شي په مئات جمع مؤنث سالم يا مئين جمع مذکر سالم سره ځکه د مائة لپاره دوه جمع دی (۱): يو په صورت د جمع مؤنث سالم چې هغه مئات دی.

(۲): دويم په صورت د جمع مذکر سالم چې هغه مئون دی او اضافت د عدد اقل مئون ته نه دی جائز ځکه که په دې عدد کې تانيث وائي نو لازميږي اجتماع د علاميتين متبائنين او که تانيث يکې نه وائي نو لازميږي خلاف د استعمال د عدد اقل نه ځکه تميز د عدد اقل چې جمع مذکر راشي نو عدد مؤنث مستعمل کولي شي پس پاتې شوه جمع مؤنث سالم چې هغه مئات دی ځکه

جمع مؤنث سالم اګر چې تميز واقع کيږي د عدد اقل خو دا منات پخپله عدد دی تميز غواړي او
دې تميز انکار کوی د وقوع نه وروستو د جمع مؤنث سالم نه ځکه تميز د اسماء عدد راځي
وروستو د مفرد نه يا وروستو د مرکب نه يا وروستو د عقود نه چې هغه په صورت د جمع مذکر
سالم کې دی او تميز وروستو د جمع مؤنث سالم نه نه راځي.

ومميز احد عشر الخ: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف دبيان د تميز د عدد اقل نه شروع يې وکړه په
بيان د تميز د عدد اوسط کې نو وی ويل ومميز احد عشر الخ

ترجمه: تميز د احد عشر وما زادعليها **الى تسعة وتسعين** تر يو کم سلو پورې چې ديته عند النحاة
عدد اقل وائي **منصوب** منصوب راځي باعتبار الاعراب **مفرد** او مفرد راځي په اعتبار د صيغی سره

نحو قوله تعالى ﴿إِنِّي رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا﴾ ﴿لَهُ تِسْعٌ وَتِسْعُونَ نَعْجَةً﴾ ﴿فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا﴾

سوال: تميز د دې منصوب ولي راځي؟ **جواب:** ځکه تميز د منصوبات نه دی او په عدد اقل کې تميز
مجرور راغلي وو د اضافت د وجی نه او دلته اضافت ممتنع دی ځکه لازميږي جعل د کلمات ثلاثه
کلمه واحده او دا نده جائز او هر چې دی عقود نو په هغې کې اضافت ممتنع دی ځکه د اضافت د
وجی نه به يا نون غورځوی يا نه که غورځوی نو بيا حذف د غير د نون د تثنيه او د نون د جمع مذکر
سالم راغي او دا باطل دی او که نه يې غورځوی نو بيا اتصال د مابعد سره رانغی (او دا هم باطل دی
ځکه اتصال لفظی واجب دی اضافت کې) د وجی د انفصال نه د دې واو او نون د عقود سره.

سوال: مفرد به ولي راځي؟ **جواب:** هر کله چې تميز د عدد اوسط منصوب شو نو فضله شو او دا قلت
اولی دی د فضله سره ځکه تميز د دې مفرد راځي.

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د الله تعالى چې ﴿وَقَطَّعْنَاهُمُ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ أَسْبَاطًا أُمَمًا﴾ دلته
تميز جمع منصوب راغلي دی نه مفرد منصوب.

جواب: اسباطا تميز نه دی د اثنتی عشرة لپاره بلکه دا بدل واقع شوی دی د اثنتی عشرة نه او تميز
د دې محذوف دی چې فرقة دی.

ومميز مائة والف وتثنيتها الخ: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د تميز د عدد اوسط نه نو
شروع يې وکړه په بيان د تميز د عدد اکثر کې چې هغه د مائة نه واخله الى اخره دی.

ترجمه: تميز د مائة او د الف او تميز د تثنيه د مائة او الف چې مئتان او الفان دی، او تميز د جمع
د الف چې الاف او الوف دی نه جمع د مائة ځکه د مائة جمع نده مستعمل په کلام د عربو کې
مخفوض مجرور راځي باعتبار الاعراب اومفرد راځي په اعتبار د صيغی سره فيقال مائة رجل الف
رجل مائتا رجل الفا رجل الاف رجل والوف رجل.

سوال: تميز د عدد اکثر مجرور ولي راځي؟ **جواب:** (۱). حملا على العدد الاقل لاشتراكهما فی
الاصول (۲) د وجی د اضافت د عدد اکثر نه تميز ته او مضاف اليه نه وي مګر مجرور وی.

سوال: اضافت د عدد اکثر يې تميز ته ولي کړی دی؟ **جواب:** ځکه چې عدد اکثر ثقيل دی باعتبار
المعنی او ثقل تقاضه د تخفيف کوی نو تخفيف ورله ورکړې شو په اعتبار د اضافت سره.

سوال: مفرد به ولي وی؟ جواب: ځکه کۀ تميز د دې جمع راشي نو ثقل د ثقل لازميږي ځکه عدد اکثر ثقيل دی باعتبار المعنى او جمع هم ثقيله ده.

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د الله تعالى ﴿ وَلَبِثُواْ فِي كَهْفِهِمْ ثَلَٰثَ مِاْئَةٍ سِنِينَ ﴾ سره په دې ايت کې مائة عدد اکثر راغلي او د دې تميز راغلي دی جمع چې هغه سنين دی؟

جواب: په دې ايت کې دوه قراتونه دی (۱) يو قراة کې راغلي دی ثلاث مائة سنين په تنوين د مائة سره بيا بعض ويلي دی چې دا سنين بدل واقع شوی دی د مائة نه او دا يا علامه د جر ده، خو دا ترکيب ضعيف دی ځکه د بدل لپاره شرط صحت د وقوع د بدل دی موضع المبدل منه مع بقاء المعنى ولو قيل ثلاث سنين اختل المعنى (۲) غوره ترکيب دا دی چې دا بدل واقع شوی دی د ثلاث نه او دا ياء پکې علامه د نصب ده او شرط د بدليت موجود دی، لانه لو قيل ولبثوا فی کهفهم سنين مائة احتمل ثلاث مائة فلم يذهب المعنى بالکلية.

(۲) او په دويم قراة کې راغلي دی ثلاث مائة سنين بدون التنوين چې مائة مضاف دی سنين ته او دا جمع تميز واقع شوې ده د مائة لپاره دا محمول دی په استعمال اقل باندې ځکه غالبا تميز د عدد اکثر راځي مفرد مجرور او په طريقه د قلت سره راځي جمع مجرور کما قال ابن مالك.

ومائة والالف للفرد اضف ومائة بالجمع نذرا قدردف

سوال: چې وجمعه يې وويل نو وجمعهما يې ولې ونه ويل په شان د و تثنيتهما باندې؟

جواب: جمعهما يې ونه ويل لعدم استعمال جمع المائة مع التميز.

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د شاعر سره!

وهم مئون الوفاً وهو في نفر شم العرانين ضرابين البهم

په نه وائي چې جمع د مائة نه وه مستعمل سره د تميز نه او دلته جمع راغلي ده چې مائة دی سره د تميز نه چې هغه الوفاً دی، او بل تاسو وائي چې تميز د عدد اکثر مفرد مجرور راځي او دلته جمع منصوب راغلي ده؟ جواب: يجوز فی شعر ما لايجوز فی غيره يعنی د مصنف دا خبره بنا ده په سعت د کلام کې او ته شعر ته لاړې.

واذا كان المدود مؤنثا واللفظ مذكرا او بالعكس فوجهان: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د هغه اسم عدد نه چې هغه ذوجهة واحدة وو د وجې د کيدو د تميز نه ذوجهة واحدة نو شروع يې وکړه په بيان د هغه اسم عدد کې چې ذوجهتين دی د وجې د کيدو د تميز د دې نه ذوجهتين (۲) يا دا جمله مستانفه واقع شوې ده جواب د سوال ځکه مصنف مخکې ويلي وو چې تميز د عدد اقل چې جمع مذکر راشي نو دا عدد به مستعمولي شي مؤنث نحو ثلاثة رجال نو معترض اعتراض وکړو چې دا قاعد ستا منقوضه شوه په دې قول دالله تعالى ﴿ مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ﴾ سره چې دلته تميز جمع مذکر دی او عدد مؤنث ندی، او دارنګې دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د فقهاؤ سره اکثر مدة الحمل اربع سنين عند الشافعی چې دلته تميز د عدد اقل راغلي دی جمع مذکر او دا عدد

مؤنث نه دی مُستعمل او دارنګې دا قاعده ستا منقوضه شو په دې قول د عربو سره جاءتني ثلاث
اشخاص من النساء چې دلته تميز جمع مذکر راغلي دی او عدد مؤنث نه دی مستعمل نو مصنف
جواب وکړو چې واذا کان المعدود مؤنثا واللفظ مذکرا او بالعکس فوجهان.
ترجمه: که چرې وو معدود يعني تميز مؤنث په اعتبار د مصداق سره **واللفظ مذکرا** او دا لفظ
تميز مذکر وو نحو عندي ثلاثة اشخاص من النساء **او بالعکس** او يا بالعکس وو په دې شان سره
چې تميز مذکر دی په اعتبار د مصداق سره او لفظ مؤنث دی نحو عندي ثلاث انفس من الرجال
فوجهان اى ففي العدد وجهان په دې عدد کې دوه وجهې جائز دی مذکر لوستل هم جائز دی او
مؤنث لوستل هم جائز دی د وجی د کيدو د تميز نه ذوجهتين، لکه ثلاثة اشخاص من النساء، نو
نو په دې کې که ديته وګوري چې دا اشخاص لفظ مذکر دی نو ثلاثة اشخاصٍ وواپه خکه تميز د
عدد اقل چې جمع مذکر راشي نو عدد مؤنث مستعمله ولي شي او که ديته ګوری چې د دې
اشخاصِ مصداق مؤنث دی نو ثلاث اشخاصٍ اوواپه خکه تميز د عدد اقل چې جمع مؤنث راشي
نو عدد مذکر مستعمل کولي شي او دغسې عندي ثلاثة انفس من الرجال کې که ديته ګوري چې
لفظ د انفس مؤنث دی نو عندي ثلاث انفس وواپه خکه تميز د عدد اقل چې جمع مؤنث وو نو
عدد مذکر کولي شي او که ديته ګوري چې مصداق د انفس مذکر دی نو عندي ثلاثة انفس من
الرجال وواپه خکه تميز د عدد اقل چې جمع مذکر راشي نو عدد مؤنث کولي شي.
او صاحب د غاية التحقيق وايي دی چې په دې عدد کې دوه وجې رواد دی ليکن اعتبار د لفظ اولى دی
د اعتبار د معنى نه خکه نظر د نحوی لفظ ته دی نه معنى ليکن دا خبره کمزوری ده لقوله تعالى ﴿مَن جَآءَ
بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا﴾ دلته لحاظ د معنى شوی دی نه د لفظ نو دا دليل دی په دې خبره باندې چې دا
تذکير او تانيث په دې اسم عدد کې چې تميز د دې ذوجهتين وی على السويه جائز دی بی د ترجيح د
احدهما نه په اخر باندې لپاره د دې چې لازم نه شي حمل د کتاب الله په خلاف اولى باندې.
سوال: بل اعتراض کړی دی صاحب دغاية التحقيق په مصنف باندې چې دا مسئله ذکر کول پکار
وو وروستو د عدد اقل نه متصل بلا فصل خکه دا فرق ثابت دی په عدد د اقل کې او د الف او مائة
نه وروستو ذکر کول نه وو پکار د وجی د اشتراك د مائة او الف نه په مذکر او مؤنث کې؟
جواب: دا مسئله مصنف ذکر کړې ده پس د اختتام د تميز د عدد نه د وجی د تعلق د دې مسئلې نه
د تميز سره په دې شان سره که دا تميز وو ذوجهة واحدة نو عدد هم ذوجهة واحدة دی او که تميز وو
ذوجهتين نو عدد به هم ذو جهتين وی، اذا کان المعدود مؤنثا الخ دلته دا اللفظ عطف دی په
المعدود باندې او مذکرا عطف دی په مؤنثا باندې نو عطف د اسمين راغي په معمولين مختلفين
د عامل واحد باندې او دا جائز دی بالاتفاق.
سوال: اذا کان المعدود الخ دا شرط دی او فوجهان جزاء ده او جزاء د شرط نه راځي مګر جمله او دا
خو مفرد دی؟ **جواب:** وجهان مبتدا ده او د دې خبر محذوف دی فيکون التقدير ففي العدد وجهان

مبتدا سره د خبر نه جمله جزاء د شرط واقع شوې ده او جمله اسمیه چې جزاء واقع شي نو هلته لابدي وی د فاء جزائیه نه او دلته فاء راغلي ده.

ولایمیز احد واثنان: ربط: دا هم جمله مستانفه ده واقع شوې ده په جواب د سوال کې سوال دا دی چې د ثلاثة نه واخله تر اخره د ټولو اسماء عدد د تمیز بیان شو نو واحد او اثنان هم د اسماء عدد نه دی عند النحات د دې تمیز دی ولې بیان نه کړو نو مصنف جواب وکړو ولا یمیز واحد الخ سره.

ترجمه: ولایمیز نه شي ذکر کولي د واحد او اثنان لپاره تمیز وروستو د واحد او اثنان نه **استغناء بلفظ التمیز** د وجی د استغناء د متکلم نه په هغه لفظ سره چې هغه صلاحیت د تمیز لري **عنهما** د ذکر د واحد او د اثنان نه مثال د هغه لفظ چې هغه صالح دی لپاره د تمیز د واحد او اثنان لکه رجل او رجلان شو چې رجل صلاحیت لري د تمیز لپاره د واحد او رجلان صلاحیت لري د تمیز لپاره د اثنان، اوس کله چې ذکر کړي شي رجل نو ذکر د واحد ته ضرورت نشته او چې ذکر شي رجلان نو ذکر د اثنان ته ضرورت نشته، **لافادة النص المقصود** دا دلیل د دلیل دی او علت العلت دی، د وجی د دلالت کولو د لفظ صالحه نه صراحتاً په هغه معنی باندې چې هغه مقصود د متکلم ده **بالعدد** په کمیت او مقدار د اسم عدد سره.

تشریح: سوال: ولایمیز الخ د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط د ماقبل سره دا دی چې دا جمله مستانفه جواب د سوال دی او په معرفت د ربط سره غرض د مصنف هم معلوم شو چې دفع د اعتراض ده چې واردیږي په عدم ذکر د تمیز د واحد او اثنان سره د کیدو د دې دواړو نه د اسماء عدد نه عند النحات.

سوال: ولایمیز الخ مدعی ده او استغناء بلفظ التمیز ورله دلیل دی او دا دلیل مطابق نه دی د مدعی سره ځکه د ولایمیز الخ نه معلومیږي چې واحد او اثنان ذکر کولي شي بې د تمیز نه ځکه د لا یمیز واحد معنی دا ده چې تمیز نه شي واقع کولي د واحد او د اثنان نو مطلب دا شو چې واحد او اثنان به ذکر کوی او تمیز به ورسره نه ذکر کوی او د دلیل نه معلومه شوه چې تمیز به ذکر کوی نه واحد او اثنان؟

جواب: دلیل مطابق دی د مدعی سره ځکه په لایمیز واحد واثنان کې ذکر د ملزوم دی او مراد ترینه لازم دی، یا لایمیز متضمن دی معنی د لا یذکر له فیکون المعنی لایذکر لواحدة واثنان تمیز بعدهما.

سوال: بلفظ التمیز نه معلومه شوه چې د واحد او اثنان لپاره تمیز شته او د لایمیز نه معلومه شوه چې د دې تمیز نشته نو په مابین د مدعی او دلیل کې منافات او تناقض راغي؟ **جواب:** ولایمیز الخ کې نفی د تمیز د واحد او اثنان لپاره کړې ده بالفعل او په دلیل کې یې اثبات د تمیز کړی دی بالقوه او په اعتبار د صلاحیت سره نه بالفعل او د تناقض لپاره وحدات ثمانیه شرط دی کما فی قوله الشاعر؛

در تناقض هشت وحدت شرط دان ‌‌ ‌ وحدت موضوع و محمول مکان

وحدة شرط واضافت جزء کل ‌ ‌ ‌ قوة و فعل است در آخر زمان

سوال: دا نور اسماء عدد تمیز غواړي نو واحد او اثنان تمیز ولي نه غواړي؟
جواب: دا باقي عدد دلالت کوی فقط په کمیت باندې نه په جنسیت باندې او تمیز د هغوی دلالت کوی فقط په جنسیت نه په کمیت باندې پس لابدي شوه د ذکر د اسم عدد او تمیز د دواړونه لپاره د دې چې معلوم شي سامع او مخاطب ته جنس او مقدار د عدد دواړه او د واحد او اثنان لپاره چې کوم لفظ صلاحیت د تمیز لري لکه رجل او رجلان شو دا په اعتبار د ما دی سره دلالت کوی په جنست باندې او په اعتبار د هئیت سره دلالت کوی په کمیت باندې نو ذکر د واحد او اثنان ته ضرورت پاتې نه شو او دا مقصد د دې قول د مصنف دی چې لافادة النص المقصود بالعدد؟
سوال: استغناء منصوب دی او منصوبات دوولس دی دا کوم قسم دی؟ **جواب:** دا منصوب دی بنابر مفعول له
سوال: دا به خالي نه وي یا به یې مفعول له وائي د نفی لپاره چې لادی او یا به یې مفعول له وائي د منفی لپاره چې یمیز دی دا دواړه نه دی صحیح، که مفعول له یې وائي د نفی لپاره نو دا نه دی صحیح د دوه وجونه یو وجه منطقی ده او بله وجه نحوی ده (۱) منطقی وجه دا ده چې مفعول له د حرف لپاره نه واقع کیږي ځکه مفعول له علت وی او معانی د حروفو معلول بالعلت نه وي او وجه نحوی دا ده چې مفعول له راځي د فعل لپاره دا فعل عام دی که لفظا وی او که تقدیرا وی نه د حرف لپاره ځکه مفعول له عند النحات ما فعل لاجله فعل مذکور ته وائي، او که مفعول له یې منفی لپاره وائي چې یمیز دی نو بیا لازمیږي فساد د معنی، ځکه دا قانون دی چې نفی چې داخله شي په یو کلام باندې او هغه مقید وی په یو قید سره نو دا نفی قید ته متوجه کیږي او مقید باقي پاتې کوی بنا په دې قانون باندې الاولګیدو نفی د استغناء یې وکړه او یمیز یې باقي پاتې کړو فیکون المعنی لایذکر لواحد واثنان تمیز بعدهما لاجل الاستغناء بل شئ اخر، او دا معنی باطله ده
جواب: (۱): دا مفعول له دی د نفی لپاره چې لادی ځکه دا بمعنی انتفی دی فیکون المعنی انتفی ذکر تمیز الواحد والاثنین بعدهما استغناء بلفظ التمیز عنهما لیکن دا جواب کمزوري دی ځکه په دې باندې اعتراض واردیږي چې استغناء مفعول له دی منصوب بتقدیر اللام او مفعول له چې منصوب بتقدیر اللام راځي نو هغه مشروط دی شروط ثلاثه ؤ سره (۱) مصدر به وی (۲) متحد به وی د فعل سره په زمانه کې (۳) متحد به وی ـ فعل سره په فاعل کې، او دلته اتحاد فی الفاعل نشته ځکه د انتفی لپاره فاعل ذکر دی او د استغناء فاعل متکلم دی **جواب:** دا بناء دی په مذهب د هغه چا باندې چې مفعول له منصوب بتقدیر اللام مطلقا جائز وائي (۲) استغناء مفعول له لما تضمنه معنی لایمیز واحد بحذف المضاف لاللنفی والمنفی ای ترک تمیز الواحد و اثنین مخافة لزوم الاستغناء (۳): دا مفعول له دی د فعل محذوف لپاره ای لایمیزان والا یلزم ترکهما استغناء بلفظ التمیز (۴): د. مفعول له دی د فعل منفي لپاره چې یمیز دی او نفی چې داخله شي په یو کلام باندې او هغه مقید وی په یو قید باندې نو دا نفی د قید کوی دا قاعده کلیه نده بلکه اکثریه ده، په دې کې درې صورتونه دی (۱) غالبا نفی د قید کوی نحو ما رایت زیداً قائماً (۲) او کله نفی،

مقيد او مقيد دواړه کوي کما في قوله تعالی ﴿ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ ﴾ (۳) او کله نفی د مقيد او قيد باقي پاتې وي کما في قوله تعالی ﴿ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَىٰ مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴾ او دا ترکيب د کوي او قيد باقي پاتې وي کما في قوله تعالی ولم يصروا علی ما فعلوا و هم يعلمون نه دی نو نفی د مقيد يې کړې ده چې مصنف د قبيلې د ولم يصروا علی ما فعلوا و هم يعلمون نه دی نو نفی د مقيد يې کړې ده چې بېنز دی او قيد يې باقي پاتې کړي دی چې استغناء دی.

وتقول في المفرد من المتعدد: **ربط:** هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د استعمال خلاف القياس د اسماء عدد نه چې دا يو حکم وو د احکام مختصه د اسماء عدد نه نو شروع يې وکړه په بيان د جوړولو د اسم فاعل کې د ماده جامده نه چې دا دويم حکم دی د احکام مختصه د اسماء عدد نه.

پس زده کړه دا خبره چې اسم فاعل چې جوړ کړې شي د اسم عدد نه دا په دوه قسمه دی (۱) يو اسم فاعل بيان التصير دی (۲) او دويم اسم فاعل بيان الحال دی، اسم فاعل بيان التصير ديته وائي چې دلالت کوي په يو باندې هغه يو چې ګرځوي عدد انقص لره د مشتق منه نه زائد په يو سره په سبب د انضمام د دې يو عدد انقص د مشتق منه سره، او علامه د دې دا ده چې شروع کيږي د دوه نه د يو نه ځکه د يو لاندې بله مرتبه د عدد نشته چې دا زياتی راولي په هغې کې (۲) علامه يې دا ده چې دا تر عشرو پورې راځي او په مرکبات کې نه راځي ځکه دا دلالت کوي په حدث باندې نو دا مشابه شو د فعل سره نو دا به جوړيږي د هغه مادی نه چې د کومې مادی نه فعل جوړيږي او فعل جوړيږي د احادونه نه د مرکباتو نه نو اسم فاعل بيان التصير هم جوړيږي د احادونه نه د مرکبات نه (۳) دريم علامه يې دا ده چې دا مضاف کيږي دون بالذات ته نه مساوي ته او نه مافوق ته ځکه مقصود په دې کې زيادت راوستل دی او زيادت په دون کې راځي نه په مساوي او مافوق کې مثال لکه ثالث اثنين.

ترجمه: هغه يو چې ګرځونکی دی دوه لره دريې، او اسم فاعل بيان الحال ديته وائي چې دلالت کوي په يو باندې هغه يو چې واقع کيږي په مرتبه معينه کې د مشتق منه د مضاف اليه نه، او علامه د دې دا ده چې دا شروع کيږي د واحد نه ځکه دا دلالت کوي په مرتبه معينه باندې او د واحد لپاره هم مرتبه معينه شته.

(۲): دويمه علامه يې دا ده چې دا راځي تر اخره پورې يعنی په مرکباتو کې هم راځي ځکه دا دلالت نه کوي په معنی مصدري باندې نو مشابه نه شو د فعل سره بلکه دلالت کوي په مرتبه باندې او مرتبه لکه څنګه چې په مفردات کې شته نو په مرکبات کې هم شته.

(۳): دريمه علامه يې دا ده چې دا مضاف کيږي مساوي يا مافوق ته نه ماتحت ته ځکه که ماتحت ته مضاف شي نو لازميږي کذب ځکه دا دلالت کوي په مرتبه معينه باندې او په ماتحت کې مرتبه معينه نشته مثال لکه ثالث ثلاثة.

ترجمه: هغه يو چې واقع دی په مرتبه معينه کې د دريو نه چې هغه دريم دی وتقول او وائي به ته **في المفرد** په واحد کې **من المتعدد** د متعدد د مشتق منه نه يو قول داسې قول چې متلبس وي **باعتبار تصييره** په اعتبار د ګرځولو د دې واحد هغه عدد لره چې انقص دی د مشتق منه د واحد نه زائد په دې باندې په يو سره.

اشاره ده دیته چې مفرد په معنی د
تشریح: تفسیر د مفرد چې په واحد سره وکړي شو نو په دې کې مشتق منه د واحد دی باعتبار
واحد سره دی مقابل د مثنی او د مجموع دی او د متعدد نه مراد
تصییره کې دا باء سببی ده او تصیر مصدر متعدي الی المفعولین دی او اضافت د مصدر زاغلی
دی فاعل ته چې ضمیر دی چې راجع دی مفرد بمعنی الواحد ته او مفعولین د مصدر دواړه حذف
شوی دی او دا مصدر مضاف سره د مضاف الیه نه مضاف الیه د مضاف دی، مضاف سره د
مضاف الیه نه مجرور د جار دی، جار سره د مجرور نه په اعتبار د متعلق محذوف سره صفت واقع
شوی دی د مفرد لپاره فیکون التقدیر فی الواحد من المتعدد الکائن باعتبار تصییره (۲) یا دا با
د تلبس لپاره ده او جار مجرور په اعتبار د متعلق محذوفه سره چې متلبسا دی صفت دی د
موصوف محذوفه چې قولا دی موصوف مع الصفت مفعول مطلق دی د تقول لپاره فیکون المعنی
وتقول فی المفرد من المتعدد قولا متلبسا باعتبار تصیره (۳) یا باعتبار تصیره صله د مفرد ده
یعنی دا جار مجرور ظرف لغوه متعلق دی مفرد پورې ځکه مفرد په معنی د افرد سره دی او الف
لام بمعنی الذی دی فیکون المعنی وتقول فی الذي افرد من المتعدد باعتبار تصیره ای باعتبار
تصیر ذلك المفرد عدداً انقص من عدده عددا زائد علیه بواحد.

الثاني والثانية الى العاشر والعاشرة: دا مقوله د تقول ده.

ترجمه: وائي به ته په دې واحد کې د مشتق منه نه په اعتبار د ګرځول د دې واحد کې عدد انقص لره
مشتق منه خپل نه عدد زائد په دې انقص باندې په یو سره **الثانی** ای ثانی الاول په مذکر کې، ترجمه،
(۱) ای مصیر الاول اثنین (۲) یعنی دو کننده یکی را (۳) یعنی هغه یو چې ګرځونکي دی اول لره دوه
والثانية او وائي به ته ثانیة الاولی په مؤنث کې (۱) ای مصیرة الاولی اثنتین (۲) یعنی دو کننده یکې را
(۳) یعنی هغه یوه چې ګرځونکي ده اولی لره دوه **الی العاشر** د عاشر پورې په مذکر کې نحو عاشر التسع
ای مصیر التسع عشر یعنی ده کننده نه را، هغه یو چې ګرځونکي دی نهه لره لس، **والعاشرة** او د عاشرة
پورې په مؤنث کې نحو عاشرة التسعة ای مصیر التسعة عشرة هغه یوه چې ګرځونکي دی نهه لره لس
لاغیر او نه به وائي ته اسم فاعل بیان التصیر په غیر د دې مذکور کې ځکه ماقبل د ثانی او د ثانیة نه
اول او اولی دی او د دې نه لاندې بله مرتبه د عدد نشته چې دی پکې زیادت راولي، او مابعد د عاشر
او عاشرة نه مرکبات دی او د هغې نه فعل نه جوړیږي چې د هغې نه مونږه جوړ کړو اسم فاعل بیان
التصیر د دې نه معلومه شوه چې اسم فاعل بیان التصیر شروع کیږي د دوه نه او ختمیږي په لس
باندې د دوه نه ماتحت کې او د لسو نه بره کې نه راځي او اضافت د اسم فاعل بیان التصیر کیږي
ماتحت یعنی دون بالذات ته ځکه دی زیاتی راولي په ماتحت کې او مافوق او مساوی ته نه مضاف
کیږي، **اولا غیر** مبني علی الضمه دی او وجه د دې مخکې تیره شوې ده او په الی العاشر والعاشرة کې
الی اسقاطیه دی او صدر د کلام متناول دی مدخول د الی لره ځکه عبارت د مصنف په حذف د
معطوف سره دی ای وهکذا تقول الی العاشر الخ **وباعتبار حالة** دا عطف دی په باعتبار التصیره باندې
او قاعده دا ده چې ماقبل د معطوف علیه معاد وی د معطوف سره فیکون التقدیر وتقول فی المفرد

من المتعدد باعتبار حاله، وائي به ته په واحد کې د مشتق منه نه **باعتبار حاله** په اعتبار د بیان د مرتبه د دې واحد کې **الاول** په مذکر کې کله چې واقع شي په مرتبه اولی کې **والثانی** او وائي به ته په مذکر کې کله چې واقع شي په مرتبه ثانیه کې لکه وېلې دی صاحب د تلخیص المفتاح الفن الاول علم المعانی والفن الثانی علم البیان ځکه علم معانی واقع شوی دی په مرتبه اوله کې د مقاصدو بالذات د دغه کتاب نه نو د هغې توصیف وشو په الاول سره او علم بیان واقع شوی دی په مرتبه ثانی کې د مقاصدو بالذات د دې کتاب نه د هغې توصیف وشو په الثانی سره **والاولی** او وائي به ته په الاولی په مؤنث کې کله چې واقع شي په اوله مرتبه کې **والثانية** او وائي به ته الثانية چې کله واقع شي په مرتبه ثانیه کې **الاول** والاولی ای وویل نه الواحد او الواحدة ځکه هغه دلالت نه کوي په هغه مرتبه باندې چې اول واقع وی پس ذکر کړې شو په بدل د واحد کې الاول او په بدل د د واحدة کې الاولی د وجې د دلالت کولو نه په مرتبه معینه باندې **الی العاشر** تر عاشر پورې په مذکر کې او د عاشرة پورې په مؤنث کې **والحادی عشر** دا عطف دی په الاول باندې فیکون التقدیر وتقول فی المفرد من المتعدد باعتبار حاله الحادي عشر په مذکر کې په تذکیر د جزئین سره او الحادية عشرة په مؤنث کې په تانیث د جزئین سره.

ترجمه: یوولسم د یوولسو نه **والثانی عشر** په مذکر کې په تذکیر د جزئین سره والثانية عشرة په تانیث د جزئین سره په مؤنث کې دا به وائي الی التاسع عشر فی المذکر والتاسعة عشرة فی المؤنث ځکه اسم فاعل چې جوړ شي د اسم عدد نه نو هلته دا عدد مستعملولي شي موافق القیاس په دې شان سره چې په مذکر کې به مذکر وائي او په مؤنث کې به مؤنث وائي، ځکه هلته په استعمال خلاف القیاس باندې باعث موجود وو چې موافقت دی بین العدد والمعدود او دلته په استعمال خلاف القیاس باندې باعث نشته.

(۲): اسم فاعل بیان التصیر د مرکبات نه نه راځي او اسم فاعل بیان الحال راځي، او اسم فاعل بیان الحال د مجموعه مرکب نه جوړول ممکن نه دی ځکه چې وزن د فاعل حروف د مرکب په خپل ځان کې نه شي ځاي کولي او که بعض حروف د هر جز د مرکب نه واخلو دا موهم د التباس دی په دې شان سره چې بعض حروفو د جز اول باندې زمونږه نظر ولګي نو دا ګمان زمونږه کیږي چې دا د جز اول د مرکب نه مشتق دی، او که په بعض حروف د جز ثانی باندې مو نظر ولګي نو دا ګمان مو کیږي چې دا د جز ثانی د مرکب نه جوړ شوی دی لهذا دوی اقتصار وکړو په بناء د اسم فاعل من المرکب علی احد الجزئین پس مختار یې کړه بنا د اسم فاعل د جز اول د مرکب نه لیدل علی المقصود من اول الامر.

(۳): د اسم عدد نه چې اسم فاعل جوړ شي د بیان الحال لپاره یا د بیان التصیر لپاره نو دا تمیز نه غواړي نحو قوله تعالی ﴿ ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ ﴾ په دې ایت کې اسم فاعل بیان الحال ذکر شوی دی او تمیز ورسره نه دی ذکر ځکه دا تمیز نه غواړي

(۴): څلورم اسم فاعل بیان التصیر اسم فاعل دی لفظا او معنا او اسم فاعل بیان الحال جامد دی په شان د حائط باندې خو صورة یې صورة د اسم فاعل دی.

اضافت د اسم فاعل راغلي دی
(۵): اضافت د اسم فاعل بیان التصییر اضافت لفظی دی ځکه چې اضافت د صفت
معمول خپل ته او اضافت د اسم فاعل بیان الحال اضافت معنوی دی ځکه چې اضافت د
معمول ته نه دی راغلي، **ومن ثمّ** د وجی د اختلاف د اعتبارینو نه چې یو اعتبار د تصییر دی او بل
اعتبار د حال دی اختلاف راغلي په اضافت د دې دواړو کې یا اختلاف راغي په مضاف الیه د اسم
فاعل بیان الحال او اسم فاعل بیان التصییر کې او د وجی د اختلاف د اضافت د دې دواړو نه یا د
وجی د اختلاف د مضاف الیه د دې دواړو نه **قیل** ویلي شوی دی **فی الاول** په اعتبار اول کې چې هغه
اسم فاعل بیان التصییر دی **ثالث اثنین** په اضافت د اسم فاعل بیان التصییر سره دون بالذات ته ای
مصیر هما ثلاثة یعنی هغه یو چې ګرځونکي دی دوه لره درې او **ثالث** اسم فاعل بیان التصیر
ماخوذ دی او جوړ شوی دی **من ثلثتهما** د ثلثتهما نه بالتخفیف او د ثلثتهما ترجمه دا دی چې
صیرت الاثنین ثلاثة **وفی الثانی** ویلي شوی دی په اعتبار ثانی کې چې هغه اسم فاعل دی د بیان
حال لپاره **ثالث ثلاثة** په اضافت د اسم فاعل بیان حال سره مساوی خپل ته ترجمه د دې په عربی کې
احدها دی ای احد الثلاثة یعنی هغه یو چې واقع شوی دی په مرتبه معینه کې د دریو نه چې هغه
دریم دی پس زده کړه دا خبره چې په اضافت د اسم فاعل بیان التصییر کې احتمالات عقلیه پنځه
دی (۱) اضافت الی المساوی (۲) الی الفوق بالذات (۳) الی الفوق بالواسطه (۴) الی دون
بالواسطه (۵) الی دون بالذات، په دې کې صرف دا پنځم احتمال چې اضافت دی دون بالذات ته
موجود دی په خارج کې او دا نور څلور واړه مجرد احتمالات عقلیه دی، درخارج وجود ندارد، او
په اضافت د اسم فاعل بیان الحال کې هم احتمالات عقلیه پنځه دی لیکن درې موجود دی په
خارج کې (۱) اضافت الی المساوی (۲) الی الفوق بالذات (۳) الی الفوق بالواسطه، او دوه مجرد
احتمالین علقین دی وجود نه لري په خارج کې چې اضافت دون بالذات او دون بالواسطه دی.

وتقول حادی عشر احد عشر: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د حکم مختصه ثانی د اسماء
عدد نه نو شروع یې وکړه په بیان د حکم ثالث مختصه د اسماء عدد کې چې هغه اضافت د مرکب
الی المرکب دی نو وی ویل وتقول الخ

ترجمه: وائي به ته حادی عشر احد عشر په اضافت د مرکب الی المرکب سره یعنی یولسم د یولسو
نه **علی الثانی** په اعتبار ثانی باندې چې هغه اسم فاعل بیان الحال دی **خاصة** (۱) په حال کون د دې
اعتبار ثانی کې چې مختص دی په مرکب پورې او تا راغلي ده د مبالغی لپاره (۲) یا خاص کړې
شوی دی دا اعتبار ثانی په دې مرکب پورې په خاص کولو سره او نه دی مجاوز اسم فاعل بیان
التصییر ته ځکه چې هغه د مرکب نه نه راځي

تشریح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟
جواب: ربط د ماقبل سره دا دی چې مصنف اسماء عدد ذکر کړې وو لپاره د بیان د احکام مختصو
او احکام مختصه د اسماء عدد درې وو (۱) استعمال خلاف القیاس (۲) جوړول د اسم فاعل د
مادی جامدی نه (۳) اضافت مرکب الی المرکب، نو دا دوه حکمونه مختصه بیان شو اوس د دې

ځای نه حکم ثالث مخص د اسماء عدد بیانوی چې اضافت د مرکب الی المرکب دی او په دې سره غرض د مصنف هم معلوم شو چې بیان د حکم ثالث دی (۱) اضافت المرکب الی المرکب جائز دی په اسماء عدد کې عند البصریین او د کوفیانو په نزد نه دی جائز (۲) او اضافت د عدد زائد په عشر باندې جائز نه دی په نزد د بصریانُ او کوفیانو په نزد باندې جائز دی خمسة عشر (۳) دخول د الف لام په مرکب باندې جائز نه دی عند البصریین او د کوفیانو په نزد باندې جائز دی نحو الخمسة عشر درهما، حادی عشر احد عشر مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول به دی د تقول لپاره منصوب محلا دی ځکه لفظا دا دواړه مبني علی الفتحه دی وعلی الثانی متعلق دی په تقول پورې.

سوال: خاصة په ترکیب کې څه واقع شوی دی؟ جواب: دا منصوب دی بنابر حالیت د اعتبار ثانی نه

سوال: مطابقت نشته بین الحال و ذی الحال ځکه ثانی مذکر دی او خاصة مؤنث دی؟

جواب: دا تاء د مبالغی لپاره ده نه د تانیث لپاره (۲) یا دا خاصة منصوب دی بنابر مفعول مطلق د فعل مقدر او محذوف لپاره فیکون التقدیر خص الاعتبار الثانی بالمرکب خصوصا او دا جمله معترضه ده او ذکر کړي یې ده یو مقصد لپاره هغه دا دی چې اسم فاعل بیان الحال په مرکب کې راځي او اسم فاعل بیان التصییر پکې نه راځي.

سوال: ته وائې چې دا منصوب دی بنابر مفعول مطلق نو مفعول مطلق خو مصدر د فعل مذکور ته وائي او دا خو مصدر نه دی بلکه اسم فاعل دی؟ جواب: هر اسم چې په وزن د فاعل یا فاعلة راشي نو هغه اسم فاعل نه وي بلکه کله په دې وزن باندې مصدر هم راځي نو دا خاصة هم مصدر دی بمعنی الخصوص.

سوال: مصدر چې راغلي وی په وزن د فاعلة باندې په کلام د عربو کې ما ته مثال وښایه علاوه د خاصة نه؟ جواب: یو نه بلکه څلور مثالونه به درته وښایم عافیة، عاقبة، باقیة، کاذبة، **وان شئت قلت حادی احد عشر** او که ستا خوښه وی نو په حادی عشر احد عشر کې حادی احد عشر ووایه په حذف د جز ثانی سره د مرکب اول نه د وجې د اکتفاء نه په جز ثانی باندې په مرکب ثانی کې تر **تاسع تسعة عشر** پورې نه په معنی کې تغیر نه راځي بلکه لکه څنګه چې د حادی عشر احد عشر ترجمه دا وه چې یوولسم د یوولسو نه نو د دې ترجمه هم دغه ده البته په حکم کې تغیر راځي **فتعرب الاول** معرب کوی به ته جز اول د دې مرکب اول لره د وجې د انتفاء د علت د بناء نه چې هغه ترکیب دی او مبني کولي شي جزآن باقیان د مرکب ثانی چې مضاف الیه واقع شوی دی د مرکب اول لپاره د د وجې د وجود د علت د بناء نه په دې دواړو کې چې هغه ترکیب دی.

للذکر والمؤنث: ربط: (۱): هر کله چې فارغ شو مصنف د تقسیم د اسم نه ثالثاً عدد او غیر عدد ته نو شروع یې وکړه په تقسیم د اسم کې رابعا مذکر او مؤنث ته او هر کله چې د مذکر او مؤنث لپاره احکام مختصه وو چې هغه ثابت دی د مذکر او مؤنث لپاره نه د غیر لپاره نو تقسیم یې وکړو د اسم مذکر او مؤنث ته لپاره د بیان د احکام مختصو او هر کله چې ذکر شو په مراتُ او کرات سره مذکر او مؤنث په بحث د اسماء عدد کې نو د دې وجې نه ذکر کړو مصنف مذکر او مؤنث د اسماء عدد نه وروستو.

(۲): یا هر کله چې ذکر شو مذکر او مؤنث په اسماء عدد کې نو معترض اعتراض وکړو په مصنف باندې چې مذکر څه ته وائي او مؤنث څه ته وائي نو مصنف اول تقسیم د اسم وکړو مذکر او مؤنث ته او د هغې نه بعد یې تعریف د مذکر او مؤنث وکړو، او هر کله چې مذکر اصل وو د مؤنث نه په اعتبار د ذات سره نو مقدم یې کړو په مؤنث باندې په جانب د اجمال کې، او هر کله چې تعریف د مؤنث وجودي وو او تعریف د مذکر عدمي وو او وجودي اشرف وی د عدمی نه نو مقدم یې کړو مؤنث په مذکر باندې په تفصیل کې

تشریح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: د دې ربط په دوه طریقو سره دی (۱) یو دا چې مخکې مصنف تقسیم کړي وو اسم عدد او غیر عدد ته دا بل تقسیم د اسم دی مذکر او مؤنث ته او په دې سره غرض د مصنف هم معلوم شو چې تقسیم د اسم دی رابعاً نوعین ته.

سوال: چې دا تقسیم د اسم رابعاً مذکر او مؤنث ته ولې کوي باوجود د دې نه چې دا داخل دی په معرب او مبني کې؟ **جواب:** هر کله چې د دې لپاره احکام مختصه وو نو دا یې ذکر کړل لبیان الاحکام

سوال: دا یې د اسماء عدد نه وروستو متصل ولې ذکر کړه؟ **جواب:** هر کله چې ذکر شو په اسماء عدد کې مذکر او مؤنث نو د دې مناسبت د وجې نه یې وروستو متصل بلافصل ذکر کړه (۲) یا ربط دا دی چې دا جمله مستانفه ده جواب د سوال دی ځکه هر کله چې ذکر شو مذکر او مؤنث اسماء عدد کې نو معترض اعتراض وکړو چې مذکر او مؤنث څه ته وائي نو مصنف اول تقسیم د اسم وکړو مذکر او مؤنث ته او بیا تعریف د هر یو کوی

سوال: په جانب د اجمال کې مذکر مقدم دی نو په تفصیل کې یې مؤنث ولې مقدم کړو؟

جواب: (۱): هر کله چې مذکر اصل وو د مؤنث نه باعتبار الذات یا اسبق وو وجود نو مقدم یې کړو په جانب د اجمال کې او هر کله چې مفهوم د مؤنث وجودي وو او مفهوم د مذکر عدمي وو او وجودي اشرف وی نو مقدم یې کړو مؤنث (۲) یا یې مؤنث مقدم کړي دی په جانب د تفصیل کې مخص لپاره د اختصار فی البیان په مذکر کې ځکه چې اول یې د مؤنث بیان وکړو نو د مذکر بیان وشو په بخلافه سره لکه چې اعراب تقدیری یې مقدم کړي وو په لفظی باندې للاختصار (۳) یا مؤنث یې مقدم کړي دی په مذکر په جانب د تفصیل کې لپاره د دې چې مصنف شروع وکړي په بیان باندې د قریب نه ځکه مذکر بعید دی او مؤنث قریب دی.

سوال: ته وائي چې اسم دوه قسمه دی (۱) مذکر (۲) مؤنث، نو دا خو تعمیم د قسم راغي د مقسم نه په دې شان سره چې ضرب مذکر دی او اسم نه دی او ضربت مؤنث دی او اسم نه دی؟

جواب: مطلق اسم مقسم دی او اسم مذکر او اسم مؤنث قسمین دی نو مذکر فی المتن قیدین د قسمین دی نه قسمین یعنی مطلق اسم په دوه قسمه دی (۱) اسم مذکر (۲) او بل اسم مؤنث

سوال: المذکر والمؤنث څه ترکیب دی؟ **جواب:** په دې کې تراکیب ثلاثه دی (۱) المذکر والمؤنث خبر د مبتداء محذوف دی په اعتبار د حذف د مضاف سره فیکون التقدیر هذا بحث المذکر والمؤنث

يا دا مبتداء حذف شوه بحث المذكر والمؤنث پاتې شو، بيا دا مضاف هم حذف شو نو المذكر والمؤنث شو (٢) يا دا مبتداء ده او خبر يې حذف دی فيكون التقدير المذكر والمؤنث هذان يا اذكرهما (٣) يا دا منصوب دی بنابر مفعول به د فعل مقدر ای ع المذكر والمؤنث.

المؤنث ما فيه علامة التانيث: ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د اجمال نه نو شروع يې وكړه په تفصيل كې نو وی ويل المؤنث الخ.

ترجمه: اسم مؤنث عند النحات **ما** اسم دی داسې اسم چې موجود وی **فيه** په دې اسم كې **علامة التانيث** علامه د تانيث برابره خبره ده چې ملفوظه وی او كه مقدره وی مثال د تقديري لكه شمس (ض) عين دار، او دا لفظا عام دی حقيقة وی لكه ظلمة ناقة ضاربة، يا حكما وی لكه عقرب چې دا مؤنث سماعي دی او علامه د تانيث پكې موجود ده حكماً چې حرف رابع دی څكه هغه تاء د تانيث نه ظاهرېږي په تصغير كې لپاره د دې چې لازم نه شي اجتماع بين النائب والمنوب او لپاره د دې چې لازم نه شي اجتماع د علامتي د تانيث.

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی؟ **جواب:** دا مخكې اجمال وو او دا تفصيل دی او كلمه د ما د لته عبارت دی د اسم نه او په تنكير د اسم كې اشاره ده موصوفيت د ما ته څكه چې واقع دی په جانب د خبر كې الخ.

سوال: دا ما عبارت د اسم نه ولې دی؟ **جواب:** څكه چې معتبر په تعريفاتو د اقسامو كې جنس قريب دی او جنس قريب د دې لپاره اسم دی او لفظ او شئ اجناس بعيده دی.

(٢) يا ما عبارت دی د اسم نه څكه دا مطلق اسم مقسم دی د اسم مذكر او مؤنث لپاره او مقسم معتبر وی په تعريفات د اقسامو كې (٣) يا ما عبارت دی د اسم نه مقصد په دې سره دفع د اعتراض ده اعتراض دا دی چې ته وائې چې مؤنث هغې ته وائي چې علامه د تانيث پكې وی او علامات د تانيث تا درې بيان كړی حالانكه علامه د تانيث بله هم شته چې فرج دی؟

جواب: دلته مراد اسم مؤنث دی او د اسم مؤنث لپاره علامات دغه درې دی او فرج علامه د ذات د مؤنث ده او دی سره بل اعتراض هم دفع شو اعتراض دا دی چې ته وائې چې علامات د تانيث څلور دی دا خبره نده صحيح بلكه علامات د تانيث اته دی څلور دا دی او څلور نور دی:

(١) تاء تانيث ساكنه نحو ضربت (٢) تاء تانيث متحركه فی الاول نحو تضرب (٣) نون نحو ضربن (۴) يا نحو اضربي وتضربين.

جواب: علامات د تانيث دوه قسمه دی (١) فی الاسم (٢) فی الفعل، دلته ما علامات د تانيث د اسم بيان كړی دی او هغه څلور دی او دا باقي څلور علامات د تانيث په فعل كې دی.

سوال: تعريف د مؤنث جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو د دې نه عقرب حايض او رجال دا درې واړه مؤنث دی څكه د دوی سره معامله كولې شي په استعمال د كلام د عربو كې معامله د مؤنث او علامه د تانيث پكې نده موجود نه لفظا او نه تقديرا عدم وجود لفظا خو ظاهر دی او تقديرا څكه نشته چې په تصغير كې نه ښكاره كېږي؟ **جواب:** علامه د تانيث لفظا عامه ده كه حقيقة وی

لکه ضاربة او حکما وی لکه عقرب دلته دا جرف رابع په منزله د تاء تانیث دی ځکه دا تاء د ی
ظاهریږي په تصغیر کې لپاره د دې چې لازم نه شي جمع بین النائب والمنوب او لازم نه شي جمع
علامتي د تانیث او حایض صفت مختصه د مؤنث دی او رجال مؤنث حقیقتا نه دی بلکه مؤنث
دی تاویلا او دا تعریف د مؤنث غیر مؤل دی. **والمذکر بخلافه** او اسم مذکر د نحویانو په اصطلاح
کې متلبس دی په مخالفت د مؤنث سره یعنی اسم مذکر عند النحات هغه اسم ته وائي چې نه وي
موجود په اسم کې علامه د تانیث نه لفظا نه تقدیر او نه حکماً مثال لکه رجل او جعفر شو دا دواړه
اسمین مذکرین دی ځکه چې په دې کې نده موجود علامه د تانیث نه لفظا نه تقدیر نه حکماً او
باء په بخلافه کې د تلبس لپاره ده او دا بخلافه جار مجرور ظرف مستقر په اعتبار متعلق محذوف
سره چې متلبس دی خبر واقع شوی دی د مبتدا لپاره چې المذکر دی.

وعلامة التانیث الخ: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د تعریف د مؤنث نه نوشروع یې وکړه په بیان د
علامه د تانیث کې ځکه چې وضاحت د معرف موقوف دی په جمیع اجزاؤ د تعریف پورې او یو جز
د اجزاؤ د تعریف د مؤنث نه علامه د تانیث ده نو مؤنث به مؤنزه هله وپیژنو چې علامه د تانیث
وپیژنو پس لابدي شوه د بیان د مصداق د علامه د تانیث نه نو وویل مصنف چې وعلامة التانیث
التاء (۲) یا دا جمله مستانفه جواب د سوال دی هر کله چې مصنف تعریف وکړه د مؤنث او د اسم
مذکر چې مؤنث هغه اسم ته وائي چې په هغې کې موجود وی علامه د تانیث او مذکر هغه اسم ته
وائي چې موجود نه وي په هغې کې علامه د تانیث، نو معترض اعتراض وکړو چې علامه د تانیث
څه ته وائي نو مصنف جواب وکړو چې وعلامة التانیث الخ نو په معرفت د ربط سره غرض د
مصنف هم معلوم شو چې غرض او مقصد د مصنف په دې عبارت سره بیان د مصداق د علامه د
تانیث دی او په معرفت د غرض د مصنف سره دفع د اعتراض هم وشوه اعتراض دا دی چې تاسو د
اسم تقسیم وکړو اولا مذکر او مؤنث ته او د هغې تعریف دی هم وکړو نو علامه د تانیث ولې
بیانوی؟ **جواب:** علامه د تانیث مذکور ده په تعریف د اسم مؤنث او مذکر کې جزء او قاعده دا ده
چې معرفت د معرف موقوف وی په معرفت د جمیع اجزاؤ د تعریف پورې نو مذکر او مؤنث به مونږ
هله وپیژنو چې علامه د تانیث وپیژنو نو ځکه مصنف د دې مصداق بیانوی.

ترجمه: وعلامة التانیث. علامه د تانیث په اسم کې **التاء** تاء زائده متحرکه مدوره ده چې بدلیږي په
حالت د وقف کې په هاء سره او محض ده په تانیث کې او مخکې د هغې نه بناء علی الفتحه واجب
ده، بیا دا عامه ده چې ملفوظه وی لکه ضاربة یا مقدره وی لکه ارض شو **والالف** او بله علامه د
تانیث په اسم کې الف دی **مقصورة او ممدودة** برابره خبره ده چې دا الف مقصوره وی او که الف
ممدوده وی، الف مقصوره علامه د مؤنث په اسم کې هغه الف دی چې زائد به وی د غیر د الحاق
او د غیر د تکثیر د بناء لپاره بیا برابره خبره ده که په اسم کې وی لکه سلمی شو یا صفت کې لکه
حبلی شو او الف ممدوده علامه د تانیث په اسم کې هغه الف دی چې زائد به وی لپاره د غیر د
الحاق بیا برابره خبره ده که په اسم کې وی لکه صحراء که صفت کې وی لکه حمراء شو، او په دی

الف ممدوده کې دوه مذهب دی (۱) يو مذهب د سيبويه دی (۲) او دويم مذهب د بعض دی، سيبويه وائي چې علامه د تانيث دا همزه ده څکه حمراء اصل کې حمرا وو په الف مقصوره سره چې دا علامه د مؤنث وو بيا بل الف د دې نه مخکې زيات کړي شو لپاره د مد د صوت بيا التقاء د ساکنين راغله بين الفين نو دا دويم الف چې علامه د مؤنث وو بدل شو په همزی سره نو حمراء شو او حذف ونه کړي شو لپاره د دې چې غرض فوت نه شي چې مد د صوت دی.

سوال: هر کله چې علامه د مؤنث دا همزه ده نه الف نو په دې همزی باندې اطلاق د الف ولي کيږي؟

جواب: اطلاق د الف کيږي په همزی باندې مجازاً (۱) د وجی د علاقی د مجاورت نه (۲) يا په اعتبار د ماکانه سره په شان د دې قول د الله تعالی باندې ﴿ وَءَاتُوا۟ ٱلْيَتَـٰمَىٰٓ أَمْوَٰلَهُمْ ﴾ چې اطلاق د يتيم په بالغ باندې شوی دی په اعتبار د ماکان سره (۲) او مذهب د بعض دا دی چې علامه د مؤنث الف دی نه همزه ليکن محتار عندهُ مذهب د سيبويه دی نه مذهب د بعض څکه دا الف زياتی کړي شوی دی د مد د صوت لپاره نه لپاره د تانيث.

تشريح: سوال: ته وائي چې علامه د تانيث تاء او الف مقصوره او الف ممدوده دی نو دا خبره ستا منقوضه شوه په هذی او تی سره چې دا دواړه مؤنث دی او علامه د تانيث پکې ياء ده او دارنګې دا خبره ستا منقوضه شوه په ضربت، ضربن، تضربين، او تضرب سره ضربت مؤنث دی د تاء ساکنی د وجی نه او ضربن د نون د وجی نه او تضربين د ياء د وجی نه او تضرب د تاء د وجی نه چې په اول کې ده لهذا علامات د تانيث درې نه دی بلکه اته دی درې دا او پنځه هغه نو ته څنګه وائي چې علامات د تانيث دا درې دي په طريقې د حصر سره څکه مبتداء او خبر دواړه معرفی دی دا حصر فائده کوی نو معنی دا شوه چې علامات د تانيث دغه درې دی نه نوری او دا معنی باطله ده څکه علامات نور هم شته؟ **جواب:** اضافت د علامة التانيث ته اضافت عهد خارجي دی او مراد د علامه د تانيث نه علامه د تانيث ده په اسم کې نو په دې سره يې احتراز وکړو د تاء التانيث ساکنه او نون ياء او تاء متحرکه نه چې راځي په اول د مضارع کې څکه هغه علامات د تانيث نه دی په اسم کې بلکه علامات د تانيث دی په فعل کې، او هر چې دی هذی او تی نو دلته دا ياء علامه د مؤنث نده بلکه دا صيغې د مؤنث دی په شان د تان باندې.

سوال: ته وائي چې علامی د تانيث په اسم کې درې دی تاء، الف مقصوره، او الف ممدوده نو دا خبره ستا منقوضه شوه په ارض او عين سره دا مؤنث دی او تاء او الف مقصوره او ممدوده پکې نشته؟

جواب: تاء عامه ده که ملفوظه وی او که مقدره وی مثال د ملفوظې لکه ضاربةٌ او مثال د مقدرې لکه ارض شو، په دې کې تاء مقدره ده څکه اصل کې ارضة وو بيا پکې تاء مقدره شوه نو ارض شو. او دليل په دې باندې تصغير دی څکه سيد سند صاحب ويلي دی، زيراکر تصغير اسماء راباصل خود برد.

سوال: ته وائي چې تاء علامه د تانيث ده په اسم کې دا خبر ستا منقوضه شوه په ضربت سره دلته تاء علامه د تانيث ده په فعل کې؟ **جواب:** التاء کې الف لام عهد خارجي دی مراد د دې نه تاء زائده متحرکه مدوره چې بدليږي په حالت د وقف کې حاء سره او محضه وی په تانيث کې او د دې نه

مخکې بناء علی الفتحه واجب ده متحرکه سره یې احتراز وکړو د ساکنی نه ځکه هغه علامه د تانیث ده فعل کې او په محضه سره یې احتراز وکړو د تاء د مسلمات نه ځکه دا محضه نده په تانیث کې بلکه ځنګه چې علامه د تانیث ده نو دارنګې علامه د جمع هم ده او باقي قیودات سره یې احتراز وکړو د اخت او د بنت نه ځکه دا تاء د تانیث نده بلکه دا صیغه د دې صیغه د مؤنث ده لهذا احت او بنت چې علم وګرځولې شي د یو مذکر لپاره نو دا منصرف دی بالاتفاق د وجی د عدم وجود د سببین د اسباب د منع صرف نه او که علم وګرځولې شي د مؤنث لپاره نو په شان د هند دی غیر منصرف لوستل یې هم جائز دی لوجود السببین (۱) علمیة (۲) او تانیث معنوی او منصرف لوستل هم جائز دی ځکه چې شرط د وجوب د تاثیر د تانیث معنوی نشته چې هغه زیادت علی الثالثه او عجمه او تحرک الاوسط دی.

سوال: ته وائي چې الف مقصوره او ممدوده علامه د تانیث ده په اسم کې دا اوله خبره ستا منقوضه شوه په الفتی ارطی او قبعثری سره په دې شان سره چې په دې درې وارو کې الف مقصوره راغلي دی او مؤنث نه دی او دا دویمه خبره دی منقوضه شوه په کساء او رداء او علباء سره، په دې کې الف ممدوده شته او مؤنث نه دی بلکه مذکر دی؟ **جواب:** الف مقصوره چې علامه د مؤنث راځي نو هغه الف دی چې زائد به وی نو دی سره یې احتراز وکړو د الفتی نه ځکه په هغې کې دا الف اصلي دی چې بدل د یاء نه راغلي دی او زاید د الحاق لپاره به نه وي نو دی سره یې احتراز وکړو د ارطی نه ځکه په دې کې دا الف اګر که زائد دی لیکن زاید دی د الحاق لپاره نه د تانیث لپاره (۲) او زائد به نه وي د تکثیر د بناء لپاره نو احتراز راغي د قبعثری نه ځکه دلته اګر چې زاید دی خو د تکثیر د بناء لپاره دی او الف ممدوده علامه د تانیث هغه الف دی چې زاید وی نو په دې سره یې احتراز وکړو د کساء او رداء نه ځکه دا الف اصلي دی بدل د واو نه راغلي دی کساء کې او بدل د یاء نه راغلي دی په رداء کې او زائد به نه وي د الحاق لپاره نو احتراز راغلي د علباء نه ځکه دا اګر چې زائد دی خو د الحاق لپاره دی چې دا ملحق دی په قرطاس پورې او په دې سره یو بل اعتراض هم دفع شو اعتراض دا دی چې تاسو وائي چې الف ممدوده چې په اسم کې راشي نو دا قائم وی په مقام د سببین باندې د اسم غیر منصرف ګرځي نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په علباء باندې دلته الف شته او غیر منصرف نه دی او دارنګې تاسو وائي چې الف مقصوره چې کله په اسم کې راشي نو هغه غیر منصرف ګرځي نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په فتی سره، دلته الف راغلي دی او غیر منصرف نه دی؟ **جواب:** الف مقصوره او ممدوده د وجی نه چې اسم غیر منصرف ګرځي نو مراد د هغې نه هغه الف مقصوره او ممدوده دی چې علامه د مؤنث دی او الف مقصوره او ممدوده چې علامه د مؤنث راځي نو هغه الف مقصوره او ممدوده دی چې زائد وی اصلي نوی، او زائد للتانیث وی نه د الحاق او د تکثیر د بناء لپاره.

سوال: الف مقصوره ته مقصوره او ممدوده ته ممدوده ولې وائي؟ **جواب:** الف ممدوده ته ممدوده وائي د وجی د امتداد د صوت نه او مقصوره ته مقصوره وائي (۱) د وجی د قصر د صوت نه (۲) یا د وجی د حبس او منع د اعراب نه لفظا په دې باندې

وهو حقيقي ولفظي: ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د تعريف د مؤنث او مذكر نه او د بيان د علامات د تانيث نه په اسم كې نو شروع يې وكړه په تقسيم د مؤنث كې نو وى ويل وهو حقيقي ولفظي.
ترجمه: هو دا مؤنث **حقيقي ولفظي** حقيقي او لفظي دى.
وجه دحصر: دا ده چې دا مؤنث به خالي نه وي يا به د دې مقابل كې مذكر من الحيوان موجود وى او يا به نه وي كه موجود وو نو حقيقي ورته او كه نه وو نو لفظي ورته وائي.
فالحقيقي: ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د اقسامو د مؤنث نه اجمالا نو شروع يې وكړه په بيان د تعريف د اقسامو د مؤنث كې نو وى ويل فالحقيقي الخ، فاء په فالحقيقي كې تفصيلى ده ځكه د ماقبل اجمال وو او دا مابعد تفصيل دى او الف لام په الحقيقي كې عهد خارجي ذكري صريحى دى.
ترجمه: فالحقيقي پس مؤنث حقيقي عند النحات **ما** مؤنث دى په تنكير د مؤنث كې اشاره ده موصوفيت د ما ته لانه واقع فى جانب الخبر داسې مؤنث **بازائه** چې وى په مقابل د دې مؤنث كې ذكر مذكر داسې مذكر چې هغه كائن دى **من الحيوان** په جنس حيوان كې مراد د ذكر نه په دې مقام كې مقابل د انثى دى چې هغه مذكر دى نه خلاف د فرج چې قبل د رجل دى او په الحيوان كې الف لام جنسي دى مراد جنس حيوان دى او من په من الحيوان كې په معنى د فى سره دى مثال لكه امراة شو چې دا مؤنث حقيقي دى ځكه د دې مقابل كې مذكر من الحيوان شته چې رجل دى او بل مثال لكه **ناقة** شو دا هم مؤنث حقيقي دى ځكه مقابله كې يې مذكر من الحيوان شته چې جمل دى او تعدد د مثال بنا دى په تعدد د ممثل باندې چې امراة مثال د مؤنث حقيقي فى الاناسى دى او ناقة مثال د مؤنث حقيقي فى البهائم دى **واللفظي** او مؤنث لفظي متلبس دى **بخلافه** په خلاف د مؤنث حقيقي باندې يعنى مؤنث لفظي په اصطلاح د نحويانو كې هغه مؤنث ته وائي چې هغه په مقابل كې مذكر من الحيوان موجود نه وي او مؤنث لفظي ورته وائي د وجې د وجود د علامې د مؤنث نه په لفظ كې حقيقتا لكه ظلمة شو يا حكما لكه عقرب شو او يا تقديرا لكه عين شو.
تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دى او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دى؟
جواب: ربط د مخكې سره دا دى چې مخكې مصنف تعريف د مؤنث كړې وو او **وهو حقيقي الخ** سره تقسيم د مؤنث كوى او په دې سره غرض د مصنف هم معلوم شو چې تقسيم د مؤنث دى حقيقي او لفظي ته.
سوال: لكه څنګه چې مؤنث دوه قسمه دى (۱) حقيقي (۲) لفظي، نو دارنګې مذكر هم په دوه قسمه دى (۱) حقيقي (۲) لفظي، حقيقي هغه ته وائي چې په ماقبل كې يې مؤنث من الحيوان موجود وى لكه رجل او جمل شو، او لفظي هغه ته وائي چې ماقبل كې يې مؤنث من الحيوان نه وي موجود لكه قلم او كتاب شو، نو مصنف د مذكر تقسيم ولې ونه كړو حقيقي او لفظي ته او فقط د مؤنث تقسيم يې وكړو؟ **جواب:** دا اعتراض به تا هله كولې چې دا تقسيم بما هو تقسيم دلته مقصود بالذات وى ليكن دا مقصود بالذات نه دى بلكه ذريعه ده او تمهيد دى لپاره د بيان د احكامو د مؤنث حقيقي او لفظي په دې شان سره چې د فعل اسناد چې مؤنث حقيقي ته وشي نو د هغې جدا

احکام دی او چې اسناد د فعل مؤنث لفظی ته وشي د هغې جدا احکام دی په خلاف د قسمین د
مذکر نه چې په هغه باندې احکام نه دی مرتب نو ځکه ورته تقسیم ونه شو.

سوال: دا قسمین د مؤنث دواړه سواسي دی په قسميت کې نو دا حقیقی یې ولې مقدم کړو په لفظی
باندې؟ **جواب:** حقیقی یې مقدم کړو په لفظی باندې د وجې د اصالت نه (۱) ځکه دا مؤنث دی خلقتاً
او مصداقاً په خلاف د مؤنث لفظی نه چې دا مؤنث دی د جهت د لفظ نه نه د جهت د خلقت او
مصداق نه (۲) یا هر کله چې مفهوم د حقیقی وجودي وو او مفهوم د لفظی عدمی وو او وجودي
اشرف وی د عدمی نه نو ځکه یې مقدم کړو په مؤنث لفظی باندې اجمالاً او تفصيلاً.

سوال: **ما بازائه** کې کلمه د ما راغلي ده او دا د الفاظ عامه وونه ده دا د څه نه عبارت دی؟

جواب: دا عبارت دی د مؤنث نه.

سوال: دا عبارت د مؤنث نه ولې دی؟ **جواب:** معتبر په تعریفاتو کې جنس قریب وی نه جنس بعید او
حقیقی او لفظی لپاره جنس قریب مؤنث دی نه لفظ شئ ځکه دا اجناس بعیده دی (۲) یا ما عبارت دی د
مؤنث نه ځکه چې حقیقی او لفظی اقسام د مؤنث دی او مقسم معتبر وی په تعریفاتو د اقسامو کښې؟

سوال: چې ته وائي فالحقیقی ما بازائه ذکر من الحیوان نو ذکر راخي مقابل د فرج نو ذکر چې
مقابل د فرج واخلې نو لازمیږي فساد د معنی چې مؤنث حقیقی په اصطلاح کې هغه مؤنث ته وائي
چې د ده مقابل کې قبل د رجل من الحیوان وی او دا معنی خو باطله ده ځکه د مؤنث مقابل قبل د
رجل من الحیوان نه دی بلکه مقابل د مؤنث مذکر دی؟

جواب: دلته ذکر نه مراد مذکر دی چې مقابل د انثی دی نه قبل د رجل چې مقابل د فرج دی

سوال: من الحیوان جار مجرور په ترکیب کې څه واقع شوی دی؟

جواب: دا جار مجرور په اعتبار د متعلق سره ظرف مستقر صفت دی د ذکر لپاره.

سوال: توصیف د ذکر یې په من الحیوان سره ولې کړی دی؟ **جواب:** په دې سره یې احتراز وکړو د
انثی من النخل نه ځکه چې کجوره کې هم بعض مؤنث وی او د هغې مقابل مذکر کجورې هم
راخي لیکن تانیث د هغې حقیقی نه دی بلکه لفظی دی ځکه تانیث حقیقی هغه مؤنث کې چې
مقابل کې یې مذکر من الحیوان وی او دلته مذکر من الحیوان نشته.

سوال: من الحیوان کې دا من جاره دی او من جاره په استعمال د کلام د عربو کې په شلو معانیو
سره راخي دلته یې څه معنی ده؟ **جواب:** دا من ظرفیه دی یعنی بمعنی في دی او الف لام په الحیوان
کې جنسي دی فیکون المعنی ذکر کائن فی جنس الحیوان، برابره خبره ده چې علامه د تانیث
پکې لفظا موجوده وی لکه امرأة او ناقة شو او که نه وي لکه هند شو.

سوال: من بمعنی في چرته راغلي دی په کلام دعربو کې چې ته وائي چې دا من بمعنی في دی؟

جواب: او من بمعنی في راخي کما في قوله تعالی ﴿إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوْمِ ٱلْجُمُعَةِ﴾ ای في یوم الجمعة

سوال: د مؤنث حقيقي تعريف يې وکړه مابازائه ذکر من الحيوان سره نو داسې تعريف يې ولې ونه کړو چې فالحقيقي ما له فرج؟ **جواب:** (۱): دغسې تعريف يې ونه کړو لکراهة التلفظ عليه (۲) ځکه بيا تعريف د مؤنث نه مانع کيدو د دخول د غير نه داخليدو پکې خنثى مذکر چې علامه د مذکر پکې زياته وي ځکه د هغه سره فرج شته او مؤنث نه دی.

واذا اسند الفعل اليه فالتاء: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د تقسيم د مؤنث نه حقيقي او لفظي نه چې دا تمهيد وو لپاره د بيان د احکامو نو شروع يې وکړه په مقصود کې چې بيان د احکامو د مؤنث حقيقي او لفظي دی نو وی ويل اذا اسند.

ترجمه: کله چې نسبت وکړي شي د عامل متصرف متصل بلا فصل **اليه** (۱) دی مؤنث ته مطلقا عند الشارح الجامي دا مؤنث عام دی که حقيقي وی او که لفظي وی او که اسم ظاهر وی او که مضمر وی (۲) **اليه** اسم ظاهر د مؤنث حقيقي ته يا ضمير د مؤنث ته مطلقا عند الشارح الهندي **فالتاء** نو تا واجبه ده په هغه **فعل** کې چې مسند شوی دی دغه مؤنث ته، يا دغه **فعل** به متلبس وی په تاء سره وجوباً لپاره د دې چې دلالت وکړي سامع مخاطب ته په تانيث د فاعل باندې د اول وهلت نه او تانيث د فاعل سرايت کوی وجوباً تانيث د فعل ته د وجی د کمال امتزاج نه په ضمير د مؤنث کې او تانيث د فاعل سرايت کوی تانيث د فعل ته د وجی د قوت د تانيث نه په مؤنث حقيقي اسم ظاهر کې او اسم ظاهر مؤنث غير حقيقي کې جواز وجهين دی د وجی د عدم د کمال امتزاج نه په لفظ کې او د وجی د قصور د تانيث نه، تانيث د فاعل سرايت نه کوي تانيث د فعل ته وجوباً ځکه که لفظ ته گوري نو دغه مؤنث دی د هغې تقاضه دا ده چې فعل مؤنث کړي شي او که مصداق ته گوري د هغې تقاضه دا ده چې فعل مذکر کړه، وانت في ظاهر غير الحقيقي بالخيار او ته په اسم ظاهر د مؤنث غير حقيقي کې اختيار لرې په مابين د تاء راوړلو او نه راوړلو کې نحو طلع الشمس وطلعت الشمس.

تشريح: سوال: اليه کې دا ضمير چاته راجع دی؟ **جواب:** په دې کې دوه مذهبه دی: (۱): په نز د شارح هندي باندې دا راجع دی مؤنث حقيقي او ضمير د مؤنث ته نه مطلق مؤنث ته ځکه که دا ضمير راجع شي مطلق مؤنث ته بيا تناقض راځي په کلام د مصنف کې ځکه چې دا اذا اسند اليه الفعل فالتاء نه وجوب د تاء معلوميږي مطلقا او انت في ظاهر غير الحقيقي بالخيار نه جواز د وجهينو معلوميږي (۲): او په نيز د شارح جامي باندې دا ضمير راجع دی مؤنث ته مطلقا او تناقض په کلام د مصنف کې نشته، ځکه دا وانت في ظاهر غير الحقيقي په منزله د مستثنی دی ځکه د مصنف دا قانون دی چې کله اول يو حکم کلي ذکر کړي او دهغې نه بعد يو جزي ذکر کړي د هغې نه مخالف نو هغه په منزله د مستثنی باندې وی د هغه حکم کلي نه، نو معنی دا شوه چې اسناد د فعل وشي مؤنث ته نو تانيث د فعل واجب دی مطلقا ماسوی د اسم ظاهر د مؤنث غير حقيقي نه.

سوال: لکه څنګه چې د فعل اسناد وشي مؤنث ته نو تانيث د فعل واجب دی دارنګې د شبه فعل اسناد چې وشي مؤنث ته نو هم تانيث د شبه فعل واجب دی نو مصنف صرف فعل ولې ذکر کړه؟

جواب: دا اعتراض به تا هله كولي چې دا عبارت د مصنف بناء وی په حقیقت باندې لیکن دا بناء دی په مجاز باندې ذکر د خاص دی چې فعل دی او مراد ترینه عام دی چې عامل دی.

سوال: ته وائي چې اسناد د فعل وشي اسم ظاهر د مؤنث حقیقی ته تانیث د فعل واجب دی دا قاعده ستا منقوضه شوه په بئس المراة سره دلته تذکیر د فعل اولی دی د تانیث نه؟

جواب: الفعل کې الف لام عهد خارجي دی مراد د فعل نه فعل متصرف دی نو په دې سره احتراز راغي د فعل غیر متصرف نه هلته تذکیر د فعل اولی دی لان قصد الجنس فیه بین یعنی مقصود د متکلم دلته جنس مراه ده او جنس مذکر دی

سوال: ته وائي چې د فعل اسناد وشي اسم ظاهر د مؤنث حقیقی ته هلته تانیث د فعل واجب دی دا قاعده ستا منقوضه شوه په ضرب الیوم هند سره دلته فعل مذکر شوی دی؟

جواب: دلته مراد اسناد د فعل دی مؤنث ته متصل بلا فصل او که اسناد د فعل وشي مؤنث ته مع الفصل نو هلته جواز د وجهین دی ضرب الیوم هند او ضربت الیوم هند دواړه جائز دی، په دې شرط سره چې دا مشهور نه وو په مذکر کې او که مشهور وو په مذکر کې هلته تانیث د فعل واجب دی نحو ضربت الیوم زید اذا جعل زید علماللمؤنث فلایجوز ضرب الیوم زید او هر چې دی قال فلانة چې منقول دی د سیبویه نه دا شاذ دی، او چې د فعل اسناد وشي ضمیر د مؤنث ته مطلقا نو تانیث د فعل واجب دی برابره خبره ده که ضمیر د مؤنث حقیقی وی او که لفظی وی لکه هند ضربت او الشمس طلعت واما قول الشاعر؛ ولا ارض ابقل ابقالها فشاذ

یا دا عبارت په حذف د مضاف سره دی ای ولامکان ارض ابقل ابقالها او د فعل اسناد چې وشي ضمیر د مؤنث ته نو تانیث د فعل واجب دی خو په دې شرط سره چې دا ضمیر متصل وی نه منفصل او که ضمیر د مؤنث منفصل وو نو هلته تذکیر د فعل اولی دی د تانیث نه نحو هند ماقام الاهی، او که اسناد وشي د فعل اسم ظاهر د مؤنث حقیقی ته مع الفصل نو دا فصل به خالي نه وي یا به په الاسره راغلي وی او یا به بغیر د الانه وی که په الاسره فصل راغلي وو نو تذکیر د فعل اولی دی نحو ماذکی الافتاة ابن العلی، او که په بل شي سره وو نو تانیث اولی دی نحو ضربت الیوم هند.

سوال: فاعل د فعل چې ضمیر مؤنث راشي یا اسم ظاهر مؤنث حقیقی راشي نو تانیث د فعل واجب ولي دی، او فاعل د فعل چې اسم ظاهر مؤنث غیر حقیقی راشي نو جواز وجهین ولي دی؟

جواب: هر چې دی وجوب د تانیث د فعل په ضمیر د مؤنث کې نو د وجې د کمال امتزاج د ضمیر نه د فعل سره تانیث د فاعل سرایت کوی تانیث د فعل ته وجوبا او اسم ظاهر مؤنث حقیقی کې د وجی د قوت د تانیث نه سرایت کوی تانیث د فاعل تانیث د فعل ته وجوبا او په اسم ظاهر د مؤنث غیر حقیقی کې د وجی د عدم د کمال امتزاج نه او د وجی د قصور نه په تانیث کې تانیث د فاعل سرایت نه کوی تانیث د فعل ته وجوبا.

قصة ابي حنيفة و قتادة: قتاده کوفی ته داخل شو خلقو هغه ته وکتل نو هغه وویل چې سلوني عما شئتم، او امام ابو حنیفة په دغه مجلس کې ناست وو هغه سوال وکړو د نملة د سیلمان په باره کې چې اکان ذکرا ام انثی قتاده غلي شو نو امام ابو حنیفة وویل چې نمله د سلیمان علیه السلام مؤنث وو چا وویل چې من این عرفت فقال من کتاب الله تعالی وهو قوله تعالی ﴿ قَالَتْ نَمْلَةٌ ﴾ لو کانت ذکرا لقیل قال نملة کما یقال قال طلحة ځکه د فعل اسناد چې وشي مذکر ته نو تذکیر د فعل واجب دی بیا په دې کې خلاف دی بعض وائي نملة مؤنث دی لفظی نه حقیقی ځکه دا تاء فارقه ده بین الوحدة والجنس لابین المذکر والمؤنث او څوك وائي چې تانیث حقیقی دی

سوال: اذا اسند الخ شرط دی او فالتاء جزاء ده او جزا نه وي مگر جمله وي او دا مفرد دی؟

جواب: فالتاء خبر دی د مبتداء محذوف لپاره فیکون التقدیر فذلك الفعل متلبس بالتاء وجوباً او جمله اسمیه جزاء واقع شي د شرط لپاره نو فاء جزائیه راوړل پکې واجب دی (۲) یا دا مبتدا ده او خبر یې محذوف دی ای فالتاء واجبة فی فعله المسند الیه.

سوال: فالتاء فاعل د فعل محذوف لپاره ولې نه گرځوی ای فوجب التاء؟ **جواب:** دا ترکیب زه نه شم کولی ځکه جمله فعلیه چې جزا واقع شي او فعل پکې ماضی متصرف وی او په مقام د دعا کې نه وی او خالی وی د قد نه نو هلته فاء راوړل ممتنع دی نو معلومه شوه چې دا فاعل د فعل محذوف لپاره نه دی

وحکم ظاهر الجمع غیر المذکر السالم: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د حکم د هغه فعل نه چې اسناد یې شوی وو اسم ظاهر واحد مؤنث حقیقی ته یا ضمیر د واحد مؤنث ته نو شروع یې وکړه په حکم د هغه فعل کې چې اسناد یې شوی دی جمع اسم ظاهر ته او حکم د دې بیانوی په طریقه د تشبیه سره.

ترجمه: وحکم ظاهر الجمع حکم د هغه فعل چې د هغه اسناد شوی وی جمع اسم ظاهر ته **غیرالمذکر السالم** داسې جمع چې غیر وی د مذکر سالم نه په حال کون د دې جمع کې چې مطلقا یې واخلې بیا برابره خبره ده چې دا جمع مؤنث سالم وی او که مکسر وی او که اسم جمع وی او مکسر عام دی که جمع مذکر مکسر وی او که جمع مؤنث مکسر وی او برابره خبره ده که واحد د دې مؤنث حقیقی وی لکه نسوة او که مذکر حقیقی وی لکه رجال حکم د اسم ظاهر مؤنث غیر حقیقی دی په جواز د تانیث د فعل او دتذکیر د فعل کې په دې شان سره چې د فعل اسناد وشي اسم ظاهر جمع ته ماسوا د جمع مذکر سالم نه نو تذکیر د فعل هم جائز دی او تانیث هم جائز دی نحو قوله تعالی ﴿ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ ﴾ ﴿ وَقَالَ نِسْوَةٌ ﴾ ﴿ قَالَتِ الْأَعْرَابُ ﴾ ځکه دا جمع چې ماؤل کړي شي په جماعة سره دا مؤنث غیر حقیقی دی ځکه لفظا مؤنث دی نه معنی اوس که لفظ ته وگوري دا مؤنث دی نو فعل مؤنث کوه او که معنی ته وگوري نو دا مؤنث نه دی نو فعل مذکر کوه او که د فعل اسناد وشي جمع مذکر سالم ته نو تذکیر د فعل واجب دی نحو قام المسلمون فلا یجوز قامت المسلمون ځکه چې جمع مذکر سالم اشرف الجموع ده او تاویل د ده نه په جماعة سره نه دی جائز او هر چې دی ارضون او

سنون او بنون دا درې واړه جمع مذکر سالم د وجې د تغیر نه په بنا د مفرد کې ګرځیدلي دي جاري
مجرى د جمع مکسر، نو د دوی سره معامله کولي شي په استعمال د کلام د عربو کې معامله د
مکسر فلا یرد بقوله تعالی ﴿ءَامَنَتْ بِهِۦ بَنُوٓاْ إِسْرَٰٓءِيلَ﴾ وبقول الشاعر؛

لو کنت من مازن لم تستبیح ابلی بنو اللقیطة من ذحل ابن شیبانا

تشریح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟
جواب: ربط دا دی چې مخکې بیان د هغه فعل و شو چې اسناد یې شوی وو اسم ظاهر واحد مؤنث
ته یا ضمیر د واحد مؤنث ته اوس بیان د حکم د اسناد د فعل دی جمع اسم ظاهر ته او غرض د
مصنف هم معلوم شو او ظاهر الجمع من قبیل جرد قطیفة واخلاق ثیاب یعنی اضافت د صفت
راغلي دی موصوف ته.
سوال: غیر المذکر السالم صفت واقع شوی دی د الجمع لپاره او الجمع معرفه باللام ده او غیر
المذکر الخ نکره ده ځکه غیر د وجې د کمال توغل نه په ابهام کې نه معرفه کیږي په اضافت سره
معرفي ته نو مطابقت نشته بین الموصوف والصفة؟
جواب: دا صفت نه دی د الجمع لپاره بلکه دا بدل واقع شوی دې د الجمع نه.
سوال: نکره چې بدل واقع شي د معرفي نه فالنعت نحو بالناصیة ناصیة کاذبة او دلته خو د دې
توصیف نه دی شوی؟ جواب: دا قاعده په نکره محضه کې ده او دا نکره محضه نه ده بلکه نکره
مخصصه ده تخصیص یکې راغلي دی د اضافت د وجې نه (۲) یا غیر المذکر صفت دی د الجمع
لپاره او الجمع معرفه نده ځکه الف لام پکې زائد دی په شان د الف لام د اللئیم په دې قول د شاعر
کې لقد امر علی اللئیم یسنی الخ (۳) یا دا صفت دی د الجمع لپاره او دا الف لام زائد نه دی او دا
غیر معرفه ده ځکه اضافت د غیر وو چې مذکر سالم ته وشو نو تعین د مصداق د مضاف راغی
چې جمع مؤنث سالم او جمع مکسر ده (۴) دا غیر مجرور نه دی بلکه مرفوع دی خبر دی د مبتدا
محذوف لپاره ای هو غیر المذکر السالم او د غیر د جمع مذکر سالم نه مصداقونه پنځه دی (۱)
جمع مؤنث سالم (۲) جمع مؤنث مکسر (۳) جمع مذکر مکسر (۴) اسم جمع نحو قوم ورهط (۵) اسم
جنس جمعی، لکه کلم او روم شو کما فی قوله تعالی ﴿غُلِبَتِ ٱلرُّومُ ۝ فِىٓ أَدْنَى ٱلْأَرْضِ﴾
سوال: د فعل اسناد چې وشي ماسوی د جمع مذکر سالم ته نو جواز د وجهین ولي دی؟
جواب: ځکه د دې نه تعبیر کولي شي په جماعة سره او دا مؤنث غیر حقیقی دی او د فعل اسناد چې
وشي اسم ظاهر د مؤنث غیر حقیقی ته هلته جواز د وجهین دی.
سوال: د فعل اسناد چې وشي جمع مذکر سالم ته نو تانیث د فعل ولي نه دی جائز؟
جواب: جمع مذکر سالم اشرف الجموع دی د دې نه تاویلي په جماعة سره نه دی جائز یا جمع مذکر
سالم کې واو او نون علامه صریحی د مذکر ده د دې نه تاویل په مؤنث سره جائز نه دی چې هغه
جماعة دی ځکه تذکیر د فعل واجب دی.

سوال: ته وائي چې د فعل اسناد وشي جمع مذكر سالم ته نو تذكير د فعل واجب دى دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د الله تعالى ﴿ءَامَنَتْ بِهِۦ بَنُوٓاْ إِسْرَٰٓءِيلَ﴾ سره چې او په دې قول د شاعر سره!

لوكنت من مازن لم تستبح ابلی
بنو اللقيطة من ذحل ابن شيبانا

جواب: بنون او سنون او ارضون درې واړه جمع مذكر سالم د وجې د تغيرنه په بنا د مفرد د دې كې ګرځيدلي دى جار مجرى د جمع مكسر په دې شان سره چې معامله د مكسر ورسره كولي شي او د فعل چې اسناد وشي جمع مكسر ته نو هغې كې جواز د وجهين دى نو په دې كې هم جواز د وجهين دى.

پس زده كړه دا خبره چې د فعل اسناد وشي جمع مذكر سالم ته او جمع مؤنث سالم ته نو په دې كې مذاهب ثلاثه دى (۱) ابوعلى (۲) جمهور بصريان (۳) جمهور كوفيان.

مذهب د ابو على مذكور فى المتن دى چې اسناد د فعل وشي جمع مذكر سالم ته نو تذكير واجب دى او چې غير د مذكر سالم ته اسناد وشي نو جواز د وجهين دى.

(۲): او مذهب د جمهورو بصريانو دا دى چې د فعل اسناد چې جمع مذكر سالم ته وشي نو تذكير د فعل واجب دى او چې جمع مؤنث سالم ته وشي نو تانيث د فعل واجب دى.

سوال: دا خبره ستا منقوضه شوه په اذا جاءك المؤمنات سره؟ جواب: موږه وايو چې د فعل اسناد وشي جمع مؤنث سالم ته متصل بلافصل نو تانيث د فعل واجب دى او دلته اسناد مع الفصل شوى دى. (۳): جمهور كوفيان وائي چې د فعل اسناد جمع ته وشي مطلقا نو جواز د وجهين دى خواكه جمع مذكر سالم وى او كه جمع مؤنث سالم وى او كه جمع مكسره وى او كه اسم جمع وى بنا د دوى په مذهب باندې په قام المسلمون كې قامت المسلمون جائز دى او امنت به بنواسرئيل باندې اعتراض نشته د دوى په مذهب باندې

او اضافت د ظاهر چې يې وكړو الجمع ته په دې سره يې احتراز وكړو د غير د جمع نه ځكه د هغې حكم دا دى چې وضمير العاقلين د فعل چې كله اسناد وشي ضمير د جمع مؤنث عاقل ته غير المذكر السالم، غير د جمع مذكر سالم نه فعلت نو په هغې كې جائز دى تانيث د فعل وفعلوا او جائز دى پكې ذكر كول د ضمير د جمع مذكر.

سوال: هذا منقوض بقوله عليه السلام اللهم رب السموات ورب الارضين وما اقللن ورب الشياطين وما اضللن شياطين جمع مذكر عاقل دى په شان د رجال لهذا اضلت يا اضلوا ويل پكار وو بنا په دې قاعدې باندې؟ جواب: اضللن ويلي دى لاتباع ضمير المذكر لضمير المؤنث وكذا فى حديث المواقيت هن لهن اى لاهل ذى الحليفة، غير المذكر السالم سره احتراز راغي د ضمير د جمع مذكر سالم نه ځكه هلته تانيث د فعل نه دى جائز بلكه فقط ضمير د جمع مذكر به ذكر كوى لـه الرجال قامت الرجال قاموا ويل جائز دى كه د الرجال نه تاويل كوى په جماعة سره نو قامت وايه والانو قاموا وايه او المسلمون قاموا به وائي او قامت ويل پكې نه دى جائز ځكه تانيث د فعل جائز وو د دې وجې نه چې دا جمع په تاويل د جماعة سره واحد مؤنث شي او د جمع مذكر سالم نه تاويل په جماعة سره نه

دی جائز، **والنساء والايام** او دفعل اسناد چې وشي ضمير د جمع مؤنث عاقل ته لکه النساء يا ضمير د جمع مؤنث غير عاقل ته لکه عيون شو يا ضمير د جمع مذکر غير عاقل ته لکه ايام شو **فعلت وفعلن** نو بيا جائز دی الحاق د تاء التانيث په دې فعل پورې په دې اعتبار سره چې د دې فعل اسناد شوی دی ضمير ته چې هغه راجع دی جمع ته په تاويل د جماعة سره **وفعلن** او دارنګې جائز دی الحاق د نون د جمع مؤنث په دې فعل پورې په دې اعتبار سره چې د فعل اسناد شوی دی جمع مؤنث ته

سوال: د فعل اسناد چې وشي ضمير د جمع مذکر غير عاقل ته نو الحاق د نون ضمير د جمع مؤنث ولې جائز دی؟ **جواب:** ايام اګر چې جمع مذکر دی ليکن غير عاقل دی او دا محمول دی په جمع مؤنث باندې د وجې د عدم عقل نه لهذا الايام مضت وائي او که الايام مضين وائي دواړه جائز دی

سوال: د واحد او جمع حکم مونږ ته معلوم شو ليکن د مثنی حکم راته معلوم نه شو نو د فعل اسناد چې وشي تثنيه مؤنث ته د هغې حکم څه دی؟ **جواب:** حکم د تثنيه په شان د حکم د واحد باندې دی

تشريح د ماسبق په طريقه دوجه د حصر سره: دا فعل به خالي نه وي يا به متصرف وی او يا به غير متصرف وی که غير متصرف وو نو د هغې اسناد چې وشي مؤنث ته نو جواز د وجهين دی نحو بئس المراة بئست المراة او که فعل متصرف وو نو دا فعل به خالي نه وي يا به مسند وی اسم ظاهر ته يا ضمير ته که مسند وو اسم ظاهر ته نو بيا به خالي نوي يا به مسند وی اسم ظاهر مفرد ته يا جمع ته که مسند وو اسم ظاهر مفرد ته نو دا اسم ظاهر مفرد به خالي نه وي يا به مذکر وی يا به مؤنث وی که مذکر وو نو تذکير د فعل واجب دی مطلقا برابره خبره ده چې اسم ظاهر مذکر حقيقي وو لکه قام زيد او که مذکر لفظي وو لکه کتاب شو او که اسم ظاهر مؤنث وو نو بيا به خالي نه وي يا به مؤنث لفظي وی او يا به حقيقي وی که مؤنث لفظي وو نو تذکير او تانيث د فعل دواړه جائز دی نحو طلعت الشمس وطلع الشمس، او که اسم ظاهر مؤنث حقيقي وو نو بيا به خالي نه وي يا به متصل وی او يا به منفصل وی که متصل وو نو تانيث د فعل واجب دی نحو ضربت هند، او که منفصل وو نو بيا به خالي نه وي يا به فصل راغلي وی په الاسره او يا به بل شئ سره که فصل راغلي وو په الاسره نو تذکير اولی دی د تانيث نه نحو ماذکي الافتاة ابن العلی، او که فصل بل شئ سره راغلي وو نو بيا به خالي نو يا به مشهور وی په مذکر کې او يا به نه وي که مشهور وو په مذکر کې نو تانيث د فعل واجب دی نحو ضربت اليوم زيد فلايجوز ضرب اليوم زيد چې زيد علم واخلي د ښځې لپاره، او که مشهور نه وو په مذکر کې نو بيا تانيث د فعل اولی دی د تذکير نه نحو ضربت اليوم هند. او که مسند وو اسم ظاهر جمع ته بيا جواز د وجهين دی په فعل کې مطلقاً ماسوی د جمع مذکر سالم نه چې هلته تذکير واجب دی او که مسند وو ضمير ته دا ضمير به خالي نه وي يا به ضمير د مفرد وی او يا به ضمير د جمع وی که ضمير د مفرد وو نو بيا به خالي نه وي يا به متصل وی او يا به منفصل وی، که متصل وو نو تانيث د فعل واجب دی مطلقاً برابره خبره ده که ضمير د مؤنث حقيقي وی نحو هند قامت او که ضمير د مؤنث لفظي وی نحو الشمس طلعت،

او که منفصل وو نو تذکیر د فعل اولی دی د تانیث نه نحو هند ما قام الاهی، او که ضمیر د جمع وو نو بیا (۱) که د فعل اسناد شوی وو ضمیر د جمع مذکر سالم نو ضمیر د مذکر ذکر کول واجب دی نحو المسلمون جاهدوا فلایقال المسلمون جاهدت، (۲) او چې د فعل اسناد ضمیر د جمع مذکر عاقل ته وشي نو هلته تانیث او ضمیر د جمع مذکر ذکر کول دواړه جائز دی نحو الرجال قاموا او الرجال قامت، (۳) او که د فعل اسناد وشي ضمیر د جمع مذکر غیر عاقل ته، (۴) یا د فعل اسناد وشي ضمیر د جمع مؤنث ته مطلقا نو په هغې کې هم تانیث د فعل او ضمیر د جمع مؤنث دواړه جائز دی نحو الایام مضت الایام مضین النساء ضربت النساء ضربن.

المثنى مالحق اخره الف او یاء الخ: ربط هر کله چې فارغ شو مصنف د تقسیم رابع د اسم نه نوعین ته چې مذکر او مؤنث وو نو شروع یې وکړه په تقسیم خامس د اسم کې انواع ثلاثه ؤ ته په اعتبار د افراد تثنیت او جمعیت سره واحد مثنی او مجموع ته او هر کله چې ذکر شو جمع او واحد مخکې په بحث د مذکر او مؤنث کې نو ذکر یې کړه مثنی او مجموع وروستو د مذکر او مؤنث نه متصل بلا فصل او هر کله چې معرفت د فرعین مستلزم وو معرفت د اصل لره چې مفرد دی نو ذکر کړو مصنف مثنی او مجموع او مفرد یې ترک کړی دی روماً للاختصار او هر کله چې عدد د مثنی مقدم وو په عدد د مجموع باندې پس مقدم یې کړه مثنی په جمع باندې نو وې ویل المثنى الخ.

ترجمه: مثنی صیغه د واحد مذکر اسم فاعل ده په لغت کې دو کرده شده را گویند او په اصطلاح کې **ما** اسم دی داسې اسم **لحق** (۱) چې متصل شوی دی **اخره** په آخیر د مفرد د دې اسم پورې، **الف و یاء** الف یا یاء (۲) داسې اسم چې وی الف او یاء اخیر د دې اسم داسې یا چې مفتوح وی **ما هغه** حرف **قبلها** چې مخکې د یاء نه وی لپاره د دې چې التباس رانه شي د مثنی د جمع مذکر سالم سره په حالت نصبی جری کې. **ونون مكسورة** او متصل شوی وی په اخیر د مفرد د دې اسم پورې نون داسې نون چې مکسور دی ځکه دا نون عوض راغلي دی د حرکت نه یا عوض راغلي دی د تنوین نه یا عوض راغلي دی د حرکت او تنوین دواړو نه او تنوین نون ساکنه دی او الساکن اذا حرك حرك بالكسر، یا دا تثنیه واقع ده په اوسط حال کې په مینځ د واحد او جمع کې او دا کسره هم واقع ده په اوسط حال کې چې په مینځ د ضمی او فتحی کې ده فاعطی الاوسط للاوسط للتعادل (۳) دا نون به مکسور وی ځکه که فتحه ورکړي نو بیا لازمیږي توالی د اربع فتحات په حالت رفعی کې ځکه الف د دوه فتحو نه پیدا دی او یوه فتحه مخکې الف نه ده او یوه دا شوه، او حالت نصبی او جری محمول دی په حالت رفعی باندې او کومه کلمه چې بنا د هغې په حرف واحد وی هغه مفتوح راځي یا مکسور راځي مضموم نه ده راغلي **لیدل** دا جار مجرور متعلق دی په لحق پورې او په مرجع د ضمیر د یدل کې احتمالات ثلاثه دی (۱) چې دا ضمیر راجع دی الف او یا ته په تاویل د کل واحد سره یا په تاویل د لاحق سره (۲) یا راجع دی لحوق ته چې مذکور دی په ضمن د لحق کې په شان د اعدلوا هو اقرب للتقوی (۳) یا راجع دی لاحق ته سره د ملحوق نه نو ترجمه یې دا ده **لیدل** لپاره د دې چې دلالت وکړي

هر واحد د الف او یا نه یا دلالت وکړي د الاحق چې الف او یا دی یا دلالت وکړي ه الحوق یا دلالت وکړي لاحق سره د ملحوق نه او نسبت د فعل چې مجموعی ته وشي دا مستلزم نه دی چې دا حکم دی ثابت وی مجموعی لره، اوس دلالت په څه باندې کوی، **علی** په دې خبره **ان معه** چې د دې اسم مفرد سره **مثله** مثل د دې اسم دی په لفظ یا په وحدت کې **من جنسه** د جنس د دې اسم نه په معنی کې په دې شان سره چې دا دواړه واقع دی د یو مفهوم کلي لاندې او مفهوم کلی عام دی که حقیقتاً وی او که حکماً وی پس داخل شو پکې تثنیه تغلیبی لکه شمسین او قمرین شو.

تشریح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط د ماقبل سره دا دی چې مخکې مصنف تقسیم د اسم کړي وو رابعا نوعین ته چې مذکر او مؤنث دی او اوس تقسیم کوی خامساً مفرد مثنی او مجموع ته او په معرفت د ربط سره غرض د مصنف هم معلوم شو چې تقسیم د اسم دی خامساً اقسام ثلاثه ؤ ته (۲) یا دا جمله مستانفه واقع شوې ده جواب د سوال څکه هر کله چې ذکر شو واحد او مجموع په بحث د مذکر او مؤنث کې نو معترض اعتراض وکړو چې مفرد او جمع څه ته وائي نو مصنف جواب ورکړو.

سوال: هر کله چې اسم په اعتبار د افراد تثنیت او جمعیت سره درې قسمه وو نو مصنف خو دلته مثنی او مجموعه ذکر کړي دی نو واحد یې ولي نه دی ذکر کړي؟ **جواب:** (۱): واحد اصل دی او مثنی او مجموع فرع ده او په معرفت د فرع سره معرفت د اصل راځي نو ترک یې کړوواحد روماً للاختصار (۲) یا جواب دا دی چې مقصود زموږه دلته ذکر د مثنی بما هو مثنی او مجموع بما هو مجموع نه دی بلکه دا ذریعه ده او تمهید دی احکامو د مثنی او د مجموع ته څکه مثنی او مجموع لپاره څه احکام دی چې هغه نه دی ثابت د غیر لپاره نو دائي ذکر کړل لپاره د بیان د احکام مختصر.

سوال: دا مثنی او مجموع یې د مذکر او د مؤنث نه وروستو متصل ولي ذکر کړل؟ **جواب:** څکه په بحث د مذکر او مؤنث کې باربار ذکر د واحد او د مجموع وشو نو څکه یې په هغې پسې متصل دا ذکر کړل

سوال: گرځول د مثنی او مجموع د اقسامو د اسم نه نۀ دی صحیح څکه اسم قسم دی د کلمی نه نو مفرد دی او مثنی او مجموع مرکب دی څکه جز د لفظ دلالت کوی په جز د معنی باندې؟ **جواب:** مثنی او مجموع اگر چې مرکب دی حقیقتاً لیکن د وجی د شدت اتصال د علامی د تثنیه او جمع نه د مفرد سره گرځیدلي دی په منزله د کلمه واحده باندې، پس وئي گرځول د قسم د اسم نه مجازاً

سوال: مجموع او مثنی دواړه سواسی دی په قسمیت کې نو مثنی یې ولي مقدم کړو په جمع باندې؟ **جواب:** قدم المثنی علی المجموع لسبق عدده علی عدد المجموع فی الوجود:

(۲): ولقربة بالمفرد یعنی اول مرتبه د مفرد ده بیا تثنیه ده او بیا جمع ده نو څکه یې ذکر کړه مخکې د جمع نه (۳): دائي مقدم کړه په جمع باندې د وجی د اصالت نه څکه مثنی اصل ده د جمع نه د وجی د سلامت د لفظ د مفرد نه په مثنی کې دائما ابدا په خلاف د جمع نه چې په هغې کې دا مفرد کله سالم وی او کله نه وي (۴): دائي مقدم کړه په مجموع باندې د وجی د کثرت استعمال د

دي نه په نسبت سره مجموع ته (۵). دائي مقدم کړه په مجموع باندې ځکه دا مطلقه ده د وجی د عدم اختصاص د بنا د دې نه په شرائطو پورې بخلاف المجموع چې بنا د هغې مشروط ده په شروطو سره او مطلق مقدم وی په مقيد باندې

سوال: تعريف د مثنى جامع نه شو ځيلو افرادو لره خارج شو د دې نه رجلان او مسلمان او مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو يکې مفرد لکه رجل او مسلم ځکه ته وائي چې مثنى هغه اسم ته وائي چې لحق اخره الف او ياء نو د رجلان او مسلمان اخر خو الف او ياء دی او په دې پورې خو نور الف او ياء نه ملحق کيږي او د رجل او مسلم په اخير پورې الف او ياء ملحق کيږي او رجلان او مسلمان ويل کيږي؟

جواب: (۱). دا عبارت په حذف د مضاف سره دی ای مالحق آخر مفرده الف او ياء (۲) يا لحق په معنى د کان سره دی آخره خبر دی او الف او ياء يې اسم دی نو معنى دا شوه چې ما کان الف او ياء مفتوح ما قبلها ونون مکسورة اخره، او کلمه د ما عبارت دی د اسم نه ځکه (۱) معتبر په تعريفات کې جنس قريب وی او جنس قريب د دې لپاره اسم دی او لفظ او شئ يې اجناس بعيده دی (۲) يادا مقسم دی د مذکر او مؤنث نه او مقسم معتبر وی په تعريف د اقسامو کې او په نکارت د اسم کې اشاره ده موصوفيت د ما ته **مفتوح** دا مرفوع دی ځکه صفت بحال متعلقه دی د ياء لپاره **ما** موصوفه او **قبلها** ظرف ورله صفت دی يا **ما** موصوله او **قبلها** ظرف ورله صله ده، موصول سره د صلې نه يا موصوف سره د صفت نه دا نائب فاعل دی د مفتوح لپاره، اسم مفعول سره د نائب فاعل نه شبه جمله صفت دی د ياء لپاره موصوف سره د صفت نه عطف دی په الف باندې معطوف عليه سره د معطوف نه فاعل دی د لحق لپاره او اخره مضاف سره د مضاف اليه نه مفعول فيه دی د لحق لپاره.

سوال: د ياء نه مخکې حرف به مفتوح ولې وی؟ **جواب:** لپاره د دې چې لازم نه شي التباس د مثنى او مجموع په حالت نصبى او جرى کې؟

سوال: التباس خو په عکس سره هم دفع کيږي نو عکس يې ولې ونه کړو؟

جواب: عکس يې ونه کړو ځکه تثنيه کثيره ده په نسبت سره جمع ته استعمالاً ځکه دا خانله هم موجوديږي او په ضمن د جمع کې هم موجوديږي او دا کثرت استعمال تقاضا د تخفيف کوی نو تخفيف ورله ورکړي شو په فتح سره (۲) يا عکس يې ونه کړو ځکه چې منثى په حالت رفعى کې الف سره وی او د الف نه مخکې حرف مفتوح وو نو په حالت نصبى جرى کې ورله هم فتح ورکړي شو لپاره د موافقت د حالت نصبى جرى د حالت رفعى سره.

سوال: نون د مثنى مکسور ولې وی او مفتوح ولې نه راځي؟ **جواب:** نون د مثنى مکسور وی ځکه چې دا کلمه ده په حرف واحد سره او کلمه په حرف واحد باندې مبني وی او اصل په بناء کې سکون دی او دلته ورله حرکت ورکړي شو د وجی د التقاء د ساکنين نه د الف سره او کسره ورکړي شوه د قاعدی د وجی نه لان الساکن اذا حرك حرك بالکسر **دويم جواب:** دا نون د مثنى به مکسور وی ځکه که مفتوح راشي نو توالى د اربع فتحات راځي په حالت رفعى کې او دا په کلمه واحده کې مستکره ده او حالت نصبى

جری محمول دی په حالت رفعی باندې (٣) یا مکسور ځکه راځي چې مثنی واقع ده په مرتبه اوسطه کې بین المفرد والجمع او کسره هم په مرتبه اوسطه کې ده بین الفتحة والضمة او نون د تثنیه غالباً مکسور راځي او کله کله په طریقه دقلت سره مفتوح هم راځي کما فی قول الشاعر

واعرف منها الانف والعینانا ومنخرین اشبها طبیانا

سوال: لیدل جار مجرور دی او دیته عند النحات ظرف وائي او ظرف دوه قسمه دی (١) ظرف لغوه (٢) مستقر، دا کوم قسم دی؟ **جواب:** دا ظرف لغوه متعلق دی په لحق پورې او مضارع منصوب دی په تقدیر د ان سره وروستو د لام کی نه

سوال: لیدل کې ضمیر مستتر راجع دی الف او یاء ته نو مطابقت رانغی بین الراجع والمرجع؟

جواب: (١). دا ضمیر راجع دی الف نون او یا نون ته په تاویل د لاحق سره (٢) یا راجع دی لحوق ته چې مذکور دی په ضمن د لحق کې (٣) یا راجع دی لاحق ته سره د ملحوق نه

سوال: الف او یاء د لالت کوی علی ان معه مثله من جنسه باندې او نون خو دلالت په دې باندې نه کوي ځکه دا راغلي دی،عوض د حرکت رفعی نه یا د تنوین نه یا د دواړو نه؟

جواب: منم چې دا نون دلالت نه کوي علی ان معه مثله من جنسه باندې لیکن نسبت د حکم چې وشي مجموع ته نو دا لازمه نده چې دا دې ثابت وی تولو لره نحو قتل بنو زید عمرا (٢) عموم د مرجع متلزم نه دی عموم د راجع لره کما فی قوله تعالی ﴿ وَالْمُطَلَّقَٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ﴾ دلته مطلقات مرجع عام دی او د عموم د مرجع سره عموم په ضمیر د یتربصن کې نه دی راغلي بلکه مراد د دې نه مطلقات رجعیه مدخول بها احرار دی نو دارنګې دلته هم عموم د مرجع مستلزم نه دی عموم د راجع لره مرجع عام دی او دال، الف او یا دی نه نون (٣) یا جواب دا دی چې نه منم دا خبره چې نون دلالت نه کوي علی ان معه مثله من جنسه باندې بلکه لکه څنګه چې الف او یا دلالت کوی نو نون هم دلالت کوی ځکه راوړل د نون عوض د حرکت یا د تنوین نه منافی نه دی د دلالت د دې سره علی انه معه مثله من جنسه، **معه** کې ضمیر راجع دی ما ته عبارت دی د اسم نه او **مثله** کې ضمیر هم راجع دی ما ته او مراد د مثل نه مماثلت فی الوحدة دی.

سوال: تعریف د مثنی جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو د دې نه تثنیه تغلیبی لکه شمین تثنیه د شمس ده او قمرین تثنیه د قمر ده اوس د شمس په اخیر کې چې الف او نون یا یاء او نون زیاتی شي نو دا خو دلالت نکوي په دې چې معه من جنسه دی ځکه قمر خو د جنس د شمس نه نۀ دی؟

جواب: شمس داخل دی په مفهوم کلی د قمر کې تاویلا او تغلیبا او قمر داخل دی په مفهوم کلی د شمس کې تاویلا او تغلیبا او بیا د هغې نه تثنیه جوړه شوې ده.

فالمقصور ان کانت الفه عن واو الخ: ربط: هر کله چې تغیر راتلو په بعض مفرداتو کې د وجی د الحاق د علامه د تثنیه نه نو مصنف شروع وکړه په بیان د هغې کې

ترجمه: پس اسم مقصور چې په اخیر د هغې کې الف مفرده لازمه راغلي وی نو دا اسم مقصوره به خالي نه وې **ان کانت الفه** که چرې وو الف د دې اسم مقصور عن واو چې بدل راغلي وو د واو نه

حقيقتا لكه عصا كې يا حكما لكه الى كې شو چې دا د چا لپاره علم وګرځولې شي **وهو ثلاثى او** حال دا دى چې دا اسم مقصور ثلاثى وى او مراد د ثلاثى نه ثلاثى لغوى دى چې ذو ثلاثة ته وائي نه ثلاثى اصطلاحى **قلبت واوا** نو بدلولې شي دا الف د اسم مقصوره په واو سره هر چې دى نفس قلب نو دوجې د التقاء د ساكنين نه او هر چې دى په واو سره نو لپاره د اعتبار د اصل نو په عصا كې به وائي عصوان او په الى كې به وائي الوان **والا** او كه چرې دا الف د اسم مقصور بدل د واو نه نه وو راغلې بلكه بدل د ياء نه راغلي وو حقيقة لكه رحى كې يا حكما لكه په متى كې شو او يا وو على اربعة احرف فصاعد بيا برابره خبره ده چې الف يې اصلى وى لكه اعلى شو يا زائد وى لكه الف د حبلى شو **فبالياء** بيا دا الف د اسم مقصور بدل كولې شي په ياء سره لپاره د رعايت د اصل په هغه ځاى كې چې دا الف بدل د يا نه راغلي وى حقيقتا يا حكما او لپاره د حصول د تخفيف په مازاد على اربعة احرف كې نو اعلى كې به اعليان وائي او مصطفى كې به مصطفيان وائي او حبلى كې به حبليان وائي واما قهقران وخوذلان فشاذ.

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دى او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دى؟

جواب: ربط دا دى چې په بعض مفرداتو د تثنيو كې تغير راځي په وقت د الحاق د علاماتو د تثنيه كې نو مصنف شروع وكړه په بيان د هغه مفرداتو كې چې هغه كې تغير راځي د وجې د الحاق د علامى د تثنيى نه چې هغه اسم مقصور او اسم ممدود دى او هر چې دى اسم منقوص او صحيح او جار مجرى صحيح نو د وجې د الحاق د علاماتو د تثنيه نه په هغې كې تغير نه راځي لكه رجل كې رجلان ويل كيږي او قاض كې قاضيان دلو كې دلوان ظبى ظبيان او په اسم مقصور او ممدود پورې چې الحاق د علاماتو د تثنيه وشي نو په دې كې تغير راځي نو د هغې بيان كوى فالمقصور سره.

سوال: اسم مقصور عند النحات څه ته وائي؟ **جواب:** اسم مقصور عند النحات هغه اسم معربه ته وائي چې اخير كې الف مفرده لازمه راغلې وى اسم سره احتراز راغي د رمى نه او معرب سره يې احتراز وكړو د ذانه او الف مفرده سره يې احتراز وكړو د حمراء نه دلته دوه الفه دى يو بدل شوى دى همزى سره او لازم سره يې احتراز وكړو د الف د زيدا نه په حالت د وقف كې او د الف د كلا نه ځكه دا لازم نه دى د كلمى سره.

سوال: اسم مقصور پورې چې الحاق د علامه د تثنيه راشي نو دا تغير پكې څنګه راځي؟

جواب: دا اسم مقصور به خالي نه وي يا به زائد على ثلاثه احرف وى او يا به نه وي كه زائد على ثلاثه احرف وو نو بدلولي به شي په ياء سره لپاره د حصول د تخفيف، او كه ثلاثى وو نو بيا به خالي نه وي يا به معلوم الاصل وى او يا به مجهول الاصل وى كه معلوم الاصل وو نو بيا به خالي نه وي يا به بدل د واو نه راغلي وى او يا به بدل د يا نه راغلي وى كه بدل د يا نه راغلي وو نو قلبت ياء رعاية للاصل او كه بدل د واو نه راغلي وو نو قلبت واواً لپاره د رعايت د اصل او د وجى دخفت د ثلاثى نه او كه مجهول الاصل وو نو بيا به خالي نه وي يا به په دې كې اما له شوى وى او يا

به نه وي كه نه وه شوى نو قلبت واوا لكه الوان په الى كې اذا جعل علماً للشخص او كه اما له شوى وه نو قلبت ياء لكه متيان شو په متى كې اذا جعل علماً للشئ.

سوال: دا به د څه نه معلوموو چې په مجهول كې اماله شوې ده كه نده شوى؟

جواب: په حروفو كې اماله شوې ده صرف په الى، يا، لا په امّا لا كې او په اسماء مبنيو كې اماله شوې ده په متى، انى، اذا كې نه په نورو كې.

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په خوزلان او قهقران باندې چې دا تثنيه د قهقرى او خوزلاده چې دا اسم مقصور دى او زائد على ثلاثة احرف دى او دلته الف نه دى بدل شوى په ياء سره؟

جواب: اما خوزلان وقهقران فشاذ.

سوال: اسم مقصور ته مقصور ولې وائي؟ **جواب:** للامتناع عن المد (٢) دا ممنوع ګرځولې شوى دى د اعراب لفظى نه **والممدود ان كانت همزته اصلية** او هر چې دى اسم ممدود كه چرې همزه د دې اصلى وه په دې شان سره چې زائد نه وه او نه بدله راغلې وه د واو او يا اصليه نه **تثبت** نو ثابته پاتې كيږي دا همزه په حين د الحاق د علامات د تثنيه كې په اشهر استعمال د كلام د عرب كې د وجى د اصالت نه لكه قرآء شو نو په دې كې به قراء ان وائي، اوابوعلى حكايت كړي دى د بعض عرب نه قراوان په بدلولو د همزه اصليه په واو سره په حين د الحاق د علاماتو د تثنيه كې **وان كانت للتانيث** او كه چرې وه دا همزه د اسم ممدود د تانيث لپاره په دې شان سره چې دا همزه بدل راغلې ده د الف د تانيث نه **قلبت** نو اړولې شي دا همزه د اسم ممدود په واو سره په حين د الحاق د علامات د تثنيه كې لكه حمراء شو د دې نه چې تثنيه جوړ وى نو حمراوان به وائي څكه همزه د حمراء د تانيث لپاره ده څكه دا بدل راغلې ده د الف د تانيث نه څكه حمراء په اصل كې حمرا وو بيا الف زياتي كړي شو مخكې د دې الف نه لپاره د مد د صوت بيا دا الف ثانى بدل شو په همزى سره په قاعده د دعاء سره د وجى د وقوع د ده نه په طرف كې پس د الف زائده نه نو حمراء شو.

سوال: همزه د تانيث پس د الحاق د علامات د تثنيه نه په واو سره ولې بدلولې شي؟

جواب: څكه دا همزه بين الالفين ثقيل ده نو بدلولې شي واو سره لپاره د حصول د تخفيف

سوال: د حصول د تخفيف لپاره همزه په يا سره ولې نه بدلوى چې واو سره يې بدلوى باوجود د دې نه چې تخفيف په يا كې زيات دى؟ **جواب:** په واو سره يې بدلوو نه په ياء سره د وجى د مناسبت د واو نه په همزى سره په ثقل كې د دې وجى نه بدل شويدى واو په همزى سره په اقتت او اجوه كې (٢) او كله حمران ويلې شي په بقاء د همزى سره په خپل حال باندې (٣) او حكايت كړى دى مبرد د مازنى نه حمرايان په بدلولو د همزى د اسم ممدود په ياء سره ليكن اعرف او اشهر په دې كې بدلول د همزى دى په واو سره نو څكه مصنف وويل چې قلبت واو ليكن دغه همزه د تانيث واو سره بدلولې شي په دې شرط سره چې د الف نه مخكې بل واو نه وو راغلى او كه مخكې بل واو راغلى وو نو هلته په خپل حال باندې پاتې كولې شي لپاره د تحسين د لفظ لكه اسواء كې اسواءان ويلى كيږي نه اسواوان **والا** او كه چرې دا همزه اصلي نه وه او نه زائده وه د تانيث لپاره بلكه زائده وه د الحاق

لپاره لکه همزه د علباء شوه چې دا زائده لپاره د الحاق په قرطاس پورې یا بدل د واو او یا نه راغلي وي لکه کساء او رداء چې اصل کې کساو او ردای وو بیا واو او یا بدل شو په همزی سره په قاعده د دعاء باندې **فالوجهان** په دې کې دوه وجهې روا دي (۱) ثبوت او بقاء د همزي (۲) بدلول د همزي په واو سره خکه دا همزه به خالي نه وي یا به زائده وي د الحاق لپاره او یا به بدل د واو او یا اصلي نه راغلي وي که زائده وه د الحاق لپاره نو که دیته گوري چې زائده ده په دې شان سره چې مقابل د فاء عین او لام کې نده راغلي نو مشابه شوه د همزي د حمراء سره نو بدل یې کړه په واو سره علباوان وایه او که دیته گوري چې دا همزه زائده ده د الحاق لپاره او دا په حکم د اصلي کې ده نو مشابه شوه د همزي د قراء سره نو باقي پاتې کوه او علباءان وایه او که دا همزه بدل د واو او یا اصلي نه راغلي وه دا هم ذوجهتین ده که دیته گوري چې دا اصل نده په شان د همزي د قراء بلکه بدل د غیر نه راغلي ده نو مشابه شوه د همزه د حمراء سره نو بدل یې کړه واو سره نو کساوان او رداوان اووایه او که دیته گوري چې اصلي ده نو مشابه شوه د همزي د قراء سره نو په خپل حال باندې یې ثابته پاتې کوه کساءان رداءان اووایه.

ويحذف نونه هر کله چې فارغ شو مصنف رحمه الله د بیان د احکامو د تثنیه د اسم مقصور او د اسم ممدود نه پس شروع یې اوکړه په بیان د حکم د مطلق مثنی کې چې حذف د نون د مثنی دی وجوباً عند الاضافة نو اوئی فرمائیل او حذف کولي شي نون د مثنی په حذف واجبه دائمه سره **للاضافة** د وجې د اضافت نه خکه اضافت تقاضه کوي د اتصال د مابعد سره او دا نون د مثنی چې قائم مقام د تنوین دی دا تقاضه کوي د اتمام د کلمې او د انفصال د مابعد سره او په مابین د دې کې منافات دی نو جاءني ضاربا زید به وائي په ضاربان کې **وحذفت تاء التانيث الخ**.

ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د حکم د مطلق مثنی نه پس شروع یې وکړه په بیان د حکم د خاص مثنی کې چې هغه حذف د تاء التانیث دی په تثنیه د الیة او خصیة کې دون غیرهما او حذف کولي شي په حذف جائزه قلیله سره تاء علامه د مؤنث **في خصيان واليان** په خصیان کې چې تثنیه د خصیة ده او الیان کې چې تثنیه د الیة ده خلاف القیاس، سره د جواز د اثبات د دې نه په خصیتان او الیتان کې موافق القیاس بالاتفاق خکه دا قاعده ده چې علامه د تانیث نه شي حذف کولي د وجې د الحاق د علامه د تثنیه نه لکه ضاربة کې ضاربتان تمرة کې تمرتان او شجرة کې شجرتان ویلي کیږي لیکن صرف په خصیان اوالیان چې دا تثنیه د خصیة او الیة ده تاء التانیث حذف کولي شي خلاف القیاس.

سوال: دا ولي حذف کیږي؟ **جواب:** خکه دا دواړه اجزاء د وجې د شدت اتصال نه گرځیدلي دي په منزله د عضو واحد باندې نو دا په منزله د مفرد شو نو لازمیږي اجراء د علامه د تانیث په وسط کې او دا نده صحیح خکه علامه د تانیث دمفرد په اخیر کې راځي نه په مینځ کې (۲) او بعض وائي چې خصیتان او الیتان تثنیه د خصیة او الیة متلبس بالتاء ده دا کثیره ده او خصیان او الیان تثنیه خصی او الی مجرد عن التاء ده او دا لغت قلیله دی.

سوال: حذف د نون سره یې یحذف صیغه د مضارع ذکر کړه او حذف د تاء سره یې حذفت صیغه د ماضي ذکر کړه دا ولې **جواب:** د حذف د نون سره یې مضارع ذکر کړه ځکه دا دلالت کوي په استمرار تجددي باندې او نون مثنی حذف کولي شي د اضافت د وجې نه په حذف استمراري دائمي سره او د حذف د تاء سره یې ماضي ذکر کړه ځکه ماضي دلالت نه کوي په دوام او استمرار باندې او حذف د تاء هم دائما نه دی بلکه احیانا دی

المجموع ما دل علی احاد مقصودة بحروف مفرده بتغیر ما: **ربط:** هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د تعریف د مثنی او احکام د مثنی نه چې هغه یوه نوع د اسم ده نو شروع یې وکړه په بیان د تعریف او د احکام د جمع کې چې دا بله نوع د اسم ده نو وی ویل المجموع الخ

ترجمه: **المجموع** جمع حقیقي په اصطلاح کې **ما** اسم دی او اطلاق د اسم په جمع باندې مجازا او حکما دی نه حقیقة او په تنکیر د اسم کې اشاره ده موصوفیت د ما ته داسې اسم **دل** چې دلالت کوي بالمطابقة **علی احاد** په مجموعه افرادو باندې داسې افراد **مقصودة** چې متعلق کیږي په دې افرادو پورې قصد د متکلم په ضمن د اسم کې **بحروف مفرده** په حروفو سره چې **هغه** بعینه ماده مفرد د دې اسم ده **هغه** اسم چې هغه دلالت کوي په واحد واحد باندې د دې افرادو نه **بتغیر ما** په حال کون د دې حروفو کې چې دا به متلبس وي په تغیر سره مطلقا دا تغیر عام دی که خارجي وي او که داخلي وي او تغیر داخلي عام دی که صفتي وي او که ذاتي وي او صفتي عام دی که لفظا وي او که تقدیرا وي او ذاتي عام دی که په طریقه د زیادت سره وي او که په طریقه د نقصان سره وي

تشریح: **سوال:** د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط دا دی چې مخکې بیان د مثنی وو چې دا یو قسم وو د اسم نه اوس بیان د بلې نوع د اسم کوي چې جمع ده او په معرفت د ربط سره غرض د مصنف هم معلوم شو (۱) مجموع صیغه د اسم مفعول ده په لغت کې جمع کرده شده راګویند (۲) یا مصدر میمي دی جمع کولو ته وائي

سوال: مصدر چرته په وزن د مفعول باندې راغلي دی؟

جواب: نعم کما في قوله تعالی ﴿ بِأَييِّكُمُ الْمَفْتُونُ ﴾ او الف لام په المجموع کې الف لام عهد خارجي دی مراد په دې سره جمع حقیقي ده نه مطلق جمع ځکه دا تعریف د جمع حقیقي دی نه د مطلق جمع

سوال: کلمه د ما د الفاظو عامونه ده دا د څه نه عبارت دی؟ **جواب:** دا عبارت دی د اسم نه.

سوال: دا ما عبارت د اسم نه ولې دی؟ **جواب:** (۱) ځکه معتبر په تعریفاتو کې جنس قریب دی او جنس قریب د دې اسم دی او لفظ او شئ اجناس بعیده دی (۲) اسم مقسم دی د مثنی او مجموع لپاره او مقسیم معتبر وي په تعریفاتو د اقسامو کې

سوال: اسم چې وائي نو الاسم سره تعبیر ولې نه کوي؟

جواب: په تنکیر د اسم کې یې اشاره وکړه موصوفیت د ما ته لانه واقع في جانب الخبر

سوال: اطلاق د اسم په جمع باندې نه دی صحیح ځکه اسم قسم دی د کلمې نه او د کلمه په مفهوم کې افراد معتبر دی او جمع مرکب دی ځکه جز د لفظ دلالت په جز د معنی باندې؟

جواب: دا اعتراض په هله راتلو چې اطلاق د اسم په جمع باندې حقیقة وی لیکن اطلاق د اسم په جمع باندې حقیقة نه دی بلکه مجازاً دی ځکه علامات د جمع د وجې د شدت اتصال نه د مفرد سره ګرځیدلي دی بمنزلة کلمه واحده.

سوال: دل مشتق دی د دلالت نه او دلالت درې قسمه دی (۱) مطابقی (۲) تضمنی (۳) التزامی، دلته کوم یو مراد دی؟ **جواب:** دلته مراد دلالت مطابقی دی اسم سره یې احتراز وکړو د الف لام استغراقي نه او دلالت مطابقی سره یې احتراز وکړو د تثنیه د جمع او د اسم جمع نه لکه طائفتان او رجلان ځکه هغه دلالت په احاد بالمطابقت نه کوی بلکه بالالتزام کوی او مراد د احادو نه جمله احاد دی نو دی سره یې احتراز وکړو د کل افرادی نه نحو قوله تعالی ﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ﴾ او **مقصودة بحروف مفرده** چې یې وویل نو په دې سره یې احتراز وکړو د کل مجموعی نه نحو کل نملة یرفع هذا الحجر، اوبل یې احتراز وکړو د اسم جمع اسم جنس او اسم عدد نه ځکه هغه اګر چې دلالت کوی په مجموع افرادو باندې لیکن هغه افراد مقصود بحروف مفرده نه دی.

سوال: دا تعریف د جمع **مادل علی احاد الخ**، سره باطل دی ځکه دا تعریف مستلزم دی دور لره په دې شان سره چې دا جمع په تعریف کې محتاج ده مفرد ته او مفرد محتاج دی جمع ته په تعریف کې ځکه مفرد مالیس بجمع ولا تثنیه ته وائي؟ **جواب:** دا تعریف د جمع صحیح دی او مستلزم نه دی دور لره ځکه دا جمع په تعریف کې مفرد ته محتاج ده خو مفرد په تعریف کې جمع ته نه دی محتاج ځکه د مفرد تعریف مونږه داسې کوو چې هو الاسم الدال علی واحد واحد من تلك الاحاد.

سوال: بحروف مفرده جار مجرور ظرف لغوه دی که ظرف مستقر دی؟ **جواب:** دا ظرف لغوه دی.

سوال: دا په چا پورې متعلق دی؟ **جواب:** (۱) دا متعلق دی په دلّ پورې (۲) یا مقصودٌ پورې (۳) یا په دواړو پورې علی سبیل التنازع

سوال: بتغیر ما ظرف لغوه دی که مستقر؟ **جواب:** دا ظرف مستقر دی ځکه متعلق یې محذوف دی چې متلبساً دی.

سوال: دا جار مجرور په ترکیب کې څه واقع شوی دی؟ **جواب:** دا حال واقع شوی دی د بحروف مفرده نه او **ما** چې وروستو د تغیر نه راغلي دی دا ما صفتی دی او توصیف د **تغیر** په **ما** سره شوی دی لپاره د تاکید د عموم او دا **بتغیر** ما قید جامعه او قید مدخله دی په دې قید سره داخل شو فلك او هجان په تعریف د جمع کې ځکه دا تغیر عام دی که خارجي وی لکه جمع مذکر او مؤنث سالم کې یا داخلي وی او دا تغیر داخلي عام دی چې صفتی وی او که ذاتی وی او دا تغیر صفتی عام دی که حقیقتا وی لکه أُسْد یا حکماً وی لکه فلك او هجان او دا تغیر ذاتی عام دی که زیادت سره وی لکه رجال یا نقصان سره وی لکه طلبةٌ **فنحو تمرورکب لیس بجمع علی الاصح**، مثل د تمر او رکب جمع نده په مذهب د اصح باندې چې مذهب د سیبویه دی بلکه تمر اسم جنس دی او رکب اسم جمع ده ځکه جمع دلالت کوی په ثلاثه ؤ او مافوق د ثلاثه ؤ باندې نه په ماتحت باندې او تمر دلالت په واحد

معامله کولي شي په استعمال او اثنین باندې هم کوی، او رکب اسم جمع ده نه جمع ځکه دی سره د
کلام دعربو کې معامله د مفرد مذکر (۱) ضمیر د مفرد مذکر ورته راجع کیږي (۲) د دې نه تصغیر بنفسه راځي او دجمع تصغیر بنفسه نه راځي (۳) او که دا جمع حقیقي شي نو جمع دوه قسمه ده (۱) یو جمع قلته ده (۲) او دویم جمع کثرته ده، نو دا جمع قلته خو نده ځکه هغه راځي په اوزان محصوره وو باندې او دا یو د هغې نه نده، او هر چې جمع کثرته ده نو هغه هم په دې وزن باندې نده راغلي، **علی الاصح** سره یې احتراز وکړو د مذهب صحیح نه چې مذهب د اخفش او فراء دی اخفش وائي چې څومره اسماء جموع چې دی چې مفرد من لفظه ورله راغلي وی لکه جامل، باقل رکب، دا په جمع حقیقي کې داخل دی، او فراء وائي چې د کومو اسماء اجناسو لپاره چې مفرد من لفظه وی لکه تمر او نخل دا په جمع کې داخل دی، او هر چې دی هغه اسماء جموع او اسماء اجناس چې مفرد من لفظه ورله نشته لکه مثال د اسم جمع لکه قوم او رهط، او مثال د اسم جنس ابل او غنم دا جمع نده بالاتفاق
پس زده کړه دا خبره چې اسم جنس او اسم جمع به خالي نو یا به ورله مفرد من لفظه وی او یا به نه وي که نه وو نو دا جمع نده بالاتفاق، او که مفرد من لفظه راغلي وو د اسم جنس لپاره نو بیا هم جمع نده په مذهب اصح باندې چې مذهب د سیبویه دی او جمع ده عند الفراء او که د اسم جمع لپاره مفرد من لفظه راغلي وو نو بیا دا هم جمع نده علی الاصح او جمع ده عند الاخفش
سوال: جمع اسم جمع، او جنس او اسم جنس کې څه فرق دی؟
جواب: جمع هغه ته وائي چې دلالت کوی په ثلاثه او مافوق د ثلاثه باندې او مفرد من لفظه ورله راغلي وی قیاساً اطراداً، او اسم جمع هغې ته وائي چې دلالت کوی په ثلاثه او مافوق د ثلاثه او مفرد ورله اصلاً نه وي راغلي لکه عقود ثمانیه، یا ورله مفرد راغلي وی خو من غیر لفظه وی لکه نساء جمع د امرأة او**الو** جمع د ذو ده یا ورله مفرد من لفظه وی خو جمع شوی وی خلاف القیاس لکه رکب، او اسم جنس هغې ته وائي چې اطلاق یې کیږي په کثیر ین باندې علی سبیل البدلیت لاعلی سبیل الاجتماع لکه رجل شو، او جنس هغې ته وائي چې اطلاق یې کیږي په کثیر ین باندې علی سبیل الاجتماع او اطلاق یې په قلیل باندې هم کیږي لکه ماء او تمر شو
سوال: کلم جنس دی او ته وائي چې جنس هغې ته وائي چې اطلاق یې کیږي په قلیل او کثیر باندې او د دې اطلاق خو په ما تحت ثلاثه باندې نه کیږي؟
جواب: (۱): کلم جنس نه دی بلکه جمع ده (۲) او که اومنم چې جنس دی نو اطلاق یې په ثلاثه او مافوق د ثلاثه باندې کیږي او په ماتحت باندې نه کیږي د عارض استعمال د وجې نه
ونحو فلك جمع او مثل د فلك جمع ده د وجې د تحقق د تغیر نه په بنا د مفرد د دې کې تقدیرا او مراد د فلك نه هر هغه جمع ده چې بناء د واحد پکې روغه پاتې شوی وی یعنی جمع او واحد په یو وزن باندې راغلي وی لکه فلك او هجان شو، او تغیر په دې کې راغلي دی تغیر داخلي صفتي فرضي ځکه دا فلك چې په وزن د قفل باندې راځلي نو مفرد دی او دا ضمه یې ضمه د مفرد ده بیا دا ضمه د مفرد د دې نه لرې شوه

او دا وګرځولي شو په وزن د اسد باندې او ضمه د جمع پکې راغله، او دارنګې هجان چې په وزن د حمار داخلي نو مفرد دی او چې په وزن د رجال باندې يې داخلي نو جمع ده. **وهو صحيح ومكسر: ربط:** هر کله چې فارغ شو مصنف د تعريف د جمع حقيقي اصطلاحي نه نو شروع يې وکړه په تقسيم د جمع حقيقي اصطلاحي کې نوعين ته لپاره د اتمام د تعريف د جمع حقيقي اصطلاحي ځکه تقسيم د مکملاتو او متمماتو د تعريف نه دی ځکه په تعريف سره معلوميږي معنی او مفهوم د شي او تقسيم سره معلوميږي افراد او مصداق د شئ نو وروستو د تقسيم او تعريف نه دا جمع مونږ ته معلومه شوه مفهوماً او مصداقاً.

ترجمه: وهو دا جمع حقيقي اصطلاحي په اعتبار د لفظ سره دوه قسمه ده (۱) يو صحيح ده او بله مکسره ده.

وجه د حصر: بنا د واحد د دې جمع به خالي نه وي يا به سالم وی په دې جمع کې او يا به سالم نه وي که سالم وه نو جمع سالمه او که نوه نو جمع مکسره ده او فلك جمع مکسره ده نه جمع سالمه ځکه په بناء د مفرد د دې کې تغير راغلي دی تقديراً او فرضاً.

سوال: ته وائي چې صحيح هغې ته وائي چې بناء مفرد د دې سالمه پاتې شوی وی په جمع کې نو تعريف د جمع سالم جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو د دې نه مصطفون او بنون دا جمع سالمه ده او بنا د مفرد پکې روغه نده پاتې شوی؟

جواب: جمع صحيح ديته وائي چې بنا د مفرد د دې روغه پاتې شوی وی او تغير پکې نه وی راغلي لپاره د حصول د جمعيت او دلته هم دا تغير لپاره د حصول د جمعيت نه دی بلکه دا تغير راغلي دی وروستو د حصول د جمعيت نه د وجی د قانون صرفي نه.

فالصحيح لمذكر ولمؤنث: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د تقسيم د مطلق جمع نه په اعتبار د لفظ سره نوعين ته چې يو جمع سالمه وه او بله جمع تکسيره وه نو شروع يې وکړه په تقسيم د قسم کې نو وی ويل فالصحيح لمذکر ولمؤنث.

ترجمه: پس جمع صحيح کله راځي د مذکر لپاره هغې ته جمع مذکر سالم وائي **ولمؤنث** او کله راځي د مؤنث لپاره چې هغې ته عندهم جمع مؤنث سالم وائي.

فالمذكر مالحق اخره الخ: ربط: دا جمله مستانفه جواب د سوال دی ځکه هر کله چې مصنف تقسيم د جمع صحيح وکړو مذکر او مؤنث ته نو معترض اعتراض وکړو چې جمع مذکر سالم څه ته وائي او مؤنث سالم څه ته وائي نو مصنف جواب وکړو فالمذکر الخ سره.

ترجمه: پس جمع سالم مذکر په اصطلاح کې **ما** اسم دی داسې اسم **لحق** چې متصل شوی دی **اخره** په اخير د مفرد د دې اسم پورې **واو** واو داسې واو **مضموم** چې مضموم وی **ما هغه** حرف **قبلها** چې مخکې د واو نه راغلي وی په حالت رفعي کې ازبرائي مناسبت واو او دا مضموم عام دی چې حالاوی لکه مسلمون شو يا اصالة وی لکه مصطفون شو (۲) يا جمع مذکر سالم په اصطلاح کې **ما** هغه اسم ته وائي **لحق** چې وی **اخره** په اخير د دې اسم کې **واو** واو داسې واو چې مضموم وی ماقبل د هغې نه او ياء ياء راغلي وی داسې يا چې مکسور وی هغه حرف چې مخکې د ياء نه راغلي وی په حالت نصبي جری کې ازبرائي مناسبت ياء (۳) يا لپاره د دې چې لازم نه شي التباس د مثنی سره په حالت نصبي جری کې او دا کسره عامه ده که لفظا وی لکه مسلمين شو يا تقديرا وی لکه مصطفين شو **ونون** سره

د نون نه **مفتوحة** داسې نون چې مفتوح وی لپاره د دې چې مقابله وکړي دا خفت د فتحه د ثقل د واو او د ضمی سره یا لپاره د دې چې که دا نون مفتوح نه شي بلکه مکسور شي نو لازمیږي توالی د اربع کسرات په حالت نصبی جری کې او حالت رفعی محمول دی په دې باندې **لیدل علی ان معه اکثر منه** لپاره د دې چې دلالت وکړي د الحوق چې مذکور دی په ضمن د لحق کې یا لاحق فقط. یا لاحق سره دملحوق نه **علی** په دې خبره باندې **ان معه** چې په تحقیق سره د دې **مفرد** واحد سره **اکثر** زیات دی د دې. مفرد واحد نه په عدد کې د جنس د دې اسم مفرد نه او من جنسه یې ونه ویل د وجې د اکتفاء نه بماذکر فی التثنیة او اسم تفضیل دلالت کوی د ثبوت د اصل فعل د مفضل علیه لپاره خو دا ثبوت د فعل په مفضل علیه کې عام دی چې تحقیقتا وی لکه زید افضل الناس یا فرضا وی لکه فلان افقه من الحمار واعلم من الجدار نو دا ترکیب د مصنف هم د دغه قبیلې نه دی چې دا کثرت موجود دی په مفضل علیه کې چې مفرد دی علی سبیل الفرض یا، صیغه د اسم تفضیل بمعنی اصل فعل ده چې کثرت دی، یا صیغه د اسم تفضیل بمعنی صفت مشبه ده چې کثیر دی.

تشریح: سوال: فالمذکر مالحقه الخ د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟ **جواب:** (۱): ربط د ماقبل سره دا دی چې مخکې یې جمع صحیح مذکر او مؤنث ذکر کړو اجمالا او س یې تفصیل کوی نو بنا په دې دا فا تفضلیه ده (۲) یا دا جمله مستانفه جواب د سوال دی ځکه کله چې مصنف تقسیم د جمع صحیح وکړو مذکر او مؤنث ته نو معترض اعتراض وکړو چې جمع مذکر څه ته وائي او مؤنث څه ته وائي نو مصنف جواب وکړو فالمذکر الخ سره نو بنا په دې دا فاء استنافیه ده.

سوال: ته وائي چې مذکر په اصطلاح کې مالحق اخره الخ ته وائي دا تعریف ستا باطل دی ځکه مذکر اصطلاح کې مالحق اخره الخ ته نه وائي بلکه مذکر خو مالیس فیه علامة التانیث لفظا او تقدیرا ته وائي؟ **جواب:** دا اعتراض به تا هله کولې چې دا تعریف د مذکر وی لیکن دا تعریف د مذکر نه دی بلکه دا تعریف د جمع مذکر دی.

سوال: ما د الفاظ عامونه دی دا د څه نه عبارت دی؟ **جواب:** دا عبارت دی د اسم نه (۱) ځکه معتبر په تعریفات کې جنس قریب وی او جنس قریب د جمع مذکر لپاره اسم دی (۲) یا اسم مقسم دی د جمع مذکر الخ لپاره او مقسیم معتبر وی په تعریفات د اقسامو کې

سوال: تعریف د جمع مذکر سالم جامع نه شو افرادو خپلو لره خارج شو د دې نه مسلمون مسلمین دلته دا واو او نون او یا نون په اخیر د مفرد کې راغلي دی نه په اخیر د جمع کې

جواب: دا عبارت دی په حذف د مضاف سره ای لحق اخر المفرد (۲) یالحق فعل ناقص غیر مشهور دی معنی کان اخره یې خبر دی او واو مضموم یې اسم دی.

ه وائي چې د وا نه مخکې به مضموم وی دا قاعده ستا منقوضه شوه په مصطفون سره دلته

تنضموم نه کې **جواب:** ضمه عا ده که لفظا وی او که تقدیرا وی یا ضمه عامه ده که حالاوی او که **اصالة** وی دلته تقدیراً او اصالة ده

ا

سوال: د یاء نه مخکې حرف به مکسور ولې وی؟ **جواب:** از برائې مناسبت یاء (۲) یا لپاره د دې چې لازم نه شي التباس د دې د تثنیه سره په حالت نصبی جری کې
سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په مصطفین سره دلته د یاء نه مخکې کسره نشته؟
جواب: دلته کسره تقدیرا ده.
سوال: دا نون به مفتوح ولې وی؟ **جواب:** لپاره د دې چې دا خفت د فتحه د نون مقابله وکړي د ثقل د واو سره په حالت رفعی کې او حالت نصبی جری محمول دی په حالت رفعی باندې (۲) که مفتوح نه شي نو مکسور به وی نو لازمیږي توالی د اربع کسراتو په حالت نصبی جری کې او حالت رفعی محمول دی په دې باندې.
سوال: ته وائې چې نون د جمع مذر مفتوح راځي دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د شاعر باندې!

وماذا يبتغى الشعراء منى وقد جاوزت حد الاربعين

دلته مکسور راغلي دی؟
جواب: مونږه وایو چې نون د جمع به مفتوح راځي په نثر کې او دا په شعر کې راغلي دی یجوز فی الشعر مالایجوذ فی غیره (۲) دائې ویلي دی په طریقه د غلبې سره او کله کله مکسور هم راځي **لیدل** دا ظرف لغوه متعلق دی په لحق پورې او ضمیر راجع دی لحوق ته چې په ضمن د لحق کې دی یا راجع دی واو او یا ته په تاویل د لاحق سره فقط یا سره د ملحوق نه
سوال: لکه څنګه چې په تعریف د مثنی کې من جنسه شرط وو نو دا رنګې په جمع کې هم شرط دی نو دا یې ولې ذکر نه کړو؟ **جواب:** دا یې نه دی ذکر کړي اکتفاء بماسبق ځکه د مصنف دا قانون دی چې قاعده ثانیه چې په کوم قیوداتو کې شریکه وی د اولی سره هغه دی نه ذکر کوی اکتفاء کوی په ماسبقه باندې او په کوم کې چې شریکه نه وی هغه ذکر کوی
سوال: اکثر اسم تفضیل دی او قاعده په اسم تفضیل کې دا ده چې دا واجب کړی ثبوت د اصل فعل مفضل علیه لره او مفضل لره یې ثابتوی په طریقه د زیادت سره نحو زید افضل الناس دلته دی افضل دلالت وکړو چې نفس فضلیة ثابت دی مفضل علیه لره چې ناس دی او فاعل د اسم تفضیل لره ثابت دی په طریقه د زیادت سره بنا په دې باندې د دې عبارت د مصنف ترجمه دا شوه چې جمع مذکر سالم اکثر ده د مفرد نه نو دی اکثر دلالت وکړو په ثبوت د کثرت باندې مفضل علیه لره چې مفرد دی او حال دا دی چې لاکثرة فی الواحد؟ **جواب:** دا قاعده په هغه ځای کې ده چې اسم تفضیل مستعمل وی په معنی تفضیلی کې او دلته دا په معنی د صفت مشابه سره دی چې کثیر دی (۲) یا په معنی د اصل فعل سره دی چې کثُر دی (۳) او که اومنم چې په خپله معنی دی نو بیا ثبوت د اصل فعل په مفضل علیه کې عام دی که علی سبیل التحقیق وی او که علی سبیل الفرض وی دلته اکر چې علی سبیل التحقیق نشته لیکن غلی سبیل الفرض شته په شان د زید افقه من الحمار باندې
فان کان اخره یاء ما قبلها کسرة حذفت مثل قاضون: **ربط:** هر کله چې تغیر راتلو په بعض مفرداتو کې د وجې د الحاق د علاماتو د جمع مذکر نه نو ذکر کړه مصنف دغه مفردات لپاره د بیان د تغیر

ترجمه: که چري وو اخر د اسم د مفرد چې اراده کړي شوې ده د جمعيت د هغې په جمع مذکر سالم سره **ياء** داسي ياء چې مخکې د هغې نه کسره راغلي وی دا يا عامه ده که ملفوظه وی لکه قاضی کې او که مقدره وی لکه قاضٍ کې يعنی چې دغه اسم مفرد اسم منقوص وو نو حذف کولي شي دا ياء د وجی د التقاء د ساکنين نه علی غير حده نه لکه قاضون شو چې اصل کې قاضيون وو ضمه بر يا ثقيل بود اندا ختن، بيا يا حذف شوه د التقاء د ساکنين د وجی نه او کسره د ضاد بدله شوه په ضمی سره نو قاضون شو (۲) يا ضمه بر يا ثقيل بود نقل کرده بما قبل دادند بعد از سلب حرکت او يا را حذف کردن از التقاء الساکنين نو قاضون شو بروزن فاعون، او په حالت نصبی کې قاضين راځي چې اصل کې قاضيين بيا پس د اعلال نه قاضين شو بروزن فاعين.

سوال: مثل مضاف دی او قاضون مضاف اليه دی او مضاف اليه مجرور راځي نو دا مرفوع ولي راغي؟

جواب: دا اعراب حکايةً دی، **وان کان اخره** او که چري وو اخير د دغه مفرد چې اراده کړي شوې ده جمعيت د هغې په جمع مذکر سالم سره، الف مقصورة، بيا عام دی که لفظا وی او که تقديرا وی **حذفت الالف** نو حذف کيږي به دغه الف د وجی د التقاء د ساکنين نه **ويبقى ماقبلها مفتوحا** او باقي پاتې کيږي هغه حرف چې د دې نه مخکې راغلي وی مفتوح لپاره د دې چې دلالت وکړي دا فتحه په الف محذوفه باندې مثال لکه مصطفون شو په حالت رفعی کې او مصطفين شو په حالت نصبی جری کې، دا په اصل کې مصتفوون وو بيا دا واو بدل شو په ياء باندې په قاعدی د اعليت سره نو مصتفوون شو بيا ضمه په ياء باندې ثقيله وه وغورځيده او يا د التقاء د ساکنين د وجی نه حذف شوه نو مصطفوون شو، بيا چې کله په ځای د فاء کلمه د باب افتعال باندې يو حرف راشي د حروف مستعليه مطبقو نه راشي نو تاء د باب افتعال به بدليږي په طاء باندې نو مصطفون بيا په دې کې فك ادغام هم جائز دی او ادغام هم جائز دی خو صرف د يو جانب نه چې طاء بدله شي په صاد او ادغام وشي مصّفون وويل شي او د دې بل جانب نه ادغام نه دی جائز ځکه چې په صاد کې يو زياتی صفت دی چې سفيريت ورته وائي هغه فوت کيږي.

وشرطه ان کان اسما فمذکر علم يعقل: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د تعريف د جمع مذکر سالم نه او د مواد مغيرونه نو شروع يې وکړه په بيان د شرطونو د جمع مذکر سالم کې نو وی ويل وشرطه الخ.

ترجمه: شرط لپاره د هغه اسم مفرد چې اراده کړي شوې ده د جمعيت د هغې نه په جمع مذکر سالم سره يعنی شرط د صحت د جمعيت د اسم مفرد په جمع مذکر سالم سره **ان کان** که چري وو دغه اسم مفرد چې اراده کړی شويده د جمعيت د هغې په جمع مذکر سالم سره **اسماً** سام جامد **فمذکر** کون داسم دی مذکر يعنی مجرد عن التاء ملفوظة او مقدرة، او کون د دې اسم دی علم داسې علم **يعقل** چې ذی عقل وی مسمی د ده ځکه دا قسم مفرد اصل دی د باقي مفرداتو نه او جمع مذکر سالم اصل دی د نورو جموعونه فاعطی الاصل للأصل رعاية للتعادل والاتصاف او **فمذکر** خبر د مبتدا دی چې شرطه دی او حمل صحيح دی ځکه د دې نه مونږه تاويل کوو په کونه مذکر علم

يعقل سره او دا فا راغلي ده په خبر د مبتدا کې ځکه مبتدا چې مقارن وي د شرط سره نو په خبر کې بې فاء راځي او لغويت د شرط بين المبتداء والخبر جائز دی په نزد د شارح هندي باندې (۲) يا ان کان اسما شرط دی او فمذکر علم يعقل خبر د مبتدا محذوف دی چې هو دی او حذف د عائد مرفوع په داسې مقام کې جائز کړی دی شيخ رضی نحو ان جاءك زيد فکريم ای فهو کريم بيا شرط سره د جزا نه جمله شرطيه خبر د مبتدا دی چې شرطه دی مبتدا سره د خبر نه جمله خبريه اسميه

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط دماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د جمع مذکر سالم نه او د هغه موادونه چې په هغې کې تغير راتلو د وجې د الحاق د علاماتو د جمع مذکر سالم نه چې اسم منقوص او اسم مقصور وو نو شروع يې وکړه په شرطونو د جمع مذکر سالم کې او په معرفت د ربط سره غرض د مصنف هم معلوم شو چې بيا ۱۰ شرطونو د جمع مذکر سالم دی.

سوال: په ...رط کې دا ضمير چاته راجع دی (۱) يا به يې راجع کوی مفرد ته (۲) يا به يې راجع کوی جمع مذکر سالم ته، که ته وائي چې راجع دی جمع مذکر سالم ته نو فمذکر علم يعقل حمل نه دی صحيح ځکه مسلمون علم نه دی او که ته وائي چې ضمير راجع دی مفرد ته نو بيا خروج عن البحث راځي؟ جواب: ضمير راجع دی مفرد ته ليکن مطلق مفرد نه دی مراد بلکه هغه مفرد مراد دی چې اراده کړې شوی وی جمعيت د هغه په جمع مذکر سالم سره نو بحث د متعلقاتو د شیئ نه بحث د شیئ نه وی نو خروج عن البحث رانغی.

سوال: ته وائي جمعيت د اسم مفرد په جمع مذکر سالم سره مشروط دی په شروط ثلاثة ؤ سره نو دا درې شرائط د وجوب لپاره دی او که د جوازاو صحت لپاره؟ جواب: دا شرائط ثلاثه د صحت د جمعيت لپاره دی نه د وجوب لپاره يعنی دا درې واړه شرطونه چې معاً موجود وو نو هغه مفرد جمع کول په جمع مذکر سالم سره صحيح دی غلط نه دی ليکن دا لازم او واجب نده چې دا درې شرطونه چې موجود شیئ په يو اسم مفرد کې نو ته به يې خامخا جمع کوی په جمع مذکر سالم سره.

سوال: وشرطيه مبتدا ده دا خبر غواړي او ان کان اسما شرط دی او شرط جزاء غواړي نو دا وروستو فمذکر الخ به خالي نه وائي يا به يې خبر وائي د مبتدا لپاره او يا به يې جزاء وائي د شرط لپاره او دا دواړه نه صحيح کيږي که خبر يې وائي د مبتدا لپاره نو په هغې کې څلور نقصانه لازميږي (۱) په خبر د مبتدا کې فاء هله راځي چې متضمن وی معنی د حرف شرط لره او دلته متضمن نده معنی د حرف شرط لره ځکه د هغې مثالونه مصنف دوه بيان کړی دی وذلك فی الاسم الموصول بفعل او ظرف او النکرة الموصوفة بهما او دا يو د دغه دواړو نه نۀ دی (۲) خبر د مبتدا محمول وی په مبتدا باندې او دلته حمل نه دی صحيح ځکه شروط د قبيلې د اوصافو نه دی لهذا شرط د دغه اسم لپاره تذکير علميت او عاقليت دی نه مذکر علم او عاقل (۳) خبر مربوط وی د مبتدا سره او دلته ربط نشته په مينځ د مبتدا او د خبر کې ځکه د دې معنی دا ده چې وشرطه فمذکر.

(۴) لازمیږي لغویت د شرط څکه چي فمذکر الخ خبر د مبتدا شو نو د ان کان اسما الخ لپاره جزا (۱) جمله چي خبر واقع شي نو په هغې کي لابدي وی د عائد نه او دلته عائد نشته او که ته وائي چي رابط محذوف دی چي هو دی نو هغه نشته، او که جزا یې ګرځوی د شرط لپاره نو دوه نقصانه دی (۱) جمله چي خبر واقع شي نو په هغې کي لابدي وی د عائد نه او دلته عائد نشته او که ته وائي چي رابط محذوف دی چي هو دی نو هغه رابط نه دی څکه هغه راجع دی اسم ته نه شرط ته (۲) او دویم حذف د عائد مرفوعه راغي او دا باطل دی؟ جواب: فمذکر علم یعقل خبر دی د شرطه مبتدا لپاره او که ته وائي چي فا جزائیه هله راځي په مبتدا کي چي متضمن وی معنی د حرف شرط لره او دلته متضمن نده معنی د حرف شرط لره. جواب: کله چي مبتدا مقارن وی د شرط سره هلته هم فاء جزائیه راوړل جائز دی او که ته وائي چي حمل نه دی صحیح او مربوط نه دی نو جواب دا دی چي فمذکر الخ خبر دی د مبتدا لپاره په اعتبار د کون محذوف سره ای و شرطه کونه مذکرا علما یعقل نو حمل صحیح شي او ربط هم پیدا شو او دغلورم اعتراض نه جواب دا دی چي شرط چي واقع شي بین المبتدا والخبر نو لغویت د شرط جائز دی کما قال الشارح الهندي (۲) یا فمذکر علم یعقل جزاء د شرط وایم په اعتبار د مبتدا محذوف سره ای فهو مذکر علم یعقل او حذف د عائد مرفوع په داسي مقام کي جائز کړي دی شیخ رضي.

سوال: یعقل په ترکیب کي څه واقع شوی دی؟ **جواب:** دا صفت دی د علم لپاره.

سوال: توصیف د علم په یعقل سره نه دی صحیح څکه علم ذی عقل نه دی بلکه ذی عقل مسمی د دي علم دی؟ **جواب:** دا اعتراض به هله واردیدو چي دا صفت بحاله وی لیکن دا صفت بحال متعلقه دی ای یعقل مسماه.

سوال: چي ته وائي چي اسم جامد مذکر علم یعقل وی نو بیا جمع کولي شي په جمع مذکر سالم سره والافلا دا قاعده ستا منقوضه شوه په ورقآء او سلمی سره دا چي علمین واخلي د رجلین لپاره نو جمع کولي شي په جمع مذکر سالم سره ورقاؤن او سلمون ویلي کیږي بالاتفاق باوجود د دي نه چي دا مذکر نه دی څکه چي په اخیر کي یې الف مقصوره او ممدوده راغلي دی او دا علامه د مؤنث ده؟

جواب: مراد د مذکر نه په دي مقام کي هغه اسم دی چي مجرد وی د تاء ملفوظه او مقدره نه نو احتراز راغي د طلحة نه دا نه شي جمع کولي په جمع مذکر سالم سره عند البصریین خلافا للکوفیین وابن کسیان څکه کوفیینو جائز کړی دی طلحون بسکون اللام او ابن کسان جائز کړی دی طلحون بفتح اللام او داخل شو پکي ورقاء او سلمی چي علمین شي د سړو لپاره دا جمع کولي شي په واو نون سره بالاتفاق څکه دا سم مذکر مجرد عن التاء دی ا وعلم او یعقل دی .

سوال: اسم چي متلبس وی په الف مقصوره او ممدوده سره او علم وګرځي د مذکر لپاره هلته جمعیت جائز دی په جمع مذکر سره نو کله چي یو اسم متلبس بالتاء وی او علم وی د هغې جمعیت ولي نه دی جائز په جمع مذکر سالم سره؟

جواب: څکه دا تاء علامه کامله ده په تانیث کي نو جمعیت یې ممتنع دی په واو او نون سره او الف ممدوده او مقصوره کامل نه دی په تانیث کي نو جمعیت یې ممتنع نه دی په واو او نون سره.

سوال: تا ولي علامه کامله فی التانیث ده او الفین ولي کامل فی التانیث نه دی؟

جواب: ځکه چې الف ممدوده بدلیږي په واو سره او الف مقصوره حذف کیږي او ماقبل ترې فتحه پاتې کیږي په حین د الحاق د علامه د جمع مذکر سالم کې نو هغه علامه لاره په خلاف د تاء التانیث نه چې هغه نه حذف کیږي.

سوال: د لته دی وویل چې تاء التانیث قوی ده په تانیث کې او په غیر منصرف کې دی ویلي وو چې الف مقصوره او الف ممدوده قوی دی د تاء نه ځکه چې اسم د الفین د وجې غیر منصرف کیږي او بواخې د تاء د وجې نه نه غیر منصرف کیږي نو په دې کې تناقض دی؟ **جواب:** هلته یې الفین ته قوی ویلي دی باعتبار اللزوم او دلته ورته ضعیف وایو په تانیث کې نو منافات نشته.

سوال: جمعیت د اسم جامد په جمع مذکر سالم سره ولې مشروط دی په شروط ثلاثه ؤ سره؟

جواب: جمع مذکر سالم اصل ده د باقي جموع نه او دا قسم مفرد اصل دی د باقي مفردات نه نو اصل اصل لره ورکړي شو لپاره د رعایت د تعادل او د انصاف.

سوال: تا د ــه جمع مذکر سالم ته اصل وویل او په بیان د اصنافو د اعراب د اسم کې دی جمع مکسر ته اصل ویلي دی نو دا خو منافات راغي دی دواړو کې؟ **جواب:** شرافت او اصالت د اومورو اضافیونه دی په یو جهت سره جمع مذکر سالم اصل ده د مکسر نه او په بل جهت سره جمع مکسر اصل ده که دیته ګوري چې بنا د مفرد پکې روغه پاتې شوې ده نو جمع مذکر سالم اصل ده او که دېته ګوري چې د جمع مکسرې معنی مطابق ده د لفظ سره په تغیر کې او موافقت اولی دی د مخالفت نه نو جمع مکسره اصل ده مثال د جمع مذکر سالم چې جامع د دې شروط ثلاثه ؤ وی لکه زید شو دا اسم جامد دی او شروط ثلاثه پکې موجود دی چې مذکر دی او علم دی او یعقل دی نو جمع کولي شي په جمع مذکر سالم سره چې زیدون ویلي کیږي فان فقد فیه الکل کالعین چې دا نه مذکر دی نه علم دی نه یعقل دی او اثنان کالمراة چې مذکر نه دی او علم نه دی او یعقل دی او واحدة نحو اعوج علما للفرس چې دا مذکر دی او علم دی خو یعقل نه دی نو دانه شي جمع کولي په جمع مذکر سالم سره، او دارنګې دا اسم جامد به خالي وی د ترکیب نه نو احتراز یې وکړو د سیبویه نه ځکه دا اګر چې مذکر دی علم دی او یعقل دی خو خالي نه دی د ترکیب نه نو دا نه شي جمع کولي په جمع مذکر سالم سره پس شو جمعیت د اسم جامد په جمع سالم سره مشروط په شروط خمسه ؤ سره، علم، مذکر، یعقل، خالي د تاء التانیث نه، او خالي به وی د ترکیب نه.

والا کان صفة: **ربط:** هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د شرطونو د جمع مذکر سالم نه په اسمٌ جامد کې پس شروع یې وکړه په شرطونو د جمع مذکر سالم په صفت کې نو وی ویل وان کان صفة

ترجمه: کې چرې وو دغه اسم یو صفت د صفات نه لکه اسم فاعل اسم مفعول صفت مشبه او اسم تفضیل شو نو جمعیت د دې په جمع مذکر سالم سره مشروط دی په شروط سته وو سره په دې شان سره چې دا صفت علم نه وو ګرځیدلي د چا لپاره ځکه ګه علم وو نو پس د علمیت نه دا داخل دی مذکر په اسم جامد کې او حکم د هغې تیر شوی دی (۱) **فمذکر** اول شرط کون : دغه اسم دی مذکر

او د مؤنث حکم وروستو را روان دی (۲) په دې سره احتراز راغي د ضاربة نه ځکه دا مؤنث دی او د مؤنث حکم وروستو را روان دی (۲) په دې سره احتراز راغي د ضاربة نه ځکه دا مؤنث دی نو په دې سره یې احتراز وکړو د مرفوع **يعقل** دويم شرط دا دی چې دا به وی صفت د مذکر عاقل نو په دې سره یې احتراز وکړو د مرفوع منصوب مجرور نه ځکه دا اگر چې مذکر دی خو صفت نه دی د مذکر عاقل لپاره بلکه صفت دی د مذکر غير عاقل لپاره چې اسم دی او صفت د مذکر غیر عاقل نه شي جمع کولي په جمع مذکر سالم سره بلکه جمع کولي شي په جمع مؤنث سالم سره لهذا د مرفوع منصوب مجرور جمع مرفوعون منصوبون مجرورون نه راځي بلکه مرفوعات منصوبات مجرورات راځي کما مرّ في الايام والنساء (۳) **وان لا يكون افعل فعلاء** دريم شرط دا دی چې نه به وی دغه اسم چې صفت واقع شوی دی د مذکر عاقل لپاره په وزن د افعل باندې چې مؤنث د هغې راځي په وزن د فعلاء باندې مثال لکه احمر شو چې دا صفت دی د مذکر عاقل لپاره او په وزن د افعل باندې دی او مؤنث د دې راغلي دی حمراءُ بروزن فعلاء، نو دا احمر نه شي جمع کولی په جمع مذکر سالم سره بلکه د دې جمع راځي حُمر بروزن فُعْلٌ فلايقال احمرون لپاره د دې چې التباس رانه شي د افعل صفتی د افعل تفضیلی سره لکه افضلون شو هلته صيغه د اسم تفضيل جمع شوې ده په جمع مذکر سالم سره که دا افعل صفتی هم جمع شي نو التباس راځي

سوال: دفع د التباس خو په عکس سره هم راتله نو عکس یې ولې ونه کړو؟

جواب: عکس یې ونه کړو ځکه افعل تفضیلي کامل دی د صفتی نه ځکه هغه دلالت کوی په زيادت باندې په خلاف د صفتی نه هغه دلالت نه کوي په زيادت باندې پس مناسب د دې سره دا دی چې دا دی جمع کولي شي په جمع مکسرې سره لپاره د بقاء د وصفيت (۴) **ولا فعلان فعلى** څلورم شرط دا دی چې نه به وی دغه اسم صفتی په وزن د فعلان باندې چې مؤنث د هغې راځي په وزن د فعلی باندې مثال لکه سکران شو دا صیغه د صفت مشبه ده او صفت دی د مذکر عاقل لپاره او مؤنث د دې راغلي دی سکری بروزن فعلی نو دا سکران نه شي جمع کولي په جمع مذکر سالم سره بلکه جمع د دې راځي سُکاری فلايقال سکرانون لپاره د دې چې لازم نه شي التباس د جمع د هغه صفت مشبه سره چې مؤنث یې راغلي وی په وزن د فعلانة باندې لکه ندمان شو د دې جمع راځي ندمانون ځکه مؤنث یې راغلي دی ندمانة په وزن د فعلانة باندې اوس که سکران هم جمع شي په واو او نون سره نو بیا دا پته نه لگي چې دا جمع د فعلان د فعلیٰ ده او که جمع د فعلان ده فعلانة ده، او عکس یې ونه کړو ځکه هغه صفت مشبه چې راځي په وزن د فعلان او مؤنث یې راځي په وزن د فعلانة باندې هغه اصل دی د هغه صفت مشبه نه چې په وزن د فعلان وی او مؤنث یې په وزن د فعلی وی د وجې د فرق نه بين المذکر والمؤنث بالتاء او اصل د فرق لپاره تاء ده لقوته في التانيث او الف مقصوره خلاف الاصل دی (۵) **ولامستويافيه** پنځم شرط دا دی چې نه به وی دغه اسم چې صفت دی **مستويا** برابر **فيه** په دې صفت کې **مع المؤنث** د مؤنث سره او ضمير فيه راجع دی صفت ته په تاويل د وصف سره مثال د صفت مشترك بين المذکر والمؤنث لکه جريح شو يقال امرأة جريح و

رجل جريح، يا لكه صبور شو يقال امرأة صبور و رجل صبور، ځکه دا صفت مشترك دى بين المذكر والمؤنث دا نه شي جمع كولي په جمع مذكر سالم سره او نه په جمع مؤنث سالم سره بلكه د جريح جمع جرحى راځي او د صبور جمع صُبُر راځي ځكه هر كله چې دا اسم مختص نه شو په مذكر او په مؤنث پورې پس نه دى حسن چې جمع كړي شي په داسې يو جمع سره چې هغه مختص دى په مذكر يا مؤنث پورې بلكه دا جمع كولي شي په داسې جمع سره چې مذكر او مؤنث دواړه پكې شريك وى وزن د فعيل دوه قسمه دى (۱) بمعنى الفاعل نحو شريف وكريم په دې كې فرق كولي شي په تاء سره يقال رجل شريف وامرأة شريفة ورجل كريم، وامرأة كريمة (۲) دويم وزن فعيل بمعنى المفعول دى لكه جريح شو په دې كې فرق نه شي كولي بين المذكر والمؤنث بالتاء بلكه دا مشترك دى بين المذكر والمؤنث او دغسې وزن فعول هم دوه قسمه دى (۱) بمعنى المفعول لكه ركوب شي په دې كې فرق كولي شي بين المذكر والمؤنث بالتاء يقال رجل ركوب امرأة ركوبة (۲) وزن فعول بمعنى فاعل لكه صبور په دې كې فرق نه شي كولي بين المذكر والمؤنث بالتاء بلكه دا مشترك دى بين المذكر والمؤنث.

سوال: وزن فعيل بمعنى الفاعل او وزن فعول بمعنى المفعول كې فرق كولي شي او په وزن فعيل بمعنى المفعول او وزن فعول بمعنى الفاعل كې فرق نه شي كولي نو عكس پكې ولې ونه كړي شو؟ **جواب:** عكس ونه كړي شو ځكه وزن فعيل بمعنى الفاعل او وزن فعول بمعنى المفعول كثير او شائع دى نو هلته فرق كول پكار دى نو فرق پكې وكړي شو په تاء سره او په وزن د فعيل بمعنى المفعول او وزن فعول بمعنى الفاعل قليل دى نو فرق پكې ونه كړي شو.

سوال: وزن فعيل بمعنى الفاعل دى كه بمعنى المفعول دى يا وزن فعول بمعنى الفاعل دى او كه بمعنى المفعول دى دا به د څه نه معلومو وو؟ **جواب:** د دې مشتق منه فعل ته وګوره كه لازم وو نو دا بمعنى الفاعل دى او كه متعدي وو نو بيا بمعنى الفاعل والمفعول دواړه راځي او دا به معلوميږي په قرينې د مقام سره **ولا بتاء التانيث** شپږم شرط دا دى چې نه به وى دا اسم مذكور مذكر متلبس په تاء التانيث سره مثال لكه علامة شو د دې جمع جائز نده په جمع مذكر سالم سره ځكه بيا لازميږي اجتماع د علامتين متبائنتين كه دا تا نه حذف كوى او كه دا تاء حذف كړي نو بيا لازميږي التباس د جمع د علام او علامة په مينځ كې ځكه دا پته نه لګي چې علامون جمع د علام ده او كه جمع د علامة ده **وتحذف نونه بالاضافة** حذف كولي شي په حذف واجبه دائمه سره نون د جمع مذكر سالم د وجې د اضافت د جمع مذكر سالم نه غير ته ځكه دا نون قائم مقام د تنوين دى او اضافت تقاضه كوى د اتصال د مابعد سره او نون تقاضه كوى د انفصال د مابعد سره په مابين كې منافات دى مثال نحو قوله تعالى ﴿وَالْمُقِيمِي الصَّلَوٰةِ﴾ اصل كې المقيمين وو او دا نون حذف شوى دى د وجى د اضافت نه وقوله تعالى ﴿وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ الْمُجْرِمُونَ نَاكِسُوا رُءُوسِهِمْ﴾ اصل كې ناكسون وو نون حذف شوى دى د اضافت د وجى نه **وقد شذ نحو سنين و ارضين** دا جمله مستانفه جواب د سوال دى اعتراض

دا دی چې اسم جامد چې جمع کوی په جمع مذکر سالم سره نو جمعیت د دې مشروط دی په شروط خمسه و سره چې مذکر به وی علم به وی یعقل به وی او خالي به وی د تاء التانیث نه او د ترکیب نه دا قاعده ستا منقوضه شوه په سنون او ارضون سره چې جمع د سنة او ارض ده دا اسم جامد نه مذکر دی نه علم دی نه یعقل دی او په جمع مذکر سره جمع شوی دی، نو مصنف جواب وکړو چې دا شاذ دی یعني سنون جمع دسنة او ارضون جمع د ارض راغلي ده خلاف القیاس او شاذ سره نه دا قاعده جوړیږي او نه ورانیږي.

سوال: چې ته وائي سنین شاذ دی او حال دا دی چې صاحب د لباب سنون ته جمع قیاسي ویلي دی څکه هغه دا قاعده بیان کړې ده چې هر هغه اسم جامد چې لام کلمه یې حذف شوی وی او عوض کړې یې تا راغلي وی نو دا جمع کولي شي په جمع مذکر سالم سره لکه سنون قلون سبون وغیره شو، د دې قاعدې نه معلومه شوه چې شاذ فقط لفظ د ارضون دی او سنون جمع قیاسی ده نو تا ورته شاذ ولي وویل؟ **جواب:** مختار عند المصنف مذهب د جمهورو دی او عند الجمهور لکه څنګه چې ارضون شاذ دی نو سنون هم شاذ دی د وجې د عدم وجود د شروط د بنا د جمع مذکر سالم نه په دې کې

المؤنث

ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د جمع مذکر سالم نه تفصیلا نو شروع یې وکړه په بیان د جمع مؤنث سالم کې تفصیلا او هر کله چې جمع مذکر سالم اصل وه نو مقدم یې کړه په جمع مؤنث سالم باندې اجمالاً او تفصیلاً.

ترجمه: **المؤنث** جمع مؤنث سالم په صطلاح د نحویانو کې **ما** اسم دی داسې اسم **لحق** چې متصل شوی وی **اخره** په اخیر د مفرد د دې اسم پورې **الف وتاء** الف او تا زائدتان.

(۲): یا جمع مؤنث سالم عند النحات **ما** یو اسم دی چې وی اخر د دې اسم الف او تا زائدتان.

تشریح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط دا دی چې مخکې بیان د جمع مذکر سالم وو اوس بیان د جمع مؤنث سالم دی او غرض د مصنف بیان د جمع مؤنث سالم دی.

سوال: جمع سالم دوه قسمه ده (۱) مذکر (۲) مؤنث، نو جمع سالم مذکر یې ولي مقدم کړه؟

جواب: هر کله چې جمع مذکر سالم اصل وه د جمع مؤنث سالم نه نو مقدم یې کړه په جمع مؤنث سالم باندې اجمالاً و تفصیلاً د وجې د اصالت نه.

سوال: مخکې تا ویلي وو چې المؤنث ما فیه الخ او دلته وائي چې المؤنث مالحق الخ او دا نه دی مګر تناقض دی په کلامین د مصنف کې او تناقض خو باطل دی نو دا کلام د مصنف هم باطل دی؟

جواب: المؤنث کې الف لام عهد خارجي دی مراد د جمع مؤنث صحیح ده یعني په مابین د کلامین د مصنف کې تناقض نشته څکه هغه تعریف د مؤنث وو او دا تعریف د جمع مؤنث سالم دی.

سوال: دا تعریف د جمع مؤنث سالم جامع نه شو خارج شو د ترې مسلمات ځکه د دې اخیر کې الف او تاء نه دی راغلي بلکه الف او تا په اخیر کې د مسلمات دی او دارنګې مانع نه شو د دخول د غیر نه داخل شو پکې مسلمة ځکه د دې په اخیر کې الف او تا راغلي دی مسلمات ترې جوړ شوی دی؟
جواب: (۱) لحق بمعنی کان دی یعنی فعل دی د افعال ناقصه غیر مشهورو نه او الف وتاء یې اسم دی او آخره خبر دی (۲) یا دا په خپله معنی سره دی او عبارت په حذف د مضاف سره دی ای اخر مفرده الف وتاء نو تعریف صادق شو په مسلمات باندې او مسلمة خارج شو.
سوال: تعریف د جمع مؤنث سالم جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج ترې قائمات ځکه ته وائې چې جمع مؤنث سالم هغه اسم ته وائې چې په اخر د مفرد پورې یې متصل شوی وی الف و تاء او د قائمات په اخیر پورې الف او تا نه دی متصل شوی ځکه د دې مفرد قائمة دی او د هغې اخیر تا ده او دا په تا پورې نه دی متصل شوی بلکه په میم پورې متصل شوی دی؟
جواب: اخیر د قائمة میم دی او تاء په معرض د زوال کې ده اعتبار ورله نشته او تا حذف شوې ده د دې لپاره چې اجتماع د علامتی د تانیث را نه شي.
سوال: دا تعریف مانع نه شو د دخول د غیر نه داخل شو پکې مفرد چې مسعاة دی او دارنګې دا تعریف د جمع مؤنث سالم مانع نه شو د دخول د غیر نه داخل شو پکې جمع مکسره لکه قضات ابیات اموات شو ځکه ته وائې چې جمع مؤنث سالم هغه اسم ته وائې چې د هغې په اخیر کې الف او تا وی نو د سعاة او دعاة اخیر کې الف تا راغلي دی او مسعاة مفرد دی او دعاة نحاة وغیره جمع مکسر دی؟ **جواب:** مراد د الف او تا نه الف او تا زائدتان دی او مسعاة او قضاة وغیره کې الف او تا زائدتان نه دی بلکه مسعاة او قضاة کې تا زائده او الف اصلي دی او ابیات اموات کې الف زائد او تا اصلي ده لام کلمه ده ځکه دا جمع د بیت او د موت ده.
شرطه ان کان صفة: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د تعریف د جمع مؤنث سالم نه نو شروع یې وکړه په بیان د شروطو د بنا د جمع مؤنث سالم کې نو وی ویل وشرطه الخ.
ترکیب: شرطه، مبتدا فان یکون خبر د مبتدا دی او فا زائده ده، او ان کان صفة وله مذکر جمله شرطیه ده، معترضه راغلي ده بین المبتدا والخبر او دا جزا نه غواړي (۲) شرطه مبتدا ان کان صفة وله مذکر شرط، فان یکون خبر د مبتدا محذوف دی، ای فذلك، دا جمله جزا د شرط. شرط سره د جزا نه خبر د مبتدا چې شرطه دی (۳) شرطه مبتدا او خبر یې حذف دی چې ما یذکر دی او ان کان صفة تفصیل دی د هغه خبر لپاره په شان د د دې قول د الله تعالی ﴿ الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي ﴾ دا مبتدا ده په اعتبار د حذف د مضاف سره او خبر یې حذف دی چې فیما سیتلی علیکم او مابعد تفصیل دی.
ترجمه: شرطه شرط لپاره د هغه اسم چې اراده کړې شوی دی جمعیت د هغې په جمع مؤنث سالم سره **ان کان** که چرته وو دغه اسم چې اراده کړې شوی دی جمعیت د هغې په جمع مؤنث سالم سره **صفة** مشتق چې هغه اسم فاعل اسم مفعول صفة مشبه او اسم تفضیل دی او حال دا دی چې **وله**

مذکر ثابت دی د دې مؤنث لپاره مذکر، او صفة سره يې احتراز وکړو د اسم جامد نه د هغې حکم وروستو راځي او **وله مذکر** سره يې احتراز وکړو د هغې نه چې د هغې لپاره مذکر نه وي د هغې حکم هم وروستو راروان دی اوس چې دا صفت وی او مذکر ورله هم وی او ته يې جمع کوی نو شرط يې دا دی چې وی به مذکر د دغه اسم مؤنث جمع کړي شوی په واو او نون سره نو بيا به ته دا صفت مؤنث جمع کوی په جمع مؤنث سره لپاره د دې چې فرع موافق شي د اصل سره په سلامتيا د واحد کي او لازم نه شي مزيت د فرع په اصل باندې مثال لکه ضاربات شو چې دا جمع د ضاربة ده او ضاربة اسم مؤنث دی صفت دی ځکه صيغه د اسم فاعل ده او مذکر ورله شته چې ضارب دی او جمع شوی دی په جمع مذکر سالم سره چې ضاربون دی نو مؤنث د دې به ته جمع کوی په جمع مؤنث سالم سره نو ضاربات به وائې او که دا اسم مؤنث صفت وو او مذکر ورله شته خو هغه نه دی جمع شوی په جمع مذکر سالم سره نو دا مؤنث هم نه شي جمع کولې په جمع مؤنث سالم سره لپاره د دې چې لازم نه شي مزيت د فرع په اصل باندې مثال لکه مرفوعة منصوبة او مجرورة، اسم مؤنث صفت دی او مذکر ورله شته چې مرفوع منصوب او مجرور دی خو هغه نه دی جمع شوی په جمع مذکر سالم سره ځکه صفت د مذکر لايعقل دی نو دا هم نه شي جمع کولې په جمع مؤنث سالم سره.

سوال: ته وائې چې اسم مؤنث صفت وو او د هغې لپاره مذکر وو او جمع شوی وو په جمع مذکر سالم سره نو دا به جمع کيږي په جمع مؤنث سالم سره، والا فلا هذا منقوض بقوله عليه السلام (ليس في الخضراوات صدقة) چې د اجمع مؤنث سالم د حضراء ده او خضراء واحد مؤنث صفت مشبه دی مذکر يې شته چې احضر دی او دا نه دی جمع شوی په احضرون سره ځکه دا صفت د مذکر لايعقل دی او دا حضراء جمع شوی دی په الف او تاء سره؟

جواب: دا جمع د حضراء ده او دلته غلبه دا سميت راغلي ده په وصفيت باندې نو دا ګرځيدلي دی اسم جامد **وان لم يکن له مذکر** او که د دې مذکر نه وو نو شرط يې دا دی **فان لايکون مجرد** چې نه به وی مجر عن تاء التانيث بلکه متلبس به وی په تاء التانيث سره لکه حائضة شو چې جمع يې حائضات راغلي ده، او که دا مجرد عن التاء نه وو نو نه شي جمع کولې لکه حائض او طالق چې جمع يې حوائض او طوالق راځي نه حائضات او طالقات لپاره د دې چې لازم نه شي التباس د جمع مؤنث سالم د متلبس بالتاء سره ځکه که دا جمع شي نو پته نه لګي چې دا جمع د حائض ده او که د حائضة ده.

سوال: التباس خو په عکس سره هم دفع کيږي نو عکس يې ولې ونه کړو؟

جواب: عکس يې ونه کړو ځکه هغ مؤنث په تاء لفظي سره اليق ده په جمع مؤنث سالم سره د مؤنث بتاء تقديري نه، حائض هغه زنانه ته وائې چې هغه قابله د حيض وی او بالفعل يې حيض نه وی او حائضة هغې ته وائې چې بالفعل يې حيض وی **والا** او که دا اسم مؤنث صفت نه وو بلکه اسم جامد وو **جمع** جمع کولې شي په جمع مؤنث سالم سره بې د شروط مذکورو نه سماعاً، **مطلقاً** دا منصوب دی بنابر مفعول مطلق د جمع لپاره باعتبار الموصوف المحذوف ای جمعا مطلقا (۲) يا مفعول

فيه دي په اعتبار د موصوف محذوف سره ای زمانا مطلقا، فيقال هندات في هند، وتمرات بفتح الميم في تمرة وكسرات في كسرة، وغرفات في غرفة.

سوال: ته وائي چې اسم مؤنث صفت نه وو بلکه اسم جامد وو نو دا جمع کولي شي بلاقيد و شرط دا خبره صحيح نده ځکه جمع کول د اسم مؤنث په جمع مؤنث سالم سره مشروط دی په يو شرط سره چې سمع ده کوم چې مسموع وی هغه جمع کولي شي او کوم چې مسموع نه وی هغه نه شي جمع کولي لهذا مطلقا ويل نه دی صحيح؟

جواب: د مطلقا دا معنی نده چې بلاقيد وشرط بلکه د دې معنی دا ده چې بې د شروط مذکورونه.

جمع التكسير

ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د نوع اول د جمع حقيقی اصطلاحی نه چې هغه جمع تصحيح وه نو شروع يې وکړه په بيان د نوع ثانی د جمع حقيقی اصطلاحی کې چې جمع تكسير ده او هر کله چې جمع تصحيح اصل وه د تكسير نه د وجې د سلاميتا د بناء دمفرد نه په جمع تصحيح کې پس مقدم يې کړه جمع تصحيح په تكسير باندې اجمالا و تفصيلا.

ترجمه: **جمع التكسير** جمع تكسير په اصطلاح د نحويانو کې **ما هغه جمع ده تغير بناء واحده** داسې جمع چې ورانه شوی وی بناء د مفرد د ده په تغير داخلي سره لپاره د حصول د جمعيت او تغير داخلي عام دی حقيقة وی او که حکما وی **كرجال وافراس** مثال د دې لکه رجال او افراس شو چې دا جمع مکسره ده ځکه بنا د مفرد د دې چې رجل او فرس دی روغه نده پاتې شوی بلکه په دې کې تغير راغلي دی په زيادت سره لپاره د حصول د جمعيت.

تشريح: **سوال:** د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط دا دی چې مخکې بيان وو د نوع اول د جمع حقيقی اصطلاحی چې جمع تصحيح ده بکلا النوعين اود ا بيان د نوع ثانی د جمع حقيقی اصطلاحی دی چې جمع مکسره ده او په معرفت د ربط سره غرض د مصنف هم معلوم شو چې بيان د نوع ثانی د جمع حقيقی اصطلاحی دی.

سوال: جمع حقيقی اصطلاحی دوه قسمه ده (۱) تصحيح (۲) تكسير، او دا دواړه سواسی دی نو تصحيح دی ولي مقدم کړه اجمالا وتفصيلا؟

جواب: هر کله چې جمع تصحيح اصل وه د تكسير نه پس مقدم يې کړه جمع تصحيح په جمع تكسير باندې اجمالا وتفصيلا د وجی د اصالت نه.

سوال: جمع تصحيح ولي اصل ده؟ **جواب:** د وجی د سلاميتا د بنا د مفرد نه په جمع تصحيح کې په خلاف د جمع مکسر نه دلته بنا د مفرد روغه نده پاتې شوی او تكسير مصدر د باب تفعيل دی او مصدر مبني للمفعول دی په معنی د مکسر سره ځکه مونږه د دې معنی جمع مکسر سره کوو يو جمع تكسير ده بالسين او بل جمع تكثير ده بالثاء د دې په مينځ کې فرق دا دی چې جمع تكسير عام ده ځکه دا مقسم دي او تكثير خاص ده ځکه دا د هغې يو قسم دی.

سوال: ما تغير کې دا ما الفاظ عامونه دی دلته د څه نه عبارات دی؟ **جواب:** دا عبارت دی د جمع نه

سوال: ما عبارت د جمع نه ولې دی د لفظ، اسم، شي نه ولې نه دی؟ **جواب:** (۱): څکه معتبر په تعريفات کې جنس قريب دی او جنس قريب دلته جمع ده او لفظ او شي اجناس بعيده دی (۲) ما عبارت دی د جمع نه نه د غير نه څکه جمع تکسير او تصحيح اقسام د جمع دی او مقسم معتبر وی په تعريفات د اقسام کې او په تنکير د جمع کې يې اشاره وکړه موصوفيت د ما ته لانه واقع في جانب الخبر.

سوال: ته وائي چې جمع تکسير اصطلاح کې ما تغير بنا واحده ته وائي دا تعريف مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو په کې جمع سالم لکه مسلمون او مسلمات دلته هم تغير راغلي دی په الحاق د علامات سره؟ **جواب:** د لته مراد د تغير نه مطلق تغير نه دی بلکه مراد تغير داخلي دی او په مسلمون او مسلمات کې تغير داخلي نشته بلکه تغير خارجي دی.

سوال: تعريف د جمع تکسير مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو پکې مصطفون او قاضون تمرات، کسرات، غرفات څکه په بنا دمفرد د دې جموعو کې تغير داخلي راغلي دی؟

جواب: جمع تکسير هغه جمع ته وائي چې په بنا د واحد دهغې کې تغير داخلي راغلي وی لپاره د حصول د جمعيت او په مصطفون او قاضون اوباقي جموعو کې تغير داخلي لپاره د حصول د جمعيت نه دی بلکه دا راغلي دی پس د حصول د جمعيت نه د وجې د قانون صرفي نه.

سوال: دا تعريف د جمع تکسير جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو ترينه فلك او هجان څکه ته وائي چې جمع تکسير هغې ته وائي چې ورانه شوی وی بنا د مفرد د دې په تغير داخلي سره او هلته تغير داخلي نه دی راغلي؟ **جواب:** تغير د بنا د واحد د جمع تکسير په تغير داخلي سره په جمع تکسير کې عام دی چې حقيقة وی لکه غلمان کې او که حکما وی لکه هجان او فلك کې دلته اگر که تغير داخلي حقيقة نشته خو حکما شته مثال د جمع تکسير لکه رجال او افراس شو چې رجال جمع د رجل ده او جمع مکسر ده څکه بنا د مفرد يې روغه نده پاتې شوی او افراس جمع د فرس ده.

سوال: مثال ذکر کولي شي لپاره د وضاحت د ممثل او وضاحت د ممثل راځي په مثال واحد سره نو تا دوه مثالونه ولې ذکر کړه؟ **جواب:** (۱): مثال بمنزله شاهد دی او شهادت د دوه معتبر دی څکه يې دوه مثالونه ذکر کړی دی (۲): رجال مثال د جمع مذکر مکسر دی او افراس مثال د جمع مؤنث مکسر دی په دې اعتبار سره چې فرس مؤنث سماعی دی (۳): رجال مثال د ذوی العقول دی او افراس مثال د غير ذوی القعول دی په دې کې يې اشاره وکړه تعميم ته چې جمع تکسيره عام ده په ذوی العقول غير ذوی العقول او مذکر او مؤنث ټولو کې راځي (۴) جمع تکسير دوه قسمه ده (۱) جمع قلته (۲) جمع کثرته، نو رجال مثال د جمع کثرت دی او افراس مثال د جمع قلت دی.

جمع القلة: ربط: دا جمله مستانفه جواب د سوال دی (۲): يا هر کله چې فارغ شو مصنف د تقسيم د مطلق جمع نه په اعتبار د لفظ سره نوعين ته چې مکسره او سالمه ده نو شروع يې وکړه په تقسيم د مطلق جمع کې ثانيا په اعتبار د معنی سره نوعين ته چې يو جمع قلته ده او بله جمع کثرته ده نو وی ويل جمع القلة

ترجمه: جمع قلته راځي په استعمال د کلام د عربو کې په وزن د **افعل افعال افعلة وفعلة** لکه افلس افراس ارغفة وغلمة، **والصحيح** او بل جمع صحيح ده بغير د الف لام نه بيا عامه ده که مذکر وی او که مؤنث وی د دې اطلاق کيږي د ثلاثه نه تر عشرة پورې لکه مسلمون او مسلمات شو **وما** او هغه جمع **عدا ذلك** چې سوی د مذکور نه ده چې اوزان اربعه او جمع صحيح مذکر او مؤنث ده بدون اللام **جمع كثرة** هغه جمع کثرته ده، د دې اطلاق کيږي د يولس نه تر الى ما لانهاية له پورې دا فرق په هغه ځای کې دی چې دا ځان له ځانله جمع راغلي وه د مفرد لپاره لکه غلمة او غلمان شو او که داسې نه وه لکه ارجل او رجال نو دغه يوه جمع مشترکه ده بين القلة والكثرة او دا فرق بينهما فرق وضعی دی نه استعمالی ځکه احدهما مستعمليږي په مقام د اخر کې مجازاً مثال الکثرة مقام القلة، نحو قوله تعالى ﴿ ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ ﴾ دا قروء جمع کثرته مستعمل ده په مقام د قلته کې چې ثلاثة دی مجازاً سره د وجود د جمع قلت نه چې اقراء دی او مثال دقلت مقام الکثرت قوله تعالى ﴿ كَمْ تَرَكُوْا مِنْ جَنّٰتٍ ﴾ جنات جمع قلته ده ځکه جمع مؤنث سالم مجرد عن اللام ده او مستعمل ده په مقام د کثرت کې او دا مقام د کثرت دی په دليل د کم خبری سره ځکه کم خبری د انشاء د تکثير لپاره راځي او جمع صحيح مذکر او جمع صحيح مؤنث کې مذاهب اربعه دی.

(۱): **صاحب د فصول اکبری** ويلي دی موضوع مر قلت را.

(۲): **او ابن خروف** وائي چې د جمع صحيح د قلت او کثرت دواړو لپاره ده.

(۳): **او بعض** وائي چې دا د مطلق جمع لپاره دی بی د لحاظ د قلت او کثرت نه.

(۴): **او خوک** وائي چې دا جمع صحيح مذکر او مؤنث به خالي نه وي يا به متلبس باللام وی يا به مجرد وی که مجرد وو نو قلت لپاره دی والا د کثرت لپاره دی.

تشريح: سوال: (۱) د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط دا دی چې دا جمله مستانفه جواب د سوال دی ځکه هر کله چې په دې تعدد د مثال د جمع کثرت کې اشاره وکړه نوعين د جمع تکسير ته چې دا دوه قسمه ده (۱) قلته (۲) کثرته رجال مثال د کثرت وو او افراس مثال د قلت وو نو معترض اعتراض وکړو چې قلت څه ته وائي او کثرت څه ته وائي نو مصنف جواب وکړو (۲) هر کله چې فارغ شو مصنف د تقسيم د مطلق جمع نه نوعين ته باعتبار اللفظ نو شروع يې وکړه په تقسيم د مطلق جمع کې نوعين ته باعتبار المعنى چې قلت او کثرت دی او په معرفت د ربط سره غرض د مصنف هم معلوم شو چې يا جواب د سوال دی يا تقسيم د مطلق جمع دی ثانيا باعتبار المعنى نوعين ته چې قلت او کثرت دی.

سوال: جمع القلة مبتدا ده او افعل افعال الخ ورله خبر دی او خبر محمول وی په مبتدا او دلته حمل نه دی صحيح ځکه دا خو جمع قلته نده بلکه اوزان د جمع قلتی دی؟

جواب: دا عبارت د په حذف د مضاف سره دی ای ابنية جمع القلة افعل افعال افعلة وفعلة يا دا عبارت په حذف د مضاف سره نه دی بلکه ذکر د اوزان او مراد ترينه موزونات دی نو معنی دا شوه

چې جمع قلته هغه جمع ته وائي چې راځي په وزن د افعل الخ باندې مثال د جمع قلت لکه اقلس افراس، ارغفة، او غلمة، شو اوزان د جمع قلت څلور دی کمافي قول الشاعر؛ شعر

جمع قلت چار راست ابنیه — افعل افعال فعلة وارغفة
باتو عیوم ہر یکی امثلہ — افلس افراس غلمة ارغفة

سوال: افعل غیر منصرف دی د وجې د علمیت او د وزن فعل نه او افعلة او فعلة غیر منصرف دی د وجې د علمیت او د تانیث لفظي نه او افعال منصرف دی ځکه دې کې صرف علمیت دی او بل سبب پکې نشته او حکم د غیر منصرف دا دی چې ان لاکسرة ولاتنوین نو افعلة فعلة افعل کې تنوین ولې راغلي دی؟ **جواب:** (۱) دا تنوین راغلي دی د وجې د تناسب بین الکلمتین نه چې افعال کې تنوین راغلي وو د وجې د انصراف نه نو په دې نورو کې تنوین راوړي شو لپاره د دې چې د افعال سره تناسب راشي (۲) په غیر منصرف کې تنوین تمکن نه راځي او دا تنوین تمکن نه دی بلکه دا راغلي دی مشاکلة چې مشاکلت راشي بین الاسم والمسمی او ماتن د جمع قلت او کثرت تعریف بالمثال کړی دی چې جمع قلت هغې ته وائي چې راځي په وزن د افعل الخ یا جمع سالم وی او کثرته د دې نه علاوه ده او تعریف بالمفهوم یې دا دی چې جمع قلته هغې ته وائي چې اطلاق یې د درې نه تر لس پورې کیږي او کثرته هغې ته وائي چې د هغې اطلاق کیږي د یولس نه الی مالانهایة له.

سوال: اوزان د جمع قلته یې بیان کړه نو اوزان د جمع کثرته یې ولې بیان نه کړه؟
جواب: اوزان د جمع قلت معدود محصور دی نو دا یې بیان کړه او اوزان د جمع کثرت غیر محصور او غیر منضبط وو نو هغه یې بیان نه کړه.

سوال: ته وائي چې جمع قلته دیته وائي چې اطلاق یې کیږي د درې نه تر لسو پورې او دا راځي په وزن د افعل الخ دا قاعده ستا منقوضه شو په ارجل او رجال سره ځکه رجال جمع کثرت ده او اطلاق یې کیږي په ماتحت د احد عشر باندې هم او ارجل جمع قلته ده او د دې اطلاق د احد عشر نه په مافوق هم کیږي. **جواب:** دا فرق بین القلة والکثرت وضعاً هغه ځای کې دی چې یو مفرد جمع شوی وی جمع القلت او کثرت دواړو سره لکه اغلمة اوغلمة شو که د لسو پورې مراد وو نو غلمة به وائي او که زیات مراد وو نو غلمان به وائي.

سوال: ته وائي چې دا فرق هغه ځای کې دی چې مفرد جمع شوی وی په جمع قلت او کثرت دواړه سره، دا قاعده ستا منقوضه شو بقوله تعالی ﴿ثَلٰثَةَ قُرُوْٓءٍ﴾ دلته قروء جمع کثرت مستعمل شوې ده په ځای د قلته باندې سره د وجود د جمع قلت نه چې اقراء دی دا رنګې په دې قول د الله تعالی ﴿کَمْ تَرَکُوْا مِنْ جَنّٰتٍ﴾ سره چې دلته جمع قلته مستعمل شوې ده په مقام د کثرته سره د وجود د جمع کثرت چې الجنات دی؟ **جواب:** دا فرق وضعی دی نه استعمالا احدهما مستعملیږي په مقام د اخر کې مجازا لکه دغه دوه مثالونه شو.

سوال: ابن حاجب صاحب جمع تصحيح د جمع قلت نه وګرځوله او شيخ رضي ويلي دي چې جمع تصحيح د مطلق جمع لپاره راځي قطع نظر د قلت او د کثرت نه؟ جواب: دا جمع تصحيح به خالي نه وي يا به سره د الف لام نه وي او يا به بغير د الف لام نه وي که بې د الف لام نه وه نو دا راځي دقلت لپاره او که سره د الف لام نه وه نو دا راځي د مطلق جمع لپاره نو د مصنف خبره بنا ده په مجرد عن اللام کې او شيخ رضي خبره بنا ده په متلبس باللام کې نو منافات نشته.

سوال: لفظ د تراويح مفرد دی که مثنی دی که مجموع دی؟ جواب: تراويح جمع ده نه مفرد او مثنی او جمع د ترويحة ده او ترويحة کې تا د وحدة لپاره ده معنی يوځل دمه کول او د تراويح معنی ده ډېر کرته دمه کول.

سوال: تراويح جمع قلته ده که جمع کثرته ده؟ جواب: تراويح جمع کثرته ده نه جمع قلته ځکه جمع قلته راځي په اوزان مخصوصو باندې او دا د هغې نه نه دی او د جمع کثرت اطلاق کيږي په مافوق واحد عشر باندې نو معلومه شوه چې تراويح ديولس نه زياتي دی نه کم.

سوال: تراويح جمع کثرته ده نه قلته ليکن دا احدهما مستعمل کيږي په مقام د اخر کې نو دلته جمع کثرته مستعمل شوې ده په مقام د جمع قلته کې لهذا تراويح د يولس نه کمی دی نه زياتي؟

جواب: جمع قلته او کثرته احدهما مستعمليږي په مقام اخر کې په وقت د عدم وجود د مانع کې او دلته مانع موجود دی ځکه تراويح جمع د ترويحة ده او ترويحة يوځل دمه کولو ته وائي، او دوه ځله چې دمه وکړي نو هغې ته ترويحتان وائي او د دوه نه زيات چې دمه وکړي هغې ته تراويح وائي او دمه کولي شي وروستو د څلور رکعتو نه او د څلور رکعتو نه وروستو چې دمه وکړي دا يوه ترويحه شوه، بيا د څلور نه وروستو ترويحتان شو، او بيا د هغې نه اخوا د څلور نه وروستو چې دمه وکړي نو تراويح شو نو معنی د تراويح انکار کوی چې د دې اطلاق وشي په مقام د قلت کې چې هغه اته رکعاته دی ځکه اته رکعته کې دوه ځله دمه کولي شي په هغې اطلاق د ترويحتان کيږي نه د تراويح

سوال: اته رکعتونه تراويح وايو ځکه مراد د جمع نه جمع لغوی ده او جمع لغویٰ مافوق الواحد ته وائي؟

جواب: (۱) اطلاق د جمع په دوه باندې مجازاً دی نه حقيقتاً او مجاز لپاره شرط تعذر د حقيقت دی او دلته حقيقت نه دی متعذر (۲) چې مراد د جمع نه جمع لغوی شي او جمع لغوی مافوق الواحد ته وائي د هغې اطلاق لکه څنګه چې په دوه باندې کيږي په مافوق د دوه باندې هم کيږي دا جمع لغوی نص نه دی په مثنی کې لهذا دعوی د خصم نه ثابتيږي په جمع لغوی سره چې شل رکعته تراويح نشته ځکه د جمع لغوی اطلاق په شلو باندې هم کيږي.

المصدر

ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د اسماء غير متصلونه نو شروع يې وکړه په بيان د اسماء متصلو کې چې هغه مصدر اسم فاعل اسم مفعول صفت مشبه او اسم تفضيل اسم مکان اسم زمان دی او هر کله چې مصدر اصل د مشتقاتو وو بنا په مذهب اصح باندې چې هغه مذهب د بصريانو دی نو مقدم يې وګرځوو دا مصدر په باقي اسماء متصلو باندې نو وی ويل المصدر مصدر صيغه د ظرف ده په

لغت کې ځای د صدرو ته وائي او په اصطلاح کې **اسم** نوم دی **للحدث** د هغه معنی لپاره چې هغه قائم وي
په غیر پورې برابره خبره ده چې صادر بالاختیار وی لکه ضرب او مشی یا نه وي لکه طول او قصر شو.
الجاري على الفعل داسې حدث چې هغه جاري دی په فعل باندې په دې شان سره چې دا مصدر پس د
اشتقاق د فعل د ده نه واقع کیږي مفعول مطلق د دې فعل لپاره په یو د انواع ثلاثه ؤ سره چې هغه
تاکیدی او نوعی او عددی دی نو جلست جلوسا، وجلسة وجلسة، دی سره یې احتراز وکړو د اسم
مصدر نه لکه ضاربیت او مضروبیت ویلا او ویحا شو ځکه دا آکر که دلالت کوی په معنی مصدري
باندې لیکن مشتق منه لپاره د مشتقات نه واقع کیږي او په مصدر او مفعول مطلق کې نسبت د عموم
خصوص مطلق دی په اعتبار د صلاحیت سره مصدر احض مطلق او مفعول مطلق اعم مطلق دی او په
اعتبار د فعلیت سره عموم خصوص من وجه دی، ماده اجتماعی نحو ضربت ضربا ماده افتراقی د
جانب د مفعول مطلق نه هلکت ویلا، ماده افتراقی از مصدر اعجبنی ضرب زید.

تشریح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟
جواب: ربط دا دی چې هر کله فارغ شو مصنف د تقسیم د اسم نه خامساً انواع ثلاثه ؤ ته چې واحد
مثنی او مجموع وو نو شروع یې وکړه په تقسیم د اسم کې سادساً نوعین ته چې یو اسم متصل
بالفعل دی او بل غیر متصل بالفعل دی او په دې تقسیم سادس کې جهت د تقسیم کون د اسم دی
متصل بالفعل په دې شان سره چې اسم په اعتبار د اتصال د ده سره په دوه قسمه دی (۱) متصل
بالفعل چې دلالت کوی په معنی مصدري باندې (۲) غیر متصل بالفعل چې دلالت په معنی
مصدري باندې نه کوي او اسماء متصله بالفعل اوه دی مصدر اسم فاعل الخ او د دې نه مخکې
بیان د اسماء غیر متصلو وو او د دې نه بعد بیان د اسماء متصلو کوی په دې سره غرض د مصنف
هم معلوم شو چې تقسیم د اسم دی باعتبار الاتصال الی النوعین.

سوال: اسماء غیر متصله اوه دی او مصنف خو دلته پنځه ذکر کړی دی اسم ظرف او اسم اله یې ولې
نه دی ذکر کړي؟ **جواب:** دلته مصنف هغه اسماء ذکر کوی چې د اسماء عاملونه دی او اسم ظرف او
اسم اله د اسماء غیر عاملونه دی.

سوال: په دې اسماء متصلو عاملو کې یې مصدر ولې مقدم کړو په دې نورو باندې؟
جواب: ځکه چې مصدر اصل د مشتقاتو دی بنا په مذهب اصح چې مذهب د بصریانو دی ځکه دا
مشتق منه د مشتقاتو دی او مختار عند المصنف مذهب د بصریانو دی.

پدې مقام کې لابدي ده د معرفت د امور سته ؤ نه (۱) مفهوم لغوی (۲) مفهوم اصطلاحی (۳) وجه د
تسمیه (۴) فرق په مینځ د مصدر او اسم مصدر کې (۵) نسبت بین المصدر والمفعول المطلق په اعتبار
د فعلیت او صلاحیت سره (۲) معرفت د معنی الجاری علی الفعل، نو مصدر صیغه د اسم ظرف ده لغت
کې جاي صدور ته وائي او په اصطلاح کې اسم للحدث الجاري علی الفعل ته وائي او دی مصدر ته
مصدر ځکه وائي چې دا ځای د صدور د باقي مشتقات دی ځکه باقي مشتقات د دې نه مشتق کیږي،
او مصدر او په اسم مصدر کې فرق دا دی چې مصدر هغه اسم ته وائي چې دلالت کوی په معنی مصدري

باندې او مشتق منه د مشتقات واقع کیږي لکه ضرب او قتل، او اسم مصدر هغه اسم ته وائي چې دلالت کوي په معنی مصدري او مشتق منه د مشتقات نه واقع کیږي لکه ضاربیت مضروبیت ویلا او بحا شو.
او نسبت بین المصدر والمفعول دوه قسمه دی (۱) باعتبار الصلاحیت اوقوت (۲) باعتبار الفعلیت، نو په اعتبار د صلاحیت سره په مینځې د دې کې عموم خصوص مطلق دی مصدر احض مطلق او مفعول مطلق اعم مطلق په دې شان سره چې هر مصدر صالح د مفعول مطلق دی داسې مصدر نشته چې مفعول مطلق نه واقع کیږي او هر مفعول مطلق صالح د مصدر نه دی لکه هلکت ویلاً کې ویلاً مفعول مطلق دی او مصدر نه دی بلکه اسم مصدر دی او په اعتبار د فعلیت سره عموم خصوص من وجه دی (۱) ماده اجتماعی لکه ضربت ضرباً (۲) افتراقی از مفعول مطلق هلکت ویلا (۳) افتراقی از مصدر اعجبنی ضرب زید، دلته ضرب مصدر دی ځکه د لالت کوی په معنی مصدري اومشتق منه واقع کیږي د مشتقات او مفعول مطلق نه دی ځکه فاعل دی.
سوال: جاري علی الفعل څه ته وائي؟ **جواب:** زده کړه دا خبره چې یو جریان د مشتقی دی په ماقبل باندې د هغې مصداقونه څلور دی (۱): چې دا مشتقی صفت وی د ماقبل نحو جاءنی رجل ضارب عمرا. (۲): چې حال وی د ماقبل نه نحو جاءنی زید راکباً. (۳): یا خبر د مبتدا وی نحو زید قائم.
(۴): چې صله وی د ماقبل نه نحو جاءنی الضارب عمراً. (۲): او بل جریان د اسم فاعل دی په مضارع باندې چې دا اسم فاعل جاري دی په فعل مضارع باندې یعنی دا مشابه دی د فعل مضارع سره په تعداد د حروف او حرکات سکنات کې. (۳): دریم جریان د مصدر دی په فعل باندې د دې دا معنی ده چې دا مصدر مفعول مطلق واقع شوی دی د دې فعل لپاره په یو د طرق ثلاثه و سره چې هغه تاکیدی، نوعی، او عددی دی او دلته هم د جریان نه دغه معنی مراد ده.
وهو من الثلاثی المجرد سماعی: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د تعریف د مصدر نه پس شروع یې وکړه په تقسیم د مصدر کې نوعین ته چې (۱) یو مصدر قیاسی (۲) اوبل مصدر سماعی دی نو وی ویل وهو من الثلاثی الخ.
ترجمه: وهو او دغه مصدر **من الثلاثی المجرد** د ثلاثی مجردو نه **سماعی** سماعی دی په دې شان سره چې مجئیت د دې مسموع دی د عرب نه او د یو قاعدی لاندې نه دی داخل ولایقاس علیه غیره او عدد د مصدر سماعي د ثلاثی مجردو مشهور رسیږي (۳۲) ته لکه چې بیان شوی دی په کتابونو د علم صرف کې چې قتل: فسق، شغل، رحمة، نشدة، کدرة، دعوی، ذکری، بشری، مرطی لیان، حرمان، غفران، نزوان، طلب، حنق، صغر، هدی، ذهاب، صراف، سوال، ذهادة، درایة، بغایة، غلبة، سرقة، قبول، دخول، وجیف، قطیعة، صهوبة، قیلولة، کینونة، مملوکة مدخل، مرجع، مسحاة، محمدة، کراهیة، کاذبة، مفتون، قائم.
ومن غیره: او غیر د ثلاثی مجردو نه چې هغه ثلاثی مزید، رباعی مجرد، او مزید دی **قیاس** قیاسی راځي په دې شان سره چې داخل دی د یو قاعدی لاندې کوم چې مسموع دی د عرب نه نو په هغې

بانديې نور هم قياس کولي شي د وجې د قاعدې نه مثال لکه هر هغه باب چې ماضي يې افعل په وزن وي نو مصدر به يې افعال وي لکه اسلام، اکرام، انعام، شو او هر هغه باب چې ماضي يې د استفعل په وزن وي مصدر يې راځي په وزن د استفعال بانديې لکه استخرج او چې ماضي يې په وزن فعلل وي نو مصدر په وزن د فعللة راځي لکه دحرجة او چې ماضي ئې په وزن د تفعلل وي نو مصدر به يې راځي په وزن د تفعللا بانديې لکه تدخرج شو.

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط دا دی چې مخکې تعريف د مصدر وو او دا تقسيم دی او په دې سره غرض د مصنف هم معلوم شو چې تقسيم د مصدر دی نوعين ته (۱) سماعی (۲) قياسی

سوال: هو مبتدا دی او سماع خبر دی او من الثلاثی متعلق دی په سماع پورې او من غيره عطف دی په من الثلاثی او قياس عطف دی په سماع بانديې او خبر محمول وی په مبتدا بانديې او دلته حمل نه دی صحيح ځکه مصدر د ثلاثی مجردو سماع نه دی او د غير د ثلاثی مجردو قياس نه دی؟ جواب: (۱): دا محمول دی په الحاق د يا نسبتی سره ای سماعی وقياسی (۲) يا په اعتبار د حذف د مضاف سره ای ذوسماع و ذوقياس (۳) يا مصدر مبني للمفعول دی ای مسموع و مقيس او ده من الثلاثی او من غيره مينځ کې مقابله ده او دسماعی او قياسی مينځ کې مقابله ده دا يو صنعت دی د ضائع د بديع نه فائده کوی حسن عارضی په کلام بليغ کې

ويعمل عمل فعله: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د تعريف او د تقسيم د مصدر نه نو شروع يې وکړه په بيان د عمل د مصدر کې نو وې ويل ويعمل الخ

ترجمه: عمل کوی دا مصدر عمل فعله عمل په شان د فعل خپل هغه فعل چې مشتق شوی دی د دې مصدر نه په دې شان سره چې دا فعل مشتق به خالي نه وي يا به لازم وی او يا به متعدي وی که لازم وو نو دا مصدر به عمل د رفع کوی بنابر فاعليت فقط او که متعدي وو نو دا مصدر به عمل د رفع بنابر فاعليت او نصب بنابر مفعول به کوی ماضيا په حال کون د دې مصدر کې چې په معنی د ماضي وی وغيره او يا غير د ماضي وی، يعنی مصدر عمل کوی په شان د عمل د فعل خپل بی د اشتراط د زمانی نه مطلقا برابر خبره ده چې بمعنی الماضی وی نحو اعجبنی ضرب زيد عمرا امس يا بمعنی الحال وی نحو اعجبنی ضرب زيد عمرا الان يا بمعنتی الاستقبال وی نحو اعجبنی اکرام عمرو خالدا غداً ځکه دا مصدر عمل کوی په شان د فعل خپل د وجی د مناسبت او علاقی نه بنيهما يا علاقه د اشتقاق ده يا علاقه د کليت او د جزيت ده نه د وجی د مشابهت نه د فعل سره په شان د اسم فاعل او اسم مفعول ځکه يې د عمل لپاره زمانه شرط ونه ګرځوله.

اذا لم يکن مفعولا مطلقا: عمل د مصدر په شان د عمل د فعل خپل مشروط دی په يو شرط سره هغه دا دی چې نه به وی دا مصدر مفعول مطلق ځکه که دا مصدر مفعول مطلق وو نو دا فعل به خالي نه وي يا به مذکور وی او يا به محذوف وی که مذکور وو نو عمل متعين دی د فعل لپاره او که

محذوف وو نو بیا به خالي نه وي یا به محذوف وجوبا وی او یا به جوازاً که محذوف وو جوازا نو عمل متعین دی فعل لره لپاره د دې چې لازم نه شي اعمال د عامل ضعیف چې مصدر دی سره د وجود د عامل قوی نه چې فعل دی او که فعل حذف وو وجوبا نو جواز د وجهین دی یا عمل ثابت دی فعل لره لاصالته یا مصدر لره د وجی نیابت نه.

ولایتقدم معموله علیه: ربط: هرکله چې فارغ شو مصنف د بیان د عمل د مصدر نه نو شروع یې وکړه په احکامو د مصدر کې نو وی ویل ولایتقدم معموله علیه.

ترجمه: نه مقدم کیږي معمول د مصدر **علیه** په دې مصدر باندې مطلقا (۱) ځکه دا مصدر ضعیف العمل دی عمل کوی په معمول متاخر کې او په متقدم کې عمل نه شي کولی.

(۲) یا دا مصدر په حین د عمل کې ان مع الفعل سرة وی او ان موصول حرفي دی تقدیم د فعل په دې نه دی جائز نو تقدیم د معمول په طریق اولی سره نه دی جائز ځکه بیا لازمیږي تقدیم د صله په موصول باندې او دا نه دی جائز.

سوال: ان موصول حرفي ولې دی؟ **جواب:** لکه څنګه چې موصول اسمی بی د صلې نه په ترکیب کې څه نه واقع کیږي نو د غسې موصول حرفي بی د صلې نه په کلام کې څه نه واقع کیږي او معمول د مصدر دوه قسمه دی (۱) یو ظرف دی (۲) دویم غیر ظرف دی، که غیر ظرف وو نو تقدیم یې بالاتفاق ممتنع دی او که ظرف یا جار مجرور وو نو په تقدیم د هغې کې خلاف دی بعض وائي نه دی جائز او بعض وائي جائز دی ځکه ظروفو کې توسع دی دا په منزله د محار مودی جائز دی په دې کې هغه څه چې ممتنع دی نورو کې د دې نظیر لکه تقدیم د خبر د حروف مشبه بالفعل په حروف مشبه بالفعل ممتنع دی بخلاف الظرف او کوم خلق چې تقدیم د معمول ظرف او جار مجرور جائز وائي د هغوی دلیل دا قول د الله تعالی دی ﴿ فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ ﴾ ﴿ وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ ﴾ دلته السعی مصدر دی او معه ظرف متعلق دی په نفي پورې او مقدم شوی دی ځکه مراد د معیت نه معیت فی العمل دی نه معیت فی البلوغ یعنی دا معه چې متعلق شي نو لازمیږي فساد د معنی او ﴿ وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ ﴾ کې بهما متعلق دی په رافة پورې ځکه مراد د نفی درأفة نه نفی د رافة مقیده ده نه د مطلق که دا متعلق شي رافة پورې نو نفی د رافة مقیده راځي او که متعلق نه شي نو نفی د رافة مطلقه راځي او دا نده صحیح، **ولایضمر فیه** (۱) او نه شي مستتر کولي معمول د مصدر چې هغه فاعل او نائب فاعل دی **فیه** په دې مصدر کې (۲) یا نه واقع کیږي مضمر په دی مصدر کې (۱) ځکه مصدر ضعیف العمل دی عمل کوی په معمول ظاهر او بارز کې نه په مستتر کې (۲) یا لپاره د دې چې لازم نه شي التباس په مابین د حذف د فاعل او استتار د فاعل کې (۳) یا لپاره د دې چې لازم نه شي التباس د اجتماع د تثنیتینو او جمعینو په نظر سره مصدر او فاعل ته، او تثنیت او جمعیت د فعل او شبه فعل په نظر سره فاعل ته دی نه په نظر سره فعل او شبه فعل ته او اضمار فیه مستلزم دی استتار د ضمیر لره په دې مصدر کې پس حاجت پاتې نه شو ذکر کولو د بطریق الاختصار ته د ولایضمر فیه نه وروستو، لپاره د دې چې خارج شي ضربی زیدا

حاصل څکه دا خارج شوی دی په قید د فیه سره او قیاس د مصدر په ظرف او اسم فعل باندې صحیح نه دی څکه هلته ضمیر مستتر دی په اعتبار د متعلق د ظرف سره یا په اعتبار د هغه فعل سره چې اسم فعل په معنی د هغې سره دی.

تشریح: سوال: ولا یضمر فعل مجهول د ي تقاضه د نائب فاعل کوی د دې نائب فاعل کوم دی؟
جواب: نائب فاعل د دې لپاره فیه جار مجرور دی لکه په چې نائب فاعل دی د المفعول لپاره په المفعول به کې یا نائب فاعل د دې لپاره ضمیر دی په دې کې مستتر دی چې راجع دی معمول د مصدر ته او مراد د معمول نه فاعل او نائب فاعل دی.

سوال: ته وائې چې ولایضمر فیه معمول نه شي واقع کولي په دې مصدر کې دا قاعده ستا منقوضه شوه ضربی زیدا قائما سره چې دلته ضمیر فاعل دی د مصدر لپاره لهذا د ولا یضمر فیه نه وروستو قید د استتار ذکر کول پکار وو چې ولا یضمر فیه بطریق الاختصار یې ویلي وی نو ضربی زیدا به خارج شوی وی؟ **جواب:** په قید د فیه سره ضربی زیدا خارج شو څکه اضمار فیه نه دی مگر استتار د ضمیر دی په دې مصدر کې.

سوال: استتار د ضمیر په مصدر کې ولې نه دی جائز؟ **جواب:** استتار د ضمیر په مصدر کې جائز نه دی د درې وجونه (۱) مصدر ضعیف العمل دی، عمل کوی په بارز کې نه په مستتر کې (۲) حذف د فاعل د مصدر جائز دی اوس که مونږ ضمیر مستتر وگرځوو نو التباس راځي په ضمیر محذوف او مستتر کې بیا پته نه لگي چې فاعل د دې حذف دی که ضمیر مستتر دی په دې کې (۳) او که مونږ ضمیر مستتر او منو نو بیا مستتر کیږي په تثنیه او جمع د مصدر کې هم قیاساً علی الواحد، بیا لازمیږي اجتماع د تثنیتینو او جمعینو چې یوه تثنیه د مصدر او د فاعل ده اوبله تثنیه د فعل ا وفاعل ده نحو ضرباتان ضربانون، او اجتماع د تثنیتین او جمعین نده جائز په خلاف د فعل او شبه فعل نه چې هلته تثنیه راغلي ده په نسبت سره فعل او فاعل ته نحو الزید ان ضربا الذیدون ضربوانه په نظر سره فعل او شبه فعل ته

سوال: په دې مصدر کې ضمیر مستتر کوه ابدا په شان د ظرف او اسم فعل چې هغې کې ضمیر مفرد مستتر کولي شي نحو الذیدان فی الدار الذیدون فی الدار نو اجتماع د تثنیتین او جمعین نه راځي؟ **جواب:** د دې قیاس په ظرف او اسم فعل باندې باطل دی څکه په ظرف او اسم فعل کې استتار راغلي په اعتبار د هغه فعل سره چې متعلق د ظرف دی یا په اعتبار د هغه فعل سره چې اسم فعل په معنی د هغې سره دی والمصدر لیس کذلك.

ولایلزم ذکر الفاعل: او لازم نه دی ذکر کول د فاعل د مصدر د مصدر سره لامضمرا ولا مظهراً بلکه حذف د فاعل د مصدر جائز دی بی د سد مسد نه څکه په مفهوم د مصدر کې نسبت فاعل مّا ته نه دی معتبر نو په حذف د فاعل سره وجود د نسبت بدون الطرفین نه راځي، بخلاف الفعل و اسم الفاعل والمفعول، والصفة المشبهة، و اسم تفضیل چې د هغې د فاعل حذف بی د سد مسد نه نه

دی جائز ځکه د هغې په مفهوم کې نسبت فاعل ما ته معتبر دی، اوس که فاعل مونږه حذف کړو نو لازمېږي وجود د نسبت بدون الطرفين او دا محال دی.

سوال: مصدر مستقل شو ځکه نسبت پکې نه دی معتبر او فعل ته غير مستقل وائي په اعتبار د معنی مطابقي سره ځکه نسبت پکې معتبر دی فاعل ما ته نو مشتقی ته ولي مستقل وائي د دې په مفهوم کې خو هم نسبت معتبر دی فاعل ما ته؟

جواب: معنی مطابقي د فعل حدث، نسبت زمان دی، او معنی مطابقي د شبه فعل حدث دی اونسبت الى الفاعل دی ځکه معنی د ضارب دا ده چې ذات من له الضرب يعنی وهونکی يو سړي نو فعل کې نسبت دی امر خارج ته چې فاعل دی او مشتقی کې نسبت دی جز داخل ته او نسبت الى الخارج سبب د عدم استقلال دی او نسبت جز داخل ته سبب د عدم استقلال نه دی مثال د مصدر چې فاعل يې حذف شوی دی لکه اعجبنی ضرب زيدا شو.

ويجوز اضافته الى الفاعل: جائز دی اضافت د مصدر فاعل خپل ته اګر که اعمال د مصدر منون غير مضاف اولی او راجح دی (۱) ځکه د مصدر منون مناسبت دفعل سره زيات دی او د فعل اضافت نه کيږي نو د دې اضافت هم ونه شو (۲) فعل د لالت کوی په حدث مبهم باندې نو دا هم دلالت کوی په حدث مبهم باندې مثال د مصدر مضاف الى الفاعل قوله تعالى ﴿ وَلَوْلَا دَفْعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ ﴾

وقد يضاف الى المفعول او لږ لږ مضاف کولي شي دا مصدر مفعول ته او مفعول عام دی چې مفعول به وی که ظرف وی او که مفعول له وی ځکه ماتن مفعول مطلق ذکر کړی دی او اضافت د مصدر مفعول ته قليل دی په نسبت سره اضافت د مصدر الى الفاعل ته لان نسبة الحدث لمن وجد اظهر من نسبته لمن اوقع عليه، او مثال د مصدر چې مضاف دی مفعول ته نحو قوله تعالى ﴿ وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلْبَيْتِ مَنِ ٱسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ﴾ وکقولك ضرب اللص الجلاد، ضرب يوم الجمعة، ضرب التاديب، نو مصدر په اعتبار د اعمال سره درې قسمه شو (۱) اعمال د مصدر منون دا کثير دی (۲) اعمال د مصدر مضاف الى الفاعل دا قليل دی (۳) اعمال د مصدر مضاف الى المفعول او دا اقل دی.

او مصدر متعدي مضاف پنځه قسمه دی. (۱): چې مضاف وی فاعل ته او مفعول منصوب وروستو ذکر وی، نحو اعجبنی ضرب زيد عمرا: (۲): چې مضاف وی فاعل ته او مفعول نه وي ذکر نحو عجبت من ضرب زيد ای من ان ضرب زيد عمرا: (۳): چې مضاف وی مفعول ته په دې شان سره چې فاعل حذف شوی وی اومفعول قايم شوی وی په مقام د هغې نحو عجبت من ضرب زيد ای من ان يضرب زيد. (۴): چې مصدر مضاف وی مفعول ته او فاعل مرفوع وروستو مذکور وی نحو عجبت من ضرب اللص الجلاد. (۵): چې مصدر مضاف وی مفعول ته او فاعل حذف شوی وی نحو قوله تعالى ﴿ لَّا يَسْـَٔمُ ٱلْإِنسَٰنُ مِن دُعَآءِ ٱلْخَيْرِ ﴾ ای من دعائه الخير، او هر چې دی مصدر لازم د هغې لپاره صرف يو صورة دی چې اضافة د مصدر کيږي فاعل ته نحو اعجبنی قعود زيد.

واعما له باللام قلیل اعمال د مصدر په حال کون د دې مصدر کې چې متلبس وی په لام تعریفی سره لږ دی عقلا او نقلا هر چې دی عقلا نو ځکه چې مصدر په حین د عمل کې ان مع الفعل سره وی او دخول د الف لام په فعل ممتنع دی نو د دې تقاضه دا ده چې دخول د الف لام دی ممتنع شي په دې مصدر باندې لیکن ممتنع نه دی بلکه جائز کړي شو ځکه فرق دی بین الشئ ومؤول بالشئ؛ (۲): فعل دلالت کوی په حدث مبهم باندې او الف لام چې داخل شي نو په دې معنی مصدري کې تعین پیدا کوی یعنی دلالت کوی په حدث معین باندې نو مشابهت ذ دې دفعل سره کمزوري شو ځکه عمل د دې قلیل دی، او هر چې دی نقلا نو عمل د مصدر متلبس باللام په فاعل او مفعول صریحی کې نه دی راغلي په کلام فصیح کې بلکه عامل موندلي شوی دی په جار مجرور کې نحو قوله تعالی ﴿لَا يُحِبُّ اللَّهُ الْجَهْرَ بِالسُّوءِ﴾ او مثال د عمل د مصدر متلبس باللام په مفعول صریحی کې لکه دا قول د متنبی شو!

من بعد ما انشبن فی مخالبا — کیف الرجاء من الخطوب تخلصا

ترجمه: څه رنګي به وی امید زما د خلاصیدو د حوادث نه وروستو د هغې نه چې خخ کړی دی خوادثو پنجي خپلي په ما کې شعر

یخال الفرار یراخی الاجل — ضعیف النکایة اعدائه

فان کان مطلقا فالعمل للفعل، که چرته وو د امصدر خالص مفعول مطلق بي د سد مسد نه په مقام دفعل کې، پس عمل متعین دی دفعل لپاره نه د مفعول مطلق لپاره، لپاره د دې چې لازم نه شي عمل ورکول عامل ضعیف ته چې مصدر دی سره د وجود د عامل قوی نه چې فعل دی برابره خبره ده چې دغه فعل مذکور وی نحو ضربت ضربا زیدا یا محذوف وی په حذف جائز سره نحو ضربا زیدا، **وان کان بد لا منه.** که چرته وو دا مصدر مفعول مطلق بدل د دې فعل نه په دې شان سره چې فعل حذف شوی وی وجوبا او دا قائم شوی وی په مقام د هغې باندې نحو سقیاله، شکراله، حمداله، **فوجهان** په دې کې دوه وجی روا دی (۱) عمل فعل لره ورکول هم جائز دی ذ وجی د اصالت نه (۲) او عمل مصدر لره ورکول هم جائز دی د وجی د نیابت نه. یا د فوجهان معنی دا ده چې په دې عمل د مصدر کې دوه وجی دی (۱) دا مصدر عمل کوی د وجی د مصدریت نه (۲) یا عمل کوی د وجی د بدلیت نه نو په دې قول د مصنف کې چې **فوجهان** دی وجهان دی، او هر کله چې د دې احکام مذکورو تعلق د مصدر غیر مفعول مطلق سره زیات وو او د مصدر مفعول مطلق سره کم وو نو ذکر یې کړه وروستو د مصدر غیر مفعول مطلق نه متصل بلافصل، او مخکې د مصدر مفعول مطلق نه لپاره د دفع د توهم د تعلق د دې احکامو د قسمین سره علی السویه. حاصل دا دی چې د دې پنځه حکمونو تعلق د مصدر عامل قسم اول سره قطعی دی او د دویم سره قطعی ندی، نو تعلق یې د قسم اول سره زیات شو د ثانی نه نو ځکه دا جمله معترضه ذکر شوه بین النوعین نه فی اخر النوعین لپاره د دفع د توهم د تعلق د دې قسمین سره علی السویه.

اسم الفاعل

ربط: هر کله چي فارغ شو مصنف د بيان د قسم اول د اسماء متصلو نه چي مصدر وو نو شروع يې وکړه په قسم ثاني د اسماء متصلو بالفعل کې چې اسم فاعل دی نو وی ويل اسم الفاعل، اسم فاعل په لغت کې نام کار کننده راګويند او په اصطلاح د نحويانو کې **ما** اسم دی داسې اسم **اشتق** چې مشتق کړي شوی دی **من فعل** د مصدر نه او وضع کړي شوی دی دغه اسم **لمن** د هغه ذات لپاره **قام** چې قائم شوې ده دا معنی مصدري **به** په دغه ذات پورې **بمعنی الحدوث** په حال کړن د دې مصدر کې چې دا کائن دی په معنی د حدوث سره وضعاً نه په طريقه د ثبوت سره.

تشريح: اسم فاعل کې لابدي ده د معرفت د امور سبعو نه (١) مفهوم لغوی (٢) مفهوم اصطلاحی (٣) وجه د تسميه (٤) نسبت بين الفاعل و اسم الفاعل (٥) اوزان د اسم فاعل (٦) معرفت د عمل (٧) معرفت د احکام. نو اسم فاعل په لغت کې نام کار کننده راګويند، او په اصطلاح ما اشتق من فعل الخ ته وائي، او دې اسم فاعل اصطلاحی ته اسم فاعل ځکه وائي چې اسم فاعل لغت کې نام کار کننده ته وائي، نو دا اسم چې مشتق دی د فعل نه الخ دا هم نوم دی د کار کننده لپاره، او د اسم فاعل او فاعل په مينځ کې نسبت د تبائن دی باعتبار المفهوم او عموم خصوص من وجه دی باعتبار الوجود، ماده اجتماعی نحو جاءنی ضارب، دلته ضارب فاعل هم دی او اسم فاعل هم دی (٢) ماده افتراقی لز فاعل نحو جاءني زيد. (٣) ماده افتراقی از اسم فاعل نحو جاءني قائم.

او ما عبارت دی د اسم نه ځکه معتبر په تعريفات کې جنس قريب دی او جنس قريب د دې اسم دی (٢) يا دا اقسام د اسم دی او اسم مقسم دی او مقسم معتبر وی په تعريفات د اقسام کې او په تنکير د اسم کې اشاره ده موصوفيت د ما ته لانه واقع فی جانب الخبر، منُ فعلِ کې د فعل نه مراد مصدر دی بنا په مذهب د هغه چا چې اسم فاعل او اسم مفعول مشتق ګوی براسها د مصدر نه. او فعل اصطلاحی مراد دی بنا په مذهب د هغه چا چې دا جوړ وی د فعل نه او فعل د مصدر نه.

سوال: لمن قام به په ُچا پورې متعلق دی؟ **جواب:** د دې په متعلق کې خلاف دی د شارح جامی او د نورو شارحينو، نور شارحين وائي چې دا ظرف لغوه دی متعلق دی په اشتق پورې ځکه اصل په ظرف کې ظرف لغوه دی، او شارح جامی صاحب وائي چې دا ظرف مستقر دی او متعلق يې محذوف را اباسي موضوعا بيا دا جار مجرور په اعتبار د متعلق محذوف سره حال دی، د ضمير د اشتق نه، هر تعريف کې لابدي وی د جنس او فصل نه ما عبارت دی د اسم نه، او دا جنس اشتق من فعل فصل اول دی په دې سره يې احتراز وکړو د اسماء غير مشتقو نه ځکه هغې ته عندهم اسم فاعل نه وائي، **اولمن قام به** فصل ثاني دی په دې سره يې احتراز وکړو د اسم مفعول، اسم زمان، اسم مکان، اسم اله، نه ځکه په اسم مفعول اسم زمان اسم مکان کې اسم آله معنی مصدري نده قائمه شوی په ذات پورې بلکه اسم مفعول کې لمن وقع عليه ده او اسم مکان کې لمن وقع فيه ده او آله کې لمن وقع به ده، او بمعنی الحدوث سره يې احتراز وکړو د صفت مشبه او اسم تفضيل نه ځکه صفت مشبه لمن

قام به بمعنى الثبوت دى نه بمعنى الحدوث، او اسم تفضيل لمن قام به بمعنى الحدوث مع زيادة على غيره دى، او اسم فاعل ما اشتق من فعل لمن قام به بمعنى الحدوث فقط ته وائي ځكه دا قاعده ده چې لام په صله د وضع كې راشي نو مدخول د لام كل معنى موضوع له وى، او اسم فاعل للمبالغه هم خارج شو ځكه دا تعريف د اسم فاعل لغير المبالغه دى ځكه هغه هم لمن قام به بمعنى الحدوث مع زيادة دى، او كه اومنم چې دا تعريف د اسم فاعل دى مطلقا، نو بيا دا اسم فاعل للمبالغه داخل دى په تعريف د اسم فاعل كې ځكه مراد د زيادت منفيه نه زيادت د معنى مصدري بالنسبت الى الغير دى، او اسم فاعل للمبالغه دلالت كوى په مطلق زيادت د معنى مصدري باندې

سوال: دا تعريف د اسم فاعل جامع نه شو افرادو خپلو لره خارج شو د دې نه ناهق، او صاهل، ځكه ته وائي چې اسم فاعل مآ اشتق من فعل لمن قام به الخ ته وائي او مَن د ذوى العقول لپاره راځي او ناهق اوصاهل غير ذوى العقول دى؟ **جواب**: دلته مصنف لمن قام كې غلبه وركړې ده ذوى العقول لره په غير ذوى العقول باندې نو ځكه يې تعبير كړي دى مَن سره.

سوال: دا تعريف د اسم فاعل جامع نه شو خارج شو ترې دائم، خالد، مستمر، ځكه دا دلالت كوى په دوام او استمرار نه په حدوث او تجدد باندې؟ **جواب**: دا داخل دى په تعريف د اسم فاعل كې ځكه دائم، خالد، مستمرَ دلالت كوى په حدوث د دوام او استمرار باندې، او په حدوث د خلود باندې.

سوال: دا تعريف جامع نه شو افرادو خپلو لره خارج شو د دې نه عالم، خالق، رازق وضعا دلالت كوى لمن قام به باندې په طريقه د ثبوت سره نه په طريقه د حدوث او تجدد سره.

جواب: دلته مراد لمن قام به بمعنى الحدوث وضعا دى او عالم او خالق وضعا دلالت كوى په حدوث د معنى مصدري باندې او دوام او استمرار پكې راغلي دى د موصوف د وجى نه چې الله دى نه په اعتبار د وضع د واضع سره.

وصيغته: **ربط**: هر كله چې فارغ شو مصنف د تعريف د اسم فاعل نه نو شروع يې وكړه په صيغو د اسم فاعل كې نو وى ويل وصيغته الخ.

ترجمه: صيغه د اسم فاعل **من الثلاثى المجرد** (١) داسې صيغه چې كائن ده د ثلاثي مجردو نه **على فاعل** دا راځي په وزن د فاعل باندې قياساً او اطراداً (٢) په حال كون د دې صيغه د اسم فاعل كې چې دا كائن ده د ثلاثي مجردو نه **ومن غيره** او صيغه د اسم فاعل د غير ثلاثي مجردو نه چې ثلاثي مزيد رباعى مجرد او مزيد فيه دى **على صيغة المضارع** دا راځي په صيغه د مضارع باندې **بميم مضمومة** سره د ميم مضموم نه چې وضع كړي شوى دى په موضع د علامه د مضارع كې دا علامه د مضارع عامه ده چې مضموم وى او كه نه وى **وكسر ما قبل الاخر** سره د كسرې د ماقبل اخر نه په دې شان سره چې دا ماقبل اخر د مضارع به خالي نه وي يا به مكسور وى او يا به نوى، كه وو نو په خپل حال باقي پاتې كولي شي، او كه مكسور نه وو نو كسره وركولي شي، لكه باب تفعل تفاعل او تفعلل كې شو لپاره د دې چې التباس رانه شي د صيغې د اسم مفعول سره، او كسره عامه ده كه

لفظا وی لکه مکرم شو یا تقدیرا وی لکه مختار محمر او محمار کې شو،
ثلاثي مجردو نه لکه مدخل او مستغفر شو مدخل مثال د هغه اسم فاعل دی چې دا میم مضمومه، مثال د اسم فاعل د غیر
وضع کړي شوی دی په موضع د علامه مضمومه کې او مستغفر مثال د هغه اسم فاعل دی چې دا میم مضمومه
مضمومه وضع کړي شوی دی په موضع د حرف مضارعت مفتوحه کې او هر چې دی منتن په کسرې
د میم سره او منتن په ضمې د نون او تاء سره دا یو لغت دی په منتن کې او دا د هغې فرع ده نه اصل
او وارث اسم فاعل د اورث او عاشب اسم فاعل د اعشب او مشهب اسم فاعل د اشهب او مُحصن
اسم فاعل د أحصن او مُلقح د ألقح او محتر د احتر او مفلج د افلج فشاذ.

تشریح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: دا مخکې بیان د تعریف د اسم فاعل وو او دا بیان د صیغو د اسم فاعل دی، او په دې سره
غرض د مصنف هم معلوم شو چې بیان د صیغو د اسم فاعل دی.
او اسم فاعل دوه قسمه دی (۱) از ثلاثی مجرد (۲) از غیر ثلاثي مجرد.
اسم فاعل د ثلاثي مجردو نه راځي په وزن د فاعل باندې قیاساً او اطراداً او د غیر نه راځي په وزن
د مضارع باندې په دې شان سره چې علامه د مضارع حذف شي او میم مضمومه علامه د اسم
فاعل راوړې شي، او علامه د مضارع عامه ده که مضمومه وی لکه مُکرم کې یا مضموم نه وي
لکه متضارب کې او ماقبل اخر له کسره ورکړې شي که مکسور نه وو لکه متضارب کې او که
مکسور وو نو په خپل حال به پاتې شي لکه مکرِم، او تنوین علامه د اسم به په اخیر کې راوړې.

سوال: نه وائې چې اسم فاعل د غیر ثلاثي مجردو نه راځي په وزن د مضارع دا قاعده ستا منقوضه
شوه په عاشب وارث واقع باندې من اعشب، اورث ایفع، چې دا درې واړه باب افعال دی او اسم
فاعل په میم مضمومه سره نه دی بلکه بروزن فاعل دی دارنګې مشهب، محصن، محتر، مفلج،
(ای الفقیر المفلس) وفي الحدیث اطعموا مفلجیکم ای فقراء کم؛ دا ټولې صیغې د اسم فاعل دی
از باب افعال په میم مضمومه سره لیکن ماقبل اخیر مکسور نه دی؟

جواب: دا شاذ دی او شاذ سره نه قاعده جوړېږي او نه ورانیږي.

سوال: نه وائې چې کسر ماقبل الآخر دا خبره منقوضه شوه په مختار، محمر، محمار، سره د دې
ماقبل اخیر مکسور مکسور نه دی؟ **جواب:** دا کسره د ماقبل اخیر عامه ده چې لفظا وی او که
تقدیرا وی، دلته مکسور دی تقدیرا نه لفظا ځکه مختار اصل کې مختیر وو محمر اصل کې
محمرِر او محمار اصل کې محمارر وو په اول کې یا بدل شوه په الف باندې په قاعدې د باع سره او
په ثاني او ثالث کې ادغام شوی دی د وجې د وجود د قاعدې د ادغام نه چې وجود د حرفین
متجانسین دی او التقاء د ساکنین علی حده راغلي ده او دا جائز ده په کلمه واحده کې.

سوال: ماقبل اخیر د اسم فاعل لره کسره ولې ورکولې شي؟

جواب: لپاره د دې چې لازم نه شي التباس د اسم فاعل د اسم مفعول سره.

جواب: (۱): عکس یې ونه کړو؟ **جواب:** (۱): عکس یې ونه کړو
سوال: التباس خو په عکس سره هم دفع کیږي عکس یې ولې ونه کړو؟ جواب: (۱): عکس یې ونه کړو
لپاره د موافقت د اسم مفعول د اصل خپل سره په فتحه د ماقبل اخیر کې (۲) یا عکس یې ونه کړو
وجې د کثرت د انواع د اسم مفعول نه ځکه مفاعیل پنځه دی هغه تقاضه د تخفیف کوی نو تخفیف
ورله ورکړي شو په فتحې سره په خلاف د اسم فاعل نه چې دا متکثر الانواع نه دی ځکه فاعل یو دی.
سوال: مدخل او مستغفر دواړه مثال دی د هغه اسم فاعل لپاره چې ماقبل اخیر د مضارع مکسور
په خپل حال باقي پاتې کړي دی پکار دا وه چې د مستغفر په ځای یې متضارب ذکر کړي وی نو
دا به مثال وو د هغه اسم فاعل لپاره چې ماقبل اخیر د مضارع مکسور نه وی بلکه مفتوح وی او
اسم فاعل جوړولو کې ماقبل آخر لره کسره ورکړې وی؟
جواب: مستغفر یې ذکر کړو نه متضارب (۱) ځکه مدخل مثال د ادنی مرتبه د زیادت دی چې یو
حرف دی او مستغفر مثال د اعلی مرتبه د زیادت دی چې دري حرفونه دی.
(۲): یا اول مثال د هغه دی چې میم مضمومه په ځای د علامه دمضارع مضمومه کې راغلي دی او
ثانی مثال د هغې دی چې میم مضمومه په ځای د علامه مفتوحه دمضارع کې راغلي دی، او ماقبل
اخیر د مضارع چې مفتوح راځي دا دري بابونه دی (۱) تفاعل (۲) تفعل از ثلاثی مزید مطلق (۳) تفعلل
چې دا د رباعی مزید فیه نه دی، او دا نورو بابو نو کې ماقبل اخیر د مضارع مکسور راځي د وجې د
قلت د مضارع نه چې ماقبل اخیر د هغې مفتوح راځي نو مثال د اسم فاعل یې د هغې نه ترک کړي دی.
سوال: **وصیغة** مبتدا ده من الثلاثی صفت د صیغته دی او **علی فاعل** خبر د مبتدا دی او من غیره
عطف دی په من الثلاثی او علی صیغته المضارع عطف دی په علی فاعل باندې نو عطف د
اسمین راغي په معمولین د عاملین مختلفین باندې بی د تقدیم د جر نه په جانب د معطوف علیه
کې او هم په جانب د معطوف کې او دا جائز نه دی؟
جواب: وصیغته موصوف دی او من الثلاثی ورله صفت دی موصوف سره د صفت نه مبتدا ده او علی
فاعل ورله خبر دی (۲) یا صیغته مبتدا او علی فاعل ورله خبر دی او من الثلای حال دی د ضمیر د
علی فاعل نه او راجع دی مبتدا ته او تقدیم د حال په عامل معنوی نه دی جائز بخلاف الظرف **ومن**
غیره خبر دمبتدا محذوف دی چې صیغته دی نو عطف د جمله راغلي دی په جمله باندې
ویعمل عمل فعله: **ربط:** هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د صیغو د اسم فاعل نه نو شروع یې وکړه په
احکامو د اسم فاعل کې او یو حکم د احکامو د اسم فاعل نه عمل د اسم فاعل دی نو وی ویل ویعمل الخ.
ترجمه: عمل کوی دا اسم فاعل **عمل فعله** په شان د عمل د فعل خپل په دې شان سره چې دا اسم
فاعل چې د کوم فعل نه جوړ دی نو دا به خالي نه وي یا به لازم وی او یا به متعدي وی که لازم وو نو
دا اسم فاعل به هم لازم وی او که متعدي وو نو بیا به خالي نه وي یا به متعدي وی مفعول واحد ته او
یا مفعولین ته یا مفاعیل ثلاثه ته نو دا به هم دغسې وی اول لکه ضارب، عالم، معلم، او ځنګه
چې فعل عمل کوی د نصب بنابر حالیت، تمیز، مفعول له، مفعول فیه، مفعول معه، نو اسم فاعل هم

دغسې عمل کوی يعمل کې ضمير راجع دی اسم فاعل ته هغه ورله فاعل، او عمل فعله مفعول مطلق نوعی دی، ليکن اسم فاعل چې عمل کوی په شان د عمل د فعل خپل دا مشروط دی په شروط ثلاثه ؤ سره.

(۱) دا به مکبر وی نه مصغر. (۲): **بشرط معنى الحال او الاستقبال:** په حال کون د دې اسم فاعل کې چې دا به متلبس وی په يو شرط سره چې هغه بعينه معنی ده هغه معنی چې بعينه حال او استقبال دی اضافت د شرط معنی ته او اضافت د معنی حال او استقبال ته اضافت بيانی دی، يعنی اسم فاعل عمل کوی په شان د عمل د فعل خپل چې دلالت کوی په معنی د حال يا استقبال سره په قرائن خارجيو سره ځکه اسم فاعل عمل کوی د وجې د مشابهت نه مضارع سره، او معنی د حال او استقبال شرط وګرځولې شو د دې عمل لپاره. لپاره د دې چې لازم نه شي مخالفت د اسم فاعل د مضارع نه په زمانه کې او حال عام دی که حقيقة وی او که حکايةً وی، **والا عتماد على صاحبه** او دارنګې اسم فاعل عمل کوی په شان د عمل د فعل خپل په حال کون د دې اسم فاعل کې چې متلبس وی په يو شرط سره چې هغه اعتماد د دې دی په هغه شئ باندې چې دا معنی مصدري قائمه شوې ده په هغه پورې (۲) يا اعتماد د اسم فاعل راغلي وی په ما جری عليه خپل باندې او صاحب او ماجری عليه د اسم فاعل ځلور دی.

(۱) مبتداء (۲) ذوالحال (۳) موصول (۴) موصوف، موصوف عام دی که لفظا وی او که تقديرا وی مثال د اسم فاعل چې اعتماد يې راغلي وی په مبتداء باندې لکه زيد ضارب ابوه.
او مثال د هغې چې اعتماد يې راغلي وی په موصول باندې لکه جاءني زيد الضارب ابوه.
او مثال د هغې چې اعتماد يې راغلي وی په ذوالحال باندې نحو جاء زيد راکبا فرسه.
مثال د هغې چې اعتماد يې راغلي وی په موصوف مذکور باندې نحو جاءني رجل ضارب ابوه. او مثال د هغې چې اعتماد يې راغلي وی په موصوف محذوف باندې نحو قوله تعالى ﴿وَٱلدَّوَآبِّ وَٱلْأَنْعَٰمِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُۥ﴾ مختلف عمل کړی دی د رفع بنابر فاعليت په الوا نه کې ځکه د دې اعتماد راغلي دی په موصوف مقدر باندې چې صنف دی.

اوالهمزة يا به اعتماد راغلي وی د دې اسم فاعل په حرف استفهام باندې يا عام دی که همزه استفهاميه وی او که هل وی نحوا قائم زيد **او ما** يائي اعتماد راغلي وی په حرف نفی باندې نحو ماقائم الذيدان او يا يې اعتماد راغلي وی په حرف ندا باندې نحو يا طالعا جبلا او دا شرط مصنف نه دی ذکر کړي د وجی د قلت استعمال نه او اعتماد اسم فاعل په يو د اشياء مذکورو شرط دی د اعمال د اسم فاعل لپاره عندالسيبويه والبصريين خلافا للاخفش والکوفيين ځکه هغوی د عمل د اسم فاعل لپاره اعتماد شرط نه وائي لکه عندهم بدون الاعتماد هم عمل کوی، دليل د هغوی لپاره دا قول د شاعر دی! فخير نحن عند الناس منکم

سيبويه او بصريين جواب كوي چي خير خبر مقدم دی او نحن مبتداء مؤخره ده او معمول د خير منكم مقدر او محذوف دی او دا وروستو منكم ورله بيان دی نو فصل بين العامل والمعمول په اجنبي سره رانغي

تشريح: سوال: بشرط معنى الحال جار مجرور دی او د جار مجرور لپاره لابدي وی د اعراب محلي نه د دې اعراب محلي څه دی؟ **جواب:** دا منصوب محلا دی بنابر حاليت په دې شان سره چې بشرط كې باء د تلبس لپاره ده او جار مجرور په اعتبار د متعلق سره چې متلبساً دی، حال دی د ضمير د يعمل نه چې راجع دی اسم فاعل ته، او شرط په دوه قسمه دی (۱) نحوی (۲) عرفی، شرط نحوی مدخول د حرف شرط ته وائي او شرط عرفی متقدم د شئ او موقوف عليه د شئ ته وائي، دلته شرط عرفی دی نه نحوی.

سوال: ته وائي چې دا عمل د اسم فاعل مشروط دی په شرط د معنى د حال او استقبال سره يعني حال او استقبال شرط نه دی بلكه د دې حال او استقبال يو معنى ده د هغې لپاره يو شرط دی هغه شرط دی د دې عمل لپاره او دا معنى باطله ده ځكه د دې شرط حال او استقبال دی؟

جواب: دا اعتراض به هله راتلو چې دا اضافت لامي وی ليكن دا اضافت بياني دی.

سوال: ته وائي چې عمل د اسم فاعل مشروط دی په معنى د حال او استقبال سره دا معنى باطله ده ځكه د دې لپاره بعينه حال او استقبال شرط دی نه معنى؟ **جواب:** دا اعتراض به هله راتلو چې اضافت د معنى الحال او الاستقبال ته اضافت لامي وی ليكن دا اضافت بياني دی نه لامي يعني په حال كون د دې كې چې متلبس وی په يو شرط سره چې هغه بعينه حال او استقبال دی.

سوال: د اسم فاعل د عمل لپاره حال او استقبال ولې شرط دی؟

جواب: دا عمل كوی د وجې د مشابهت نه د مضارع سره او مشابهت هله راځي چې بمعنى الحال والاستقبال شي كه په معنى د حال او استقبال نه وي نو بيا مشابهت نشته نو عمل نه شي كولي په شان د عمل د فعل خپل.

سوال: دا چې بمعنى الحال اوالاستقبال شي نو دا ولې عمل كوی په شان دعمل د فعل خپل؟

جواب: اصل په افعالو كې اعمال دی او اصل په اسماؤ كې عدم اعمال دی نو هر كله چې دا مشابه شود مضارع سره لفظا په تعداد د حروف او حركاتو سكناتو كې **او معنیٰ** په حال او استقبال كې ليكن دومره فرق دی چې مضارع دلالت كوی په حال او استقبال باندې شرطاً او اسم فاعل او مفعول دلالت كوی شرطاً او دا به معلوموی د قرائن خارجيو نه نو د دې كمال مشابهت د وجې نه اسم فاعل مضارع لره اعراب وركړو او مضارع ورله اعمال وكړو ځكه هل جزاء الاحسان الا الاحسان.

سوال: ته وائي چې اسم فاعل عمل كوی بمعنى الحال والاستقبال دا خبر ستا منقوضه شوه په ﴿وَكَلْبُهُم بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ بِالْوَصِيدِ﴾ باندې دلته باسط عمل كړی دی او په معنى د حال سره نه دی بلكه بمعنى الماضی دی؟ **جواب:** حال عام دی كه حقيقةً وی او كه حكايةً وی او دلته مراد حكايت الحال دی.

سوال: حکایت الحال څه ته وائي؟ جواب: حکایت الحال دیته وائي چې فرض کړي شي وجود د متکلم چې تلفظ ئې کړیدي اسم فاعل بمعنی الماضی موجود په زمانه د حال کې (٢) یا حکایت الحال دا معنی چې هغه زمانه د ماضی موجود فرض کړي شي فی الحال.

سوال: اسم فاعل بمعنی الماضی دی عمل کوی په شان د عمل د فعل خپل د وجې د وجود د کلام حکائي نه په هغې کې نو بیا دا ولي وائي چې اسم فاعل بمعنی الماضی والاستمرار وو نو عمل نه کوي؟ جواب: حکایت الحال علت ضروري دی او دا راځي پس د وجود د حکم نه کما فی قوله تعالی وَكَلْبُهُم بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ اوس کوم ځای کې چې اسم فاعل بمعنی الماضی دی او عمل یې ونه کړو په شان د عمل د فعل خپل نو دا حکایت الحال په هغې کې معتبر کوو د وجې د وجود د ضرورت نه چې هغه وجود د حکم دی بې د شرط او د علت نه پس شو حکایة الحال په شان د عدل تقدیري عدل تقدیري معتبر کولي شي د وجې د ضرورت نه چې وجود د حکم دی بې د علت نه لکه ثلثة کې، او بې د ضرورت نه نه شي معتبره ولي لکه زید عمرو کې شو نو د غسي حکایت الحال هم دی.

سوال: اعتماد د اسم فاعل لپاره د عمل کولو په مبتدا موصوف ذوالحال الخ ولي شرط دی؟

جواب: ځکه اسم فاعل دلالت کوی په معنی مصدري باندې اوس د دې معنی مصدري لپاره لابدي ده د داسې یو امر نه چې معنی مصدري ورپورې قائم شوی وی.

سوال: اعتماد په حرف نفیٔ حرف استفهام باندې ولي شرط دی؟

جواب: لپاره د کمال مناسبت د اسم فاعل د مضارع سره ځکه استفهام د فعل دا حداث سره وی او نفل دلالت کوی په حدث باندې؟

سوال: ته وائي چې دا عمل هله کوی چې اعتماد یې راغلي وی په یو د اشیاء مذکورو، دا قاعده منقوضه شوه په ﴿ وَالدَّوَابِّ وَالْأَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ ﴾ دلته مختلف عمل د رفع کړي دی په الوانه کې او اعتماد یې نه دی راغلي؟ جواب: اسم فاعل عمل کوی د وجې د اعتماد نه په موصوف باندې او دا موصوف عام دی چې مذکور وی او که محذوف وی دلته یې اعتماد کړی دی په موصوف محذوف باندې چې صنف دی.

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه. یا طالعا جبلا سره چې دا طالعا اسم فاعل دی عمل د نصب یې کړی دی جبلا کې او اعتما[د] یې نه دی راغلي په یو د اشیاء مذکورو باندې؟

جواب: دی طالعا عمل کړی دی په جبلا کې د نصب بنابر مفعولیت د وجې د اعتماد د ده نه په موصوف مقدر، دا اصل کې ایها الطالع جبلا وو ایٔ موصوف الطالع ورله صفت دی بیا موصوف حذف شو او الف لام لري شو د وجې د دخول د حرف ندا نه نو یا طالعا جبلا شو.

جواب: (٢). یا دلته اعتماد راغلي دی په حرف ندا باندې.

سوال: هر کله چې اعتماد د اسم فاعل په حرف نداء باندې شرط وو د عمل لپاره نو دا یې ولي نه دی ذکر کړي؟ جواب: دائي نه دی ذکر کړي د وجې د قلت نه. اسم فاعل عمل کوی په شان د عمل د

فعل خپل په دې شرط سره چې اعتماد یې راغلي وو په یو د اشیاء سته ؤ مذکورو عند الجمهور
خلافاً الکوفیین والاخفش چې د دوی په نزد باندې اسم فاعل بدون الاعتماد هم عمل کولی شي
او دلیل د دوی لپاره یو دا قول د الله تعالی دی ﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ وَٱلدَّوَآبِّ وَٱلْأَنْعَٰمِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُۥ ﴾ چې
مختلف اسم فاعل دی عمل یې کړي دی د رفع بنابر فاعلیت په الوانه کې او اعتماد یې نه دی
راغلي نو معلومه شوه چې اعتماد ورله شرط نه دی.
(۲). دویم دلیل یې دا قول د شاعر دی: فخیر نحن عند الناس منکم
چه خیر مبتدا ده نحن ورله خبر دی او منکم جارمجرور متعلق دی په خیر پورې او خیر عمل کړي
دی په منکم کې بدون الاعتماد.
(۳). دریم دلیل د هغوی لپاره یا طالعا جبلا دی طالعا عمل کړي دی په جبلا کې د نصب بنابر
مفعولیت او اعتماد یې نه دی راغلي؟
جواب: د طرفه د جمهورو نه دا دی چې هر چې دی دا قول د الله تعالی ومن الانعام والدواب مختلف
الوانه دلته مختلف عمل کړي دی د رفع په الوانه کې او د دې اعتماد راغلي دی په موصوف مقدر
چې صنف دی او اعتماد په موصوف باندې عام دی چې مذکور وی او که مقدر وی او هر چې دی
دا قول د شاعر، فخیر نحن الخ نو خیر خبر مقدم دی او نحن مبتداء مؤخره ده، او معمول د خیر
حذف دی چې منکم دی او مابعد ورله تفسیر دی، یا جواب دا دی چې خیر صیغه د اسم تفضیل ده
عمل یې کړی دی په منکم کې چې ظرف دی بې د اعتماد نه ځکه په ظرف کې اسم جامد هم عمل
کولی شي چې په هغه کې بوی د معنی د فعل موجود وی نحو اسد علی وفی الحروب نعامة او دا
خو صیغه د اسم تفضیل ده دلالت کوی په معنی مصدري باندې نو خامخا عمل کوی په ظرف او
جارمجرور کې بدون الاعتماد او اعتماد په یو د اشیاء مذکورو مونږ ه شرط وایو د صفت لپاره، د
دې لپاره چې دا عمل وکړي په مابعد اسم کې د رفع بنابر فاعلیت یا نصب بنابر مفعولیت، او هر
چې دی یا طالعا جبلا نو دلته طالعا عمل کړي دی د وجې د اعتماد نه په حرف نداء باندې او دا نه
دی ذکر شوی د وجې د قلت نه، یا یې عمل کړي دی د وجې د اعتماد نه په موصوف مقدر باندې
اصل کې ایها الطالع جبلا وو بیا ای حذف شو الخ. او اسم فاعل عمل کولي شي په شان د عمل د
فعل خپل په دې شرط چې بمعنی الحال والاستقبال وو عند الجمهور خلافا للکسائي چې هغه
وائي چې دا عمل د اسم فاعل په شان د عمل د فعل مشروط نه دی د حال او استقبال سره بلکه
مطلقا عمل کوی که په معنی د حال او استقبال سره وی او که نوی، دلیل د هغه لپاره دا قول د الله
تعالی دی ﴿ وَكَلْبُهُم بَٰسِطٌ ذِرَاعَيْهِ ﴾ چې باسط صیغه د اسم فاعل ده عمل د نصب یې کړي دی
ذراعیه کې او بمعنی الماضی دی نو معلومه شوه چې دا عمل کوی بې د اشتراط د زمانې نه؟
جواب: د طرفه د جمهورو نه دا دی چې دا حال عام دی که حقیقة وی او که حکایة وی او دلته اگر
چې اسم فاعل حقیقة بمعنی الحال نه دی لیکن حکایة دی.

سوال: یو اسم فاعل دی هغه بمعنی الحال یا بمعنی الدوام والاستمرار دی او تاسو وائي چې دا عمل نه کوي نو بیا د هغه اسم فاعل سره به څه چل کوو هغه به څنګه ذکر کوو؟
جواب: فان کان للماضی وجبت الاضافة معنی: که چرته وو اسم فاعل متعدي للماضی لپاره د زمانه ماضی یعنی بمعنی الماضی وو علی الاستقلال یا په ضمن د استمرار کې وو او اراده وکړي دا متکلم د ذکر کولو د مفعول وروستو د دې اسم فاعل نه وجبت الاضافة واجب دی اضافت د اسم فاعل مفعول خپل ته لپاره د حصول د ربط او لپاره ذ دې چې نه شي دا ترکیب په شان د ضم د حجر په جنب دشجر کې معنی په اضافت معنوی سره د وجې د عدم وجود د شروطو د اضافت لفظی نه چې هغه اضافت د صفت دی خپل معمول ته مثال د اسم فاعل چې بمعنی الماضی علی الاستقلال وی او مضاف وی مابعد ته په اضافت معنوی سره نحو قوله تعالی ﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ او مثال د هغه چې بمعنی الماضی فی ضمن الاستمرار وی نحو قوله تعالی ﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ خلافا للکسائي خلاف ثابت دی کسائي لره چې په دواړو حکمونو کې خلاف دی د جمهورو نه
(۱): اضافت واجب نه دی ستا خوښه ده که کوی او که نه کوی ځکه شرط د عمل د اسم فاعل لپاره حال او استقبال نه دی بدلیل قوله تعالی ﴿ وَكَلْبُهُم بَٰسِطٌ ذِرَاعَيْهِ ﴾
(۲): او اضافت چې کوی دا اضافت لفظی دی نه معنوی ځکه دا اضافت د صفت دی معمول خپل ته چې مفعول به دی لیکن مذهب د کسائي کمزوري دی په نسبت سره مذهب د جمهورو ته ځکه د کسائي په مذهب باندې اعتراض واردیږي په الحمد لله رب العالمین کې چې الله معرفه بالعلم موصوف دی او رب العالمین ورله صفت دی، او ته وائي چې دا اضافت لفظی دی نو اضافت لفظي خو مفید د تعریف نه وی نو مطابقت رانغی بین الموصوف والصفة او دا باطل دی دارنګې الحمد لله فاطر السموات کې فاطر السموات صفت دی او الله معرفه بالعلم موصوف دی دا هم اضافت لفظی دی مفید د تعریف دی نو مطابقت نشته، او په مذهب د جمهورو اعتراض نشته ځکه د هغوی په نزد باندې اضافت د رب العالمین ته اضافت معنوی دی او اضافت د فاطر السموات ته هم اضافت معنوی دی نو مطابقت شته په تعریف کې فان کان للماضی کې دا ماضی صفت د موصوف محذوف دی چې زمانه ده او په کان کې ضمیر مستتر راجع دی اسم فاعل متعدي ته نو دی سره یې احتراز وکړو د اناقائم امس نه ځکه دا اسم فاعل په ضمیر مستتر کې عمل کوی بی د اشتراط د زمانی او اشتراط د زمانه شرط دی لپاره د رفع او نصب په اسم ظاهر کې
سوال: یو اسم فاعل دی چې راغلي دی د داسې فعل نه چې هغه متعدي دی مفعولین ته یا مفاعیل ثلاثه ته او اسم فاعل بمعنی الماضی دی نو د دې اضافت چې وکړو مفعول اول ته نو د باقي مفاعیل سره به څه چل کوو؟
جواب: فان کان له معمول اخر: که چرته وو د دې اسم فاعل لپاره چې مضاف کړي شوی دی یو مفعول ته معمول بل معمول غیر د مفعول نه چې اضافت د اسم فاعل ورته شوې دی فبفعل مقدر نو دا معمول دی

په فعل مقدر سره یا انتصاب د دې په فعل مقدره سره دی نه اسم فاعل سره ځکه دا اسم فاعل په معنی د ماضی سره دی او دا عمل د نصب نه شي کولي مثال لکه **زید معطی عمرو درهما امس** شو چې درهما منصوب دی بنابر مفعول به د فعل مقدر لپاره چې اعطی دی او هغه یې حذف کړې دی جوازا د وجود د قرینې دالی نه په تعین د محذوف باندې چې سوال مقدر دی ځکه کله چې زید معطی عمرو وویل نو سائل سوال وکړو چې ما اعطاه نو متکلم جواب وکړو چې اعطاه درهما.

سوال: فان کان له معمول اخر شرط دی او فبفعل مقدرٍ د جزا ده او جزاء د شرط نه وي مګر جمله وي او فبفعل مقدرٍ خو مفرد دی؟

جواب: فبفعل مقدرٍ په اعتبار د متعلق محذوف سره خبر دی د مبتدا محذوف لپاره فیکون التقدیر فهو معمول بفعل مقدر، او فا نتصابه بفعل مقدر مبتدا مع الخبر جمله جزاء د شرط ده او جمله اسمیه چې جزا واقع شي نو لابدي ده د فاء نه ځکه فاء راغلي ده.

سوال: ته وائي چې اسم فاعل عمل کوی د دې لپاره حال او استقبال شرط دی دا قاعده ستا منقوضه شوه مررت بالضارب ابوه زیدا امس سره دلته ضارب په معنی د ماضی سره دی دلیل په دې باندې امس دی او دی عمل کړی دی په ابوه کې د رفع او زیدا کې د نصب؟

جواب: **فان دخلت اللام استوی الجمیع:** (۱): الجمیع منصوب دی مفعول به ده د استوی او ضمیر پکې مستتر دی راجع دی لام ته.

ترجمه: که چرته داخل شي الف لام موصولي په اسم فاعل باندې برابر دی اسم فاعل په ټولو ازمنو کې په عمل کولو کې ځکه دا اسم فاعل په حقیقت کې فعل دی او عدول شوی دی د صیغی د فعل نه صیغی د اسم فاعل ته د وجی د کراهت د دوی نه ادخال د الف لام لره په فعل باندې او فعل قوی دی په عمل کې مطلقا عمل کوی خواه بمعنی الماضی وی او که بمعنی الحال یا استقبال وی (۲) الجیمع مرفوع دی فاعل دی د استوی لپاره بیا معنی دا ده چې برابر دی ازمنه ثلاثه په دې شان سره چې مانع د اعمال نه نهٔ دی.

وما وضع منه للمبالغة: **ربط:** هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د احکامو د اسم فاعل لغیر المبالغه نه نو شروع یې وکړه په احکامو د اسم فاعل للمبالغه کې نو وی ویل وما وضع الخ د دې عبارت دوه ترجمې دی. (۱): **وما** هغه صیغه **وضع** چې وضع کړي شوی ده **منه** د دې اسم فاعل ده (چې دا من من بیاني شي) **للمبالغة** د مبالغې لپاره **کضراب وضروب الخ** لکه ضراب الخ شو **مثله** دا په شان د هغه اسم فاعل دی چې د مبالغه لپاره نه دی په عمل او شرائطو کې نو تشبیه د یوی نوعی راغله د بلې نوعی سره نه تشبیه د شئ بنفسه. (۲): **ما** هغه صیغه **وضع** چې وضع کړي شوې ده **للمبالغة** د مبالغې لپاره **منه** دا خارج ده د اسم فاعل نه (چه دا من من ابتدائیه شي) **مثله** دا په شان د اسم فاعل ده په عمل کې او شرائطو کې عندالبصریین او کوفیان وائي عمل نه کوي د وجه د انتفاء د علة د عمل نه چې هغه مشابهة د اسم فاعل دی مضارع سره، او شرائطو کې نو تشبیه د غیر راغله د اسم فاعل سره او په دې دوه ترجمو سره دفع د اعتراض وشوه.

سوال: معترض د من نه من ابتدائیه اخلي بیا وائي چې د منه نه معلومه شوه چې صیغه د مبالغی د افرادو د اسم فاعل نه ده او **مثله** نه معلومیږي چې صیغه د مبالغی د افرادو د اسم فاعل نه نده ځکه مثل راځي د تشبیه لپاره او تشبیه تقاضه د مغائرت کوي لهذا په کلام د مصنف کې تناقض راغي، یا اعتراض داسې وارد کیږي چې صیغه د مبالغه کې دوه مذهبه دي، بعض وائي دا د افرادو د اسم فاعل نه ده او بعض وائي چې نده، او ستا عبارت د یو سره هم نه لګي؟

جواب: په دې اوله ترجمه سره دا عبارت د مصنف ولګیدو د هغه چا د مذهب سره چې مبالغه د افرادو د اسم فاعل نه وائي او په دې دویمه ترجمه د هغه چا د مذهب سره ولګیدو چې د افرادو د اسم فاعل نه یې نه وائي.

سوال: اسم فاعل عمل کوی د وجی د مشابهت نه د فعل مضارع سره نو دا چې د مبالغی لپاره راشي نو مشابهت لفظی د دې فوت شو د فعل سره نو بیا دا څنګه عمل کوی په شان د عمل د فعل خپل؟

جواب: مبالغه او زیادت د معنی مصدري قائم شوی دی په ځای د مافات باندې چې هغه فوت د مشابهت لفظی دی.

سوال: بیا خو پکار ده چې اسم فاعل هم عمل وکړي په شان د عمل د فعل خپل ځکه هغې کې هم زیادت راغلي دی په معنی مصدري کې هغه دی نائب شي په ځای د مافات باندې چې هغه فوت د مشابهت لفظی دی؟ **جواب:** زیادت د معنی مصدري دوه قسمه دی (۱) یو لذاته او فی نفسه دی دا صفت د کمال دی او مانع د عمل نه نهٔ دی (۲) او دویم زیادت د معنی مصدري دی په نسبت سره غیر ته او دا مانع د عمل دی.

پس زده کړه دا خبره چې اسم فاعل په دوه قسمه دی (۱) للمبالغه (۲) لغیر المبالغة.

وجه د حصر: دا اسم فاعل به خالي نه وي یا به دلالت کوی په هغه ذات باندې چې قائم شوې ده دا معنی مصدري په طریقه د حدوث سره بی د زیادت نه یا سره د زیادت نه مطلقا که دلالت یې کوو بی د زیادت نه نو اسم فاعل لغیر المبالغه دی، او که دلالت یې کوو سره د زیادت نه مطلقا نو دا اسم فاعل للمبالغه دی، او که دلالت یې کوو سره د زیادت نه په نسبت سره غیره نو دا صیغه د اسم تفضیل ده او اوزان د اسم فاعل للمبالغه لس دی پنځه دلته ذکر دی (۱) ضراب (۲) ضروب (۳) مضراب (٤) علیم (۵) حذر، او نور پنځه مصنف نه دی ذکر کړي چې هغه دا دی (٦) مجزم (۷) منطیق (۸) شریب (۹) ضحکة (۱۰) قلب. **والمثنی والمجموع مثله** او مثنی د اسم فاعل خوا که د مبالغی لپاره وی او که د غیر د مبالغی لپاره وی او جمع د اسم فاعل للمبالغه یا لغیر المبالغه.

سوال: رجلان او رجال تثنیه او جمع دی دا خو په شان د اسم فاعل نه دی؟

جواب: اللام للعهد المراد منه مثنی اسم الفاعل ومجموعه.

سوال: ته وائي چې مثنی اسم فاعل او جمع په شان د اسم فاعل دی تشبیه د شئ بنفسه راغله؟

جواب: المراد من اسم القاسم اسم فاعل مفرد تشبیه د یو نوعی راغله د بلی نوعی سره.

سوال: ته وائي المثنى والمجموع مثله تثنيه دلالت کوي په دوو باندې او جمع دلالت کوي ثلثه او مافوق باندې او واحد دلالت کوي په يو باندې؟ **جواب:** ځکه د مثنی او مجموع تشبيه په دلالت کښې نه ورکوم بلکه تشبيه ورکوم په عمل او اشتراط کې.

سوال: تشبيه په اعتبار دوجه شبه سره دوه قسمه وه، مجمل او مفصل دا کوم يو قسم دی؟

جواب: دا تشبيه مجمله ده ځکه وجه د شبه ئي نده ذکر کړې.

سوال: تشبيه مجمله دوه قسمه ده يو خفی دويم ظاهره دا کوم يو قسم ده؟ **جواب:** دا ظاهره

سوال: تشبيه په اعتبار د تعدد د طرفينو سره څلور قسمه ده (۱) تشبيه ملفوف (۲) تشبيه مفروق (۳) تشبيه تسويه (۴) تشبيه الجمع دا کوم قسم ده؟ **جواب:** دا تشبيه التسويه ده، کقول الشاعر؛

صدغ الحبيب وحالی   کلاهما کالليالی

سوال: تشبيه په اعتبار د اداتو د تشبيه سره دوه قسمه ده (۱) مؤکد (۲) مرسل دا کوم يو قسم دی؟

جواب: دا تشبيه مرسل ده **مثله** په شان د اسم فاعل مفرد دی په عمل او اشتراط کې د وجې د عدم عروض د خلل نه صيغه د مفرد ته په اعتبار د ذات سره د وجی د الحاق د علاماتو د تثنيه او جمع نه نحو الذيدان ضاربان عمروا ضاربون عمروا الان او غدا او امس، چې مثنی او مجموع د اسم فاعل صله د الف لام موصولي واقع شي نو عمل کوی په شان د عمل د فعل خپل بی د اشتراط د زمانی نه

ويجوز حذف النون مع العمل والتعريف تخفيفا: او جائز دی حذف کول د نون د مثنی او مجموع د اسم فاعل نه اللام فی النون للعهد، نون په اثنا قسمه دي دلته مراد نون المثنى والمجموع دی **مع العمل** سره د عمل کولو د اسم فاعل نه په معمول خپل کې په نصب سره بنابر مفعوليت **والتعريف** او سره د تعريف د الف لام نه **تخفيفا** لپاره د حصول د تخفيف د وجی د طول د صلی نه تخفيفاً منصوب دی بنابر مفعول له د حذفاً لپاره نحو قوله تعالی ﴿وَٱلۡمُقِيمِي ٱلصَّلَوٰةَ﴾ په قرات د هغې چا چې الصلوٰة منصوب وائي بنابر مفعوليت، دا نون د جمع مذکر نه حذف شوی دی بي د اضافت نه لپاره د حصول د خفت د وجی د طول د صلی نه او دا حذف د نون د مثنی او د جمع د اضافت د وجی نه جائز نه دی بلکه واجب دی لکه والمقيمی الصلوٰة شو بنا په قرأة مشهور باندې ځکه دلته ورسره مصنف مع العمل قيد ولګوو، او مراد د عمل نه عمل د نصب دی بنابر مفعول به اما حذف د نون د جمع بدون الاضافت بی د تلبس د اسم فاعل نه په الف لام سره ضعيف دی لکه راغلي دی په دې قول د الله تعالی (وذائقوا العذاب) کې په نصب د العذاب سره او دا قرات د هغې قبيلې نه دی چې لا اعتماد عليه ځکه ورسره مصنف التعريف قيد ولګوو.

سوال: اسم فاعل چې متلبس باللام وی او مابعد اسم کې يې عمل کړي وی بنابر مفعول به نو دا نون د مثنی او دجمع حذف کول ولي جائز دی؟

جواب: تخفيفاً لپاره د حصول د تخفيف د وجې د طول د صلې نه لکه صدر د صلې حذف شوی دی د وجې د طول د صلې نه تخفيفاً په دې قول د الله تعالى ﴿ وَهُوَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ إِلَٰهٌ وَفِي الْأَرْضِ إِلَٰهٌ ﴾ کې د غسې دلته نون د جمع مذکر سالم حذف شوی دی طول د صله د وجه نه بدون الاضافة

اسم المفعول

ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د نوع ثاني د اسماء متصله بالفعل نه چې اسم فاعل وو نو شروع يې وکړه په قسم ثالث د اسماء متصلو بالفعل کې چې اسم مفعول دی او هر کله چې لفظ د اسم فاعل دال وو په فاعليت او لفظ د مفعول دال وو په مفعوليت، او مرتبه د فاعل مقدم وی په مفعول نو دال على الفاعليت يې مقدم کړو په دال على المفعوليت باندې نو وی ويل اسم المفعول

ترجمه: اسم مفعول په لغت کې نام کار کرده شده راگويند. او په اصطلاح کې ما اسم دی او په تنکير د اسم کې اشاره ده موصوفيت د ما ته لانه واقع فى جانب الخبر. داسې اسم اشتق چې مشتق کړې شوی دی من فعل د مصدر نه، يا د مضارع مجهول نه، په حال کون د دې فعل کې چې دا وضع کړې شوی دی لمن د هغه ذات لپاره وقع چې واقع شوی وی دا معنى مصدري عليه په دغه ذات باندې

تشريح: هر تعريف کې لابدي وی د جنس او فصل نه ما عبارت دی د اسم نه دا جنس دی خپل پردی ټول پکې داخل شو اشتق من فعل، فصل اول دی په دې سره يې احتراز وکړو د اسماء غير مشتقو نه لکه رجل وغيره شو ځکه اسم غير مشتق ته اسم مفعول نه ويلې کيږي

لمن وقع عليه فصل ثاني دی په دې سره يې احتراز وکړو: باقي ټولو مشتقاتو نه ځکه چې اسم ظرف اسم اشتق لمن وقع فيه دی نه لمن وقع عليه، او اسم اله اسم اشتق من فعل لمن وقع به دی نه لمن وقع عليه، او احتراز يې وکړو د اسم فاعل صفت مشبه اسم التفضيل بمعنى الفاعل نه ځکه هغه اسم اشتق من فعل لمن قام به دی نه لمن قام عليه، او احتراز يې وکړو د اسم تفضيل للمفعول نه ځکه هغه اسم اشتق من فعل لمن وقع عليه دی بزيادة على الغير، او اسم مفعول اسم اشتق من فعل لمن وقع عليه دی فقط ځکه دلته لام صله د وضع راغلې دی او لام چې صله د وضع راشي نو بدخول د لام کل معنى موضوع له وی.

سوال: دا تعريف د اسم مفعول جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو د دې نه المرقوة منشا د اعتراض دا ده چې مصنف من ذکر کړي دی او دا راځي د ذوی العقول لپاره او موقوده غير ذی عقل ده؟ جواب: من يې ذکر کړی دی په تعريف کې تغليباً يعنى غلبه يې ورکړې ده ذوی العقول لره په غير ذوی العقول باندې د وجې د شرافت او اصل نه

وصيغته. ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د تعريف د اسم مفعول نه نو شروع يې وکړه په صيغو د اسم مفعول کې او اسم مفعول دوه قسمه دی يو د ثلاثي مجردو نه (۲) د غير د ثلاثي مجردو نه،

ترجمه: وصيغته صيغه د اسم مفعول من الثلاثي المجرد د ثلاثي مجردو نه على مفعول په وزن د مفعول

باندې راځي غالبا، او ثلاثي مجرد هغې ته وائي چې په ماضي د هغې کې درې حروف اصلي وی او زياتي حرف پکې نه وي راغلي، او د ثلاثي مجرود شپږ بابونه دی، نصر، ضرب، علم، حسب، منع، کرم، ماسوی د باب کرم يکرم نه د دې نورو بابو نو نه اسم مفعول راځي د مفعول په وزن، او د باب د کرم نه مفعول وزن نه راځي ځکه دا لازم دی بلکه د هغې نه راځي صفت مشبه بروزن فعيل بمعنى الفاعل، مثال د اسم مفعول د ثلاثي مجردو نه د مفعول په وزن لکه مضروب، منصور، معلوم، ممنوع، محسوب، شو.

سوال: چې ته وائي اسم مفعول از ثلاثي مجرد په وزن د مفعول باندې راځي دا قاعده ستا منقوضه شوه مرمى او مبيع سره چې دا اسم مفعول د ثلاثي مجردو نه دی او په وزن د مفعول باندې نه دی؟

جواب: دا اصل کې مرمى او مبيع وو بيا پکې د قانون صرفي د وجې نه تغير راغلي دی او مرمى او مبيع ترې جوړ شوی دی.

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه **معنی** سره چې دا اسم مفعول د ثلاثي مجردو نه دی او نه په شان د مضروب دی او نه په شان د مرمى دی؟ **جواب:** (۱) معنى صيغه د اسم مفعول نده بلکه صيغه د مصدر ميمي يا صيغه د اسم ظرف ده (۲) او که اومنم چې اسم مفعول دی نو دا اصل کې معنوی وو بيا پکې تصرفات شوی دی بعض موافق د قاعدې سره او بعض مخالف د قاعدې نه او معنى ترينه جوړ شوی دی.

سوال: ته وائي چې اسم مفعول د ثلاثي مجردو نه بروزن مفعول راځي دا خبره ستا منقوضه شوه په جريح، ضحکة، قبض، ذبح، دافق، سره دا بروزن مفعول نه دی او صيغې د اسم مفعول دی؟

جواب: زه وايم چې وصيغته من الثلاثي المجرد على المفعول غالباً او کله په نورو اوزانو باندې هم راځي لکه دغه مذکور شو، **ومن غيره** او اسم مفعول د غير د ثلاثي مجردو نه چې ثلاثي مزيد رباعي مجرد او مزيد دی **على صيغة الفاعل** دا راځي په وزن د اسم فاعل باندې **بفتح ما قبل الاخر** سره د فتحې د ماقبل اخر نه للفرق بينه و بين اسم الفاعل.

سوال: فرق خو عکس سره هم راځي نو عکس يې ولې ونه کړو؟ **جواب:** عکس يې ونه کړو لخفة الفتحة وکثرة المفعول باعتبار الانواع چې هغه مفعول مطلق، مفعول به، مفعول فيه، مفعول له، مفعول معه، دی (۲) لپاره د موافقت د مضارع خپلې سره ځکه اسم مفعول جوړ دی د مضارع نه او مضارع مجهول کې ماقبل اخر مفتوح وی نو دلته به هم مفتوح وی مثال لکه مستخرج شو چې دا صيغه د اسم مفعول ده د باب استفعال نه

وامره في العمل والاشتراط كامر الفاعل: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د تعريف او د صيغو د اسم مفعول نه نو شروع يې وکړه په احکامو د اسم مفعول کې او دا بيانوی اجمالاً په طريقه د حوالې سره د وجې د اشتراك د اسم مفعول نه د فاعل سره په احکامو کې

ترجمه: شان او حال د اسم مفعول **فی العمل** په عمل كولو كې **والاشتراط** او په اشتراط كې **كامر الفاعل** په شان د حال د اسم فاعل دی په دې شان سره لكه څنګه چې اسم فاعل عمل كوی په شان د عمل د فعل خپل چې هغه رفع ده بنابر فاعليت او نصب دی بنابر مفعول به باقي مفاعيل لره نور مفاعيل وو نو دارنګې اسم مفعول هم دی (۲): او لكه څنګه چې عمل د اسم فاعل مشروط وو په شروط ثلاثه ؤ سره نو دارنګې عمل د دې هم مشروط دی په شروط ثلاثه ؤ سره (۱) مكبر به وی (۲) معتمد به به وی (۳) بمعنی الحال والاستقبال به وی، او لكه څنګه چې اسم فاعل صله د الف لام واقع شي نو استوی الجميع دی نو دارنګې دا هم دی، او څنګه چې اسم فاعل بمعنی الماضي والدوام وو نو اضافت مابعد ته واجب دی په اضافت معنوی سره عندالجمهور فكذا المفعول، او لكه څنګه چې تثنيه او جمع د اسم فاعل په شان د مفرد د اسم فاعل وو نو دارنګې تثنيه او جمع د اسم مفعول هم په شان د مفرد د اسم مفعول دی په عمل كولو كې، او دومره فرق دی په مابين د اسم فاعل او د مفعول كې:

(۱): چې اسم فاعل جوړيږي د فعل معلوم نه او اسم مفعول جوړيږي د فعل مجهول نه.
(۲): اسم فاعل عمل د رفع بنابر فاعليت كوی او اسم مفعول عمل د رفع بنابر نائب فاعليت كوی.
(۳): اسم فاعل د فعل لازم نه راځي او اسم مفعول نه راځي.
(۴): اسم فاعل دلالت كوی په قيام د معنی مصدري باندې او دا دلالت كوی په وقوع د معنی مصدري.
(۵): اسم فاعل از ثلاثی مجرد بروزن فاعل راځي او دا بروزن مفعول راځي.
(۶): اسم فاعل د مبالغی لپاره راځي او اسم مفعول نه راځي مثال د اسم مفعول چې عمل يې كړی دی په شان د عمل د فعل خپل لكه **زيد معطی غلامه درهما** معطی صيغه د اسم مفعول ده عمل يې كړی دی په غلامه كې د رفع بنابر نائب فاعل، او درهما كې يې عمل كړی دی د نصب بنابر مفعول به او اعتماد يې كړی دی په مبتدا باندې او په معنی د حال او استقبال سره دی او مكبر دی نه مصغر.

الصفة المشبهة

ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د نوع ثالث د اسماء متصلو نه چې اسم مفعول وو نو شروع يې وكړه په نوع رابع د انواع د اسماء متصلو كې چې صفة مشبهه دی نو وی ويل الصفة المشبهة او اسم مفعول يې مقدم كړو په صفة مشبهه باندې د وجی د اشتراك د اسم مفعول نه د اسم فاعل سره په احكامو كې (بالفاظ دیګر) هر كله چې اسم مفعول شريك وو د اسم فاعل سره په احكامو كې نو متصل يې ذكر كړو وروستو د اسم فاعل نه او هر كله چې صفة مشبهه عمل كولو په شان د عمل د فعل خپل د وجی د مشابهت نه د اسم فاعل سره بخلاف اسم التفضيل نو مقدم يې كړو صفة مشبه په اسم تفضيل باندې.

ترجمه: صفة مشبه په لغت كې اسم مشتقی ته وائي چې مشابه دی د غير سره، او په اصطلاح د نحويانو كې **ما** اسم دی دا سې اسم **اشتق** چې مشتق كړی شوی دی **من فعل لازم** د فعل لازم نه دا لازم عام دی چې وضعا وی او كه په حين د اشتقاق كې وی. مثال د اول لكه كريم، شريف، حسن مثا!

په حال کون د دې فعل کې چې وضع کړي شوي دی لمن د فعل
د ثاني لکه، رحیم، علیم، سمیع، قائم شوی دی دا معنی مصدري **به** په دغه ذات پورې **علی معنی الثبوت** په فعل
ذات لپاره **قام** چې هغه دلالت کوي په صفت مشبه ثابته باندې نه په صفت حادثه باندې وضعاً پس
معنی باندې چې نه ضامر طالق ځکه دا دواړه وضع شوي دی د حدوث لپاره او ثبوت پکې راغلی
خارج شو د دې نه عارض استعمال نه او خارج شو د دې نه عالم، خالق، رازق، ځکه دا اصل کې وضع
دی د وجې د حدوث لپاره او ثبوت پکې راغلي دی د وجې د موصوف نه چې الله دی لهذا دا اسم
شوی دی د صفة مشبه او صفت مشبه اصطلاحي نه صفت مشبه ځکه وائي چې دا مشابه دی د
فاعل دی نه په افراد تثنیت جمعیت تذکیر تانیث کې او په قیام د معنی مصدري کې
اسم فاعل سره
تشریح: سوال: ١ دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض دمصنف د دې عبارت نه څه دی؟
جواب: ربط دا دی چې مخکې بیان دقسم ثالث د اسماء متصلو وو او دا بیان دقسم رابع د اسماء
متصلو دی او غرض د مصنف هم معلوم شو چې بیان د انواع د اسماء متصلو دی
سوال: اسم مفعول یې ولې مقدم کړو په صفت مشبه باندې؟ **جواب:** هر کله چې اسم مفعول شریك وو
د اسم فاعل سره په احکامو کې په خلاف د صفت مشبه نه نو هغه یې مقدم کړو په صفت مشبه
باندې لپاره د بیان د احکامو د اسم مفعول په طریقه د حوالی سره په اسم فاعل باندې
سوال: صفت مشبه یې ولې مقدم کړو په اسم تفضیل باندې؟ **جواب:** هر کله چې صفت مشبه عمل
کوو په شان د عمل دفعل خپل په خلاف د اسم تفضیل نه نو مقدم یې کړو صفت مشبه د اسم
تفضیل نه (٢) یا هر کله چې صفت مشبه مشابه وو د اسم فاعل سره په تذکیر تانیث کې نو ذکر یې
کړو صفت مشبه د اسم مفعول نه وروستو متصل بلا فصل، په هر تعریف کې لابدي وی د جنس او
فصل نه، دلته ما عبارت دی د اسم نه دا جنس دی اشتق من **فعل**، فصل اول دی په دې سره یې
احتراز وکړو د اسماء جامدو نه لکه رجل زید عمرو، بکر، دی نه صفت مشبه نه وائي **من فعل لازم**
فصل ثاني دی په دې سره یې احتراز وکړو د هغه اسم **فاعل** او اسم مفعول نه چې هغه جوړ شوي
دي د فعل متعدي نه **لمن قام به بمعنی الثبوت** فصل ثالث دی په دې سره یې احتراز وکړو د هغه اسم
فاعل نه چې هغه جوړ شوی دی د **فعل** لازم نه لکه قائم او ذاهب شو ځکه دا اګر که اسم مشتق دی
د فعل لازم نه او لمن قام به هم دی خو لمن قام به نه علی معنی الحدوث دی نه علی معنی الثبوت
لهذا دا اسم فاعل دی نه صفت مشبه او دارنګې احتراز یې وکړو د اسم تفضیل او د اسم ظرف نه
ځکه هغه لمن قام به علی معنی الثبوت نه دی
سوال: نه وائي چې صفت مشبه جوړیږي د فعل لازم نه دا قاعده ستا منقوضه شوه رحیم سمیع علیم
سره چې دا صفت مشبه دی جوړ شوی دی د رحم علم سمع فعل متعدي نه، نه د فعل لازم نه؟
جواب: لازم عام دی چې ابتداء او وضعاً وي او که په حین د اشتقاق کې وي او رحیم علیم او سمیع
جوړ شوی دی د هغه فعل نه چې لازم ګرځیدلی دی په حین د اشتقاق کې ځکه د دې نه چې کله
صفت مشبه جوړیدو نو نقل کړی شو د رحم علم سمع نه رحم علم سمع لازم ته.

سوال: تعریف د صفت مشبه مانع نه شو د دخول د غیر نه داخل شو پکښې اسم فاعل لکه ضامر کابر وطالق ځکه دا ما اشتق من فعل لمن قام به علی معنی الثبوت دی نو تعریف د صفت مشبه پرې صادقیږي او د افرادو د صفت مشبه نه ندی ځکه صفت مشبه په وزن د فاعل باندې نه راځي؟

جواب: مراد د علی معنی الثبوت نه په دې مقام کې علی معنی الثبوت دي بحسب اصل الوضع او ضامر کابر طالق په اعتبار د اصل وضع سره دلالت علی معنی الحدوث کوي او ثبوت ورته عارض شوی دی بحسب الاستعمال نو وضعاً قید سره د تعریف د صفت مشبه نه ضامر کابر طالق خارج شو.

سوال: صفت مشبه ته صفت مشبه ولې وائي؟ **جواب:** ځکه چې دا مشابه دی د اسم فاعل سره افراد تثنیت جمعیت تذکیر او تانیث کې پدې شان سره لکه څنګه چې اسم فاعل مفرد تثنیه جمع راځي نو دا هم راځي **سوال:** په دې افراد تثنیت جمعیت کې چې څنګه دا مشابه دی د اسم فاعل سره نو د اسم مفعول سره هم مشابه دی نو ته یې مشابه د اسم مفعول سره ولې نه وائي؟

جواب: مشابهت د دې د اسم فاعل سره زیات دی د اسم مفعول نه (۱) دا شریک دی د اسم فاعل سره په افراد تثنیت جمعیت تذکیر تانیث کې (۲) لمن قام به کې، یعنې دواړه دلالت کوي په قیام د معنی مصدري لیکن دوی سره فرق دی چې (۱) دا دلالت کوي په طریقه د ثبوت سره او هغه دلالت کوي په طریقه د حدوث سره (۲) او بل فرق دا دی چې صفت مشبه جوړیږي د فعل لازم نه فقط نه د متعدي او اسم مفعول جوړیږي د فعل متعدي نه فقط او اسم فاعل د دواړو نه جوړیږي لکه قائم او ضارب، (۳) نو مشابهت د اسم فاعل سره زیات شوی دی چې صفت مشبه جوړیږي د فعل لازم نه او اسم فاعل هم جوړیږي بخلاف اسم المفعول فافهم (۴) مشابه دی اسم فاعل سره په اعتماد کې

وصیغتها مخالفة لصیغة الفاعل: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف رحمه الله د تعریف د صفت مشبه نه نو شروع یې وکړه په صیغو د صفت مشبه کې نو ویې ویل وصیغتها مخالفة الخ.

ترجمه: جنس صیغه د صفت مشبه په اعتبار د انواع سره مخالفه ده **لصیغة الفاعل** د صیغې د اسم فاعل سره **علی حسب السماع** او صیغه د صفت مشبه کائنه ده په اندازه د سماع باندې د واضع نه (۲) یا په حال کون د دې صفت مشبه کې چې دا کائن دی په اندازه د سماع باندې د واضع نه یا صیغه د صفت مشبه مخالف ده د صیغې د اسم فاعل نه په مخالفت سره داسې مخالفت چې کائن دی په اندازې د سماع باندې د واضع نه په دې شان سره چې دا صیغه د صفت مشبه تجاوز نه کوي د سماع نه قیاس ته په خلاف د صیغه د اسم فاعل نه چې هغه قیاسي دی، یا صیغه د اسم فاعل راځي په وزن د فاعل په خلاف د صیغو د صفت مشبه نه چې دا په وزن د فاعل باندې نه راځي

تشریح: سوال: دا مقام مقام د جمع دی ځکه مصنف بیانوي صیغې د صفت مشبه نه یو صیغه نو بکار وه چې وصیغها مخالفة یې ویلی وی نو وصیغتها یې ولې وویل؟

جواب: وصیغتها یې وویله او وصیغها یې ونه ویله ځکه دلته مراد د صیغې د صفت مشبه نه جنس صیغه ده او د جنس اطلاق کیږي په قلیل او کثیر باندې، یو جنس صفت مشبه دی یو انواع د

صفت مشبه دي او یو افراد د صفت مشبهٔ دي نو انواع د صفت مشبه اوزان د صفت مشبه دي او افراد د صفت مشبه موزونات دي، او جنس صیغه د صفت مشبه مخالف ده د صیغې د اسم فاعل نه په اعتبار د انواع سره چې اوزان دي په دې شان سره چې اسم فاعل د ثلاثي مجردو نه راځي بر وزن فاعل او صفت مشبه بر وزن فاعل نه راځي (۲) یا اسم فاعل د ثلاثي مجردو نه قیاساً اطراداً راځي او صفت مشبه سماعي راځي نه قیاسي

سوال: ته وائې چې صیغه د صفت مشبه مخالف ده د صیغې د اسم فاعل نه په وزن کې دا خبره ستا منقوضه شوه په ضامر کابر سره دا صفت مشبه دی او بر وزن فاعل دی؟ **جواب:** ضامر او کابر اصل وضع کې صیغه د اسم فاعل ده لیکن صفت مشبه ګرځیدلی دی د وجې د عارض استعمال نه او زه وایم چې صفت مشبه بر وزن فاعل نه راځي اولاً او وضعاً او دا هم اولاً او وضعاً نه دی بلکه استعمالاً راغلی دی

سوال: علی حسب السماع جار مجرور دی د دې لپاره لابدي ده د اعراب محلي نه دا په ترکیب کې څه واقع شوی دی؟ **جواب:** دا مرفوع محلاً دی بنا بر خبریت پدې شان سره چې دا جار مجرور باعتبار المتعلق خبر ثاني دی (۲) یا علی حسب السماع منصوب محلا دی بنا بر حالیت د ضمیر مستتر د مخالفت نه. یا منصوب محلا دی بنا بر مفعول مطلق د مخالفت د پاره په دې شان سره چې دا په اعتبار د متعلق محذوف سره صفت دی د موصوف محذوف لپاره چې مخالفت دی.

سوال: ته وائې چې صیغه د صفت مشبه مخالف راځي د صیغې د اسم فاعل نه ته ما ته صیغې د صفت مشبه وښایه چې راغلي وي مخالف د اسم فاعل نه؟ **جواب:** **کحسن وصعب و شدید** چې دا بر وزن فَعَلٍ فَعْلَ فعیل دی او اوزان د صفت مشبه ډیر دي: (۱) صلب (۲) صعب (۳) صفر (۴) حسن (۵) خشن (۶) ندس (۷) زیم (۸) بلز (۹) خطم (۱۰) جنب (۱۱) اکبر (۱۲) کابر (۱۳) جید (۱۴) جبان (۱۵) هجان (۱۶) شجاع (۱۷) وضاع (۱۸) کبد (۱۹) رحیم (۲۰) رؤف (۲۱) عطشی (۲۲) حبلی (۲۳) حیدی (۲۴) حیوان (۲۵) عریان (۲۶) عشراء (۲۷) قدوس (۲۸) قابوس.

وتعمل عمل فعلها مطلقاً: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د تعریف د صفت مشبه او د بیان د صیغو د صفت مشبه نه نو شروع یې وکړه په عمل د صفت مشبه کې نو وېې وېل وتعمل الخ

ترجمه: عمل کوي صفت مشبه **عمل فعلها** په شان د عمل د فعل خپل چې عمل د رفع دی بنا بر فاعلیت نه عمل د رفع بنا بر مفعول فیه، لعدم وجوده **مطلقا** بې د اشتراط د زماني نه په دې شرط سره چې اعتماد د دې راغلی وو په یو د اشیاء ستو مذکورو باندې ما سوا د الف لام موصولي نه ځکه صله د الف لام موصولي راځي، اسم فاعل او اسم مفعول نه صفت مشبه بالاتفاق **خلافا لشرذمة قلیلة** هغوی وېلي دي: چې اعتماد د صفت مشبه په الف لام موصولي باندې راځي او صفت مشبه صله د الف لام موصولي واقع کیږي خو د دې قول لپاره اعتبار نشته. ځکه صله د الف لام موصولي هغه شی راځي چې د هغې نه فعل جوړیږي، او د صفت مشبه نه فعل نهٔ جوړیږي. ځکه دا بمعنی الثبوت دی، او فعل دلالت کوي په حدوث باندې

(۲): او دارنګي هغه اسم فاعل او اسم مفعول صله د الف لام موصولي واقع کيږي چې دلالت کوي په معنی مصدري باندې په طريقه د حدوث سره او کوم اسم فاعل او اسم مفعول چې دلالت په معنی مصدري په طريقه د حدوث سره نۀ کوي، هغه صله د الف لام موصولي نه واقع کيږي، نو صفت مشبه به څنګه صله د الف لام موصولي واقع شي.

تشريح: سوال: صفت مشبه ولې عمل کوي په شان د عمل د فعل خپل؟ **جواب:** د وجې د مشابهت د صفت مشبه نه د اسم فاعل سره ګردان کې، او په دلالت کولو کې په قيام د معنی منصدري باندې او اسم فاعل عمل کوي د وجې د مشابهت نه د فعل سره لفظا او معنی او صفت مشبه عمل کوي د وجې د مشابهت نه د اسم فاعل سره، څکه مشبه کله کله حکم د مشبه به اخلي.

سوال: صفت مشبه چې عمل کوي په شان د عمل د فعل خپل، هغه عمل څه شی دی؟

جواب: هغه رفع ده بنا بر فاعليت نه نصب دی بنا بر مفعول به.

سوال: صفت مشبه عمل د نصب بنا بر مفعول به ولي نه شي کولی؟

جواب: لعدم وجود المفعول به څکه صفت مشبه لازم دی مفعول به نه غواړي.

سوال: ته وائې چې صفت مشبه عمل د نصب نه شي کولی بنا بر مفعول به نو (زيد حسن وجهه) کې وجهه منصوب ولې راغلی دی؟ **جواب:** دا منصوب دی بنا بر تشبيه بالمفعول نۀ بنا بر مفعول به.

سوال: ته وايې چې صفت مشبه عمل کوي په شان د عمل د فعل خپل مطلقا يعنې بې د اشتراط نه دا خبره صحيح نه ده څکه عمل د صفت مشبه مشروط دی په يو شرط سره چې هغه اعتماد دی په يو د اشياء مذکورو باندې؟ **جواب:** د مطلقا دا معنی نۀ ده چې بلا قيد و شرط، بلکه د مطلقا معنی دا ده چې بې د اشتراط د زمانې نه.

سوال: د صفت مشبه د عمل لپاره زمانه حال يا استقبال ولې نه ده شرط؟

جواب: لکونه بمعنی الثبوت، او دا اشتراط د زمانې منافي دی د ثبوت سره.

سوال: دا خو مزيت د فرع راغلی چې صفت مشبه دی په اصل باندې چې اسم فاعل دی، څکه صفت مشبه عمل کوي مطلقا که بمعنی الماضي وي او که بمعنی الحال يا استقبال وي، او اسم فاعل هله عمل کوي چې بمعنی الحال والاستقبال وي؟ **جواب:** مزيت د فرع په اصل باندې راغلی دی د وجې د ضرورت نه، څکه اشتراط د زمانې منافي دی د ثبوت سره، او والضروريات تبيح المحظورات.

سوال: ته وايې چې صفت مشبه کې اشتراط د زمانې نشته او اعتماد د دې په يو د اشياؤ مذکوره ؤ باندې شرط دی نو يو د هغه اشياؤ نه موصول دی او اعتماد د دی په موصول باندې ممتنع دی بالاتفاق؟

جواب: مراد د اعتماد نه اعتماد د صفت مشبه دی په يو د اشياء مذکورو ما سواء د موصول نه.

سوال: صفت مشبه صله د الف لام موصولي ولې نه واقع کيږي؟ **جواب:** څکه چې صله د الف لام موصولي هغه شی واقع کيږي چې د هغې نه فعل جوړيږي او هغه نه دی مګر اسم فاعل دی، او د صفت مشبه نه فعل نۀ جوړيږي (لانه يدل على الثبوت والفعل يدل على الحدوث) په مابين کې منافات دی.

سوال: ته وائي چې صله د الف لام موصولي صفت مشبه نه واقع کيږي بالاتفاق او بعض نحويانو ويلي دي چې واقع کيږي **جواب:** دغه قول د شرذمه قليله لره او قول د شرذمه قليله لره په مقابل د جمهورو کې هيڅ اعتبار نشته لهذا دا داسې شو لکه چې ټول نحويان متفق دی په دې خبره چې صفت مشبه صله د الف لام موصولي نه واقع کيږي

سوال: صفت مشبه او اسم فاعل کې څه فرق دی؟ **جواب:** د دې په مينځ کې شپاړس فرقونه دي

(۱) صفت مشبه راځي د فعل لازم نه بخلاف اسم الفاعل دا د لازم او متعدي دواړو نه راځي

(۲) صيغې د صفت مشبه سماعي دي او صيغې د اسم فاعل قياسي دی

(۳) صفت مشبه د ثلاثي مجردو نه راځي فقط بخلاف اسم الفاعل فانه يجيئ من الثلاثي والرباعي مطلقا (۴) اضافت د اسم فاعل متعدي فاعل ته ممتنع دی او اضافت د اسم فاعل لازم فاعل ته غير حسن دی او اضافت د صفت مشبه فاعل ته حسن دی (۵) صفت مشبه دلالت کوي په قيام د معنی مصدري په طريقه د ثبوت سره او اسم فاعل دلالت کوي په قيام د معنی مصدري په طريقه د حدوث سره (۶) تقديم د معمول د صفت مشبه په صفت مشبه ممتنع دی بخلاف اسم الفاعل (۷) معمول د صفت مشبه نسبي راځي نه اجنبي نحو زيد الحسن وجهه، بخلاف اسم الفاعل، د دې معمول کله نسبي راځي نحو زيد ضارب اباه، او کله اجنبي وي نحو زيد ضارب عمر (۸) اعتماد د اسم فاعل راځي په الف لام باندې بخلاف الصفة المشبهة (۹) اسم فاعل عمل کوي بمعنی الحال والاستقبال او صفت مشبه عمل کوي مطلقا (۱۰) اسم فاعل راځي بمعنی الماضي بخلاف الصفة المشبه (۱۱) صفت مشبه جوړيږي د هغه مادې نه چې دلالت کوي په معنی مصدري در زمانه حال او اسم فاعل عام دی (۱۲) صفت مشبه عمل د نصب کوي بنا بر تميز يا بنا بر تشبيه بالمفعول او اسم فاعل عمل د نصب کوي بنا بر مفعول به (۱۳) اسم فاعل موازن د فعل مضارع وي دائما بخلاف الصفة المشبهه چې دا کله موازن د مضارع وي لکه ضامر او کابر او کله موازن د مضارع نه وي لکه جميل کريم (۱۴) اسم فاعل نه مخالف کيږي د فعل حيل نه په عمل کې بلکه کوم عمل چې فعل کوي هغه دا هم کوي بخلاف الصفة المشبهه دا کله مخالف کيږي د فعل نه په عمل کې په دې شان سره چې فعل عمل د نصب نه کوي او دا عمل د نصب کوي (۱۵) حذف د موصوف د اسم فاعل او اضافت د اسم فاعل هغه اسم ته چې هغه مضاف دی، ضمير د موصوف محذوف ته قبيح نه دی بخلاف الصفة المشبه نحو مررت بقاتل ابيه قبيح نه دی او مررت بحسن وجهه قبيح دی (۱۶) فصل په مابين د اسم فاعل او مرفوع کې جائز دی بخلاف الصفة المشبهة

و تقسيم مسائلها ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د عمل د صفت مشبه نه، نو شروع يې وکړه په بيان د تقسيم د صفت مشبه کې اتلس صورتونو ته لپاره د بيان د احکامو خمسو د اتلس صورتونو چې حسن احسن ... الخ دی

ترجمه: وتقسيم مسائلها: گرځول د متكلم صفت مشبه لره قسم قسم
(٢) يا تقسيم د صفت مشبه اقسامو ته چې هغه مسائل دي او غايه او غرض د تقسيم نه بيان د حكم د هغه مسائلو دی

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟
جواب: ربط دا دی چې مخكې بيان د عمل د صفت مشبه وو دا تقسيم دی په صفت مشبه كې اتلس صورتونو ته، او په دې سره غرض د مصنف هم معلوم شو چې تقسيم د صفت مشبه دی اتلس اقسامو ته.
سوال: تقسيم د صفت مشبه دې اقسامو ته ولې كيږي؟ **جواب:** لپاره د بيان د احكام خمسو د دې اقسامو، چې هغه حسن، احسن، ممتنع، مختلف فيه او قبيح دی.
سوال: اضافت د تقسيم مقسم ته كيږي او مقسم د دې اقسامو صفت مشبه دی نه مسائل، لهذا اضافت د تقسيم مسائل ته باطل دی؟ **جواب:** اضافت د تقسيم مقسم ته كيږي حقيقتا، او ذلته اضافت مسائل ته شوی دی مجازا، علاقه د مجاز سببيت دی اضافت د سبب شوی دی مسبب ته ځكه تقسيم د صفت مشبه سبب دی د اقسامو لپاره
سوال: ته وائې چې اضافت د تقسيم شوی دی اقسامو د مسائل ته، ځكه د مسائل نه مراد اقسام دي نو تقسيم اقسامها يې ولې ونه ويلو؟ **جواب:** د اقسامو نه يې تعبير وكړو مسائل سره، ځكه مسائل جمع د مسئله ده، ځای د سوال ته وائي نو هر يو قسم مسمى كړی شو په مسئله سره، ځكه سوال كولی شي د حكم د هر يو قسم نه چې دا قسم صفت مشبه جائز دی، كه مختلف فيه دی، كه ممتنع دی، كه حسن دی، كه احسن دی **ان تكون الصفة باللام او مجردة:** كون د صفت مشبه دی متلبس باللام لكه الحسن **او مجردة** يا مجرد عن اللام لكه حسن شو، دا تقسيم ثنائي دی په صفت مشبه كې **ومعمولها** او معمول د صفت مشبه **مضافا** مضاف به وي **او باللام** يا به متلبس وي په الف لام سره **او مجردا عنهما** يا به مجرد وي د الف لام او اضافت دواړو نه، دا تقسيم ثلاثي دی په معمول د صفت مشبه كې په اعتبار د تلبس باللام والاضافت او عدم تلبس بهما سره **فهذه ستة** دغه اقسام د صفت مشبه شپږ دي چې حاصل شوي دي د ضرب د نوعين د صفت مشبه نه په انواع ثلاثه د معمول د صفت مشبه كې ځكه دوه لره چې په دريو كې ضرب وركړی شي نو شپږ جوړيږي **والمعمول** دا تقسيم ثالث ثلاثي دی په صفت مشبه كې په اعتبار د اعراب سره، نو معمول د صفت مشبه **في كل واحد منها** په هر واحد د دې اقسام ثلاثه ؤ كې **مرفوع** يا مرفوع راځي **ومنصوب** او كله منصوب راځي **ومجرور** او كله مجرور راځي او في كل واحد كې في بمعنى من ده، او په ومنصوب ومجرور كې واو بمعنى او دی **فصارت ثمانية عشر** دا فا ذلته استنافيه ده او دا جمله مستانفه جواب د سوال ده ځكه كله چې مصنف تقسيم د معمول وكړو ثالثا اقسام ثلاثه ؤ ته په اعتبار د اعراب سره، نو سائل سوال وكړو چې مسائل د صفت مشبه څو قسمه شو نو مصنف جواب وكړو چې فصارت ثمانية عشر وګرځېدل مسائل د صفت مشبه اتلس قسمه دا حاصل شوي دي د ضرب د اقسام ثلاثه د معمول د

صفت مشبه نه من حيث الاعراب په هغه اقسام سته مذكورو كې نو ٣×٢-١٨ نهه صورتونه جوړېږي صفت مشبه متلبس باللام كې، او نهه صورتونه جوړېږي صفت مشبه مجرد عن اللام كې:

(١): صفت مشبه متلبس باللام او معمول هم متلبس باللام درې صورتونه په دې كې دي:

(أ): الحسن الوجه بالرفع (ب): الحسن الوجهَ بالنصب (ج): الحسن الوجهِ بالجر.

(٢): صفت مشبه متلبس باللام چې معمول يې مضاف وي، درې صورتونه په دې كې دي:

(أ): الحسن وجهُهُ بالرفع، (ب): الحسن وجهَه بالنصب، (ج): الحسن وجهِه بالجر.

(٣): صفت مشبه متلبس باللام او معمول مجرد عن اللام والاضافة، درې په دې كې دي:

(أ): الحسن وجهٌ بالرفع، (ب): الحسن وجها بالنصب، (ج): الحسن وجهٍ بالجر.

او نهه صورتونه جوړېږي په صفت مشبه مجرد عن اللام كې: (١): صفت مشبه مجرد عن اللام او معمول متلبس باللام، درې صورتونه په دې كې دي: (أ): حسنٌ الوجهُ، (ب): حسنٌ الوجهَ (ج): حسن الوجهِ (٢): صفت مشبه مجرد عن اللام او معمول يې مضاف وي، درې صورتونه په دې كې دي: (أ): حسنٌ وجهُهُ، (ب): حسنٌ وجهَهُ، (ج): حسنُ وجهِهِ (٣): صفت مشبه مجرد عن اللام او معمول يې مجرد عن اللام والاضافة وو، درې صورتونه په دې كې دي: (أ): حسنٌ وجهٌ، (ب): حسنٌ وجها، (ج): حسن وجهٍ. او بعضې نحويان وائي چې دا صورتونه د صفت مشبه شپږ ديرش جوړېږي، ځكه صفت مشبه اولا دوه قسمه دی: (١): متلبس باللام (٢): مجرد عن اللام، او معمول د متلبس باللام شپږ قسمه دی: (١): مجرد عن اللام والاضافة نحو الحسن وجهٌ (٢): متلبس باللام نحو الحسن الوجه (٣): مضاف ضمير ته نحو الحسن وجهه (٤): مضاف اسم متلبس باللام ته نحو الحسن وجه الاب (٥): مضاف هغه اسم ته چې مضاف وي ضمير ته نحو الحسن وجه ابيه (٦): مضاف هغه اسم ته چې مجرد عن اللام والاضافة وي نحو الحسن وجه اب. او هر يو قسم د دې معمول د صفت مشبه نه باعتبار الاعراب درې قسمه دی: (١): مرفوع (٢): منصوب (٣): مجرور، نو درې لره چې په شپږ كې ضرب وركړى شي نو اتلس جوړېږي، او دغسې اتلس صورتونه جوړېږي صفت مشبه مجرد عن اللام كې نو (١٨× ٢ = ٣٦) شو.

سوال: ته وايې چې معمول د صفت مشبه كله مرفوع راځي كله منصوب راځي او كله مجرور راځي دا مرفوع منصوب مجرور ولې راځي؟ **جواب: فالرفع** پس رفع د معمول د صفت مشبه **على الفاعلية** بنا بر فاعليت ده د صفت لپاره په دې شان سره چې معمول د صفت مشبه فاعل د صفت مشبه واقع شوى دى. **والنصب** او نصب د معمول د صفت مشبه **على التشبيه** د وجې د تشبيه د معمول د صفت مشبه نه **بالمفعول** د مفعول سره په وقوع د مرتبه ثالثه كې لكه اول فعل وي بيا فاعل وي بيا مفعول وي، نو دلته هم اول صفت مشبه دى، بيا فاعل دى، او بيا دغه معمول منصوب دى **او على التشبيه** جار مجرور متعلق دى النصب پورې او بالمفعول جار مجرور متعلق دى التشبيه پورې، ځكه النصب او التشبيه مصدر متلبس باللام دى، او عمل د مصدر متلبس باللام په ظرف او جار

مجرور کې صحیح دی نحو قوله تعالیٰ: ﴿لَا يُحِبُّ اللَّهُ الْجَهْرَ بِالسُّوءِ مِنَ الْقَوْلِ﴾. **في المعرفة** په معرفه کې عین مفعول به ورته نه وايو ځکه صفت مشبه لازم دی مفعول به نه غواړي، او تمیز ورته هم نه وايو ځکه تمیز نکره وي او دا معرفه ده. **وعلى التمیز** او دا نصب د معمول د صفت مشبه بنا بر تمیز دی **في النكرة** په نکره کې **عند البصرین** نحو الحسن وجها، او کوفیان وائي چې دا نصب د معمول د صفت مشبه علی التمیز دی مطلقا خواه که معرفه وي او که نکره وي، ځکه کوفیان کون د تمیز معرفه جائز وائي. بعضو نحویانو ویلي دي چې دا نصب د معمول د صفت مشبه بنا بر تشبیه بالمفعول راځي مطلقا خواه معرفه وي او که نکره وي. او شیخ رضی ویلي دي چې تفصیل اولی دی د مطلق حکم کولو نه په دې شان سره چې دا معمول د صفت مشبه چې منصوب راشي نو دا به خالي نه وي، یا به معرفه وی یا به نکره وي، که معرفه وه نو منصوب به راځي بنا بر تشبیه بالمفعول، او که نکره وه نو منصوب علی التمیز به وي، او مختار عند المصنف مذهب د بصریانو دی. **والجر** او جر د معمول د صفت مشبه بنا دی **علی الاضافة** په اضافت باندې په دې شان سره چې اضافت د صفت مشبه راغلی دی خپل فاعل ته او دا فاعل مضاف الیه دی او مضاف الیه نه وي مگر مجرور وي، او اضافت د صفت مشبه فاعل ته مستحسن دی د عدم اضافت نه.

وتفصیلها حسن وجهه ثلاثة: **ربط**: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د تفصیل د صفت مشبه نه په ضمن د امر کلي کې نو شروع یې وکړه په تفصیل د مسائل د صفت مشبه کې په ضمن **د** امثله جزئیه ؤ کې.

ترجمه: **وتفصیلها** مفصل د دې اتلس اقسامو د صفت مشبه موجود دی په ضمن د امثله جزئیو کې د قبیلې د وجود د کلي نه په ضمن د جزي کې

(۲): د قبیلې د وجود د عام نه په ضمن د خاص کې **حسن وجهه** دا قول زمونږه او ترکیب کذائي یې د جریان د اعراب معین نه په دې باندې **ثلاثه** درې صورتونه جوړیږي د اتلس صورتونو د مسائلو نه (۱): صفت مشبه مجرد عن اللام او معمول مضاف مرفوع حسن وجهُهُ په رفع سره بنا بر فاعلیت (۲): حسن وجهَهُ په نصب سره بنا بر تشبیه بالمفعول (۳): حسن وجهِهِ په جر سره بنا بر اضافت.

تشریح: **سوال**: ته وائې چې **وتفصیلها حسن وجهه ثلاثة**، نو تفصیل د مسائلو د صفت مشبه خو مخکې تیر شو **وتقسیم مسائلها** سره نو بیا تفصیل ثانیا ته ضرورت نشته؟

جواب: تفصیل دوه قسمه دی: (۱): یو تفصیل د امر کُلي دی من حیث الذات. (۲) او یو تفصیل د امر کُلي دی په ضمن د جزئیاتو کې، دا مخکې تفصیل د امر کُلي من حیث الذات وو او دا تفصیل د امر کُلي دی په ضمن د جزئیاتو کې.

ترکیب: تفصیلها مبتدا اول ده او حسن وجهه مبتدا ثاني ده، او ثلاثة خبر د مبتدا ثاني دی، دا جمله خبریه خبر د مبتدا اول دی، مبتدا سره د خبر نه جمله خبریه اسمیه شوه.

سوال: خبر محمول وي په مبتدا باندې او دلته حمل نه صحیح کیږي ځکه حسن وجهه تفصیل نه دی بلکه مفصل دی؟ (۲): جمله چې خبر واقع شي د مبتدا لپاره نو هغې کې لابدي وي د رابط نه او دلته رابط نشته؟ (۳): مفصل د مسائل **د** صفت مشبه فقط دغه درې نه دي بلکه نور هم شته؟

جواب: د اول اعتراض نه جواب دا دی چې دا اعتراض به هله واردیدو چې تفصیل په خپله معنی وی، لیکن دا مصدر مبني للمفعول دی تفصیل بمعنی مفصل دی، او جواب د اعتراض ثاني نه دا دی چې جمله خبر واقع شي د مبتدا لپاره نو لابدي ده د رابط نه او رابط څلور قسمه دی (۱) ضمیر (۲) الف لام (۳) وضع الظاهر موضع المضمر (۴) کون الخبر مفسرا للمبتداء نحو قل هو الله احد دلته څلورم قسم رابط موجود دی، ځکه تفصیلها مبتدا او حسن وجهه د هغې تفسیر او بیان دی. او جواب د دریم اعتراض نه دا دی چې مونږ وایو چې دا مفصل مسائل د صفت مشبه په ضمن دا مثله جزئیو کې چې واخلي دا ترکیب زمونږه دی چې **حسن وجهه** د قبیلې د وجود د کلي نه په ضمن د جزئي کې، او د قبیلي د وجود د عام نه په ضمن د خاص کې

سوال: ته وائي چې په **حسن وجهه** کې د رې مثالونه جوړیږي د صفت مشبه مجرد عن اللام لپاره نو دا **وجهه** به خالي نه وائې، یا به یې مرفوع وایې یا به یې منصوب وایې، او یا به یې مجرور وائې چې علی التعین یو قسم اعراب په دې کې وویل شي نو یو مثال جوړیږي نور نه جوړیږي، نو نه ځکه وائي چې درې مثالونه دي؟ **جواب:** مونږ وایو چې په دې کې درې مثالونه جوړیږي یې د اجرا. د اعراب معین نه په دې باندې. او ثلاثه عدد اقل دی تمیز غواړي او تمیز د دې جمع مجرور حذف شوی دی، **ای ثلاثة امثلة من الامثلة المقصودة** او تمیز د عدد اقل چې جمع مذکر راشي نو عدد مؤنث مستعملولی شي، او امثله جمع مذکر دی نو ځکه ثلاثه متلبس بالتاء دی

سوال: تفصیل ستا مخالف دی د اجمال نه، ځکه اجمال کې دی صفت مشبه متلبس باللام مقدم کړی وو د مجرد عن اللام نه، او په تفصیل کې دی مجرد عن اللام مقدم کړو په دې متلبس باللام باندې؟ **جواب:** صورتونه د صفت مشبه مجرد عن اللام اشرف دی د صورتونو د صفت مشبه متلبس باللام نه، ځکه صفت مشبه مجرد عن اللام کې ممتنع صورتونه نشته صرف یو صورة مختلف فیه دی او صفت مشبه متلبس باللام کې دوه صورتونه ممتنع دی

وکذلك حسن الوجه په شان د حسن وجهه دي. حسن الوجه په کون د دې کې امثله ثلاثه په وجوه مذکورو سره او دا مثال د صفت مشبه مجرد عن اللام او معمول متلبس باللام دی، دیکې هم وجوه ثلاثه روا دي. حسنٌ الوجهُ، حسنٌ الوجهَ، حسن الوجهِ. اول مرفوع بنا بر فاعلیت ثاني منصوب بنا بر تشبیه بالمفعول ثالث مجرور بالاضافة و **حسن وجه** دا عطف دی په (حسن الوجه) باندې نو معنی دا شوه چې (حسن وجه) هم په شان د (حسن وجهه) دی په کون د دې کې امثله ثلاثه او دا مثال د هغه صفت مشبه دی چې صفت مشبه مجرد عن اللام وي، او معمول یې هم مجرد عن اللام والاضافة وي، په دې کې درې وجې روا دي (۱) حسن وجه مرفوع بنا بر فاعلیت (۲) حسن وجها منصوب بنا بر تمیز (۳) حسن وجه مجرور بنا بر اضافة دا نهه صورتونه جوړ شو په صفت مشبه مجرد عن اللام کې

الحسن وجهه: ربط: (۱) هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د نهه صورتونو د صفت مشبه مجرد عن اللام نه، نو شروع یې وکړه په صورتونو د صفت مشبه متلبس باللام کې، او په ترک د عاطف سره یې اشاره وکړه استقلال د نوعیت ته

(٢) يا بي په ترك د عاطف سره اشاره وكړه شروع د قسم اخر ته چې هغه اقسام د صفت مشبه متلبس باللام دي. **الحسن وجهه** مثال د صفت مشبه متلبس باللام او معمول مضاف دی، په دې كې درې وجې جوړيږي (١) (الحسن وجهه) مرفوع بنا بر فاعليت (٢) الحسن وجهَهُ منصوب بنا بر تشبيه بالمفعول (٣) الحسن وجهه مجرور بنا بر اضافت. **الحسن الوجه** دا مثال دی د هغې صفت مشبه او معمول چې دواړه متلبس باللام وي په دې كې هم درې وجې روا دي (١) الحسن الوجه مرفوع بنا بر فاعليت (٢) الحسن الوجه منصوب بنا بر تشبيه بالمفعول (٣) الحسن الوجه مجرور بنا بر اضافت. **الحسن وجه** دا مثال د صفت مشبه متلبس باللام او معمول مجرد عن اللام والاضافة دی، ديكې هم درې وجې روا دي (١) الحسن وجهٌ مرفوع بنا بر فاعليت (٢) الحسن وجها منصوب بنا بر تميز (٣) الحسن وجهٍ مجرور بنا بر اضافت.

اثنان منها ممتنعان: ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د تفصيل د مسائل د صفت مشبه نه په ضمن د امثله جزئيه وو كې نو شروع يې وكړه په بيان د احكامو د صفت مشبه كې چې هغه ممتنع، مختلف فيه، حسن، احسن، او قبيح دي، او په دې اتلس صورتونو كې كوم يو صورت ممتنع دی، كوم يو مختلف فيه دی، كوم يو حسن دی، كوم احسن دی، او كوم قبيح دی، نو د هغې بيان كوي.

ترجمه: اثنان دوه مثالونه **منها** د دې اتلس صورتونو د صفت مشبه نه **ممتنعان** ممتنع دي په دې شان سره چې دغسې تركيب نه بليغ مستعملولى شي په كلام د عرب كې او نه غير بليغ.

(١) چې صفت مشبه متلبس باللام مضاف وي معمول خپل ته چې هغه مضاف وي ضمير د موصوف ته بالذات يا بالواسطه مثال د اول لكه **الحسن وجهه** شو، او مثال د ثاني لكه (الحسن وجه غلامه) شو، دا تركيب ممتنع دی ځكه دا اضافت اضافت لفظي دی او دار مدار د اضافت لفظي په تخفيف باندې دی په جانب د مضاف كې په حذف د تنوين او قائم مقام د تنوين سره يا په جانب د مضاف اليه كې په حذف د ضمير د موصوف سره چې دا ضمير حذف شي د مضاف اليه نه، او مستتر شي په صفت كې او يا تخفيف راشي په دواړو كې او دلته تخفيف نه دی حاصل شوی ځكه تنوين د مضاف نه حذف شوی دی، د الف لام د وجې نه، نه د اضافت د وجې نه خلافا للفراء، او نه تخفيف حاصل شوی دی په جانب د مضاف اليه كې په حذف د ضمير د موصوف سره

(٢) دويم هغه تركيب ممتنع دی چې صفت مشبه متلبس باللام وي او مضاف وي معمول مجرد عن اللام والاضافة ته لكه الحسن وجه، او دا تركيب ممتنع دی، اگر چې تخفيف حاصل شوی دی په مضاف اليه كې په حذف د ضمير سره د مضاف اليه نه او په استتار د هغې سره په صفت كې لپاره د دې چې لازم نه شي مخالفت من كل الوجوه په مينځ د اصل كې چې اضافت معنوي دی او فرع كې چې اضافت لفظي دی ځكه په اضافت معنوي كې احتمالات عقليه څلور دي، دوه جائز او دوه ممتنع (١) اضافت د نكرې معرفې ته جائز، نحو غلام زيد (٢) اضافت د نكرې نكرې ته جائز، نحو غلام رجل (٣) اضافت د معرفې معرفې ته ممتنع، نحو الغلام زيد (٤) اضافت د معرفې نكرې ته ممتنع، نحو الغلام رجل.

او په اضافت لفظي کې هم احتمالات عقليه څلور دي، درې جائز او يو ممتنع دی: (۱): اضافت د نکرې معرفې ته جائز، نحو ضارب زيد (۲): اضافت د نکرې نکرې ته جائز، نحو ضارب رجل (۳): اضافت د معرفې معرفې ته جائز، نحو الحسن الوجه (۴): او اضافت د معرفې نکرې ته ممتنع دی، لکه الحسن وجه شو، ځکه اضافت د معرفې معرفې ته په اضافت معنوي کې ممتنع وو او دلته جائز شو او اضافت د معرفې نکرې ته هم هلته ممتنع دی هم دلته که په اضافت لفظي کې که دا هم جائز شي نو لازميږي مخالفت من کل الوجوه بين الاصل والفرع چې اضافت معنوي او اضافت لفظي دی په دې شان سره چې اضافت معنوي اصل دی او اضافت لفظي فرع ده.

و اختلف في حسن وجهه او اختلاف کړی شوی دی د بصريانو او د کوفيانو په صورت واحده کې چې صفت مشبه مجرد عن اللام وي او مضاف وي معمول ته چې هغه مضاف وي ضمير د موصوف ته مثال لکه حسن وجهه شو سيبويه او بصريان وائي چې دا ترکيب جائز دی سره د قبح نه ځکه تخفيف کاملة چې ممکن وي او متکلم اکتفاء وکړي په تخفيف ناقص باندې نو دا جائز دی سره د قبح نه، او کوفيان وائي دا جائز دی بې د قبح نه ځکه دار مدار د اضافت لفظي په تخفيف باندې دی په جانب د مضاف يا مضاف اليه کې او دلته تخفيف حاصل شوی دی په جانب د مضاف کې په حذف د تنوين سره.

والبواقي ما كان ...**الخ** او باقي د اتلس صورتونو د صفت مشبه نه چې درې د هغې نه خارج شو چې هغه پنځلس دي، نو د دې پنځلس صورتونو نه **ما** هغه صفت مشبه **كان** چې وي **فيه** په دې صفت مشبه کې **ضمير واحد** ضمير واحد په صفت کې يا په معمول کې **منها** د دې بواقي نه **احسن** احسن دی، د وجې د حصول د ربط نه د موصوف سره بې د زيادت نه په قدر د حاجت باندې او دا نهه صورتونه دي (۱) الحسن الوجه په نصب د معمول سره (۲) الحسن الوجه په جر د معمول سره (۳) حسن الوجه په نصب د معمول سره (۴) حسن الوجه په جر د معمول سره (۵) حسن وجها په نصب د معمول مجرد عن اللام و الاضافة سره (۶) الحسن وجهاً په نصب د معمول سره (۷) حسن وجه په جر د معمول سره چې په دې اووه صورتونو کې راغلی دی ضمير واحد په صفت مشبه کې نه په معمول کې (۸) الحسن وجهُهُ (۹) حسن وجهُهُ په رفع د معمول سره، په دې دواړو صورتونو کې ضمير واحد راغلی دی په معمول کې نه په صفت مشبه کې **وما** او هغه صفت مشبه **كان فيه** چې ي نه هغې کې **ضميران** دوه ضميرونه، يو ضمير په صفت کې او بل په معمول کې **حسن** دا حسن دی. وجې د حصول د مقصود نه چې ربط دی د ماقبل موصوف سره او احسن نه دی ځکه زياتي راغلی دی د قدر حاجت نه. دا صرف دوه صورتونه دي: (۱) الحسن وجهَهُ بنصب المعمول صفت متلبس باللام (۲) حسن وجهه صفت مجرد عن اللام او معمول منصوب مضاف ضمير ته، دلته دوه ضميرونه دي يو معمول کې دی او بل مستتر دی په صفت مشبه کې **و ما لا ضمير فيه** او هغه صورتونه د صفت ... چې ضمير نشته په هغې کې نه په صفت مشبه کې او نه په معمول کې **قبيح**

دا قبيح دی د وجې د عدم حصول د مقصود نه چې ربط د صفت دی د موصوف سره لفظا، او د قبيح صورتونه څلور دي: (۱) الحسن الوجهُ (۲) حسن ن الوجهُ (۳) الحسن وجه (۴) حسن وجه اوس موږ به دا د څه نه معلوموو چې صفت مشبه کې ضمير شته او که نشته نو مصنف د دې لپاره يوه قاعده بيانوي **ومتی رفعت بها** کله چې ته رفع ورکړې په صفت مشبه سره معمول لره بنا بر فاعليت **فلا ضمير فيها** نو نشته دی ضمير مستتر په دې صفت مشبه کې ځکه دا ما بعد معمول اسم ظاهر فاعل دی د صفت مشبه لپاره نو که ضمير پکې مستتر ومنو نو لازميږي تعدد د فاعل او دا نه دی جائز لکه دا امثله اربعه د قبيح شو **فهي** ځکه دا صفت مشبه **كالفعل** په شان د فعل دی لکه څنګه چې اسناد د فعل اسم ظاهر ته وشي،نو وُحدَ الفعل ابدا دی، نو دغسې اسناد د صفت مشبه چې وشي اسم ظاهر ته نو وحد ابدا دی تثنيت او جمعيت يې نه دی جائز **والا** او که رفع ور نه کړو په دې صفت مشبه سره معمول لره بلکه نصب يا جر ورکړو **ففيها ضمير الموصوف** نو کائن دی په دې صفت مشبه کې ضمير چې راجع دی موصوف ته: (۱) ځکه صفت مشبه مشتقي دی فاعل غواړي نو ضمير مستتر به ورله فاعل شي. (۲) يا لپاره د حصول د ربط د صفت د موصوف سره **فتؤنث** پس مؤنث کوې به ته دغه صفت لره که موصوف مؤنث وي فاطمة حسنة وجه، ځکه د فعل او صفت اسناد چې وشي مؤنث ته نو تانيث د فعل او صفت واجب دی **وتثنی** او تثنيه کوې به ته دغه صفت لره که موصوف تثنيه وو نحو (الزيدان حسنا وجه وحسنان وجها) **وتجمع** او جمع کوې به ته دغه صفت لره که موصوف يې جمع وو نحو (الزيدون حسنو وجه و حسنون وجها) ځکه د فعل او د صفت اسناد چې وشي ضمير ته نو وحد للواحد وثنی للمثنی وجمع للجمع لپاره د موافقت د ضمير د مرجع سره.

واسما الفاعل والمفعول: (ربط): هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د اتلس صورتونو د صفت مشبه او د احکام خمسه د صفت مشبه نه نو شروع يې وکړه په بيان د اتلس صورتونو د اسم فاعل او اسم مفعول لازمين کې په طريقه د تشبيه سره لپاره د تعميم، نو وې ويل **اسما الفاعل والمفعول ... الخ**

ترجمه: دوه اسمونه د فاعل او د مفعول چې اسم فاعل او اسم مفعول دي **غير المتعديين** په حال کون د دې دواړو کې چې غير متعديين وي اسم فاعل غير متعدي دی ځکه چې جوړ شوی دی د **فعل لازم** نه او اسم مفعول غير متعدي دی، ځکه چې جوړ شوی دی د **فعل** متعدي الی مفعول واحد نه **مثل الصفة** دا دواړه په شان د صفت مشبه دي **فيما** په هغه صورتونو کې **ذكر** چې ذکر کړی شوي دي د اقسام ثماني عشر نه

تشريح: اتلس صورتونه لکه څنګه چې صفت مشبه کې جوړيږي نو دا رنګې اتلس صورتونه جوړيږي اسم فاعل لازم او اسم مفعول لازم کې، په دې شان سره چې اسم فاعل او اسم مفعول دوه قسمه دي: (۱) مجرد عن اللام (۲) متلبس باللام او معمول د دې درې قسمه دی: (۱) مضاف (۲) متلبس باللام (۳) مجردا عنهما. هر واحد د دې نه کله مرفوع راځي کله منصوب راځي او کله مجرور راځي، نو درې له چې په شپږو کې ضرب ورکړی شي نو اتلس شو. نهه صورتونه په اسم

فاعل متلبس باللام کي (۱) القائم الابُ (۲) القائم الابَ (۳) القائم الابِ (۴) القائم ابوه (۵) القائم اباه (۶) القائم ابیه (۷) القائم ابٌ (۸) القائم ابا (۹) القائم ابٍ او نهه صورتونه جوړیږي اسم فاعل مجرد عن اللام کي نحو قائم الابُ، قائم الابَ، قائم الابِ، قائم ابوه، قائم اباه، قائم ابیه، قائم ابٌ، قائم ابا، قائم ابٍ او دغسې اتلس صورتونه جوړیږي اسم مفعول کي نحو: مضروب الابُ، مضروب الابَ، مضروب الابِ... الخ په دي کي دوه صورتونه ممتنع دي القائم ابیه، القائم ابٍ، او یو مختلف فیه دی قائم ابیه، او باقي چې کوم مشتمل دي په ضمیر واحد باندي هغه احسن، او کوم چې مشتمل دي په ضمیرین باندي هغه حسن، او کوم چې مشتمل نه دي هغه قبیح اوغیر المتعدیین سره یې احتراز وکړو د اسم فاعل او اسم مفعول متعدیین نه ځکه هغې کي دا اتلس صورتونه نهٔ جوړیږي. ځکه په صورت د نصب کي التباس راځي د منصوب علی التشبیه د منصوب بنا بر مفعول به سره، او التباس راځي د منصوب علی التمیز د منصوب بنا بر مفعول به سره مثال لکه: زید ضاربٌ اباه زید معطي اباه دلته دا پته نه لګي چې اباه منصوب بنا بر مفعول به دی، او که منصوب بنا بر تشبیه بالمفعول دی.

سوال: اسم فاعل کله لازم راځي او کله متعدي راځي ځکه دا مشتق کیږي د فعل لازم او متعدي دواړو نه، او اسم مفعول خو لازم نه راځي ځکه اسم مفعول د فعل نه لازم نه نهٔ مشتق کیږي نو تا اسم مفعول ته غیر متعدي یعني لازم ځنګه وېلي دي په دي مقام کي؟

جواب: دا خبره منم چې اسم مفعول د فعل لازم نه نهٔ مشتق کیږي فقط د فعل متعدي نه مشتق کیږي، خو دا چې ته جوړ کړي د فعل متعدي الی مفعول واحد نه نو لازم ګرځي ځکه مفعول قائم شو په مقام د نائب فاعل باندي او بل مفعول نشته. **واسما الفاعل** اصل کي اسمان وو، بیا نون حذف شو د وجې د اضافت نه بیا التقا د ساکنین راغله بین الالف واللام علی غیر حده او اول مده وو حذف شو نو واسما الفاعل شو.

اسم التفضیل

ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف ... د نوع رابع د انواع د اسماء متصلو نه چې صفت مشبه وو نو شروع یې وکړه په نوع خامسه د انواع د اسماء متصلو کي چې اسم التفضیل دی او هر کله چې صفت مشبه مطلق وو په خلاف د اسم تفضیل نه چې دا مقید دی ځکه دلالت کوي په معنی مصدري باندي سره د زیادت نه پس مقدم یې کړو صفت مشبه په اسم تفضیل باندي، یا هر کله چې صفت مشبه عمل کوو په شان د عمل د فعل خپل په خلاف د اسم تفضیل نه چې دا عمل نه کوي نو ځکه یې مقدم کړو صفت مشبه په اسم تفضیل باندي، او په اسم تفضیل کي لابدي ده د معرفت د امور ثمانیو نه (۱) مفهوم لغوي (۲) مفهوم اصطلاحي (۳) مناسبت بین المفهومین (۴) وزن (۵) معرفت د شروط د بنا د اسم تفضیل (۶) معرفة د اقسام چې اسم تفضیل دوه قسمه دی (۷) معرفة د طریقه د استعمال د اسم تفضیل (۸) معرفت د عمل د اسم تفضیل

نو اسم تفضيل په لغت کې نام بهتر را گويند ـ اضافت د اسم ـ التفضيل ته اضافت د دال د دی مدلول ته يعنی هغه اسم چې دلالت کوي په تفضيل د شيء علی شيء باندې په اصطلاح کې **ما** اسم دی داسې اسم **اشتق** چې مشتق کړی شوی دی **من فعل** د فعل نه په حال کون د دې اسم کې چې دا وضع کړی شوی دی **لموصوف** د هغه ذات لپاره چې دا معنی مصدري قائم شوې ده په هغه پورې يا واقع شوې ده په هغه باندې او لموصوف يې وويلو او لمن قام به يا لمن وقع عليه يې ونه وئيلو لپاره د دې چې دا تعريف د اسم تفضيل شامل شي دواړو نوعين د اسم تفضيل لره چې هغه: (۱) اسم تفضيل بمعنی الفاعل نحو اضرب، (۲) او بمعنی المفعول نحو اشهر، **بزيادة** داسې ذات چې متصف دی په زيادت سره **علی غيره** په غير باندې په دغه معنی مصدري کې. (۲) يا په حال کون د دې موصوف کې چې دا متلبس دی په زيادت سره په غير موصوف باندې په دغه معنی مصدري کې **بزيادة** جار مجرور ظرف لغوه متعلق دی په موصوف پورې يا ظرف مستقر دی او با د تلبس لپاره ده، په اعتبار د متعلق محذوف سره چې متلبس دی صفت دی د موصوف لپاره **او** اسم تفضيل اصطلاحي ته اسم تفضيل ځکه وائي چې اسم تفضيل په لغت کې نام بهتر را گويند او دا اسم تفضيل اصطلاحي هم نوم دی د بهتر لپاره او دلالت کوي په غوره والي او فضيلت د شيء باندې غالبا. په هر تعريف کې لابدي وي د جنس او فصل نه **ما** عبارت دی د اسم نه دا جنس دی **اشتق من فعل** فصل اول دی په دې سره يې احتراز وکړو د جوامدو نه او **لموصوف** فصل ثاني دی په دې سره يې احتراز وکړو د اسم زمان اسم مکان اسم اله نه، ځکه مراد د موصوف نه ذات مبهم دی او اسم زمان اسم مکان اسم اله کې ابهام نشته ځکه نوع د هغې معلومه ده، او **بزيادة** فصل ثالث دی، په دې سره خارج شو اسم فاعل اسم مفعول او صفت مشبه د تعريف د اسم تفضيل نه، ځکه هغه اسم اشتق من فعل دی خو بزيادة نه دی او **علی غيره** فصل رابع دی په دې سره يې احتراز وکړو د صيغه د اسم فاعل للمبالغه نه ځکه اسم فاعل للمبالغه اگر چې بزيادة دی خو علی غيره نه دی، نو تعريف جامع مانع شو.

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط دا دی چې مخکې بيان د صفت مشبه وو چې دا يو قسم دی د اسماء متصلو نه او دا بيان د اسم تفضيل دی چې دا بل قسم دی د اسماء متصلو نه او مقصد د مصنف هم معلوم شو چې بيان د اسم تفضيل دی.

سوال: صفت مشبه يې ولې مقدم کړو په اسم تفضيل باندې؟ **جواب:** (۱) صفت مشبه مطلق دی او اسم تفضيل مقيد دی ځکه دلالت کوي په معنی مصدري باندې سره د زيادت نه او مطلق مقدم وي په مقيد باندې. (۲) صفت مشبه عمل کوي عمل د فعل خپل د وجې د مشابهت نه د اسم فاعل سره بخلاف اسم التفضيل چې دا عمل نه کوي.

سوال: اسم تفضيل په لغت کې څه ته وائي؟ **جواب:** نام بهتر ته وائي، يا اسم تفضيل لغت کې هغه اسم ته وائي چې دلالت کوي په تفضيل د شيء علی شيء، او اضافت د اسم ـ التفضيل ـ ته اضافت د دال دی مدلول ته.

سوال: ما په دې مقام کې د څه نه عبارت دی؟ **جواب:** کلمه د ما عبارت دی د اسم نه

سوال: کلمه د ما د اسم نه ولې عبارت دی؟ **جواب:** ځکه معتبر په تعریفاتو کې جنس قریب دی او جنس قریب دلته اسم دی او لفظ او شيء اجناس بعیده دي

(۲) یا ما عبارت دی د اسم نه ځکه مطلق اسم مقسم دی د اسم فاعل او مفعول او اسم تفضیل لپاره او مقسم معتبر وي په تعریفات د اقسامو کې او په تنکیر د اسم کې اشاره ده موصوفیت د ما ته **لانه واقع في جانب الخبر اشتق من فعل** جمله صفت د ما دی په دې توصیف د ما بجملة سره یې احتراز وکړو د جوامدو نه ځکه اسم جامد ته اسم تفضیل نه وائي

سوال: لموصوف یې وویلو نو **لمن قام به** یا **لمن وقع علیه** یې ولې ونهٔ ویلو؟

جواب: لموصوف یې وویلو نه لمن قام به یا لمن وقع علیه لپاره د دې چې دا تعریف شامل شي قسمین د اسم تفضیل ته ځکه اسم تفضیل دوه قسمه دی (۱) للفاعل نحو اضرب (۲) للمفعول نحو اشهر او که لمن قام به یې ویلی وی نو اسم تفضیل بمعنی المفعول ترې خارجېدلو، او که لمن وقع علیه یې ویلې وی نو اسم تفضیل للفاعل خارجېدلو او لموصوف یې چې وویلو نو تعریف صادق شو په تفضیل للفاعل او للمفعول دواړو باندې

سوال: لموصوف جار مجرور دی دا په چا پورې متعلق دی؟ **جواب:** د دې په متعلق کې خلاف دی د شارح جامي په نزد باندې دا ظرف مستقر دی او متعلق د دې محذوف دی چې موضوع دی او د نورو شارحینو په نزد باندې دا ظرف لغوه دی او متعلق دی په اشتق پورې

سوال: بزیادة جار مجرور په چا پورې متعلق دی؟ **جواب:** په دې کې دوه احتماله دي: (۱) دا ظرف لغوه دی متعلق دی په موصوف پورې (۲) یا ظرف مستقر دی او با د تلبس لپاره ده او متعلق د دې محذوف دی او دا جار مجرور په اعتبار د متعلق محذوف سره صفت دی د موصوف لپاره (فیکون التقدیر لموصوف متلبس بزیادة علی غیره- او علی غیره- جار مجرور ظرف لغوه متعلق دی زیادة پورې

سوال: هر تعریف کې لابدي ده د جنس او فصل نه، ما عبارت دی د اسم نه جنس دی مشتقات او غیر مشتقات ټول پکې داخل شول او اشتق من فعل سره جوامد خارج شو او لموصوف سره یې احتراز وکړو د اسم زمان او مکان نه ځکه مراد د موصوف نه ذات مبهمه دی او په دې اسماؤ کې ابهام نشته ځکه نوع د دې معلومه ده ابهام فردي او شخصي دی پکې؟

جواب: پس زده کړه دا خبره چې یو مشتق دی او بل صفت دی، مشتق اعم مطلق دی او صفت اخص مطلق دی، مشتق هغه ته وائي چې جوړ شوی وي د فعل نه، او صفت هغه ته وائي چې دلالت کوي په ذات مبهمه باندې او معتبر وي ورسره یو صفت د صفات نه، او مصداقو نه د دې څلور دي: اسم فاعل، اسم مفعول، صفت مشبه، اسم تفضیل او اسم زمان اسم مکان او اسم اله ته صفات نه وائي د دوی په اصطلاح کې ځکه دا دلالت نه کوي په ذات مبهمه باندې او ذات مبهمه دا معنی چې تعین نوعي او تعین فردي پکې نشته مثال لکه ضارب (ذات من له الضرب)، مضروب (ذات من

وقع عليه الضرب) نه تعين نوعي شته او نه فردي، او مضرب خاى د وهلو، مضرب اله د وهلو، په دي كي ابهام فردي او شخصي شته او ابهام نوعي نشته بلكه تعيين نوعي دى پكي اوس پاتې شو د مشتقات نه اسم فاعل اسم مفعول صفت مشبه نو بزيادة فصل ثالث دى په دې سره یې احتراز وكړو د اسم فاعل (لغير المبالغه) اسم مفعول صفت مشبه نه. خكه دا (بزيادة على غيره) نه دى. باقي پاتې شو اسم فاعل للمبالغه نو على غيره سره د هغې نه احتراز راغلو.

سوال: تعريف د اسم تفضيل مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو پكې زائد او كامل خكه دا اسم دى او مشتق دى من فعل لموصوف او دلالت كوي په زيادت على غيره باندې او اسم تفضيل نه دى بلكه اسم فاعل دى؟ **جواب:** مراد د زيادت نه زيادت د فاعل دى په دغه فعل كې چې دكوم فعل نه اسم تفضيل جوړ شوى دى او زائد او كامل دلالت نه كوي په زيادت د فاعل: هغه فعل چې زائد او كامل د هغې نه جوړ شوى دى بلكه دلالت كوي په زيادت د فاعل باندې په هغه شي كې چې دا د هغې نه نۀ دى جوړ شوى.

وهو افعل: ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د تعريف د اسم تفضيل نه نو شروع یې وكړه په بيان د صيغو د اسم تفضيل كې نو وې ويل (**وهو افعل**)

ترجمه: وهو او دا اسم تفضيل مذكر په اعتبار د هيئت سره نه په اعتبار د مادى سره راځي په وزن د افعل باندې په اعتبار د اصل وضع سره لكه اضرب شو او مؤنث یې راځي په وزن د فعلى باندې لكه ضربى شو.

تشريح: سوال: هو مبتدا ده او افعل ورله خبر دى او خبر محمول وي په مبتدا باندې او دلته حمل نه صحيح كيږي خكه حمل د خاص راځي په عام باندې خكه اسم تفضيل عام دى او افعل خاص دى لكه انصرا ضرب وغيره اسم تفضيل دي او افعل نه دى؟ **جواب:** دا اعتراض به هله راتلو چې دلته وزن د افعل مراد وى، ليكن ذكر د وزن او مراد موزون دى نو معنى دا شوه چې دا اسم تفضيل راځي په وزن د افعل باندې نو حمل د عام په عام راغى نه حمل د خاص په عام.

سوال: نه وائې چې اسم تفضيل راځي په وزن د افعل باندې نو دا خبره ستا منقوضه شوه په ضربى او فضلى باندې. خكه دا اسم تفضيل دى او په وزن د افعل نه دى؟

جواب: هو ضمير راجع دى اسم تفضيل ته او مراد اسم تفضيل مذكر دى او مؤنث راځي بروزن فعلى

سوال: د اسم تفضيل مذكر وزن یې بيان كړو نو د مؤنث وزن یې ولې بيان نه كړو؟

جواب: دا یې ترك كړى دى مقائسة (۲) يا صيغه د اسم تفضيل مؤنث یې ذكر نه كړه خكه معرفت د صيغه د اسم تفضيل مذكر مستلزم د معرفت د صيغې د اسم تفضيل مؤنث لره خكه مؤنث د دې په وزن د فعلى باندې راځي نه په بل وزن.

سوال: دا خبره ستا منقوضه شوه په خير او شر سره چې دا اسم تفضيل مذكر دى او په وزن د افعل باندې نه دى؟ **جواب:** اسم تفضيل راځي په وزن د افعل باندې په اعتبار د اصل وضع سره او دا اصل

کې آخیَر او آشر وو، بیا پکې تغیر راغلی دی خلاف القیاس نو شر اوخیر ترې جوړ شوی دی او اسم تفضیل مذکر افعل نه په تغیر غیر قیاسي سره راغلی دی په کلام د عربو کې څلور کلمات. خیر، شر، حب، شیخ، چې اصل کې اخیر، اشر، احب، اشیخ وو بیا پکې تغیر خلاف القیاس راغی نو خیر، شر، حب او شیخ شو.

وشرطه ان یبنی من ثلاثي مجرد: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د تعریف او صیغه د اسم تفضیل نه نو شروع یې وکړه په بیانَ د شروطو د بنا د اسم تفضیل کې نو وې ویل وشرطه... الخ

ترجمه: شرط لپاره د وجود د اسم تفضیل قاعدةً او اطرادا په استعمال د کلام د عربو کې **ان یبنی** جوړول د اسم تفضیل دی **من ثلاثي** د هغه ما دی چې هغه دلالت کوي په معنی مصدري باندې، داسې ماده ده چې هغه ثلاثي ده یعنې حروف اصلي پکې درې دي **مجرد** داسې ثلاثي چې مجرد دی په دې شان سره چې درې حروف اصلیو نه زائد حرف پکې نه دی راغلی **لیمکن** د دې لپاره چې ممکن شي او جائز شي بنا د افعل **منه** د دې مادې د ثلاثي مجردو نه ځکه بنا د اسم تفضیل بر وزن افعل د رباعي مجردو نه او د رباعي مزید فیه او ثلاثي مزید فیه نه سره د بقاء او محافظت د ټولو حروفو نه ممکن نه ده، ځکه دا وزن د افعل نه شي ځای کولی په خپل ځان کې ټول حروف د ثلاثي مزیدو او د رباعي مطلقا او که افعل جوړ کړی شي د ثلاثي مزید یا رباعي نه په حذف د زائدو سره بیا دا پته نه لګي چې دا اسم تفضیل مشتق د ثلاثي مجردو نه دی که د ثلاثي مزیدو یا د رباعي نه دی مثال لکه زید اخرج من عمرو، اخرج اسم تفضیل ته جوړ کړی د یستخرج نه په حذف د زوائدو سره نو بیا دا پته نه لګي چې دا اخرج بمعنی کثیر الخروج دی او که بمعنی کثیر الاستخراج دی او که اسم تفضیل جوړ کړی شي د ثلاثي مزید یا رباعي مجرد یا مزید نه په طریقه د مکس سره د اصولو او زوائدو نه نو بیا د مشتق منه پته نه لګي چې د څه نه مشتق دی نو لازمیږي التباس د معنی او دا باطل دی.

ولیس بلون ولا عیب او نه به وي دا ماده د ثلاثي مجردو دلالت کوونکي په لون او عیب ظاهري باندې او اجهل او ابلد صیغه د اسم تفضیل ده او جوړه شوې ده د جهل او بلادت نه چې هغه عیب باطني دی **لان منهما** ځکه د دې مادې د لون او عیب نه جوړ شوی دی، **افعل** اسم بر وزن افعل **لغیره** د غیر د اسم تفضیل لپاره چې هغه افعل صفتي دی اوس که د دې نه اسم تفضیل جوړ کړی شي بر وزن افعل نو التباس راځي د افعل صفتي او افعل تفضیلي په مینځ کې لکه احمر شو، مثلا چې دا افعل صفتي او تفضیلي دواړو لپاره راشي نو دا پته نه لګي چې دا په معنی د ذو حمرة سره دی او که په معنی د زائد الحمرة سره دی او دا افعل صفتي مقدم دی د افعل تفضیلي نه ځکه دا دلالت کوي په مطلق او افضل تفضیلي دلالت کوي په مقید باندې او مطلق مقدم وي په مقید باندې نو افعل صفتي د مادې د لون او عیب نه جوړ شو او افعل تفضیلي هسې پاتې شو دلته ماتن ته پنځه شرطونه ذکر کړي دي د بنا د اسم تفضیل لپاره او پنځه شرطونه نور دي چې هغه مصنف نه دي ذکر کړي

(۶): چې دا ماده د ثلاثي مجردو به تام وي ناقص به نه وي ځکه د فعل ناقص نه اسم تفضيل نه جوړېږي ځکه اسم تفضيل دلالت کوي په زيادت د فاعل باندې په معنی مصدري کې د مفعول نه او فعل ناقص فاعل نه غواړي. (۷): دا فعل تام به متصرف وي او صيغه د اسم تفضيل د فعل غير متصرف نه نۀ جوړېږي لکه نعم، عسی، ليس شو. (۸): دا ماده د ثلاثي مجردو به قابل د زيادت او د نقصان وي او که قابل د زيادت او د نقصان نه وه د هغې نه اسم تفضيل نه جوړېږي، لکه موت شو، ځکه اسم تفضيل دلالت کوي په زيادت د معنی مصدري په فاعل کې په نسبت سره غير ته، او دا به هله راځي چې دا ماده د ثلاثي مجردو قابل د زيادت او د نقصان وي (۹): دا ماده د ثلاثي مجردو به مثبت وي نه منفي (۱۰): دا ماده د ثلاثي مجردو به معلوم وي نه مجهول، ځکه که اسم تفضيل جوړ شي د فعل منفي نه يا د فعل مجهول نه نو بيا التباس راځي د اسم تفضيل د فعل مثبت د اسم تفضيل د فعل منفي سره او د اسم تفضيل د فاعل د اسم تفضيل د مفعول سره پس شو بنا د اسم تفضيل مشروط په شروط عشره ۆ سره: (۱): دا ماده به دلالت کوي په حدث باندې (۲): ثلاثي به وي (۳): مجرد به وي (۴): دلالت به نه کوي په لون (۵): او په عيب ظاهري باندې (۶): تام به وي (۷): متصرّف به وي (۸): قابل د زيادت او د نقصان به وي (۹): مثبت به وي (۱۰): معلوم به وي تلك عشرة كاملة. مثال د اسم تفضيل چې جوړ شوی وي د مادې د ثلاثي مجردو نه او مشروط وي په شروط عشره ۆ سره لکه افضل شو په **زيد افضل الناس** کې، چې دا افضل صيغه د اسم تفضيل جوړه شوې ده د فضل نه او فضل دلالت کوي په معنی مصدري، او ثلاثي مجرد دی او لون او عيب لپاره نه دی تام دی متصرف دی قابل د زيادت او د نقصان دی او مثبت دی او معلوم دی. (واما اولهم واعطاهم واخصر وماءه آبيَض مِنَ اللبن واشهر واحمق فشاذ).

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط دا دی چې مخکې بيان د تعريف او د صيغې د اسم تفضيل وو او دا بيان د شروط د بنا د اسم تفضيل دی او په دې سره غرض د مصنف هم معلوم شو چې بيان د شروطو دی، او بنا د اسم تفضيل مشروط ده په شروط عشره ۆ سره، که دغه شرطونه موجود وو معا نو اسم تفضيل جوړولی شي، والافلا.

سوال: من ثلاثي کې ثلاثي منسوب دی او منسوب مشتقي وي حکما دا صفت دی تقاضا د موصوف کوي د دې موصوف کوم دی؟ **جواب:** ای من حدث ثلاثي، د حدث سره يې احتراز وکړو د رجل زيد وغيره نه، ځکه چې دا دلالت نه کوي په معنی مصدري باندې او د دې نه اسم تفضيل نه جوړېږي، او ثلاثي سره يې احتراز وکړو د رباعي نه د هغې نه هم اسم تفضيل نه جوړېږي او مجرد سره يې احتراز وکړو د ثلاثي مزيدو نه د هغې نه هم نه جوړېږي او ثلاثي مزيد عام دی که مطلق وي او که ملحق وي.

سوال: د ثلاثي مزيد او رباعي نه اسم تفضيل ولې نه جوړېږي؟ **جواب:** ځکه اسم تفضيل راځي په وزن د افعل باندې او دا وزن د افعل ټول حروف د ثلاثي مزيد و يا د رباعي په ځان کې نه شي ځای کولی.

سوال: اسم تفضيل جوړ کړه د رباعي نه يا د ثلاثي مزيدو نه په حذف د زوائدو سره؟

جواب: داسې نه شو کولی ځکه بیا لازمیږي التباس په مابین د اسم تفضیل د ثلاثي مجرد او غیرد ثلاثي مجردو کې لکه اخرجُ چې د استخراج نه راشي نو بیا پته نه لګي چې دا بمعنی کثیر الاستخراج دی که بمعنی کثیر الخروج دی

سوال: اسم تفضیل جوړ کړه د ثلاثي مزید رباعي مجرد او مزید نه په طریقه د مکس سره؟

جواب: داسې نه شم کولی ځکه اسم تفضیل چې جوړ شي په وزن د افعل د بعضي اصولو او بعضې زواندو نه نو بیا د مشتق منه پته نه لګي او تعین د معنی نه راځي او لازمیږي فساد د معنی

سوال: ته وایې چې اسم تفضیل د ثلاثي مزیدو نه نهٔ راځي، دا قاعده ستا منقوضه شوه په اولهم اعطاهم اخصر سره، دا اسم تفضیل دی او جوړ شوی دی د باب افعال او افتعال نه؟

جواب: زه وایم چې قیاسا نه راځي او دا راغلی دی خلاف القیاس

سوال: اسم تفضیل د مادې د لون او عیب نه ولې نه راځي؟ **جواب:** لان منهما افعل لغیره. چې هغه افعل صفتي دی که افعل تفضیلي هم جوړ کړو نو لازمیږي التباس لکه احمر افعل صفتي جوړ شوي دي د حمرت نه که احمر تفضیلی هم جوړ کړو نو پته نهٔ لګي چې دا بمعنی ذو حمرة دی که بمعنی زائد الحمرة دی

سوال: التباس خو په عکس سره هم دفع کیږي نو عکس یې ولې ونه کړو؟ **جواب:** عکس یې ونه کړو ځکه افعل صفتي مقدم دی د افعل تفضیلي نه نو افعل صفتي یې جوړ کړو او افعل تفضیلي هسې پاتې شو

سوال: افعل صفتي ولې مقدم دی؟ **جواب:** ځکه هغه دلالت کوي په مطلق او تفضیلي دلالت کوي په مقید او مطلق مقدم وي په مقید باندې

سوال: ته وایې چې د مادې د لون نه اسم تفضیل نه جوړیږي بلکه د دې نه افعل صفتي راځي، دا خبره ستا منقوضه شوه په دې قول د نبي صلی الله علیه وسلم سره (مائه ابیض من اللبن)؟

جواب: دا شاذ دی.

سوال: ته وایې چې اسم تفضیل نه جوړیږي د مادې د عیب نه، دا خبره ستا منقوضه شوه په اجهل او ابلد باندې، دا د عیب نه جوړ شوی دی؟

جواب: مراد د عیب منفیه نه عیب ظاهري دی او ابلد اجهل عیب باطني دی.

سوال: احمق د قبیلې د اجهل او ابلد نه دی، ځکه جوړ شوی دی د حماقت نه او حماقت عیب باطني دی او د عیب باطني نه اسم تفضیل جوړیږي قیاسا نو احمق ته په (فلان احمق من ابن حبنقة) کې شاذ ولې وائي؟ **جواب:** احمق جوړ شوی دی د حماقت ظاهري نه ځکه ورته شاذ وایو ځکه ابن حبنقه دومره زیات کم عقل وو چې د حماقت اثار یې بهر ظاهر شوي وو چې د چړو نه د تارونو نه او د هډوکو نه یې یو امیل جوړ کړی وو، او هغه به یې غاړې ته غورځولو او ګرځېدلو به، چا ترې نه تپوس وکړو چې دا په غاړه باندې ولې ګرځوې؟ نو دهٔ وویل (لاعرف بها نفسي ولا اضل)، بیا یوه ورځ د دهٔ ورور دغه امیل غاړې نه اچولی وو نو دهٔ ورته وویل چې (یا اخي انت انا فمن انا؟) او شارح جامي ویلي

دي چې (ففيه شائبة من حمق ابن حبنقة) اى فى هذ الجواب ځکه د دې نه دا معلومیږي چې که احمق جوړ شي د حماقت باطني نه نو دا صيغه د اسم تفضیل ده قیاسا او اطرادا او اجهل ابلد جوړ شي د هغه بلادت او جهالت نه چې هغه ظاهر شوی وي نو دا به اسم تفضیل وي خلاف القیاس او په دې باندې هیڅا قول نه دی کړی او شارح رضی احمق ګرځولی دی د قبیلې د ابلد نه چې دا قیاسا دی او شاذ نه دی.

سوال: بنا د اسم تفضیل چې مشروط ده په شروط عشرو سره نو مصنف دا پنځه شرطونه ذکر کړل باقي پنځه شرطونه یې ولې نه دي ذکر کړي؟

جواب: باقي پنځه شرطونه مراد دي او مصنف ترک کړي دي، اکتفاء یې کړې ده په مثال باندې چې زید افضل الناس) کې د افضل نه هغه باقي پنځه شرطونه معلومیږي

سوال: ته وایې چې بنا د اسم تفضیل مشروط ده په شروطو عشره سره. اوس چې متکلم قصد او اراده وکړي چې زه دا معنی تفضیلي ادا کوم د ماده ممتنعه نه، نو دا ادا کولی شي او که نه شي ادا کولی؟

جواب: ادا کولی شي

سوال: څنګه به یې ادا کوي طریقه د ادا کولو یې څه ده؟ **جواب:** طریقه د ادا کولو یې دا ده **فان قصد غیره** که چرته اراده وکړی شي د ادا کولو د معنی تفضیلي **غیره** د غیر د هغه مادې نه چې هغه جامع د دې شروط عشره ۋ وي **توصل** نو رسېدل کولی شي **الیه** دې معنی تفضیلي د غیر ثلاثي مجردو ته **باشد** په اشد سره، په دې شان سره چې دا متکلم به وګوري یو ماده د ثلاثي مجردو نه چې هغه دلالت کوي په قوت یا شدت یا زیادت یا کثرت او د هغې نه به اسم تفضیل جوړ کړي په وزن د افعل باندې او مصدر د ماده ممتنعه به ذکر کړي وروستو د هغې نه منصوب بنا بر تمیز مثال لکه (هو اشد منه استخراجا) دا مثال د غیر ثلاثي مجردو دی (ای اشد استخراجه من زید) **وبیاضا** دا مثال د لون دی **وعمی** دا مثال د عیب دی (ای اشد بیاضه من عمرو واشد عمیه من عمرو) **وقیاسه للفاعل** او قیاس او قاعده چې واقع ده په اسم تفضیل کې اشتقاق د اسم تفضیل دی د ثلاثي مجردو نه **للفاعل** د فاعل لپاره نه د مفعول لپاره ځکه که اسم تفضیل جوړ شي د ثلاثي مجردو نه د فاعل او مفعول دواړو لپاره قیاسا او اطرادا نو بیا زیاتیږي التباس په مابین د اسم تفضیل للفاعل او اسم تفضیل للمفعول کې او کثرت التباس مُخل د مقصود د متکلم دی، پس جوړ کړو دوی اسم تفضیل د فاعل لپاره قیاسا او اطرادا نه د مفعول لپاره، ځکه فاعل اشرف دی ځکه عمده د کلام دی او بالعکس یې ونه کړو ځکه بیا ډیر افعال به د اسم تفضیل نه پاتې کیدل لکه افعال لازمه شو، ځکه اسم تفضیل للمفعول د فعل متعدي نه راځي نه د فعل لازم نه، او که اسم تفضیل به قیاسا جوړ کړی وی د مفعول لپاره نو فعل لازم به د اسم تفضیل نه پاتې کیدو او دا باطل دی **وقد جاء** او لږ لږ راغلی دی اسم تفضیل **للمفعول** د مفعول دپاره خلاف القیاس لکه **اعذر** شو (بمعنی المعذور) هغه چا ته وایي چې معذوریت د هغه اشد او اکثر وي **والوم** دا صیغه د اسم تفضیل بمعنی المفعول ده هغه چا ته وائي چې ملومیت یې زیات وي. **اشغل** ډیر مشغول **اشهر** زیات مشهور

ويستعمل على احد ثلاثة اوجه: ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د شروطو د بنا د اسم تفضيل نه نو وې ويل **ويستعمل... الخ** نو شروع يې وكړه په بيان د طريقه د استعمال د اسم تفضيل كې **على احد ثلاثة اوجه** په يو د طرق ثلاثه
ترجمه: مستعملولى شي اسم تفضيل په كلام د عربو كې په اضافت سره مستعمليږي **او بمن** يا په من سره **او معرفا باللام** يا به معرف **مضافا** چې دا اسم تفضيل په طريقه د انفصال حقيقي سره په دې شان سره چې خلوه د اسم تفضيل د دې امور ثلاثه باللام وي په طريقه د انفصال حقيقي سره په دې شان سره چې خلوه د اسم تفضيل د دې امور ثلاثه نه هم نه ده جائز او جمع د دې امور ثلاثه ؤ هم نه ده جائز بلكه د دې امور ثلاثه ؤ نه به يو موجود وي لپاره د تعين د مفضل عليه، او تعين د مفضل عليه په من او په مضاف كې ظاهر دى ځكه مذكور دى لفظا او مفضل عليه د اسم تفضيل مستعمل باللام هغه شى معين دى چې اشاره شوې ده هغې ته په الف لام عهد خارجي سره.

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دى او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دى؟
جواب: ربط د ماقبل سره دا دى چې مخكې بيان د طريقې د اسم تفضيل وو او اوس بيان د طريقې د استعمال د اسم تفضيل دى او غرض د مصنف هم معلوم شو چې بيان د طريقې د استعمال د اسم تفضيل دى چې دا اسم تفضيل مستعمليږي په كلام د عربو كې په يو د طرق ثلاثه ؤ سره:
(۱) په اضافت سره چې مستعمل شوى وى نحو قوله تعالى: ﴿ وَلَتَجِدَنَّهُمْ أَحْرَصَ النَّاسِ ﴾ وكقولك (زيد افضل الناس). (۲) په من سره نحو (زيد افضل من عمرو). (الصلوة خير من النوم).
(۳) په الف لام سره نحو (زيد ن الافضل).
سوال: اسم تفضيل ولې مستعمليږي په كلام د عرب كې په يو د طرق ثلاثه ؤ سره؟
جواب: لپاره د تعين د مفضل عليه ځكه اسم تفضيل واضع وضع كړى دى لپاره د دې چې دلالت وكړي په تفضيل د شيء على غيره باندې، نو لابدي ده د ذكر د غير نه چې مفضل عليه دى او ذكر د مفضل عليه من او اضافت سره ظاهر دى ځكه مدخول د من او مضاف اليه مفضل عليه دى، او مفضل عليه سره د الف لام نه په حكم د مذكور كې دى بحسب الظاهر ځكه په الف لام سره اشاره كولى شي معين ته په ذكر د مفضل عليه سره مخكې د الف لام نه لفظا يا حكما لكه يو سړى ستا نه معلومات كوي د يو شخص چې هغه افضل وي د زيد نه او ته ورته وواېې چې (عمرو ن الافضل) يعنى عمرو افضل دى د زيد نه، او اسم تفضيل مستعمليږي په يو د طرق ثلاثه ؤ سره په طريقه د انفصال حقيقي سره په دې شان سره چې اجتماع د دې طرق او خلوه دواړه ممتنع دي. (واذا كان الامر كذلك **فلا يجوز زيد ن الافضل من عمرو** ځكه لازميږي لغويت او ابطال د احدهما
سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د شاعر سره:

ولست بالاكثر منهم حصىً
انما العزة للتكاثر

دلته اكثر صيغه د اسم تفضيل ده چې دا مستعمل شوې ده الف لام او من دواړو سره په شان د زيد ن الافضل من عمرو باندې. **جواب:** (۱) يجوز في الشعر ما لا يجوز في غيره.

(۲) الاکثر کې الف لام عهد خارجي نه دي بلکه زائد دي لپاره د تحسين د کلمه.
(۳) او که الف لام عهد خارجي شي نو دا من، من تفضيلي نه دی بلکه من ابتدائي دی.
(۴) یا من تبعيضي دی نه تفضيلي (ای لست من بينهم بالاکثر حصیً).
(۵) یا من تفضيلي نه دی بلکه من ظرفي دی (ای لست بالاکثر فيهم) مثل قوله تعالی: واذا نودي للصلوة من يوم الجمعة. ای في يوم الجمعة.
(۶) او که ومنم چې دا من تفضيلي دی نو دا په الاکثر پورې متعلق نه دی بلکه د دې متعلق اسم تفضيل مقدر دی (ای لست بالاکثر اکثر منهم حصیً).
الا زيد افضل او جائز نه دی زيد افضل يعنی جائز نه ده خلوه د اسم تفضيل د طرق ثلاثه ؤ نه د وجې د نوت د مقصود زمونږ نه چې هغه تعين او معلوميت د مفضل عليه دی **الا ان يعلم** دا مستثنی مفرغه ده، معنی دا شوه چې (ولا يجوز زيد افضل في جميع الاوقات) **الا ان يعلم** ای الاوقت معلومية المفضل عليه بيا صيغه د اسم تفضيل مستعمله ولی شي مجرد عن اللام والاضافت ومن نحو الله اکبر چې دلته مفضل عليه (مضاف اليه) محذوف دی، (ای اکبر کل شيء)، يا محذوف مجرور دی په من سره (ای اکبر من کل شيء).
سوال: ته وايې چې اسم تفضيل مستعمله ولی شي په يو د طرق ثلاثه ؤ سره دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د الله سره ﴿ اَعۡدِلُوۡا هُوَ اَقۡرَبُ لِلتَّقۡوٰی ﴾ وقوله تعالی ﴿ وَهُوَ الَّذِیۡ یَبۡدَؤُا الۡخَلۡقَ ثُمَّ یُعِیۡدُهٗ وَهُوَ اَهۡوَنُ عَلَیۡهِ ﴾ دا اقرب او اهون صيغه د اسم تفضيل ده او نه ده مستعمل په يو د طرق ثلاثه ؤ سره نه لفظا او نه تقديرا؟ **جواب:** دا عبارت د مصنف په حذف د معطوف سره دی (ای الاان يعلم او يخرج اسم التفضيل عن معنی التفضيلي) يعنی اسم تفضيل مستعمليږي په يو د طرق ثلاثه ؤ سره لفظا يا تقديرا پدی شرط سره چې دا اسم تفضيل مستعمل شوی وو په معنی تفضيلی کې او که نوی مستعمل شوی په معنی تفضيلی کې بلکې په معنی د اسم فاعل سره وو يا په معنی د صفت مشبه سره وو بيا نشی مستعمله ولې په يو د طرقو ثلاثه وو سره نه لفظا او نه تقديرا. (کما في الامثلة المذکورة). **فاذا اضيف فله معنيان: ربط:** هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د طرق ثلاثه ؤ د اسم تفضيل نه اجمالا نو شروع يې وکړه په بيان د استعمال د اسم تفضيل کې په طرق ثلاثه ؤ سره تفصيلا. **فاذا** کې دا فا تفصيليه ده.
ترجمه: فاذا اضيف که چرته اضافت وکړی شي د اسم تفضيل معرفې ته او اسم تفضيل په معنی تفضيلي کې مستعمل وي **فله معنيان** نو ثابت دي د دې اسم تفضيل لپاره دوه معاني، او که اضافت د اسم تفضيل نکرې ته راغلی وو نو عدم مطابقت واجب دی، او که مضاف الی المعرفه وو، خو په معنی تفضيلي کې نه وو مستعمل شوی نو هلته مطابقت واجب دی د موصوف سره، او که اضافت د اسم تفضيل راغلی وو معرفې ته او په معنی تفضيلي سره وو، نو هلته دوه معاني دي په يوه معنی باندې مطابقت واجب دی د موصوف سره او په بله معنی باندې جواز د وجهين دی. **احدهما** يو د دې معنيين نه **وهو الاکثر** چې دغه معنی اوله اکثر ده د ثاني نه ان تقصد چې قصد کړی شي **به** په دې اسم

تفضيل سره **الزيادة** زيادت د فاعل د اسم تفضيل په اصل معنى مصدري کې **على من** په هغه چا باندې **اضيف** چې اضافت کړى شوى دى د دې اسم تفضيل **اليه** هغه شي ته فقط، دې ته زيادت مقيد وائي خکه زيادت د فاعل د اسم تفضيل راغلى دى په معنى مصدري کې فقط د مضاف اليه نه **احدهما** مبتدا ده (ان تقصد به الزيادة) ورله خبر دى او **هو الاکثر** جمله معترضه واقع شوې ده بين المبتدا والخبر لپاره د بيان د وجه د تقديم د معنى اولى په معنى ثاني باندې (اضيف اليه) کې اليه ضمير راجع دى من ته، او من راخي د ذوي العقولو لپاره او غير ذوي العقول پکې داخل دي على سبيل التغليب **فيشترط ان يکون منهم** شرط دى په استعمال د اسم تفضيل کې په دې معنى اول سره **ان يکون** کيدل د فاعل د اسم تفضيل **منهم** بعض د افرادو د مضاف اليه نه په اعتبار د مفهوم لغوي د لفظ سره لپاره د دې چې اشتراك راشي په اصل معنى مصدري کې د مفضل عليه سره چې مضاف اليه دى او خارج دى د مضاف اليه نه په اعتبار د ارادې سره لپاره د دې چې لازم نه شي اضافت د شي الى نفسه مثال لکه **زيد افضل الناس** دا افضل اسم تفضيل مستعمل شوى دى په اضافت سره او اضافت يې راغلى دى معرفې ته او دا په معنى تفضيلي سره دى او مستعمل دى په معنى اول سره چې هغه زيادت د فاعل د اسم تفضيل دى په معنى مصدري کې فقط د مضاف اليه نه او شرط پکې هم موجود دى چې دا زيد يو فرد دى د افرادو د ناس نه

سوال: ته وايې چې شرط لپاره د اسم تفضيل بمعنى الاول کون د فاعل د اسم تفضيل دى داخل په مضاف اليه کې نو زه ستا نه تپوس کوم چې (زيد افضل الناس) کې فاعل د اسم تفضيل زيد دى دا داخل په الناس کې وايې که نه وايې، که وايې نو اضافت د شي الى نفسه راغى او که داخل يې نه وايې نو فاعل د اسم تفضيل بعض د افرادو د مضاف اليه نه نه شو، نو انتفاء د شرط راغله؟ **جواب:** زيد زه داخل وايم په الناس کې په اعتبار د مفهوم لغوي سره او خارج يې وايم په اعتبار د ارادې د متکلم سره

سوال: شرط لپاره د استعمال د اسم تفضيل بمعنى الاول کون د فاعل د اسم تفضيل بعض د افرادو د مضاف اليه نه ولې دى؟ **جواب:** لپاره د دې چې اشتراك راشي د فاعل د اسم تفضيل د مضاف اليه سره په اصل معنى مصدري کې

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په (زيد اعلم الجدار) سره چې دلته فاعل د اسم تفضيل بعض د افرادو د مضاف اليه نه دى؟ **جواب:** دا عام دى که بعض د افرادو د مضاف اليه نه حقيقة وي او که فرضا وي دلته فرضا دى **فلا يجوز يوسف احسن اخوته:** د دې وجې نه چې شرط په اسم تفضيل مستعمل بمعنى الاول کې کون د فاعل د اسم تفضيل دى داخل په افرادو د مضاف اليه کې نه دى جائز (يوسف احسن اخوته) چې دا اسم تفضيل مستعمل په معنى اول سره واخلې خکه لازميږي اجتماع د نقيضين، او اجتماع د نقيضين خو باطل ده نو دا ترکيب هم باطل شو، وجه د ملازمې اجتماع د نقيضين خکه راخي چې اضافت د اخوه چې ضمير ته شوى دى چې راجع دى يوسف ته دا دلالت کوي په دې خبره چې يوسف خارج دى د اخوه نه. خکه که خارج نه شي نو بيا لازميږي اضافت د شي الى

نفسه او که دې ته ګورې چې شرط په اسم تفضیل مستعمل بمعنی الاول کې دا دی چې فاعل د اسم تفضیل په بعض د افراد د مضاف الیه نه وي، دا دلالت کوي چې یوسف په اخوة کې چې مفضل علیه دی داخل دی، نو لازم شو کون د یوسف داخل په اخوة کې او خارج د اخوة نه، او دا نه ده مګر اجتماع د نقیضین ده لهذا دا ترکیب نه دی جائز (۲) یا دا ترکیب نه دی جائز **لخروجه عنهم** د وجې د خروج د یوسف نه د اخوة نه او شرط لپاره د اسم تفضیل مضاف بمعنی الاول عدم خروج د اسم تفضیل دی د مفضل علیه نه نو شرط منتفي شو او انتفاء د شرط مستلزم ده انتفاء د مشروط لره.

سوال: یوسف ولې خارج دی د اخوة نه؟ **جواب: باضافتهم الیه** د وجې د اضافت د اخوة نه **الیه** یوسف ته او مضاف الیه خارج وي د مضاف نه نو د اضافت تقاضا دا ده چې د اخوة نه مراد باقي اخوه دي، علاوه د یوسف نه و الا لازمیږي اضافت د شئ الی نفسه نو یوسف احسن اخوته کې فاعل د اسم تفضیل داخل نه شو په مضاف الیه کې نو انتفاء د شرط راغله او انتفاء د شرط مستلزم وي انتفاء د مشروطو لره نو دا ترکیب ممتنع شو.

والثاني ان تقصد به الزيادة مطلقا: بط هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د معنی اول د اسم تفضیل مضاف الی المعرفه نه، نو شروع یې وکړه په بیان د معنی ثاني د اسم تفضیل مضاف الی المعرفه کې او دا معنی اول یې مقدم کړه په ثاني باندې (لانه اکثر من الثاني) نو وې ویل (الثاني ان تقصد....).

ترجمه: معنی ثاني د هغه اسم تفضیل چې مضاف شوی دی معرفې ته **ان تقصد زيادة مطلقة** مقصود د متکلم زیادت د فاعل د اسم تفضیل دی مطلقا په دې شان سره چې دا فاعل د اسم تفضیل زائد نه دی په اصل معنی مصدري کې یواځې په مضاف الیه باندې بلکه لکه څنګه چې فاعل د اسم تفضیل زائد دی په اصل معنی مصدري کې د مضاف الیه نه نو دارنګې د غیر نه هم زائد دی (دا معنی د مطلقا ده). او دې معنی ثاني ته زیادت مطلقه وائي ځکه دا زیادت مقصود د متکلم په اسم تفضیل مطلق دی او نه دی مقید په مضاف الیه سره.

سوال: هر کله چې زیادت مقصود د متکلم په اسم تفضیل سره مطلق دی او نه دی مقید په مضاف الیه سره نو بیا اضافت د اسم تفضیل مضاف الیه ته ولې کوي؟

جواب: ويضاف اضافت کولی شي د اسم تفضیل مضاف الیه ته **للتوضيح** لپاره د توضیح د اسم تفضیل که دا مضاف الیه معرفه وه یا لپاره د تخصیص د اسم تفضیل که دا مضاف الیه نکره وه لکه چې اضافت کولی شي د باقي صفاتو د تخصیص لپاره نحو (مصارع مصر حسن القوم) چې هلته شرط نه دی کون د موصوف بعض د مضاف الیه نه **فيجوز** پس جائز دی په دې معنی سره چې ته دا اسم تفضیل مضاف کړې یو جماعة ته چې هغه د جنس د فاعل د اسم تفضیل نه وي او دا فاعل داخل نه وي په هغې کې مثال لکه **يوسف احسن اخوته** شو، په دې مثال کې احسن صیغه د اسم تفضیل ده او دا مضاف شوی دی په اضافت الی المعرفه معنی ثاني سره چې هغه زیادت مطلقه دی او اضافت د اسم تفضیل راغلی دی داسې یو جماعة ته چې هغه د جنس د فاعل د اسم تفضیل نه دی او فاعل د اسم

تفضیل چې یوسف دی داخل نه دی په مضاف الیه کې چې هغه اخوة دی لپاره د دې چې لازم نه شي اضافة د شئ الی نفسه
(۲): یا لازم نه شي کون د شخص اخ لنفسه ځکه اخوته کې ضمیر راجع دی یوسف ته او دا چې داخل شي په دې اخوة کې بیا لازمیږي کون د یوسف اخ د یوسف او دا نه دی جائز او اضافت شوی دی معرفې ته محض لپاره د توضیح چې د فاعل او د مضاف الیه په مینځ کې علاقه د اخوت ده او دا رنګې اسم تفضیل په دې معنی سره اضافت کولی شي هغه جماعة ته چې فاعل د اسم تفضیل داخل دی په هغه کې لپاره د وضاحت د نسب نحو (نبینا صلی الله علیه وسلم افضل القریش ای افضل الناس من بین قریش) نبي صلی الله علیه وسلم افضل دی د ټولو خلقو نه، نه یواځې د قریش نه او اضافت یې قریش ته شوی دی لپاره د تعین د نسب.
(۳): او کله اضافت د اسم تفضیل کولی شي داسې یو شي ته چې هغه نه دی د جماعة د فاعل د اسم تفضیل نه (نحو فلان اعلم بغداد ای اعلم مما سواه) او اضافت شوی دی بغداد ته لپاره د بیان او د توضیح د مسکن او د منشا.
ویجوز في الاول؛ ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د طریقې د استعمال د اسم تفضیل او د بیان د معنیین د اسم تفضیل مضاف الی المعرفه نه نو شروع یې وکړه په بیان د مطابقت او عدم مطابقت د اسم تفضیل کې د موصوف خپل سره ځکه اسم تفضیل په اعتبار د مطابقت او عدم مطابقت د موصوف سره په درې قسمه دی: (۱) یو هغه دی چې مطابقت واجب دی د موصوف سره.
(۲) چې عدم مطابقت واجب دی د موصوف سره. (۳) دریم کې جواز د وجهین دی، اوس مطابقت کوم ځای کې واجب دی او عدم مطابقت کوم ځای کې واجب دی او جواز د وجهین کوم ځای دی نو هغه صورتونه بیانوي یجوز سره.
ترجمه: و یجوز او جائز دی او ممکن دی په امکان خاص سره **في الاول** په نوع اول کې د نوعین د اسم تفضیل مضاف الی المعرفه نه چې قصد زیادته الی من اضیف الیه دی **الافراد** افراد د اسم تفضیل اګر که موصوف د دې مثنی او مجموع وي یعنی عدم مطابقت د اسم تفضیل د موصوف سره دارنګې جائز دی په دې کې تذکیر اګر که موصوف یې مؤنث وي. الافراد کې الف لام عهد خارجي دي یا عوضي دي مراد افراد د اسم تفضیل دی. **والمطابقة** او جائز دی مطابقت د اسم تفضیل د موصوف سره په افراد تثنیت جمعیت تذکیر او تانیث کې المطابقة کې هم الف لام عهد خارجي دي یا عوض د مضاف الیه نه راغلي دي **لمن** د هغه موصوف سره **هو** چې دغه اسم تفضیل صفت واقع شوی دی **له** د دغه موصوف لپاره. مثال د عدم مطابقت نحو قوله تعالی [ولتجدنهم احرص الناس] او مثال د مطابقت نحو قوله تعالی [اکابر مجرمیها]
سوال: اسم تفضیل مضاف الی المعرفه بمعنی الاول کې مطابقت او عدم مطابقت دواړه ولې جائز دی؟ **جواب:** دا ذو وجهتین دی من وجه مشابه دی د اسم تفضیل مستعمل بمن سره په تعیین د

مضاف اليه كي دا تقاضا د عدم مطابقت كوي او من وجه مشابه دى د اسم تفضيل مستعمل باللام سره په تعريف كې دا تقاضا د مطابقت كوي او عمل په جهتين چې ممكن وو نو اعمال اولى دى د اعمال نه نو مونږه د دواړو جهتين لحاظ وكړو نو مطابقت او عدم مطابقت دواړه جائز شو **واما الثاني** او هر چي ده نوع ثاني د اسم تفضيل مضاف نه چې مقصود په هغې كې زيادت مطلقه دى **والمعرف باللام** او اسم تفضيل معرف باللام **فلا بد** پس ضروري ده او واجب دى **من المطابقة** مطابقت د اسم تفضيل د موصوف سره په افراد تثنيت جمعيت تذكير او تانيث كې ځكه مطابقت واجب دى په مينځ د صفت او موصوف كې په وقت د عدم وجود د مانع كې او دلته مانع د مطابقت نه نه دى موجود چې هغه مشابهت دى د اسم تفضيل مستعمل بمعنى من سره، ځكه دا دواړه مشابه نه دى د اسم تفضيل مستعمل بمعنى من سره په تعين د مفضل عليه كې مثال لكه زيد ن الافضل الزيدان الافضلان الزيدون الافضلون هند ن الفضلى الهنديان الفضليان الهندات فضليات **والذي بمن** او هغه اسم تفضيل چې مستعمله ولې شي په من تفضيلي سره **مفرد مذكر** مفرد مذكر راځي **لا غير** نه بل څه ځكه مطابقت د صفت د موصوف سره راځي په الحاق د علامات د تثنيه او جمع او مؤنث سره اوس دا علامات د تثنيه جمع او مؤنث به خالي نه وي يا به يې د من تفضيلي نه مخكې راوړي يا به يې وروستو راوړي كه مخكې يې راوړې نو لازميږي اجرا د علامه په وسط د كلمه كې حكما او دا نه ده جائز ځكه اصل په استعمال كې استعمال د اسم تفضيل دى په من سره لپاره د فرق د افعل تفضيلي د افعل صفتي سره او د دې اصالت د وجې نه من كالجزا ګرځيدلى دى د اسم تفضيل نه او كه د من نه يې وروستو راوړي نو لازميږي اجراء د علامه په كلمه أخرى كې او دا باطله ده مثال د اسم تفضيل چې مستعمل دى په من سره لفظا او مطابق نه دى د موصوف سره نحو قوله تعالى ﴿ قُلْ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَٰنُكُمْ وَأَزْوَٰجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَٰلٌ ٱقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَٰرَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ﴾ و كقول المؤذن: (الصلوة خير من النوم) او چې مستعمل وي په من سره تقديرا او مطابق نه وي د موصوف سره نحو قوله تعالى ﴿لَيُوسُفُ وَأَخُوهُ أَحَبُّ إِلَىٰٓ أَبِينَا مِنَّا ﴾.

بس زده كړه دا خبره چې اسم تفضيل مستعمليږي په كلام د عربو كې په يو د طرق ثمانيو سره:

(۱) مستعمل بمن لفظا نحو الصلوة خير من النوم. (۲) مستعمل بمن تقديرا نحو ليوسف واخوه احب الى ابينا. (۳) مضاف الى النكره نحو المجاهدون افضل رجال، وقول صاحب التلخيص لانها اخصر طريق. (۴) اسم تفضيل مضاف الى المعرفه قصد زيادته مطلقا نحو محمد افضل القريش.

(۵) مضاف الى المعرفه، خالي د معنى تفضيلي نه (نحو زيد وعمرو اعلما القرية اى عالما القرية

(۶) مستعمل په الف لام سره نحو زيد ن الافضل. (۷) مضاف الى المعرفة قصد زيادته على من اضيف اليه، (نحو: قوله تعالى: ولتجدنهم احرص الناس.

(۸) مجرد عن اللام والاضافة ومن، او عاري د معنى تفضيلي نه كما في قول الشاعر:

ان الذي سمك السماء بنى لنا بيتا دعائمه اعز واطول

ای عزیز و طویل
په اول، دویم، دریم صورت کې عدم مطابقت واجب دی د موصوف سره او په څلورم پنځم او شپږم صورة کې مطابقت واجب دی د موصوف سره او په اوم او اتم صورة کې جواز د وجهین دی یعنی مطابقت او عدم مطابقت دواړه جائز دي
ولا یعمل في مظهر. الخ ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د طریقه د استعمال د اسم تفضیل نه پس شروع یې وکړه په بیان د عمل د اسم تفضیل کې نو وې ویل (ولا یعمل في مظهر)
(ترجمه) ولا یعمل عمل نه کوي اسم تفضیل د رفع بنا بر فاعلیت په قرینې د استثناء سره **في مظهر** په اسم ظاهر کې فی وقت من الاوقات **الا** مګر عمل کوی اسم تفضیل د رفع بنا بر فاعلیت په اسم ظاهر
اذا کان کله چې دا مشروط وي په شروط ثلاثه ؤ سره:
(۱) چې مسند الیه او ما جری علیه د اسم تفضیل غیر غیر وي
(۲) او په مابین د مفضل او مفضل علیه کې اتحاد ذاتي او فرق اعتباري وي
(۳) اسم تفضیل واقع شوی وي وروستو د حرف نفي نه بیا دا عمل کوي د رفع بنا بر فاعلیت په اسم ظاهر کې ځکه دا په معنی د فعل سره دی و الافلا ځکه اسم فاعل او اسم مفعول عمل کوي په شان د عمل د فعل خپل د وجې د مشابهت نه د فعل سره لفظا او معنی او صفت مشبه عمل کوي د وجې د مشابهت نه د اسم فاعل سره په ګردان کې او اسم تفضیل عمل نه کوي په شان د عمل د فعل خپل ځکه دا مشابه نه دی د فعل سره ځکه دا دلالت کوي په زیادت د معنی مصدري باندې بالنسبة الی الغیر بخلاف الفعل او نه مشابه دی د اسم فاعل سره په ګردان کې ځکه اصل په اسم تفضیل کې استعمال د اسم تفضیل دی په من سره لپاره د فرق د افعل صفتي د افعل تفضیلي سره او اسم تفضیل چې مستعمل شي په من سره نو هغه مفرد مذکر ابدا وي ولا یثني و لا یجمع او اسم تفضیل چې مستعمل شي په اضافت او الف لام سره دا محمول دی په اسم تفضیل مستعمل بمن باندې
په رفع سره احتراز راغی د نصب نه ځکه عمل د اسم تفضیل د نصب بنا بر مفعول به او بنا بر مفعول معه نه دی راغلی په استعمال د کلام د عربو کې نه په مظهر کې او نه په مضمر کې او عمل د اسم تفضیل د نصب بنا بر تمیز او بنا بر ظرفیت او بنا بر حالیت راغلی دی په استعمال د کلام د عربو کې بلا قید وشرط ځکه په ظرف او حال کې د عمل کولو لپاره کافي ده رائحه د فعل او په تمیز کې اسم جامد هم عمل کولی شي نو اسم تفضیل خو خامخا عمل کولی شي مثال د اول نحو قوله تعالی ﴿أَنَا أَكْثَرُ مِنكَ مَالًا وَأَعَزُّ نَفَرًا﴾ وقوله علیه السلام (اکملهم دینا اکثرهم خُلقا)، او مثال د ثاني او د ثالث نحو زید احسن منک الیوم راکبا
تشریح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟
جواب: ربط د ماقبل سره دا دی چې مخکې بیان د طریقه د استعمال د اسم تفضیل او بیان د صورتونو د مطابقت او عدم مطابقت د اسم تفضیل د موصوف سره وو او دا بیان د عمل د اسم تفضیل دی او

غرض د مصنف د دې عبارت نه دوه خبري دي (۱) اظهار د عمل د اسم تفضيل د رفع بنا بر فاعليت په اسم ظاهر کې (۲) بيان د شروطو ثلاثه ؤ د عمل د اسم تفضيل د رفع بنا بر فاعليت په اسم ظاهر کې
سوال: ولايعمل في مظهر کې دا عمل منفيه به خالي نه وايې يا به نفي د عمل مطلقا وايې او يا به نفي د عمل د رفع بنا بر فاعليت وايې. که نفي د عمل مطلقا وايې نو دا باطل دی ځکه اسم تفضيل عمل کوي په اسم ظاهر کې د نصب بنا بر ظرفيت حاليت او تميز او که نفي د عمل د رفع بنا بر فاعليت وائې نو د هغې لپاره لابدې ده د قرينې نه، قرينه څه ده؟
جواب: مراد د مصنف په دې مقام کې نفي د عمل مطلقا نه ده بلکه نفي د عمل د رفع ده، بنا بر فاعليت او قرينه په دې باندې وروستو استثناء ده

پس زده کړه دا خبره چې عمل د اسم تفضيل دوه قسمه دی (۱) عمل د نصب (۲) د رفع او عمل د نصب د اسم تفضيل دوه قسمه دی (۱) عمل د نصب بنا بر مفعول به يا بنا بر مفعول له يا بنا بر مفعول معه (۲) دويم عمل د نصب دی بنا بر ظرفيت بنا بر حاليت، بنا بر تميز نو عمل د اسم تفضيل د نصب بنا بر مفعول به له معه نه دی راغلی په استعمال د کلام د عربو کې (۱) السند عليه التتبع والاستقراء (۲) عمل د نصب بنا بر مفعول به نه دی راغلی ځکه مفعول به د اسم تفضيل لپاره مفضل عليه دی او مفضل عليه نه راځي مګر مضاف اليه يا مدخول د من او مضاف اليه او مدخول د من مجرور راځي نه منصوب، يا مفضل عليه راځي معهود په الف لام عهد خارجي سره چې هغه مذکور وي مخکې د اسم تفضيل نه صراحتا يا کنايةً يا علما
سوال: چې ته وايې اسم تفضيل عمل د نصب بنا بر مفعول به نه کوي دا قاعده ستا منقوضه شوه بقوله تعالى: ﴿هُوَ أَعْلَمُ مَن يَضِلُّ عَن سَبِيلِهِ﴾ دلته اعلم اسم تفضيل عمل د نصب کړی دی [من يضل] کې بنا بر مفعول به؟ **جواب:** د دې ترکيب دغسې نه دی، بلکه ترکيب دا دی چې معمول د اسم تفضيل مقدر دی او من يضل مفعول به د فعل مقدر دی (فيکون التقدير وهو اعلم من کل واحد يعلم من يضل عن سبيله) او اسم تفضيل عمل د نصب کوي بنا بر مفعول فيه يا حاليت يا تميز بلا قيد و شرط مثال د تميز نحو قوله تعالى: ﴿أَنَا أَكْثَرُ مِنكَ مَالًا وَأَعَزُّ نَفَرًا﴾ وقوله عليه السلام (اکملهم دينا اکثرهم خلقا) او مثال د حال او مفعول فيه (نحو زيد احسن منك اليوم راکبا).
سوال: اسم تفضيل عمل د نصب بنا بر تميز يا حاليت يا ظرفيت بلا قيد وشرط ولې کوي؟
جواب: ځکه د ظرف او حال لپاره کافي ده رائحه د فعل يعنی په دې کې هغه شی عمل کولی شي چې هغې کې بوی د معنی د فعل وي، او تميز کې اسم جامد هم عمل کوي، مثال د حال (هذا زيد قائما) او مثال د ظرف (نحو اسد علی وفي الحروب نعامة) او مثال د تميز (نحو رطل زيتا) نو دا خو صيغه د اسم تفضيل ده دلالت کوي په معنی مصدري باندې په طريق اولی سره عمل کولی شي او عمل رفع د اسم تفضيل دوه قسمه دی (۱) عمل د رفع په ضمير کې (۲) عمل د رفع په اسم ظاهر کې نو اسم تفضيل عمل د رفع بنا بر فاعليت کولی شي په ضمير کې بلا قيد و شرط ځکه دا ضعيف دی

اثر يې نه ظاهرېږي په لفظ كې نو دا محتاج نه دى قوت د عامل ته او اسم تفضيل عمل د رفع بنا بر فاعليت په اسم ظاهر كې بلا قيد وشرط نه شي كولى بلكه عمل د دې مشروط دى په شروط ثلاثه سره كه دا درې واړه معاً موجود وو نو عمل د رفع كوي بنا بر فاعليت و الافلا.

سوال: دا درې واړه شرطونه چې موجود وي نو بيا اسم تفضيل عمل د رفع بنا بر فاعليت په اسم ظاهر كې ولې كوي؟ **جواب:** دا اسم تفضيل بيا په معنى د فعل سره دى نو ځكه عمل درفع بنا بر فاعليت كوي په اسم ظاهر كې.

سوال: چې دا درې واړه شرطونه موجود نه وو نو بيا اسم تفضيل عمل د رفع بنا بر فاعليت اسم ظاهر كې ولې نه كوي؟ **جواب:** د وجې د عدم مشابهت د اسم تفضيل نه د فعل او د اسم فاعل سره ځكه اسم فاعل عمل كولو په شان د عمل د فعل خپل د وجې د مشابهت نه د مضارع سره لفظا او معناً او صفت مشبه عمل كولو په شان د عمل د فعل خپل د وجې د مشابهت نه د اسم فاعل سره په ګردان كې او اسم تفضيل نه مشابه دى د فعل سره ځكه دا دلالت كوي په زيادت د معنى مصدري على غيره باندې بخلاف الفعل، او نه مشابه دى د اسم فاعل سره په ګردان كې ځكه اصل په اسم تفضيل كې اسم تفضيل مستعمل بمن دى لپاره د فرق بين افعل صفتي او افعل تفضيلي او اسم تفضيل چې مستعمل شي په من سره هغه نه تثنيه كيږي او نه جمع كيږي او اسم تفضيل مستعمل باللام و الاضافة محمول دى په اسم تفضيل مستعمل بمن باندې **الا** مګر دا اسم تفضيل عمل د رفع بنا بر فاعليت كولى شي په اسم ظاهر كې **اذا كان** كه چرته وو دا اسم تفضيل **صفة** وصف **لشئ** لپاره د يو موصوف يعنى دا اسم تفضيل جاري وو په ماقبل باندې په لفظ كې په دې شان سره چې دا واقع شوى دى صفت د ماقبل يا حال يا خبر لپاره د دې چې د دې اسم تفضيل لپاره په ماقبل كې معتمد عليه پيدا شي چې دا اسم تفضيل تكيه ولګوي په هغې باندې او عمل وكړي په مابعد اسم ظاهر كې د رفع بنا بر فاعليت **وهو** او دغه اسم تفضيل **في المعنى** په معنى كې صفت دى او ثابت دى **لمسبب** د ما بعد لپاره چې هغه مسبب دى ځكه چې وجود د ما بعد موقوف دى په وجود د ماقبل پورې لپاره د دې چې ما بعد اسم ظاهر معمول پيدا شي اسم تفضيل لره داسې مسبب چې مشترك دى په مابين د ما جرى عليه او غير كې او داسې مسبب **مفضل** چې مفضل دى **باعتبار الاول** په اعتبار د اول سره چې هغه موصوف دى **على نفسه** په خپل ځان باندې **باعتبار غيره** او مفضل عليه دى په اعتبار د غير د اول سره يعنى بين المفضل والمفضل عليه اتحاد ذاتي او فرق اعتباري دى لپاره د دې چې معنى تفضيلي كمزوري شي **منفيا** او داسې اسم تفضيل چې منفي وي په حرف نفي سره.

(۲) يا په حال كون د دې اسم تفضيل كې چې دا منفي وي په حرف نفي سره يا په تفضيل منفي سره يعنى اسم تفضيل به واقع شوى وي وروستو د حرف نفي نه لپاره د دې چې دا حرف نفي متوجه شي دې قيد ته چې زيادت د معنى مصدري دى او قيد د دې نه لري كړي او دا په معنى د اصل فعل سره پاتې شي نو عمل د رفع **به** وكړي بنا بر فاعليت په اسم ظاهر كې.

سوال: منفیا منصوب دی او منصوبات دولس دي دا کوم یو قسم دی په هغه دولسو اقسامو کې؟

جواب: (۱) دا خبر بعد الخبر دی د کان لپاره (۲) یا دا حال واقع شوی دی د اسم د کان نه (۳) یا دا منصوب دی بنا بر مفعول مطلق د مفضل لپاره.

سوال: مفعول مطلق خو مصدر وي او منفیا خو صیغه د اسم مفعول ده او اسم مفعول مفعول مطلق نه واقع کېږي.

جواب: زه دېته مفعول مطلق وایم په اعتبار د حذف د موصوف سره ای تفضیلا منفیا بیا موصوف حذف شو او دا قائم شو مقامه او د هغې اعراب یې واخستلو نو دا مفعول مطلق دی مجازا او نیابةً.

سوال: ما ته مثال وښایه چې اسم تفضیل عمل د رفع کړی وي په اسم ظاهر کې بنا بر فاعلیت او جامع د شروطو وي؟ **جواب:** **ما رایت رجلا احسن في عینیه الکحل منه في عین زید** په دې مثال کې لابدي ده د معرفت د امور ثلاثه نه: (۱) ترکیب (۲) ترجمه (۳) تطبیق بالمثال.

ترکیب: دا دی **ما** نافیه **رایت** فعل فاعل **رجلا** موصوف **احسن** اسم تفضیل **في عینه** جار مجرور متعلق دی احسن پورې یا په اعتبار د متعلق سره حال دی د فاعل د احسن نه **الکحل** فاعل د احسن لپاره دی **منه** جار مجرور ظرف لغوه متعلق دی احسن پورې **في عین زید** جار مجرور ظرف لغوه دا هم متعلق دی احسن پورې اسم تفضیل سره د فاعل او سره د متعلقات نه صفت د موصوف چې رجلا دی موصوف مع الصفة مفعول به د رایت فعل سره د فاعل او د مفعول نه جمله فعلیه خبریه منفیه.

سوال: رایت فعل دی د افعال قلوب نه دوه مفعوله غواړي دلته رجلا موصوف مع الصفة، مفعول اول دی او مفعول ثاني نشته. **جواب:** رایت دوه قسمه دی (۱) بمعنی علمت (۲) بمعنی ابصرت، بمعنی علمت چې راشي نو دا فعل دی د افعال قلوب نه دوه مفعوله غواړي او بمعنی ابصرت فعل دی د افعال الحواس نه یو مفعول غواړي او دلته بمعنی ابصرت دی نه بمعنی علمت.

ترجمه: ما نه دی لیدلی یو سړی داسې سړی چې ښایسته دی په سترګو د دې سړي کې **الکحل** رانجهٔ **منه** د دې رانجو نه **في عین زید** چې په سترګو د زید کې یې واخلې یعنی دا رانجه چې څومره ښایسته ښکاري په سترګو د زید کې نو د بل چا په سترګو کې دومره ښایسته نه ښکاري او په دې لفظ کې کحل د عین زید مفضل علیه دی او کحل د عین د رجل مفضل دی او په اعتبار د مراد سره بالعکس دی چې کحل د عین زید مفضل او کحل د عین رجل مفضل علیه دی.

تطبیق بالمثال: احسن صیغه د اسم تفضیل ده عمل یې کړی دی د رفع بنا بر فاعلیت په اسم ظاهر کې چې الکحل دی او هغه درې واړه شرطونه پکې موجود دی په دې شان سره چې دا صیغه د اسم تفضیل لفظ کې جاري ده په ماقبل باندې چې صفت د رجلا دی او په معنی کې ثابت دی ما بعد لره چې الکحل دی نو ما جری علیه او مسند الیه د اسم تفضیل غیر غیر شو، او په مابین د مفضل او مفضل علیه کې اتحاد ذاتي او فرق اعتباري دی چې دغه یو کحل دی هم مفضل دی او هم مفضل علیه دی په دې شان سره چې دغه کحل په عین زید کې واخلې نو مفضل دی او په عین د رجل کې مفضل علیه او دا احسن منفي دی په حرف نفي سره او صیغه د اسم تفضیل چې عمل د رفع وکړي

بنا بر فاعلیت په اسم ظاهر کې په شروط ثلاثه ؤو سره دېته مسئله د کحل وائي عند النحاة، دا تسمیه د کل ده په اسم د جز اشهر سره برابره خبره ده چې لفظ د کحل پکې وي لکه په دې مثال کې شو او که لفظ د کحل په کې نه وي كقول ابن مالك:

كلن ترى في الناس من رفيق اولى به الفضل من الصديق

وقول الاخر: شعر ما رايت امرأ احب اليه البذ ل منه اليكا يا ابن سنان

بل مثال لکه دا حدیث د نبي علیه السلام شو (ما من ايام احب الى الله فيه الصوم منه في عشر ذي الحجة)، (والمراد منه تسعة ايام ذي الحجة لان الصوم في يوم الاضحى حرام بالاتفاق وانما اطلق لفظ العشر بناء على التغليب)

سوال: (قالت عائشة رضي الله عنها ما رايت النبي صلى الله عليه وسلم صائما في العشر قط)؟

جواب: قال الشيخ في.......... قد ثبت في الاحاديث فضيلة الصوم في هذه الايام وعدم رؤيتها لعلها لمرض اوللسفر.

سوال: دا درې شرطونه د عمل د رفع د اسم تفضیل لپاره په طریقه د اولویت سره دی که په طریقه د جواز سره؟ **جواب:** د جمهورو په نزد باندې دا درې واړه شرطونه د جواز د عمل د اسم تفضیل لپاره دی د رفع بنا بر فاعلیت په اسم ظاهر کې په دې شان سره چې دا درې واړه شرطونه چې موجود وو نو اسم تفضیل عمل د رفع کولی شي اسم ظاهر کې و الا فلا، او د اخفش او د سیبویه په نزد باندې دا شرطونه د اولویت لپاره دی نه د جواز لپاره په دې شان سره چې دا درې واړه شرطونه موجود وي نو اسم تفضیل عمل د رفع بنا بر فاعلیت په اسم ظاهر کې په طریق اولی سره کولی شي او که دا نه وو نو بیا عمل کوي خو بدون الاولویت لهذا (مررت برجل خير منه عمه) دا ترکیب جائز دی د اخفش او سیبویه په نزد باندې او په نزد جمهورو نه دی جائز.

سوال: مررت برجل افضل منه ابوه څه ترکیب دی؟ **جواب:** په دې کې دوه ترکیبونه دي: (۱) جمهور وائي چې افضل منه خبر مقدم دی او ابوه مبتدا مؤخره ده دا جمله صفت دی د رجل لپاره ځکه ابوه معرفه ده او افضل منه نکره ده او دا قاعده ده چې نکره او معرفه چې یو ځای راشي نو د معرفې نه به مبتدا جوړه وی او د نکرې نه به خبر جوړه وی اگر چې معرفه وروستو وي د نکرې نه.

(۲) او سیبویه وائي چې افضل منه مبتدا ده او ابوه خبر دی مبتدا سره د خبر نه جمله صفت د رجل دی ځکه اصل په مبتدا کې تقدیم دی نو تر څو چې د ماقبل نه مبتدا جوړېده شو د هغې نه به مبتدا جوړه وی او د مابعد نه به خبر جوړه وی او اسم تفضیل مستعمل بمن معرفه ده حکما ځکه (۱) لکه څنګه چې په معرفه باندې دخول د الف لام ممتنع دی نو په دې هم ممتنع دی. (۲) د معرفه اضافت ممتنع دی د دې اضافت هم ممتنع دی. (۳) معرفه دلالت کوي په مصداق معین باندې او اسم تفضیل مستعمل بمن هم دلالت کوي په مصداق معین باندې لیکن مذهب د سیبویه کمزوری دی په نسبت سره مذهب د جمهورو ته ځکه: (۱) دا مخالف دی د قاعدې د علم النحو نه (۲) او د ده په ترکیب باندې لازمیږي اضمار قبل الذکر لفظا او رتبتا

سوال: داسې ترکيب ولې نه کوی چې ابوه فاعل دی د اسم تفضيل لپاره چې افضل دی او اسم تفضيل سره د فاعل او متعلق نه شبه جمله صفت د رجل دی او دا اسم تفضيل مجرور بالفتحه دی لانه غير منصرف؟**جواب:** داسې ترکيب زه نه شم کولی ځکه چې عمل د اسم تفضيل په اسم ظاهر کې د رفع بنا بر فاعليت مشروط دی په شروط ثلاثه ؤ سره يو شرط دا دی چې وروستو د حرف نفي نه به وي او دلته دغه شرط نشته.

(۲) مفضل او مفضل عليه کې به اتحاد ذاتي او فرق اعتباري وي او دلته دا نشته البته د اخفش په نزد باندې دغه ترکيب هم جائز دی ځکه د هغه په نزد عمل د اسم تفضيل لپاره دغه شرطونه د اولويت لپاره دی نه د جواز لپاره.

سوال: اسم تفضيل چې جامع د دې شروط ثلاثه ؤو وي نو هغه ولې عمل کوي د رفع بنا بر فاعليت په اسم ظاهر کې؟ **جواب: لانه بمعنی حسن** اسم تفضيل چې کله جامع د شروطو ثلاثه ؤ وي نو دا عمل د رفع بنا بر فاعليت په اسم ظاهر کې ځکه کوي چې دا په معنی د فعل سره دی چې حسن دی او چې کله مشروط نه وي په شروطو ثلاثه ؤ سره بيا په معنی د فعل سره نه دی نو عمل د رفع بنا بر فاعليت په اسم ظاهر کې نه شي کولی.

سوال: اسم تفضيل چې جامع د دې شروطو ثلاثه ؤ وي نو په معنی د فعل سره ولې دی؟

جواب: ځکه اسم تفضيل دلالت کوي په زيادت د معنی مصدري باندې او دا واقع دی وروستو د حرف نفي نه او قاعده دا ده چې حرف نفي چې داخله شي په يو کلام باندې چې هغه مقيد وي په يو قيد سره نو دا نفي متوجه کيږي قيد ته يعنی هغه قيد نفي کوي نو دا حرف نفي متوجه شو زيادت د معنی مصدري ته نو اسم تفضيل يې په معنی د اصل فعل سره پاتي کړو.

(۲) يا مخکې د دخول د حرف نفي نه دا اسم تفضيل مجرد کړی وو د معنی د زيادت نه عرفاً او بيا دغې نه وروستو دا حرف نفي په دې باندې داخل کړی شوی دی.

سوال: مخکې د دخول د حرف نفي نه يې ولې دا مجرد ګرځولی دی د معنی تفضيلي نه؟

جواب: ځکه نفي د زيادت په حرف نفي سره مناسب د مدح سره نه ده نو هر کله چې مجرد کړی شو د معنی د زيادت نه عرفا نو اصل حسن پاتي شو دا نفي متوجه شوه حسن د رجل ته چې دا حسن د رجل قياس کړی شوی دی حسن د زيد ته يا په طريقه د مساوات سره او يا په طريقه د دون سره او دا دون خو مناسب نه دی د مقام سره نو دې حرف نفي، نفي د مساوات وکړه نه د دونيت.

سوال: ته وايې چې په دې مثال مذکور کې اسم تفضيل عمل کړی دی په اسم ظاهر کې د وجې د ختميدو د زيادت د معنی تفضيلي نه په نفي سره بيا خو پکار ده چې دا عمل وکړي په ما رايت رجلا افضل ابوه من زيد کې ځکه دا حرف نفي داخل شوې دی په اسم تفضيل باندې معنی تفضيلي يې لرې کړې ده او دا په معنی د اصل فعل سره دی؟

جواب: فرق دی په مابین د مثالین کې ځکه په مفضل او مفضل علیه په مثال مذکور کې اتحاد ذاتي او فرق اعتباري دی او (ما رایت رجلا افضل ابوه من زید) کې مفضل او مفضل علیه کې اختلاف ذاتي دی نو معنی تفضیلي کمزورې نه شوه نو معاد کیږي حکم د دې پس د نفي د معنی تفضیلې نه چې عدم جواز د عمل د دې دی په مظهر کې په خلاف د مثال مذکور نه چې هلته معنی تفضیلي کمزورې شوې ده یو ځل چې ظاهر شي په نفي سره زائل کیږي بالکلیه نو هغه حکم بیا نه معاد کیږي چې هغه عدم جواز د عمل د دې دی په مظهر کې **مع انهم لو رفعوا لفصلوا** دا د ماقبل لپاره تائید هم دی او جواب د سوال هم دی.

سوال: داسې ترکیب ولې نه کوې چې **احسن** صیغه د اسم تفضیل ده ضمیر پکې مستتر دی راجع دی کحل ته هغه ورله فاعل، اسم تفضیل سره د فاعل نه شبه جمله، خبر مقدم، **الکحل** مبتدا مؤخره، بیا دا جمله صفت واقع شوې دی د رجلا لپاره؟.

جواب: دا ترکیب زه نه شم کولی ځکه **مع انهم** سره دد ې نه په تحقیق سره دا نحویان **لو رفعوا** که دوی رفع ورکړي اسم تفضیل لره بنا بر خبریت او اسم ظاهر لره بنا بر ابتدائیت **لفصلوا** نو خامخا دغه نحویان جدائي راولي **بینه** په مینځ د اسم تفضیل کې چې احسن دی **و بین معموله** او په مینځ د معمول د دې کې چې منه دی **باجنبي** په اجنبي سره **وهو الکحل** چې هغه اجنبي کحل دی په دې معنی سره چې معمول د ما قبل نه دی او معمول د احسن هم نه دی او فصل په مینځ د اسم تفضیل او معمول د اسم تفضیل کې نه دی جائز د دې وجې نه په دې قول د شاعر کې چې (فخیر نحن عند الناس منکم) دی اخفش نحن ته فاعل د خیر وائي او منکم متعلق دی خیر پورې او عمل د صفت جائز وائي بې د اعتماد نه ځکه که دا ترکیب ونه کړو نو خیر خبر مقدم او نحن مبتدا مؤخره ده نو فصل راځي بین اسم التفضیل ومعموله باجنبي وذا لایجوز، هر کله چې دا ترکیب ممتنع شو پس متعین شو عمل د اسم تفضیل د رفع بنا بر فاعلیت په اسم ظاهر کې.

سوال: سیبویه (مع انهم لو رفعوا... الخ) دلیل ګرځولی دی د ماقبل لپاره او (لانه بمعنی حسن) یې ورله مؤید ګرځولی دی د دې دلیل لپاره او سیبویه امام دی په نحوه کې د هغه خبره منل پکار دي نو تا د هغه نه خلاف ولې وکړو چې (لانه بمعنی حسن) دې دلیل وګرځولو او (مع انهم) دې مؤید وګرځوو؟

جواب: دا دی چې مصنف **لانه بمعنی حسن** دلیل ګرځولی دی (او مع انهم لو رفعوا) یې مؤید ګرځولی دی، ځکه که (مع انهم... الخ) یې دلیل ګرځولی وی او (لانه بمعنی حسن) یې مؤید ګرځولی وی نو دا چې څنګه دلیل د منفي لپاره ګرځي نو د مثبت لپاره هم ګرځي یعنی **ما** لرې کړه او (رایت رجلا... الخ) ووایه نو بیا هم دې احسن صیغه د اسم تفضیل عمل کړی دی په الکحل کې د رفع بنا بر فاعلیت ځکه که دا ترکیب ونه کړو نو احسن به خبر مقدم شي او الکحل به مبتدا مؤخر شي نو بیا هم فصل په اجنبي سره راغی او قید د نفي معتبر دی بالاجماع نو که دا (مع انهم لو رفعوا) یې دلیل ګرځولی وی نو قید د نفي لغوه کیدو.

سوال: (ما رايت رجلا احسن... الخ) په دي مثال کې مصنف الکحل مقدم کړی دی په (في عين زيد) باندې داسې يې ولې ونه ويل چې (ما رايت رجلا احسن في عينه منه في عين زيد ن الکحل) بيا چې موږ احسن ته خبر مقدم او الکحل ته مبتدا مؤخره ويلی وی نو فصل په اجنبي سره نه راتلو نو رغسې يې ولې ونه ويل؟ **جواب:** (منه في عين زيد) په دې مثال کې مصنف مقدم نه کړو په الکحل باندې ځکه د دې په معنی کې تعقيد راتلو او د تعقيد د وجې نه بيا دا کلام د فصاحت نه خارجيدو ځکه کلام فصيح هغې ته وايې چې خالي وي د ضعف تاليف تنافر د کلمات او د تعقيد نه سره د فصاحت د کلمات نه او تعقيد عند البلغاء هغه کلام ته وائي چې نه وي ظاهر الدلالة په معنی مراد د متکلم باندې لخلل او دا په دوه قسمه دی: تعقيد لفظي، تعقيد معنوي، ځکه دا خلل چې په کلام کې راغلی دی دا به خالي نه وي يا به په نظم کې راغلی وي او يا به په انتقال کې وي که په نظم کې وو نو تعقيد لفظي ورته وائي او که په انتقال کې راغلی وو نو تعقيد معنوي ورته وائي. نو تعقيد لفظي دې ته وائي چې دا متکلم په خپل کلام کې څه تصرفات وکړي چې د هغه تصرفات د وجې نه صعوبت د معنی مراد د متکلم راشي په نسبت سره سامع او مخاطب ته: او تعقيد معنوي دېته وائي چې انتقال نه کوي ذهن د سامع او مخاطب د معنی موضوع له د دې لفظ نه معنی مراد د متکلم ته او تعقيد مطلقا منافي دی د فصاحت الکلام سره مثال د هغه کلام چې خارج شوی دی د دائرې د فصاحت نه د وجې د تعقيد لفظي نه دا قول د فرزدق شو: شعر:

وَمَا مِثْلُهُ فِي النَّاسِ الا مُمَلَّكاً   اَبُواُمِه حَيٌ اَبُوْه يُقَارِبُهُ

او مثال د هغه کلام چې خارج شوی وي د دائرې د فصاحت نه د تعقيد معنوي د وجې نه لکه دا قول د شاعر شو: شعر:

سَاَطْلُبُ بُعْدَ الدار عنكم لتقربوا   وتسكب عيناي الدموع لتَجمُدَا

ولك ان تقول: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د اثبات د مسئلې د کحل نه او د بيان د شرائطو د مسئلې د کحل نه پس اراده وکړه دې مصنف چې تنبيه راکړي موږ ته په دې خبره باندې چې دا مسئله د کحل نه ده منحصره په دې عبارت مذکوره پورې بلکه ممکنه ده چې تعبير وکړی شي د دې نه په عبارت قصيره او عبارت اقصره سره. يعنې په دې مسئله د کحل کې درې قسمه عبارتونه جائز دي: (۱) مطول (۲) مختصر (۳) اخصر.

عبارت طويله خو بيان شو او (ولك ان تقول... الخ) سره عبارت قصيره بيانوي **ولك** جائز دي ستا لپاره **ان تقول** چې ته وايې په دې مثال مذکور کې **ما رايت رجلاً احسن في عينه الكحل من عين زيد** په اقامت د من عين زيد سره په مقام د منه في عين زيد کې نو دا عبارت مختصر دی د هغه عبارت مذکوره نه په قدر د ضمير د منه او کلمه د في باندې چې دا ضمير د منه او کلمه د في په هغه عبارت کې شته او دلته نشته نو ديکې اختصار راغی. دا عبارت قصيره د ماتن دی او يو عبارت قصيره د شارح جامي دی چې هغه وائي چې دا لفظ د عين هم لرې کړی او (ما رايت رجلا احسن في عينه الکحل من زيد) ووايې نو ښه اختصار راځي په عبارت کې سره د ظهور د معنی مقصود نه ځکه

معنی د عبارت طویله او عبارت قصیره یوه ده مصداقا لکه مصداق د حیوان ناطق او د انسان چې یو دی، او دا عبارت په حذف د مضاف سره نه دی چې د عین نه مخکې مضاف مقدر راوباسي چې «من کحل عین زید» وواېي ځکه چې دا عبارت په حذف د مضاف سره شي نو تفضیل د شئ علی نفسه نه راځي او فرق اعتباري نه راځي په مابین د مفضل او مفضل علیه کې بلکه تعدد د کحل راځي او په دې سره فرق ذاتي راځي په مفضل او مفضل علیه کې نو مسئله دکحل پکې نه جوړیږي

فان قدمت ذکر العین: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د عبارت قصیره نه نو شروع یې وکړه په بیان د عبارت اقصر کې نو وې ویل: **فان قدمت** که چرته مخکې کړې ته په دې مسئله د کحل کې **ذکر العین** لفظ د عین لره په ذکر کې په اسم تفضیل باندې هغه عین چې کحل په هغې کې مفضل علیه دی **العین** کې الف لام عهد خارجي دي مراد هغه عین دی چې کحل پکې مفضل علیه دی **قلت** وایې به ته **ما رایت کعین زید احسن فیها الکحل** چې دا عبارت اخصر دی د هغه عبارت طویله د ماتن نه ځکه دا اصل کې «ما رایت عینا احسن فیها الکحل منه في عین زید» وو نو هر کله چې ذکر کړی شو لفظ د عین مخکې د صیغې د اسم تفضیل نه نو استغناء راغله د ذکر د عین نه ثانیا

سوال: په دې عبارت اخصر کې احسن ته مرفوع وواېه بنا بر خبریت او الکحل ته مرفوع وواېه بنا بر ابتدائیت ځکه فصل نه راځي په مابین د اسم تفضیل او معمول د اسم تفضیل کې په اجنبي سره؟

جواب: دغسې ترکیب زه نه شم کولی ځکه دا عبارت اخصر فرع د عبارت اولی ده چې عبارت طویله دی لهذا من تفضیلي سره د مجرور نه مقدر دی او مراد دی په دې کې او که دغسې ترکیب وکړو نو لازمیږي فصل په مابین د اسم تفضیل او معمول د اسم تفضیل کې چې هغه منه دی تقدیرا په اجنبي سره چې هغه الکحل دی.

مثل ولا اری في قطعة: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د عبارات ثلاثه د مسئلې د کحل نه نو شروع یې وکړه په یو شعر کې لپاره د اثبات د مسئلې د کحل په عبارات ثلاثه ؤ سره ځکه دا علم نحو یو علم دی د علوم نقلیو نه په دې کې لابدي ده د نقل نه مثل «ولا اری» په دې کې دوه ترکیبه دي: (۱): مثل مرفوع دی ځکه دا خبر دی د مبتدا محذوف لپاره «فیکون التقدیر وهو مثل لا اری في قطعة» (۲): یا مثل منصوب دی بنا بر مفعول مطلق په اعتبار د موصوف محذوف سره د فعل مقدر لپاره «فیکون التقدیر: قلت ما رایت کعین زید... الخ، قولا یماثل قول الشاعر». او ترک کړو ماتن صدر د بیت چې هغه مررت علی واد السباع دی او شروع یې وکړه د مینځ د بیت نه چې هغه ولا اری دی ځکه مثال د مسئلې د کحل د مینځ نه شروع کیږي نه د ابتدا د کلام نه:

مررت علی وادي السباع ولا اری ... کوادي السباع حین یظلم وادیا
اقل به رکب اتوه تایة ... واخوف الا ما وقی الله ساریا

په دې شعر کې لابدي ده د معرفت د امور ثلاثه ؤ نه (۱) معرفت د ترکیب. (۲) معرفت د معنی. (۳) تطبیق بالمثال.

ترکیب: مررت فعل فاعل **علی** جار **وادی السباع** مضاف مضاف الیه مجرور، او اضافت د وادي سباع ته شوی دی د وجې د کثرت د سباع نه په دې وادي کې او سباع جمع د سبع ده بفتح الباء و ضمها و سکونها او سبع ویلی کیږي حیوان مفترس ته، جار سره د مجرور نه متعلق دی په مررت پورې **واو** اعتراضیه یا حالیه **لا** نافیه **اری** صیغه واحد متکلم فعل مضارع معلوم محتمل د احتمالین: (۱) یو احتمال دا دی چې دا د رؤیت بصري بصري نه دی، (۲) دویم احتمال دا دی چې دا د رؤیت قلبي او رؤیت علمي نه دی، بنا په اول باندې **وادیا** مفعول به دی د **اری** لپاره او **کوادی السباع** حال مقدم دی څکه رؤیت بصري یو مفعول غواړي او په احتمال ثاني باندې (وادیا) مفعول اول او (کوادی السباع) مفعول ثاني دی د (اری) لپاره او تقدیم د مفعول ثاني راغلی دی په اول باندې او دا جائز دی او **حین یظلم** مفعول فیه دی د فعل معنوی لپاره چې هغه مستفاد دی د کاف د (کوادی السباع) نه او لفظ د **حین** په دې مقام کې محتمل د احتمالین دی:

(۱): یا مبني علی الفتحه او منصوب محلا دی څکه ظروف معربه چې مضاف شي جملې ته نو بنا علی الفتحه پکې جائز ده (نحو ﴿ قَالَ اللّٰهُ هٰذَا يَوْمُ يَنْفَعُ الصّٰدِقِيْنَ صِدْقُهُمْ ﴾من عذاب یومئذ من خزي یومئذ علی قراة) (۲): دویم احتمال دا دی چې حین معرب منصوب دی بنا بر مفعول فیه او (وادیا) موصوف **اقل** صیغه واحد مذکر اسم تفضیل صفت د واد یا لپاره **به** جار مجرور متعلق دی په اقل پورې او با په معنی د في دی ای اقل فیه او ضمیر مجرور راجع دی (وادیا) ته **رکب** فاعل د اقل لپاره موصوف **اتوه** جمله صفت د رکب لپاره او رکب اسم جمع ده نه جمع کما مر جماعة د راکبین ته وایې او دا مختص دی په راکبین د ابل پورې یعنی راکبین د ابل ته ویلی کیږي نه راکبین د افراسو ته. **تایة** (۱) منصوب دی بنا بر تمیز (۲) یا بنا بر مفعول له (۳) یا بنا بر مفعول مطلق په اعتبار د حذف د مضاف سره ای اتیان تایة (۴) یا بنا بر حالیت په اعتبار د حذف د مضاف سره ای ذوی تایة (۵) یا بنا بر مفعول فیه په تقدیر د في سره ای في زمان تایة او **اخوف** منصوب دی څکه عطف دی په اقل باندې او ضمیر پکې مستتر دی چې راجع دی (وادیا) ته، هغه نائب فاعل دی د اخوف لپاره څکه اسم تفضیل للمفعول دی **الا** حرف استثناء **ما** مصدریه حینیه (۲) ظرفیه مصدریه **وقی** صیغه فعل ماضي معلوم **الله** ورله فاعل او **ساریا** په اعتبار د موصوف محذوف سره چې رکبا دی مفعول به، وقی فعل سره د فاعل او مفعول به نه په تاویل د مصدر سره مستثنی مفرغه او مستثنی منه مقدر دی، (**فیکون التقدیر: واخوف في کل وقت الا في وقت وقایت الله ساریا**).

ترجمه: مررت زه تیر شوم **علی وادی السباع** په هغه کنده باندې چې ځنګلي حیوانات او غلة په هغې کې ډیرزیات دي په داسې حال کې چې ما نه ده لیدلې یوه کنده **کوادی السباع** په حال کون د دې کنده کې چې دا په شان د وادی السباع وي، یا ما ته نه ده معلومه یوه کنده په شان د (وادی السباع) په وقت د تیارو کې داسې کنده **اقل** چې ډیر کم دي **به** په دې کنده کې **رکب** سورلی د اوښانو **اتوه** چې راغلي دغه کندې ته **تایة** لپاره د دمې کولو، نو هر کله چې قافلې د اوښانو کم دمه کوونکي دي نو پیاده

خلق خو بالكل دمه نه كوي د ډاكوانو او درنده ګانو د ويرې د وجې نه **واخوف** او داسې كنده چې ډيره زياته يره كړى شوې ده په هر وقت كې **الا** مګر يره كړى شوې نه ده او خوف او خطره نه شي كيدى ما
وقى الله ساريا په وقت د حفاظت د الله تعالى كې د شپې سفر كوونكو لره.
تطبيق بالمثال: په دې قول د شاعر كې (اقل) صيغه د اسم تفضيل راغلى ده او عمل يې كړى دى د رفع بنا بر فاعليت په اسم ظاهر كې چې ركب دى او جامع د شروطو ثلاثه ؤ دى:
(۱): اقل په لفظ كې ثابت دى ماقبل لره چې (واديا) دى او په معنى كې مابعد لره چې (ركب) دى نو مسند اليه او ما جرى عليه غير غير شو (۲): او په مابين د مفضل او مفضل عليه كې اتحاد ذاتي او فرق اعتباري دى چې ركب مفضل هم دى او مفضل عليه هم دى په دې شان سره چې دا ركب په دې وادى السباع كې چې واخلې نو مفضل دى او غير د وادى السباع نه چې يې واخلې نو مفضل عليه دى او واقع شوى دى وروستو د حرف نفي نه چې لا دى په لا ارى كې او دې اقل عمل د رفع بنا بر فاعليت په اسم ظاهر كې كړى دى لاته بمعنى قل ځكه حرف نفي چې داخل شي په يو كلام باندې چې هغه مقيد وي په يو قيد سره نو هغه متوجه كيږي قيد ته او زيادت يو قيد دى په اسم تفضيل كې دى حرف نفي هغه لري كړو نو دا په معنى د اصل فعل سره پاتې شو.
سوال: اقل ته مرفوع ووايه بنا بر خبريت او (ركب) ته مرفوع ووايه بنا بر ابتدائيت او دا جمله به صفت واقع شي د (واديا) لپاره او فصل په مابين د اسم تفضيل او معمول د اسم تفضيل كې نه راځي په اجنبي سره؟ **جواب:** معمول د اسم تفضيل چې منه دى د (ركب) نه وروستو لفظا نشته خو معنى مراد دى ځكه دا عبارت اخصر دى د عبارت طويله نه، اصل كې عبارت داسې وو: (ولا ارى واديا اقل به ركب اتوه منه بوادى السباع) بيا مقدم كړى شو (وادى السباع) نو استغناء راغله د ذكر د دې نه ثانيا او عبارت قصيره دا دى (ولا ارى واديا اقل به ركب اتوه من وادى السباع) نو لكه څنګه چې درې قسمه عبارتونه مصنف جوړ كړي وو په (ما رايت رجلا) كې نو دغسې درې قسمه عبارتونه طويل، قصير، اقصر، په دې شعر كې هم جوړ شول ليكن دومره فرق دى چې دلته مذكور عبارت اقصر دى او په مثال د متن كې مذكور عبارت طويله دى.

الـفـعـل

په فعل کې لابدي ده د معرفة د امور سبعه ؤ نه (۱) معنی لغوي (۲) وجه تسمیه (۳) معنی اصطلاحي (۴) معرفة د مثال (۵) معرفة د علامات (۲) معرفة د اقسام.

ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د تعریف او د بیان د احکامو د قسم اول د کلمه نحویه نه چې اسم وو، نو شروع یې وکړه په بیان د تعریف او احکامو د قسم ثاني د کلمه نحویه کې چې فعل دی نو وي ویل: (الفعل)، او هر کله چې تقسیم وکړو مصنف د کلمه نحویه اقسام ثلاثه ؤ ته په داسې طریقې سره چې د دلیل د انحصار نه معلوم شوی وو، تعریف جامعه مانعه د هر واحد په نسبت سره ذکي ته او بیا یې تنبیه ورکړه په تعریف جامعه مانعه د هر واحد په (قد علم) سره په نسبت سره متوسط ته او بیا یې تعریف د هر واحد وکړو خانله خانله، تفصیلا په نسبت سره غبي ته.

نو هر کله چې فارغ شو د بیان د تعریف او احکامو د قسم اول د کلمه نحویه نه چې اسم وو، نو شروع یې وکړه په قسم ثاني د کلمه نحویه کې چې فعل دی فعل په لغت کې حدث ته وائي

او په اصطلاح کې **ما کلمه** ده، او تذکیر د ضمیر د دل په اعتبار د لفظ د ما سره دی، او لفظ د ما عبارت دی د کلمة نه، نه د فعل او لفظ او شئ نه، ځکه معتبر په تعریفات د اقسام کې جنس قریب دی او جنس قریب د فعل لپاره کلمه ده او لفظ او شئ اجناس بعیده دي.

(۲): یا (ما) عبارت دی د کلمة نه، ځکه کلمه مقسم دی او اسم فعل حرف اقسام دي، او مقسم معتبر وي په تعریفات د اقسام کې او په تنکیر د کلمة کې یې اشاره وکړه موصوفیت د ما ته (لانه واقع في جانب الخبر) **دل** داسې کلمه چې دلالت کوي **علی معنی** په یو معنی باندې **في نفسه** داسې معنی چې کائنه ده په نفس د دې کلمه کې په دې شان سره چې دا کلمه په دلالت خپل کې په دې معنی باندې محتاجه نه ده انضمام د کلمه اخری ته ځکه دا معنی مستقل بالمفهومیت ده، او معنی مستقل بالمفهومیت دې ته وائي چې دا معنی په فهم کې د دې لفظ نه محتاج نه وي غیر ته او تذکیر د ضمیر په اعتبار د لفظ د ما سره دی او مخالفت نه لازمیږي په مابین د ماخوذ او ماخوذ منه کې ځکه کینونیت د معنی في نفس الکلمه او کینونیت د معنی في نفس المعنی مآل او مرجع د دې امر واحد دی چې استقلال بالمفهومیت دی او مقابله د حرف سره هم صحیح شوه ځکه کینونیت د معنی في نفس الکلمه په تعریف د فعل کې عبارت دی د استقلال بالمفهومیت نه او کینونیت د معنی في غیر الکلمه په تعریف د حرف کې عبارت دی د عدم استقلال بالمفهومیت نه او په تقدیر د کائن کې شارح اشاره کړې ده دېته چې في نفسه ظرف مستقر دی نه ظرف لغوه، په دې کې شارح جامي رد وکړو په فغه شارحینو باندې چې هغوی في نفسه ته ظرف لغوه وائي چې دا متعلق دی په دلت پورې ځکه تعلق د في نفسه په دلت پورې نه دی صحیح ځکه د دلالت په صله کې یا علي راځي نحو دل علیه، یا باء راځي نحو دل به او في چرته په استعمال د کلام د عربو کې نه ده راغلې په صله د دلالت کې او که تاسو وایئ چې في په معنی د باء ده نو لازمیږي مجاز په تعریف کې او دا خلاف دی د تبادر نه او که تاسو وایئ چې ظرف مستقر هم خلاف الاصل دی نو جواب دا دی چې ظرف مستقر اگر چې خلاف الاصل دی

خو شائع او کثیر دی په استعمال د کلام د عربو کې، او په جر د کائن سره یې اشاره وکړه چې دا في نفسه جار مجرور په اعتبار د متعلق سره صفت واقع شوی دی د معنی لپاره په دې کې یې رد وکړو په هغه شارحینو باندې چې هغوی دا ظرف مستقر حال واقع کوي د معنی نه، ځکه دا قاعده ده چې جار مجرور واقع شي وروستو د معرفې نه نو په اعتبار د متعلق سره به یې حال واقع کوي ځکه حال کې تقلیل في الحذف راځي او صفت کې تکثیر في الحذف راځي او تقلیل في الحذف اولی دی د تکثیر في الحذف نه او وروستو د نکرې نه چې واقع شي نو صفت به یې واقع کوي نه حال د وجې د جزالت د معنی صفتي نه، او دلته واقع شوی دی وروستو د نکرې نه. (۲): او که حال یې ووایو د معنی نه نو تقیید د دلالت راځي في نفسه سره نو اخراج د حرف راځي د تعریف د فعل نه په جنس سره او دا باطل دی ځکه جنس عام وي ټول پکې داخل وي او اغیار خارجولی شي په فصولو سره، او که دا صفت شي د معنی لپاره نو بیا دلالت په خپل عموم باندې باقي پاتې شو او حرف خارج شو په فصل سره نه په جنس سره.(۲) یا فعل اصطلاحي: **ما** یوه کلمه ده **دل** داسې کلمه چې دلالت کوي **علی معنی** په یو معنی باندې هسې معنی چې دا معنی کائنه ده **في نفسه** په نفس د دې معنی کې په دې شان سره چې دغه معنی په مفهومیت خپل کې د دې کلمې نه محتاج نه ده انضام د کلمه اخری ته بلکه دا ذهن د سامع ته راځي یواځې د دغه کلمې نه بې د انضمام د کلمه اخری نه او مخالفت نه لازمیږي بین الاجمال والتفصیل ځکه کینونیت د معنی في نفس الکلمه، او کینونیت د معنی في نفس المعنی مآل او مرجع دد ې امر واحد ته دی، چې استقلال بالمفهومیت دی او مقابله د حرف سره هم صحیح شوه ځکه کینونیت د معنی في نفس المعنی په تعریف د فعل کې عبارت دی د استقلال بالمفهومیت نه او کینونیت د معنی في غیر المعنی په تعریف د حرف کې عبارت دی د عدم استقلال بالمفهومیت نه او فعل اصطلاحي عبارت دی د معاني ثلاثه ؤ نه: (۱): حدث چې معنی مصدري ده. (۲): زمانه. (۳): نسبت فاعل ما ته.

لیکن په دې مقام کې معنی اصطلاحي نه ده مراد بلکه معنی تضمني مراد ده چې حدث دی ځکه هر کله چې توصیف د معنی یې وکړو في نفسه سره نو نسبت ترې خارج شو ځکه نسبت معنی حرفي ده اله ده لپاره د ملاحظه د طرفین د نسبت چې هغه منسوب او منسوب الیه دې او مستقله بالمفهومیت نه ده او هر کله چې توصیف د معنی یې په اقتران سره وکړو نو خارج شوه د دې نه زمانه ځکه که زمانه خارج نه کړو نو لازمیږي اقتران د زمان په زمان پورې او دا باطل دی نو فعل په اعتبار د معنی اصطلاحي سره غیر مستقل دی ځکه دا مرکب دی د نسبت حدث زمان نه او نسبت غیر مستقل دی او قانون دا دی چې غیر مستقل چې مرکب شي د مستقل سره نو د هغې نه غیر مستقل جوړوي ځکه نتیجه تابع د اخص ارزل وي او مستقل دی په اعتبار د معنی تضمني سره چې هغه حدث دی **مقترن باحد الازمنة الثلاثة** هسې معنی تضمني چې مقترن به وي وضعا نه استعمالا په یو زمانه پورې د ازمنه ثلاثه مخصوصو نه چې هغه ماضي او حال او استقبال دی په فهم کې د لفظ د اله نه په دې معنی باندې او اقتران د زمانین مستلزم دی اقتران د زمانه واحدې لره.

(۲): یا ذکر د واحد لپاره د بیان د ادنی مرتبې دی نه لپاره د حصر پس داخل شو، صیغه د مضارع په تعریف د فعل کې او په قید د وضعا سره خارج شو اسماء افعال د تعریف د فعل نه ځکه اسماء افعال یا منقول دي د مصادرو نه یا د غیر مصادرو نه (کما مر في بحث الاسم)، او داخل شو په تعریف د فعل کې افعال منسلخه عن الزمان ځکه دا په اصل وضع کې مقترن وو باحد الازمنة الثلاثة خو د عارض استعمال د وجې نه زمانه منسلخ شوې ده د دې نه ځکه ورته افعال منسلخه عن الزمان وائي او لفظ د مقترن مثلث الاعراب دی مقترن یا مجرور دی ځکه صفت بعد الصفة دی د معنی لپاره په دې شان سره چې في نفسه صفت اولی او مقترن صفت ثاني دی.

(۲): یا مقترن مرفوع دی خبر د مبتداء محذوف دی (ای هو مقترن).

(۳): یا منصوب دی مفعول به دی د فعل مقدر ای اعنی مقترنا، او موصوف د اسماء عدد په منزله د تمیز دی او تمیز د عدد اقل چې جمع مذکر راشي نو عدد مؤنث مستعملولی شي او دغسې جمع مذکر چې موصوف واقع شي د عدد اقل دپاره نو عدد مؤنث مستعملولی شي ځکه باحد الازمنة الثلاثة کې صفت د الازمنة چې جمع مذکر مکسر دی جمع د زمان ده اسم عدد متلبس بالتاء راغلی دی.

هر تعریف کې لابدي وي د جنس او فصل نه **ما دل علی معنی** جنس دی، خپل پردي ټول پکې شامل شو **في نفسه** فصل اول دی په دې سره یې احتراز وکړو د حرف نه ځکه معنی د حرف مستقل بالمفهومیت نه ده، پاتې شو اسم ځکه دا (ما دل علی معنی في نفسه) دی، **مقترن** فصل ثاني دی، په دې سره یې احتراز وړو د اسم نه ځکه د اسم معنی مقترن نه ده باحد الازمنة الثلاثة نو تعریف د فعل جامع مانع شو.

سوال: فعل اصطلاحي ته فعل ولې وائي؟ **جواب:** ځکه فعل په لغت کې حدث ته وائي او دا فعل اصطلاحي هم دلالت کوي په حدث باندې دا شوه تسمیه د کل په اسم د جز سره تسمیه د مشتمل په اسم د مشتمل سره تسمیه د متضمن په اسم د متضمن سره.

ومن خواصه دخول قد: ربط: هر کله چې د فعل لپاره وجودین وو: (۱) وجود ذهني (۲) وجود خارجي (وجود ذهني د فعل مونږه وپیژندلو په تعریف سره پس لابدي شوه د معرفت د وجود خارجي نه نو لپاره د معرفت د وجود خارجي ذکر کړه مصنف بعض علامات نو وې ویل: (ومن خواصه.....).

ترجمه: بعض د خواص معظمه مکبره د فعل نه **دخول قد** قد دی په اعتبار د دخول سره ځکه لفظ د قد مستعملیږي لپاره د تقریب د زمانه ماضي الی الحال یا د تقلیل د فعل لپاره، یا د توقع د فعل لپاره یا د تحقق د فعل لپاره، یا د تکثیر د فعل لپاره او دا معاني خمسه دقد نه متحقق کیږي مګر په فعل کې او اختصاص د مدلول مستلزم دی اختصاص د دال لره، پس دغه دال چې قد دی هم مختص شو په فعل پورې په دې شان سره چې په فعل داخلیږي او په اسم او حرف باندې نه داخلیږي او په من تبعیضي سره یې اشاره وکړه چې مذکور په دې کتاب کې بعض دي نه ټول او صیغه د جمع تکثیر کې یې اشاره وکړه چې په واقع او نفس الامر کې ډیر دي.

تشریح: سوال: تعریف د فعل وشو اوس مصنف لپاره پکار وه چې شروع یې کړی وی په تقسیم د فعل کې نو د تعریف نه وروستو او د تقسیم نه مخکې دا علامات د څه لپاره بیانوي؟

جواب: د فعل لپاره وجودين دي: (۱) وجود ذهني (۲) وجود خارجي، وجود ذهني د فعل معلوم شو په تعريف سره، پس لابدي شوه د معرفت د وجود خارجي د فعل نه او دا راځي په علامات سره لهذا مصنف د تعريف د فعل نه وروستو بعض علامات د فعل بيان کړل لپاره د معرفت د وجود خارجي د فعل، لپاره د دې چې دا فعل مونږ ته معلوم شي هم په وجود ذهني کې او هم په وجود خارجي کې

سوال: خواص جمع تکثيره ده د دې اطلاق کيږي په مافوق د احد عشر باندې او تا دلته علامات د يولس نه کم ذکر کړي دي نو دا مقام، مقام د جمع قلتې دی، نو په مقام د جمع قلته کې دې جمع کثرت ولې مستعمل کړې ده؟ **جواب:** په من تبعيضي سره يې اشاره وکړه چې دا مذکور بعض دی نه ټول علامات د فعل او په صيغه د جمع کثرت کې يې اشاره وکړه چې دا په واقع او نفس الامر کې ډير دي؟

سوال: خواص جمع د خاصة ده او خاصة ويلی کيږي (ما يوجد فيه ولا يوجد في غيره) ته، او ته وايې چې قد خاصه د فعل ده، يعنی موجوديږي په فعل کې نه په اسم او حرف کې نو امر حاضر معلوم فعل دی، او قد وړباندې نه داخليږي، نو قد ته څنګه خاصه د فعل وايې؟

جواب: خاصه دوه قسمه ده: (۱) شامله (۲) غير شامله.

وجه د حصر: دا خاصه به خالي نه وي يا به ثابته وي ټولو افرادو د ذوالخاصی لره او يا به نه وي، که ثابته وه نو شامله ورته وائي لکه ضحك بالقوه چې دا خاصه د انسان ده، او که ثابته نه وه ټولو افرادو د ذو الخاصی لره بلکه بعض لره وه نو دا غير شامله ده لکه ضحك بالفعل شو، د انسان لپاره او دلته مراد د خاصې نه خاصه غير شامله ده.

سوال: ته وايې چې بعض د خواص د فعل نه دخول د قد دی نو دخول قد مرکب اضافي دی او په مرکب اضافي کې مقصود بالحکم مضاف وي او مضاف اليه خارج عن الحکم وي لکه جاءني غلام زيد کې مجئيت غلام کړی دی نه زيد نو معنی دا شوه چې خاصه دخول دی نه قد او دا معنی باطله ده ځکه دخول يو امر معنوي دی نسبت دی بين الداخل والمدخول په خارج کې وجود نه لري نو دېته څنګه خاصه وائې؟

جواب: د دې معنی دا ده چې بعض د خواص د فعل نه قد دی په اعتبار د دخول سره په دې شان سره چې اصل کې مرکب توصيفي وو بيا يې هغه وران کړی دی او اضافت د صفت يې کړی دی موصوف ته، دې کې اشاره ده دې ته چې په دې مرکب توصيفي کې دا موصوف مقصود وو په اعتبار د صفت سره نه بالذات ځکه مرکب اضافي کې مقصود مضاف وي نه مضاف اليه.

سوال: (ومن خواصه دخول قد) څه ترکيب دی؟ **جواب:** دې کې تراکيب ستبه دي:

(۱): (من خواصه) جار مجرور متعلق دی په ثابت مقدر پورې دا شبه جمله خبر مقدم او (دخول قد) مبتدا مؤخره. (۲): دا جار مجرور متعلق دی په ثبت مقدر پورې دا جمله فعليه. خبر مقدم او (دخول قد) مبتدا مؤخره. (۳): (من خواصه) متعلق دی ثابت پورې او (دخول قد) فاعل دی د ثابت لپاره، نو دا شبه جمله شوه په شان د (فائز اولو الرشد) او په شان د (فخير نحن عند الناس منکم)، بنا په مذهب

د اخفش باندې، ځکه د هغه په نزد باندې د عمل د مشتقي لپاره اعتماد شرط نه دی. (۴): (من خواصه) متعلق دی ثبت پورې او (دخول قد) فاعل د ثبت دی، دا جمله فعليه خبريه شوه. (۵): (من خواصه) ظرف دی او دخول قد فاعل د ظرف دی نو دا جمله ظرفيه شوه، بنا په مذهب د اخفش باندې ځکه د دهٔ په نزد باندې د ظرف د عمل لپاره هم اعتماد شرط نه دی.

(۶): (من خواصه) کې (من) بمعنی بعض مضاف، ای بعض خواصه دا مبتدا او (دخول قد) ورله خبر دی، مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه شوه.

سوال: دخول د قد خاصه د فعل ولې ده؟ **جواب:** ځکه قد راځي په استعمال د کلام د عربو کې کله د تقليل د فعل لپاره او کله د تحقيق دپاره... الخ، او دا تولې معاني متحقق کيږي په فعل کې نو دا قد هم مختص شو په فعل پورې ځکه اختصاص د مدلول مستلزم دی اختصاص د دال لره.

والسين وسوف بل د خواص د فعل نه سين او سوف دی په اعتبار د دخول سره ځکه سين دلالت کوي په استقبال قريب باندې، يعنی په هغه زمانه باندې چې قريبه ده زمانې د تکلم ته، او سوف دلالت کوي په استقبال بعيد باندې، يعنی هغه زمانه چې بعيده ده د زمانې د تکلم د متکلم نه، ځکه سين کې حروف کم دي او قلت د حروف دلالت کوي په قلت د معنی باندې، او سوف کې حروف زيات دي او زيادت د حروف دلالت کوي په زيادت د معنی باندې، او استقبال قريب او بعيد نه موجوديږي مگر په فعل کې نو سين او سوف هم مختص شو په فعل پورې ځکه اختصاص د مدلول مستلزم دی اختصاص د دال لره.

سوال: اصل په عبارت کې عبارت دی په نمط واحده سره نو تا السين متلبس باللام او سوف مجرد عن اللام ولې ذکر کړو، پکار وه چې يا دواړه متلبس باللام وی يا دواړه مجرد عن اللام وی چې دواړه يو شان وی؟ **جواب:** هر کله چې سين متنوع وو په خلاف د سوف نه چې دا غير متنوع دی، پس ذکر کړو مصنف دا سين متلبس په الف لام عهد خارجي سره او په دې الف لام کې يې اشاره وکړه خاص يو نوعې ته چې سين د استقبال دی او احتراز يې وکړو د باقي انواع د سين نه ځکه سين د استقبال خاصه د فعل ده نه باقي انواع د سين. او سين په استعمال د کلام د عربو کې په اته قسمه دی: (۱): للطلب نحو استغفر الله. (۲): للوجدان. (۳): والحسبان: نحو استعظمت زيدا ای وجدت زيدا عظيما، حسبت زيدا عظيما. (۴): للتحول نحو استنوق الجمل-ای صار الجمل کالناقة، وقول الشاعر:

ان البغاث في ارضنا تستنسر والاتن في اسواقنا تستحمر

(۵): زائده نحو اسطاع يسطيع. (۲): سين کسکسه نحو مررت بكس، چې دا متصليږي په ضمير د مؤنث مخاطبې پورې په حالت د وقف کې لپاره د دې چې التباس رانه شي د ضمير مذکر مخاطب د مؤنث مخاطبې سره په حالت د وقف کې. (۷): للتاکيد نحو قوله تعالى ﴿ فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ ﴾ وقوله تعالى: ﴿ سَنَكْتُبُ مَا قَالُوا ﴾ او سين په قران کې په کثرت سره راغلی دی د تاکيد لپاره او د استقبال لپاره راغلی دی په طريقه د قلت سره بل مثال کقول الشاعر:

ساطلب بعد الدار عنكم لتقربوا وتسكب عيناى الدموع لتجمدا

(۸): للاستقبال نحو سيضرب زيدا، وهو المراد ههنا، او دا خاصه د فعل ده داخليږي په فعل نه په اسم او نه په حرف او بيا په فعل مستقبل باندې نه په فعل ماضي او امر حاضر باندې. لغات ثلاثة في سوف: سو، سى، سف. افعل.

والجوازم او بل د خواص د فعل نه جوازم دي په اعتبار د دخول سره، او جوازم عام دي که حروف وي او که اسماء وي، د دې دخول مختص دی په فعل پورې، په اسم او حرف باندې نه داخليږي، ځکه دا جوازم واضع وضع کړي دي د نفي د فعل لپاره لکه لم او لما شو، يا د طلب د فعل لپاره لکه لام امر، يا د طلب د ترك د فعل لپاره لکه لايې نهى، يا د تعليق د شئ بالفعل لپاره لکه ادوات الشرط شو، او دا معاني مذکوره کلها نه موجوديږي مگر په فعل کې نو د و ال يې هم مختص شو په فعل پورې ځکه اختصاص د مدلول مستلزم دی اختصاص د دال لره.

ولحوق تاء التانيث بل د خواص د فعل نه اتصال د تاء التانيث دی **ساكنة** په حال کون د دې تاء کې چې ساکنه يې واخلې نو په دې سره يې احتراز وکړو د تاء تانيث متحرکه نه ځکه هغه مختص ده په اسم پورې په فعل کې نه راځي.

سوال: اتصال د تاء تانيث ساکنه خاصه د فعل ولې ده؟ **جواب:** ځکه تاء تانيث ساکنه نه متصل کيږي مگر هغه شئ پورې چې د هغې لپاره فاعل وي او فاعل نه وي مگر دفعل لپاره وي او هر چې دی صفت، نو هغه اگر چې تقاضا د فاعل کوي خو هغه مستغني دی د اتصال د تاء التانيث ساکنه نه په تاء متحرکه سره چې هغه دلالت کوي په تانيث د فاعل باندې.

سوال: اتصال د تاء التانيث ساکنه په اخير د فعل پورې ولې کولی شي؟

جواب: لپاره د دې چې دلالت وکړي په تانيث د فاعل داول وهلت نه.

سوال: تاء التانيث ساکنه يې علامه د فعل وگرځوله او تاء التانيث متحرکه يې علامه د فعل ونه وگرځوله نو عکس يې ولې ونه کړو؟ **جواب:** عکس يې ونه کړو ځکه فعل ثقيل دی په اعتبار د مفهوم سره ځکه مرکب دی د امور ثلاثة ؤ نه چې حدث نسبت زمان دی دا تقاضا د تخفيف کوي او اسم خفيف دی په اعتبار د مفهوم سره او تاء التانيث ساکنه خفيفه ده او متحرکه ثقيله ده نو خفيف ثقيل لره ورکړی شو، او ثقيل خفيف لره لپاره د رعايت د تعادل او د انصاف.

(۲): عکس يې ونه کړو ځکه اصل په افعال کې بنا ده او اصل په بنا کې سکون دی او اصل په اسماؤ کې اعراب دی او اصل په اعراب کې حرکت دی، او لحوق د تاء التانيث ساکنه خاصه د فعل ده يعنی متصل کيږي په فعل پورې نه په اسم او حرف پورې او په فعل کې خاصه د ماضي ده يعنی متصل کيږي په اخير د ماضي پورې نه مضارع او امر پورې ځکه مضارع کې استغناء راغلې ده د دې نه په تاء التانيث علامه د مضارع سره او امر حاضر معلوم کې استغناء راغلې ده د دې نه په ضمير د مؤنث مخاطب سره لکه اضربي.

ونحو تاء فعلت بل د خواص د فعل نه اتصال او لحوق د تاء د فعلت دی او مراد د تاء د فعلت نه ضمیر بارز مرفوع متحرك دی، هغه عام دی چې تاء د متکلم وي لکه فعلتُ او که مخاطب مذکر وي لکه ضربتَ او که مخاطب مؤنث وي نحو ضربتِ، یا نون ضمیري وي نحو ضربن.

سوال: اتصال د ضمیر بارز مرفوع متحرك خاصه د فعل ولې ده؟

جواب: ځکه ضمیر بارز مرفوع متحرك فاعل دی دا نه متصلیږي مګر په هغه شئ پورې چې هغه تقاضا د فاعل کوي او تقاضه د فاعل نه کوي مګر فعل یې کوي او هر چې دی صفت نو هغه اګر چې یې لازم نه شي مساوات په مابین د فرع کې چې صفت دی او اصل کې چې فعل دی.

سوال: انحطاط د فرع د اصل نه خو په عکس سره هم راځي نو عکس یې ولې ونه کړو، چې ضمیر بارز عام شوی وي او مستتر خاص شوی وي؟ **جواب:** عکس یې ونه کړو ځکه ضمیر مستتر اخف دی او اخصر دی د ضمیر بارز نه نو دا په تعمیم سره اولی دی.

(۷): بل د خواص د فعل نه تصریف دی. (۸): بل امر دی. (۹): نهي ده. (۱۰): دخول د حرف اتین.
(۱۱): عوامل ناصبه. (۱۲): اتصال د نون تاکید ثقیله. (۱۳): اتصال د نون تاکید خفیفه.
(۱۴): کون د شئ مسند نه مسند الیه په استعمال د کلام د عربو کې. (۱۵): دخول لو.
(۱۲): دخول حرف عرض. (۱۷): دخول حروف التحضیض.

قاعده: خاصتین د نوع به خالي نه وي. یا به متحد وي په معنی کې یا به نه وي، که متحد في المعنی وو د هغې جمع جائز نه ده لکه الف لام او اضافة او سین او سوف شو، او که متحد في المعنی نه وو بیا به خالي نه وي، یا به متضادین وي یا به نه وي، که متضادین وو د هغې جمع جائز نه ده لکه الف لام اضافت شو، او که متضادین نه وو بیا جمع جائز ده لکه قد او تاء التانیث شو په قد قامت الصلاة کې. (۱): فعل په اعتبار د زمانې سره درې قسمه دی: ماضي، مضارع، امر حاضر معلوم.(۲): فعل په اعتبار د تصرف سره دوه قسمه دی: متصرف، غیر متصرف چې هغه افعال دي: عسی ونعم وبئس وحبذا و فعل التعجب وقلما وطالما ویذر ویدع وتبارر وحری اخلولق و مادام.(۳): فعل په اعتبار د نقصان او تام سره په دوه قسمه دی: تام او ناقص.

(۴): فعل په دوه قسمه دی: متعدي او لازم.(۵): فعل په دوه قسمه دی: معرب او مبني.

الـمـاضـي

ماضی کې لابدي ده د معرفة د امور سبعه ؤ نه: (۱) معنی لغوي (۲) اصطلاحي (۳) وجه تسمیه (۴) معرفت د اوزان د ثلاثي مجرد نه (۵) معرفة د حکم (۶) معرفة د خاصه چې هغه اتصال د تای تانیث ساکنه دی (۷) معرفة د اقسام.

ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د تعریف او د بعض علامات د فعل اصطلاحي نه نو شروع یې وکړه په بیان د تقسیم د فعل اصطلاحي کې لپاره د اتمام د تعریف د فعل اصطلاحي ځکه تقسیم

د متمماتو او مکملاتو د تعریف نه دی، ځکه په تعریف سره معلومیږي معنی او مفهوم د تقسیم سره معلومیږي افراد او مصداق د شئ نو پس د تقسیم نه مونږ ته دا فعل معلوم شو مفهوما او مصداقا او د تقسیم نه مخکې مونږ ته فعل معلوم وو مفهوما نه مصداقا او فعل اصطلاحي په اعتبار د زمانې سره درې قسمه دی: ماضي، مضارع، امر.

• **وجه د حصر:** (۱): دا فعل به خالي نه وي یا به اخباري وي یا به انشائي وي که انشائي وو نو امر او که اخباري وو نو بیا به خالي نه وي، یا به په اول د دې کې یو حرف د حروف اتین نه راغلی وي، یا به نه وي راغلی، که راغلی وو نو مضارع او که نه وو راغلی نو فعل ماضي (۲): حرف اخیر د دې فعل به خالي نه وي یا به مرفوع وي یا به مفتوح وي یا به موقوف وي، که مرفوع وو نو مضارع نحو یضرب، که مفتوح وو نو ماضي نحو ضرب، که موقوف وو نو امر نحو اضرب (۳): دا فعل به خالي نه وي یا به دلالت کوي په زمانه گذشته باندې فقط یا به دلالت کوي په زمانه موجوده باندې فقط او یا به دلالت کوي په زمانه موجوده او آینده دواړو باندې که اول وو نو ماضي که ثاني وو نو امر حاضر او که ثالث وو نو مضارع (۴): دا فعل به خالي نه وي یا به معرب وي یا به مبني وي که معرب وو نو مضارع او که مبني وو نو بیا به خالي نه وي، یا به تعلق لري د زمان گذشته سره یا نه، که لري نو ماضي والا امر حاضر.

او هر کله چې ماضي اصل ده د مضارع او د امر حاضر نه ځکه مضارع جوړیږي د ماضي نه او امر حاضر جوړیږي د مضارع نه، پس مقدم یې کړه فعل ماضي د فعل مضارع او امر حاضر نه، یا هر کله چې ماضي دلالت کوو په زمانه گذشته بخلاف الامر والمضارع چې دا دلالت کوي په زمانه موجوده یا اینده باندې او زمانه د ماضي مقدم ده د حال او استقبال نه نو دال د زمانه ماضي یې هم مقدم کړو په دال د زمانه د حال او استقبال باندې لپاره د دې چې ترتیب ذکري موافق شي د ترتیب خارجي سره.

ماضي په لغت کې زمانه گذشته را گویند، یا صیغه د اسم فاعل ده د مضی یمضي مضیا نه مضی کننده ته وائي.

او په اصطلاح کې **ما** فعل دی داسې فعل **دَلّ** چې دلالت کوي په اعتبار د اصل وضع سره ځکه شئ چې مطلق ذکر شي نو صیرورت یې کیږي فرد کامل ته او کامل په دلالت کې دلالت بحسب الوضع دی **علی زمان** په زمانه باندې، داسې زمانه **قبل زمانك** چې هغه مخکې ده د زمانې د تکلم ستا نه په تقدم بالذات سره ځکه په اجزاؤ د زمانه کې تقدم راځي بالذات او په مظروفاتو کې تقدم بالواسطه راځي په اعتبار د تقدم د زمانې سره.

تشریح: الماضي صیغه د اسم فاعل ده صفت دی تقاضه د موصوف کوي نو موصوف د دې مقدر او محذوف دی چې الفعل دی په قرینې د مقام سره نو هر کله چې توصیف د فعل وشو په ماضي سره نو احتراز یې وکړو د فعل مضارع او فعل امر نه ځکه دا تعریف د فعل ماضي دی او تعریف د مضارع او امر حاضر وروستو راروان دی.

سوال: ماضي مضارع او امر درې واړه سواسي دي په قسميت د فعل کې نو تا ماضي ولې مقدم کړو په امر او مضارع باندې؟ **جواب:** لاصالت الماضي من المضارع والامر ځکه دا مشتق منه د فعل مضارع لپاره دی او مضارع مشتق منه د امر حاضر لپاره دی. (۲): لتقدم زمان الماضي

سوال: دا تعریف د ماضي مانع نه شو د دخول د غیر نه. داخل شو پکې لفظ د أمس ځکه امس یو لفظ دی چې دلالت کوي على زمان قبل زمانك او دا یو فرد د افرادو د معرف نه نه دی او کوم تعریف چې مانع نه وي هغه باطل وي نو دا تعریف هم باطل دی؟ **جواب:** دا اعتراض به تا هله کولی چې ما عبارت وی د (لفظ) نه لیکن ما عبارت دی د فعل نه. نه د لفظ نه او امس فعل نه دی بلکه اسم دی.

سوال: ما د الفاظ عامو نه دی او ته وایې چې دا عبارت دی د فعل نه. په دې څه دلیل دی؟

جواب: معتبر په تعریفات د اقسام کې جنس قریب وي او د ماضي مضارع امر لپاره جنس قریب فعل دی (۲): ماضي یو قسم دی د مطلق فعل نه او فعل مقسم دی او مقسم معتبر وي په تعریفات د اقسام کې او په تنکیر د فعل کې اشاره ده دېته چې دا ما موصوفه دی لانه واقع في جانب الخبر

سوال: دا تعریف د ماضي باطل دی ځکه تعریف کې لابدي وي د جامعیت او مانعیت نه او دا تعریف جامع نه دی خپلو افرادو لره خارج شو د دې نه (ان ضربت ضربت)، ځکه دا دلالت نه کوي على زمان قبل زمانك بلکه دلالت کوي په زمانه د استقبال باندې او داخل شو پکې لم یضرب او لما یضرب دا دلالت کوي على زمان قبل زمانك؟ **جواب:** ماضي هغې ته وائي چې دلالت کوي على زمان قبل زمانك بحسب الوضع، نو ان ضربت ضربت پکې داخل پاتې شو، ځکه دا بحسب الوضع دلالت کوي على زمان قبل زمانك او دلالت کوي په استقبال د امر عارض د وجې نه چې دخول د ان دی، او لم یضرب لما یضرب خارج شو ځکه دا بحسب الوضع دلالت نه کوي على زمان قبل زمانك بلکه د عارض د وجې نه دلالت کوي چې لم او لما دی.

سوال: ماتن خو دلالت مطلق ذکر کړی دی نو ته دلالت بحسب الوضع د کوم ځای نه اخلې؟

جواب: شئ چې ذکر شي مطلق نو صیرورت یې کیږي فرد کامل ته او کامل په دلالت کې دلالت بحسب الوضع دی نه بحسب الاستعمال.

سوال: تعریف د ماضي جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو د دې نه ضربت زیداً بالامس ځکه ته وائې چې ماضي هغې ته وایې چې دلالت کوي په هغه زمانه چې مخکې وي د زمانې د وجود ستا نه او دلته ضربت دلالت و نه کړو په هغه زمانه چې مخکې ده د زمانې د وجود د متکلم نه؟

جواب: دلته زمانه د وجود د متکلم نه ده مراد بلکه مراد دا دی چې دلالت به کوي په زمانې مخکې د زمانې د تکلم ستا نه.

سوال: ته وایې چې ماضي دلالت کوي على زمانٍ قبل زمانك د وجې د تقدم د زمانې نه نو ثبوت د زمانې د زمانې دپاره راغی؟ **جواب:** دلته مراد د تقدم نه تقدم بالذات دی نه تقدم بالواسطه ځکه تقدم په اجزاؤ د زمانه کې بالذات وي نه بالواسطه او تقدم په مظروفاتو کې بالواسطه وي لکه امام ابو

حنيفه رحمه الله مخکې دی د امام شافعي رحمه الله نه ځکه چې زمانه د امام ابو حنيفه مخکې وه او زمانې د امام شافعي نه.

په هر تعريف کې لابدي وي د جنس او فصل نه، **ما دل على زمان** جنس دی او **قبل زمانك** فصل دی، دې سره خارج شو فعل مضارع او امر حاضر او د دلالت نه چې مونږه دلالت بحسب الوضع واخستو (ان ضربت ضربت) داخل پاتې شو او (لم يضرب او لما يضرب) خارج شو

مبني على الفتح: ربط: (۱) هر کله چې فارغ شو مصنف د تعريف د فعل ماضي نه نو شروع يې وکړه په حکم د فعل ماضي کې (۲) يا هر کله چې فارغ شو د تعريف بالمفهوم او د تعريف حقيقي د ماضي نه نو شروع يې وکړه په تعريف بالعلامه کې نو وې ويل (**مبني على الفتح**) دا فعل ماضي به مبني وي په فتحې سره د وجې د عدم وجود د علت د اعراب نه په دې کې چې معاني معتوره دي او مشابهت تامه دی د اسم معرب سره او مبني على الحرکت ده نه على السکون د وجې د مشابهت د دې نه د مضارع سره په وقوع د دې کې موضع الاسم يا په وقوع د دې کې شرط او جزا (نحو ان ضربتني ضربتك)، او مبني على الفتحه ده د خفت د وجې نه. دا فتحه عامه ده که لفظا وي او که تقديرا وي **مع غير الضمير المرفوع** په حال کون د دې ماضي کې چې معې وي د غير د ضمير مرفوع متحرك سره **والواو** او غير د واو سره چې هغه ځلور صيغې دي (ضرب، ضربا، ضربت، ضربتا)، او که سره د ضمير مرفوع متحرك نه وه نو مبني على السکون به وي (نحو ضربت ضربتما) شو. لپاره د دې چې لازم نه شي توالي د اربع حرکات فيما هو کالکلمة الواحدة، ځکه دا ضمير مرفوع ګرځېدلی دی بمنزلة الجزء، او که سره د واو نه راشي نو مبني على الضمه به وي از براى مناسبت واو دا ضمه عامه ده که لفظا وي او که تقديرا وي

تشريح: سوال: مبني په ترکيب کې څه واقع شوی دی؟**جواب**: دا خبر د مبتدا محذوف دی ای هو مبني يا خبر بعدالخبر دی د الماضي لپاره په دې شان سره چې الماضي باعتبار الموصوف مبتدا ده او ما دل... الخ يې خبر اول دی او مبني يې خبر ثاني دی.

سوال: هر کله چې مصنف تعريف د ماضي وکړو نو پکار وه چې شروع يې کړې وی په تعريف د مضارع کې نو مبني الخ څه له وائي؟**جواب**: (۱) مخکې يې تعريف د ماضي وکړو او دا حکم د ماضي بيانوي (۲) يا مخکې تعريف بالمفهوم وو او دا تعريف بالعلامه دی.

سوال: ماضي مبني ولې ده او اصل په بناء بناء على السکون دی دا مبني على الحرکت ولې ده او بيا مبني على الفتحه ولې ده؟**جواب**: (۱) دا مبني ده د وجې د عدم وجود د علت د اعراب نه په دې کې چې هغه دوه دي معاني معتوره، مشابهت تامه د اسم معرب سره، ځکه دا نه فاعل واقع کيږي نه مفعول به، نه مضاف اليه او نه يې مشابهت تامه شته د اسم معرب سره، او مبني على الحرکة شوه نه على السکون د وجې د مشابهت د دې نه د مضارع سره په وقوع د دې کې موقع الاسم لکه زيد ضرب کې ضرب واقع دی په ځای د ضارب باندې په شان د زيد يضرب.

(۲) دا ځکه د وجې د مشابهت نه د مضارع سره په وقوع د دې کې شرط او جزاء (نحو ان ضربت ضربت) او مبني على الفتحه ده د وجې د خفت د فتحې نه

سوال: ته وايې چې مبني على الفتحه به وي نو دا قاعده ستا منقوضه شوه ضربت ضربتما الخ سره، دلته مبني على السكون ده او ضربوا كې مبني على الضمه ده؟
جواب: ماضي مبني على الفتحه راځي په دې شرط سره چې ضمير مرفوع متحرك او واو ضميري ورپورې نه وو متصل شوی او كه مرفوع متحرك ورپورې متصل شوی وو نو مبني على السكون به وی لپاره د دې چې لازم نه شي توالي د اربع حركات فيما هو كالكلمة الواحدة او كه واو ورپورې متصل شي نو مبني على الضمه به وي از براى مناسبت واو لان الواو شفوية والضمة ايضا شفوية
سوال: رمى فعل ماضي دی او ضمير مرفوع متحرك او واو ورپورې نه دی متصل شوی او مبنى على الفتحه نه ده؟ **جواب:** دا فتحه عامه ده كه لفظا وي او كه تقديرا وي، دلته تقديرا ده
سوال: ته وايې چې سره د واو نه به مبني على الضمه وي دا قاعده ستا منقوضه شوه په رموا باندې؟
جواب: دا ضمه عامه ده كه لفظا وي او كه تقديرا وي، دلته لفظا نشته ليكن تقديرا ده، او توصيف چې ضمير مرفوع سره وشو نو احتراز راغی د ضمير منصوب نه لكه ضربكَ شو دلته مبني على الفتحه ده ځكه نه لازميږي توالي د اربعه حركاتو فيما هو كالكلمة الواحدة، ځكه ضمير منصوب ځان له كلمه ده او متحرك سره يې احتراز وكړو د الف ضميري نه ځكه هلته هم مبني على الفتحه وي (نحو: ضربا ضربتا).

پس زده كړه دا خبره چې ماضي به خالي نه وي يا به ورپورې ضمير متصل شوی وي او يا به نه وي، كه نه وو متصل شوی نو مبني على الفتحه به وي (نحو: ضرب ضربت)، او كه متصل شوی وو نو بيا به خالي نه وي، يا به متحرك وي او يا به ساكن وي، كه متحرك وو نو مبني على السكون به وي (نحو: ضربت ضربتما الخ)، او كه ساكن وو نو بيا به خالي نه وي يا به الف وي او يا به واو وي، كه واو وو نو مبني على الضمه به وي نحو ضربوا او كه الف وو نو مبني على الفتحه به وي نحو ضربا ضربتما.

المضارع

ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د قسم اول د فعل اصطلاحي نه چې ماضي وو نو شروع يې وكړه په بيان د قسم ثاني د فعل اصطلاحي كې چې فعل مضارع ده او هر كله چې فعل مضارع اصل وه دا امر نه ځكه دا مشتق منه د امر حاضر دی نو مقدم يې كړو فعل مضارع په امر حاضر باندې نو وي
وپل: **المضارع** په مضارع كې لابدي ده د معرفة د امور عشرو نه: (۱) مفهوم لغوي (۲) مفهوم اصطلاحي (۳) وجه تسميه (۴) معرفت د علامه د مضارع (۵) معرفة د خاصه د مضارع چې هغه وقوع د فعل دي وروسته د لم نه (۶) معرفة د اقسام (۷) معرفة د حكم (۸) معرفة د عامل رافع د مضارع (۹) معرفة د عوامل ناصبه د مضارع (۱۰) معرفة د عوامل جازمه د مضارع (تلك عشرة كاملة).
نو مضارع په لغت كې: مشابه ته وائي او په اصطلاح كې **ما** فعل دی داسې فعل **اشبه الاسم** چې مشابه دی د اسم سره **باحد حروف نا يت** (۱) په سبب د زيادت د يو حرف د حروف نأيت نه په اول د مضارع

کې (۲) یا په حال کون د دې فعل مضارع کې چې دا متلبس دی په یو حرف د حروف د نأيت سره د
تبیلې د تلبس د کل نه په جزء باندې **لوقوعه** او مشابه دی د اسم سره د وجې د وقوع د دې فعل
مضارع نه **مشترکا** مشترك په مابين د حال او استقبال کې بنا په مذهب صحيح باندې په شان د اسم
چې واقع کيږي مشترك په مابين د معاني متعددو کې لکه عين شو **وتخصيصه بالسين** او د وجې د
تخصيص د مضارع نه په سين سره چې دا راځي د استقبال قريب لپاره **او سوف** يا سوف سره چې دا
راځي د استقبال بعيد لپاره، يا په حال پورې په لام ابتدائيه تاکيديه سره لکه اسم چې خاص کيږي د
معاني متعددو نه په يوه معنى پورې په واسطې د قرينې سره نحو رايت العين في راس زيد، دلته د
عين نه مراد سترګه ده نه بله معنى په قرينه د (في راس زيد)، او عدول وکړو مصنف د مشهور
تعريف د مضارع نه دې تعريف ته چې (ما اشبه الاسم الخ) دی، ځکه په دې تعريف سره وضاحت د
معرف هم راځي او وجه د تسميه هم معلوميږي په خلاف د باقي تعريفونو نه چې هغې سره وجه د
تسميه نه معلوميږي او مضارع ته مضارع ځکه وائي چې دا په لغت کې مشابه ته وائي ځکه دا
ماخوذ دی د مضارعت نه او مضارعت مشابهت ته وائي، يا دا ماخوذ دی د ضرع نه نو ګويا چې هر
واحد د دې شبيهين نه شوده څکلې دي، من ضرع واحد (يعنى ذواړه رضاعي وروڼه دي) او دا
مضارع اصطلاحي هم مشابه ده د اسم سره په اشتراك او تخصيص کې

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟
جواب: ربط د ماقبل سره دا دی چې مخکې نوع اول د فعل بيان شوه او دا نوع ثاني ده او په دې سره
غرض د مصنف هم معلوم شو چې بيان د نوع ثاني د فعل دی.

سوال: مضارع يې ولې مقدم کړو په امر حاضر باندې؟ **جواب:** فعل مضارع اصل وه د امر حاضر نه نو
ځکه يې مقدم کړو ځکه دا مشتق منه ده د امر لپاره او امر جوړيږي د مضارع نه.

سوال: (ما) په دې تعريف کې د څه نه عبارت دی؟ **جواب:** کلمه د (ما) په دې مقام کې عبارت دی د فعل
نه ځکه معتبر په تعريفات کې جنس قريب وي او جنس قريب د مضارع لپاره فعل دی او لفظ او شئ
اجناس بعيده دی (۲) يا عبارت دی د فعل نه ځکه فعل مقسم دی د ماضي مضارع امر لپاره او
مقسم معتبر وي په تعريفات د اقسام کې او په تنکير د فعل کې اشاره ده موصوفيت د ما ته (لانه
واقع في جانب الخبر)

سوال: (باحد حروف نأيت) جار مجرور دی او په اصطلاح د نحويانو کې ديته ظرف وائي او ظرف دوه
قسمه دی ظرف لغوه، ظرف مستقر، دا کوم يو دی؟

جواب: په دې کې دوه مذهبه دي يو مذهب د شارح جامي دی او بل مذهب د صاحب غاية التحقيق
دی، د صاحب د غاية التحقيق مذهب دا دی چې دا ظرف لغوه متعلق دی اشبه پورې او دا باء سببي
ده او عبارت په حذف د مضاف سره دی (فيكون المعنى اشبه الاسم بسبب زيادة احد حروف نأيت) او
شارح جامي وائي چې دا ظرف مستقر دی او متعلق يې محذوف دی چې متلبسا دی ځکه دا با د

تلبس لپاره ده او دا جار مجرور په اعتبار د متعلق سره حال دی د ضمیر د اشبه نه (فیکون المعنی المضارع ما اشبه الاسم حال کونه متلبسا باحد حروف نأیت)

سوال: دا فعل مضارع متلبس باحد حروف نأیت ولې ده؟ **جواب:** هر کله چې مضارع مخالف وه د ماضي نه معنی پس لابدي شوه د مخالفت د مضارع د ماضي نه لفظا هم د دې لپاره چې لفظ د مضارع موافق شي د معنی سره په مخالفت کې او مخالفت د مضارع د ماضي نه راځي په دوه طریقو سره: (۱) په طریقې د نقصان سره (۲) په طریقې د زیادت سره. لیکن مونږ دا مخالف ونه ګڼلو په نقصان سره لپاره د دې چې لازم نه شي نقصان د کلمه د قدر صالح نه پس متعین شو مخالفت د مضارع د ماضي نه په زیادت سره او متعین کړی شو د زیادت لپاره حروف د نایت ځکه دا حروف مده او حروف لین دی او دا اولی دی په زیادت سره د وجې د کثرت استعمال د دې نه په کلام د عرب کې الف بدل کړی شو همزې سره لپاره د دې چې ابتدا بالساکن رانه شي او واو بدل کړی شو په تاء سره لپاره د دې چې لازم نه شي اجتماع د ثلاثه واوات په مثال واوي کې په حالت د عطف کې (لکه یوجل شو، دلته یو واو فا کلمه ده او یو واو به د مضارع شي او بل به د عطف شي نو ووجل جوړیدو) لپاره د دې چې لازم نه شي مشابهت د صوت د ثعلب سره او زیاتي کړی شو حروف لین د وجې د مشابهت د دې نه د حرف علت سره په لینیت کې

سوال: حروف علامه د مضارع په اول سره د مضارع کې راځي په اخیر یا په مینځ کې ولې نه راځي؟

جواب: په مینځ کې یې نه ذکر کوو ځکه دا علامه ده او علامه په مینځ کې نه راځي بلکه اول یا اخیر کې راځي او اخیر کې نه راځي لپاره د دې چې لازم نه شي التباس د ماضي د مضارع سره نحو ضربت ضربنا، او لپاره د دې چې لازم نه شي التباس د مصدر مضاف الی یاء المتکلم نحو ضربی پس متعین شو زیادت د دې په اول سر د مضارع کې او دا حروف علامه د مضارع لکه څنګه چې جمع کولی شي په لفظ د نأیت سره نو دارنګې جمع کولی شي په لفظ د أتین او نأتی سره.

سوال: مصنف اتین لفظ ولې ذکر نه کړو چې نأیت یې ذکر کړو؟

(۲) یا عام صرفیان علامات د مضارع جمع کوي په اتین سره نه په نایت او ناتی سره نو مصنف ولې عدول وکړو د اتین نه نایت ته؟**جواب:** مصنف عدول کړی دی د اتین نه نایت ته لپاره د دې چې تفریق رانه شي په مابین د حرفین د تکلم کې چې همزه او نون دی.

او بل لپاره د دې چې تقدیم د حرف خطاب رانه شي په حرف غیبت باندې په خلاف د اتین نه هلته تفریق راغلی دی په مابین د حرفین د تکلم کې او تقدیم د حرف خطاب راغلی دی چې تاء دی په حرف غیبت باندې چې یاء دی، او دا خلاف دی د وجود خارجي نه ځکه غائب متوسط دی بین المتکلم والمخاطب نو نأیت کې یا راغلې ده په مینځ د حرف تکلم او حرف خطاب کې او مخاطب منتهی الیه د کلام وي او دا تاء لفظ په اخیر کې ذکر شو، لیکن ذکر کول د اتین وروستو د دې حروف نه مناسب دي د دې مقام سره لفظا او معنی هر چې دی لفظا نو د وجې د اشتمال د دې لفظ نه

دغه حروف اربعه ؤ لره او هر چي دی معنیٰ د وجې د صلاحيت د اتين نه صفت د حروفو لپاره يعني هغه حروف چې راځئ په اول سر د مضارع کې نو توصيف صحيح شو او هر چې دی نايت نو دا مناسب دی لفظا د وجې د اشتمال د دې لفظ نه حروف اربعه ؤ لره نه معنی د وجې د عدم صلاحيت د نايت نه صفت لپاره د حروف ځکه نايت ماخوذ دی د نأي نه او نائي بعد ته وائي نو توصيف د حروف نايت سره نه دی صحيح معنی.

سوال: مشهور تعريف د مضارع دا دی چې ما دل على زمان الحال والاستقبال (٢) ما دل على زمان يترقب (٣) المضارع ما في اوله احد حروف نايت او احد حروف اتين نو مصنف ولې عدول وکړو د تعريف مشهور نه غير مشهور ته؟ **جواب:** عدول يې کړی دی تعريف غير مشهور ته د يو نکتې د وجې نه هغه دا ده چې په دې تعريف سره دوه خبرې معلومې شوې معنی حقيقي د مضارع، وجه د تسميه په خلاف د دغه باقي تعريفونو نه چې په هغې سره معنی حقيقي معلوميده او وجه د تسميه نه معلوميده

سوال: مضارع اصطلاحي ته مضارع ولې وائي؟ **جواب:** ځکه مضارع په لغت کې مشابه ته وائي او دا مضارع اصطلاحي مشابه ده د اسم سره په اشتراك او تخصيص کې

سوال: ته وائي چې مضارع مشابه ده د اسم سره بوقوعه مشترکا نو مضارع خو مشترکه نه ده بين الحال والاستقبال بلکه دا مشترك فيه ده او حال او استقبال مشترك دی؟

جواب: دا عبارت په حذف د صلي سره دی ای مشترك فيه، او په مضارع کې درې مذاهب دي (١) يو مذهب د شيخ رضی دی هغه وائي چې دا حقيقت ده په استقبال کې او مجاز ده په حال کې

(٢) دويم مذهب د ابن طراده دی هغه يې بالعکس وائي

(٣) دريم مذهب د ابن حاجب دی، دی وائي چې مضارع مشترك ده بين الحال والاستقبال

او بالسين يې متلبس باللام ذکر کړو او سوف يې مجرد عن اللام ذکر کړو ځکه سين متنوع دی او سوف غير متنوع دی نو السين يې معرف باللام په الف لام عهدي خارجي سره ذکر کړو مراد د سين نه سين د استقبال دی ـ نه مطلق سين ـ او سين او سوف چې داخل شي په مضارع پورې نو خاص کوي يې په استقبال پورې خو فرق دومره دی چې سين دلالت په قرب کوي او سوف دلالت کوي په بعد باندې ځکه کثرت د حروف دلالت کوي په کثرت د مسافت باندې او سوف يضرب کې سويضرب هم جائز دی چې دا يو لغت دی په سوف کې

فالهمزة للمتكلم: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د تعريف د مضارع نه نو شروع يې وکړه په بيان د معاني د حروف مضارعت کې او هر کله چې ګردان د صيغو د مضارع شروع کيدو د صيغې د متکلم نه او ختميږي په صيغه د غائب باندې پس شروع يې وکړه د همزه د متکلم نه او رعايت يې ونه کړو د ترتيب د حروف نايت **فالهمزة** پس همزه د علامات د مضارع نه **للمتكلم** راځي د متکلم لپاره **مفردا** په حال د کون د دې متکلم کې چې مفرد يې واخلې بيا برابره خبره ده چې مذکر وي او که مؤنث وي نحو اضرب

والنون او نون د علامات د مضارع نه **له** د مفرد متكلم لپاره دى **مع غيره** سره د غير نه دا غير عام دى چې مذكر وي او كه مؤنث وي واحد وي كه تثنيه وي او كه جمع وي مثال لكه نضرب شو او دا همزه او نون د متكلم ماخوذ دى د انا او نحن ضمير مرفوع منفصل نه، «و اما قوله تعالى نحن نقص عليك»، دا نون مستعمل شوى دى په واحد متكلم كې تعظيما او اطلاق د واحد غائب او مخاطب په جمع باندې تعظيما نه دى راغلى په كلام د متقدمين كې **والتاء للمخاطب** او تا د علامات د مضارع نه راخې د مخاطب لپاره **مطلقا** برابره خبره ده چې واحد وي كه مثنى وي او كه مجموع وي مذكر وي او كه مؤنث وي نحو تضرب تضربان... الخ **وللمؤنث والمؤنثين غيبة** او دارنګې دا تا راخې د واحد مؤنث او تثنيه مؤنث لپاره په حال كون د دې واحد مؤنث او تثنيه مؤنث كې چې غائب يې واخلې

سوال: غيبة منصوب دى او منصوبات دولس دا كوم يو دى د هغې نه؟

جواب: دا منصوب دى بنا بر حاليت

سوال: د چا نه حال واقع شوى دى؟ **جواب:** د مؤنث او مؤنثين نه

سوال: حال محمول وي په ذو الحال او دلته حمل نه صحيح كيږي ځكه حمل د صرف وصف راخې په ذات باندې ځكه مؤنث او مؤنثين خو غيبت نه دى **جواب:** دا محمول دى په اعتبار د حذف د مضاف سره اى ذوى غيبة (۲): يا مصدر مبنى للفاعل دى اى غائبات. او دا غيبة نه تعبير كوو په غائبات جمع مؤنث سره په نظر سره معنى د مؤنث او مؤنثين نه او تثنيه مضاف يې مقدر راويستو ذوى غيبة په نظر سره لفظ د مؤنث او مؤنثين ته **والياء للغائب** او يا د علامات د مضارع نه وضع كړى شوې ده د غائب لپاره **غيرهما** داسې غائب چې غير دى د مؤنث او مؤنثين نه يا په حال كون د دې غائب كې چې غير دى د مؤنث او مؤنثين نه چې هغه څلور صيغې دي د دې مذكر غائب او يوه د جمع مؤنث غائبات

سوال: غيرهما مجرور بنا بر صفتيت او بنا بر بدليت دواړه نه دي صحيح ځكه الغائب معرفه باللام ده او غيرهما نكره ځكه غير د وجې د كمال توغل نه په ابهام كې نه معرفه كيږي په اضافت سره معرفي ته نو كله دا صفت شي نو مطابقت نشته په مابين د موصوف او صفت كې او كه بدل يې ووايې نو نكره چې بدل واقع شي د معرفې نه نو فالنعت نحو قوله تعالى «بالناصية، ناصية كاذبة» او دلته نعت نشته. **جواب:** (۱) دا صفت واقع شوى دى د للغائب لپاره او كه ته وائې چې مطابقت نه راخې نو جواب دا دى چې الف لام په الغائب كې زائد دى.

(۲): يا دا غيرهما بدل دى د الغائب نه او دغه قاعده په نكره محضه كې ده او دا نكره مخصصه ده تخصيص پكې راغلى دى د اضافت د وجې نه نحو قوله تعالى «خلقهن سبع سماوات» دلته سبع سماوات بدل دى د هن نه او توصيف يې نه دى شوى ځكه نكره مخصصه ده

(۳): يا غيرهما منصوب دى بنا بر حاليت او حال واقع شوى دى د الغائب نه او دا دريم تركيب غوره دى د تركيب اول او د ثاني نه لموافقته السابق چې هغه مفردا او غيبة دى. همزه د ابتدا د مخارجو نه ده او متكلم هغه دى چې د هغه نه ابتداء د كلام كيږي نو د دوى په مينځ كې مناسبت وو په ابتداء كې

نو همزه متکلم لره ورکړی شوه، او واو د انتهاء د مخارجو نه دی او مخاطب هغه ته وائي چې انتهاء د کلام ورته کيږي نو د دې مناسبت د وجې نه واو ورکړی شو مخاطب ته بيا واو بدل کړی شو په تاء سره لپاره د دې چې لازم نه شي اجتماع د ثلاث واوات په حالت د عطف کې په مضارع مخاطب مثال واوي کې او يا د وسط د مخارجو نه ده او غائب هغه چا ته وائي چې واقع شوی وي بين المتکلم والمخاطب نو د دې مناسبت د وجې نه ياء غائب لره ورکړی شوه واحده مؤنثه غائبه او تثنيه مؤنث غائبتين صيغې د غائب دي او علامه د مضارع ياء ورله نه ده ورکړی شوي بلکه تا ورکړی شوې ده ځکه په دې کې دوه اعتباره دي يو اعتبار د غيبت دی د دې سره مناسب يا ده لتناسبهما في التوسط او بل اعتبار د تانيث دی دا مناسب دی د تاء سره لتناسبهما في النوعية ځکه تانيث فرع د تذکير ده او تا فرع د واو ده او عمل په جهتين چې ممکن وي نو اعمال اولی دی د اهمال نه نو مونږ په دواړو جهتينو باندې عمل وکړو چې تا مو ورکړه واحد او تثنيه مؤنث ته او يا مو ورکړه جمع مؤنث ته لپاره د دې چې عمل راشي په جهتين باندې باقي پاتې شوه صيغه د متکلم مع الغير نو هغې لره نون ورکړی شو.

و حروف المضارع: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د ذات د حروف المضارعة نه نو شروع يې وکړه په صفات د حروف مضارعة کې. (۲): هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د امحله دهٔ حروف المضارعة نه نو شروع يې وکړه په بيان د حرکاتو د حروف مضارعة کې.

(۳): يا دا جمله مستانفه جواب د سوال دی ځکه هر کله چې بيان کړو مصنف امحله د حروف د مضارع اوس حروف المضارعة ساکن خو نه راځي بلکه متحرك راځي ځکه که ساکن راشي نو لازميږي ابتداء بالساکن، نو متحرك چې راځي نو کوم يو حرکت راځي په علامه د مضارع باندې نو مصنف جواب وکړو چې وحروف المضارعة الخ حروف مضارعة چې دا يو حرف دی د حروف اتين نه او راغلی دی په اول سر د مضارع کې **مضمومة** مضموم راځي **في الرباعي** په هغه افعالو کې چې ماضي د هغې مشتمل وي په څلورو حروفو باندې بيا برابره خبره ده چې اصلي وي لکه يدحرج او که اصلي نه وي لکه يکرم شو او ماضي علی اربعة احرف چې راځي هغه څلور بابونه دي: افعال، تفعيل، مفاعله، فعلل. **ومفتوحة** او علامه د مضارع مفتوح راځي **فيما** په هغه افعالو کې **سواه** چې سوا د رباعي نه وي چې هغه درې قسمه دی (۱): ثلاثي مجرد. (۲): ثلاثي مزيد فيه ما سوا د دې درې بابونو نه. (۳): رباعي مزيد فيه.

سوال: ته وائي چې حروف مضارعة مضموم راځي په رباعي کې دا قاعده ستا منقوضه شوه په يکرم سره دلته علامه د مضارع مضموم ده او دا رباعي نه دی بلکه ثلاثي مزيد دی ځکه رباعي هغې ته وائي چې حروف اصلي يې څلور وي او دلته حروف اصلي څلور نه دي دارنګې دا خبره ستا منقوضه شوه په يتدحرج سره د دې حروف اصلي څلور دي او حرف مضارعة يې مضموم نه دی؟

جواب: رباعي دوه قسمه دی لغوي، اصطلاحي. لغوي څلور حرفيز ته وائي او اصطلاحي هغې ته وايي چې حروف اصلي پکې څلور وي او دلته مراد د رباعي نه رباعي لغوي دی نه اصطلاحي يعنی

حروف مضارعة مضموم راځي په هغه فعل کې چې ماضي يې مشتمله وي على اربعة احرف او هغه
څلور بابونه دي كما مر په دې څلورو بابونو کې علامه د مضارع مضموم راځي او د دې نه علاوه هر
ځای کې مفتوح راځي
سوال: په دې کې مضموم او په غير کې مفتوح ولې راځي؟ **جواب:** د دې څلورو بابونو نه علاوه ثلاثي
مجرد کثير الاستعمال دی او ثلاثي مزيد او رباعي مزيد کثير الحروف دی نو کثرت استعمال او
کثرت د حروفو تقاضه د تخفيف کوي نو تخفيف ورته ورکړی شو په فتحې سره او دغه څلور نه کثير
الاستعمال دي په شان د مجردو او نه کثير الحروف دي په شان د باقي ثلاثي مزيد او رباعي مزيد نو
دا تقاضه د تخفيف نه کوي څکه علامه د مضارع مضموم راځي په دې کې. والله اعلم
ولا يعرب من الفعل غيره: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د تعريف د فعل مضارع نه نو شروع
يې وکړه په بيان د حکم د مضارع کې نو وې ويل (ولا يعرب الخ)
ترجمه: ولا يعرب نه شي معرب کولی **من الفعل** د جنس فعل نه **غيره** غير د مضارع نه د وجې د عدم
وجود د علت د اعراب نه په هغې کې چې هغه معاني معتوره او مشابهت تامه دي د اسم سره، او
معرب کولی شي فعل مضارع **اذا لم يتصل به** په دې شرط سره چې نه وي متصل شوی په دې مضارع
پورې **نون تاكيد** نو د تاکيد برابره خبره ده که نون تاکيد ثقيله وي او که خفيفه وي **ولا نون جمع مؤنث** او
نه نون د جمع مؤنث د وجې د وجود د علت د اعراب نه په دې کې چې هغه مشابهت تامه د فعل
مضارع دی د اسم فاعل سره او که نون تاکيد ثقيله يا خفيفه متصل شوی وو په اخير د مضارع پورې
نو په دې کې درې مذاهب دي
(۱) بعض وائي چې دا معرب دی مطلقا (۲) او بعض وائي چې دا مبني دی مطلقا
(۳) او بعض وائي چې دا نون به خالي نه وي يا به مباشر وي د فعل مضارع سره او يا به نه وي که
مباشر وو نو مبني و الا نو معرب كما قال ابن مالك رحمه الله. واعربوا مضارعا ان عريا

من نون تاكيد مباشر ومن — نون اناث كير عن من فتن

او مختار عند المصنف مذهب ثاني دی
تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟
جواب: ربط دا دی چې مخکې بيان د تعريف د مضارع وو او دا بيان د حکم د مضارع دی او غرض
د مصنف هم معلوم شو چې بيان د حکم مضارع دی
سوال: اذا ظرف لغوه دی متعلق دی په لايعرب پورې نو معنی دا شوه چې نه شي معرب کولی غير د
مضارع نه کله چې نه وي متصل شوی په دې غير د مضارع پورې نون تاکيد او دا معنی باطله ده
څکه غير د مضارع نه فعل ماضي او امر حاضر مطلقا مبني دي برابره خبره ده چې نون تاکيد
ورپورې متصل شوی وي او که نه وي نو دې تقيد ته څه حاجت نشته؟
جواب: اذا ظرف لغوه نه دی بلکه ظرف مستقر دی متعلق د دې محذوف دی فيکون التقدير ولا
يعرب من الفعل غيره ويعرب المضارع اذا لم يتصل به نون تاكيد.

سوال: په دې تقدير د يعرب باندې دليل څه دى؟

جواب: دليل په دې باندې دا دى چې د دې مصنف په کلام کې حصر دى ځکه غير په معنى د الاسره دى اى و لايعرب من الفعل الا المضارع او په کوم کلام کې چې حصر وي په هغې کې دوه نسبتونه وي يو نسبت ايجابي وي او دويم سلبي وي مذکور ته منطوق وائي او غير مذکور ته مفهوم وائي مذکور دلته نسبت سلبي دى او نسبت ايجابي مفهوم دى د حصر د کلام نه.

سوال: غير د مضارع نه ولې مبني دى؟

جواب: لعدم وجود علة الاعراب چې هغه معاني معتوره او مشابهت تامه دى.

سوال: اصل په افعال کې بنا ده نو فعل مضارع مجرد عن نون التاکيد ونون جمع المؤنث ولې معرب ده؟ **جواب:** لوجوده علة الاعراب چې هغه مشابهت تامه دى د اسم فاعل سره.

سوال: نون التاکيد چې متصل شي نو بيا مبني ولې ده؟ **جواب:** نون تاکيد د وجې د شدت اتصال نه ګرځيدلى دى په منزله د جز د کلمه باندې او چې متصل شي اعراب مخکې د دې نه نو لازميږي اجزاء د اعراب په وسط کې او که اعراب په نون تاکيد باندې راشي نو لازميږي اجراء د اعراب په کلمه اخرى کې او دا نه ده جائز نو پس د اتصال د نون تاکيد نه د اعراب لپاره ګنجائش پاتې نه شو هم دغه وجه ده چې د اتصال د نون تاکيد د وجې نه نون اعرابي حذف کيږي

سوال: نون د جمع مؤنث چې متصل شي په مضارع پورې نو دا مضارع ولې مبني ده؟

جواب: د اتصال د نون ضمير د جمع مؤنث د وجې نه لام کلمه د مضارع ساکن کيږي د وجې د مشابهت د دې نون نه د نون د جمع مؤنث د ماضي سره نو هر کله چې ساکن شو نو محل د اعراب پاتې نه شو او دا مضارع قابله د اعراب نه ده نو ځکه مبني شوه. او د دې عبارت د مصنف نه چې «ولا يعرب الخ» دى درې مسئلې معلومې شوې (۱): غير د مضارع نه ټول افعال مبني دي (۲): مضارع معرب ده. (۳): په دې شرط سره چې خالي وي د نون تاکيد او نون د جمع مؤنث نه، ليکن فعل ماضي مبني ده مطلقا بالاتفاق، او فعل مضارع چې خالي وي د نون تاکيد نه او د نون د جمع مؤنث نه معرب ده بالاتفاق. او فعل مضارع پورې چې نون د جمع مؤنث متصل شي دا هم مبني ده بالاتفاق، او په اخير د مضارع پورې چې نون د تاکيد متصل شي نو ديکې خلاف دى، درې مذاهب دي پکې: (۱): بعض وائي مبني ده مطلقا (۲): بعض وائي معرب ده مطلقا (۳): او بعض وائي که مباشر وو نو مبني د الافمعرب. او په امر حاضر کې خلاف دى عند البصريين مبني دى او عند الکوفيين معرب دى.

واعرابه رفع ونصب و جزم: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د حکم د مضارع نه چې دا معرب ده پس شروع يې وکړه په اعراب د مضارع کې. (۲): يا دا جمله مستانفه جواب د سوال دى ځکه هر کله چې مصنف ووېل چې دا معرب ده نو معترض اعتراض وکړو چې د معرب لپاره خو لابدي ده د اعراب نه د دې اعراب راته وښايه نو مصنف ووېل چې واعرابه رفع و نصب وجزم او جر په فعل مضارع کې نه راځي لپاره د دې چې لازم نه شي مزيت د اعراب د فعل مضارع په اعراب د اسم باندې.

پس زده کړه دا خبره چې نفس اعراب څلور قسمه دی: رفع، نصب، جر، جزم او اعراب بیا دوه قسمه دی: اعراب د اسم، اعراب د فعل مضارع اعراب د اسم درې قسمه دی: رفع، نصب، جر او اعراب د مضارع هم درې قسمه دی: رفع، نصب، جزم رفع او نصب مشترك دي او جر خاص دی په اسم پورې څکه جر اثر د حرف جر دی او حرف جر مختص وو په اسم پورې نو دا جر هم مختص شو په اسم پورې لپاره د دې چې لازم نه شي مخالفت په مابین د اثر او د مؤثر کسبي کې او جزم خاص دی په فعل پورې څکه دا اثر د عامل جازم دی او عامل جازم خاص دی په افعالو پورې نو دا هم خاص شو لپاره د دې چې لازم نه شي مخالف په مابین د اثر او مؤثر کسبي کې.

سوال: دخول د حرف جر ولې مختص دی په اسم پورې او دخول د جازم ولې مختص دی فعل پورې؟

جواب: د دې وجه تیره شوې ده په بیان د علاماتو داسم او د فعل کې.

فالصحیح:ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د اعراب د مضارع نه نو شروع یې وکړه په تقسیم د مضارع کې اقسام اربعه ؤ ته په اعتبار د اعراب سره.

ترجمه: فالصحیح: دلته یې اعراب لفظي او تقدیري دواړه بیان کړي دي څکه دا محصور دی په خلاف د اعراب لفظي او تقدیري د اسم نه چې هلته یې اعراب لفظي نه وو بیان کړی لعدم حصره دلته یې اعراب لفظي مقدم کړو لاصالته هلته تقدیري لقلته. فعل مضارع صحیح چې لام کلمه کې یې حرف علت نه دی راغلی داسې مضارع صحیح **المجرد** چې مجرد ده **عن ضمیر بارز مرفوع** د ضمیر بارز مرفوع نه **للتثنیة** چې هغه راځي د تثنیه لپاره بیا برابره خبره ده که مذکر وي او که مؤنث وي **والجمع** او د جمع لپاره او دا جمع عام ده که مذکر وي او که مؤنث وي **والمخاطب المؤنث** او د واحدې مؤنثې مخاطبې لپاره او دا څلور صیغې دي: یضرب، تضرب، اضرب، نضرب. دا معرب کولی شي **بالضمة** په ضمې سره په حالت رفعي کې **والفتحة** او په فتحې سره په حالت نصبي کې لفظا **والسکون** او په سکون سره په حالت جزمي کې **مثل یضرب** دا مرفوع بالضمه دی لفظا **ولن یضرب** دا منصوب بالفتحه دی لفظا **ولم یضرب** دا مجزوم دی په سکون او حذف د حرکت سره. **المجرد** سره یې احتراز وکړو د تثنیه او جمع مذکر نه جمع مؤنث او د واحد مؤنث مخاطب نه څکه د هغې حکم وروستو راروان دی او مرفوع سره یې احتراز وکړو د ضمیر منصوب نه نحو یضربك څکه اتصال د ضمیر منصوب چې راشي په اخر د مضارع پورې نو دا معرب کولی شي حالت رفعي کې ضمې سره په نصبي کې فتحې سره او جزمي کې سکون سره، او د صحیح نه مراد صحیح د نحویانو دی چې هغه لفظ ته وائي چې د هغې حرف اخیر حرف علة نه وي پس اعتراض وارد نه شو په یقول تقول اقول نقول سره، څکه دا صحیح نحوي دی د وجې د عدم کون د حرف اخیر د دې نه حرف علت **والمتصل به** او هغه فعل مضارع چې متصل شوی وي په اخیر دهغې پورې **ذلك** دغه ضمیر مرفوع متصل او دا اووه صیغې دي، څلور تثنیې او دوه جمعې او یوه واحده مؤنثه مخاطبه لکه تضربین شو او هر چې ده جمع مؤنث غائبات او مخاطبات هغه د قبیلې د مبنیات نه دی اعراب پکې نه راځي **بالنون** دا به په ثبوت د نون سره وي په

حالت رفعي کې **وحذفها** او په حذف د نون سره به وي په حالت نصبي او جزمي کې او حالت نصبي دلته تابع د حالت جزمي دی مثال لکه **يضربان يضربون وتضربين** مضارع مرفوع ده او علامه د رفع ثبوت د نون دی (لن يضربا، لن يضربوا، لن تضربي) کې مضارع منصوب ده او علامه د نصب حذف د نون دی (لم يضربا لم يضربوا لم يضربي) کې مجزوم ده او علامه د جزم حذف د نون دی.

سوال: عامل جازم چې داخل شي په تثنيه او جمع باندې نو نون ولې غورځوي؟

جواب: ځکه دا نون اعرابي په منزله د حرکت اعرابي دی په مفرد کې او عامل جازم چې داخل شي په مفرد نو حرکت غورځوي نو کله چې داخل شو په تثنيه او په جمع باندې نو په اخير کې يې حرکت ونه موندلو بلکه د هغې په ځای باندې نون راغلی وو نو دا يې وغورځولو.

سوال: عامل جازم چې داخل شي په مفردات کې نو حرکت غورځوي نو تثنيه او جمع کې يې نون وغورځوو ځکه دا قائم مقام د حرکت دی نو عامل ناصب چې داخل شي په تثنيه او جمع نو دا نون اعرابي ولې غورځوي او حال دا دی چې غورځول د لن کار نه دی ځکه که د دې کار غورځول وی نو د مفرد نه به يې حرکت غورځولی وی او فتحه به يې نه ورکولی؟

جواب: حملا للنواصب على الجوازم يعنى عامل ناصب محمول دی په عامل جازم باندې او عامل جازم خو نون غورځوو ځکه دا د دې عمل دی او عامل ناصب يې غورځوي حملا.

سوال: په مابين د محمول او محمول عليه کې لابدي وي د مناسبت نه دلته څه مناسبت دی؟

جواب: ځکه جزم په افعال کې په شان د جر دی په اسماؤ کې په اختصاص اختصاص کې او نصب تابع د جر وو په تثنيه او جمع د اسماؤ کې نو جزم دی دې نصب ته وائي چې ته به په تثنيه او جمع د افعال کې زما تابع يې ځکه زه د جر نه څه کم نه يم لکه څنګه چې هغه خاص وو په اسم پورې نو زه خاص يم په فعل پورې.

سوال: مضارع مرفوع په ثبوت د نون سره ولې ده؟ **جواب:** هر کله چې ضمير بارز مرفوع د مضارع سره متصل شو نو د وجې د شدت اتصال نه کالجزء وګرځيدو او اخير د مضارع وسط وګرځيدو او اعراب پکې ممتنع شو بيا د حرکت رفعي مفرد په عوض کې نون په اخير کې راوړی شو ځکه دا نون مشابه دی د رفع سره في الحذف في حالة الجزم.

سوال: اعراب پکې تقديرا ووايه لکه غلامي کې اخير د مضاف په وسط کې واقع دی او اعراب پکې تقديرا دی؟ **جواب:** قياس د دې په غلامي باندې قياس مع الفارق دی په دې شان سره چې هلته مضاف اليه جز لازم نه دی ځکه اعراب تقديرا شو.

سوال: دا حرکت اعرابي په واو الف او ياء کې ولې نه جاري کوي؟ **جواب:** په دې ضمير کې سکون واجب دی قابل د حرکت نه دی.

والمعتل بالواو او فعل مضارع چې معتل دی په واو سره يعنى معتل واوي لکه يدعو **والياء** او فعل مضارع چې معتل دی په ياء سره يعنى معتل يائي لکه يرمي شو **بالضمة تقديرا** په ضمې سره راځي په

حالت رفعي کې تقديرا ځکه چې ضمه ثقيله ده او واو او يا حرف علة ضعيفه دی برداشت د ضمې نه شي کولی **والفتحة لفظا** او فتحې سره راځي په حالت نصبي کې لفظا لکه لن يدعو ولن يرمي ځکه فتحه خفيفه ده **والحذف** او په حذف سره راځي په حالت جزمي کې لکه لم يدع لم يرم ځکه جازم چې داخل شي په مضارع باندې نو حرکت غورځوي او هر کله چې يې حرکت ونه موندو نو وې غورځوو هغه حرف علة چې حرکت د هغې د وجې نه نه دی راغلی **والمعتل بالالف** او مضارع معتل الفي **بالضمة** په ضمې سره راځي په حالت رفعي کې **والفتحة** او په فتحې سره حالت نصبي کې تقديرا لکه هو يرضى ويخشى ولن يرضى ولن يخشى ځکه الف ساکن وضعي دی قابل دحرکت نه دی حرکت عام دی که ثقيل وي او که خفيف وي او په حذف د الف سره راځي په حالت جزمي کې ځکه هر کله چې دې جازم حرکت ونه موندو نو الف يې حذف کړو ځکه حرکت نه دی راغلی د ده د وجې نه

ويرتفع اذا تجرد عن الناصب:ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د اعراب د مضارع نه نو شروع يې وکړه په بيان د عوامل د مضارع کې او عوامل د مضارع درې دي: رافع، ناصب، جازم اول بيانوي عامل رافع د مضارع او بيا عامل ناصب او عامل جازم بيانوي

ترجمه: ويرتفع او رفع قبلوي فعل مضارع **اذا تجرد عن الناصب** په هغه وقت کې چې نه وو موجود په دې کې عامل ناصب او عامل جازم برابره خبره ده چې عامل پکې دغه تجرد او خلوه ده لکه د امتبادر ده د عبارت د مصنف نه او دا مذهب د کوفيانو دی يا عامل پکې وقوع د مضارع ده په مقام د اسم کې لکه دا مذهب د بصريانو دی او د دې وقوع د وجې نه ورکړی شو فعل مضارع لره رفع ځکه دا اشرف او اقوی د اعراباتو د اسم نه دی لپاره د دې چې ترجيح بلا مرجح رانه شي

تشريح: فعل مضارع کله مرفوع راځي کله منصوب راځي او کله مجزوم راځي فعل مضارع مرفوع هله راځي چې خالي وي د عامل ناصب او د جازم نه اوس رافع د فعل مضارع څوك دی نو دې کې مذاهب اربعه دي: (۱): کسائي وائي چې رافع د فعل مضارع حروف المضارعة دي.

(۲): زجاج او ثعلب وائي چې رافع د فعل مضارع مشابهت د فعل مضارع دی د اسم فاعل سره

(۳): او بصريان وائي چې رافع د مضارع وقوع د مضارع ده په موضع د اسم کې نحو زيد يضرب دا يضرب واقع شوی دی په مقام د ضارب کې ځکه دا خبر د مبتدا دی او اصل په خبر کې مفرد دی او مررت برجل يضرب کې يضرب واقع دی په موضع د ضارب کې ځکه دا صفت د نکرې دی او اصل په صفت کې افراد دی.

سوال: هر کله چې فعل مضارع واقع شوه په مقام د اسم کې نو د دې وقوع د فعل مضارع نه په مقام د اسم کې خاص دا رفع ولې ورکړه فعل مضارع لره. نصب او جزم يې ولې ورنکړو؟

جواب: هر کله چې دا رفع اسبق او اشرف او اقوی او عمده د اعراباتو د اسم نه ده نو ورکړی شوه رفع لپاره د دې چې لازم نه شي ترجيح بلا مرجح

(۴): کوفیان وائي چې رافع د فعل مضارع خلوه او تجرد د فعل مضارع دی د ناصب او د جازم نه او مذهب د کوفیانو راجح دی د مذهب د کسائي، او زجاج او د بصریانو نه، ځکه مذهب د کسائي منقوض دی په لم یضرب، لم یضربا سره چې دلته حروف مضارعت شته او عمل د رفع یې نه دی کړی او مذهب د زجاج منقوض دی په (لو یطیعکم في کثیر من الأمر لعنتم) سره چې دلته مضارع بمعنی الماضي ده او مرفوع ده او مشابهت د دې د اسم سره نشته او مذهب د بصریانو منقوض دی په الذي یضرب، سیقوم، سوف یقوم، کاد زید یقوم، یقوم الزیدان سره په دې شان سره چې په دې مواضع خمسو کې مضارع مرفوع راغلې ده او دا نه ده واقع شوې په مقام د اسم باندې او بصریان د دې نه جواب کوي چې په الذي یضرب کې مضارع واقع ده په موضع د اسم کې ځکه دا اصل کې الذي ضارب هو وو، چې ضارب خبر مقدم او هو مبتدا مؤخره ده او یقوم الزیدان اصل کې قائمان الزیدان وو او سیقوم سوف یقوم مجموعه په معنی د قائم سره دی او کاد زید یقوم اصل کې کاد زید قائما وو بیا د مفرد نه عدول شوی دی صیغې د مضارع ته. بهر حال مذهب د کوفیانو غوره دی د مذهب د بصریانو نه ځکه د دوی مذهب بنا دی په تکلفات بعیده وو باندې او متبادر د عبارت د مصنف نه مذهب د کوفیانو دی ځکه (۱): تجرد یې ذکر کړی دی او عامل یې نه دی ذکر کړی نو معلومه شوه چې تجرد عامل دی. (۲): وروستو مصنف وائي وینتصب بان نو مدخول د باء یې عامل ګرځولی دی د هغې نه معلومه شوه چې مدخول د اذا عامل دی په قرینې د مقابلې سره، مثال د مضارع مرفوع لکه یقوم زید شو چې یقوم مضارع مرفوع ده کوفیان وائي دا مرفوع ده د وجې د تجرد د عامل ناصب او جازم نه او بصریان وائي (لوقوعه موقع الاسم) او کسائي وائي د یاء د وجې نه او زجاج وائي د وجې د مناسبت د یقوم نه د اسم سره.

وینتصب: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د عامل رافع د فعل مضارع نه نو شروع یې وکړه په عامل ناصب د فعل مضارع کې نو وې ویل **وینتصب** نصب قبلوي فعل مضارع **بان** په ان ناصبه مصدریه ملفوظه سره **ولن واذن و** کی او په لن اذن او کی سره **وبان مقدرة** او دا مضارع نصب قبلوي په ان سره (۱): په حال کون د دې کې چې دا مقدر واخلې (۲): داسې ان چې مقدر دی مقدرة یا منصوب دی بنا بر حالیت د ان نه، یا مجرور دی صفت د ان دی او ان ناصبه مصدریه مقدر کیږي **بعد حتی ولام کی ولام الجحود** وروستو د حتی لام کی او لام الجحود نه او لام جحود هغه لام جاره زائده دی چې راځي په خبر د کان منفیه کې لپاره د تاکید د نفي. مثال د حتی لکه (سرت حتی ادخلها) مثال د لام کی (سرت لادخلها) او مثال د لام الجحود نحو قوله تعالی (وما کان الله لیعذبهم) او د دې حتی او لام کی او لام الجحود نه وروستو ان مقدر کیږي او مضارع لره نصب ورکوي ځکه دا د حروف جاره ؤ نه دی او حروف جاره داخلیږي په اسم باندې اسم عام دی که حقیقة وي او که تاویلا وي او اسم تاویلي به هله شي چې ان مقدر شي او که ان مقدر نه شي او اسم تاویلي نه شي نو دخول د حرف جر راځي په فعل باندې او دا ممتنع دی **والفاء والواو** او ان مقدر کیږي وروستو د فاء عاطفه او واو عاطفه نه مثال د فا (ذرني فاکرمك) مثال د واو لکه (لاتاکل السمك وتشرب اللبن) ځکه دا واو او فاء عاطفه دي

واقع شوي دي وروستو د انشاء نه د دې نه وروستو په تقدير د ان سره مضارع لره نصب وركوو لپاره د دې چې عطف د مفرد تاويلي راشي په مفرد مفهومي باندې او كه ان مقدر نه شي نو عطف د جمله خبريه راځي په انشائيه باندې او دا نه دی جائز.

سوال: عطف د مفرد تاويلي په مفرد مفهومي باندې څنګه راځي؟

جواب: (ذرني فاكرمك) د دې معنی دا ده چې (ليكن زيارة منك فاكرام مني اياك) فاكرام مني عطف دی په زيارة نو عطف د مفرد په مفرد راغی. او د (لا تاكل السمك وتشرب اللبن) معنی دا ده چې (لا يكن منك اكل السمك وشرب اللبن معه) نو عطف د شرب اللبن راغلی دی په اكل السمك نو عطف د مفرد په مفرد راغی د ان د وجې نه **واؤ** او ان مقدر كيږي وروستو د او نه هغه او چې بمعنی الايا بمعنی الی دی، مثال لكه (لالزمنك او تعطيني حقي) او په معنی د الی سره دی يا بمعنی الا دی كه بمعنی الی سره شي نو دا د حروف جاره ؤ نه دی داخليږي په اسم باندې، اسم عام دی كه حقيقة وي او كه تاويلا وي او د او نه وروستو چې ان مقدر شي نو دخول د حرف جر راغی په اسم تاويلي باندې او كه مقدر نه شي نو دخول د حرف جر په فعل باندې راځي او دا نه دی جائز او كه او په معنی د الا سره شي نو دا ما بعد د الا مستثنی دی او مستثنی منه يې مقدر دی، او په مستثنی كې لابدي ده د اسميت نه چې استثناء د اسم د اسم نه راشي، اسم عام دی چې حقيقة وي او كه تاويلا وي د دې نه وروستو چې ان مقدر شي نو دا اسم شو استثناء د اسم د اسم نه راغله او كه مقدر نه شي نو استثناء د فعل د اسم نه راځي او دا نه ده جائز.

پس زده كړه دا خبره چې ان چې مقدر شي وروستو د يو امر د دې امور ستة ؤ نه نو مضارع لره نصب وركوي قياسا او اطرادا. او كه د دې نه علاوه بل ځای كې مقدر شوی وو نو هغه عمل د نصب په لفظ كې نه شي كولی قياسا او اطرادا كما في قول الشاعر:

تسمع بالمعيدی خير من ان تراه — وستعرف قدره ان فتح فاه

دلته تسمع بالمعيدی مبتدا ده په تاويل د مصدر سره ځكه په دې كې ان مقدر دی او دې ان تاثير په لفظ كې نه دی كړی ځكه دا يو د مواضع ستة ؤ نه ندی او خير من ان تراه خبر دی د مبتدا لپاره.

او كه ان مقدر شوی وو علاوه د دې مواضع ستة ؤ نه او عمل د نصب يې كړی وو نو دا به شاذ وي كما في قول الشاعر: الا ايهذا اللائمي احضر الوغى — وان اشهد اللذات هل انت مخلدي

فان: ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د عوامل ناصبه د مضارع نه اجمالا نو شروع يې وكړه په عوامل ناصبه د مضارع كې تفصيلا.

ترجمه: فان: س كلمه د ان ناصبه مصدريه ملفوظه چې داخله شوي وي په فعل مضارع باندې او عمل د نصب يې كړی وي لكه اريد ان تحسن الي او ان تصوموا خير لكم شو چې دلته ان داخل شوی دی په تحسن او عمل د نصب يې كړی دی بالفتحه او په تصوموا باندې داخل شوی دی او عمل د نصب يې كړی دی په حذف د نون سره نو تعدد د مثال بنا دی په تعدد د ممثل اول مثال د منصوب بالفتحه او

ثاني مثال د منصوب بحذف النون او د مصنف دا قاعده ده چې د ممثل نه مبتدا جوړ وي او د مثال نه خبر جوړ وي ځکه په دې مقام کې ان مراد اللفظ علم دی د هغه ان لپاره چې واقع کیږي په تراکیبو کې دا مبتدا ده او مثل الخ یې خبر دی ارید صیغه د واحد متکلم فعل مضارع معلوم ضمیر پکې مستتر دی هغه ورله فاعل دی او تحسن الي جمله په تاویل د مصدر سره مفعول به د ارید لپاره ای ارید احسانك الي او مفعول به اسم راځي حقیقة وي او که تاویلا وي او دلته اسم تاویلي دی. تصوموا فعل سره د فاعل نه جمله په تاویل د مصدر سره مبتدا او خیر لکم یې خبر دی ای صیامکم خیر لکم او مبتدا کې لابدي ده د اسمیت نه اسم عام دی چې حقیقة وي او که تاویلا وي دلته اسم تاویلي مبتدا واقع شوې ده.

والتي تقع بعد العلم: ربط: دا جمله مستانفه واقع شوې ده جواب د سوال، هر کله چې مصنف ووېل «وینتصب بان» مضارع منصوب کیږي په دخول د ان سره نو معترض اعتراض وکړو چې ته وائې چې ان داخل شي په مضارع نو مضارع لره نصب ورکوي دا قاعده ستا منقوضه شوه په، علم ان سیکون او ان لایرون او ان لایرجون، چې دلته ان داخل شوی دی په مضارع او عمل د نصب یې نه دی کړی نو مصنف جواب وکړو چې **والتي** هغه کلمه د ان **تقع** چې واقع کیږي **بعد العلم** وروستو د هغه افعالو نه چې دلالت کوي په یقین باندې **هي المخففة من المثقلة** دا ان مخفف دی د مثقل نه **ولیست هذه** او نه دی ان ناصبه مصدریه د وجې د منافات د ان ناصبه مصدریه نه د علم سره ځکه علم دلالت کوي په یقین باندې او ان مصدریه راځي لپاره د طمع او د رجاء او په مابین د دې کې منافات دی او ان مخفف من المثقل مناسب دی د علم سره ځکه علم هم دلالت کوي په یقین باندې او ان مخفف من المثقل هم دلالت کوي په یقین باندې مثال د ان مخفف من المثقل لکه **علمت ان سیقوم وان لا یقوم** په سیقوم او لا یقوم مضارع باندې ان داخل شوی دی او عمل د نصب یې نه دی کړی ځکه دا واقع دی وروستو د علم نه دارنګې په علم ان سیکون کې واقع دی وروستو د فعل قلب نه چې دلالت کوي په یقین باندې.

سوال: ته وائې چې «والتي تقع الخ» دا قاعده ستا منقوضه شوه په رایت ان سیقوم او وجدت ان سیقوم سره دا واقع دی وروستو د رایت او وجدت نه - نه وروستو د علمت نه او دا ان مخفف من المثقل دی او ته وایې چې وروستو د علم نه راشي نو ان مخفف من المثقل به وي **جواب:** دلته مراد د علم نه ماده د علم نه ده بلکه مراد هغه افعال قلوب دي چې دلالت کوي په یقین باندې.

سوال: علمت ان سیقوم وان لایقوم کې د ان او یقوم په مینځ کې دا فصل په سین او لا سره ولې راوستو علمت ان یقوم یې ولې ونه وئیلو سره د دې نه چې فرض منصبي د مصنف اختصار بما هو الاختصار دی؟ **جواب:** ان سیقوم او ان لایقوم یې ووېلو او ان یقوم یې ونه ویلو ځکه ان مخفف من المثقل چې پس د تخفیف نه داخل شي په فعل متصرف باندې نو لازم دی فصل په مینځ د فعل او ان کې په سین سوف حرف نفي یا لو سره لپاره د دې چې لازم نه شي التباس د ان مخفف من المثقل د ان ناصبه مصدریه سره نو کله چې فصل راغی نو موږ ته معلومه شوه چې دا ان مخفف من المثقل دی او ان ناصبه مصدریه نه دی.

والتي تقع بعد الظن: ربط: دا جمله مستانفه جواب د سوال دی څکه هر کله چې مصنف وویل چې (**والتي تقع بعد العلم هي المخففة**) نو معترض اعتراض وکړو چې دا ان چې کله واقع شي وروستو د هغه افعال قلوب نه چې هغه دلالت کوي په شك باندې نو دا کوم ان دی نو مصنف جواب وکړو چې **ففيها وجهان** ديکې دوه وجې روا دي: دا هم جائز دي چې دا ان مخفف من المثقل شي، او دا هم جائز دي چې دا ان ناصبه مصدريه شي که ان مخفف من المثقل شي نو ظننت ان سيقوم او ان لايقوم به وائي او که ان ناصبه مصدريه شي نو ظننت ان يقوم به وائي.

سوال: ان چې واقع شي وروستو د هغه افعال قلوب نه چې دلالت کوي په ظن باندې نو جواز د وجهين ولې دی؟ **جواب:** دغه افعال قلوب چې دلالت کوي په ظن دا ذو جهتين دی که دې ته ګورې چې دا افعال قلوب دلالت کوي په غلبه د وقوع په جانب راجح نو ان مخفف من المثقل ورسره مناسب دی څکه دا دلالت کوي په تحقيق باندې او که دېته ګورې چې دلالت نه کوي په تيتن باندې نو ان ناصبه مصدريه ورسره مناسب دی. **ولن مثل لن ابرح: ربط:** هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د مثال د ان ناصبه مصدريه نه نو شروع يې وکړه په بيان د لن ناصبه کې نو وې ويل (ولن الخ).

ترجمه: ولن مثال د لن چې داخل شوی دی په فعل مضارع او نصب يې ورکړی دی لکه لن شو په مثل د لن ابرح کې چې ابرح صيغه د مضارع ده او لن ورباندې داخل شوی دی او عمل د نصب يې کړی دی **ومعناها** او معنی د لن ناصبه **نفي المستقبل** نفي د مستقبل ده نه نفي د حال په طريقه د تاکيد سره لکه دا مذهب د جمهورو دی، (۲) او معنی د دې نفي د مستقبل ده په طريقه د تابيد سره لکه دا مذهب د معتزلو دی. (۳) يا معنی د دې نفي د مستقبل ده مطلقا برابره خبره ده چې په طريقه د تاکيد سره وي او که په طريقه د تابيد سره وي.

تشريح: په لن کې درې تحقيقه دي: يو په اعتبار د لفظ سره، دويم په اعتبار د معنی سره، دريم په اعتبار د عمل سره. تحقيق په اعتبار د لفظ سره دا دی چې لن اصل کې څنګه وو نو په دې کې مذاهب دي: (۱): فراء وائي چې لن اصل کې لا وو الف بدل شو په نون سره نو لن ترېنه جوړ شو څکه دا دواړه شريك دي په لينيت کې لکه نون تاکيد خفيفه بدليږي په الف سره په حالت د وقف کې نو دغسې دلته الف بدل شو په نون سره. (۲): خليل وائي دا اصل کې لاان وو بيا همزه حذف کړی شوه تخفيفا د وجې د کثرت استعمال نه بيا التقاء ساکنين راغله بين الالف واللام اول مده وو حذف شو نو لن شو په شان د ايش په اي شئ کې (۳): سيبويه وائي: چې دا کلمه موضوعه براسها ده نه اصل کې لا وو او نه لاان وو څکه دا حرف دی او اصل په حرف کې عدم تصرف دی.

او تحقيق په اعتبار د معنی سره دا دی چې لن داخليږي په فعل مضارع باندې بالاتفاق او د مضارع مثبت نه مستقبل منفي جوړوي بيا په دې کې مذاهب ثلاثه دي: (۱) معتزله وائي چې د مضارع مثبت نه مستقبل منفي جوړوي په طريقه د تابيد سره نحو قوله تعالى لَنْ تَرَانِي دلته نفي د رؤيت د الله کړې ده په طريقه د تابيد سره څکه دوی انکار کوي د ديدار الهي نه هم دنيا کې او هم اخرت کې

(۲): او جمهور وائي چې نفي کوي په طريقه د تاکيد سره نه په طريقه د تابيد سره، دليل د دوی لپاره دا قول د الله تعالى دی: ﴿فَلَنْ أَبْرَحَ الْأَرْضَ حَتَّىٰ يَأْذَنَ لِي أَبِي﴾ دلته نفي په طريقه د تاکيد سره شوې ده نه په طريقه د تابيد سره او که نفي په طريقه د تابيد سره شي نو لازميږي تناقض د صدر د کلام د عجز سره ځکه دا لن تقاضه د عدم د انتهاء کوي او حتى تقاضا د انتهاء کوي او د دې په مابين کې منافات دی او بعض وائي چې لن د مضارع مثبت نه مستقبل منفي جوړوي مطلقا او تاکيد او تابيد به معلوميږي د قرائن خارجيو نه.

او تحقيق په اعتبار د عمل سره دا دی چې دا لن يو حرف دی د حروف ناصبه ؤ نه داخليږي په فعل مضارع باندې نه په ماضي باندې. او په مضارع باندې چې داخل شي نو عمل د نصب کوي بلا قيد وشرط او دا نصب عام دی چې بالفتحه وي لکه (لن ابرح) او که منصوب په حذف د نون اعرابي سره وي نحو (لن يخرجوا) **واذن: ربط:** هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د مثال د لن ناصبه نه نو شروع يې وکړه په بيان د مثال او شرطونو د اذن ناصبه کې نو وې ويل وا ذن الخ

ترجمه: مثال د کلمه د اذن چې داخل شوی وي په فعل مضارع او عمل د نصب يې کړی وي لکه اذن تدخل الجنة شو په جواب د قول د هغه چا کې چې ووايي **اسلمت** او مضارع نصب قبلوي په دخول د اذن سره **اذا لم يعتمد** (۱) په دې شرط سره چې اعتماد نه وو راغلی **ما** د هغه مضارع **بعدها** چې وروستو د اذن نه راغلې ده **على ما** په هغه شي باندې **قبلها** چې مخکې د دې اذن نه راغلی دی يعنی دا ما بعد د اذن متمم او مکمل لپاره د ماقبل نوی او مابعد د اذن معمول د ماقبل نه وي بلکه مابعد د اذن ځان له مستقل کلام وي بيا اذن عمل د نصب کوي و الافلا ځکه اذن ضعيف العمل دی په مابعد کې عمل کوي او په ماقبل کې عمل نه شي کولی او هر کله چې ما بعد د اذن مکمل لپاره د ماقبل شو نو دا حکما مخکې شو. لپاره د دې چې لازم نه شي توارد د عاملين چې هغه اذن او ما قبل د اذن دی په معمول واحد باندې چې مضارع ده ځکه دا باطل دی. (۲): **وکان الفعل مستقبلا** دويم شرط دا دی چې دا فعل به مستقبل وي ځکه اذن راځي د جواب لپاره يا د جزا لپاره او جواب او جزا نه متحقق کيږي مګر په استقبال کې

(۳): او دريم شرط دا دی چې فصل به نه وي راغلی په مابين د اذن او فعل مستقبل کې ما سوی د قسم نه په بل يو شي سره لکه دا مذهب د ابن مالك صاحب دی، يا ما سوی د لا او د ندا نه بل شي سره لکه دا مذهب د بعض دی. يا فصل به نه وي راغلی په ماسوا د ظرف او جار مجرور سره او دا شرط ماتن نه دی ذکر کړی ځکه دا معلوميږي د مثال نه او اکتفاء بالمثال يې کړې ده.

تشريح: په اذن کې دوه تحقيقه دي: يو په اعتبار د لفظ سره، دويم په اعتبار د عمل سره
تحقيق په اعتبار د لفظ سره د ادی چې اذن کې دوه مذهبه دي: (۱): جمهور وائي چې دا حرف دی.
(۲): او بعض وائي چې دا اسم دی اذن اکرمك، اصل کې اذا جئتني اکرمك وو بيا جمله شرطيه حذف شوه او عوض کې يې تنوين راغلی نو اذن جوړ شو او ان مقدر کړی شو وروستو د دې نه نو مضارع منصوب وګرځيده او ځوک چې ورته حرف وائي. هغه بيا دوه ډلې دي:

(۱) بعض وائي دا بسيط دی يعنی مرکب د غير نه ندی
(۲) او بعض وائي دا مرکب دی د اذ او ان نه، څوك چي ورته بسيط وائي هغه بيا دوه ډلي دي
(۱) بعض وائي چي دا په خپله ناصب د مضارع دی (۲) او بعض وائي چي د دي نه وروستو ان مقدر دی او هغې عمل کړی دی والصحیح انها الناصبة
او تحقيق په اعتبار د عمل سره دا دی چي په عوامل ناصبه د مضارع کې ان کی او لن عمل د نصب کوي په مضارع کي بلا قيد و شرط او عمل د اذن د نصب په مضارع کې مشروط دی په شروط ثلاثه سره. **اول شرط:** دا فعل به مستقبل وي
دوهم شرط: دا اذن به د کلام په اول سر کي وي يعنی ما بعد د اذن به متمم د ماقبل نه وي او د اتمام صورتونه دري دي: (۱) چي مابعد د اذن خبر وي او ماقبل مبتدا وي نحو (انا اذن احسن اليك)
(۲) چي ماقبل قسم وي او مابعد جواب د قسم وي نحو (والله اذن لاضربنك)
(۳) چي مابعد جزاء وي او ماقبل شرط وي نحو (ان تاتني اذن احسن اليك)
دريم شرط: فصل به نه وي راغلی په مابين د اذن او فعل کي ما سوا د قسم نه، مثال د اذن چي عمل د نصب يې کړی وي او جامع د شروط ثلاثه وي لکه اذن تدخل الجنة شو په جواب د هغه چا کي چي اسلمت ووايي، اذن دلته جامع د شروطو ثلاثه ؤ دی ځکه تدخل فعل مستقبل دی ځکه دخول الی الجنة په استقبال کي راځي
او په اول د کلام کي دی يعنی متمم د ماقبل نه دی، نه خبر د مبتدا دی، نه جزاء د شرط، او نه جواب د قسم او فصل په اذن او مدخول د اذن کي نه دی راغلی، او که فعل مستقبل نه وو بلکه بمعنی الحال وو بيا اذن عمل د نصب نه کوي بلکه مضارع به مرفوع وائي نحو (اذن اظنك صادقا في جواب من قال انا احبك) او که اذن په اول سر د کلام کي نه وو راغلی بيا هم عمل نه کوي نحو (انا اذن احسن اليك والله اذن لاحسن اليك ان تاتني اذن احسن اليك) او که فصل راغلی وو په مابين د فعل او اذن کي ماسوا د قسم نه بيا هم عمل نه کوي نحو (اذن هم يقومون بالواجب في جواب من قال يجود الاغنياء بالمال في سبيل العلم)، ابن مالك فصل په مابين د اذن او فعل کي فقط په قسم سره مغتفر ګرځولی دی او بعض نحويانو فصل په لا او نداء سره هم مغتفر ګرځولی دی، او ابن عصفور فصل په ظرف او جار مجرور سره مغتفر ګرځولی دی، مجموعه شرطونه د اعمال د اذن او فواصل جائزه په مابين د اذن او په مدخول د اذن کي راغلی دی په دي قول د شاعر کي:

اعمل اذن اذا اتتك اولا ... وسقت فعلا بعدها مستقبلا
واحذر اذا اعملتها ان تفصلا ... الا بحلف او نداء او بلا
وافصل بظرف او بمجرور على ... رای ابن عصفور رئيس النبلا

سوال: اذن مبتدا ده او مثل اذن الخ مضاف مضاف اليه ورله خبر دی نو اذا لم يعتمد الخ په ترکيب کي څه واقع شوی دی؟ **جواب:** اذا ظرف دی متعلق دی په فعل معنوي پوري چي هغه مستفاد دی د

اذن نه ای ینتصب المضارع اذا لم یعتمد بیا فعل سره د فاعل ـ سره د متعلق نه جمله فعلیه معترضه واقع شوې ده بین المبتدا والخبر

سوال: جمله معترضه ذکر کولی شي په مابین د شیئین متلازمین کې د یو غرض لپاره نو دلته جمله معترضه ذکر ده بین المبتدا والخبر نو دا د څه لپاره ذکر کړې ده غرض یې څه دی؟

جواب: جمله معترضه یې ذکر کړې ده بین المبتدا والخبر لپاره د بیانولو د شروطو د عمل د اذن په شان سره اذن چې عمل د نصب کوی په مضارع کې دا مشروط دی په شروط ثلاثه ؤ سره کما مر.

سوال: دوه شرطونه دي ماتن بیان کړي دي نو دا دریم شرط یې ولې نه دی ذکر کړی؟

جواب: دریم شرط یې نه دی ذکر کړی ځکه دا معلومیږي د مثال نه نو اکتفاء بالمثال یې کړې ده.

سوال: ان او لن سره یې د مبتدا او خبر مینځ کې جمله معترضه نه ده ذکر کړې نو د اذن مبتدا او د خبر په مینځ کې یې ذکر کړه دا ولې؟ **جواب:** ان او لن سره د مبتدا او خبر مینځ کې جمله معترضه نه ده ذکر ځکه چې هغه عمل کوي په مضارع کې بلا قید و شرط په خلاف د اذن نه چې عمل د دې مشروط دی په شروط ثلاثه ؤ سره نو دلته یې جمله معترضه ذکر کړه لپاره د بیان د شروطو

واذا وقعت بعد الواو والفاء: ربط: دا هم جمله مستانفه ده واقع شوې ده جواب د سوال ځکه هر کله چې مصنف وویل چې اذن داخل شي په مستقبل او واقع شي په سر د کلام کې نو مضارع لره نصب ورکوي نو معترض اعتراض وکړو چې دا خبره ستا منقوضه ده په دې قول د الله سره چې وَإِذًا لَا يَلْبَثُونَ خِلَافَكَ دلته اذن داخل شوی دی په مضارع او په سر د کلام کې راغلی دی او عمل د نصب یې نه دی کړی نو مصنف جواب وکړو چې واذا وقعت کله چې واقع شي اذن وروستو د واو عاطفه او د فاء عاطفه نه **فالوجهان** نو دوه وجې جائز دي: (۱): نصب چې دا مضارع منصوب ووایې د وجې د ضعف اعتماد نه په حرف عطف باندې د وجې د استقلال د معطوف نه ځکه دا جمله ده.

(۲): او رفع جائز ده د وجې د اعتماد نه په عطف اگر چې ضعیف دی مثال د واو نحو قوله تعالی وَإِذًا لَا يَلْبَثُونَ خِلَافَكَ دلته واذن لایلبثوا هم جائز دی او مثال د فاء نحو قوله تعالی أَمْ لَهُمْ نَصِيبٌ مِنَ الْمُلْكِ فَإِذًا لَا يُؤْتُونَ النَّاسَ نَقِيرًا. د دې ځای نه معلومه شوه چې عمل د نصب وجوبا مشروط دی په شروط اربعه ؤ سره: (۱): مابعد به معتمد نه وي په ماقبل باندې (۲): مدخول د اسم به فعل مستقبل وي (۳): فصل به نه وي راغلی بین اذن و مدخوله (۴): اذن به وروسته د واو یا فا عاطفه نه نوي راغلی که راغلی وو بیا عمل د نصب وجوبا نه کوي بلکه جوازا کوي کما مر (فافهم).

وکی: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د مثال او د شرطونو د اذن نه نو شروع یې وکړه په مثال د کی کې نو وې ویل وکی الخ

ترجمه: مثال د کی چې هغه داخلیږي په مضارع باندې او مضارع لره نصب ورکوي لکه اسلمت کی ادخل الجنة شو په دې مثال کې ادخل صیغه د مضارع راغلې ده او دا منصوبه ده د وجې د دخول د

کي ناصبه نه **ومعناها** او معنی د کی ناصبه **السببية** سببیت دی په دې شان سره چې دا کی ګرځوي ماقبل سبب لپاره د مابعد لکه سببیت د اسلام شو د دخول الی الجنة لپاره په مثال مذکور کې.
سوال: اسلام خو سبب نه دی د دخول الی الجنة لپاره بلکه سبب لپاره د دخول الجنة رضا الهی ده نو نه څنګه وایې چې اسلام سبب دی د دخول الی الجنة لپاره؟ **جواب:** سبب دوه قسمه دی. یو سبب حقیقي دی او بل سبب مجازي ادعائي او عرفي دی نو سبب حقیقي د دخول الی الجنة لپاره رضا الهي ده او اسلام د دخول الی الجنة لپاره سبب مجازي سبب عرفي او سبب ادعائي دی. او په کی کې خلاف دی: (۱) کوفیان وائي چې دا بالذات عامل ناصب دی فعل مضارع لره او د دې نه وروستو ان نه دی مقدر دلیل په دې خبره باندې چې کی ناصب دی بنفسه او جاره نه دی دخول د لام دی په کی باندې په دې قول د الله تعالی کې لِكَيْ لَا يَكُونَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ ځکه چې یو حرف جر په بل حرف جر باندې نه داخليږي (۲) او بصریان وائي چې دا کی جاره دی او د دې نه وروستو مضارع منصوبه ده په تقدیر د ان سره، دلیل د بصریانو لپاره دخول د کی دی په ما استفهامیه باندې مثال لکه کیم شو ځکه کۀ دا کی ناصب د مضارع وی نو په اسم به نه داخلیدی او دا خو په اسم داخليږي نو معلومه شوه چې جاره دی او په مضارع چې داخل شي نو دا منصوبه ده په تقدیر د ان سره وروستو د دې نه لپاره د دې چې دخول د کی جاره راشي په اسم تاویلي باندې او مختار عند المصنف مذهب د کوفیانو دی، ځکه دۀ ګرځولی دی کی د عوامل ناصبه د فعل مضارع نه او جواب د دلیل د بصریانو نه دا دی چې کی دوه قسمه دی. یو کی ناصبه دی او بل کی جاره دی، کی ناصبه داخليږي په مضارع او مضارع لره نصب ورکوي او کی جاره داخليږي په اسم استفهام او هغې لره جر ورکوي او دلته مراد د کی نه کی ناصبه د مضارع دی نو دې سره یې احتراز وکړو د کی جاره نه.
تنبیه: اسلمت کی ادخل الجنة کې ادخل الجنة ویل پکار دي په صیغې د مجهول د باب افعال سره یعني اسلام مې راوړو دې لپاره چې زه داخل کړی شم جنت ته او صیغه د واحد متکلم مضارع معلوم د ثلاثي مجردو سره ویل نه دي پکار ځکه دخول الی الجنة د چا اختیار کې نشته.
وحتى اذا كان مستقبلا (ربط) هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د عوامل ناصبه د فعل مضارع نه پس شروع یې وکړه په بیان د تفصیل د هغه مواضع کې چې ان مقدر کیږي په هغې کې (عند البصريين اما عند الكوفيين دا حتی ناصب دی پخپله)، او مضارع لره نصب ورکوي قیاسا او اطرادا.
(ترکیب) حتى مبتدا مُثل اسلمت الخ مضاف مضاف الیه خبر د مبتدا **اذا** ظرف متعلق دی په فعل معنوي پورې چې هغه مستفاد دی د دې حتی نه چې هغه ینصب دی فعل مضارع سره د فاعل او د متعلق نه جمله خبریه فعلیه معترضه واقع شوې ده بین المبتدا والخبر لپاره د یو غرض چې هغه بیان د شروطو دی لپاره د تقدیر د ان وروستو د حتی نه.
(ترجمه) وحتى او کلمه د حتی چې نصب قبلوي فعل مضارع د حتی نه وروستو په تقدیر د ان سره **اذا كان مستقبلا** که چرې وو فعل مضارع چې واقع شوی وي وروستو د حتی نه مستقبل **بالنظر الى ما**

قبلها په نظر سره هغه شي ته چې هغه مخکې د حتی نه ذکر شوی دی، لپاره د حصول د معنی د ان او په نظر سره زماني د تکلم ته مستقبل وي او که نه وي، (۲) **بمعنی کی** په حال کون د دې حتی کې چې دا به په معنی د کی سره وي چې هغه راځي دپاره د سببیت د اول لپاره د مابعد (او الی) یا په معنی د الی سره وي هغه الی چې د انتهاء د غایه لپاره راځي لپاره د تاکید او تحقق د معنی د ان او یا به په معنی د الاسره وي او دا مصنف نه دی ذکر کړی د وجې د قلت نه او که مدخول د حتی مضارع په نظر سره ماقبل ته مستقبل نه وو بلکه حال وو نو بیا مضارع منصوب په تقدیر د ان سره نه ده جائز بلکه مضارع به مرفوع راځي او حتی به حتی ابتدائیه وي او که حتی په معنی د کی یا الی یا الاسره نه وو بیا د حتی نه بعد ان نه مقدر کیږي مثال د حتی چې په معنی د کی سره وي فقط او مابعد مستقبل وي حقیقة لکه **اسلمت حتی ادخل الجنة** شو په دې مثال کې ادخل فعل مضارع ده منصوب په تقدیر د ان سره وروستو د حتی نه ځکه حتی بمعنی کی دی او مدخول د حتی ادخل فعل مستقبل دی حقیقة ځکه دخول الی الجنة په زمانه استقبال کې راځي نه في الحال او دا حتی په معنی د الی سره نه دی ځکه اسلام د متکلم منتهي نه دی د دخول الی الجنة پورې بلکه لکه څنګه چې دی مخکې د دخول الی الجنة نه مسلمان وو نو وروستو به هم مسلمان وي

او مثال د حتی چې هغه په معنی د کی سره هم دی او په معنی د الی سره هم دی او مدخول د حتی مضارع مستقبل ده په نظر سره ماقبل ته نه په نظر سره زماني د تکلم ته لکه **وکنت سرت حتی ادخل البلد** په دې مثال کې ادخل مضارع منصوب ده په تقدیر د ان سره وروستو د حتی نه او د حتی مدخول فعل مضارع مستقبل دی په نظر سره ماقبل ته او په نظر سره زماني د تکلم ته دا احتمال لري چې ماضي ده او دا احتمال هم لري چې حال دی او دا احتمال هم لري چې مستقبل دی او حتی محتمل د احتمالین دی یا بمعنی کی دی یا په معنی د ابتهاء الغایة دی او مثال د حتی چې په معنی د الی سره دی فقط او مابعد د حتی مستقبل دی حقیقة لکه واسیر حتی تغیب الشمس شو په دې مثال کې تغیب مضارع منصوب ده په تقدیر د ان سره وروستو د حتی نه او مدخول د حتی مستقبل دی حقیقة او حتی په معنی د الی سره دی فقط نه په معنی د کی سره ځکه د اسیر د متکلم سبب نه دی لپاره د غیبوبیت د شمس بلکه نمر غائب کیږي په خپل وقت باندې که متکلم سیر کوي او که نه یې کوي، او مثال د حتی چې بمعنی الاوي او ان مقدر وي وروستو د هغې نه کقول الشاعر:

ليس العطاء من الفضول سماحة حتى تجود وما لديك قليل

فان اردت الحال (ربط) هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د هغه حتی نه چې د هغې نه وروستو ان مقدر کیږي او مضارع لره نصب ورکوي پس شروع یې وکړه په بیان د هغه حتی کې چې وروستو د هغې نه ان مقدر نه وي او مضارع منصوب نه وي وروستو د هغه حتی نه بلکه مرفوع وي

(۲) هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د حتی جاره نه چې د هغې نه وروستو ان مقدر کیږي نو شروع یې وکړه په بیان د حتی ابتدائیه کې چې د هغې نه وروستو ان نه مقدر کیږي

(ترجمه) **فان اردت** كه چرته تا اراده وكړه هغه فعل سره چې په هغې باندې داخل شوى دى حتى **الحال** زمانه حالي **تحقيقا** حقيقة په دې شان سره چې دا زمانه حالي بعينه زمانه د تكلم ده **او حكاية** يا په طريقه د حكايت سره په دې شان سره چې مدخول د حتى ماضي ده په وقت د تكلم كې ليكن اراده كړى شوې دى حكايت د هغې د حال د ماضي نه په وقت د تكلم كې **كانت حرف ابتداء** كيږي دا حتى حرف ابتدا نه حرف جر په دې شان سره چې مدخول د دې ځان له مستقل كلام دى او متمم او مكمل لپاره د ماقبل نه دى **فترفع** نو مرفوع كولى شي دا مضارع چې واقع ده وروستو د حتى نه د وجې د عدم وجود د ناصب او جازم نه. او ان ناصبه مصدريه نه دى مقدر وروستو د حتى نه ځكه هغه راځي د استقبال لپاره او دلته مدخول د حتى په معنى د حال سره دى نو ان ناصبه مصدريه منافي دى د زمانه حالي سره **وتجب السببية** او واجب دى سببيت د ماقبل لپاره د مابعد لپاره د حصول د اتصال معنوي اګر كه فوت شوى دى اتصال لفظي والا دا كيږي په شان د وضع د حجر په جنب د شجر كې مثال د حتى چې مدخول د هغې فعل مضارع دى په معنى د حال سره حقيقة او مضارع مرفوع راغلي ده لكه **مرض حتى لا يرجونه** شو دلته لا يرجون مضارع مرفوع ده په ثبوت د نون سره واقع شوې ده وروستو د حتى نه ځكه مضارع په معنى د حال سره ده حقيقة او حتى = حتى ابتدائيه او حتى استنافيه دى. دا مابعد ځان له مستقل كلام دى او ماقبل ځان له مستقل كلام دى ليكن مضمون د جمله اولى سبب دى لپاره د مضمون د جمله ثاني مثال د حتى چې د هغې نه وروستو مضارع راغلي وي په معنى د حال سره حكاية او دا مضارع مرفوع وي لكه سرت اليوم حتى ادخل البلد امس. دلته مضارع مرفوع ده او حتى ابتدائيه دى او مضارع بمعنى الحال ده حكاية نه حقيقة ځكه تا سير كړى دى پرون او داخل شوى يې كلي ته پرون ليكن قصد د اخبار دى كړى دى نن ورځ د حال د ماضي نه نو دا حتى ابتدائيه شو او مابعد ځان له مستقل كلام دى.

پس زده كړه دا خبره چې حتى درې قسمه ده: جاره، عاطفه، ابتدائيه. فرق دى په مابين د دې اقسام ثلاثه ؤ كې لفظا او معنى. فرق لفظي خو ظاهر دى چې د حتى جاره مدخول مجرور راځي كه چرې مفرد وو او مدخول د دې منصوب راځي په تقدير د ان سره كه چرې مضارع وو بمعنى الاستقبال او د حتى عاطفه مدخول په اعتبار د اعراب د معطوف عليه سره دى او د حتى ابتدائيه مدخول راځي جمله مستانفه، او فرق معنوي دا دى چې مدخول د حتى جاره درې قسمه راځي (۱) جز قويه د ماقبل (۲) جز ضعيفه د ماقبل (۳) جز ملاصق او مجاور د ماقبل او مدخول د حتى عاطفه دوه قسمه راځي جز قويه جز ضعيفه او جز ملاصق او مجاور نه راځي.

او مدخول د حتى ابتدائيه فعل ماضي راځي نحو قوله تعالى حَتّٰى عَادَ كَالْعُرْجُوْنِ الْقَدِيْمِ او فعل مضارع مرفوع راځي بمعنى الحال. يا مدخول د دې اسم مرفوع راځي او خبر به د هغې لپاره محذوف او مقدر راوباسي. مثال د دې درې واړه اقسامو د حتى لكه (اكلت السمكة حتى راسها) په دې مثال كې حتى محتمل د احتمالات ثلاثه ؤ دى (۱) دا احتمال هم شته چې حتى جاره دى بيا رأسها مجرور

دی (۲): یا حتی عاطفه دی نو رأسها منصوب دی ځکه عطف دی په السمکة او معطوف په اعراب د معطوف علیه سره وي (۳): دا احتمال هم شته چې دا حتی ابتدائیه دی نو راسها به مرفوع وائي بنا بر ابتدائیت او خبر به ورله محذوف رااوباسي، ای حتی رأسها ماکول ځکه د حتی ابتدائیه مدخول ځان له مستقل کلام وي متم او مکمل نه وي لپاره د ماقبل او دا به مستقل کلام هله جوړیږي چې راسها مبتدا محذوف الخبر شي والافلا، او فرق او امتیاز په مابین د دې اقسام ثلاثه ؤ کې متعسر دی په دې شرط سره چې د دې اقسام ثلاثه ؤ علامات ونه پیژندی شي او که علامات وپیژندی شي بیا متعسر نه دی د دې وجې نه فراء ویلي دي (اموت وفي قلبي من حتی لانها ترفع وتنصب وتجر)

ومن ثم امتنع الرفع الخ (رتط) هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د حتی ابتدائیه نه نو شروع یې وکړه په بیان د تفریع د مسائلو کې په حتی ابتدائیه باندې

(**ترجمه**) **ومن ثم** او د وجې د استئناف د مابعد د حتی ابتدائیه نه **امتنع الرفع** ممتنع دی رفع لوستل د مضارع په مابعد د حتی کې **في كان سيري حتی ادخلها** په دې مقوله ستا کې چې (کان سیری حتی ادخلها) دی **في الناقصة** په وقت د حصول د کان ناقصه کې ځکه لازمیږي وجود د کان ناقصه بلا خبر ځکه هر کله چې حتی ابتدائیه شو نو منقطع شو مابعد د ماقبل نه ځکه ما بعد ځان له مستقل کلام دی او د ماقبل لپاره په ترکیب کې څه نه دی واقع شوی نو دا کان ناقصه پاتې شو بلا خبر او دا محال دي او د وجې د سببیت د ماقبل نه لپاره د مابعد ممتنع دی، رفع لوستل په مضارع کې وروسته د حتی نه په دې مقوله ستا کې چې **اسرت حتی تدخلها** دی ځکه لازمیږي حکم په سبب باندې سره د شک نه په سبب باندې او دا باطل دی ځکه دا قاعده ده چې سبب او مسبب د جنس واحد نه وي په اعتبار د شك او یقین سره په دې شان سره که سبب شکي وو نو مسبب هم شکي وي او که سبب یقیني وي نو مسبب به هم یقیني وي او دلته سبب شکي دی چې دا فعل دی ځکه همزه داخله شوې ده په دې فعل باندې او حتی چې ابتدائیه شي نو مابعد ځان له مستقل کلام دی او یقیني ده وقوع د هغې نو لازم شو حکم په وقوع د مسبب سره د شك نه په وقوع د سبب کې او دا محال دی ځکه دا ترکیب ممتنع دی **وجاز** او جائز دی رفع لوستل په مضارع کې وروستو د حتی نه **في التامة** په وقت د تحقق د کان تامه کې لکه **كان سيري حتی ادخلها** ځکه دا کان تامه دی او د حتی نه مابعد ځان له مستقل کلام دی نو وجود د کان ناقصه بلا خبر نه لازمیږي او دارنګې جائز دی رفع لوستل په مضارع کې وروستو د حتی نه په **ايهم سار حتی ادخلها** کې ځکه لازمیږي حکم په وقوع د مسبب سره د شك نه په وقوع د سبب باندې ځکه مشکوك فیه دلته فاعل دی نه فعل بلکه فعل په دې مقام کې محقق دی.

سوال: دا به مونږ د څه نه معلوموو چې د متکلم شك په فعل کې دی که په فاعل کې دی که په مفعول به کې دی؟ **جواب:** کوم شی چې مسئول عنه د متکلم وي هغه مشکوك فیه وي او مسئول عنه د همزه ما یلي د همزه دی که د متکلم شك په فعل کې وو نو همزه به داخلوي په فعل باندې نو (اضربت زیدا) به وایي او که د متکلم شك په فاعل کې وو نو همزه به په فاعل باندې داخلوي او (اانت ضربت زیدا)

په وائي او که شك د متكلم په مفعول بـه كې وو نو همزه به په مفعول به باندې داخلوي نحو (ازيد ضربت) اسرت حتى تدخلها كې رفع لوستل د مضارع پس د حتى نه ممتنع وو څكه شك د متكلم په فعل كې دى څكه ما يلي د همزه دى او ايهم سار حتى يدخلها كې رفع لوستل جائز دي په مضارع كې وروستو د حتى نه څكه مسئول عنه فاعل دى او (ايهم سار حتى يدخلها) عطف دى په تقدير د جاز سره په جاز في التامة باندې نه په كان سيري حتى ادخلها باندې څكه كه ايهم سار حتى يدخلها عطف شي په (كان سيرى حتى ادخلها) باندې بيا تقييد د دې راځي په تامه سره څكه دا قاعده ده چې ماقبل د معطوف عليه نه واجب الاعاده وي په معطوف كې او (ايهم سار حتى يدخلها) چې عطف شي په (كان سيرى حتى ادخلها) باندې نو ماقبل جاز في التامة دى هغه به معاد كوې نو تقدير به دا شي وجاز في التامة ايهم سار حتى يدخلها او دا معنى باطله ده څكه دلته كان تامه نشته دى.

ولام كى (ربط) هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د مثال د تقدير د ان بعد حتى نه پس شروع يې وكړه په بيان د مثال د تقدير د ان كې وروستو د لام كى نه.

(ترجمه) ولام كى منصوب كيږي مضارع وروستو د لام كى نه په تقدير د ان سره د بصريانو په نزد باندې او كوفيان وائي دا مضارع منصوب ده په لام كى سره څكه دا قائم مقام د كى دى، مثال لكه اسلمت لادخل الجنة په دې مثال كې ادخل مضارع منصوب ده څكه دا لام لام كى دى او لام كى هغه لام ته وائي چې راځي بمعنى كى چې هغه سببيت د اول دى لپاره د ثاني لكه سببيت د اسلام شو لپاره د دخول الى الجنة په دې مثال كې

سوال: د لام كى نه وروستو ان ولې مقدر كيږي؟ **جواب:** لام كى د حروف جاره وو نه دى دخول د دې خاص دى په اسم پورې اسم عام دى چې صراحتا وي او كه تاويلا وي دلته ان مقدر كيږي د دې لپاره چې دخول د حرف جر راشي په اسم تاويلي باندې **ولام الجحود** او مضارع منصوب كيږي په تقدير د ان سره وروستو د لام الجحود نه عند البصريين او كوفيانو په نيز باندې دا ناصب دى پخپله او تقديم د معمول د فعل په دې باندې جائز دى خلافاً للبصريين او لام الجحود عند النحاة هغه لام جاره زائده ته وائي چې راځي زائده د تاكيد د نفي لپاره وروستو د كان منفيه نه او دا كان منفيه عام دى چې لفظا وي نحو ما كان الله ليعذبهم يا تقديرا وي (نحو لم يكن ليفعل) **او لام جحود** ته لام جحود څكه وائي چې جحود انكار ته وائي او دغه لام هم مستعمليږي په مقام د انكار كې.

سوال: [ما كان الله ليعذبهم] څه تركيب دى؟ **جواب:** (ما) نافيه (كان) فعل از افعال ناقصه (الله) اسم د كان (لام الجحود (يعذب) مضارع منصوب بتقدير ان بعد اللام څكه دا لام الجحود لام جاره دى او لام جاره داخليږي په اسم باندې اسم عام دى چې حقيقتا وي او كه تاويلا وي او د دې نه وروستو چې ان مقدر شو نو د مضارع نه اسم تاويلي جوړ شو نو دخول د حرف الجر راغلو په اسم تاويلي باندې والا دخول د حرف جر په فعل راځي او دا نه دي جائز (يعذب) كې ضمير مستتر راجع دى (الله) ته فاعل.

(هم) مفعول به فعل سره د فاعل او مفعول به نه جمله په تاويل د مصدر سره خبر د كان ګرځي
التقدير و ما كان الله تعذيبهم.
سوال: دا خو حمل د صرف وصف راغي په ذات باندې؟ **جواب:** (۱): دا محمول دی په اعتبار د حذف د مضاف سره په جانب د اسم کې (اي ما كان صفة الله تعذيبهم) (۲): بحذف المضاف في جانب الخبر اي (ما كان الله ذا تعذيبهم) (۳): مصدر مبني للفاعل دی ای (ما كان الله معذبهم)
(۴): فرق دی په مابين د شئ او مؤول بالشئ کې
سوال: د لام كي او لام الجحود په مينځ کې څه فرق دی؟ **جواب:** دې کې څلور فرقونه دي
(۱): لام كي دلالت كوي په تعليل باندې بخلاف لام الجحود (۲): په حذف د لام كي سره لازميږي فساد د معنی بخلاف لام الجحود چې د دې وجود او حذف دواړه يو شان دي ځکه دا زائد دی
(۳): تقدير د ان واجب دی وروستو د لام كي نه بخلاف لام الجحود
(۴): لام الجحود وروستو د كان منفيه نه راځي بخلاف لام كي
والفاء (ربط) هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د لام الجحود نه چې وروستو د هغې نه ان مقدر كيږي او مضارع لره نصب وركوي نو شروع يې وكړه په بيان د فاء كې تفصيلاً چې وروستو د هغې نه ان مقدر كيږي او مضارع لره نصب وركوي دا د بصريانو مذهب دی كوفيان وائي د دېنه وروسته مضارع منصوب على الخلاف دی ځکه جواب د دې مخالف دی د ماقبل نه
ابو عمر الجرمي وائي چې دا مضارع منصوب دی بالفاء ځکه دا خارج شوی دی د باب د عطف نه يعنی عاطفه نه دی بلکه دا فا ناصبه د فعل مضارع دی دا مذهب كمزوری دی ځکه که دا عطف لپاره نه وي په دې باندې به حرف عطف داخليده لکه واو القسم باب د عطف نه خارج شوی دی په هغې باندې حرف عطف داخليږي
(ترجمه) والفاء هغه فاء چې مضارع نصب قبلوي په تقدير د ان سره وروستو د هغې نه او دا تقدير د ان وروستو د فاء نه لپاره د انتصاب د مضارع مشروط **بشرطين** دی که دا دوه شرطونه موجود وو معانو ان مقدر كيږي وروستو د فاء نه او مضارع لره نصب وركوي و الافلا **احدهما** يو د دې شرطين نه **السببية** سببيت د ماقبل د فاء دی لپاره د مابعد. لپاره د دې چې دا تغير لفظي موافق شي د تغير معنوي سره او دا تغير لفظي دال شي په تغير معنوي باندې ځکه رفع اصل ده چې دا دلالت كوي په استقلال باندې او نصب خلاف الاصل دی ځکه دلالت كوي په عدم استقلال باندې نو كله چې متكلم عدول وكړو د اصل نه خلاف الاصل ته دا دلالت كوي په تغير معنوي باندې چې سببيت د اول دی لپاره د ثاني ځکه که دا سببيت د اول لپاره د ثاني مقصود د متكلم نه وی نو عدول به يې نه وی کړی د اصل نه خلاف الاصل ته **والثاني** او شرط ثاني **ان يكون قبلها** كيدل دی مخکې د فاء نه يو امر د امور ستة ؤ نه لپاره د بعد د معنی عطفي او لپاره د دفع د توهم د عطف په ذهن د مخاطب کې **امر** (۱) دا فاء عاطفه به راغلی وي وروستو د امر نه نحو زرني فاكرمك اي ليكن منك زيارة فاكرام مني عطف

د مفرد تاويلي راغی په مفرد مفهومي باندې نه عطف د جمله خبريه په انشائيه باندې **او نهي** (۲) يا په واقع وي وروستو د نهي نه (نحو لاتشتمني فاضربك اى لايكن منك شتم فضرب مني). **او استفهام** (۳) يا واقع وي وروستو د استفهام نه نحو (هل عندكم ماء فاشربه اى هل يكون منكم ماء فشرب مني) **او نفي** (۴) يا واقع وي وروستو د نفي نه نحو ما تأتينا فتحدثنا اى ليس منك اتيان فتحديث مني (**او تمن** (۵) يا واقع وي وروستو د تمني نه نحو (ليت لي مالا فانفقه اى ليت لي ثبوت مال فانفاق مني) **او عرض** (۲) يا وروستو د عرض نه نحو (الاتنزل بنا فتصيب خيرا اى لايكون منك نزول فاصابة خير مني) په دې مواضع سته ؤ کې په فاء کې معنی د سببيت مقصود ده چې سببيت د ماقبل دی لپاره د مابعد او دا ما بعد صيغه د مضارع په تاويل د مصدر سره عطف ده په مصدر اخر باندې چې مفهوميږي د ماقبل نه

سوال: فاء عاطفه چې واقع شي وروستو د يو امر د امور سته ؤ نه او د دې نه بعد ان مقدر شي نو ان او د مضارع نه مفرد جوړ وي نو دا خو عطف د مفرد راغي په جمله باندې او دا نه دی جائز

جواب: فاء عاطفه چې واقع شي وروستو د يو امر د امور سته ؤ نه نو مضارع منصوب راځي بتقدير ان نو ان د مضارع نه مصدر جوړ وي نو دغه مصدر مفرد په دې مخکې جمله باندې نه دی عطف بلکه عطف د مفرد تاويلي کوو په مفرد مفهومي باندې

سوال: ته وايې چې فا واقع شي وروستو د يو امر د امور سته ؤ نه نو وروستو د دې نه ان مقدر کيږي او مضارع لره نصب ورکوي، دا خبره ستا منقوضه شوه په اللهم اغفرلي فافوز ولا تواخذني فاهلك سره دلته د فا نه وروستو ان مقدر دی مضارع لره يې نصب ورکړی دی او دا فاء واقع نه ده وروستو د يو د امور سته ؤ نه ځکه اغفر او لاتواخذ د عاده نه امر او نهي دارنګې دا قاعده ستا منقوضه شوه په ﴿لَوۡلَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مَلَكٞ فَيَكُونَ مَعَهُۥ نَذِيرًا﴾ دلته فا نه ده واقع وروستو د يو امر د امور سته ؤ نه بلکه پس د لولا تحضيضيه نه ده او وروستو د دې نه ان مقدر دی عمل د نصب يې کړی دی دارنګې دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د الله جل جلاله سره ﴿لَّعَلِّيٓ أَبۡلُغُ ٱلۡأَسۡبَٰبَ ۝٣٦ أَسۡبَٰبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾ دلته مضارع منصوب ده په تقدير د ان سره وروستو د فاء نه او دا واقع ده وروستو د لعل نه نه د يو د امور سته ؤ نه، دارنګې دا قاعده ستا منقوضه شوه په (لو تاتيني فتحدثنا) سره دلته ان مقدر دی بعد الفاء او فا نه ده واقع وروستو د يو امر د امور سته ؤ نه. **جواب:** هر چې دی (اللهم اغفرلي فافوز) داخل دی په امر کې او ولا تواخذني فاهلك داخل دی په نهي کې ځکه اګر چې حقيقت کې دا امر او نهي نه دی خو صورت يې صورت د امر او نهي دی او لو لاتحضيضيه داخل دی په نفي کې او لعلي ابلغ الاسباب او لو تاتيني فتحدثني داخل دی په تمني کې ځکه لعل او لو دلته د تمني لپاره دی نه د ترجي او شرط لپاره

سوال: ته وائي د فا نه وروستو ان مقدر کيږي او مضارع لره نصب ورکوي په دې شرط سره چې واقع شي وروستو د يو امر د امور ستو نه دا قاعده منقوضه شوه بقول الشاعر:

ساترك منزلي لبني تميم والحق بالحجاز فاستريحا

دلته وروستو د فا نه ان مقدر دی نصب یې ورکړی دی فعل مضارع لره او دا فاء نه ده واقع شوې وروستو د یو امر د امور ستهٔ نه

جواب: هذا محمول على ضرورة الشعر ويجوز في الشعر ما لا يجوز في غيره

والواو (ربط) هر كله چې فارغ شو مصنف د بیان د فاء نه تفصیلا نو شروع یې وکړه په بیان د واو کې تفصیلا چې د هغې نه وروستو ان مقدر کیږي او مضارع لره نصب ورکوي

(ترجمه) **والواو** او ان مقدر کیږي وروستو د واو نه او مضارع لره نصب ورکوي **بشرطين** او دا تقدیر د ان وروستو د واو نه لپاره د انتصاب د مضارع مشروط دی په شرطین سره **الجمعية وان يكون قبلها مثل ذلك** الجمعية خبر د مبتدا دی ای الاول، او ان یکون الخ هم خبر د مبتدا دی چې الثاني دی، یعنې یو د هغه شرطین نه **الجمعية** جمعیت دی یعنی دا واو به بمعنی مع وي چې هغه مصاحبت د مابعد دی د ماقبل سره، سره د اتحاد د زمان او د مکان نه. او دویم شرط دا دی **ان یکون** چې وي به **قبلها** محکي د دې واو بمعنی مع نه **مثل ذلك** په شان د یو امر د امور ستهٔ مذکورو باندې یعنی دا واو بمعنی مع چې واقع شوی وي وروستو د یو امر د امور ستهٔ نه نو ان مقدر کیږي مضارع لره نصب ورکوي والا فلا لپاره د دې چې لازم نه شي عطف د جمله خبریه په جمله انشائیه باندې بلکه عطف د مفرد تاویلي به راشي په مفرد مفهومي باندې او مثالونه د واو بمعنی مع چې واقع وي وروستو د یو امر د امور مذکورونه او مضارع لره یې نصب ورکړی وي بعینه مثالونه د فاء دي صرف دومره فرق دی چې د فاء په ځای باندې واو راوړه نحو زرني واكرمك، لاتاكل السمك وتشرب اللبن الخ

واو: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د واو نه تفصیلا چې وروستو د هغې نه ان مقدر کیدو نو شروع یې وکړه په بیان د او کې چې وروستو د هغې نه ان مقدر کیږي او مضارع لره نصب ورکوي

ترجمه: واو: هغه او چې نصب قبلوي مضارع وروستو د دې نه په تقدیر د ان سره **بشرط** او دا تقدیر د ان وروستو د او نه لپاره د انتصاب د مضارع مشروط دی په یو شرط سره **معنی الی** هغه شرط دا دی چې وي به دا او بمعنی الی هغه الی چې داخل دی په ان مقدر باندې عند الجمهور

(۲): یا وي به دغه او بمعنی الاهغه الا چې داخل شوی دی په ان ناصبه مقدره باندې عند السيبويه مثال لکه (لالزمنك او تعطيني حقي) عند الجمهور تقدیر دا دی (لالزمنك الى اعطاءك حقي اياي) او عند السيبويه تقدیر دا دی (لالزمنك في كل وقت الاوقت اعطاءك حقي اياى) چې او بمعنی الا دی او مابعد جمله په تاویل د مفرد سره په اعتبار د حذف د مضاف سره مستثنی ده او مستثنی منه حذف ده چې في كل وقت دی او دا مستثنی متصل او مفرغ ده، او په نزد د جمهورو باندې او بمعنی الی دی او مابعد جمله په تاویل د مصدر سره مجرور د جار، جار سره د مجرور نه متعلق دی لالزمن پورې نو فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه شوه. **والعاطفة: ربط:** هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د تقدیر د ان نه وروستو د فاء او واو عاطفه نه نو شروع یې وکړه په بیان د تقدیر د ان کې وروستو د

مطلق حروف عاطفو نه والعاطفة يا مجرور دی او عطف دی په حتی باندې چې ذکر دی په جانب د اجمال کې په دې قول د مصنف کې وبان مقدر بعد حتی. دا اگر چې ابعد دی په اعتبار د لفظ سره د وجې د طول د مسافت نه بین المعطوف والمعطوف علیه لیکن اقرب دی باعتبار المعنی
(٢) یا والعاطفة مرفوع دی او عطف دی په اول د معدودات ناصبه بتقدیر ان باندې چې هغه دا قول د ماتن دی و حتی اذا کان مستقبلا او یا عطف دی په اخیر د معدودات ناصبه بتقدیر ان باندې چې هغه او بشرط معنی الی ان دی او الف لام په العاطفة کې الف لام جنسي دی نه عهد خارجي نو کیږي معنی دارنګې والعاطفة حروف عاطفه مطلقا برابره خبره ده چې د حروف عاطفه مذکورو نه وي او که د غیر مذکورو نه وي بې د شرط مذکورو نه مضارع منصوب کیږي په تقدیر د ان سره وروستو د دې مطلق حروف عاطفو نه **اذا كان المعطوف عليه اسما** په دې شرط سره چې که چرې وو معطوف علیه اسم صریحي نحو اعجبني ضربك و تشتم او فتشتم ثم تشتم لپاره د دې چې عطف د مفرد په مفرد باندې راشي او لازم نه شي عطف د جمله په مفرد ځکه دا نه دی جائز

تشریح: سوال: د العاطفة په اول سر کې واو راغلی دی دا تقاضه د معطوف علیه کوي د دې معطوف علیه راته وښایه؟ **جواب:** والعاطفة مجرور ځکه دی دا عطف دی په حتی باندې چې ذکر شوی دی په جانب د اجمال کې فیکون المعنی وبان مقدرة بعدها حتی والعاطفة

(٢) یا والعاطفة مرفوع دی عطف دی په حتی باندې چې ذکر شوی دی په جانب اول د تفصیل کې، یا عطف دی په او باندې چې ذکر شوی دی په جانب اخیر د تفصیل کې

سوال: والعاطفة چې مرفوع شي نو په جانب اول یا اخیر د تفصیل باندې یې ولې عطف کوې په وسط یې ولې نه عطف کوې؟ **جواب:** دا قاعده ده په عطف کې چې معطوف بالواو چې پس د معطوف علیه متعدد نه وو نو طریقې د عطف یې دوه دي یا یې په اول باندې عطف کوه ځکه اولیت د اسبابو د ترجیح نه دی یا یې په اخیر باندې عطف کوه د وجې د قرب نه (لان الحق للقریب ثم للبعید) او په وسط باندې به یې نه عطف کوې لپاره د دې چې لازم نه شي ترجیح بلا مرجح

سوال: العاطفة چې عطف شي په هغه حتی باندې چې مذکور دی في جانب الاجمال نو معطوف په حکم د معطوف علیه کې وي نو دا هم اجمال شو او اجمال تقاضا د تفصیل کوي نو مصنف خو تفصیل نه دی ذکر کړی او که دا عطف شي په هغه حتی چې ذکر شوی دی په جانب اول د تفصیل کې یا عطف شي په او باندې چې مذکور دی په جانب اخیر د تفصیل کې نو معطوف په حکم د معطوف علیه کې وي نو دا تفصیل شو تقاضا د اجمال کوي او اجمال خو مخکې نشته نو تفصیل څنګه کوې

(٢) او لازمیږي تناقض په مابین د کلام د مصنف کې د مخکې عبارت نه معلومه شوه چې دفاء او د واو نه وروستو ان مقدر کیږي دا مشروط دی په شرطین سره او دلته وائي چې دا مشروط دی په شرط واحد سره؟ **جواب:** والعاطفة مجرور دی عطف دی په هغه حتی چې مذکور دی په جانب د اجمال کې، او که ته وایې چې دا اجمال لپاره تفصیل پکار دی او تفصیل ماتن نه دی کړی نو جواب دا دی چې

تفصیل د هغه اجمال لپاره پکار دی چې محتاج وي تفصیل ته او دا داسې اجمال دی چې تفصیل ته محتاج نه دی ځکه دا ټول حروف د یو بل سره شریك دي په یو شرط کې چې هغه کون د معطوف علیه دی اسم صریحي نو دا تفصیل نه غواړي

(۲): یا العاطفة مرفوع دی او عطف دی په هغې حتی چې ذکر دی په جانب اول د تفصیل کې یا عطف دي په او چې ذکر دی په جانب اخیر د تفصیل کې او که ته وائې چې د دې دپاره اجمال پکار دی نو جواب دا دی چې حروف عاطفه دوه قسمه دي یو هغه دي چې ځان له ځان شرطونه غواړي لکه فاء، واو، او شو او دویم قسم هغه دی چې ځان ځان له شرطونه نه غواړي نو اجمال کې هغه شی ذکر کول پکار دي چې ځان له ځان له شرطونه نه غواړي لکه واو او فا، شو، او دا مطلق حروف عاطفه ځان له ځان له شرطونه نه غواړي بلکه دا ټول شریك دي په یو شرط کې چې کون د معطوف علیه دی اسم صریحي نو ځکه په اجمال کې ذکر نه کړی شو بلکه ذکر شو د تفصیل په اخیر کې او تناقض په مابین د کلامین د مصنف کې نشته ځکه شرط لپاره د تقدیر د ان وروستو د حروف عاطفو نه کون د معطوف علیه دی اسم صریحي بې د شروط مذکورو نه.

ويجوز اظهار ان مع لام كى: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د مواضع د تقدیر د ان نه نو شروع یې وکړه په بیان د مواضع د اظهار د ان کې وجوبا یا جوازا.

ترجمه: جائز دي ښکاره کول د ان ناصبه مصدریه سره د لام کی نه (نحو جئتك لتکرمني) وائي او (لان تکرمني) وائې دواړه جائز دي **والعاطفة** او سره د حروف عاطفو نه (نحو اعجبني قيامك وتذهب) وائې او که (اعجبني قيامك وان تذهب) وائې ځکه لام کی او حروف عاطفه داخلیږي په اسم صریحي باندې (نحو اعجبني ضرب زيد وغضبه) نو جائز دی اظهار د ان لپاره د دې چې واړوي مضارع لره اسم صریحي ته په خلاف د حتی او د لام الجحود او د او او د فاء او د واو نه چې وروستو د یو امر د امور سته ؤ نه راغلی وي هلته اظهار د ان جائز نه دی ځکه دا نه داخلیږي په اسم صریحي باندې بلکه داخلیږي په اسم تاویلي باندې **ويجب** او واجب دی اظهار د ان **مع لا** سره د لای نفي نه **في اللام** په وقت د دخول د لام جاره کې چې بمعنی کی دی **عليها** په دې لای نفي باندې لپاره د دې چې لازم نه شي توالي د لامین چې هغه لام کی او لام د لای نفي دی نحو قوله تعالی لِئَلَّا يَعْلَمَ أَهْلُ الْكِتَابِ

پس د دې ځای نه معلومه شوه چې ان ناصبه په اعتبار د اظهار او د تقدیر سره درې قسمه دی

(۱) واجب الاظهار (۲) جائز الاظهار (۳) ممتنع الاظهار

(۱): لام کی چې داخل شي په لای نفي باندې هغه لای نفي چې داخل شوی دی په فعل مضارع باندې نو بیا اظهار د ان واجب دی

(۲): او که لام کی داخل شوی نه وو په لای نفي باندې، او وروستو د حروف عاطفو نه چې عطف د مضارع په اسم صریحي راغلی دی په دې کې اظهار د ان جائز دی.

۳. او د دې نه علاوه په نورو کې ممتنع دی عند البصریین. اما د کوفیانو په نزد د حتی نه وروسته هم اظهار د ان جائز دی.

وینجزم: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د عوامل ناصبه د مضارع نه نو شروع یې وکړه په بیان د عوامل جازمه د مضارع کې نو وې ویل (وینجزم)

ترجمه: جزم قبلوي فعل مضارع **بلم ولما ولام الامر** په دخول دلم لما لام امر سره **ولا** او په دخول د لا سره داسې **لا في النهي** چې مستعمل شوی دی په نهې کې، في النهي جار مجرور په اعتبار د متعلق محذوف سره چې المستعمله دی صفت دی لپاره د لا او په دې سره یې احتراز وکړو د لای نفي نه ځکه هغه چې داخل شي په مضارع نو په معنی کې عمل کوي او په لفظ کې عمل نه کوي او دا کلمات اربعه جزم ورکوي فعل واحد لره **وکلم المجازات** او جزم قبلوي فعل مضارع په کلمة الشرط والجزاء سره او **تعبیر** یې وکړو په وکلم المجازات سره ځکه بعض اسماء دي او بعض حروف دي او دا جزم ورکوي فعل مضارع لره **وهي** او دا کلم المجازات **ان ومهما واذا ما و اذ ما وحیثما** ان مهما الخ دی او اذا وحیث جزم ورکوي مضارع لره سره د ما نه او بغیر د ما نه جزم نه ورکوي نحو اذ ما تاتني اکرمك، حیثما تجلس اجلس **واین و متی** بل د کلم المجازات نه این او متی دی او دا جزم ورکوي مضارع لره مطلقا برابره خبره ده که سره د ما نه وي او که بغیر د ما نه وي نحو این تذهب اذهب متی تخرج اخرج **وما** او بل د کلم المجازات نه ما دی نحو ما تصنع اصنع **ومن** او بل من دی نحو من یاتني اکرمه **وای** او بل اي دی نحو [ایا ما تدعوا فله الاسماء الحسنی] **وانی** او بل انی نحو انی تذهب اذهب **واما مع کیفما** او هر چې دی جزم قبلول د مضارع په کیفما سره او په **اذا** سره **فشاذ** دا شاذ دی او قلیل دی ځکه کیفما راځي لپاره د مساوات في جمیع الاحوال وفي جمیع الکیفیات او دا هر ځای کې نه شي کیدلی او هر چې دی اذا نو ځکه دا کلمات الشرط جزم ورکوي فعل مضارع لره د وجې د تضمن د دې کلمات الشرط نه معنی د ان شرطیه لره چې هغه وضع کړی شوی دی د شك او ابهام لپاره او اذا وضع شوی دی د یقین لپاره نو غالبا اذا نه راځي بمعنی ان ځکه په ما بین د شك او یقین کې منافات دی **وبان مقدرة** او جزم قبلوي فعل مضارع په ان سره په حال کون د دې ان کې چې مقدر دی یا داسې ان چې مقدر دی. **فلم: ربط:** هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د عوامل جازمه نه اجمالا نو شروع یې وکړه په عوامل جازمو کې تفصیلاً نو وې ویل (فلم) الخ

(ترکیب) فاء تفصیلیه **لم** مراد اللفظ علم دی لپاره د هغه لم چې واقع کیږي په تراکیب کې مبتدا او لقلب المضارع جار مجرور په اعتبار د متعلق محذوف سره چې موضوع دی خبر د مبتدا. مبتدا سره د خبر نه جمله خبریه اسمیه.

ترجمه: فلم پس لم د عوامل جازمه د فعل مضارع نه **لقلب المضارع** وضع کړی شوی دی لپاره د اړولو د مضارع **ماضیا** ماضي ته **ونفیه** او لپاره د نفي مضارع عند الجمهور

(۲): یا لپاره د نفي د ماضي په نزد د شارح جامي باندې

(تشريح) سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی، او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی او دا فاء په فلم الخ کې کومه فاءده؟

جواب: ربط د ادی چې مخکې اجمال وو او دا تفصيل دی او غرض د مصنف تفصيل د عوامل جازمه د فعل مضارع دی او په دې سره معنی د فاء هم معلومه شوه چې فاء په دې مقام کې تفصيليه ده.

سوال: فلم مبتدا ده او لقلب المضارع ورله خبر دی او په مبتدا کې لابدي وي د اسميت نه فعل او حرف مبتدا نه واقع کيږي او لم خو حرف دی نو دا څنګه مبتدا واقع شوې ده؟ **جواب:** دا لم په دې مقام کې مراد اللفظ علم دی د هغه لم لپاره چې واقع کيږي په تراکيب کې نو ځکه مبتدا واقع شوې ده.

سوال: ضمير د نفيه چا ته راجع دی؟ **جواب:** دا راجع دی مضارع ته عند الجمهور او شارح جامي ويلې دي چې دا راجع دی ماضي ته ځکه اصل په مرجع کې قرب د مرجع دی مثال لکه لم يضرب شو دا په معنی د ما ضرب سره دی نو لم يضرب مخکې د دخول د لم نه مضارع مثبت وو دلالت يې کوو په وجود د معنی مصدري در زمانه حال يا استقبال او کله چې لم داخل شو نو د دې نه يې ماضي منفي جوړه کړه دلالت کوي په عدم وجود د معنی مصدري در زمانه ګذشته د دې وجې نه دې لم ته حرف قلب هم وائي ځکه ذا مضارع اړوي ماضي ته او مثبت اړوي منفي ته

سوال: ذا خبره ستا منقوضه شوه بقوله تعالى ﴿فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا وَلَن تَفْعَلُوا﴾ په دې ايت کې لم داخل شوی دی په فعل مضارع باندې او مضارع يې په معنی د ماضي سره نه ده ګرځولې؟

جواب: په دې ايت کې چې په دې مضارع لم داخل شو نو د مضارع مثبت نه يې ماضي منفي جوړه کړه او کله چې په دې باندې ان شرطيه داخل شو نو هغه راخې د استقبال لپاره نو د ماضي نه يې مستقبل جوړ کړو. **ولما مثلها: ربط:** هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د معنی د لم جازمه نه نو شروع يې وکړه په بيان د لما جازمه کې په طريقه د تشبيه سره نو وې ويل ولما مثلها

ترجمه: لما جازمه جحديه په شان د کلمه د لم دی په قلب او نفي کې په دې شان سره لکه څنګه چې لم داخل شي په مضارع مثبت باندې نو د هغې نه ماضي منفي جوړوي دارنګې لما هم دی.

تشريح: سوال: ته وايې چې لما په شان د لم دی په قلب او نفي کې دا خبره ستا منقوضه شوه بقوله تعالى ﴿فلما ان جاء البشير﴾ چې دلته لما راغلی دی او په شان د لم نه دی ځکه لم داخليږي په مضارع او ذا داخل شوی دی په ماضي باندې او د نفي او د قلب لپاره هم نه دی راغلی.

جواب: لما او لا دوه قسمه دي اسمي، حرفي

اسمي بيا دوه قسمه دی: ظرفيه شرطيه بمعنى اذ، ذ هغې علامه دا ده چې دا داخليږي په ماضي باندې ماضي عام ده چې لفظا وي او که معنیً وي مثال لکه ﴿فَلَمَّا أَن جَاءَ الْبَشِيرُ﴾، وقول الشاعر

فلما ان جرى سمن عليها كما طينت بالفدن السياعا

(۲): بمعنی جمعا نحو قوله تعالی وَتَأْكُلُونَ التُّرَاثَ أَكْلًا لَّمًّا ای اکلا جمعا او لما حرفیه هم دوه قسمه دی (۱): بمعنی الانحو قوله تعالی إِن كُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ ای الاعلیها حافظ.
(۲): مرادف د لم جازمه جحدیه نحو لم یضرب وهو المراد ههنا او په لما ان جاء البشیر کې لما جحدیه نه دی بلکه ظرفیه شرطیه دی.

وتختص بالاستغراق: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د ما به الاشتراك نه په مابین د لم او لما کې نو شروع یې وکړه په مابه الامتیاز د لم او لما کې نو وې ویل **وتختص الخ.** مختص ده کلمه د لما **بالاستغراق** د انتفاء نه تر وقت د تکلم پورې نحو ندم فلان ولما ینفعه الندم په خلاف د لم نه چې دا کله په استغراق د ازمنه د ماضي پورې په دې شان سره چې دا نفي شامله ده تولو ازمنهٔ د ماضي لره د دلالت په استغراق باندې کوي نحو قوله تعالی لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ او کله نه کوي نحو ندم زید ولم ینفعه الندم. **وجواز حذف الفعل** دویم مختص دی لما په جواز د حذف د فعل پورې.
(۲): یا ممتاز دی لما د لم نه په جواز د حذف د فعل سره په دې شان سره چې حذف د فعل چې مدخول د لما دی جائز دی په وقت د وجود د قرینې د الی کې په تعین د محذوف باندې نحو شارفت المدینة ولما ای ولما ادخلها او حذف د فعل مدخول د لم نه دی جائز.

(تشریح): (ما به الاشتراك بین لم ولما)

(۱): لم داخلیږي فقط په فعل مضارع باندې نه په ماضي او امر حاضر او لما هم دغسې دی.
(۲): لم چې داخل شي په فعل مضارع عمل د جزم کوي لما هم عمل د جزم کوي په مضارع کې.
(۳): لم چې داخل شي په مضارع باندې نو ماضي منفي ترې جوړوي و لما کذلك.

(ما به الامتیاز در میان لم ولما)

(۱): لما د استغراق د نفي لپاره راځي بخلاف لم.
(۲): حذف د فعل مدخول د لما جائز دی په وقت د وجود د قرینه داله کې په تعین د محذوف باندې بخلاف لم. (۳): لما نفي د فعل متوقع کوي غالبا بخلاف لم.
(۴): لما فاصل نه واقع کیږي په مابین د حرف شرط او فعل شرط کې فلا یقال ان لما یضرب بخلاف لم چې دا واقع کیږي نحو قوله تعالی: فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا ځکه په لما کې حروف زیات دي دا فاصل قویه دی بین العامل والمعمول بخلاف لم په دې کې حروف کم دي نو فصل په دې سره کلا فصل دی.
(۵): لما اسمي راځي بخلاف لم. (۶): منفي د لما قریب وي حال ته غالبا بخلاف لم.
(۷): لم کله کله عمل د جزم نه کوي حملا علی لو بخلاف لما.
(۸): لم کله کله عمل د نصب کوي نحو الم نشرح علی قراءة بخلاف لما.

ولام الامر: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د لم او د لما جازمه نه نو شروع یې وکړه په بیان د لام الامر کې **ولام الامر** لام الامر په اصطلاح کې هغه لام دی **المطلوب بها** چې طلب کړی شوی دی په

استعانت د دغه لام سره **الفعل** وجود د معنی مصدري بيا عام دی چې په طريقه د استعلاء سره وي که په طريقه د مساوات سره وي او که په طريقه د خضوع سره وي نو لام الدعا پکې داخل شو نحوا ليغفر لنا الله] او اضافت د لام چې يې الامر ته وکړو نو په دې سره يې احتراز وکړو د باقي يوولس اقسامو د لام نه **وهي** او دا لام الامر **مكسورة** په کسرې سره راځي **ابدا** هميشه د عامو عربو په لغت کې اما فتحه د لام دا لغت د سليم قبيلې دی او کله کله لام الامر ساکن کولی شي د واو او فاء او ثم عاطفه نه وروستو چې راشي نحو قوله تعالى وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّوا فَلْيُصَلُّوا ثم ليقضوا ځکه دا واو او فاء چې کله متصل شي د لام امر سره نو د وجې د شدت اتصال نه دا د نفس کلمې نه وګرځېدل نو وګرځېدل دا په شان د کتف باندې او اسم چې په وزن د فعل باندې راشي نو سکون د عين پکې جائز دی دارنګې دلته ولې او فلي هم د کتف په شان دی نو ځکه دا لام ساکن کړی شو او ثم محمول دی په واو او فاء عاطفه باندې

سوال: لام الامر مسکور ولې راځي؟ **جواب:** لپاره د دې چې لازم نه شي التباس په مينځ د لام الامر او لام ابتدائيه کې ځکه هغه مفتوح راځي.

سوال: التباس خو په عکس سره هم دفع کيږي نو عکس يې ولې ونه کړو؟

جواب: عکس يې ونه کړو ځکه لام ابتدائيه تاکيديه کثير الاستعمال دی ځکه چې په اسم فعل او حرف درې واړو باندې داخليږي او کثرت استعمال تقاضه د تخفيف کوي نو تخفيف ورله ورکړی شو په فتحې سره په خلاف د لام الامر نه چې دا فقط په فعل باندې داخليږي نه په اسم او حرف باندې دا تقاضا د تخفيف نه کوي نو کسره ورله ورکړی شوه.

(۲): عکس يې ونه کړو ځکه لام الامر مشابه دی د لام جاره سره په اختصاص کې لام جاره خاص دی په اسم پورې او دا خاص دی په فعل پورې او لام جاره خو مکسور وي (نحو المال لزيد، الحمد لله) نو دا هم مکسور وګرځولی شو د دې مشابهت د وجې نه.

ولا النهي او لا: داسې لا چې مستعمل دی په نهي کې **المطلوب** چې مطلوب د متکلم **بها** په دغه لای نهي سره **الترك** ترک د فعل دی او دا داخليږي په ټولو انواعو د فعل مضارع باندې مضارع عامه ده چې مبني للفاعل وي او که مبني للمفعول وي، که متکلم وي که مخاطب وي او که غائب وي په خلاف د لام امر نه چې هغه په مضارع مخاطب معلوم باندې نه داخليږي ځکه د هغې فعل امر حاضر معلوم جوړ شوی دی او په فعل مضارع مخاطب مجهول باندې داخليږي او توصيف د لا چې يې النهي سره وکړو نو په دې سره يې احتراز وکړو د باقي اقسامو د لا نه ځکه ځينې په هغو کې نه داخليږي په فعل مضارع باندې او ځينې داخليږي خو عمل د جزم نه کوي لکه لای نفي شو.

سوال: د لای نفي او لای نهي په مينځ کې څه فرق دی؟ **جواب:** لای نفي داخليږي په ماضي او مضارع دواړو باندې او لای نهي داخليږي فقط په مضارع باندې.

(۲): لای نفي عمل نه کوي په لفظ کې او لای نهي عمل کوي په شان د لم.

(۲). لای نفي د قبیلې د اخبار نه دی دلالت کوي په اخبار د فعل در زمانه حال یا استقبال کما هو رای ابن مالك. او لای نهي د قبیلې د انشاءاتو نه دی دلالت کوي په طلب د ترك د فعل باندې.
وكلم المجازات او كلمات الشرط والجزاء **تدخل على الفعلين** داخليږي په جملتين فعليتين باندې غالبا ذکر د جز دی چې فعل دی او مراد ترینه کل دی چې جمله فعلیه ده.
لسببية الاول لپاره د سببيت د فعل اول **ومسببية الثاني** او لپاره د مسببيت د فعل ثاني يعنى گرځوي متکلم فعل اول لره سبب لپاره د فعل ثاني په كلم المجازات سره او دا سببيت عام دی که نفس الامري وي او که اعتباري وي لکه دا مذهب د جمهورو دی يا گرځوي ملزوميت د اول لپاره د ثاني لکه دا مذهب د شيخ رضي دی.
تشريح: سوال: نه وايې چې كلم المجازات گرځوي فعل اول لره سبب لپاره د ثاني دا خبره ستا منقوضه شوه په ان تشتمني اكرمك سره په دې شان سره چې شتم سبب نه دی لپاره د اكرام بلكه سبب د اهانت دی؟ **جواب:** سببيت عام دی که نفس الامري وي او که جعلي او اعتباري وي دا شتم اگر چې سبب نه دی لپاره د اكرام په واقع او نفس الامر کې ليکن دې متكلم سبب گرځولی دی د اكرام لپاره د اظهار د مكارم الاخلاق.
سوال: نه وايې چې كلم المجازات گرځوي فعل اول لره سبب لپاره د ثاني دا خبره ستا منقوضه شوه په دې تركيب سره ان تكرمني الان فقد اكرمتك امس وبقوله تعالى ﴿إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ﴾ وبقوله تعالى ﴿وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّن قَبْلِكَ﴾ په دې امثله مذكورو کې فعل اول سبب لپاره د ثاني نه دی او دا ثاني مرتب نه دی په مضمون د اول باندې؟
جواب: دلته دا مذكوره جزاء نه ده بلكه دا دال بالجزاء دی او علت دی د جزا محذوف لپاره او جزاء د شرط محذوف او مقدره ده فيكون التقدير: (ان تكرمني الان فقد اديت حقي لاني قد اكرمتك امس)، (وان تعذبهم فلا تظلم بشئ لانهم عبادك وان تغفر لهم فانك حقيق به لانك انت العزيز الحكيم)، (وان يكذبوك فاصبر) يا (فلا تحزن لانه قد كذب رسل من قبلك).
زده کړه دا خبره چې جزا په اعتبار د حذف سره درې قسمه ده: جائز الحذف، واجب الحذف، ممتنع الحذف. جزا حذف کولی شي وجوبا په دې شرط سره چې جملې متقدمې دلالت کولو په حذفيت د جزاء باندې نحو انت ظالم ان فعلت، بنا په مذهب د هغه چا باندې چې هغه تقديم د جزاء په شرط باندې جائز نه وائي لکه بصريان شو او که جمله متقدمه دليل په حذفيت د جزاء باندې موجود نه وو نو بيا به خالي نه وي يا به قرينه موجود وي په تعين د محذوف باندې او يا به نه وي، که قرينه داله په تعين د محذوف باندې موجود نه وه نو حذف د جزاء نه دی جائز نحو ان ضربت ضربت او که قرينه داله په تعين د محذوف باندې موجوده وه نو بيا جزاء حذف کولی شي جوازا. دا بيا په دوه قسمه ده: (۱): يو هغه ده چې جزا حذف کولی شي بې د سد مسد نه نحو قوله تعالى ﴿وَإِن كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ إِعْرَاضُهُمْ﴾ جزاء محذوف ده ای

فافعل، وقوله تعالى ﴿وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذْ وُقِفُوا۟ عَلَى ٱلنَّارِ﴾ جزاء محذوف ده اى لرايت امرا فظيعا وقوله تعالى ﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّقُوا۟ مَا بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَمَا خَلْفَكُمْ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾ جزاء محذوف ده اى (اعرضوا بدليل ما بعده)

او كله جزاء حذف كولى شي سره د سد مسد نه نحو قوله تعالى ﴿وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّن قَبْلِكَ﴾ جزاء د دې حذف شوې ده چې فاصبر دى يا لاتحزن دى او دا فقد كذبت دال بالجزاء دى او قائم دى په مقام د جزاء باندې وقول الشاعر

فان تفق الانام وانت فيهم — فان المسك بعض دم الغزال

(فان تفق الانام) شرط دى او جزاء د دې حذف شوې ده چې فلا تعجب دى او دا (فان المسك الخ) علت دى د جزاء محذوف او مقدر لپاره.

ويسميان شرطا و جزاء او مسمى كولى شي دغه فعلان چې واقع شوى دى ورزوستو د كلم المجازات نه په شرط او جزاء سره په دې شان سره چې فعل اول ته شرط وائي ځكه دا مشروط دى او موقوف عليه دى لپاره د تحقق د ثاني او فعل ثاني ته جزاء وائي ځكه دا مرتب دى او بنا دى په اول باندې په شان د ترتب د جزاء په فعل باندې او د منطقيانو په اصطلاح كې اول ته مقدم وائي لوقوعه مقدما في الكلام او ثاني ته تالي وائي لوقوعه ثانيا في الكلام

(١): او دا شرط او جزاء كله راځي ماضيين نحو قوله تعالى ﴿وَإِنْ عُدتُّمْ عُدْنَا﴾

(٢): او كله راځي مضارعيين نحو قوله تعالى ﴿وَإِن يَكُن مِّنكُمْ أَلْفٌ يَغْلِبُوٓا۟﴾

(٣): او كله راځي متخالفين په دې شان سره چې شرط ماضي ده او جزاء مضارع ده نحو قوله تعالى ﴿مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ﴾

(٤): او كله بالعكس راځي كقوله عليه السلام (**من يقم ليلة القدر ايمانا واحتسابا غفر له**).

فان كانا مضارعين: ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د مدخول د كلم المجازات او د بيان د معنى د كلم المجازات نه نو شروع يې وكړه په بيان د عمل د كلم المجازات كې **فان كانا** كه چېرې وو دا فعلان چې شرط او جزاء دي **مضارعين** دواړه مضارع وو نحو ان تضرب اضرب **او الاول** يا اول مضارع وو او ثاني ماضي وو نحو ان تضرب ضربتك **فالجزم** پس جزم واجب دى په مضارع كې د وجې د دخول د جازم نه او عامل جازم طلب د جزم كوي او مضارع قابل او صالح د جزم ده او مانع نشته

سوال: فعل شرط د پاره جازم كلمة الشرط دى د جزاء لپاره جازم څوك دى؟

جواب: دا مجزوم دى على الجوار اكثر بصريان وايي جازم په دې كې كلمة الشرط دى، (٢) بعضې بصريان وائي عامل په جزاء كې حرف شرط او فعل شرط دواړه دي، (٣) بعضې بصريان وايي په جزاء كې فعل شرط دى فقط، ابو عثمان مازني ويلې دي دا مبني على الوقف دى،

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه بقوله تعالى [فمن يومن بربه فلا يخاف بخسا ولا رهقا] دلته شرط او جزاء دواړه فعل مضارع دي او دې من شرطيه په جزاء د فعل مضارع كې عمل د جزم نه دى كړى؟

جواب: من شرطيه عمل نه دی کړی په جزاء کې د جزم د وجې د کمال انفصال نه په مابين د من شرطيه او د جزاء کې. (۲): يا فلا يخاف جزاء د شرط نه ده واقع شوې بلکه دا جمله خبر واقع شوې دی د ان محذوفه مع الاسم لپاره فيكون التقدير (فمن يؤمن بربه فانه لا يخاف بخسا ولا رهقا)، د دې وجې نه (فمن يؤمن بربه فلا يخاف بخسا ولا رهقا) کې عمل د جزم نه دی کړی عدم مجاورة د وجې نه.

سوال: هذا منقوض بقول عائشة رضي الله عنها، وانه (ابوبكر) متى يقوم مقامك لا يسمع الناس. لاعتذار لابيها عن امامته المسلمين في الصلاة؟

جواب: اهمال متى ههنا حملاً على اذا كاعمال اذا حملاً على متى في قول الشاعر: واذا تصبك خصاصة فتجمل، فافهم.

وان كان الثاني او که چېرې وو فعل ثاني چې جزاء ده فعل مضارع او شرط فعل ماضي وو نحو ان ضربت اضرب **فالوجهان** په دې کې دوه وجې جائز دي: (۱): جزم د وجې د عدم وجود د مانع د عمل نه ځکه جزاء فعل مضارع ده او دا صالحه او قابله د عمل ده.

(۲): رفع جائز ده د وجې د ضعف د تعلق د جزاء نه د جازم سره ځکه فصل راغلی دی په مابين د جازم او مضارع کې په فعل ماضي سره او دې ان حرف شرط په دې فعل ماضي کې عمل نه دی کړی لهذا په مضارع کې يې عمل ونه کړو او که شرط او جزاء دواړه فعل ماضي وو نو بيا ممتنع الجزم دی حرف شرط په دې کې عمل د جزم نه شي کولی.

او په عامل د شرط او جزاء کې مذاهب خمسه دي:

(۱): سيرافي وائي په شرط او جزاء دواړو کې حرف شرط عامل دی لکه ابتداء چې عامل دی په مبتدا کې او خبر دواړو کې. (۲): خليل او مبرد وائي چې حرف شرط عامل دی په شرط کې او بيا دا دواړه عامل دی په جزاء کې لکه ابتداء عامل دی مبتدا کې او مبتدا او ابتداء دواړه عامل دي په خبر کې.

(۳): اخفش وائي چې جازم د شرط حرف شرط دی او جازم د جزاء شرط دی لکه ابتداء عامل دی مبتداء او مبتدا عامل دی په خبر کې.

(۴): او کوفيان وائي چې شرط مجزوم دی د ادات الشرط د وجې نه او جزاء مجزوم ده د مجاورت د وجې نه دېته جزم الجوار وائي په شان د جر الجوار باندې في قوله عليه السلام (من ملك ذا رحم محرم عتق عليه).

(۵): مازني وائي شرط او جزاء دواړه مبني على السكون دي ځکه دا دواړه مشابه دي د امر حاضر معلوم سره په عدم وقوع موضع الاسم کې.

واذا كان الجزاء ماضيا بغير قد غالبا په جزاء د شرط کې فاء جزائيه راځي او دا جزاء په اعتبار د فاء سره درې قسمه ده: (۱) جائز الفاء. (۲) واجب الفاء. (۳) ممتنع الفاء.

اوس واجب الفاء کوم ځای ده جائز الفاء کوم ځای ده او ممتنع الفاء کوم ځای ده نو مصنف د هغې مواضع بيانوي: **واذا كان الجزاء ماضيا** که چرې وه جزاء د شرط فعل ماضي متصرف او په مقام د دعا کې نه وه واقع شوې **لفظا او معنا** تفصيل د ماضي دی، دا ماضي عامه ده که لفظا وي او که معنی وي

ماضي لفظا لکه صیغه د ماضي شوه نحو ان خرجت خرجت، او ماضي معنی هغې ته وائي چې په صیغه د مضارع باندې لم او لما داخل شوی وي نحو ان خرجت لم اخرج
(۲): او دا احتمال هم شته چې لفظا او معنی تفصیل د قد دی په دې شان سره چې دا جزاء د شرط ماضي وي بغیر د قد نه دا قد عام دی که لفظا وي نحو قوله تعالی: إِن يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَّهُ مِن قَبْلُ یا تقدیرا وي نحو قوله تعالی: إِن كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِن قُبُلٍ فَصَدَقَتْ ای فقد صدقت. **لم یجز الفاء** بیا جائز نه دی فاء راوړل په جزاء د دې شرط کې د وجې د کمال تاثیر د ادوات د شرط نه په مابین د جملتین کې چې هغه نقل د ماضي دی مضارع ته بل رابط ته ضرورت نشته او که دا ماضي متصرفه نه وه بلکه غیر متصرفه وه یا متصرفه وه خو خالي نه وي د قد نه بلکه قد پکې راغلی وو لفظا یا تقدیراً یا خالي د قد نه هم وه خو مستعمل شوې ده په مقام د دعا کې بیا فاء جزائیه راوړل لازم دي په جزاء د شرط کې نحو ان اکرمتني فجزاك الله. **وان كان مضارعا مثبتا** او که چرې جزاء فعل مضارع مثبته وه خالي وه د سین او د سوف نه **او منفيا بلا** یا منفي وه په لای نفي سره نو دې سره یې احتراز وکړو د فعل مضارع منفي بلم نه ځکه د هغې حکم مخکې تیر شو دی او احتراز یې وکړو د مضارع منفي بلن نه د هغې حکم وروستو راروان دی **فالوجهان** بیا دوه وجې روا دي په جزاء د دې شرط کې یعنې فاء جزائیه راوړل هم جائز دي او نه راوړل هم جائز دي که دېته ګورې چې ان شرطیه تاثیر کړی دی چې فعل مضارع یې خاص کړې ده استقبال پورې نو بیا فاء جزائیه مه راوړه او که دېته ګورې چې ان شرطیه کامل تاثیر نه دی کړی بیا فاء جزائیه راوړه مثال د اول چې جزاء فعل مضارع مثبته واقع شوې دی او فاء جزائیه نه ده راغلې نحو قوله تعالی [وان یکن منکم مائة یغلبوا] او مثال د مضارع مثبت چې فاء جزائیه پکې راغلې وي نحو قوله تعالی [ومن عاد فینتقم الله] مثال د فعل مضارع منفي بلا چې جزاء واقع شوې ده او فاء جزائیه پکې راغلې وي قوله تعالی: فَمَن يُؤْمِن بِرَبِّهِ فَلَا يَخَافُ بَخْسًا وَلَا رَهَقًا.
والا او که چرته جزاء فعل ماضي او مضارع مذکورین نه وو **فالفاء** بیا فاء جزائیه راوړل لازم دي په جزاء د دې شرط کې د وجې د عدم تاثیر د حرف شرط نه په جزاء کې. او د الاصور تونه لس دي: (۱) چې جزاء د شرط امر وي. (۲): نهي. (۳): مضارع منفي بلن. (۴): مضارع منفي بما. (۵): مضارع مثبت سره د سین او سوف نه. (۶): ماضي غیر متصرف. (۷): ماضي متصرف سره د قد نه لفظا یا تقدیرا. (۸): ماضي متصرف خالي د قد نه لفظا او تقدیرا چې مستعمل شوی دی په مقام د دعا کې (۹): استفهام. (۱۰): جمله اسمیه په دې کې فاء جزائیه لازم ده د جزاء سره.
سوال: ته وایې چې جمله اسمیه چې جزاء د شرط واقع شي نو فاء جزائیه راوړل لازم دي هذا منقوض بقوله تعالی وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ په دې ایت کې ان اطعتموهم شرط دی او انکم لمشرکون جمله اسمیه جزاء ده او فاء جزائیه پکې نشته؟

جواب: إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ جمله اسميه جزاء د شرط نه ده بلكه دا جواب د قسم دى چې هغه مقدر دى مخكې د حرف شرط نه اى [والله ان اطعتموهم انكم لمشركون] او قاعده دا ده چې شرط او قسم يو ځاى راشي او قسم مقدم وي په شرط باندې بيا برابره خبره ده چې قسم لفظا وي او كه تقديرا وي نو مابعد كلام جواب د قسم گرځولى شي او جواب د جزاء د شرط حذف كولى شي.

سوال: ته وائې چې جمله اسميه چې جزاء واقع شي نو فاء جزائيه راوړل واجب دي دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د الله سره وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ إِذَا هُمْ يَقْنَطُونَ دلته هم يقنطون جمله اسميه جزاء ده او فاء جزائيه ورسره نشته؟

جواب: **ويجيئ اذا مع الجملة الاسمية موضع الفاء: ترجمه:** كله كله راځي اذا سره د جمله اسميه نه په محل او موضع د فاء جزائيه باندې ځكه معنى د اذا مفاجاتي په ځاى د فاء جزائيه باندې راځي په جمله اسميه كې نه په جمله فعليه كې د وجې د اختصاص د اذا مفاجاتي نه په جمله اسميه پورې **وان** او ان شرطيه چې جزم قبلوي فعل مضارع د دې ان شرطيه د وجې نه **مقدرة** (۱) په حال كون د دې ان كې چې مقدر بې واخلې. (۲) يا هسې ان چې مقدر دى مقدرةً منصوب لوستل هم جائز دي ځكه حال دى د ان نه او مرفوع لوستل هم جائز دي ځكه صفت دى د ان لپاره كه چرې مقدرة صفت واقع شي د ان لپاره نو بيا متلبس باللام ويل پكار وو ځكه ان معرفه بالعلم دى خو مصنف متلبس باللام نه دى ذكر كړى د وجې د كيدو د مقدرة نه محتمل د احتمالين. **بعد الامر** ان مقدر كيږي وروستو د امر نه نحو قوله عليه السلام (**قولوا لا اله الا الله تفلحوا**) اى ان تقولوا لا اله الا الله تفلحوا **والنهي** او مقدر كيږي وروستو د نهي نه نحو لاتفعل الشر يكن خيرا لك اى ان لم تفعله يكن خيرا لك. **والاستفهام** او مقدر كيږي وروستو د استفهام نه نحو هل عندكم ماء اشربه اى ان يكن عندكم ماء اشربه. **والتمني** او واقع كيږي وروستو د تمني نه نحو ليت لي مالا انفقه اى ان يكن لي مالا انفقته **والعرض** او مقدر كيږي وروستو د عرض نه نحو الاتنزل بنا فتصيب خيرا دا تصيب خيرا جزاء ده د شرط مقدر لپاره اى ان تنزل تصب خيرا او ان مقدر كيږي وروستو د يو امر د دې امور خمسو نه او مضارع لره جزم وركوي **اذا قصد السببية** په دې شرط سره چې قصد كړى شوى وو سببيت د ماقبل لپاره د مابعد په دې شان سره چې مضارع واقع وي وروستو د يو امر د دې امور خمسو نه او دا صالح د مسببيت وو د ما تقدم لپاره.

سوال: تقدير د ان شرطيه ولې منحصر دى په دې امور خمسو پورې او قصد د سببيت د اول لپاره د مابعد ولې شرط دى؟ **جواب:** قصد د سببيت د ماقبل لپاره د مابعد ځكه شرط دى چې ان د كلم المجازات نه دى دلالت كوي په سببيت د اول لپاره د ثاني او تقدير د دې وروستو د امور خمسو نه ځكه شرط دى چې په دې امور خمسو كې معنى طلبي ده او هر طلب مطلوب غواړي او مطلوب دوه قسمه دى. مطلوب لذاته او مطلوب لغيره. ځكه دا امور خمسه به خالي نه وي يا به وروستو د دې امور خمسو نه بل شى ذكر وي او يا به نه وي كه چرته وروستو د دې امور خمسو نه بل شى ذكر نه وو نو مطلوب لذاته دى او كه بل شى ذكر وو نو مطلوب لغيره دى ځكه كه دا مطلوب لذاته وى نو بل

شي به يې نه وو ذکر کړی، ځکه هغه مطلوب لذاته معلوميږي د يو امر د دې امور خمسو نه مثال د امر نحو اسلم تدخل الجنة تدخل الجنة کې مضارع مجزوم ده او کسره په لام باندې راغلې ده د وجې د التقاء د ساکنين نه او مضارع مجزوم ده ځکه دا جزاء د شرط لپاره ده چې مقدر دی وروستو د امر نه ای ان تسلم تدخل الجنة مثال د ان شرطيه چې مقدر وي وروستو د نهي نه او مضارع لره يې جزم ورکړی وي لکه لاتکفر تدخل الجنة شو چې دلته تدخل مضارع مجزوم ده او کسره د لام راغلې ده د وجې د التقاء د ساکنين نه او مضارع مجزوم ده ځکه دا جزاء د شرط ده چې مقدر دی وروستو د نهي نه ای ان لاتکفر تدخل الجنة او دا ترکيب صحيح دی ځکه نهي قرينه د فعل منفي ده نه د فعل مثبت **وامتنع** او ممتنع دی دا ترکيب لاتکفر تدخل النار عند الجمهور **خلافا للکسائي** خلاف ثابت دی کسائي لره د هغه په نزد باندې دا ترکيب جائز دی او ممتنع نه دی

سوال: د جمهورو په نزد دا ترکيب ولې ممتنع دی او د کسائي په نزد باندې ولې جائز دی؟

جواب: لان التقدير ان لا تکفر دا دليل د جمهورو دی ځکه تقدير د شرط بنا په هغې چې مخکې تا وپيژندو په لاتکفر تدخل الجنة کې ان لاتکفر دی او دا تقدير باطل دی ځکه عدم کفر سبب نه دی لپاره د دخول الی النار بلکه عدم کفر سبب دی د دخول الی الجنة لپاره او کسائي وائي دا جائز دی او دليل د کسائي لپاره عرف دی او معنی د دې په اعتبار د عُرف سره دا ده چې ان تکفر تدخل النار او قرينه په دې باندې عرف ده.

يعنی کسائي شرط مثبت راوباسي نه منفي، او قرينه په دې باندې لفظ دلالت نه کوي ځکه نفي دلالت نه کوي په اثبات باندې او ان شرطيه مقدر کيږي وروستو د يو امر د امور خمسو نه او مضارع لره جواب د طرفه د جمهورو نه دا دی چې په تقدير د کسائي باندې جزم ورکوي په دې شرط چې قصد کړی شوی وو سببيت د اول لپاره.د مابعد او که قصد د سببيت اول لپاره د مابعد نه وو کړی نو بيا دا فعل مضارع مرفوع راځي وجوبا.

(١): بنا بر صفتيت د ماقبل لپاره نحو قوله تعالی فَهَبْ لِي مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا ۝ يَرِثُنِي ای وليا وارثا.

(٢): حال واقع کيږي د ماقبل نه نحو قوله تعالی: فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ای عامهين]

(٣): يا دا جمله مستانفه وي کقول الشاعر:

وقال رائدهم ارسو نزاولها   فکل حتف امراء يجری بمقدار

قاعده: فعل مضارع چې واقع شي وروستو د جزاء د شرط نه او مقترن وو د واو او فاء عاطفه سره په هغې کې درې اعرابونه جائز دي:

(١): رفع لانها جملة مستانفة (٢): جزم لانها معطوف علی الجزاء.

(٣): نصب بتقدير ان نحو قوله تعالی وَإِن تُبْدُوا مَا فِي أَنفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُم بِهِ اللَّهُ فَيَغْفِرُ لِمَن يَشَاءُ

او که دا مضارع واقع وه په مينځ د شرط او جزاء کې نو په هغې کې دوه وجې روا دي:

(١) نصب بتقدير ان. (٢): جزم علی العطف نحو ان تستقم تجتهد يکرمك.

او شرط په اعتبار د حذف سره درې قسمه دی: (۱): واجب الحذف. (۲): جائز الحذف. (۳): ممتنع الحذف. شرط وجوبا حذف کیږي په دې شرط سره چې واقع شوی وو وروستو د لا نه.
(۲): او قرینه د اله په تعین د محذوف باندې موجوده وه کما في قول الشاعر:

فطلقها فلست لها بكفو والا يعل مفرقك الحسام

او شرط حذف کیږي وروستو د یو امر د امور خمسو نه کما مر. او د دې نه علاوه په نورو ځایونو کې حذف د شرط نه دی جائز.

(الامــر)

(**ربط**) هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د قسم ثاني د فعل نه چې مضارع وو نو شروع یې وکړه په قسم ثالث د فعل کې چې امر حاضر معلوم دی. الامر کې الف لام عهدي خارجي دی مراد د دې نه امر حاضر معلوم دی. (۲): یا امر چې مطلق ذکر شي نو عند النحاة والاصولیین مراد د امر نه امر حاضر معلوم وي او امر حاضر معلوم ته امر بې لام امر مخاطب او امر بالصیغه هم وائي. او په امر کې لابدي ده د معرفت د امور اربعه ؤ نه: (۱): مفهوم لغوي. (۲): مفهوم اصطلاحي. (۳): حکم. (۴): طریقه او کیفیت د بنا د امر د مضارع نه.

نو امر په لغت کې فرمودن کاری ته وائي او په اصطلاح کې **صیغة** دا یوه صیغه ده داسې صیغه **یطلب بها** چې طلب کولی شي په دې صیغې سره **الفعل** وجود د معنی مصدري **من الفاعل المخاطب** د فاعل مخاطب نه **بحذف حرف المضارعة** په حال کون د دې صیغه کې چې دا به متلبس وي په حذف د حرف مضارعة سره.

په هر تعریف کې لابدي وي د جنس او فصل نه **صیغة یطلب بها الفعل** جنس دی تول پکې داخل شو متکلم مخاطب غائب معلوم مجهول. **او من الفاعل** سره یې احتراز وکړو د امر غائب مجهول نه ځکه په هغې سره طلب د فعل کولی شي د مفعول به نه، نه د فاعل نه او توصیف د فاعل چې بې په مخاطب سره وکړو نو په دې سره یې احتراز وکړو د امر غائب معلوم او امر متکلم نه ځکه امر غائب معلوم سره طلب د فعل کولی شي د فاعل غائب نه، نهٔ د مخاطب نه امر متکلم سره طلب د فعل کولی شي د فاعل متکلم نه، نه د فاعل مخاطب نه. **وبحذف حرف المضارعة** سره یې احتراز وکړو د امر باللام مخاطب معلوم نه لکه فلتفرحوا شو په یو قراءة باندې او احتراز یې وکړو د صه اورید اسم فعل نه ځکه اګر چې په دې سره طلب د فعل کولی شي ځکه دا متلبس نه دی په حذف د حرف مضارعة سره نو تعریف د امر حاضر بالکل جامع مانع شو. **وحکم اخره** او حکم د اخیر د امر په حقیقت کې عند البصریین وقف دی او بناء علی السکون دی د وجې د عدم وجود د علت او مقتضی د اعراب نه چې هغه حرف مضارعت دی او حکم د اخیر د مضارع صورةً. **حکم المجزوم** په شان د حکم د مضارع مجزوم دی په اسکان د صحیح او سقوط د نون اعرابي او حرف علة کې ځکه هر کله چې امر حاضر معلوم مشابه شو د فعل مضارع مجزوم بلام سره معنی چې هغه طلب د فعل دی او مشبه

حکم د مشبه به اخلي پس وربي كړو امر حاضر معلوم لره حکم د امر باللام نحو اضرب دلته سكون په حذف د حركت سره دی او اضربا اضربوا كې سكون په حذف د نون اعرابي سره دی اخش اغز ارم كې سكون په حذف د حرف علت سره دی په شان د لم يضرب لم يضربا لم يخش لم يغز لم يرم.

او كوفيان وائي چې دا امر حاضر معرب دی او مجزوم دی په لام مقدره سره او دليل د هغوی لپاره دا قول د الله دی [فلتفرحوا] نو دا اضرب اصل كې ولتضرب وو نو په دې افعالو كې فعل ماضي مبني ده مطلقا بالاتفاق او فعل مضارع معرب ده بالاتفاق په دې شرط سره چې خالي وي د نون تاكيد او نون ضمير د جمع مؤنث نه او په امر حاضر معلوم كې خلاف دی عند البصريين مبني على السكون دی او عند الكوفيين معرب مجزوم دی په لام مقدره سره.

فان كان بعده ساكن: ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د حكم د امر حاضر معلوم نه نو شروع يې وكړه په بيان د طريقه او كيفيت د امر حاضر معلوم كې او امر حاضر معلوم جوړيږي د مضارع مخاطب معلوم نه په حذف د علامه د مضارع سره **فان كان بعده** پس كه چرته وروستو د حذف د حرف مضارع نه **ساكن** ساكن په دې سره يې احتراز وكړو د متحرك نه ځكه كه مابعد د حرف مضارعة نه متحرك وو بيا فقط اخر ساكن كولو سره امر جوړيږي خو دا يې نه دی ذكر كړی د وجې د ظهور نه لكه عد شو په تعد كې. **وليس برباعي** او حال دا دی چې نه وي مضارع مشتمل على اربعة احرف او مراد د رباعي لغوي دی چې ځلور حرفيز ته وائي نه رباعي اصطلاحي. او رباعي اصطلاحي هغې ته وائي چې حروف اصلي پكې ځلور راغلي وي **زدت همزة وصل** زياتي كوه ته همزه وصليه چې مضمومه به وي **ان كان بعده ضمة** كه چرته وه پس د حرف ساكن نه ضمه لپاره د اتباع د عين كلمه، يا لپاره د دې چې التباس رانه شي د امر حاضر معلوم د واحد متكلم مضارع معلوم سره په تقدير د فتحه د همزې باندې او د وجې د تحرز د خروج من الكسره الى الضمه نه په تقدير د كسرې باندې **ومكسورة فيما سواه** او دا همزه وصليه به مكسوره وي په سوا د ساكن بعد ضمة كې بيا برابره خبره ده چې پس د ساكن نه مكسور وي يا مفتوح كې نو لپاره د دې چې لازم نه شي التباس د امر حاضر معلوم د واحد متكلم فعل مضارع معلوم سره په تقدير د فتحه د همزه كې او كه ضمه وركړو نو بيا لازميږي التباس. مثال لكه: **اقتل** شو اصل كې تقتل وو تا حرف مضارعت را حذف كردند مابعد ساكن پاتې شو عين كلمه د دې مضمومه وه نو همزه وصليه مضمومه په اول كې راوړی شوا وپه اخير كې وقف كړی شو نو د تقتل نه اقتل جوړ كړی شو او مثال د ثاني لكه **اضرب** اصل كې تضرب وو تا حرف مضارعت حذف كړی شو مابعد ساكن وو او عين كلمه مكسروه وه نو همزه وصليه مكسوره مو په اول كې راوړه او اخير كې وقف كړی شو نو اضرب شو. **اعلم** اصل كې تعلم وو تا حرف مضارعة حذف كړی شو مابعد ساكن وو عين كلمه مفتوحه وه همزه وصليه مكسوره په اول كې راوړی شوه او اخير كې وقف كړی شو نو اعلم شو.

وان كان رباعيا او كه چرته وه دغه مضارع چې حذف كړې وي ده علامه د مضارع د هغې رباعي چې ماضي د دې مشتمله وه علي اربعة احرف **فمفتوحة** بيا دا همزه مفتوحه راخي څكه دا همزه علامه د باب افعال ده حذف شوې وه د وجې د اجتماع د همزتين نه په واحد متكلم كې او كله چې علامه د مضارع حذف شوه نو علت د حذفيت د همزه لاړو او دا همزه وصليه نه ده **مقطوعة** بلكه دا همزه قطعيه ده.

سوال: ته وايې چې علامه د مضارع چې حذف شي مابعد ساكن پاتې شي او عين كلمه مكسوره وي نو همزه وصليه مكسوره په اول كې راوړې شي دا قاعده ستا منقوضه شوه په اكرم سره پدې شان سره چې اكرم اصل كې تكرم وؤ تا حرف مضارعة حذف شوه مابعد ساكن وو او عين كلمه مكسوره ده او همزه وصليه مكسوره اول كې نه ده راوړې بلكه مفتوحه راوړې ده؟

جواب: اكرم اصل كې تكرم وو بيا تكرم نقل شو اصل خپل ته تاكرم شو تا حرف مضارعت حذف شوه ما بعد متحرك پاتې شو او اخير كې وقف وكړو نو د تاكرم نه اكرم جوړ شو.

حكم د همزه قطعيه دا دى چې تثبت في الابتداء وفي الدرج او حكم د همزه وصليه دا دى چې تثبت في الابتداء وتسقط في الدرج او همزه وصليه ته همزه وصليه څكه وايي (١): چې دا د حرف ساكن سره وصل كيږيً (٢): يا همزه وصليه ورته څكه وائي چې دا متكلم د وجې د تعذر د ابتداء بالساكن نه مقصد د تكلم ته نه رسېدو كله چې همزه وصليه زياته شوه نو مطلوب خپل ته ورسېدو.
(٣): يا دې ته همزه وصليه څكه وائي چې دا په مينځ كې غورځيږي او مابعد د ماقبل سره يو ځاى كيږي او همزه قطعيه ته قطعيه څكه وائي چې دا په مينځ كې نه غورځيږي بلكه دا مابعد قطع كوي د ماقبل نه.

(فعل ما لم يسم فاعله)

ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د اقسام ثلاثه ؤ د فعل نه چې ماضي مضارع او امر حاضر معلوم وؤ نو شروع يې وكړه په تقسيم د ماضي او مضارع كې په دې شان سره چې هر واحد د ماضي او مضارع نه دوه قسمه دى معلوم او مجهول، يا فعل **مطلقا** دوه قسمه دى: فعل معلوم دى او بل فعل مجهول دى.

وجه د حصر: (١): فاعل د دې فعل به خالي نه وي يا به معلوم وي او يا به نه وي كه فاعل معلوم وؤ نو دې ته فعل معلوم وائي د وجې د معلوميت د فاعل نه او كه فاعل يې معلوم نه وو د يته فعل مجهول وائي د وجې د جهالت د فاعل نه.
(٢): دا فعل به خالي نه وي يا به وروسره فاعل ذكر شوى وي او يا به نه وي ذكر، كه ذكر وو نو فعل معلوم (نحو قام زيد)، او كه فاعل ورسره نه وو ذكر نو فعل مجهول نحو ليبك يزيد ضارع، يبك فعل مجهول دى څكه فاعل ورسره نه دى ذكر بلكه په ځاى د فاعل ورسره مفعول به ذكر دى.

ترجمه: (۱): فعل د هغه مفعول **لم یسم** چې نه دی ذکر شوی **فاعله** فاعل نحوي د دې مفعول او اضافت فاعل مفغهول ته د ادنی ملابست د وجې نه شوی دی چې هغه (کونه فاعلا لفعل وقع علی المفعول دی. (۲): یا عبارت په حذف د مضاف سره دی ای لم یسم فاعله فعله الواقع علی المفعول (۳): یا فعل مجهول په اصطلاح کې **فعل ما** فعل د هغه فعل دی **ما لم یسم فاعله** چې نه دی ذکر کړی شوی فاعل نحوي د دې فعل او اضافت د فعل ما ته اضافت بیاني دی.

تشریح:سوال: دا ما به خالي نه وي یا به یې عبارت وایې د مفعول نه او یا د فعل نه دواړه نه دي صحیح که عبارت یې وایې د مفعول نه نو اضافت د فعل ما ته صحیح کیږي وروستو لم یسم فاعله کې اضافة د فاعل ضمیر ته صحیح نه دی چې راجع دی ما ته او ما عبارت دی د مفعول نه ځکه فاعل د فعل لپاره وي نه د مفعول لپاره او که عبارت یې وائې د فعل نه نو اضافت د فاعل ضمیر ته صحیح دی خو اضافت د فعل ما ته باطل دی ځکه لازمیږي اضافت د شئ الی نفسه؟

جواب: معترض چې اعتراض وکړي په شقوق مختلفو سره او مجیب چې جواب کوي نو طریقې د جواب دوه دي: (۱): یا شق ثالث اخلي که احتمال وو او که نه وو نو د شقوق مذکورو ته یو راواخلي او جواب کوي دلته مونږه دواړه شقین اخلو او جواب کوو: (۱): زه ما عبارت د مفعول نه وایم او که ته وایې چې اضافت د فاعل ضمیر ته نه دی صحیح نو د دې نه دوه جوابونه دي: (۱): اضافت د فاعل ضمیر ته اضافت لامي دی او اضافت لامي ادنی ملابست غواړي، او دلته هم اضافت د فاعل الی المفعول راغلی دی د ادنی ملابست د وجې نه چې هغه کون د دې دی فاعل د هغه فعل دپاره چې واقع شوی دی په مفعول به باندې یا جواب دا دی چې دا عبارت په حذف د مضاف سره دی ای لم یسم فاعله فعله الواقع علی المفعول یا جواب دا دی چې دا ما عبارت دی د فعل نه او که ته وایې چې اضافت د فعل ما ته نه دی صحیح ځکه اضافت د شئ الی نفسه راځي نو جواب دا دی چې اضافت د فعل ما ته اضافت بیاني دی.

سوال: اضافت بیاني خو د هته وائي چې مضاف به متخذ وي د مضاف الیه نه او مضاف الیه به متخذ منه وي، او د مضاف او مضاف الیه په مینځ کې به نسبت د عموم خصوص من وجه وي نحو خاتم فضة، نو دلته خو اضافة بیاني نه جوړیږي ځکه دا فعل نه دی متخذ د فعل اخر نه او د دې فعلین په مینځ کې نسبت د عموم خصوص مطلق هم نشته دی بلکه اضافت د عام راغلی دی خاص ته؟

جواب: دا اضافت بیاني دی د هغه چا په نزد باندې چې هغه اضافت د عام الی الخاص ته اضافت بیاني وائي ځکه خاص بیان د عام واقع شوی دی.

سوال: سمي یسمي تسمیة متعدي کیږي مفعولین ته، مفعول اول ته بالذات او ثاني ته کله بالذات نحو سمیته تخلیص المفتاح او کله بالواسطه نحو سمیته بهدایة النحو او قاعده دا ده چې کوم فعل چې متعدي الی المفعولین وي او د هغې نه فعل مجهول جوړ شي نو هغه متعدي مفعول واحد ته پاتې کیږي او د اول مفعول نه نائب فاعل جوړیږي نو فاعل د لم یسم لپاره نائب فاعل شو نو مفعول ثاني څه شو؟

جواب: سمي يسمي تسمية دوه معنو سره راځي: (۱): بمعنی ذکر (۲): بمعنی نام نهادن، که په معنی د نام نهادن سره وي نو متعدي وي مفعولين ته او که په معنی د ذکر سره وي نو بيا متعدي وي مفعول واحد ته او دلته په معنی د ذکر سره دی او قاعده دا ده چې کوم فعل متعدي وي فعل واحد ته او د هغې نه مجهول جوړ شي نو لازم ګرځي نو ځکه لازم شو.

سوال: فعل ما لم يسم فاعله په اصطلاح د نحويانو کې څه ته وائي؟

جواب: **وهو ما حذف فاعله واقيم المفعول مقامه**

(ترجمه) وهو او فعل ما لم يسم فاعله په اصطلاح کې **ما** فعل دی داسې فعل **حذف** چې پرېښودی شوی دی **فاعله** فاعل نحوي د دې او قائم کړی شوی وي مفعول په مقام د فاعل باندې په اسناد کې نه په صدور کې ځکه حذف د فاعل بې د سد مسد نه ندی جائز او دا قيد دلته مراد دی په تعريف د فعل ما لم يسم فاعله کې، ليکن ماتن نه دی ذکر کړی اکتفاء يې کړې ده په ذکر د دې قيد سره په تعريف د مفعول ما لم يسم فاعله کې

سوال: حذف اسقاط عن اللفظ ته وائي نو ستا د تعريف نه معلومه شوه چې متکلم به اول فاعل ذکر کړی وي او بيا به يې لرې کړی وي او مفعول به يې قائم کړی وي په مقام د هغې باندې نو دا تعريف د فعل ما لم يسم فاعله جامع نه شو افرادو خپلو لره خارج شو د دې نه (خلق الانسان ضعيفا) دارنګې ضرب زيد چې دلته متکلم فاعل لره په کلام کې د سره ذکر کړی نه دی نو اسقاط د فاعل عن اللفظ رانغی؟

جواب: دا اعتراض به ستا هله وارديدو چې دا عبارت د مصنف بنا وی په حقيقت باندې ليکن دا عبارت د مصنف بنا دی په مجاز باندې چې ذکر د خاص دی چې حذف دی او مراد ترېنه عام دی چې ترک دی.

سوال: تعريف د فعل ما لم يسم فاعله مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو پکې انبت الربيع البقل ځکه انبت يو فعل دی او فاعل يې ترک شوی دی چې الله دی او مفعول قائم شوی دی په مقام د فاعل باندې چې الربيع دی نو تعريف د فعل مجهول په دې باندې صادقيږي او دا فعل مجهول نه دی؟

جواب: فاعله کې دا اضافت اضافت عهدي خارجي دی مراد د فاعل نه فاعل نحوي دی نه فاعل حقيقي په معنی د موجد سره نو تعريف صادق نه شو په انبت الربيع البقل باندې ځکه دلته فاعل نحوي نه دی ترک شوی بلکه فاعل نحوي يې ذکر دی چې الربيع دی.

سوال: فعل ما لم يسم فاعله په اصطلاح کې هغه فعل ته وائي چې فاعل حذف شوی وي او مفعول يې قائم شوی وي په مقام د هغې باندې ځکه حذف د فاعل بغير د سد مسد نه ندی جائز نه واقيم المفعول مقامه فيه مراد دی نو مصنف ولې نه دی ذکر کړی؟

جواب: منم چې دا قيد مراد دی خو مصنف نه دی ذکر کړی ځکه اکتفاء يې کړې ده په ذکر د دې قيد سره په تعريف د مفعول ما لم يسم فاعله کې.

ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د تعريف د فعل ما لم يسم فاعله نه نو شروع يې وکړه په بيان د کيفيت او طريقه د فعل ما لم يسم فاعله کې **فان كان ماضيا** کې دا فاء تفصيليه ده ان حرف شرط دی

كان ماضيا جمله شرطيه ده او جزاء يې مقدره ده چې غيرت دى او ضم اوله وكسر ماقبل اخره. الخ
دا بيان د تغير دى او دال دى په جزا مقدره باندې

ترجمه: فان كان پس كه چرته وي هغه فعل معلوم چې اراده كړى شوې ده د حذف د فاعل نحوي د هغې او اقامت د مفعول په مقام د فاعل باندې **ماضيا** فعل ماضي نو تغير كولى شي په صيغه د ماضي معلوم كې لپاره د دې چې التباس رانه شي د صيغه د فعل معلوم د صيغې د فعل مجهول سره هغه تغير دا دى چې **ضم اوله** ضمه وركولى شي حرف اول د ماضي معلوم لره **وكسر** او كسره وركولى شي **ما** هغه حرف لره **قبل اخره** چې مخكې د حرف اخير د ماضي معلوم نه راغلى وي چې هغه عين كلمه ده په دې شرط سره چې هغه مكسور نه وو او كه ماقبل اخير د ماضي معلوم مكسور وو لكه عَلِمَ نو بيا كسره په خپل حال باندې باقي پاتې كولى شي او ضمه د حرف اول او كسره د ماقبل اخير په درې مادو كې راځي:

(۱): ثلاثي مجرد نحو يضرب. (۲): رباعي مجرد نحو دحرج. (۳): باب افعال نحو اكرم. ځكه شارح جامي درې مثالونه ذكر كړي دي

سوال: (فان كان ماضيا) شرط دى او (ضم اوله او كسر ماقبل اخره) جزا ده او جزاء مرتبه وي په شرط باندې او دلته ترتب د جزاء په شرط باندې نه دى صحيح؟ **جواب:** (فان كان ماضيا) شرط دى او جزاء د دې محذوفه ده چې غيرت صيغته دى او (ضم اوله) دال بالجزاء دى.

سوال: د فعل ما لم يسم فاعله لپاره دا وزن ولې مختار كړى شو؟ جواب: ځكه چې معنى د فعل مجهول غريبه ده يعنى مخالفه ده د عقل نه ځكه د عقل تقاضه دا ده چې اسناد د فعل فاعل ته كوه او دې متكلم اسناد د فعل مفعول ته كړى دى او دا وزن هم غريب دى ځكه اولاً په دې وزن باندې په استعمال د كلام د عرب كې اسم نه دى راغلى نو د فعل ما لم يسم فاعله لپاره دا وزن غريبه وګرځولى شو لپاره د دې چې دلالت وكړي غرابت د وزن په غرابت د معنى باندې

سوال: لكه څنګه چې فُعِلَ وزن غريب دى درانګې فِعُلَ وزن غريب دى نو فِعُلَ وزن ورله ولې ونه ګرځولى شو چې په غرابت د معنى يې دلالت كړى وى؟ **جواب:** فِعُلَ وزن اګر چې غريب دى دلالت كوي په غرابت د معنى باندې ليكن خروج د كسرې نه ضمې ته اثقل دى نو نشته دى ضرورت په اختيار د دې وزن كې پس د حصول د مقصود د متكلم نه په هغه وزن سره چې هغه اخف دى، د دې نه.

سوال: ته وايې چې ماضي مجهول كې حرف اول لره ضمه او ماقبل اخير لره كسره وركولى شي دا خبره ستا منقوضه شوه په عُلِمَ سره چې مجهول د عَلِمَ دى په دې شان سره چې دلته فقط حرف اول لره ضمه وركړې ده او ماقبل اخير لره كسره نه وركوي ځكه هغه مكسور دى او مكسور لره كسره نه شي وركولى؟

جواب: (كسر ما قبل اخره ان لم يكن مكسورا) **ويضم الثالث مع همزة الوصل** او ضمه وركولى شي حرف ثالث لره په حال كون د دې حرف ثالث كې چې دا معى وي د همزه وصليه سره، يعنې د كومې ماضي په اول سر كې چې همزه وصليه راغلې وه نو حرف اول او ثالث لره ضمه وركولى شي نحو انطلق

اقتدر استخرج، لپاره د دې چې التباس رانه شي د ماضي مجهول د امر د دې باب سره په حالت د وقف او درج كې **والثاني مع التاء** او ضمه وركولې شي حرف ثاني لره په حال كون د دې حرف ثاني كې چې دا مقرون وي سره د تاء نه چې هغه راغلې ده په اول سر د ماضي كې چې هغه د رې بابونه دي دوه د ثلاثي مزيد باب تفعل او تفاعل او يو رباعي مزيد چې باب تفعلل دى چې دوى په اول كې تاء زائده راغلې ده د دې د ماضي معلوم نه چې مجهول جوړوى نو تا لره ضمه وركولې شي سره د حرف ثاني نه نحو تعلم و تجومل و تدحرج، لپاره د دې چې لازم شي التباس د ماضي مجهول د باب تفاعل د مضارع معلوم د باب مفاعلې سره او لازم نه شي التباس د ماضي مجهول د باب تفعلل د مضارع معلوم د باب فعلل سره خوف اللبس دا منصوب دى بنا پر مفعول لره.

اللبس بفتح اللام ويكسر اللام مصدر دى د لبس يلبس د باب ضرب يضرب نه راخي په معنى د التباس سره نحو قوله تعالى ﴿وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ﴾ او **اللبس** بضم اللام مصدر دى د لبس يلبس د باب علم يعلم نه په معنى د جامو اغوستلو سره ومعتل العين ماضي مجهول د اجوف د ثلاثي مجردو چې عين كله د هغې كې اعلال كړى شوى وي لغات ثلاثه دي او كه عين كلمه كې يې اعلال نه وو شوى په هغې كې لغات ثلاثه نه راخي په طُوِيَ او رُوِيَ عُوِر اوسُوِد شو په طوى او روى كې اعلال نه دى كړى لپاره د دې چې لازم نه شي توالي د اعلالين په مضارع د دې كې او عور او سود كې اعلال نه دى كړى ځكه دا محمول دى په اعْوَرَ او اسوَدَ باندې لاتحاد المعنى او اعور اسود كې اعلال نه دى كړى د وجې د عدم وجود د قاعدې د اعلال نه.

الافصح افصح لغت په دې ماضي مجهول كې **قيل او بيع** دى په نقل د حركت سره په دې شان سره چې قيل اصل كې قُوِلَ وو كسره بر واو ثقيل بود نقل كرده بما قبل دادند بعد از سلب حركت او تا قُولَ گشت قولَ شد بعده واو ساكن مظهر ما قبلش مكسور بنا بر ان واو را به يا بدل كردند تا قولَ گشت قيل شد. بيعَ اصل كې بُيِعَ وو كسره بر يا ثقيل بود نقل كرد به ماقبل دادند بعد از سلب حركت او تا بُيعَ گشت بيعَ شد. **وجاء** او راغلى دى په ماضي مجهول او اجوف د ثلاثي مجردو كې چې عين كلمه كې يې اعلال شوى دى **الاشمام** اشمام:

اشمام كې لابدي ده د معرفة د امور خمسو نه: (۱): مفهوم لغوي. (۲): اقسام. (۳): تعريف د اقسامو. (۴): غرض د اشمام. (۵): معرفة د شرط د اشمام.

نو اشمام صيغه د مصدر ده د باب افعال نه په لغت كې بويانيدن چيزى را گويند او په اصطلاح كې دوه قسمه ده: وقفي، صرفي. اشمام وقفي ضم د شفتين ته وائي فقط عند الوقف. او اشمام صرفي مائل كول د كسرې د فاء كلمه دي طرف د ضمې ته په دې شان سره چې نيمه كسره ووايې او نيمه ضمه ووايې او وريسې ياء مائله كړې طرف د واو ته په دې شان سره چې نيمه ياء ووايې او نيم واو ووايې، او غرض د اشمام ايذان او اعلام دى په اصل باندې چې اصل كې اول حرف د دې په ضمې باندې وو او شرط لپاره د اشمام كسره د فاء كلمه ده او كون العين ياء دى.

والواو او دریم لغت راغلی دی په ماضي مجهول د اجوفو د ثلاثي مجردو کې په واو سره نو ویلی کیږي قُول او بُوع په انداخت سره بې د نقل د حرکت نه په دې شان سره چې قول اصل کې قُولَ وو، کسره بر واو ثقیل بود انداختن قُول گشت قول شد، بوع اصل کې بیع وو کسره بر یا ثقیل بود انداختن بعده یا ساکن مظهر ما قبلش مضموم بنا بر ان یاء را به واو بدل کردند تا بیع گشت بوع شد او دا ارده د لغاتو نه دي. پس شو په ماضي مجهول د اجوف د ثلاثي مجردو کې لغات ثلاثه (۱): قیل وبیع افصح (۲) اشمام فصیح (۳) قول وبوع ضعیف. **ومثله** او په شان د ماضي مجهول د اجوف د ثلاثي مجردو نه چې عین کلمه د هغې کې اعلال شوی وي باب اختیر وانقید ماضي مجهول د اجوف ده د باب افتعال او باب انفعال نه په جریان د وجوه ثلاثه ؤ کې خکه چې تیرَ او قیدَ په شان د قیل او بیع باندې دي بلا تفاوت لهذا اختیر او انقید کې لغات ثلاثه دي. افصح اختیر انقید دی په نقل د حرکت سره چې اختیر اصل کې اختیر وو کسره په یاء باندې ثقیله وه نقل شوه ما قبل ته بعد از سلب حرکت او تا اختیر گشت اختیر شد او انقید اصل کې انقُود وو کسره بر واو ثقیل بود نقل کرده به ما قبل دادند بعد از سلب حرکت او بعده واو ساکن مظهر ما قبلش مکسور بنا بر ان واو را به یا بدل کردند تا انقود گشت انقید شد.

(۲): دویم لغت اشمام دی. (۳): او دریم اختور او انقود دی په انداخت د حرکت سره بې د نقل د حرکت نه په دې شان سره چې اختور اصل کې اختیر وو کسره بر یا ثقیل بود انداختن بعده یا ساکن مظهر ما قبلش مضموم بنا بر ان یاء را به واو بدل کردند اختور شد. انقود اصل انقود وو کسره بر واو ثقیل بود انداختند انقود گشت انقود شد. **دون استخیر واقیم** او نه دی ماضي مجهول د اجوف د باب استفعال او باب افعال نه په شان د ماضي مجهول د اجوف ثلاثي مجردو په جریان د وجود ثلاثه ؤ کې بلکه په ماضي مجهول د اجوف د باب استفعال او باب افعال کې متعین دی نقل د حرکت، او اشمام او انداخت پکې نه دی جائز خکه دا درې لغات په هغه ځای کې راځي چې واو او یا مکسور وي او ما قبل مضموم وي او په استخیر او اقیم کې د واو او یا مکسور نه مخکې مضموم نه دی خکه استخیر اصل کې استخیر وو په سکون د ماقبل سره کسره بر یا ثقیل بود نقل کرده بماقبل دادند تا استخیر گشت استخیر شد. اقیم اصل کې اقوم وو کسره بر واو ثقیل بود نقل کرده به ماقبل دادند تا اقوِم گشت اقوم شد بعده واو ساکن مظهر ما قبلش مکسور بنا بر ان واو را به یا بدل کردند اقوم گشت اقیم شد. **وان کان مضارعا** او که چرته وو هغه فعل چې اراده کړی شوې ده د حذف د فاعل د هغه او د اقامت د مفعول مقام الفاعل فعل مضارع، نو جزاء محذوفه ده چې غیرت الصیغة مغائر کولی شي صیغه لپاره د دې چې لازم نه شي التباس په مابین د مضارع معلوم او مجهول کې هغه تغیر دا دی چې **ضم اوله** ضمه ورکولی شي حرف اول د فعل مضارع لره چې هغه علامه د مضارع ده لپاره د موافقت د فرع چې مضارع ده د اصل سره چې فعل ماضي ده **وفتح ما قبل اخره** او فتحه ورکولی شي هغه حرف لره چې هغه مخکې د حرف اخیر د مضارع نه وي چې هغه عین کلمه ده لپاره

د حصول د خفت د وجې د ثقل د مضارع نه په زيادت سره كه چرې مفتوح نه وو او كه مفتوح وو نو يا په خپل حال باندې باقي پاتي كولى شي نحو يضرب يكرم يستخرج يتدحرج.
ومعتل العين او مضارع مجهول د اجوب **ينقلب فيه العين الفا** گرځي په ماضي مجهول د اجوفو كې عين كلمه چې واوا او ياء دي الف د وجې د تحرك د واو او ياء نه حقيقتا يا حكما او د انفتاح د ماقبل نه في المال نحو يقال ويباع ويختار وينقاد ويستخار. يقال كه در اصل يقول بود واو متحرك ماقبلش حرف صحيح ساكن بنا بران حركت واو را نقل كرده به ما قبل دادند بعد از سلب حركت او، واوې كه مفتوح بود اكنون ساكن گشت بعده واو او را به يا بدل كردند تا يقول گشت يقال شد.

المتعدي وغير المتعدي

ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د تقسيم د فعل نه اقسام ثلاثه ؤ ته باعتبار الزمان نو شروع يې وكړه په تقسيم اخر د فعل كې نو عين ته په اعتبار د تعديت او د لزوم سره نو وې ويل المتعدي وغير المتعدي.
ترجمه: دا ما سياتي تر يو حده پورې بحث او بيان د فعل متعدي او غير متعدي دى په دې تقسيم د فعل كې په اعتبار د تعديت او لزوم سره اختلافات د نحويانو دي جمهور وائي چې فعل په اعتبار د تعديت او دلزوم سره دوه قسمه دي (١) فعل متعدي (٢) فعل لازم فقط او بل: قسم پكي نشته يعني داسې فعل نشته په استعمال د كلام د عرب كښې چې هغه نه لازم وي او نه متعدي وي (٣) او بعض نحويان وائي چې فعل په اعتبار د تعديت او د لزوم سره په درې قسمه دي. (١) متعدي نحو ضرب (٢) لازم نحو قام (٣) چې نه متعدي وي او نه لازم وي لكه كان او اخوات دهغه شو ځكه دا نصب نه وركوي مفعول به لره او نه متعدي كيږي په واسطې د حرف جر سره نو معلومه شوه چې نه لازم دي او نه متعدي دي (٢) يا لكه شكر، او نصح شو دا كله نصب وركوي اسم لره بالذات او كله متعدي كيږي په واسطې د حرف جر سره نحو شكرته وشكرت له ونصحته ونصحت له، نو معلومه شوه چې نه لازم دي او نه متعدي دي (جواب) د طرفه د جمهورو نه دادي چې فعل او لادوه قسمه دي (١) يو فعل تام دي (٢) فعل ناقص دي فعل تام دوه قسمه دي (١) متعدي (٢) لازم، نو كان او اخوات د كان خود سره په مقسم كښې ندي داخل او هر چې دي شكر، او نصح دا دواړه خارج ندي د قسمين نه بلكې شان سره چې دا دواړه يا خو متعدي دي او شكرت له او نصحت له كښې لام زائد دي په شان د ردف لكم باندې يا دواړه لازم دي متعدي كيږي په واسطې د لام سره او شكرته او نصحته كښې دا ضمير منصوب دي په نزع د حافض سره په شان د وَاخْتَارَ مُوسَىٰ قَوْمَهُ باندې. او كه ومنم چې مقسم د متعدي او لازم لپاره مطلق فعل دي بيا فاعل او مفعول عام دي كه عين فاعل او مفعول به وي او كه شبه د فاعل او مفعول به وي نو بنا پدې افعال ناقصه په فعل متعدي كښې داخل دي نو فعل دوه قسمه شو (١) متعدي (٢) غير متعدي (وجه د حصر) په مابين ددې قسمين كښې داده چې دا فعل به خالي نوي يا به په فهم كښې محتاج وي متعلق ته او يا به نوي كه محتاج وو نو متعدي او كه نه وو محتاج نو غير متعدي. (٢) دا فعل به خالي نوي يا به پس د صدور ددې فعل د فاعل نه واقع شوي

متعدي او كه نه وو نو فعل متعدي او كه نه وو واقع وي په مفعول به باندي او يا به نوي واقع شوي كه واقع شوي وو نو فعل متعدي او كه نه وو واقع شوي نو فعل لازم. (۳) دا فعل به خالي نوي يا به عمل د نصب بنا بر مفعول به كوي او يا به نكوي كه كوو يې نو متعدي او كه نه يې كوو نو لازم. (۴) دا فعل به خالي نوي يا به متصل كيږي پدې پوري هاء ضميري غير مصدري يا به نه متصل كيږي كه متصل كيده نو فعل متعدي او كه نه متصل كيده نو فعل غير متعدي.

فالمتعدي: ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د فعل متعدي او غير متعدي نه اجمالا نو شروع ي وكړه په بيان ددي نو عين كښي تفصيلا نو وي ويل فالمتعدي الخ نو دا فاء په فالمتعدي كښي تفصيلي ده او هر كله چې مفهوم د فعل متعدي وجودي وو او مفهوم د غير متعدي عدمي وو نو مقدم يې كړو متعدي په غير متعدي باندي هم په جانب د اجمال كښي او هم په جانب د تفصيل كښي. په متعدي كښي لابدي ده د معرفت د امور خمسونه (۱) مفهوم لغوي (۲) مفهوم اصطلاحي (۳) وجه د تسميه (۴) معرفت د علامه (۵) معرفت د اقسامو. نو متعدي په لغت كښي متجاوزته وائي او په اصطلاح كښي ما يتجاوز الفعل من الفاعل الى المفعول بالذات به ته وائي (۲) يا په اصطلاح كښي **ما** هغه فعل ته وائي **يتوقف** چې موقوف وي **فهمه** فهم ددي فعل (**على متعلق**) په يو معمول پوري ما سوى د فاعل نه.

سوال: تعريف د فعل متعدي مانع نه شو ددخول د غير نه داخل شو پكښي فعل لازم لكه قام شو دا موقوف دي په فهم د معنى ددي كښي په متعلق باندي چې فاعل دي.

جواب: متعلق په اصطلاح د نحويانو كښي هغې معمول د فعل ته وائي چې غير د فاعل نه وي ځكه د فعل او د فاعل په مينځ كښي چې كوم نسبت دي هغې ته اسناد وائي او فاعل ته مسند اليه وائي نه متعلق او نسبت د فعل چې وشي د فاعل نه علاوه بل معمول ته هغې ته تعلق وائي او هغه معمول ته متعلق وائي نو فعل لازم خارج شو د تعريف د متعدي نه ځكه هغه په فهم كښي متعلق ته ندي محتاج بلكه محتاج دي فاعل ته.

سوال: تعريف د فعل متعدي مانع نه شو ددخول د غير نه داخل شو پكښي فعل لازم ځكه دا په فهم كښي موقوف دي په مفعول فيه ظرف زمان او مفعول فيه ظرف مكان پوري او دا غير د فاعل نه دي.

جواب: مراد د توقف نه توقف في الفهم دي نه توقف في الوجود او فعل لازم په وجود كښي موقوف دي په مفعول فيه پوري نه په فهم كښي او فعل متعدي هغې ته وائي چې هغه په فهم كښي موقوف وي متعلق ته چې هغه مفعول به دي. اومتعدي ته متعدي ځكه وائي چې متعدي په لغت كښي متجاوز ته وائي او كوم فعل چې په فهم كښي محتاج وي متعلق ته دا هم تجاوز كوي د فاعل نه مفعول به ته. او علامه د فعل متعدي داده چې متصل كيږي پدې پوري هاء ضميري چې نوي راجع مصدر ته نو پدې سره احتراز راغي د قمته نه ځكه دا ضمير چې متصل دي په قمت پوري دا ضمير د مصدر دي ځكه راجع دي مصدر د فعل مذكور ته چې قيام دي فيكون معنى قمته قمت القيام.

سوال: د قمته څه ترکیب دي؟ **جواب:** قمت فعل فاعل (ه) ضمیر منصوب متصل راجع بسوئي مصدر فعل مذکور منصوب محلا بنا بر مفعول مطلق فعل سره د فاعل او سره د مفعول مطلق نه جمله فعليه خبريه **کضرب،** مثال د فعل متعدي لکه ضرب شو، دا فعل متعدي دي څکه معنی د ضرب چې زدن دي په فهم کښې محتاج ده متعلق ته چې مضروب دي او پدې ضرب پوري هاء ضميري غير مصدري متصل کيږي نحو زيد ضربته. **(وغير المتعدي بخلافه)** او فعل غير متعدي په اصطلاح کښې هغه فعل ته وائي چې دا کائن وي په خلاف د فعل متعدي باندي يعني لايتوقف فهمه على متعلق غير الفاعل **(کقعد)** مثال د فعل غير متعدي لکه قعد شو، دا قعد فعل لازم دي څکه معنی ددې نه موقوف په فهم کښې د فاعل نه علاوه په بل شي پوري بلکه معنی د قعد سره د فاعل نه فهم د سامع او مخاطب ته راځي بي د ذکر د امراخر نه او پدې قعد پوري ها ضميري غير مصدري نه متصل کيږي. بل مثال د فعل لازم لکه افعال السجايا شو يعني هغه افعال چې هغه دلالت کوي په طبيعت باندي لکه نهم شرف کرم وغيره شو او دارنګي هغه افعال چې دلالت کوي په نظافت يا په د نس باندې هغه لازم راځي او هغه فعل چې واقع کيږي مطاوع د فعل متعدي الى مفعول واحد لازم راځي او فعل د رباعي مزيد فيه او ملحقات د رباعي مزيد فيه لازم راځي.

والمتعدي يكون الى واحد: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د تعريف د فعل متعدي او غير متعدي نه نو شروع يې وکړه په تقسيم د فعل متعدي کې اقسام ثلاثه ؤ ته نو وي ويل **(والمتعدي الخ)**، فعل متعدي دري قسمه دی: (١): **يكون الى واحد** کله فعل متعدي کيږي مفعول واحد ته **کضرب** لکه ضرب شو دارنګي افعال الحواس شو چې هغه ابصرت شممت، ذقت، سمعت، لمست دي دا متعدي کيږي مفعول واحد ته يقال ابصرت زيداً، ذقت العسل، شممت الريح، وسمعت الكلام، لمست الجلد. **والى اثنين** او متعدي کيږي دوه مفعولو ته او کوم فعل چې متعدی کيږي مفعولين ته دا دوه قسمه دی: (١) يو هغه دی چې مفعول ثاني غير دی د اول نه لکه **اعطى** شو، نحو قوله تعالى: إِنَّآ أَعْطَيْنَٰكَ ٱلْكَوْثَرَ.

(٢): بل هغه دی چې هغه متعدي وي مفعولين ته او مفعول ثاني عين مفعول اول وي، دا بيا دوه قسمه دي: يو افعال قلوب دي لکه علم شو، او بل افعال التحويل والتصيير دي، دا اووه دي: صير، رد، ترك، تخذ، اتخذ، جعل، وهب. دا شپږ وروستني افعال متعدي کيږي مفعولين ته په دې شرط سره چې په معنی د صَيرَ سره وو مثال د رَد كقوله تعالى وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّنۢ بَعْدِ إِيمَٰنِكُمْ كُفَّارًا مثال د ترك: قوله تعالى وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَمُوجُ فِى بَعْضٍ وقول الشاعر:

كم عاقل عاقل اعيت مذاهبه — وجاهل جاهل تلقاه مرزوقاً

هذا الذي ترك الاوها حائرة — وصير العالم النحرير زنديقا

او مثال د تخذ كقول الشاعر:

واخوان تخذتهم دروعا — فكانوها ولكن للاعادي

مثال د اتخذ: قوله تعالی وَاتَّخَذَ اللَّهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا . مثال د جعل: قوله تعالی: فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَنْثُورًا مثال د وهب: نحو وهبي الله فداء المخلصين.

والى ثلاثة او كله فعل متعدي كيږي درې مفاعيل ته او تنوين د ثلاثة تنوين عوضي دى عوض د مضاف اليه نه راغلى دى او مضاف اليه تميز د دې حذف شوى دى اصل كې والى ثلاثة مفاعيل وو، او هغه افعال چې متعدي كيږي مفاعيل ثلاثه ؤ ته هغه اووه دي **اعلم، ارى، انباء... الخ** او انباء متعدي كيږي مفاعيل ثلاثه ؤ ته په دې شرط سره چې بمعنى اعلم وو او كه په معنى د اعلم سره نه وو بلكه بمعنى اخبر وو بيا نه متعدي كيږي مفاعيل ثلاثه ؤ ته نحو قوله تعالى: أَنْبِئْهُمْ بِأَسْمَائِهِمْ او ارى دوه قسمه دى يو هغه دى چې جوړ شوى دى د رايت بمعنى علمت نه دا متعدي دى مفاعيل ثلاثه ؤ ته نحو قوله تعالى: يُرِيهِمُ اللَّهُ أَعْمَالَهُمْ حَسَرَاتٍ عَلَيْهِمْ . دويم هغه ارى دى چې جوړ شوى دى د رايت بمعنى ابصرت نه دا متعدي دى مفعولين ته نحو قوله تعالى وَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ ، او داسې فعل په استعمال د كلام د عربو كې وجود نه لري چې هغه متعدي شوي وي مفاعيل اربعه ؤ ته بلكه فعل متعدي كيږي مفعول واحد ته يا اثنين ته يا ثلاثه ؤ ته. ولا يتجاز ثلاثا ، لهذا كه يو سړى ووايې په سوال كې چې ما ته يو فعل وښايه چې متعدي وي مفاعيل اربعه ؤ ته نو ته به ورته په جواب كې ووايې چې داسې فعل په كلام د عربو كې وجود نه لري نو زه به مثال څنګه ذكر كړم.

قاعده: (۱): كوم فعل چې متعدي وو مفعول واحد ته او د هغې نه مجهول جوړ شي نو لازم ګرځي.
(۲): او كوم فعل چې متعدي وو مفعولين ته او د هغې نه مجهول جوړ شي نو متعدي مفعول واحد ته پاتې كيږي. (۳): او كوم فعل چې متعدي وو مفاعيل ثلاثه ؤ ته او د هغې نه مجهول جوړ شي نو هغه متعدي مفعولين ته پاتې كيږي څكه چې فاعل چې ترك شو نو يو مفعول قائم شو په مقام د فاعل باندې او دوه پاتې شو. او طرق د تعديت د فعل لازم شپږ دي:

(۱): فعل لازم متعدي كولى شي په زيادت د همزه د باب افعال سره نحو اذهب زيد عمرا.

(۲): په واسطې د حرف جر سره نحو قوله تعالى ذَهَبَ اللَّهُ بِنُورِهِمْ.

(۳): په تضعيف سره نحو فرحت زيدا. (۴): په نقل سره باب مفاعلې ته نحو ماشيت زيدا.

(۵): په نقل سره باب استفعال ته نحو استخرجت زيدا.

(۶): فعل لازم متعدي كيږي كله چې متضمن شي معنى د فعل متعدي لره نحو رحبتك الدار.

او طرق د لزوم د فعل متعدي هم شپږ دي: (۱): چې فعل متعدي باب انفعال ته وخېژولى شي نو لازم ګرځي. (۲): چې فعل متعدي باب افعال ته وخېژولى شي نو كله كله لازم ګرځي نحو احمد، واكب، واقشعت. (۳): فعل متعدي لازم ګرځي چې متضمن شي معنى د فعل لازم لره.

(۴): چې فعل متعدي وي مفعول واحد ته او د هغې نه مجهول جوړ شي نو لازم ګرځي نحو ضربت زيدا.

(۵): باب مفاعله متعدي مفعول واحد ته چې باب تفاعل ته وخيژي نو لازم ګرځي نحو تقاتل زيد وعمرو.

(١) فعل متعدي لازم گرځي په تنزيل سره نحو [هل يستوي الذين يعلمون والذين لايعلمون]. دېته لازم تنزيلي وائي.

بيان: او دا افعال چې متعدي دي مفاعيل ثلاثه ؤ ته **مفعولها الاول** مفعول اول د دې افعال **كمفعول اعطيت** په شان د مفعول د اعطيت دی په جواز د اختصار کې په دې شان سره چې مفعول اول د اعلم حذف کول هم جائز دي او ذکر کول هم جائز دي **والثاني والثالث** او مفعول ثاني او ثالث د دې افعال متعدي الى ثلاثة مفاعيل **كمفعول علمت** په شان د مفعولين علمت دی په عدم جواز د اختصار کې په دې شان سره چې يا به دواړه ذکر کوې او يا به دواړه حذف کوې او ذکر د احدهما او حذف د اخر ممتنع دی.

افعال القلوب

بيان: هر کله چې د افعال قلوبو لپاره احکام مختصه وو په دې شان سره چې دغه احکام مختص دي په افعال قلوب پورې او مجاوز نه دی نورو افعال ته چې هغه متعدي دي مفعولين ته پس ذکر يې کړه افعال قلوب لپاره د بيان د احکام مختصو الاپدي عنوان کښې لابدي ده د معرفت د امور عشرونه (١) معرفت د ذات (٢) اسم (٣) وجه د تسميه (۴) تعداد (۵) مصداق (۶) مدخول (٧) غايه ددخول (٨) عمل (٩) شرط د عمل (١٠) احکام مختصه ددي نوع.

نو دا نوع په اعتبار د ذات سره افعال دي نه اسماء اونه حروف. او نوم ددي افعال قلوب دي او افعال اليقين والشك ورته هم وائي. او افعال الدواخل والنواسخ ورته هم وائي.

افعال قلوب ورته وائي لصدورها عن القلب ولا دخل فيها في للجوارح او افعال اليقين والشك ورته ځکه وائي چې بعض دلالت کوي په يقين باندي او بعض دلالت کوي په شك باندي او افعال الدواخل ورته ځکه وائي چې دا افعال داخليږي په مبتدا او خبر باندي او افعال النواسخ ورته ځکه وائي چې دا مخکي عمل منسوخ کوي اودا افعال اوه دي په نزد ابن حاجب باندي او څوارلس دي په نزد ابن مالك باندي اوه دا مذکور دي (**ظننت حسبت الخ**) او ددي نه علاوه نور اوه دادي (حجا، دری، غد، جعل، هب، تعلم، اتقول) او مدخول ددي مبتدا او خبر دي او داخليږي په مبتدا او خبر باندي ليفيد العلم والظن للحکم الواقع في الجملة الاسمية مثال لکه زيد فاضل مطلق دي ندي مقيد په يقين سره او کله چې اوئلي شي علمت زيدا فاضلا، نو معلومه شوه چې فضيلت د زيد پيدا شوي دي د يقين نه او عمل ددي نصب دي په مبتدا او خبر دواړو کښي بنا بر مفعوليت پدي شان سره چې د مبتدا نه مفعول اول جوړوي او د خبر نه مفعل ثاني جوړوي او شرطونه دعمل يي دوه دي (١) يو دا چې دا افعال به وروسته د مفعولين نه يا په مينځ د مفعولين کښي نوي (٢) دا به مخکي د حرف نفي حرف استفهام، لام تاکيد، او قسم نه نوي راغلي، او اضافت د افعال چې يې القلوب ته وکړي نو پدي سره يې احتراز وکړو د افعال الجوارح نه ځکه افعال دوه قسمه دي (١) يو افعال الجوارح دي او افعال العلاج ورته هم وائي او (٢) بل افعال قلوب دي.

وجه د حصر: دا فعل به خالي نوي يا به په صدور ددي كښي د فاعل نه جوارحو لره دخل وي او يا به نوي كه دخل وو نو افعال الجوارح والعلاج او كه دخل نه وو نو افعال قلوب، او دغه افعال القلوب نه عند النحات افعال اليقين والشك هم وائي ځكه بعض افعال ددوي نه راځي د يقين دپاره لكه علمت رايت وجدت شو او بعضي رازي د شك لپاره لكه ظننت حسبت او خلت شو او شك دلته په معنى د ظن سره دي نه په معنى د تساوي د طرفين سره.

پدي سره دفع د اعتراض وشوه **اعتراض** دادي چې ته وائي چې بعض افعال قلوب رازي د شك لپاره نو شك خو استواء د طرفين ته وائي او دا افعال خو د استواء د طرفين لپاره نه رازي. **جواب**: شك دلته په معنى منطقي سره ندي بلكه مرادف د ظن دي جانب راجح ته وائي. او زعمت مشترك دي بين اليقين والشك. **تدخل على الجملة الاسمية** داخليږي دا افعال قلوب په جمله اسميه باندي.

سوال: افعال قلوب په جمله اسميه باندي ولي داخليږي؟

جواب: **لبيان** لپاره د اظهار د متكلم **ما هغه** علم او هغه ظن لره (**هي**) چې دغه جمله من حيث الاخبار دمتكلم په مضمون ددي جملي سره ناشي دي (**عنه**) ددغه علم او ظن نه. مثال لكه كله چې ته ووائي علمت زيدا قائما منشا لپاره د اخبار د متكلم په مضمون د جملي اسمي سره چې قيام زيد دي دغه علم دي، او ظننت زيدا قائما چې ووائي نو منشا لپاره د اخبار د متكلم په مضمون ددي جملي سره ظن دي او كه د متكلم ظن نه وي نو اخبار به يي په مضمون ددي جملي سره نه وي كړي.

سوال: افعال قلوب چې داخل شي په جمله اسميه باندي نو څه عمل كوي؟

جواب: (**فتنصب الجزئين**) نصب وركوي دا افعال قلوب جزئين د جملي اسمي لره چې هغه مبتدا او خبر دي بنا بر مفعوليت پدي شان سره چې د مبتدا نه مفعول اول او د خبر نه مفعول ثاني جوړوي.

ومن خصائصها: **ربط**: هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د مصداق، مدخول او عمل د افعال قلوب نه نو شروع يي وكړه په بيان د احكام مختصه د افعال قلوب كښي ځكه داي ذكر كړي دي پس د بيان د اقسام د فعل متعدي نه لپاره د بيان د احكام مختصو.

ترجمه: **ومن خصائصها**: بعض د احكام مختصه د افعال قلوب نه. خصائص جمع د خصيصة ده او خاصه او خصيصة ما يوجد فيه ولا يوجد في غيره ته وائي او يو حكم د هغه احكام نه چې موجود يږي په افعال قلوب كښي نه په غير كښي (**انه**) شان د خبري دا دي (**اذا ذكر احد هما**) چې كله ذكر كړي شي يو مفعول (**ذكر الاخر**) نو ذكر كولي به شي مفعول اخر يعني اقتصار على احد المفعولين نه دی جائز ځكه مفعول به په حقيقت كې مضمون د جملې دی او مضمون د جملې جوړيږي د مفعول اول او ثاني دواړو نه اوس كه مونږ احدهما حذف كړو بيا د اخر نه نو لازميږي حذف د بعض اجزاؤ د كلمه سره د بقاء د بعض نه لكه رؤيت جعفر كې رايت جع اوايي په حذف د فر سره او دا نه دی جائز لهذا په افعال قلوب كې به يا دواړه مفعولين ذكر كوي او علمت زيدا فاضلا به وايي يا به حرف علمت وائي په حذف د مفعولين سره ليكن علمت زيدا په حذف د فاضلا سره يا علمت فاضلا په حذف د زيد سره

په دی جائز او هر چې دی دا قول د الله ﴿وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَّهُم﴾ مفعول اول د دې حذف شوی نه دی چې بخلهم دی، بلکه مفعول اول د دې هو دی او دا ضمير مرفوع منفصل دی واقع شوی دی په موضع د منصوب کې او هر چې دی دا قول د شاعر:

ولا تخلنا على غراتك انا طالما قد وشى بنا الاعداء

نو دلته مفعول ثاني حذف دی ای جازعين: (١) دا شاذ دی. (٢) يجوز في الشعر ما لايجوز في غيره، يعني مونږ وايو چې افعال قلوب کې اقتصار على احد المفعولين نه دی جائز په نثر د کلام کې او په نظم کې جائز دی د وجې د ضرورت شعري نه **بخلاف باب اعطيت** په خلاف د باب د اعطيت نه چې په هغې کې اقتصار على احد المفعولين جائز دی او مراد د باب د اعطيت نه هر هغه فعل دی چې متعدي وي مفعولين ته او مفعول ثاني يې غير وي د اول نه بيا عام دی که اعطيت وي او که بل فعل وي لکه کسوت او البست شو **او** اعطيت راغلی په کلام بليغ کې په طرق اربعه ؤ سره:

(١) په ذکر د مفعولين سره نحو قوله تعالى: ﴿إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ﴾

(٢) په حذف د مفعولين سره نحو قوله تعالى: ﴿فَأَمَّا مَنْ أَعْطَىٰ وَاتَّقَىٰ﴾ وقوله عليه السلام (**من احب لله وابغض لله واعطى لله ومنع لله فقد استكمل الايمان**).

(٣) په حذف د مفعول اول او بقاء د ثاني سره نحو قوله تعالى: ﴿حَتَّىٰ يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ﴾ اى يعطوكم الجزية.

(٤) په حذف د مفعول ثاني او بقاء د مفعول اول سره نحو قوله تعالى ﴿وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰ﴾.

سوال: په باب د اعطيت کې اقتصار على احد المفعولين ولې جائز دی؟

جواب: د وجې د عدم وجود د نقصان نه هغه نقصان چې لازميدو په اقتصار على احد المفعولين د افعال قلوب کې ځکه په باب د اعطيت کې مفعول د اعطيت لپاره په حقيقت کې مضمون د جمله نه دی بلکه مفعول اول او ثاني ځان له مفعول به دی.

ومنها او بعض د خصائص د افعال قلوب نه **جواز الالغاء** ابطال د عمل د افعال قلوب دی لفظا او معنی جوازا **اذا توسطت** کله چې واقع شي دا افعال قلوب په مابين د مفعولين کې نحو زيد ظننت قائما **او تاخرت** يا واقع شي افعال قلوب وروستو د مفعولين نه نحو زيد قائم ظننت په خلاف د باب د اعطيت نه چې دا واقع شي بين المفعولين يا وروستو د معمولين نه نو ابطال د عمل د دهٔ جائز نه دی.

سوال: الغاء خاصه د افعال قلوب ولې ده؟ **جواب: لاستقلال الجزئين کلاما** د وجې د صلاحيت د مفعولين د افعال قلوب نه کلام لره په وقت د ابطال د عمل د افعال قلوب کې يعنې مفعولين د افعال قلوب صالح دي چې دا مبتدا او خبر شي او د مبتدا او خبر نه کلام تام جوړيږي سره د ضعف د عمل د افعال قلوب نه په سبب د توسط او تاخر د وجې د وقوع د دې افعال نه په توسط او تاخر کې ځکه په دې افعال کې ضعف ذاتي دی په نسبت سره افعال جوارح ته او په تقديم د معمولين سره کلا يا بعضا تاکيد د ضعف

راغی یعنې ضعف ښه زیات شو لهذا که عمل افعال قلوب لره نه ورکوي نو مه ورکوه، او په تقدیر د
الغاء د افعال قلوب کې دا معمولین د افعال قلوب معنی ظرف دی د افعال قلوب لپاره، لکه زید قائم
ظننت د دې معنی دا ده چې زید قائم في ظني او بعض شارحین ویلې دي چې دا افعال قلوب چې واقع
شي په مینځ د معمولین کې نو اعمال اولی دی د الغاء نه، او که وروستو د معمولین نه واقع شي نو
الغاء اولی ده د اعمال نه، دارنګې عمل د افعال قلوب باطل کولی شي کله چې واقع شي بین الفعل
والفاعل نحو ضرب احسب زید او په مابین د اسم فاعل او د فاعل کې نحو:
او په مابین د سوف او مدخول د دې کې نحو سوف احسب یقوم زید مصنف دا به دی ذکر کړی د
وجې د قلت نه.
ومنها او بعض د خصائص د افعال قلوب نه د ادی **انها** چې دغه افعال قلوب **تعلق** منع کولی شي د
عمل لفظي نه وجویا نه د عمل معنوي نه **قبل الاستفهام** چې واقع شي مخکې د استفهام نه استفهام
عام دی چې حرف استفهام وي او که اسم استفهام وي مثال د فعل قلب چې مخکې د حرف استفهام
نه راغلی وي قوله تعالی: إِنْ أَدْرِيٓ أَقَرِيبٌ مَّا تُوعَدُونَ او مثال د اسم استفهام قوله تعالی وَسَيَعْلَمُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا
أَىَّ مُنقَلَبٍ يَنقَلِبُونَ ، أَلَمْ يَرَوْا كَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّنَ ٱلْقُرُونِ ، لِنَعْلَمَ أَىُّ ٱلْحِزْبَيْنِ أَحْصَىٰ لِمَا لَبِثُوٓا
والنفي او مخکې د نفي به نحو علمت ما زید فاضل **واللام** او مخکې د لام ابتدائیه تاکیدیه نه نحو
قوله تعالی وَلَقَدْ عَلِمُوا لَمَنِ ٱشْتَرَىٰهُ مَا لَهُۥ فِى ٱلْءَاخِرَةِ مِنْ خَلَٰقٍ
سوال: دا افعال قلوب چې مخکې د استفهام نفي او لام الابتداء نه راشي نو ابطال د عمل لفظي د دې
ولې واجب دی؟ **جواب:** دا امور تقاضه کوي د بقاء د جمله په خپل حال باندې ځکه دا صدارت د کلام
غواړي او افعال قلوب تقاضه کوي د تغیر د جملې او په مینځ د دې کې منافات دی نو مونږه لحاظ د
دواړو وکړو عمل لفظي باطل شو نو تقاضه د نفي استفهام او لام پوره شوه ځکه صدارت فوت نه شو
او معنیٰ د اما بعد مفعول به وګرځولی شو نو تقاضه د افعال قلوب پوره شوه.
سوال: عکس یې ولې ونه کړو چې عمل معنوي یې باطل کړی وی نه لفظي؟
جواب: عکس یې ونه کړو ځکه صدارت صفت د لفظ دی نه د معنی او که دی افعال قلوب لره عمل
لفظي ورکړه نو بیا صدارت فوت کیږي.
سوال: ابطال د عمل لفظي د افعال قلوب وجوبا ته تعلیق ولې وائي؟
جواب: دا ماخوذ دی د امراة معلقة نه او امراة معلقة هغې ښځې ته وایې چې خاوند یې ورك شوی وي
نو دا ښځه په شان د یو شي معلق وي ځکه نه د خاوند سره ده د وجې د فقدان د خاوند نه او نه بې د
خاوند نه ده د وجې د امکان د وجود د خاوند نه نو قدرت نه لري چې د بل خاوند سره نکاح وکړي نو
دا فعل معلق ممنوع دی د عمل نه لفظا او عامل دی معنیٰ نو من وجه عامل شو او من وجه عامل نه
دی ځکه ورته تعلیق وائي د دې وجې نه جائز دی عطف د اسمین په معمولین د فعل معلق باندې په
نصب سره نحو علمت لزید قائم وبکرا قاعدا

سوال: د تعليق او د الغاء په مينځ کې څه فرق دی؟ **جواب:** دې کې درې فرقونه دي:
(۱): الغاء عبارت دی د ابطال د عمل د افعال قلوب نه لفظا او معنا او تعليق عبارت دی د ابطال د عمل د افعال قلوب نه لفظا فقط. (۲): الغاء جائز ده او تعليق واجب دی.
(۳): عطف د اسم په نصب سره جائز دی په هغه اسمين چې راغلې وي وروستو د فعل معلق نه ځکه د دې لپاره محل د نصب شته ځکه د دې عمل لفظي ممنوع دی نه عمل معنوي او عطف د اسم په نصب سره نه دی جائز په هغه اسمين چې راغلی وی وروستو د فعل ملغي نه.
سوال: (هم كالحلقة المفرغة لا يدري اين طرفاها) کې د (لايدری اين طرفاها) څه ترکيب دی؟
جواب: اين خبر مقدم دی او طرفاها مبتدا مؤخره ده جمله نائب فاعل د لايدری.
سوال: نائب فاعل په حکم د فاعل کې دی او فاعل اسم وي حقيقة يا تاويلا او جمله فاعل او نائب فاعل نه واقع کيږي؟ **جواب:** جمله نائب فاعل نه واقع کيږي ما سوی د مجهول د قال او ما سوی د مجهول د افعال قلوب نه او په دې کې جمله نائب فاعل واقع کيږي ځکه مقوله نه وي مگر جمله وي او نائب فاعل جوړيږي د مقولې نه، او نائب فاعل د افعال قلوب جمله راځي په صورت د تعليق کې فاعل چې حذف شي نو دغه جمله قائميږي په مقام د فاعل باندې ځکه بل مفعول نشته.
سوال: دا جمله په ترکيب کې څه واقع شوې ده؟ **جواب:** دا صفت دی د الحلقة لپاره.
سوال: جمله صفت د نکرې لپاره واقع کيږي نه د معرفې لپاره او الحلقة خو معرفه ده؟
جواب: کله چې مضمون د جمله مختص وو په موصوف پورې بيا جمله صفت د معرفې لپاره واقع کيږي او دلته مضمون د لايدری اين طرفاها خاص دی په الحلقة پورې.
(۲): يا حال واقع شوی دی د الحلقة نه او عامل يکې معنوی دی چې تشبيه ده.
(۳): يا حال واقع شوی دی د ضمير د المفرغة نه چې راجع دی الحلقة ته بيا په دې کې عامل لفظي دی چې المفرغة دی. **ومنها** او بعض د خصائص د افعال قلوب نه **انها** دا افعال قلوب **يجوز** جائز دی ان يکون چې شي **فاعلها** فاعل د افعال قلوب **ومفعولها** او مفعول اول د افعال قلوب **ضميرين لشئ واحد** ضميرين متصلين داسې ضميرين متصلين چې د مسمی واحد لپاره وي مثال لکه **علمتني منطلقا** او د افعال قلوب نه علاوه په نورو افعال کې دا نه دی جائز فلا يقال ضربتني شتمتني بل يقال ضربت نفسي شتمت نفسي ځکه قانون دا دی چې فاعل مؤثر وي او مفعول به متاثر وي او قاعده دا ده چې مؤثر به مغائر وي د متاثر نه او کله چې مؤثر او متاثر متحد وي مصداقا نو مکروه دی اتفاق د دې دواړو لفظا په دې کې مغائرت لفظا په کار دی بقدر الامکان نو کله چې ضربت نفسي ووېل نو مغائرت راغلو په مابين د مؤثر او متاثر کې بقدر الامکان ځکه دا نفس د وجې د اضافت نه ضمير د متکلم ته گرځېدلی دی په منزله د غير باندې په خلاف د افعال قلوب نه چې دلته نه لازميږي عينيت او اتحاد په مؤثر او متاثر کې ځکه مفعول به په حقيقت کې مضمون د جمله دی او فقدتني او علمتني کې اتصال د ضمير د فاعل او مفعول راغلی دی چې هغه متحد دي مصداقا سره د دې نه

چې دا د افعال قلوب نه ندی ځکه دا محمول دی په وجدتني باندې حملا النقيض على النقيض، او هر چې دی إِنِّيٓ أَرَىٰنِيٓ أَعۡصِرُ خَمۡرٗا او دا قول د شاعر:

ولقد اراني للرماح دراية من عن يميني تارة وامامي

دلته رؤيت، رؤيت بصري دی دا د افعال قلوب نه ندی او اتصال د ضمير د فاعل او مفعول به راغلی دی په دې پورې چې دا متحد دی مصداقا ځکه دا محمول دی په رؤيت قلبي او علمي باندې **وبعضها معنى اخر** او ثابته ده د بعض افعال قلوب لپاره بله يوه معنی سره د مناسبت د معنی ثاني نه د اول سره چې په بادي الراي کې سړی گومان کوي چې دا فعل په دغه معنی سره هم متعدي کيږي مفعولين ته، په دې سره يو اعتراض دفع شو.

سوال: لکه څنگه چې ظننت. رايت. وجدت. په معنی اخر سره راغلی دی دغسې: خلت. حسبت. زعمت. هم په معنی اخر سره راغلی دی. خلت. راغلی دی بمعنی صرت ذا خال، حسبت بمعنی صرت ذا حسب، زعمت بمعنی صرت ذا زعم سره. نو تا معنی اخر د بعض افعال قلوب بيان کړه نو د دې نورو بعض دا دې ولې بيان نه کړه؟

جواب: دلته مراد د معنی اخر نه هغه ده چې قريب وي معنی اولی ته او بادي الراي کې سړی گومان کوي چې دا فعل په دې معنی سره هم متعدي کيږي مفعولين ته او خلت. حسبت. زعمت. په داسې معنی اخر کې نه دي مستعمل شوي چې مناسبت يې وي د معنی اولی سره نو ځکه مصنف د هغې معنی اخر نه ده ذکر کړې او دا افعال اربعه مستعمليږي په معنی اخر کې چې هغه قريب ده معنی اول ته چې متوهم دا توهم کوي چې دا افعال په دې معنی سره متعدي کيږي مفعولين ته او تخصيص د دې افعال اربعه ؤ يې کړيدی لپاره د دفع د توهم **يتعدى** متعدي کيږي دغه بعض افعال قلوب **به** په سبب د دې معنی سره **الى واحد** مفعول واحد نه مفعولين ته **فظننت** پس ظننت د افعال قلوب نه **بمعنى اتهمت** راځي په معنی د اتهمت سره دا ماخوذ دی د ظنة نه او ظنة تهمت ته وائي لکه څنگه چې ظن يوه نوع د علم ده نو دارنگې وهم هم يوه نوعه د علم ده او د دې قبيلې نه دی دا قول د الله وَمَا هُوَ عَلَى ٱلۡغَيۡبِ بِضَنِينٖ على قراة اى بمتهم. **وعلمت بمعنى عرفت** او علمت راځي په معنی د عرفت سره نحو عرفت زيدا دې ته معرفت شخصي او معرفت ذاتي وائي **ورايت بمعنى ابصرت** او رايت راغلی دی په معنی د ابصرت سره نحو رايت الکواکب. **ووجدت بمعنى اصبت** او وجدت راغلی دی په معنی د **اصب** سره نحو وجدت الضالة اى اصبتها.

الافعال الناقصة

ربط: (۱): هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د نوع اول د دواخل او نواسخ د مبتدا او خبر نه نو شروع يې وکړه په بيان د نوع ثاني د دواخل او نواسخ د مبتدا او خبر کې.

(۲): هر کله چې فارغ شو مصنف د تقسيم د فعل نه نوعين ته چې هغه افعال القلوب او افعال الجوارح وو، نو شروع يې وکړه په تقسيم د فعل کې په اعتبار اخر سره نوعين ته چې افعال تامه او افعال ناقصه دی په دې شان سره چې فعال اولا دوه قسمه دی: (۱) فعل تام (۲) فعال ناقص.

وجه د حصر: دا فعل به خالي نه وي يا به فقط مرفوع سره مركب تام گرځي يا نه كه مركب تام گرځيدو نو فعل تام ورته وائي اوكه نه گرځيدو نو هغه ته فعل ناقص وائي او فعل تام بيا دوه قسمه دي متعدي، غير متعدي. او فعل متعدي درې قسمه دي: (۱) متعدي مفعول واحد ته. (۲) مفعولين ته. (۳) مفاعيل ثلاثه ۋ ته هر كله چې افعال قلوب د قبيلې د اقسامو د فعل متعدي الى المفعولين نه وو نو مقدم يې كړه په افعال ناقصو باندي.

په دې مقام كې لابدي ده د معرفت د امور اربعة عشر نه: (۱) معرفت د ذات. (۲) اسم. (۳) معرفة الحد. (۴) وجه د تسميه. (۵) عدد. (۶) مصداق. (۷) مدخول. (۸) عمل. (۹) وجه د عمل. (۱۰) معرفت د غايه د دخول په جمله اسميه باندې. (۱۱) تقسيم په اعتبار د عمل سره. (۱۲) تقسيم په اعتبار د نقصان سره. (۱۳) تقسيم باعتبار التصرف. (۱۴) معرفة الاحكام.

نو دا دواخل او نواسخ د مبتدا او خبر په اعتبار د ذات سره افعال دي نه اسماء او نه حروف د وجې د وجود د علامې د فعل نه په دې كې چې هغه اتصال د تاء التانيث الساكنة دی او اتصال د ضمير مرفوع دی او نوم د دې دواخلو د مبتدا او خبر افعال الناقصه دی او تعريف يې مذكور في المتن دی چې ما وضع لتقرير الفاعل على صفة او دې ته افعال ناقصه وائي د وجې د نقصان نه په نسبت د دې كې په دې شان سره چې نسبت د يو فعل وكړی شي د دې افعال نه يو اسم ته نو د امفيد د فائدې نه دی سامع او مخاطب ته تر څو چې ورسره اسم منصوب نه وي ذكر شوی او ناقص دوه قسمه دي: ناقص لفظي او ناقص معنوي.

(۱): **(ناقص لفظي)**: هغې ته وائي چې په ځای د لام كلمه باندې يې حرف علت راغلی وي نحو رمی يرمي.

(۲): **(ناقص معنوي)**: هغې ته وائي چې د هغې په معنی او نسبت كې نقصان وي او دلته مراد د ناقص نه ناقص معنوي دی نه لفظي ځكه د ناقص لفظي نه صرفيان بحث كوي، او په عدد د دې افعال ناقصو كې خلاف دی د شيخ عبد القاهر او اخفش په نزد باندې ديارلس دي، او په نزد د ابن حاجب باندې اوولس دي، او په نزد د سيبويه باندې غير محصور دي او مصداقونه يې **(كان، صار، اصبح.... الخ)** دي او دا داخليږي په مبتدا او خبر باندې او اسم مرفوع خبر منصوب غواړي او غايه د دخول، اعطاء الخبر حكم معناها وجه د عمل او دخول د دې په مبتدا او خبر يعنی جمله اسميه باندې سماعي ده، عقل لره پكې څه دخل نشته.

(۲): يا په مبتدا او خبر باندې ځكه داخليږي چې دا تقاضه د عمل د نصب كوي په خبر كې او تقاضه د عمل د رفع كوي په اسم كې او جمله فعليه نه محل د رفع ده او نه محل د نصب ده او اسم مرفوع خبر منصوب غواړي ځكه اسم د دې مشابه دی د فاعل سره په وقوع د مرتبه ثاني كې او فاعل مرفوع وي نو دا هم مرفوع شو او خبر يې مشابه دی د مفعول به سره په وقوع د مرتبه ثاني كې او مفعول به منصوب وي نو دا هم منصوب شو تشبيها له بالمفعول به او افعال ناقصه په اعتبار د عمل سره درې قسمه دي: (۱): بعض هغه دي چې اسم مرفوع او خبر منصوب غواړي په دې شرط سره چې اول كې يې ما نافيه راغلی وي او دا څلور دي: ما زال. ما انفك. ما فتئ. ما برح.

(٢): دويم قسم هغه دی چې اسم مرفوع خبر منصوب غواړي په دې شرط سره چې اول کې یې ما مصدریه راغلی وي دا صرف ما دام دی.
(٣): بعض هغه دي چې اسم مفروع خبر منصوب غواړي بلا قید وشرط لکه باقي افعال ناقصه شو دارنګې افعال ناقصه په اعتبار د نقصان سره دوه قسمه دي: (١) بعض هغه دي چې نقصان ورسره لازم دی یعنې همېشه ناقصه راځي نه تام او دا درې الفاظ دي: لیس، زال، فتئ.
(٢): دویم قسم هغه دی چې کله تام راځي او کله ناقص راځي لکه باقي افعال ناقصه شو پس د دې ځای نه معلومه شوه چې فعل درې قسمه دی: (١): یو هغه دی چې همېشه تام راځي لکه ضرب، نصر، علم وغیره شو. (٢): دویم قسم هغه دی چې همېشه ناقص راځي نه تام لکه لیس شو.
(٣): چې کله تام راځي او کله ناقص لکه: کان، صار، اصبح، امسی شو.
او افعال ناقصه په اعتبار د تصرف سره درې قسمه دی: (١) غیر متصرف لکه مادام او لیس شو چې په دې کې د ماضي نه علاوه بله صیغه نه ده راغلې او که راغلي وي نو فعل ناقص به نه وي.
(٢) متصرف په تصرف ناقص سره لکه مازال، ما انفك، مابرح، مافتئ، د دې ماضی او مضارع راغلی دی او امر یې ندې راغلي:
(٣): متصرف په تصرف کامل سره لکه باقي افعال ناقصه شو چې د هغې نه ماضي مضارع امر وغیره ټولې صیغې راغلي دي او احکام د افعال ناقصو وروستو مصنف په خپله بیانوي.
(ترجمه) **الافعال الناقصة** جنس فعل ناقص په اصطلاح کې **ما** فعل دی.
(٢): یا افعال ناقصه په اصطلاح کې **ما** افعال دي او افراد د ضمیر په اعتبار د لفظ د ما سره دی داسې افعال **وضع** چې وضع کړی شوي دي **لتقرير الفاعل** لپاره د اتصاف د فاعل **على صفة** په یو صفت باندې هغه صفت چې هغه نه دی مصدر د فعل مذکور په دې شان سره چې دا تقریر جز عمده د معنی موضوع له د دې افعال دی او امر مشترك دی په ټولو افعال ناقصو کې او مقصود بالبیان دی او ټوله یې کل معنی موضوع له ګرځولې ده مجازا د وجې د عمدیت نه.
(٣) یا افعال ناقصه وضع کړی شوي دي د یو معنی لپاره او غرض او فائده مرتبه په وضع د افعال ناقصو کې د یو معنی لپاره تقریر الفاعل علی صفة دی.
سوال: دا لفظ د ما به خالي نه وي یا به یې عبارت وائې د فعل نه او یا به یې عبارت وائې د افعال نه، دا دواړه نه دي صحیح که عبارت یې وائې د فعل نه بیا حمل صحیح کیږي ځکه حمل د مفرد راځي په جمع باندې او که ما عبرات د افعال نه وائې نو حمل خو صحیح کیږي خو مطابقت نه راځي بین الراجع والمرجوح؟ **جواب:** ما عبارت د افعال نه وایم او افراد د ضمیر د وضع په اعتبار د لفظ د ما دی. یا ما عبارت د فعل نه وایم او الافعال الناقصه کې الف لام جنسي دي دا چې داخل شي په جمع باندې نو جمعیت باطلوي نو معنی دا شوه چې جنس. فعل ناقص په اصطلاح کې **ما** فعل دی نو هم صحیح شو او مطابقت هم راغی او دا جواب غوره دی د اول نه ځکه تعریف د جنس کیږي په سره نه تعریف د افرادو په افرادو سره.

سوال: قاعده دا ده چې لام واقع شي په صله د وضع کې نو مدخول د لام کل معنی موضوع له وي او دلته مدخول د لام چې تقرير الفاعل على صفة دی کل معنی موضوع له د افعال ناقصو نه ده بلکه افعال ناقصه مشتمل دي په هغه معانيو باندې چې هغه زائد دي د دې تقدير نه لکه زمانه شوه په تولو کې انتقال شو په صار کې او په ما برح مازال کې. **جواب:** (۱) تقرير الفاعل على صفة عمده دی په معنی موضوع له د افعال ناقصو کې او امر مشترك دی په تولو کې او مقصود بالاخبار دی او دا کل معنی موضوع له یې گرځولی دی مجازا د وجې د عمديت نه او دا اعتراض به هله واردیدو چې دې ته یې کلا معنی موضوع له حقيقة ویلی وی.

(۲): دویم جواب دا دی چې دا لام په لتقرير الفاعل کې د غرض لپاره دی او دا صله د وضع نه ده نو د دې معنی دا شوه چې دا افعال ناقصه وضع کړي دي د یو معنی لپاره او غرض او فائده مرتبه په دې کې تقرير الفاعل على صفة دی، يعني تقرير الفاعل على صفة غرض او فائده مرتبه د افعال ناقصو ده نه معنی موضوع له د افعال ناقصو.

سوال: تعریف د افعال ناقصو مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو پکې افعال تامه لکه ضرب شو، په ضرب زيد کې. ځکه دا ضرب دلالت کوي په اتصاف د فاعل على صفة باندې چې دا زيد متصف دی په صفت د ضرب سره؟

جواب: مراد د صفت نه هغه صفت دی چې هغه نه وي مصدر د فعل مذکور.

سوال: د افعال ناقصه مصداق راته وښايه؟ **جواب:** وهي کان وصار و اصبح الخ.

سوال: هي ضمير راجع دی افعال ناقصو ته نو مطابقت رانغی بين الراجع والمرجع هغه جمع ده او دا ضمير د مفرد مؤنث دی؟ **جواب:** دا ضمير د واحد مؤنث راجع دی افعال ناقصو ته په تاويل د جماعة سره، دارنگې هغه افعال تامه شو چې هغه متضمن دي معنی د فعل ناقص لره مثال لکه (آل و رجع و حان و استحال وتحول وانقلب تتم او کمل شو)، دا د افعال ناقصو نه دي چې په معنی د صار شره راشي نحو (تتم تسعة بهذا عشرة ای تصير عشرة تامة ـ کمل زيد عالما ای صار زيد عالما کاملا).

وقد جاء ما جاءت حاجتك وقعدت كأنها حربة او لږ لږ راغلی دی لفظ د جاء په دې قول د خوارجو کې چې (ما جاءت حاجتك) دی ناقص. حضرت علي رضي الله عنه ابن عباس رضي الله عنه ولېږلو خوارجو ته د دعوت الى الاطاعت لپاره، حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه خوارجو ته تقرير وکړو چې تاسو خروج پرېږدئ او د علي رضي الله عنه اطاعة وکړئ نو خوارجو په جواب، کې وويل: (ما جاء حاجتك) ای ما کانت حاجتك. (ما نافيه دی او جاءت بمعنی کانت فعل ناقص دی، ضمير پکې مستتر دی راجع دی غرارې ته، اسم د جاءت او حاجتك یې خبر دی نو معنی دا ده چې نه ده سادگې زمونږه ستا حاجت او مقصد پوره کوونکې يعني مونږ ستا خبره نه منو. يا ما استفهاميه بمعنی (ای شئ) مبتدا او جاءت بمعنی صارت فعل ناقص ضمير پکې مستتر دی راجع دی ما ته او مؤنث کړی یې دی په اعتبار د خبر سره چې حاجتك لکه (من کانت امك) کې ضمير مؤنث راغلی دی د وجې د خبر نه (فيکون المعنی ای شئ صارت حاجتك) يعني د کوم مقصد لپاره ته مونږ ته راغلی یې.

او ل لر راغلی دی لفظ د قعد ناقص په دې قول د اعرابي کې (ارهف شفرته حتی قعدت کانها حربة) (ترجمه) تیاره یې کړه څوکه د چاړۀ حتی چې وګرځېده دا څوکه دچاړۀ ته به وایې چې دا لندۍ نېزه ده، **قعدت فعل** ناقص دی بمعنی صارت ضمیر مستتر پکې راجع دی شفرة ته اسم د قعدت او کانها حربة جمله ورله خبر واقع شوی دی.

اندلسي ویلې دي چې دا راتلل د جاء او قعد ناقص مختص دی په دې دوه ترکیبونو پورې او د دې نه علاوه په بل ځای کې دا ناقص نه دی راغلی.

او فراء وائي چې کون د جاء او قعد ناقص منحصر په دې پورې نه دی د دې نه علاوه نورو ځایونو کې هم راځي. **تدخل علی الجملة الاسمیة** داخلیږي دا افعال ناقصه او ملحقات د افعال ناقصه په جمله اسمیه باندې یعنې مبتدا او خبر باندې ځکه دا وضع کړی شوي دي لپاره د تقریر د شئ علی صفة، پس لابدي ده د ذکر د شئ او د صفت د شئ نه او ذکر د شئ او صفت د شئ نه راځي مګر په جمله اسمیه کې راځي.

سوال: په دخول د افعال ناقصه په جمله اسمیه باندې فائده څه مرتب ده؟

جواب: لاعطاء الخبر حکم معناها لپاره د ورکولو د دې افعال ناقصو خبر لره اثر مرتبه د معنی د دې افعال چې هغه تفریع ده، مثال لکه صار زید غنیا معنی د صار انتقال دی او اثر مرتبه او فائده مرتبه په معنی دد ې صار کون الخبر منتقلا الیه دی کله چې صار داخل شو په جمله اسمیه چې زید غني دی نو دلالت یې وکړو په معنی خپله چې انتقال دی او ور یې کړو خبر لره چې غني دی اثر د انتقال چې هغه کون د غني دی منتقل الیه **او اعطاء** صیغه د مصدر ده د باب د اعطیت نه دوه مفعوله غواړي او دلته اضافت د اعطاء راغلی دی مفعول اول ته او مفعول ثاني یې حکم معناها دی او فاعل یې حذف دی چې افعال الناقصه دی ځکه حذف د فاعل د مصدر جائز دی بې د سد مسد نه د وجې د عدم وجود د استحالې نه چې وجود د نسبت دی بدون الطرفین.

سوال: افعال ناقصه چې داخل شي په جمله اسمیه باندې نو اثر معنوي د دې خو مونږ ته معلوم شو خو اثر لفظي یې څه دی؟

جواب: فترفع الاول وتنصب الثاني رفع ورکوي دا افعال ناقصه جز اول د جمله اسمیه لره چې مبتدا ده لکونه فاعلا او نصب ورکوي جز ثاني لره چې خبر دی لشبهه بالمفعول به في توقف الفعل علیه .مثال لکه **کان زید قائما** شو دا اصل کې زید قائم وو جمله اسمیه وه نو کان ورباندې داخل شو زید لره یې رفع ورکړه او قائما لره یې نصب ورکړو.

فکان تکون ناقصة: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د افعال ناقصو نه اجمالا نو شروع یې وکړه په افعال ناقصو کې تفصیلا. دا فاء تفصیلیه ده او کان مراد اللفظ علم دی د هغه کان لپاره چې واقع کیږي په تراکیبو کې مبتدا او تکون ورله خبر دی او کان په تاویل د کلمه سره مؤنث دی ځکه یې تکون مؤنث ذکر کړی دی.

ترجمه: پس کلمه د کان کیږي ناقصه په دې شان سره چې معنی د دې نه تامیږي یواځې په اسم مرفوع سره بې د منصوب نه دغه کان ناقصه کائن دی **لثبوت خبرها** لپاره د تحقق او ثبوت د خبر د کان د اسم د کان لپاره په ثبوت کولو سره داسې ثبوت چې کائن دی په زمانه د ماضي کې **دائما** بې د دلالت کولو نه په عدم مسابقه په انقطاع لاحقه باندې څکه په لفظ کې قرینه نشته مثال لکه کان الله غفورا رحیما. **منقطعا** او دا کان ناقصه دلالت کوي په ثبوت د خبر لپاره د اسم خپل په زمانه ماضي کې په طریقه د انقطاع سره د وجې د وجود د دلیل د انقطاع نه نحو کان زید غنیا فافتقر. **و بمعنی صار** او بل دا کان ناقصه راځي په معنی د صار سره عطف د یو قسم راغلی دی په بل قسم باندې مثال د کان بمعنی صار کقول الشاعر:

بتیهاء قفر والمطی کانها قطا الحزن قد کانت فراخا بیوضها

ای صارت فراخا بیوضها دلته کانت په معنی د صارت دی نه په معنی د ثبوت د خبر لپاره د اسم خپل څکه که شي نو بیا لازمیږي فساد د معنی. **و یکون فیها ضمیر الشان** او کیږي په دې کلمه د کان کې ضمیر شان او دغه کان ناقصه ته کان شانیه وائي او مابعد جمله خبر واقع کیږي د کان لپاره مثاله کقول الشاعر:

اذا مت کان الناس صنفان شامت واخر مثن بالذي کنت اصنع

ترجمه: کله چې زه مړ شم شان د خبرې دا دی چې خلق به دوه ډلې وي یوه ډله به کنځلې کوي ما ته او بله ډله به صفت کوي په هغه کار باندې چې ما کوو، دلته (کان الناس) کې کان شانیه دی ضمیر پکې مستتر دی ضمیر الشان هغه اسم د کان دی او (الناس) مبتدا ده او (صنفان) یې خبر دی دا جمله خبر د کان دی.

سوال: (کان زید قائم) څه ترکیب دی که ته وایې چې زید اسم د کان او قائم یې خبر دی نو خبر د کان منصوب وي او دا خو مرفوع دی؟

جواب: کان ناقصه شانیه ضمیر پکې مستتر دی ضمیر شان هغه اسم د کان زید قائم جمله مفسر د ضمیر شان خبر د کان **وتکون تامة** او کیږي کلمه د کان تامه په دې شان سره چې تامیږي یواځې په مرفوع سره بې د حاجت نه منصوب ته او کان چې تامه راشي نو دا کیږي په معنی د ثبت او وقع سره مثال د دې قوله تعالی کُنْ فَیَکُوْنُ ای اثبت فیثبت، وَاِنْ کَانَ ذُوْ عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ اِلٰی مَیْسَرَةٍ ای ان ثبت ذو عسرة. **وزائدة** او کیږي کان زائده په دې شان سره چې ازاله د دې کان نقصان نه رسوي اصل معنی د کلام ته بلکه وجود او عدم د دې برابر وي په کلام کې او دا زیاتی کړی شوی وي لپاره د تحسین د لفظ او کان زائده د افعال غیر عاملونه دی په شان د طالما او قلما باندې مثال د کان زائده قوله تعالی کَیْفَ نُکَلِّمُ مَنْ کَانَ فِی الْمَهْدِ صَبِیًّا ای کیف نکلم من هو في المهد حال کونه صبیا، دا کان زائده دی راغلی دی د تحسین لپاره څکه که دا زائد نه شي نو لازمیږي فساد د معنی. بل مثال لکه دا قول د شاعر شو:

جیاد بني ابي بکر تسامی علی کان المسومة العراب

دلته کان زائده راغلی دی بین الجار والمجرور بل مثال لکه: «ما کان اصح علم من تقدما» شو، دا کان زائد دی په مابین د ما تعجبیه او فعل تعجب کې.
سوال: زید کان قائم څه ترکیب دی؟ **جواب:** زید مبتدا قائم یې خبر دی او کان زائد دی بین المبتدا والخبر ملغات العمل مبتدا سره د خبر نه جمله خبریه اسمیه ده.
پس زده کړه دا خبره چې کان اولا دوه قسمه دی: زائده، غیر زائده. غیر زائده بیا دوه قسمه دی: ناقصه، تامه. ناقصه درې قسمه دی: بمعنی ثبت، بمعنی صار، شانیه.

خصوصیات کان من اخواتها

(۱): کان زائده راځي بخلاف اخواتها. (۲): کان شانیه راځي بخلاف اخواتها.
(۳): کان حذف کیږي بخلاف اخواتها. (۴): باء زائده راځي په خبر د کان کې په دې شرط سره چې مخکې د دې نه حرف نفي راغلی وو بخلاف اخواتها.
(۵): نون د مضارع د کان حذف کیږي د وجې د حرف جازم نه په دې شرط سره چې حرف او نون تاکید وروستو نه وي متصل شوی نحو قوله تعالی: وَلَمْ أَكُ بَغِيًّا.
وصار للانتقال: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د کان نه نو شروع یې وکړه په بیان د صار کې.
ترجمه: وصار للانتقال: صار وضع کړی شوی دی د انتقال لپاره او د انتقال صورتونه دوه دي: (۱) انتقال د اسم د صار من صفة الی صفة نحو صار زید عالما.
(۲): انتقال د اسم د صار من حقیقة الی حقیقة نحو صار الطین خزفا، او که صار دلالت کوو په انتقال من مکان الی مکان یا من ذات الی ذات باندې دا صار تامه دی متعدي کیږي په الی سره نحو صار زید من بلد الی بلد کذا وصار زید من بکر الی عمرو نو د انتقال څلور صورتونه دي په دوه صورتونو کې صار ناقصه دی او په دوه صورتونو کې صار تامه دی.
او ملحق دی په صار پورې استحال وتحول وارتد چې دا درې واړه په معنی د صار سره راځي مثال د اول قوله تعالی فَارْتَدَّ بَصِيرًا او مثال د ثاني کقول الشاعر:

ان العداوة تستحیل مودة بتدارك الهفوات بالحسنات

واصبح وامسی واضحی دا درې واړه افعال ناقصه راځي په درې معانیو سره:
(۱): دا وضع کړی شوي دي **لاقتران مضمون جملة** او دلالت کوي په اقتران د مضمون د جملې باندې **باوقاتها** په اوقاتو د دې افعالو پورې هغه اوقات چې دلالت کوي په هغې باندې دغه افعال په اعتبار د مادې سره نه په اعتبار د هیئت سره، ځکه دلالت په اعتبار د هیئت سره په زمانه گذشته باندې کوو او دا افعال ثلاثه دلالت نه کوي په اقتران د مضمون د جمله در زمانه گذشته بلکه دا دلالت کوي په اقتران د مضمون د جمله په هغه اوقاتو چې دلالت کوي په هغې باندې دا افعال په اعتبار د مادې سره چې هغه، صباح، مسی او ضحی دی. مثال د اول اصبح زید قائما. مثال د ثاني امسی زید

مسرورا، مثال د ثالث اضحى زيد حزينا. مثال اول دلالت کوي په اقتران د مضمون د جملې چې قيام زيد دی په وقت د صباح پورې او مثال ثاني دلالت کوي په اقتران د مضمون د جمله چې سرور زيد دی په وقت د مسی پورې، او مثال د ثالث دلالت کوي په اقتران د مضمون د جمله چې حزن زيد دی په وقت د ضحی پورې

وبمعنی صار او دا درې واړه راځي کله کله په کلام د عرب کې په معنی د صار سره نحو اصبح امسی اضحی زيد غنيا ای صار زيد غنيا

وتکون تامة او کيږي دا افعال ثلاثه تام په معنی دد خول في هذه الاوقات سره د هغې علامه دا ده چې وروستو به صرف اسم مرفوع وي نحو اصبح زيد اذا دخل في الصباح وقوله تعالی [ان اصبح ماءکم غورا فمن ياتيکم بماء معين] په دې کې درې واړه معاني د اصبح جوړيږي، که اصبح د اقتران د مضمون د جمله بوقته لپاره شي نو بيا معنی دا ده که چرې صباله شي اوبه ستاسو وچې او که تامه شي نو غورا منصوب دی بنا بر حاليت

وظل وبات بل د افعال ناقصو نه ظل او بات دی **لاقتران مضمون الجملة بوقتيهما** دا دلالت کوي په اقتران د مضمون د جمله په خپله وقتين پورې چې هغه ليل او نهار دي په دې شان سره چې ظل دلالت کوي په اقتران د مضمون د جمله باندې بالنهار نحو ظل زيد معلما معنی ثبت له ذلك في جميع نهاره، او بات دلالت کوي په اقتران د مضمون د جمله باندې بالليل نحو بات زيد مکرما فمعناه ثبت له ذلك في جميع ليله **و بمعنی صار** او دا دواړه راځي په معنی د صار سره نحو قوله تعالی: ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا او مثال د بات بمعنی صار نحو بات عمرو فقيرا ای صار

سوال: ظل او بات کله کله تامه هم راځي دا يې ولې ذکر نه کړو؟

جواب: د وجې د مجيئت د ظل او بات نه تامين في غاية القلة وګرځول مصنف دا په حکم د عدم کې او د دې وجې نه يې دا جدا ذکر کړو د افعال ثلاثه ؤ سابقو نه، مثال د ظل نحو ظلت بمکان کذا مثال د بات بت مبيتا طيبا

سوال: لکه څنګه چې اصبح امسی او اضحی د اقتران د مضمون لپاره راځي په معنی د صار سره راځي او تامه راځي نو ظل او بات هم دغسې دي يعني په دې درې واړو معانيو سره راځي نو دا يې دهغې په لړۍ کې ولې ذکر نه کړو سره د اشتراك د دې نه دهغې سره په معانيو کې؟

جواب: منم چې دا ظل او بات شريك دي د افعال ثلاثه ؤ سره په معانيو کې ليکن دومره فرق دی چې هغه تامه راځي په طريقه د کثرت سره او دا تامه راځي په طريقه د قلت سره نو که د هغې سره يو ځای ذکر کړی وی نو متوهم به دا توهم کولو چې دا به هم تامه راځي په طريقه د کثرت سره نو لپاره د رفع د توهم يې دا ظل او بات جدا ذکر کړل او تامه يې هم ذکر نه کړل

سوال: اض عاد غدا راح، دا افعال اربعه ناقصه مصنف ذکر کړي دي په جانب د اجمال کې او اجمال تقاضه د تفصيل کوي د دې تفصيل يې ولې نه دی ذکر کړی په شان د دې نورو افعالو ناقصو باندې؟

جواب: دا افعال اربعه د ملحقاتو د صار نه دي په دې شان سره چې دا ناقص راځي په دې شرط سره چې بمعنی صار وو او که په معنی د صار سره نه وو بیا تامه راځي نحو عاد زید من سفره ای رجع غدا زید اذا مشی في وقت الغداة راح زید اذامشی في وقت الرواح وهومابعد الزوال الی اللیل، ددې وجې نه صاحب د مفصل دا د افعال ناقصو نه ندي شمیرلي او صاحب د لباب ویلي دي چې دا ملحقات د صار دي

و ما زال و ما برح و مافتی وما انفك دا څلور واړه افعال وضع کړی شوي دي **لاستمرار خبرها لفاعلها** لپاره د ثبوت د خبر د دې افعال ناقصو د فاعل د دې افعال ناقصو لپاره په طریقه د دوام او استمرار سره **من قبله** د کوم وقت نه چې قبول کړی دی دې فاعل دغه خبر د افعال ناقصو لره **ویلزمها النفي** او لازم ده د دې افعال ثلاثه ؤ سره نفي او دا نفي علامه ده چې لفظا وي نحو قوله تعالی [ولا یزالون مختلفین] یا تقدیرا وي نحو تَاللّٰهِ تَفْتَؤُا تَذْكُرُ یُوسُفَ

سوال: دغه افعال ثلاثه په استمرار د ثبوت د خبر باندې لپاره دفاعل دلالت ولې کوي؟

جواب: ځکه چې زال برح فتی انفك ټول په معنی د زوال دي او کله چې نفي داخله شوه په دوی باندې نو هغې نفي د نفي وکړه او نفي د نفي استمرار د ثبوت فائده کوي د دې وجې نه جائز نه دی ما زال زید الا عالما ځکه دا مستلزم دی اجتماع د نقیضین لره ځکه د مازال زید نه معلومه شوه چې دا زید متصف دی په ټولو صفاتو سره او د الاعالما نه معلومه شوه چې متصف په صفت د علم سره نه دی او دا معنی نه ده صحیح ځکه د جمله صفاتو نه قیام قعود لزم او یقظت وغیره هم دي او دا نه جمع کیږي په موصوف واحد کې او دا مازال چې د زال یزال نه راشي نو د افعال ناقصو نه دی بکله د زال یزول نه چې راشي بیا دا تام دی راځي په معنی د ذهاب او انتقال سره نحو قوله تعالی: أَنْ تَزُولَا وَلَئِنْ زَالَتَا

دا اول ان شرطیه دی دویم ان نافیه دی او زال یزیل فعل تام متعدي دی بمعنی میز یمیز نحو زال زید من معز فلان ای میزه

وما دام: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د هغه افعال ناقصو نه چې د هغې په اول کې ما نافیه راغلی وو نو شروع یې وکړه په بیان د هغه افعال ناقصو کې چې د هغې په اول کې ما مصدریه راغلی دی چې **هغه** صرف مادام دی او ما دام دوه قسمه دی

(۱): یو ما دام تامه دی نحو قوله تعالی مَادَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْأَرْضُ

(۲): ما دام ناقصه او مادام ناقصه وضع شوی دی **لتوقیت امر** لپاره د تعیین د یو امر چې **هغه** مضمون د جمله سابقه دی **لمدة ثبوت خبرها** په وقت د ثبوت د خبر د مادام **لفاعلها** لپاره د فاعل د مادام په دې شان سره چې د کوم وقت پورې چې دا خبر د مادام ثابت وي فاعل د مادام لره نو دا مضمون د جمله سابقه به موجود وي **ومن ثم** او د دې د وجې نه چې مادام راځي لپاره د تعیین د امر لمدة ثبوت خبرها لفاعلها **احتاج** محتاج دی دغه مادام **الی کلام** وجود د یو کلام سابق ته چې هغه منستقل بالافاده دی.

سوال: ما دام کلام سابق ته ولې محتاج دی؟ **جواب: لانه** ځکه دا مادام سره د اسم او سره د خبر نه **ظرف** ظرف دی په تقدیر د مضاف سره ځکه لفظ د ما په ما دام کې مصدریه دی دا د ما بعد نه مصدر

جوړوي او تقدير د اوقاتو مخکې د مصادر نه کثير او شائع دی په استعمال د کلام د عربو کې او ظرف فضله دی غير مستقل بالافاده دی دا ما وقع فيه غواړي او ما وقع فيه مضمون د جمله سابقه دی مثال لکه يوم الجمعة ظرف دی او د دې دپاره لابدي ده د ذکر د فعل نه مخکې چې خرجت يوم الجمعة ووايې او صرف يوم الجمعة ويل بې د ذکر د فعل نه ندی صحيح دغسې ما دام سره د مابعد نه په تقدير د مضاف سره ظرف دی نو لابدي ده د ذکر د يو جملې نه مخکې د مادام نه چې دا مادام په هغه پورې متعلق شي مثال لکه اجلس ما دام زيد جالسا شو ای اجلس مدة دوام جلوس زيد، نو دا مادام تر څو پورې چې يو ځای نه کړی شي د اجلس سره نو دا مفيد د فائده تام نه دی سامع او مخاطب لره بلکه ما دام سره د اجلس نه مفيد د فائدې تامې دی سامع او مخاطب لره په خلاف د هغه افعالو نه چې هغه مصدر دی په ما نافيه سره لکه ما زال الخ دا سره د خبر نه کلام مستقل بالافاده دی ذکر د کلام سابق ته محتاج نه دی.

ربل د اد... ناقصو نه ليس دی **لنفي مضمون الجملة** او دا ليس راځي لپاره د نفي د مضمون د جملې **حالا** په زمانه حالي کې عند الجمهور نو د ليس زيد قائما معنی دا ده چې قيام زيد منتف الان او دليل په دې خبره باندې تبادر الی الفهم دی څکه ليس چې ذکر شي مطلقا نو نفي د مضمون د جمله في الحال ذهن د سامع او مخاطب ته راځي او تبادر الی الفهم غته علامه د حقيقت ده او حال دعلماؤ د علم معاني په اصطلاح کې امر داعي يا امر عارض ته وائي او د نحويانو په اصطلاح کې ما يبين هيئة الفاعل او المفعول به ته وائي او په اصطلاح د صرفيانو کې هغه فعل ته وائي چې دلالت کوي په وجود د معنی مصدري در زمانه موجوده او دلته هم مراد د حال نه حال صرفي دی يعنې زمانه دحال مراد ده **وقيل** او چا ويلي دي **مطلقا** يعنې ليس نفي د مضمون د جمله کوي مطلقا بې د تقيد نه په زمانه حالي سره د دې وجې نه دا ليس کله مقيد کولی شي په زمانه د حال سره نحو ليس زيد قائما الان او کله ماضي سره نحو ليس خلق الله الله تعالی مثله او کله به مستقبل سره نحو قوله تعالی أَلَا يَوْمَ يَأْتِيهِمْ لَيْسَ مَصْرُوفًا عَنْهُمْ دا تقيد دليل دی په دې خبره باندې چې دا نفي د مضمون د جمله مطلقا کوي او که نفي د مضمون د جمله مطلقا يې نه کولی بلکه في الحال يې کولی نو دا ليس به مقيد نه وو په الان سره (او دا مذهب د سيبويه دی).

جواب د طرفه د جمهورو نه دا دی چې نفي د مضمون د جمله في الحال معنی موضوع له او معنی حقيقي د ليس ده ليکن دا په عرف کې غير مشهوره ده په شان د حقيقت مهجوره باندې دا کله کله قرينه غواړي لپاره د دفع د توهم د معنی مجازي.

ويجوز تقديم اخبارها كلها على اسمائها (ربط) هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د معاني د افعال ناقصو نه پس شروع يې وکړه په بيان د حکم د خبر د افعال ناقصو کې نو حکم د خبر د افعال ناقصو په شان د حکم د خبر د مبتدا دی (۱) په دې شان سره چې خبر د مبتدا غالبا نکره راځي او کله کله معرفه، اخي، دارنګې خبر دا فعال ناقصو غالبا نکره راځي او کله کله معرفه راځي

(۲): خبر د افعال ناقصو غالبا مفرد راځي، او کله کله جمله راځي لکه څنګه چې خبر د مبتدا غالبا مفرد راځي او کله کله جمله راځي (۳): جمله خبریه چې خبر د مبتدا واقع شي نو په هغې کې لابدي وي د رابط نه دارنګې جمله خبریه چې خبر د افعال ناقصه واقع شي نو لابدي وي د رابط نه
(۴): خبر د مبتدا کله واحد وي او کله متعدد وي دارنګې خبر دافعال ناقصه کله واحد وي کله متعدد وي (۵): خبر د مبتدا حذف کولی شي په وقت د وجود د قرینې د الی کې په تعین د محذوف باندې نو خبر د افعال ناقصه هم حذف کولی شي په وقت د وجود د قرینې د الی کې په تعین د محذوف باندې. دومره فرق دی چې خبر د مبتدا چې کله معرفه وو نو تقدیم د خبر په مبتدا باندې ممتنع دی نحو زید ن المنطلق فلا یجوز المنطلق زید، څکه چې لازمیږي التباس بین المبتدا والخبر او خبر د افعال ناقصو چې معرفه راشي نو تقدیم یې جائز دی لعدم الالتباس څکه اسم مرفوع وي او خبر منصوب وي نحو کان زید ن المنطلق یجوز فیه کان المنطلق زید
(ترجمه) ویجوز او جائز دی **تقدیم اخبارها کلها** تقدیم د خبر د ټولو افعال ناقصو **علی اسمائها** په اسماء د افعال ناقصو باندې بالاتفاق په وقت د عدم وجود د مانع کې په دې سره یې احتراز وکړو د کان عدوي صدیقي نه چې دلته تقدیم ممتنع دی د وجې د وجود د مانع نه چې التباس دی بین الاسم والخبر څکه چې اعراب په دواړو کې تقدیري دی او قرینه په کون د احدهما باندې اسم او اخر باندې خبر نشته او تقدیم د خبر د کان په اسم د کان باندې جائز دی په دې شرط سره چې مقتضی د تقدیم وجوبي د خبر په اسم باندې نه وی موجود او که موجود وو بیا تقدیم د خبر د کان په اسم د کان باندې واجب دی نحو کان في الدار صاحبها دلته تقدیم د في الدار په صاحبها باندې واجب دی لپاره د دې چې لازم نه شي اضمار قبل الذکر لفظا او رتبتا او تقدیم د اسم د افعال ناقصو په افعال ناقصو باندې ممتنع دی بالاتفاق، او تقدیم د معمول د خبر د افعال ناقصو په اسم د افعال ناقصو باندې ممتنع دی په دې شرط سره چې ظرف او جار مجرور نه وو (عند الجمهور) لپاره د دې چې لازم نه شي فصل په مابین د عامل او معمول کې په اجنبي سره او په نزد د کوفیین باندې جائز دی څکه فصل بین العامل والمعمول په اجنبي سره نه راځي څکه معمول د خبر د افعال ناقصو معمول د افعال ناقصو دی او که معمول د خبر د افعال ناقصو ظرف یا جار مجرور وو نو تقدیم یې جائز دی په اسم د افعال ناقصو باندې بالاتفاق نحو کان فیك زید راغبا کان عندي زید متعلما څکه ظروف کالمحارم دي جائز دي په دې کې هغه څه چې نه دي جائز په نورو کې
سوال: تقدیم د خبر د افعال ناقصو په افعال ناقصو باندې جائز دی که نه؟
جواب: افعال ناقصه په اعتبار د تقدیم د خبر سره درې قسم دي: (۱): یو قسم هغه دی چې تقدیم یې جائز دی بالاتفاق څکه فعل قوي العمل دی عمل کوي په صورت تقدیم او تاخیر دواړو کې زیدا ضربت جائز دی نو قائما کان زید هم جائز دی.
(۲): دویم قسم هغه دی چې هغې کې تقدیم د خبر ممتنع دی بالاتفاق عند الجمهور.

(٣) دریم قسم مختلف فیه دی بین الجمهور **وهي في تقديمها عليها الخ** دَ دې عبارت دوه ترجمې دي.
(١) **وهي** دا افعال ناقصه **في تقديمها** په تقديم د اخبارو د افعال ناقصو کې **عليها** په افعال ناقصو باندې **على ثلاثة اقسام** درې قسمه دی. هي ضمير راجع دی افعال ناقصه ته او عليها ضمير هم راجع دی افعال ناقصو ته او تقديمها ضمير راجع دی اخبار د افعال ناقصه ته.
(٢) **وهي** دا اخبار د افعال ناقصو **في تقديمها** په تقديم د اخبار د افعال ناقصو کې **عليها** خود په افعال ناقصو باندې **على ثلاثة اقسام** درې قسمه دی نو ضمير هي او تقديمها راجع دی اخبار ته او عليها ضمير راجع دی افعال ناقصه ته ليکن دا اوله ترجمه غوره ده د ثاني نه لسلامته عن الحذف ځکه په دويمه ترجمه باندې وهو من کان الى راح کې به د کان نه مخکې خبر مقدر را اوباسې اى وهو من خبر کان الى خبر راح او تقدير خلاف الاصل دی په کلام کې، او بنا په اوله ترجمه باندې کلام تقدير ته نه دی محتاج بې د تقدير نه معنى د کلام جوړيږي **قسم** يو قسم دی **يجوز** چې جائز دی تقديم د خبر د افعال ناقصو په افعال ناقصو باندې په دې شرط سره چې مقتضى د تقديم د وجوبي نه وو چې هغه د کان نه واخله تر راح پورې دي ځکه په دې کې تقديم د منصوب دی په مرفوع باندې او فعل قوي العمل دی عمل کوي مع الترتيب او بلا ترتيب په خلاف د خبر د حروف مشبه بالفعل نه د هغې تقديم نه دی جائز بلکه ترتيب واجب دی ځکه هغه ضعيف العمل دی مع الترتيب عمل کوي او بدون الترتيب عمل نه شي کولی.
سوال: ته وائې چې تقديم د خبر دافعال ناقصه د کان تر راح پورې جائز دی دا خبره ستا منقوضه شوه په کم کان مالك په دې شان سره چې مالك اسم د کان دی او کم خبر د کان دی او تقديم د خبر جائز نه دی بلکه واجب دی او ته وائې چې جائز دی؟ **جواب:** جواز دلته په مقابل د امتناع کې دی معنى دا ده چې جائز دی او ممتنع نه دی تقديم د خبر په افعال ناقصو د کان نه تر راح پورې بيا عام دی که مقتضى د تقديم وجوبي موجود وو نو مقدم کيږي به وجوبا والاجوازا.
وقسم او يو قسم دی **لا يجوز** چې جائز نه دی تقديم د خبر د افعال ناقصو په افعال ناقصو باندې **وهو ما في اوله ما** او دا هغه دی چې په اول د دې کې کلمه د ما راغلی وي چې هغه ما زال ما انفك مافتئ ما برح مادام دی دلته تقديم د خبر په افعال ناقصو باندې نه دی جائز ځکه ما دام کې ما مصدريه راغلی دی او تقديم د دام په دې ما باندې ممتنع دی نو تقديم د معمول د دام خو په طريق اولى سره ممتنع دی او د باقي افعال اربعه په اول کې ما نافيه راغلی دی دا تقاضه د صدرات د کلام کوي نو تقديم د خبر وربانديې نه دی جائز لپاره د دې چې لازم نه شي فوت د صدارت د ما له صدر الکلام **خلافا لابن کيسان** خلاف ثابت دی ابن کيسان لره او دا خلاف د ابن کيسان د طرف نه دی نه د جمهورو د طرف نه ځکه جمهورو مخکې دی او ابن کيسان وروستو دی **في غير ما دام** په غير د مادام نه په دې شان سره چې ابن کيسان وائي چې تقديم د خبر د مادام په مادام باندې ممتنع دی او په باقي افعال اربعه ؤ باندې جائز دی ځکه دا افعال اګر چې لفظا منفي دي خو لفظا مثبت دي ځکه دا مازال الخ په منزله د کان دی او تقديم د خبر په کان باندې جائز دی نو په دوی هم جائز دی او جواب د طرفه

د جمهورو نه دا دی چې فرق دی په مابين د شئ او مؤول بالشئ کې او صدارت عدم صدارت صفت د لفظ دی دا اګر چې معنی مثبت دی ليکن په لفظ کې حرف نفي شته دا تقاضا د صدارت کوي او که تقديم راشي نو بيا صدارت فوت کيږي. **وقسم مختلف فيه** او يو قسم دی چې اختلاف کړی شوی دی په هغې کې بين الجمهور **وهو ليس** او هغه لفظ د ليس دی په دې شان سره چې بعض وائي تقديم د خبر دليس په ليس باندې جائز دی ځکه دا فعل دی قوي العمل دی عمل کوي په معمول مقدم او مؤخر دواړو کې او بعض وائي چې تقديم د خبر دليس په ليس باندې نه دی جائز ځکه چې ليس په معنی د ماکان سره دی او تقديم د خبر په ماکان باندې ممتنع دی نو په ليس باندې هم ممتنع دی هغه مخکې بعض دوی ته جواب کوي چې منم دا خبره چې ليس په معنی د ما کان سره دی ليکن فرق دی په مابين د شئ او مؤل بالشئ کې او قياس د دې په ماکان باندې قياس مع الفارق دی ځکه هلته مانع لفظا موجود دی چې حرف نفي دی او دلته مانع لفظا نشته

افعال المقاربة

ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د نوع ثاني د دواخل او نواسخ د مبتدا او خبر نه چې افعال ناقصه وو نو شروع يې وکړه په نوع ثالث د دواخل او نواسخ د مبتدا او خبر کې چې افعال مقاربه دي نو وې ويل افعال المقاربة. په دې عنوان کې لابدي ده د معرفت د ثلاثة عشر امور نه: (١) ذات (٢) اسم (٣) وجه د تسميه (۴) تعريف (۵) تعداد (٦) مصداق (٧) مدخول (٨) عمل (٩) وجه د عمل (١٠) تقسيم په افعال مقاربه کې باعتبار المعنی (١١) تقسيم باعتبار الخبر (١٢) تقسيم باعتبار التصرف (١٣) معرفة الاحکام. نو دا نوع په اعتبار د ذات سره افعال دي نه اسماء او نه حروف بالاتفاق علاوه د عسی نه چې عسی کې درې مذهبه دي: (١): بصريان وائي دا فعل دی مطلقا برابره خبره ده چې په دې پورې ضمير مرفوع او منصوب متصل شوی وي او که نه وي.

(٢): او جمهور کوفيان وائي چې دا حرف دی مطلقا که ضمير ورپورې متصل شوی وي او که نه وي

(٣): او سيبويه وائي چې دا فعل دی که ضمير ورپورې متصل شوی وو والافهو حرف او مختار عند المصنف مذهب د بصريانو دی نو ځکه يې عسی ذکر کړی دی مطلقا د افعال مقاربو نه او نوم د دې افعال مقاربه دي ځکه بعض دلالت کوي په قرب د حصول د خبر باندې لپاره د اسم او دا تسميه تغليبا ده چې يوې نوع لره يې غلبه ورکړې ده په باقي باندې د وجې د شهرت او د کثرت استعمال نه، او تعريف د افعال مقاربو ماتن ذکر کړی دی.

ترجمه: افعال المقاربة: افعال مقاربه په اصطلاح کې **ما** افراد دي او افراد د ضمير د وضع په اعتبار د لفظ د ما سره دی **وضع** داسې افعال چې وضع کړی شوي دي **لدنو الخبر** لپاره د دې چې دلالت وکړي دا افعال په حصول د خبر لپاره د فاعل **رجاء** په دنوړجائي سره او د دنور جاځ لپاره دوه شرطونه دي: (١): خبر به بالفعل حاصل وي. (٢) حصول به متوقع او يقيني وي **او حصولا** يا لپاره د دې چې دلالت وکړي په قرب د ثبوت د خبر باندې لپاره د فاعل په دنو حصولي سره په دې شان سره چې د متکلم علم

یقین دی په دې خبره باندې چې دا خبر به حاصل شي دې فاعل لره عنقریب **او اخذ فیه** یا لپاره د دې چې دلالت وکړي په قرب د حصول د خبر د فاعل لپاره په دنو اخذي سره په دې شان سره چې د متکلم علم یقین دی په حصول د خبر د اسم لپاره عنقریب د وجې د شروع کولو د فاعل نه په خبر کې او په هغه اسبابو کې چې هغه مفضي دی حصول د خبر ته لپاره د اسم.

(۲): جنس فعل مقارب په اصطلاح کې **ما** جنس فعل دی **وضع للدنو الخبر**

سوال: داما به خالي نه وي یا به یې عبارت وائي د فعل نه او یا به یې عبارت وائي د افعال نه دواړه نه صحیح کیږي که عبارت یې وائي د افعال نه نو دا ماقبل ورسره ولګیدو چې حمل د جمع په جمع باندې راغی خو مابعد ورسره نه لګي چې وضع دی ځکه په وضع کې ضمیر مستتر دی مفرد مذکر او دا جمع ته نه راجع کیږي او که ما عبارت وائې د فعل نه نو مابعد ورسره ولګیدو ځکه مطابقت راغی بین الراجع والمرجع خو ماقبل ورسره نه لګي ځکه حمل د واحد راغي په جمع باندې او دا باطل دی؟

جواب: (۱): ما عبارت د افعال نه وایم او افراد دضمیر د وضع په اعتبار د لفظ د ما سره دی.

(۲): یا ما عبارت دی د فعل نه وایم او اضافت د افعال المقاربة ته اضافة جنسي دی او اضافت جنسي معنی د جمعیت باطلوي نو معنی دا شوه چې جنس فعل مقارب په اصطلاح کې جنس فعل دی نو تعریف د جنس په جنس وشو او حمل د جنس راغی په جنس باندې نه حمل د واحد په جمع باندې.

سوال: رجاء حصولا او اخذا درې واړه منصوب دي او منصوبات دولس دي دا کوم یو قسم دی د هغه اقسامو نه؟ **جواب:** دا منصوب دی بنا بر مفعول مطلق.

سوال: مفعول مطلق د چا لپاره دی؟ **جواب:** د دنو لپاره.

سوال: شرط په مفعول مطلق کې دا دی چې دا به متحد وي د عامل سره په معنې کې او رجاءً حصولا او اخذا متحد نه دي د دنو سره په معنی کې ځکه دنو بمعنی قرب دی او رجاء بمعنی طمع حصولا بمعنی ثبوت او اخذا بمعنی شروع دی؟

جواب: دا مفعول مطلق دی په اعتبار د حذف د مضاف سره ای دنو رجاء او حصول او اخذ.

سوال: مفعول مطلق دې ته وائي چې عامل د دې به مشتمل وي په دې مفعول مطلق د قبیلې د اشتمال د کل نه په جز باندې نحو ضربت ضربا او دلته دا عامل مشتمل نه دی په مفعول مطلق باندې د قبیلې د اشتمال د کل نه په جز باندې ځکه مفعول مطلق هم مصدر دی او عامل هم مصدر دی؟

جواب: (۱): اشتمال د عامل په مفعول مطلق باندې د قبیلې د اشتمال د کل نه په جز باندې په هغه ځای کې دی چې عامل د دې فعل یا مشبه فعل وو او که عامل یې مصدر وو بیا دا شرط نه دی.

(۲): او که ومنم چې اشتمال د عامل په مفعول مطلق باندې د قبیلې د اشتمال د کل نه په جز باندې مطلقا شرط دی نو مصدر په حین د عمل کې ان مع الفعل یا ما مع الفعل سره وي لهذا په دې مقام کې دا مصدر عامل بمعنی ان مع الفعل دی (ای ما وضع لان یدنو الخبر دنو رجاء) او حصول او اخذ نیه نو دنو چې په معنی د ان یدنو شو نو عامل مشتمل شو په مفعول مطلق باندې د قبیلې د اشتمال

د کل نه په جز باندې ځکه اشتمال د عامل په مفعول مطلق د قبیلې د اشتمال د کل نه په جز باندې عام دی که حقیقة وي او که تاویلا وي حقیقة لکه ضربت ضربا او تاویلا لکه دا شو

سوال: د اتعریف د افعال مقاربو باطل دی ځکه چې مقصود په تعریف کې وضاحت د معرف وي او وضاحت د معرف په جزم او یقین سره راځي او مصنف په دې کې شکي دی ځکه او یې ذکر کړی دی او دا راځي د شك او تردد لپاره؟ **جواب:** دا کلمه د او د تنویع او د تقسیم لپاره ده نه لپاره د شك او تردد، په دې کې یې اشاره وکړه دې ته چې افعال مقاربه باعتبار المعنی درې قسمه دی

(۱): بعض هغه دي چې دلالت کوي په دنو رجائي باندې

(۲): بعض هغه دي چې دلالت کوي په دنو حصولي باندې

(۳): او بعض هغه دي چې دلالت کوي په دنو اخذي باندې

او افعال مقاربه ټول یولس دي مصداقونه یې دا دي عسی، اخلولق، حری، کاد، کرب، اوشك، جعل، طفق، اخذ، انشاء، علق او دا داخلیږي په مبتدا او خبر باندې او اسم مرفوع خبر منصوب غواړي او دا عمل د رفع او نصب د دې سماعي دی او دا یولس افعال مقاربه په اعتبار د معنی سره په درې قسمه دی (۱) بعض دلالت کوي په دنو رجائي لکه عسی، اخلولق، او حری

(۲): دویم قسم هغه دی چې خبر یې مضارع راځي بدون ان دائما ابدا لکه خبر د هغه افعال مقاربو چې دلالت کوي په شروع باندې

(۳): او دریم قسم هغه دی چې خبر یې مضارع وي کله سره د ان نه او کله بدون ان لکه عسی و کاد وکرب واوشك شو او دارنګې دا افعال په اعتبار د تصرف سره درې قسمه دی (۱): یو هغه دی چې متصرف دی په تصرف کامل سره لکه اوشك شو ځکه د دې ماضي مضارع او اسم فاعل مستعمل دي

(۲): دویم قسم هغه دی چې متصرف دی په تصرف ناقص سره لکه کاد شو چې ماضي او مضارع یې مستعمل دی نه غیر

(۳): او د دې نه علاوه باقي افعال مقاربه غیر متصرف دی په دې شان سره چې علاوه د ماضي نه بله صیغه د هغې نه نده راغلې

سوال: دا قاعده ده چې په عوامل کې چې اتحاد ذاتي او د خولي او عملي راشي نو هغه د یوې نوع نه شمېرلی شي لکه او لس حروف جاره شو چې دا متحد دي د یو بل سره په ذات کې او په مدخول کې او په عمل کې نو یوه نوع شوه اوس افعال مقاربه او افعال ناقصه هم متحد دي د یو بل سره په ذات کې په مدخول او په عمل کې، په دې شان سره چې دا دواړه افعال دي، دواړه داخلیږي په مبتدا او خبر باندې او دواړه اسم مرفوع خبر منصوب غواړي نو د دې تقاضه دا وه چې دا یې یوه نوع ګرځولی وی نو نحویانو دا جدا جدا نوع ولې ګرځولی دی؟

جواب: اصل کې په نزد جمهورو باندې دا یوه نوع وه ټول افعال ناقصه دي عند الجمهور خو بیا اخفش جدا کړی دی د افعال ناقصو نه ځکه (۱) خبر د افعال ناقصو غالبا مفرد راځي او کله کله جمله وي په سعة د کلام کې اوخبر د افعال مقاربه وو فقط فعل مضارع راځي نه مفرد په سعت د

کلام کي (۲) تقديم د معمول د افعال ناقصو په افعال ناقصو باندې جائز دی چې مانع نه وي او تقديم د معمول د افعال مقاربو په افعال مقاربو باندې نه دی جائز نو هر کله چې دا فرق حاصل وو باعتبار الخبر بالوجهين المذكورين پس وګرځول اخفش دا يوه نوع علاحدةً او مختار عند المصنف مذهب د اخفش دی ځکه يې دا جدا جدا ذکر کړه د افعال ناقصو نه

فالاول: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د اقسام ثلاثه د افعال مقاربو نه په اعتبار د مفهوم سره اجمالاً نو شروع يې وکړه په بيان داقسام ثلاثه د افعال مقاربه وو کې تفصيلاً نو وې ويل (**فالاول**) پس قسم اول چې ما وضع لدنو الخبر رجاءً دی **عسی** لفظ د عسی دی او عسی فعل دی په مذهب صحيح باندې په دليل د اتصال د تاء تانيث ساکنه سره په دې پورې او دارنګې کله کله متصل کيږي په اخير د ده پورې ضمير مرفوع متصل يقال عسی عسيا عسو عسين، او اتصال د ضمير بارز مرفوع دليل دی په فعليت باندې ځکه ضمير بارز مرفوع متصل کيږي په فعل پورې نه په اسم او حرف پورې

سوال: فعل دوه قسمه دی: متصرف، غير متصرف، عسی فعل متصرف دی که غير متصرف؟

جواب: وهو غير متصرف دا فعل غير متصرف دی ځکه مضارع امر نهي مجهول اسم فاعل اسم مفعول وغيره د عسی نه ندی راغلی. سيبويه وېلي دي چې عسی راځي لپاره د طمع په محبوب کې نحو عسی زيد ان يخرج او د اشفاق لپاره راځي په مکروه کې نحو عسيت ان اموت. او دغسې درې استعماله دي: (۱) يو دا چې د عسی نه وروستو اسم راغلی وي او د هغې نه بعد مضارع وي مصدر په ان ناصبه سره لپاره د تقويت د معنی د ترجي ځکه عسی هم د طمع او رجاء لپاره راځي او ان ناصبه مصدريه هم د طمع او رجاء دپاره راځي نو دا مناسب دی د عسی سره **تقول** وائي به ته بنا په استعمال اول باندې **عسی زيد ان يخرج** په دې کې درې ترکيبونه دي: (۱) مشهور ترکيب دا دی چې عسی فعل دی د افعال مقاربو نه بمعنی قارب زيد اسم د عسی او ان يخرج خبر د عسی دی عسی سره د اسم او خبر نه جمله فعليه انشائيه ده.

سوال: ان چې داخل شي په فعل مضارع باندې نو د مضارع نه مصدر جوړوي نو تقدير دا شو چې عسی زيد الخروج نو دا خو حمل د صرف وصف راغی په ذات باندې؟

جواب: (۱) دا محمول دی مبالغة په شان د زيد عدل باندې

(۲) دا محمول دي په اعتبار د حذف د مضاف سره په جانب د اسم کې ای عسی حال زيد الخروج

(۳) يا په اعتبار د حذف د مضاف سره په جانب د خبر کې ای عسی زيد ذا الخروج.

(۴) مصدر مبني للفاعل دی ای عسی زيد خارجا (۵) فرق دی په مابين د شئ او مؤل بالشئ کې.

(۲) دويم ترکيب دا دی چې زيد فاعل د عسی دی او ان يخرج منصوب دی بنا بر تشبيه بالمفعول د وجې د عدم صحت د حمل د ده نه په اسم باندې او تقدير د مضاف تکلف دی.

(۳) کوفيان وائي چې زيد مبدل منه دی او ان يخرج بدل اشتمال دی د زيد نه مبدل منه سره د بدل نه فاعل د عسی دی، او شارح رضي وائي اوی ان هذا وجه قريب او عسی بنا په ترکيب اول باندې ناقص دی او بنا په ترکيب ثاني او ثالث باندې تام دی.

او دويم استعمال په عسی کې دا دی چې دا فعل مضارع سره د ان نه واقع شي وروستو د عسی نه او د هغې نه وروستو اسم مرفوع ذکر شي نحو **عسى ان يخرج زيد** په دې کې هم درې ترکيبونه دي (۱) ان يخرج زيد، فعل سره د فاعل نه په تاويل د مصدر سره فاعل د عسی او عسی بمعنی قرب دی ای قرب خروج زيد

(۲) دويم ترکيب دا دی چې ان يخرج فعل مضارع معلوم دی ضمير پکې مستتر دی هغه ورله فاعل دی فعل سره د فاعل نه خبر مقدم او زيد اسم مؤخر

(۳) د عسی او د ان يخرج تنازع راغلی ده په زيد کې که عمل فعل اول لره ورکړی شي نو زيد اسم د عسی او ان يخرج خبر د عسی دی او خبر مقدم شوی دی په اسم باندې، او که عمل فعل ثاني لره ورکړی شي نو اسم د عسی ضمير مستتر دی په عسی کې چې راجع دی زيد ته او ان يخرج زيد خبر د عسی دی او اضمار قبل الذکر لفظا او رتبتا په باب د تنازع کې جائز دی او عسی په ترکيب اول باندې تامه وو او په دې دوه ترکيبين باندې ناقص دی

دريم استعمال په عسی کې دا دی چې اسم مرفوع واقع شوی وي مخکې د عسی نه او فعل مضارع مصدره په ان سره راغلی وي وروستو د عسی نه نحو **زيد عسى ان يخرج** په دې کې دوه مذهبونه دي: حجازين، بنو تميم

حجازين وائي چې زيد مبتدا عسی فعل ان يخرج فاعل او دا عسی خالي دی د ضمير نه دا فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبر د مبتدا دی. او بنو تميم وائي چې **زيد** مبتدا **عسى** فعل دی او ضمير پکې مستتر دی هغه اسم د عسی دی او ان يخرج يې خبر دی بيا عسی سره د اسم او خبر نه جمله خبر د مبتدا دی نو د حجازين په نزد باندې دا عسی تامه دی او د بني تميم په نزد باندې ناقص دی او ثمره د خلاف د حجازينو او بنو تميم ظاهريږي په حالت د تانيث او تثنيه او جمع کې نحو هند عسى ان تفلح به وائي په نزد د حجازين باندې او هند عست ان تفلح به وائي عند بني تميم **وقد يحذف** او کله کله حذف کولی شي ان ناصبه مصدريه د فعل مضارع نه په استعمال اول کې تشبيها لها بکاد کقول الشاعر:

عسى الهم الذي امسيت فيه　　　يكون وراءه فرج قريب

چې دلته د عسی لپاره خبر راغلی دی فعل مضارع چې يکون دی بدون ان او په استعمال ثاني او ثالث د عسی کې حذف د ان ناصبه مصدريه جائز نه دی د وجې د عدم مشابهت د ده نه د کاد سره. **والثاني** او قسم ثاني چې ما وضع لدنو الخبر حصولا دی **كاد** لفظ د کاد دی او خبر د کاد فعل مضارع راځي بدون ان ځکه کاد دلالت کوي په قرب د حصول د خبر باندې في الحال او ان راځي د استقبال لپاره او دا منافي دی د زماني د حال سره.

(۲) يا کاد دلالت کوي په قرب د حصول د خبرې لپاره د اسم قطعا او يقينا او ان راځي د طمع او رجاء لپاره او په، ابين د دې کې منافات دی **تقول** وائي به ته **كاد زيد يجيئ** بل مثال قوله تعالى يَكَادُ الْبَرْقُ يَخْطَفُ أَبْصَارَهُمْ، يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِيءُ **وقد تدخل ان** او کله کله داخليږي ان ناصبه مصدريه په خبر د کاد باندې تشبيها له بعسى کما في قول الشاعر

رسم عفا من بعد ما قد انمحى قد كاد من طول البلى ان يمصحا

دلته ان يمحصا مضارع سره د ان نه خبر دی لپاره د کاد **واذا دخل النفي** او کله چې داخل شي حرف نفي **على كاد** په لفظ د کاد باندې چې دا صيغه د ماضي ده **فهو** پس دغه کاد وروستو د دخول د حرف نفي نه **كالافعال** په شان د باقي افعالو دی په نفي د خبر کې په دې شان سره چې په کاد باندې چې حرف نفي داخل شي نو نفي د مضمون د جملې کوي **على الاصح** بنا په مذهب اصح باندې دا کاد عام دی ماضي وي او که مستقبل وي، ځکه حرف نفي وضع شوی دی د نفي لپاره او مانع نشته **وقيل** او چا ويلي دي **يكون للاثبات** چې کيږي دا حرف نفي د اثبات د خبر لپاره برابره خبره ده چې ماضي وي که مستقبل وي، هر چې دی په ماضي کې نو د وجې د دې قول د الله تعالى نه چې (وما كادو يفعلون) کيفيت د استدلال يې دادی چې که چيرته نفي په ماضي کې د اثبات لپاره نه شي نو لازم به شي تناقض په دې قول د الله تعالى کې (وما كادوا يفعلون) ځکه دا دلالت کوي په انتفاء د فعل د ذبح باندې او دا قول د الله تعالى چې (فذبحوها) دلالت کوي په اثبات د فعل د ذبح باندې، او په مينځ د اثبات او انتفاء کې تناقض دی، او هر چې دی په مضارع کې نو د درې وجو نه (۱) په دليل د تخطيه د شعراؤ قول د ذي الرمه لره چې هغه دا قول دی: (لم يكد رسيس الهوى من حب ميت يبرح) او د تخطيې مقصد دا دی چې مقصود د ذي الرمه عدم زوال د رسيس الهوى الخ دی، او دا قول د دهٔ دلالت کوي په زوال د دې باندې ځکه نفي چې په يکاد باندې داخله شي نو دا اثبات فائده کوي.

(۲) په دليل د تسليم د ذي الرمه باندې تخطيه د شعراؤ لره يعنې دې شاعرانو چې وويل چې ذي الرمه په دې قول کې خطا شوی دی ذي الرمه ومنله چې زه خطا شوی يم (۳) په دليل د تغير د ذي الرمه باندې دې قول خپل لره چې لم يكد دی په لم اجد سره. جواب د طرفه د قول اصح نه دا دی چې هر چې دی په ماضي کې نو دا قول د الله تعالى وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ دلالت کوي په نفي باندې او سره د دې نه تناقض نشته ځکه د تناقض لپاره وحدت د زمانې شرط دی او دلته وحدت د زمانې نشته، و ما كادوا يفعلون دا په يوه زمانه کې چې قبل المشيئت دی او فذبحوها په بله زمانه کې دی چې بعض المشيئة دی او هر چې دی په مضارع کې نو بعضې فصحاؤ تخطيه کړې ده د مخطئينو د ذي الرمه يعنې بعضې فصحاؤ ويلي دي چې د ذو الرمه دا اصل قول صحيح دی او د شاعرانو دا تخطيه هم غلطه ده او ذو الرمه چې د هغې تسليم کړی دی دا هم غلط دی او دا تغير د لم يكد چې په لم اجد سره کړی دی دا هم غلط دی او دغه بعضې فصحاؤ ويلي دي دا قول د الله تعالى چې وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ دی په شان د دې قول د الله تعالى دی چې إِذَا أَخْرَجَ يَدَهُ لَمْ يَكَدْ يَرَاهَا او په دې ايت کې خو مقصود نفي د رؤيت ده نه اثبات د رؤيت نو دلته هم مراد نفي ده نه اثبات.

وقيل او چا ويلي دي **يكون في الماضي** چې کيږي دا حرف نفي په ماضي کې **للاثبات** د اثبات د خبر لپاره **والى المستقبل** او په مستقبل کې **كالافعال** په شان د باقي افعالو دی په نفي د مضمون د جمله اسميه کې **تمسكا** د وجې د استدلال نيولو د دې قيل نه په دې خبره باندې چې دا حرف نفي داخل شي په ماضي

باندې دا اثبات فائده کوي بقوله تعالی وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ چې دلته دا ما نافيه داخل شوی دی په کاد باندې چې دا صيغه د ماضي ده او اثبات يې فائده کړی دی نه نفي خکه مراد په دې ايت کې اثبات د فعل دی نه نفي د فعل بدليل فذبحوها خکه دا دلالت کوي په حصول د ذبح باندې او که مراد د ما کادوا يفعلون نه نفي د قرب شي د ذبح نه چې هغه مستلزم ده انتفاء د ذبح لره علی وجه ابلغ لکه چې نفي د قرب د زنا مستلزم ده انتفاء د زنا لره علی وجه ابلغ في قوله تعالی وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰ نو بيا لازميږي تناقض ليکن د دې جواب مخکې تير شوی دی، **ويقول ذي الرمة** او دا حرف نفي چې داخل شي په مستقبل باندې نو نفي د مضمون د جملې کوي استدلال يې کړی دی په دې قول د ذي الرمه سره:

اذا غير الهجر المحبين لم يكد　　رسيس الهوی من حب مية يبير

ترجمه: کله چې تغير وکړي دا هجران او فراق د دوستانو **لم يكد** نژدې نه ده **رسيس الهوی** اصل دوستي کيفيت د استدلال دا دی چې ذي الرمه په دې خپل شعر کې حرف نفي داخل کړی دی په يکاد باندې او مراد دی په دې سره انتفاء د قرب د رسيس الهوی ده د براح نه نو دا په شان د عامو افعالو شو په حصول د نفي کې نو دا خبره د دوی صحيح ده ليکن د دې **قيل** مدعا مرکبه وه د دوه جزئينو نه (۱) اثبات في الماضي (۲) نفي في المضارع، نو دا جزء ثاني مسلم دی نه جزء اول خکه هلته مقصود په ايت کې نفي د فعل ده نه اثبات نو د قيل ثاني مدعا باطله وه بکلا الجزئين او د قيل ثالث مدعا باطله ده بجزء واحد.

والثالث طفق او قسم ثالث چې ما وضع لدنو ثبوت الخبر للفاعل دی طفق دی په معنی د اخذ او شروع سره نحو قوله تعالی (وطفقا يخصفان عليهما من ورق الجنة) (وطفق مسحاً بالسوق والاعناق) ای شرع. **وكرب** او بل كرب دی نحو كربت الشمس ای تغرب اذا دنت للغروب، **وجعل** بل جعل دی په شرع **واخذ** او بل اخذ دی په معنی د شروع سره وهي مثل كاد، او دا افعال اربعه په معنی د طفق سره، **واخذ** او بل اخذ دی په معنی د شروع سره وهي مثل كاد، او دا افعال اربعه په استعمال کې **مثل كاد** په شان د کاد دي په کون د خبر د دې کې مضارع بدون ان، او دا خبر د دې مضارع بدون ان خکه ده چې د دې افعالو معنی د قرب شروعي او په دېکې جزم دی او ان دلالت کوي په طمع باندې او طمع منافي ده د جزم سره، **واوشک** او بل اوشک دی دا په اصل وضع کې په معنی د اسرع سره دی او بيا په معنی د قرب استعماليږي **وهي مثل عسى وكاد في الاستعمال** او دا اوشک په شان د عسی او د کاد دي په استعمال کې نو کله مستعمليږي په شان د عسی نو خبر د دې فعل مضارع وي مع ان او کله مستعمليږي په شان د کاد نو خبر د دې فعل مضارع وي بدون ان د اول مثال اوشک زيد ان يجيئ او د ثاني مثال اوشک زيد يجيئ:

فعل التعجب

(ربط) هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د افعال مقاربو نه نو شروع يې وکړه په فعل تعجب کې، يو تعجب دی او يو صيغه د تعجب ده. او يو فعل تعجب دی. تعجب يو کيفيت دی چې عارضيږي زړه د

انسان ته په وقت د ادراك د يو امر خفي السبب كې او صيغه د تعجب هغه لفظ ته وائي چې دلالت كوي په دغه كيفيت باندې مثال لكه سبحان الله۔لاشل عشره۔قاتله الله۔ما احسن زيدا ۔او احسن بزيد۔
او جنس فعل تعجب په اصطلاح د نحويانو كې **ما** فعل دى داسې فعل **وضع** چې وضع كړى شوى دى دغه فعل په وضع ثاني سره **لانشاء التعجب** لپاره د اظهار د تعجب په دې شان سره چې مستعمليږي په دې تعجب كې فقط نه په بله معنى كې كلمه د ما عبارت دى د فعل نه په قرينې د مقام سره په دې سره يې احتراز وكړو د لله دره فارسا واها، او سبحن الله نه ځكه دا افعال نه دي اولانشاء التعجب فقط سره يې احتراز وكړو د قاتله الله لا شلت يده نه. ځكه دا په بله معنى كې هم مستعمليږي، چې هغه دعا ده نو تعريف د فعل تعجب جامع مانع شو.
په بعضو نسخو د كافيه كښ افعال التعجب راغلى دى او په اكثر نسخو كې فعلا التعجب راغلى دى على صيغة التثنيه، او په بعض نسخو كې فعل التعجب راغلى دى على صيغة المفرد او دا درې واړه نسخې صحيح دي، فعل التعجب مفرد راغلې دى په نظر سره تعريف ته ځكه تعريف د جنس په جنس سره كيږي او صيغه د جمع راغلى ده په نظر سره افرادو ته چې افراد د دې زيات دي او صيغه د تثنيه راغلې ده په نظر سره نوعين ته.
سوال: په كومه نسخه كې چې صيغه د تثنيه او صيغه د جمع راغلې ده نو په هغې كې لازميږي تعريف د افرادو او دا باطل دى ځكه تعريف د جنس كيږي په جنس سره؟ **جواب:** ما وضع لانشاء التعجب دا تعريف د جنس فعل تعجب دى چې هغه مفهوم دى د تثنيه يا د جمع نه.
سوال: معترض دا كلمه د ما عبارت اخلي د لفظ نه او بيا اعتراض كوي چې فعل تعجب په اصطلاح كې يو لفظ دى چې وضع شوى دى د انشاء د تعجب لپاره نو تعريف د فعل تعجب مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو پكې سبحانه لله، لله دره فارسا، لاشل عشره، په دې باندې تعريف صادقيږي او فعل تعجب ورته نه وائي؟ **جواب:** دا اعتراض به هله وارد كيدو چې ما عبارت د لفظ نه وى ليكن ما عبارت د لفظ نه ندى بلكه عبارت دى د فعل نه په قرينې د مقام سره ځكه دا بحث د فعل دى لهذا دا خارج دي ځكه دا افعال نه دي.
سوال: تعريف د فعل تعجب مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو پكې قاتله الله لاشل عشره، دا فعل دى د انشاء د تعجب دپاره وضع كړى شوى دى نو تعريف وربانډې صادق دى او د دوى په اصطلاح كې ورته فعل تعجب نه وائي؟
جواب: فعل التعجب د نحويانو په اصطلاح كې ما وضع لانشاء التعجب فقط ته وائي او (قاتله الله لاشل عشره) لكه څنګه چې مستعمليږي په انشاء د تعجب كې نو دغسې مستعمليږي په دعا كې هم **وله صيغتان: ربط:** هر كله چې فارغ شو مصنف د تعريف د فعل تعجب نه نو شروع يې وكړه په صيغه د فعل تعجب كې نو وې ويل و له صيغتان، د فعل تعجب لپاره يا ما وضع لانشاء التعجب لپاره دوه صيغې دي: اوله صيغتان كې پنځه تركيبونه دي:

(۱): له جار مجرور په اعتبار د متعلق سره چې ثابت دی خبر مقدم او صيغتان مبتدا مؤخره ده.
(۲): له جار مجرور متعلق دی په ثبت فعل پورې دا جمله فعليه خبر مقدم او صيغتان مبتدا مؤخره ده.
(۳): له ظرف دی او صيغتان فاعل د ظرف دی دا جمله ظرفيه شوه.
(۴): له متعلق دی په ثابت پورې او صيغتان فاعل د ثابت دی نو شبه جمله شوه (عند الاخفش).
(۵): له متعلق دی په ثبت پورې او صيغتان فاعل د ثبت دی نو جمله فعليه شوه او په مرجع د ضمير غايب کې دوه احتماله دي. يو احتمال دا دی چې ضمير راجع دی فعل تعجب ته. دويم احتمال دا دی چې دا راجع دی ما وضع لانشاء التعجب ته.

ما افعله افعل چې مستعمل تعجب کې اسم دی او که فعل دې کې دوه مذهبه دي. افعل چې مستعمل شي تعجب کې اسم دی او په فعل دې کې دوه مذهبه دي (۱) کوفيان چې اسم دی دلائل د هغوی درې دي (۱) تصرف خکه خاصه د فعل تصرف دی که فعل وی متصرف به وو (۲) عدم دخول الام او دا اسم کې راځي. بصريين وايي دا فعل دی دلائل دهغويي هم درې دی (۱) الحاق نون الوقاية عند اتصال ضمير المتکم مثال نحو ما احسنني فلا يجوز ما احسني بخلاف الاسم چې اول خو دی پورې نون وقايه نه متصل کيږی او که متصل شی نو شذوذاً متصل کيږی نحو وليس حاملني الاابن حمالی او که شذوذاً متصل نشی نو بيا نون وقايه لازم ندی لکه قد بمعنی حسب (۲) عمل د افعل نصب بنا بر مفعول به په معرفه کې دی او اسم بروزن افعل عمل د نصب په معرفه کې بنا بر مفعول به نشی کولی اسم تفضيل عمل د نصب کوی په نکره کې بنا برتميز او صفت مشبه عمل د نصب کوی په معرفه کې بنا بر تشبيه للمفعول (۳) احسن مبنی علی الفتحه دی خکه دا ماضی ده او که اسم وی احسن به مرفوع وی خکه دا خبر د ما لپاره دی او جواب د دلائلو د کوفيينو نه دا دی عدم تصرف دليل د اسميت ندی کما في نحو لکه ليس وعسی او تصميم او تصغير ديکې راغلی دی د وجې د مشابهت د ده نه د اسم تفضيل سره لفظاً او معناً لانهما من واضع واحد او جوهری ويلی دی تصغير د ما احسن او ما املح مسموع دی د عربو نه نه د غير نه يعنی تصغير په دی کې شاذ دی او مختار په نز دمصنف مذهب د بصرينو دی فافهم.

يو د هغه دوه صيغو د فعل تعجب نه هغه صيغه ده چې مشتمل دی په هغې باندې ترکيب د ما افعله لکه احسن شو په ما احسن زيدا کې **وافعل به** دويم د هغه دوه صيغو د فعل تعجب نه هغه صيغه ده چې مشتمل دی په هغې باندې ترکيب د افعل به لکه احسن شو په احسن بزيد کې يعني احسن صيغه د فعل تعجب ده په دې شرط سره چې راشي وروستو د ما تعجبي نه او احسن صيغه د فعل تعجب ده په دې شرط سره چې د دې نه وروستو باء زائده راشي والافلا.

سوال: ما افعله او افعل به خبر دی د مبتدا محذوف لپاره فيکون التقدير احدهما ما افعله واخراهما افعل به، نو ما افعله او افعل به خو فعل تعجب نه دی خکه دا جمله ده او مرکب تام دی بلکه فعل تعجب دا افعل دی په ما افعله کې او افعل دې په افعل به کې؟

جواب: وشو په ترجمې سره يعنې دلته ذکر د کل دی او مراد ترینه جز دی.
بهما او دا دواړه صيغې د فعل تعجب **غير متصرفين** غير متصرفين دي په دې شان سره چې د دې نه مضارع، مجهول، مؤنث وغيره نه راځي ځکه دا په شان د ضرب المثل دی په نقل کې د معنی اول نه معنی ثاني ته او په امثالو کې تغير او تصرف نه دی جائز **ولا يبنيان** او نه شي جوړولی دا دواړه صيغې د فعل تعجب **الا** مګر جوړولی شي **مما** د هغه مادې نه **يبنى منه** چې جوړولی شي د هغې نه **افعل التفضيل** اسم تفضيل لانهما من واد واحد ځکه دا دواړه صيغې د فعل تعجب مشابه دي د اسم تفضيل سره د وجې د دلالت د دې دواړو نه په مبالغه او تاکيد باندې او بنا د اسم تفضيل خو مشروط ده په شروط عشرو سره نو بنا د فعل تعجب هم مشروط ده په شروط عشرو سره: (۱): د اجوړيږي د هغه مادې چې دلالت کوي په حدث باندې.
(۲): دغه ماده به ثلاثي وي. (۳): مجرد به وي. (۴): دلالت به نه کوي په لون باندې خلافا للکوفيين مغوی جائز وائي. (۵): دلالت به نه کوي په عيب باندې. (۶): تام به وي.
(۷): متصرف به وي. (۸): قابل د زيادت او د نقصان به وي (۹): مثبت به وي. (۱۰): معلوم به وي. او لکه څنګه چې اسم تفضيل جوړيږي د فاعل لپاره قياسا نه د مفعول لپاره او هر چې دی ما اشهى الطعام او ما امقت الكذب نو دا شاذ دی. **ويتوصل في الممتنع** متکلم چې قصد او اراده وکړي د اداء د معنى د فعل تعجب د ماده ممتنعه نه نو ادا کولی شي که نه؟ **جواب:** ادا کولی شي.
سوال: څنګه ادا کولی شي کيفيت او طريقه يې څه ده؟ **جواب:** طريقه يې دا ده چې يو ماده به وګوري د ثلاثي مجردو نه چې دلالت کوي په قوت يا شدت يا کثرت يا زيادت باندې د هغې نه فعل جوړ کړه په وزن د افعل باندې او دا ذکر کړه وروستو د ما تعجبي نه او مصد، د ماده ممتنعه وروستو د هغې نه ذکر کړه نو دلالت به وکړي په معنى دفعل تعجب باندې نحو ما اشد استخراجه يا د هغه مادې د ثلاثي مجردو نه چې دلالت کوي په قوت الخ افعل وزن جوړ کړه او مصدر د ماده ممتنع ذکر کوه وروستو د هغې نه سره د باء زائده نه نحو اشدد باستخراجه.
لا يتصرف فيهما: ربط: هر کله چې فارغ شو د بيان د شروطو د بنا دفعل تعجب نه نو شروع يې وکړه په بيان د حکم د فعل تعجب کې نو وې ويل ولا يتصرف الخ.
ترجمه: ولا يتصرف: تصرف نه شي کولی **فيهما** په دې دوه صيغو د فعل تعجب کې چې يو ما احسن زيدا دی او بل احسن بزيد دی. **بتقديم** په تقديم د مفعول يا جار مجرور سره په فعل باندې **وتاخير** او په تاخير د فعل سره په مفعول يا جار مجرور باندې فلا يقال ما زيدا احسن ولا بزيد احسن، ځکه دا دواړه صيغې د فعل تعجب پس د نقل نه تعجب ته مستعملولی شي په شان د استعمال د امثال نو په دې کې تغير نه راځي لکه څنګه چې امثالو کې تغير نه راځي لپاره د دې چې دلالت وکړي په قصه غريبه باندې او دلالت په قصه غريبه باندې هله راځي چې تغير او تبديل پکې ونه شي او که تغير او تبديل پکې وشي نو بيا دلالت په قصه غريبه باندې نه کوي لکه ويلی کيږي يو سړي ته چې هغه طلب د يو شي وکړي او دغه شی يې ضائع کړی وي مخکې ضعيت اللبن في الصيف په کسری د تا سر

ځکه دا قول اصل کې ویلی شوی وو یوې ښځې ته اوس په مذکر کې چې مستعمل شي نو هم ضعیف ویلی کیږي بې د تغیر او تصرف نه لپاره د دې چې دلالت وکړي په قصه غریبه باندې

سوال: عدم تصرف بالتقدیم مستلزم دی عدم تصرف بالتاخیر لره او عدم تصرف بالتاخیر مستلزم دی عدم تصرف بالتقدیم لره ځکه تقدیم د شئ مستلزم دی تاخیر د غیر لره او تاخیر د شئ مستلزم دی تقدیم د غیر لره او ذکر د احدهما مستلزم ذکر د اخر لره نو مصنف لره پکار وه چې اکتفاء یې کړې وی په احدهما باندې ځکه فرض منصبي د مصنف اختصار بما هو اختصار دی؟

جواب: (تسلیمي) منم چې ذکر د احدهما مستلزم دی ذکر د اخر لره لیکن ذکر د تاخیر یې پس د تقدیم نه کړی دی لپاره د تاکید یعنې دا تصریح بما علم ضمنا ده او دا نه شي مسمی کولی په لغوه او په استدراك سره. **جواب:** (منعي) ذکر د احدهما مستلزم دی ذکر د اخر لره په وجود کې نه په قصد الاراده کې ځکه یو مقصود من الشئ دی او بل حاصل من الشئ دی او هر کله چې دا د یو بل نه جدا کېدل په قصد او اراده کې نو ذکر یې کړو تاخیر وروستو د تقدیم نه قصدا او ارادة اشاره یې وکړه دېته چې دا مقصود من الشئ دی نه حاصل من الشئ (۳) د تقدیم او د تاخیر لپاره دوه معانی دی

(۱) تقدم د شئ د شئ نه او تاخیر د شئ د شئ نه بنا په دې تعریف باندې د دوی په مینځ کې ملازمه شته

(۲) تقدیم ذکر الشئ في الاول او تاخیر ذکر الشئ في الاخر بنا په دې تعریف باندې ملازمه نشته په دې شان سره چې ذکر د احدهما مستلزم نه دی ذکر د اخر لره او دلته تقدیم او تاخیر په دې معنی سره دی.

ولا فصل او نه دی جائز فصل او جدائي په مینځ د فعل تعجب او معمول د دهٔ کې فلا یقال ما احسن في الدار زید اکرم الیوم بزید ځکه دا په شان د امثال دی او امثال کې تغیر نه دی جائز **واجاز المازني** او جائز کړی دی امام مازني **الفصل** جدائي په مینځ د فعل تعجب او معمول د دهٔ کې **بالظرف** په ظرف سره ظرف عام دی که ظرف حقیقي وي لکه زمان او مکان شو او که مجازي وي لکه جار مجرور شو.

(۱) (دلیل عقلي) ځکه مسموع دی د عرب نه ما حسن بالرجل ان یصدق.

(۲) په ظروفو کې توسع ده جائز دي په دې کې هغه څه چې په غیر د دې کې جائز نه وي لکه تقدیم د خبر د حروف مشبه بالفعل نه دی جائز بخلاف الظرف دارنګې فصل نه دی جائز په مینځ د فعل تعجب او معمول د دې کې بخلاف الظرف او دا خلاف په هغه ظرف کې دی چې هغه متعلق وي په فعل تعجب پورې او که دا ظرف متعلق په فعل تعجب پورې نه وو بلکه متعلق وو په معمول د دې پورې نو بیا فصل په ظرف سره نه دی جائز بالاتفاق نحو ما احسن معتکفا في المسجد فلا یقال ما احسن في المسجد معتکفا ځکه دا في المسجد متعلق دی په معتکفا پورې نه په احسن پورې او جائز کړی دی اکثر علماؤ فصل په مابین د فعل تعجب او معمول د دهٔ کې په کان زائده سره نحو ما کان احسن زیدا لکه راغلی دی په دې قول د ابن مالك کې

وقد تزاد کان في حشو کما
کان اصح علم من تقدما

وما ابتداء: **ربط:** هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د حکم د فعل تعجب نه نو شرع یې وکړه په بیان د ترکیب د صیغه د فعل تعجب کې او صیغې د فعل تعجب دوه دي:

(۱): په وزن د ما افعله نحو ما احسن زيدا. (۲): افعل به نحو احسن بزيد، او ما احسن زيدا کې درې مذهبونه دي او څلور ترکيبونه دي او احسن بزيد کې دوه مذهبونه او دوه ترکيبونه دي. **ما** کلمه د ما په ما احسن زيدا کې **ابتداء** مبتدا ده ځکه اسم دی اول د کلام کې واقع شوی دی او خالي دی د عوامل لفظيو نه **نکره** نکره ده ځکه فعل تعجب په هغه ځای کې مستعملیږي چې معنی مصدري خفي السبب وي او د خفاء سره نکره مناسب ده **عند السيبويه** د سيبويه په نزد باندې **وما بعدها** او ما بعد د کلمه د ما نه چې احسن زيدا دی **الخبر** خبر واقع شوی دی د مبتدا لپاره فيکون التقدير ای شئ احسن زيدا.

سوال: ما مبتدا ده او ابتدا ورله خبر دی خبر محمول وي په مبتدا باندې او دلته حمل نه صحيح کیږي ځکه ما مبتدا ده نه ابتداء؟ **جواب:** (۱): دا مصدر مبني للمفعول دی ای مبتدا.

(۲): دا محمول دی په اعتبار د حذف د مضاف سره ای ذو ابتداء.

(۳): دا محمول دی په الحاق د يا نسبتيه سره ای ابتدائيه لکه په بعض نسخو کې هم ابتدائيه راغلی دی په الحاق د يا نسبتيه سره.

سوال: په سيبويه باندې اعتراض دی چې ته وايې چې ما په معنی د شئ سره مبتدا ا ما بعد خبر دی نو شئ خو نکره محضه ده او نکره محضه مبتدا نه واقع کیږي؟

جواب: هذا من قبيل شر اهر ذا ناب يعنی په دې کې دوه مذهبه دي: سکاکي. جمهور.

(۱): د سکاکي په نزد باندې شئ نکره ده تخصيص پکې راغلی دی په صفت مقدره سره تخصيص نوعي ځکه شئ کې تنکير د تعظيم لپاره دی فيکون المعنی شئ عظيم احسن زيدا.

(۲): جمهور وائي په شئ کې تخصيص راغلی دی په هغه شئ سره چې تخصيص مومي په هغې سره فاعل چې هغه تقديم د فعل دی په فاعل باندې چې دا اصل کې احسن زيدا ما وو په دې احسن کې ضمير مستتر وو هغه فاعل مبدل منه او ما بمعنی شئ بدل بيا دا بدل د بدليت نه وويستی شو او مقدم شو نو ما احسن زيدا ترې جوړ شو لپاره د تخصيص جنسي او تخصيص فردي، معنی دا چې خاص يو شی دی چې ښايسته کړی دی هغه زيد لره نه دوه او نه ډير يا خاص يو شئ دی چې ښايسته کړی دی هغه زيد لره نه معدوم.

(۲): **وموصولة عند الاخفش** او دا ما موصوله دی په معنی د الذي سره او ما بعد جمله ورله صله ده د اخفش په نزد باندې موصول سره د صلې نه مبتدا ده ځکه اصل په مبتدا کې تعريف دی. **والخبر محذوف** او خبر د مبتدا محذوف دی نو کیږي تقدير د عبارت دارنګې الذي احسن زيد شئ عظيم.

(۳): دويم ترکيب د اخفش نه دا هم منقول دی چې ما موصوفه دی او ما بعد جمله ورله صفت دی موصوف سره د صفت نه مبتدا ده او خبر يې محذوف دی فيکون التقدير شئ احسن زيدا شئ عظيم.

(۴): او فراء وائي چې ما استفهاميه بمعنی ای شئ مبتدا او ما بعد جمله ورله خبر دی او جواب د استفهام حذف شوی دی ځکه تعجب راغلی دی د وجې د ادراك د يو امر خفي السبب نه او د خفاء سره استفهام مناسب دی فيکون التقدير ای شئ احسن زيدا شئ عظيم. **وبه** او لفظ د به په افعل به

كې **فاعل** فاعل واقع شوی دی د افعل لپاره **عند السيبويه** د سيبويه په نزد باندې او دا باء زائده ده لازمه ده د فاعل سره مگر زيادت د باء لازم نه دی که چرې متعجب منه د افعل لپاره ان سره د صلې نه وو نحو احسن ان يقول ای احسن بان يقول ځکه تقدير د حرف جر سره د ان مصدريه نه شائع او كثير دی په استعمال د كلام د عرب كې **فلا ضمير في افعل** نشته ضمير په صيغه د تعجب كې چې په وزن د افعل باندې راغلې ده ځکه فاعل د فعل نه وي مگر يو وي او که افعل کې ضمير مستتر شي نو لازميږي تعدد د فاعل او دا باطل دی.

ومفعول او دا لفظ د به مفعول به دی د افعل لپاره **عند الاخفش** په نزد د اخفش باندې **والباء** او باء په به كې **للتعدية** د تعديت لپاره که چرې همزه د باب افعال د صيرورت لپاره شي نو د احسن بزيد معنی داده صير زيدا ذا حسن **او زائده** يا دا باء زائده ده بنا په دې چې همزه د باب افعال د تعديت لپاره ده **ففيه** په دې صيغه د فعل تعجب كې چې افعل په وزن باندې ده **ضمير** ضمير دی چې هغه فاعل دی د افعل لپاره ای احسن انت بزيد او احسن زيدا ای صيره حسنا

افعال المدح والذم

ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د افعال تعجب نه نو شروع يې وكړه په افعال مدح او ذم كې، په دې نوع كې لابدي ده د معرفة د امور ثمانيه و نه: (١) معرفة د ذات (٢) معرفة د اسم (٣) وجه د تسميه (۴) تعداد (۵) مصداق (٦) مدخول (٧) عمل (٨) احكام. نو دا په اعتبار د ذات سره افعال دي نه اسماء او نه حروف عند الجمهور په دليل د اتصال د تاء التانيث ساكنه سره او په دليل د اتصال د ضمير بارز مرفوع سره لكه په بعضې لغات د عربو كې ويلى كيږي نعم نعما نعموا، او اكثر كوفيان وائي چې دا نعم او بئس اسماء دي نه افعال، اصل وضع كې افعال وو خو بيا د هغې نه نقل شوي دي اسماؤ ته. دليل د هغوی دپاره دخول د حرف جر دی په نعم او بئس باندې مثال د اول كقول العرب ما هي بنعم الورد، او مثال د ثاني لكه دا قول د عربو: نعم السير بئس البعير. جواب د طرفه د بصريينو نه دا دی چې په دې مثالونو كې نعم او بئس معمول د قول محذوف او قول صفت د موصوف محذوف دی فيكون التقدير.........

نعم السير على غير مقول في حقه بئس العير، صفت او موصوف دواړه حذف شوي دي او معمول د صفت قائم شوی دی په مقام د هغې باندې سره د بقاء د نعم او د بئس نه نو د كوفيانو په نيز باندې نعم الرجل زيد بئس الرجل زيد جمله اسميه ده، تركيب يې داسې كوي زيد مبتدا مؤخر نعم مبدل منه يا مبين الرجل بدل يا عطف بيان، معنی دا ده چې..........

مبدل منه سره د بدل نه يا مبين سره د عطف بيان نه مقدم او زيد مبتدا مؤخره ده او عند البصريين جمله فعليه ده. او نوم د دې افعال مدح والذم دی او افعال جوامد او افعال منسلخه عن الزمان ورته هم وائي افعال مدح والذم ورته ځكه وائي چې بعضې د دې نه راځي دپاره د انشاء د مدح او بعضې راځي د انشاء

د ذم، او افعال جوامد ورته ځکه وائي چې دا غير متصرف دي او منسلخه عند الزمان ورته ځکه وائي چې دا په اصل وضع کې مقترن وو په زمانه پورې بيا هغه زمانه د دې نه ويستلې شوې ده او عدد يې پنځه دي او مصداقونه يې نعم بئس ساء حبذا لاحبذا دی، او مدخول يې درې قسمه راځي: (۱) اسم جنس متلبس باللام (۲) اسم مضاف اسم جنس معرفه باللام ته (۳) ضمير مبهم مميز بنکره منصوبه او عمل يې رفع ده بنا بر فاعليت په دغه اسماء ثلاثه ؤ کې او احکام يې مصنف رحمه الله بيانوي.

ترجمه: افعال المدح والذم جنس فعل مدح او ذم په اصطلاح د نحويانو کې **ما فعل** دی داسې **فعل وضع** چې وضع کړی شوی دی **لانشاء مدح او ذم** دپاره د انشاء او اظهار د مدح او ذم او مشهور دی په دې نوم سره عند النحات.

په هرتعريف کې لابدي ده د جنس او فصل نه **ما وضع** جنس دی خپل پردي ټول پکې داخل شو او **لانشاء مدح او ذم** سره يې احتراز وکړو د مدحته او ذممته نه ځکه د الانشاء مدح او ذم نه دی وضع شوی بلکه وضع کړی شوی دی د اخبار لپاره او دا قيد چې مونږ ولګوو چې مشهور وي په دې نوم سره په اصطلاح د نحويانو کې په دې سره يې احتراز وکړو د حَسُنَ قَبُحَ کبر نه نحو قوله تعالى كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ ای بئس کلمة، ځکه اګر چې وضع کړی شوی د انشاء د مدح لپاره ليکن مشهور نه دی په دې نوم سره د نحويانو په نزد باندې **فمنها** بعض د افعال مدح او ذم نه **نعم و بئس** نعم او بئس دی نعم دلالت کوي په انشاء د مدح او بئس دلالت کوي په انشاء د ذم باندې.

سوال: ته وايې چې نعم او بئس د افعال مدح او ذم نه دي نو فعل خو چرته په استعمال د کلام د عربو کې په دې وزن باندې نه دی راغلی ځکه اوزان د ماضي معلوم د ثلاثي مجردو درې دي: فَعَلَ، فَعِلَ، فَعُلَ لکه ضرب ـ سمع ـ کرم شو او نعم او بئس د دې نه يو وزن هم نه دی نو ته ورته څنګه فعل وائې؟

جواب: نعم او بئس اصل کې نَعِمَ او بَئِسَ وو په وزن د علم باندې بيا حرکت د عين نقل کړی شو فاء کلمې ته پس د سلب د حرکت د هغې نه نو نعم او بئس شو.

سوال: نعم او بئس چې اصل کې نَعِمَ او بَئِسَ وو نو دا نعم او بئس ترې ولې جوړ شو؟

جواب: اسم يا فعل چې راشي په وزن د فَعِلَ باندې او عين کلمه يې حرف حلق وي نو په نزد د بني تميم په هغې کې لغات اربعه جائز دي مثال لکه فخذ شو دې کې لغات اربعه دي: فَخِذٌ، فِخِذٌ، فَخْذٌ، فِخْذٌ او سيبويه ويلې دي چې عامو عربو اتفاق کړی دی په لغت د بني تميم باندې چې د نعم او بئس چې کله قصد وکړی شي د مدح او ذم نو دوی يې په کسره د فاء او سکون د عين سره وائي. **وشرطهما** او شرط لپاره د عمل د نعم او بئس **ان يكون الفاعل معرفا باللام** کون د فاعل دی معرفه په الف لام عهد ذهني سره نحو قوله تعالى [نعم المولى ونعم النصير] يا لکه نعم الرجل زيد شو الف لام د الرجل الف لام عهد ذهني دي ځکه دې سره اشاره ده واحد غير معين ته ابتداءً او دا ګرځي معين په ذکر د محسوس سره وروستو نو کيږي په کلام کې تفصيل بعد الاجمال ځکه دا واقع في الذهن وي.

سوال: تفصيل بعد الاجمال ولې کولی شي په فاعل د نعم او د بئس کې؟

جواب: لپاره د مزید اتمام د شان د فاعل د نعم او د بئس

سوال: هر کله چې فاعل د نعم او بئس متلبس شو په الف لام عهد ذهني سره نو الف لام عهد ذهني خو مفید د تعریف نه دی نو دېته معرف باللام ولې وائي؟

جواب: اسم متلبس په الف لام عهد ذهني سره اگر چې معرفه نه ده حقیقةً خو مونږ ورته معرفه وایو صورةً ځکه صورت یې صورت د معرفه باللام دی یا د دې وجې نه چې په دې احکام د معرفه جاري کیږي لفظا **او مضافا الی المعرف بها** یا کون د فاعل دی اسم مضاف معرفه باللام ته دا مضاف عام دی چې بالذات وي نحو نعم صاحب الرجل زید یا بالواسطه وي نحو نعم فرس غلام الرجل **او مضمرا ممیزا** یا کون د فاعل دی ضمیر داسې ضمیر چې ممیز دی **بنکرة** په نکرې سره داسې نکره **منصوبة** چې منصوبه وي بیا عامه ده که مفرده وي او که مضافه وي نکرې ته، یا معرفې ته، نحو نعم رجلا زید، نعم ضاربا رجل زید، نعم ضاربا زید انتما، نعم حسن الوجه انت. نکره به وي ځکه چې تمیز نکره راځي نه معرفه او منصوبه به وي ځکه تمیز د قبیلې د منصوباتو نه دی او تمیز مجرور راځي د وجې د اضافت نه یا د وجې د دخول د حرف جر نه او دلته نه اضافت شوی دی او نه حرف جر داخل شوی دی **او بما** یا به د دې ضمیر بیان شوی وي په کلمه د ما سره چې دا ما په معنی د شئ سره منصوب محلا دی بناء علی التمیز عند الجمهور مثال لکه **فنعما هي** شو چې اصل کې نعم ما هي و بیا اجتماع د حرفین متجانسین راغله په کلمتین کې د دې اول میم نه مو حرکت وغورځوو او میم په میم کې مدغم کړې شو او عین لره کسره ورکړې شوه نو د نعم ما نه نعما جوړ شو، او په دې کې تراکیب ثلاثه او مذاهب ثلاثه دي.

(۱): جمهور وائي نعم فعل دی ضمیر پکې مستتر دی چې هغه مبهم دی د وجې د عدم د تعین د مرجع نه ما بمعنی شیئا تمیز دی ممیز سره د تمیز نه فاعل د نعم او هي مخصوص بالمدح دی فیکون المعنی نعم شیئا هي او دې ما ته عند الجمهور ما ممیزه وائي.

سوال: تمیز راځي لپاره د بیان او رفع د ابهام، او په نعم کې ضمیر مبهم دی او ته وائي چې ما تمیز د ضمیر مبهم دی نو ما په خپله مبهم دی نو دا څنگه رفع د ابهام کوي د ضمیر مبهم نه؟

جواب: په دې ضمیر کې دوه ابهامه دي یو دا چې مصداق یې نه دی معلوم، او دویم دا چې مصداق یې په خارج کې موجود دی او که نه او په ما کې یو ابهام دی چې مصداق یې نه دی معلوم نو په دې سره رفع د ابهام وشوه د ضمیر نه چې دا په خارج کې موجود دی.

(۲): او فراء او ابو علي وائي چې دا ما موصوله دی بمعنی الذي او صلة بجمیعها حذف شوې ده او هي مخصوص بالمدح دی موصول سره د صلې محذوفې نه فاعل د نعم فیکون التقدیر نعم الذي فعله هي.

(۳): سیبویه او کسائي وائي چې ما بمعنی الشئ فاعل دی د نعم لپاره او دې ته عند النحات ما تامه وائي فیکون المعنی نعم الشئ هي. مذهب د جمهورو مختار دی د مذهب د نورو نه ځکه په مذهب د فراء او ابو علي کې دوه نقصانه دي.

(۱): الذي فاعل د نعم لپاره چرته نه دی راغلی په استعمال د کلام د عربو کې.
(۲): حذف د صلې راغلو بجميعها او تقدير په کلام کې خلاف الاصل دی او مذهب د سيبويه او کسائي هم کمزوری دی ځکه ما د معرفه لپاره قليل دی غالبا د نکرې لپاره راځي نحو ضربا ما قليلا ما. **وبعد ذلك** او وروستو د فاعل نه **المخصوص** مخصوص بالمدح يا مخصوص بالذم راځي غالبا ځکه کله په طريقې د قلت سره مخصوص بالمدح او مخصوص بالذم مقدم کيږي په فعل مدح او فعل ذم باندې په نعم الرجل زيد کښنکې ويلی شي زيد نعم الرجل او په دې باندې تصريح کړې ده سکاکي صاحب په مفتاح العلوم کې.

سوال: ته وائې چې کله کله مخصوص بالمدح او مخصوص بالذم مقدم کيږي په فعل مدح او ذم باندې نو نعم او بئس خو صدارت غواړي او په تقديم د مخصوص سره خو صدارت فوت کيږي؟

جواب: نم او بئس صدارت غواړي په خپله جمله او خپل مدخول کې او مخصوص بالمدح يا بالذم مدخول د نعم او بئس نه دی.

سوال: مخصوص بالمدح يا بالذم د فاعل د نعم او بئس نه وروستو ولې ذکر کولی شي؟

جواب: لپاره د تفصيل بعد الابهام. لپاره د دې چې تلفظ د متکلم موافق شی دمقصود خپل سره ځکه مقصود د متکلم ذکر کول د ممدوح دی اولا په طريقه د ابهام سره او وروستو په طريقه د تفصيل سره.

سوال: متکلم ذکر د ممدوح اولا په طريقه د ابهام سره او بيا په طريقه د تفصيل سره ولې کوی.

جواب: لپاره د مبالغه فی المدح يافی الذم د وجی د زيادت اهتمام د شان د فاعل نه **وهو مبتدا ما قبله خبره** دا جمله مستانفه جواب د سوال دی، هر کله چې مصنف اويل وبعد ذلك المخصوص نو معترض اعتراض وکړو، چه دا مخصوص په ترکيب کې څه واقع کيږی نو مصنف جواب وکړو په هو مبتدا سره خلاصه د جواب دا ده چې په نعم الرجل زيد کې پنځه ترکيبونه دی، او مصنف دلته دوه ترکيبونه کړی دی او باقی دری ئي ترک کړی دی، د وجی د عدم شهرت او عدم ظهور نه

(۱): **وهو** دا مخصوص **مبتدا** مبتدا ده. **ما** او هغه جمله **قبله** چې واقع کيږی، مخکی ددی نه غالبا **خبره** خبر دی، ددغه مبتدا او مبتدا سره د خبر نه جمله خبريه اسميه،

سوال: نعم الرجل جمله انشائيه ده، او جمله انشائيه د چا لپاره خبر نه واقع کيږی.

جواب: جمله انشائيه بلا تاويله خبر نه واقع کيږی، او مع التاويل واقع کيږی، او دلته خبر واقع شوی دی، مع التاويل ای زيد مقول فی حقه نعم الرجل.

سوال: جمله چې خبر د مبتدا واقع شي، لابدی وی درابط نه دلته رابط ضمير نشته،

جواب: رابط ځلور قسمه راځی کمامر او دلته رابط الف لام دی ځکه دا قائم شويدی په مقام وضمير.

سوال: هر کله چې عائد الف لام شو نو پدی سره دوه نقصانه پيدا شو،

(۱): يو دا چې فاعل د ابهام نه اوتلو او مخکی ئي وئلی وو چې په افعال مدح او ذم کې اول فاعل ذکر کولی ابهام او بيا يي تفصيل کولی شي،

(۲): او دا الف لام عهد ذهنی نه شو بلکه الف لام عهدی خارجی شو ځکه الف لام عهد ذهنی سره اشاره کولی شی معهود فی الذهن ته او تا اشاره وکړه، پدی سره معهود فی الخارج ته.
جواب: پدی الف لام سره یې اشاره کړیده یو شیٔ ته چې هغه په ذهن کې دی، او هغه معهود فی الذهن دوجی د عموم او د شمول نه رابط دی، د زید لپاره،
(۲): **او خبر مبتدا محذوف** یا دا مخصوص خبر د مبتدا دی، داسې مبتدا چې هغه حذف شویده وجوبا چې هو دی، د وجی د قرینی دالی نه په تعین د محذوف باندی او د وجی د مسد مسد نه ځکه کله چې متکلم نعم الرجل اویل او ددی رجل مصداق معلوم نه شو، سامع او مخاطب ته نو سامع سوال وکړو په من هو سره نو مجیب جواب وکړو، په زید سره ای هو زید نو مبتدا حذف شویدی د وجی د وجود د قرینی دالی نه په تعین د محذوف چې هغه سوال د سائل دی، ځکه مذکور فی السوال کالمعادفی الجواب وی، او سد مسد اقامت د خبر دی، په مقام د مبتدا په معاونت د جملی متعدی سره،
(۳): یا بالعکس دی یعنی زید بدل مبتدا ده او خبري خذف شویدی ای زید هو،
(۴): نعم فعل مدح الرجل مبدل منه زیدبدل مبدل منه سره د بدل نه فاعل د نعم،
(۵): الرجل مبین او زید عطف بیان مجموعه فاعل د نعم دی. بنا په ترکیب ثانی او ثالث باندی نعم الرجل زید دوه جملی دی، او بنا په ترکیب اول او رابع او خامس باندی یوه جمله ده.
وشرطه مطابقة الفاعل شرط لپاره د مخصوص یعنی شرط لپاره د صحت د وقوع دیو اسم مخصوص بالمدح یا بالذم مطابقة الفاعل
(۱): مطابقة د مخصوص دی، د فاعل سره (اضافة المصدر الی المفعول)
(۲): مطابقت د فاعل دی، د مخصوص سره (اضافة المصدر الی الفاعل والمفعول محذوف) په جنس کې پدی شان سره چې دا د دواړه د یو مفهوم کلی لاندی داخل وی حقیقة نحو نعم الرجل زید یا حکما نحو نعم الاسد زید. او مطابقت به وی، په افراد تثنیت. جمعیت تذکیر او تانیث کې.
(۱): ځکه مخصوص عبارت دی، د فاعل نه فی المعنی او په ما بین د معبر او معبر عنه کې لابدې ده د مطابقت نه (۲) یامخصوص مبین د فاعل دی او په ما بین د مبین او مبین کې اتحاد او عینیت وی، فیقال نعم الرجل زید. نعم الرجلان زیدان نعم الرجال زیدون بئست المراة هند. هم جائز دی، بتذکیر الفعل ځکه د فعل اسناد چې وشی، متصل بلا فصل اسم ظاهر د مؤنث حقیقی ته نو تانیث د فعل واجب دی، خو چې فعل متصرف وی، او دا فعل غیر متصرف دی، ځکه دا مشابه دی په عدم تغیر او تصرف کې د حرف سره لهذا الحاق د علامه تانیث واجب ندی پدهٔ پورې
سوال: ته وائی چې شرط د مخصوص لپاره مطابقت د مخصوص دی، د فاعل سره پهٔ جنس کې دا خبره ستا منقوضه شوه، په نعم الاسد زید سره چې دلته مخصوص مطابق ندی د فاعل سره پهٔ جنس کې ځکه زید د قبیلی د حیوان ناطق نه دی، او اسد د قبیلی د حیوان مفترس نه دی،

جواب: د مطابقت فی الجنس دا معنی چې دواړه به داخل وی د یو مفهوم کلی نوعی لاندې اوس د
قول د دی د یو مفهوم کلی نوعی لاندی دا دی، که حقیقة وی لکه نعم الرجل زید یا تاویلا وی، لکه
نعم الاسد زید وبئس مثل القوم الذین کذبوا وشبهه متاول. دا جمله مستانفه جواب د سوال دی.
سوال: ته وائی چې شرط لپاره د مخصوص مطابقة د مخصوص دی، د فاعل سره دا خبره ستا منقوضه
شوه پدی قول د الله سره چې بئس مثل پدی شان سره چې پدی ایت کې مثل القوم فاعل دی، د بئس او
الذین کذبوا مخصوص با الذم دی. او مطابقه نشته ځکه مخصوص بالذم جمع ده او فاعل مفرد دی،
نو مصنف جواب وکړو چې دا قول د الله چې وبئس مثل القوم الخ دی، وشبهه یا ددې په شان نور
ترکیبونه چې مخصوص پکې مطابق نه وی، د فاعل سره متاول تاویل کړی شویدی.
(١): یو تاویل دا دی چې مثل القوم مضاف مضاف الیه فاعل د بئس دی، او الذین کذبوا موصول
سره د صلی نه په اعتبار د حذف د مضاف سره مخصوص بالذم دی. فیکون التقدیر بئس مثل
القوم مثل الذین کذبوا.
(٢): دویم تاویل دا دی چې الذین کذبوا موصول سره د صلی نه مخصوص بالذم ندی بلکه دا صفت
دی د القوم دپاره موصوف سره دصفت نه فاعل دی، او مخصوص بالذم محذوف دی، چې مثلهم دی
فیکون المعنی بئس مثل القوم المکذبین مثلهم **وقد یحذف المخصوص** دا هم جمله مستانفه جواب د سوال
دی ځکه هر کله چې مصنف اول وبعد ذلك المخصوص او بیا یې د هغې ترکیب وکړو، او بیا یې د
مخصوص دپاره شرط بیان کړو نو معترض اعتراض وکړو، چې ته وائی چې د نعم العبد، نعم
الماهدون دلته وروسته د فاعل نه مخصوص ندی ذکر نو مصنف جواب وکړو چې **وقد یحذف المخصوص**
کله کله حذف کولی شی، مخصوص برابره خبره ده، چې مخصوص بالمدح وی، او که مخصوص
بالذم وی **اذا علم** کله چې معلوم وو حذف د مخصوص پهٔ قرینی سره یعنی په وقت د وجود د قرینی د
الی کې په تعین د محذوف باندی مثال لکه نعم العبد شو دلته مخصوص حذف شویدی، چې ایوب
دی او قرینه پدی باندی قصه د ایوب ده، او فنعم الماهدون مخصوص حذف دی چې نحن دی او قرینه
پدی باندی سیاق د ایت دی چې هغه والارض فرشناها دی، او نحن مخصوص بالمدح محذوف خبر
دی، د مبتدا محذوف لپاره چې هم دی بنا پدی ترکیب باندی په نعم الرجل زید کې جز جمله مستانفه
حذف شویدی، او په نعم العبد او نعم الماهدون کې ټوله جمله مستانفه حذف شویده **وساء** او لفظ د
ساء **مثل بئس** په شان د بئس دی په افاده د ذم کې (٢) په شرائط (٣) په احکام کې په دی شان سره لکه
څنګه چې بئس انشاء د ذم لپاره راځی دارنګې ساء هم د انشاء د ذم لپاره راځې او فاعل د بئس دری
قسمه راځی، (١): اسم جنس مبلس باللام (٢): اسم مضاف اسم جنس مبلس باللام ته.
(٣): ضمیر مبهم ممیز منکره منصوبه نو فاعل د ساء هم دغسی دری قسمه رازی، او په مخصوص
دبئس کې مطابقت د فاعل شرط وو، مخصوص سره دلته هم شرط دی، او مخصوص د بئس غالبا
ذکر کولی شی وروسته د فاعل نه او کله کله حذف کولی شی په وقت د وجود د قرینی د الی کې په

تعین د محذوف باندی دارنګې مخصوص د ساء هم کله کله حذف کولی شی، په وقت د وجود د قرینی د الی کې په تعین د محذوف باندی **ومنها حبذا** بعض د افعال مدح نه حبذا دی دا مرکب دی، د حب او د ذانه مجموعه دلالت کوی په انشاء د مدح باندی او که پدی باندی لا داخل شی او لا حبذا اوائی نو بیا دلالت کوی په انشاء د ذم باندې

سوال: حبذا فعل مدح شو د فعل لپاره لابدی وی، د فاعل نه نو ددی فاعل کوم دی، او دلته مراد د ذانه ذا **جواب:** **وفاعله** فاعل ددی فعل **ذا** ذا اسم اشاره ده، ځکه ذا څلور قسم دی، د لفظ د ذا د حال خپل نه پدی اشارتی دی، **ولایتغیر** او نه متغیر کیږی، دا لفظ د حبذا یا فاعل د حبذا یا لفظ د ذا د حال خپل نه پدی شان سره چې نه تثنیه کولی شی نه جمع کولی شی نه مؤنث کولی شی کله چې مخصوص ددی تثنیه جمع او مؤنث زاشی **لجریها مجری الامثال** فیقال حبذا زید حبذا الزیدان، الزیدون حبذا هند.

سوال: ضمیر د ولایتغیر چا ته راجع دی، **جواب:** دا ضمیر راجع دی لفظ د حبذا ته،

(۲) یا راجع دی فاعل د حبذا ته، (۳) یا راجع دی ذا ته

سوال: فاعل د حبذا ولې نه متغیر کیږی، د وجې د تغیر د مخصوص نه،

جواب: لجریها مجری الامثال او په امثالو کې تغیر او تصرف ندی جائز **وبعده** او وروسته د حبذا نه **المخصوص** مخصوص بالمدح راځی پدی شان سره چې تقدیم د مخصوص په حبذا باندی ندی جائز

سوال: دا مخصوص وروسته د حبذا نه په ترکیب کې څه واقع کیږی؟ **جواب:** **واعرابه کاعراب مخصوص نعم** اعرب د مخصوص وروسته د حبذا نه په شان د اعراب د مخصوص د نعم دی خلاصه د جواب دا ده چې په حبذا زید کې شپږ ترکیبونه دی، پنځه هغه دی چې په نعم الرجل زید کې تیر شو، او شپږم دا دی چې ذا زائد او زید فاعل د حب د پاره دی نو جمله فعلیه انشائیه شوه،

(مابه الا متیاز درمیان نعم وحبذا)

(۱) فاعل د نعم دری قسمه راځی، کما مر او فاعل د حبذا فقط ذا راځی نه بل شی،

(۲) تقدیم د مخصوص بالمدح په نعم جائز دی، فیقال زید نعم الرجل او تقدیم د مخصوص بالمدح په حبذا باندی ندی جائز فلایقال زید حبذا،

(۳) مطابقت په مابین د فاعل د نعم او مخصوص بالمدح کې واجب دی، بخلاف حبذا **ویجوز ان یقع الخ** جائز دی، واقع کیدل د تمییز او حال **قبل المخصوص** مخکی د مخصوص د حبذا نه او وروسته د مخصوص د حبذا **علی وفق مخصوصه** او دا حال او تمییز به کائن وی، موافق د مخصوص د حبذا په افراد تثنیت تذکیرا او تانیث کې دپاره ددی چې عمل راشی په قاعده د .... باندی بقدر الامکان مثال دتمییز مخکی د مخصوص نه او وروسته حبذا رجلا زید حبذا زید رجلا حبذا رجلین الذیدان حبذا الزیدان رجلین، حبذا امراة هند حبذا هند امراة او مثال د حال قبل المخصوص وبعده حبذا راکبا زید، حبذا زید راکبا حبذا راکبین الذیدان حبذا الزیدان راکبین، حبذا راکبین الذیدون، حبذا زیدون الراکبین،

سوال: حال او تمييز د مخصوص بالمدح نه ولې نه واقع کوی چې د فاعل د حبذا نه يي واقع کوی،
جواب: حال ديته وائی چې يبين هيئة الفاعل او المفعول به او مخصوص بالمدح نه فاعل دی، او نه مفعول به وی، او تمييز د رفع د ابهام لپاره راځي، او پدی مخصوص کې ابهام نشته.
(۲): دا حال او تمييز واقع شويدی د فاعل نه نه د مخصوص نه ځکه چې مخصوص بالمدح راځي، پس د اتمام د فعل مدح نه او اتمام د فعل مدح هله رازی، چې تمييز او حال واقع کړو د فاعل نه نو دا فعل مدح به تام شی، پده سره بيا به مخصوص ذکر شی.
سوال: حال او تمييز واقع شويدی د فاعل د حبذا نه د هغې سره مطابقة پکار دی نو د مخصوص سره به ولې موافق وی؟ **جواب:** لپاره ددی چې عمل راشی په قاعده د .... بقدر الامکان پدی شان سره چې فاعل د حبذا متصرف فيه ندی مطابقة د هغه سره په افراد تثنيت جميعت تذکير تانيث کې ممکن ندی نو دا به پدی امورو کې مطابق وی، د مخصوص سره ځکه مخصوص عبارت دی د فاعل د حبذا نه او فاعل د نعم چې ضمير مبهم راشی، نو د هغې نه تميز واقع کيږی، بالاتفاق نحو نعم رجلا زيد، دارنګې د فاعل د حبذا نه تميز واقع کيږی، بالاتفاق نحو حبذا رجلا زيد،
(۳): فاعل د نعم چې اسم جنس معرف باللام راشی، د هغې نه تمييز واقع کيږی، مطلقا که مفيد د فائدی وی، او کنه دليل د هغو دا قول د شاعر دی فنعم الفحل فحلهم فحلا دلته فاعل د نعم مخصوص او تميز دری واړه يو شئ دی،
(۲): او بعض وائی چې دا تمييز به خالی نوی يا به مفيد د فائدی وی او يا به نوی که وو نو واقيع کيږی نحونعم الرجل فارسازيد او که مفيد د فائدی نه وو، نو بيا نه واقع کيږی، نحو نعم الرجل رجلا زيد.

الحرف

ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د قسم ثاني د كلمه نحويه نه چې هغه فعل دی نو شروع يې وكړه په بيان د قسم ثالث د كلمه نحويه كې چې حرف دی نو وي ويل الحرف.

ترجمه: حرف په لغت كې طرف ته وائی او په اصطلاح د نحويانو كې **ما** يوه كلمه ده. او تذكير د ضمير د دل په اعتبار د لفظ د ما سره دی داسې كلمه **دل** چې دلالت كوی دا كلمه **على معنى** په معنی موضوع له باندی داسې معنی موضوع له چې **هغه** حاصله ده او كائنه ده **فی غيره** په غير ددی كلمه كې پدی شان سره چې دغه معنی متصوره ده، او متعلقه ده په نسبت سره غير ته چې نده مستقل بالمفهوميت ځكه دامعنی په مدلوليت كې ددی كلمی نه محتاج ده انضمام د كلمی اخری ته.

(٢): هسی معنی چې دامعنی كائنه ده فی غيره په غير ددی معنی كې پدی شان سره چې دا معنی ذريعه ده، او اله ده لپاره دمعلومولو د حال د غير فقط او نده مقصود لذاته.

تشريح: زده كړه دا خبره چې په حرف كې لابدی ده د معرفت د امور ستونه.

(١): مفهوم لغوی، (٢): مفهوم اصطلاحي (٣): وجه د تسميه (۴): حكم، (۵): علامات (٢): اقسام نو حرف په لغت كې جانب ته وائی لكه وائی عرب جلست على حرف الوادی ای جانبها او په اصطلاح كې ما دل على معنى فی غيره ته وائی، او حرف ته حرف ځكه وائی چې حرف په لغت كې طرف ته وائی او دا حرف اصلاحی هم په طرف د كلام كې واقع كيږی.

سوال: زيد في الدار او اريد ان تقوم كې خو حرف په طرف كې ندی واقع شوی بلكه په مينځ كې واقع شويدی **جواب:** ددی مطلب دا دی چې دا واقع كيږی په جانب مقابل د اسم د فعل كې پدی شان سره چې مسند او مسند اليه نه واقع كيږی، او حكم د حرف دا دی چې نه مسند واقع كيږی او نه مسند اليه او علامه د حرف دا ده چې پدی كې به نوی موجود يوه علامه د علامات د اسم او فعل نه او حرف په اعتبار د عمل سره دوه قسمه دی (١): حروف عامله، (٢): حروف غير عامله، او حروف عامله په دوه قسم دی، (١): حروف عامله په اسم كې، (٢): حروف عامله په فعل كې حروف عامله د اسم پنځه قسمه دی، (١): حروف جاره، (٢): حروف مشبه بالفعل (٣): حروف مشبه بليس، (۴): لا لنفی الجنس، (۵): حروف ندا.

او حروف عامله د مضارع دوه قسمه دی، (١): حروف نواصب د مضارع، (٢): حروف جوازم د مضارع او ددی اوه اقسام نه علاوه باقی ټول حروف غير عامله دی، او غير عامله شپاړس قسمه دی لكه ذكر كړی دی سيد سند صاحب په نحومير كې.

سوال: داما به خالی نه وائی يا به يې عبارت وائی، د كلمة نه يا د حرف نه او يا شئ نه او دا ددی وارړه ندی صحيح كه عبارت يې وائی د حرف نه نواخذ د محدود راځی، په حد كې او كه عبارت يې وائی د كلمة نه نو دل ورسره نه لګی، ځكه چې مطابقت نه راځی بين المرجع والضمير او كه عبارت يې وائی د شئ نه نو داخل شو پدې كې هغه قرطاس چې منقوش وی پكې من او الی، ځكه دا يو شئ دی

چې دلالت کوی علی معنی فی غیره په اعتبار د مکتوب فیه سره چې من او الی دی او دیته حرف نه ویل کیږی؟ **جواب**: معترض چې اعتراض وکړی په سقوقو مختلفو سره نو طریقی د جواب دوه دی یو دا چې ددغه شقوق مختلفو نه یو شق راوخلی او د هغې نه جواب وکړی، دلته مونږ ددی مذکور وشقوقو نه یو شق را اخلو هغه دا چې دا ما عبارت دی، د کلمة نه او لفظ د ما سره دی.
(۲) چې اختیار د شق اخر که نه وائی چې ضمیر د دل ورته نه راجع کیږی، نو جواب دا دی چې تذکیر د ضمیر د دل په اعتبار د

سوال: دا ما عبارت د کلمة نه ولې اخلی د حرف او د شئ نه یې ولې نه اخلی؟ **جواب**: دا عبارت دی د کلمة نه نۀ د شئ او د حرف نه د وجی د عدم صحت ددغه دواړو نه پدی مقام کې،
(۲): دا ما عبارت دی د کلمة نه نه د شئ او حرف نه ځکه معتبر پۀ تعریفات د اقسامو کې جنس قریب وی، او جنس قریب دلته کلمة دی، نه شئ او حرف،
(۳): دا عبارت دی د کلمة نه ځکه کلمه مقسم دی د اسم فعل او حرف لپاره او مقسم معتبر وی، پۀ تعریف د اقسامو کې او پۀ تنکیر د کلمة سره یې اشاره وکړه، دیته چې دا ما موصوفه دی، ځکه واقع دی په جانب د خبر کې او دا قاعده ده چې من او ما واقع شی په جانب د مبتدا کې نو موصولیت یې اولی دی او چې واقع شی په په جانب د خبر کې نو موصوفیت اولی دی.
سوال: فی غیره جار مجرور دی او دیته عندالنحات ظرف وائی او ظرف دوه قسمه دی،
(۱): یو ظرف لغوه (۲): ظرف مستقر ظرف لغوه هغې ته وائی چې متعلق یې مذکوره وی، او ظرف مستقر هغې ته وائی چې متعلق یې نوی مذکور نو دا ظرف لغوه دی، که مستقردی، نو شارح جامی صاحب په تقدیر د حاصل سره وروسته د معنی او مخکې د فی غیره نه اشاره وکړه، دیته چې دا ظرف مستقر دی نه ظرف لغوه ځکه که ظرف لغوه شی نو بیا لازمیږی مجاز په تعریف کې په دی شان سره چې دا ظرف لغوه شی او متعلق شی په دل پورې لکه دا مذهب د بعض دی نو بیا دا فی بمعنی الباء ده، ځکه د دلالت په صله کې باء یا علی راځی لکه دل علیه او دل به اوفی په صله د دلالت کې نده راغلی.
سوال: فی غیره په اعتبار د متعلق سره په ترکیب کې څه واقع شویدی،
جواب: په کسری د حاصل سره شارح جامی اشاره وکړه چې دا فی غیره جار مجرور باعتبار المتعلق صفت واقع شوی دی د معنی لپاره په دی کې یې رد وکړه په هغه شارحینو باندې چې هغویې دا جارمجرور باعتبار المتعلق حال وایې د معنی نه (۱) ځکه چې دا قاعده ده چې جارمجرور واقع شی وروسته د معرفی نه نو په اعتبار د متعلق سره به یې حال واقع کوی او چې د نکری نه بعد واقع شی نو صفت به یې واقع کوی په اعتبار د متعلق سره او دلته وروسته دنکری نه دی نو صفت دی نه حال،
(۲): او که دا جار مجرور په اعتبار د متعلق سره حال واقع شی د معنی نه نو اخراج د اسم او فعل راځی د تعریف د حرف نه په جنس سره چې دل علی معنی دی نه په فصل سره ځکه حال قیدوی د عامل د ذوالحال لپاره نو تقید د دلالت راغی، په فی غیر سره نو فعل او اسم خارج شو د تعریف د حرف نه په

جنس سره او دا باطله ده، ځکه مقصود په جنس کې تعميم وی، چې دا خلول د ټولو وی، او مقصد په فصل کې خارجول دی، غير لره نو ما دل على معنى جنس دی اسم فعل حرف ددی واړه پکې داخل شو، او في غيره فصل دی، دی سره اسم او فعل خارج شو، نو تعريف د حرف جامع مانع شو

سوال: في غيره کې ضمير د غائب دی تقدم د مرجع غواړی په جانب د مرجع کې دوه احماله دی، (۱): يو دا چې راجع شي ماته، (۲): دويم دا چې راجع شي معنى ته او دا دواړه ندی صحيح که ما ته راجع شي نو ندی صحيح (۱): ځکه چې يو خو مطابقت نه راځی، بين الراجع والمرجع ځکه ما عبارت د کلمة نه دی او دا ضمير د مذکر دی، (۲): او معنى هم باطله ده ځکه معنى به يې دا شي چې دا معنى کائنه ده په غير د دې کلمه کې او دا معنى باطله ده ځکه معنى د حرف په غير کې نده بلکې په حرف کې ده او که ته وايې چې دا ضمير راجع دی معنى ته نو بيا لازميږی فساد د معنى چې دا معنى کائنه ده في غيره په غير د معنى کې نو دکينونت د معنى في غير المعنى هيڅ معنى نشته،

جواب: في غيره کې ضمير راجع دی ما ته او تذکير د ضمير په اعتبار د لفظ د ما سره دی، او کينونت د معنى في غيرالکلمه عبارت دی، د عدم استقلال بالمفهوميت نه پدی شان سره چې دا معنى مقوده ده او متعلقه ده، په نسبت سره غير ته ځکه دا معنى په فهم کې او په مدلوليت کې ددی کلمى نه محتاج ده، انضمام د کلمة اخرى ته او صاحب دغاية التحقيق ونيلي دي، چې حرف په اصطلاح کې هغه کلمى ته وائى چې دلالت کوی په معنى داسى معنى چې کائنه ده په غير د دی کلمه کې او هغه غير دلالت کوی پدی معنى د حرف باندی تضمنا يا بالمطابقة مثال لکه معنى د لم کائنه ده، په فعل کې او فعل په اعتبار د هيئت ترکيبى سره دلالت کوی، په معنى د حرف باندی تضمنا او معنى د في کائنه ده، په اسم کې پدی شان سره چې دا اسم په اعتبار د هيئت ترکيبى سره دلالت کوی په معنى د في باندی او معنى د نعم کائنه ده په جمله کې پدی شان سره چې هغه دلالت کوی په معنى د نعم باندی بالمطابقة يا في غيره کې ضمير راجع دی معنى ته چې دا حرف په اصطلاح کې يوه کلمه ده، دلالت کوی په يو معنى چې دا معنى کائنه ده، په غير د معنى کې پدی شان سره چې دا معنى ذريعه او اله ده، دپاره د معلومه ولو د حال د غيراو مقصود لذاته نده.

سوال: تعريف د حرف مانع نه شو د خول د غير نه داخل شو پکې فعل ځکه فعل يوه کلمه ده، په اعتبار د معنى مطابقى سره دلالت کوی على معنى في غيره ځکه معنى مطابقى د فعل غير مستقل ده، او داخل شو پکې اسماء لازمة الاضافت ځکه هغه په دلالت د معنى خپله کې محتاج دی غيرته چې هغه مضاف اليه دی،

جواب: فقط سره فعل اصطلاحی خارج شو ځکه حرف ما دل على معنى في غيره فقط ته وائى او فعل ما دل على معنى في غيره فقط ندی بلکه فعل لکه څنګه چې په اعتبار د معنى مطابقى سره دلالت کوی على معنى في غيره نو دغسی دلالت کوی، په اعتبار د معنى تضمنى سره على معنى في نفسه او خارج شو ددی نه اسماء لازمة الاضافت ځکه دا محتاج دی، مضاف اليه ته په ترتب دغايه او ترتب

د حكم كي **ومن ثم** او ددى وجى نه چي حرف دلالت كوى په يوه معنى باندى او هغه معنى ذريعه ده د پاره د **معلومولو** د حال د غير او مقصود لذاته نده **احتاج:** محتاج دى حرف **فى جزئيته:** په كون حرف كي جز د كلام **الى اسم:** اسم ته او اسم عام دى كه عمده وى، نحو زيد فى الدار ياغيره عمده وى، نحو سرت من البصرة الى الكوفة **اوفعل:** يا فعل ته نحو قدضرب او صحيح ده. وقوع د حرف جزمن الكلام اگر چي صحيح نده وقوع د حرف ركن د كلام نه چي مسند او مسند اليه دى څكه حرف په تركيب كي نه مسند واقع كيږى او نه مسند اليه

سوال: حرف مسند او مسند اليه ولي نه واقع كيږى، **جواب:** په مسند او مسند اليه كي لابدى ده د استقلال بالمفهوميت نه او حرف مستقل بالمفهوميت ندى او په فى جزئيته كي يا او تا مصدرى دى او د اگر څوى متصل به خپل خبر د كون محذوفه فيكون المعنى ومن ثم احتاج فى كون الحرف جزءً للكلام الى اسم وفعل.

حروف الجر

ربط: هر كله چي فارغ شو مصنف د بيان د تعريف د حرف نه نو شروع يي وكړه په بيان د اقسام د حرف كي او هر كله چي حروف جاره اكثر وو، استعمالاً او عدداً د نورو حروفو نه نو مقدم يي كړه، په نورو حروفو باندى لان العزة للتكاثر او هر كله چي د حروف جاره او تنوين لپاره تعريف مشتركه موجود وو، نو تعريف ددى يي وكړو، نه د نورو نو وي ويل، حروف الجر،

ترجمه: حروف جاره په اصطلاح د نحويانو كي ما حروف دى او افراد د ضمير د وضع په اعتبار د لفظ د ما سره دى. (۲): يا جنس حرف جر عند النحات ما جنس حرف جر دى، داسي حرف وضع چي وضع كړى شويدى **للافضاء بفعل او معناه** لپاره د ايصال د فعل يا معنى د **فعل الى ما.**

(۱): **هغه شئ ته يليه** چي واقع دى دغه شئ وروسته ددى حرف نه متصل بلا فصل.

(۲): يا هغه شئ ته چي متصل شويدى دا حرف په دغه شئ پوري دا عام دى چي اسم صريحى وى، نحو مررت بزيد وانا مار بزيد يا اسم تا ويلى وى نحو قوله تعالى وضاقت عليهم الارض بمارحبت اى برحبتها او معنى د افضاء اصول دى، هر كله چي متعدى كړى شو په باء سره پدى مقام كي نو وگرځيدو په معنى د ايصال سره،

تشريح: سوال: ددى عبارت ربط د ما قبل سره څه دى او عرض د مصنف د دى عبارت نه څه دى.

جواب: ربط دا دى چي دا مخكي تعريف د حرف وو او دا بيان د اقسامو دحروفو دى، او حرف باعتبار العمل دوه قسمه دى،

(۱): يو حروف عامله او دويم غير عامله حروف عامله بيا دوه قسمه دى يو حروف عامله د اسم او دويم حروف عامله د فعل مضارع حروف عامله د فعل مضارع دلته نه ذكر كوى څكه د هغي بيان شويدى، مخكي په بحث د فعل كي او دارنگي د حروف عامله د اسم نه لا لنفى الجنس ما ولا المشبهتين بليس دلته نه ذكر كوى، څكه د هغي بيان يي كړى دى په مرفوعات منصوبات كي،

سوال: حروف جاره یې ولې مقدم کړه په باقي اقسامو باندې؟
جواب: ځکه دا اکثر استعمالا دي او اکثر عددا دی، او العزة للتکاثر دی نو ځکه یې مقدم کړه
سوال: پدې اقسامو د حروفو کې یې صرف د حروف جرا او د تنوین تعریف کړی دی د نورو تعریف یې ولې ندی کړی. **جواب:** هر کله چې د حروف جرا او د تنوین لپاره تعریف جامعه او مشترکه موجود وو، پس تعریف وکړو مصنف د حروف جر او تنوین په خلاف د باقي اقسامو د حروفو نه دهغې لپاره تعریف جامعه نه وو، ځکه یې د هغې تعریف ندی کړی.
سوال: حروفو الجر مبتداء دی او ما وضع للافضاء موصوف مع الصفت یا موصول مع الصله خبر دی. او خبر محمول وی په مبتدا باندې نو دا لفظ د ما به خالي نوی یا به عبارت وائی د حرف نه نو ما بعد ورسره ولګیدو، چې وضع دی د وجی د مطابقت نه بین الراجع والمراجع خو ما قبل ورسره نه لګی، چې حروف الجر دی، ځکه حمل د واحد راځی په جمع باندې او دا باطل دی، او که ما عبارت وائی د حروفو نه نو بیا ورسره ما قبل ولګیدو، لصحة الحمل خو ما بعد ورسره نه لګی، لعدم المطابقة بین الراجع والمراجع پدی شان سره چې ما عبارت دی دحروفو نه او په وضع کې ضمیر د واحد دی، دا جمع ته نه راجع کیږی.
جواب: ما عبارت دی دحروفو نه او که ته وائی چې مطابقت نه راځی نو زه وایم چې تذکیر د ضمیر د وضع په اعتبار د لفظ د ما سره دی، لیکن دا جواب کمزوری دی،
(۱): اصل جواب دا دی چې عبارت دی د حرف نه او که ته وائی چې ما قبل ورسره نه لګی نو جواب دا دی چې اضافت د حروفو الجر ته اضافت جنسی دی په قرینې د مقام سره ځکه تعریف کیږي د جنس په جنس سره او اضافت جنسي معنی د جمیعت باطله وی نو معنی دا شوه، چې جنس حرف جر عندالنحات جنس حرف دی.
سوال: کلمه د ما پدی مقام کې عبارت د حرف نه دی ولې وګرځوله.
جواب: ځکه چې معتبر په تعریفات د اقسامو کې جنس قریب وی او جنس قریب د حروف الجر لپاره حرف دی، او لفظ او شی اجناس بعیده دی.
(۲): یا مطلق حرف مقسم دی د حرف جر لپاره او مقسم معتبر وی، په تعریف د اقسامو کې او په تنکیر د حرف کې یې اشاره ده موصوفیت د ما ته ځکه دا واقع دی په جانب د خبر کې او ما او من چې واقع شی په جانب د خبر کې نو موصوفیت یې اولی دی د موصولیت نه.
سوال: ته وائی چې حروف الجر ما وضع للافضاء الخ ته وائی نو دا تعریف د حرف جر جامع نه شو خپلو افرادو لره ټول حروف جاره ترینه خارج شو، ځکه افضاء راځی بمعنی اصول او حروف جر واضع وضع کړی دی، د ایصال لپاره نه لپاره د اصول؟ **جواب:** منم چې معنی د افضاء اصول ده، لیکن هر کله چې متعدی کړی شو افضاء په باء سره پدې مقام کې نو وګرځیده افضاء په معنی د ایصال سره لهذا افضاء دلته په معنی د ایصال سره ده نه بمعنی اصول.

سوال: معنی د فعل څه ته وائی. **جواب:** معنی د فعل هر هغه شئ ته وائی چې مستنبط کیږی د هغې نه د فعل لکه اسم فاعل اسم مفعول، صفت مشبه، اسم ظرف، مصدر، جار، مجرور، حروف معنی، حروف تنبیه، اسم اشاره او اسم فعل شو.
سوال: په شبه فعل او معنی د فعل کې څه فرق دی. **جواب:** پدیکې نسبت د عموم خصوص مطلق دی، پدی شان سره چې هر شبه فعل معنی د فعل دی، خو هر معنی د فعل شبه فعل ندی ځکه شبه فعل دیته وائی چې دلالت کوی، په معنی مصدری باندې (۲): او عمل کوی په شان د عمل د فعل باندې (۳): او شریك وی دفعل سره په حروف اصلیه ؤ کې، او معنی د فعل دیته وائی چې دلالت کوی په معنی مصدری باندې او عمل کوي په شان د عمل د فعل خپل، بیا برابره خبره ده چې په حروف اصلیه ؤ کې د فعل سره شریك وی، او که نه وی او د کومو اشیاو په مینځ کې چې نسبت د عموم خصوص مطلق وی، هغه دوه مادی غواړی، یوه ماده اجتماعی او دویمه ماده افتراقی.
(۱): ماده اجتماعی چې شبه فعل هم وی، او معنی د فعل هم وی لکه اسم فاعل، اسم مفعول، صفت شبه اسم تفضیل او مصدر شو،
(۲): او ماده افتراقي چې معنی د فعل وی او شبه فعل نه وی لکه اسم فعل جار مجرور ظرف حروف نداء اسماء اشارات او اسماء افعال شو.
سوال: چې الی مایلیه یې وویل نو الی الاسم یې ولې ونه ویل سره ددې نه چې فرض منصبي د مصنف اختصار بما هو اختصار دی.
جواب: الی مایلیه یې اوویل او الی الاسم یې ونه ویل لپاره ددې چې داخل شي پدیکې دا قول د الله چې وضاحت علیهم الارض بمارحبت) ځکه دلته مایلی د حرف جر اسم نه دی بلکه فعل دی په تاویل د مصدر سره تریئه اسم جوړ شوی دی، لهذا مایلی د حرف جر حرف نه راځی لپاره ددې چې لازم نه شی افضاء د مستقل غیر مستقل ته او فعل هم نه راځي لپاره د دې چې لازم نه شي افضاء د شی الی نفسه پس متعین شو مایلی د حرف جر اسم دی، او اسم عام دی که حقیقة وی لکه مررت بزید اوکه تاویلاً وی، لکه وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ددې وجې نه د خول د حرف جر مختص دی، په اسم پورې او (یلیه) کې دوه ضمیرونه دی یو ضمیر مستتر فاعل دی او بل ضمیر منصوب متصل مفعول به دی، ددې ضمیرینو په مرجع کې دوه احتماله دې:
(۱): یو دا چې ضمیر مستتر راجع دی، ما ثاني ته او ضمیر منصوب راجع دی ما اول ته
(۲): یا بالعکس دی چې ضمیر مستتر راجع دی، ما اول ته او منصوب متصل راجع دی ما ثانی ته اویلی اصل کې یولی وو، واو واقع شو په مینځ د یاء مفتوحه او کسره کې نو بناء په قاعده د یعد باندې واو حذف شو یلي شو بنا په قاعده د یرمی باندې ضمه د یا وغورځیده، نو یلی شو او پدی نوع اول کې لابدی ده، د اثنا عشر امورونه (۱): معرفت د ذات، (۲): اسم (۳): وجه د تسمیه، (۴): تعریف، (۵): تعداد. (۲): مصداق (۷): مدخول (۸): عمل، (۹): وجه د عمل (۱۰): وجه د تقدیم. (۱۱): اقسام (۱۲): معرفت د معاني وو،

نو دا نوع باعتبار الذات حروف دي نه اسماء او نه افعال او نومونه ددي څلور دي،
(۱): حروف الجر، (۲): حروف الاضافت، (۳): حروف المعاني، (۴): او حروف ربط حروف جر ورته ځکه وائی چې دا جر ورکوی مدخول لره یا جر رابشکلو ته وائی، او دا حرف راکاږی معنی د فعل مایلی ته، او حروف اضافت ورته ځکه وائی چې فعل یا معنی د فعل مضاف کیږی اسم ته په واسطه دحرف جر سره نحومررت بزید انا مار بزید او حروف معانی ورته ځکه وائی چې دا هر یو حرف واضع وضع کړی دی د جدا جدا معنی لپاره لهذا دا دحروف معانیو نه دی نه دمبانی نه او حروف ربط ورته ځکه وائی چې دا ربط راولی بین الاثنین نحوزید فی الدار، او تعریف ددې مذکور فی المتن دی او تعداد ددې مشهور اتلس دی، او مصداقو نه یې **وهی من والی الخ** دی، او مدخول یې اسم دی اسم عام دی، که حقیقة وی او که تا ویلا وی، او عمل ددې جر دی په مدخول کې جر عام دی، که لفظا وی نحو مررت بزید یا تقدیراً وي نحو مررت بموسی یا محلاً وی نحو مررت بهذا او دخول د حرف جر په اسم باندې او جر ورکول، اسم لره دا سماعی دی، عقل لره پدیکې دخل نشته او حروف جاره کې یې د تپولو نه او ل من ذکر کړه لانه للابتداء بیا یې الی ذکر کړه لانه للانتهاء نو پدیکې صنعت طباق راغی، چې هغه عبارت دی د جمع کولو د متکلم نه بین المعنیین متقابلین او دا فائده کوی حسن عارضی په کلام کې او وروسی یې حتی ذکر کړه، لانه ایضاً للانتهاء بیا یې فی ذکر کړه، ځکه دا راځی په ظرف زمان یا مکان کې او بیا یې با ذکر کړه ځکه دا کله کله راځی بمعنی فی بیا یې لام ذکر کړه، ځکه دا شریك دی د مخکې حروف جاره ؤسره په اختصاص بالحرفیت کې بیا یې رب ذکر کړه لان فیه خلاف چې دا حرف دی که اسم نو دا عندالجمهور حرف دی، او عند البعض اسم دی، په خلاف د باقی حروف مذکورونه چې دا حروف دی بالاتفاق او واو د رب فرع د رب دی، لانه بمعنی رب، بیا یې واو قسمیه ذکر کړو لوجې د اشتراك د دې د واو رب سره په واو یا فرعیت کې لانه فرع للباء او وروسې یې باء ذکر کړه ځکه دا اصل ده په قسم کې بیا یې تاء قسمیه ذکر کړه، ځکه دا فرع د باء ده په قسم کې بیا یې ذکر کړه، عن و علی و مذو منذ د وجی د اشتراك ددې څلور واړونه په اسمیت او حرفیت کې او عن یې مقدم کړو په علی باندې ځکه مشابهت د حرف سره پدیکې زیات دی د علی نه ځکه پدیکې وضع ثنائي ده بخلاف علی په هغې کې وضع ثلاثي ده او کاف یې وروسته کړو اګر چې وضع احادی ده، پکې د وجی د قصور او نقصان د کاف نه په دخول کې پدی شان سره چې دا په اسم ظاهر داخلیږی، نه په ضمیر او وروسی یې ذکر کړو مذ او منذ د وجی د نقصان نه په مدخول کې چې دا په اسم ظاهر داخلیږی، او بیا فقط په زمانه داخلیږی، بیا یې خلا او عدا او حا شا ذکر کړو، لانهم مشترکون فی الحرفیة والفعلیة او دا حروف جاره دوه قسمه دی،
(۱): یو مشهور، (۲): دویم غیر مشهور، مشهور اوولس دی کما في قول الشاعر،

باء وتا کاف ولام — واو ومنذ ومذ خلا

رب حاشا من عدا — فی عن علی حتی الی

او غير مشهور اوه دی کیم لات لو لا هم لعل ومتی او بمعنی الی والو او بمعنی رب نو مجموعه
حروف جاره څلورویشت دي ځکی عمل د جر کوی صرف پدی ما استفهامیه کې او د ما استفهامیه نه
الف غورځوی او په حالت د وقف کې متصل کیږی پدی پورې هاء سکته نحو کیمه اولات عمل د
جرکوی په حین او مرادف ددې کې لکه ساعة وغیره. او لولا عمل د جر کوی صرف په ضمیر کې
نحولولاهم لو لاك الخ او متی حرف جر دی، په لغت د هزیل قبیله کې نحو اخرجها متی کمها ای من
کمها او مثال دلعل جاره نحو لعل ابی المغوار منك قریب، او او په معنیٰ د الی سره حرف جر دی
نحو لالز منك او تعطینی حقی. او واو بمعنی رب حرف جر دی عند ابن حاجب او ددې نه علاوه دا
نور حروف جاره غیر مشهور یې نه دی ذکر کړی،

(١) لعدم شهرتها، (٢) د وجی د کیدو د اختلاف نه په دوی کې چې دا حروف جاره دي او کنه او دا
حروف جاره باعتبار الذات په څلور قسمه دی،

(١) یو قسم هغه دی چې مشترك دی بین الاسم والحرف او دا دریٰ حروف دي، مذ ومنذ
والکاف، دویم قسم هغه دی چې مشترك دی بین الفعل والحرف او دا هم درې دی حاشا خلاو عدا
دریم قسم هغه دی چې مشترك دی بین الاسم والفعل والحرف او دا هم دری دی فی عن علی څلورم
قسم هغه دی، چې مختص دی په حرف پورې اسمی اوفعلی نه راځی هغه اوه دی، لکه باقی حروف
شو او معانی د حروف جاره ؤ مصنف په خپله بیانوی (**فمن للابتداء**)

ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د حروف جاره ؤ نه اجمالا نو شروع یې وکړه په تفصیل د
حروف جاره ؤ کې نو وې ویل فمن للابتداء الخ دا فا تفصیلیه ده،

ترکیب: او من مراد اللفظ علم دی د هغه من لپاره چې واقع کیږی، په تراکیبو کې مبتداء للابتداء
ظرف مستقر خبر د مبتداء، مبتداء مع الخبر جمله خبریه اسمیه مفصله،

ترجمه: پس کلمه دمن چې دا یو حرف دی، د حروف جاره ؤ نه للابتداء دا وضع کړی شوی دی د
ابتداء دغایه دپاره،

تشریح: من او لا په دری قسمه دی (١) یو من فعلی چې دا صیغه د واحد مذکر امر حاضر معلوم ده،
د مان یمین مینانه بمعنی الکذب د هغه معنی دا ده، چه دروغ ووایه، (٢) دویم من اسمی دی دا مراد
اللفظ علم دی د هغه من دپاره چې واقع کیږی په تراکیبو کې لکه دلته شو (٣) من جاره چې
داخلیږی په اسم باندې او اسم لره جر ورکوی، اومن جاره په استعمال دکلام د عربو کې په شلو
معانیو سره راغلی دی، او مصنف دلته دری ذکر کړی دی، د وجی د شهرت نه او باقی یې ترک کړی
دی د وجی د عدم شهرت نه (١) للابتداء ابتداء دوه قسمه ده یو ابتداء کلي ده چې مطلق شروع
کردن نه وائي دا معنی د ابتداء ده چې صیغه د مصدر ده اومستقل ده
(٢) ابتدا جزی چې شروع کردن من شئ معین دا معنی حرفی ده، معنی د من ده او غیر مستقله
ده، بیا دامن ابتدائیه دوه قسمه دی (١) اتصالیه (٢) غیر اتصالیه، اتصالیه دیته وائی چې مدخول

ددې امر کلی وی او لاندې يې جزيات وی او علامه يې دا ده چې ذکروی وروسته د هغې نه يو جزيء د جزيات نه کمافي قول ابن حاجب فمنه الفاعل.

(۲): او من ابتدائيه غير اتصاليه ديته وائی چې ګرځوی مدخول خپل مبتدا منه د ما قبل لپاره او علامه يې دا ده چې مقابل کې يې الی راځي، نحو سرت من البصرة الی الکوفة يا هغه حرف راځي چه بمعنی الی وی نحو اعوذبالله من الشيطن الرجيم دلته باء بمعنی الی ده ای التجی من الشيطن الرجيم الی الله او غالبا د امن ابتدائيه راځی، ابتدا دغايه لپاره په مکان کې نحو قوله تعالی سُبْحَٰنَ ٱلَّذِىٓ أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِۦ لَيْلًا مِّنَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ إِلَى ٱلْمَسْجِدِ ٱلْأَقْصَا،

(۲): او کله د ابتدا دغايه لپاره راځي، په زمانه کې نحو قوله تعالی لَّمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى ٱلتَّقْوَىٰ مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ وقوله عليه السلام فمطرنا من يوم الجمعة الی يوم الجمعة (۳) او کله د ابتداء دغايه دپاره راځي په اشخاص کې نحو قوله تعالی إِنَّهُۥ مِن سُلَيْمَٰنَ وَإِنَّهُۥ بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ،

(۴): او کله د ابتداء دغايه لپاره راځی په احداثو کې پدی شان سره چې مدخول ددې مصدری دی او دا مصدر ګرځوي مبتداء منه دپاره د فعل، نحو عجبت من اقدامك هذا الامر،

سوال: ته وائی چې من جاره راځی دغايه لپاره نو ابتداء خو اول الشيء ته وائي او غايه آخر الشيء ته وائي نو د اخوا ضافت د مبائن مبائن ته راغی، مثل انسان حمار او دا نه دی جائز،

جواب (۱): دلته غايه بمعنی نهاية الشی نده بلکه ذکر دغايه دی او مراد ترينه فعل دی ځکه غايه غرض او مقصود ته وائی او فعل هم مقصود د فاعل دی،

(۲) يا ذکر دغايه او مراد ترينه مسافت دی مجازا ځکه غايه جز دی او مسافت کل دی، اطلاق د جزء يې کړی دی په کل باندې مجازا،

(۳) يادامن راځی د ابتداء د غايه لپاره دا معنی چې دامن راځی د ابتداء د هغه شيء لپاره چې د هغه لپاره نهايت وی، او کوم شی دپاره چې نهايت نوی د هغې د ابتداء لپاره نه راځی، لکه ذات او صفات د الله تعالی شو، (**والتبيين**): بل دامن راځي د حروف جاره وُنه د تبيين دپاره پدی شان سره چې ګرځوی مدخول خپل بيان د ما قبل او علامه يې دا ده چې صحيح به وی وضع د الذی په مقام ددې باندې او مدخول ددې به خبر د مبتداء وی، نحو قوله تعالی فَٱجْتَنِبُوا۟ ٱلرِّجْسَ مِنَ ٱلْأَوْثَٰنِ ای الذی هو الاوثان او که صحيح نه وو وضع د الذی په مقام ددې او صحيح نه وو ګرځول د مدخول ددې خبر د مبتدا محذوف نو هغه به من بيانيه نوی او دامن بيانيه که واقع شوی وو وروسته د معرفی نه نو دا جار مجرور باعتبار رالمتعلق به منصوب وی، بنا برحاليت او که وروسته د نکرې نه وو نو صفت به وی د نکری لپاره او من چې واقع شي وروسته د ما او د مهما نه نو غالبا راځي د بيان لپاره کمافی قوله تعالی مَا نَنسَخْ مِنْ ءَايَةٍ، مَّا يَفْتَحِ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا، مَهْمَا تَأْتِنَا بِهِۦ مِنْ ءَايَةٍ. **والتبعيض**: او دريم دامن راځی د تبعيض دپاره پدی شان سره چې دامن دلالت کوی چې دا حکم ثابت دی بعض افرادو د

مدخول زما لره او علامه يې دا ده چې دامن لرې کړی او هغې په ځای باندې بعض کیږدی، نو معنی صحیح کیږی، نحو اخذت من الدراهم ای بعض الدراهم وقوله تعالی مِنْهُم مَّن كَلَّمَ اللَّهُ ای بعضهم من کلم الله وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ ای بعض مارزقنا هم لَن تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ اصل کې من ما وو، په قاعده د یرملون باندې نون بدل شو په میم باندې او میم په میم کې مدغم شو نو مما شو او دامن تبعیضی دی، او قرینه پدی باندې قرائت د ابن مسعود دی، حتی تنفقوا بعض ما تحبون لهذا يو سړی چې د الله لار کې مال خرچ کوی، نو بعض به خرچ کوی نه ټول ځکه دا ندی مناسب چې ټول مال ورکړی بل چاته او بیا د بل چانه سوال کوی، او هر چې ابوبکر وو نو دا خصوصیت د هغه وو،

وزائدة: څلورم دامن راځی زائد په استعمال د کلام د عربو کې د هغې علامه دا ده چې دامن لرې کړی شی نو نقصان نه راځي په اصل معنی د کلام کې (**فی غیرموجب**): او دامن زائد راځی په کلام غیرموجب کې عندالبصریین، (**خلافا للکوفیین والاخفش**): خلاف ثابت دی د کوفیین او اخفش لپاره چې هغه وائی دامن چې څنګه په کلام غیرموجب کې راځی نو دارنګې په کلام موجب کې هم راځی، پس زده کړه دا خبره چې من زائده کې اولاً دوه مذهبه دی،

(۱): یو مذهب د بصریینو دی او، بل مذهب د کوفیینو او د اخفش دی. بصریین وائی چې دا من زائد راځي په کلام غیرموجب کې او په کلام موجب کې زائد نه راځی، او کوفیین او اخفش وائی چې په کلام موجب او غیرموجب دواړو کې زائد راځي، کلام موجب هغې ته وائی چې په هغې کې حرف نفی نهی او استفهام نوی او غیرموجب هغې ته وائی چې دا پکې راغلی وی، نحو قوله تعالی مَّا تَرَىٰ فِي خَلْقِ الرَّحْمَٰنِ مِن تَفَاوُتٍ، مَا اتَّخَذَ اللَّهُ مِن وَلَدٍ هَلْ تُحِسُّ مِنْهُم مِّنْ أَحَدٍ هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللَّهِ، مَّا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِن شَيْءٍ ای من تفريط چې دامن زائد راغلی دی، په مفعول مطلق کې، دامن زائد راځي وروسته د نفی نه دپاره د تنصیص او د تصریح په عموم باندې نحو ماجاءنی من رجل دلته دامن زائد راغلی دی لپاره د تنصیص په عموم باندې ځکه چې کله من نه وو ذکر نو دا محتمل د احتمالین وو،

(۱): احتمال د نفی د جنس پکې هم شته یعنی جنس رجل نه دی راغلی او احتمال د وحدت پکې هم شته چې یو سړی نه دی راغلی او ماجاءني من رجل چې ووائی په زیادت د من سره نو تصریح وشوه په عموم باندې پدی شان سره چې نفی د جنس رجل یې کړیده نه نفی د وحدت فاذاقیل ماجاءنی من رجل فلا یصح ان یقال بل رجلان واذا قال ماجاء نی رجل یصح ان یقال بل رجلان،

(۲): او کله راځی لتاکید العموم نحو ماجاءنی من احد دلته دا من لتاکید العموم دی ځکه لفظ د احد په خپله دلالت کوی، په عموم باندې نو په من زائد سره تاکید د عموم راغی، اومن زائده چې راځی په معرفه کې نو د تاکید د نفی لپاره راځي **وقد کان من مطرو شبهه متاول**، دا جمله مستانفه جواب د سوال، اعتراض د جانب د کوفیانو او اخفش نه په بصریانو باندې چې تاسو وایئ چې، من زائد راځي په کلام غیرموجب کې فقط او په کلام موجب کې نه راځي، دا قاعده ستاسو منقوضه شوه پدی مقوله د

عربو باندې چې قد كان من مطر دلته من زائد راغلى دى په كلام موجب كې دارنګې دا قاعده ستاسو منقوضه شوه، پدى قول د الله باندې وَلَقَدْ جَاءَكَ مِن نَّبَإِى الْمُرْسَلِينَ دامن زائد راغلى دى، په كلام موجب كې دارنګې دا قاعده منقوضه شوه پدى قول د الله سره چې يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ دلته دا من زائد راغلى دى، په كلام موجب كې، ځکه که دامن دلته زائد نه شي بلکې تبعيضى شي نو لازميږى تناقض ددې ايت د إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا سره او دا قاعده ستا منقوضه شوه، پدى حديث سره چې ان من اشدالناس عذابا يوم القيامة المصورون من اشد الناس اسم دان او المصورون يې خبر دى، او دامن زائد دى، ځکه که زائد نه شي نو دا اسم دان لپاره نه واقع كيږى، نو مصنف راغى او جواب يې وكړه د طرفه د بصريانو نه چې دا قول د عربو چې (قد كان من مطر وشبهه) يا ددې په شان نور تركيبونه نه شو متاول تاويل كړى شوى دى په دې كې هر چې قد كان من مطر نو دلته دامن بيانيه دى د ضمير د كان دپاره چې راجع دى شئ ته او وَلَقَدْ جَاءَكَ مِن نَّبَإِى الْمُرْسَلِينَ كې من تبعيضى دى، او يغفرلكم من ذنوبكم كې هم تبعيضى دى او تناقض نه راځى بين الايتين ځکه دا په باره د قوم د نوح كې دى او ان الله يغفر الذنوب جميعا په باره د امت د نبي صلى الله عليه وسلم كې دى،

(۴) يا هلته مراد د ذنوب نه حقوق العباد دى او ددې نه مراد حقوق الله دى او په حديث كې من زائد ندى بلكه اصلى دى، او دا جار مجرور خبر مقدم دى او المصورون مبتدا مؤخره ده، او دا جمله خبر دان دى، او اسم دان ضمير شان محذوف دى،

(۵) للقسم نحو من ربى لافعلن كذا (۶) نحو انت منى بمنزلة هارون من موسى،

(۷) للبدل نحو أَرَضِيتُم بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ (۸) للتفضيل نحو زيد افضل من عمرو،

(۹) للسبب نحو قوله تعالى مِّمَّا خَطِيئَاتِهِمْ أُغْرِقُوا فَأُدْخِلُوا نَارًا.

(۱۰) للتجريد نحو لقيت اسدا من زيد (۱۱) للاستعانه نحو يَنظُرُونَ مِن طَرْفٍ خَفِيٍّ اى بطرف خفى،

(۱۲) للظرفية نحو قوله تعالى إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ اى فى يوم الجمعة،

(۱۳) للمجاوزة نحو قوله تعالى يَا وَيْلَنَا قَدْ كُنَّا فِي غَفْلَةٍ مِّنْ هَٰذَا.

(۱۴) للفصل نحو قوله تعالى وَاللَّهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ.

(۱۵) بمعنى عند نحو قوله تعالى لَن تُغْنِيَ عَنْهُمْ أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُم مِّنَ اللَّهِ شَيْئًا اى عند الله،

(۱۶) بمعنى الى نحو قربت منه اى اليه (۱۷) للاستغراق نحو ماجاءنى من احد.

(۱۸) للاتصال نحو انت منى بمنزلة هارون من موسى،

(۱۹) للاستعلاء نحو قوله تعالى وَيَسْخَرُونَ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا اى على الذين،

(۲۰) للتشبيه نحو قوله عليه السلام خلقت المراة من الضلع، كه الف لام په المراة كې عهدى خارجى شى المراد منه حواء بيا من په خپله معنى سره دى، او كه الف لام استغراقى شى بيا من په معنى

دكان سره دی، او مؤيد ددې دپاره بل حديث دی. المراة كالظلع بل مثال العجوة من الجنة ای مثل شجر الجنة، الكمأة من المن ای مثل المن.

(والى للانتهاء): (ربط) هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د معانيو د من نه نو شروع يې وكړه په بيان د معانيو دالی كې نو وي ويل والی للانتهاء.

ترجمه: بل حرف د حروف جاره ځنه الی دی، او الی په استعمال د كلام د عربو كې په شپږو معانيو سره راغلی دی **(للانتهاء)**: دا وضع كړی شوی دی ددې دپاره چې دلالت وكړی په انتهاء د مغيا باندې پدی شان سره چې ګرځوی مدخول خپل منتهی اليه لپاره د ماقبل ددې څلور صورتونه دی.

(۱): كله دا نتهاء دغايه لپاره راځی فی المكان نحو قوله تعالى سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَا، (۲) كله راځي لانتهاء الغاية فی الزمان نحوقوله تعالى ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ.

(۳): په اشخاصو كې نحو جئت اليك،

(۴): فی الاحداث نحو صل بالتقوى الى رضى الله او الى چې انتهاء الغايه دپاره راځی دا دوه قسمه دی (۱): اسقاطيه. (۲): امتداديه

(۱): اسقاطيه ديته وائی چې دا الی ماقبل حكم راكاږی او رسوی يې مدخول خپل ته او د مدخول نه علاوه د نورو نه يې ساقطه وی او علامه يې دا ده، چه سر د كلام به متناول وی مدخول د الی لره نحوقوله تعالى فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ

او الی امتدايه: ديته وائی چې ما قبل حكم رسوی، دمدخول خپل پورې او دا حكم نه ثابته وی مدخول خپل لره دهغې علامه دا ده، چې سر دكلام متناول نه وی مدخول د الی لره نحوقوله تعالى ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ، (۲): **(وبمعنى مع)**: الی راځي بمعنی مع (قليلا) لره زمانه په مجيئت قليله سره د هغې علامه داده چې الی لرې كړې او دهغې په ځای باندې لفظ د مع كيږدی، نو په معنی كې نقصان نه راځی، نحو قوله تعالى مَنْ أَنصَارِي إِلَى اللَّهِ ای مع الله، وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَهُمْ إِلَىٰ أَمْوَالِكُمْ ای مع اموالكم،

(۳): وللظرفية: نحو قوله تعالى لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ ای فی يوم القيامة،

(۴): بمعنی عند: نحو قوله تعالى رَبِّ السِّجْنُ أَحَبُّ إِلَيَّ ای عندی،

(۵): بمعنی من: نحو قوله تعالى بَرَاءَةٌ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى الَّذِينَ عَاهَدتُّم مِّنَ الْمُشْرِكِينَ ای من الذين،

(۶): بمعنی اللام: نحوقوله تعالى الامر اليك ای الامر بك او دا معانی مصنف ندی ذكر كړی، للقلة والندرة، **(وحتى)**: بل دحروف جاره ځنه حتى دی حتى اولا دری قسمه دی،

(۱): حتى ابتدائيه نحوقوله تعالى حَتَّىٰ عَادَ كَالْعُرْجُونِ الْقَدِيمِ وقولك مرض فلان حتى لايرجونه او ديته حتى استنافيه هم وائی (۲): حتى عاطفه نحومات الناس حتى الانبياء، (۳): حتى جاره او حتى جاره په استعمال د كلام د عربو كې په څلورو معانيو سره راځي

وحتى كذلك: حتى هم په شان دالى دى په كون دده كې للانتهاء حتى مشبه او كاف اداة د تشبيه او مشار اليه د ذلك چې الى دى، مشبه به او وجه د شبه انتهاء ده يعنى لكه څنګه چې الى راځى لانتهاء الغاية نو حتى هم راځى، پدى شان سره چې دا حتى ګرځوى، مدخول خپل منتهى اليه لپاره د غيراو حتى چې د انتهاء لپاره راځى، په هغې كې هم صور اربعه دى (١): لانتهاء الغاية فى المكان نحو سرت البلد حتى السوق (٢): فى الزمان نحو نمت البارحة حتى الصباح (٣): فى الاشخاص نحوا كلت السمكة حتى راسها (۴): فى الاحداث نحوقوله تعالى حَتّٰى مَطْلَعِ الْفَجْرِ

(٢): وبمعنى مع كثير او دا راځى بمعنى مع په زمانه كثيره كې او په مجيئت كثيره سره نحو قرائتي ورُدي حتى ذعائى، اكلت السمكة حتى رأسها اى مع رأسها

سوال: لكه څنګه چې الى راځى بمعنى مع نو حتى هم راځى نو وحتى كذلك يې ولې ونه ويل؟

جواب: دا دى چې خان له يې ذكر كړه او پدى تشبيه باندې يې اكتفاء ونه كړه، ځكه كه اكتفاء يې كړى وى په تشبيه باندې نو مساوات معلوميدو حالانكه دا پدې مجيئت بمعنى مع كې مساوى ندى دالى سره بلكه حتى كثير راځي، او الى قليل راځي.

(٣): حتى بمعنى الى نحوسرت حتى تغيب الشمس اى الى غيبوبة الشمس،

(۴): وبمعنى كى نحو اسلمت حتى ادخل الجنة اى كى ادخل الجنة.

(۵): بمعنى الاچې دا حتى دلالت كوى چې دا ما بعد خارج دى د حكم د ما قبل نه كمافى قول الشاعر: ليس العطاء من الفضول سماحة تى نجود وما لديك قليل اى الا ان نجود

ويختص بالظاهر: مختص دى دخول د حتى په اسم ظاهر پورې قياسا. الظاهر صفت دى، تقاضه د موصوف كوى او موصوف مو ورله اسم راويستو په قرينى د مقام سره ځكه مراد د ظاهر نه مقابل د ضمير دى، نه خلاف د مقدر، (١): استغناء عنه بالى، (٢): لپاره ددې چې لازم نه شى التباس د منصوب او مجرور په مينځ كې ځكه حتى چې داخل شى په ضمير باندې نو پته نه لګى چې منصوب دى كه مجرور (خلافا للمبرد) خلاف شوى دى د جمهورونه په خلاف كولو سره داسې خلاف چې ثابت دى، مبرد لره د هغه په نز باندې د خول د حتى په ضمير باندې هم جائز دى او دليل د هغه دا قول د شاعر دى: فلاوالله لايبقى اناس فتى حتاك يا ابن ابى زياد

جواب د طرفه د جمهورونه دا دى چې دا شاذ دى.

(مابه الاشتراك درميان الى وحتى)

(١): دواړه راځي لانتهاء الغاية، (٢): مدخول د الى كله داخل وى په ماقبل كې او كله خارج وى دارنګې حتى دى، (٣): دواړه راځى بمعنى مع.

(مابه الامتياز درميان الى وحتى)

(١): الى راځي بمعنى مع قليلاً او حتى راځي كثيراً

(٢): دخول د حتى مختص دى په اسم ظاهر پورې بخلاف الى.

(۳): که حتی داخل شی په ضمیر باندې خلاف القیاس نو الف د حتی ثابت پاتې کیږی یقال حتاك حتا بخلاف الی دا چې داخل شی په ضمیر باندې نو الف یې نه پاتې کیږی نحو الیه الیك، په شان دلدن باندې یقال فیه لدیه لدیك،

(۴): مدخول د حتی جز اخیر د ماقبل وی، نحو اکلت السمکة حتی رأسها یا جز ملاقی دا خیر د ما قبل وی نحو نمت البارحة حتی الصباح مراد د صباح نه صبح صادق دی، او دا جز اخیز دلیل ندی بلکه جز اخیر دلیل صبح کاذب دی، او د هغې مجاور دی او ملاقی دی او د الی په مدخول کې دا شرط ندی لهذا نمت البارحة الی نصفها او الی ثلثها وئلی شی، او حتی نصفها نه شی ویلی ځکه نصف نه جز اخیر د شپې دی، او نه جز ملاقی دی دا خیر د شپې سره،

(۵): په مدخول د حتی کې جر واجب ندی بخلاف الی،

(۶): پس د حتی نه مضارع منصوبه راځی بتقدیر ان بخلاف الی، (۷): حتی راځی بمعنی الا بخلاف الی، (۸): الی کله راځی بمعنی اللام او کله بمعنی فی کله بمعنی عند بخلاف حتی،

وفي للظرفية: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د معنی د الی او دحتی نه نو شروع یې وکړه په بیان د معنی د فی کې نو وي وئل وفی للظرفیة فی اولادرې قسمه ده،

(۱): اسمی، (۲): فعلی، (۳): حرفی فی اسم ... د قسمه ده،

(۱) بمعنی فم چې دا یو اسم دی د اسم ... نحو وکلمته فوه الی فی،

(۲): فی اسمی علمی چې دا مراد اللفظ علم وی د هغه فی لپاره چې واقع کیږی په تراکیبو کې لکه پدی مقام کې شو، او فی فعلی صیغه د واحد مؤنث امر حاضر معلوم ده د وفی یفي وفاءً نه او ف واحد مذکر امر حاضر دی په شان دق،

سوال: هندفی څه ترکیب دی. **جواب:** هند منادی مفرده معرفه ده مبنی علی ما یرفع فی صیغة واحده مؤنثه امر حاضر معلوم ضمیر پکې مستتر دی هغه ورله فاعل دا جمله انشائیه امریه جواب نداء ده.

سوال: یوس ف ذلیخا څه ترکیب دی. **جواب:** یوس منادی مرخمه ده اصل کې یا یوسف وو ف صیغه واحد مذکر امر حاضر معلوم ضمیر پکې مستتر دی هغه ورله فاعل ذلیخا ورله مفعول به دا جمله انشائیه امریه جواب ندا دی. او ترکیب په شان د یوسف اعراض عن هذا باندې دی، اوفی حرفی داخلیږی په اسم باندې او اسم لره جر ورکوی، لفظا یا تقدیرا یا محلا، او فی حرفی په استعمال د کلام د عربو کې په دوولس معانیو راځی مصنف صرف دوه ذکر کړی دی د وجې د شهرت نه او نور یې نه دی ذکر کړی د وجې د عدم شهرت نه،

(۱): **للظرفية:** فی راځی لپاره د ظرفیت د مدخول د یو شئ پدی شان سره چې دا فی ګرځوی مدخول خپل ظرف لپاره د غیر حقیقة نحو الماء فی الکوز یا حکما نحو النجات فی الصدق لان الکذب یهلك بمعنی فی راځی، د ظرفیت لپاره او ظرفیت دوه قسمه دی،

(۱): حقیقی، (۲): مجازی علامه د ظرفیت حقیقی او مجازی دا ده چې دا مدخول د فی به خالی نوی یا به ظرف زمان وی، یابه مکان وی یا به دواړه نوی که مدخول یې ظرف زمان یا مکان وو نو ظرف

حقيقي مثال د في چې مدخول يې ظرف مكان دى، نحو قوله تعالى وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ مثال د زمان نحو سرت في الليل مثال د دواړو نحو قوله تعالى غُلِبَتِ الرُّومُ ۝ فِي أَدْنَى الْأَرْضِ وَهُم مِّن بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ ۝ فِي بِضْعِ سِنِينَ. او كه مدخول يې ظرف زمان يا مكان نه وو نو هغه ظرفيت مجازي دى نحو قوله تعالى وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ وغ، **وفي الشر نجاة حين لا ينجيك احسان،**

(۲): به الفاظ ديكر حلول د شئ په شئ كې به راغلى وى او يابه نوى كه وو نو حقيقي نحوالماء في الكوز والافمجازي نحوالنجات في الصدق (۲): **(بمعنى على)** او كله في راځي په معنى د على سره يعنى د استعلاء لپاره پدى شان سره چې ګرځوى مدخول خپل مستعلا عليه لپاره د غير **(قليلا)** په لره زمانه كې يا به مجنيت قليله سره يعنى في بمعنى على قليله ده، په نسبت سره في ظرفي ته مثال ددې كمافي قوله تعالى وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِي جُذُوعِ النَّخْلِ اى على جزوع النخل دلته في بمعنى على دى خكه كه په خپله معنى شي نو لازميږى فساد دمعنى خكه تصليب كولي شې على جزوع النخل نه في جزع النخل (۳): **(للمصاحبة)** نحوقوله تعالى ادخلوا في امم اى مع امم،

(۴): **(للتعليل)** نحو قوله تعالى فَذَٰلِكُنَّ الَّذِي لُمْتُنَّنِي فِيهِ اى لاجل مراودته ونحوقوله عليه السلام **ان امراة دخلت النار في هرة،** (۵): **بمعنى الى** نحو قوله تعالى فَرَدُّوا أَيْدِيَهُمْ فِي أَفْوَاهِهِمْ،

(۲): **للزيادت** نحو اركبو فيها اى اركبوا ها. (۷): **للبدل** نحو وما الحيوة الدنيا في الاخرة الاقليل،

(۸): **بمعنى الباء** نحو هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا أَن يَأْتِيَهُمُ اللَّهُ فِي ظُلَلٍ مِّنَ الْغَمَامِ (۹): **بمعنى عند** كما في قول الشاعر،

جاء شقيق عارضا رمحه ان بنى عمك فيهم رماح

(۱۰): **بمعنى بين** نحو قوله تعالى فَادْخُلِي فِي عِبَادِي اى بين عبادي وقول الفقهاء لي ثوب في عشرة اى بين عشرة يلزم له ثوب فقط، (۱۱): **بمعنى من** كقول النحات التاكيد تابع يقدر امر المتبوع في النسبت،

والباء للالصاق: هر كله چې فارغ شو د بيان د معانيو د في نه نو شروع يې وكړه په بيان د معاني د باء كې او باء په استعمال د كلام د عربو كې په شلو معانيو سره راځي،

(۱): **(للالصاق)** الصاق په لغت كې اتصال الشئ بالشيء ته وائى او باء چې د الصاق لپاره راځي د هغې معنى دا ده چې دا باء ګرځوى مدخول خپل ملصق به دپاره د غير او دا الصاق عام دى، كه په طريقه د مخالطت سره وى نحو به داء دا الصاق حقيقي دى يا په طريقه د مجاورت سره وى، نحو مررت بزيد اى التصق مرورى بمكان يقرب منه زيد ديته الصاق مجازي وائى **(والاستعانة)** بل راځى د استعانت لپاره، استعانت كې لابدي ده، د معرفت د امور خمسه ؤ نه،

(۱): صيغه، (۲): اصل، (۳): مفهوم لغوى، (۴): مفهوم اصطلاحى، **(۵):** اقسام نو دا مصدر دى د باب استفعال نه اصل كې استعوان وو، دواو نه حركت نقل شو ماقبل ته او بدل شو په الف باندې او الف حذف شو او په اخير كې تارا وړى شوه اخفش وائى هغه الف چې بدل د واو نه راغلى دى، هغه حذف شوى دى دا مذكور علامه د مصدر ده او سيبويه وائى كوم چې بدل د واونه راغلى دى، هغه

مذكور دی او هغه بل حذف شوی دی نو عند الاخفش استفعلة وزن دی او عند السيبويه استفالة وزن دی،معنی د استعانت دا ده چې دا با کرځوی مدخول خپل معاون د فاعل سره په ورود د فعل کې او علامه يې دا ده چې غالبا داخليږی، په اله د شئ باندې ددې وجی نه با د استعانت ته باء د اله او با مكمله د فعل هم وائی نحو كتبت بالقلم او استعانت دوه قسمه دی،
(۱): قولی، (۲): فعلی قولی ديته وائی چې عند الحاجت والضرورة غائبانه امداد غوښتل مثال لكه بسم الله الرحمن الرحيم او فعلی ديته وائی چې د مدخول د باء نه كار اخستل او مدخول د باء په كار كې راوستل لكه كتبت بالقلم او اياك نعبد واياك نستعين كې استعانت قولی دی. نه فعلی يعنی خاص ستا نه امداد غواړو نه د غير نه په ټولو مهماتو كې لهذا په وقت د ضرورت كې استعانت قولی د غيرالله نه شرك دی **وللمصاحبة** او كله راځی د مصاحبت لپاره يعنی دا باء كرځوی مدخول خپل مصاحب د ما قبل سره په صدور د معنی مصدری او وقوع كې او با چې د مصاحبت لپاره راځی، د هغې علامی دوه دی (۱): په ځای ددې باندې مع ذكر كول صحيح وی،
(۲): استغناء راځی ددې نه په وقت د مجيئت د حال كې چې جوړ دی د مدخول ددې نه نحو قوله تعالی لَقَدْ جَآءَكُمْ اَهْبِطْ بِسَلٰمٍ ونحو قولك اشتريت الفرس بسرجه د خلت عليه بثياب السفر اوس لقد جاءكم بالحق كې چې مع الحق اوائی نو معنی صحيح ده، دارنګې اشتريت الفرس مع سرجه هم جائز دی او لقد جاءكم محقا اواشتريت الفرس مسرجا چې اوائی نو بالحق وبسرجه ذكر كولو ته ضرورت نه پاتې كيږی،
سوال: ذكر د مصاحبت پس د الصاق نه لغوه دی ځكه الصاق شامل دی مصاحبت لره،
جواب: ذكر د مصاحبت پس د الصاق نه لغوه نه دی ځكه په مينځ ددې كې فرق دی، چې مجرور د باء د مصاحبت د توابع د ما قبل نه دی او مجرور د باء د الصاق عام دی كه د توابع د ماقبل نه وی او كه نه وی نو اشتريت الفرس بسرجه كې دا باء د مصاحبت لپاره ده ځكه مدخول د باء چې سرج دی د توابع د ماقبل نه دی، چې فرس دی او مررت بزيد كې باء د الصاق ده.ځكه مدخول دباء توابع د ماقبل نه ندی پس شو مصاحبت اخص مطلق او الصاق اعم مطلق،
والمقابلة: څلورم با راځی د مقابلی لپاره هی التی تدل علی اختيار الشيئين علی الاخر بلا عوض ولا بدل نحو قوله تعالی اولئك الذين اشتروا الضلالة بالهدی ای ببدل الهدی وكقول الشاعر:

وتظن سلمی اننی ابغی بهابدلا   اراها فی الضلال تهيم (بها ای ببدلها)

او با عوضی او بدل هغې ته وائی چې دا باء كرځوی مدخول خپل بدل او عوض دشئ اخر نه او دا داخليږی په اعواض او اثمان باندې نحو اشتريت العبد بالفرس اخذت هذا الثوب بدرهم،
والتعدية: پنځم با راځی د تعديت لپاره په تعديت كې لابدی ده د معرفت د امور اربعونه،
(۱): مفهوم لغوی، (۲): اقسام، (۳): تعريف د اقسامو،
(۴): كيفيت د تعديت خاصه نو دا صيغه د مصدر ده د باب تفعيل نه عد يعد تعدية نه تجاوز ته وائی او په اصطلاح كې دوه قسمه دی (۱): عامه، (۲): خاصه،

تعدية عامه د نفس فعل لازم نه متعدي جوړولو ته وائی او تعديت خاصه عبارت دی د ايراث او احداث د جعل او تصيير نه په مفهوم د ثلاثي مجردو كې د وجې د داخلولو د متكلم نه با جاره لره په فاعل د فعل لازم د ثلاثي مجردو كې نحو ذهبت بزيد أي صيرت زيدا ذاهبا دلته مراد تعديت خاصه دی نه عامه څكه په تعديت عامه كې ټول حروف جاره شريك دی، او تعديت خاصه لپاره باء راځي او نور حروف جاره نه راځي او كيفيت د تعديت خاصه دا دی چې دا باء ته داخله كړی په فعل لازم د ثلاثي مجردو باندې نو دا ګرځوی هغه فعل لره متضمن معنی د جعل او تصيير لره نو مفعول اول به ورله ګرځوی فاعل د فعل لازم د ثلاثي مجردو او مفعول ثاني به ورله مصدر د فعل لازم د ثلاثي مجردو وی بمعنی اسم فاعل يا په حذف د مضاف سره او فاعل به ددې د فعل لپاره بل شی ګرځوی او باء چې د تعديت لپاره راځی پديكې دوه مذهبه دی،

(۱): مبرد وائی چې ددې معنی دا ده چې مصاحبت د فاعل دی د مفعول سره په فعل كې لهذا..... فعل لازم لره .... او سيبويه وائی چې معنی د تعديت بالباء بالهمزه او بالتضعيف ګرځول ددې دی، څكه تعديت د مبر د په مذهب باندې په معنی د جعل او تصيير لره او مذهب د سيبويه غوره دی، څكه تعديت د مبرد په مذهب باندې په ذَهَبَ اللّٰهُ بِنُوْرِهِمْ كې غير متصور دی.

(۲): (والظرفية): شپږم باء راځی د ظرفيت دپاره پدی شان سره چې ګرځوی مدخول خپل ظرف د ما قبل لپاره او علامه يې دا ده چې باء لرې كړی او د هغې په ځای باندې فی ذكر كړی نو معنی بې صحيح كيږی، ظرفيت عام دی چې مكان وی نحوقوله تعالى وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ ای فی بدر وما كنت بجانب الطور ای فی جانب الطور اطلبوا العلم ولو بالصين وقول الشاعر،

تطاول ليلك بالاثمد (ای في الاثمد) ونام الخلی ولم ترقد

يا ظرف زمان وی نحو قوله تعالى نَّجَّيْنٰهُمْ بِسَحَرٍ (ای في سحر)

(۷): (وزائده): اووم با زائده راځی زائد دا معنی چې په ازاله اوحذف ددې سره نقصان نه راځی په اصل معنی د كلام كې او زائد راځی د تاكيد د نفی يا تقويت د عمل يا د تحسين د كلام لپاره او د زائد دا معنی نده چې بی فائدی وی، څكه په دغه معنی سره زائد په قران كې نه راځی او باء زائده په قران كې راغلی ده، بازائده په دوه قسمه ده،(۱): قياسی، (۲): سماعی،

قياسی: هغې ته وائی چې زيادت د باء مسموع وی د عربو نه په يو تركيب كې او نور هم په هغې باندې قياس كولی شی اګر چې زيادت د باء ديكې مسموع نه وي او سماعی هغې ته وائی چې مختص وی په مورد د سمع پورې ولايقاس عليه غيره او دا باء زائده قياساً راځی په مواضع ثلاثه ؤ كې: (۱): په خبر د مبتدا كې په وقت د دخول د هل استفهاميه كې په جمله اسميه باندې نحو هل زيد بقائم او زيادت د باء په خبر د مبتدا كې وروسته د همزة استفهاميه نه ندی جائز، فلا يقال ازيد بقائم او همزة استفهاميه او هل استفهاميه كې نهه فرقو نه دی، كما سيجيئ يو دا دی چې با زائده راځي

په خبر د مبتدا کې وروسته د هل ته نه د همزې نه (٢): والنفي: قیاسا او راځی په خبر کې وروسته د نفی نه په لیس سره کقوله تعالی أَلَيْسَ اللَّهُ بِكَافٍ عَبْدَهُ أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ،
(٣): او راځي په خبر کې وروسته د ما نا فیه نه نحو قوله تعالی وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ او با زائده راځي په خبر کې وروسته د لاې نفی نه په طریقه د قلت سره سماعًا نه قیاسًا، او ما ولا المشبهین کې څلور فرقو نه دی کمامر، یو دا دی چې با وروسته د ما نه راځی قیاسًا او دلاته سماعًا او دا قیاسًا منصوب دی، بنا بر مفعول مطلق د زائدة لپاره په اعتبار د حذف د موصوف سره ای زیادة قیاسیة یا په اعتبار د مضاف محذوف سره ای زیادة قیاس،
وفی غیره: او په غیر د خبر مذکور کې باء زائده راځی سماعا چې دا مسموع دی د عربو نه او مختص دی په مورد د سمع پورې ولا یقاس علیه غیره او سماعاً هم منصوب دی، بنا بر مفعول مطلق د زائدة لپاره په حذف د موصوف یا مضاف سره ای زیادة سماعیة یا زیاة سماع او با زائده سماعی درې قسمه ده، (١): لازم، (٢): غالب، (٣): قلیل لازم نحو احسن بزیدٍ دا باء زائده راغلی ده، په فاعل کې لزوما دا بنا ده په یو ترکیب باندې چې صورة د احسن صورت د امر دی لیکن په معنی د حسن سره دی او باب افعال د ضرورت لپاره دی ای صار زیدُ ذا حُسْنٍ،
(٢): دا باء زائده راځي غالبا په فاعل د کفی کې نحو قوله تعالی کفی بالله کفی بجهنم او زیادت د باء په مفعول به د کفی کې قلیل دی کما فی قول الشاعر،

کفی بنا فضلا علی من غیرنا حب النبی محمد ایانا

(٣): او با زائده په طریقه د قلت سره راځی په اته ځایونو کې
(١): با زائده راځي په طریقه د قلت سره په مبتدا کې نحو بحسبك درهم بحسبك مبتدا ده، درهم ورله خبر دی او با زائده راغلې ده په مبتدا کې سماعًا، بلْ مثال نحو قوله تعالی بِأَييِّكُمُ الْمَفْتُونُ پدیکې تراکیب اربعه دی، په یو ترکیب باندې مثال جوړېږی او په نورو باندې نه جوړېږی (١): ابوالحسن اخفش وائی چې دا باء د الصاق لپاره ده او مفتون مصدر میمی بمعنی الفتنة ورله خبر دی.
ترجمه: په کوم یو ستاسو پورې نختی دی لیو نتوب،
(٢): یا د ظرفیت لپاره بمعنی فی دا خبر مقدم المفتون مصدر میمی بمعنی الفتنة مبتدا مؤخره فیکون المعنی فی ای فریق منکم الفتنة دا هم د اخفش ترکیب دی، او ابن عطیه دا ترکیب مستحسن ګڼلی دی. (٣): دا باء الصاق لپاره ده دا جار مجرور خبر مقدم المفتون بحذف الصق مبتدا مؤخره ای بایکم فتنة المفتون (٤): با زائده ده او ایکم مبتدا او المفتون ورله خبر دی معنی دا چې کوم یو ستاسو نه لیونی دی، (٢): دا بازائده راځي په خبر د مبتدا کې نحو بحسبك زید.
سوال: زید ته مبتدا او حسبك ته خبر مقدم ولې وائی، په شان د بحسبك درهم ترکیب ولې نه کوې؟
جواب: داسې ترکیب زه نه شم کولی ځکه دا قاعده ده، د نحاتو چې دوه اسمونه وموندلی شی، یو معرفه وی بل نکره وی نو د معرفی نه به مبتدا جوړوی او د نکری نه خبر او دلته زید معرفه ده، او

حسبك نكره ده ځکه حسب د وجې د کمال توغل نه په ابهام کې نه معرفه کيږي په اضافت سره معرفي ته (۳) با زائده راځي قليلا په مفعول به کې نحو القى بيده اى القى يده وقوله تعالى وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ بايديکم کې بازائده ده، ځکه القى فعل متعدى بالذات دى او ايديکم کې مجاز مرسل دى ذکر د جزء او مراد ترې کل دى معنى ـ ا ده چې ولاتلقوا انفسکم الى الهلاك بترك الجهاد فانکم اذا ترکتم الجهاد غلبکم الاعداء فهلکتم (۴) با زائده راځي قليلا په اسم دليس کې نحو قوله تعالى وَلَيْسَ الْبِرُّ بِأَنْ تَأْتُوا الْبُيُوتَ، (۵) با زائده راځي په طريقه دقلت سره په خبر د لکن کې،ع، ولکن اجرا لو فعلت بهين (۲) با زائده راځي قليلا په حال د عامل منفيه کې کمافي قول الشاعر،

حکيم بن المسبة منتهاها
فما رجعت بخائبة رکاب

اى فما رجعت رکاب خائبة.

(۷) با زائده راځي په خير دلا کې نحو لا خير بخير بعده نارٌ، ديکې دوه ترکيبونه دى، (۱) باللظرفيت ده بمعنى فى بيا مثال نه جوړيږي نو ترکيب د قبيلى د لا خير فى کثير من نجواهم نه دى (۲) با زائده ده اى لاخير خير بعده نار يعنى هغه خير خير ندى چې دهغې نه وروسته اوروى، (۸) په تاکيد معنوى کې نحو قوله تعالى يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ بانفسهن کې باء زائده ده او دا تاکيد معنوى دى د ضمير مرفوع د يتربصن لپاره اى يتربصن انفسهن

سوال: دا قاعده ده د نحو يانو چې تاکيد د ضمير مرفوع متصل په نفس او عين سره کولى شى،پس د تاکيد د ضمير مرفوع متصل نه په منفصل سره او دلته تاکيد په ضمير منفصل سره ندى شوى نو انفسهن سره يې تاکيد څنګه وشو،

جواب: دا قاعده صحيح ده خو پدى شرط سره چې په نفس او عين کې باء زائده نه وه راغلى او که راغلى وه نو بيا يې تاکيد کولى شى بى د تاکيدنه په ضمير مرفوع منفصل سره،

(۸) د قسم لپاره نحو بالله لافعلن کذا،(۹) دا ستعطاف لپاره نحوارحم بزيد،

(۱۰) د تعديت لپاره نحو بابى وامى يا رسول الله،(۱۱) للتجريد تجريد په دوه معانيو سره راځى،

(۱) استعمال د لفظ په بعض معنى کې او انسلاخ د بعض نه،

(۲) خروج د مشبه به دمشبه نه لپاره د مبالغې په مدح د مشبه کې چې دا مشبه په وجه د شبه کې داسې اندازې ته رسيدلې ده چې دا مشبه به د هغې نه منتزع کولى شى مثال د اول نحوقوله تعالى سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ او مثال د ثانى نحو لئن سئلت فلانا تسئلن به البحر،

(۱۲) بمعنى من نحو قوله تعالى عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ اللَّهِ اى منها،(۱۳) بمعنى عن نحو قوله تعالى سَأَلَ سَائِلٌ بِعَذَابٍ وَاقِعٍ اى عن عذاب واقع (قاعده) با چې صله د سوال راشى نو په معنى د عن وى،

(۱۴) للاستعلاء نحوقوله تعالى مَنْ إِنْ تَأْمَنْهُ بِقِنْطَارٍ يُؤَدِّهِ إِلَيْكَ اى على قنطار،

(۱۵) بمعنى الى نحو اعوذبالله من الشيطن الرجيم اى الى الله شعر،

ذهبتم ولذتم بالامير وقلتم تركنا احاديثا ولحما موضعا ای ولذتم الی الامیر.

(۱۲) بمعنی اللام نحو قوله تعالی وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ الْبَحْرَ ،(۱۷) للتبرك نحو بسم الله الرحمن الرحیم.

(۱۸) للتبعیض نحو وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ

(۱۹) للتصویر او دیته با بیانیه هم وائی خکه دا راځی د بیان لپاره

واللام: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د معانی د باء نه نو شروع یې وکړه په بیان د معانی د لام کې لام اولا په استعمال د کلام د عربو کې دولس قسمه دی، کمامر یو پکې لام جاره دی کما هو المراد ههنا او لام جاره بیا په (۲۸) معانیو سره راغلی دی،

(۱) للاختصاص یو راځی د اختصاص لپاره او اختصاص دلته په معنی د ارتباط او تعلق سره دی نه په معنی د مناطقه ؤ سره چې ما یو جد فیه ولا یو جد فی غیره ته وائی نو د لام الاختصاص دا معنی چې دا لام دلالت کوی په ارتباط او تعلق د غیر باندې د مدخول د لام سره دا ارتباط عام دی که په طریقه د استحقاق سره وی نحو الجل للفرس، الباب للبیت، المنبر للخطیب، او که په طریقه د ملکیت سره وی نحو قوله تعالی لَهُ مَا فِي السَّمَوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ،المال لزید یا په طریقه د اختصاص منطقی سره وی نحو الحمد لله، (۴) یا په طریقه د نسبت سره وی نحو الابن لزید،

(۲) والتعلیل: دویم لام راځي د تعلیل لپاره پدی شان سره چې دا لام دلالت کوی چې مدخول ددهٔ علت دی د ما قبل لپاره او علت عام دی چې په ذهن کې وی نحو ضربت زید اللتأدیب دیته علت غائی وائی، یا په خارج کې وی نحو خرجت لمخافتك دیته علت خارجی وائی،

(۳) وبمعنی عن: دریم لام راځي په معنی د عن سره پدی شرط سره چې معی وی د قول سره کمافی قوله تعالی قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنُطْعِمُ مَن لَّوْ يَشَاءُ اللَّهُ أَطْعَمَهُ، ای عن الذین امنوا دلته لام بمعنی عن دی خکه کافرو دا وینا د مومنانو په حق کې کوله په حالت د غائب والی د مومنانو کې خکه دومره جرأت په هغوی کې نه وو چې د مسلمانانو په مخ کې یې دا خبره کړی وی،

(۴) وزائدة: او کله زائد راځی پدی شان سره چې په حذف ددې سره نقصان نه راځی په اصل معنی د کلام کې نحو قوله تعالی ردف لکم ای ردفکم دا لام زائد دی خکه ردف متعدی بنفسه دی،

(۵) وبمعنی الواو: او دا راځي په معنی د واو سره داسې واو چې کائن دی په قسم کې یعنی دا راځی بمعنی واو قسمیه (للتعجب) د وجی د تعجب نه کله چې وی دا جواب د قسم امر عظیم نحو لله لا یؤخر الاجل فلا یقال لله لقد طار الذباب خکه دا جواب د قسم امر عظیمه نه دی،

(۲) وللنفع: نحو قوله تعالی خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا. لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ دا لام للانتفاع دی او علی للاضرار دی، (۷) وللتعدیة: نحو قوله تعالی فَهَبْ لِي مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا ،

(۸) للاستغاثة: نحو یا لزید انصر، (۹) للتهدید نحو یا لزید لاقتلنك،

(۱۰) بمعنی الی نحو قوله تعالی بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَىٰ لَهَا ای الیها وقول الشاعر،

وقددت الاديم لراهشيه والفى قولها كذبا ومينا

(١١) بمعنى وقت نحو قوله عليه السلام المستحاضة تتوضاء لكل صلوة اى وقت كل صلوة

(١٢) بمعنى بعد نحو أَقِمِ الصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ اى بعد دلوك الشمس،

(١٣) بمعنى عند نحو قوله تعالى وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ اى عند قوم،

(١٤) بمعنى فى نحو قوله تعالى وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ اى فى يوم القيامة،

(١٥) بمعنى من نحو قوله تعالى مَتَاعٌ لِلْمُتَّقِينَ اى من الاسلام والعمل الصالح،

(١٦) بمعنى على نحو قوله تعالى وَإِنْ أَسَأْتُمْ فَلَهَا اى فعليها،

(١٧) للجحود نحو قوله تعالى وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ

(١٨) للتعجب نحو يا للماء يا للدواهى، (١٩) بمعنى كى نحو اسلمت لادخل الجنة،

(٢٠) للتبليغ نحو قلت له، (٢١) للتمليك نحو وهبت لزيد،

(٢٢) لتقوية العمل نحو فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ، إِن كُنتُمْ لِلرُّؤْيَا تَعْبُرُونَ،

(٢٣) بمعنى ان نحو وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ اى ان يعبد الله.

وربط: (ربط) هر كله چې فارغ شو دبيان د معانيو د لام جاره نه نو شروع يې وكړه په بيان د معانى د رب جاره كې، په رب كې لابدى ده د معرفت د امور خمسه ؤ نه.

(١) لغات، (٢) ذات، (٣) معنى، (٤) احكام، (٥) خصوصيات د رب د باقى حروف جاره ؤنه نو په رب كې لغات دى لكه بيان كړى دى شارح عبدالرسول پدې نظم كې،

باى مفتوح مشدد يا مخفف هر يكى — باضم وبا فتح راپس هر يكى زين چارها
هست بى تا يا با تا متحرك يا ساكنه — بعد ازين اثنا عشر اربع ديگر بايد ترا
ضم راو با تخفيف است وبا تشديد هم — هست ضم لاو فتحش نيز با اسكان با

سوال: رب اسمى دى كه حرفى دى **جواب:** پدې كې دوه مذهبه دى، (١) جمهور، (٢) اخفش،

جمهور: وائى چې دا يو حرف دى دحروف جاره ؤنه داخليږى په اسم او اسم لره جر وركوى لفظا يا تقدير ايا محلا او اخفش وائى چې دا اسم دى او مضاف دى، ما بعد مجرور مضاف اليه دى دليل د هغه دا دى چې دا مقابل د كم خبريه دى څكه هغه د انشاء د تكثير لپاره راځي، او دا د انشاء د تقليل لپاره راځي، او هغه خو اسم دى نو دا هم اسم دى لهذا رب رجل عندى كې دوه تركيبه دى،

(١) اخفش وائى رب مضاف رجل مضاف اليه دا مبتدا ده او عندى ورله خبر دى، او جمهور وائى چې رب جار رجل موصوف عندى ورله صفت دى موصوف مع الصفة مجرور جار دا متعلق دى فعل مقدر پورې او مختار عند المصنف مذهب د جمهورو دى نو څكه يې رب د حروف جاره ؤ نه وګرځوو،

سوال: معنى د رب څه ده؟ **جواب:** په معنى مستعمل فيه د رب كې مذاهب ثلاثه دى بعض وائى چې رب للتقليل دى، يعنى دا د انشاء د تقليل لپاره راځي دائما نه د انشاء د تكثير لپاره يعنى دا دلالت كوى چې دا حكم ثابت دى بعض افرادو د مدخول زما لره نه اكثر لره،
(۲) او ابن درستويه وائى چې رب راځي د انشاء د تكثير لپاره دائمانه د انشاء د تقليل لپاره،
(۳) او جمهور وائى چې د انشاء د تكثير لپاره راځي غالبا او د تقليل لپاره راځي كله كله پدى شان سره چې دا رب واضع وضع كړى دى د انشاء د تقليل لپاره او مستعمليږي په انشاء د تكثير كې غالبا مجازا ديته عند الاصولين مجاز متعارف وائي او انشاء د تقليل معنى موضوع له د رب ده او حقيقت مهجوره دى نو انشاء د تكثير معنى مجازي د رب ده او مجاز متعارف دى او مجاز متعارف په شان د حقيقت دى په عدم اقتضاء د قرينه كې او حقيقت مهجوره په شان د مجاز دى په اقتضاء د قرينه كې لهذا رب چې په انشاء د تكثير كې مستعمليږي، نو قرينه نه غواړى او په انشاء د تقليل كې قرينه غواړى نظير ددې لكه قد شو چې دا داخل شى په مضارع باندې نو تقليل فائده كوى غالبا او كله كله تكثير فائده كوى نحو قوله تعالى قَدْ يَعْلَمُ اللَّهُ او مثال د رب للتكثير نحو قول الشاعر،

ربما تكره النفوس من الامر له فرجة كحل العقال

وقوله تعالى رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ كَانُوا مُسْلِمِينَ ، او مثال د رب چې راغلىٰ وى د انشاء د تقليل لپاره كما فى قول الشاعر،

الا رب مولود وليس له اب وذى ولد لم يلده له اب

او احكام د رب مصنف په خپله بيانوى **(ولها صدر الكلام)** د رب لپاره ثابت دي او ليت د كلام حملا على كم الخبرية ځكه كم د انشاء د تكثير دپاره راځي او رب د انشاء د تقليل لپاره راځى او د كم لپاره خو صدارت د كلام دى نو د رب لپاره هم صدارت د كلام دى دپاره ددې چې دلالت وكړى په نو عيت د كلام باندې دا ول وهلت نه، **(مختصه)** او د خول د رب مختص دى په نكره پورې يعنى دا په نكره داخليږى نه په معرفه باندې، (۱) ځكه مقصود د رب حاصليږى په نكرى سره معرفى ته حاجت نشته ځكه تعريف امر زائد دى، (۲) رب راځي د انشاء د تقليل او د تكثير لپاره او تقليل او تكثير په نكره كې راځى نه په معرفه كې، (۳) په رب كې ابهام دى په شان د كم باندې او وروسته موصوف ورله په منزله د تمييز باندې دى او تمييز نه وى، مگر نكره وى **(موصوفة)** داسې نكرد چې موصوفه به وى لپاره د اظهار او تحقيق د معنى د رب چې هغه تقليل دى ځكه نكره موصوفه تقليل فائده كوى نحو قوله تعالى ولعبد مومن خير من مشرك او دا عامه ده، كه موصوفه وى په مفرد سره نحو رب رجل كريم لقيته، (۲) كه موصوفه وى په ظرف سره نحو رب رجل امامك لقيته،
(۳) يا په جار مجرور سره نحو رب رجل فى الدار لقيته،
(۴) يا موصوف وى بالجملة الفعلية كما في قول الشاعر،

ربما تكره النفوس من الامر له فرجة كحل العقال

وقولك رب من جاءك قد اكرمته
على الاصح: اشتراط د کون د رب موصوف بنا دی په مذهب اصح باندې چې هغه مذهب د ابوعلی او مبرد او ابن سراج دی، او بعض نحویانو ویلی دی چې دا واجب ندی او مختار عند المصنف مذهب د ابوعلی دی،
(۵) یا موصوف وی په جملی اسمي سره نحو رب رجل عالم ابوه لقیته.
(وفعلها ماض محذوف غالبا): او عامل د رب ماضی ده ماضی عامه ده چې لفظا وی او که تقدیرا وی لپاره د تقلیل محقق او دا نه متصور کیږي، مګر په ماضی کې مثال ځکه رب وضع کړی شوی دی، د ماضی معنی نحو رب رجل کریم لم افارقه. د ماضی لفظا نحو رب رجل کریم لقیته او مثال د ماضی معنی نحو رب رجل کریم لم افارقه. **(غالبا)**: په غالب استعمال کې په کلام د عربو کې د وجې د **(محذوف)**: محذوف به وی دغه فعل ماضی. وجود دقرائن نه نحو رب رجل کریم په جواب د سوال د هغه چا کې چې یو سړی تا ته وائی چې ما لقیت رجلا نو ته اوائی چې رب رجل الخ په حذف د عامل سره د وجې د قرینې دالی نه په تعین د محذوف باندې چې هغه سوال د سائل دی ځکه مذکور فی السوال کالمعاد فی الجواب وی، (محذوف) مرفوع دی ځکه صفت دی د ماض لپاره او ماض مرفوع بالضمه تقدیرا دی بنا بر خبریت او (غالبا) منصوب دی بنابر مفعول مطلق ای حذفاً غالباً یا مفعول فیه دی ای زمانا غالبا،
(وقد تدخل): او کله کله داخلیږی رب په ضمیر باندې داسې ضمیر چې مبهم دی د وجې د عدم وجود د مرجع نه ممیز چې بیان کړی شوی دی ځکه مبهم بیان غواړی، **(بنکرة منصوبة)**: په نکرې سره ځکه په تمیز کې نکارت شرط دی داسې نکره چې منصوبه وی ځکه تمییز د منصوباتونه دی، **(والضمیر مفرد مذکر)**: او دا ضمیر مبهم چې مدخول د رب دی دا به مفرد مذکر وی اګر که تمیز ددې مؤنث وی او اګر که تمیز ددې تثنیه او جمع وی عند البصریین،
(۱) ځکه ضمیر مطابق وی د مرجع خپل سره او ددې لپاره مرجع نشته،
(۲) او بل دا چې تقلیل او تکثیر راځي په عدم مطابقت سره او مطابقت سره تعیین راځي نو وائی به ته ربه رجلا ربه رجلین ربه رجالا ربه امراة ربه امراتین ربه نساء،
(خلافا للکوفیین): خلاف کړی شوی دی د بصریانو نه په مخالفت کولو سره داسې مخالفت چې منسوب دی کوفیانو ته په مطابقت د ضمیر د رب کې په افراد، تثنیت، جمعیت، تذکیر او تانیث کې پدی شان سره چې کوفیان وائی چې دا ضمیر د رب به مطابق وی، د تمییز سره ځکه حقیقت کې مرجع ددې ضمیر وروسته دغه تمییز دی معنا او مطابقت بین المرجع والضمیر ضروری دی، او دویم دا چې حال د مرجع معلوم شی، نو کوفیان داسې وائی ربه رجلا ربهما رجلین ربهم رجالا ربها امراة ربهما امراتین ربهن نساء **(وتلحقها ما)** او متصل کیږی په اخیر د کلمه د رب پورې کلمه د ما چې هغه منع کوی رب لره د عمل کولو نه،
(فتدخل علی الجمل): پس داخلیږی دا کلمه د رب پس دلحوق د ما کافه په جمله فعلیه ماضویه باندې او جمله فعلیه ماضویه عامه ده چې لفظاوی او که معنا وی مثال د لفظا کقول الشاعر

ربما اوفیت فی علم یرفعن بی شمالات

او مثال د معناً نحو قوله تعالى ربما يود الذين كفروا ، ځکه د رب دخول ممتنع وو په جمله باندې د وجې د عمل نه بلکه داخليدو په اسم باندې او کله چې ما کافه متصل شو پدې پرې نو دا يې د عمل نه منع کړو نو داخلیږی په جمله فعليه ماضويه باندې نه په جمله اسميه باندې او نه په جمله فعليه مضارعيه باندې،

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په ربما يود الذين كفروا. دلته په جمله فعليه مضارعيه باندې داخل شوی دی؟ **جواب:** دا رب مکفوفه عن العمل داخليږی په ماضويه باندې غالبا او په جمله مضارعيه باندې داخليږی په طريقه د قلت سره،

(٢) يا داخليږی په فعل ماضی باندې ماضی عامه ده که لفظا وی او که معناً وی او دلته معناً ده ځکه مضارع بمعنى الماضى ده د وجې د تنزيل د مضارع نه منزلة الماضى لصدوره عمن لاخلاف فى اخباره،او کله کله ما زائده راځی وروسته د رب نه او بيا هم دا رب داخليږی په اسم باندې او اسم لره جرورکوی کما فى قول الشاعر.

ربما ضربة بسيف صيقل بين بصرى وطعنة نجلاءُ

طعنة عطف دی په ضربة باندې نجلاء ای الواسع، ای رب ضربة ضربتها بسيف مجلو ورب طعنة نجلاء طعنتها بالروح فى اماكن بصرى وو **اوها تدخل على نكرة موصوفة** او واو د رب چې دا په حکم د رب کې دی داخليږی په نکره باندې داسې نکره چې موصوفه وی په يو صفت سره کقول الشاعر

وبلدة ليس لها انيس الا اليعا فيروالاالعين ای رب بلدة،

سوال: واو ها مثلها يې ولې ونه ويل با وجود ددې نه چې فرض منصبی د مصنف اختصار بما هو اختصار دی، **جواب:** واو ها مثلها يې ونه ويل ځکه په هغې کې دوه نقصانه لازم کيدل (١) يو دا چې رب په ضمير باندې داخليږی، (٢) او دويم دا چې ما کافه وروسته د رب نه راځي نو که واو ها مثلها يې ويلی وی نو متوهم به تو هم کولو چې واو به هم په ضمير داخليږی او ما کافه به وروسته ددې نه راځي او دا باطله ده،پس زده کړه دا خبره چې پدی واو د رب کې دوه مذهبه دی (١) يو مذهب د سيبويه دی،او (٢) بل مذهب د کوفيانو دی سيبويه وائی چې دا واو جاره ندی بلکه عاطفه دی او ددې واو نه وروسته دا اسم مجرور دی په تقدير د رب سره اوس دغه واو به خالی نوی يا به راغلی وی په وسط د کلام کې يا په اول د کلام کې که په وسط کې راغلی وو، نو ظاهره ده او که په اول کې راغلی وو نو معطوف عليه به ورله مقدر را اوباسي، او کوفيان وائی چې دا په اصل کې واو عاطفه وو خو بيا گرځيدلی دی قائم مقام د رب اوس د اجر ورکوی، مدخول لره بنفسها ځکه دا بمعنى رب دی او مختار عندالمصنف مذهب د کوفيانو دی نو ذکر يې کړو دا د حروف جاره ؤنه ځکه په مذهب د سيبويه کې دوه نقصانه دی،

(١) تقدير د معطوف عليه هر ځای کې خلاف الاصل دی،

(٢) تقدير د رب دائما خلاف الاصل دی او په نزد بعض نحويانو باندې مذهب د سيبويه غوره دی لکه ابن مالك نو هغه اسم ته مجرور وائی په تقدير د رب سره وروسته د واو نه

په نزد نورو نحويانو باندې، مذهب د کوفيانو ولې کمزوري دی.
سوال: حکه دا اسم لکه څنګه چې مجرور راځي وروسته د واو نه نو دارنګې مجرور راځي وروسته د فاء او بل نه هم نو بيا لازميږي چې فاء او بل ته هم حروف جاره اوايو او دا خو د حروف جاره ؤنه ندي لهذا واو هم د حروف جاره ؤنه ندی.
جواب: د طرفه د کوفيانو نه دا دی چې تقدير د رب وروسته د واو نه کثير شائع او متعارف دی نو دا تقاضه کوی د حصول د تخفيف نو تخفيف مو ورله ورکړيدی سره چې دا واو مو جاره وګرځوو نو تقدير د رب او تقدير د معطوف عليه راتغی، نو د تکلف نه بچ پاتې شو. او تقدير د ب وروسته د بل او فا نه قليل دی او قلت تقاضه د تخفيف نه کوی، لهذا دا مو د حروف جاره ؤنه ؤنه ګرځول بلکه اسم مجرور وی په تقدير د رب سره مثال د واو چې راغلی وی بمعنی رب کما فی قول الشاعر

الا اليعافيروالا العيس
وبلدة ليس بها انليس

وکمافی قول الشاعر
علي بانواع الهموم ليبتلي
وليل کموج البحر ارخی سدوله

مثال د تقدير د رب وروسته د فاء نه کمافی قول امرا القيس
فالهيتها عن ذی تمائم محول
فمثلك حبلی قد طرقت ومرضع

(خصوصيات رب من اخواتها)

(۱) رب داخليږي په نکره نه په معرفه، (۲) داخليږي په نکره موصوفه باندې نه په غير موصوفه،
(۳) رب داخليږي په ضمير مبهم مميز بنکره منصوبه، (۴) لها صدر الکلام،
(۵) اعمالها محذوفة بعد الفاء والواو وبل، (۲) زيادت د ما تکفها عن العمل غالبا،
و واوالقسم): ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د احکام مختصه د رب نه نو شروع يې وکړه په بيان د احکام خاصه د حروف جاره قسميه کې،
(ترکيب) (واو) عاطفه (**واو القسم**) مضاف اليه مبتدا (**انما**) حرف حصر دی **تکون** فعل دی د افعال ناقصه ؤ نه اسم مرفوع خبر منصوب غواړی ضمير پکې مستتر دی هغه ورله اسم (چه راجع دی واو القسم ته) او **عند حذف الفعل** خبر اول دی **لغير السوال** يې خبر ثانی دی. او مختصة بالظاهر ورله خبر ثالث دی بيا دا جمله خبر د مبتدا دی چې واو القسم دی،
(۲) يا واو القسم مبتدا ده او انما تکون ورله خبر اول دی او مختصة بالظاهر ورله خبرثانی دی، نو دا مختصة مرفوع لوستل هم جائز دی او منصوب لوستل هم جائز دی،
ترجمه: واو القسم يعنی واو د حروف جاره ؤنه چې راځي د قسم لپاره پدی شان سره چې ګرځوی مدخول خپل مقسم به لپاره د غير او مجيئت د واو د قسم لپاره مشروط دی په شروط ثلاثه ؤ سره،
(۱) **انما تکون عند حذف الفعل** دا کيږي په وقت د حذف د فعل قسم کې الفعل کې الف لام عهدی دی مراد فعل قسم دی فلا يقال اقسمت بالله حلفت بالله ځکه دا واو مشهور دی په قسم کې دلالت کوی په قسم باندې بی د ذکر کولو د فعل قسم نه نو ذکر د هغې ته حاجت پاتې نه شو،

(۲) لپاره د انحطاط د فرع د اصل نه ځکه اصل په قسم کي باء ده او هغه راځي د قسم لپاره په وقت د ذکر د فعل او حذف د فعل دواړو کي او دا راځي فقط په صورت د حذف د فعل کي.
(۳) واو کثير الاستعمال دی په قسم کي تقاضا د خفت کوی نو خفت ورته ورکړی شو په حذف د فعل قسم سره، لان واو القسم عوض عن الفعل القسم المحذوف ولا يجوز الجمع بين العوض والمعوض عنه بخلاف الباء (فافهم)
(۲) **لغير السوال** يعنی دا واو قسميه نه مستعمليږي په سوال کي فلا يقال والله اخبرني کما يقال بالله اخبرني لپاره د انحطاط د فرع چي واو دی د اصل نه چي باء ده.
(۳) **مختصة بالظاهر** او دا واو مختص دی په اسم ظاهر پوري پدی شان سره چي مقسم به ددي واو قسميه اسم ظاهر راځي نه ضمير فلايقال وك لا فعلن بيا اسم ظاهر عام دی، که لفظ د الله وی که رحمن وی او که رب وغيره وی اوس دخول د واو په اسم ظاهر پوري ولي خاص شو نو لپاره د انحطاط د رتبه د فرع د اصل نه چي باء ده او بالظاهر کي باء داخله ده په مقصور عليه باندي ځکه دخول د واو مختص دی په اسم ظاهر پوري او مجاوز ندی ضمير ته او اسم ظاهر ندی مختص په واو قسميه پوري ځکه اسم ظاهر لکه څنګه چي مدخول د واو واقع کيږی دارنګي مدخول د نورو حروف قسميه هم واقع کيږي. **والتاء** او تاء قسميه په التاء کي الف لام عهدی دی مراد تا قسميه ده يا الف لام عوضی دی اصل کي تاء القسم وو. **مثلها** په شان د واو قسميه ده په دوه ځبرو کي چي هغه عند حذف الفعل او لغير السوال دی. يعنی لکه څنګه چي واو راځي د قسم لپاره عند حذف الفعل نو تا هم د قسم لپاره راځي عند حذف الفعل فلايقال اقسم تالله يا حلفت تالله.
(۲) دا راځي د قسم لپاره لغير السوال فلا يقال تالله اخبرني لپاره د انحطاط دفرع چي تا ده د اصل نه چي با ده او د تا قسميه او واو قسميه فرق دا دی چي **مختصه بالله تعالی** دا تا مختص ده په اسم ظاهر پوري چي هغه لفظ د الله دی اضافت د اسم الله ته اضافت بيانی دی پدي شان سره چي مقسم به د تا قسميه لپاره اسم ظاهر راځي نه ضمير فلايقال تك لافعلن کذا.
(۲) او بيا مقسم به ددي اسم ظاهر لفظ د الله راځي نه بل اسم فلا يقال تالرحمن واما ترب الکعبة فشاذ. خصائص لفظ الله که منادی واقع شي د هغي دپاره احکام مختصه اربعه دی کما مر:
(۵) دخول تاء القسم عليه (۲) الابدال نحوها الله (۷) يجوز حذف حرف القسم في اسم الله من غير عوض ولا يجوز ذلك في غيره. فافهم **والباء** او با قسميه الباء کي الف لام عهدی خارجی دی يا الف لام عوضی دی مراد با قسميه ده. **اعم منها**: دا عامه ده د تاء قسميه او واو قسميه نه په اعتبار د تحقيق او استعمال سره نه په اعتبار د صدق او حمل سره. **فی الجميع**: په جميع ما ذکر کي چي هغه حذف د فعل دی او کون د واو او تا لغير السوال دی قطع نظر د تخصيص نه پدی شان سره چي باء د قسم لپاره راځي برابره خبره ده، چه فعل قسم محذوف وی نحو بالله لافعلن کذا او که مذکور دي نحو قوله تعالی لااقسم برب المشارق والمغارب او دارنګي، دا باء راځي د قسم لپاره چي جواب قسم

او دا باء قسم لپاره راخي که په اسم ... لکه بالله اخبرني
ددي خبر وي نحو بالله لافعلن كذا يا انشا وي ... داخله شي نحو بك لافعلن كذا او په مطلق اسم ظاهر
ظاهر داخله شي نحو بالله لافعلن كذا يا په ضمير داخله شي ... او كه غير وي ځكه با اصل ده په قسم كې ځكه
باندې داخليږي خواكه لفظ د الله وي كه رحمن وي او كه غير وي ... د مقسم به سره او دال په الصاق باندې باء
مقصود په قسم كې الصاق د مضمون د جواب قسم دى د مقسم به سره او ... ظاهر راځي نه ضمير لپاره د دې چې
ده. او واو بدل د با نه راغلى دى نو مقسم به د ده فقط اسم ظاهر راځي ... او د دې مقسم به فقط لفظ د الله
انحطاط د فرع راشي د اصل خپل نه او تا بدل د واو نه راغلى دى او د دې مقسم به فقط لفظ د الله
راځي نه بل اسم ظاهر دپاره انحطاط دفرع د اصل خپل نه

سوال: واو اكثر دى استعمالاً د با نه په قسم كې نو تاسو قليل الاستعمال څنګه اصل ګرځوې؟

جواب: قد يكثر الفرع ويقل الاصل نحو نعم الرجل اكثر من نعم الرجل

سوال: ته وائې چې باء عامه ده د واو او د تانه نو د عام او د خاص علامه خو دا ده چې د خاص نه مبتدا جوړه كړې او د عام نه خبر جوړ كړې نو حمل صحيح كيږي لكه الانسان حيوان شو او دلته خو چې د واو نه يا د تا نه مبتدا جوړه كړې او د باء نه خبر جوړ كړې نو حمل نه دى صحيح

جواب: عموم خصوص په اعتبار د تحقيق او استعمال سره مراد دى نه په اعتبار د صدق او حمل سره.

سوال: ته وائې چې باء عامه ده د واو او تا نه په جميع ما ذكر كې نو د ما ذكر نه خو دا هم ده چې مختصة بالظاهر نو معنى دا شوه چې دا هم مختص ده په اسم ظاهر پورې او هم نده مختص په اسم ظاهر پورې او دا معنى خو نه ده صحيح؟

جواب: زه وايم چې دا د هغې نه عامه ده فى الجميع، خو قطع نظر د اختصاص نه **ويتلقى القسم**: او جواب كولى شى د هغه قسم چې لغيرالسوال دى **باللام وان وحرف النفى** په لام ابتدائيه تاكيديه په ان مكسورة الهمزه او په حرف نفى سره چې ما او لا دى لپاره د تاكيد د قسم په لام ابتدائيه سره جواب كولى شى په جمله اسميه مثبته كې نحو والله لزيد قائم او دارنګې په جمله فعليه كې نحو تالله لاكيدن اصنامكم او ان سره تاكيد كولى شى په جمله اسميه كې نحو قوله تعالى إِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتَّىٰ فى جواب وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَىٰ او حرف نفى سره جواب كولى شي په جمله فعليه كې نحو قوله تعالى وَالضُّحَىٰ ﴿١﴾ وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَىٰ ﴿٢﴾ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ او كه جواب دقسم جمله انشائيه راغلى وه نو بيا جواب په لام ان او حرف نفى سره نه شى كولى ځكه دا داخليږى په خبريه باندې نه په انشائيه باندې،

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه پدى قول د الله باندې چې قَالُوا تَاللَّهِ تَفْتَؤُا تَذْكُرُ يُوسُفَ دلته جمله فعليه جواب قسم واقع شوې دى او لام ان حرف نفى پكې نشته؟ **جواب**: حرف نفى عام دى چې لفظاً وى او كه تقديراً دلته تقدير وى دى اصل كې لاتفتؤ وو، پس زده كړه دا خبره چې د قسم دپاره لابدى ده د جواب نه او جواب قسم جمله راځي نه مفرد نو دا جمله به خالي نه وي يا به خبريه وي يا به انشائيه وي كه خبريه وه نو بيا به خالي نه وي يا به فعليه وى او يا به اسميه وى كه اسميه وه نو بيا به خالي نه وي يا به مثبته وى او يا به منفيه وى، كه مثبته وه نو دا مصدر كولى شى په ان سره يا په لام ابتدائيه تاكيديه سره نحو والله ان زيد قائما او كه جواب ددې جمله فعليه وه نو بيا به خالي نوى يا به جمله فعليه

ماضويه وي او يا به جمله فعليه مضارعيه وي كه ماضويه وه نو دا مصدر كولى شي په لام او قد دواړو سره نحو والله لقد قام زيد او كه فعليه مضارعيه مثبته وه نو بيا مصدر كولى شي په لام ابتدائيه تاكيديه سره، سره د نون نه نحو والله لافعلن كذا او كه منفيه وه، نو بيا به خالي نړى يا به ماضويه وى او يا به مضارعيه وي كه ماضويه وه نو مصدره كولى شي په ما سره نحو والله ما قام زيد او كه مضارعيه وه نو مصدره كولى شي په ما لااولن سره نحووالله ما افعلن كذا لاافعلن كذا لن افعل كذا.

وقد يحذف جوابه (ربط) دا جمله مستأنفه جواب د سوال دى

سوال: دا دى چې ته وائى د قسم لپاره لابدى ده د جواب قسم نه دا قاعده ستا منقوضه شوه په زيد والله قائم سره او په زيد قائم والله سره پديكې قسم شته او جواب قسم نشته خكه جواب راځى په لام ان او ما نافيه سره او دلته يوهم نشته نو مصنف جواب وكړو **وقد يحذف الخ** سره چې كله كله حذف كولى شى جواب قسم،

اذا اعترض: كله چې واقع شى دا قسم پۀ مابين د اجزاؤ د هغه جمله كې چې دلالت كوى په جواب قسم باندې لكه زيد والله قائم **او تقدمه** يا مخكې شى پدى قسم باندې **ما** هغه كلام،

يدل عليه چه هغه دلالت كوى په جواب قسم باندې نحو زيد قائم والله،

سوال: قسم چې واقع شى په مابين د اجزاؤ د جمله كې يا مخكې شى د دى نه هغه كلام چې دلالت كوى په جواب قسم باندې نو حذف ددې ولې جائز دى؟ **جواب: لاستغنائه عن الجواب** پدى دواړو صورتونو كې د وجى د وجود د هغه كلام نه چې دلالت كوى په جواب قسم باندې،

سوال: دى مذكور كلام ته جواب قسم ولې نه وائى چې مقدريې منى،

جواب: دى مذكور ته جواب قسم نه شو وئلى خكه چې تقديم د جواب قسم كلاً يا بعضاً په قسم باندې ممتنع دى خكه قسم تقاضه د صدارت د كلام كوى او جواب قسم چې مقدم شى نو لازميږى فوت د صدارت د ماله صدر الكلام او دا باطل دى، **وعن للمجاوزة ربط:** هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د معانى د حروف جاره قسميه ؤ نه نو شروع يې وكړه په بيان د معانى د عن كې نو وي ويل وعن للمجاوزة الخ.

ترجمه: عن د حروف جاره ؤنه راځى د مجاوزت او تعديت د شئ د شى اخرته،

تشريح: عن اولادوه قسمه دى (١) جاره، (٢) غير جاره، او غيرجاره بيادوه قسمه دى،

(١) فعلى چې هغه مشدد راځي عن په وزن د مد باندې بمعنى ظهر

(٢) او دويم عن ناصبه مصدريه نحو اعجبني عن تفعل اى ان تفعل عند بنى تميم او ديته عنعنه تميميه وائى، او عن جاره په استعمال د كلام د عربو كې په لسو معانيو سره راځى،

(١) **للمجاوزة** يو راځى د مجاوزت لپاره پدى شان سره چې دا عن دلالت كوى، چه غير تجاوز كړى دى د مدخول زمانه او صورتونه د مجاوزت او تعديت درى دى،

(١) چه زوال د شئ اول راغلى دى د شئ ثانى نه سره د اصول د شئ اول نه شئ ثالث ته نحو رميت السهم عن القوس الى العيد، (٢) تجاوز د شئ اول راغلى دى د ثانى نه سره د اصول د شئ اول نه شئ

ثالث ته بې د زوال د شی اول نه نحو اخذت عنه العلم. (۳) یا زوال د شی اول راغلی دی د ثانی نه بې د اصول نه ثالث ته نحو ادیت عنه الدین (۲): للبدل نحو قوله تعالی لَا تَجْزِي نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ شَيْئًا،
(۳) للاستعلاء نحو فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَن نَّفْسِهِ. ای علی نفسه. (٤) للاستعانة: نحو رمیت السهم عن القوس ای بالقوس عند ابن مالك، وقوله تعالی وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ ای وما ینطق لهذا القران بهوی نفسه.
(۵) للتعلیل نحو قوله تعالی وَمَا نَحْنُ بِتَارِكِي آلِهَتِنَا عَن قَوْلِكَ وقوله تعالی وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ وقوله تعالی فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطَانُ عَنْهَا ای لاجل الشجرة،
(۶) بمعنی بعد نحو قوله تعالی لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٍ ای بعد طبق وقوله تعالی قَالَ عَمَّا قَلِيلٍ لَّيُصْبِحُنَّ نَادِمِينَ ای بعد ما قلیل. (۷) بمعنی من نحو قوله تعالی هُوَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِ. ای من عباده،
(۸) بمعنی الجانب كقول الشاعر،

ولقد اراني للرماح درية من عن يميني تارة وامامي ای من جانب یمینی

(۹) للزیادة نحو قول الشاعر فهلا التی عن بین جنبك تدفع كان في الاصل فهلا تدفع عن التی بین جنبك، نو عن د اول موصول نه حذف شو بیا وروسته زیاتي کړی شو (۱۰) للظرفیة نحو جلست عن المسجد ای فی المسجد. وعلی للاستعلاء (ربط) هر کله چې فارغ شو د بیان د معنی د عن نه نو شروع یې وکړه په بیان د معانی د علی کې او علی یې ذکر کړو وروسته د عن نه د وجې د اشتراك ددې دواړو نه په اسمیت کې د وجې د دخول د من نه پدی باندې نو وي ویل وعلی للاستعلاء،
ترجمه علی د حروف جاره ؤنه راځي د استعلاء لپاره،
تشریح زده کړه دا خبره چې علی اولا په درې قسمه دی (۱) فعلی من علا یعلو علوا دا لیکلی کیږي په صورة د الف باندې مثال د علی فعلی نحو قال الله جل وعلا شانه كقول الشاعر

لو علا ما علا علي علی ما علا لانهدم

دلته علا اول او ثانی او خامس فعلی دی او ثالث او رابع حرفی دی.
(۲) دویم قسم علی اسمی دی چې هغه راځي په معنی د فوق سره او د هغې علامه دا ده چې په هغې باندې په حرف جر داخل شو یوی نحو زید سقط من علی الجدار ای من فوق الجدار.
(۳) او دریم قسم علی حرفی دی دا داخلیږي په اسم باندې اسم لره جر ورکوی. او علی حرفی راغلی دی په استعمال د کلام د عربو کې په څوارلسو معانیو سره.
للاستعلاء یو علی راځي د استعلاء لپاره پدی شان سره چې دا علی کرځوی غیر لره عالی په خپل مدخول باندې په استعلاء حقیقی سره لکه زید علی السطح یا په استعلاء حکمی سره نحو علیه دین (۲) بمعنی الباء: نحو مررت علیه ای به (۳) للمصاحبة نحو قوله تعالی وَآتَى الْمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِ. ای مع حبه (۴) بمعنی فی نحو قوله تعالی وَإِن كُنتُمْ عَلَىٰ سَفَرٍ ای فی سفر (۵) للتعلیل نحو قوله تعالی لِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَاكُمْ ای لاجل هدایتکم (۲) بمعنی عن نحو اذا رضیت علی بنو قشیر ای عنی.

(٧) بمعنى من نحو قوله تعالى إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ اى من الناس. (٨) للاستدراك نحو فلان منكوب على انه لاييئس من رحمة الله، اى لكن (٩) للضرر نحو قوله تعالى لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ لها كې لام للانتفاع دى او عليها كې على للاضرار دى. (١٠) بمعنى عند نحو قوله تعالى وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِ اى عند قبره. (١١) للمقابلة نحو قوله تعالى لَا تَتَّخِذُوا آبَاءَكُمْ وَإِخْوَانَكُمْ أَوْلِيَاءَ إِنِ اسْتَحَبُّوا الْكُفْرَ عَلَى الْإِيمَانِ اى بمقابلة الايمان. (١٢) بمعنى الى نحو قوله تعالى وَكَانَ الْكَافِرُ عَلَىٰ رَبِّهِ ظَهِيرًا اى الى ربه ظهيرا.

(١٣) للعوض نحو بعتك هذا على الف. (١٤) بمعنى شرط نحو قوله تعالى عَلَىٰ أَن لَّا يُشْرِكْنَ بِاللَّهِ

وقد يكونان اسمين او كله كله كيږى عن او على په استعمال د كلام د عربو كې اسمين بدخول من كله چې داخل شى من جاره پدى باندې دامن چې داخل شى په على باندې نو دا على اسمى وى په معنى د فوق سره نحو زيد سقط من على الجدار اى من فوق الجدار او كه داخل شى په عن باندې نو دا عن اسمى دى بمعنى جانب نحو من عن يمينى اى من جانب يمينى دارنګې عن اسمى راځي كله چې داخل شى على حرفى پده باندې نحو مررت على عن يمينه اى على جانب يمينه.

والكاف للتشبيه: (ربط) هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د معنى د عن او د على نه نو شروع يې وكړه په بيان د معنى د كاف جاره كې او هر كله چې دا كاف جاره شريك وو د عن او د على سره په اسميت كې نو د دې مناسبت د وجې نه يې د عن او د على نه وروسته ذكر كړه

ترجمه: **والكاف** كاف جاره **للتشبيه** راځي د تشبيه لپاره پدى شان سره چې ګرځوى مدخول خپل مشبه به او غير مشبه نحو زيد كالاسد **وزائدة** او دارنګې دا كاف زائد راځي نحو قوله تعالى لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ نو لازميږى فساد د معنى چې ثبوت د مثل د الله دى

وقد تكون اسما او كله كله راځي دا كاف جاره اسم بمعنى مثل.

تشريح: كاف اولاً په دوه قسمه دى، (١) جاره، (٢) غير جاره او كاف غير جاره دوه قسمه دى،

(١) ضميرى دا كله منصوب راځي نحو ... او كله مجرور وى نحو مررت بك او كله مرفوع وى نحو لولاك وعساك (عند الاخفش) (٢) حرفى خطابى دا متصل كيږى په اخير د اسم اشاره پورې نحو ذلك الكتاب او كله متصل كيږى په اخير د اسم فعل پورې نحو هاك حروف الجر، او كاف جاره په دولس معانيو سره راغلى دى په استعمال د كلام د عرب كې (١) للتشبيه نحو زيد كالاسد.

(٢) للزيادة او كاف زائده دوه قسمه دى، (١) زائده تاكيدى (٢) زائده غير تاكيدى مثال د اول نحو ليس كمثله شى او مثال د ثانى لكه كاف د كذا شو په قالوا كذا كې دلته دا كاف زائد دى، ځكه مقصود دا دى چې مقوله د قول مشار اليه د ذا دى نه هغه شى چې په شان د مشار اليه باندې دى چې كاف تشبيهى شى او په ليس كمثله شئ كې كاف زائد دى د تاكيد د نفى لپاره لان زيادت الحروف بمنزلة الاعادة الثانية پس شوه معنى ددې دارنګې چې نشته بالكل په مثل د الله هيڅ يو شى.

سوال: ظاهر کې پدی باندې اعتراض دئ چې مقصود پدی ایت کې نفی د مثل د الله ده او پدیکې ثبوت د مثل د الله راغی ځکه کاف بمعنی مثل دی نو ددې معنی دا شوه چې لیس مثل مثله شئ او دا معنی باطله ده، **جواب** (۱) دلته مثل بمعنی ذات دی ای لیس مثل ذاته شئ؛

(۲) یا مثل بمعنی صفت دی ای لیس مثل صفته شئ؛ (۳) کاف په معنی د مثل سره مؤکد او دا مثل مؤکد دی فیکون المعنی لامثل مثله شئ یعنی نشته مثل او نشته مثل د الله یو شی ځکه کاف مؤکد د مثل لپاره واقع کیږی او مثل مؤکد د کاف لپاره واقع کیږی مثال د کاف چې موکد د مثل لپاره واقع شوی وی شعر،

فصیروا مثل کعصف ماکول
ولعب طیربهم ابابیل

دهغه لپاره فیکون المعنی فصیروا مثل مثل مثل مؤکد دی او دا کاف بمعنی مثل مؤکد دی کما فی قوله تعالی فَإِنْ ءَامَنُوا بِمِثْلِ مَآ ءَامَنتُم بِهِۦ فَقَدِ ٱهْتَدَوا او لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَىْءٌ عصف ماکول دا مثل زائد دی کې مثل زائد کړی دی لپاره ددې چې دخول د کاف رانه شی په ضمیر باندې لانه یختص بالظاهر،

سوال: فان امنو بمثل ما امنتم به کې دا مثل ولې زائد دی،

جواب: ځکه پدی ما کې دوه احتماله دی (۱) داموصول حرفی یعنی ما مصدریه دی،

(۲) یاموصول اسمی یعنی ماموصوله دی او دا دواړه ندی صحیح ځکه که مصدریه شی نو به ورسره نه لګی ځکه ما مصدریه عائد نه غواړی او که ماموصوله شی نو معنی نه صحیح کیږی، لازمیږی فساد د معنی ځکه مثلیت د کتاب الله لازمیږی او دقران مثل کتاب نشته ځکه د قران په صفتونو کې یو صفت راغلی دی عزیز او د عزیز یوه معنی بې مثل ده نو مونږه،

جواب: کوو (۱) چې دا ما مصدریه دی او باء زائده ده او به ضمیر ما ته ندی راجع بلکه الله ته راجع دی یا رسول ته راجع دی، یعنی که دوی ایمان راوړی په شان د ایمان ستاسو په الله یا په رسول باندې نو دوی به لار ومومی ولکهنم لم یومنوا بالله مثل ایمانکم ولم یهتدوا،

سوال: مثل ایمانکم پهٔ ترکیب کې څه واقع شوی دی، **جواب:** دا مفعول مطلق دی د امنو دپاره،

سوال: مفعول مطلق خو مصدر د فعل مذکور ته وائی او دا خو مصدر د فعل مذکور ندی نو مفعول مطلق ورته څنګه وائی، **جواب:** هذا من قبیل خیر مقدم یعنی (۱) مفعول مطلق دی په اعتبار د موصوف محذوف سره ای فان امنوا ایمانا مثل ایمانکم (۲) په اعتبار د مضاف الیه سره،

(۳) یا جواب دا دی چې دا ماموصوله دی او دا مثل زائد دی او دلیل پدی باندې قرات د ابن عباس دی فان امنتم بما امنتم به او به ضمیر راجع د ی ما ته نو معنی دا شوه که چری ایمان راوړی دوی په هغه کتاب چې تاسو ایمان راوړی دی فقد اهتدوا ولکنهم لم یومنوا بما آمنتم به ولم یهتدوا،

(۳) ما موصوله دی او مثل او باء زائده هم نده لیکن دا خبره الله کړیده علی سبیل الفرض والمحال یعنی الله د ایمان د اهل کتابو تعلیق بالمحال کړی دی په شان د حَتَّىٰ يَلِجَ ٱلْجَمَلُ فِى سَمِّ ٱلْخِيَاطِ نو معنی دا شوه چې که چری دوی ایمان راوړی وی په مثل د هغه کتاب چې تاسو پری ایمان راوړی فقداهتدوا او وجود د مثل د قران محال دی نو ایمان او هدایت ددوی هم محال دی، ځکه تعلیق بالمحال محال وی،

(۴) کاف په لیس کمثله کې زائد دی نه مثل لان القول بزیادت الحرف اولی من القول بزیادت الاسم (۲) که موږ مثل ته زائد ووایو نو حکم په زیادت قبل الحاجت راځي، (آب را ندیدی موزه را کشیدی) (۳) او مثل زائد نه دی راغلی په کلام د عربو کې، (۵) دا خبره د نحویانو بناده په ظاهر باندې اما په حقیقت کې دا مثل هم زائد ندی او کاف هم زائد ندی بلکه بمعنی مثل دی او نفی د مثل د الله په طریقه د کنایه سره او کنایه ابلغ ده د صریح نه څکه کنایه کې دعوی ده شئ بالبینه وی بخلاف الصریح،

سوال: کاف چې زائد نه شي نو نفی د مثل د الله په طریقه د کنایه سره څنګه راځي؟

جواب: د نفی د مثل د مثل د الله سره لازم ده نفی د مثل د الله او نفی د لازم مستلزم ده نفی د ملزوم لره والاوجود د ملزوم راځي بی د لازم نه او دا باطل دی،

سوال: نفی د مثل د مثل د الله جل جلاله ملزوم او نفی د مثل د الله ورسره لازم ولې ده؟

جواب: څکه چې الله موجود دی قطعا او یقینا او نفی د موجود صحیح نه ده څکه کذب لازمیږي او هر کله چې د الله جل جلاله لپاره مثل موجود شي نو کیږي الله مثل د هغه څکه مثلیت د امور اضافیه ؤ نه دی، د جانبینو نه راځي نو هر کله چې نفی کړی شو دغه لازم چې لامثل مثل هذا المتحقق دی نو ددې سره لازم ده نفی د ملزوم چې نفی د مثل د الله تعالی دی، چې ته وائی چې د الله د مثل مثل نشته ددې معنی دا ده، چه الله نشته، (نعوذبالله) او دا باطل دی، (۳) **وقد تکون اسما**: او کله کله کاف اسمی راځي په معنی د مثل سره او په کاف اسمی کې دوه مذهبه دی، (۱) یو مذهب د محققینو او سیبویه دی دویم مذهب د اخفش او ابو علي دی سیبویه او محققین وائی چې کاف اسمی نه راځی مګر د وجی د ضرورت شعری نه فقط او اخفش او ابو علی فارسی وائی چې کاف اسمی په سعة د کلام کې هم راځي لهذا په زید کالاسد کې اخفش او ابوعلی فارسی جائز کړی دی چې دا کاف بمعنی مثل مضاف دی او اسد مضاف الیه دی مضاف سره د مضاف الیه نه خبر د مبتدا دی چې زید دی بیا دا کاف اسمی کله مجرور راځي کقول الشاعر،

بیض ثلاث کنعاج جُم　　　　یضحکن عن کالبرد المنهم

ترجمه: دری سپینی ښځی دی په شان د څنګلی غواګانو چې هغه ښکرنه لری اودا خاندی په هغه غاښونو سره چې په شان د ږلی ویلی کړی شوی دی، په پرقاء کې او کالبرد کې دا کاف اسمی دی بمعنی مثل په دلیل د دخول د عن جاره سره پده باندې او دلته دا کاف مجرور محلاً راغلی دی د وجی د دخول د عن نه او کله دا کاف اسمی مرفوع راځي بنابر فاعلیت، کالطعن کې دا کاف اسمی دی بمعنی مثل مرفوع محلا دی بنابر فاعلیت فاعل واقع شوی دی د لن ینهی لپاره،

(۴) او کله راځي مرفوع بنا بر ابتدائیت نحو عندی کذا درهما پدی کذا درهما کې دا کاف اسمی دی، بمعنی مثل مضاف دی ذا اسم اشاری ته مضاف سره د مضاف الیه نه مبتدا مؤخره او عندی خبر مقدم دی، (۴) **للتعلیل**: نحو فاذکرالله کما هداکم، (۵) **للاقتران والاتصال** نحو جئتك کما طلعت الشمس، (۲) **للترجي**: ای بمعنی لعل نحو لاتشتم کما لاتشتم ای لعلك لاتشتم،

(٧) **للاستقصاء** نحو ان من الحروف لايقبل الحركة كالالف، (٨) **للمفاجاة** نحو كماخرجت رايت زيدا، (٩) **للاستعلاء** نحو كخير في جواب من قال كيف اصبحت اي علي خير، (١٠) **للمصاحبة** نحو كخير في جواب من قال كيف اصبحت اي بخير دا كاف د كخير محتمل د احتمالات ثلاثه ؤ دی، (١) دا د استعلاء لپاره دی ای علی خیر، (٢) د مصاحبت لپاره نحو بخير، (٣) یا دا کاف د تشبیه لپاره دی او عبارت په حذف د مضاف سره دی ای کصاحب خیر، (١١) للتشابه نحوالهم صل علی محمد كما صليت **ويختص بالظاهر** او مختص دی کاف جاره په اعتبار د دخول سره په اسم ظاهر پوري، **عندالجمهور خلافا للمبرد** الظاهر صفت دی د موصوف محذوف لپاره چې الاسم دی ځکه دا ظاهر پدی مقام کې مقابل د مضمر دی نه د مقدر او دا باء په بالظاهر کې داخله شویده په مقصور علیه باندې پدی شان سره چې دخول د کاف مختص دی په اسم ظاهر پورې او مجاوز ندی ضمیر ته قیاسا او اطرادا او اسم ظاهر عام دی مختص ندی په کاف پورې پدی شان سره چې ځنګه چه دخول د کاف واقع کیږی نو دارنګې مدخول د نورو حروف جاره ؤ هم واقع کیږی فلايقال که عندالجمهور لپاره ددې چې لازم نه شی اجتماع د کافینو په جین د دخول د کاف جاره کې په کاف ضمیری باندې او دخول پدی باقی ضمائر وممتنع دی طرداً للباب، (٢) دخول د کاف ممتنع دی په ضمیر باندې هر کله چې مثل په ضمیر داخل شی چې مرادف د کاف دی پس حاجت پاتې نه شو دخول د کاف ته په ضمیر باندې او هر چې دی دخول د کاف په ضمیر باندې پدی قول د شاعر کې لاکهن الاحاظلاً دا شاذ دی، او مبرد وائی چې دا کاف داخلیږی په ضمیر باندې قیاسا او اطراداً دلیل د هغه لپاره دا مخکې شعر دی،

سوال نه وائی چې دخول د کاف مختص دی په اسم ظاهر پورې دا خبره ستا منقوضه شوه په ما اناکانت سره چې دلته په ضمیر داخل شوی دی، **جواب** اسم ظاهر عام دی که حقیقتاً وی او که حکماً وی انت اسم ظاهر دی حکما ځکه لکه ځنګه چې اسم ظاهر مستقل فی التلفظ دی، نو دارنګې دا هم مستقل فی التلفظ دی، او دارنګې کله کله ما زائده راځي وروسته د کاف نه غالبا یې منع کوی د عمل نه او کله کله یې د عمل نه نه منع کوی په شان د رب باندې مثال د اول کما فی قول الشاعر،

اخو ماجد كماسيف　　　　عمرو لم تخنه مضاربا

ومثال الثاني

وننصر مولانا ونعلم انه　　　　كما الناس مخروم عليه وجارم

زده کړه دا خبره چې حروف جاره په اعتبار د ایصال د ما سره دوه قسمه دی،

(١) بعض هغه حروف جاره دی چې د هغې نه وروسته ما راځي چې هغه پنځه دی: با، من، عن، کاف، او ددې نه علاوه د نورو نه وروسته ما زائده نه راځي او دا ما زائده چې وروسته د با من عن نه راشی نو هغه د عمل لفظی نه نه منع کوی نحو فبمارحمة من الله لنت لهم مما خطيئاتهم عما قليل ليصبحن نادمين او چې وروسته د رب او کاف نه راشی نو غالبا یې د عمل نه منع کوی، او کله کله یې نه منع کوی مثالونه تیر شو،

مذ ومنذ (ربط) هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د معنى د كاف نه نو شروع يې وكړه په بيان د مذاو د منذ كې او دا يې ذكر كړه وروسته د كاف نه ددې مناسبت د وجې نه چې دا مذ او منذ شريك دی د كاف سره په دخول د اسم ظاهر كې لكه چې كاف په ضمير باندې نه داخليږي دارنګې مذا ومنذ هم نه داخليږي، او مذ يې مقدم كړو په منذ باندې باوجود ددې نه چې د افرع د منذ ده د وجې د كيدو د مذ نه چې اخف د منذ دی.

ترجمه مذ او منذ وضع كړی شوی دی لپاره ددې چې دلالت وكړی په زمانه ماضی يا حاضر باندې او په زمانه د استقبال باندې دلالت نكوی، **للابتداء** دا مذا او منذ راځي د ابتداء جزی د فعل لپاره، **في الماضي** په زمانه د ماضی كې، **والظرفية** او دا راځي د ظرفية جزی لپاره،

في الحاضر په زمانه حاضر كې مثال لكه ما رايته مذ شهر ومذ يوم ای مبدأ عدم رؤيتی اياه في شهر او في يوم دا مثال دی د مذ، منذ بمعنی في لپاره په حاضر كې او مثال د مذ منذ چې په معنی د من وي په ماضي كې ذكر يې نه كړو د وجې د شهرت نه نحو ما رأيته مذ يوم الجمعة ای اول مدة عدم رؤيتي اياه من يوم الجمعة او دا للابتداء بدل اشتمال دی د للزمان نه يا خبر دی د مبتدا محذوف لپاره ای هما كائنان للابتداء او په مذ او منذ كې دوه لغته دی، (١) مشهور په ضمی د ميم سره، (٢) غير مشهور په كسری دميم سره، او مذ او منذ دوه قسمه دی، (١) اسمی (٢) حرفی

وجه د حصر دا ده چې مدخول د مذ او منذ به خالی نوی يا به فعل وی او يا به اسم وی كه فعل وو نو اسمی دی نه حرفی نحو جئت مذ دعا او كه اسم وو نو بيا به خالی نوی با به مرفوع وی او يا به مجرور وی كه مرفوع وو نو اسمی او كه مجرور وو نو حرفی او فرق په مذ او منذ حرفی او اسمی كې لفظا او معنی تير شوی دی په بحث د ظروفو كې (١) دخول د مذ او منذ مختص دی په اسم ظاهر پورې په ضمير نه داخليږي، (٢) يا دخول ددې مختص دی په ظرف پورې په غير ظرف نه داخليږي، (٣) او بيا دخول د دی مختص دی په ظرف زمان پورې په ظرف مكان باندې نه داخليږي، (٤) بيا مختص دی په ظرف زمان ماضی او حاضر پورې په استقبال باندې نه داخليږي،

وحاشا وعدا وخلا للاستثناء (ربط) هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د مذ او منذ نه نو شروع يې وكړه په حاشاخلا عدا كې او دا دری واړه يې يو ځاي ذكر كړه د وجې د اشتراك ددې دری واړونه په معنی كې چې استثناء ده، (٢) يا د وجې د اشتراك ددې دری واړونه په فعليت او حرفيت كې،

ترجمه حاشا عدا او خلا راځي لپاره د استثناء د ما بعد د ما قبل نه يعنی دا دلالت كوی چې مدخول ددې خارج دی دحكم د ماقبل نه او للاستثناء قيدی ورسره څكه ولكوو چې په ديكې يې اشاره وكړه ديته چې دا دری واړه د حروف جاره ؤنه هلة دی چې د استثناء لپاره راشي والا او كه داسې نه وو نو بيا د حرف جاره ؤ نه ندی بلكه افعال دی او چې د استثناء لپاره راشي نو بيا به خالی نه وی يا به مدخول ددې مجرور وی او يا به منصوب وی، كه مجرور وو نو د حروف جاره ؤنه دی نحو جاء ني القوم حاشا زيد الخ او كه مدخول يې منصوب وو نو بيا دا افعال دی نه حروف كما قال ابن مالك، شعر

وحيث جرفهما حرفان كما هما نصبا فعلان

نو ددې نه معلومه شوه چې حاشاخلا او عدا دوه قسمه دی،
(۱) فعلی (۲) حرفی حاشا غالبا حرفی راځي او كله كله فعلی راځي د استثناء لپاره د سوء نه چې دلالت كوی چې دا مستثنی پاك دی د حكم سينه د مستثنی منه نه يقال ساء القوم حاشا زيدا فلا يقال صلی الله عليه حاشا الشيطان، او په حاشا كې لغات ثلاثه دی،
(۱) حاشا، (۲) حاش، (۳) حشی او په خلا او عدا كې احوال اربعه دی په احوال ثلاثه ؤ كې فعلی دی او په يو حالت كې حرفي دی دا خلا او عدا به خالی نه وی يا به واقع وی په ابتداء د كلام كې يا په مينځ د كلام كې كه په ابتداء د كلام كې وو نو فعلی او كه په مينځ د كلام كې وو نو بيا به خالی نوی يا به مخكې ددې نه ما راغلی وی، او يا به نوی راغلی كه راغلی وو نو فعلی او كه نه وو راغلی نو محتمل د احتمالينو دی، كه مدخول يې منصوب وو نو فعلی او كه مجرور وو نو حرفی،
قاعده) كله كله استعمال د كلام د عربو كې حرف جر حذف كولی شی سره د بقاء د جر نه په غير د رب كې هم، او دا په دوه قسمه دی، (۱) سماعی (۲) قياسی مثال د سماعی لكه چې ستا نه څوك تپوس وكړی چې كيف اصبحت او ته ورته اوائی خير ای علی خيرو كقول الشاعر،

اذاقيل اى الناس شرقبيلة اشارت كليب بالاكف الاصابع

ای الی كليب الی حذف دی او كليب مجرور دی سماعًا او مثال د قياسی كما فی قول العرب بكم درهم اشتريت هذا الكتاب چې دا اصل كې بكم من درهم وو دامن حذف شوی دی په حذف قياسی سره او تميز مجرور پاتې شوی دی، ځكه تميز كم استفهامی منصوب راځي او دلته مجرور راغلی دی په حرف جر محذوف سره (۲) په لفظ د الله كې چې دا مقسم به واقع شی نحو الله لاكر منك ای والله، (۳) د جواب د استفهام نه بعد لكه ته ووائي خالد (ای من خالد) من قال ممن اخذت الكتاب،
(۴) وروسته د همزه استفهامی نه لكه يو كس اوائی مررت بخالد بن سعيد او ته ورته ووايې اخالد بن سعيد، (۵) وروسته د ان شرطيه نه نحو اذهب بمن شئت ان خليل وان حسن ای ان بخليل وان بحسنٍ،
(۶) فی الدار زيد والحجرة عمرو كې دا الحجرة مجرور دی په تقدير د فی سره عند السيبويه،

الحروف المشبهة بالفعل

ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د حروف جاره ؤنه نو شروع يې وكړه په بيان د حروف مشبه بالفعل كې او هر كله چې عمل د حروف جاره ؤ بذاته وو او عمل د حروف مشبه بالفعل لغيره وو نو حروف جاره يې مقدم كړه، پدی نو ويې ويل الحروف المشبهة بالفعل،
ترجمه: هغه حروف چې مشابه دی د مطلق فعل سره لفظا او معنی.
سوال: اوس هغه حروف مشبه بالفعل كوم دی، **جواب: وهی ان وان وكان الخ،**
تشريح: پدی نوع كې هم لابدی ده د معرفت د پنځلسو امورو نه،

(۱) معرفت د ذات (۲) اسم (۳) وجه د تسميه (۴) تعداد (۵) مصداق (۶) مدخول (۷) وجه د دخول (۸) عمل (۹) وجه د عمل (۱۰) شروط د عمل (۱۱) معرفت د مذهبينو په عمل ددې کې (۱۲) معرفت د معانی (۱۳) معرفت د اقسامو د ان کان لعل (۱۴) معرفت د احکامو،

نو دا نوع په اعتبار د ذات سره حروف دی نه اسماء او نه افعال او نوم ددې حروف مشبه بالفعل حروف المعانی حروف الدواخل او حروف النواسخ دی، حروف المعانی ورته ځکه وائی چې دا حروف واضع وضع کړی دی، د معناګانو لپاره او حروف الدواخل او نواسخ ورته ځکه وائی چې دا داخليږی په مبتدا او خبر باندې او سابقه عمل منسوخ کوی، او حروف مشبه بالفعل ورته ځکه وائی چې دا مشابه دی د فعل سره لفظا او معنی هر چې دی لفظا نو په ثلاثيت رباعيت خماسيت ادغام او په بنا على الفتحه کې او هر چې دی معنی نو معانی ددې حروف ملزوم دی او معانی د فعل ورسره لازم ده، ځکه معانی د دی حروفو جزی دی او معانی د فعل کلی دی او کلی لازم وی د جزی سره،

سوال: مشابهت ددې حروفو دفعل سره په ثلاثيت رباعيت کې منم خو په خماسيت کې يې نه منم ځکه فعل خماسی نه راځي، **جواب:** مراد د خماسی نه دلته خماسی لغوی دی چې مايکون على خمسة احرف وی او تعداد ددې حروف شپږ دی، عند الجمهور، او اوه دی عند الاخفش على قول او مثالونه يې دا مذکوره فی المتن دی د جمهورو په نز باندې او د اخفش په نيز شپږ دغه دی او اوم لات دی او داخليږی په مبتدا او خبر باندې او دخول ددې حروف په مبتدا او خبر باندې سماعی دی او مبتدا لره نصب ورکوی، او خبر ته رفع ورکوی د وجی د مشابهت د دی حروفونه د فعل سره لفظاً او معنیً کما مر او مشبه حکم د مشبه به اخلي او د فعل لپاره دوه عمله دی،

(۱) يو عمل اصلی دی چې تقديم د رفع نصب باندې نحو ضرب زيد عمرا (۲) عمل فرعي چې تقديم د نصب دی په رفع باندې نحو ضرب عمراً زيد او دی لره مونږه عمل فرعی د فعل ورکړو لپاره د دی چې انحطاط د فرع راشی د اصل نه،

سوال: حروف مشبه بالفعل مشابه دی د مطلق فعل سره نو ته يواځی عمل : فعل متعدی ولې ورکوی **جواب:** مشابهت د دی د فعل متعدی سره زيات دی د فعل لازم نه په اقتضاء د امرينو کې چې فعل متعدی هم دوه اشياء غواړي (۱) فاعل (۲) مفعول به او دا هم دوه اشياء غواړي د وجې د کمال مشابهت د دی حروفو نه د فعل متعدی سره نو عمل د متعدی ورکړی شو نه د لازم او عمل د حروف مشبه بالفعل مشروط بشرطين دی، (۱) بقاء د ترتيب پدی شرط چې خبر ظرف او جار مجرور نه وو، والافلا کما مرفی المرفوعات، (۲) عدم اتصال د ماکافه پدی حروف مشبه بالفعل پورې ځکه که دې حروفو پورې ما کافه متصل وو نو بيا دا عمل نه شي کولی نحو أَنَّمَا إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ، **انما الاعمال بالنيات،** او په عمل د حروف مشبه بالفعل کې دوه مذهبه دی (۱) بصريين، (۲) کوفيين

د بصرينو مذهب دا دی چې دا حروف په مبتدا او خبر دواړو کې عمل کوی پدی شان سره چې مبتدا لره نصب ورکوي او خبر لره رفع ورکوی او کوفيان وائی چې دا عمل کوی فقط په مبتدا کې نه په خبر

کې ځکه دا حروف ضعيف العمل دی عمل کوی مع الوصل او مع الفصل عمل نه شی کولی. (۲)

تسويه د فرع اصل سره را نه شي

جواب: تسويه نه لازميږي ځکه عمل فرعي وروکړی دی شبهه لره (۲) د دوی دا خبره باطله ده د عمل د اسم فاعل سره چې دا عمل کوي په شان د فعل خپل د وجې د مشابهت نه فعل مضارع سره لفظاً ومعنیً فافهم او مذهب د بصريانو غوره دی د مذهب د کوفيانو نه ځکه دا اگر که حروف دی ليکن عمل کوی د وجی د مشابهت نه د فعل سره لفظا او معنی او د وجی د مشابهت نه ورکړی شو دی حروف لره عمل فرعی د فعل چې تقديم د منصوب دی په مرفوع باندې لهذا په ان زيدا قائم کې دی زيدا لره نصب ورکړی دی ان بالاتفاق او دی خبر لره رفع چا ورکړيده نو بصريان وائی چې دا رفع ان ورکړيده هغه پخوانی رفع لاړه او نوی رفع په قائم کې راغلی ده د ان د وجی نه او کوفيان وائی چې دا هغه زړه رفع ده او ان پکې عمل ندی کړی او پدی حروف مشبه بالفعل کښ ان او ان راځي د تاکيد لپاره اوکان راځي د تشبيه لپاره اولکن راځي د استدراک لپاره ليت د تمنی لپاره او لعل د ترجی لپاره او ان دوه قسمه دی. (۱) فعلی (۲) حرفی فعلی بيا دوه قسمه دی.

(۱) صيغه د واحد مذکر فعل امرحاضر معلوم د أن، يأن، أيناً نه په معنی د ژړا سره په شان د فرّ باندې معنی يې دا ده چې وژاړه ته ای سړيه، (۲) صيغه واحد مؤنث فعل امر حاضر معلوم مؤکد بانون تاکيد ثقيله من وأی يای وأياً په معنی د واده کولو سره نو ان هند معنی دا ده چې خامخا ته واده کوه ای هندی اصل کې اِيِ وو بر وزن قِي بيا يا ضمير د مؤنث مخاطب حذف شوه د وجی د التقاء د ساکنينو نه، او کسره د همزی وربانديې دلالت کوی او ان حرفی هم دوه قسمه دی،

(۱) حرف ايجاب نحو لعن الله ناقتی حملتنی اليك، ان وراکبها ای نعم وراکبها،

(۲) دويم حرف دی د حروف مشبه بالفعل نه نحو إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ. او أن هم دوه قسمه دی،

(۱) حرفی نحو بلغنی انك قائم، (۲) فعلی چې صيغه واحد مذکر فعل ماضی معلوم ده په شان د مد باندې چې مشتق دی د انين نه بمعنی ژړا،

سوال ان زيد کريم څه ترکيب دی چې ان حرف شی د حروف مشبه بالفعل نه نو پديکې درې نقصانه دی؟

(۱) ان راځي په وسط کې نه په ابتداء کې او دا په ابتداء کې راغلی دی،

(۲) ان اسم لره نصب ورکوی، (۳) او خبر لره رفع ورکوی او دلته اسم مرفوع او خبر مجرور دی،

جواب: دا ان حرفی ندی بلکه ان فعلی دی په شان د مد باندې

ترکيب دا دی چې ان صيغه د ماضی معلوم زيد فاعل ان کريم کې کاف جاره او ريم مجرور دا متعلق دی په أن پورې ان سره د فاعل او متعلق نه جمله فعليه خبريه ده، او لعل په څلورو معانيو سره راځي، (۱) ترجی د محبوب او اشفاق د مکروه نه مثال د اول کقول الشاعر،

احب الصالحين ولست منهم لعل الله يرزقنی صلاحا

مثال د ثانی لکه لعل الرقيب موجود، (۲) تمنی نحو قوله تعالی لَعَلِّيٓ أَبۡلُغُ ٱلۡأَسۡبَٰبَ.

(٣) تعليلیی عند الاخفش والکسائی نحو قوله تعالی فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَيِّنًا لَعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَىٰ
استفهامی عند الکوفین نحو قوله تعالی لَعَلَّ اللَّهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذَٰلِكَ أَمْرًا ،وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُ يَزَّكَّىٰ ، او لکن په دوه معانیو سره راځي (١) د استدراك لپاره نحو زيد حاضر لکن عمرا غائب، (٢) للتاکید کقول الشاعر

ولو طار ذو حافر قبلها لطارت ولکنه لم يطر

دلته نفی د لو نه مستفاد ده او لکن مذکور دی صرف د تاکید لپاره او احکام ددې حروفو دوه قسمه دی،
(١) یو قسم مشترك دی بین الحروف المشبهه بالفعل،
(٢) احکام ځان له ځان له او جدا جدا نو دهر یو احکام مشترکه یې بیان کړي، دی، په بحث د مرفوعاتو کې وامره کامر المبتدأ سره او احکام مختصه دلته بیانوی
سوال: حروف جاره یې ولې مقدم کړل په حروف مشبه بالفعل باندې باوجود د دې نه چې مرفوع مقدم وي په منصوب او مرفوع مقدم دی په مجرور باندې نو تا مجرور ولې مقدم کړو؟
جواب: (١) هر کله چې عمل د حروف جاره ؤ لذاته وو او عمل د دې حروف لغیر، وو نو ځکه یې هغه مقدم کړو په دې باندې (٢) حروف جاره زیات دي او دا کم دی او العزة للتکاثر (٣) حروف جاره صرف په یو اسم کې عمل کوي او دا حروف په دوه اسمینو کې عمل کوي والواحد قبل الاثنین
سوال: دا مقام مقام د جمع قلت دی لهذا د مصنف لپاره مناسب وو چې تعبیری کړی وی په صیغی د جمع قلت سره یعنی الاحرف المشبهة بالفعل یې وئلی وی نو جمع کثرته یې ولې ذکر کړی ده،
جواب: جمع کثرته یې ذکر کړیده مشاکلة ځکه هر کله چې دوی تعبیر وکړو د حروف جاره ؤنه په صیغه د جمع کثرت سره نو ددې نه یې هم تعبیر وکړو په جمع کثرت سره مشاکلة اګر که مقام د جمع کثرت ندی، (٢) جمع کثرته سره یې تعبیر وکړو ځکه چې احدهما مستعملیږي په مقام د اخر کې نحو ثلاثة قروء، (٣) الحروف المشبهة بالفعل یې أویل جمع کثرته سره ځکه دا مقام د کثرت دی نه د قلت ځکه ان او ان سره د فروع خپلو نه چې ملاحظه کړی شی سره د لغاتو د لعل نه نو دا شپږ ندی بلکه جمع کثرته ترې جوړیږی، **ولها صدر الکلام**، (**ربط**) هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د مصداق د حروف مشبه بالفعل نه نو شروع یې وکړه په احکامو ددې کې اول بیانوی حکم مشترکه ددې حروفو اوبیا بیانوی احکام مختصه ددې حروفو **ولها** او ثابت دی ددې حروف مشبه بالفعل لپاره وجوبا **صدر الکلام** او لیت د کلام لپاره ددې چې دلالت وکړی په نوعیت د کلام باندې د اول وهلت نه چې دا کلام د کومی نوع نه دی د انواع د کلام نه چې هغه تمنی ترجی استدراك وغیره دی **سوی ان** علاوه د ان مفتوحة الهمزه نه چې ددې لپاره اولیت د کلام ندی ثابت،
سوال: ددې لپاره اولیت د کلام څنګه ندی ثابت، **جواب**: **فهی** دا ان مفتوحة الهمزه **بعکسها** په عکس د باقی حروف مشبه بالفعل دی پدی شان سره چې باقی حروف مشبه بالفعل تقاضه د صدارت د کلام کوی او ان مفتوحة الهمزه تقاضه د عدم صدارت کوی ځکه (١) دا ان سره د ما بعد نه معمول دی د عامل لپاره او حق د معمول دا دی چې متاخر شي، نو اتیان یې وکړو په اصل دده باندې،

(۲) یا دا ان سره د اسم او سره د خبر نه په تاویل د مفرد سره دی اوس که ابتداء کښ ان مفتوحة الهمزه اویلی شی نو تکلم بالمفرد راځي او دا باطل دی، (۳) یا دا ان تقاضه د عدم صدارت د کلام کوی ځکه که دا واقع شی ابتداء کښ نو التباس راځي، د ان مکسورة الهمزه سره لفظا او کتابة د فهی بعکسها دوه ترجمی دی،

یوه ترجمه د شارح جامی صاحب ده او دویمه د متوسط ده ترجمه د جامی صاحب دا ده چې فهی دا کلمه د ان مفتوحة الهمزه په عکس د باقی حروف مشبة بالفعل دی پدی شان سره چې هغه باقی حروف مشبه بالفعل تقاضه د صدارت د کلام کوی، او دا تقاضا د صدارت د کلام نه کوی او ترجمه د جامی صاحب غوره ده، د ترجمی د متوسط نه،

(۱) ځکه په ترجمه د جامی صاحب کښ تاسیس راځي او په ترجمه د متوسطه کښ تاکید راځي او قاعده د علم بلاغة دا ده چې تاسیس اولی دی د تاکید نه،

(۲) بنا په ترجمه د متوسط باندې لازمیږی لغویت د ذکر د فهي بعکسها وروسته د سوی ان نه ځکه په کومه معنی چې سوی ان دلالت کوی نو په دغه معنی باندې بعکسها هم دلالت کوی او په ترجمه د جامی صاحب باندې لغویت نه لازمیږی، ځکه سوی ان معنی عامه ده چې ان مفتوحة الهمزه تقاضه د صدارت نکوی اوس دا معنی عامه ده، دلالت کوی په جواز د ذکر د ان مفتوحه الهمزة باندې په ابتداء د کلام کښ نو فهي بعکسها سره تعین د معنی د سوی ان وشو، چې تخصیص بعد التعمیم دی، تعین د معنی وشو چې دا په عکس د هغې ده، چې هغه تقاضه د صدارت کوی او دا تقاضه د عدم صدرات کوی،

سوال: په بعکسها کښ ضمیر راجع دی حروف مشبه بالفعل ته او په هغې کښ خو ان هم دی نو دا خو عکس د شئ من نفسه راغی،

جواب: دا عبارت په حذف د مضاف سره دی ای بعکس باقیها، **وتلحقها ما** دویم حکم د حروف مشبه بالفعل دا دی چې متصل کیږی، په اخیر د دی حروفو پورې ماکافه **فتلغی** نو لغوه کوی دی، حروف لره د عمل کولو نه **علی الافصح** په افصح د لغاتو باندې ځکه دا حروف ضعیف العمل دی عمل کوی مع الوصل او مع الفصل عمل نه شی کولی، نحو قوله تعالی أَنَّمَا إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ وقوله علیه السلام **انما الاعمال بالنیات** او کله کله عمل کوی، دا حروف مشبه بالفعل په غیر افصح باندې بنا پدی باندې چې دا ما زائد دی نه کافه کمافی قول الشاعر،

الا لیتما هذا الحمام لنا
الی حمامتنا او نصفه فقد

په فتحی د حمام سره **وتدخل** او داخلیږی **حنیئذ** په دغه وقت کښ چې کله متصل شی، په اخیر د دی پورې ماکافه **علی الافعال** په افعالو باندې ځکه چې دخول د دی حروفو ممتنع وو په افعالو باندې د عمل د وجی نه اوس کله چې دی ما دا حروف د عمل نه منع کړه نو مانع د دخول نه ختم شو نو داخلیږی په افعال باندې نحو قوله تعالی إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ او حنیئذ کښ دا تنوین عوض د مضاف الیه دی اصل کښ حین اذ یلحقها وو،

فان لا تغير معنى الحملة، (ربط) هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د: حكم مشتركه د حروف مشبه بالفعل نه نو شروع يې وكړه په بيان د احكام مختصه د حروف مشبه بالفعل كې (٢) هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د تاثير لفظي د دې حروفو نه چې ټول پكې شريك دي نو شروع يې وكړه په تاثير معنوي د دې حروفو كې چې هغه جدا جدا دى **فان** پس ان مكسورة الهمزه **لا تغير** نه ورانه وي **معنى الجمله** معنى د جملى لره پدى شان سره چې از داخل شي په جمله اسميه باندې نو دا نه اباسي جمليت نه بلكه دا جمله په خپل حال باقي پاتې كوي سره د زيادت د تاكيد او مبالغې نه **وان مع جملتها** او ان مفتوحة الهمزه سره د اسم او د خبر نه **فى حكم المفرد** په حكم د مفرد كې دى پدى شان سره چې ان مفتوحة الهمزه چې داخل شي په جمله نو دا گرځوي په حكم د مفرد كې او دا ان په اعتبار د حركة د همزى سره درې قسمه دى، (١) مكسورة الهمزه وجوبا كه مقام د جملى وو.

(٢) مفتوحه الهمزه وجوبا كه مقام د مفرد وو، (٣) جواز د وجهينو كه مقام محتمل د احتمالينو وو مثال د اول نحو قوله تعالى قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ دا مفتوحة الهمزه دى وجوبا لانه وقع مقام المفرد چې نائب فاعل دى او نائب فاعل اسم وى حقيقة يا تاويلا او اسم تاويلى به هله شي چې مفتوحه الهمزه يې اوايى مثال د ثانى نحو قوله تعالى فَقَالُوا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا دا مكسورة الهمزه دى وجوبا لانه واقع موقع الجملة ځكه دا سره د مدخول نه مقوله د قول ده او مقوله نوى مگر جمله وى او كه مفتوحة الهمزه يې اوايو نو مفرد مقوله واقع كيږي او دا باطله ده او مثال د ثالث لكه وَأَنَّهُ تَعَالَى جَدُّ رَبِّنَا دا محتمل د احتمالينو دى كه دا عطف شي په انه استمع الخ باندې نو مفتوحة الهمزه به وى او كه عطف شي انا سمعنا قرانا عجبا باندې نو بيا مكسورة الهمزه دى **ومن ثم وجب الكسر فى موضع الجمل** او د دې وجې نه چې ان مكسورة الهمزه معنى د جملى نه ورانوى بلكه په خپل حال يې پاتې كوي سره د زيادت نه نو واجب ده كسره لوستل په همزه د ان كې په موضع د جملو كې د دې وجې نه،

والفتح فى موضع المفرد او د دى وجى نه چې جوړه وى ان مفتوحة الهمزه جملى لره په حكم د مفرد كې نو واجب ده **فتحه** په مقام د مفرد كې ځكه دا مقام مقام د جملى دى، برابره خبره ده چې ابتداء د كلام كې وى نحو إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ، إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا يا په وسط د كلام كې وى حو دى متكلم ابتداء د كلام اخر كړى وى نحو قوله تعالى وَلَا يَحْزُنكَ قَوْلُهُمْ إِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا دا ان دلته مكسورة الهمزه دى اگر چې واقع دى په وسط كې ځكه دا مستقل كلام دى او علت دى د ما قبل لپاره،

(٢) **وبعد القول** او مكسورة الهمزه **وجوبا** به وى چې واقع شي وروسته د قول نه او د هغه صيغونه چې هغه مشتق دى د دى قول نه ځكه دا ان سره د اسم او خبر نه مقوله د قول ده او مقوله د قول نه وى مگر جمله وى ځكه دا باب د قال يقول وضع شوى دې لپاره د حكايت او د نسبت، او نسبت نه وى مگر جمله كې وى، نحو قوله تعالى قَالَ إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ خودا هله چې دا بمعنى حكايت وى او كه قول بمعنى ظن وو نو مفتوحة الهمزه به وى وجوبا،

(۳): **وبعدالموصول** او چې واقع شي وروسته د موصول نه ځکه ان سره د ما بعد نه صله د موصول ده او صله د موصول نه وي مگر جمله وي نحو جاءني الذي ان اباه قائم،
(۴): چې جواب د قسم واقع شي نحو والله انك لصادق، (۵): واذا وقعت مع ما بعد ها حالا نحو قصدته واني واثق به زرته واني ذوامل، (۶): اذا وقعت بعد حيث اوا ذ نحو اجلس حيث ان خليلا جالس، (۷): اذا وقعت بعد عامل علق باللام نحو قوله تعالی قَدْ نَعْلَمُ إِنَّهُ لَيَحْزُنُكَ الَّذِي الخ،
(۸): بعد حتی ابتدائيه نحو مرض سليم حتی انه لايرجونه **وفتحت** او فتحه لوستلی شي وجوبا پدی ان کې **فاعلة** په حال کون د دی کې چې دا واقع شي سره د ما بعد نه فاعل په ترکيب کې نحو بلغني ان زيدا عالم **ومفعولة** يا مفعول واقع شي نحو کرهت ان زيدا شاعر، **ومبتداء** او په حال کون ددې کې چې مبتدا وی سره د ما بعد نه نحو عندي انك فاضل **ومضافا اليها** يا مضاف اليه وي سره د مابعد نه په ترکيب کې نحو اعجبني اشتهار انك عالم نو دی مواضع کې ان مفتوحة الهمزه ويلی شي، وجوبا ځکه فاعل مفعول به مبتدا او مضاف اليه ځلور واړو کې لابدی ده، د اسميت نه او اسم عام دی چې حقيقةً وی او که تاويلاً وی، اسم تاويلی به هله شي چې ان مفتوحة الهمزه اوايږ ځکه دا ان ما بعد جمله گرځوی په تاويل د مفرد سره او که مکسورة الهمزه اوايو نو بيا د ما بعد نه مفرد نه جوړيږی، بلکه جمله په خپل حال پاتې کيږی او جمله فاعل او مفعول او مبتدا او مضاف اليه نه راځي،
سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په يَوْمُ يَنفَعُ الصَّادِقِينَ صِدْقُهُمْ سره دلته جمله مضاف اليه دی
جواب: مضاف اليه اسم وی بيا عام دی که حقيقتاً وی که تاويلاً وی دلته تاويلاً دی ای يوم نفع الصادقين صدقهم، (۵): او ان مفتوحة الهمزه وی چې واقع شي په موضع د مجرور کې نحو سررت من انك مجتهد، (۶): او معطوف علی احد المذکور نحو اذْكُرُوا نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَنِّي فَضَّلْتُكُمْ
(۷): او بدل من احد المذکور نحو قوله تعالی وَإِذْ يَعِدُكُمُ اللَّهُ إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ أَنَّهَا لَكُمْ **وقالو** او وائی عرب **لولا انك** په فتحه د همزې سره يعنی ان چې واقع شي وروسته د لولا امتناعيه نه نو مفتوحة الهمزه به ويلی شي وجوبا او مکسورة الهمزه لوستل ندی جائز،
سوال: مفتوحة الهمزه وجوبا به ولې ويلی شي؟ **جواب**: ځکه چې دا مقام د مفرد دی،
سوال: مقام د مفرد ولې دی؟ **جواب**: **لانه مبتدأ** ځکه چې ما بعد د لو لا امتنا عيه نه مبتدا وی او کون د مبتدا مفرد واجب دی او مبتدا به مفرد هله شي چې مفتوحة الهمزه يې اوائی او که مکسورة الهمزه شي نو وقوع د جمله مبتدا راځي او دا باطله ده، مثال لولا انك منطلق انطلقت،
ترکيب: لولا حرف امتناع ان سره د اسم او خبر نه په تاويل مفرد سره چې انطلاقك دی مبتداء ده او خبري حذف شوی دی وجوبا چې موجود دي د وجی د وجود د سد مسد او قرينی نه قرينه په نفس حذف استعمال د مفرد او قرينه په تعين د محذوف لولا دی، ځکه دا دلالت کوی په انتفاء د شي ثانی د وجی د وجود د اول نه او سد مسد اقامت د جواب دلولا دی چې انطلقت دی په مقام د خبر باندې،

او دغسى ان مفتوحة الهمزه لوستل واجب دي چې دا واقع شي وروسته د لولا تحضيضيه نه ځکه ان سره د مابعد نه معمول د هغه فعل دی چې واجب دی دخول د لولا تحضيضيه په هغې باندې نحو لولا انی معاذلك زعمت ای لولا انی معاذلك چې ان سره د اسم او خبر نه په تاويل د مفرد سره مفعول به دی د فعل مقدر لپاره او دا ما بعد زعمت د هغه لپاره مفسر دی او مفعول به نه راځي، مگر مفرد يعني کون د مفعول به مفرد واجب دی او مفرد به هله شي چې دا مفتوحة الهمزه شي. **ولو انك** او دغسى وائی عرب لوانك په فتحې د همزې سره يعنی ان چې واقع شي، وروسته دلو شرطيه نه نو ان مفتوحة الهمزه لوستل واجب دی، او ان مکسورة الهمزه ويل نه دی جائز ځکه دا مقام مقام د مفرد دی او مقام د مفرد کې ان مفتوحة الهمزه ويل واجب دی

سوال: دا مقام د مفرد ولې دی؟ **جواب: لانه فاعل** ځکه ما بعد د لو شرطيه فاعل وی د فعل محذوف لپاره او کون د فاعل مفرد واجب دی نحو لو انك قائم.

ترجمه: ان سره د اسم او خبر نه په تاويل د مفرد سره چې قيامك دی، فاعل د فعل مقدر دی چې وقع دی ای لو وقع قيامك **وان جاز التقدير ان جاز الامران.**

ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د مواضع د ان مکسورة الهمزه وجوبا او ان مفتوحة الهمزه وجوباً نه نو شروع يې وکړه، په هغه مواضع کې چې په هغې کې جواز د وجهينو دی، د وجې د کيدو د مقام نه محتمل د احتماليـن نو وي ويل وان جاز التقدير ان الخ که چرې جائز وو، په يو مقام کې تقدير د مفرد او تقدير د جمله دواړو **جاز الامران** جائز دی امران چې فتحه او کسره لوستل دی په دی همزه کې فتحه پدی اعتبار سره چې دا مفرد دی او کسره پدی اعتبار سره جائز ده، چې دا ان سره د اسم او خبر نه جمله ده، مثال لکه **من يکرمنی فانی اکرمه** مراد هر هغه ترکيب دی چې ان سره د ما بعد نه واقع شوی وی، وروسته د فاء جزائيه نه او جزا د شرط نه راځي مگر جمله ليکن دا واجب نده چې دا جزاء بجميع اجزائه مذکور وی، که ديته گوري چې دا جزا بجميع اجزائه مذکوره ده نو انی اکرمه ووايه په کسرې د همزې سره ځکه دا مقام مقام د جملې دی، او که ديته گورې چې جزاء بجميع اجزائه نده مذکور بلکه ان سره د اسم او د خبر نه خبر دی د مبتدا محذوف لپاره يا مبتدا ده او خبري محذوف دی او مبتدا او خبر نوی مگر مفرد وی من يکرمنی فانی اکرمه ووايه بفتح الهمزه ای من يکرمنی فاکرامی ثابت له بل مثال لکه د انيم بيتی شو، **اذا انه عبدالقفا واللهاذم** اول سر يې دا دی، وکنت اری زيدا کما قيل سيدا دا شعر د فرزدق دی، مقصدي هجوه د زيد ده اری صيغه د واحد متکلم فعل مضارع مجهول ده د اری يری اراءة نه متعدی دی مفاعيل ثلاثه ؤ ته چې مجهول شو، نو اوس متعدی دی مفعولينو ته او زيدا مفعول ثانی دی، د اری لپاره اوسيدا مفعول ثالث دی او کماقيل جمله معترضه ده،

ترجمه: زه هميشه وومه چې گمان می کوو پدی زيد باندې چې دی سردار دی لکه خلکو به ورته سيد ويلو ناگهانه چې گورم نو دا د څټ او د جامو بنده وو، يعنی لوی همت د دهٔ دا وو چې خوراك او څکاك وکړي، چې غټ شي څټ د ده يعنی دا سيد نه وو بلکه لئيم وو او ان چې واقع شي سره د اسم

او د خبر نه پس د اذا مفاجاتي نه نو هلته جواز د وجهينو دی (١) کسره (٢) فتحه ځکه د اذا مفاجاتي نه وروسته وقوع د جملی اسمیې واجبه نده چې دا جمله دی مذکور وی بجمیع اجزائه لهذا که دیته گوری چې دا بجمیع اجزاء مذکور ده نو ان په کسری د همزې سره ووایه او که د یته گوری چې ان سره د ما بعد نه مبتدا محذوف الخبر دی نو بیا ان مفتوحة الهمزه ووایه، ځکه دا واقع دی په موضع د مفرد کې ای اذا عبودية اللقفا واللهاذم ثابتة. **وشبهه** او دغسې جائز دی، مفتوحة الهمزه او مکسورة الهمزه لوستل د ان چې دا واقع شی په هغه تراکیبو کې چې هغه په شان د اذا انه عبد القفا الخ دی، مثال لکه اول ما اقول اني احمدالله دیکې جواز د وجهينو دی فتحه او کسره دواړه جائز دی ځکه که ته دا موصوله یا موصوفه گرځوی نو بیا دا عبارت دی د مقولی نه، نو انی به وائی بکسر الهمزه ځکه اول د مقولات نه جمله ده نه معنی مصدری چې حمد دی او که دا ما مصدري وگرځوي نو بیا ان مفتوحة الهمزه ووایه، ځکه اول دا قوال نه معنی مصدري ده چې حمد دی نه دغه جمله ځکه هغه د جنس مقول نه ده نه داقوالو نه او شبهه مجرور دی عطف دی په اذا انه عبدالقفا باندې نو د نحو د لاندی راغی فيكون المعنى: فتحه او کسره لوستل جائز دی په ان کې په مثل د عبدالقفا او په مثل د شبه د عبدالقفاء کې، **ولذلك** او ددې وجې نه چې ان مکسورة الهمزه نه ورانوی معنی د جملې لره نو شو اسم ددې منصوب په محل د رفع کې **جاز** جائز دی **العطف** عطف د یو اسم **على اسم المكسورة** په اسم د ان مکسورة الهمزه باندې بالرفع په رفع سره د دی جهت نه چې دا اسم د ان سرفوع دی محلا بیا برابره خبره ده، چې دا ان مکسورة الهمزه وی لفظاً لکه ان زيداً قائم وعمرو **او حكما** یا مکسورة الهمزه وی حکما لکه ان مفتوحة الهمزه چې واقع شی وروسته د افعال قلوب نه نو دا په حکم د ان مکسورة الهمزه کې دی، نحو علمت ان زيداً قائم وعمرو، عمرو مرفوع دی، ځکه عطف دی په محل د اسم د ان باندې ځکه دا په حکم د ان مکسورة الهمزه کې دی،

سوال: دا په حکم د ان کې ولې دی؟ **جواب**: لکه څنګه چې ان دا ما بعد جمله په خپل حال پاتې کوي دا رنګی دا ان چې واقع دی وروسته د افعال قلوب نه دا جمله هم په خپل حال باقی پاتې کوي، لانه واقع موقع المفعولين او دا به په مقام د مفعولينو باندې هله قائم شی، چې جمله وی او که مفرد شی نو بیا نه قائم کیږی، **دون المفتوحة** او ندی جائز عطف د اسم په رفع سره په اسم د ان مفتوحة الهمزه باندې ځکه د اسم د ان مفتوحة الهمزه لپاره محل د رفع نشته ځکه دا د جملی نه مفرد جوړه وی،

سوال: ان الله بری من المشرکين ورسوله کې دا رسوله په چا عطف دی که ته وائی چې دا عطف دی په اسم د ان باندې نو بیا لازمیږی فساد د معنی او مرفوع لوستل هم ندی صحیح بلکه رسوله ویل پکار وو او که ته وائی چې دا عطف دی په محل د اسم د ان باندې نو عطف په محل د اسم ان ندی جائز ځکه د دی لپاره محل د رفع نشته،

جواب: دا مرفوع دی ځکه عطف دی په محل د اسم د ان ځکه دا ان دلته په حکم د ان مکسورة الهمزه کې دی ځکه دا واقع دی وروسته د اذان نه او دا په معنی د اعلام دی چې فعل دی د افعال قلوبو نه

نو هر کله چې دا په حکم د ان مکسورة الهمزه کې شو نو د دی لپاره محل : رفع شته ځکه یې ورسوله ونیلی دی او ماتن بالرفع وویلو دې سره یې احتراز وکړو د بالنصب نه ځکه عطف د اسم په لفظ د اسم د ان مکسورة الهمزه او مفتوحة دواړو باندې جائز دی، بالاتفاق، **ویشترط** او شرط دی په عطف د یو اسم کې په اسم د ان مکسورة الهمزه باندې بالرفع **مضي الخبر** ذکر کول د متکلم خبر د ان لره مخکې د معطوف نه یعنی مخکې والی د خبر په معطوف باندې او تقدیم د خبر په معطوف باندې عام دی، چې لفظاً وی لکه ان زید اقائم وعمرو یا تقدیرا وی مثال لکه ان زید او عمرو قائم دلته قائم مقدم دی په عمرو باندې تقدیرا اگر که لفظا مؤخر دی ځکه دا خبر دی د ان لپاره او عمرو مبتدا ده او خبر د دی محذوف دی، نو تقدیر دارنګې شو ان زیدا قائم وعمرو قائم او دا مضیت د خبر په معطوف باندې لفظا یا تقدیرا شرط دی لپاره د دی چې لازم نه شی کون د شی واحد معمول د عاملینو مختلفینو لپاره یا لپاره د دې چې لازم نه شی توارد د عاملینو مختلفینو په معمول واحد باندې، **خلافاً للکوفیین** خلاف کړی دی د جمهور ونه په خلاف کولو سره داسې خلاف چې ثابت دی کوفیانو لپاره ځکه دا کوفیان نه شرط کوی، لپاره د صحت د دی عطف مضیت د خبر په معطوف باندې لفظاً او تقدیراً د وجې د عدم توارد د عاملینو مختلفینو نه په معمول واحد باندې د ذوی په مذهب باندې ځکه عندهم ان عمل کوی په اسم کې فقط نه په خبر کې او خبر مرفوع دی د وجی د عامل معنوی نه لهذا ان زیدا وعمرو ذاهبان دا تراکیب ممتنع دی، د بصریانو په نزد باندې د وجی د عدم وجود د شرط نه چې هغه مخکې والی د خبر دی په معطوف باندې لفظاً یا تقدیراً او جائز دی عندالکوفیین ځکه ذوی د صحت د عطف لپاره مخکې والی د خبر په معطوف باندی لفظاً یا تقدیراً شرط نه وائی او دا اختلاف د بصریانو او د کوفیانو اولی ندی بلکه ثانوی دی، یعنی دا اختلاف بنا دی په بل اختلاف باندې هغه دا دی، چې بصریان وائی چې ان اسم لره نصب ورکړی دی. او خبر لره یې رفع ورکړی ده لهذا دا ترکیب ندی جائز ځکه بیا لازمیږی کون د شیءِ واحد معمول د عاملینو مختلفینو لپاره ځکه دا ذاهبان د دې حیثیت نه چې دا خبر دی د ان، کیږي رافع د دې لپاره ان چې دا عامل لفظی دی او د دی حیثیت نه چې دا خبر واخلی د عمرو لپاره بیا، د کیږی رافع د دی لپاره ابتداء چې عامل معنوی دی نو لازم شو اجتماع د عاملینو مختلفینو چې یو ان دی او بل ابتدا دی پدی رفع د ذاهبان کې او دا باطل دی او کوفیان وائی (۱) چې ان عمل د نصب کړی دی په اسم کې او خبر کې یې عمل د رفع ندی کړی بلکه خبر مرفوع دی بالابتداء، لکه څنګه چې مخکې د دخول د ان نه مرفوع بالابتداء وو اوس ذاهبان چې خبر شی د عمرو او ان دواړو لپاره نو نه لازمیږی توارد د عاملینو په معمول واحد کې ځکه ذاهبان که خبر د ان لپاره وائی او که د عمرو لپاره یې وائی، خو عامل پکې عامل معنوی دی، (۲) او بل دلیل د کوفیانو لپاره دا قول د شاعر دی،

والا فاعلموا انّا وانتم بُغاة ما بَقینا فی شقاقِ

چه دلته عطف د انتم راغلی دی په اسم د ان باندې چې په حکم د ان مکسورة الهمزه کې دی بې د مخکې والی د خبر نه په معطوف باندې لفظاً او تقدیرا ځکه دا انتم مقدم دی په خبر چې بغاة دی، لفظاً حقیقةً (۳) دلیل قوله تعالی إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلنَّصَٰرَىٰ وَٱلصَّٰبِـِٔينَ دا والصابئون عطف دی په محل د اسم د ان باندې بې د مضیت د خبر نه (۴) دلیل د دوی دپاره قیاس دی په لالنفي الجنس باندې لکه لا رجل ولا امراة افضل منك، جائز دی بالاتفاق، دارنګه ان زیداً وعمرو ذاهبان هم جائز دی. بصریان د دی نه جواب کوی، چې بغاة خبر د ان دی او انتم مبتدا دی او خبر یې محذوف دی چې هغه بغاة دی مثل زید وعمرو قائم او جواب د استدلال بالاية نه دا دی (۱) په دې کې تقدیم تاخیر دی ای ان الذین الخ، والصابئون کذلك (۲) من آمن بالله خبر د والصابئون دی او خبر د ان حذف شوی دی مثل زید عمرو قائم (۳) دا عطف دی په ضمیر مرفوع متصل د هادوا باندې چې دا په معنی د تابوا سره دی، دا الزام دی په دوی باندې ورنه دا ضعیف دی عند البصریین واما عند الکوفیین فلا او جواب د قیاس نه دا دی چې (۱) لاعامل نه دی په خبر کې (۲) او که ومنم چې عامل دی په خبر کې دا په لا کې جائز دی نه په ان کې ځکه لا مع الاسم په منزله د کلمه واحده ګرځیدلې ده ګویا کې په خبر کې عاملان نه دي جمع شوي بخلاف ان. فافهم

(۳) او مبرد او کسائی پدی مقام کې یوه خبره کړی ده، چې دا اسم د ان به خالی نوی یا به معرب وی او یا به مبنی وی که معرب وو نو بیا د بصریانو ملګری یو چې شرط د صحت د عطف لپاره مخکې والی د خبر دی په معطوف باندې لفظاً یا تقدیرا او که دا اسم د ان مبنی وو نو بیا د کوفیانو ملګری یو چې عطف د اسم مرفوع په اسم د ان باندې جائز دی بې د مخکې والی د خبر نه په معطوف باندې لفظاً یا تقدیرا ځکه هر کله چې ان په قریب کې عمل ونه کړو، نو په بعید کې په طریق اولی سره عمل نه شی کولی نو توارد نه راځي او د مبرد او کسائي په نیز باندې ان زیدا و عمرو ذاهبان ندی جائز او انك وزید ذاهبان جائز دی نو مصنف رد وکړو په دوی باندې په **ولا اثر لکونه مبنیا** سره چې نشته دی جنس اثر د وجی د کیدو د اسم د ان نه مبنی په جواز د عطف کې په محل د اسم د ان باندې بی د مضیت د خبر نه عندالجمهور لکه څنګه چې ان زیداً و عمرو ذاهبان ممتنع دی نو دارنګې انك وزید ذاهبان هم ممتنع دی د وجی د اشتراك دی دواړو ترکیبونو نه په علت دا متناع کې **خلافا للمبرد** او خلاف کړی دی د جمهورونه په خلاف کولو سره داسې خلاف چې ثابت دی مبرد او کسائي لپاره په مثل د **انك وزید ذاهبان** کې پدی شان سره چې مبرد او کسائي عطف د اسم په محل د اسم د ان باندې بې د مخکې والی د خبر نه په معطوف باندې لفظاً او تقدیرا په مثل د دی ترکیب کې جائز وائی او دلیل د هغوی دا دی چې هر کله عمل د ان ظاهر نه شو په اسم د ان کې د وجې د بنا د اسم د ان نه نو دی ان عمل ونه کړو، په دی خبر کې هم نو توارد د عاملینو په معمول واحد باندې نه راځي.

جواب: د طرفه د جمهورو نه دا دی لکه څنګه چې ان زیداً و عمرو ذاهبان ممتنع دی د وجې د توارد نه چې تاسو یې هم منئ نو دغسې انك وزید ذاهبان هم ممتنع دی د وجې د توارد د عاملینو نه په

معمول واحد باندې څکه ان عمل کړی دی په اسم کې د نصب محلا بنا برا سميت د وجې د کيدو ددې اسم نه مبنی نو اوس ذاهبان چې خبر د ان لپاره وائی نو عامل پکې ان شو او که د زيد لپاره يې وائی نو عامل پکې معنوی د ی نو توار د راغی او دا ممتنع دی، **ولكن** او لفظ د لکن د حروف مشبه **بالفعل نه كذلك** په شان د ان مکسورة الهمزه دی په جواز د عطف کې په محل د اسم د دی باندې نحو ما خرج زيد لکن بکرا خارج وعمرو څکه دا لکن راځی، د استدراك لپاره او دا منافی ندی د معنی اصلی ددې جملی سره چې دا جمله په خپل حال باقي پاتې شي، لکه څنګه چې ددې معنی اصلی په منافی نه وو تاکيد پس جائز دی اعتبار د محل د اسم د لکن او عطف د يو شی په محل د هغې باندې په رفع سره او جائز ندی عطف د يو شی په رفع سره په اسم د باقی حروف مشبه بالفعل باندې چې **هغه ان كان ليت لعل** دی د وجې د عدم بقاد معنی اصلی نه په باقی حروفو کې پدی جمله کې لهذا ندی معتبر محل د اسم د باقی حروف مشبه بالفعل لپاره، **ولذلك** او ددې وجی نه چې ان مکسورة الهمزه معنی د جملی نه ورانوی بلکه باقی يې پاتې کوی سره د تاکيد نه او ان يې ورانوی، **دخلت اللام** داخليږی لام چې وضع شوی دی د تاکيد د معنی د جملی لپاره **مع المكسورة** سره د ان مکسورة الهمزه نه څکه دا هم د تاکيد لپاره وضع شوی دی، **دونها** نه په معنی د ان مفتوحة الهمزه کې څکه دا په معنی د مفرد سره دی نه جمع کيږی د دې سره هغه شی چې واضع وضع کړی دی د تاکيد د معنی د جملی لپاره چې لام ابتدائيه تاکيديه دی، يعنی لام ابتدائيه تاکيديه به په خبر د ان مکسورة الهمزه کې راځي او مفتوحة الهمزه کې نه راځي، څکه دا واضع وضع کړی دی د تاکيد د نسبت لپاره او نسبت په ان کې باقی دی او په آن کې باقی ندی، **على الخبر** او لام ابتدائيه تاکيديه سره د ان نه چې راځي نو داخليږی په خبر د ان باندې نحوان زيداً لقائم نه په اسم د ان لپاره د دی چې لازم نشی اجتماع او توالی د حرفينو د تاکيد چې يو ان مکسورة الهمزه دی او بل لام ابتدائيه تاکيديه دی، او مختاره کړو دوی تقديم د ان نه د لام لپاره د ترجيح د عامل په غير عامل باندې څکه ان د حروف عامله ؤ نه دی، او لام د حروف غير عامله ؤ نه دی، **او الاسم** يا داخليږی په اسم د ان باندې **اذا فصل بينه وبينها** که چری فصل راغلی وو په مينځ د دی اسم او دان مکسورة الهمزه کې په خبر سره نحو قوله تعالى وان من شيعته لابراهيم **او على ما بينها** يا داخل کيږی په هغه شی باندې چې واقع وی بين الاسم والخبر هغه عام دی چې معمول د خبروی نحو ان زيداً لطعامك اكل او يا ضمير فصل وی نحو قوله تعالى ان هذا لهوالقصص الحق او لام ابتدائيه تاکيديه په خبر د ان کې راځي پدی شرط سره چې دا مثبت وو نه منفی فلايقال ان زيدا لما يقوم،

(۲) پدی شرط چې دا خبر فعل ماضی متصرف خالی د قدنه نه وه، فلا يقال ان زيد لقام او که دا خبر د ان فعل ماضی وو غير متصرف يا فعل ماضی متصرف وو سره د قد نه بيا لام ابتدائيه په خبر د ان کې راځي نحوان زيداً لنعم الرجل وان زيداً لقد قام **وفى لكن ضعيف** او دخول د لام ابتدائيه تاکيديه په اسم د لکن يا په خبر د لکن باندې يا په هغه شی چې واقع وی بين الاسم والخبر ضعيف

دی، نفس جائز څکه دی چې په دخول د لکن سره دا جمله په خپل حال باندې باقي پاتې ده، يعنې مفرد ندی جوړ شوی او ضعيف دی د وجی د عدم توافق او تناسب د لام ابتدائيه تاکيديه نه د لکن سره څکه لام ابتدائيه د تاکيد لپاره راځي، او لکن د تاکيد لپاره نه راځي په خلاف د ان نه چې د هغې سره توافق او تناسب د لام شته دی، چې دواړه د تاکيد لپاره راځي مثال د لام ابتدائيه تاکيديه چې راغلی دی په لکن کې لکه دا قول د شاعر شو، ولکنني من حبها لعميد،

وتخفف المكسورة ربط هر کله چې فارغ شو د بيان د لغت اصلی د ان او ان نه نو شروع يې وکړه په لغت فرعی د ان او ان کې،

ترجمه: وتخفف مخفف کولی شی ان مکسورة الهمزه په حذف د نون متحرك سره د وجی د وقوع د ده نه په طرف کې د وجې د ثقل د تضعيف او د کثرت استعمال نه **فيلزمها اللام** بيا لازم دی ددې ان مکسورة الهمزه سره پس د تخفيف نه **اللام** لام التاکيد په خبر د ده کې **مطلقا عند المصنف** برابره خبره ده، چې عمل يې کړی وی او که نوی هر چې دی په صورة د ابطال د عمل کې نو دا لام التاکيد لازم دی په خبر د دی کې لپاره د دی چې لازم نه شی التباس د ان مخفف د ان نافيه سره او هر چې دی په صورة د اعمال کې بيا هم لام التاکيد لازم دی طرداً للباب اګر چې التباس نه راځي، د ان مخفف من المثقل د ان نافيه سره، (۲) يا په صورت د اعمال کې لام الابتداء لازم دی د ان سره څکه اکثر د اسماؤ نه اعراب لفظی نه ظاهريږی په هغې باندې د وجی د کيدو د اعراب د هغه نه تقديری يا محلی او خلاف ثابت دی سيبويه لره چې هغه وائی دا لام لازم دی په صورة د ابطال د عمل کې او په صورة د عمل کې لازم نه دی لحصول الفرق بالعمل بين النافية والمخففة،

سوال: نه وائی چې ان مخفف من المثقل سره لام التاکيد لازم دی خبر کې دا قاعده ستا منقوضه شوه په إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ سره اعطينا او خلقنا خبر دی ان مخفف او لام التاکيد ندی راغلی؟

جواب: مجيئت د لام التاکيد په خبر دان کې مشروط دی په شروط ثلاثه ؤ سره،

(۱) يو دا چې خبر به مثبت وی نه منفی څکه لام واضع وضع کړی دی د اثبات لپاره نه د نفی لپاره.

(۲) دا خبر به جمله شرطيه نه وی څکه لام راځي د تاکيد لپاره او شرط دلالت کوی په شك او ترد د باندې او تاکيد منافی دی د شك او تردد سره، (۳) خبر به فعل ماضی متصرف خالی د قد نه نوی پس اعتراض وارد نه شو په انا اعطيناك الکوثر او انا کل شي خلقناه بقدر باندې څکه دلته خبر فعل ماضی متصرف خالی د قد نه راغلی دی، **ويجوز الغاءها** جائز دی ابطال د عمل د ان مخفف من المثقل غالبا په استعمال د کلام د عرب کې د وجی د فوات د بعض طرقو د مشابهت د دی ان د فعل سره لکه فتحه دا خير او ثلاثيت شو او اعمال جائز دی دی لره په طريقې د قلت سره څکه دا ان مخفف من المثقل دی محمول دی، په مثقل باندې يا ددې وجی نه چې دا عمل کوی د وجی د مشابهت نه د فعل سره او د فعل نه چې يؤ شی حذف شی نو عمل کوی مثال د عمل لفظی د ان مخفف من المثقل نحو قوله تعالى ان كلا لما ليوفينهم **ويجوز دخولها على فعل** او جائز دی دخول د ان مخفف من المثقل

على فعل په فعل باندې **من افعال المبتدا** چې هغه دواخل او نواسخ د مبتدا او خبر دی لکه افعال قلوب افعال ناقصه افعال مقاربه شو نحو قوله تعالى وَإِن كَانَتْ لَكَبِيرَةً (كانت فعل ناقص) وَإِن نَّظُنُّكَ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ ، (نظنك فعل قلب) ، وَإِن وَجَدْنَا أَكْثَرَهُمْ لَفَاسِقِينَ (فعل مقاربه) وَإِن يَكَادُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَيُزْلِقُونَكَ بِأَبْصَارِهِمْ ، ځکه ان مخفف من الثقل مُحکی د تخفيف نه واجب الدخول وو په جمله اسميه باندې لو دخول يې په جمله فعليه باندې ممتنع وو ، پس د تحفيف نه جائز دی دخول د دی په هغه فعل باندې چې د دواخلو د مبتدا او خبرنه وی رعاية للاصل بحسب الامكان **خلافا للكوفيين** خلاف ثابت دی کوفيانو لره په تعميم د دخول کې او په تخصيص کې په د واخلو ده مبتدا او خبر نه په نفس دخول على الفعل کې ځکه دا متفق عليه دی يعنی کوفيان او بصريان خلاف په نفس دخول د ان مخفف کې ندی بلکه بول متفق دی په دی خبره چې دا داخليږی په فعل باندې پس د تخفيف نه بلکه خلاف په تعميم او عا.م تخصيص کې دی پدی شان سره چې کوفيان قايل دی په تعميم باندې او په عدم تخصيص او بصريان قايل دی په تخصيص او عدم تعميم باندې دليل د کوفيانو دا قول د شاعر دی .

بالله ربك ان قتلت لمسلما
وجبت عليك عقوبة المتعمد

دلته ان مخفف من المثقل دی او داخل شوی دی په قتلت فعل باندې او دا قتلت فعل دی ، او د نواسخ او د دواخل د مبتدا او د خبر نه ندی نو دا دليل دی پدی خبره چې دا په مطلق فعل باندې داخليږی خوا د واخلو د مبتدا او خبر نه وی او که نه وي او بصريان جواب کوی چې د اشاذ دی او شاذ سره نه قاعده جوړيږی او نه ورانيږی .

وتخفف المفتوحة: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د ان مخفف من المثقل نه پس شروع يې وکړه په بيان د آن مخفف من المثقل کې فقال **وتخفف** تخفيف ګولی شی د ان مفتوحة الهمزه په شان د ان مکسورة الهمزه باندې بحذف نو نها المتحركة لانها اخر لكثرة التضعيف ولكثرت الاستعمال او والمفتوحة صفت دی د موصوف مقدر لپاره چې ان دی لکه چې المکسورة صفت وو د موصوف مقدر لپاره چې ان وو

سوال: ان مکسورة الهمزه پس د تخفيف نه عمل کوو احيانا نو ان مفتوحة الهمزه پس د تخفيف نه عمل کوی که نه کوی؟ **جواب: فتعمل فى ضمير شان مقدر** عمل ګوی ان مفتوحة الهمزه پس د تخفيف نه وجوبا په ضمير شان کې داسې ضمير شان چې مقدر دی ،

سوال: ان مفتوحة الهمزه پس د تخفيف نه عمل په ضمير شان کې ولې کوی ،

جواب لپاره د دی چې لازم نه شی مزيت د فرع په اصل باندې ځکه ان مفتوحة الهمزه اصل دی او ان مکسورة الهمزه فرع ده ځکه مشابهت د آن د فعل سره زيات دی او د ان مشابهت کم دی د فعل سره او د ان عمل پس د تخفيف نه موندلی شوی دی نحوقوله تعالى وَإِنَّ كُلًّا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ او دان عمل پس د تخفيف نه ندی موندلی شوی ، پس مقدر کړو نحويانو ضمير شان د ان مخفف من المثقل نه وروسته لپاره د دی چې دا عمل وکړی په هغه ضمير شان کې چې مزيت د فرع په اصل باندې رانه شی ،

سوال مزيت د فرع په اصل باندې خو اوس هم راغلی دی څکه چې ان پس د تحفيف نه عمل لفظی کوی او ان عمل تقديری کوی او عمل لفظی غوره دی د تقديری نه؟

جواب عمل په مقدر کې دائما اولی دی د عمل نه په ملفوظ کې احيانا نو انحطاط د فرع د اصل نه راغی او مزيت رانغی، **فتدخل على الجمل** او دا ان مفتوحة الهمزه پس د تخفيف نه داخليږی په جملو خبريو باندې مطلقا برابره خبره ده چې جمله خبريه اسميه وی او که فعليه وی بيا فعليه عامه ده چې دا فعل د دواخل د مبتدا او د خبر نه وی او که نوی خبريه سره احتراز راغلو د انشائيه نه څکه دا په جمله انشائيه باندې نه داخليږی څکه جمله انشائيه صالحه نده ددې خبری چې دا مفسر شی د ضمير شان مقدر او محذوف لپاره مثال د ان مخفف من المثقل چې داخل شوی دی په جمله اسميه باندې نحو قوله تعالى وَءَاخِرُ دَعْوَىٰهُمْ أَنِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ مثال د جملی فعليی نحو قوله تعالى علم ان سيكون وشذ اعمالها في غيره او شاذ دی اعمال د ان مفتوحة الهمزه پس د تخفيف نه په غير د ضمير شان کې حکايت کړی دی، بعض اهل لغتو د اعمال د ان مفتوحة الهمزه پس د تخفيف نه په مضمر غير ضمير الشان کې په سعة د کلام کې نحواظن انك قائماو اعمال د ان مخفف من المثقل په مضمر غير ضمير الشان کې راځي د وجی د ضرورت شعری نه کمافی قول الشاعر

فلوانك فی يوم الرخاء سا لتنی ... فراقك لم ابخل وانت صديقة

ويلزمها او لازم دی د ان مفتوحة الهمزه سره پس د تخفيف نه مع الفعل په حال کون دده کې چې متصل وی فعل متصرف سره **السين** سين نحو علم ان سيكون منكم **او سوف** نحوقول الشاعر،

واعلم فعلم المرا ينفعه ... ان سوف يا تی کل ماقدرا

او قد نحو قوله تعالى ليعلم ان قد ابلغوا رسالات ربهم او دا امور ثلاثه لازم دی د ان سره لپاره د فرق په مابين د ان مخفف من المثقل او ان ناصبه مصدريه کې څکه سين او سوف چې داخل شی په مضارع باندې نوان ناصبه وربانديې نه داخليږی، څکه هغه راځي د طمع او د رجاء لپاره او سين او سوف راځي، د استقبال لپاره سره د تاکيد نه او په مابين د دی کې منافات دی او ان ناصبه د قد سره هم نه راځي څکه قد راځي د تحقيق لپاره او ان راځي د رجاء لپاره او په مابين د دی کې منافات دی،

او حرف النفی يا لازم دی د ان مخفف سره حرف النفی نحو قوله تعالى أَفَلَا يَرَوْنَ، أَلَّا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ أَلَّن نَّجْمَعَ عِظَامَهُۥ أَن لَّمْ يَرَهُۥٓ أَحَدٌ او دارنګې لازم دی د دی ان مخفف من المثقل سره لو نحو قوله تعالى وَأَلَّوِ ٱسْتَقَٰمُوا۟ عَلَى ٱلطَّرِيقَةِ او دا مصنف ندی ذکر کړی د وجی د قلت نه،

سوال حرف نفی ولې لازم ده د ان مخفف من المثقل سره؟ **جواب** ليکون کالعوض من النون المحذوفة نه لپاره د فرق بين الناصبة والمخففة څکه حرف نفی لکه څنګه چې د ان مخفف سره راځي، نو دارنګې د ان ناصبه مصدريه سره هم راځي نحو لئلا يعلم اهل الکتاب،

سوال ته وائی چې ان مخفف من المثقل چې داخل شی په جمله فعليه نو لازم دی يو امر د امور خمسه ؤ نه دا قاعده ستا منقوضه شوه پدی قول د الله سره وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَٰنِ إِلَّا مَا سَعَىٰ دلته ان داخل شوی دی، په فعل

باندې اويو امر د امور خمسه ۀ نه ندی راغلی؟ **جواب:** الفعل کې الف لام عهدی خارجی دی او مراد د دی په فعل متصرف دی او ليس فعل غير متصرف دی او دا چې داخل شی په افعال غير متصرفه ۀ باندې نو يو امر لازم ندی د وجی د عدم التباس نه ځکه چې ان ناصبه په فعل غير متصرف باندې نه داخليږی،

سوال: نه وائی چې الفعل کې الف لام عهدی خارجی دی او مراد د فعل نه فعل متصرف دی، دا خبره ستا منقوضه شوه پدی قول د الله باندې ان غضب الله عليهم على قراة دلته ان مخفف من المثقل داخل دی په فعل متصرف باندې اويو امر د امور خمسه ۀ نه ندی راغلی،

جواب: الفعل کې الف لام عهدی خارجی دی مراد هغه فعل دی چې هغه په دعا کې نوی مستعمل شوی، او که دعا کې مستعمل شوی وو، نو بيا يو امر د امور خمسه ۀ نه لازم ندی، **وكان للتشبيه ربط):** هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د ان او ان نه نو شروع يې وکړه په بيان د کان کې چې دا دريم حرف دی د حروف مشبه بالفعل نه نو وي ويل و کان للتشبيه او کان يې ذکر کړو وروسته د ان او ان نه د وجی د اشتراك د کان نه د ان او ان سره په تخفيف کې،

سوال: کان لفظ بسيط دی که مرکب دی، **جواب:** پديکې دوه مذهبه دی.

(١): مذهب د سيبويه، (٢): خليل سيبويه وائی چې کان بسيط دی يعنی کلمه موضوعه براسها ده واضع دغسی وضع کړی ده (١): حملاً على اخواتها چې هغه ان ان اوليت او لعل دی،

(٢): ځکه دا حرف دی او اصل په حروف کې عدم ترکيب دی او خليل وائی دا مرکب دی د کاف تشبيهی او د ان مکسورة الهمزه نه چې کان زيدا اسد اصل کې ان زيد کالاسد وو، بيا دا کاف مقدم کړی شو لپاره د دی چې دلالت وکړی په انشاء د تشبيه باندې د اول وهلت نه او کسره د همزی د ان په فتحی سره بدل کړی شوه، ځکه دا کاف اصل کې جاره وو اوس اګر چې خارج شوی دی د حکم د جاره نه د وجی د ګرځيدو د ده نه جز د کلمه او کاف جاره داخليږی په مفرد باندې او دوی رعايت د صورت وکړه نو فتحه يې ورکړه همزی د ان لره، اګر چې دا بمعنی ان مکسورة الهمزه دی نو کان زيدا اسد شو، **للتشبيه** دا وضع کړی شوی دی د تشبيه لپاره پدی شان سره چې اسم خپل ګرځوی مشبه به د خبر خپل سره مثال لکه کان زيدن الاسد شو چې زيد مشبه او اسد مشبه به دی او کاف تشبيهی ګرځوی مدخول خپل مشبه به د غير نحو زيد کالاسد،

سوال: خبر د کان لپاره چې مشتقی راشی نو معنی د تشبيه نه صحيح کيږی نحو کان زيدا قائم ځکه دا خبر چې مشتقی وی دا متحد وی د اسم سره مصداقا او تشبيه تقاضه د مغائرت کوی، په مشبه او مشبه به کې او دلته مغائرت نشته عينيت او اتحاد دی لهذا بعض نحويان وائی چې کان زيدا قائم کې کان د ظن لپاره دی نه د تشبيه لپاره؟ **جواب:** خبر د کان چې مشتقی راشی نو دا به صفت ګرځوی د موصوف محذوفه لپاره نو بيا تشبيه صحيح کيږی، نو د کان زيد قائم معنی دا ده چې کان زيدا رجل قائم، **وتخفف** او تخفيف کولی شی په کان کې د وجی د ثقل د تضعيف او د کثرت استعمال نه فتلغی

بیا لغوه کولی شی عمل د کان پس د تخفیف نه علی الافصح په استعمال افصح باندې د وجې د خروج د کان نه د مشابهت د فعل نه په فوات د فتحې دا خیر سره مثال لکه دا قول د شاعر شو،

کان ثدیاه حقان
ونهر مشرق اللون

دا کان مخفف دی د کاَن نه او پدی مفعول کې یې عمل ندی کړی چې ثدیاه مرفوع بالالف دی بنابر ابتدائیت او حقان ورله خبر دی چې دا تثنیه د حقة ده او تاء التانیث پکې حذف شویده په تثنیه کې د وجې د ضرورت شعری نه او که نه عمل ورکړی کان مخفف من المثقل لره په استعمال غیرافصح باندې نو کان ثدیه حقان به اوائی، او په صورت د الغاء کې دا کان محتمل د احتمالینو دی،

(۱) یو احتمال دا دی چې دیکې ضمیر مقدر او محذوف دی هغه اسم دکان په شان دان مخفف من المثقل او دا احتمال هم شته چې ضمیر شاَن مقدر ندی د وجې د عدم داعی د تقدیر د ضمیر شان نه په شان د ان مخفف من المثقل او د کان باقی معانی بیان شوی دی په عنوان د حروف مشبه بالفعل کې، **ولکن** بل د حروف مشبه بالفعل نه لکن دی او دا یې ذکر کړو وروسته د کان نه د وجې د اشتراك ددې دواړونه په تخفیف کې او کان یې مخکې کړو د لکن نه په ذکر کې خکه کان راځې په ابتداء د کلام کې او لکن راځي په مینځ د کلامینو کې ځکه کان مخکی ذکر شو او لکن ذکر شو د کان اود لیت په مینځ کې،

سوال: لکن لفظ بسیط دی که مرکب دی؟ **جواب**: دیکې مذهبین دی په شان د کان باندې، (۱) بصریین، (۲) کوفیین، بصریین وائی چې دا لفظ مفرد دی او بسیط دی یعنی کلمه موضوعه براسها ده، واضع دغسی وضع کړی ده. (۱): حملا علی اخواتها، (۲): دا حرف دی او اصل په حروفو کې عدم ترکیب دی، او کوفیاَن وائی چې دا لفظ مرکب دی د لای نافیه او د ان مکسورة الهمزه نه چې مصدر دی په کاف زائده سره اصل کې، لاکان وو بیا کسره د همزې نقل شوه کاف ته پس د سلب د حرکت د کاف نه او همزه حذف شوه نو لکن شو، دا کلمه د لافائده کوی چې دا ما بعد ندی په شان د ما قبل بلکه دا مابعد مخالف دی، د ما قبل نه نفیاو اثباتا او دا ان دلالت کوی په تحقق د مضمون د جمله باندې **للاستدراك** د الکن وضع شوی دی د استدراك دپاره یعنی لکن واضع وضع کړی دی لپاره د دفع د توهم چې نا شی وی د کلام سابق نه مثال لکه کله چې ته وائی چې ما زید شجاع نو متوهم توهم وکړه، چې دا زید به سخی هم نوی نو ته دغه توهم لرې کړې، پدی قول سره چې لکنه کریم د دی معنی د استدراك نه دا معلومه شوه چې د لکن نه مخکې به بله جمله وی، ځکه مصنف اوئل **تتوسط بین کلامین متغائرین معنی**، او واقع کیږی دا کلمه د لکن د دوه کلامینو په مینځ کې داسې کلامین چې متغائرین وی د یو بل نه نفیا واثباتا پدی شان سره چې یو به مثبت وی او بل به منفی وی، معنی په تغائر معنوی سره او برابره خبره ده چې تغائر لفظی پکې وی او که نوی معنی منصوب دی بنابر مفعول مطلق د متغائرین لپاره په اعتبار د موصوف محذوف سره چې تغائرا دی او دا محمول دی په موصوف محذوف باندې په الحاق د یا نسبتیه سره مثال د لکن چې واقع دی بین

الكلامين چې هغه متغائرين دی لفظا او معنی كقولك جاءنی زيد ولكن عمرالم يجئ او مثال د لكن چې واقع وی بين الكلامين چې هغه متغائرين دی معنی نه لفظاً كقولك زيد حاضر لكن عمرا غائب دلته لكن واقع بين الكلامين دی. او دا كلامين متغائرين دی معنی فقط چې زيد حاضر مثبت دی او عمرو غائب منفی دی معنی او لفظ كې دواړه مثبت دی بل مثال لكه وَلَوْ أَرَىٰكَهُمْ كَثِيرًا لَّفَشِلْتُمْ وَلَتَنَٰزَعْتُمْ فِى ٱلْأَمْرِ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ سَلَّمَ ای لكن الله لم يراكم كثيرا **وتخفف** او تخفيف كولی شی د لكن د وجی د ثقل د تضعيف او د كثرت استعمال نه فتلغی بيا دا ملغی دی د عمل نه عند الجمهور، (١) وجی د انتفاء د علت د عمل نه چې هغه مشابهت دی د فعل سره په فتحه د اخير كې او په ادغام كې، (٢) دا مشابه دی د لكن عاطفه سره لفظاً او معنی او هغه خو عمل نه كوی نو دا هم عمل نه كوی، خكه مشبه حكم د مشبه به اخلی خلافا ليونس والاخفش خكه هغوی جائز كړی دی اعمال د لكن پس د تخفيف نه قياسا علی اخواتها ليكن شارح رضی ويلی دی چې لاعرف له شاهد **او يجوز معها** او جائز دی د دی لكن سره برابره خبره چې مشدد وی او كه مخفف وی **الواو** واو نحو قوله تعالی وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَٰنُ وَلَٰكِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ كَفَرُوا۟ او پدی واو كې دوه احتماله دی،

(١) يا عاطفه دی چې راغلی دی د عطف الجمله علی الجمله لپاره او يا اعتراضيه دی چې راغلی دی په سر د جمله معترضه كې او دا جمله معترضه راغلی ده د دفع د توهم لپاره او شارح رضی ويلی دی چې كون د دی واو اعتراضيه اظهر دی د كون د واو عاطفه نه خكه واو عاطفه د جمع لپاره راځي، او مقصود د متكلم جاءنی زيد لكن عمرالم يجئنی كې افاده ده سامع او مخاطب ته چې دا كلامين متغائرين واقع دی او متحقق دی په نفس الامر كې نه جمع بين الحكمين،

سوال: جمله معترضه راځي په مينځ د كلام كې نه په اخير د كلام كې او د اخو په اخير د كلام كې راغلی ده دويم: جمله معترضه د دفع د توهم لپاره نه راځي او د اخو د دفع د توهم لپاره راغلی ده؟

جواب: دا قاعده كليه نده بلكه قاعده اكثريه ده پدی شان سره چې غالبا جمله معترضه په مينځ كې راځي او كله كله په اخير كې هم راځي او غالبا د دفع د توهم لپاره نه راځي او كله كله راځي لكه دلته، **وليت للتمنی بل** د حروف مشبه بالفعل نه ليت دی، دا وضع كړی شوی دی د تمنی لپاره چې هغه طلب د حصول د شی دی په سبيلی د محبت سره او دا ليت داخليږی په ممكن غير متوقع باندې نحو ليت زيدا قائم او په غير ممكن باندې نحو ليت الشباب يعود **واجاز الفراء** او جائز كړی دی فراء **ليت زيدا قائما** په نصب د معمولينو سره خكه دا ليت په معنی دا تمنی سره دی او متعدی دی مفعولينو ته زيداً مفعول اول او قائما مفعول ثانی او كسائي وائی چې ليت زيدا قائما كې قائما منصوب دی، خكه خبر دی د كان محذوفه لپاره ای ليت زيدا كان قائما بيا جمله خبر د ليت دی دليل د دواړو لپاره دا قول د شاعر دی،

يا ليت ايام الصباء رواجعا — **او كنت فی واد العقيق رواتعا**

چې دی شاعر د لیت نه وروسته ایام الصبا او رواجعا دواړه منصوب لوستلی دی، نو فراء وائی چې لیت بمعنی اتمنی دی ای اتمنی ایام الصباء رواجعا او کسائي وائی چې دا خبر د کان دی ای لیت ایام الصباء کانت رواجعا، (۳) او محققین نحویان وائی رواجعامنصوب دی، خکه حال دی د ضمیر مستتر د خبر محذوفه دلیت نه ای لیت ایام الصباء لنا کائنة حال کونها راجعة او دغسی لیت زیدا قائما کې قائما منصوب دی بنابر حالیت د ضمیر مستتر د خبر د لیت نه فیکون التقدیر لیت زیدا موجود قائما یا لیت زیدا لنا کائن قائما **ولعل** بل حرف د حروف مشبه بالفعل نه لعل دی **للترجی** دا راځي د ترجی لپاره چې هغه طلب د حصول د شئ دی په طریقه د محبت سره که هغه شی محبوب وو نحو قوله تعالی لعلکم تفلحون او طلب د حصول د شئ دی په طریقه د طمع او رجاء سره که هغه شی وو مکروه او مخوف نحو لعل الساعة قریب، **وشذ الجر بها** او شاذ دی جر ورکول مدخول لره **بها** په دې کلمه د لعل سره د وجې د ګرخولو د لعل نه د حروف جاره ؤ نه او دا لعل راغلی دی د حروف جاره ؤنه په لغت د عقیلیه باندې لکه چې متی راغلی دی د حروف جاره ؤنه په لغت د هذیل باندې او سیرافی د مجرور بلعل لپاره یو شعر ویلی دی،

وداع دعانا من یجیب الی الندی　　فلم یستجبه عند ذاک مجیب

فقلت ادع اخری وارفع الصوت دعوة　　لعل ابی المغوار منك قریب

چې دا اب یو اسم دی د اسماء ستو مکبره ؤ نه چې مضاف شی غیر د یاء د متکلم ته نو حالت رفعی کې واو سره راځي او نصبی کې الف سره او جری کښې په یاء سره راځي دلته په یا سره راغلی دی خکه دا لعل د حروف جاره ؤنه دی او پدیکې یې عمل د جر کړی دی او جمهور وائی چې لعل د حروف جاره ؤنه نه راځي، او د دی شعر نه جواب کوی چې ابی یا مجرور بالیاء لوستلی دی یعنی په یاء سره راغلی دی حکایة چې بل خای مجرور بالیاء راغلی وو د هغې نه یې حکایت کړی دی، (۲) یا دا مشهور وو په ابی المغوار سره او په ابوالمغوار سره چا نه پیژندلو نو د شهرت د وجې نه واجب دی حکایت په احوال ثلاثه ؤ کې په یاء سره، (۳) د اشاذ دی،

سوال: د لیت او لعل په مینځ کې څه فرق دی؟ **جواب:** په دیکې پنځه فرقونه دی: (۱) د لیت نه وروسته دواړه اسمین منصوب راځي بخلاف لعل، (۲) د لعل نه وروسته اسم مجرور راځي بخلاف لیت، (۳) ضمیر د متکلم چې اسم د لیت واقع شی نو مخکی د هغې نه نون وقایه راوړل اولی دی نحو قوله تعالی یٰلَیْتَنِیْ کُنْتُ تُرٰبًا بخلاف لعل چې هلته بالعکس دی، (۴) لیت عام دی ممکنات او ممتنعات دواړو کې راځي او لعل په ممکنات کې راځي، فقط فیقال لیت الشباب یعود ولایقال لعل الشباب یعود، (۵) لیت مستعملیږي ممکن غیر متوقع کې او لعل مستعملیږي په ممکن متوقع کې،

سوال: دا خبره ستا منقوضه شوه په لَّعَلِّیْٓ اَبْلُغُ الْاَسْبٰبَ ۔ اَسْبٰبَ السَّمٰوٰتِ فَاَطَّلِعَ سره دلته لعل په غیر ممکن کی مستعمل شوی دی؟ **جواب:** دلته لعل بمعنی لیت دی لهذا وروسته اطلع کې د فا نه وروسته مضارع منصوب راغلی ده، بتقدیر ان خکه د فاء نه وروسته مضارع منصوبه راځي بتقدیر ان وسته د تمنی نه نهٔ د ترجی نه،

الحروف العاطفة

ربط: هر كله چي فارغ شو مصنف د حروف مشبه بالفعل نه نو شروع يې وكړه په حروف عاطفه ؤ كي او هر كله چي حروف عاطفه كثير وو د نورو حروفو غير عامله ؤنه نو دا يې مقدم كړه، لان العزة للتكاثر نو وي ويل الحروف العاطفة دا ما سياتی تر يو حده پورې بحث او بيان د حروف عاطفه ؤ دی، الحروف العاطفة موصوف صفت مركب توصيفي په اعتبار د حذف د مضاف سره خبر دی د مبتدا محذوف لپاره فيكون التقدير هذا بحث الحروف العاطفة، (٢): يا دا مركب توصيفي مرفوع دی بنا بر ابتدائيت خبر يې حذف دی چې هذه يا اذكرها دی (٣) يا دا مركب توصيفي منصوب دی، بنابر مفعول به د فعل مقدر لپاره اعنی الحروف العاطفه يعنی هر كله چي تا حروف مشبه بالفعل ياد كړه نو اوس حروف عاطفه ياد كړه.

سوال: حروف عاطفه عند النحات څه ته وائی؟ **جواب**: حروف عاطفه عند النحات هغه حروفو ته وائی، چې عطف كوی مدخول خپل په ما قبل باندې

سوال: ديته حروف عاطفه ولې وائی؟ **جواب**: عاطفه ماخوذ دی د عطف نه او عطف په لغت كې اما لی ته وائی او حروف عاطفه ته حروف عاطفه ځكه وائی چې دا مايل كوی مدخول خپل چې معطوف دی معطوف عليه ته په حكم او اعراب كې،

سوال: هغه حروف كوم دی چې د عطف لپاره راځي؟ **جواب**: **هی الواو والفاء دا** حروف عاطفه واو فاء ثم وحتىٰ او اما بكسر الهمزه ځكه بفتح الهمزه د حروف شرط نه دی، او د ټولو نحويانو اتفاق دی چې دا حروف راځي د عطف لپاره صرف په بل كې اختلاف دی د جمهورو په نزد باندې دا د حروف عاطفه ؤ نه دی، او د بعض په نز باندې دا د حروف عاطفه ؤ نه ندی بلكه د بل نه ما بعد بدل غلط دی، د ماقبل نه او بدل غلط بدون بل غير فصيح دی، او سره د بل نه فصيح دی او مطر د دی په كلام د عربو كې ځكه دا وضع كړې شوی دی، لپاره د تدارك د مثل د دی غلط او مختار عند المصنف مذهب د جمهورو دی، نو بل يې د حروف عاطفه ؤ نه شمير كړو، او بل خلاف دی په ای كې چې جمهور وائی چې د دی نه مابعد عطف بيان دی د ماقبل لپاره او بعض وائی چې د دی نه ما بعد عطف دی، په ما قبل باندې دا د حروف عاطفه نه دی، او مختار عندالمصنف مذهب د جمهورو دی، نو ځكه يې ای وګرځوو د حروف تفسيريه ؤنه، نۀ د حروف عاطفه ؤ نه، او دا حروف عاطفه او لا منقسم دی نوعينو ته، (١): واو فاء ثم حتی راځي د جمع لپاره يعنی د معطوف او معطوف عليه د واړو لپاره او د دی نه علاوه باقی شپږ راځي د احد الامرين لپاره بيا پدی شپږو كې، او، ام، اما، د احد الامرين لپاره راځي علی التعيين اوس واو فاء ثم او حتی د جمع لپاره څنګه راځي او باقی د احد الامرين لپاره څنګه راځي نو **فالاربعة الاولی** سره بيان د هغې كوی تفصيلا **ربط**: هر كله چي فارغ شو مصنف د بيان د حروف عاطفه ؤ نه اجمالا نو شروع يې وكړه په بيان د حروف عاطفه ؤ كې تفصيلا نو فا په فالاربعة كښ تفصيليه ده.

ترجمه: پس څلور حروف عاطفه چې اول ذکر شوي دي چې واو فاء ثم او حتى دي، **للجمع** دا وضع کړی شوي دي د جمع لپاره پدې شان سره چې دا څلور واړه حروف دلالت کوي، چې دا حکم ثابت دی معطوف او معطوف عليه د واړو لره نه احدهما لره بيا برابره خبره ده چې ترتيب سره وي لکه فاء، ثم حتى شو يا مطلقاً وي يعنې د دلالت نه په ترتيب باندې لکه واو شو فالواو،

للجمع مطلقا لاترتيب فيها: **ربط**: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د ما به الاشتراك نه په ما بين د حروف اربعه ؤ کې نو شروع يې وکړه، په بيان د ما به الامتياز د دغه حروف اربعه ؤ کې نو وي ويل خکه مخکې اجمال ذکر شو اوس تفصيل کوي

فالواو الخ او دا فاء په الواو کې تفصيليه ده.

ترجمه: پس واو د حروف عاطفو نه کائن دی **للجمع** دجمع لپاره په مابين د امرينو کې امرين عام دی چې مفردين وي او که جملتين وي مفردين عام دی چې مسندين وي نحو زيد کاتب وشاعر يا مسند اليهما وي نحو جاءني زيد و عمرو يامفعولين وي نحوضربت زيدا و عمرا يا حالين وي نحو جاءني زيد راکبا وضاحکا يا تميزين وي نحو طاب زيد نفسا وعلما يا غير وي د دی نه يا راځي د جمع لپاره بين الجملتين په حصول د مضمون کې مطلقا بې د تقييد نه په ترتيب سره لاترتيب فيها دا ترجمه د مطلقا ده يعنې ترتيب په مابين د معطوف اود معطوف عليه کې وجودا يا عدما د واو نه نه معلوميږي بلکه دا به معلوميږي د واقع او نفس الامرنه په دلائلو خارجيه ؤ سره خلافا للفراء وثعلب وقطرب النحوي چې هغوی وائي دا واو راځي د ترتيب لپاره خو دا خبره د دوی صحيح نده،

(١): لقوله تعالى ﴿إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَىٰ نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِن بَعْدِهِ ۚ وَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَعِيسَىٰ وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَارُونَ وَسُلَيْمَانَ﴾، دلته عطف د ايوب يونس هرون او سليمان راغلی دی په عيسى باندې او سره د دی نه چې دا مخکې وو د عيسى نه،

(٢): وقوله تعالى ﴿كَذَٰلِكَ يُوحِي إِلَيْكَ وَإِلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكَ﴾ چې وحی د نبي صلى الله عليه وسلم مؤخر ده د وحی د نورو انبياو نه خکه چې نبی عليه السلام خاتم النبين دی،

(٣): قوله تعالى ﴿وَاسْجُدِي وَارْكَعِي مَعَ الرَّاكِعِينَ﴾ (۴): قوله عليه السلام **توضا واغسل ذکرك** ابو علی فارسی وئلی دی اجمع نحاة البصرة والكوفة ان الواو للجمع المطلق او خلاف د ثعلب او فراء او قطرب النحوی لره اعتبار نشته او واو په استعمال د کلام د عربو کې په يوويشت معانيو سره راځي

(١): واو حاليه نحو قوله عليه الصلوة والسلام **لا تصوم المراة وبعلها شاهد الاباذنه**.

(٢): واو الصرف كمافي قول الشاعر،

لا تنه عن خلق وتاتي مثله عار عليك اذا فعلت عظيم

(٣): واو بمعنى مع نحو قوله تعالى ﴿وَذَرْنِي وَالْمُكَذِّبِينَ﴾، (۴): واو بمعنى رب كما في قول الشاعر،

وبلدة ليس بها انيس الااليعا فيرو الا العيس

(٥): واو قسميه نحو قوله تعالى ﴿وَالْفَجْرِ ۝ وَلَيَالٍ عَشْرٍ﴾ (٦): واو ضميری نحو قاموا.

(۷): واو علامه د جمع مذکر نحو قوله تعالى وَأَسَرُّوا النَّجْوَى الَّذِينَ ظَلَمُوا على تركيب بل مثال لكه واو د ضاربون شو، (۸): واو فاصله نحو عمرو، (۹): واو زائده نحو قوله تعالى حَتَّىٰ إِذَا جَاءُوهَا وَفُتِحَتْ أَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا، فَلَمَّا أَسْلَمَا وَتَلَّهُ لِلْجَبِينِ وكقولك مامن احد الا وله طمع او حسد، (۱۰): واو مبالغه نحو قوله عليه السلام وان زنى وان سرق، (۱۱): واو بمعنى او كقولك تعالى مَثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ وقول الشاعر:

الا لمعى الذى يظن بك الظن كان قدرى وقد سمعا

(۱۲): واو شرطيه نحو قوله تعالى وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْجِبَالِ فَقُلْ يَنسِفُهَا رَبِّي نَسْفًا،

(۱۳): واو تاكيديه كقوله تعالى وَمَا أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ إِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ مَّعْلُومٌ، أَوْ كَالَّذِي مَرَّ عَلَىٰ قَرْيَةٍ وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا، قرية موصوف وهي خاوية جمله صفت والواو زائد للتاكيد وقول الشاعر

فلما صرح الشر فامسى وهو عريان

اى وهو عريان زائد للتاكيد.

(۱۴): استنافيه نحو قوله تعالى لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ وَنُقِرُّ فِي الْأَرْحَامِ مَا نَشَاءُ، (۱۵): واو اعتراضيه نحو قول الشاعر،

ان الثمانين وبلغتها قد احوجتنى الى ترجمان

(۱۲): بمعنى الباء نحو انت اعلم ومالك اى بمالك (۱۷): واو الاشباع نحو قول الشاعر

دعوهم برا و بحرا الاكمن خصو الدعاء بربهم فى الثانى

(۱۸): بمعنى لكن يعنى للاستدراك، (۱۹): للافتتاح يعنى پدى سره ابتداء د كلام كيږي،

(۲۰): واو تعليليه، (۲۱): واو عاطفه نحو جاءنى زيد وعمرو **والفاء للترتيب** او فاء د حروف عاطفه ۋ نه دلالت كوى په جمع باندې سره د ترتيب نه بلا مهلة يعنى فاء دلالت كوى په درې خبرو باندې،

(۱): چې دا حكم ثابت دى معطوف او معطوف عليه دواړو لره،

(۲): حكم ثابت دى معطوف عليه لره او لاًاو معطوف لره ثانيا،

(۳): چې دا حكم ثابت دى معطوف لره وروسته د معطوف عليه نه متصل بلا فصل بلا مهلة نحو جاءنى زيد فعمر او فاء په استعمال د كلام د عربو كې په اته معانيو سره راځي،

(۱): فاء جزائيه نحو إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ، (۲): زائده نحو هَٰذَا فَلْيَذُوقُوهُ حَمِيمٌ وَغَسَّاقٌ، زيد فلا تضر به، خرجت فاذا اسد فى الدار، (۳): استنافيه نحو كن فيكون، (۴): تعليليه نحو قول الشاعر،

تمتع من شميم عرار نجد فما بعد العشية من عرار

(۵): تفريعيه، (۲): تفصيليه، (۷): عاطفه،

وثم مثلها: او ثم د حروف عاطفونه په شان د فاء دى په ترتيب كې **مهلة**: سره د مهلت او تراخى نه په ثبوت د حكم كې لپاره د معطوف يعنى ثم دلالت كوى چې دا حكم ثابت دى معطوف لره وروسته د معطوف عليه نه مع الفصل او مع التراخى نحو جاءنى زيد ثم عمرو، **وحتى مثلها**: او حتى په شان د ثم دى په ترتيب كې او په تراخى كې ليكن دومره فرق دى چې مهلت او تراخى په حتى كې كمه ده او په ثم كې

زياته ده. (۲): او بل فرق دا دی چې **ومعطوفها جزء من متبوعه** معطوف د حتي په اعتبار د اقتضاء د وضع سره جز دی د متبوع خپل نه چې معطوف عليه دی **ليفيد** لپاره د دی چې دلالت وکړی دا عطف په حتی سره **قوة** په قوت باندې په معطوف کې نحو قدم الجيش حتی الامير **او ضعفا** يا دلالت وکړي په ضعف باندې په معطوف کې نحو قدم الحاج حتی المشاة لپاره د دی چې دا خبر ممتاز وګرځی د کل نه په قوت او ضعف سره نو دا معطوف به غير شی د معطوف عليه نه چې دا وګرځی صالح لپاره د دی چې وګرځولی شی غايه او انتهاء د هغه فعل لپاره چې متعلق شوی دی په کل پورې او دلالت وکړی انتهاء د فعل دی جزته په شمول د فعل باندې تولو اجزاء د کل لره او اصل په حتی کې حتی جاره دی او د حتی جاره مدخول کله جز راځي او کله مجاور او ملاصق راځي او د حتی عاطفه مدخول فقط جز راځي نه مجاور او ملاصق لپاره د دی چې انحطاط د فرع راشی د اصل خپل نه.

سوال چې ته وائی معطوف د حتی به جز ضعيفه يا قويه وی د متبوع خپل نه او عطف تقاضه د مغائرت کوی نو عطف د جز په کل باندې ندی صحيح ځکه عطف د شی علی نفسه راځي ځکه دا جزيو فرد دی دا فراد و د کل نه **جواب** معطوف د حتی جز د معطوف عليه وی ليکن دا جز به ضعيف وی يا به قوی وی نو دا جز په اعتبار د صفت سره مغائر شو د کل نه نو عطف د شی علی نفسه رانغی.

سوال ته وائی چې معطوف د حتی به جزوی د متبوع نه دا قاعده ستا منقوضه شوه په اعجبتنی الجارية حتی حديثها سره چې دلته عطف د حديثها راغلی دی، په الجارية باندې او د هغې نه جز ندی؟

جواب جز عام دی که حقيقة وی او که حکما وی نو حقيقة جز ندی خو حکما دی، ځکه چې صفت د شی جزوی د شی نه حکما او حتی دری قسمه دی.

(۱): حتی جاره، (۲): حتی ابتدائيه، (۳): عاطفه او تفصيل د دی تير شوی دی په بحث د فعل او په حروف جاره ؤ کې او کون دحتی عاطفه مشروط دی په شروط اربعه ؤ سره.

(۱): حتی د عطف د اسم لپاره راځي نه د فعل لپاره، (۲): حتی د عطف د اسم ظاهر لپاره راځي نه د ضمير لپاره، (۳): حتی د عطف د جز قويه يا ضعيفه لپاره راځي نه د عطف د کل لپاره،

(۴): مدخول د حتی به غايه وی لپاره د ماقبل.

مابه الاشتراك درميان حتی وثم

(۱) ثم راځی د جمع لپاره حتی هم راځي د جمع لپاره، (۲): دواړه دلالت کوی په ترتيب باندې.

(۳): دواړه راځی د مهلت او تراخی لپاره.

مابه الامتياز درميان حتی وثم

(۱): مهلت په ثم کې زيات دی او په حتی کې کم دی، (۲): مدخول د حتی جزوی د ماقبل نه بخلاف ثم، (۳): ثم کې ترتيب لفظی موافق وی د ترتيب خارجی سره او حتی کې ترتيب لفظی موافق وی د ترتيب ذهنی سره او د ترتيب خارجی سره موافق وی او که نوی کله به موافق وی د ترتيب خارجی سره

نحو قدم الحاج حتى المشاة او كله معكوس وي نحو مات كل اب لي حتى ادم او كله نه بالكل موافق وي او نه بالكل بالعكس وي نحو مات الناس حتى الانبياء،

واو واما وام لاحد الامرين مبهما، ربط هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د معاني د حروف اربعه اول نه نو شروع يې وكړه په بيان د معاني د او مام كې نو وي ويل واو واما الخ.

ترجمه: كلمه دا واو او كلمه د اما بكسر الهمزه او ام هر واحد ددې امور ثلاثه ؤ نه وضع كړى شوى دى لپاره د دى چې دلالت وكړي چې دا حكم ثابت دى لپاره د احدالامرين يا د احد الامور لپاره په حال كون د دى احد كې مبهما چې غير معين دى عند المتكلم په نفس الامر كې يعني هر واحد د دى حروف ثلاثه ؤ نه دلالت كوى چې دا حكم ثابت دى د احدهما لپاره لاعلى التعيين نه د مجموعى لپاره،

سوال: چې ته وائى چې هر واحد د دى حروف ثلاثه ؤ نه دلالت كوى په احدالامرين باندې مبهما نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په جاءني زيد او عمرو او بكر چې دلته كلمه دا و داحدالامرين مبها لپاره نده بلكه د احدالامور مبهما لپاره ده،

جواب: ذكر د تثنيه لپاره د بيان د ادنى مرتبى دى نه لپاره د حصر، (٢): يا لپاره د حصر دى خو مراد د حصر نه حصر اضافي دى په نسبت سره ماتحت ته نه په نسبت سره مافوق ته، (٣): يا دا عبارت په حذف د معطوف سره دى اى احدالامرين اوالامور،

سوال: چې ته وائى كلمه د او د احدالامرين لپاره راځي لاعلى التعيين دا قاعده ستا منقوضه شوه پدى قول د الله سره وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ اٰثِمًا اَوْكَفُوْرًا چې دلته احد الامرين نه دى بلكه د جمعي لپاره راغلى دى ځكه د دې ايت دا معنى نده چې د اثم او د كفور نه د احد هما لاعلى التعين اطاعة ونكړى بلكه معنى دا ده چې د دواړو اطاعت مه كوه؟ **جواب** (١): كلمه د او اصل كې مستعمل ده، د احدالامرين مبهم لپاره او دا عموم مستفا دى د وجى د وقوع د احد مبهم نه په سياق د نفى كې ځكه نكره چې واقع شى په سياق د نفى كې نو عموم فائده كوى، (٢): كلمه دا و بمعنى الواو ده فيكون المعنى ولا تطع منهم اثما وكفورا ځكه لكه څنګه چې په استعمال د كلام د عربو كې واو بمعنى او راځي كمافى قوله تعالى مَثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ نو او بمعنى الواو هم راځي، لكه دلته شو او كلمه د او په استعمال د كلام د عربو كې نهه معانيو سره راغلى ده، (١): تخيير نحو تزوج هندا اواختها، (٢): للاباحة نحو جالس الحسن او ابن سيرين او د اباحت او تخير په مينځ كې فرق دا دى، چې اباحت كې جمع بين الامرين جائز ده او تخيير كې نده جائز لهذا جالس الحسن او ابن سيرين كې د سامع لپاره درى كاره جائز دى كه د يو سره كيني (٢): كه د دواړو سره كيني، (٣): او كه د دواړو سره نه كيني، (٣): للشك نحو لبثنا يوما او بعض يوم، (۴): للاخفاء والابهام نحو قوله تعالى حكاية وَاِنَّآ اَوْ اِيَّاكُمْ لَعَلٰى هُدًى اَوْ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ، او شك او اخفاء كې فرق دا دى، چې اخفاء كې متكلم عالم وى خو مقصود د ده ابهام راوستل وى په مخاطب باندې او په شك كې متكلم په خپله عالم نوى، (۵): للتنويع نحو قوله تعالى وَقَالَ سٰحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ

(٦): بمعنى بل نحو قوله تعالى فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً اى بل اشد قسوة، الى مائة الف اويزيدون اى بل يزيدون وقوله عليه السلام او عابر سبيل اى بل عابر سبيل، (٧): بمعنى الواو نحو قوله تعالى وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ آثِمًا أَوْ كَفُورًا (٨): بمعنى الا، (٩): بمعنى الى مثالها لالز منك او تعطينى حقى اى الاان تعطينى حقى او الى ان تعطينى حقى. او اما بكسر الهمزه د حروف عاطفه ؤ نه دى او بفتح الهمزه د حروف شرط نه دى او امابكسر الهمزه په پنځه معانيو سره راغلى دى،

(١): للاباحة نحو جالس اماالحسن واماابن سيرين.(٢): للتخيير نحو تزوج اما ذى واما النائيه،

(٣): للتنويع نحو الكلمة اما اسم واما فعل واماحرف.(٤): للشك، (٥): للاخفاء مثال د دوارو لكه جاءنى امازيد واماعمرو

او ام اولا درې قسمه دى: (١) ام تعريفى نحو ليس من امبرا مصيام فى امسفر. (٢): زائده نحو قوله تعالى افلاتبصرون، ام اناخير. (٣): ام عاطفه دا بيا دوه قسمه دى.(١): متصله، (٢): منقطعه ام متصله ديته وائى چې د امابعد متصل كوى د ماقبل سره، او دا واقع كيږى وروسته د همزه د تسوي نه نحو قوله تعالى سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَأَنْذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ (٣): واقع كيږى وروسته د همزى استفهامى نه چې پدى او په هغې سره طلب د تعيين كولى شې كقولك ارجل فى الدارام امراة او ديته ام معادله هم وائى، لمعادلتها للهمزة فى افادة التسوية په نوع اوله كې والاستفهام فى النوع الثانى،

الفرق بينها

الاول لايستحق جوابا بخلاف الثانى، (٢): الاول يحتمل الصدق والكذب بخلاف الثانى،

(٣) الاول لاتقع الابين الجملتين، (٤): وهمافى تاويل المفردين بخلاف الثانى يقع غالبا بين المفردين قديقع بين الجملتين ليستا بتاويل المفردين، **وام المتصلة.** او كلمه د ام داسې ام چې متصل وى، پدى سره يې احترز وكړو د ام منقطعه نه ځكه د هغې حكم وروسته راروان دى او ام متصله ديته وائى چې متكلم طلب د تعين د يو شى كوى د سامع او مخاطب نه پس د علم ابهامى د متكلم نه او دهغې علامه دا ده چې د ام نه مخكې همزة التسوية راغلى وى يا همزه استفهاميه راغلى وى، ځكه وائى چې **لازمة لهمزة الاستفهام** چې دا ام متصله لازم دىٌ د همزة الاستفهام سره لفظاً يا تقديرا پدى شان سره چې ام متصله غير منفك دى د همزه استفهامى نه، (٢): يا دا ام متصله ملزوم دى او همزه استفهامى ورسره لازم ده پدى شان سره چې ام متصله بدون همزة الاستفهام نه راځي،

سوال: چې ته وائى ام متصله لازم دى د همزة الاستفهام سره نو د دى نه دا معلومه شوه چې همزه ملزوم او ام ورسره لازم دى او قاعده دا ده چې وجود د ملزوم مستلزم وى وجود د لازم لره يو ملزوم بى د لازم نه نه راځي، دا قاعده ستا منقوضه شوه په ازيد قائم سره چې دلته همزه راغلى ده او ام ورسره نشته،

جواب: چې دلته لازمة په معنى اصطلاحى سره ندى بلكه په معنى لغوى سره دى چې غير منفك لهمزة الاستفهام دى، (٢): يا لازمة په معنى د ملزومة سره دى لكه راضية چې په معنى د مرضية سره دى،

سوال: نه وائی چې ام متصله لازم دی د همزه استفهامی سره دا قاعده ستا منقوضه شوه پدی قول شاعر سره: لعمرما ادری وان كنت داريا بسبع رميت الجمرام بثمان
چې دلته ام راغلی دی بغير د همزی نه.
جواب: وام المتصلة لازمة الخ همزه استفهاميه عامه ده كه لفظأوی او كه تقديرا وی دلته تقديرا
يليها احدالمستاويين والاخر الهمزة تركيب: (١): يلی مضارع معلوم او ها ضمير منصوب متصل مفعول راجع بسوی همزه او احد المتساويين فاعل د يلی والاخر مرفوع معطوف علی احد المتساويين والهمزه معطوف دی په ضمير منصوب د يلی نو عطف د اسمين راغی په معمولينو مختلفين د عامل و احد باندې او دا جائز دی بالاتفاق،
ترجمه: واقع كيږی د ام متصل نه وروسته متصل بلافصل احدالمستاويين يو د متساويين نه چې معطوف دی **والاخر** او مستوی اخر واقع كيږی، وروسته د همزی نه متصل بلافصل چې معطوف عليه دی **بعد ثبوت احدهما** دا ظرف متعلق دی وروسته د طلب التعيين پورې بنا په مذهب د هغه چا باندې چې تقديم دمعمول د مصدر جائز وائی په مصدر باندې چې دا معمول ظرف يا جار مجرور وو،
(٢): يامتعلق دی په لطلب التعيين مقدر او محذوف پورې او ما بعد لطلب التعيين د هغې لپاره تفسير دی بنا په مذهب د هغه چا باندې چې هغه تقديم دمعمول د مصدر په مصدر باندې جائز نه وائی مطلقا،
ترجمه: ام متصله وروسته د همزه استفهامی نه راځي **لطلب التعيين** لپاره د طلب كولو د متكلم تعين د احدالامرين د سامع او مخاطب نه پس د ثبوت د علم د متكلم نه په حصول د احدالامرين باندې ځكه امر متصله او همزه مجموعه په معنی د ای سره دی، او ددې امرين نه تعبير كولی شی په مفرد سره هغه مضاف اليه واقع كيږی د ای لپاره نحو ارجل فی الدارام امراة ای ايها فی الدار د دی ما قبل عبارت د مصنف نه دوه خبری معلومی شوی،
(١): معطوف عليه په همزه سره متصل وی د معطوف د ام سره،
(٢): دا مستعمليږی لپاره د طلب د تعين اوس پدی دوه شرطونو باندې دوه مسلی متفرع كوی، **ومن ثم د** دی وجی نه چې ده ام متصله نه وروسته واقع كيږی متصل بلا فصل يو د متساويين نه چې هغه معطوف دی او متساوی اخر واقع كيږې وروسته دهمزی نه متصل بلا فصل چې هغه معطوف عليه دی نو ندی جائز دا تركيب **ارايت زيد ام عمرا** ځكه متساويان دلته زيد او عمر دی او يو د دی دواړونه د همزی نه وروسته ندی راغلی بلكه د همزی نه وروسته رايت راغلی دی، او دا يو د متساويين نه ندی لهذا ازيدا رايت ام عمرا جائز دی او ارايت زيد ام عمرا ندی جائز عند المصنف او سيبويه ويلی دی چې ازيدا رايت ام عمرا احسن او افصح دی او ارايت زيدا ام عمرا جسن او فصيح دی او د كافيه بعض نسخو كې راغلی دی يليها احد المتساويين والاخر الهمزه علی الافصح ومن ثم ضعيف ارايت زيد ام عمرا،
سوال: د مصنف د دی عبارت نه معلوم شو عدم جواز د دی تركيب او سيبويه ورته جائز او حسن ويلی دی نو د دی كلامين په مينځ كې تناقض راغی او كومه نسخه كې چې وضعف راغلی دی په هغې

د دې ترکیب نه د مرتبې د افصحیت نه د تنزل د وجې د ضعف باندې حکم په ضعف باندې دا اعتراض دې چې حکم په ضعف باندې د وجې د دې هغه نه شي شمیرلی ضعیف.
نه فصیحیت ته ندې مناسب ځکه کوم شي چې حسن او فصیح دي، عند المصنف وللناس
جواب: دا ترکیب حسن او فصیح دي عند السیبویه او ممتنع یا ضعیف دی، د تعیین لپاره پس د ثبوت د
فیما یعشقون مذاهب ومن ثم او ددې دوجې نه چې ام متصله راځي د طلب د تعیین لپاره پس د ثبوت د
علم نه په حصول د احدالامرین عندالمتکلم کان دی. جوابها جواب د ام متصله بالتعیین په تعیین د
احدالامرین سره ځکه سوال شوی دی د تعیین د احدالامرین نه دون نعم او لا او ندی جائز جواب په نعم اولا
سره ځکه دا نعم اولا دلالت نکوی په تعیین د احدالامرین باندې په خلاف د ام او دا مامع الهمزه نه نحو
اجاءك زید ام عمرو اجاءك امازید واما عمرو، هلته جواب په اما او او سره صحیح دي، ځکه مقصود
تعیین د احدهما دی نه تعیین د امرین او سوال چې په ام سره وشی د هغې د جوابونو طریقی دوه دی.
(١): جواب کولی شی په تعین د احدالامرین سره دیکې اشاره ده تصویب د سائل ته یا په نفی د دواړو
سره او پدیکې اشاره ده تخطیه د سائل ته،
سوال: نه وائی چې جواب فقط په تعیین سره دی او ام متصله سره چې سوال وشي نو د جوابونو طریقی
دوه دی کمامر، جواب: دا اعتراض به تا هله کولو چې دلته حصر حقیقی وی لیکن دا حصر حقیقی
ندی بلکه اضافي دی، او هر کله چې قاعده مستعمل وه په تعین باندې نو ځکه مصنف تفریع کړه په
تعین باندې دوه مسلې او راتله وکړه مصنف په دوه خله اسم اشاره سره اشاره یې وکړه دی خبری ته
چې اوله مسله متفرع ده، په شرط اول باندې او دویمه متفرع ده په شرط ثانی باندې او که چرې
مصنف اتیان کړی وي په یو اسم اشاره باندې نو دا توهم راتلو چې دا دواړه شرطین مو قوف علیه د
دواړو تفریعینو دی والامر لیس کذلك نو پدی سره دفع د اعتراض وشوه،
سوال: مصنف لره پکار وه چې یوځل یې ثم ذکر کړی وی او دواړه به یې تفریع کړی وی په طریقه د لف
نشر مرتب سره په مذکور باندې نو اختصار به راغلی وو په عبارت کې نو دوه خله یې اسم اشاره ولې
ذکر کړه؟ جواب: که اختصار یې کړی دی په یوه اسم اشاره باندې نو بیا دا توهم راتلو چې هر واحد د
دی شرطین نه داخل دی په هر واحد د تفریعین کې اوامر دارنګې ندی نو د دغه توهم دفع کولو لپاره
یې دوه خله اسم اشاره ذکر کړه،
مابه الاشتراك په مینځ دام او اما کې درې دی، (١): درې واړه راځي د احدالامرین لپاره لاعلی التعیین،
او مابه الامتیاز دا دی (١): چې ام متصله وروسته د همزه استفهامی نه راځي وجوبا بخلاف او واما
چې دا کله د همزې استفهامی نه وروسته راځي او کله نه راځي
(٢): ام متصله چې وروسته د همزې استفهامی نه راشي نو یو د متساویین نه واقع کیږي وروسته د
ام متصله نه اوبل واقع کیږي وروسته د همزه استفهامی نه بخلاف او ، اما د هغې جواب کولی شی
په نعم اولا سره والمنقطعة: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د ام متصله نه نو شروع یې وکړه په
ام منقطعه کې نو وي ویل المنقطعه دا صفت دی تقاضه د موصوف کوی نو موصوف ورله محذوف
دی چې ام دی په تاویل د کلمة سره،

ترجمه: والمنقطعة او ام منقطعة **كبل** په شان د بل دی په معطوف عليه کې، **والهمزة** او په شان د همزی دی په معطوف کې پدی شان سره چې دا ام منقطعة په ماقبل کې اعراض فائده کوی دا معنی دبل ده او اما بعد کې شك پيدا کوی دا معنی د همزه ده او دا ام منقطعه واقع کيږي وروسته د خبر محض نه لکه دا مثال د ماتن شو انها لابل ام شاء،

ترجمه: په تحقيق سره دغه يو تن چې زه وينم هغه لره دا خامخا او بنان دی دا جمله خبريه ده او کله چې ده ته معلومه شوه چې دا اوښان ندی نو ده اعراض وکړه د اخبار نه او اظهار د شك يې وکړه په دی خبره باندې چې دا بيزی دی او که بل شی دی، نو سوال يې وکړو د سامع نه ام شاء ای بل هی مشاء چې دا شاء خبر دی د مبتدا محذوف لپاره چې هغه هی دی ځکه ام منقطعه داخليږی په کلام باندې نه په مفرد باندې ځکه دا دلالت کوی، چې مابعد منقطع دی د ماقبل نه او انقطاع به هله راځي چې د ام منقطعه نه وروسته مستقل کلام شی بل مثال نحو قوله تعالی تنزيل الکتاب لاريب فيه من رب العالمين ام يقولون افتراه چې دا ام منقطعه واقع شوی دی وروسته د خبر محض نه،

(۲): دا واقع کيږی وروسته د همزی نه چې د انکار لپاره وی نحو قوله تعالی الهم ارجل يمشون بها ام لهم ايد يبطشون بها چې دا اضراب يې کړی دی د استفهام اول نه استفهام ثانی ته،

(۳): ام منقطعه واقع کيږی وروسته د هل نه نحو قوله تعالی هَلْ يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ أَمْ هَلْ تَسْتَوِي الظُّلُمَاتُ وَالنُّورُ او ام منقطعه ته ام منقطعه وائی چې د امابعد کلام منقطع دی د ماقبل نه

فرق د رميان ام متصله ومنقطعه

(۱): ام منقطعه راځي د اضراب لپاره بخلاف المتصله، (۲): دا واقع کيږی بعد الخبر بخلاف المتصلة، (۳): ام متصله واقع کيږی پس د همزه تسويه نه بخلاف المنقطعه،

(۴): پس د ام منقطعه نه متصل کلام وی بخلاف ام متصله،

سوال: دا خبره ستا منقوضه شوه په انها لابل ام شاء باندې چې دلته ام منقطعه دی او مابعد د دی نه مفرد دی نه کلام، **جواب:** دا خبر د مبتدا محذوف دی ای هی شاء **واما** او ذکر کول د متکلم کلمه د اما لره مخکې د معطوف عليه نه **لازمة مع اما** لازم دی سره د اما نه دپاره د دی چې معلوم شی سامع ته د اول وهلت نه چې دا کلام د متکلم بنا دی په شك باندې نحو جاءنی امازيد واما عمرو **جائزة مع او** او ذکر کول د اما په سر د معطوف عليه کې جائز دی سره د اونه يعنی چې متکلم دا قصد وکړی چې زه دا يو شی عطف کوم پدی بل باندې په کلمه د او سره نو بيا د متکلم خوښه ده چې په سر د معطوف عليه کې اما ذکر کوی او که نه ذکر کوی نحو جاءنی اما زيد او عمرو او بعض نحويان وائی چې دا اما د حروف عاطفونه ندی ځکه که دا د حروف عاطفونه وی نو مخکې د معطوف عليه نه به نه واقع کيدو، ځکه حرف عطف مخکې د معطوف نه راځي نه د معطوف عليه نه،

(۲): او دارنګې واو عاطفه به نه داخليدی پدی باندې ځکه دخول د حرف عطف په حرف عطف باندې ندی جائز د دی دوه خبرونه معلومه شوه چې دا عاطفه ندی جواب د طرفه د جمهورونه دا دی

چې کوم اما ذکر شوی دی، په سرد معطوف علیه کې دا اما عاطفه ندی بلکه ذکر شوی دی لپاره د تنبیه ورکولو سامع او مخاطب ته په شك باندې د اول وهلت‌نه او د دویم نه جواب دا دی چې دا واو عاطفه چې داخل شي په اما باندې نو دا اوهم د عطف لپاره دی او اما هم د عطف لپاره دی، لیکن مال او مرجع د دواړو غیر غیر دی واو عطف د اما ثانی کوی په اما اولی باندې او اما عطف د مابعد کوی په ما بعد د اما اولی باندې، **ولا وبل ولكن لاحدهمامعينا**، لااوبل او لکن د حروف عاطفونه راخی لپاره د نسبت د حکم احد الامرین ته چې هغه معطوف علیه او معطوف دی په حال کون ددې احد الامرین کې چې معین وی پدی شان سره چې لاثفی د حکم کوی د معطوف نه او ثابتوی معطوف علیه لره نحو جاءنی زید لاعمرو پدیکې قصر افراد او قصر قلب دواړه جوړیږی پدی شان سره که مخاطب معتقد د عکس وو نو قصر قلب او که معتقد د اشتراك وو نو قصر افراد او لا په کلام مثبت کې راخي نه په کلام منفی کې او بل عام دی په کلام مثبت کې هم راخي او منفی کې هم راخي بل چې په کلام مثبت کې راشی نو په هغې کې دوه مذهبه دی (١) جمهور (٢) ابن حاجب، جمهور وایې چې دا بل حکم مذکوره ورکوی مابعد لره چې معطوف دی اومعطوف علیه گرخوی په حکم د مسکوت عنه کې او ابن حاجب وایې چې دا بل حکم نفی کوی د معطوف علیه نه او ثابته‌وی یې معطوف لره نحو جاءنی زیدبل عمرو ترجمه عند الجمهور زیدراغلی دی نه حطا شوم بلکې عمرو راغلی دی او د زید پته ماته نشته چې راغلی دي او که نه.

ترجمه عندابن حاجب راغلی دی ماته زیدنه خطا شوم بلکی عمرو راغلی دی او زید نه دی راغلی او دا بل چې راشي‌په کلام غیر موجب کې نوپه هغې کې درې مذهبه دی. (١) جمهور (٢): ابن حاجب (٣): مبرد جمهور وائی چې دا بل حکم اصلی ورکوی معطوف لره او معطوف علیه په حکم د مسکوت عنه کې گرخوی،

(٢): او ابن حاجب وائی چې دا بل حکم مذکوره ورکوی معطوف لره اومعطوف علیه لره اصل حکم ورکوی (٣) او مبرد وایې چې دا بل حکم مذکوره ورکوی معطوف ته او معطوف علیه په حکم د مسکوت عنه کې گرخوی نو مبرد په معطوف علیه کې د جمهورو ملگری دی، او په معطوف کې د ابن حاجب ملگری دی نحو ماجاءنی زید بل عمرو (**ترجمه** عندالجمهور) ندی راغلی ماته زید نه خطاء شوم بلکه عمرو راغلی دی او د زید نه نه یم خبر چې راغلی دی او کنه دی،

ترجمه عند ابن حاجب): زید ندی راغلی نه خطاء شوم بلکه عمرو ندی راغلی او زید راغلی دی **ترجمه** عند المبرد) زید ندی راغلی نه خطاء شوم بلکه عمرو ندی راغلی او د زید نه نه یم خبر چې راغلی دی او کنه دی راغلی او بل درې قسمه دی،

١ اضرابی کمامر، (٢) تفسیریه، (٣): للترقی مثال د دواړو واذا تنازع الفعلان بل العاملان **ولكن لازمة للنفي** لکن لازم دی د نفی سره پدی شان سره چې لکن بی د نفی نه نه مستعملیږی بلکه د ده سره د انفی لازمه ده، او دا نفی عامه ده چې مخکې وی نحو ماجاءنی زید لکن عمرو یا وروسته وی نحو

جاءنی زید لکن عمرو لم یجی او دا لکن که چری د عطف د مفرد علی المفرد لپاره وو نو نقض دلادی یعنی نفی د حکم کوی، د معطوف علیه نه او ثابتوی یې معطوف لره نحو ماقام زید لکن عمرو ای لکن قام عمرو او که چری د عطف الجمله علی الجمله لپاره وو نو دا کله راځي وروسته د نفی نه او کله راځی وروسته د مثبت نه په شان د بل د نفی نه چې وروسته راشی نو د اثبات د مابعد لپاره راځي نحو ماجاءنی زید لکن عمرو قد جاء او که د اثبات نه وروسته راشی نو د نفی د مابعد لپاره راځي نحو جاءنی زید لکن عمرو لم یجی او پدی لکن کې خلاف دی د نحویانو او بیانیین نحویان وایې چې د قصرافراد او قلب دواړه و لپاره راځي او بیانیین وائی چې د قصر افراد لپاره راځي نه قصر قلب لپاره،

حروف التنبیه

ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د حروف عاطفونه نو شروع یې وکړه په بیان د حروف التنبیه کې او اضافت د حروف التنبیه ته اضافت د دال دی مدلول ته،

ترجمه: هغه حروف چې دلالت کوی په ایقاظ د سامع او مخاطب باندې مشهور دری دی، الا، اما، ها، او مجموعه پنځه دی دری دا دی، او څلورم یا ده نحو یٰلَیْتَنِیْ کُنْتُ تُرٰبًا او پنځم کلا دی نحوقوله تعالی كَلَّآ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَيَطْغٰىٓ ای الا ان الانسان لیطغی الا او اما داخلیږی په جمله باندې لپاره د ایقاظ د سامع او مخاطب دی، لپاره چې غافل نه شی سامع د هغه مضمون نه چې متکلم القاء د هغې کړیده سامع ته او کینی دا مضمون د جملی په ذهن د سامع کې او جمله عامه ده که خبریه وی او که انشائیه وی او انشائیه عامه ده که امر وی، او که نهی وی که استفهام وی که تمنی وی نحوالازید قائم اما زید قائم الاضرب زیدا الالاتضرب زیدا او هاء تنبیهی کله داخلیږی په جمله باندې نحو ها زید قائم او کله داخلیږی په مفرد باندې نو غالبا داخلیږی، په اسم اشاره باندې (لپاره دایقاظ د مخاطب لپاره د دی چې لازم نه شی لغویت د اشاره د متکلم د وجی د غفلت د سامع نه) متصل بلا فصل نحو هذا،

(۲): او کله داخلیږی په ضمیر مرفوع منفصل باندې نحو قوله تعالی هٰٓاَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ، (۳): او کله داخلیږی په صفت د ای منا دی نحو قوله تعالی یٰٓاَیُّهَا الْمُزَّمِّلُ ای موصوف ها حرف تنبیه المزمل صفت،

(۴): کله داخلیږی په لفظ د الله مقسم به باندې په وقت د حذف د حرف قسم کې نحو لاها الله او پدیکې التقاء د ساکنینو علی غیر حده جائز ده.

الا شپږ قسمه دی (۱): کله راځي د تنبیه لپاره نحو قوله تعالی اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُوْنَ اَلَآ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ (۲): للتوبیخ کقول الشاعر الاارعواء لمن ولت شبیبته،

ترجمه: ایا ارتداع د عمل قبیح نده موجود شوی د هغه سړی لپاره چې زمانه د ځوانی یې تیره شویده.

(۳): للتمنی نحوالاماء ماء بارد (۴): للعرض نحو الاتنزل بنا فتصب خیرا، (۵): للتحضیض نحو قوله تعالی اَلَا تُقَاتِلُوْنَ قَوْمًا نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ، (۶): لاستفهام النفی نحوالازید قائم، ترجمه: ایا زید ندی ولاړ

اما دوه قسمه دی (۱): للتنبیه کما فی قول الشاعر،

اما والله لو تجدین وجدی الی من بالعراق تشویقنی

ترجمه: ایا زید ندی ولاړ

(۲): د استفهام د نفی لپاره نحو اما زید قائم،

او ها په دری قسمه ده: (۱): ها تنبیهی نحو ﴿هَآأَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ﴾ (۲): اسم فعل بمعنی خذ نحو ها الکتاب ای خذ الکتاب او کله کله متصل کیږي د ها اسم فعل په اخیر پورې کاف حرفی خطابی کما فی قول ابن مالك:

هاك حروف الجر وهی من الی حتی خلا حاشا عدا فی عن علی

(۳): ها ضمیری نحو ضربها،

حروف النداء

هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د حروف التنبیه نه نو شروع یې وکړه په بیان د حروف النداء کې دیکې هم اضافت د دال راغلی دی مدلول ته،

ترجمه: هغه حروف چې دلالت کوی په اواز باندې دا حروف په نز د مصنف باندې پنځه دی، یا، وایا، وحیا وای، وهمزه، او په نز د ابن مالك باندې اوه دی، پنځه دغه مذکور دی او شپږم، ا، او اوم، وا، دی، **یا اعمها الخ** غرض د مصنف د دې عبارت نه فرق استعمالی بیانول دی په مینځ د دی حروفو کې نو یا عام دی د دی حروف نداء نه په استعمال کې ځکه دا مستعملیږی په منادی قریب او بعید دواړو کې، او جارالله ذ مخشری ویلی دی چې دا یا راځی د بعید لپاره نو په هغه باندې اعتراض واردیږی په یاالله سره چې دلته اواز الله ته شوی دی او الله خو قریب دی نه بعید،

جواب: بعید عام دی که حقیقتا وی او که حکما وی دلته حکما دی ځکه الله د وجی د عظمت د شان خپل نه ګرځیدلی دی په منزله د بعید باندې لیکن مذهب د مصنف غوره دی د مذهب د جارالله ذ محشری نه ځکه یا مستعمل شویده په قریب او بعید کې یو شان او تاویل خلاف الاصل دی، **وایا وهیا للبعید** ایا او هیا راځی د منا دی بعید لپاره ځکه پدیکې حروف زیات دی او زیات د حروفو د لالت کوی په زیادت د مسافت باندې **وای** او کلمه د ای په فتحی د همزه او سکون د یاء سره **والهمزة** او همزه مفتوحة **للقریب** دا دواړه راځی د منادی غیر بعید دپاره بیا عامه ده که قریبه وی او که متوسطه وی، که قریب وو نو د هغې لپاره همزه راځي ځکه قلت د حروفو دلالت کوی په قلت د مسافت باندې او ای د متوسط لپاره راځي ځکه پدیکې حروف متوسط دی او توسط د حروفو دلالت کوی په توسط د مسافت باندې فاندفع ما قیل،

سوال: نه وائی چې ای راځي د منادی قریب لپاره نو دمنادی قریب لپاره خو فقط همزه راځي او ای خو راځي د متوسط لپاره، **جواب**: دلته قریب مقابل د بعید دی نو متوسط داخل دی په قریب کې او پدی حروف نداء کې دوه مذهبه دی. (۱): جمهور، (۲): بعض وائی چې دا اسماء افعال دی ځکه هغه وائی حرف نداء سره د مابعدنه مرکب تام دی لکه هیهات سره د ما بعد نه مرکب تام دی او جمهور وائی دا

حروف دی نه اسماء افعال څکه د یا نه وروسته منادی مفعول به ده نو فاعل به ورله ضمیر مستترامنی اوس استتار د ضمیر غائب ندی صحیح څکه مخکې مرجع نشته، او استتار د ضمیر متکلم نه کیږی په اسماء الافعال کې او ضمیر مخاطب هم ندی صحیح څکه مخاطب منادی دی،

سوال: هر کله چې دا حروف دی اسماء افعال ندی بیا یا زید ته جمله ولې وائی،

جواب: دیته جمله او مرکب تام نیابة او مجاز وائی، چې دا قائم شوی دی په مقام دا دعو باندې،

حروف الایجاب

ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د حروف نداء نه نو شروع یې وکړه، په حروف الایجاب کې او دیته حروف ایجاب څکه وائی چې دا راځي د جواب لپاره یا ایجاب په معنی د اثبات سره دی، او دا هم راځي د اثبات لپاره او د تسمیه تغلیبا ده، څکه بعض د دی حروفو نه د نفی لپاره هم راځي او حروف ایجاب مشهور شپږ دی، نعم، بلی، اجل، ای، جیر، ان، او مجموعه اته دی شپږ دا مذکور دی اوم لا دی اتم کلا دی بمعنی ای نحوقوله تعالی كَلَّا وَالْقَمَرِ ای والقمر **فنعم مقررة** هر کله چې فارغ شو د بیان د حروف ایجاب نه اجمالا نو شروع یې وکړه په تفصیل ددې حروف ایجاب کې نو دا فاء تفصیلیه ده فنعم مقررة، پس نعم ثابتوونکی دی په ذهن د سامع او مخاطب کې **لما** مضمون د هغه جملی لره **سبقها** چې هغه جمله مذکوره وی مخکې د نعم نه دا جمله عامه ده که خبراوی که استفهاما وی که ایجاباوی که نفیاوی مثال لکه نعم شوفی جواب من قال اقام زید بمعنی قام زید مثال د نفی لکه نعم شو په جواب د الم یقم زید کې بمعنی لم یقم زید او پدی نعم کې څلور لغات دی (١): نعم بفتح النون والعین (٢): نعم......... (٣): نعم بکسر النون والعین، (۴): نحم بفتح النون وقلب العین حاء **وبلی مختصة بایجاب النفی** بلی د دی حروف ایجاب نه مختص دی په اثبات د نفی پورې پدی شان سره چې د ابلی راځي وروسته د کلام منفی نه اوګرځوی هغه کلام منفی لره مثبت دا نفی عامه ده چې مجرور د عن الاستفهام وی، لکه بلی ته اوائی په جواب د هغه چا کې چې اوائی ماقام زید بمعنی قد قام زید یا مقرون وی دا نفی د استفهام سره بیا دا بلی نقض د هغه نفی کوی، چې وروسته د استفهام نه وی نحو قوله تعالی أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَىٰ ای بلی انت ربنا ابن عباس (رض) ویلی دی، چې که چرته پدی مقام کې د بلی په ځاي باندې نعم ویلی وی نو کفر لازمیدو څکه د هغې معنی دا ده چې لست بربنا.

لطیفه: پخوا د یو منطقی او د نحوی مناظره وه پدی خبره چې منطق ویل ضروری دی، که نحوه ویل ضروری دی نو منطقی ویل چې منطق ویل ضروری دی نه نحوه او نحوی ویل چې الیس علم النحو بضروری نو هغه اویل چې بلی نو نحوی مناظره وګټله

او کله کله په طریقه د قلت او ندرة سره بلی د تصدیق د ایجاب لپاره هم راځي، لکه ته اوائی په جواب دا قام زید کې بلی ای قام زید **وای** او ای د حروف ایجاب نه بکسر الهمزه، څکه بفتح الهمزه د نداء او تفسیر لپاره راځي **للاثبات** دا وضع کړی شوی دی لپاره د اثبات **بعدالاستفهام** د استفهام نه وروسته

ویلزمها القسم لازم دی د دی سره قسم بی د ذکر د فعل قسم نه او مقسم بهٔ د دی نه راخي مګر لفظ د رب او الله او عمر په تتبع اوا ستقراء سره پدی شان سره چې بې د قسم نه ای نه مستعمليږي نحوای وربی ای والله ای لعمری په جواب د سوال د هغه چا کې چې وائی چې هل ضرب زید او ابن مالك وئلی دی چې ای په معنی د نعم سره راخي، **واجل وجیر وان تصدیق للمخبر** دا دری حروف راخي د تصدیق د متکلم او تصدیق د جملی خبريي لپاره لکه ته اوائی اجل وجیروان هغه متکلم ته چې هغه تاته اوائی قد اتاك زید یالم یاتك زید نو معنی د دی دا ده چې قداتی یالم یات بل مثال د تصدیق للخبر نحو قوله تعالی إِنْ هَٰذَانِ لَسَاحِرَانِ ای نعم هذان لساحران علی قول او ان کله کله په طریقه د قلت سره راغلی دی د تصدیق د دعا لپاره لکه دا قول د ابن زبیر شو **لمن قال لعن الله ناقة حملتنی الیك ان وراکبها** ای لعن الله تلك الناقة وراکبها او په طریقه د قلت سره راخي د تصدیق د استفهام لپاره کما فی قول الشاعر

ليت شعرى هل للمحب شفاء من جوى حبهن ان اللقاء

ترجمه: کاش چې وی علم زما پدی مضمون باندې چې ایا د عاشقانو لپاره دارو شته د سوزش د محبت د دوی نه د ښځو سره نو جواب وشو چې ان اللقاء ای نعم اللقاء شفاء للمحب دا حروف ایجاب دری قسم دی، (۱): مایقع بعد النفی فقط نحو بل (۲): مایقع بعد الاثبات فقط نحو نحو لا، (۳): ما یقع بعد النفی والاثبات لکه باقی حروف ایجاب شول،

حروف الزیادة

دیته حروف لغوه او حروف الصله هم وايي لانهايتوصل بها الی زنة او اعراب لم یکن عند حذفهاسمیت ایضا حروف الصله لانه یتوصل بها الی زیادة الفصاحة او الی اقامة وزن اوسجع.

ربط: هر کله چې فارغ شو د حروف ایجاب نه شروع یې وکړه په بیان د حروف الزیادة کې نو وي ویل حروف الزیادة،

ترجمه: هغه حروف چې هغه کله کله زائد راخي په استعمال د کلام د عربو کې پدی شان سره چې په ازاله او سقوط د دی سره خلل نه راخي په معنی د اصل کلام کې او دا زیاتی کړی شوی دی په کلام کې د یو فائدی لپاره فائده عامه ده چې لفظیه وی او که معنویه وی فائده معنویه تاکید د معنی دی او لفظیه تزیین د لفظ دی دا مجموعه اته دی، ان، وما، ولا، ومن، والباء، واللام، بل کاف دی هغه ماتن ندی ذکر کړی (۱): د وجی د قلت نه (۲): یا د دی وجی نه چې بعض نحویانو ویلی دی چې کاف زائده نه راخي حروف الزیادت مضاف الیه مبتدا ده ان وما الخ ورله خبر دی او عطف مقدم دی په ربط باندې،

تشریح: زده کړه دا خبره چې یو حروف زیادت دی، د صرفیانو په نز باندې او یو حروف زیادت دی د نحویانو په نز باندې بیا یو حروف الزیادة دی په حروف معانیو کې بل په حروف مباني وو کې نحویان د اول قسم حروف الزیادة نه بحث کوی او صرفیان د قسم ثانی نه حروف زیادت په نزد د صرفیانو باندې لس دی کما فی قول الشاعر،

هويت السمان فشيبننى وقد كنت قد ما هويت السمان

لطيفه: يو شاګرد دا ستاذنه تپوس وکړو چې حروف زيادت کوم کوم دی، نو استاذ په جواب کې دا شعر اويلو نو شاګرد ورته اويل چې زه درنه د حروفو تپوس کوم او ته شعر وائی نو استاذ ورته اويل چې ما درته حروف دوه خله بيان کړه او ته پوه نه شوی او حروف زيادت عندالنحات اته دی ان وان وما ولامن وباء وکاف ولام،

سوال: هر کله چې حروف زيادت اته دی نو مصنف کاف زائده ولې ندی ذکر کړی، **جواب:** د ايې ترك کړی دی د وجی د قلت نه يا ددې وجی نه چې بعض نحات وائی چې کاف زائده نه راځي،

سوال: ته وائی چې ان ان الخ حروف زائده دی، يعنی زائد راځي په کلام کې دا خبره ستا منقوضه شوه په ان ضربت ضربت سره، او وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ سره چې دلته ان او ما زائد ندی راغلی دارنګې سرت من البصرة الی الکوفة کې من زائد ندی الحمد الله کې لام زائد ندی راغلی،

جواب: د حروف زيادت دا معنی نده چې دا حروف زائد راځي د ائما ابدا بلکه مطلب د دی دا دی چې هغه حروف چې کله کله زائد واقع کيږی په کلام د عرب کې نو هغه اته دی نه نور،

سوال: د حروف زيادت خو دا معنی ده چې دا حروف زائد راغلی دی او فائده پکې نشته نو د ابی فائدی حروف څنګه راغلی دی په کلام الله او کلام د فصحاو کې،

جواب: د حروف زيادت دا معنی نده چې فائده پکې نشته بلکه معنی دا ده چې په سقوط د دی سره نقصان نه راځي په اصل معنی د کلام کې او دی متکلم دا حروف زائد کړی وی د يو فائدی د وجی نه او فائده دوه قسمه ده، (۱): لفظيه، (۲): معنويه فائده معنويه تاکيد د نفی لپاره لکه وما الله بغافل کې دا باء زايده راغلی ده د تاکيد دنفی لپاره او ماجاءنی من احد کې من زائد راغلی دی د تاکيد د عموم لپاره او فائده لفظيه دا ده چې دا حروف زياتی کړی شوی دی لپاره د تزيين او تحسين د دی لفظ، **فان الخ** هر کله چې فارغ شو دا جمال نه نو شروع يې وکړه په تفصيل کې نو دا فاء تفصيليه ده، پس کلمه د ان زياتی کولی شی **مع النافية** سره د مانا فيه نه په طريقه د کثرت سره يعنی ان زائد راځي ورروسته د مانافيه نه په طريقه د کثرت سره لپاره د تاکيد د نفی او که دا مامشبه بليس وو، بيا يې دا ان دعمل نه منع کوی نحو ما ان زائد قائم ما ان رائت زيدا ای ما رايت زيدا بل مثال لکه دا قول د حسان بن ثابت شو،

ما ان مدحت محمدا بمقالتی ولکن مدحت مقالتی بمحمد

وقلت: او قليل دی زيادت د ان **مع ما المصدرية** سره د ما مصدريه نه نحوا تنظر ما ان جلس القاضی ای انتظر مدة جلوس القاضی ولما او دغسی قليل دی، زيادت د ان سره د لما نه نحو لما ان قام زيد قمت او ان زائد راځي ورروسته د لمانه په طريقه د کثرت سره نو ځکه مصنف وائی **وان** کلمه د ان په فتحی د همزی سره زياتی کولی شی سره د لما نه په طريقه د کثرت سره نحو قوله تعالی فَلَمَّآ أَنْ جَآءَ الْبَشِيْرُ وقول الشاعر،

فلما ان جری سمن عليها کما طينت بالفدن السياعا

وبين لو والقسم اوان زياتي كولى شى په مينځ د لو او قسم کې په طريقى د کثرت سره چې قسم مقدم وى په لو باندې نحو والله ان لو قام زيد قمت **وقلت** او قليل دى زيادت د ان مع الكاف وروسته د كاف تشبيهى نه الكاف کې الف لام عهدى دى او مراد د كاف نه كاف تشبيهى دى كما فى قول الشاعر:

ويوما توافينا بوجه مغسم كان ظبية تعطوالى ناضرالسلم

ترجمه: ملاقات وکړو موږه يوه ورځ د يو مخ سره داسې مخ چې هغه وو خائسته لکه ته به وائى چې دا هوسى ده او ميلان کوى سلم ونى ته د کان نه وروسته ظبية چې راغلى دى ديکې درى قسم اعراب لوستل جائز دى،

(١) چې ظبيةً منصوب شى بنا پدى چې ان مخفف من المثقل دى او عمل لفظى ورله ورکړى شوى دى (٢) ظبيةٌ چې عمل يې باطل شوى دى (٣) ظبيةٍ چې كاف جاره تشبيهى دى او ان زائد دى **ومامع اذا** او كلمه د أما زائده راځي سره د اذانه **ومتى** او دارنګې وروسته د دينه او ظبية مجرور دى **ومامع اذا** او کلمه د أما زائده راځي سره د اذانه **ومتى** او دارنګې زائده راځي سره د متى نه **واى واين وان** او دارنګې زائد راځي سره د اى اين او ان نه **شرطا** په حال کون د دى کلمات کې چې دا خاوند د شرط واخلي يا په وقت د شرط کې شرطا منصوب دى بنابر حاليت په اعتبار د حذف د مضاف سره اى ذوات شرط يا منصوب دى بنابر مفعول فيه په اعتبار د حذف د مضاف سره يا په تقدير د فى سره اي وقت شرط يا فى شرط او که اذا متى اى اين او ان شرطى نه وو راغلى، بيا وروسته د دى نه ما زائده نه راځي مثال د ما چې زائد راغلى وى وروسته د اذا شرطى نه نحو اذا ما تخرج اخرج او وروسته د متى شرطى نه نحو متى ما تذهب اذهب او وروسته د اى شرطى نه نحو ايا ما تدعو افله الاسماء الحسنى او وروسته د اين نه نحو اين ما تجلس اجلس وروسته د ان نه نحو اماترين من البشر احدا

وبعض حروف الجر دا عطف دى په اذا باندې او ما قبل د معطوف عليه معاد وى د معطوف سره فيكون التقدير ومامع بعض حروف الجر دا کلمه د ما زياتي کولى شى سره د بعض حروف جاره ؤنه چې هغه پنځه دى، با، من، عن، کاف، رب، مثال د ما چې وروسته د باء نه زائد وى نحو قوله تعالى فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ وروسته د من نه نحو مِّمَّا خَطِيئَاتِهِمْ أُغْرِقُوا وروسته د عن نه نحو عَمَّا قَلِيلٍ لَّيُصْبِحُنَّ نَادِمِينَ او وروسته د کاف نه نحو زيد صديقى كما ان عمرا اخى او وروسته د رب نه نحو قوله تعالى رُّبَمَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا ربما ضربة بسيف صيقل او ددې پنځو نه علاوه د نورو حروف جاره ؤ سره ما زائد نه راځي او ما چې زائد راشي وروسته د رب او کاف نه نو غالبا عمل لفظى د هغې باطل کوى وقلت مع المضاف او قليل دى زيادت د کلمه د ما سره د مضاف نه يعنى ما زائد راځي په طريقه د قلت سره بين المضاف والمضاف اليه نحو غضبت من غير ماجرم وقوله تعالى أَيَّمَا الْأَجَلَيْنِ قَضَيْتُ وقولك لاسيما الولد بعض نحويانو ويلى دى چې کلمه د ما په دغه مواضع کې نکره مضاف اليه دى او دا ما بعد مجرور بدل واقع شوى دى، د دى ما نه لهذا دا ما زائد ندى، ولامع الواو بعد النفى او کلمه د ما زائده راځي سره د واو عاطفه نه وروسته د حرف نفى نه دا حروف نفى عام دى چې لفظاوى نحو

ماجاءنی زید ولاعمرو یا معنی وی نحو غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ دلته غ ر په معنی دلایې نفی ذی او دغسی زائد راځی سره د واو عاطفه نه وروسته د نهی نه نحو لاتضرب زید او لاعمرا **وان المصدرية** دا عطف دی په مع الواو باندې نه په بعد النفی باندې ځکه که عطفۀ شی په بـ د النفی باندې نو لازمیږی فساد د معنی ځکه معنی یې دا شوه چې ولامع الواو بعد ان المصدرية او دا معنی باطله ده، بلکه معنی دا ده چې دا کلمه د لازیاتی کولی شی وروسته د ان مصدرية نه نحو قوله تعالی مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ دلته دا لا زائد دی،

(١): ځکه بل ځای راغلی دی بغیر د لا نه مامنعك ان تسجد نو هغه دلیل دی پدې چې لازائد دی

(٢): که لازائده نه شی نو لازمیږی فساد د معـنی **وقلت قبل اقسم** او قلیل دی زیادت د لا مخکې د لفظ د اقسم نه یعنی لازائد راځي په طریقه د قلت سره مخکې د لفظ دا قسم نه نحو قوله تعالی لَا أُقْسِمُ بِهَذَا الْبَلَدِ دلته دری احتمالد دی، (١): دا لا د نفی لپاره دی ای لیس الامر کما زعمتم اقسم بیوم القيامة،

(٢): یا دا لام ابتدائیه تاکیدیه دی، او الف پکې راغلی دی د فتحه اشباعی د وجی نه فیکون المعنی لاقسم بهذ البلد، (٣): دریم دحتمال دا دی چې دا زائد دی او نکته په زیادت د لاکې مخکې د اُقسم نه تنبیه ورکول دی، د متکلم سامع او مخاطب ته په ظهور د قصه باندې چې دا قصه بالکل ظاهره ده او واضحه ده، داسې واضحه او ښکاره ده چې مستغنی ده د قسم نه نو ددې د وجی نه متکلم دا ښکاره کړه په صورت د نفی د قسم کې اګر چې نفی حقیقة نشته **وشذت مع المضاف** او شاذ دی زیادت د لاسره د مضاف نه یعنی دا لا زائد راځي په طریقه د قلت سره د مضاف او مضاف الیه په مینځ کې کقوله ع فی بیرلا حور سری وما شعر .... حور صیغه جمع تکسیر مذکر اسم فاعل ده جمع د حائر ده من حار بمعنی هلك او دغسی لازائده راځي د دی نه علاوه نحو قوله تعالی لِئَلَّا يَعْلَمَ أَهْلُ الْكِتَابِ أَلَّا يَقْدِرُونَ عَلَىٰ شَيْءٍ ای لیعلم اهل الکتاب اودا لازائد دی، ځکه که زائد نشی نو لازمیږی فساد د معنی وقوله تعالی وَحَرَامٌ عَلَىٰ قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا أَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُونَ کې لا زائد دی والا یلزم فساد المعنی بل مثال نحو قوله تعالی وَمَا يُشْعِرُكُمْ أَنَّهَا إِذَا جَاءَتْ لَا يُؤْمِنُونَ **ومن والباء واللام تقدم ذكرها** د دی ذکر مخکې شوی دی په حروف جاره ؤ کې مثال د من جاره ماجاءنی من احد یغفر لکم من ذنوبکم مثال د باء زائده وماالله بغافل ولاتلقوا بایدیکم مثال د لام ردف لکم،

حرفا التفسير

ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د حروف زیادت نه نو شروع یې وکړه په حروفو د تفسیر کې نو وي ویل حرفا التفسیر،

ترجمه: دوه حروفونه دتفسیر ای او ان دی حرفا التفسیر مضاف مضاف الیه مبتدا ده او ای وَان ورله خبر دی دا اصل کې حرفان وو نون وغورځیدو داضافت د وجی، نه حرفا پاتې شو او **اضافتـه** حرفاز

تفسیر ته اضافت د دال دی، مدلول ته یعنی هغه دوه حرفونه چې دلالت کوي په تفسیر او بیان د یو شی باندې او حروف تفسیر خلو دی، ای، ان، بل، فاء، او مصنف دا دوه ترک کړی دی د وجی د عدم شهرت نه ای دوه قسمه دی (١): ندائیه، (٢): تفسیریه، او فرق په مابین د ای تفسیری او ان تفسیری کې دا دی چې ای راځي د تفسیر د هر مبهم لپاره عام دی چې مفرد وی، لکه جاءنی زید ای ابو عبدالله یا جمله وی نحوقطع رزق زید ای مات **فان** کې داخل تفسیریه ده دا تفسیر کوی، د ان تفسیری فان پس دا ان مفسره **مختصة** خاص دی بما په هغه فعل پورې چې هغه متقرر دی فی معنی القول په معنی د قول کې په شان د تقرر د ظرف په مظروف کې چې ندی منفك د دغه فعل نه ما عبارت دی فعل نه اوفي معنی القول جار مجرور په اعتبار د متعلق محذوف سره چې متقرر دی صفت د ما دی نو ددې نه دری خبری معلومی شوی،

(١): یو دا چې ان تفسیری نه واقع کیږی وروسته د قول صریحی نه،

(٢): او دا ان تفسیری نه واقع کیږی وروسته د هغه فعل نه چې هغې کې معنی دقول نوی،

(٣): بلکه دا واقع کیږی وروسته د هغه فعل نه چې په هغې کې کائنه ده او موجوده ده معنی د قول، او ان تفسیری چې واقع شي وروسته د دغسی فعل نه نو غالبا دا بیان کوی د مفعول مقدر د هغه فعل چې هغه په معنی د قول سره دی، نحو قوله تعالی ونا دیناه ان یاابراهیم دا ان یا ابراهیم تفسیر دی دمفعول دنادینا اپاره چې **هغه** مقدر دی ای ونادینا بلفظ هو قولنا یا ابراهیم بل مثال لکه دا مقوله ستا شوه کتبت الیه ان ائت ای کتبت الیه شیئا هو ایت چې دا ان دلالت کوی پدی خبره باندې چې دا ائت تفسیر دی د مفعول به مقدر د کتبت لپاره چې هغه شیئا دی او هر چې دی پدی قول د الله کې مَاقُلْتُ لَهُمْ إِلَّا مَا أَمَرْتَنِي بِهِ أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ دا ان اعبدالله تفسیر دی د ضمیر د به او امرت فعل دی بمعنی القول او دا ان اعبدالله تفسیر د ما امرتنی ندی ځکه دا مفعول به دی د قول صریحی لپاره او ان تفسیر د مفعول به د قول صریحی نه واقع کیږی، (٢): او دا ان د تفسیر لپاره راځي لپاره د مفعول به مذکور په طریقه د قلت اود ندرت سره نحو قوله تعالی إِذْ أَوْحَيْنَا إِلَى أُمِّكَ مَا يُوحَى. أَنِ اقْذِفِيهِ دا ان اقذفیه تفسیر د ما یوحی دی او دا مفعول د اوحینا دی او مذکور دی،

حروف المصدر

ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د حروف تفسیر نه نو شروع یې وکړه په بیان د حروف المصدر کې،

ترجمه: هغه حروف چې ګرځوی مدخول خپل لره مصدر مشهور ما وان وان دی او تول اووه دی، ما وان، وان، کی، ولو، والذی، همزة التسویة، **فالاولان** پس دا اول دوه چې ما او ان دی للفعلية داخلیږی په جمله فعلیه باندې نه په جمله اسمیه باندې، (عندالسیبویه) او دا دواړه ګرځوی جملی فعلیی لره مفرد په تاویل د مصدر سره مثال د ما نحو قوله تعالی وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَكُمْ ای صیامکم

خیر لکم او د سیبویه نه علاوه نورو نحویانو جائز کړی دی، دخول د ما او ان په جمله اسمیه باندې هم او شارح رضی ویلی دی وهوالحق وان کان قلیلا مثال لکه بقوا فی الدنیا ما الدنیا باقیة ما الدنیا باقیة کې ما مصدریه دی معنی دا ده، چې ژوندی دی ولړلی شی دوی تر څو پورې چې دنیا باقی ده **وان** او ان مفتوحة الهمزة **للاسمية** داخلیږی په جمله اسمیه باندې نه په جمله فعلیه باندې پدی شرط سره چې وروسته تری ما کافه نه وو راغلی او دا ان جمله ګرځوی په تاویل د مفرد سره پدی شان سره چې مصدر د خبر د ان به مضاف کړی اسم د ان ته مصدر عام دی، که حقیقی وی او که داعائی وی مثال د اول نحو اعجبنی انك قائم ای قیامك او مثال د ثانی اعجبنی ان زیدا اخوك ای اعجبنی اخوة زید او که د خبر د ان نه مصدر جوړه ول متعذر وو نو کون به مقدر راوباسی نحو اعجبنی ان هذا زید ای کونه زیدا او که وروسته ددې نه ماکافه راغلی وو نو بیا داخلیږی په جمله فعلیه باندې نه په جمله اسمیه باندې مثال د لو مصدریه نحو قوله تعالی وَدُّوا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ مثال دکی مصدریه نحوقوله تعالی لِكَيْ لَا يَكُونَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ او مثال د الذی مصدریه قوله تعالی وَخُضْتُمْ كَالَّذِي خَاضُوا ای کخوضهم مثال د همزه تسویه قوله تعالی سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَأَنْذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ ای انذارك وعدم انذارك مستویان علیهم اوان څلور قسم دی،

(۱): مخفف من المثقل نحو قوله تعالی وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

(۲): زائده نحو قوله تعالی فَلَمَّا أَنْ جَاءَ الْبَشِيرُ، (۳): ان تفسیریه نحو قوله تعالی وَنَادَيْنَاهُ أَنْ يَا إِبْرَاهِيمُ،

(۴): مصدریه نحو وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَكُمْ،

حروف التحضیض

هغه حروف چې دلالت کوی په تیز ولو د سامع او مخاطب باندې دا شپږ دی، هلا والا مشدد تین ولولا ولو ما ولو او پنځم الا مخفف دی دا کله کله د تحضیض لپاره راځي نحو قوله تعالی أَلَا تُقَاتِلُونَ قَوْمًا نَكَثُوا أَيْمَانَهُمْ او مثال د لو بمعنی هلا نحو لوتا مرنا فتطاع دا دوارو مصنف ندی ذکر کړی،د وجی د قلت او ندرت نه ځکه د مصنف دا داب او طریقه ده چې هغه شی ذکر کوی چې شائع او متعارف وی، په کلام د عربو کې او کوم شی چې شائع نوی هغه ترك کوی او دا حروف تحضیض چې داخل شی په مضارع باندې دا دلالت کوی په تحضیض د فعل اتی باندې او دا په معنی د امر سره وی او که داخل شی په فعل ماضی باندې بیا دا راځي د توبیخ او تندیم لپاره په ترك د فعل باندې د دی وجی نه دیته حروف تندیم هم وائی لیکن غالبا دا مستعملیږی په لوم د مخاطب کې پدی خبره باندې چې ده ترك کړی دی یو شی په زمانه ماضی کې او ممکن دی تدارك دهغې په زمانه مستقبل کې چې دی اتیان وکړی په هغه فعل باندې چې هغه په شان د مافات دی نویدی اعتبار سره دغه حروف من حیث المعنی د تحضیض لپاره دی ځکه ورته حروف تحضیض وائی، **ولهاصدرالكلام** هر کله چې فارغ شو د حروف تحضیض نه اجمالانو شروع یې وکړه په احکامو د حروف التحضیض کې

نو يو حکم د احکامو د حروف التحضيض نه دا دی چې ثابت دی د دی لپاره صدرات د کلام پدی شان سره چې دا د کلام په اول سر کې راځي، نه په مينځ او نه په اخير کې لپاره د دی چې دلالت وکړی په نوعيت د کلام باندې د اول وهلت نه. **ويلزمها الفعل** لازم دی د دی حروف تحضيض سره فعل يعنی دا حروف التحضيض واجب الدخول دی په جمله فعليه باندې ځکه دا راځي د تحضيض او دحث لپاره اودا تحضيض او حث نه راځي مگر په فعل کې او داتحضيض عام دی که لفظا وی نحو هلا ضربت زيدا هلا تضرب زيدا **او تقديرا** يا تقديرا وی او دا تقديرا بيا عام دی چې وجوبا وی نحو هلا زيدا ضربته هلا زيدا تضربه يا جوازا وی کقوله عليه السلام فهلا بكرا تلاعبك وتلاعبها ای فهلا تزوجت بکرا اوکله کله په طريقه د قلت سره د وجی د ضرورت شعری نه دا حروف تحضيض داخليږی په جمله اسميه باندې کما فی قول الشاعر،

يقولون ليلى ارسلت بشفاعة الى فهلا نفس ليلى شفعيها

دا هلا تحضيضی دی داخل شوی دی په جمله اسميه باندې چې نفس ليلى شفيعها دی د وجی د ضرورت شعری نه،

حرف التوقع

هغه حرف چې راځي د توقع لپاره او دلالت کوی په توقع د سامع او د مخاطب باندې قد دا لفظ د قد دی او قدا و لاخلور قسمه دی،

(١): قد اسمی بمعنی حسب نحو قد لکم الله ای حسبکم الله وکقولك قدی درهم ای حسبی درهم

(٢): دويم قد اسم فعل بمعنی کفی يکفی نحو قدنی درهم ای يکفينی درهم،

(٣): قد فعلی دا مشدد راځي يعنی قد په معنی د شلولو او څيرولو سره کما فی قول الشاعر،

نقرليهم لهذميات نقدبها ماکان خاط عليهم کل زراد

وقددت الاديم لراهشيه والفی قولها کذبا ومينا

سوال: قد متنی زيد فی المحراب څه ترکيب دی **جواب:** قد فعل ماضی متنی مضاف اليه مفعول به مقدم زيد فاعل فعل سره د فاعل او مفعول به نه جمله فعليه خبريه او که د قدم يقدم تقديما نه مشتق شی نو بيا دا ترکيب ندی صحيح ځکه د فعل اسناد چې مذکر ته نو تذکير د فعل واجب دی بيا قدمتی زيد ويل پکار وو نظيره قول الشاعر،

قرعت الباب حتی کل متنی فلما کل متنی کلمتنی

فلما کل متنی شرط دی او کلمتنی جزاء ده کل فعل دی او متنی ورلہ فاعل دی فعل سره د فاعل نه جمله شرطيه ده، او جزاء کې کلمتنی ماخوذ دی د کلم يکلم تکليما نه نو ترتب د جزء په شرط باندې صحيح شو ځکه که شرط هم ماخوذ شی د کلم يکلم تکليما نه نو بيا لازميږی اتحاد بين الجزاء والشرط او ترتب نه صحيح کيږی،

(۴): قد حرفي دی دا داخليږی په فعل متصرف مثبت خبری باندې چې خالی وی عن الناصب و الجازم والتنفيس او قد حرفی په پنځه معانيو سره راځي (۱): توقع، (۲): تحقيق، (۳): تقريب مثال د دری وارو لکه قد قامت الصلوة (۴): للتقليل نحوان الکذوب قد يصدق (۵): او کله راځي للتکثير فی موضع المدح نحو قد يعلم الله **وهی** او دا قد **فی المضارع** چې داخل شی په مضارع باندې پدی شرط سره چې دا مضارع خالی وی د جازم ناصب او حرف تنفيس نه **للتقليل** نو دا راځي د تقليل لپاره غالبا او کله کله راځي د تکثير لپاره په مقام دمدح کې کمامر او قد چې داخل شی په فعل ماضی باندې نو دتوقع تحفيف تقريب لپاره راځي د. دی وجی نه ديته حرف تقريب هم وائی او دا چې داخل شی په ماضی مطلق باندې نغي ته ماضی قريب وائی په نزد صرفيانو باندې ځکه دا هغه زمانه د ماضی نزدی کوی زمانی د حال ته تقريب بين الزمانين راولی

(۲): چې داخل شی په مضارع باندې نو للتحقيق وی نحو قد نری تقلب وجهك فی السماء او جائز دی فصل په مينځ د قد او فعل کې په قسم سره نحو قد والله........ قدلعمری، بت ساهرا دارنګې جائز دی حذف د مدخول د قد په طريقه د قلت سره،

حرفا الاستفهام

هر کله چې فارغ شو د بيان د حرف توقع نه نو شروع يې وکړه په حروف استفهام کې،

ترکيب: حرفا مضاف الاستفهام مضاف اليه اصل کې حرفان وو نون حذف شوی دی د وجی د اضافت نه بيا التقاء الساکنين راغله بين الالف واللام علی غير حده اول مده حذف شو حرف الاستفهام پاتې شو مضاف سره د مضاف اليه نه مبتدا ده او الهمزة وهل ورله خبراو اضافت د حرف الاستفهام ته اضافت د دال دی مدلول ته،

ترجمه: هغه دوه حرفونه چې هغه دلالت کوی په استفهام باندې چې هغه طلب د حصول د صورة د شئ دی فی العقل **الهمزة وهل** همزه اوهل دی فقط نه بل شی ځکه مبتدا او خبر چې دواړه معرفه راشی دا فائده کوی حصرا واختصاص لره او هر چې دی قول د سيد سند صاحب په نحو مير کې چې حروف استفهام سه اندما وهمزه وهل هغه بنا دی په مسامحه باندې چې حروف استفهام لره يې غلبه ورکړيده په مااسمی باندې چې هغه يې ګرځولی دی د حروف استفهام نه او هلته يې ذکر کړی دی طرداً او قول د مناطقو په ما اعظم شانه کې چې دا ماحرفيه استفهاميه دی دا خطاء دی، ځکه ما په معنی د هل سره چرته ندی راغلی په استعمال د کلام د عربو کې ځکه ما استفهامی اسمی راځي نه حرفی ځکه مصنف د کافيه دا ګرځولی دی د ما اسمی نه نه د حرفی نه،

تشريح: زده کړه دا خبره چې حروف باعتبار الدخول دری قسم دی،

(۱): ځنی هغه دی چې داخليږی په فعل باندې فقط نه په اسم لکه عوامل ناصبه او جازمه شو،

(۲): ځنی هغه دی چې داخليږی په اسم باندې نه په فعل لکه حروف جاره او حروف مشبه بالفعل،

۳: او بعض هغه دی چې داخليږی په اسم او فعل دواړو باندې لکه همزه او هل شو چې دا په جمله اسميه او فعليه دواړو باندې داخليږی، يو حروف استفهام دی او يو اسماء استفهام دی نو اسماء استفهام نهه دی،

کم، ما، ای، من، متی، اين، انی، ايان، کيف،

او حروف استفهام دوه دی، الهمزة وهل او همزه اته قسمه ده،

(۱): وصليه نحو اضرب او دا بيا دوه قسمه ده (۱) سماعی، (۲) قياسی سماعی په لسو ځايونو کې راځي، ابن، ابنه، ابنم، اسم، امة، اثنان، اثنتان المراة المراتان ايمن الله او قياسي راځي په (۳۰) مواضع کې لکه په ماضی امر او مصدر د نهه بابو نو د ثلاثی مزيد کې نو ۳×۹ =۲۷ شو (۲۸) امر د ثلاثی مجردو (۲۹): د ميم تعريفی سره نحو ليس من امبر امصيام فی امفسر (۳۰): لام تعريفی سره نحو الرجل،

(۲): همزه قطعيه نحو اکرم، (۳): تعريفيه نحو المراة عند المبرد (۴) ندائيه نحوا زيد، (۵): همزة التکلم نحواضرب، (۲): همزه اصليه نحو اب (۷) همزه د تعديت نحو اکرم، (۸): همزه استفهاميه نحو ازيد قائم اوهمزه استفهاميه په اته معاني وو سره راځي مجازا (۱) تسويه نحو سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ ءَأَنذَرۡتَهُمۡ أَمۡ لَمۡ تُنذِرۡهُمۡ (۲): الانکار الابطالی نحو أَفَأَصۡفَىٰكُمۡ رَبُّكُم بِٱلۡبَنِينَ (۳): الانکار التوبيخی نحو قُلۡ أَفَغَيۡرَ ٱللَّهِ تَأۡمُرُوٓنِّيٓ (۴): التقرير نحو ءَأَنتَ فَعَلۡتَ هَٰذَا (۵): التهکم نحو اصلوتك تامرك

(۲): الامر نحو اسلمتم بمعنی اسلموا (۷): التعجب نحو مَالِيَ لَآ أَرَى ٱلۡهُدۡهُدَ (۸): الاستفتاء نحوالم دعوتك، أَلَمۡ يَأۡنِ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ

او هل خلور قسمه دی (۱): هل استفهاميه نحو هل زيد قائم، (۲): نافيه نحو هل تنقم منا الا ان امنا بالله هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلَّذِينَ يَعۡلَمُونَ وَٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ، وقول عبد الله ابن مبارك هل افسد الدين الا الملوك واحبار السوء ورهبانها (۳): بمعنی قد نحو هَلۡ أَتَىٰ عَلَى ٱلۡإِنسَٰنِ حِينٞ مِّنَ ٱلدَّهۡرِ (۴): تمنائيه نحو هل لی من شفيع حيث يعام ان لا شفيع

او هل استفهاميه دوه قسمه دی (۱): هل بسطيه، (۲): هل مرکبه بسيطه ديته وائی چې هغه سره استفهام کولی شی د ثبوت او وجود د موضوع او علامه يې دا ده چې محمول به لفظ د موجود يا معدوم وی يا به مرادف د دی وی نحو هل الحرکة موجودة يا معدومة دی، هل ته هل بسطيه وائی او دی قضيې ته هليه بسطيه وائی (۲): او هل مرکبه ديته وائی چې په هغه سره استفهام کولی شی د ثبوت د يو صفت موصوع لره چې صفت زائده وی د وجود نه نحو هل الحرکة دائمة او دی هل ته هل مرکبه اودی قضې ته هليه مرکبه وائی، حروف استفهاميه دوه دی، همزه او هل او همزه اصل ده په استفهام کې د هل نه ځکه وضع کړی شوې ده د استفهام دپاره او هل په اصل وضع کې په معنی د قد سره وو او بيا وروسته مستعمل شوی دی په استفهام کې او دې هل نه مخکې به همزه استفهاميه ذکر کيده بيا د وجې د کثرت استعمال نه په استفهام کې همزه حذف شوه، او هل په استفهام کې

مستعمليږي، مصنف اول ما به الاشتراك بيانوی بين هل وهمزه او بيا ما به الامتياز بيانوی بين الهمزه وهل ځکه چې ما به الامتياز فرع دما به الاشتراك ده،

مابه الاشتراك

(١) همزه هم د استفهام لپاره راځي او هل هم د استفهام لپاره راځي
(٢) لهما صدر الكلام دواړه په اول سر د كلام كې راځي لپاره د دې چې دلالت وكړي په نوعيت د كلام د اول د وهلت نه
(٣) همزه هم داخليږي په جمله اسميه او فعليه دواړو باندې او هل هم داخليږي په دواړو باندې **تقول** نو وائي به ته **ازيد قائم** دا مثال د جملې اسمي دی **واقام زيد** دا مثال د جملې فعليې دی، **وكذلك هل** او په شان د همزه دی هل په دخول على الجملة الاسمية والفعلية كې پدې دواړو باندې نحو هل زيد قائم او هل قام زيد ليكن دومره فرق دی چې داخليږي په هغه جمله اسميه باندې چې خبر ورله فعل نه وی راغلی او همزه عام ده، **والهمزة اعم تصرفا.**

ربط: هركله چې فارغ شو، مصنف د بيان د ما به الاشتراك نه بين الهمزة وهل نو شروع يې وكړه په ما به الامتياز د همزه او هل كې، **والهمزة** او همزه استفهاميه **اعم** عامه ده او اكثر ده **تصرفا** د جهته د تصرف نه په استعمال كې د هل نه پدې شان سره چې په هل او همزه كې ديارلس فرقونه دی
(١) همزه داخليږي په اسم باندې چې د هغې نه وروسته فعل راغلی وی بخلاف هل تقول وائی به ته ازيد اضربت فلا يقال هل زيدا ضربت. (١) ځكه هل په هغه اسم باندې داخليږي چې د هغې نه وروسته بل اسم وی او كه چرې وروسته د اسم نه فعل وو نو هل په هغې باندې نه داخليږي ځكه د اهل په اصل وضع كې په معنی د قد سره وو داخليدوا په فعل باندې او بيا د هغه نه معنی د قد وويستلې شوه، او په معنی د استفهام كې مستعمل كړی شو، هغه معنی د قد د دې نه هيره شوه اوس كله چې مونږه دا داخل كړو و په هغه اسم باندې چې وروسته د هغې نه فعل راغلی وی او د اهل هغه فعل اوينی نو بيا ورته هغه پخوانی زمانه يا ده شي نو دی شوق كوی، د دخول په فعل باندې او سره د دې نه داخلول د ده په اسم باندې د ده سره ظلم دی. (٢) زيد اضربت كې تقديم د مفعول به راغلی دی په فعل باندې دپاره د حصر دا دلالت كوی په حصول د علم تصديقی باندې او هل دلالت كوی په عدم حصول د علم تصديقی باندې په مابين د دې كې منافات دی په خلاف د همزی نه دا راځي د طلب د تصور لپاره نو د دې سره منافات نشته
(٢) **واتضرب زيدا وهو اخوك**. فلايقال هل تضرب زيدا و هو خوك ځكه مقصود دلته انكار د فعل دی، چې واقع دی فی الحال بمعنی انه لاينبغی ان يكون ذاك اوهل خاص كوی مضارع په استقبال پورې دا صالح ندی لپاره د انكار د فعل چې واقع وی فی الحال بخلاف الهمزة چې دامضارع نه خاص كوی په استقبال پورې، (٢) هل دلالت كوی په ضرب استقبالی باندې ځكه دا راځي د استقبال لپاره او حال دلالت كوی په ضرب حالی باندې او په مابين د دې كې منافات دی،

(۳): حقیقت کښې مدخول د همزه مقدر دی ځکه دا ضرب د مخاطب زیدلره معلوم دی متکلم ته د هغې .... او همزه اصل ده
نه استفهام نکوی بلکه دی استفهام کوی د هغه شی نه چې هغه مقدر دی ای
په استفهام کښې په مذکور او مقدر دواړو باندې داخلیږی او هل فرع ده فقط په مذکور داخلیږی،
(۴): وازید عندك ام عمرو: او وائی به ته ازید عندك ام عمرو فلایقال هل زید عند ام عمرو،
(۱): ځکه ام متصله وروسته د همزی نه راځی او وروسته د هل نه نه راځی،
(۴): همزه داخلیږی په حروف عاطفو باندې بخلاف هل نو وائی به ته اثم اذا ماوقع فلایقال هل ثم اذا ما
وقع او دا اذا ماوقع عطف دی په مقدر باندې ای اذا حان وقت العذاب و وقع اثم اذا ما وقع امنتم و
حینئذ لاتنفع الایمان دارنګې وائی به ته افمن کان او اومن کان فلایقال هل فمن کان هل ومن کان
افمن کان علی بینة من ربه، (دا مبتدا ده) او خبرې محذوف دی چې کمن یرید الحیوة الدنیا دی،
بیا دا جمله عطف ده په مقدر باندې فیکون التقدیر او من کان مومنا کمن کان کافرا افمن کان علی
بینة من ربه کمن یرید الحیوة الدنیا او من کان میتا فاحییناه (مبتدا ده) او خبرې حذف دی ای کمن
مثله فی الظلمات او دا عطف دی په مقدر باندې ای من امن منکم،
(۵): هل د استفهام د نسبت ایجابی لپاره راځی فقط او همزه عامه ده، فلایقال هل لم یقم زید بل
یقال الم یقم زید نحو قوله تعالی أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ،
(۶): همزه داخلیږی په هغه جمله اسمیه باندې چې خبر یې فعلیه راغلی وی فیقال ازید قام او هل په
هغه جمله اسمیه باندې نه داخلیږی، چې خبر یې جمله فعلیه راغلی وی فلا یقال هل زید قام،
(۷): همزه داخلیږی په جمله شرطیه باندې بخلاف هل،
(۸): همزه داخلیږی په ان تاکیدیه نحو قوله تعالی أَإِنَّكَ لَأَنْتَ يُوسُفُ بخلاف هل
(۹): همزه راځي د طلب د تصور او تصدیق دواړو لپاره او هل فقط د طلب د تصدیق لپاره،
(۱۰): هل چې داخل شی په مضارع باندې نو مضارع خاص کوی په استقبال پورې بخلاف الهمزة
(۱۱): با زائده د هل نه وروسته راځي نحو هل زید بقائم، او د همزی نه وروسته نه راځي فلایقال
ازید بقائم، (۱۲): حذف د همزه جائز دی بخلاف هل نحو قول الشاعر،

فوالله ما ادری وان کنت داریا ... بسبع رمیت الجمرام بثمان

وقوله تعالی هذا ربی ای اهذا ربی،
(۱۳): هل وروسته د ام اضرابی نه راځي بخلاف الهمزة لایقال اقام زید ام اقعد بل یقال ام هل قعد،

حروف الشرط

ربط: هرکله چې فارغ شو مصنف دبیان د حروف استفهام نه نو شروع یې وکړه په بیان د حروف شرط کې،
ترجمه: هغه حروف چې دلالت کوی په تعلیق د مضمون د جزاء باندې په مضمون د شرط پورې،
(عند الجمهور) ان ولو واما دی، **لهاصدر الکلام** ثابت دی د دی حروف شرط لپاره اولیت د کلام لپاره د
دی چې دلالت وکړی په نوعیت د کلام باندې د اول وهلت نه،

تشريح: زده كړه دا خبره چې يو اسماء شرط دي او يو حروف شرط دي اسماء شرط مشهور نهه دي، لكه راغلى دي پدى قول د شاعر كې،

من وما مها واى حيثما اذ ما متى اينما انى نه اسم جاز مند مر فعل را

او غير مشهور درى دي، اذا ما كيفما لما، او حروف الشرط عند الجمهور درى دي، ان، ولو،واما، مثال د واو نحو قوله تعالى **مالم تمسوهن** اى ان لم تمسوهن، شرط په لغت كې الزام د يو شى دى د بل شى سره او په اصطلاح د نحويانو كې تعليق د مضمون د جزاء دى په مضمون د شرط پورې او پدى معنى كې دا درى واړه حروف شريك دى او دغسى په صدارت د كلام كې دا درى واړه شريك دى.

فان للاستقبال وان دخل على الماضى: (ربط) هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د حروف شرط نه اجمالا نو شروع يې وكړه، په بيان د حروف شرط كې تفصيلا فان كې دا فاء تفصيليه ده فان للاستقبال،

ترجمه: كلمه د ان وضع كړى شويده د استقبال لپاره **وان دخل على الماضي** اگر كه داخل شي دا په ماضي باندې نو گرځوي دا ماضي كه معنى د مستقبل سره الا اذا دخلت على كان فانها لا تقلب كان الى معنى الاستقبال لقوة دلالته على معنى المضي عندالمبرد والزجاج والكوفيين، او كه په فعل مضارع باندې داخل شى نو دا خاص كوى په استقبال پورې نحو ان تكرمنى اكرمك وان اكرمتنى اكرمتك معنى د ثانى بعينه معنى د اول ده، د دواړو معنى دا ده ان وقع منك اكرامى فى الاستقبال وقع منى اكرامك ايضا فيه، او كلمه د لو عكس د ان ده پدې شان سره چې دا لو راځي د ماضى لپاره اگر كه داخل شوى دى په مضارع باندې نحو قوله تعالى لَوْ يُطِيعُكُمْ فِي كَثِيرٍ مِّنَ الْأَمْرِ لَعَنِتُّمْ اى لو اطاعوكم في كثير من الامر لوقعتم في الجهد والهلال چې دلته لو په مضارع داخل شوى دى، او مضارع په معنى د ماضى سره ده بل مثال لو ضربت ضربت لو تضرب اضرب معنى د مثال ثانى بعينه معنى د مثال اول ده، ترجمه د دواړو دا ده چې لو وقع منك ضرب فى الماضى فقد وقع منى ضربك فى الماضى خكه لو دلالت كوى په تعليق د مضمون د جزاء په مضمون د شرط پورې په ماضى كې فرضاً سره د علم يقين د متكلم نه په انتفاء د دواړو باندې، او په بعض نسخو كې راغلى دى فان للاستقبال ولو للماضى او كله كله لو راځي په معنى د ان سره په مستقبل كې نحو قوله تعالى وَلَأَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكَةٍ وَلَوْ أَعْجَبَتْكُمْ اى وان تعجبكم وقوله تعالى وَلْيَخْشَ الَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا اى وان يتركوا

تشريح: سوال: فان للاستقبال الخ ددې عبارت ربط د ما قبل سره څه دى او غرض د مصنف د دى عبارت نه څه دى. **جواب:** مخكې بيان د حروف شرط وو اجمالا او د دى ځاي نه بيان د حروف شرط كوي، تفصيلا نو په معرفت د ربط سره غرض د مصنف هم معلوم شو چې تفصيل د حروف شرط دى،

تركيب: فاتصيليه ان مبتدا للاستقبال جار مجرور په اعتبار د متعلق محذوف سره خبر دى مبتدا سره دخبر نه جمله خبريه اسميه شوه، او دغسى تركيب د ولو عكسه دى چې لومبتداده اوعكسه يې خبردى،

سوال: ان اولو حرفان دى او حرف په تركيب كې مبتدا نه واقع كيږى،

جواب: ان اولو دواړه پدی مقام کې مراد اللفظ علم دی دهغه ان اولو دپاره چې واقع کیږی په تراکیبو
کې نو د علمیت د وجی نه پدیکې اسمیت راغلی دی، ځکه مبتدا واقع شویده،
سوال: وان ادخل علی الماضی شرط دی تقاضه د جزا کوی د دی جزا کوم ده،
جواب: جزا د دی فان للاستقبال دی بنا په مذهب د هغه چا چې تقدیم د جزا په شرط باندې جائز وائی
لکه کوفیان، (۲) یا جزاء د دی حذف شویده او فان للاستقبال دال بالجزاء ده بنا په مذهب د هغه چا
چې تقدیم د جزاء په شرط باندې جائز نه وائي یا دلته ان وصلیه دی او ان وصلیه جزا نه غواړي لفظا
سوال ان وصلیه څه ته وائی؟ **جواب** ان وصلیه دیته وائی چې نقیض د مشرط اولی بالجزاء وی. نو
شرط پدی مقام کې دخل علی الماضی ده او نقیض د دی دخل علی المضارع دی اوس د دی معنی
دا شوه چې ان چې داخل شی په فعل ماضی نو دهغې نه مستقبل جوړوی، نو که په فعل مضارع
داخل شي نو د هغې نه په طریقه اولیٰ سره مستقبل جوړوې او د ان او لو مینځ کې فرق دا دی چې ان
دلالت کوي په تعلیق د مضمون د جزا په شرط پورې په زمانه استقبال کې اولو دلالت کوی په تعلیق د
مضمون د جزاء په وجود د مضمون د شرط پورې فرضا په ماضی کې سره دعلم یقین د متکلم نه په
انتفاء د دی دواړو باندې بیا د لو په معنی موضوع له کې اتفاق دی چې تعلیق د وجود د مضمون د
جزاء دی په مضمون د شرط پورې فرضاً په ماضي کې سره د علم یقین د متکلم نه په انتفاء د دې
دواړو باندې نو دا انتفاء د مضمون د شرط او دجزاء سره لازم ده او پدی معنی التزامی کې اختلاف
دی د جمهورو او ابن حاجب، د جمهورو مذهب دا دی چې لو د لالت کوي په انتفاء د شيء ثاني
باندې د وجی د انتفاء دشی اول نه او ابن حاجب وائی چې لو دلالت کوی په انتفاء د شی اول باندې د
وجی د انتفاء د شی ثانی نه، دلائل د ابن حاجب دوه دی (۱) یو دلیل عقلی (۲) او بل دلیل نقلی،
دلیل عقلی دا دی چې ابن حاجب صاحب جمهورو ته وائی چې وجود د مضمون د شرط سبب دی او
وجود د مضمون د جزاء مسبب دی او قاعده دا ده، چې انتفاء د سبب مستلزمه نده انتفاء د مسبب
لره ځکه د مسبب واحد لپاره اسباب شتی وی مثال لکه ملکیت مسبب دی او اشرا سبب دی او
انتفاء د شراء مستلزم ندی انتفاء د ملکیت لره ځکه ملکیت دی حاصل وی، په بلی طریقی سره چې
توریث او هبه ده او انتفاء د مسبب مستلزم ده انتفاء د سبب لره او دارنګې مضمون د شرط ملزوم
او مضمون د جزاء ورسره لازم دی او قاعده داده چې انتفاء د ملزوم مستلزم نده انتفاء د لازم لره او
انتفاء د لازم مستلزم ده انتفاء د ملزوم لره نو زما هغه معنی جوړیږی او ستاسو هغه نه جوړیږی، او
دلیل نقلی یې دا قول د الله دی لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللَّهُ لَفَسَدَتَا، چې دلته انتفاء د ثانی چې فساد د اسمان او
زمکی دی دلیل دی په انتفاء د شی اول باندې چې هغه تعدد د الهه وو دی دا دلیل دی په دې خبره
چې لو دلالت کوي په انتفاء د شي اول د وجی د انتفاء د شی ثانی نه،
جواب: د طرفه د جمهور ونه دا دی چې په تا باندې خلط راغلی دی د استعمالینو چې لو شرطی تعلیقي
دوه قسمه دی (۱) یو راځی لپاره د بیان د ترکیب خارجی او لپاره د اظهار دعلیت خارجی، (۲) او

بل د راځي لپاره د ترتيب ذهني يا لپاره د استدلال د ترتيب خارجي لپاره په هغه ځاي کې راځي چې متکلم او مخاطب دواړه عالم وي چې دا مضمون د شرط او جزا دواړه په خارج کې نشته نو بيا متکلم دا جمله شرطيه ذکر کوي مخاطب ته لپاره د اظهار د علتيت نه خارجي چې دا متکلم مخاطب ته ښکاره کوي چې داعدم اولي چې مضمون د شرط دی، دا سبب دی په خارج کې لپاره د عدم ثاني چې مضمون د جزاء دی او لو شرطي تعليقي دپاره د استدلال په هغه ځای کې راځي چې شرط او جزا دواړه معدوم دی خو مخاطب ته عدم د يو معلوم دی او دبل دا مجهول دی نو متکلم لو د دی دپاره مستعملوي چې دغه مجهول د مخاطب په ذهن کې کينوي او دا معلوم د مخاطب دليل ګرځوي د مجهول لپاره نحو لَوْكَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَا چې مضمون د شرط او جزاء دواړو په خارج کې نشته ليکن دا بديهی دی مخاطب يې منی او عدم د تعدد دالهو نظری دی مخاطب يې نه منی لهذا دا معلوم دليل شو د اثبات د هغه مجهول لپاره او دليل د جمهورو لپاره دا ايت دی لو شاءالله لهداکم نو انتفاء د هدايت راغلی ده د وجی د انتفاء د مشيت نه بل دليل دا قول د شاعر دی،

ولو طار ذو حافر قبلها لطارت ولكنه لم يطر

دلته انتفاء د شی ثاني راغلی ده چې طيران د فرس دی د وجی دانتفاء د اول نه چې هغه طيـران د ذوحافر دی بل مثال لکه دا قول د شاعر شو،

ولو دامت الدولات كانوا كغيرهم رعاي ولكن ما لهن دوام

دلته هم انتفاء د شی ثاني راغلی ده د وجی د انتفاء د شی اول نه پدی شان سره چه عدم دوام د دولاتو، سبب دی د عدم کون د دوی دپاره رعايا د ممدوح.

وتلزمان الفعل او لازم دی ان اولو دواړه د فعل سره فعل عام دی چې لفظا وی او که تقديرا وی مثال د ان چې داخل وی په فعل لفظا لکه وَإِنِ ٱسْتَنصَرُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ فَعَلَيْكُمُ ٱلنَّصْرُ او مثال د ان چې داخل دی په فعل تقديرا نحو قوله تعالی وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ٱسْتَجَارَكَ او مثال د لو چې داخل وي په فعل لفظا نحو قوله تعالی لَوْ يُطِيعُكُمْ فِى كَثِيرٍ مِّنَ ٱلْأَمْرِ لَعَنِتُّمْ مثال د لو چې داخل وي په فعل تقديرا نحو قوله تعالی لَّوْ أَنتُمْ تَمْلِكُونَ خَزَآئِنَ رَحْمَةِ رَبِّىٓ اي لو تملکون **ومن ثم** او د وجې د لزوم د فعل نه بعد هما لفظا يا تقديرا **قيل** ويلی شوي دي وروستو د لو محذوف الفعل نه **انك بالفتح** په فتحې د همزې سره نه په کسرې سره يعنې د لو شرطي نه وروستو ان مفتوحة الهمزه راځي ان مکسورة الهمزه نه راځي **لانه فاعل** ځکه د ان سره د معمولينو نه فاعل دی د فعل مقدر بعد لو لپاره او ان سره د مابعد نه صالح دی لپاره د فاعليت او ان مکسورة الهمزه صالح لپاره د فاعليت نه دی ځکه فاعل کې لابدي ده د اسميت نه او اسميت عام دی که حقيقة وي او که تاويلا وي او ان مفتوحه الهمزة سره د معمولينو نه اسم تاويلي جوړيږي ځکه دا د مابعد جملې نه په تاويل د مصدر سره مفرد جوړوي په خلاف د ان مکسورة الهمزه نه چې هغه د لو نه وروستو نه راځي ځکه هغه جمله په خپل حال پاتې کوي سره د تاکيد نه **وانطلقت بالفعل** دا عطف

دي په لو انك باندې نو معنی دا شوه د وجې د لزوم د **فعل** نه وروستو د ان او لو نه ويلی شوی دی انطلقت بالفعل په صيغې د **فعل** سره **موضع منطلق** د منطلق په ځای باندې په دې شان سره چې لوانك انطلقت به وائې او لو انك منطلق به نه وائې اګر چې دا موضع. موضع د منطلق دی ځکه اصل په خبر کې افراد دی. ليکن دلته د دې ان مفتوحة الهمزة لپاره خبر به مفرد نه ذکر کوې بلکه **فعل** به ذکر کوې **ليكون كالعوض** د دې دپاره چې شي په منزله د عوض د **فعل** محذوف بعد لو نه او كالعوض يې وويل نه عين عوض ځکه کوم **فعل** چې مقدر دی وروستو د لو نه د هغې لپاره لازمي دی د مفسر نه او دا ان د وجې د کيدو د دې نه دالّ په معنی د تحقيق او ثبوت باندې دلالت کوي په شعه **فعل** مقدر باندې معناً نو دا ان عوض شو د **فعل** مقدر او محذوف نه من حيث المعنی او دا **فعل** واقع في جانب الخبر عوض دی د هغه **فعل** محذوف نه من حيث اللفظ او حقيقت کې د **فعل** او ان نه يو هم عوض نه دی د هغه **فعل** مقدر نه بلکه دا په منزله د عوض دی. او دا حکم هله دی چې دا خبر د ان مشتقي وو **فان كان جامدا** که خبر د ان واقع بعد لو لپاره اسم جامد وو چې د هغې نه ممکن نه وو اشتقاق د **فعل** **جاز** جائزه ده وقوع د اسم جامد خبر لپاره د ان **لتعذره** د وجې د تعذر د وقوع د **فعل** نه په موضع د خبر باندې نحو قوله تعالى ﴿وَلَوْ أَنَّمَا فِي الْأَرْضِ مِن شَجَرَةٍ أَقْلَامٌ﴾ دا اقلام خبر د ان دی او دا اسم جامد دی د دې نه اشتقاق د **فعل** نه دی ممکن ځکه اسم جامد خبر د ان راغلی دی چې واقع دی وروستو د لو نه.

تنبيه: ان چې واقع شي وروستو د لو نه او خبر د دې لپاره مشتقي راتلو نو وضع د **فعل** ماضي په موضع د مشتقي کې غالب ده او کله کله مشتقي هم خبر راځي د دغه ان لپاره، چې واقع شوی دی وروستو د لو نه او کله کله وضع د **فعل** مضارع راځي په موضع د مشتقي کې.

لو په پنځه معانيو سره راځي په استعمال د کلام د عربو کې

(١) زائده كما في قول حسان بن ثابت رضي الله عنه

ما ان مدحت محمدا بمقالتي ولكن مدحت مقالتي بمحمد

(٢) ان نافيه كما في قوله تعالى ﴿إِن كُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ﴾ (٣) ان شرطيه كما في قوله تعالى ﴿إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ﴾ (٤) وصليه نحو قوله عليه السلام **اكرموا الضيف ولو كان كافرا.**

(٥) مصدريه نحو قوله تعالى ﴿وَدُّوا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ﴾.

(٦) استمراري نحو (**لو اهانني زيد لاكرمته نعم العبد صهيبا لو لم يخف الله لم يعص**).

(٧) للتقليل نحو قوله عليه السلام (**تصدقوا ولم بظلف محرق**). (٨) للتكثير نحو قوله عليه السلام (**اولم ولو بشاة**). (٩) للعرض نحو لو تاتينا فتصيب خيرا. (١٠) للتحضيض نحو لو تامرنا فتطاع.

(١١) بمعنى ان نحو قوله تعالى ﴿وَلْيَخْشَ الَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعَافًا﴾ (١٢) محض د ربط لپاره.

ما به الاشتراك درميان ان و لو

(١): ان و لو دواړه واجب الدخول دي په فعل باندې لفظا يا تقديرا (٢): دا دواړه تعليق د مضمون د جزاء كوي په مضمون د شرط پورې (٣): د دواړو لپاره صدارت د كلام واجب دى.

ما به الامتياز ان و لو

(١): ان راځي د استقبال لپاره او لو راځي د ماضي لپاره غالبا.
(٢): ان تعليق د مضمون د جزاء كوي په مضمون د شرط پورې په استقبال كې او لو تعليق د مضمون د جزاء كوي په مضمون د شرط پورې په ماضي كې (٣): لو دلالت كوي په انتفاء د مضمون د شرط او د جزاء دواړو بخلاف ان. (۴): ان د حروف عاملو نه دى او لو د حروف غير عاملو نه دى
(٥): جزاء د ان شرطيه كله جمله فعليه راځي او كله اسميه بالاتفاق او جزاء د لو شرطيه كې خلاف دى ابن هشام وائي غالبا جمله فعليه راځي او كله كله اسميه هم راځي او شيخ رضي وائي چې جمله فعليه راځي نه اسميه لهذا كوم ځاى چې جزاء د لو جمله اسميه وه هغه به دال بالجزاء وي او جزا به مقدره وي
(۶): ان مفتوحة الهمزه راځي وروستو د لو نه بخلاف ان.
(٧): ان راځي د شك لپاره او لو راځي د يقين لپاره او ان كله كله مستعملولى شي په مقام د جزم كې تجاهلا لكه څوك تپوس وكړي د عبد نه په باره د مولى كې چې هل هو في الدار او غلام ته معلومه وي چې مولى په كور كې شته خو په جواب كې وائي ان كان فيها اخبرك نو ان دلته مستعمل دى په مقام د جزم كې تجاهلا خوفا من السيد.
(٢): او كله كله مستعملولى شي په مقام د جزم كې د وجې د عدم جزم د مخاطب نه په وقوع د جزم باندې كقولك لمن يكذبك ان صدقت فما ذا تفعل.
(٣): ان مستعمليږي په مقام د جزم كې د وجې د تنزيل د عالم نه بمنزلة الجاهل د وجې د مخالفت د دې عالم نه د مقتضى د علم نه كقولك لمن يؤذي اباه ان كان اباك فلا تؤذيه.
(۴): ان مستعمليږي په مقام د جزم كې لپاره د توبيخ د مخاطب نحو قوله تعالى أَفَنَضْرِبُ عَنكُمُ الذِّكْرَ صَفْحًا أَن كُنتُمْ قَوْمًا مُّسْرِفِينَ غالبا شرط او جزاء دواړه مذكور وي او كله كله احدهما حذف كولى شي سره د بقاء د اخر نه په وقت د وجود د قرينه داله كې په تعين د محذوف باندې. نو حذف د شرط سره د بقاء د جزاء نه دا مشروط بشرطين دى: (١) وجود د دليل په دې باندې (٢) كرن د شرط واقع بعد الاكما في قول الشاعر:

فطلقها ولست لها بكفو   والا يعل مفرقك الحسام

يعل جزاء ده مضارع مجزوم ده په حذف د حرف علة سره او شرط د دې حذف شوى دى اى و ان لم تطلقها. او حذف د جزاء جوازا سره د بقاء د شرط نه هم مشروط دى په شرطين سره (١): ان يكون معلوما. (٢) ان يكون فعل الشرط ماضيا نحو قوله تعالى وَإِن كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ إِعْرَاضُهُمْ نو جزاء د دې حذف

ده چې فافعل دی، وکقوله علیه السلام (ارایت ان جاء رجل یرید اخذ مالي) (دا شرط دی) جزاء حذف ده فما افعل - لدلالة المقام علیه - نبي صلی الله علیه وسلم په جواب کې وفرمائیل (فلا تعطه مالك وریسې حدیث دا دی (ارایت ان قاتلني قال علیه السلام قاتله، قال فان قتلني قال علیه السلام فانت شهید قال ان قتلته قال علیه السلام فهو في النار)، او کله شرط مذکور وي او جزا محذوف وي وجوبا د معنی بیان کوي په دې قول سره **واذا تقدم القسم اول الکلام** که چرې واقع شي حرف قسم په جانب اول د کلام کې مقدم **علی الشرط** په حرف د شرط باندې **لزمه** لازم دی د حرف شرط سره **الماضي** فعل ماضي. یعنې دا شرط واقع وروستو د حرف شرط نه به فعل ماضي وي او دا ماضي عامه ده چې لفظا وي لکه صیغه د ماضي شوه یا معنی وي لکه صیغه د مضارع چې لما او لم وریاندې داخل شي لپاره د دې چې حرف شرط ملغی شي د عمل کولو نه په فعل شرط کې **فیطابق** نو مطابق به شي فعل شرط د جزاء سره په عدم د عمل لفظي کې **وکان الجواب للقسم** او دی جاب د قسم لپاره فقط **لفظا** د جهت د لفظ نه د قسم او شرط دواړو لپاره ځکه بیا لازمیږي کون د جواب مجزوم او غیر مجزوم او دا محال دی او اولیت د اسبابو د ترجیح نه دی اما معنی، دا جواب د قسم لپاره هم دی د دې جهت نه چې محلوف علیه دی او د شرط لپاره هم دی د دې جهت نه چې دا مشروط دی په شرط سره. مثال د قسم چې مقدم وي په حرف شرط باندې او حرف شرط داخل شوی وي په فعل ماضي باندې لفظا او جواب د قسم لپاره گرځولی دی نحو والله ان اتیتني لاکرمتك او ماضي معنی لکه والله ان لم تاتیني لاکرمتك دلته حرف قسم او شرط دواړه جمع شوي دي او حرف قسم مقدم دی په حرف شرط باندې او دا مابعد جواب د قسم لپاره دی او جزاء د شرط محذوف ده.

تشریح: سوال: واذا تقدم القسم الخ دلته ظرفیت نه صحیح کیږي ځکه د دې معنی دا ده چې کله واقع شي قسم په اول د کلام کې نو اول د کلام نه دی مگر دغه قسم دی نو ظرفیت د شي لنفسه راغی؟ **جواب:** دا عبارت په حذف د مضاف سره دی ای واذا تقدم القسم في جانب اول الکلام نو ظرفیت د عام راغی د خاص لپاره

سوال: فرضي منصبي د مصنف اختصار بما هو اختصار دی نو پکار وه چې صرف و اذا تقدم القسم علی الشرط یې ویلی وي نو اول الکلام ذکر کولو ته ضرورت دی؟ **جواب:** که واذا تقدم القسم علی الشرط یې ویلی وی نو دا نه معلومیده چې د حرف شرط نه علاوه بله کلمه مخکې شته او کنه نو اول الکلام سره نفي د غیر وشوه. د شرط درې اطلاقه دي: بمعنی تعلیق. فعل شرط. حرف شرط. او دلته دا دریمه معنی مراد ده په قرینې د مقام سره

سوال: حرف شرط او حرف قسم چې یو ځای راشي او حرف قسم مقدم وي نو مابعد جواب د قسم ولې گرځوي د قسم او شرط دواړو لپاره یې ولې نه گرځوي؟ **جواب:** دا یو کلام زه جواب د شرط او قسم دواړو لپاره نه شم گرځولی ځکه بیا لازمیږي اجتماع د نقیضین ځکه که جواب د شرط یې ووایې نو دا به مجزوم وي او که جواب د قسم یې ووایې نو مجزوم به نه وي او دا ممکن نه دی.

سوال: دا فقط د شرط لپاره جواب ولې نه ګرځوی؟
جواب: قسم مقدم دی په شرط باندې او تقدیم د اسبابو د ترجیح نه دی لان الفضل للمتقدم
سوال: په دغه صورة کې د حرف شرط سره ماضي لفظا یا معنی ولې لازم ده؟
جواب: لپاره د دې چې دا حرف شروط تاثیر ونه کړي په دې فعل شرط کې.
سوال: تاثیر لفظي د حرف شرط په فعل شرط کې ولې ملغی کوی؟
جواب: لپاره د دې چې موافق شي فعل شرط د جزاء سره په عدم د عمل لفظي د ان کې **وان توسط** او که چرې واقع شي حرف قسم په مینځ د اجزاؤ د جمله کې **بتقدیم الشرط** د وجې د تقدیم د حرف شرط نه یا فعل شرط نه په دې قسم باندې **او غیره** یا د وجې د تقدیم د غیر د حرف شرط نه په دې قسم باندې چې هغه مبتداء ده **جازان یعتبر وان یلغی** په ضمیر د ان یعتبر او ان یلغی کې دوه احتماله دي
(۱) یا راجع دی قسم ته یا شرط ته علی التعیین او اعتبار د هر واحد د دې دواړو نه واجب کوي الغاء د اخر لره فیکون المعنی ان یعتبر القسم ویلغی الشرط وان یلغی القسم یعتبر الشرط.
(۲) دویم احتمال دا دی چې ضمیر د یعتبر راجع دی احدهما ته لا علی التعیین او ضمیر د یلغی راجع دی بل ته فیکون المعنی جاز ان یعتبر احدهما ویلغی الاخر ځکه هر کله چې فوت شو صدارت د قسم نو تاثیر وجوبا نه کوي لهذا په دې کې جواز د وجهین دی **کقولك** لکه دا مقوله ستا شوه **انا والله ان تاتیني اتك** (۱) دا هغه مثال دی چې غیر شرط مقدم دی چې انا دی په قسم باندې چې والله دی (۲) دا هغه مثال دی چې قسم لغوه دی او شرط معتبر دی په اعتبار د تقدیم د غیر شرط سره د الف نشر غیر مرتب او په اعتبار د ان یعتبر سره لف نشر مرتب دی **وان اتیتني والله لاتینك** (۱) دا هغه مثال دی چې حرف شرط مقدم دی په قسم په دې اعتبار سره د الف نشر غیر مرتب دی (۲) دا هغه مثال دی چې قسم معتبر دی او شرط لغوه دی په دې اعتبار سره د الف نشر مرتب دی.
وتقدیر القسم کاللفظ او قسم مقدره په شان د قسم ملفوظ دی په حکم کې په اعتبار د دې قسم کې او په الغاء د قسم کې په دې شان سره چې حرف قسم او حرف شرط دواړه یو ځای راشي او قسم مقدم وي په شرط باندې خو مقدر وي بیا دا ما بعد جواب د قسم لپاره ګرځولی شي نه د شرط لپاره نحو قوله تعالی لَئِنْ أُخْرِجُوا لَا يَخْرُجُونَ دلته دا ان حرف شرط دی جزاء غواړي لام موطئه للقسم دی
تعریف: هي التي تدخل علی ادوات الشرط للدلالة علی ان الجواب بعدها انما هو جواب لقسم مقدر قبلها لاجواب شرط لهذا د دې لام نه مخکې قسم مقدر دی دا جواب قسم غواړي لایخرجون جواب قسم دی او جزاء د شرط نه ده او دلیل په دې باندې ثبوت د نون دی ځکه که دا جزاء د شرط وی نو مضارع به مجزومه وه بل مثال د دې لپاره لکه دا قول د الله شو لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ بل مثال لکه وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ چې د دې شرط نه مخکې قسم مقدر دی چې اصل کې (والله ان اطعتموهم) وو او دا ما بعد إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ جواب د هغه قسم مقدر دی، او دلیل په دې خبره (چې دا جواب قسم دی او جزاء

د شرط نه ده، دا دی چې که دا جزاء د شرط وی نو فاء جزائیه به پکې راغلې وه ځکه جمله اسمیه په جزاء د شرط واقع شي نو هلته فاء جزائیه راوړل واجب او لازم وي په دې سره يو اعتراض هم دفع شو.

سوال: دا قاعده ده چې جمله اسمیه چې جزاء د شرط واقع شي نو لابدي ده د فاء جزائیه نه دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د الله جل جلاله [ولئن اطعتموهم انكم لمشركون] دلته جمله اسمیه جزا واقع شوې ده او فا جزائیه نشته؟

جواب: [انكم لمشركون] جزاء د شرط نه ده بلکه دا جواب د قسم دی او قسم مقدر دی د حرف شرط نه مخکې كان في الاصل. والله لئن اطعتموهم انكم لمشركون، او قسم مقدره په شان د قسم ملفوظه دی په حکم کې او قاعده دا ده چې حرف شرط او قسم چې دواړه چې يو ځای راشي او قسم مقدم وي په حرف شرط باندې دا قسم عام دی که لفظا وي او که تقديرا وي نو دا مابعد کلام جواب د قسم لپاره ګرځولی شي نه جواب د شرط د وجې د سبقيت د قسم نه.

سوال: وتقدير القسم كاللفظ دا تشبيه نه ده صحيح ځکه تقدير وصف دی او لفظ ذات دی نو تشبيه د لفظ راغلی د ذات سره؟

جواب: لکه څنګه چې لفظ مصدر مبني للمفعول بمعنى الملفوظ دی نو دارنګې تقدير هم مبني للمفعول دی بمعنى المقدر فيكون المعنى والقسم المقدر كالقسم الملفوظ نو تشبيه د ذات د ذات سره راغله نه تشبيه د وصف د ذات سره.

واما الا تفصيل: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د ان او لو شرطيه نه تفصيلا نو شروع يې وکړه په بيان د اما کې تفصيلا. په لفظ د اما کې مذاهب اربعه دي: خليل، جمهور، سيبويه، مير ابو البقاء.

(۱): خليل وائي اما اصل کې مَهمَا وو ها بدله شوه په همزې سره د وجې د قرب مخرج نه ځکه دواړه حروف حلق دي نو مَا مَا شو بيا په مابين د همزه او ميم کې قلب مکاني وکړی شو ځکه همزه تقاضه د صدارت کوي په بعض صورتونو کې نو پس د قلب مکاني نه په دې باندې تلفظ نه کېدو ځکه همزه ساکنه وه نو حرکت د ميم همزې لره ورکړی شو نو اَمْمَا شو بيا پکې ادغام وشو نو اما شو.

(۲): جمهور وائي چې دا اصل کې مَامَا وو تصرف فيه كما تصرف فيه في مذهب الخيل.

(۳): او سيبويه وائي دا اصل کې اِنْ ما وو نون او ميم قريب المخرج يا مشترك الصفة في الغنة يو ځای راغلل نون بدل شو په ميم او ميم په ميم کې مدغم کړی شو نو اما ترې جوړ شو. يا اصل کې ان ما وو بيا د نون ساکنه نه وروستو ميم راغلی او دا يو حرف دی د حروف د يرملون نه او قاعده دا ده چې د نون ساکنه نه وروسته چې يو حرف د حروف يرملون نه راشي نو دا نون بدلول په هغه حرف سره او ادغام کول واجب دي نو اما شو بيا کسره د همزې بدله شوه په فتحې سره لپاره د دې چې لازم نه شي التباس د امام عاطفه سره نو اما شو.

سوال: دا قاعده د يرملون منقوضه شوه په صنوان سره چې دلته د نون ساکنه نه وروستو واو راغلی دی او ادغام نه دی شوی؟ **جواب:** دا قاعده په کلمتين کې ده نه په کلمه واحده کې.

(۴): او میر ابو البقاء وائي دا کلمه موضوعه براسها ده نه اصل کې مهما وو نه ملما وو نه ان ما وو بلکه واضع دغسې وضع کړې دی ځکه دا حرف دی او اصل په حروف کې عدم تغیر او تصرف دی او دی اعتراض کوي په خلیل باندې چې ته وائي دا اصل کې مهما وو نو په ادغام او ابدال سره شئ د خپل حقیقت نه نهٔ وځي نو مهما خو اسم دی نو پس د ابدال او ادغام نه حرف څنګه جوړ شو خلیل جواب کوي چې شئ د خپل حقیقت نه نهٔ وځي فقط ادغام فقط ابدال او فقط قلب سره او کله چې درې واړه راشي نو بیا د خپل حقیقت نه وځي

او اما شرطیه په دوه قسمه دی: (۱): **للتفصیل** یو قسم دا دی چې وضع کړې شوی دی د تفصیل د ما اجمله المتکلم في الذکر لپاره کقولك جاء اخوتك اما زید فاکرمته واما عمرو فاهنته واما بشیر فاعرضت عنه یا د تفصیل د ما اجمله المتکلم في الذهن لپاره راځي په دې شرط سره چې دا ما جمله المتکلم في الذهن معلوم وي سامع او مخاطب ته په واسطه د قرائن سره کقولك ابتداء اما زید فاکرمته واما عمرو فاهنته واما بشیر فاعرضت عنه دا تفصیل دی د ما اجمله المتکلم في الذهن لپاره چې هغه جاء اخوتك دی، او که دا ما اجمله المتکلم معلوم نه وو سامع او مخاطب ته په واسطه د قرائن سره نو اما د مغې د تفصیل لپاره نه راځي

او اما شرطیه د تفصیل د مجمل لپاره راځي په طریقه د تکرار سره وجوبا کما مر په دې شرط سره چې د تفصیل د ضدین لپاره نه وو راغلی او که د تفصیل د ضدین لپاره راغلی وو نو هلته اکتفاء کولی شي په ذکر د قسم واحد سره بې د ذکر کولو د ضد اخر نه لدلالة احد الضدین علی الاخر کقوله تعالی فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ په دې ایت کې اما شرطیه د تفصیل د مجمل لپاره دی بې د تکرار نه ځکه اکتفاء کړې شوې ده په ذکر د قسم واحد سره چې الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ دی او د دې مقابل په دې مقام کې نه دی مذکور بلکه مقدر دی ځکه هغه معلوم کیږي د دې مذکور نه چې هغه، واما الذین لیس في قلوبهم زیغ فیتبعون المحکمات ویردون الیه المتشابهات، دی

(۲): او کله کله راځي د استیناف لپاره په دې شان سره چې د اما بعد تفصیل د ماقبل لپاره نه وي واقع شوی ځکه په ماقبل کې اجمال نشته لکه اما شو په اما بعد کې او اما بکسر الهمزه د حروف عاطفو نه دی د عطف لپاره راځي په طریقه د شك سره غالبا او اما بفتح الهمزة د حروف الشرط نه دی: د وجې د لزوم دفاء نه په جواب د اما کې. د وجې د سببیت د اول نه لپاره د ثاني

سوال: هر کله چې اما حرف شرط شو او حرف شرط لپاره لابدي ده د فعل شرط نه او د اما حرف شرط سره خو فعل شرط نه راځي په استعمال د کلام د عربو کې نو تاسو څنګه اما ته حرف شرط وایئ؟

جواب: **والتزام حذف فعلها** لازم کړې شوی دی حذف د هغه فعل شرط چې اما داخل شوی دی په هغې باندې **وعوض** او عوض راوړې شوی دی د فعل شرط مقدر نه **بینها** په مابین د کلمه د اما **وبین فائها** او په مابین د هغه فاء کې چې واقع شوې ده په جزاء د اما کې **جزء مما في حیزها مطلقا** یو جزء د هغې جملې نه چې هغه وروستو د دې اما نه راځي لپاره د دې چې لازم نه شي اتصال د حرف شرط او دفا

جزائيه په مينځ کې دغه جز عام دی چې مبتدا وي نحو اما زيد فمنطلق يا معمول وي لما وقع بعد الفاء لپاره نحو اما يوم الجمعة فزيد منطلق **مطلقا** په حال کون د دې جز کې چې دا نه دی مقيد په تجويز د تقديم د دې جز سره په دې فاء باندې او نه په عدم تجويز سره او دا مذهب د سيبويه دی چې دۀ کرخولی دی د اما لپاره خصوصيت د جواز د تقديم د هغه شئ چې ممتنع دی تقديم د هغې مطلقا برابره خبره ده چې مانع د تقديم دغه فاء جزائيه وي او که بل څه وي

سوال: مطلقا ولې منصوب دی؟

جواب: دا منصوب دی بنا بر حاليت د جزء لپاره. يا دا مصدر ميمي منصوب دی بنا بر مفعول مطلق د فعل مقدر او محذوف لپاره‌اي اطلق اطلاقا. يا منصوب دی بنا بر مفعول مطلق د عوض لپاره په اعتبار د موصوف محذوف سره ای عوض تعويضا مطلقا

وقيل او چا ويلې دي (قائل د دې قول مبرد دی) **هو** دا ما وقع بينها وبين فائها، دا ما بعد د اما شرطيه **معمول المحذوف** معمول دی د شرط محذوف لپاره **مطلقا** (۱) په معموليت مطلقه سره (۲) زمان مطلق سره. برابره خبره ده چې مرفوع وي او که منصوب وي او برابره خبره ده چې تقديم د دغه جز على الفاء جائز وي او که نه وي او دا مطلقا منصوب دی (۱) بنا بر مفعول مطلق د معمول لپاره. (۲) يا مفعول فيه دی د معمول لپاره

سوال: دا منصوب بنا بر مفعول مطلق او منصوب بنا بر مفعول فيه دواړه نه دي صحيح ځکه چې مفعول مطلق خو مصدر د عامل مذکور ته وائي او مطلقا خو مصدر د معمول نه دی او مفعول فيه ظرف زمان او مکان ته وائي او دا يو هم نه دی؟

جواب: دا منصوب دی بنا بر مفعول مطلق يا بنا بر مفعول فيه په اعتبار د موصوف محذوف سره ای عملا مطلقا او زماناً مطلقا مثال لکه اما يوم الجمعة فزيد منطلق تقدير د دې بنا په مذهب د سيبويه مهما يکن من شئ فزيد منطلق يوم الجمعة وو، بيا فعل شرط حذف شو چې يکن من شئ دی او اما قائم شو په مقام د مهما باندې بيا دا معمول د منطلق چې يوم الجمعة دی ذکر کړی شو بين اما وفا الجزائية لپاره د دې چې لازم نه شي توالي د حرف شرط او د جزاء نو اما يوم الجمعة فزيد منطلق جوړ شو او تقدير بنا په مذهب د مبرد دا دی مهما يکن من شئ يوم الجمعة فزيد منطلق دا يوم الجمعة معمول د فعل شرط دی هر کله چې فعل شرط حذف کړی شو او اما قائم شو په ځای د مهما باندې نو اما يوم الجمعة فزيد منطلق پاتې شو او د مبرد په نزد دا يوم الجمعة معمول د منطلق نه دی ځکه تقديم د ما بعد د فاء جزائيه په فاء جزائيه باندې ممتنع دی او سيبويه وائي چې دا معمول د ما بعد منطلق دی او تقديم د مابعد د فاء جزائيه په فاء جزائيه باندې ممتنع دی ليکن دا خاصه د اما شرطيه ده چې دی جائز کوي تقديم د هغه شئ چې ممتنع وو تقديم د هغه

وقيل او چا ويلي دي (قائل د دي امام مازني دی) **ان كان جائز التقديم** كه چرې وو دا مابعد د اما جائز التقديم په دې فاء باندې په دې شان سره چې د فاء نه علاوه بل يو مانع د تقديم په دې کې موجود نه وو نحو اما يوم الجمعة فمزيد منطلق.

فمن الاول دا د قبيلې د قسم اول نه دی يعني د اما بعد د اما او دا فاصل دا معمول د جز د جزاء دی او مقدم کړی شوی دی په فاء جزائيه باندې **والا** او كه چرې نه وو جائز التقديم بلكه مانع مجود وو د تقديم نه علاوه د فاء جزائيه نه.

فمن الثاني نو دا د قبيلې د قسم ثاني نه دی چې معمول دی د فعل شرط محذوف لپاره مثال لكه اما زيد فاني ضارب چې دا زيد معمول دی د شرط مقدر لپاره او نه دی معمول د جز د جزاء لپاره چې هغه ضارب دی ځكه په دې کې فاء جزائيه نه علاوه بل مانع د تقديم موجود دی چې هغه ان دی ځكه تقديم د معمول د ان په ان باندې نه دی جائز.

سوال: په اما زيد فمنطلق کې ته فعل مقدر را اوباسې مهما يكن من شئ نو مهما يذكر ولې نه را اوباسې په صيغې د مجهول سره چې زيد ورله نائب فاعل شي او په اما يوم الجمعة فزيد منطلق کې مهما تذكر را اوباسه په صيغې د معلوم سره نو د كلمه د مهما سره خاص يكن من شئ فعل مقدر راويستو لپاره څه وجه ده؟ **جواب:** د كلمه د مهما سره يكن من شئ مقدر را اوباسم نه يذكر يا تذكر ځكه ذكر مستلزم نه دی انطلاق لره.

(۲) او دا ذكر فعل خاص دی او د افعال خاصو نه دنيا ډكه ده نو ترجيح بلا مرجح راځي.

حرف الردع

هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د حروف شرط نه نو شروع يې وكړه په حرف الردع کې لكه څنګه چې حرف التوقيع يو دی نو حرف الردع هم يو دی او اضافت د حرف الردع ته اضافت د دال دی مدلول ته يعني هغه حرف چې دلالت كوي په منع او زجر باندې **كلا** هغه فقط كلا دی لكه يو كس تا ته ووائي چې فلان يبغضك او ته ورته وائې چې كلا يعني ليس الامر كما تقول بل مثال لكه دا قول د الله شو لَعَلِّىٓ أَعۡمَلُ صَٰلِحٗا فِيمَا تَرَكۡتُۚ كَلَّآ د دې معنى دا ده چې دا خبر مه كوه او د دې خبرې نه منع شه چې [رب ارجعون] دی لانه لاسبيل الى الرجوع.

وقد جاء او لږ لږ راغلی دی دا لفظ د كلا **بمعنی حقا** په معنى د حقا سره چې مقصود په دې کې تحقيق د مضمون د جمله اتيه دی نحو قوله تعالى كَلَّآ إِذَا دُكَّتِ ٱلۡأَرۡضُ دَكّٗا دَكّٗا چې دلته دا كلا په معنى د حقا سره دی راغلی دی لپاره د تحقيق د جمله اتيه او هر چې دی په دې قول د الله جل جلاله کې چې ثُمَّ يَطۡمَعُ أَنۡ أَزِيدَ. كَلَّآۖ إِنَّهُۥ كَانَ لِأٓيَٰتِنَا عَنِيدٗا دا كلا محتمل د احتمالين دی دا احتمال هم شته چې د ردع او زجر او منع لپاره شي او دا احتمال هم شته چې بمعنى حقا دی او كلا چې په معنى د حقا سره راشي نو جائز دی چې دېته اسمي وويلی شي او مبني دی د وجې د مشابهت د دهٔ نه د كلا حرفي سره لفظا او معنى ليكن

نحویانو حکم کړی دی په حرفیت د دۀ باندې کله چې دا راشي بمعنی حقا ځکه مقصود د دۀ سره تحقیق د مضمون د جمله دی لکه ان حرفي چې د تحقیق د مضمون د جملې لپاره راځي

زده کړه دا خبره چې کلا ځلور قسمه دی: (١): ردعي نحو كَلَّا إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَائِلُهَا

(٢): بمعنی حقا نحو كَلَّا إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا (٣): تنبیهي نحو قوله تعالی كَلَّا إِنَّ الْإِنسَانَ لَيَطْغَىٰ دلته کلا بمعنی الا دی (ای ان الانسان لیطغی) ځکه کلا چې بمعنی حقا وي د هغې نه وروستو ان مفتوحة الهمزه راځي نه ان مکسورة الهمزة او دلته ان مکسورة الهمزة راغلی دی او د الا تنبیهي نه وروستو ان راځي نحو قوله تعالی أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ

(٤): کلا حرف ایجاب بمعنی ای قبل القسم نحو قوله تعالی كَلَّا وَالْقَمَرِ

تاء التانيث

هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د حرف ردع نه نو شروع یې وکړه په بیان د تاء التانیث کې تا اولا اووه قسمه ده (١): جاره نحو تالله (٢) علامه د مضارع نحو تضرب (٣) تاء باب استفعال نحو استخرج (٤) تاء د باب افتعال نحو اکتسب (٥) تا د باب تفاعل نحو تضارب (٦) تاء المطاوعة نحو تعلم تدحرج في قولك علمته فتعلم ودحرجته فتدحرج (٧) تاء التانیث دا بیا دوه قسمه ده: ساکنه متحرکه متحرکه خاص ده په اسم پورې او دا شپاړس قسمه ده او دا تیر شوي دي په بحث د الکلمة کې او تاء التانیث الساکنه خاص ده په فعل پورې نو توصیف د تانیث په الساکنة سره چې یې وکړو نو احتراز یې وکړو د متحرکې نه ځکه هغه خاص ده په اسم پورې او ساکنه خاص ده په فعل پورې.

سوال: عکس یې ولې ونه کړو؟ **جواب:** (١) ځکه چې فعل ثقیل دی په اعتبار د معنی سره چې عبارت دی د امور ثلاثه وُ نه چې حدث نسبت او زمان دی او اسم خفیف دی او تاء التانیث ساکنه خفیفه ده او متحرکه ثقیله ده نو خفیف ثقیل له ورکړی شو او ثقیل خفیف له ورکړی شو لرعایة التعادل والاتصاف.

(٢): ځکه اصل په اسماؤ کې اعراب دی او اصل په افعال کې بناء ده او اصل په اعراب کې حرکت دی او اصل په بنا کې سکون دی نو ځکه یې تاء التانیث الساکنه خاصه د فعل وګرځوله او متحرکه یې خاصه د اسم وګرځوله **تلحق** متصل کیږي دا تاء التانیث الساکنة **الماضي** په اخیر د فعل ماضي پورې **لتانيث المسند اليه** لپاره د دې چې دلالت وکړي په تانیث د مسند الیه باندې د اول وهلت نه او مسند الیه عام دی که فاعل وي او که نائب فاعل وي نحو قد قامت الصلوة وکما في قول الشاعر:

المت فحیت ثم قامت فودعت فلما تولت کادت النفس تزهق

الماضي دا صفت دی د موصوف محذوف لپاره چې الفعل دی او دې سره یې احتراز وکړو د فعل مضارع او امر حاضر معلوم نه ځکه دا تاء تانیث ساکنه متصل کیږي په اخیر د ماضي پورې او په اخیر د مضارع او امر حاضر پورې نه متصل کیږي ځکه په فعل مضارع کې استغناء راغلې ده په تا علامه د مضارع سره او فعل امر حاضر معلوم کې استغناء راغلې ده په یا ضمیر د مؤنث مخاطب سره.

سوال: لتانيث الفاعل يې ولې ونه ويل؟ **جواب:** لتانيث المسند اليه يې وويل نه لتانيث الفاعل دى لپاره چې شامل شي فاعل او نائب فاعل دواړو ته او كه لتانيث الفاعل يې ويلى وى نو بيا نائب فاعل خارجيدو.

فان كان ظاهرا غير حقيقي فمخير: ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د تانيث د فعل نه اجمالا نو شروع يې وكړه په بيان د تانيث د فعل كې تفصيلا په اعتبار د جواز او د وجوب سره په دې شان سره چې په كوم ځاى كې تانيث د فعل واجب دى او كوم ځاى كې جائز دى. **فان كان** كه چرې وو مسند اليه **ظاهرا** اسم ظاهر. **ظاهر** نه مراد اسم ظاهر دى مقابل د ضمير نه مقابل د مقدر **غير حقيقي** غير حقيقي چې د دې مؤنث مقابل كې مذكر من الحيون نشته **فمخير** نو ته اختيار لرې په مابين د الحاق د تاء التانيث او عدم الحاق د تاء التانيث كې، يا دا الحاق د تاء التانيث مخير دى په اخير د فعل ماضي پورې په اسم ظاهر مسند اليه مؤنث غير حقيقي كې لكه طلع الشمس وائي كه طلعت الشمس وائي ځكه دا مؤنث كامل نه دى په دې تانيث كې نو دا سرايت نه كوي تانيث د فعل ته وجوبا او اسم ظاهر سره يې احتراز وكړو د ضمير نه ځكه كه د فعل يا شبه فعل اسناد وشي ضمير د مؤنث ته بيا تانيث د فعل واجب دى مؤنث عام دى چې لفظي وي او كه حقيقي وي نحو هند قامت، الشمس طلعت. فلا يجوز الشمس طلع. او هر چې دى دا قول د شاعر. ولا ارض ابقل ابقالها. نو په حذف د مضاف سره دى اى ولا مكان ارض ابقل ابقالها. او غير حقيقي سره يې احتراز وكړو د اسم ظاهر مؤنث حقيقي نه ځكه كه د فعل اسناد وشي اسم ظاهر د مؤنث حقيقي ته متصل بلا فصل نو تانيث د فعل واجب دى نحو ضربت هند واما قول سيبويه قال فلانة شاذ. او كه د فعل اسناد وشي اسم ظاهر د مؤنث حقيقي ته مع الفصل هلته جواز د وجهين دى نو ضرب اليوم هند وائي او كه ضربت اليوم هند وائي دواړه جائز دي په دې شرط سره چې دا اسم مؤنث حقيقي مشهور نه وو په مذكر كې او كه مشهور وو په مذكر كې نو بيا تانيث د فعل واجب دى نحو ضربت اليوم زيد فلا يجوز فيه ضرب اليوم زيد (چې زيد علم واخلې د يوې ښځې لپاره).

سوال: **فان كان** شرط دى او فمخير ورله جزاء ده او جزا نه راځي مگر جمله او دا مفرد دى؟

جواب: فمخير خبر دى د مبتدا محذوف لپاره چې انت دى يا هو دى مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه جزا د شرط او جمله اسميه چې جزاء د شرط راشي نو فاء جزائيه پكې لازمه ده ځكه دلته راغلې ده.

سوال: مخير به خالي نه وائي يا به يې صيغه د اسم فاعل وائي او يا به يې صيغه د اسم مفعول وائي كه صيغه د اسم فاعل يې وائي نو خبريت يې د انت لپاره صحيح دى نه د هو لپاره ځكه هو راجع دى الحاق ته او الحاق مخير نه دى بلكه مخير متكلم دى او كه صيغه د اسم مفعول يې وائي نو بيا خبريت د دې د انت لپاره هم نه دى صحيح او د هو لپاره هم نه دى صحيح ځكه متكلم مخير دى نه مخير او الحاق د تاء التانيث مخير فيه دى نه مخير؟

جواب: مخير صيغه د اسم فاعل ده او دا خبر دی د مبتدا محذوف لپاره چې انت دی یا صیغه د اسم مفعول ده او خبر واقع شوی دی د هو محذوف لپاره په تقدیر دفیه سره.
سوال: دا مسئله ذکر شوه په بحث د مؤنث کې نو دلته یې دوباره ولې ذکر کوې؟
جواب: د دغه مسئلې دپاره دوه اعتباره دي: (۱) هلته یې ذکر کړی وه په دې اعتبار سره چې دا د احکامو د مؤنث نه وه.
(۲) او دلته یې ذکر کړه په دې اعتبار سره چې دا د احکامو د تاء التانیث ساکنه نه ده.
واما الحاق علامة التثنية والجمعين فضعيف دا جمله مستانفه جواب د سوال دی.
سوال: هر کله چې تاء التانیث الساکنة متصل کیږي په اخیر د فعل ماضي پورې لپاره د دلالت په تانیث د مسند الیه د اول وهلت نه نو جائز دې شي الحاق د علامه د تثنیه او جمع مذکر او مؤنث په اخیر د فعل پورې لپاره د دې چې دلالت وکړي په تثنیت او جمعیت د فاعل د اول دهلت نه؟
جواب: نو مصنف رحمه الله جواب وکړو چې واما الحاق علامة التثنية الخ الحاق د علامه د تثنیه او د علامه د جمع مذکر او جمع مؤنث په اخیر د فعل پورې چې د دې فعل لپاره فاعل راغلی وي اسم ظاهر **ضعيف** دا ضعیف دی. د وجې (۱) د عدم احتیاج د الحاق د علامه تثنیه او جمعین نه په اخیر د دې فعل پورې په شان د احتیاج د مسند الیه...... (۲) ځکه لازمیږي د دې نه توهم د تعدد د فاعل (۳) لازمیږي اضمار قبل الذکر لفظا او رتبتا بلا فائده.
سوال: د مصنف لپاره پکار وو چې ممتنع یې ویلی وی په ځای د ضعیف باندې ځکه ضعیف دلالت کوي په جواز د الحاق او الحاق د دې خو ممتنع دی ځکه لازمیږي اضمار قبل الذکر بلا فائده، او بل لازمیږي تعدد د فاعل او دا دواړه باطل دي؟ **جواب:** الحاق د علامه د تثنیه او جمع مذکر او مؤنث په اخیر د فعل پورې چې راشي دا مستلزم نه دی تعدد د فاعل لره او اضمار قبل الذکر لره (۱). دا ضمائر نه دي بلکه دا حروف دي راوړی شوي دي محض د دې لپاره چې دلالت وکړي په تثنیت او جمعیت د فاعل د اول وهلت نه لکه چې تاء التانیث ساکنه متصل شي په اخیر د فعل پورې نو هغه حرف دی نه ضمیر دلالت کوي په تانیث د فاعل باندې د اول وهلت نه.
(۲): یا دا ضمائر دي فاعل واقع شوی دی د فعل لپاره او دا ضمیر مبدل منه او مابعد اسم ظاهر د هغه نه بدل واقع شوی دی او اسم ظاهر بدل د ضمیر غائب نه واقع کیږي نحو قوله تعالی ثُمَّ عَمُوا وَصَمُّوا كَثِيرٌ نو دغسې دلته دا اسم ظاهر بدل واقع شوی دی د ضمیر فاعل نه.
(۳): یا دا ضمیر فاعل دی او فعل سره د فاعل نه جمله خبر مقدم دی او مابعد اسم ظاهر مبتدا مؤخره ده. (۴): یا دا فعل سره د ضمیر فاعل نه ځان له مستقله جمله ده او مابعد اسم ظاهر فاعل دی د فعل محذوف لپاره او دا فعل حذف شوی دی جوازا د وجې د وجود د قرینې د الی نه په تعین د محذوف چې هغه سوال مقدر دی په شان د اکلوني البراغیث کله چې دی متکلم اکلوني وویل نو د دې فعل فاعل معلوم نه شو سامع او مخاطب ته او ابهام د فاعل منشاء د سوال ده نو سائل سوال

وكړو چې (من اكلك؟) نو مجيب جواب وكړو (البراغيث) سره اى اكلني البراغيث. مثال د الحاق د علامه د تثنيه او جمع مذكر او جمع مؤنث نحو قوله تعالى [واسروا النجوى الذين ظلموا] وقوله عليه السلام (يتعاقبون فيكم ملائكة بالليل وملائكة بالنهار) وقول الشاعر:

تولى قتال المارقين بنفسه فلما اسلماه مبعد وحميم

ترجمه: شروع وكړه مصعب ابن زبير د جنګ د هغه خلقو سره چې خارج وو د دين نه يك يواځې هر كله چې پرېښودو ده لره دوستانو او غير دوستانو دواړو.

التنوين

بل حرف د حروف غير عاملو نه تنوين دی. او تنوين كې لابدي ده د معرفت د امور ثلاثة ؤ نه: مفهوم لغوي، مفهوم اصطلاحي، اقسام. نو تنوين صيغه د مصدر ده د باب تفعيل نه از نون ينون تنوينا په لغت كې ادخال النون ته وائي. يا جعل الشئ ذا نون ته وائي.

او په اصطلاح كې: (هي النون الساكنة الزائدة في اخر الاسم لفظا لا خطا) ته وائي.

(٢): يا **نون** دا يو نون دی **ساكنة** داسې نون چې ساكن دی وضعا **تتبع حركة الاخر** داسې نون چې تابعداري كوي د حركت د حرف اخير د كلمه په وجود او تلفظ كې **لا لتاكيد الفعل** او دا نه راځې د تاكيد د فعل لپاره او دلالت نه كوي په تاكيد د فعل باندې.

سوال: ته وائې چې تنوين نون ساكنه ته وائي دا قاعده ستا منقوضه شوه په عاد ن الاولى سره چې دلته دا تنوين ساكن نه دی بلكه متحرك دی؟ **جواب**: مونږ وايو چې دا به ساكن وي وضعا او په عاد ن الاولى كې حركت عارضي راغلى دی د وجې د التقاء د ساكنين نه.

سوال: ته وائې چې تنوين نون ساكنه دی تابعداري كوي د اخير د كلمه نو اخير د كلمه نه دی بلكه دغه حركت دی نو تتبع الاخر يې ولې ونه ويل چې حركة الاخر يې وويل؟

جواب: حركة الاخر يې وويل نه الاخر ځكه متبادر د اخر نه حرف اخير دی نه حركت.

سوال: اخر الاسم يې ولې ونه ويل؟ **جواب**: الاخر يې وويل نه اخر الاسم لپاره د دې چې دا تعريف د تنوين شامل شي تنوين ترنم ته چې هغه راځي په اخر د اسم فعل او حرف درې واړو كې.

سوال: تعريف د تنوين مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو پكې نون د انطلق په يا رجل انطلق كې ځكه دا نون ساكنه دی تابعداري كوي د اخير د كلمه او لالتاكيد الفعل دی؟

جواب: تنوين هغه نون ساكنه ته وائي چې تابعداري كوي د اخير د كلمه په وجود او تلفظ كې په دې شان سره كه دا حركت موجود وو نو تنوين به موجود وي كه تا په هغې تلفظ وكړو نو په دې به تلفظ كوې او چې حركت نه وي نو تنوين به هم نه وي او چې په هغې تلفظ ونه كړې نو په دې هم تلفظ نه كيږي په خلاف د نون د انطلق نه دا نه دی محتاج حركت د يا رجل ته.

سوال: نه وائي چې تنوين نون ساكنه ته وائې چې تابعداري كوي د اخير د كلمه دا تعريف جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو د دي نه تنوين د اب اخ يد دم وغيره څكه دا اگر چې نون ساكنه خو تابعداري د اخير د كلمه نه كوي بلكه تابعداري كوي د حركت د عين كلمه؟

جواب: هر كله چې لام كلمه د دوى حذف كړى شوه نسيا منسيا نو وگرځيده عين كلمه اخير د كلمه نو دا تنوين تابعداري كوي د حركت د حرف اخير د كلمه

لا لتاكيد الفعل سره يې احتراز وكړه د نون تاكيد خفيفه نه څكه هغه نون ساكنه تتبع حركة اخر الكلمه دى خو د تاكيد د فعل لپاره راځي لهذا هغه ته تنوين نه ويل كيږي

په هر تعريف كې لابدي وي د جنس او فصل نه **نون ساكنه** جنس دى خپل او پردي ټول پكې داخل شو او تتبع حركة الاخر سره يې احتراز وكړو د نون د من او لدن نه او لالتاكيد الفعل سره يې احتراز وكړو د نون تاكيد خفيفه نه نو تعريف جامع مانع شو

وهو للتمكن: ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د تعريف د تنوين نه شروع يې وكړه په تقسيم د تنوين كې لپاره د اتمام د تعريف د تنوين څكه تقسيم د مكملاتو او متمماتو د تعريف، نه دى څكه تعريف سره معلوميږي معنى او مفهوم د شئ او تقسيم سره معلوميږي افراد او مصداق د شئ نو پس د تقسيم نه به موندږ ته تنوين معلوم شئ مفهوما او مصداقا **وهو** دا تنوين **للتمكن** راځي د تمكن لپاره او تنوين تمكن هغې ته وائي چې دلالت كوي په امكنيت د كلمه باندې چې هغه كون د اسم دى غير مشابه د فعل سره په وجود د فرعيتين كې نو په دې اسم كې اعرابات ثلاثه راځي سره د تنوين نه لكه تنوين د زيد شو **والتنكير** او تنوين راځي د تنكير لپاره او تنوين تنكير هغې ته وائي چې فارق وي بين المعرفة والنكرة په دې شان سره كه دا تنوين په دې اسم كې ووين شې نو نكره كيږي او كه لرې يې كړي نو معرفه كيږي او تنوين تنكير دېته نه وائي چې دا تنوين په نكره كې راغلى وي لهذا تنوين د رجل تنوين تمكن دى نه تنوين تنكير څكه رجل كې كه تنوين وي او كه نه وي خو نكره ده مثال د تنوين تنكير لكه تنوين د صه او مه شو چې دا سره د تنوين نه نكره ده معنى يې دا ده چې اسكت سكوتا ما في وقت ما انكفف انكفافا ما في وقت ما او چې تنوين ترې نه لرې شي نو بيا معرفه ده او معنى يې دا ده اسكت سكوت الان انكفف انكفاف الان **والعوض** او بل تنوين راځي عوض د مضاف اليه نه او تنوين عوض د مضاف اليه نه په اووه اسماؤ كې راځي غالبا كل، بعض، ساعة، حين، عام، سنة، يوم مثال د كل كقول الشاعر

وكل يدعى وصلا بليلى وليلى لا تقر لهم بذاك

او مثال د بعض كقوله تعالى ا وجعلنا بعضهم فوق بعض اى ببعضهم ا ساعة اذ، حينئذ عامة اذ سنة اذ يومئذ چې اصل كې يوم اذا كان كذا وو يوم مضاف وو اذ ته او اذ مضاف وو جملې ته نو جمله حذف شوه تخفيفا بيا د هغې په عوض كې تنوين راغلى په اذ كې نو حينئذ ساعة او عامة اذ سنة اذ يعنى شو. **والمقابلة** او كله راځي د مقابلې لپاره او تنوين مقابله هغه تنوين ته وائي چې راځي په اخير د جمع .يعنى

سالم كې مقابل د نون د جمع مذكر سالم مثال لكه تنوين د مسلمات شو دا راغلى دى مقابل د نون د جمع مذكر سالم ځكه الف او تا په دې كې علامه د جمع مؤنث سالم ده لكه واو چې علامه د جمع مذكر سالم ده خو جمع مذكر كې نون راغلى وو او د هغې عوض كې دلته تنوين راغى او دا تنوين د مسلمات تنوين تمكن نه دى ځكه كه دا تنوين تمكن وى نو دا به زائله كېدو د وجې د وجود د علت نه چې هغه علم او تانيث دى كما في قوله تعالى ﴿فَإِذَآ أَفَضۡتُم مِّنۡ عَرَفَٰتٖ﴾ **والترنم** او پنځم تنوين راځي د ترنم لپاره او دا هغې ته وائي چې متصل كيږي په اخير د ابياتو او مصاريعو پورې لپاره د خوش اوازۍ او دا تنوين ترنم كله متصل كيږي په قافيه مطلقه پورې او كله متصل كيږي په قافيه مقيده پورې قافيه مطلقه هغې ته وائي چې حركة د اشباع د حركت د حرف اخير د وجې نه د دې په اخير كې الف واو او ياء راغلى وي او دغه واو الف او ياء ته د دوى په اصطلاح كې حروف الاطلاق وائي لاطلاق الصوت بامتدادها او دا تنوين ترنم چې متصل شي په دې قافيه مطلقه پورې نو دا حرف الاطلاق بدليږي په تنوين سره او قافيه مقيده هغې ته وائي چې حروف روى د دهٔ ساكن وي او دې ته مقيده ځكه وائي چې حرف روى ه دې ساكن وي تقييد دصوت راځي او امتناع د امتداد راځي ځكه د دې په اخير كې حركت نشته چې د هغې د اشباع د وجې نه حروف الاطلاق راشي چې د هغې سره امتداد د صوت راتلو مثال د تنوين ترنم چې متصل شوى وي په قافيه مطلقه پورې كقول الشاعر:

اقلى اللوم عاذل والعتابن وقولى ان اصبت لقد اصابن

عتابن او اصابن اصل كې العتاب او اصاب وو د فتحې اشباعي د وجې نه اخير كې الف راغى نو عتابا او اصابا شو بيا هغه الف الاطلاق بدل كړى شو په تنوين ترنم سره نو عتابن او اصابن شو، مثال د تنوين ترنم چې راغلى وي قافيه مقيده كې كقول الشاعر:

وقاتم الاعماق خاوي المحترق مشبه الاعلام لماع الخفقن

ترجمه: ډير كرته يو بيابان چې تياره وو نواحي او اطراف د دې بيابان په ليدلو كې او خالي ده لاړ د هغه د ونو نه او مشتبه دي نښې د دې لارې او پرقا كوونكى دى شګو ګل د ميدان، حرف روى د قافيه په دې بيت كې قاف ساكنه دى نو ممكن نه دى مد د صوت په دې قافيه ساكنه سره خو حركت وركړى شو دې قاف ساكنه لره په فتحې او كسرې سره او بيا دا نون داخل كړى شو لپاره د خوش اوازۍ او دې تنوين ته د دوى په اصطلاح كې تنوين غالي هم وائي ځكه غالي د غلو نه دى تجاوز عن الحد ته وائي او دې بيت هم تجاوز كړى دى په لحوق د تنوين سره د حد د وزن نه د دې د وجې نه په تقطيع جوړولو كې دا تنوين لرې كولى شي د بيت نه.

شمېرل د تنوين ترنم د اقسامو د حروف معاني نه مسامحه ده ځكه تنوين ترنم موضوع نه دى د معنى لپاره بلكه دا وضع كړى شوى دى د خوش اوازۍ لپاره په شان د حروف هيجاء چې هغه وضع كړى شوى دى د غرض د تركيب لپاره نه لپاره د معنى او دا تنوينات اربعه د خواصو د اسم نه دي د وجې د اختصاص د مدلولاتو د دوى نه په اسم پورې او اختصاص د مدلول مستلزم دى اختصاص د

ذال لره او تنوين ترنم خاصه د اسم نه ده بلكه دا راځي په اخير د اسم فعل او حرف درې وارو كې د وجې د عدم اختصاص د مدلول د دۀ نه په اسم پورې.

ويحذف من العلم موصوفا بابن مضافا الى علم اخر الخ او حذف كولى شي دا تنوين وجوبا د علم نه څكه دا علمين مع الابن په منزله د شي واحد دى په حال كون د علم كې چې موصوف وي په ابن په حال كون د ابن كې چې مضاف به وي علم آخر ته نحو جاءني زيد بن عمرو د وجې د كثرت د استعمال د ابن نه بين العلمين چې يو د علمين نه موصوف وي په ابن سره او بل علم مضاف اليه وي د ابن دپاره دا تقاضا د تخفيف كوي لفظاً په حذف د تنوين سره د موصوف نه خطاً په حذف د الف د ابن سره او دغسې تنوين به لرې كوي د موصوف نه او همزه به لرې كوي په فلان بن فلان كې څكه دا كنايه ده د علم نه او كه دا ابن صفت وو د غير علم دپاره نحو جاءني الرجل ابن زيديا صفت د علم دپاره دى او مضاف دى غير علم ته، نحو زيد ابن عالم نو تنوين نه شي حذف كولى د حذف نه او الف نه شي حذف كولى د ابن نه په رسم خط كې د وجې د قلت د استعمال نه او دا ابن چې واقع شي بين العلمين او صفت نه وي د علم دپاره بلكه خبر واقع شوى وي د علم دپاره بيا دا تنوين د دې موصوف نه نشي حذف كولى او دغه همزه د ابن نه نشي حذف كولى په رسم خط كې او حكم د ابنة په شان د حكم د ابن دى في جميع ما ذكرنا په حذف د همزه كې، څكه حذف د همزه د ابنة جائز نه دى، د دې دپاره چې لازم نه شي التباس د بنة نحو هذه هند ابنة عاصم

زده كړه دا خبره چې اسباب دپاره د ازالې د تنوين د اسم نه شپږ دي. (۱) تنوين حذف كولى شي د وجې د اضافت نه نحو غلام زيد. (۲) لدخول اللام نحو جاءني الغلام (۳) د وجې د عدم الفراق نه نحو عمر. (۴) د اتصال د ضمير د وجې نه نحو ضاربك، بنا په مذهب د هغه چا چې مضاف او مضاف اليه نه وائي بلكه دې ضمير ته منصوب متصل مفعول به وائي نو دا حذف شوى دى د اتصال د وجې نه لكه چې نون قائم مقام د تنوين حذف كيږي د اتصال د وجې نه. (۵) تنوين حذف كولى شي د هغه علم نه چې موصوف رې په ابن سره چې مضاف وي علم اخر ته نحو وجاءني زيد بن عمرو، هذه هند ابنة عاصم، (۶) لضرورة الشعر نحو:

الحال وصف فضلة منتصب مفهم في حال كفردا اذهب

قاعده: (۱) د ضرورت شعري د وجې نه د منصرف نه غير منصرف جوړولى شي على سبيل القلة لكه مثال مذكور شو چې مفهم منصرف دى او په دې شعر كې تنوين حذف شوى دى د وجې د ضرورت شعري نه. (۲) د ضرورت شعري د وجې نه د غير منصرف نه منصرف جوړولى شي على سبيل الكثرة نحو صبت علي مصائب الخ (۳) د ممدود نه مقصور جوړولى شي په طريقې د كثرت سره د وجې د ضرورت شعري نه كقول الشاعر:

حمامة جرعى حومة الجندل اسجعي فانت بمراى من سعاد ومسمع

چې اصل كې جرعاء وو. (۴) د ضرورت شعري د وجې نه د مقصور نه ممدود جوړولى شي على سبيل القلة نحو:

(٥) او دا لفظ د ابن چې واقع شي بين العلمين متناسلين په مينځ كې د كربنه كې او د ماقبل دپاره صفت وي او مابعد ته مضاف وي نو همزه د ابن لرې كولى شي لفظاً وخطاً، نحو جاءني زيد ابن عمرو، او كه د علمين په مينځ كې نه وو نو بيا همزه ليكلى شي نحو جاءني زيد بن ظريفه، اوكه واقع وو بين العلمين خو علمين متناسلين نه وو نو هم همزه ليكلى شي نحو عبدالله بن ابي ابن سلول، دلته د ابى او سلول په منځ كې چې كوم ابن دى ديكې همزه ليكلى شوې ده په رسم خط كې ځكه دا علمين متناسلين نه دي، بلكه ښځه او خاوند دي او كه دا واقع وو په منځ د علمين متناسلين كې خو د كربنې په منځ كې نه وو بلكه علم د كربنې په اخر كې وو او ابن د كربنې اول كې وو نو بيا هم ليكلى شي نحو زيد ابن عمرو، او كه بين العلمين متناسلين وو او د كربنې په منځ كې وو خو مقابل دپاره صفت نه وو نو هم ليكلى شي نحو زيد ابن عمرو شو. ترجمه: زيد زوى د عمرو دى.

سوال: دا قاعده منقوضه شوه په عيسى ابن مريم سره دلته ابن واقع دى بين العلمين متناسلين د كربنې په منځ كې او ماقبل لره صفت او مابعد ته مضاف دى، او همزه نه ده لرې شوې په رسم خط كې؟ **جواب:** خطان لايقاسان خط العروض و خط المصحف.

سوال: ته وائې چې علم موصوف وي په ابن سره او مضاف وي علم اخر ته نو د علم نه تنوين حذف كولى شي دا قاعده ستا منقوضه شوه په جارية من قيس ابن ثعلبة سره، دلته قيس معرفه بالعلم دى موصوف دى په ابن سره او ابن مضاف دى علم اخر ته چې ثعلبه دى او د دېنه تنوين نه دى حذف شوى؟

جواب: يجوز في الشعر ما لايجوز في غيره، او هر چې دى دا قول د الله تعالى چې قل هو الله احد بدون تنوين نو دا شاذ دى.

بل حرف د حروف غير عامله ؤ نه نون تاكيد دى نون په استعمال د كلام د عربو كې اته قسمه دى: (١) نون الاعراب نحو يضربان (٢) نون المثنى نحو ضاربان (٣) نون الجمع نحو ضاربون (۴) نون الضمير نحو ضربن (٥) نون الوقايه نحو جاءني زيد (٦) نون وصليه نحو عادن الاولى (٧) نون التكلم نحو نضرب (٨) نون التاكيد. نو هر كله چې نون منقسم وو اقسام ثمانيه ؤ ته نو اضافت د نون يې وكړو تاكيد ته په دې سره يې احتراز وكړو د باقي اقسامو د نون نه او نون تاكيد دوه قسمه دى (١) **خفيفة ساكنة** يو نون تاكيد خفيفه دى چې دا ساكن راځي متحرك نه راځي ځكه دا حرف دى او مبني دى او اصل په بناء كې سكون دى **ومشددة** او دويم قسم نون مشدده دى چې هغه ته نون تاكيد ثقيله وائي **مفتوحة** او دا مفتوح راځي مبني على الحركة وګرځولى شو دپاره د دې چې لازم نه شي التقاء د ساكنين او مبني على الفتحه يې وګرځوو د وجې د ثقل د تضعيف او د خفت د فتحې نه **مع غير الالف** په حال كون د دې نون تاكيد ثقيله كې چې دا به معي نه وي د غير د الف د تثنيې سره نحو ضاربان او غير د الف فاصله نه په منځ د نون د جمع مؤنث او نون تاكيد كې نحو اضربنان. ځكه كه دا نون تاكيد ثقيله واقع شي وروستو د الف نه نو دا مبني على الكسره راځي (١) ځكه دا مشابه دى د نون د تثنيه سره په وقوع بعد الالف كې او نون د تثنيه مكسور راځي نو دا هم مكسور راځي (٢) لپاره دې چې لازم نه شي توالي د اربعه فتحات ځكه دا مكسور راځي

سوال: نون تاکید خفیفه فرع ده د نون تاکید ثقیله نو تا دا فرع ولې مقدم کړه په اصل؟ **جواب:** لخفتها
سوال: نون تاکید ثقیله او خفیفه په تاکید د فعل کښې مساوي دي او که نه؟
جواب: دا دواړه مساوي دي په تاکید د طلب د فعل کښې عند الجمهور صرف خلیل ویلې دي چې تاکید په نون ثقیله کښې زیات دی د خفیفه نه ځکه زیادت د حروفو دلالت کوي په زیادت د معنی دلیل د هغه لپاره دا قول د الله دی لَيُسْجَنَنَّ وَلَيَكُونًا مِّنَ الصَّاغِرِينَ ځکه امراة العزیز اشده حارثه وه په قید کولو د یوسف علیه السلام د ذلیل کولو نه د دې وجې نه د لَيُسْجَنَنَّ سره یې نون تاکید ثقیله او د وَلَيَكُونًا مِّنَ الصَّاغِرِينَ سره یې نون خفیفه ذکر کړو

(ما به الاشتراک په مابین د نون تاکید ثقیله او خفیفه کښې)

(۱): نون تاکید ثقیله په اخر د مضارع او امر پورې متصل کیږي وهکذا نون تاکید خفیفه
(۲): نون تاکید ثقیله دلالت کوي په تاکید د طلب د فعل باندې او خفیفه هم کوي.
(۳): د اتصال د نون ثقیله د وجې نه نون اعرابي غورځیږي او د اتصال د نون تاکید خفیفه نه هم غورځیږي
(۴): واو ضمیري او یا ضمیري حذف کیږي لاجل اتصالهما ان کان ما قبل الواو مضموما وما قبل الیاء مکسورا (۵): دواړه مضارع خاص کوي په استقبال پورې (۶): دواړه چې متصل شي په مضارع پورې نو مضارع مبني کیږي

(ما به الامتیاز بینهما)

(۱): نون تاکید ثقیله مشدد دی او خفیفه ساکن دی.
(۲): نون تاکید ثقیله په څوارلس صیغو کښې راځي او خفیفه په اته ځایونو کښې راځي
(۳): په ثقیله کښې تاکید زیات دی او خفیفه کښې کم دی (عند الخلیل)

او نون التاکید خاصه د فعل ده متصل کیږي په اخیر د فعل پورې نه په اسم او حرف پورې په شان د تاء التانیث الساکنه لیکن نون التاکید په هر فعل پورې نه متصل کیږي **تختص بالفعل المستقبل** مختص دی هر واحد د نون تاکید ثقیله او خفیفه نه په فعل پورې داسې فعل چې مستقبل دی دلالت کوي په وجود د معنی مصدري در زمانه استقبال او داسې فعل مستقبل چې کائن دی په ضمن د امر کښې نو اضربن **والنهي** یا په ضمن د نهي کښې نحو لاتضربن **والاستفهام** او په ضمن د استفهام کښې نحو هل تضربن **والتمني** او په ضمن د تمني کښې نحو لیت تضربن **والعرض** او په ضمن د عرض کښې نحو الا تنزلن بنا فتصیب خیرا **والقسم** او په ضمن د قسم کښې نحو والله لافعلن. او نون تاکید ثقیله نه متصل کیږي په فعل ماضي پورې او نه متصل کیږي په فعل مضارع بمعنی الحال پورې او نه متصل کیږي په هغه فعل مستقبل پورې چې خالي وي د معنی د طلب نه ځکه نون التاکید وضع شوی دی لپاره د تاکید د طلب د فعل او په دې کښې طلب نشته

فعل څلور قسمه دی: ماضي، امر حاضر معلوم، حال، استقبال نو نون تاکید ثقیله نه متصل کیږي په ماضي پورې مطلقا او متصل کیږي امر حاضر پورې مطلق او نه متصل کیږي په مضارع حالي پورې او متصل کیږي په مستقبل پورې په دې شرط سره چې په ضمن د امر نهي استفهام تمني عرض او قسم کې راغلی وي

سوال: ته وائې چې نون تاکید ثقیله په فعل ماضي پورې نه متصل کیږي دا خبره ستا منقوضه شوه په دې قول د نبي علیه السلام باندې (اما ادرکن احدکم الرجال) چې دا ادرکن ماضي ده او نون تاکید ورپورې متصل شوی دی؟ **جواب:** دلته ماضي په معنی د مضارع سره ده ای (اما یدرکن احدکم) او حرف شرط چې داخل شي په فعل مضارع باندې او د هغې تاکید شوی وي په ما زائده سره نو تاکید د مضارع په نون تاکید ثقیله سره ضروري دی ځکه دلته تاکید شوی دی په نون تاکید ثقیله سره **وقلت** او قلیل دی نون تاکید ثقیله او خفیفه **في النفي** په نفي کې فلا یقال زید ما یقومن ـ الا قلیلا ـ نفس جائز ځکه دی چې دا مشابه ده د نهي سره او قلیل ځکه دی چې معنی د طلب پکې نشته مثال د نون تاکید چې راغلی وي په نفي کې نحو قوله تعالی وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنكُمْ خَاصَّةً وقول الشاعر:

یحسبه الجاهل ما لم یعلما شیخ علی کرسیه معمما

ما لم یعلما اصل کې ما لم یعلمن وو دا نون تاکید خفیفه د وقف د وجې نه الف سره بدل شوی دی ما لم یعلما ترینه جوړ شوی دی **والزمت** او لازم دی دا نون تاکید **في مثبت القسم** په فعل مضارع مثبته کې چې واقع شوی وي جواب د قسم داسې اضافة د مثبت قسم ته د قبیلې د جرد قطیفه نه دی اضافت د صفت موصوف ته شوی دی اصل کې داسې وو في القسم المثبت

سوال: ته وائې چې فعل مضارع مثبته چې جواب قسم واقع شي نو لابدي ده د زیات د نون تاکید نه دا خبره ستا منقوضه شوه په دې قول د الله تعالی سره وَلَئِن مُّتُّمْ أَوْ قُتِلْتُمْ لَإِلَى اللَّهِ تُحْشَرُونَ؟ **جواب:** دا حکم په هغه فعل مضارع مثبته کې دی چې هغه مفصول نه وي د لام الجواب نه او که فعل مضارع مثبته مفصول د لام جواب القسم نه واقع شي نو بیا تاکید د دې په نون تاکید سره ممتنع دی

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه بقوله تعالی تَاللَّهِ تَفْتَؤُا تَذْكُرُ يُوسُفَ چې دلته تفتئ تذکر مضارع مثبته جواب القسم واقع شوی دی او موکد په نون تاکید سره نه دی؟

جواب: دلته فعل مضارع مثبته جواب د قسم نه ده واقع شوې بلکه فعل مضارع منفي جواب د قسم واقع شوې ده حرف نفي مقدر دی چې هغه لا دی فیکون التقدیر (تاالله لاتفتئ تذکر یوسف) او فعل مضارع منفي چې جواب د قسم واقع شي حرف نفي عام دی چې لفظي وي او که تقدیري وي نو زیادت د نون التاکید جائز دی نه لازم. او نون تاکید ثقیله کله کله متصل کیږي په فعل مضارع مثبت پورې چې هغه نه دی واقع شوی جواب قسم کما في قول الشاعر:

ربما افیت في علم ترفعن بي شمالات

او دا مصنف نه دی ذکر کړی د وجې د نهایت قلت او ندرة نه **وکثرت** او کثیر دی زیادت د نون التاکید **في مثل اما تفعلن** مرا د د دې نه هر هغه ترکیب دی چې د حرف شرط نه وروستو ما زائده راشي لپاره د تاکید د حرف شرط بیا کثیر دی په فعل شرط کې زیادت د نون تاکید ثقیله لپاره د دې چې لازم نه شي انقصیت د مقصود چې هغه تاکید د فعل دی د غیر مقصود نه چې هغه تاکید د حرف دی نحو قوله تعالی ﴿فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ ٱلْبَشَرِ أَحَدًا﴾ اما اصل کې ان وو بیا ما زائده کړی شو وروستو د ان حرف شرط نه لپاره د تاکید د ان حرف شرط نو ان ما ترینه جوړ شو بیا قاعده د یرملون پکې موجوده شوه نو نون بدل شو په میم او میم په میم کې مدغم شو نو اما جوړ شو [ترین] اصل کې ترایین وو همزه متحرکه ما قبل حرف صحیح ساکن وو حرکة د همزې نقل شو ما قبل ته او همزه حذف شوه لزوما خلاف القیاس لحصول التخفیف د وجې د کثرت د استعمال نه نو ترایین نه تریین پاتې شو بیا یا متحرك ماقبل مفتوح وو یا بدله شوه الف سره بیا التقاء د ساکنین راغله بین الالف والیاء علی غیر حده اول مده وو حذف شو نو ترین پاتې شو بر وزن تفین بحذف العین واللام او د دخول د ان حرف شرط د وجې نه نون اعرابي وغورځېدو نو اما تری پاتې شو بیا نون تاکید ثقیله متصل شو په اخیر د تری پورې التقاء د ساکنین راغله بین الیاء والنون علی غیر حده او اول مده نه وو نو د التقاء د ساکنین د وجې نه یا لره حرکت د کسرې ورکړی شو از برای مناسبت یاء نو اما ترین جوړ شو **و ماقبلها مع ضمير المذكرين مضموم: وما** او هغه حرف **قبلها** چې واقع شوی دی دا حرف مخکې د نون تاکید نه دا نون تاکید عام دی که خفیفه وي او که ثقیله وي **مع ضمير المذكرين** په حال کون د دې حرف کې چې دا ملګری شوی دی د ضمیر د جمع مذکر غائبین او مخاطبین سره چې هغه واو دی **مضموم** مضموم به وي لپاره د دې چې دلالت وکړي په واو محذوفه باندې او دا واو حذف شوی دی د وجې د التقاء د ساکنین علی غیر حده نه بنا په مذهب د هغه چا باندې چې هغه التقاء الساکنین علی حده دپاره وحدت د کلمه شرط واني یا دا واو حذف شوی دی د وجې د ثقل د واو نه بعد الضمة وقبل النون المشددة بنا په مذهب د هغه چا باندې چې التقاء د ساکنین علی حده لپاره وحدت د کلمه شرط نه واني مثال د جمع مذکر غائبین نحو لیضربن او مثال د جمع مذکر مخاطبین لتضربن چې اصل کې لیضربون لتضربون وو ګله چې نون تاکید ثقیله متصل شو په اخیر د دې پورې نو نون اعراب از بین رفت بیا التقاء د ساکنین راغله علی غیر حده بیا په مذهب د هغه چا چې وحدت شرط واني یا حذف شو لثقل الواو نو لیضربن شو

ومع المخاطبة او سره د ضمیر واحد مؤنث مخاطب نه چې هغه یاء ده **مكسور** مکسور راځي د دې لپاره چې دلالت وکړي په یاء محذوفه باندې هغه یاء چې حذف شوې ده د وجې د التقاء د ساکنین علی غیر حده نه بنا په مذهب د هغه چا چې وحدت د کلمه شرط واني او لثقل الیاء بعد الکسرة وقبل النون المشدده بنا په مذهب د هغه چا چې وحدت د کلمه شرط نه واني مثال د دې لکه لتضربن شو اصل کې

لتضربين وو چې نون تاكيد راغى نو نون اعرابي لاړو بيا د التقاء د ساكنين د وجې نه يا حذف شوه د وجې د ثقل نه او كسره د ماقبل پاتې شوه د دې لپاره چې دلالت وكړي په حذف د ياء باندې

سوال: ته وائې چې لتضربُن او لتضربِن كې واو او ياء حذف شوي دي د وجې د التقاء د ساكنين على غير حده نه نو التقاء د ساكنين على حده څه ته وائي او على غير حده څه ته وائي؟

جواب: التقاء د ساكنين دوه قسمه دى: على حده، على غير حده.

(۱): على حده دې ته وائي چې اول لين او ثاني ساكن مدغم وي په دې كې دوه مذهبه دي بعض وحدت د كلمه شرط وائي. او بعض وحدت د كلمه شرط نه وائي او حكم د دې دا دى چې دا په كلمه واحده كې جائز دى نه په كلمتين كې او التقاء د ساكنين على حده ته على حدة ځكه وائي چې د اندازې د تلفظ نه ندى بهر بلكه په اندازه د تلفظ كې دننه دى

(۲): او التقاء د ساكنين على غير حده دې ته وائي چې اول لين او ثاني ساكن مدغم نه وي د دې صورتونه درې دي: (۱): چې اول لين دى او ثاني ساكن مدغم نه دى نحو اضربُن اضربِن (۲): ثاني ساكن مدغم دى او اول لين نه دى نحو اضربَن (۳): اول لين نه دى او ثاني ساكن مدغم نه دى نحو اضربَن او حكم د دې دا دې چې دا نه دى جائز بلكه التقاء د ساكنين على غير حده چې راشي نو دا حرف اول به خالي نه وي يا به مده وي يا به لين وي او يا به غير وي د دې دواړو نه كه مده وو نو اول به حذف كيږي كه اول لين وو يعنې حرف علة ساكنه وو او ماقبل حركت موافق نه وو نو بيا واو لره ضمه او ياء لره كسره وركولى شي او كه اول غير وو نو بيا ورله حركة وركولى شي كسره لان الساكن اذا حرك حرك بالكسره او د دې نه عدول كولى شي ضمې او فتحې ته د وجې د مقتضى نه مثال لكه مُد صيغه د واحد مذكر امر حاضر معلوم كې نحو مُدَ، مُدُ، مُدِ. كسره وركولى شي لما مر ضمه وركولى شي د تابعدارۍ دفاء كلمې لپاره او فتحه وركولى شي لپاره د خفت

وفيما او په هغه ځايونو كې **عدا ذلك** چې سوا د دې مذكورو نه دي يعنې سوا د جمع مذكر مخاطبين جمع مذكر غائبين او د جمع مؤنث مخاطب نه بيا عام دى چې واحد مذكر غائب وي او كه مخاطب وي او كه واحده مؤنثه غائبه وي كه واحد متكلم وي او كه متكلم مع الغير وي **مفتوح** مفتوح به وي د وجې د خفت د فتحې نه نحو ليضربن لتضربن لاضربن لنضربن

سوال: دا خبره ستا منقوضه شوه په تثنيه او جمع مؤنث سره ځكه دا هم عدا ذلك دى او مخكې د نون نه مفتوح نه دى بلكه الف دى؟ **جواب: وتقول في التثنية وجمع المؤنث** يعنې دا تثنيه او جمع مؤنث مستنى دي د ماعدا ذلك نه په دې شان سره چې ماعدا ذلك كې مخكې حرف د نون تاكيد نه مفتوح راځي ما سوا د تثنيه او جمع مؤنث نه چې دوى كې مكسور راځي نه مفتوح مثال د تثنيه لكه اضربانِّ نو دلته مخكې د نون نه الف راغلى دى او دا يې نه دى حذف كړى د وجې د التقاء د ساكنين نه ځكه التقاء د ساكنين على حده ده بنا په مذهب د هغه چا باندې چې هغوى وحدت د كلمه شرط نه وائي او دا التقاء د ساكنين على حده جائز دى او دا التقاء د ساكنين على غير حده دى بنا په مذهب د هغه

چا چې وحدت د کلمه شرط وائي دا جائز نه ده بلکه که اول مده وو نو دا به حذف کيږي او دلته يې نه دی حذف کړی لپاره د دې چې التباس رانه شي د مثنى د واحد سره مثال د جمع مؤنث لکه اضربنان شو په زيادت د الف سره وروستو د نون د جمع مؤنث او مخکې د نون التاکيد نه د دې لپاره چې لازم نه شي اجتماع د ثلاث نونات زائده ځکه دا ستکره ده په کلام د عرب کې او د التقاء د ساکنين د وجې نه الف نه دی حذف شوی ځکه دا على حده ده د هغه چا په مذهب چې وحدت د کلمه شرط نه وائي نو دا جائز ده او على غير حده ده که مذهب د هغه چا چې وحدت د کلمې شرط وائي او دا نه ده جائز، بلکه که اول مده وو نو حذف کيږي به او دلته نه دی حذف کړی د دې لپاره چې لازم نه شي اجتماع د ثلاث نونات متواليات ځکه دا نه دي جائز

سوال: د اقاعده ستا منقوضه شوه ليکونن سره او ليمنن چې دی اول کې اجتماع د ثلاث نونات متواليات راغلی ده او ثاني کې اجتماع د اربعه نونات متواليات راغلي ده؟

جواب: مونږ وايو چې اجتماع د ثلاث نونات زائدات متواليات نه ده جائز او دلته اجتماع د ثلاث نونات زائده نه ده راغلې بلکه يو نون اصلي دی او دوه زائد دي په اول کې او په ثاني کې اول دوه نونين اصلي دي بجای عين ولام او دوه زائد دي

ولا تدخلهما او نه داخليږي په تثنيه او جمع مؤنث باندې **الخفيفة** نون تاکيد خفيفه. **الخفيفة** صفت دی تقاضا د موصوف کوي او موصوف يې محذوف دی چې النون دی په قرينې د مقام سره.

سوال: نون تاکيد خفيفه په تثنيه او جمع مؤنث کې ولې نه راځي؟

جواب: د دې لپاره چې لازم نه شي التقاء د ساکنين على غير حده بالاتفاق د وجې د عدم کون د ثاني نه ساکن مدغم او التقاء د ساکنين على غير حده نه ده جائز **خلافا ليونس** خلاف کړی دی جمهورو بصريانو نه، دا د کوفيانو ملګري شوي دي چې هغوی اتصال د نون تاکيد **خفيفه جائز وائي بدليل** قوله تعالى [ولاتتبعان] على قراة عامر، والمراد منه موسى وهارون. **جواب د طرفه د بصريانو نه دا** دی چې عامر په دې قراة کې متفرد دی. قراة د ابن ذکوان کې ولاتتبعان راغلی دی دا واو حاليه دی او لا نفي دی او دا نون اعرابي دی حال واقع شوی دی د ضمير د فاستقيما نه ای **فاستقيما غير** متبعين په قراة د جمهور ابن ذکوران باندې دا واو حاليه دی نه عاطفه ځکه بيا لازميږي عطف د خبر على الانشاء او دا جائز نه دی (فافهم).

مخالف کړی دی جمهورو په خلاف کولو سره داسې خلاف چې هغه ثابت دی يونس بن حبيب لره ځکه دی وائي چې نون تاکيد **خفيفه** په تثنيه او جمع مؤنثه کې راځي او التقاء د ساکنين على غير حده په دې کې مغتفر ده ځکه دا يونس دا قياس کوي په وقف باندې نحو اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ او التقاء د ساکنين على غير حده په وقف کې مغتفر ده نو په دې کې هم مغتفر ده.

جواب د طرفه د جمهورو نه دا دی چې التقاء د ساكنين على غير حده يې په وقف كې جائز ګرځولی ده اضطرارا او كوم شی چې جائز وي د وجې د ضرورة نه هغه مختص وي په مورد د سمع پورې ولا يقاس عليه غيره لهذا د دې قياس په هغه باندې قياس مع الفارق دی.

وهما في غيرهما مع الضمير البارز كالمنفصل:ربط): هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د مواضع د نون تاكيد ثقيله اوّ خفيفه نه نو شروع يې وكړه په بيان د افعال متصلة الاواخر كې په وقت د الحاق د نون تاكيد كې په اخير د دې افعال پورې.

(تركيب) هما مبتدا **كالمنفصل** جار مجرور خبر د مبتدا **في غيرهما** جار مجرور په اعتبار د متعلق محذوف سره حال دی د ضمير مستتر د كالمنفصل نه چې راجع دی هما ته او **مع الضمير البارز** ظرف په اعتبار د متعلق سره حال واقع شوی دی د غير هما نه.

(ترجمه) هما دا نون تاكيد ثقيله او خفيفه په لحوق د دې كې په اخير د فعل پورې كالمنفصل په شان د لفظ د منفصل دی په حال كون د ده كې چې په غير د تثنيه او جمع نه يې واخلې او په حال كون د دې غير كې چې دا معی وي د ضمير بارز مرفوع سره دا دوه صيغې دي اول جمع مذكر دويم واحد مؤنث په دې شان سره كه د واو او يا نه مخكې حركت موافق وو په اتصال د لفظ منفصل سره واو او يا حذف كيږي مخكې مضموم او مكسور پاتې كيږي نحو.....

دارنګې نون تاكيد چې متصل شي نو هم واو او يا حذف كيږي او مخكې مضموم او مكسور پاتې كيږي لكه اغزنّ يا قوم اغزن يا قوم اغزِن. يا هند كه چرې مخكې حركت موافق نه وو نو په اتصال د لفظ منفصل سره په واو ضمه او په ياء باندې كسره به وايې نحو اخشوُ القوم اخشي القوم درانګې په اتصال د نون تاكيد سره په واو كې په ضمه او ياء كې به كسره وائې نحو اخشون يا قوم اخشين يا امرة.

فان لم يكن كه چرې نه وو ضمير بارز بلكه مستتر وو دا صرف په واحد مذكر كې راځې **فكالمتصل** پس دا نون تاكيد په شان د لفظ متصل دی چې هغه الف د تثنيه دی مثال لكه اخش او ارم كې الف ضمير متصل شي نو محذوف واپس كيږي نحو اخشين ارمين. او في غير هما يې وويل ځكه په تثنيه او جمع مؤنث كې صحيح او معتل يو شان راځي بيان كولو ته يې ضرورت نشته **ومن ثم** او د دې وجې نه چې دا نون تاكيد سره د ضمير مستتر نه كالمتصل دی او سره د ضمير بارز نه كالمنفصل دی **قيل** ويلی شوي دي **هل ترين** په هل ترى كې په اعادې د حرف محذوف سره د وجې د اتصال د نون تاكيد ثقيله نه لكه چې ويلی كيږي تريا په اعادې د محذوف سره د وجې د اتصال د الف تثنيه نه دا مثال دی د ضمير مستتر لپاره چې لام كلمه د ده متحركه شوې ده په فتحې سره، سره د الف د تثنيه لپاره د دې چې التباس را نه شي د صيغې د تثنيه د صيغې د واحد سره **وترون** او دغسې ويل كيږي هل ترون په هل ترون كې په اسقاط د نون د جمع سره د وجې د اتصال د نون تاكيد ثقيله نه په ضمې د واو سره د وجې د التقاء د ساكنين نه د نون تاكيد ثقيله سره او د دې واو نه مخكې حركت موافق نه دی ځكه ضمه وركولی شي دغه واو لره په وقت د اتصال د لفظ منفصل كې

د وجې د التقاء د ساکنین نه نحو لم تروا القوم دا مثال دی د ضمیر بارز چې دې ضمیر لره ضمه ورکړی شوې ده د وجې د نون نه **و ترین** او دارنګې ویل کیږي **هل** ترین په هل ترین کې دا مثال دی د یاء ضمیر بارز چې کسره ورکړی شوې ده یا لره د وجې د اتصال د نون تاکید ثقیله نه د وجې د التقاء د ساکنین نه لکه چې دې یا لره کسره ورکولی شي په اتصال د لفظ منفصل سره نحو لم تری الناس **واغزون** دا عطف دی په هل ترین نه په ترین پواځې او ماقبل د معطوف علیه معاد وي د معطوف سره نو کیږي تقدیر د عبارت دارنګې ومن ثم قیل اغزون په اعادې د واو سره د وجې د اتصال د نون التاکید نه لکه واو معاد کولی شي د وجې د الف ضمیر نه نحو اغزوا

واغزن ویل کیږي په اغزوا کې په حذف د واو سره د وجې د التقاء د ساکنین نه او دا ماقبل مضموم دی دلالت کوي په حذفیت د واو باندې لکه چې دا واو حذف کولی شي د وجې د التقاء د ساکنین نه په وقت د اتصال د لفظ منفصل کې نحو اغزوا القوم **واغزن** او اغزن ویلی کیږي په اغزی کې په حذف د یاء سره د وجې د التقاء د ساکنین نه د نون تاکید او د یا نه مخکې حرف مکسور دی دا دلالت کوي په حذف د یا باندې لکه چې دا یاء حذف کیږي د التقاء د ساکنین د وجې نه په وقت د اتصال د لفظ منفصل کې نحو اغز القوم **والمخففة** او نون تاکید خفیفه **تحذف** حذف کولی شي **للساکن** په وقت د اتصال د حرف ساکن کې د نون تاکید خفیفه سره د وجې د التقاء د ساکنین نه مثال لکه دا قول د شاعر شو

لا تهين الفقير علك ان ترفع يوما والدهر قد رفعه

دا اصل کې لاتهینن وو په دوه نونو سره یو نون لام کلمه وه او بل نون تاکید خفیفه وو بیا نون تاکید خفیفه حذف کړی شو د وجې د التقاء د ساکنین نه د لام ساکنه د الفقیر سره چې د ده نه وروستو راغلی دی او دا فتحه د ماقبل د نون تاکید خفیفه پاتې شوه چې دا دلالت کوي په حذفیت د نون تاکید خفیفه باندې نو لاتهینن الفقیر پاتې شو او د التقاء د ساکنین د وجې نه حرکت ورنه کړی شو نون تاکید خفیفه لره د دې لپاره چې فرق راشي د نون تاکید خفیفه او د تنوین په مینځ کې ځکه تنوین لره د التقاء د ساکنین د وجې نه حرکت ورکولی شي نحو عاد ن الاولی په خلاف د نون تاکید خفیفه نه چې دا حذف کولی شي

سوال: فرق خو په عکس سره هم راتلو نو عکس یې ولې ونه کړو؟ **جواب:** عکس یې ونه کړو لپاره د انحطاط د مرتبه د فرع چې نون تاکید خفیفه دی د اصل نه چې تنوین دی

سوال: دا تنوین اصل او نون تاکید خفیفه فرع ولې ده؟ **جواب:** ځکه تنوین راځي په اسم کې او نون تاکید خفیفه راځي په فعل کې او اسم اصل دی او فعل فرع ده نو تنوین اصل شو او نون تاکید فرع شوه

او للساکن کې دا لام، لام وقتیه دی بمعنی وقت دی او دلیل په دې خبره باندې چې دا لام وقتیه دی نه اجلیه عطف د ظرف دی په دې للساکن باندې چې **هغه فی** الوقف دی **وفی الوقف** او د غسې حذف کولی شي نون تاکید خفیفه په حالت د وقف کې په هغه حرف باندې چې دا نون تاکید خفیفه په هغه پورې متصل شوی دی تخفیفا په دې شرط سره چې د دې نون تاکید خفیفه نه مخکې مضموم یا مکسور وو لکه چې تنوین حذف کولی شي په حالت د وقف کې تخفیفا که چرې د تنوین نه مخکې حرف **مضموم**

يا مكسور وو **قيد ما حذف** نو رد كولى شي هغه حرف چې حذف شوى وو د وجې د اتصال د نون تاكيد خفيفه نه د وجې د زوال د موجب د حذف نه چې هغه التقاء د ساكنين نه فيقال اضربوا بالواو في حالة الوقف في اضربن او غسې اضربي ويلى كيږي په اعادې د ياء سره په اضربن كې په حالت د وقف كې په خلاف د تنوين نه چې دا حذف شي په حالت د وقف كې نو هغه محذوف نه شي معاد كولى ځكه دا تنوين لازم دى په وصل كې د كلمې سره او نون تاكيد خفيفه لازم د كلمې سره نه دى پس وګرځولى شو د لازم لپاره خيريت په ابقاء د اثر د ده سره په هغه شئ باندې چې هغه لازم د كلمې سره نه دى.
والمفتوح ما قبلها او نون تاكيد خفيفه داسې نون تاكيد خفيفه چې مفتوح وي هغه حرف چې د نون تاكيد خفيفه نه مخكې واقع شوى دى **تقلب الفا** بدل كولى شي په الف سره په حالت د وقف كې د وجې د مشابهت د ده نه د تنوين سره چې هغه واقع شوى دى وروستو د فتحې نه په دې شان سره چې تنوين واقع شي د فتحې نه وروستو نو په حالت د وقف كې بدليږي په الف سره لكه رايت زيدا كې رايت زيدا ويلى كيږي دغسې نون تاكيد خفيفه چې واقع شي وروستو د فتحې نه نو په حالت د وقف كې په الف سره بدليږي په اضربن كې اضربا ويلى كيږي په حالت د وقف كې مثال د نَون تاكيد خفيفه پس د فتحې نه چې بدل شوى دى په الف سره په حالت د وقف كې كقول الشاعر:

يحسبه الجاهل ما لم يعلما
شيخ على كرسيه معمما

چې ما لم يعلما اصل كې ما لم يعلمن وو په نون تاكيد خفيفه سره چې متصل شوى دى په فعل مضارع پورې پس د نفې نه په طريقه د قلت سره او د نون تاكيد خفيفه واقع شوى دى پس د فتحې نه او بدل شوى دى په الف سره د وقف د وجې نه نو د ما لم يعلمن نه ما لم يعلما جوړ شوى دى.
سوال: المفتوح صيغه د اسم مفعول ده صفت دى موصوف غواړي نو موصوف د دې كوم دى؟
جواب: موصوف د دې محذوف دى چې المخففة دى فيكون التقدير والمخففة المفتوح ما قبلها.
سوال: مطابقت نشته بين الموصوف والصفة ځكه موصوف مؤنث او صفت مذكر دى؟
جواب: المفتوح صفت بحال متعلقه دى نه صفت بحاله او صفت بحال متعلقه په امور خمسه كې تابع د ماقبل وي: تعريف ـ تنكير ـ رفع ـ نصب ـ جر. او باقي پنځه امورو كې تابع د مابعد وي چې هغه: افراد ـ تثنيت ـ جمعيت ـ تذكير او تانيث دي، نو دلته المفتوح په تعريف او اعراب كې د موصوف محذوف تابع دى او په تذكير كې د مابعد تابع دى چې ماقبلها دى په دې شان سره چې نائب فاعل د المفتوح لپاره مذكر راغلى دى او قاعده دا ده چې د فعل يا صفت لپاره فاعل يا نائب فاعل چې مذكر راشي نو تذكير د فعل او شبه فعل واجب دى بل مثال د صفت بحال متعلقه چې په تعريف او اعراب كې تابع د ماقبل دى او تذكير كې تابع د مابعد دى قوله تعالى رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا.

تمت بالخير

المطالب العالية

في

توضيح الكافية





مكتبة الاشاعة محلہ جنگی پشاور

0300-5875425 / 0345-9459209

